تفسیر خیر کثیر

پښتو ترجمه

تفسیر ابن کثیر

تصنیف

حافظ عماد الدین اسماعیل ابن عمر بن کثیر الدمشقی

المتوفی ۷۷۴ هجری

مترجمان

مولانا شاه فیصل ابن مولانا عبدالکریم صدیقی اثری حفظه الله

اضافی تشریح از مولانا شاه فیصل

Scanned with CamScanner

تفسیر خیر کثیر

پشتو ترجمه

تفسیر ابن کثیر

مؤلف: حافظ عماد الدین اسماعیل بن عمر بن ابن کثیر الدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری

مترجمین: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، وعبد الکریم صدیقی وقاری امیر نواز

جلد نمبر ①

تسهیلات از شاه فیصل

① د قرآنی آیاتونو تکی په تکی او روانه ترجمه

② د احادیثو تخریج

③ د فقهی مسئلو کښې مسلک حنفی وضاحت

④ مناسب عنوانات ورکول

هوروکی

فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

Scanned with CamS

دچاپ حقوق صرف ناشرسره محفوظ دی

دکتاب نوم : تفسیرخیرکثیرترجمه تفسیرابن کثیر
مؤلف: حافظ عمادالدین اسماعیل بن عمربن ابن کثیرالدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری
خورونکی : فیصل کتب خانه محله جنگی
موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د ملاویدو پته:- د فیصل کتب خانې نه سوا
مکتبه روغانیول جلال آباد
مکتبه رحیمی خوست
نعمت کتب خانه کابل
انتشارات علامه تفتازانی هرات وکابل
صداقت کتب خانه قندهاروکابل
قدرت کتاب فروشی کابل بن ار
علمی کتب خانه کردیز
مکتبه علمیه اکوړه خټک
دینی کتب خانه تیمرکوړه ره
فلاح کتب خانه جلال اباد
مکتبه فریدیه خوست
دیوبند کتب خانه خوست
جدید رشیدیه کتب خانه کابل
مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
مکتبه نعمانیه غزنی
مکتبه رحمانیه قندهار
امیرحمزه کتب خانه قندهار

Scanned with CamS

دتفسیر ابن کثیر دترجمې کولو سبب	۳	وفات	۹
هر ټکی ته لاندې ترجمه	۳	پسمانده ګان	۹
د قوله تعالی اضافه	۳	د دوی تصنیفاتو د علماؤ داد	۹
دعنواناتو اضافه	۳	تفسیر القرآن الکریم	۱۰
دایاتونو تخریج	۳	البدایه والنهایه	۱۰
داحادیثو تخریج	۴	التکمیل فی معرفة الضعفاء والمجاهیل	۱۰
دمسلك حنفي بیان	۴	الهدی والسنن فی احادیث المسانید والسنن	۱۱
دترجمې تقسیم	۴	طبقات الشافعي	۱۱
دپښتو ترجمې نوم	۴	مناقب الشافعی	۱۱
د امام حافظ عمادالدین ابن کثیردژوند حالات	۵	تخریج احادیث ادلة التنبیه	۱۱
نوم او نسب	۵	تخریج احادیث	۱۱
سلسله نسب	۵	الاحکام الکبیر	۱۱
د مقدمه ماخذ	۵	اختصار علوم الحدیث	۱۱
ولادت	۵	مسند الشیخین	۱۱
تعلیم	۵	السیرالنبو	۱۱
د فقه تحصیل	۵	ا لفصول فی اختصار سیر الرسول	۱۱
د حدیثو تکمیل	۵	کتاب المقدمات	۱۱
د حجار نه علم حاصلول	۵	مختصر کتاب المدخل للبیهقی	۱۲
استاذات او مرویات	۶	الاجتهاد فی طلب الجهاد	۱۲
د حافظ مزی نه استفاده	۶	رسالة فی فضائل القران	۱۲
د علم مقام	۶	مسند امام احمد بن حنبل	۱۲
په علم حدیث کښې مهارت	۷	مقدمه د حافظ ابن کثیر	۱۳
د حافظ عراقی ؒ خراج تحسین	۷	حمد سره خپل کتاب شروع کول	۱۳
د حافظ ذهبی ؒ خراج تحسین	۷	د مخلوق پیدائش په حمد سره	۱۳
د نورو عالمانو خراج تحسین	۷	د مخلوق خاتمه په حمد سره	۱۳
د حافظ عسقلانی ؒ تنقید	۸	جنتیاتو ته د حمد الهام کیدل	۱۳
د حافظ جلال الدین ؒ جواب	۸	د نبی کریم د رسالت عمومیت	۱۴
د علامه کوثری جواب	۸	په قران کښې دغور وفکر دعوت	۱۴
د حافظ ؒ قوت حافظه	۸	ددنیا غوښتونکو عالمانو مذمت	۱۴
درس و افتاء ، دالله ؒ ذکر	۸	قران سره زړونه نرمیږی	۱۵
ټکلی مزاج	۸	دتفسیر صحیح طریقه څه ده ؟	۱۵
علامه ابن تیمیه ؒ سره خصوصی تعلق	۹	دحدیث اهمیت	۱۵
د صحابه کرامو ؓ د اقوالو اهمیت	۱۲	دسورة فاتحې نورنومونه	۲۴
عبدالله بن مسعود ؓ فضیلت	۱۲	د سورة فاتحه مکی او مدنی حیثیت	۲۵

Scanned with CamS

د عبدالله بن عباس ﷺ فضیلت	۱۶	د سورۃ فاتحې د آیاتونو تعداد	۲۵
دبنی اسرائیلی روایاتو حیثیت ..	۱۷	بسم الله د فاتحې مستقل آیت دې که نه؟	۲۵
د اسرائیلی روایاتو دري قسمونه ..	۱۷	د سورۃ فاتحې کلمات او حروف	۲۵
په اسرائلی روایاتو کښې اختلافات ..	۱۷	د فاتحې د نزول درجه	۲۶
د اصحاب کهف د تعداد په حق کښې د قران بیان	۱۷	دسورۃ فاتحې فضائل	۲۶
د قرانی آیت نه څه معلومیږی .	۱۸	د ټولو نه لوئې سورت	۲۶
﴿فصل﴾ تفسیر او د تابیعینو اقوال..	۱۸	دابی بی کعب ﷺ باره کښې هم داسې واقعه	۲۷
دامام مجاهد مقام	۱۸	دبعضې عالمانو خطائی	۲۷
د تابعینو په اقوال کښې ظاهری اختلاف	۱۹	دابی ﷺ حدیث په بل سند سره	۲۷
دتفسیر بالرائې شرعی حیثیت ..	۱۹	دجابر ﷺ په روایت سره د فاتحې عظمت	۲۸
د تفسیر بالرئی مثال	۱۹	د قرانی سورتونو په خپل منځ کښې یوبل باندې فضیلت	۲۸
په تفسیر کښې د اسلافو طریقه کار	۱۹	د فاتحې په دم سره بیمار جوړیدل	۲۸
د ابن عباس ﷺ د جواب ورکولو نه انکار	۲۰	د فاتحې د نزول سره د زیری دپاره فرشته راتلل	۲۸
دجندب ﷺ په تفسیر القران کښې احتیاط	۲۰	فاتحه د الله او بنده په مینځ کښې تقسیم ده	۲۹
سعید بن مسیب او په تفسیر کښې احتیاط	۲۰	دحدیث فوائد	۲۹
د سلفو په تفسیرکښې احتیاط	۲۰	په مانځه کښې د سورۃ فاتحې عدم فرضیت	۳۰
یوه شبه او دهغې جواب	۲۱	په مانځه کښې د سورۃ فاتحې فرضیت	۳۰
دتفسیر اقسام	۲۱	په هر رکعت کښې د فاتحې لوستلو حکم	۳۰
مکی او مدنی سورتونه ..	۲۲	په قراءت خلف الامام کښې اختلاف	۳۰
د آیاتونو تعداد ..	۲۲	په مانځه کښې د سورت فاتحه لوستلو حکم	۳۰
د قران کریم کلمات..	۲۲	په قراءت خلف الامام کښې اختلاف	۳۱
د قران پاک حروف ..	۲۲	د قراءت خلف الامام حکم	۳۱
د حروفو په اعتبارسره د قران تقسیم ..	۲۲	د ﴿اعوذ بالله﴾ تفسیر او ددې احکام	۳۱
د قران پاک منزلونه	۲۲	د بدئ بدله په نیکئ سره ورکړه	۳۱
دسورۃ لفظی معنی	۲۳	د شیطان نه حفاظت وسله	۳۲
د آیت تشریح	۲۳	د قراءت نه وړاندې تعوذ غوښتل	۳۲
د آیت صرفی تحقیقی	۲۴	تعوذ د قراءت نه وړاندې نه پس	۳۲
دکلمې تشریح	۲۴	په مانځ کښې د قراءت نه وړاندې تعوذ	۳۲
﴿فصل﴾ په قران کښې عجمی ټومونه	۲۴	په تعوذ سره غصه ختمیدل	۳۳
دسوره فاتحې تفسیر	۲۴	په یو روایت کښې اضافه	۳۳
په اوله وحی کښې هم د تعوذ حکم	۳۳	په اودس کښې بسم الله وئیل	۴۱
د سورۃ فاتحې د اولنی نزول روایت	۳۳	د اودس په اول کښې د بسم الله حکم	۴۱
د تعوذ حکم	۳۴	د ذبحې په وخت کښې بسم الله وئیل	۴۱
د قراءت نه وړاندې د تعوذ وئیلو حکم	۳۴	د متروک التسمیه څاوری حکم	۴۱

Scanned with CamSc

اعوذبالله به کله او کوم ځائې کښې وائی	۳۴	د جماع په وخت کښې بسم الله وئیل	۴۱
د تعوذ کلمات	۳۴	د خوراک نه وړاندې د بسم الله حکم	۴۲
د مانځه په رکعتونو کښې د تعوذ حکم	۳۴	دبسم الله ،،با،، تعلق	۴۲
په مونځ کښې د تعوذ حکم	۳۵	نبی کریم ﷺ د بسم الله تعلیم ورکول	۴۲
د تعوذ فائدې	۳۵	بې کاره بحث	۴۲
د کافراو د شیطان په مغلوب کښې فرق	۳۵	په اسم او مسمی کښې فرق	۴۳
فصل . خلاصه دکلام	۳۵	د اسم او مسمی جدا جدا کیدو دلائل	۴۳
د تعوذ حکمت	۳۵	د اسم او مسمی یو کیدو دلائل	۴۳
د اعوذ معنی	۳۵	د الله لفظ اسم ذات دې	۴۳
د انسان اود شیطان د ضرر نه	۳۶	دالله د نومونو یادولو فضیلت	۴۴
د شیطان لفظی تحقیق	۳۶	دالله پنځه زره نومونه	۴۴
انسی شیطان هم شته	۳۶	د ،،الله،، د اشتقاق بحث	۴۴
تور سپې کله شیطان هم وی	۳۶	د ،، الله،، لفظ موصوف دې	۴۵
د رجیم معنی	۳۶	د الله د معرفت نه مخلوق عاجز دې	۴۵
د رجیم دویمه معنی	۳۷	رحیم د مخلوق صفت هم کیدې شی	۴۷
دبسم الله د جزئیت مسئله	۳۷	دسورة فاتحې تفسیر	۴۸
په جهری مونځونو کښې د جهر او	۳۸	د حمد معنی	۴۸
د رسول کریم ﷺ دقراءت انداز	۳۹	په حمد او شکر کښې فرق	۴۹
په جهری مونځ کښې د تسمیه د جهر او اخفاء حکم	۳۹	د حمد یا د شکر عمومیت	۴۹
فصل ـ دبسم الله فضائل	۴۰	دحمد تفسیر کښې دسلفودعالمانو اقوال	۴۹
بسم الله د الله لویې نوم دې	۴۰	افضله دعا	۵۰
دبسم الله په حروفو کښې اشارې	۴۰	دنعمت په ملاویدو حمد وئیل	۵۰
بسم الله د دې امت خصوصیت دې	۴۰	په کمله دتوحید د الحمد فضیلت	۵۰
دبسم الله د نزول په وخت کښې خارق العادت کارونه	۴۰	د ،،الحمد،، کښې د الف لام تشریح	۵۱
بسم الله وئیل د جهنم د نورلسو فرشتو نه حفاظت	۴۰	د رب معنی	۵۱
بسم الله سره شیطان ذلیل کیږی	۴۰	دعالمین تشریح	۵۱
بسم الله نه وئیل بې برکتی ده	۴۱	د ملخان ورکیدل	۵۲
اویازره مخلوقات	۵۲	﴿فصل﴾ دسوره فاتحه خلاصه	۲۳
په رحمن او رحیم کښې امید	۵۲	دضلالت نسبت الله ته نه دې شوې	۲۳
مالك قراءت	۵۳	دقدریه فرقې مذهب	۲۳
د شهنشاه وئیلو حکم	۵۴	امام پسې اوچت اواز سره امین وئیل	۲۴
دالله نه سا «مالک» بل چاته د وئیلو حکم	۵۴	امین د هرچا وظیفه ده	۲۴
د دین معنی :	۵۴	د امین معنی	۲۴
عبادت څه څیز دې	۵۵	امین د چا وظیفه ده؟	۲۵

Scanned with CamS

د عبادت شرعی تعریف	۵۵	د یهودو مسلمانانو سره دحسد وجه	۲۵
فاتحه د ټول قران خلاصه	۵۵	امین به په جهر وئیلی شی که رو ؟	۲۶
الله خپله خپل تعریف کول	۵۵	د سورت بقره تفسیر	۲۷
دسورة فاتحې تقسیم	۵۵	د سورة بقرې د نزول کیفیت	۲۷
دعبادت او مدد غوښتلو لائق څوک دی ؟	۵۶	سورة بقره د قران اوچتوالي دي	۲۷
د عبادت دتقدیم وجه	۵۶	کورونو کښې سورة بقره وئیل	۲۷
دجمعې د صیغې راوړو وجه	۵۶	د سورة په وئیلو د شیطان تختیدل	۲۷
نبی کریم ته عبد وئیل	۵۶	سورة بقره د قران مغز دي	۲۷
دعبادت مقام د رسالت نه افضل	۵۷	د سورة بقرې د لس ایاتونو فضیلت	۲۸
دعبادت اغراض	۵۷	د شیطان نه حفاظت	۲۸
د سوال کولو طریقه	۵۷	سورة بقره د سردارئ سبب	۲۸
دهدایت نحوی تشریح	۵۸	د سورة بقرې دپاره د فرشتو راکوزیدل	۲۸
د صراط مستقیم معنی	۵۸	داسې یوه بله واقعه	۲۸
د صراط مستقیم مثال	۵۸	د سورت بقره اود سورت آل عمران فضیلت	۲۹
په اقوالو کښې تطبیق	۵۹	دحدیث د سند تحقیق	۲۹
یو اعتراض او د هغې جواب	۵۹	د سورة بقرې د لوستلو حکم	۲۹
یو داسې قسم پل ایت	۵۹	د سورة بقرې سفارش	۲۹
د صراط مستقیم د غوښتلو حکم	۶۰	په سورة بقره کښې اسم اعظم دي	۷۰
د انعام والا څوک دی	۶۰	د سورة بقرې ویونکو دپاره عجیبه زیرې	۷۰
د غیر د قراءت تحقیق	۶۰	سورة بقره ترخپله وسه پورې خپل تالی ملګرتیا کوی	۷۰
مغضوب څوک دي	۶۱	سحرمانښام د سورة بقرې لوستل	۷۰
د ،،لا،، کلمې دوباره راوړو وجه	۶۱	د اوو لوسو سورتونو فضیلت	۷۰
دعدی ﷺ د ایمان راوړو واقعه	۶۱	د سورة بقرې په وجه امارت ملاویدل	۷۱
د حق دین په تلاش کښې د څو کسانو کوشش	۶۲	﴿فصل﴾ مقام نزول او نور معلومات	۷۱
د ض او د ظ فرق	۶۳	سورة بقرې ته سورة بقره وئیل	۷۱
په جنګ حنین کښې د صحابؤ راجمع کیدل	۷۱	د نفاق مرض	۹۱
په جنګ یمامه کښې د صحابؤ راجمع کیدل	۷۱	د قرانی ایتونونه شواهد	۹۱
د حروف مقطعات معنی شته که نه؟	۷۲	دمنافقانو نه قتلولو وجه	۹۱
د حروف مقطعاتو معنی کښې اقوال	۷۲	نبی کریم ته د بعضې کسانو د نفاق علم	۹۳
په اقوالو کښې تطبیق	۷۳	فسادیان منافقان	۹۴
د حروف مقطعاتو حکمتونه	۷۴	کافرو سره دوستی هم فساد دي	۹۴
د حروفو مقطعاتو د بار بار راوړلو وجه	۷۵	خپل ځانته مصلح وئیل:	۹۵
دابن اخطب یهودی حاضری	۷۵	حقیقی بیوقوفان	۹۵
قران مجید بیشکه د الله کلام دي	۷۶	د سفیه معنی	۹۵

Scanned with CamScanner

په ذلك سره وعدي ته اشاره ده	۷۶	منافقانه رويه	۹۶
د کتاب نه مراد	۷۷	دخلو معنی	۹۶
د ريب معنی	۷۷	د شيطانانو نه مراد	۹۷
د ،،هدی،، تشريح	۷۷	د منافقانو دوه پريقتوب	۹۷
متقيان څوک دی ؟	۷۷	د الله په دوی پوري د ټوقو کولو معنی	۹۷
دهدايت وضاحت	۷۸	منافقانو ته مهلت ورکول	۹۸
دايمان معنی اومفهوم	۷۹	د طغيان معنی ۱۱۴	۹۸
په غيبو باندي د ايمان راوړو مصداق خلق	۸۱	دهدايت په بدله کښي گمراهی اخستل	۹۸
د مونځ قائمولو نه مراد	۸۱	په تجارت کښي تاوان	۹۹
د زکاة ادا کول	۸۱	دمنافقانو مثال	۹۹
داسلام پنځه ارکان	۸۲	په تياره کښي اور بلول	۹۹
د صلاة وجه تسميه	۸۲	دجماعت نه په يو فرد سره تعبير	۱۰۰
د مومنانو صفات	۸۳	تقديرد کلام	۱۰۰
دري کسانو ته دوچنده اجر ملاويدل	۸۳	دابن کثيرد رائي تائيد	۱۰۰
هدايت موندونکی څوک دی	۸۵	دنور اوظلمت نه مراد	۱۰۱
کامياب خلق	۸۵	دابن جرير تائيد	۱۰۱
بدنصيبه خلق	۸۶	دنفاق نه ځه واپس کيدل	۱۰۱
په زړونو او غوږونو مهرلګول	۸۷	دمنافقانو دويم مثال	۱۰۲
په سترګو پردي	۸۸	په غوږونو کښي ګوتي ورکول	۱۰۳
د نفاق دوه قسمونه	۸۹	د نظرونو سوزول	۱۰۳
د نفاق ابتداء	۸۹	په تيارو کښي اودريدل	۱۰۳
منافقان په خپل ګمان کښي الله	۸۹	د قيامت په ورځ د ايمان رنړا	۱۰۳
د منافقانو خپل څان ته دهوکه ورکول	۹۰	احاديث مبارکه	۱۰۴
دمومنانو رنړا	۱۰۴	قران پاک ټولونه لويه معجزه ده	۱۱۴
دکافرانو دوه قسمونه	۱۰۴	د جهنم خشاک	۱۱۵
د منافق دري خويونه	۱۰۵	دجهنم خشاک د رنړو کانړي	۱۱۵
د زړه څلور قسمونه	۱۰۵	د حافظ ابن کثيررائي	۱۱۵
دغوږونو او سترګو هلاکت	۱۰۵	د جهنم تياری	۱۱۶
په ايت کښي د ،،او، کلمي تحقيق	۱۰۵	جهنم اوس هم موجود دي	۱۱۶
د الله د حدانيت دلائل		د معتزلؤ جهالت	۱۱۶
دزمکي او اسمان نعمت	۱۰۶	د سورت جوړولو اعلان	۱۱۶
دباران نازول	۱۰۶	دعمربن العاص ؓ د کفر په حالت	۱۱۷
دالله په بندګانو باندي حق	۱۰۷	ايمان دارو ته د جنت زيری	۱۱۸
چه څه الله ﷻ اورسول ﷺ غواړی داوئيل شرک دي	۱۰۷	دجنتو لاندي د نهرونو بهيدلو مطلب	۱۱۸

Scanned with CamSc

دالله د عبادت حکم	۱۰۷	د میوو یوبل سره مشابه کیدل	۱۱۸
بعضي شرکیه کلمات	۱۰۸	دجنت بیبیاني	۱۱۹
یحیی علیه السلام ته د پنځو خبرو حکم	۱۰۸	دایت شان نزول	۱۲۰
دالله په وحدانیت د یو باندپیچی استدلال	۱۰۹	د ،،ما،، او ،،بعوضة،، اعرابی تحقیق	۱۲۰
دالله په وجود د امام مالک استدلال	۱۰۹	د الله ﷻ وعدي څوک ماتوی؟	۱۲۲
دالله په وجود د امام ابوحنیفه استدلال	۱۰۹	د منافقانو شپږ خصلتونه	۱۲۳
دالله په وجود د امام شافعی استدلال	۱۱۰	دکافرانو تاوان	۱۲۳
د الله په وجود د امام احمد بن حنبل استدلال	۱۱۰	دعدم نه وجود کښې راوستولو والا څوک دي؟	۱۲۴
د الله په وجود د ابونواس استدلال	۱۱۰	الله ته واپس کیدل	۱۲۵
دالله د توحید باره کښې د ابن المعتز قول	۱۱۰	د کائناتو تخلیق	۱۲۵
دالله په وحدانیت د کائناتو نه استدلال	۱۱۰	دخلیفه معنی او مقاصد	۱۲۸
د محمد ﷺ دنبوت تصدیق	۱۱۱	فرشتو ته د آدم د اولاد په زمکه د فساد کولو علم	۱۲۸
د شهداء نه څوک مراد دی؟	۱۱۱	د فرشتو خبره د اعتراض په وجه نه وه	۱۲۸
دقران پاک اعجاز	۱۱۲	دخلیفه انتخاب او ددي دوجوب شرعی حیثیت	۱۳۱
د اولنی تفسیر وجوه ترجیح	۱۱۲	د امامت کبری شرطونه	۱۳۱
دقران پاک اعجاز	۱۱۳	د فاسق امام د معزوله کولو حکم	۱۳۱
د قران ترغیب	۱۱۳	په یو وخت کښې یو امام جوړیدي شی	۱۳۲
د قران ترهیب	۱۱۴	په فرښتو باندې د حضرت آدم ﷺ دفضیلت وجه	۱۳۳
د پخوانو قومونو انجام	۱۱۴	دقیامت په ورځ شفاعت کبری	۱۳۳
دقران پاک احکام	۱۱۴	د فرشتو د خپلې لاعلمئ اقرار	۱۳۴
قران او د قیامت بیان	۱۱۴	د تسبیح فضیلت	۱۳۵
د فرښتو حضرت آدم علیه السلام ته سجده	۱۳۶	د امت محمدی ﷺ فضیلت	۱۵۳
په حضرت آدم ﷺ باندې دالله ﷻ احسانات	۱۳۷	په حشر کښې به هیڅ سفارش اوفدیه وغیره نه وی	۱۵۴
دفرشتو نه تپوس کول	۱۳۷	دفدیه نه قبلیدل	۱۵۴
ابلیس په خطاب کښې شامل وو	۱۳۸	مدد به نشی کولې	۱۵۴
آدم ته د سجدې نوعیت	۱۳۸	په بنی اسرائیلو باندې دالله ﷻ انعامات	۱۵۵
دمعاذﷺ نبی کریم ته د سجدې کولو درخواست	۱۳۸	د هلاکانو ذبح کول	۱۵۶
خارق عادت د نبوت خاصه نه ده	۱۳۹	په نجات کښې امتحان وو	۱۵۶
د حضرت آدم ﷺ اوبی بی حواء جنت ته داخلول	۱۴۰	دفرعونیانو نه نجات	۱۵۶
دوونې د نزدیکت نه ممانعت	۱۴۱	د بنی اسرائیلو موسی ﷺ سره روانیدل	۱۵۶
د «عنها» د ضمیر مرجع	۱۴۱	دیهودیانو روژه نیول	۱۵۷
زمکه باندې د انسانی ژوند آغاز	۱۴۱	دځلویښتو ورځووعده او دسخی عبادت	۱۵۸
د آدم علیه السلام په جنت کښې وخت تیرول	۱۴۲	دکتاب ملاویدل	۱۵۸
دامام رازی تحقیق	۱۴۲	توبه قبلیدل	۱۵۹

Scanned with CamSc

یواعتراض	۱۴۲	دالله د لیدو مطالبه	۱۲۰
د معافئ کلمات	۱۴۳	دموسی ﷺ دعا	۱۲۰
دنبیانو په تابعداریٔ به جنت ملاویږی	۱۴۴	دامام رازی یوضعیف روایت	۱۲۱
بنی اسرائیلو ته خطاب	۱۴۵	دامام ماوردی قول	۱۲۱
داسرائیل معنی	۱۴۵	دامام قرطبی قول	۱۲۱
دالله نه د ویرې حکم	۱۴۶	په بنی اسرائیلو باندې دوریځو سورې	۱۲۲
د اول کافر کیدو نه منع کول	۱۴۶	دالله ﷻ خاص نعمت من اوسلوی	۱۲۲
دینی تعلیم باندې اجرت اخستل څنګه دی؟	۱۴۷	داوبو انتظام	۱۲۳
صرف دالله ﷻ د ویرې څه مقصد دې	۱۴۷	صحابه کرام ﷺ او بنی اسرائیل	۱۲۴
حق پټول دیهودیانو خصلت دې	۱۴۸	مقدسې زمکې ته دداخلیدو حکم	۱۲۵
د مونځ او زکاة حکم	۱۴۸	دا کوم کلی وو؟	۱۲۵
د رکوع حکم	۱۴۸	دسجدې حالت کښې داخلیدلو مطلب	۱۲۵
بل ته وئیل او خپل ځان هیرول مکوئ	۱۴۹	د حطة معنی	۱۲۵
د واعظینو اومبلغینو دپاره هدایات	۱۴۹	دفتحې په موقع عاجزی کول	۱۲۵
د بې عمله واضح سزا	۱۴۹	په الفاظو کښې تبدیلی کول-	۱۲۶
صبر څه څیز دې؟	۱۵۱	دعذاب نازلول	۱۲۶
دضمیر وضاحت	۱۵۲	دولس چینې راویستل	۱۲۷
د خپل رب د پیشئ یقین کول	۱۵۲	جنتی کانړې	۱۲۷
دبنی اسرائیلو په پلار نیکه باندې انعامات	۱۵۳	د زمخشری تحقیق	۱۲۷
دهرې قبیلې خپله چینه	۱۶۸	الله دپټو څیزونو ښکاره کونکې دې	۱۸۲
د زمکې پیداوار کیدو مطالبه	۱۶۹	دغوا په څه حصه د مړی وهل	۱۸۲
یوښار ته د کوزیدو حکم	۱۶۹	پنځه ځایه د مرګ ذکر	۱۸۲
داعمالو شامت	۱۷۰	په بیا ژوند یو دلیل	۱۸۲
کفر د نبیانو قتلول	۱۷۰	دویمه فقهی مسئله	۱۸۲
په الله او اخرت ایمان راوړل	۱۷۱	د نبی کریم ﷺ د مړی ژوندی کولو یوه معجزه	۱۸۳
یهودیان څوک دی	۱۷۱	دریمه مسئله-	۱۸۳
دنصارا وپیژند ګلو	۱۷۲	د قساوت په لحاظ سره د زړونو قسمونه	۱۸۳
د صابی په تعریف کښې اقوال	۱۷۲	د قاتل وراره د قتل کولو نه انکار	۱۸۴
د صابی د ذبیحې حکم	۱۷۲	یو غلط تاویل	۱۸۴
د کوه طور د سرونو دپاسه کول	۱۷۳	جمادات هم خاص قسم ژوند لری	۱۸۴
دکوم څیز د نیولو حکم شوې وو؟	۱۷۴	د احد د غر واقعه	۱۸۴
دخالی په ورځ د ښکار کولو واقعه	۱۷۴	د ،،او،،د لفظ تحقیق	۱۸۵
د مجاهد یوغریب قول	۱۷۵	د ایت بل مطلب	۱۸۵
د مسخ شوو خلقو هلاکت	۱۷۵	د زړه د سختوالی مذمت	۱۸۵

Scanned with CamSc

دښکار دپاره حیله لټول	۱۷۵	د یهودیانو د ایمان امید مه ساتئ	۱۸۶
نیکان خلق	۱۷۵	دالله د کلام اوریدلو مطلب	۱۸۷
دعجیبه منظر لیدل	۱۷۶	په تورات کښې تحریف کول	۱۸۷
په واقعه کښې عبرت	۱۷۶	دیهودو عالمانو بد خصلتونه	۱۸۷
بل مطلب	۱۷۶	د یهودیانو منافقت	۱۸۷
امت محمدیه دپاره تنبیه	۱۷۷	د یهودیانو پټې خبرې نبی کریم ته معلومیدل	۱۸۸
د خپل ترۀ قتل کول	۱۷۷	دامی دلفظ وضاحت	۱۸۸
موسی ﷺ ته تلل	۱۷۷	د امانی تشریح	۱۸۹
عبث تپوسونه کول:	۱۷۸	الا اذ تمنی الخ	۱۸۹
د غوا صفتونه	۱۷۸	د ویل څه معنی ده	۱۸۹
د پلار تابعداری	۱۷۸	لږ قیمت څه وو	۱۹۰
دهلك نه دغوا مطالبه کول	۱۷۸	دجهنم عذاب څوورځې دې	۱۹۰
د غوا اخستل	۱۷۸	د یهودیانو نه څو تپوسونه کول	۱۹۰
د غوا باره کښې تپوسونه	۱۸۰	په ګناهونو کښې راګیر خلق	۱۹۱
د غوا د کار نوعیت	۱۸۰	د بدئ نه مراد	۱۹۱
یوه فقهی مسئلۀ	۱۸۱	د ایمان دارو د نیکو عملونوبدله	۱۹۲
بغیر د لیدو نه د ځناورخرڅولو حکم	۱۸۱	صرف الله ﷻ دعبادت لائق دې	۱۹۲
مور پلار سره ښه سلوك	۱۹۳	دیهودیانو سلیمان ﷺ ته د جادوګرنسبت کول	۲۱۳
یتیم چاته وائی؟	۱۹۳	د علی ﷺ د نه وفات کیدو عقیده	۲۱۳
د ښه سلوك حکم	۱۹۳	شیطانانوته د غیبو علم نشته	۲۱۳
د یهودیانو خپل مینځ کښې جګړې کول	۱۹۵	جادو د سلیمان ﷺ نه وړاندې شروع وو	۲۱۴
دعبدالله بن سلام ﷺ یوه واقعه	۱۹۵	د یهودیانو د عقیدې تردید	۲۱۴
بنی اسرائیلو کښې پرله پسې پیغمبران رالیږل	۱۹۶	د هاروت ماروت واقعه	۲۱۵
د بنی اسرائیلو تکبر	۱۹۷	یوه عجیبه واقعه	۲۱۷
د روح القدس نه مراد	۱۹۷	دفتنه نه مراد	۲۱۸
حسان بن ثابت ﷺ سره د روح القدس مدد کول	۱۹۷	ایمان راوړل او تقوی اختیارول ښه وو	۲۱۹
د روح القدس په تعریف کښې نور اقوال	۱۹۸	دجادو وجود	۲۲۰
دغلف معنی او مفهوم	۱۹۸	آیا دجادو علم زده کول جائز دی	۲۲۰
دیهودوانکار د حسد په وجه دې	۱۹۹	دجادو قسمونه	۲۲۰
دمعاذ ﷺ یهودیانو سره خبرې کول	۱۹۹	د جادو حکم	۲۲۵
دیهودیانود تکبر او حسد سزا	۲۰۰	د مشتبه الفاظو د نه استعمال حکم	۲۲۵
دخواهش بندګان د نفس غلامان دی	۲۰۱	مسلمانانو ته د خطاب نه پس	۲۲۶
دیهودیانو دټولو نه لوئې کفر	۲۰۲	دناسخ اومنسوخ بحث	۲۲۷
یهودیانو ته دمباهلې دعوت	۲۰۳	دنسخې لفظی معنی	۲۲۷

Scanned with CamSc

د مشرکانو نه زیات د عمر سره محبت ساتل	۲۰۴	د نسخ اصطلاحی معنی	۲۲۷
دیهودیانو حضرت جبریل ﷺ سره دښمنی	۲۰۵	دنسخې جواز	۲۲۸
د یهودیانو د نبی کریم ﷺ نه سوالونه	۲۰۵	د یهودیانو دعدم نسخ تردید	۲۲۸
دعبدالله بن سلام اسلام قبلول	۲۰۷	فرعی احکامو کښې تبدیلئ	۲۲۹
د لفظ جبریل وغیره معنی	۲۰۷	دابومسلم اصبهانی نظریه د عدم نسخ	۲۲۹
دخلقو کانړی سره مونځ کول او	۲۰۷	بې فائدې سوالونو نه ممانعت	۲۳۰
د حضرت عمرفاروق ﷺ دیهودو سره مکالمه	۲۰۸	بې مطلبه تپوس کول	۲۳۰
فرشتو کښې هم رسولان شته	۲۰۹	دایت شان نزول	۲۳۲
قران د اسمانی کتابو مصدق دې	۲۰۹	د عفو او درګذرحکم	۲۳۳
په فرشتو کښې دجبریل نوم	۲۰۹	د بصیرمعنی	۲۳۳
الله د کافرانو دشمن دې	۲۱۰	دهر عمل د قبولیت دپاره دسنتو اتباع شرط ده	۲۳۴
د قران ایاتونه واضح دی	۲۱۲	دسنت نه خلاف عمل نتیجه	۲۳۵
د نبذ معنی	۲۱۲	د اخلاص نه بغیر عمل	۲۳۵
د جادو تابعداری کول	۲۱۲	دجاتونو نه منع کونکې	۲۳۶
دنصاراو سرکشی	۲۳۶	تاکیدی خطاب	۲۵۰
دیهودیانو دمغلوبیت وجه	۲۳۷	په توحید کښې ددنیا امام	۲۵۱
د ابن جریر قول	۲۳۷	د دې معنی تائیدی ایاتونه	۲۵۱
دبیت المقدس په ځائې کعبه قبله جوړول	۲۳۸	کلمات کوم کوم دی ؟	۲۵۱
د ټولو نه رومبې منسوخ حکم	۲۳۹	دکلماتو باره کښې اقوال	۲۵۱
په هر ځائې کښې د الله د وجود مطلب	۲۳۹	لس خصلتونه د سورة توبه	۲۵۱
په سورلئ دمونځ کولو حکم	۲۳۹	لس خصلتونه د سورة مومنون اومعارج	۲۵۱
په سورلئ باندې د نفل مونځ کولو حکم	۲۴۰	لس خصلتونه د سورة احزاب	۲۵۲
د ایت شان نزول	۲۴۰	دکلمات ابراهیمی مزید وضاحت	۲۵۲
غیرقبلې ته د مشتبه علیه القبله د مونځ حکم	۲۴۰	دامتحان نور اجزاء	۲۵۲
دجنازې مونځ غائبانه کولو بیان	۲۴۱	سنت دابراهیمی ﷺ	۲۵۲
دغائبانه جنازې عدم جواز دقائلینو دریې تاویلونه	۲۴۱	لس دفطرت خبرې	۲۵۳
الله ﷻ مقتدر اعلی او بې نیاز دې	۲۴۲	د ظالم اوعهد وضاحت	۲۵۳
حدیث قدسی	۲۴۳	بیت الله دامن او امان ځائې	۲۵۴
هرځیز دالله تابع دې	۲۴۳	قوله تعالی وتخذوا من مقام ابراهیم مصلی	۲۵۴
د زمکې اوآسمانونو پیدا کونکې ؟	۲۴۳	مقام ابراهیم ﷺ څه دې ؟	۲۵۴
دبدیع تشریح	۲۴۴	مقام ابراهیم دمونځ ځائې ګرځول	۲۵۴
دکائناتو هر څیز کول هغه ته اسان دی	۲۴۴	د حضرت عمر فاروق ﷺ فضیلت	۲۵۵
دالله د خبرو مطالبه کول	۲۴۵	دمقام ابراهیم نور تفصیل	۲۵۵
ددې مطلب تائیدی ایاتونه	۲۴۵	احکام د بیت الله او مساجد طائف	۲۵۷

Scanned with CamSc

دعناد په وجه د معجزاتو مطالبه کول	۲۴۵	طواف افضل دي که مونځ	۲۵۸
د کافرو په زړونو کښې مشابهت	۲۴۵	په ایت کښې په اهل کتابو رد	۲۵۸
اهل یقین دپاره د ایاتونو کفا ت	۲۴۵	د بیت الله د تعمیر تاریخ	۲۵۸
په پیغمبرصرف تبلیغ دي	۲۴۶	د مدینې منورې حرمت	۲۵۹
درسول کریم ﷺ د والدینود کفر او ایمان بیان	۲۴۶	د مکې حرمت د اولې ورځې نه دي	۲۵۹
په تورات کښې د نبی کریم ﷺ صفتونه	۲۴۷	د مکې حرمت دائمی دي ۹	۲۵۹
د باطل پرستو د تابعدارئ ممانعت	۲۴۸	تطبیق	۲۵۹
مختلف مذهب والا یو بل نه میراث نشی اوړې	۲۴۸	د نبی کریم ﷺ د نبوت ابتداء	۲۶۰
دتلاوت حق څه دي	۲۴۸	د مکې او مدینې په خپل مینځ کښې افضیلت	۲۶۰
د بعضې اهل کتابو په قران ایمان راوړل	۲۴۹	دکافرو دپاره صرف دنیاوی فائده ده	۲۶۰
ایمان نه راوړونکی تاوانیان دی	۲۴۹	د خانه کعبې تعمیر	۲۶۱
د بی بی هاجرې د مکې خوشې میدان ته بوتلل	۲۶۲	د دعاء ابراهیمی ظهور	۲۷۲
بی بی هاجره پریخودل اود ابراهیم ﷺ دعا	۲۶۲	د کتاب اوحکمت نه مراد	۲۷۲
د بی بی هاجرې صبر	۲۶۲	ددین ابراهیمی دعویدار دمشرکینو ذکر	۲۷۳
دصفا او مروه دسعی شروع	۲۶۳	دابراهیم ﷺ صفات	۲۷۴
د زم زم چینه راوتل۔	۲۶۳	یعقوب ﷺ دابراهیم ﷺ په ژوند کښې پیدا شوې وو	۲۷۴
د جرهم قبیله راتلل	۲۶۳	په بیت الله او بیت المقدس کښې فاصله	۲۷۵
دحضرت اسماعیل ﷺ رومبئ نکاح	۲۶۳	چه څه کرې هغه به ریبې	۲۷۶
دابراهیم ﷺ تلل راتلل۔	۲۶۳	دتوحید الوهیت ثبوت	۲۷۶
داسماعیل ﷺ د ښکار نه واپس راتلل	۲۶۴	د ایت نه یو استدلال	۲۷۶
دابراهیم ﷺ دوباره راتلل	۲۶۴	دنیکی موجودګئ کښې دنمسی حصه	۲۷۶
د بیت الله د تعمیردپاره د ابراهیم ﷺ راتلل	۲۶۴	بچی دالله د الوهیت اقرار کوی	۲۷۶
دحجر اسود لګول۔	۲۶۵	هرچاته به د خپل بدله ملاویږی	۲۷۷
دکعب بن احبار روایت	۲۶۵	داهل کتاب تردید	۲۷۷
د ذوالقرنین د ابراهیم ﷺ سره ملاقات	۲۶۶	په ټولو پیغمبرانو ایمان راوړل	۲۷۸
په عهد قریشی کښې د بیت الله تعمیر	۲۶۶	دسحرپه سنتو کښې قراءت	۲۷۸
په بیت الله کښې خزانه	۲۶۷	داسباط تشریح	۲۷۸
د مار لرې کولو غیبی انتظام	۲۶۷	ایمان په ټولو خو عمل په قران	۲۷۹
دبیت الله د جوړولو تقسیم ۶۔	۲۶۷	دنجات موندودپاره شرط۔	۲۷۹
د ولیدبن مغیره په نړولو شروع کول	۲۶۷	دعثمان د شهادت په وخت کښې تلاوت	۲۷۹
د حجر اسود لګولو واقعه	۲۶۸	د صیغة نحوی تحقیق	۲۷۹
دنبی کریم ﷺ په نصیب کښې د.....	۲۶۸	حقیقی دین اسلام دي	۲۸۱
په خلافت د ابن زبیر ؓ کښې د کعبې تعمیر	۲۶۸	ابراهیم مسلمان وو	۲۸۱

Scanned with CamSc

د تعمیر نه وړاندې استخاره کول	۲۲۹	هرچا دپاره د هغه عمل دې	۲۸۱
په تعمیر باندې شروع کول	۲۲۹	**دویمه پاره**	۲۷۲
د حجاج بن یوسف تعمیر	۲۲۹	په دې بې وقوفانو کښې د عالمانو اقوال	۲۸۲
دعبدالملک بن مروان افسوس	۲۲۹	د قبلې بدلیدو حکم راتلل	۲۸۲
د هارون الرشید اراده	۲۷۰	د تحویل قبلې نه وړاندې وفات شوو خلقو.....	۲۸۳
دخلیل الله او حضرت ذبیح الله دعاګانې	۲۷۱	د ایت شان نزول	۲۸۳
د نبی کریم (ص) د رسالت عمومیت	۲۷۱	داهل کتابو په تحویل کعبه اعتراض	۲۸۳
دانسان په مرګ د اعمالو خاتمه خو	۲۷۱	خلاصه دکلام	۲۸۳
د حج احکام کول	۲۷۱	نبی کریم ﷺ ته بیت المقدس ته د مخ کولو.....	۲۸۳
په مسجد القبلتین کښې د تحویل قبلې	۲۸۳	نبی کریم ته د ثابت قدمئ حکم	۲۹۳
د تحویل قبلې حکم په کوم مونځ کښې راغلې وو	۲۸۴	دهرچا دپاره قبله ده	۲۹۳
یو استدلال	۲۸۴	دیهودو د بې ځایه اعتراضونو پرواه مه کوئی:	۲۹۵
دخلقو اعتراضونه او د هغې جواب	۲۸۴	د تکرار وجه	۲۹۵
دیهودو د مسلمانانو سره د حسد وجه ۶	۲۸۴	د اهل کتابو حجت ختمول	۲۹۵
دامت محمدی فضیلت	۲۸۴	ظالمان به اوس هم د اعتراض نه نۀ منع کیږی	۲۹۵
د وسط وضاحت	۲۸۵	د استقامت حکم	۲۹۵
د امت محمدی د ګواهئ کیفیت	۲۸۵	په امت محمدی باندې دبیش بها نعمت ذکر	۲۹۶
دقیامت په ورځ د امت محمدی ګواهی	۲۸۵	د شکر ادا کولو حکم	۲۹۶
د امت محمدی ګواهی	۲۸۵	الله ګناهګاران هم یادوی خو په بدئ سره	۲۹۷
څه واجب شو ؟	۲۸۵	دالله ذکر د الله په نیز د بنده د یادولو سبب دې	۲۹۷
د مرده د نیکئ ګواهی ورکولو نتیجه	۲۸۶	د ناشکرئ نه منع کول	۲۹۷
شه او بد پیژندل	۲۸۶	بهترینه وسیله صبر او مونځ دې	۲۹۸
د قبلې بدلون امتحان دپاره وو.	۲۸۶	د صبر قسمونه	۲۹۸
د صحابه کرامو کامیابی	۲۸۷	صابران به بې حسابه جنت ته ځی	۲۹۸
الله بیت المقدس ته شوی مونځونه نه ضائع کوی	۲۸۷	د صابر تعریف	۲۹۸
دالله د مهربانئ مثال	۲۸۷	دشهیدانو ژوند	۲۹۸
ابراهیمی قبله د رسول الله ﷺ خوښه وه ::	۲۸۸	شهیدان به دنیا ته د واپس تلو تمنا کوی	۲۹۹
د قبلې په حد کښې د امامانو مذاهب	۲۸۸	آزمیښت شرط دې :	۲۹۹
د قبلې حدود کوم دی؟	۲۸۸	صابران څوک دې ؟	۳۰۰
رومبې مونځ بیت الله طرف ته ادا کول	۲۸۹	د نعمت نعم البدل ملاویدو دعا۔	۳۰۰
د رکوع په حالت کښې د قبلې بدلیدو خبر.....	۲۹۰	د دې دعا په برکت نبی کریم غوندې خاوند	۳۰۰
دمسافر ، او دمیدان جنګ دسپاهی مونځ	۲۹۰	په کلمه د استرجاع اجر ملاویدل	۳۰۰
د ویریدونکی دپاره د استقبال حکم	۲۹۰	په جنت کښې بیت الحمد جوړیدل	۳۰۱

Scanned with CamSc

دمونځ په حالت کښې دې نظر چرته لری ؟	۲۹۰	دصفا مروه طواف او د هغې طریقه :	۳۰۱
مانځه کښې دنظر ساتلو مقام	۲۹۱	حاجی دپاره عاجزی پکار ده	۳۰۳
د تحویل قبلې یهودیانو ته علم وو	۲۹۱	نفلی عبادات کول	۳۰۳
حق پریښودل او باطل پسې تلل ظلم دې	۲۹۲	الله قدردان دې	۳۰۳
د نبی کریم د هودیانو د تابعدارئ نه کولو خبر	۲۹۲	حق خبره پټونکی ملعون دی	۳۰۴
حق اود یهودو عالمانو کردار	۲۹۲	د حق پټونکی ته د اور واګې اوچول	۳۰۵
د عبدالله بن سلام	۲۹۳	توبه ویستونکی د لعنت نه بچ دی	۳۰۵
د کفر په حالت کښې مړه به همیشه لعنتی وی	۳۰۵	د مجبورئ په وخت کښې د حرامو خوړلو اجازت	۳۱۵
معبود برحق	۳۰۶	د باغ او عاد تفسیر	۳۱۶
د زمکې او اسمان په تخلیق کښې دلائل.....	۳۰۷	په اضطراری حالت کښې مرداره خوړل....	۳۱۶
د شپې او ورځې په اختلاف کښې عبرت	۳۰۷	د عهد نبوی یوه واقعه	۳۱۶
د کشتو فوائد	۳۰۷	بدترین علماء حق پټونکی	۳۱۸
دالله د وحدانیت نور ګنړ دلائل	۳۰۷	دکتمان حق په عوض کښې مال خوړل اوردجهنم دې	۳۱۸
دایت شان نزول	۳۰۹	دیتیمانو مالو خوړونکی	۳۱۸
د الله ﷻ پشان محبت نورو سره ؟	۳۰۹	د سرو سپینو په لوښو کښې خوراک کول	۳۱۸
مومنان د الله په محبت کښې زیات دی	۳۰۹	د قیامت په ورځ د الله خبرې نه کول	۳۱۸
د قیامت په ورځ د معبودانو د عابدانو نه بیزاری	۳۰۹	دې قسمه خلق بد نصیبه دی	۳۱۸
دنیا ته د دوباره تلو ارمان	۳۱۰	د هدایت په مقابله کښې ګمراهی اخستل	۳۱۸
حلال رزق خورئی	۳۱۱	د عذاب سبب	۳۱۹
تحریم د حلالو د شیطان لمسه ده	۳۱۱	نیکی څه څیز دې ؟	۳۲۰
د سعدبن ابی وقاص دعا قبلیدل	۳۱۱	دایمان ننبه	۳۲۰
شیطان د انسان دشمن دې	۳۱۱	د ایت مفهوم	۳۲۰
د خطوات الشیطان نه مراد	۳۱۱	مال سره د محبت باوجود هغه صدقه کول:	۳۲۱
د مسروق واقعه	۳۱۲	د ذوی القربی مطلب :	۳۲۱
د حلال څیز حرامول یوه بله واقعه	۳۱۲	یتامی	۳۲۱
د طلاق یوه مسئله	۳۱۲	مساکین:	۳۲۱
شیطان د ګناه حکم کوی	۳۱۲	مسکین څوک دې؟	۳۲۱
ګمراهی او جهالت:	۳۱۳	ابن السبیل:	۳۲۲
د مشرکانو مثال	۳۱۳	سائلین	۳۲۲
حلال او حرام رزق څه څیز دې ؟	۳۱۴	رقاب :	۳۲۲
د حلال رزق خوړل او دهغې د شکر حکم	۳۱۴	مونځ او زکوة ورکول	۳۲۲
د حرامو څیزونو بیان	۳۱۴	د وعدې پوره کول	۳۲۲
د سمندری مرداري حکم	۳۱۴	دمنافق دري نښې :	۳۲۲
د مرداري د پیو او اګئ حکم	۳۱۵	د ایت شان نزول	۳۲۳

Scanned with CamScanner

د مرداري د وارګو حکم	۳۱۵	دویم شان نزول	۳۲۴
قرانی حلال او حرام	۳۱۵	د ساه بدله کښې به ساه اخستلې شی	۳۲۴
د خنزیر د حرمت بیان	۳۱۵	د عالمانو مذاهب	۳۲۴
د غیر الله د تقرب دپاره ذبح شوې خناور حرام دې	۳۱۵	د ازاد قاتل د غلام مقابله کښې قصاص	۳۲۴
د صحابؤ په عمل باندې استدلال	۳۲۵	دروژې فرضیت او مقصد	۳۳۳
د خصم د دلیل نه جواب	۳۲۵	روژه په پخوانو امتونو هم فرض وه	۳۳۳
د جمهورو مسلک	۳۲۵	روژې سره نفسانی خواهشات کمزوری کیږی	۳۳۴
آیا مسلمان به د کافر بدله کښې قتل کولې شی ؟	۳۲۶	د روژو شمیر	۳۳۴
مسلمان به د کافر پهم مقابله کښې	۳۲۶	په مخکنو امتونوباندې د فرض روژو شمیر	۳۳۴
د صحابؤ په عمل باندې استدلال	۳۲۶	د بیمار او مسافر دپاره د روژې رخصت	۳۳۴
د خصم د دلیل نه جواب	۳۲۶	په مانځه کښې دریې تبدیلئ	۳۳۴
سړې د ښځه په بدله کښې قصاص کول	۳۲۷	په روژو کښې دریې تبدیلئ	۳۳۵
دیو مقتول په بدله کښې ټول قاتلان قصاص کول	۳۲۷	د ابو قیس او حضرت عمر واقعه	۳۳۵
د معافئ په صورت کښې فدیه په کومه.....	۳۲۷	د ډیرېوډا او حامله او مرضعې دپاره د روژې حکم	۳۳۵
د دیت په صورت کښې د قاتل رضا مندی	۳۲۸	د ایت شان نزول	۳۴۲
په دیت ورکولو کښې د قاتل رضا شرط دې	۳۲۸	په ذکر او دعا کښې اخفاء کول	۳۴۲
د ښځې په معافئ سره د قصاص ساقطیدل	۳۲۸	الله د بنده سره وی	۳۴۲
په قتل عمد کښې ددیت اخستلو جواز مهربانی ده	۳۲۸	الله دعا قبلوی	۳۴۳
د دیت اخستلو نه پس بدله اخستلو سزا	۳۲۸	دعا عبث نه څی	۳۴۳
د مقتول ولی یا مجروح ته د دریې خبرو اختیار	۳۲۸	ناجائزه دعا نه قبلیږی	۳۴۳
په قصاص کښې ژوند دې	۳۲۹	په دعا کښې تلوار نه دې کول پکار	۳۴۳
قصاص د ګناه نه د بچ کیدو سبب دې	۳۲۹	د غافله دعا نه قبلیږی	۳۴۴
د وصیت حکم او منسوخیت	۳۳۰	یوه جامع دعا	۳۴۴
د وصیت حکم منسوخ کیدل	۳۳۰	په یو څیز کښې د الله او د بنده شراکت	۳۴۴
د وصیت د ایت مفهوم	۳۳۰	دعا حکم د روژو د احکامو په مینځ کښې	۳۴۴
د غیر ذوی الفروض دپاره د وصیت جواز	۳۳۱	د دریې کسانو دعا نه رد کیدل	۳۴۴
د وصیت لیکلو حکم	۳۳۱	په رمضان کښې خوراك څکاك او جماع	۳۴۶
د «خیر» نه مراد	۳۳۱	د رفث نه مراد	۳۴۶
د معروف نه مراد	۳۳۱	د لباس نه مراد	۳۴۶
د سعد بن ابی وقاص اکثره حصه.....	۳۳۱	د قیس بن صرمه واقعه	۳۴۶
په وصیت کښې د ابن عباس رائې	۳۳۲	د بعضې صحابؤ نه کوتاهی کیدل	۳۴۶
دعهد نبوی یوه واقعه	۳۳۲	د کتب نه مراد	۳۴۷
د وصیت بدلولو ګناه	۳۳۲	دپشنمی او افطاری متعلق مسائل :	۳۴۷
دظالم صدقه نه قبلیږی ۹	۳۳۲	دعدی بن حاتم واقعه	۳۴۷

Scanned with CamSc

د روایت تضعیف	۳۳۲	د پیشمنی حکم ۹۶	۳۴۷
د ګناه د وصیت خرابی	۳۳۲	د صبا راختو نه وړاندې پورې پیشمنې کول	۳۴۸
یو ضعیف قول	۳۴۸	د حرمت میاشتې	۳۲۱
د جنابت په حالت کښې صبا کولو حکم	۳۴۹	دصلح حدیبیه واقعه	۳۲۱
دجنابت روژې سره منافات نشته	۳۵۰	د هوازن واقعه	۳۲۲
د روژې د افطار وخت	۳۵۰	په ایت کښې د هلاکت نه مراد	۳۲۲
د صوم الوصال ممانعت	۳۵۱	قسطنطنیه د جنګ یوه واقعه	۳۲۳
د یو پیشمنی نه بل پیشمنی پورې روژه نیول	۳۵۱	دهلاکت دویم تفسیر	۳۲۳
د نفس د ریاضت په طور د صوم الوصال حکم	۳۵۲	حج او عمره پوره کول څه دی؟	۳۲۵
د صوم الوصال نه منع د شفقت په وجه	۳۵۲	په پوره کولو کښې اقوال	۳۲۵
په اعتکاف کښې د جماع ممانعت	۳۵۲	د نبی کریم څلور عمرې	۳۲۵
د اعتکاف څو مسائل	۳۵۲	په رمضان کښې د عمرې فضیلت	۳۲۵
د اعتکاف اهمیت	۳۵۳	دحج اوعمرې احرام نه پس د دې پوره کول	۳۲۵
د اعتکاف حالت کښې خپلې	۳۵۳	نبی کریم حج حج تمتع وو	۳۲۲
د تهمت نه ځان ساتل	۳۵۳	دمحصر حکم	۳۲۲
په اعتکاف کښې د جماع د اسبابو نه ځان ساتل	۳۵۳	محصر صرف د دشمن د ویرې نه حصار ته وائی دې	۳۲۷
دیو بل په مال باندې ناجائزه قبضه کول حرام دی	۳۵۴	د دشمن ویره او بیماری وغیره عذرونه د	۳۲۷
د قاضی فیصله ناحق نشی حق کولې ۰	۳۵۴	په اوښ غوا میخه او کله چیلئ باندې د قربانئ	۳۲۷
د ابن کثیر تبصره	۳۵۴	دبیمار سړی حکم ؟	۳۲۸
سپورمئ دمیاشې او کال د تعین دپاره دی	۳۵۵	د قولونو تضعیف ۰	۳۲۹
کورونو ته په دروازو راتلل	۳۵۶	تمتع حج کوونکو دپاره احکام::	۳۷۰
د ایت شان نزول	۳۵۶	دقربانئ په بدله کښې روژې نیول	۳۷۰
د اعتکاف په حالت کښې د غلط رواج تردید	۳۵۶	روژې د عرفې نه وړاندې نیول	۳۷۱
د جهاد حکم	۳۵۷	په شوال کښې د روژو نیولو حکم	۳۷۱
په جهاد کښې د ممنوع څیزونو فهرس	۳۵۸	په ایام التشریق کښې روژې نیول	۳۷۱
ظلم د الله د خفګان سبب دې	۳۵۸	په ایام التشریق کښې د روژو نیولو حکم	۳۷۱
حرم کښې د قتال ممانعت	۳۵۹	د اووه روژو وخت	۳۷۱
فتح مکه	۳۵۹	لس ورځې روژې برابرول	۳۷۲
صلح حدیبیه	۳۵۹	د تمتع حج حکم د چا د پاره دې	۳۷۲
دکفر نه توبه ویستل د ګناهونو معاف کیدل دی	۳۵۹	د حاضر المسجد الحرام نه څوک مراد دې؟	۳۷۲
ترځو پورې جهاد کوئ؟	۳۵۹	د تقوی حکم	۳۷۲
څوک چې جنګ نه کوی تاسو ورسره جنګ مه کوئ	۳۶۰	د حج دپاره د احرام میاشتې	۳۷۳
د عدوان مفهوم	۳۶۰	د حج د میاشتو نه وړاندې د حج دپاره د احرام تړل	۳۷۴
د عبدالله بن عمر د فتنې په زمانه	۳۶۰	د حج میاشتې	۳۷۴

Scanned with CamS

د فرض نه مراد	۳۷۵	د ایت شان نزول	۳۸۸
د رفث نه مراد	۳۷۵	د نوف بکالی بیان	۳۸۸
د فسوق مفهوم	۳۷۵	د الله گواه کول	۳۸۹
د جگړو ممانعت	۳۷۶	د «الد» معنی	۳۸۹
الله په هره نیکئ عالم دي	۳۷۷	په زمکه کښې د فساد کوشش	۳۸۹
خان سره توښه اخستل	۳۷۷	د سعی نه مراد	۳۸۹
په حج کښې تجارت کول	۳۷۸	د فصلو اوخارو تباه کول	۳۹۰
دابن عمررضی الله عنه فتوی	۳۷۸	د نصیحت قبلولو نه تکبر کول	۳۹۰
د عمر رضی الله عنه قول	۳۷۹	د صهیب روم خریداری	۳۹۰
د عرفات غیرمنصرف دي	۳۷۹	د ایت د عمومیت قائلین	۳۹۰
عرفه څه ته وائی	۳۷۹	د ایت شان نزول	۳۹۱
د وقوف عرفات وخت	۳۷۹	دشیطان د تابعدارئ ممانعت	۳۹۱
د اختر د ورځي د صبا نه لږ غوندي	۳۷۹	دعلم نه پس ګمراه کیدل	۳۹۲
یوه واقعه	۳۷۹	دالله د عذاب انتظار	۳۹۲
د میدان عرفات نور نومونه	۳۸۰	د نبی کریم شفاعت کول	۳۹۲
د مسور د نبی کریم نه د روایت کولوثبوت	۳۸۰	میدان حشر لګیدل	۳۹۳
د عرفات نه روانیدل	۳۸۰	د قیامت په ورځ دفرشتو تسبیح	۳۹۳
د عرفات نه روانیدل او دالله ذکرکول	۳۸۱	دالله تعالی د فیصلي دپاره راتلل ۶	۳۹۳
په مشعر حرام کښې د ایساریدو حکم	۳۸۱	الله او فرشتي به د وریځي په سیوری کښې نازلیږی	۳۹۳
په وادی محسر کښې د ایساریدو حکم	۳۸۲	د بنی اسرائیلو ناشکری	۳۹۴
دسنت طریقي مطابق ذکر کول	۳۸۲	دنیا سره د محبت مذمت	۳۹۴
عرفات نه واپس شئ::	۳۸۲	دالله په لار کښې د خرچ فضیلت	۳۹۵
د افاضه نه مراد	۳۸۳	هرصبا د فرشتي راکوزیدل	۳۹۵
د «الناس» نه مراد	۳۸۳	د انسان د نظر دهوکه	۳۹۵
د استغفارحکم	۳۸۳	ټول خلق یو امت وو ۹	۳۹۶
سیدالاستغفار	۳۸۳	امت محمدی به د اخری باوجود اول جنت ته څی	۳۹۶
د حج نه پس دالله ﷻ د ذکرحکم	۳۸۴	د امت محمدی د هدایت کارونه	۳۹۶
د «او» تحقیق	۳۸۴	د هدایت سوال	۳۹۷
دا دین او دنیادپاره دعاء	۳۸۴	د هدایت دویمه دعا	۳۹۷
د نبی کریم زیاته دعا	۳۸۵	په ایماندارو امتحانونه	۳۹۸
بیمار ته د دي دعا تلقین کول	۳۸۵	د اسلام د غلبي پیشګوئی	۳۹۸
د ابن عباس نه تپوس	۳۸۵	د هرقل قول	۳۹۸
د ایام نه مراد	۳۸۶	دخیرات حقدار::	۳۹۹
ایام تشریق د ورځو حیثیت	۳۸۶	د جهاد فرضیت	۴۰۰

Scanned with CamSc

د قربانئ ورځې	۳۸۷	په جهاد کښې ستاسو کامیابی ده	۴۰۰
ذکر نه مراد	۳۸۷	د ایت شان نزول	۴۰۲
د دې دلې شرکاء	۴۰۲	په مخکښې طرف کښې جماع کول	۴۱۵
د عبدالله بن جحش اعلان ۵۶	۴۰۲	په مخکښې طرف کښې جماع کول	۴۱۵
د عمروبن خضرمی قتل ۵	۴۰۳	د یهودیانو غلطه عقیده	۴۱۵
د قریشو پیغور ورکول	۴۰۳	د یوې انصاریې واقعه	۴۱۶
د ایاتونو د نزول نه پس عمل	۴۰۳	په روستو طرف کښې د جماع ممانعت	۴۱۶
د شرابو حرمت	۴۰۵	اووه قسمه خلقو ته د رحمت په نظر نه کتل	۴۱۷
د جوارئ حرمت	۴۰۵	ابن عمر ته غلط نسبت	۴۱۸
دعفو معنی	۴۰۶	امام مالک ته غلط نسبت	۴۱۸
په انفاق فی سبیل الله کښې میانه روی	۴۰۶	روستو طرف کښې وطی کول د فقهاؤ په نظر کښې	۴۱۸
د خرچ کولو طریقه	۴۰۶	ښځې سره په دبر کښې د جماع حرمت	۴۱۹
بنیادم ته خطاب	۴۰۷	د بچی د شیطان نه د بچ کیدو دعا	۴۱۹
دنیا او اخرت کښې فکر کول:	۴۰۷	د ناجائزه قسم د ماتولو حکم	۴۱۹
دیتیم د مال حفاظت او حکم	۴۰۷	د ناجائزه قسم ماتولو د کفارې حکم	۴۲۰
الله خپل مخلوق مشقت کښې نه اچوی	۴۰۷	د لغو قسم حکم	۴۲۱
مشرکو ښځو سره د نکاح حرمت	۴۰۸	په کوم قسم نیول شته	۴۲۱
د اهل کتابو ښځو سره د نکاح جواز	۴۰۹	د ایلاء تعریف او قسمونه	۴۲۲
مسلمان کتابیه سره نکاح کولې شی نه د دې په عکس	۴۰۹	ایلاء د ښځو نه کیږی نه چې د وینځو نه	۴۲۲
د مشرک اصیل نه مسلمان غلام ښه دې	۴۰۹	په موده د ایلاء کښې رجوع کول	۴۲۳
په نکاح کښې دینداری ته کتل پکاری دی	۴۱۰	په ایلاء کونکی باندې د کفارې حکم؟	۴۲۳
په نکاح کښې څلور خصلتونو ته کتل	۴۱۰	د ایلاء مودې تیریدو سره د طلاق د واقع کیدو حکم	۴۲۳
خلقو ته احکام بیانول	۴۱۰	ایلاء چې طلاق رجعی شی په دې کښې د عدت حکم	۴۲۴
مومن غلام دمشرک نه افضل دې	۴۱۰	د څلور میاشتو حکمت	۴۲۴
د ایت شان نزول	۴۱۱	د طلاق عدت ::	۴۲۵
د جماع نه سوا نور هرڅۀ کولې شی	۴۱۱	د وینځې تخصیص	۴۲۵
د مسروق تپوس	۴۱۲	د وینځې عدت څومره دې؟	۴۲۵
د عائشې حکایت	۴۱۲	د قروء نه مراد طهرونه دی	۴۲۶
د یو روایت توجیح	۴۱۲	د قروء نه مراد حیضونه دی	۴۲۶
د لنګ دپاسه فائده اخستل	۴۱۲	د قروء نه مراد حیض دې	۴۲۷
د لنګ دپاسه د فائدې اخستلو حکم	۴۱۳	د رحمونو حالت پټولو ممانعت	۴۲۷
په حیض کښې جماع کولو سره د کفارې حکم	۴۱۳	په عدت کښې دننه خاوندانو ته د رجوع اجازت	۴۲۷
په حیض کښې جماع کولو باندې د کفارې حکم	۴۱۴	د ښځې خاوند خپلو کښې یوبل باندې حقوق	۴۲۸
د حیض نه پس د جماع حکم	۴۱۴	د رجوع قابل دوه طلاقه دی	۴۲۹

Scanned with CamSc

دلته امر د جوب دپاره نه دي ۹	۴۱۴	د ايت شان نزول	۴۳۰
تطبيق	۴۱۴	د خلعي جواز	۴۳۰
په اکثره موده د حيض بنديدو نه	۴۱۴	بغير د څه وجي خلع کول	۴۳۰
د دي دلي شرکاء	۴۰۲	په مخکښي طرف کښي جماع کول	۴۱۵
د خلعي په حکم کښي مذاهب	۴۳۰	د الله نه د ويري حکم	۴۴۴
دحبيبه بن سهل واقعه	۴۳۱	د خاوند د وفات نه پس د عدت موده	۴۴۵
په خلع کښي د مهر نه زيات اخستلو د جواز قول حکم	۴۳۲	دغير مدخول بها متوفى عنها زوجها عدت	۴۴۵
د خلافت عثماني واقعه	۴۳۲	د حملدار عدت وضع د حمل ده	۴۴۵
په خلع کښي د مهر نه زيات څه اخستلو حکم	۴۳۳	د عهد نبوى واقعه	۴۴۶
خلع طلاق فسخ ده:	۴۳۳	د ام ولد متوفى عنها عدت:	۴۴۶
خلع طلاق بائن دي	۴۳۳	دعدت په موده کښي حکمت	۴۴۶
خلع طلاق دي	۴۳۳	د متوفى عنها زوجها وينځي په عدت.....	۴۴۶
د خلع عدت دري حيضه دى	۴۳۳	په ښځه د خاوند د غمرازى اهميت	۴۴۷
د خلع عدت حيض دي	۴۳۴	د عمزارئ د حکم عموميت	۴۴۷
مخلوعه ښځي ته د رجوع کولو حکم	۴۳۴	په کافره او نابالغه ښځي غمرازى نشته	۴۴۷
په عدت کښي د دويم طلاق واقع کيدو حکم	۴۳۴	په کافره اونابالغي متوفى عنها زوجها....	۴۴۸
دطلاق مغلظ	۴۳۵	دعدت تيروید نه پس ازادى	۴۴۸
سعيد بن مسيب ته د يو قول نسبت	۴۳۵	د نکاح د پيغام طريقه:	۴۴۹
د دويم خاوند سره د نکاح شرعى طريقه	۴۳۶	د دخول نه وړاندي د طلاق واقع کيدل	۴۵۰
د تحليل جماع به شرعى طريقي سره وى	۴۳۶	د متعي په تعين کښي اقوال	۴۵۰
د تحليل په جماع کښي د انزال شرط ۹	۴۳۶	هري مطلقي ته څه ورکول پکار دى	۴۵۱
په حلاله کونکى باندي لعنت	۴۳۶	د مطلقي قبل الدخول دپاره د متعي حکم	۴۵۲
لعنى خلق	۴۳۶	دطلاق قبل الدخول نه پس نيم مهر:	۴۵۲
د يو طلاق نه پس عدت ختميدل او	۴۳۷	د مهر معاف کولو حکم	۴۵۳
په طلاق ورکولو کښي څه طريقه اختيار کړئ	۴۳۷	د معاف کونکى نه څوک مراد دي؟	۴۵۳
دالله په اياتونو پوري د توقو ممانعت	۴۳۷	معاف کول تقوى ته نزدي دى	۴۵۴
د دري څيزونو توقي هم حقيقت دي	۴۳۹	يوبل سره احسان مه هيروئ	۴۵۴
دالله د نعمت يادولو حکم	۴۳۹	د مونځ د حفاظت حکم	۴۵۴
د ولى نه بغير د نکاح کولو حکم	۴۴۰	د صلاة وسطى نه مراد	۴۵۵
ښځه بغير د ولى نه نکاح کولى شى	۴۴۰	د مازيگر مونځ باره کښي تاکيد	۴۵۵
د ايت شان نزول	۴۴۰	د ،،واو،، قراءت	۴۵۷
په شرعى احکامو کښي د مخلوق ښيګړه ده	۴۴۰	په مانځه کښي د عاجزئ حکم	۴۵۹
بچى ته د پئيو ورکولو موده	۴۴۲	د ويري په وخت کښي د صلاة الخوف حکم	۴۶۰
د رضاعت د مودي بيان	۴۴۲	دصلوة خوف بيان:	۴۶۰

Scanned with CamSc

د دوو کالو نه پس د رضاعت ثبوت	۴۴۳	د کونړو دپاره د یو کال عدت حکم	۴۶۲
د رضاعت د اجرت بیان:	۴۴۳	د یو کال د عدت منسوخیت	۴۶۲
ښځې او خاوند ته د ښه سلوک حکم	۴۴۳	طلاقو شوو ښځو ته د متاع ورکولو حکم	۴۶۳
په وارث باندې د رضاعت خرچه	۴۴۴	ژوند او مرګ دالله ﷻ په لاس کښې دې	۴۶۴
په رضامندئ سره د تی پرې کولوجواز	۴۴۴	دیو کلی د هلاکت واقعه	۴۶۴
د دائنړې نیولو اجازت	۴۴۴	مرګ په نیټه دې	۴۶۵
په جهاد کښې مرګ ضروری نه دې	۴۶۵	موسیٰ علیه السلام او د بنی اسرائیلو څه غریب او	۴۸۱
دالله په لار کښې د خرچ کولو حکم	۴۶۵	شفاعت به د الله ﷻ حکم سره وی:	۴۸۲
د ابو الدحداح مال صدقه کول	۴۶۶	د کرسئ باره کښې د مفسرینو موقف:	۴۸۲
د قرض حسنه نه مراد	۴۶۶	د کرسئ په حقله مختلف اقوال	۴۸۲
یو په دوه لاکهه اجر ملاویدل	۴۶۶	د کرسئ په حقله د علم هیئت د علماؤ.....	۴۸۲
د سورة اخلاص ثواب	۴۶۷	د متکلمینو د قول تردید	۴۸۲
رزق کمول او زیاتی کول	۴۶۷	د زمکې او اسمانونو حفاظت کونکې الله تعالی دې	۴۸۳
د یو پیغمبر واقعه	۴۶۸	اسلام قبلولو دپاره چا باندې جبر مه کوئ:	۴۸۴
د بنی اسرائیلو ګمراه کیدل او مغلوبه کیدل	۴۶۸	د دې ایت شان نزول:-	۴۸۴
د شمعون علیه السلام پیدائش	۴۶۸	د شان نزول باره کښې دویم روایت	۴۸۴
د بادشاه مقرر کولو مطالبه	۴۶۸	د عمر ﷺ خپل غلام سره عمل	۴۸۴
د بادشاه تقرری	۴۶۹	د عامو علماؤ خیال	۴۸۴
د بادشاهئ ورکړه د الله ده -	۴۷۰	دا ایت منسوخ دې	۴۸۴
دسکینه نه مراد	۴۷۰	د طاغوت مفهوم:	۴۸۵
د تابوت تفصیل	۴۷۰	د حضرت عمر ﷺ د طاغوت د معنې فائدې	۴۸۵
د نبوت او بادشاهت دلیل	۴۷۱	د(عروه وثقی) نه څه مراد دی؟	۴۸۵
د نهر نه د اوبو نه څکلو امتحان	۴۷۱	د عروة الوثقی د مفهوم په باره کښې یو	۴۸۵
د عالمانو نصیحت	۴۷۲	دمومنانو دوست الله ﷻ او د کافرانو	۴۸۷
د حضرت داود علیه السلام د لاسه د جالوت مرګ	۴۷۳	حق یو دې او د باطلو ډیر قسمونه دی	۴۸۷
د جهاد د فرضیت حکمت	۴۷۳	د ابراهیم علیه السلام او نمرود ترمینځه مناظره:	۴۸۸
د نیک انسان برکت	۴۷۴	د ابراهیم علیه السلام نه د الله تعالی په وجود د...	۴۸۸
د نبی د رسالت حقانیت	۴۷۵	د نمردو د جواب وضاحت	۴۸۸
دریمه پاره		د ابراهیم علیه السلام یو بل دلیل او د نمرود عاجزی	۷۸۸
د نبیانو علیهم السلام درجات	۴۷۵	د بعضې حکماؤ خیال:-	۴۸۹
د تعارض شبه:	۴۷۵	دا مناظره کله شوې وه؟	۴۸۹
دلائل د پاره د دفع د تعارض:	۴۷۵	دابراهیم علیه السلام معجزه:	۴۸۹
د مشرکانو د شفاعت د تصور تردید	۴۷۶	نمرود باندې د الله ﷻ عذاب	۴۸۹
د آیت الکرسی فضیلت	۴۷۷	د سلو کالو نه پس دوباره ژوندی کیدل:	۴۹۰

Scanned with CamScanner

ایت الکرسی د قران څلورمه حصه ده	۴۷۸	دا تیریدونکي څوک وو	۴۹۰
په نورو ایتونو د ایت الکرسئ بزرګی	۴۷۸	دا جواب ولي ورکړي شو	۴۹۱
ایت الکرسی د مال د حفاظت ذریعه ده	۴۷۹	دا توښه څه څیز وو؟:-	۴۹۱
ایت الکرسی د کور د حفاظت ذریعه:	۴۷۹	ابراهیم ﷺ او د حصي حصي شوو.....	۴۹۲
ایت الکرسی د نورو ایتونو سردار دي	۴۸۰	د الله تعالی په قدرت سره د مارغانو	۴۹۳
د اسم اعظم په ایت الکرسئ کښي کیدل	۴۸۰	د امید او طمع ایت:	۴۹۳
دجملوپه اعتبارسره د ایت الکرسئ تقسیم	۴۸۱	د صدقاتو اجر او ثواب:	۴۹۴
روژه زما د پاره ده:-	۴۹۵	د خرچ کولو ثواب	۵۱۰
د د الله په لار کښي د خرچ کولو فضیلت	۴۹۵	د دي ایت شان نزول	۵۱۰
د دي امت خاص فضیلت	۴۹۵	د شان نزول په حقله دویم روایت	۵۱۰
دهغه صدقي فضیلت چي په هغي کښي	۴۹۶	د سود خورو عبرتناك انجام	۵۱۱
د ښۀ خبري فضیلت:	۴۹۶	الله سره جنګ ته تیار شئ	۵۱۱
دري قسمه خلقو سره به الله خبري نۀ کوی	۴۹۷	د سود خورو حال احوال په حواله د شب معراج	۵۱۱
حسن عاقبت او خاتمه بالخیر:	۴۹۹	د ټولو کارونو حقیقت الله ته معلوم دي:-	۵۱۲
صدقه کښي پاك او طیب څیز ورکول:	۵۰۱	دسود حرمت او قسمونه	۵۱۳
د روزئ سره سره اخلاق هم تقسیم کړی دی	۵۰۱	سود خور سره د الله د رسول ﷺ د جنګ کولو اعلان	۵۱۳
د تکلیف نه مراد څه دی	۵۰۱	مخابره	۵۱۳
د دي ایت شان نزول:-	۵۰۱	مزابنه	۵۱۳
د صدقي په وخت کښي د شیطان وسوسه اچول	۵۰۲	محاقله	۵۱۳
یو د الله حکم دي او یو د شیطان حکم دي	۵۰۳	د حرامو او شکی څیزونو نه بچ کیدل	۵۱۳
د حکمت مفهوم	۵۰۳	د سود باره کښي د عمر ﷺ قول:-	۵۱۳
اصلی مهارت	۵۰۳	د سود ګناه،د سود اسباب او د سودی.....	۵۱۴
دلته د حکمت نه مراد نبوت دي:-	۵۰۳	حرامو لره د حلال ګرځولو ممانعت:	۵۱۴
ستاسو نذرونه او صدقي د الله ﷻ علم کښي دی	۵۰۴	د سود سره متعلق په هر یو څیز باندي د الله لعنت	۵۱۴
په پټه صدقه افضل دی خو نورو.....	۵۰۴	سودی کاروبار د خیر وبرکت نه خالی وی:	۵۱۵
اووۀ خوش قسمته کسان	۵۰۵	د ذخیره اندوزئ ممانعت:	۵۱۵
انسان دغرونو،اور،اواوبو نه هم زیات سخت دي	۵۰۵	د پاکي ګټي صدقه الله په خپل نبي لاس کښي اخلی	۵۱۶
د الله تعالی د غصي د ختمیدو سبب	۵۰۵	د یوي کهجوري صدقه د احد د غر برابر:-	۵۱۶
د دي ایت شان نزول	۵۰۵	د اصل مال د اخستلو او د سود د پریخودلو حکم	۵۱۸
د نفلی او فرضی صدقي په ورکړه کښي فرق	۵۰۵	د ایت شان نزول:-	۵۱۸
غیرمسلمه رشته دارو سره صله رحمی:	۵۰۷	سود خورړل الله ﷻ او رسول سره جنګ دي:	۵۱۸
د نبی کریم ﷺ د ایت نه وړاندي او.....	۵۰۷	د سود خور نه دي څټ پریکړي شی	۵۱۸
ستاسو نیکی ستاسو د خپل ځان د پاره ده	۵۰۷	صرف مال اخلئ:	۵۱۸
د نیت ښه والي	۵۰۷	غریب قرضداری ته مهلت ورکول:	۵۱۸

Scanned with CamScanner

په ښۀ نیت سره د صدقې ورکولو فائده	۵۰۷	قرض داری ته د وخت ورکولو فضیلت:-	۵۱۸
سپین ږیرې ضرورت مند د صدقې زیات مستحق دې	۵۰۸	د قتاده ﷺ عمل	۵۱۸
د مسکین پیژندګلو	۵۰۸	غریب قرض داری ته وخت ورکول جنت ته د تلو سبب دې	۵۱۹
مومن د خدائې په نور سره کتل کوی:-	۵۰۸	د عرش د سیورې د لاندې کیدو سبب او ذریعه	۵۱۹
اصل مسکین څوک دې	۵۰۹	د دعا د قبلیدو او د تکلیف د لرې کیدو سبب او ذریعه	۵۱۹
د سوال نۀ کولو فضیلت	۵۰۹	د عرش د سیورې لاندې کیدو په حقله یو بل حکایت	۵۱۹
یو اوقیه څومره وی	۵۰۹	غریب قرض داری سره نرمی کوونکې	۵۲۰
د ابوذر ﷺ عمل	۵۰۹	په مفلس رحم کول د ګناهونو د بښنې سبب	۵۲۰
شپه او ورځ په پته او ښکاره د الله ﷻ...	۵۱۰	د قران کریم د تولو نه وروستونې ایت:-	۵۲۰
د آدم ﷺ او داود ﷺ خونده وره واقعه:	۵۲۲	ګناه ګار ته د درې خبرو ضرورت دې	۵۳۵
د قرض او تجارت احکام:	۵۲۳	**سورة ال عمران**	۵۳۲
په کتاب او سنت کښې تعارض او تطبیق	۵۲۳	دریو آیتونو کښې اسم اعظم:	۵۳۲
د مظلومیت باوجود د سوال نۀ قبلیدل:-	۵۲۳	د فرقان نه مراد څه دی؟:-	۵۳۷
د قرض اخستلو او د ادا کولو عجیبه واقعه	۵۲۳	دمورپه خپټه کښې تصویر جوړونکی الله ﷻ دې	۵۳۷
لیکونکې دې د د لیکلو نه انکار نه کوی	۵۲۴	دمحکمات او متشابهاتو وضاحت:	۵۳۸
د چا سره مدد کول هم صدقه ده:-	۵۲۴	اهل بدعت هم د متشابهاتو نه استدلال کوی	۵۴۰
د علم په پټولو وعید:-	۵۲۵	دغلط تاویل او تحریف مذمت	۵۴۰
د دوؤ ښځو ګواهی د یو سړی برابر ده:-	۵۲۵	په متشابه کښې جګړه کوونکی خوارج دی	۵۴۱
د ګواهئ د پاره عدالت شرط دې:	۵۲۵	دا دنیا پرسته فرقه ده	۵۴۱
د یو خل ګواه جوړیدو نه پس ګواهی لازمی ده	۵۲۶	د نبی ﷺ د وینا رښتیا کیدل:-	۵۴۱
ښۀ او بد ګواه	۵۲۶	په کلمې د الله باندې وقف شته که نه	۵۴۱
خراب خلق:-	۵۲۶	تفسیر په څلور قسمه دې	۵۴۲
د معاملې لیکلو حکم استحبابی دې وجوبی نۀ دې	۵۲۶	زۀ په خپل امت د دریو خبرو نه ویریږم:-	۵۴۲
احتیاط په ګواه قائمولو کښې دې	۵۲۷	د قران یو ایت د بل ایت نه مخالف نه دې:-	۵۴۲
یو څیز ګانړه ایخودل او قرض اخستل	۵۲۸	په متشابه د ژور علم خاوند هم نه شی پوهیدې	۵۴۲
دشهادت پټولو والا ګناهګار دې:	۵۲۹	د متشابه د تاویل علم الله ته دې:-	۵۴۲
دزړه د وسوسو په محاسبې باندې د	۵۳۱	وقف نه کوونکې جماعت یعنی وصل کوونکی	۵۴۲
د دې نه د وروستنی ایت شان نزول:-	۵۳۱	د نبی ﷺ د عبدالله بن عباس ﷺ د پاره دعا	۵۴۲
د نفس په وسوسو او د زړۀ په خیالاتو باندې.....	۵۳۱	تاویل په قران پاک کښې په دوو معنو.....	۵۴۲
د نیکئ په ارادې کولو سره ثواب.....	۵۳۲	اوله معنی	۵۴۲
د یوې نیکئ ثواب د لسو نه تر اووه سوو پورې	۵۳۲	دویمه معنی د تاویل	۵۴۲
د ښکاره ایمان ښۀ:	۵۳۲	د پوخ علم خاوندان څوک دی	۵۴۲
د زړه په وسوسو نیول نشته	۵۳۲	د قران کریم په ایتونو کښې جګړه د هلاکت...	۵۴۲
الله تعالی د خپل بنده پرده پوشی کوی	۵۳۳	قران کریم کښې جګړې کول کفر دې	۵۴۲

Scanned with CamSc

په معمولی تکلیف د ګناه معاف کیدل	۵۳۳	د راسخ فی العلم نه څوک مراد دی؟	۵۴۴
د سورۀ بقره د آخری دوو آیتونو فضیلت	۵۳۳	د هر انسان زړۀ د الله تعالی د دوو ګوتو.....	۵۴۴
د عرش د لاندې د خزانې نه د دې آیتونو ورکړه	۵۳۳	د شپې د اوده کیدو په وخت کښې دعا	۵۴۴
دا دوه آیتونه په شب معراج کښې ملاو شوې دی	۵۳۳	دکافرو مال او اولاد به هیڅ پکار نه راورځی	۵۴۴
موونږ ته په خلقو باندې دري.....	۵۳۳	د جهنم خشاک	۵۴۶
زما یقین نه دې چې څوک په د دې	۵۳۴	جنګ بدر کښې د الله ﷻ قدرت او نصرت	۵۴۶
دا دوه آیتونه د زمکې او اسمان نه	۵۳۴	ددې آیت شان نزول	۵۴۷
نبی کریم ﷺ به د دې د تلاوت په وخت	۵۳۴	د دنیا مال واسباب عارضی او فانی دی	۵۴۷
تاسو ته دوه نورونه درکړې شو:-	۵۳۴	د سخو فتنه	۵۵۰
آسمانی کتابونه چې څومره نازل شوی ...	۵۳۴	د دې دنیا بهترینه فائده سخه ده	۵۵۰
زما د امت هیره معاف ده:-	۵۳۵	رسول الله ﷺ ته د ټولو نه زیاتې خوښې سخې وې	۵۵۰
محبت کوونکې او د زیات اولاد	۵۵۰	په نورو سخو د عائشې رضی الله عنها فضیلت	۵۷۴
قنطار څومره مقدار ته وئیلې شی	۵۵۰	د مریم عبادت او تابعداری	۵۷۴
د اسونو مینه لرل	۵۵۱	د قنوت په معنی کښې بحث	۵۷۴
د سحر په وخت کښې د استغفار وئیلو فضیلت	۵۵۲	خسنړې د زکریا ﷺ په نوم راوویتلو	۵۷۴
په اخر د شپه کښې د الله اسمان د دنیا ته راتګ	۵۵۳	د عیسی ﷺ معجزانه پیدائش	۵۷۵
د رسول الله ﷺ وتر و له اخرې حصې د شپې کښې کول	۵۵۳	د عیسی ﷺ لوئې لوئې معجزې	۵۷۸
په اخر د شپه کښې د بعضې صحابه کرامو	۵۵۳	د معجزو حکمت	۵۷۸
الله ﷻ ته صرف دین اسلام مقبول دی:	۵۵۴	د موسی ﷺ په زمانه کښې د جادو شهرت	۵۷۸
د علماء کرامو فضیلت	۵۵۴	د عیسی ﷺ زمانه د طب او د طبیبانو د	۵۷۸
د دې آیت په حقله د رسول الله ﷺ عمل مبارک	۵۵۵	عهدی نبوی د فصاحت او بلاغت په اعتبار.....	۵۷۸
د ،،ان،، د همزې کسره او فتحه کښې	۵۵۵	دعیسی ﷺ حواریان او د محمد ﷺ انصار:	۵۸۰
څوک چې د بې ایمانۍ په حالت کښې	۵۵۷	د انی متوفیک معنی	۵۸۲
نبی ﷺ د ټولو انسانانو د پاره رسول دی	۵۵۷	د عیسایانو مختلفې فرقې	۵۸۳
کلمه د شهادت د جهنم نه د خلاصی ذریعه ده	۵۵۷	په عیسائیت کښې تحریف کوونکې	۵۸۳
د یهودیانو وجه مذمت	۵۵۷	د ټولو انبیاء ﷺ حقیقی منونکی	۵۸۳
د یهودیانو او نصرا نیانو باطلې دعوې:	۵۵۹	په کافرانو باندې د دې امت غلبه	۵۸۴
عزت،ذلت د الله تعالی په اختیار کښې دی:	۵۶۰	د رسول الله ﷺ زیری	۵۸۴
کفارو سره دوستی نه کول	۵۶۱	عیسایانو ته دمباهلې دعوت او د هغوئ انکار	۵۸۵
الله ﷻ ته د ټولو پټو او ښکاره څیزونو پته ده	۵۶۳	شان نزول د دې آیتونو	۵۸۶
که الله ﷻ سره محبت کوئ نو د رسول ﷺ	۵۶۴	د نجران د عیسائی وفد تفصیل	۵۸۶
د سنتو مخالف کافر دی	۵۶۵	د عیسایانو د عیسی ﷺ د خدایئ دلیل	۵۸۷
دڅو لویو لویو نبیانو ﷺ ذکر	۵۶۵	د دوی د دلیل جواب	۵۸۷
منخته صرف د الله ﷻ د نوم ده:	۵۶۶	د عیسی ﷺ د الوهیت د قائلینو دلیل	۵۸۷

Scanned with CamSc

دبچی په پیدائش نوم ایخودل او عقیقه کول:	۵۷۷	د دویمې ډلې د دلیل جواب	۵۸۷
د پیدائش سره نوم ایخودلو په حقله د رسول	۵۷۷	په دریو کښې د دریم ګنړلو عقیدې دلیل	۵۸۷
شیطان د پیدائش په وخت کښې ماشوم	۵۷۸	د دریمې ډلې د عقیدې د دلیل جواب	۵۸۷
د مریم علیها السلام پرورش او دا.....	۵۷۹	شان نزول	۵۸۷
زکریا علیه السلام ته د سپارلو وجه	۵۷۹	د عیسائی وفد د مباهلې نه تیخته	۵۸۸
د زکریا علیه السلام او د مریم علیها السلام رشته	۵۷۹	ابو عبیده بن جراح رضی الله عنه د دې امت امین	۵۸۸
دحضرت مریم او نورو اولیاء کرامو کرامات:	۵۷۹	په دې خط د اسقف رد عمل	۵۸۹
فاطمه رضی الله عنها د بنی اسرائیلو د ښځو سرداره.....	۵۷۹	د بادشاه خپلو عوامو ته رجوع کول	۵۹۰
دحضرت زکریا دعا	۵۷۱	د دې وفد د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضریدل	۵۹۰
څه خبرې د یحیی علیه السلام په حقله	۵۷۱	د ټولو نه وړومبئ جزیه	۵۹۱
د یحیی علیه السلام په حقله د رسول الله ﷺ څو احادیث	۵۷۲	د مباهلې په صورت کښې د عذاب نازلیدل	۵۹۱
جنتی ښځې	۵۷۳	عیسایانو ته د توحید دعوت	۵۹۲
د دنیا په ښځو کښې د ټولو نه غوره ښځې	۵۷۳	دیهودو او نصرانیانو د بې علمئ په بنیاد جګړې	۵۹۵
زهٔ ستاسو د حصې نبی یم	۲۰۷	د ایت شان نزول	۵۹۵
که موسی علیه السلام په تاسو کښې ژوندې	۲۰۸	زما د زړهٔ دوست	۵۹۵
مقام محمود	۲۰۸	د دینار وجه د تسمیې	۵۹۷
د زمکې او اسمانونو هر څیز د الله ﷻ	۲۰۹	د عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه پوهتنه	۲۰۰
د الله تعالی تعجب	۲۱۰	دریې خوش بخته او دریې بد بخته سړی	۲۰۱
زمونږ د شریعت نه خلاف عمل مردود دې	۲۱۰	د ایت شان نزول	۲۰۲
د الله تعالی او د اعمالو مکالمه	۲۱۰	په کلام الله کښې تحریف	۲۰۳
که مرتد ربښتونې توبه اوباسی:	۲۱۱	د ایت شان نزول	۲۰۵
دنزع په حالت کښې توبه قبوله نه ده:	۲۱۲	هر نبی ته د خان نه پس په بل نبی باندې د	۲۰۷
د ایت شان نزول	۲۱۳	د الله ﷻ د هر نبی نه د رسول الله ﷺ په	۲۰۷
د الله تعالی جهنمی سره مکالمه	۲۱۳		

Scanned with CamScanner

تفسیر خیر کثیر

پشتو ترجمه

تفسیر ابن کثیر

مؤلف: حافظ عماد الدین اسماعیل بن عمر بن ابن کثیر الدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری

مترجمین: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، وعبد الکریم صدیقی وقاری امیر نواز

جلد نمبر ①

تسهیلات از شاه فیصل

① د قرآنی آیاتونو تکی په تکی او روانه ترجمه

② د احادیثو تخریج

③ د فقهی مسئلو کښې مسلک حنفی وضاحت

④ مناسب عنوانات ورکول

خوروونکی

فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

Scanned with CamS

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

مقدمه د مترجم

الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد العرب والعجم وأفضل المرسلين، وعلى آله وصحبه أجمعين.

د تفسير ابن كثير د ترجمې کولو سبب:- د کال دوه زره اووم کال خبره ده چه د پېښور اسلامی کتابونو یو دوکاندار راته اووئیل چه تفسیر ابن کثیر زمونږ دپاره پښتو ته ترجمه کړه ماورته غاړه کیخوده او خپلو مګرو ته مې د ترجمې دپاره حواله کړو تقریبا چې دوه پاړې اوشوې نو هغه دوکاندار راته د ترجمې نه کولو وینا اوکړه ما پرې شروع کړې وه د دې وجې خپلو ملګرو ته مې د پښتو ترجمې جاری ساتلو خبر ورکړو او د دې په دوران کښې نورځه تالیفی مشکلات راته پیښ شول د دې وجې دابن کثیر ترجمه ملګرو ختمه کړې وه او تصحیح ئې هم شوې وه خو ماته فرصت نه ملاویدو چه په دې باندې د خپل طرف نه د بعضې اضافاتو کار اوکړم آخر دا چه الله تعالی راته توفیق راکړو او د ملګرو ترجمې ته د ترتیب ورکولو ګار مې اوکړل او دغه شان د خپل طرف نه مې په کښې دا څیزونه اضافه کړل

① **هرټکی ته لاندې ترجمه:-** د تفسیر ابن کثیر په اردو او پښتو کښې هم ترجمې شوی دی خو د هغې ترجمه روانه ترجمه ده په تفسیر ابن کثیر کښې چې دوه یا درې یا زیات آیاتونه ذکر شوی وی او بیا د هغې تفسیر وی د اردو او پښتو په ترجمو کښې هم اول دغه آیاتونه ذکر شوی دی او بیا ورپسې لاندې د هغې ترجمه ذکر شوې ده د دې نه مجموعی طور دا معلومیږی چه دا د دغه پورتنو آیاتونو ترجمه ده خو دا پته نه لږی چې د کوم ټکی کومه ترجمه ده

په پښتو اواردو کښې بعضې داسې مترجم قران شریفونه چهاپ شوی دی چې هغې ته دوه ترجمی دی ټکی په ټکی او روانه یعنی بامحاوره ترجمه مسلمانانو رونړو دا قسمه ترجمې ډیرې خوښې کړی د دې وجې ما هم اراده اوکړه چه تفسیر ابن کثیر کښې د ترجمې دا طریقه اختیار کړم خو دومره ده چه بعضې ځایونو کښې د یوې جملې د ټکی په ټکی ترجمې او روانه ترجمې کښې به معمولی غوندې فرق وی کله چه داسې فرق په نظر راشی نو په دې باندې پوهه شئ چه دلته په دې جملې یا ټکی کښې دوه تفسیره شوی دی نو ځکه یو تفسیر په لفظی ترجمه کښې او بل تفسیر په روانه ترجمه کښې لیکلې شوې دې

② **د ،،قوله تعالی،،اضافه:-** په اولنو دوو جلدونو کښې کوشش شوې دې چه کله د یوې جملې یا دیو ټکی تفسیرشوی وی نو هلته د ،،قوله تعالی،، په عنوان سره د هغې شروع شوې ده د دې دپاره که یو کس په آیت کښې دخاص جملې تفسیر معلومول غواړی چې هغه ورته په آسانتیا سره ملاویږی د اردو اوپښتو په ترجمو کښې دا خصوصیت نشته که تاسو دیومخصوص ټکی یا آیت یا جملې تفسیرکتل غواړئ نوهله به درته ملاویږی چه د دغه آیاتونو ټول تفسیر باندې نظر واچوئ انشاءالله که الله توفیق راکړو نو په نورو جلدونو کښې به هم د دې اضافه اوکړم.

③ **د عنواناتو اضافه:-** په اولنودوو جلدونو کښې کوشش شوې دې چه هرې خبرې ته مناسب عنوان ورکړې شوې دې ځکه چه په عنوان کتلو سره کتونکی ته په اول نظر معلومیږی چه په لاندینی عبارت کښې څه لیکلی شوی دی او په کومه موضوع بحث کیږی

④ **د اياتونو تخريج:-** په اکثرو ځایونو کښې چه په تفسیرکښې کوم آیاتونه ذکرشوی دی د هغې تخریج شوې دې چه دا دفلانی سورت آیت دې

Scanned with CamScanner

⑥ **د احادیثو تخریج**:-کوم احادیث چه په تفسیر کښې ذکر شوی دی نو په هغې کښې د اکثرو احادیثو تخریج شوې دې چه داحدیث فلانی کتاب ذکر کړې دې اوپه څه احادیثو باندې د صحت حکم هم لګولې شوې دې چه داحدیث صحیح دې یا حسن دې وغیره البته په کومو احادیثوچې د صحت حکم نه وی لګیدلې نود هغې په سند کښې به کلام وی

⑦ **د مسلک حنفی بیان**:- هغه ځایونه په کوم کښې چه فقهی مسائل دی او حافظ ابن کثیر په کښې د نورو امامانو مذهب ذکر کړې وی نو په داسې ځایونو کښې ما د فقه حنفی د کتابونو نه د هغې مسئلې وضاحت کړې دې چه د حنفیانو په دې مسئله کښې دا مسلک دې دغه شان که حافظ رحمه الله امام ابو حنیفه رحمه الله ته د یوې مسئلې نسبت کړې وی نو ما د هغې تصویب کړې دې که واقعی د امام ابوحنیفه رحمه الله مسلک هم هغه شان وی کوم چې حافظ رحمه الله نقل کړې وی اوکه د هغې خلاف وی نو بیا ما د هغې وضاحت کړې دې چه د امام ابوحنیفه رحمه الله مسلک په دې مسئله کښې دادې هغه نه دې کوم چې ورته حافظ رحمه الله منسوب کړې دې اوکه په یو ځائې کښې حافظ صاحب په امام ابوحنیفه رحمه الله باندې اعتراض کړې وی نو بیا هلته ما ضرور هغه دلیل ذکر کړې دې د کوم په وجه چې امام ابوحنیفه رحمه الله دغه قول اختیار کړې وی

⑧ **دترجمې تقسیم**:- په دې تفسیر کښې د اولنو شپږو پارواوداغه شان په اخری پارو کښې د پنځویشتمې نه تراوویشتمې پارې پورې ترجمه قاری امیرنواز صاحب کړې ده خو په دې باندې بیا ما نظرثانی کړې دې اودباقی پارو ترجمه عبدالکریم صدیقی کړې ده دې دواړو حضراتو د نورو ډیروکتابونوترجمې هم کړی دی الله دې ورته مزید توفیق ورکړی

⑨ **د شاه فیصل خدمت**:- البته په تفسیر کښې داکارونه احقرشاه فیصل پخپله کړی دی ټکی په ټکی ترجمه ،روانه ترجمه،عنوانات ورکول د مسلک حنفی وضاحت اود کتاب سیټنګ کول

⑩ **دپښتوترجمې نوم**:-ددې کتاب اصلی نوم کوم چې ورته مفسر رحمه الله کیخودې دې هغه «تفسیرالقران العظیم» دې خوپه تفسیرابن کثیر سره مشهور شوې دې ما په پښتو کښې د دې نوم کیخودو ،،تفسیر خیرکثیر،،دا نوم مې ولې بدل کړو په دې کښې ډیرمقاصد دی د هغې ذکر کول زه دلته څه ضروری نه ګڼرم الله دې ورته قبولیت ورکړی اوزمونږ د ټولو ملګرو د دنیا او آخرت د کامیابئ ذریعه دې اوګرځوی امین

شکریه:-په آخره کښې زه د خپلو ملګرویعنی دواړه مترجمینو نه علاوه د مولانا جواد صاحب شکریه ادا کوم چې دوی ما سره د کتاب په تکمیل کښې ښه پوره کار کړې دې که د دوی مرسته نه وی نود دې کتاب په چهاپ کیدو کښې به نوره موده هم لګیده

الحمد لله چه نن د خالی په ورځ په یکم تاریخ د جولائی د میاشتې موافق د دیرشم رجب کال څوارلس سوه دوه دیرشتمه هجری د تفسیر ابن کثیر پښتو ترجمه تفسیرخیرکثیر سر ته اورسیدو الله دې دا سعی په خپل دربار کښې قبوله کړی اود دارینو د کامیابئ ذریعه دې اوګرځوی

احقر شاه فیصل غفرله

Scanned with CamS

د امام حافظ عمادالدین ابن کثیر رحمه الله دژوندحالات

نوم او نسب :- نوم ئې اسماعیل ، کنیت ئې ابوالفداء،لقب ئې عمادالدین او مشهور په ابن کثیر دی.
سلسله نسب :- اسماعیل بن عمر بن کثیر بن ضوء بن ذرع القیسی البصروی ثم الدمشقی (دحافظ ابوالمحاسن لاندې دا الفاظ ذال سره چاپ شوی دی.اوشذرات الذهب کښې "ز" سره).(دحافظ ابن حجر په ،دررکامنه` کښې اودحافظ سیوطی هم په ،الفیسی،، کښې ذکر دی ، لیکن د حافظ ابن فهد لاندې په سلسه د وفیات چه په کوم ځائې کښې د ابن کثیر د دواړوځامنو زین الدین رحمه الله او بدرالدین محمد رحمه الله د وفات ذکر راغلې دې ، په دواړو خایونوکښې القرشی لیکلې شوې دې اود نواب صدیق حسن خان په ابجدالعلوم کښې او دمحمد بن عبدالرزاق حمزه په مقدمه کښې هم دا لیکلې شوې دی) البصروی ثم الدمشقی.ددوی تعلق یو عزت مندې او علمی کورنئ سره وو.ددوی پلار شیخ ابوحفص شهاب الدین عمردخپل کلی خطیب وو اود دوی مشر رور شیخ عبدالوهاب یو ممتاز عالم دین او فقیه وو.

ولادت:- (دحافظ سیوطی رحمه الله په تذکرة الحفاظ کښې او علامه ابن العماد په شذرات الذهب کښې ددوئ د پیدائش کال ۷۰۰ لیکلې دې او حافظ ابو المحاسن حسینی په تذکرة الحفاظ کښې او قاضی شوکانی رحمه الله په البدر الطالع کښې ۷۰۱ هجری کال کښې وئیلې دې ،اوحافظ ابن حجر په الدررالکامنه کښې ۷۰۰ یا ددې نه څه پس بیان کړې دې . اوحافظ ذهبی رحمه الله د تذکرة الحفاظ په خاتمه کښې لیکی چه دوئ ۷۰۰ هجری نه پس یا هم په دې کال کښې پیدا شو). په ۷۰۰ کښې یا ۷۰۱ هجرئ کښې د مجدل په مقام کښې ئې پیدائش اوشو چه دا د شام په مشهور بناردبصرې په خواوشا کښې یو کلې دې.په هغه وخت کښې ددوی پلار په دې ځائې کښې خطیب وو. دوی لا د درېو څلوروکالو په عمر کښې وو چه ددوی پلار په ۷۰۳ هجرئ کښې وفات شو. او ډیر په کم عمر کښې دوی یتیم شو ،

تعلیم :-دپلار دا سیورئی چه د سر نه اوچت شو نو خپل مشر رور دوی په خپل تربیت کښې واخستلو. دپلارد وفات نه دری کاله پس یعنی ۷۰۶ هجرئ کښې دوی د خپل محترم رور سره دمشق ته لاړل او بیا هم په دې ځائې کښې ددوی پرورش اوشو. په شروع کښې ئې د خپل رور نه دفقه تعلیم حاصل کړو اود دې نه پس ئې د شیخ برهان الدین ابراهیم بن عبدالرحمان فزاری رحمه الله (المعروف بابن فرکاح شارح تنبیه المتوفی ۷۲۹ هجری) اوشیخ کمال الدین بن قاضی شهبه نه دذې فن تکمیل اوکړو.

د فقه تحصیل:- پدې زمانه کښې دا رواج وو چه طالب علم به کوم یو فن حاصلولو نوددې فن څه مختصر کتاب به ئې زبانی یادولو نودوی هم په فقه کښې ،،التنبیه فی فروع الشافعیه ،،(مصنف شیخ ابواسحاق شیرازی المتوفی ۴۷۶ هجرئ) کښې حفظ کړو او په ۷۱۸ هجرئی کښې واورولو او په اصول فقه کښې ئې علامه ابن حاجب مالکی (المتوفی ۶۴۶ هجری) ئې مختصر یاد کړو. د اصولو کتابونه ئې د علامه شمس الدین محمود بن عبدالرحمان اصفهانی شارح مختصر ابن حاجب (المتوفی ۷۴۹ هجری) نه اووئیل.

د حدیثو تکمیل:-دفن حدیث تکمیل ئې ددې زمانې دمشهورو استاذانو نه اووئیلو.علامه سیوطی رحمه الله په تذکرة الحفاظ کښې لیکی :

د حجار نه علم حاصلول:- **(سمع الحجاروالطبقة)** حجار(ددې زمانې لوئې مشهور محدث تیر شوې دې)" مسند الدنیا "(دنیا ته وئیلو والا) او " رحلة الافاق "(چه چا طرف ته آفاق سفر اوکړی هغه ورته وئیلې شی)،دهغوی درس ټوله دنیا کښې مشهور وو.د لرې لرې نه خلقو دوی طرف ته سفر کولو او راتلل او

Scanned with CamSc

ددوی نه به ني د حدیث سند اخستلو او واپس کیدل به ،دهغوی کنیت ابوالعباس او لقب ني شهاب الدین او نوم ني احمد وو او ابن الشحنه ني عرف دي. سلسله نسب ني داده ، احمد بن ابی طالب بن ابی النعم نعمة بن حسن بن علی بن بیان الدیر مقرنی ثم الصالحی حنفی المذهب وو ، حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله په الدررالکامنه کښې اوحافظ شمس الدین ابن طولون (الغرض العلیه فی ذیل الجواهر المضیه کښې) ددوی ډیر تفصیل ذکرکړې دي.

استاذات او مرویات:-ددوی شیوخ او مرویات ډیر زیات دی ،حافظ ابن حجر رحمه الله لیکلی دی چه د دوی زیات عمر وو چه د نیکه نه واخله تر نمسو پورې ته دوئ درس ورکړو. په دمشق وغیره کښې ني داویا خلو نه زیات صرف د بخاری درس ورکړو او خپل هغه اعزاز واکرام ني اوخودلو چه ددې نه زیات نشو کیدلې. حفاظوبه ددوی نه حدیثونه آوریدل او د لرې لرې نه به ني سفرونه کول اوراتلل به او سبق ني حاصلولو.دوفات نه یوورځ مخکښې محب الدین بن المحب ددوی نه بخاری شریف شروع کړه او تر دوئمې ورځې ماسپښین پورې درس جاری وو. د ماسپښین وخت ته نزدې په ۲۵ صفر ۷۳۰ هجرنی کښې د دوی وفات اوشو او ددې طبقې عالمانو نه دوی د حدیث سماع اوکړه . دحجاز هغه عالمان چه دهغوی نه دوی علم حدیث حاصل کړو اوچه دهغوی ذکر په خصوصیت سره ددوی په تذکره کښې عالمانوکړې دي دهغوی نومونه دادی.① عیسی بن المطعم ② بهاوالدین قاسم بن عساکر المتوفی ۷۲۳ هجری.③عفیف الدین اسحاق بن یحیی الامدی المتوفی ۷۲۵ هجری ④ محمد بن زراد ⑤ بدر الدین محمد بن ابراهیم معروف بابن سویدی المتوفی ۷۱۱ هجری ⑥ابن الرضی⑦ حافظ مزی⑧ حافظ ابن تیمیه ⑨حافظ ذهبی رحمه الله ⑩ عمادالدین محمد بن الشیرازی المتوفی ۷۴۹ هجری.

دحافظ مزی نه استفاده:-لیکن په دې ټولو حضراتوکښې چه دوی ته دچا نه زیاته فائده ملاؤ شوه هغه محدث شام حافظ جمال الدین یوسف بن عبد الرحمان مزی شافعی (مصنف تهذیب الکمال المتوفی ۷۴۲ هجری)دې.حافظ مزی دخاص تعلیم په وجه دخپلې لور نکاح دوی سره کړې وه ،دې رشتې سره دا تعلق نور هم زیات ښکلې شو . دې نیك بخته شاگرد دخپل محترم استاد د شفقت نه پوره پوره فائده اوچته کړه،ډیر وخته پورې ددوی په خدمت کښې حاضر وو. اودهغوی نه ني دهغوی اکثر تصانیف واوریدل چه په هغې کښې تهذیب الکمال هم داخل دې اوددې فن پوره پوره تکمیل ني ددوی په خدمت کښې اوکړو. سیوطی رحمه الله لیکی چه (وتخرج بالمزي ولازمه وبرع) ، داشان حافظ ابن تیمیه (المتوفی ۷۲۸ هجری) نه هم دوی ډیر علم زده کړې وو او ډیر وخته پورې ددوی په خدمت کښې حاضر وو.

حافظ ابن حجر لیکلی دی چه مصر نه دوئ ته دبوسی رحمه الله ، وانی رحمه الله او ختنی رحمه الله وغیره دحدیث اجازت ورکړې وو. غالبًا حافظ امین الدین محمد بن ابراهیم وانی حنفی المتوفی ۷۳۵ هجری مراد دې . حافظ سیوطی رحمه الله په تذکرة الحفاظ کښې ددې ترجمه لیکلې ده اودوی ني په حفاظ حدیث کښې شمیرلې دي. حافظ عبدالقادر قرشی هم په حدیث کښې د هغوی شاگرد دي. هغوی په طبقات الحنفیه کښې دهغوی ذکر کړې دي. او دوی ني د الامام المحدث به القابو سره یاد کړېدي اوختنی (دا د مصر مشهور محدث بدرالدین یوسف بن عمر حنفی دی) " مسند البلاد المصریه " وانی. په علوم اسناد کښې ورته یو ځانله مقام حاصل وو. په ۷۳۱ هجرنی کښې د خلور اتیا کالوپه عمر کښې ني وفات اوشو. امام تقی الدین سبکی احمد دمیاطی اوحافظ عبدالقادر قرشی په فن حدیث کښې د دوی استاد دي ، حافظ قرشی په الجواهر المضیه کښې ددوی تذکره لیکلې ده .

د علم مقام:- امام ابن کثیر دعلم حدیث نه علاوه فقه ،تفسیر ، تاریخ او عربیت کښې هم دوی ته کمال حاصل وو. علامه ابن العماد حنبلی د ابن حبیب نه نقل کوی چه (انتهت الیه ریاسة العلم فی التاریخ والحدیث

Scanned with CamSc

والتفسیر) ،په دوی باندې تاریخ ، حدیث اوتفسیر کښې ریاست علمی ختم شو.اومشهور مؤرخ علامه ابو العباس جمال الدین وسف سیف الدین حنفی المنهل الصافی والمستوفی بعد الوافی کښې لیکی (وکان له اطلاع عظیم فی الحدیث والتفسیر والفقه والعربیة) حدیث ، تفسیر ،فقه او عربیت کښې دوی ته ډیر لوړې معلومات وو. اوحافظ ابو المحاسن حسینی فرمائی چه (وبرع فی الفقه والتفسیر والنحو وامعن النظر فی الرجال والعلل) فقه،تفسیر اونحو کښې ماهر وو ،او په رجال اوعلل حدیث کښې ئې ډیر ژور نظر پیدا کړې وو.

په علم حدیث کښې مهارت:- خاص طور سره په علم حدیث کښې د هغوی دا خبره ده چه په حفاظ حدیث کښې د دوی شمار کیږی . حافظ المحیسنی او علامه سیوطی رحمه الله د تذکرة الحفاظ لاندې په دې کښې دهغوی تذکره لیکلې ده او په خپله امام ذهبی رحمه الله د تذکرة الحفاظ په خاتمه کښې دخپلو ممتازو شیوخو اود خپلود درس د ملګرو تعارف کړې دې نو د هغوی ذکر ئې هم ورسره کړې دې .

شعراوشاعری:-شعراو شاعرئی سره ئې هم شوق وو. خو د دوی نظم به دمتوسطې درجې وو. دکلام نمونه ئې داده :

تمر بنا الایام تتری وانما نساق الی الاجال والعین تنظر

فلاعائد ذاك الشباب الذی مضی ولا زائل هذا المشیب المکدر

یعنی تیریږی مونږ باندې ورځې شپې او بیشکه زمونږ سترګې مرګ طرف ته په برندو دی ،نونه خو او تیره شوې خوانی واپس راتلې شی او نه دادبیمارو نه ډك بوډا والی ختمیدې شی.

په دوئمه مصرعه کښې (ذاك الشباب) په خائې (صفوة الشباب) وې نو ډیر بلیغ به وې.

د حافظ عراقی خراج تحسین:- حافظ زین الدین عراقی (المتوفی ۸۰۶ هجری) نه چا تپوس اوکړو چه (مغلطائی (چه دې یومشهور حفاظ حدیث نه دی حنفی وو ،حافظ ابن فهد رحمه الله او حافظ سیوطی رحمه الله په خپلوخپلو کتابونوکښې ددوی تذکره لیکلې ده په ۷۶۲ هجرئی کښې وفات شو) ابن کثیر ابن رافع اوحسینی په دې څلورووارو کښې دټولو نه لوئې مقام دچا وو؟.حافظ عراقی جواب ورکړو چه په دوی کښې د ټولونه زیات ترمعلوماتو والا او د انساب عالم خو مغلطائی دی او د ټولو نه زیات دمتونو او تاریخ حافظ ابن کثیر رحمه الله دې او دټولونه زیات دحدیث په طلب کښې ایساریدو والا او مولف او مختلف عالم ابن رافع دې او دټولو نه زیات د شیوخ معاصرین نه خبرلرونکې او د تخریج نه واقف حسینی دې

دحافظ ذهبی رحمه الله خراج تحسین:-اوحافظ ذهبی رحمه الله په المعجم المختص کښې دابن کثیرذکر په دې الفاظ سره شروع کړې دې (الامام المفتی المحدث البارع فقیه متقن ومحدث متفنن مفسر) اودتذکرة الحفاظ په خاتمه کښې ئې په دې القابو سره یادوی (الفقیه المفتی المحدث ذي الفضائل) او ددې نه پس لیکی (وله عنایة بالرجال والمتون والفقه خرج وناظر وصنف وفسر وتقدم) دوی ته په رجال متون حدیث او فقه کښې اغتناء حاصله ده. دوی داحادیثو تخریج اوکړو ،مناظرې ئې اوکړې،تصنیف ئې اوکړو ،تفسیرئې اولیکلواوپه وړاندې لاړل

د نورو عالمانو خراج تحسین:- ① اوحافظ حسینی رحمه الله ددوی باره کښې دا الفاظ لیکی (الشیخ الامام العالم الحافظ المفید البارع) ② اوحافظ سیوطی رحمه الله فرمائی چه (الامام المحدث ذوالفضائل) ③ اوعلامه ابن العماد لیکی (الحافظ الکبیر) ④ اوحافظ ابن حجی المتوفی ۸۱۶ هجری چه ددوی مشهور شاګرد دې ، دا رائې ظاهروی (احفظ من ادرکناه لمتون الاحادیث واعرفهم بجرحها ورجالها وصحیحها وسقیمها وکان اقرانه وشیوخه یعترفون له بذالك وما اعرف انی اجتمعت به علی کثرة تردي الیه الا واستفدت منه) مونږ چه کوم خلق اولیدل په دې ټولو کښې د متون حدیث دټولونه لوئې حافظ اوجرح او رجال اودصحیح او دضعیف دټولونه ښه پیژندونکی وو، او په دې باره کښې ددوی هم عصر او ددوئ شیوخ هم اعتراف کوی ، او ماته یاد نه دی چه څه کله هم ددوی په خدمت کښې حاضر شوې یم اوما ددوی نه څه استفاده نه وی کړی ⑤ اوحافظ ابن ناصر الدین

Scanned with CamScanner

الدمشقی په، الرد الوافر، کښې ددوی ذکر په داسې طریقه شروع کوی ، ﴿الشیخ الامام العلامة الحافظ عماد الدین ثقة المحدثین عمدة المورخین علم المفسرین﴾

د حافظ عسقلانی رحمه الله تنقید:- اوحافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله (چه ددوی متعلق صاحب د کشف الظنون لیکلی دی چه ددوی قلم د خلقو باره کښې خراب وو او ژبه ئې ښه وه ، کاش چه دا معامله التهٔ وې چه ددې ښه والې باقی وې ، اصل عبارت دادې چه ﴿کان قلم ابن حجر رحمه الله سیئا فی مثالب الناس ولسانه حسنا ولیته عکس لیبقی الحسن الجواهر والدرر﴾، دوی هم د ابن کثیر متعلق دومره تسلیموی چه ﴿واشتغل بالحدیث مطالعة فی متونه ورجاله﴾. دحدیث د متون اورجال په باره کښې مشغول وو خوبیاهم دخپل عادت مطابق لیکلی دی چه ﴿ولم یکن علی طریق المحدثین فی تحصیل العوالی وتمیز العالی من النازل ونحو ذالك من فنونهم وانما هو من محدث الفقهاء﴾، دې د عالی اسانیدو په تحصیل اود عالی اونازل په تمیز او دا قسمه نور فنونو کښې دمحدیثنو په شان نه وو او دا دمحدثینو خاص فنون دی بلکه دوی خو د فقهاء کرامو محدث وو.

د حافظ جلال الدین رحمه الله جواب:-خو حافظ سیوطی رحمه الله ددې یوښه جواب لیکلې دې هغوی فرمانی چه ﴿قلت فی علم الحدیث معرفة صحیح الحدیث وسقیمه وعلله واختلاف طرقه ورجاله جرحا وتعدیلا واما العالی والنازل ونحو ذالك فهو من الفضلة لا من الاصول المهمة﴾ څه وایم چه اصلی څیز په علم حدیث کښې د صحیح اوضعیف پیژندگلو او علل او داختلاف طرق علم او درجال جرح وتعدیل نه واقفیت دې. پاتې شو عالی (چه په کوم سند کښې وسائط کم وی هغه عالی دې چه په کوم کښې زیات وی هغه نازل دې ،دا شان نور څیزونه نودا د زیاتو څیزونو ځنی دی چې د اصول مهمه. د فقهاؤ اصل کاردمسائلو استنباط وویه دې وجه ددوی نظر زیات تر متن حدیث باندې وی اوهغوی دا ګوری چه ددې مسئلې نه څه راووتل. دسند نه دوی ته صرف دومره بحث وی چه په دې کښې د دومره خلقو نومونه اخستې شی نو هم هغه معتبر او قابل قبول پاتې شو.باقی دا خبره چه په دې باره کښې زیات دی یا کم دا څیز دهغوی په نظر کښې ډیر اهم نه دې،خو ارباب روایت کښې ددوی ډیر زیات اهمیت دې چه ددوی په نیز صرف په یو واسطه دکمولو دپاره هم سفر ښه دې) اونازل وغیره نودا په زوانډوکښې داخل دی په اصول مهمه کښې نه ،

د علامه کوثری جواب:- اوعلامه محدث زاهد الکوثری لیکی چه حافظ ابن کثیر رحمه الله باندې دمتون حدیث حفظ کولو زیاته غلبه وه لیکن دهغوی حیثیت دومره پریوتې هم نه وو چه هغوی دطبقات رواة اوددوی داحوالو د معرفت په اعتبار سره عالی اونازل کښې هم فرق نشو کولې بلکه دا خبره خو په داسې سړی هم پټه نه شی پاتې کیدې چه په علم رجال کښې ئې ددوی نه ډیره زیاته کمه درجه وی . او دا څنګه کیدې شو چه ترکومې پورې هغه دیو اوږدې مودې پورې دمزی رحمه الله په خدمت کښې حاضر وو او د ،التکمیل، په جمع کولوکښې اخته وو، اودحافظ ابن حجر رحمه الله پتې خبرې هم ددې خلقو په مینځ کښې ښکاره شی چه په فضل اوکمال کښې مشهور دی.

د حافظ رحمه الله قوت حافظه:- مورخینو دحافظ ابن کثیر رحمه الله دحافظې او پوهې خاص طور سره تعریف کړې دی،ابن العماد لیکی چه ﴿کان کثیر الاستحضار قلیل النسیان جید الفهم﴾ چه ابن کثیر رحمه الله یادولو والا ، لږ هیرولووالا او ډیر زیات پوهه وو.

درس و افتاء ،دالله ﷻ ذکر :- دحافظ ابن کثیر رحمه الله ټول عمر په درس او افتاء اوتصنیف اوتالیف کښې تیر شوې وو.دحافظ ذهبی رحمه الله دوفات نه پس دوی په مدرسه ام صالح او مدرسه تنکزیه (چه په هغه زمانه کښې دټولونه مشهوری مدرسې وې) کښې د شیخ الحدیث په ګدئی ناست وو. د ذکر سره ئې ډیر زیات شغل وو ابن حبیب رحمه الله ددوی متعلق لیکلی دی چه ﴿امام ذي التسبیح والتهلیل﴾ ،

ښکلی مزاج:-ددوی طبیعت ډیر زیات نرم او ښکلې وو او خوش طبع وو. حافظ ابن حجر رحمه الله ددوی صفتونو کښې د ﴿حسن الفاکهة﴾ الفاظ استعمال کړی دی یعنی ډیر لطف مزاج وو.

Scanned with CamScanner

غالبا داقسمه واقعه داهم ده .کله چې حافظ زین الدین عراقی د شیخ الاسلام تقی الدین سبکی درس کښې حاضر شو نوشیخ الاسلام خپل درس کښې ددۀ ډیر په عظمت سره ذکر اوکړو اوډیرو لویو لویو عالمانو سره ئې ددۀ پیژندګلو اوکړه. او ددوئ د معرفت او اتقان ئې ډیر تعریف اوکړو.او دا (حافظ زین الدین عراقی) په فن حدیث کښې د امام حافظ علاء الدین ابن الترکمانی حنفی او مصنف الجوهر النقی فی الرد علی البیهقی خاص شاګرد وو. حافظ ابن کثیر رحمه الله اوفرمائیل چې ماته په ډۀ باندې دومره بهروسه هم نه شته چې دې به هغه حدیث راوباسی چې کوم د ماء مشمس باره کښې ابن عباس رضی الله عنه نقل دې .(ماء مشمس هغه اوبه دی چې کومې نمر ګرمې شوې وی)

علامه ابن تیمیه رحمه الله سره خصوصی تعلق :- په آخر کښې دا ښکاره کول ضروری دی چه دحافظ ابن کثیر رحمه الله دخپل استاد علامه ابن تیمیه سره خاص تعلق وو. د هغوی ددوی علمی ژوند باندې ډیر ژور نظر وو اوهم ددې نتیجه وه چه دوی په بعضو هغه مسائلو کښې دابن تیمیه رحمه الله نه متاثره وو. په کومو کښې چې هغه دجمهورو سلفونه خانله وو.

تیمیه قاضی شهبه په خپل طبقات کښې لیکی چه ﴿کانت له خصوصیة بابن تیمیة ومناضلة عنه واتباعه له فی کثیر من ارائه وکان یفتی برایه فی مسئلة الطلاق وامتحن بسبب ذالك واوذي﴾ ددوی دابن تیمیه سره خاص تعلق وو او ددوی د طرف نه به ئې جګړه کوله او ډیرو رائیو کښې به ئې دهغوی اتباع کوله. د طلاق په مسئله کښې (شیخ د ابن تیمیه رحمه الله رائې کښې اګر چه درې طلاقه په یو وخت کښې ورکړې شی نو هغه به یوشمارلې کیږی) هم دهغوی په رائې باندې فتوی ورکوله چه ددې په وجه په آزمیښت کښې پریوتلو او تکلیف ورته اورسیدو.

وفات :- په آخری عمرکښې ئې نظر لاړو او د زیارت په ورځ دشعبان په شپږیشتم تاریخ ۷۷۴ هجرنی کښې وفات شو او په مقبره صوفیه کښې دخپل محبوب استاد شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په خوا کښې ښاوروته اوسپارلې شو.ددوی یو شاګرد ددوی په وفات باندې ډیره دردناکه مرثیه لیکلې ده چه د هغې دوه اشعار دادی :

لفقدك طلاب العلوم تأسفوا وجادوابدمع لایبید غزیر
ولومزجواماء الدامع بالدماء لکان قلیلا فیك یاابن کثیر

یعنی دعلوم طالبان ددوی په وفات ډیر زیات افسوس مند شو. او دومره ئې ژړل چه بالکل نه په قلاریدل اوکه هغوی داوښکو سره وینې هم شاملې کړی نوبیابه هم ائې ابن کثیر رحمه الله ستاسو دپاره لږې دی.

پسمانده ګان :- پسمانده ګانوکښې دوه ځامن چه ډیر مشهور دی او زین الدین عبدالرحمن چه هغوی په ۷۹۲ هجرنی کښې وفات شوې دې او بل بدر الدین ابوالبقاء محمد رحمه الله ډیر لوئې محدث تیر شوې دې،هغوی په ۸۰۴ هجرنی کښې په رمله کښې وفات شو ددې دواړو) ذکر حافظ ابن فهد په سلسله وفیات کښې کړې دې .

د دوی تصنیفاتو د علماؤ داد :- دوی تفسیر ، حدیث ، سیرت اوتاریخ کښې ډیر ستر مقام والا تصانیف پریښودې دي. دا ددوی د اخلاص بدله او ددوی دنیت برکت وو چه دالله ﷻ د بارګانه دوی ته قبول عام اوشهرت ملاؤ شو.مورخینو ددوی دتصانیفو د افادیت او اوددوی دقبولیت ذکر خاص طورسره کړې دی.① ذهبی رحمه الله فرمائی چه﴿وله تصانیفه مفیدة﴾ ②.ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ﴿سندسادت تصانیفه فی البلاد فی حیاته وانتفع الناس بها بعد وفاته﴾ ددوی په ژوند کښې ددوی تصانیف ښاربنار ته اورسیدل او ددوی د وفات نه پس خلق ددې نه مستفید کیدل ③ او شوکانی رحمه الله لیکی چه﴿وقد انتفع الناس بتصانیفه لاسیما التفسیر﴾ خلقو ددوی دتصانیفو اوخاص کر دتفسیر نه ښه فائده پورته کړه.ددوی د کومو تصانیفو چه مونږ ته اطلاع ملاؤ شوه هغه لاندې ذکر کولې شی.

Scanned with CamSc

[۱] **تفسیر القرآن الکریم**:- ①ددې متعلق حافظ سیوطی رحمه الله تصریح فرمانی چه ﴿المؤلف علی نمطه مثله﴾ په دې طرز باندې نورتفسیرونه نه دی لیکلې شوی ②او محدث کوثری رحمه الله فرمانی چه ﴿هومن افیدکتب التفسیربالروایة﴾داتفسیر په بالروایت کښې دټولونه زیات مفیدکتاب دې③د تفسیر قرآن الکریم په خصوصیت کښې قاضی شوکانی رحمه الله لیکی:﴿وقد جمع فیه فأوعی ونقل المذاهب والاخبار والاثار وتکلم بأحسن الکلام وانفسه﴾په دې کښې ئې جمع کړې ده او ښه ئې محفوظ کړې دې ، مذاهب ئې نقل کړی دی او احادیث ئې لیکلی دی،آثار ئې درج کړی دی او ښه ښکلې اوډیر مزیدار کلام ئې کړې دې،مصنف په دې کتاب کښې دټولو نه مخکښې دتفسیر القرآن باالقرآن اصولوباندې یو آیت تفسیر هم په دې مضمون د بل آیت په رنړا کښې کړې دې ، بیا دمحدیثنودمشهورو کتابونو نه په دې باره کښې چه کوم احادیث روایت شوی دی هغه ئې نقل کړی دی او ددې په اسانید او رجال اوسیر باندې ئې ښه بحث کړې دې او دې نه پس آثارصحابه رضوان الله علیهم اجمعین اوتابعین ورباندې کوی.دحافظ ابن کثیر رحمه الله دا د ټولونه لویه علمی کارنامه ده چه هغوی د تاریخ او تفسیر نه اسرائلیات چانړ کړې اوبیل کړی ئې دی او ربښتیا دا دی چه ددې اهم کار دپاره هم دداسې لوئې نظروالا محدث ضرورت وو ، دا دومره لوئی کاردې که دهغوی په علمی خدمتونو کښې د هغوی دایوخدمت وو نو بیا به هم دهغوی د فخر دپاره دا کافی وو. الحمدلله دا کتاب مشهور دې او بیا بیا چهاپ شوې دې .

[۲] **البدایه والنهایه** :- دا فن تاریخ کښې دهغوی یو قیمتی تصنیف دې او دمصر نه چهاپ شوې دې . په دې کښې دکائنات دشروع نه واخله تر دآخرت د احوالو پورې درج دی. دتیر شوؤ نبیانو علیهم السلام اودتیرشوؤ امتونو ذکر دې، بیا دسیرت نبوی ﷺ بیان دې او دې نه پس د خلافت راشده نه واخله تر خپل وخته پورې تفصیلی تاریخ لیکلې شوې دې . بیا د اشراط الساعة او احوال آخرت بیان دې،په دې تاریخ کښې امام موصوف غرائب،مناکیر او اسرائلیات چانړ کړې دې① صاحب کشف الظنون لیکی ﴿اعتمد فی نقله علی النص من الکتاب والسنة وفی وقائع الالوف السالفة ومیزبین الصحیح والسقیم والخبر الاسرائیلی وغیره﴾دتیرو زرګونو کالو واقعاتو کښې دکتاب او سنت تصریح باندې اعتماد کړې دې او صحیح ضعیف اواسرائیلی روایات وغیره ئې جدا کړی دی ② مورخ ابن تغری بردی ددې تاریخ متعلق لیکی چه ﴿هوفی غایة الجودة﴾داډیر زیات ښه دې ③امام علامه حافظ بدر الدین محمود عینی حنفی شارح بخاری په خپل تاریخ کښې زیات تر هم په دې کتاب باندې اعتماد کړې دې اوحافظ ابن حجر رحمه الله ددې اختصار هم کړې دې.په کشف الظنون کښې دی چه محمود بن محمدبن دلشاد د البدایه والنهایه په ترکئ زبان کښې ترجمه کړې وه .په دې تاریخ کښې واقعات اووفیات دواړه درج دی . دسیرت نبویه حصه په کښې خاص طور سره دټولونه بهتر ده. خو د ډیرو مشاهیرو علماء تذکره په دې کتاب کښې د درج کیدو نه پاتې شوې ده،په دې کښې د مصنف رحمه الله نه دوه کاله مخکښې پورې حالات راغلې دی ، په پاکستان کښې ددې په اردوکښې ترجمه شوې ده.

[۳] **التکمیل فی معرفة الضعفاء والمجاهیل** :- صاحب کشف الظنون ددې کتاب نوم ﴿التکملة فی اسماء الثقات والضعفاء﴾لیکلې دې.خو پخپله مصنف په البدایه والنهایه اواختارعلوم الحدیث کښې هم دا نوم لیکلې دې.دا کتاب لکه څنګه چه دنوم نه ظاهردی چه په فن اسماء الرجال کښې دې اود تصریح د حافظ حسینی رحمه الله مطابق په پنځو جلدونوکښې دې ،په دې کښې مصنف دحافظ مزی رحمه الله تهذیب الکمال اود حافظ ذهبی رحمه الله میزان الاعتدال جمع کړې دی او خانې په خانې ئې دخپل طرف نه په دې کښې فائده مندې اضافې کړې دی.په خپله د مصنف رانې ددې کتاب په باره کښې داده چه﴿هوانفع شئ للفقیه البارع وکذالك للمحدث﴾.داډیرفائده مند څیز دې چه ماهر فقیه اوداشان دیومحدث دپاره ډیر اهم دی

Scanned with CamS

[٤] **الهدی والسنن فی احادیث المسانید والسنن** :- هم دا کتاب دې چه د "جامع المسانید به نوم" سره مشهور دې.مصنف رحمه الله په دې کښې مسند امام احمد بن حنبل،مسند بزاز،مسند ابی یعلی،مسند ابن ابی شیبة اودصحاح سته روایات جمع کړی دی او دائې په ابواب باندې مرتب کړې دې .محدث کوثری رحمه الله لیکی (هومن انفرکتبه) دا دهغوی په تصنیفاتو کښې دټولونه زیات فائده مند دې ، ددې کتاب قلمی نسخه په دارالکتب المصریه کښې موجود ده . دا کتاب هم په عربیٔ کښې چهاپ شوې او مارکیټ ته راغلې.

[٥] **طبقات الشافعیه**:-په دې کښې دفقهاء شافعیه ذکر دې،ددې قلمی نسخه شیخ محمد بن عبدالرزاق حمزه دشیخ حسین باسلامه سره کتلې ده چه په مکه معظمه کښې دمجلس شوری رکن وو، دا کتاب هم عربیٔ کښې چهاپ شوې دې.

[٦] **مناقب الشافعی** :- دا رساله دامام شافعی رحمه الله په حالاتو کښې ده. مصنف ددې ذکر البدایه والنهایه کښې د امام شافعی رحمه الله په تذکره کښې کړې دې ، ددې قلمی نسخه هم طبقات الشافعیه سره مجلد ده ، صاحب الظنون ددې رسالې نوم "الواضح النفیس فی مناقب الامام ابن ادریس" لیکلې دې.

[٧] **تخریج احادیث ادلة التنبیه**:-

[٨] **تخریج احادیث**:-مختصر ابن الحاجب،التنبیه اومختصر دواړه هغه کتابونه دی چه دا مصنف د طالب علمیٔ په زمانه کښې حفظ کړې وو. پدې دواړو کتابونوکښې دکتب حدیث تخریج هم لیکلې شوې دې.

[٩] **شرح بخاری**:- ددې تصنیف ئې هم شروع کړې وو. خو نامکمل پاتې شو . کشف الظنون کښې دی چه صرف د ابتدائی حصې شرح ده . مصنف ددې ذکر په اختصار علوم الحدیث کښې کړې دې .

[١٠] **الاحکام الکبیر**:- داکتاب ئې هم په لویه پیمانه باندې داحادیثو په احکامو کښې لیکل شروع کړې وو خو کتاب الحج پورې ئې اولیکلو او ختم نشو،مصنف رحمه الله په علوم الحدیث کښې ددې کتاب ذکر کړې دې.

[١١] **اختصار علوم الحدیث** :- نواب صدیق حسن خان په منهج الوصول فی اصطلاح احادیث الرسول" کښې ددې نوم "الباعث الحثیث علی معرفة علوم الحدیث"لیکلې دې. دا دعلامه ابن صلاح (المتوفی ۶۴۳ هجری) مشهور کتاب " علوم الحدیث " اختصار دې کوم چه په اصول حدیث کښې په مقدمه ابن الصلاح سره مشهور دې د هغې اختصار دې.مصنف په دې کښې خائې په خائې مفیدې اضافې کړې دی.حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله ددې کتاب متعلق لیکی چه (وله فیه فوائد) په دې کتاب کښې حافظ ابن کثیر رحمه الله ډیرې فائدې لیکلی دی.

[١٢] **مسند الشیخین** :- په دې کښې دشخینونه یعنی دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه چه کوم احادیث مروی دی هغه ئې جمع کړي دي.مصنف رحمه الله په "اختصار العلوم الحدیث"،کښې په خپل یوتصنیف کښې دمسند عمر رضی الله عنه ذکر کړې دې.دامعلومه نشوه چه آیا هغه یومستقل کتاب دې یا هم د دې کتاب دونمه حصه ده.

[١٣] **السیرة النبویة** ﷺ :- دا په سیرت باندې ډیر لوئې کتاب دې .

[١٤] **الفصول فی اختصار سیرة الرسول** ﷺ :- دا په سیرت باندې یو مختصر کتاب دې . مصنف رحمه الله ددې ذکر په خپل تفسیر کښې په سورة احزاب کښې د غزوه خندق په بیان کښې کړې دې.ددې کتاب قلمی نسخه په مدینه منوره کښې په کتب خانه د شیخ الاسلام کښې موجود ده.دا د "الفصول فی سیرة الرسول" نوم سره په عربیٔ او اردو کښې چهاپ شوې دې .

[١٥] **کتاب المقدمات**:- ددې ذکر په اختصار علوم الحدیث کښې شته یا کړې شوې دې.

Scanned with CamScanner

[۱۶] **مختصر کتاب المدخل للبیهقی**:ددې ذکر هم د اختصارعلوم الحدیث،، په مقدمه کښې کړې شوې دې .
[۱۷] **الاجتهاد فی طلب الجهاد**:- کله چه فرنګیانو د اپاس د قلعې محاصره اوکړه نو په هغه وخت کښې دوی دا رساله امیرمنجك دپاره لیکلې وه. دا رساله مصر کښې چهاپ شوې ده اوشائع شوې ده.
[۱۸] **رسالة فی فضائل القران**:- دا رساله هم تفسیر ابن کثیر سره مطبع المنار کښې مصر کښې چهاپ شوې ده.
[۱۹] **مسند امام احمد بن حنبل** رحمه الله :- دا هم دوی په حرفونوباندې مرتب کړې وه او دې سره ئې د طبرانی دمعجم او ابویعلی زوائد هم درج کړی وو. دامام ابن کثیر رحمه الله تولو تصانیفوکښې دا ښه والې دې چه څه لیکی ډیر په تحقیق او تفصیل سره لیکی .عبارت ئې آسان او طرز بیان ئې زړه ته نزدې وی
﴿ربنا اغفرلنا ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان ولا تجعل فی قلوبنا غلا للذین امنوربنا انك رؤف الرحیم﴾.

مقدمه د حافظ ابن کثیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حمد سره خپل کتاب شروع کول:- ټول تعریفونه الله ﷻ لره دی،چه هغه ذات خپل کتاب په حمد سره شروع کړو او وې فرمائیل ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝﴾ اوبل ځائې کښې نې اوفرمائیل ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ﴾ ټول تعریفونه الله ﷻ دپاره دی چه هغه ذات په خپل بنده باندې قرآن پاك نازل کړو . چه په دې کښې هیڅ کوږوالئ نشته. چه همیشه دین لره قائم ساتلو واله دی،دپاره ددې چه الله ﷻ دسخت عذاب نه خلقو لره خبردار کړی . او چه کومو خلقو ایمان راوړواو نیك عملونه کوی نوهغوی ته بهترینه اودهمیشګیرې بدلې زیرې ورکړه .اوچه کوم خلق دخپل پلار نیکه په خبرو دالله ﷻ اولاد منی او دوی سره دلیل نشته او نه ددوی پلارانوسره څه دلیل وونوهغوی ته خبرداري ورکړی چه دا ډیره لویه غلطی ده او دروغ خبره ده چه ددوی په ژبو باندراځی. انې نبی ﷺ ! تاسوپه دوی مه غمژن کیږئی.

د مخلوق پیدائش په حمد سره:- چه څنګه دې پروردګار خپل کتاب په حمد سره شروع کړو داسان هغه عظیم ذات ﷻ د خپل مخلوق پیدا هم د حمد نه شروع کړو ، ارشاد دې چه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ۭ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝﴾ یعنی ټول تعریفونه الله ﷻ دپاره دی چه هغه عظیم ذات ﷻ آسمان اوزمکه او رنړا اوتیاره پیداکړه . او کفار ددې باجود بیاهم دالله ﷻ سره شریك جوړوی.

د مخلوق خاتمه په حمد سره :- داسان دمخلوق خاتمه ئې هم په حمد و ثنا سره اوکړه . د جنتیانو اود جهنمیانو بیان نې اوکړو، وې فرمائیل چه﴿ وَتَرَى الْمَلٰۗىِٕكَةَ حَاۗفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾ ته به اوګورې چه فرښتې دالله ﷻ د عرش نه ځلورو واړو طرفو ته وی اودخپل رب حمدوثناء اوتسبیح اوپاکوالئ به بیانوی. فیصلې به دحق سره شوې وی او وئیلې شوی به وی چه ټول تعریفونه دالله ﷻ دپاره دی.هم ددې وجې دالله ﷻ فرمان دې چه ﴿ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۭ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاُوْلٰى وَالْاٰخِرَةِ ۡ وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝﴾ یعنی الله هغه ذات دې چه دهغه نه سوا څوك معبود نشته او هم هغه طرف ته به تګ وی اوبل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ۭ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝﴾ ټول تعریفونه الله دپاره دی دآسمان او زمکې ټول څیزونه دهغه په ملکیت کښې دی،آخرت کښې هم حمد دهغه عظیم ذات دپاره دې ، هم هغه حکمت والا اوخبردار دې . اول او آخر کښې هم دهغه تعریف دې،یعنی چه څه هغه ذات پیدا کړی دی اوڅه به پیدا کوی،هغه ذات په دې ټولو کښې تعریف والا دې . لکه څنګه چه مونځګذار ﴿سمع الله﴾ نه پس وائی ﴿اللهم ربنا لك الحمد ملاء السموات وملاء الارض وملاء ماشئت من شئ بعد﴾[1] ،انې الله ﷻ انې ځمونږ ربه هم ستا دپاره ټول تعریفونه دی . د آسمان او د زمکې د ډکیدو په برابر او ددې نه پس هم چه کوم یو څیز لره ته ډکول غواړې .

جنتیاتو ته د حمد الهام کیدل:- هم ددې وجې به جنتیانوته هم دحمد و ثناء الهام کیږی او ددوی د ساه ګانوسره به بغیر د څه تکلیف نه دالله ﷻ تعریف او دهغه تسبیح اداکیږی .[2] ځکه چه دالله ﷻ عظیم الشان نعمتونه او دهغه ذات قدرتونه اودهغه ذات کامل قدرت اودهغه زبردست سلطنت اودهغه پرله پسې رحمتونه اودده همیشه همیشه احسانات به ددوئ پیش نظر وی . دا قرآن پاك بیان فرمائیلې دی ﴿ دَعْوٰىهُمْ فِيْهَا سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيْهَا سَلٰمٌ ۚ وَاٰخِرُ دَعْوٰىهُمْ اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾ دایمان سره دنیك عمل کوونکو

---

[1]) صحیح مسلم ، کتاب الصلوة ،باب اعتدال ارکان الصلوة وتخفیفها : ٤٧١)-

[2]) صحیح مسلم ، کتاب الجنة ، باب فی صفات الجنة واهلها وتسبیحهم فیها بکرة وعشیا: ٢٨٣٥)-

Scanned with CamSc

دپاره به ددوی رب ﷻ ددوی دایمان په ذریعه دوی ته دنعمت والا باغونه ورکړی چه ددې لاندې به نهرونه بهیږی،ددوی آواز ﴿سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ﴾ اوپه خپلوکښې به دسلام تحفه وی .اوآخری غوښتنه به ددوی دا وی چه ټول تعریفونه دالله ﷻ دپاره دی چه دټولوجهان والورب دی .

﴿رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ﴾ دالله ﷻ دپاره ټول تعریفونه دی چه هغه خپل رسولان زیری ورکونکی او خبرداری ورکونکی جوړ کړل او وې لیږل چه دې دپاره د رسولانو دراتلو نه پس دخلقو په الله ﷻ باندې څه حجت پاتې نشی . ددې رسولانو سلسله په امی عربی مکی ﷺ باندې ختمه شوه . چه دټولونه زیاتې واضحې لارې هدایت کولو والا دی.

د نبی کریم د رسالت عمومیت:- دحضور ﷺ د زمانې نه واخله تر قیامته پورې چه څومره انسانان او جنات دی هغه ټولو طرف ته د حضرت محمد ﷺ رسالت دې . لکه څنګه چه په قرآن پاک کښې دی چه ﴿ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ﴾ انې نبی ﷺ ته اووایه چه انې خلقو ! زه تاسو ټولو خلقو طرف ته دالله ﷻ رسول یم دهغه الله ﷻ چه د آسمان او زمکې مالك دی چه دهغه نه سوا بل څوك معبود نشته چه هغه پیدا کوی او وژنی ،نو انې خلقو تاسو ټول ایمان راوړئی په الله ﷻ باندې اودهغه په رسول باندې چه نبی دې امی دې چه هغه ایمان راوړې دې په الله ﷻ اودهغه په خبروباندې . انې خلقو هم دده په نقش قدم تللوکښې ستاسو هدایت دې . بل ځائې کښې ارشاد دی چه ﴿ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ﴾ چه څه تاسوهم ویروم او هغه (خلق) هم چه هغوی ته دالله کلام اورسی نوچه کوم یو عربی،عجمی ،تور سپین ته دا قرآن پاك اورسی نونبی کریم ﷺ دهغه دپاره ویرونکې دې.دوجې الله ﷻ فرمائیلی دی چه ﴿ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ مِنَ الْاَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهٗ ﴾ نو څوك چه کفر کوی په دې قرآن (یعنی ددې نه انکار کوی) هغه په قرآن حکم سره جهمی دې .بل ځائې کښې ارشاد دې چه﴿ فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ ۭ سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾یعنی ته ما او دا دروغ ویونکې پریږده ، څه به دوی په مزه مزه نیسم د هغه د طرفنه چه دوی ته به پته هم اونه لګی.

رسول کریم ﷺ فرمائی چه ځما پیغمبری عامه ده هر یو سپین او تور طرف ته څه پیغمبر جوړکړې شوې لیږلې شوې یم ([1]) حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ټول جن او انس طرف ته.نو نبی کریم ﷺ ټولوانسانان او جناتو طرف ته دالله ﷻ رسول دې،ټولو ته دالله ﷻ وحی اوقرآن پاك رسوونکې دې چه دهغه کتاب هیڅ یوطرف نه باطل نه ښکاری. چه دحکمتونو اوتعریفونو والا الله ﷻ نازل کړې دی.

په قران کښې دغور وفکر دعوت :-الله ﷻ پدې خپل کلام باندې دپوهیدو تاکید هم کړې دې ، فرمائی چه ﴿ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ۭ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴾تاسو ولې په قرآن پاك کښې غور اوتدبر نه کوئی که دا دالله ﷻ نه سوا د بل چا دطرف نه وې نو تاسو به په دې کښې ډیر زیات اختلاف موندې وې. بل ځائې کښې ارشاد فرمائی چه مونږ دا مبارك کتاب ستا طرف ته نازل کړې دې چه په دې کښې خلق غوروفکر اوکړی اوعقل مند خلق ترینه نصیحت حاصل کړی. اوبل ځائې کښې فرمائې چه دا خلق ولې په قرآن پاك دپوهیدو کوشش نه کوی ولې ددوی زړونو ته تالې لګیدلې دی.

ددنیا غوښتونکو عالمانو مذمت :-نو په عالمانوباندې واجب دی چه دکلام الله مطلب واضحه کړی ، او زده کړی او(خلقو) ته ښائی اودخلقو صحیح راهنمائی اوکړی . الله ﷻ فرمائی چه مونږ دکتاب والو سره وعده اخستې ده چه هغوی دا بیانوی او پټوی ئی نه خودې خلقو داشاته اوغورزولو او ددې په بدله کښې ئې دنیا طلب کړه. ددوی دا سودا ډیره خرابه ده. او بل ځائې کښې فرمائی چه کوم خلق دالله ﷻ وعده او خپل قسمونه د لږ رقم په بدله کښې خرڅ کړی نو ددوی دپاره په آخرت کښې هیڅ حصه نشته

([1]) صحيح مسلم ، كتاب المساجد ، باب المساجد ومواضع الصلوة : ٥٢١)-

Scanned with CamScanner

. الله ﷻ به دوی سره دقیامت په ورځ خبرې نه کوی اونه به دوی طرف ته درحمت نظر سره گوری. اونه به دوی لره پاکوی بلکه ددوی دپاره دردناك عذاب دې. نو کومو خلقوته چه مونږ مخکښې کتاب ورکړې وو اوهغوی ددې نه مخ واړولو او ددنیا په حاصلولو او ددې په جمع کولوکښې مشغول شو اوالله ﷻ چه کوم خیزونونه منع فرمائیلیی دی په هغې پسې روان شو اوالله ﷻ کتاب ئې پریښودو الله ﷻ ددې مذمت بیان فرمائیلې ده. مسلمانانوته پکار دی چه هغوی دې داسې نه کوی چه دمذمت سبب جوړ شی. بلکه دوی ته پکار دی چه دالله ﷻ په کلام کښې د زړه نه مشغول وی او دقرآن پاك په ازده کولو او خودلو او پوهولو کښې مشغول وی .

قران سره زړونه نرمیږی:- الله ﷻ فرمائی چه آیا تر اوسه پورې هغه وخت نه دې راغلې چه دمسلمانانو زړونه دالله ﷻ دذکر (او چه کوم دوی طرف ته حق راغلې دی دهغې نه) ددوی زړونه اوویریږی اودهغه چا په شان نشی ، چه کومو ته ددې نه مخکښې کتاب ورکړې شوی وو خو چه څه زمانه تیره شوه نودهغوئ زړونه سخت شو اواکثر خلق نافرمانه شو. پوهه شئ مړې زمکې ته نوې ژوند ورکول صرف دالله ﷻ کار دې مونږ خو ستاسو د پوهې دپاره خپل آیتونه بیان کړل.

ددې دواړو آیتونو په ترجمه باندې غور اوکړئی چه په څه لطافت سره بیان شوې دې چه څنګه باران سره خشکه زمکه شنه شی داشان ایمان اوهدایت سره هغه زړونه چه د نافرمانو او ګناهونو په وجه سخت شوی دی نرمیږی ، الله ﷻ چې پاك لوئې اوجواد اوسخی ذات دې د هغه نه مونږ امیدلرو د قبولیت او مونږ دعا کوؤ چه هغه پاك ذات ﷻ زمونږ زړونه هم نرم کړی. آمین.

دتفسیر صحیح طریقه څه ده ؟ :-واورئی ! دتفسیر بهترینه او صحیح طریقه داده چه اول خودقرآن پاك تفسیر هم په قرآن پاك سره وی خکه چه یوبیان په یو ځائې کښې مختصر دې نو په بل ځائې کښې د هغې تفصیل هم شته . ددې نه پس ددینه دقرآن پاك تفسیرپه حدیثو دې. خکه چه حدیث د قرآن پاك تفسیر او شرح ده. بلکه حضرت امام ابوعبدالله بن محمد بن ادریس شافعی رحمه الله فرمائی چه د رسول الله ﷺ ټول احکام هم دقرآن پاك نه ماخوذ دی. دالله ﷻ فرمان دې چه مونږ په تاسو باندې قرآن پاك حق سره نازل اوفرمائیلو چه تاسو دخلقو په مینځ کښې دالله ﷻ د خودلې شوی احکامو مطابق فیصلې اوکړئی .خبردار ! تاسوهغه خلقو سره مه کیږئی چه کوم خیانت کوی. او بل ځائې کښې ارشاد دې چه مونږ په تاسو باندې دا کتاب نازل کړې دې چه دخلقو د اختلاف فیصله اوکړئی . داکتاب دایماندارو دپاره دهدایت اود رحمت (باعث) دې. په یوبل مقام کښې فرمائی چه مونږ ددې ذکر ستاسو طرف ته په دې وجه نازل کړې دې چه تاسو دا خلقوته ښه په ښکاره ښکاره اورسوئی چه په دې غوراوکړی.

دحدیث اهمیت :-نبی کریم ﷺ فرمائی خبردارچه ماته قرآن پاك هم راکړې شوې دې او داشان ددې په مثال یو بل څیز هم [1] نوددې نه مراد سنت دې .یادساتئ احادیث هم دالله ﷻ وحی ده لکه څنګه چه قرآن پاك د الله ﷻ د وحی په ذریعه نازل شو داشان دنبی کریم ﷺ حدیث هم دالله ﷻ وحی ده. خو قرآن پاك وحی متلو ده او احادیث غیرمتلو. امام شافعی رحمه الله او نور لوئې لوئې امامانو دا په دلائیلو سره ښه ثابت کړه ده خو په دې ځائې کښې ددې دبیان موقع نه ده. مقصد دادې چه دقرآن پاك تفسیر مخکښې پخپله قرآن پاك سره او بیا په حدیث سره کول پکار دی.

نبی کریم ﷺ چه کله معاذ رضی الله عنه یمن طرف ته لیږلو نو (تپوس ئې تري اوکړو چه کله تاته څه مسئله پیښه شی نو ته به دڅه نه فیصله‌کوی) وې فرمائیل چه په قرآن پاك ، که په دې کښې ئې اونه مومې نووې فرمائیل چه سنت رسول ﷺ سره ، وې فرمائیل چه په دې کښې ئې هم اونه مومې نوبیا ، نو وې فرمائیل چه بیا به اجتهادبه کوم په خپله رائې سره . حضور ﷺ چه دا جواب واوریدو نو دهغوی په سینه

---

[1]) ابوداود کتاب السنة ، باب لزوم السنة : ٤٦٠٤، ترمذی : ٢٦٦٤)-

نې لاس کیخودو او وې فرمائیل چه دالله ﷻ شکر دې چه هغه ذات دخپل نبی قاصد ته هغه توفیق ورکړو چه دهغه دنبی ﷺ خوښ دې[۱]. داحدیث په مسند کښې هم دې او په سنن کښې هم او سند هم ددې ډیر ښه دې لکه څنګه چه په خپل ځائې ددې ثبوت موجود دې.

د صحابه کرامو رضی الله عنهم د اقوالو اهمیت:- په دې بناء باندې چه کله دیو آیت تفسیر په قرآن پاك او حدیث کښې ملاؤ نشی نو صحابه کرامو رضی الله عنهم اقوالو طرف ته رجوع کول پکار دی. هغوی تفسیر دقرآن پاك باندې ډیر زیات پوهه وو. ځکه چه په هغه وخت کښې کومې قرینې او احوال وو دهغې علم هم هغوی ته کیدیشی.هغوی رضی الله عنهم په هغه وخت کښې موجود وو. ددې نه علاوه هغوی رضی الله عنهم ته کامله پوهه ، صحیح علم اونیك عمل حاصل وو. خاص کر هغه بزرګانو ته چه په هغوی رضی الله عنهم کښې ډیر اوچت مقام والا او زبردست عالمان وو. لکه څنګه چه څلور واړه خلفاء راشدین دی. چه رشد اوهدایت والا وو. یعنی حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه،حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ،حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت عثمان ذی النورین رضی الله عنه د

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فضیلت:- اوځنګه چه دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دې فرمائی چه په هغه الله ﷻ قسم چه دهغه نه سوا بل څوك دعبادت لائق نشته،دکتاب الله هیڅ یو آیت داسې نشته چه ماته معلوم نه دې چه دا دچا په باره کښې نازل شوې دې او په کوم ځائې نازل شوې دې . که ماته پته وې چه دکتاب الله په علم کښې ځما نه څوك زیات دی او ځه ترهغه ځائې رسیدلې شوم نو مابه ضرور دهغه کس شاګردی کړې وې[۲] دوی رضی الله عنه دا هم فرمائی چه په مونږ کښې به چا لس آیتونه زده کړل او په دې به نې عمل اونه کړو نو یولسم آیت به ې نه زده کولو .

حضرت ابوعبدالرحمن سلمی تابعی رحمه الله فرمائی چه مونږ د چا نه قرآن پاك زده کړو نوهغوی به مونږ ته فرمائیل چه مونږ د رسول الله ﷺ نه زده کړو چه ترکومې به مونږ د لسو آیتونو علم اوعمل د حضور ﷺ نه زده نه کړو نومخکښې به نه تلو.

د عبدالله بن عباس رضی الله عنه فضیلت:- غرض دا چه دقرآن پاك علم اوپه قرآن پاك باندې عمل دواړه مو زده کړل هم په دې کښې یوحبر البحر حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دې . د رسول کریم ﷺ د تره خوئې او ترجمان القران دې. نبی کریم ﷺ د دوی دپاره د برکت دعا کړې وه او فرمائیلی ئې وو چه ﴿اللهم فقهه فی الدین وعلمه التاویل﴾[۳] ائې الله ﷻ دوی ته ددین پوهه ورکړې او دوی ته د قرآن پاك د تفسیر علم هم ورنصیب کړې[۴]. حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به فرمائیل چه دقرآن پاك بهترین ترجمان حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دې . دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دا قول مخکښې کیدئی او خیال اوکړئی چه ددوی انتقال په ۳۲ هجرئی کښې اوشو او حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دهغوی نه پس شپږدیرش کاله ژوندی وو نو په دې موده کښې به دوی څومره ترقی کړې وی. حضرت ابو وائل فرمائی چه دحضرت علی رضی الله عنه په زمانه کښې حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه امیرحج مقرر شوې وو ، دوی په خپله خطبه کښې د سورة بقرة تلاوت اوکړو او په ښه طریقه نې ددې تفسیر اوکړو ،که کفارو هم آوریدلې وې نو مسلمانان شوی به وو. په بعضو روایاتو کښې دی چه دوی په دې خپله خطبه کښې دسورة نور تفسیر

---

[۱]) ابو داود کتاب القضاء ، باب اجتهاد الرای فی القضاء : ۳۶۹۹، ترمذی ابواب الاحکام ، باب ماجاء فی القاضی کیف یقضی: ۱۳۲۷)-

[۲]) صحیح بخاری ، کتاب فضائل القرآن ، باب القراء من اصحاب الرسول ﷺ رقم : ۵۰۰۳، وصحیح مسلم : ۲۴۶۳)-

[۳]) حمد ۳۱۴/۱، ۷۶۶، ابن حبان : ۷۰۵۵، وبلفظ (اللهم فقهه فی الدین) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة ، باب فضائل عبدالله بن عباس : ۲۴۷۷. او صحیح بخاری کښې (اللهم علمه الکتاب) دې . حدیث نمبر: ۷۵، المعجم الکبیر للطبرانی : ۱۰۵۸۷/۱۰.

[۴]) حاکم، ۵۳۷/۳ ، اود شیخینو په شرط صحیح دې او امام ذهبی ددوی موافقت کړې دې)-

Scanned with CamSc

اوفرمائیلو ،همدا وجه ده چه اسماعیل بن عبدالرحمن سدی کبیر به په خپل تفسیر کښې هم ددې دواړو بزرګانو اکثر تفسیر نقل کولو لیکن کله کله اهل کتاب نه دا بزرګ چه کوم روایت اخلی هغه هم بیانوی .

دبنی اسرائیلی روایاتو حیثیت :دبنی اسرائیلو نه روایت اخستل مباح دی. صحیح بخاری کښې حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ځما د طرف نه اورسوه اګر چه یو آیت وی.دبنی اسرائیلونه په روایت اخستلوهم څه حرج نشته.ماباندې قصداًپه دروغه ویونکې بالکل جهنمی دې (۱).

حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ په جنګ یرموک کښې دوه بورئی دیهودیانو او نصرانیانو دکتابو موندلې وی.د هغوی نه پس ده د دې نه هم روایت کولو ،هغوی به داحدیث مدنظر کیخودو او نقل کول به ئې . لیکن یاد لرئی چه د بنی اسرائیلو دا روایات صرف د مسئلې د مضبوطیا اوددې دګواهئ دپاره راوړې شی. پخپله ددې نه مسئلې نه ثابتیږی.

د اسرائیلی روایاتو دړې قسمونه :-د بنی اسرائیلو روایات په دړې قسمه دی. ① چه دهغې تصدیق په خپله مونږ سره موجود دې یعنی دقرآن پاك دځه آیت یا د حدیث سره مطابق وی اوشهادت کوی ددې په صحت نو داصحیح دی. ②چه دهغې تکذیب پخپله مونږ سره موجود وی یعنی دځه آیت یا دحدیث خلاف وی،ددې په غلط کیدوکښې څه شك نشته ③چه دهغې مونږ تصدیق نشو کولې ، اونه ئې تکذیب کولې شو ځکه چه نه مونږ سره څه داسې روایت شته وی چه دهغې دمطابقت په وجه مونږ هغې ته صحیح اووایو اونه څه داسې روایت وی چه ددې مخالف وی او په دې وجه مونږ دې ته دروغ یا رښتیا اووایو. نودا دریم قسم روایات هغه دی چه د هغې نه خاموش شو، نه ورته غلط وایواو نه صحیح.البته دا ذکرکول جائز دی. اودا روایات دی هم داسې چه په دې کښې زمونږ ددین څه فائده نشته . ددې باوجود په داسې خبرو کښې هم لوئې لوئې اختلافات موجود دی.

په اسرائلی روایاتو کښې اختلافات:- هم په دې وجه چه دداسې روایتونو اخستونکو مفسرینوکښې هم داسې اختلاف راځی.لکه داصحاب کهف نومونه اودهغوی دسپی رنګ ، دهغوی شمیر ، دحضرت موسی ﷺ همسا دکومې وني وه ؟.حضرت ابراهیم ﷺ چه کوم مارغان حصه حصه کړو وی اوبیا دالله ﷻ په حکم سره چه هغه مارغان ژوندی شو ، هغه مارغان کوم کوم وو؟ او چه کوم مقتول دحضرت موسی ﷺ په زمانه کښې غوا ذبحه کړې شوې وه او ددې د غوښې یوټکړه په دې وهلې شوې وه اوبه دې سره الله ﷻ هغه ژوندې کړې وی، هغه تکړه کومه یوه وه اودکوم خانې وه ؟ اوهغه کومه ونه وه چه په هغې حضرت موسی ﷺ نور لیدلې وو او په دې کښې ئې دالله ﷻ کلام آوریدلې وو. وغیره وغیره. نو داداسې ځیزونه دی چه په دې باندې الله ﷻ پرده اچولې ده. اودې پیژندل اونه پیژندل مونږته څه فائده یانقصان نه راکوی. نه ددې په تعین کښې څه دینی فائده شته او نه دنیاوی.البته داخبره ده چه دا اختلاف نقل کول جائز دی.

د اصحاب کهف د تعداد په حق کښې د قران بیان:-لکه څنګه چه پخپله قرآن پاك داصحاب کهف په تعیین کښې اختلاف نقل کړې دی ، فرمانی چه ﴿سَيَقُولُونَ ثَلَٰثَةٌ رَّابِعُهُمْ كَلْبُهُمْ﴾ دا خلق وائی چه اصحاب کهف درې وو اوځلورم ددوی سپې وو. او وائی چه دوی پنځه وو او شپږم ددوی سپې وو. دا ټولې هسې تشې خبرې دی ، او دا هم وائی چه دوی اووه وو او اتم ددوی سپې وو . ائې نبی ﷺ ته اووایه چه ددوی شمیر ځما رب ته معلوم دې ښه . تاسو ددې په باره کښې سرسری خبرې کوئی او په دې باره کښې پوښتنه مه کوئی.

---

[1]) صحیح بخاری ،کتاب الانبیاء ، باب من بنی اسرائیل ، : ۲٤٦١، ترمذی : ۲٦٦۹)-

Scanned with CamSc

د قرانی ایت نه څه معلومیږی :-دا ایت مونږ ته ښائی چه مونږ ته په دې مقام څه کول پکار دی. الله ﷻ په دې خائې کښې دري قوله فرمائیلی دی. دوۀ ته ضعیف اوونیل او دریم ته ئې د ضعف حکم ورنکړو. ددې نه معلوم شو چه دا صحیح دې ځکه که داهم باطل وې نوددې دواړو پشان به دا رد کړې شوې وو. بیائې دې سره دا هم ارشاد اوفرمائیل چه ددوی د شمیر علم تاسو ته هیڅ فائده نه درکوی. بیا تاسو ولې ددې په چانړ کولوکښې پریشان یئ. تاسودا ولې نه وائی چه ددوی د شمیر حقیقی علم الله ﷻ ته دې. ډیر کم داسې خلق دی چه هغوی ته الله ﷻ صحیح تعداد خودلې دې ، هرکله چه دا معلومه شوه چه دوی اخوا دیخوا خبرې کوی نوبیا دوی پسې ولې آنخلئ او ولې تپوسونه کوئی؟

دا شان دې نه دا هم معلومه شوه چه د څه اختلاف د نقل کولو صحیح طریقه داده چه ټول اختلافی اقوال بیان کړې شی،صحیح اوغیرصیح باندې خبرداري ورکړې شی،اوددې اختلاف فائده دې هم بیان کړې شی چه هسې څوک سړې په بیکاره کار کښې اخته نشی او د ښه شغل نه اونه ځی. چه کوم سړې په اختلاف نقل کولوکښې ټول اقوال بیان نه کړی نودا دهغه قصور دی. ممکن دی چه صحیح قول هغه وی چه کوم هغه پریښودې وی.داشان چه کوم سړې اختلاف نقل کړی اوځه فیصله اونه کړی نو ده هم غلطی اوکړه. که غیر صحیح ته په قصد سره صحیح اووائی نوبیا هم دې دروغژن دې. اوکه په جهالت سره داسې اوکړی نوبیا دې خطاکاردې. داشان چه یو سړې په څه داسې خبره کښې چه په هغې کښې څه لویه فائده نه وی،یا ډیر اختلافی اقوال نقل کړی یا داسې اختلافات نقل کړی چه د هغې الفاظ معناً مختلف وی خود نتیجې په اعتبار سره هغه اختلاف بالکل ختم شی یاهسې معمولی شان پاتې شی . نو ده هم خپل قیمتی وخت هسې ضائع کړو او د نه کولوکار ئې اوکړو . ددې مثال داسې دې لکه څنګه چه څوک سړې دوه وړوکې کپړې واغوندی ،دښه اونیغې خبرې توفیق خو بس دالله تعالی په لاس کښې دې والله الموفق لسداد.

﴿ فصل ﴾ تفسیر او د تابعینو اقوال

کله چه دیوآیت تفسیر قرآن پاك ، حدیث او دصحابه کرامو ﷺ اقوالو کښې ملاؤ نشی نو د دین اکثر امامانو وئیلی دی چه په داسې موقع کښې د تابعینو تفسیر واخستلې شی .

دامام مجاهد رحمه الله مقام:- لکه څنګه چه مجاهد بن جبر رحمه الله (چه په تفسیر کښې دالله ﷻ یونښه وه) ، هغوی رحمه الله فرمائی چه ما د اول نه تر آخره پورې دري ځل د عبدالله بن عباس ﷺ نه قرآن زده کړو او پوهه شوم پرې[1] دیویو آیت باره کښې مې تپوسونه اوکړل او په هغې پوهه شوم. ابن ابی ملیکه رحمه الله فرمائی چه ما پخپله حضرت مجاهد رحمه الله اولیدو چه کتاب ، قلم او دوات ئې واخستلواو حضرت ابن عباس ﷺ لره ورتللو او دقرآن پاك تفسیر باره کښې به ئې تپوسونه کول او هغه به ئې لیکل.[2] د پوره قرآن کریم تفسیر ئې په دې طریقه نقل کړو. دحضرت سفیان ثوری رحمه الله فرمان وو چه مجاهد رحمه الله د یو آیت تفسیر اوکړې نودا بیا چانړ کول بې فائدې دی. نوددوی تفسیر کافی دې.[3]

دحضرت مجاهد رحمه الله په شان حضرت سعید بن جبیر رحمه الله ، حضرت عکرمه رحمه الله چه دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ آزاد کړې شوې غلام وواوحضرت عطاء بن ابی رباح رحمه الله ،حضرت حسن بصری رحمه الله ، حضرت مسروق ابن اجدع رحمه الله ، حضرت سعید بن مسیب رحمه الله ، حضرت ابوالعالیه رحمه الله ، حضرت ربیع بن انس رحمه الله ، حضرت قتاده رحمه الله او حضرت ضحاك بن مزاحم رحمه الله وغیره تابعینو تبع تابعینو او ددوی نه پس چې کوم خلق دی د هغوئ تفسیر به معتبر منلې شی.

---

[1]) الطبری: ۱/۹۰)-

[2]) الطبری: ۱/۹۰)-

[3]) الطبری: ۱/۹۱)-

Scanned with CamS

د تابعینو په اقوال کښې ظاهری اختلاف:-کله داسې هم کیدیشی چه دیو ایت په تفسیر کښې ددې بزرګانو اقوال چه کله ذکر کولې شی اوددوی الفاظوکښې په ظاهر اختلاف په نظر راځی نوبې علمه خلق دې ته معنوی اختلاف وائی او وائی چه ددې آیت په تفسیر کښې اختلاف دې.حالانکه په حقیقت کښې داسې نه وو بلکه چا د یوځیز تفسیر د هغې په لازم سره کړې وی، چا ددې په مثال سره ، چا پخپله دا ځیز بیان کړی وی .اګر چه په دې صورتونوکښې په الفاظوکښې اختلاف وی لیکن معنې نې یو وی. عقل مند ته پکار دی چه په داسې ځائې کښې دې غلطی (خوئیدل) اونشی. ﴿والله الهادي﴾

شعبه بن حجاج رحمه الله فرمائی چه کله د تابعین رحمهم الله اقوال په فروعی مسائلوکښې حجت نه دې نو د قرآن پاك په تفسیر کښې به څنګه حجت جوړشی؟ دشعبه رحمه الله قول صحیح دې مراد نې دا دې چه د دوئ اقوال حجت نه دې په اختلاف کونکو باندې اوداصحیح ده. خو ددوئ اجتماعی اقوال لره حجت کیدلو کښې هیڅ شک نشته او د اختلاف په وخت کښې نه ددوی قول په خپلوکښې په یو بل باندې حجت دې،نه په غیرو باندې ، په دې وخت کښې به د قرآن پاك لغت او حدیث او دعربو عام لغت او دصحابه کرامو رضي الله عنهم اقوالو طرف ته رجوع کولې شی.

دتفسیر بالرائې شرعی حیثیت :- صرف په رائې سره تفسیر کول حرام دی. رسول کریم ﷺ فرمائی چه چا قرآن پاك کښې خپله رائې داخله کړه یا نې جهالت سره څه اووئیل نو ده خپل ځائې په جهنم کښې جوړ کړو (۱)په ابن جریر او ترمذی شریف او ابوداودشر یف کښې دا حدیث دې. اوامام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وئیلې دی . هم دا الفاظ دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه نقل دی. حضرت جندب رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ نه روایت نقل کوی چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چا په قرآن پاك کښې د خپلې رائې نه څه اووئیل نو ده خطا اوکړه ابن جریر رحمه الله ،ابوداود ،ترمذی اونسائی کښې هم دا الفاظ موجود دی دحدیث د سهیل بن ابی حزم القطعی نه. امام ترمذی رحمه الله دې ته غریب وئیلی دی او ددې راوی سهیل باندې بعضې اهل علمو کلام هم کړې دې دې حدیث پاك کښې دا الفاظ هم مروی دی چه چا دخپلې رائې نه قران پاك کښې څه صحیح خبره هم اوکړه نو هغه بیا هم خطا کار دې (۲)خکه چه ده ددې ځیز تکلف اوکړو چه د هغې ده ته علم نه وو او په داسې لار لاړو چه په هغې باندې ده ته د تګ حکم نه وو. نواګر چه دده د ژبې نه صحیح خبره وتلې وه خوبیا هم دې خطا کاردې.خکه چه دا کار ده په ښه طریقه باندې اونه کړو.

د تفسیر بالرئی مثال:ددې داسې مثال دې لکه چه یو سړې بې علمه وی او د خلقو فیصلې کوی. ده ته جهنمی وئیلې شوی دی. اګر که نفس الامر کښې ددۀ حکم صحیح هم وی .دا بله خبره ده چه ددې داسې سړی په صحیح خبره باندې نیول کم وی لیکن خطاکار دې .﴿والله اعلم﴾

اوګورئې الله ﷻ هغه تهمت لګوونکی ته کاذب وئیلی دې په قرآن پاك چه ﴿فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ فَأُولَٰئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ﴾ هغه ګواه پیش نه کړی. اګر چه په حقیقت کښې هغه رښتونې وی او په چا باندې د تهمت الزام لګوی هغه واقعی زنا کار وی لیکن چونکه ده دا خبر بغیرد شهادت نه خوره کړه او د دې خورول د ده دپاره حلال نه وه نو دې کاذب اوګرزولې شو. ﴿والله اعلم﴾

په تفسیر کښې د اسلافو طریقه کار :-هم دا وجه ده چه دسلفویو لوئې جماعت بغیر دعلم نه دتفسیر کولو نه ویریدل. د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه فرمان دې چه زما بوج به کومه زمکه اوچتوی او کوم آسمان به راته سیوري راکوی که څه په قرآن پاك کښې هغه اووایم چه دځه ماته پته نشته. (۳)دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه نه یو ځل دالله ﷻ د فرمان ﴿وَفَاكِهَةً وَأَبًّا﴾تفسیر باره کښې تپوس اوشو نو وې فرمائیل

---

(۱) ترمذی ، ابواب تفسیر القرآن باب ماجاء ی الذی یفسر القران برایه : ۲۸۵۰، السنن الکبری: ۸۰۸۵)-.

(۲) السلسلة الصحیحة : ۲۸/٦ تحت رقم: ۲۵۰۷)-

(۳) السلسلة الصحیحة : ۲۸/٦ تحت رقم: ۲۵۰۷)-

Scanned with CamScanner

چه ماته به کوم یو اسمان سیوري راکړي او کومه زمکه به زما بوج اوچت کړي چه څه په قران پاك کښې هغه څه اووایم چه ماته پته نشته. دا روایت منقطع دي . یو څل حضرت عمر فاروق بن خطاب ﷺ په منبر باندې هم ددې آیت تلاوت اوکړو او بیا نې اوفرمائیل چه ﴿وَفَاكِهَةً﴾خومونږ ته معلوم دی لیکن دا (اب) څه څیز دي ؟ بیانې پخپله اوفرمائیل چه ائې عمر په دې تکلف کښې ولې اخته شم ؟(۱) حضرت انس ﷺ فرمائی چه مونږ حضرت عمر بن خطاب سره وو ، ددوی د قمیص په شا څلور پیوندونه لګیدلی وو ،دوی ﷺ ددې آیت ﴿وَفَاكِهَةً وَأَبًّا﴾ تلاوت اوفرمانیلو او وې فرمائیل چه دا (اب) څه څیز دي؟ بیا نې اوفرمائیل چه تاته ددې تکلف څه ضرورت دي ؟ ددې په نه معلومیدو کښې څه حرج دي؟ مطلب دادي چه د (اب) معنی خو معلوم ده یعنی ګیاه دزمکې پیداوار لیکن د دوئ کیفیت ښکاره علم نشته ، هم په دې آیت کښې موجود دي﴿فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا حَبّٗا ۝ وَعِنَبٗا وَقَضۡبٗا ۝﴾یعنی مونږ په زمکه کښې غلې او انګور زرغون کړل.

د ابن عباس ﷺ د جواب ورکولو نه انکار:ابن جریر کښې په صحیح سند سره روایت دي چه ابن ابی ملیکه رحمه الله فرمائی چه حضرت ابن عباس ﷺ نه یو کس دیوآیت باره کښې تپوس اوکړو نو دوی بیان نه کړو او وې فرمائیل حالانکه که تاسوکښې ددې باره کښې تپوس شوې وې نو فورا به مو جواب ورکړې وې . په بل روایت کښې دی چه یوسړی ددوی نه تپوس اوکړو چه په قرآن پاك د زرو کالو برابر دیوې ورځې ذکر دي دا څه دی؟ دوی ﷺ اوفرمائیل چه د پنځوسوزرو کالو برابر چه کوم ذکر دي هغه څه دی؟ هغه اووئیل چه څه خو ستاسو نه معلومول غواړم. دوی ﷺ اوفرمائیل چه دا دوه ورځې دی چه ددې ذکر الله ﷻ په خپل کتاب کښې کړې دي ، ددې حقیقی علم الله ﷻ ته دي. خیال اوکړئی دومره لوئې د قرآن مفسرد قرآن په تفسیر کښې څومره د احتیاط نه کار اخلی چه ورته د حقیقت خبرې علم نه وو نوددې د بیانولو نه ئې صفاانکار اوکړو.

دجندب ﷺ په تفسیر القران کښې احتیاط:په تفسیر ابن جریر رحمه الله کښې دی چه حضرت جندب بن عبدالله ﷺ نه یو څل طلق بن حبیب ﷺ دیو آیت تفسیر اوپوښتلو نو وې فرمائیل چه ته مسلمان ئې نو ستا دې قسم وی که ته ددې څانې نه لاړې. وې فرمائیل چه په دې څانې کښ کینه.

سعید بن مسیب رحمه الله او په تفسیر کښې احتیاط:-حضرت سعید بن مسیب ﷺ نه د قرآن پاك دیو آیت د تفسیر متعلق تپوس اوکړې شو نو وې فرمائیل چه مونږ په قرآن پاك کښې هیڅ نه وایو. ددوی ﷺ دا عادت مبارك وو چه څه به ورته معلوم وو نوهغه به ئې د قران پاك په تفسیر کښې وئیل ، یو څل د یوسړی د سوال په جواب کښې دوی ﷺ اوفرمائیل چه مانه دقرآن پاك د تفسیرسوال مه کوه. دقرآن پاك تفسیر دهغه چا اوپوښته چه هغه وائی چا خما نه د قرآن پاك هیڅ یو آیت پټ نه دي. یعنی حضرت عکرمه ﷺ

د سلفو په تفسیرکښې احتیاط:-بن ابوزید ﷺ وائی چه مونږ حضرت سعید بن مسیب ﷺ نه دحلال اوحرامو مسائلو باره کښې تپوس کړې وو. دوی په دې کښې زیات عالم په نظر راتلل خو چه د قرآن پاك د څه آیت باره کښې به تپوس اوکړې شو نو داسې به خاموش شو چه ګنې هډو دوی آوریدلی نه دی.حضرت عبیدالله بن عمر فرمانی چه ما د مدینې منورې لوئې لوئې عالمان اولیدل چه دوی په تفسیر کښې خبره کول لویه ګنړل. لکه حضرت سالم بن عبدالله رحمه الله،حضرت قاسم بن محمد رحمه الله ، حضرت سعید بن مسیب ﷺ حضرت نافع ﷺ وغیره. حضرت هشام ﷺ فرمائی چه ما خپل پلار عروه ﷺ نه وو کتلې چه هغوی دقرآن پاك دیو آیت تفسیر کړې وی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الاعتصام باب مایکره من کثرة السوال....۷۲۹۳ مختصر بلفظ) نهینا عن التکلف)۔

Scanned with CamSc

عبیدالله سلمانی رحمه الله نه دقران پاك دیو ایت باره کښې تپوس اوکړې شو نو وې فرمائیل چه کومو خلقو دقرآن پاك آیتونه پیژندل چه په څه باره کښې نازل شو نوهغوی نه دا دنیا خالی شوه. اوس تاسو اوویریږئ دالله تعالی نه او صحیح نیغ اوسئ. حضرت مسلم بن یسار رحمه الله فرمائی چه کله تاسو دکتاب الله په تفسیر کښې څه وئیل غواړئ نو مخکښې روستو گورئ څکه دا دالله ﷻ نسبت طرف ته خبره کوئ. حضرت ابراهیم رحمه الله فرمائی چه زمونږ ټولو ملگرو د قرآن پاك تفسیر ډیر لوئې څیز گڼلو. او په دې کښې به ئې سخت احتیاط کولو. شعبه رحمه الله فرمائی اگر چه ما دقرآن پاك د یو آیت علم حاصل کړې دې خوددې په وینا کښې داوایم چه د الله ﷻ نه روایت دې. حضرت ابن مسروق رحمه الله قول دې چه په تفسیر کښې ډیر زیات احتیاط کوئ څکه چه تفسیر خو دالله ﷻ نه روایت کول دی. دا ټول او ددې پشان نور دا آثارصحیحه دحضرات ائمه سلفو نه نقل دی. ددې دا مطلب دې چه دې علماء کرامو به بالکل دعلم نه بغیر دقرآن په تفسیر کښې څه نه وئیل. خو چه د لغت لحاظ سره یا د شریعت لحاظ سره کوم تفسیر معلوم وی دهغې په بیان کولو کښې هیڅ حرج نشته. ددې وجې د دې بزرگانو پاك اقوال د قرآن پاك په تفسیر کښې ډیر زیات روایت شوې دې.

یوه شبه او دهغې جواب:- هېڅوك دې دا نه وائی چه کله به دا بزرگان ویریدل او تفسیر به ئې نه بیانولو ، بیاددوی نه تفسیر ولې نقل دې؟ جواب ددې دادې چه چې به په هغه ځائې کښې وو چه کله به دوی تهکوم معلومات نه وو او وئیل به ئې په هغه ځائې کښې چه کوم ځائې کښې به دوی ته علم وو. اودا دواړه په هر یو باندې واجب دی. د بې علمئ په وخت کښې چې پاتې کیدل او علم بیانول . قرآن پاك فرمائی چه ﴿لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُۥ﴾ یعنی دادخلقو مخکښې بیانوئی او پټوئی نې مه.حدیث شریف کښې دی چه دچا نه د څه مسئلې باره کښې تپوس اوکړې شی او دې هغه پټه کړی اگر چه ده ته ددې باره کښې علم وی نو د قیامت په ورځ به ده ته د اوور واگې اچولې شی. (۱)

ابن جریر کښې حدیث دې چه رسول کریم ﷺ به دقرآن پاك د هغه آیت تفسیر کولو چه دکوم تفسیر به حضرت جبریل علیه السلام نبی کریم ﷺ ته خودلې وو.خو دا حدیث منکر او غریب دې. اوددې راوی جعفر دې (اودې د محمد بن خالد بن زبیر بن عوام قریشی ځوئې وو) دده باره کښې امام بخاری رحمه الله فرمائی چه دده په حدیث کښې متابعت نشته دې. حافظ ابو الفتح ازدی رحمه الله فرمائی چه دامنکر الحدیث دې. که چرې دا حدیث صحیح دې نوبیا هم ددې صحیح مطلب دا کیدیشی چه ددې نه مراد هغه آیتونه دی چه دهغې معنی دالله ﷻ د خودنې نه بغیر نه شی کیدلې. دداسې آیتونو مطلب چه رسول کریم ﷺ ته به په ذریعه دحضرت جبریل علیه السلام معلومولوشو. امام جعفر صادق رحمه الله چه ددې روایت کومه معنی بیان کړې ده فرمائی چه ددې ما حصل هم دا دې. او هم دا معنې صحیح بندیدې هم شی. ددې وجې قرآن پاك کښې داسې آیتونه هم دی چه د هغې علم صرف الله ﷻ ته دې. اوداسې آیتونه هم شته دې چه د هغې علم علماءکراموته دې. اوداسې آیتونه هم دی چه د معنی او مطلب لحاظ ئې داشان ښکاره اوواضحه دی چه د چا څه عذر باقی نشی پاتې کیدلې.

دتفسیر اقسام :-حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه د تفسیر څلور قسمونه دی. ① دکلام عرب نه معلومیږی ②چه دهغې په جهالت کښې څه عذر نه وی ③چه دا ډی علمه خلقو ته معلوم وی. ④ چه هغه دالله ﷻ نه سوا بل څوك نه پیژنی.

یو مرفوع حدیث هم دی چه په دې باره کښې دې لیکن ددې په اسنادو کښې کلام دې. په دې کښې حضور ﷺ فرمائی چه دقرآن پاك نزول په څلورو طریقوباندې شوې دې. ①دحلال او حرام آیتونه که ددې نه څوك ناخبره وو نو دقیامت په ورځ ددوی هیڅ عذر نشی قبلولې. ② چه کوم عرب بیان کړی.

---

(۱) ابوادو کتاب العلم باب کراهیة منع العلم : ۳۶۵۸، ترمذی: ۲۶۴۹، ابن ماجه: ۷۶۱)-

Scanned with CamSc

③چه کوم ذی علم اوپیژنی. ④ متشابه آیتونه چه د هغې حقیقی علم دالله ﷻ نه سوا بل چاته حاصل نه دي. چه کوم خلق ددې خبرې دعوی کوی هغه دروغژن دي. په دې حدیث کښې محمد بن سائب کلبی دي ، هغه متروك الحدیث دي، کیدیشی چه هغوی مرفوع روایت یعنی دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ قول ته مرفوع حدیث ګنړلې وی ، والله اعلم.

مکی او مدنی سورتونه :- حضرت قتاده ﷺ فرمائی چه سورة بقره ، سورة آل عمران ، سورة نساء ، سورة مائدة ،سورة براءة ،سورة رعد ،سورة نحل ،سورة حج ،سورة نور، سورة احزاب ، سورة محمد، سورة فتح ، سورة حجرات ، سورة رحمان ، سورة حدید ، سورة مجادله ، سورة حشر ، سورة ممتحنه ، سورة صف ، سورة جمعه ،سورة منافقون ، سورة تغابن ، سورة طلاق ، سورة تحریم ، سورة زلزال او ، سورة نصر، داټول سورتونه خو په مدینه منوره کښې نازل شو اوباقی ټول سورتونه مکه مکرمه کښې نازل شو.

د ایاتونو تعداد:- ①دقرآن کریم آیتونه شپږ زره خودلې شی.دې کښې اختلاف دي ، ②خینو ددې نه زیات نه دی خودلی③بعضې شپږ زره دوه سوه او څلور ځینې شپږ زره دوه سوه او څوارلس④خنیې شپږ زره دوه سوه ده نور لس ، ⑤بعضې دوه سوه پنځویشت ، ⑥بعضې دوه سوه شپږیشت.

د قران کریم کلمات:- دقران کریم دکلماتو په نسبت حضرت عطاء بن یسار رحمه الله فرمائی چه اویا زره څلور سوه یو کم څلویښت (۷۰۴۳۹) کلمات دی.

د قران پاک حروف:- د حروفو د شمیر په بار ه کښې حضرت مجاهد رحمه الله نه روایت دي چه د ټول قرآن پاك حروف دري لاکهه یویشت زره او یوسل اتیا(۳۲۱۱۸۰) دی. فضل بن عطاء بن عطاء بن یسار رحمه الله فرمائی چه ټول حروف دري لاکهه دري دیرش زره او پنځلس (۳۳۳۰۱۵) دی.حجاج په خپل وخت کښې قاریان،حافظان او کاتبان جمع کړل او تپوس ئې اوکړو دقران پاك حرفونه اوشمارنی اوماته ئې اووائې، نو ټولو حساب اوکړو او په اتفاق سره ئې اووئیل چه دري لاکهه څلویښت زره او اووه سوه او څلویښت (۳۴۰۷۴۰) دی.

د حروفو په اعتبارسره د قران تقسیم:- بیا حجاج اووئیل چه ښه د حرفونو په لحاظ سره نیم قرآن پاك په کوم ځائې کښې ختمیږی؟ نودحساب نه معلوم شو چه سوره کهف کښې دحرف ﴿وَلْيَتَلَطَّفْ﴾په " ف " باندې نیم قرآن پاك ختمیږی. اودسورة برات په سلو آیتونوباندې دقرآن کریم رومبنۍ حصه د حروفو په اعتبار سره ختیمیږی. اودویمه حصه دسورة شعراء په سلم آیت په سر باندې یا دیوسل یو آیت په سر باندې ختمیږی او دریمه تر آخره پورې.

د قران پاک منزلونه:- اوکه دمنزلونو شمار اوکړې شی یعنی که قرآن په اووه منزلونو تقسیم کړې شی نو ①رومبې منزل د ﴿صَدَّ﴾په " د " باندې ختمیږی . چه په دې آیت کښې دي ﴿فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ﴾ ②او دویم منزل د ﴿حَبِطَتْ﴾په " ت " باندې ختمیږی چه داد سورة اعراف آیت ﴿اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ﴾ کښې دي ③ اودریم منزل د ﴿اَكُلُهَا﴾په آخری " ا " باندې ختمیږی چه دا په سورة رعد کښې دي④او څلورم منزل د ﴿جَعَلْنَا﴾په " ا " باندې ختمیږی چه دا په سورة حج کښې په آیت ﴿ جَعَلْنَا مَنْسَكًا﴾ کښې دي. ⑤اوپنځم منزل د ﴿مُؤْمِنَةٍ﴾ په " ه " باندې ختمیږی چه دا په سورة احزاب کښې په آیت ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ﴾ کښې دي. ⑥او شپږم منزل د﴿ السَّوْءِ﴾ په " و " باندې ختمیږی چه دا په سورة فتح کښې په آیت ﴿ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ﴾ کښې دي. ⑦او اووم منزل دقرآن کریم په اختتام باندې.

دابومحمد سلام حمانی رحمه الله بیان دي چه مونږ څلور میاشتې متواتر محنت نه پس دا خبرې حجاج ته اووئیلې.دحجاج معمول وو چه هره شپه به ئې د قرآن پاك یو پاؤ تلاوت کولو. دې لحاظ سره دقرآن پاك یو پاؤ په سورة انعام باندې ختمیږی. او نیم قرآن د سورة کهف د لفظ ﴿وَلْيَتَلَطَّفْ﴾ په " ت " باندې.

Scanned with CamScanner

او پاؤ کم د سورة زمر په خاتمه باندې او پوره د قران کریم په اختتام باندې. شیخ ابو عمر ودانی په خپل کتاب البیان کښې په دې خبروکښې اختلاف نقل کړې دې. پاتې شو د قرآن پاك دوینا په اعتبار سره سورتونه او جزونه نودا مشهوري دیرش پاري دی. او یو حدیث کښې د صحابه کرام ﷺ د قرآن پاك اووه منزلونه کول او ددې د تلاوت کولو بیاندې.

مسند احمد ، سنن ابوداود اوابن ماجه کښې دی چه دحضور ﷺ په ژوند کښې صحابه کرام ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه تاسود قرآن پاك وظیفه څنګه کوئی؟ نووې فرمائیل چه رومبی دریې سورتونه په اووه منزلونوباندې ، بیا ددې نه پس دپنځو سورتونو په دویم منزل ، بیا ددې نه پس د اووه سورتونو په دریم منزل ، بیا دې نه پس دنهه سورتونو په څلورم منزل ، بیا دې نه پس دیولسو سورتونو په پنځم منزل باندې ، بیا دې نه پس ددیارلسوسورتونو په شیږم منزل او مفصل یعنی د سورة ﴿ ق ﴾ نه واخله تر آخره پورې (یعنی اووم) یومنزل دې [1]

﴿ فصل ﴾

دسورة لفظی معنی①دسورت لفظی بحث کښې بعضې وائی چه ددې معنی خانله والې او اوچتوالې دې. د نابغه په یوشعر کښې د سورت لفظی معنی په اوچتوالی سره راغلې ده.

الم تران الله اعطاك سورة
تری کل ملك دونها یتذبذب

(**ترجمه**) آیا ته نه ګورې چه الله ﷻ درکړې دې تالره پورته والې یا جداوالې چه ته وینې هر یو بادشاه لره ددې نه رپیدونکې.

نوددې معنی به داسې وی چه ګویا د قرآن پاك وئیلو والا یومنزل نه دویم منزل طرف ته روان وی . او دا هم وئیلې شی چه دا د شرافت او اوچتوالی په معنی کښې دی. ددې و جې د ښار دیوال ته په عربیۍ کښې ﴿سور البلدان﴾ وائی②او بعضې وائی چه په لوښی کښې کومه حصه باقی پاتې شی هغې ته په عربیۍ کښې اساره وائی. اود سورة لفظ هم ددې نه اخستې شوې دې. چونکه سورة هم د قرآن پاك یو حصه او ټکړه وی،دهمزه تخفیف شوې دې،بیا همزه په واو سره بدل کړې شو③یو قول دا هم دې چه د سورة لفظی معنی د تمام اوکمال هم ده. پوره اوښې ته په عربیۍ ژبه کښې ددې وجې سور وائی . ④اودا هم ممکن دی چه څنګه په عربیۍ کښې قلعې ته سور په دې وجه وائی چه دې دکورونو احاطه کړې وی اوداکورونه ئې جمع کړی وی .داشان چونکه آیتونو لره سورت جمع کوی اوددې احاطه کوی نودې ته هم سورت وئیلې شی. دسورت جمع سور ده اوکله ﴿سورات﴾او﴿سوارات﴾هم راځی.

د آیت تشریح :- ①آیت ته آیت په دې وجه وئیلې شی چه د آیت لفظی معنی علامت او نشانه ده ،چونکه آیت باندې کلام ختمیږی او اول او آخر جدا کیږی ددې وجې دې ته آیت وائی. قرآن پاك کښې هم آیت د علامې او نشان په معنی کښې دې. ارشاد دې چه ﴿اِنَّ اٰیَةَ مُلْكِهٖ﴾یعنی دده دبادشاه کیدو نښه اوعلامه داده. داشان د نابغه په شعرکښې هم آیت په دې معنی کښې دې :

توهمت ایات لها فعرفتها
لست اعوامو ذالعام سابع

(**ترجمه**):- ما معلومې کړې ننبې ددې پس ما دا اوپیژندله چه د شپږوکالو وه دائې اوم کال دې

② اود آیت معنی جماعت او ډله هم راځی.د عربو په شعرونوکښې دا لفظ په دې معنی کښې راغلې

---

[1]) ابوداود کتاب شهر رمضان باب تحزیب القران : ۱۳۹۳، ابن ما جه: ۱۳۴۵)-

دي. چونکه ایت هم د حرفونو یو جماعت او ډله وی ددې رعایت په وجه دې ته هم آیت وئیلې شی. لکه چه وئیلې شی چه (خرج القوم بأسرهم) اووتلو قوم سره دخپلو ډلو③او د آیت معنی عجیبه هم ده . چونکه دا عجیبه څیز دي،معجزه ده .ټول انسانان داشان خبره نشی کولې . ددې وجې دې ته هم آیت وائی.

د ایت صرفی تحقیقی:- ①سیبویه وائی چه په اصل کښې دا ﴿ایية﴾وو لکه ﴿اکمة﴾او ﴿شجرة﴾،رومبی "ی" د عربی د قاعدې مطابق الف جوړ شو. اول یا متحرکه ما قبل تر مفتوح یا مو په الف سره بدلـه کړه نو ایة شو.②دکسائی قول دې چه د آیت اصل ﴿ایية﴾وو لکه څنګه چه ﴿امنة﴾ي الف شو اود التباس په وجه پریوتلو. ③ فراء وائی چه دا اصل کښې ﴿ایئة﴾وو بیا د تشدید په وجه الف بدل کړې شو او ﴿ایة﴾شو ، دآیت جمع ﴿أيٍ أيَاي أيَات﴾ راځی.

دکلمې تشریح :کلمه وائی یو لفظ ته ،کله خو ددې دوه حروف وی لکه څنګه چه ﴿ما﴾او ﴿لا﴾او ﴿له﴾ وغیره اوکله زیات هم وی. زیات نه زیات لس حروف یوکلمه کښې وی. لکه څنګه چه ﴿لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ﴾او ﴿أَنُلْزِمُكُمُوهَا﴾او ﴿فاستقيناكموه﴾اوکله په یوکلمه کښې صرف یو آیت وی لکه ﴿والفجر﴾او ﴿والضحى﴾او﴿والعصر﴾ اوداشان ﴿الم﴾او﴿طه﴾او﴿یس﴾او﴿حم﴾،دادکوفیانو قول دې او ﴿حمعسق﴾ددوی په نیز دوه کلمې دی او ددې نه سوا نور خلق وائی چه دا کلمې نه دی بلکه دا د سورتونو فواتح دی. ابوعمر ودانی فرمائی چه ماته نه دې معلوم.دیو کلمې یوآیت په قرآن کریم کښې سواد ﴿مدهامتان﴾چه دا په سورت رحمان کښې دې

﴿ فصل ﴾ (په قرآن کښې عجمی نومونه)

قرطبی رحمه الله وائی چه د عربئ ژبې نه سوا عجمی ترکیب خو په قرآن پاك کښې نشته دې . البته عجمی نومونه په کښې شته دې لکه ابراهیم ، نوح ، لوط ، او اختلاف ئې کړې دې چه آیا قرآن کښې ددې نه سوا هم څه عجمی دې؟ نو باقلانی او طبری خو صفاانکار کړې دې او وائی چه دعجمیت مطابق چه څه دی قران پاک کښې هغه حقیقت کښې عربی ده لیکن موافقت دې.

دسوره فاتحې تفسیر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دسورة فا تحې نورنومونه①ددې سورة نوم سورة فاتحه دې ، فاتحه وائی شروع کولو ته ، چونکه قرآن پاك کښې د ټولو نه مخکښې هم دا سورت لیکلې شوې دې ددې وجې دې ته سورت فاتحه وائی. اوددې وجې هم چه په مونځ کښې قرات هم ددې نه شروع کیږی ②او ددې نوم﴿أُمُّ الْكِتٰبِ﴾هم دې . جمهور هم داوائی. البته حسن رحمه الله او ابن سیرین رحمه الله ددې قائل نه دی. هغوی وائی چه د لوح محفوظ نوم " ام الکتاب " دې او د حسن رحمه الله قول دې چه محکم آیاتونو ته " ام الکتاب " وائی. د ترمذی په یوحدیث کښې دی چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾ پوره سورت پورې هم دا " ام القران ، ام الکتاب ، سبع مثانی او قران عظیم "[1]دې③ددې سورت نوم "سورة الحمد" او④" اوسورة الصلوة " هم دې. نبی کریم ﷺ فرمائی چه الله ﷻ فرمائیلی دی ما صلوة (یعنی سوره فاتحه) خپل او د خپلوبندګانو په مینځ کښې نیمه نیمه تقسیم کړې ده.کله چه بنده وائی ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾ نوالله ﷻ فرمائی چه ځما بنده ځما تعریف اوکړو پوره حدیث پورې[2]په دې حدیث کښې معلوم شوچه دسورت فاتحې نوم سورة الصلوة هم دې،ځکه چه ددې سورت په مونځ کښې وئیل شرط دی⑤ددې سورت نوم

---

[1]) ابوداود کتاب الصلاة ، باب فاتحة الکتاب:۱٤٥۷، ترمذی: ۳۱۲، صحیح بخاری بلفظ (ام القران هی السبع المثانی والقران العظیم) کتا ب التفسیر تفسیر سورة الحجر: ٤۷۰٤ ، صحیح بخاری: ۲٤۹۸)-

[2]) صحیح مسلم ، کتاب الصلاة باب وجوب قراءة الفاتحة : ۳۹۵، ابوداود: ۸۲۱، ترمذی: ۲۹۵۳، نسائی : ۹۱۰، ابن ماجه: ۸۳۸)-.

Scanned with CamSc

سورة الشفاء هم دي.دارمی کښې حضرت ابوسعيد ﷺ نه مرفوعاً روايت دي چه سورت فاتحه د هر زهر شفاء ده ⑥او ددي نوم "سورة الرقيه "هم دي[1] حضرت ابو سعيد ﷺ چه کله يوسړي دم کړو اوهغه سړي مارچيچلي وو اوهغه ښه شو نو نبی کريم ﷺ هغه ته اوفرمائيل چه تاته څنګه معلومه شوه چه دا رقيه ده يعنی وئيل او پوک وهلو والاسورت دي [2]⑦ حضرت ابن عباس ﷺ دي ته "اساس القران " وائی. يعنی د قرآن پاک جړه . اوددي سورت بنياد ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ دي⑧حضرت سفيان ابن عيينه رحمه الله فرمائی چه ددي نوم " رقيه " دي⑨يحيی بن کثير رحمه الله فرمائی چه ددي نوم "کافيه " هم دي . ددي وجې چه دا خپل ماسوا نه کفايت کوی. او بل هيڅ يو سورت ددي نه کفايت نه کوی په بعضې مرسلواحاديثوکښې دا مضمون هم راغلې دي چه دي ته سورة الصلوة ⑩او سورة الکنز هم وئيلې شوی دی. دزمحشری رحمه الله په تفسير کشاف کښې اوګورئی.

د سورة فاتحه مکی او مدنی حيثيت: ①حضرت ابن عباس ﷺ ،حضرت قتاده ﷺ او ابو العاليه رحمه الله فرمائی چه داسورت مکی دي .حضرت ابوهريره ﷺ،حضرت مجاهد رحمه الله ، حضرت عطاء بن يسار رحمه الله ②او حضرت زهری رحمه الله فرمائی چه دا سورت مدنی دي . خو رومبې قول زيات صحيح دي. ددي وجې په بل آيت کښې دی ﴿ وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ ﴾ يعنی مونږ تاته سبع مثانی يعنی اووه بار بار وئيلو والا سورت درکړي دي. والله اعلم.③دابوالليث سمرقندی رحمه الله يو قول قرطبی رحمه الله هم نقل کړي دي چه ددي سورت نصف په مکه مکرمه کښې ا و آخری نصف په مدينه منوره کښې نازل شوي دي. ليکن داقول بالکل غريب دي.

د سورة فاتحې د اياتونو تعداد:- او دا اووۀ آياتونه بغير د خلاف نه دی. ليکن عمرو بن عبيد اته اياتونه، او حسين جعفری شيړ هم وئيلی دی او دا دواړه اقوال شاذ دی.

بسم الله د فاتحې مستقل ايت دي که نه؟ ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ ددي سورت مستقل آيت دي اوکه نه دي ،په دي کښې ا ختلاف دي①ټول کوفی قاريان او دصحابه کرام ﷺ اود تابعينو يوه ډله او روستنی ډير بزرګان خو داد سورت فاتحې يو مستقل آيت ګڼړی②بعضې دي ته ددي جز وائی او بعضې دا آيت ددي په شروع کښې هڅ ومنی نه. لکه څنګه چه دمدينې منورې دقاريانواو فقهاء کرامو دا قول دي. ددي تفصيل به انشاء الله مخکښې راشی.

د سورة فاتحې کلمات او حروف:- ددي سورت کلمات پنځويشت دی او حروف نې يوسل ديارلس دی.

①امام بخاری رحمه الله دکتاب التفسير په شروع کښې په صحيح بخاری کښې ليکی چه ددي ام الکتاب نوم په دي وجه دي چه دقرآن کريم کتاب ددي نه شروع کيږی او دمونځ قرأت هم ددي سورت نه شروع کيږی ، ②يوقول دا هم دي چه دټول قرآن پاک مضامين اجمالی طور په دي کښې دی . ددي وجې دي ته أم الکتاب وئيلې شی. اودعربو عادت دي چه هر يو جامع کار اودکار جړه چه دهغې ښاخونه او اجزاء هم ددي تابع وی نو ورته ام وائی . ګورئی ام الراس هغوی جلئ (پرده) ته وائی چه ددماغ جامع دي. او لشکری بيرغونه او نښې هم چه دهغې لاندي خلق جمع وی (هغې ته) ام وائی. دشاعرانو په شعرونوکښې هم ددي ثبوت موندلې شی. مکې ته ام القری وئيلې شی اوددي وجه دا هم ده چه دا د ټولونه مخکښې ده اوجامع ده. زمکه هم ددي ځائی نه خوره شوه . چونکه ددي نه د مونځګزار مونځ شروع کيږی اود قران ليکلو په وخت کښې هم صحابه کرام ﷺ هم دا مخکښې اوليکله. ددي وجې دي ته فاتحه وائی. ددي يو صحيح نوم " سبع مثانی " هم دي. ددي وجې چه دا باربار په مونځ کښې وئيلې

---

[1] امام درامی دا مسند نه دي بيان کړي ، په دي روايت کښې : ۳۳۷۰ (فاتحة الکتاب شفاء من کل داء) -

[2] صحيح بخاری کتاب الاجارة باب ما يعطی فی الرقية: ۲۲۸۶، صحيح مسلم: ۲۲۰۱)-.

Scanned with CamSc

کیږی. په هر رکعت کښې دا وئیلې کیږی. او دمثانی معنې نورې هم دی چه انشاء الله ﷻ په خپل ځانې به بیانیږی. والله اعلم.

مسند احمد کښې حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ د ام القران باره کښې فرمائیلی دی چه دا ام القران دی. هم دا سبع مثانی دې. او هم دا قرآن عظیم دې. (۱)او په یو بل حدیث کښې دی چه هم دا ام القران دې. هم دا فاتحة الکتاب دې اوهم دا سبع مثانی دې(۲)

تفسیر مردویه کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل د ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝ ﴾ اووه آیتونه دی او﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ﴾ هم د دې نه یو آیت دې هم د دې نوم سبع مثانی دې. هم دا قرآن عظیم دې. هم دا ام الکتاب دې. هم دا فاتحة الکتاب دې. (۳)دارقطنی کښې هم داشان یو حدیث دې او وئیلی ئې دی چه ددې ټول راویان ثقه دی. بیهقی کښې دی چه حضرت علی ﷺ ، حضرت ابن عباس ﷺ او حضرت ابوهریره ﷺ د سبع مثانی تفسیر کښې دا وئیلی دی چه دا سورة فاتحه دې او﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ﴾ ددې اووم آیت دې. او د بسم الله په بحث کښې به ددې بیان پوره راشی، انشاء الله .

حضرت ابن مسعود ﷺ ته اووئیلې شو چه تاسو سورة فاتحه په خپل لیکلې شوی قرآن کریم کښې ولې نه ده لیکلې ؟ نو وې فرمائیل که ما لیکلې نو دهر سورة په اول کښې به مې لیکلې. حضرت ابوبکر بن ابوداود رحمه الله فرمائی چه ددې قول مطلب دادې چه په مونځ کښې د وئیلو حیثیت دې. او چونکه ټولو مسلمانانوته حفظ ده ددې وجې څه ضرورت نشته دې د لیکلو.

د فاتحې د نزول درجه: دلائل النبویه کښې امام بیهقی یو حدیث کښې وارد کړې دې په هغې کښې دی چه دا سورت د ټولونه مخکښې نازل شو. باقلانی رحمه الله نه نقل دی چه یو قول دا دې چه سورة فاتحه د ټولو نه مخکښې نازل شو②دویم قول دادې چه﴿ یٰۤاَیُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۝ ﴾ دټولو نه مخکښې نازل شو او لکه څنګه چه صحیح حدیث کښې د حضرت جابر ﷺ نه روایت دې③او دریم قول دادې چه د ټولو نه مخکښې ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ۝ ﴾ نازل شو.او هم دا صحیح قول دې.ددې تفصیل به مخکښې راشی،انشاء الله.

د سورت فاتحې فضائل

د ټولو نه لوئی سورت:- مسند احمد کښې د حضرت ابوسعید بن معلی ﷺ نه روایت دې چه ما مونځ کولو او رسول کریم ﷺ څه راوبللم ، ماورته څه جواب ورنکړو ، کله چه مونځ نه فارغ شوم نود رسول کریم ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اوسه پورې په څه کار کښې وې؟ ما اووئیل انې رسول کریم ﷺ زه په مونځ کښې ووم. رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه آیا تا دالله ﷻ قول اوریدلې دې ؟ ﴿یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اسْتَجِیْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ اِذَا دَعَاكُمْ لِمَا یُحْیِیْكُمْ ۚ ﴾

ترجمه :- انې ایمان والو،دالله ﷻ اودهغه رسول ﷺ چه کله تاسو راوبلی نو تاسوجواب ورکړئی .

ښه ده واوره ! څه به تاته د جمات نه د بهر وتلونه مخکښې اووایم څه په قرآن کریم کښې د ټولو نه لوئې سورت کوم یودې؟بیائې ځما لاس نیولې وو اودجمات نه بهر راوتلو اراده نبی کریم ﷺ اوفرمائیله نو ما رسول کریم ﷺ ته خپله وعده وریاده کړه.رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه سورت﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝ ﴾ دې،هم دا سبع مثانی دې،هم دا قرآن عظیم دې چه ماته راکړې شوې دې (۴)داشان دا حدیث په صحیح بخاری ، ابوداود ، نسائی او ابن ماجه کښې هم په نورو سندونو سره روایت دې.

---

(۱) احمد: ۴۴۸/۲، وسنده صحیح ،)-

(۲) الطبری: ۱۳۴)-.

(۳) دارقطنی باب وجوب قراة بسم الله الرحمان الرحیم فی الصلاة: ۳۱۲/۱، وهو صحیح)-

(۴) صحیح بخاری کتاب التفسیر،باب ماجاء فی فاتحة الکتاب:۴۴۷۴،ابوداود: ۱۴۵۸،نسائی: ۹۱۴، ابن ماجة: ۳۷۸۵، موطا امام مالک: ۳۷)-

Scanned with CamSc

دابی بی کعب ﷺ باره کښې هم داسې واقعه:-واقدی رحمه الله دا واقعه د حضرت ابی بن کعب بیان کړې ده . موطا امام مالک رحمه الله کښې دی چه رسول کریم ﷺ حضرت ابی بن کعب ﷺ ته آواز اوکړو اوهغه مونځ کولو.چه فارغ شو نو نبی کریم ﷺ سره ملاؤ شو. فرمائی چه نبی کریم ﷺ خپل لاس خما په لاس باندې کیخودو . جمات نه بهر راوتل نو وې فرمائیل چه څه غواړم چه د جمات نه د وتلونه اول تاته داسې سورت اوښایم چه تورات اوانجیل او قرآن کښې ددې مثل نشته . نوماپه دې باندې خپل چال نرم کړو اودنبی کریم ﷺ نه مې تپوس اوکړو چه هغه سورت کوم یو دی؟حضرت رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه دمونځ په شروع کښې ته څه وائې ؟ما اونیل چه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ﴾ پوره سورت پورې. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل هم داهغه سورت دې ،داسبع مثانی دې او قرآن عظیم دې چه ماته راکړې شوې دې ،هغه هم داسورت دې. (۱)ددې حدیث آخری راوی حضرت ابوسعید ﷺ دې.

دبعضې عالمانو خطائی:-په دې بناء باندې ابن اثیر رحمه الله اودوی سره د دوی ملګری په دې څانې کښې دهوکه کیږی.دوی هغه ابوسعید بن معلی ګڼړی. دا ابوسعید ﷺ بل دې . دا مولا خزاعی دې او تابعینو کښې دې او هغه ابوسعید انصاری صحابی ﷺ دې ،د هغه حدیث متصل او صحیح دې. اودا حدیث په ظاهرکښې منقطع معلومیږی.که د ابوسعید تابعی دحضرت ابی نه آوریدل ثابت نه وی، اوکه آوریدلې وی نوداحدیث دمسلم په شرط صحیح دې . والله اعلم.

دابی ﷺ حدیث په بل سند سره:-ددې حدیث نور هم ډیر طرق دی. مسند احمد کښې دی چه رسول کریم ﷺ کله ابی بن کعب ﷺ راوبللو نودوی په مونځ کښې وو. التفتات نې اوکړو خو جواب نې ورنکړو حضرت رسول اکرم ﷺ ته مونځ ئې مختصر کړو او زر د حضرت نبی اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو .سلام ئې اوکړ و او عرض ئې اوکړو،نوحضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه تا جواب ولې رانکړو ؟ وې فرمائیل چه اني رسول کریم ﷺ څه په مونځ کښې ووم.نو نبی کریم ﷺ هم هغه آیت تلاوت اوفرمانیلو چه آیا تا دا آیت نه دې آوریدلې؟ وې فرمائیل چه یارسول الله ﷺ غلطی رانه اوشوه بیا به داسې نه کوم. نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه آیا ته غواړې چه زه تاته یوداسې سورت اوښایم چه په تورات ،انجیل اوپوره قرآن پاک کښې داسې سورت بل نشته دې. ما اوونیل ضررو ارشاد اوفرمائې. نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه ددې څانې نه دتلونه اول به ئې تاته اووایم. بیا نبی کریم ﷺ خمالاس اونیولو او خبرې ئې کولې اوما خپل چال په مزه کړو چه هسې نه هغه خبره پاتې شی او نبی کریم ﷺ بهر لاړ شی. آخر چه کله دروازې ته نزدې شو نو مانبی کریم ﷺ ته وعده ورياده کړه . نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ته په مونځ کښې څه لولې؟ ما ورته ام القران اولوستو،نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په الله ﷻ قسم چه د هغه په قبضه کښې خما ساه ده چه تورات ، انجیل ، زبور او قرآن پاک کښې ددې پشان بل سورت نشته دې.داسبع مثانی دې (۲)ترمذی کښې دومره اضافه نوره هم ده چه هم دا لوئې قرآن دې چه ماته راکړې شوې دې. (۳)داحدیث حسن صحیح دې .

د حضرت انس ﷺ نه هم په دې باب کښې یو حدیث روایت کړې شوې .د مسند احمد یو اوږد حدیث کښې هم داشان روایت دې . دنسائی په روایت کښې دا الفاظ هم دی چه دا سورت دالله اودالله ﷻ د بنده ترمینځه تقسیم کړې شوې دې. (۴) ترمذی دې ته حسن غریب وائی.

---

(۱) الموطا : ۱۸۳/۱، وهو صحیح)-

(۲) احمد ۴۱۳/۲، ترمذی: ۲۸۷۵)-.

(۳) ترمذی ، ابواب فضائل ، باب ماجاء فی فضل فاتحة الکتاب : ۲۸۷۵، وسنده صحیح)-

(۴) نسائی : کتاب الافتتاح باب تاویل قول الله تعالی (ولقد اتیناک من المثانی والقران العظیم) : ۹۱۵ وسنده صحیح)-

Scanned with CamSc

دجابرﷺ په روایت سره د فاتحې عظمت:-مسند احمد کښې حضرت جابرﷺ نه روایت دې چه یو خل د نبی کریم ﷺ خوا ته ورغلم او نبی کریم ﷺ د اودس نه فارغ شوې وو.ما ورته دې خل سلام اوکړو خو نبی کریم ﷺ یوخل هم جواب رانکړو.نبی کریم ﷺ کور ته تشریف یوړو.خه ډیر د غم په حالت کښې جمات ته راغلم. لږ وخت پس نبی کریم ﷺ طهارت کولو نه پس تشریف راوړو او دې خل نې خما د سلام جواب راکړو.بیائې اوفرمائیل چه ائې عبدالله بن جابر ﷺ ! واوره ټول قرآن پاک کښې بهترین سورت ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۝﴾ (ترآخره پوری) دې. (۱)ددې اسناد ډیر بهترین دی. ابن عقیل چه ددې راوی دې اودا هغه دې چه دده حدیث لوئې لوئې علماء کرام روایت کوی. اوحضرت عبدالله بن جابر ﷺ بدری صحابی دې.دابن الجوزی هم دا قول دې والله اعلم.

د قرانی سورتونو په خپل منیځ کښې یوبل باندې فضیلت:①دحافظ بن عساکر رحمه الله قول هم دا دې چه عبدالله بن جابر انصاری بیاضی ﷺ دې. دا حدیث او ددې پشان نورو احادیث نه نې استدلال کړې دې او ابن راهویه،ابوبکربن عبری،ابن الحضاروغیره اکثرو عالمانو ونیلی دی چه بعضې آیتونو او بعضې سورتونوباندې فضیلت لری ②اویوبله ډله خیال کوی چه دالله ﷻ ټول کلام برابر دې. یو ته په بل باندې فضیلت حاصل نه دې. دا به قباحت وی چه نور سورتونه ددې نه کم درجه په نظر راځی.حالانکه کلام الله ټول فضیلت والا دې.قرطبی رحمه الله داشعری رحمه الله اوابوبکر باقلانی رحمه الله اوابوحاتم حبان بستی رحمه الله او ابوحیان اویحیی بن یحیی رحمه الله نه هم داشان نقل دی. امام مالك رحمه الله نه هم په یوروایت کښې دا مذهب نقل دې.

د فاتحې په دم سره بیمار جوړیدل:- دسورت فاتحې فضائل ددې پورتونو احادیثو نه علاوه نور هم دی ،په صحیح بخاری کښې په فضائل قران کښې حضرت ابوسعید خدری ﷺ نه روایت دې چه مونږ یو خل په سفر کښې وو،یوخائې کښې ایسار وو چه یو وینځه راغله او وې وئیل چه ددې خائې دقبیلې سردار مار خوړلې دې. زمونږ سړی په دې خائې کښې موجود نه دی. په تاسوکښې داسې څوك شته دې چه هغه دم کړی؟ زمونږنه یوسړې پاسیدو اوهغې سره لاړو. مونږ ته پته نه وه چه ده له څه دم ورځی اوکه نه. دې چه هغه خائې ته لاړو نو دم نې کړو، الله ﷻ په خپل فضل سره هغه بالکل صحیح کړو. هغه ورته دیرش چیلۍ ورکړې او زمونږ د ملمستیا دپاره نې ډیر پیۍ هم راولیږل. هرکله چه هغه واپس راغلو نومونږ ورته اووئیل چه آیا تاته د دم درود څه علم شته دې څه ؟هغه اووئیل چه ماپرې صرف سورة فاتحه دم کړې ده. مونږ ورته اووئیل چه دا راوړونکې مال لا مه چیرې.مخکښې به درسول کریم ﷺ نه تپوس کوو ددې مسئلې باره کښې. کله چه مدینې ته راغلو نو مونږ نبی کریم ﷺ ته ذکر اوکړو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه ته څنګه معلومه شوه چې داد دم کولوسورت دې؟ ددې مال حصې جوړې کړئی اوماته په کښې هم حصه اوکړئی. صحیح مسلم او ابوداود کښې هم داحدیث شته دې(۲)دمسلم بعضې روایاتوکښې دی چه دم کولووالا حضرت ابوسعید خدری ﷺ وو. (۳)

د فاتحې د نزول سره د زیری دپاره فرشته راتلل:- مسلم او نسائی کښې حدیث دې چه رسول کریم ﷺ سره یو خل حضرت جبریل علیه السلام ناست وو چه د پاس نه دیو زورداړې دهماکې آواز راغلو. حضرت جبریل علیه السلام چه پاس اوکتل نو وې فرمائیل چه نن د آسمان هغه دروازه پرانستې ده چه هیڅ کله هم نه ده پرانستې شوې. بیا دهغه خائې نه یو فرښته نبی کریم ﷺ ته راځی او وائی چه خوشحاله شئ ، تاسو

---

(۱) احمد: ۱۷۷/٤)-

(۲) صحیح بخاری ، کتاب الایمان باب مایعطی فی الرقیة علی احیاء العرب بفاتحة الکتاب : ۲۲۸٦، صحیح مسلم: ۲۲۰۱، ابوداود: ۳٤۱۸، ترمذی: ۲۰۲۲، ابن ماجة: ۲۱۵٦، الیوم اللیلة للنسائی: ۱۰۲۷)-

(۳) صحیح مسلم کښې دا نشته دې چه دم کولو والا ابوسعید خدری وو بلکه دا سنن ترمذی: ۲۰۲۴ کښې دی)-

Scanned with CamSc

ﷺ ته داسې دوه نورونه درکړې شو چه ستاسو ﷺ نه مخکښې بل نبی ﷺ ته نه وو ورکړې شوی سورة فاتحه اود سورة بقري آخری آیتونه ، یویو حرف دې ته نورورکړې شوې دي. (۱)

فاتحه د الله او بنده په مینځ کښې تقسیم ده:- په صحیح مسلم کښې دی چه حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه حضرت ر سول کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې په خپل مونځ کښې ام القران اونه وائی نودهغه مونځ ناقص دي .،ناقص دي ، ناقص دي،پوره نه دي. حضرت ابوهریره ﷺ تپوس اوکړچه کله مونږ امام پسې یو؟ نو وې فرمائیل چه په زړه کښې وائی. ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیل به ئې چه دالله ﷻ فرمان دې چه ما مونځ (سورة فاتحه) خپل او دخپل بنده مینځ کښې نیمه نیمه تقسیم کړې ده. اوخما بنده چه خما نه څه غواړی هغه څه ورکوم.کله چه بنده وائی ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ﴾ نوالله ﷻ فرمائی﴿حمدنی عبدي﴾ خما بنده خما تعریف اوکړو. بیا بنده وائی ﴿الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ﴾ نوالله ﷻ فرمائی چه﴿ اثنی علی عبدي ﴾ خما بنده خما ثناء بیان کړه . بیا بنده وائی چه ﴿مٰلِكِ یَوْمِ الدِّیْنِ﴾ نوالله ﷻ فرمائی چه﴿مجدنی عبدي﴾خمابنده خما بزرګی بیان کړه.بعضې روایتونوکښې دی چه الله ﷻ ددې په جواب کښې فرمائی چه ﴿فوض الی عبدي﴾ خما بنده ماته خان حواله کړو.بیا بنده وائی چه ﴿اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَاِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ﴾ نوالله ﷻ فرمائی چه دا خما او خما دبنده ترمینځه دی او خما بنده چه خما نه څه غواړی هغه به ورکوم. بیا بنده آخر سورته پوري وائی نوالله ﷻ فرمائي چه دا ټول خما دبنده دپاره دی او څه چه دې غواړی دا ټول دهغه دپاره دی. نسائی کښې روایت دې (۲)چه دبعضو روایتونو په الفاظوکښې څه بدلون هم دې. ترمذی دې حدیث ته حسن وئیلې دي.ابوزرعه ﷺ دې ته صحیح وئیلی دی.مسند احمد کښې هم دا حدیث مطول موجوددي.ددې راوی حضرت ابی بن کعب دې (۳)اود ابن جریر ﷺ په یو بل حدیث کښې دا الفاظ هم دی چه الله ﷻ فرمائی چه دا خما دپاره دی او چه څه باقی دی هغه خما دبنده دپاره دی ، دا حدیث غریب دې.

دحدیث فوائد:- اوس ددې حدیث په فائدو باندې نظر واچوئی① په دې حدیث کښې لفظ دصلوة یعنی دمونځ اطلاق دې. اومراد ددې نه قرات دې.لکه څنګه چه په قرآن پاك کښې په یوبل ځائې کښې دی چه ﴿ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ﴾ یعنی خپل مونځ (قرات) نه ډیر په اوچت آواز وایه او نه ډیر په روآواز سره بلکه په درمیانه آوازسره ئې وائی. حضرت ابن عباس ﷺ نه ددې تفسیر کښې وضاحت نقل دې چه په دې ځائې کښې د صلوة نه مراد قرات دې ،اوداشان په دې تیرشوی حدیث کښې قرات ته ئې صلوة وئیلی دی. په دې سره په مونځ کښې چه کوم عظمت دې هغه معلومیږی او ظاهریږی چه قرات دمونځ اعلی رکن دې ،ددې وجې چې د عبادت مطلق نوم اخستې شوې دي.اوددې نه مرادیوجزې یعنی قرات ذکر کړې شوې دي.دا هم خیال کول پکاردی چه ددې خلاف هم کار شوې دی چې د قرات اطلاق کړې شوې دي اومراد تړې نه مونځ اخستې شوې دي. فرمان دې چه ﴿وَقُرْاٰنَ الْفَجْرِ ۭ اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا﴾ یعنی د صبا په مونځ فرښتې نازلیږی.په دې ځائې کښې دقران نه مرادمونځ دي.دبخاری اومسلم په حدیث کښې دی چه د سحر دمونځ په وخت کښې دشپې اود ورځې فرښتې جمع کیږی (۴)او ددې آیتونو او احادیثو نه هم دا معلومیږی چه په مونځ کښې قرات وئیل ضروری دی ، اودعالمانو هم په دې اتفاق دې.

---

[۱]) صحیح مسلم کتاب الصلاة المسافرین باب فضل الفاتحة وخواتیم سورة البقرة : ۸۰۶، نسائی: ۹۱۳، ابن حبان: ۷۷۸)-

[۲]) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب وجوب قراءةالفاتحة الکتاب ....۳۹۵، نسائی: ۹۱۰، ابوداود: ۸۲۱، ترمذی: ۲۹۵۳، ابن ماجة: ۷۳۷)-

[۳]) احمد: ۱۱٤/۵، زوائد عبدالله بن احمد وسنده صحیح)-

[۴]) صحیح بخاری کتاب الاذان بآب فضل صلاة الفجر فی الجماعة : ٦٤٨، صحیح مسلم: ٦٤٩)-

Scanned with CamSc

په مانځه کښې د سورة فاتحې عدم فرضیت:-په دې کښې اختلاف دې چه په مونځ کښې دسورت فاتحې وئیل ضروری دی اوکه د قرآن پاك نه چه څه وائی نو کافی دی. ①امام ابو حنیفه رحمه الله اوددوی ملګری وغیره وائی چه ددې وئیل متعین نه دی بلکه د قران نه چه څه اووائی نوهغه کافی وی. دهغوی دلیل دا آیت ﴿ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ ﴾ دې یعنی چه په قرآن کښې څه آسان وی نو وائی. دبخاری او مسلم په حدیث کښې دی چه یو سړی زر زر مونځ کولو نو حضور ﷺ ورته اووئیل کله چې ته مونځ ته اودریږې نوتکبیر وایه ،بیا چه څه د قران نه تاته آسان وی نو هغه اووایه (۱)، هغوی فرمائی چه د نبی کریم ﷺ دې سړی ته دا فرمائیل او د سورت فاتحې تعین نه کول ددې نه دا ښکاری چه څه د قرآن نه اووائی نو هغه کافی دی.

په مانځه کښې د سورة فاتحې فرضیت:-②دویم قول دادې چه دسورت فاتحې وئیل ضروری دی. او ددې دوئیلونه بغیر مونځ نه کیږی ددې (امامانو) نه علاوه دنوروټولو امامانو هم دا قول دې. حضرت امام مالك رحمه الله ، حضرت امام شافعی رحمه الله ،حضرت امام حنبل اوددوی ټول په ټوله شاګردان وغیره او جمهور علماء کرامو هم دا قول دې. دهغوی دلیل د نبی کریم ﷺ دا حدیث مبارك دې چه کوم دالله ﷻ رسول فرمائیلې دې چه کوم سړې مونځ اوکړی که هر یو مونځ وی او په دې کښې ام القران اونه وائی نو د هغه مونځ ناقص دې پوره نه دې (۲)

داشان ددې بزرګانو دا دلیل هم دې چه کوم په بخاری او مسلم کښې دحضرت عباده ابن صامت رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ فرمائیلی دی چه کوم سړې سورة فاتحه اونه وائی نودده مونځ اونشو (۳).

صحیح ابن خزیمه اوصحیح ابن حبان کښې حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ فرمائیلی دی چه هغه مونځ نه دې چه په هغې کښې ام القران اونه وئیلې شی. (۴)ددوی نه علاوه نور هم ډیراحادیث دی،مونږ ته پدې ځائې کښې مناظرانه طریقه نه دی اختیارول پکار. هغه ډیر اوږد بحثونه دی.مونږ خو مختصر طور سره د بزرګانو دلائل بیان کړی دی. (والله اعلم).

په هر رکعت کښې د فاتحې لوستلو حکم

په هر رکعت کښې د فاتحې لوستلو حکم:-①اوس دا هم واورئی چه امام شافعی رحمه الله وغیره علماء کرامو رحمهم الله یو لوی ډلې خو دا مذهب دې چه دسورت فاتحې په هر رکعت کښې وینا واجب ده ②اوبعضې خلق وائی چه په اکثرو رکعتونوکښې وئیل واجب دی.③ اوبعضې وائی چه په مونځونو کښې په یو رکعت کښې ددې وئیل واجب دی ، ددې وجې حدیث کښې دمونځ ذکر مطلق دی.حضرت ابو حنیفه رحمه الله او دده ملګری ثوری رحمه الله اواوزاعی رحمه الله وائی چه ددې وئیل متعین نه دی بلکه نور هم څه وئیل کافی دی. ځکه چه په قرآن کښې د ﴿مَا تَيَسَّرَ﴾ لفظ دې والله ا علم.

لیکن دا خیال دې وی چه دابن ماجه په حدیث کښې دی چه کوم سړې فرض وغیره دمونځ هر رکعت کښې سورة فاتحه اوسورت اونه وائی نو دده مونځ نه کیږی. (۵)البته ددې حدیث په صحت کښې نظر دې او ددې ټولو خبرو تفصیل داسماء الرجال په کتابونوکښې موجود ده. والله اعلم.

په مانځه کښې د سورت فاتحه لوستلو حکم

---

[۱]) صحیح بخاری کتاب الصلاة الاذان باب وجوب القراءة للامام والماموم فی الصلوة کلها....۷۵۷، صحیح مسلم: ۳۹۷)-

[۲])صحیح مسلم کتاب الصلاة باب وجوب القراة الفاتحة ....۸۷۸، ابوداود: ۸۲۲، ترمذی: ۲۹۵۳، نسائی: ۹۱۰، ابن ماجة: ۸۳۸)-.

[۳]) صحیح بخاری کتاب الصلاة الاذان باب وجوب القراءة للامام والماموم: ۷۵۶، صحیح مسلم: ۳۹٤)-

[٤]) ابن خزیمة : ٤۹۰، وسنده صحیح ابن حبان : ۱۷۸۹)-

[٥]) ابن ماجة کتاب اقامة الصلاة باب القراة خلف الامام: ۸۳۹،)-

Scanned with CamSc

مسلک حنفی:-دعالمانو ﷺ په دې باره کښې اختلاف دې.چه په مانځه کښې دننه د قران قرات په څومره مقدار فرض او رکن دې.① زمونږ د عالمانو مذهب دا دې.چه مطلقاً د قران قرات فرض دې.که یو آیت ئې اووئیل.نو رکن قرات ادا شو.باقی د سورة فاتحه لوستل او ددې سره د سورت ملاوول دا دواړه زمونږ په نیز په واجباتو کښې دی. (تسهیل الهدایه شرح هدایه (۳۲۳۱۱)۔

په قراءت خلف الامام کښې اختلاف:په مقتدی باندې سورة فاتحه دواجب کیدوپه مسئله کښې د عالمانو دریې اقوال دی.①رومبې قول دادې چه د سورت فاتحې وئیل چه څنګه په امام واجب دی دغه شان په مقتدی باندې هم واجب دی . ددې دلیل هغه عام حدیث دې چه اوس د دونمې فائدې په بیان کښې تیرشو ②دویم قول دادې چه د سره د مقتدی په ذمه باندې قرات واجب نه دې . نه د سورت اونه نورڅه اونه په جهری مونځ کښې اونه په سری مونځ کښې.ددوی دلیل دمسند احمد هغه حدیث دې چه په کوم کښې چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه د چا امام وی نو دامام قرات دهغه قرات دې. (۱)لهکن دا روایت ضعیف دې اودا پخپله دحضرت جابر ﷺ دقول نه روایت دې. اګر چه ددې مرفوع حدیث سندونه هم شته دې لیکن هیڅ یو سندصحیح نه دې . والله اعلم . ③ دریم دادې چه په کومو مونځونو کښې امام په رو قرات کوی په هغې کښې په مقتدی باندې قرات واجب دې ، لیکن چه په کومو مونځونو کښې قرات په زوره وئیلې کیږی په هغې کښې واجب نه دې. ددوی دلیل دصحیح مسلم والا حدیث دې چه امام ددې وجې مقرر شوې دې چه دهغه اقتداء اوکړې شی. دده تکبیر چه واوري نوتکبیر اووائې اوکله چه قرات وائی نوتاسو چپ اوسئ(۲)په سنن کښې هم داحدیث دې(۳) امام مسلم رحمه الله ددې تصحیح کړې ده. دامام شافعی رحمه الله رومبې قول هم دا دې . او امام احمد نه هم دا یو روایت دې. (۴)

د قراءت خلف الامام حکم

مسلک حنفی:- امام قدوری رحمه الله د احنافو ﷺ مسلك نقل کوی.اوفرمائی.چه مقتدی به په امام پسې بیخی قرات نه وائی.نه فاتحه او نه سورت،که جهری مونځ وی اوکه سری مونځ وی.(تسهیل الهدایه (۳۷۵۱۱)۔

د احکامو په اعتبار سره د فاتحې اهمیت:- زمونږ غرض ددې مسائلو دبیانولونه دادې چه دسورة فاتحې سره داحکامو څومره تعلق دې دبل یو سورت سره نشته دې. په مسند بزاز کښې حدیث دې چه رسول کریم ﷺ فرمائی چه کله تاسو په بستره باندې ځملئ اوسورت فاتحه او سورت اخلاص اووائې نو دمرګ نه سوا دهر څهز نه به په امن کښې راشئ . (۵)

د (اعوذ بالله) تفسیر او ددې احکام

د بدئ بدله په نیکئ سره ورکړه ①په قران کریم کښې دی چه﴿قُلِ الْعَفْوَ﴾ یعنی تاسود معاف کولو عادت خپل کړئی، دنیکئ حکم کوئی او دجاهلانو نه مخ اړوئی، که شیطان طرف نه څه وسوسه وی نو دالله ﷻ سره پناه اوغواړئی چه اوریدنکې اوعلم والا دې②په یو مقام فرمانی چه﴿اِدْفَعْ بِالَّتِیْ﴾ بدئی په نیکئ سره ختمې کړئی. مونږ ددوی بیانات ښه پیژنو③وائی چه انې پروردګاره د شیطان دوسوسو نه اوددې دحاضرئی نه مونږ ستا پناه غواړو④ارشاد کیږی چه ﴿اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ فَاِذَا الَّذِیْ﴾ یعنی په ښه طریقه ئې

---

[۱]) ابن ماجة كتاب الصلاة بآب اذا قراة الامام فانصتوا: ۸۵۰)۔

[۲]) صحيح مسلم كتاب الصلاة بآب التشهد فى الصلاة : ۹۰۵)۔

[۳]) روا ه ابوداود : ۶۰۴، نسائى : ۹۲۴، ابن ما جة : ۸۳۴، وهو صحيح)۔

[۴]) ابوداود كتاب الصلاة من ترک القراة فى صلاته بفاتحة الكتاب : ۸۲۳، ترمذى: ۳۱۱، نسائى: ۹۲۱، صحيح)۔

[۵]) حافظ هيثمى دادمسند البزار حوالې سره مجمع الزوائد ۱۷۱/۱ کښې نقل کړی دی)۔

Scanned with CamSc

لري کړئی. که په تاسو کښې او دبل کس دښمنی وی نوهغه به داسې شی لکه ولی،دوست،دا کار دصبر کوونکو دې او نصیب والو دې .

کله چه شیطانی وسوسه راشی نودالله ﷻ آوریدونکی او علم واله نه پناه غواړئی. په دې دریو آیتونو کښې دالله ﷻ حکم دې چه په انسانانو کښې چه کوم تاسو سره دښمنی کوی نودهغه ددښمنۍ علاج دادې چه دهغه سره نیکی کوئی اواحسان کوئی چه دهغه انصاف والا طبیعت پخپله هغه شرمنده کړی چه هغه نه صرف ستا ددښمنۍ نه منع شی بلکه ستا بهترین دوست جوړ شی.

د شیطان نه حفاظت وسله: اودشیطانانو د دښمنۍ نه د بچ کیدو دپاره هغه لوئې ذات درته خپله پناه اوخودله.خکه چه دا پلید دښمن په احسان سره په قبضه کښې نه رازی.ده ته خو د انسان په تباهۍ او بربادۍ کښې خوند حاصلیږی. او دده سره ئې پخوانۍ دښمنی دحضرت آدم ﷺ د وخت نه ده. ①قرآن فرمائی چه اې بنی آدمو گورې هسې نه چه شیطان تاسو لره دهوکه نه کړی لکه څنګه چه ئې ستاسو پلاردجنت نه راوښکلې وو ② په یومقام فرمائی چه شیطان ستاسو دښمن دې،دې دښمن ګڼړئی. دده د ډلې خوهم داخواهش دې چې تاسو جهنمیان شئ.③ په یوبل ځائې کښې فرمائی چه تاسو ددې شیطان او دده د اولاد سره دوستی کوئ او ما پریږدئی. هغه ستاسو دښمن دې ، یاد ساتئی دظالمانو دپاره خرابه بدله ده.

د قراءت نه وړاندې تعوذ غوښتل:-هم دا هغه لعین دې چه ده قسم خوړلې دې اوزمونږ پلارحضرت آدم ﷺ ته ئیې وئیلی وو چه زه ستا خیرخواه یم. نواوس خیال اوکړئی چه مونږ سره دده څه معامله وی؟ زمونږ دپاره خوهغه قسم کړې دې چه په الله ﷻ رب العزت قسم چه زه به دوی دهوکه کوم. ددې وجې دالله ﷻ فرمان دې چه﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾ کله چه قران پاک تلاوت کوی نو دالله ﷻ پناه غواړئی دشیطان رټلۍ شوی نه. په ایمان والو اوپه الله ﷻ باندې توکل کوونکو والوباندې دده هیڅ زورنه رسی.دده زور خو په هغه چا باندې رسی چه ده سره دوستی کوی اودالله ﷻسره شریک جوړوی.

تعوذ د قراءت نه وړاندې نه پس:①دقاریانو یوه ډله خو وائی چه دقران لوستلو نه پس ﴿اَعُوذُبِاللّٰهِ﴾ وئیل پکار دی. په دې کښې دوه فائدې دی. یوخو د قران په طرز باندې عمل. بل دعبادت نه پس دغرور خاتمه .ابوحاتم سجستانی ؒ او ابن فلوفا د حمزه مذهب نقل کړې دې .لکه څنګه چه ابوالقاسم یوسف بن علی بن جناده په خپل کتاب العبادت الکامل کښې بیان دې. حضرت ابوهریره ﷺ نه هم دا روایت دې لیکن اسناد ئې غریب دی. رازی ؒ په خپل تفسیر کښې دا نقل کړې دې او فرمائی چه د ابراهیم نخعی ؒ اوداودظاهری ؒ هم دا قول دې. قرطبی ؒ دامام مالك ؒ مذهب هم دابیان کړې دې.خو ابن العربی ؒ فرمائی چه دا غریب دې②یومذهب دا هم دې چه په اول اوآخر دواړو مقاماتو باندې ﴿ اَعُوذُبِاللّٰهِ﴾ دې وائی چه دواړه دلیلونه جمع شی③اودجمهورعلماء کرامومشهور مذهب دادې چه دتلاوت نه مخکښې ﴿اَعُوذُبِاللّٰهِ﴾ وئیل پکار دی چه وسوسې لرې شی. نوددې بزرګانو په نیز د آیت معنی داده چه کله وایې نو یعنی چه کله وئیل غواړی نو اوبه شی لکه آیت ﴿ فَإِذَا قُمْتُمْ ﴾ یعنی کله چه تاسو مونځ دپاره اودریږئی نو (اودس کوئی) معنی چه کله تاسو مونځ دپاره د اودریدو اراده اوکړئی. د احادیثوپه رنړا کښې هم دا معنی صحیح معلومیږی .

په مانځه کښې د قراءت نه وړاندې تعوذ:-مسند احمد کښې حدیث دې چه کله به رسول کریم ﷺ د شپې مونځ دپاره اودریدلو نو الله اکبر سره به ئې مونځ شروع کولو، بیا به ئې ﴿سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا اله غيرك﴾ وئیل دري ځله به ئې﴿لا اله الا الله﴾وئیل بیابه ئې فرمائیل چه ﴿اعوذبالله السميع

العلیم من الشیطان الرجیم من همزه ونفخه ونفثه ﴾ [۱] په سنن اربعه کښې هم دا حدیث دې . امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه په دې باب کښې دټولو نه مشهور هم دا دی. دهمزه معنی دمرئی خفه کولو او د نفخ تکبر او د نفث معنی شعر وئیل دی. دابن ماجه په یو روایت کښې هم دا معنی بیان شوې ده. اوپه دې کښې دی چه حضرت رسول اکرم ﷺ مونځ ته داخلیدو نو دریځل به ئې ﴿الله اکبر کبیرا﴾ اودریځل به ئې ﴿الحمد لله کثیرا﴾ وئیل. بیا به ئې فرمائیل چه ﴿سُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا﴾ [۲] بیا به ئې فرمائیل چه ﴿اللهم انی اعوذبك من الشیطان من همزه ونفخه ونفثه ﴾ په ابن ماجه کښې په بل سند سره دا روایت مختصر راغلی دی [۳]. د مسند احمد په حدیث کښې دی چه دوی مخکښې دریځل تکبیر فرمائیلو،بیابه ئې دریځل ﴿سبحان الله وبحمده﴾ آخر پورې فرمائل [۴].

په تعوذ سره غصه ختمیدل:-په مسند ابویعلی کښې دی چه د رسول کریم ﷺ مخکښې دوه سړی په جنګ شو.دیو غصه ډیره زیاته شوه. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که دې ﴿اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ﴾ اووائی نوده غصه به اوس ختمه شی. په دې کښې دومره اضافه ده نسائی په خپل کتاب کښې هم دا روایت کړې دی.مسند احمد ، ابوداود ، ترمذی کښې هم دا حدیث دې [۵].

په یو روایت کښې اضافه:-هم ددې په یو بل روایت کښې دومره زیاتوالې نورهم دې چه حضرت معاذ رضی الله عنه دې سړی ته د لوستلو اوفرمائیل. لیکن هغه اونه وئیل اودهغه غصه نوره هم زیاته شوه. امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه دا اضافې والا روایت مرسل دی،ددې وجې عبدالرحمان بن ابی لیلی رحمه الله چه د حضرت معاذ رضی الله عنه نه دا روایت کوی،دده حضرت معاذ رضی الله عنه سره ملاقات کول ثابت نه دی. بلکه دې شل کاله مخکښې وفات شوې وو.خو دا کیدیشی چه عبدالرحمان رحمه الله د حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه نه آوریدلې وی.هغه هم ددې حدیث راوی دې.اوهغه ئې حضرت عبدالرحمان ته رسولې وی.ځکه چه ددې واقعې په وخت کښې خوډیر صحابه کرام رضی الله عنهم موجود وو.صحیح بخاری،صحیح مسلم،ابوداود ، نسائی کښې هم مختلفوسندونو سره مختلفو الفاظو سره دا حدیث روایت شوې دې. [۶] د استعاذې متعلق نورهم ډیر احادیث دی خو په دې ځائې دهغې بیانولو سره به بحث اوږد شی. ددې بیان دپاره د اذکارو او فضائل او داعمالودفضائلودبیان کتابونه دی. والله اعلم.

په اوله وحی کښې هم د تعوذ حکم:-په یو روایت کښې دی چه کله حضرت جبریل علیه السلام د رومبنۍ وحی سره حضرت محمد ﷺ ته تشریف راوړو نو ورته ئې د اعوذ بالله وئیلو حکم اوکړو. تفسیر ابن جریر کښې د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه په رومبی ځل کله حضرت جبریل علیه السلام حضرت محمد ﷺ لره وحی راوړه نو وې فرمائیل ﴿اعوذ﴾ اووایه. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ﴿استعیذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم﴾ بیا ئې اوفرمائیل چه ﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ﴾ حضرت عبدالله رضی الله عنه فرمائی چه د

سورة فاتحې د اولنی نزول روایت:-دټولونه رومبې سورت چه الله ﷻ د حضرت جبریل علیه السلام په ذریعه

---

[۱]) ابوداود کتاب الصلاة باب من رای الاستفاح بسبحانک اللهم وبحمدک : ۷۷۵، وسنده حسن . ترمذی : ۲۴۲، نسائی : ۹۰۰، ابن ما جة: ۸۰۴)-

[۲]) ابوداود کتاب الصلاة باب مایستفتح به الصلاة من الدعاء: ۷۶۴، وسنده حسن ابن ماجة: ۸۰۷)-

[۳]) ابن ماجة : ابواب اقامة الصلوة باب الاستعاذة فی الصلاة: ۸۰۸)-

[۴]) احمد: ۲۵۳/۵)-

[۵]) ابوداود کتاب الادب باب مایقول عند الغضب:۵۷۸۰، ترمذی: ۲۴۵، الیوم والیلة للنسائی: ۳۹۳، احمد:۲۴۰/۵،وهو حدیث صحیح بالشواهد)-

[۶])صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب صفة ابلیس وجنوده: ۲۷۸۲،صحیح مسلم:۲۶۱۰:ابوداود:۴۷۸۱، ابن حبان : ۵۶۹۲،)

Scanned with CamScanner

حضرت محمد ﷺ باندې نازل کړو هم دا سورت دې. لیکن دااثر غریب دی اوددې په اسناد کښې ضعف او انقطاع ده ، مونږ دا صرف په دې وجه بیان کړو چه معلوم شی. والله اعلم.

د تعوذ حکم: ①دجمهور عالمانو قول دې چه اعوذبالله وئیل مستحب دی ، واجب نه دی ددې په نه وئیلوکښې دې څه ګناه وی ②دعطاء بن ابی رباح رحمه الله قول دې چه کله هم څوک قرآن پاک لولی د اسعاذې لوستل واجب دی. که په مونځ کښې وی او که غیر د مونځ نه وی. امام رازی رحمه الله داقول نقل کړې دې ③ابن سیرین رحمه الله فرمائی چې په ټول عمر کښې یو ځل وئیلو سره وجوب ساقطیږی . د حضرت عطاء دقول دلیل دآیت ظاهری الفاظ دی. ځکه چه په دې کښې﴿ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ﴾ امر دې او د عربئ دقواعدو په لحاظ امر دوجوب دپاره وی اودغه شان د حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم په دې باندې همیشوالې کول هم ددې دوجوب دلیل دې او دې سره دشیطان شر لرې کیږی. اوددې لرې کیدل واجب دی او چه په کوم څیز سره واجب پوره کیږی نوهغه هم واجب ګرزی. او استعاذه زیات احتیاط والا ده. او دوجوب پوره طریقه دا هم ده ④دبعضې عالمانو قول دې چه ﴿ اَعُوْذُبِاللّٰهِ ﴾ وئیل د نبی کریم ﷺ باندې واجب وو.د نبی کریم ﷺ په امت باندې واجب نه دی⑤دامام مالک رحمه الله نه دا هم روایت دې چه په فرض مونځ کښې دې ﴿اَعُوْذُ﴾ اووائی.اودرمضان شریف داولې شپې مونځ کښې دې [اَعُوْذُ] اووائی.

د قراءت نه وړاندې د تعوذ وئیلو حکم

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز هم د قراءت نه وړاندې تعوذ سنت دې واجب نه دې ځکه چه نبی کریم ﷺ بعضې وختونو کښې بغیر د تعوذ نه قراءت کړې دې دا د عدم وجوب دلیل دې (تفسیرمظهری ۲۲۶،۲۲۷/۵)_

اعوذبالله به کله او کوم ځائې کښې وائی : حضرت امام شافعی رحمه الله په ،،الام،، کښې لیکی چه اعوذ دې زور سره اووائی. اوکه په پټه ئې اووائی نو بیاهم په دې کښې څه حرج نشته دې. او په ،،الام،، کښې لیکی چې په اوچت او رو وئیلوکښې اختیار دې. ځکه چه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه په پټه وئیل او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه په رو وئیل ثابت دی. دړومبی رکعت نه سوا په نورو رکعتونو کښې ﴿ اَعُوْذُ ﴾ وئیلو کښې د حضرت ا مام شافعی رحمه الله دوه اقوال دی. یودمستحب کیدو او بل د مستحب نه کیدو ، اوترجیح دویم قول ته ده ، والله اعلم.

د تعوذ کلمات: ①صرف ﴿اَعُوْذُبِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ﴾وئیل دحضرت ا مام شافعی رحمه الله اودحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز خو کافی دی② لیکن بعضې وائی چه ﴿ اعوذبالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم ان الله هوالسمیع العلیم ﴾ دې اووائی.د حضرت ثوری رحمه الله او دحضرت اوزاعی رحمه الله هم دا مذهب دې. ③ بعضې وائی چه ﴿ اِسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ﴾ دې اووائی چه دآیت پوره الفاظ ادا شی. اود حضرت ابن عباس رضی الله عنه په حدیث باندې هم عمل اوشی. چه مخکښې تیر شوې دې. لیکن چه کوم صحیح احادیث مخکښې تیر شوی دی هغه د اتباع دپاره بهتر دی. والله اعلم.

په مونځ کښې ﴿اَعُوْذُبِاللّٰهِ﴾ وئیل د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او حضرت امام محمد رحمه الله په نیز خو د تلاوت دپاره دې اودحضرت امام ابویوسف رحمه الله په نیز دمونځ دپاره دې. نومقتدی لره پکاردی چه وې وائی اګر چه هغه به قرات نه وائی.اود اختر په مونځ کښې دړومبی تکبیر نه پس وئیل پکار دی.

د مانځه په رکعتونو کښې د تعوذ حکم:-

مسلک حنفی:زمونږ په نیز د مونځ په شروع کښې تعوذ مسنون دې.(فتح القدیر) باقی پاتې شوه دا خبره.چه تعوذ د قرات تابع دے که د ثنې.نو په دے باره کښې زمونږ په عالمانو رحمهم الله کښې اختلاف دې.

Scanned with CamSc

①د طرفینو ﷺ په نیز تعوذ د قرات تابع دے د ثناء نه دي.② او د امام ابویوسف رحمه الله په نیز د ثناء تابع دي.نو د طرفینو په نیز چه په کوم کس باندې قرات واجب وی.هغه به تعوذ وائی.نو مسبوق به تعوذ وائی.ځکه چه په ده باندې په فوت شوو رکعتونو کښې قرات کول واجب دی.البته مقتدی به تعوذ نه وائی.ځکه چه په ده باندې قرات واجب نه دي.او د اخترونو په مونځ کښې به تعوذ د اختر د تکبیرونو نه روستو کوی.ځکه چه د اخترونو په اولنی رکعت کښې قرات د تکبیرات العیدین نه پس وی.او دامام ابویوسف رحمه الله په نیز چه څوک ثناء وائی.هغه به تعوذ هم وائی.دامام ابویوسف رحمه الله دلیل دا دي.چه تعوذ د ثناء د جنس څخه دي.ځکه چه لکه څنګه ثناء دعا ده.دغه شان تعوذ هم یوه دعا ده.اود څیز تابع د هغه نه پس وی.نو ثابته شوه.چه تعوذ د ثناء تابع دي.د قرات نه دي.اود طرفینو ﷺ دلیل د الله تعالی قول دي.﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ ﴾ دي.(تسهیل الهدایه (۲۳۰۱۱) -

په مونځ کښې د تعوذ حکم:- دجمهور عالمانو مذهب دي چه داختر تکبیرونه مکمل کیدونه پس دي اعوذبالله اووائی. بیا دي قرات اووائی.

د تعوذ فائدې:- ①په اعوذ کښې عجیبه عجیبه فائدې دی. اخوا دیخوا خبرې دخلې نه اوزی هغه په دي سره پاکیږی. اوخله د کلام الله د تلاوت جوګه شی②داشان په دي کښې دالله ﷻ نه مدد غوښتل دی ③اودهغه دعظیم الشان قدرتونو اقرارکول دی④اوددي باطنی ښکاره دښمن په مقابله کښې د خپلې کمزورئ او عاجزئی اقرار کول دی.ځکه چه د انسانی دښمن مقابله کیدیشی . په احسان او ښیګړې سره دهغه دښمنی لرې کیدیشی.لکه څنګه چه دقران کریم پدې دریو آیتونوکښې دی چه کوم مخکښې بیان شو.اوپه بل ځائې کښې ارشاددي چه﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ ﴾ یعنی ځما خاص بندګانوباندې ستا غلبه نشته دي. درب وکالت کافی دي. الله ﷻ د دښمنان اسلام په مقابله کښې خپلې فربښتې اولیږلې او هغه دښمنان نې تباه کړه.

د کافراو د شیطان په مغلوب کښې فرق:یوه اهمه خبره یاده ساتئی چه کوم مسلمان دکافرودلاسه اووژلې شی هغه شهید دي. لیکن چه کوم ددي دباطنی دښمن شیطان دلاسه اووژلې شی نوهغه به ښه حالت کښې نه وی.اوچه په چا کفار غالب راشی نوهغه ته به بدله ورکړې کیږی لیکن چه په چا باندې شیطان غالب راشی نوهغه به هلاك شی.ځکه شیطان انسان وینی خوانسان شیطان نه وینی. ددي وجې په قران عظیم کښې تعلیم دي چه تاسو دده دشر نه دهغه لوئې ذات پناه غواړئی چه ته هغه ګوری او دوی هغه ته نه شی کتلې.

فصل . خلاصه دکلام

د تعوذ حکمت:- اعوذبالله وئیل دالله په حضور کښې زاری کول دی ، او دهرې بدئ والا دبدئی نه دهغه لوئې ذات په لمن کښې دراتلو پناه طلب کول دی . د عیاذ معنی خرابی لرې کول دی. او دلیاذة معنی ښیګړه حاصلول دی ، دمتنبی شعر دي چه :

یامن الوذبه فی ما اوامله ومن اعوذ مما احاذره

لایجبر الناس عظما انت کاسره ولا یهیضون عظما انت جابره

ترجمه :- اې هغه پاك ذاته چه دهغه ذات پورې ځماتول امیدونه پیوسته دی او اې هغه پروردګاره چه زه دهغه سره د ټولو خرابونه پناه غواړم. چه کوم یو هغه مات کړي دي هغه هیڅوك نشی جوړولې. او چه هغه کوم یو جوړ کړی نو بل څوك هغه نشی ماتولې.

د اعوذ معنی:-داعوذ معنی داده چه زه الله ﷻ سره پناه غواړم چه شیطان رجیم په دین او دنیا کښې ماته څه ضرر اونه رسوی. چه د کومو ماته حکم شوې دي هسې نه چه دهغې نه منع شم او چه دکومو کارونو نه منع کړې شوې یم هسې نه چه هغه خراب کارونه ځما دلاس نه اوشی.

Scanned with CamScanner

د انسان اود شیطان د ضرر نه د بچ کیدو دوه مختلفې طریقې:- داظاهره ده چه د شیطان نه د بچ کولو والا سوا دیو رب نه نور هیڅوك نشته دې. ددې وجې پروردګار عالم دانسان دشر نه دمحفوظ پاتې کیدلو دپاره خو دسلوك او احسان طریقه خودلې ده اودشیطان د شر نه دبچ کیدو دپاره ئې دا صورت خودلې دې چه مونږ دهغه پاك ذات نه پناه اوغواړو. ځکه چه هغه ته رشوت ورنه کړې شی اونه د بنیګړې آودسلوك په وجه هغه دخپل شرارت نه منع کیږی ،دده د بدو نه دبچ کیدو والا خوصرف یو الله ﷻ دې. په مخکښې دریو آیتونوکښې دا مضمون تیر شوې دې. په سورة اعراف کښې دی چه ﴿خُذِالْعَفْوَ﴾ الخ او په سورة مومنون کښې دی ﴿ اِدْفَعْ بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ ﴾ او په سورة سجده کښې دی﴿ وَلَا تَسْتَوِی الْحَسَنَةُ﴾ الخ ، ددې دریو وارو آیتونو مفصل بیان او ترجمه مخکښې تیره شوې ده.

د شیطان لفظی تحقیق:- ① لفظ دشیطان د شطن نه جوړ دې. ددې لفظی معنی دلرې والی ده. چونکه دا مردود هم د انسانی طبیعت نه لرې دې بلکه دهرې بنیګړې نه لرې دې ددې وجې ده ته شیطان وئیلې شی. ②او داهم وئیلې شوی دی چه دا د شاط نه مشتق دې . ځکه چې دې د اور نه پیدا شوې دې. آودشاط معنی هم اور ده. بعضو وئیلی دی چه د معنې په لحاظ سره دا قول صحیح دې لیکن اول زیات صحیح دې. دعربو دشاعرانو په شعرونوکښې هم ددې تصدیق ملاویږی. د امیه بن ابوصلت او نابغه په شعرونو کښې هم دا لفظ دشطن نه مشتق دې او د لرې والی په معنی مستعمل دې. د سیبویه قول دې چه کله یو شیطان کار اوکړی نو عرب وائی چه ﴿ تشیطن فلان ﴾ دا نه وائی چه ﴿ تشیط فلان﴾ ، ددې نه ثابته شوه چه دا لفظ د شاط نه نۀ دې بلکه د شطن نه ماخوذ دې . او ددې صحیح معنی هم لرې والی ده،چه کوم جنات انسانان او حیوانات سرکشی اوکړی نودوی ته شیطان وئیلې شی. په قران پاك کښې دی چه ﴿ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِیٍّ عَدُوًّا شَیٰطِیْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ﴾ الخ ، یعنی داشان مونږ دهر نبی د بنمنان شیاطین دانسانانواو جناتو نه جوړ کړی دی ، چه په خپلوکښې یو بل ته د دهوکې خبرې کوی.

انسی شیطان هم شته:-په مسند احمد کښې د حضرت ابوذر ﷺ نه حدیث روایت شوې دې چه نبی کریم ﷺ دوی ته اوفرمائیل انې ابوذر ﷺ !دجناتو او انسانانو د شیطان نه دالله ﷻ پناه اوغواړه. ما اووئیل چه آیا په انسانانوکښې هم شیطانان شته دې . حضرت نبی اکرم ﷺ دوی ته اوفرمائیل چه ابوذر ﷺ !آو()

تور سپې کله شیطان هم وی:-صحیح مسلم کښې هم ددوی نه روایت دې چه حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه مونځ لره ښځه،خر اوتور سپې ماتوی. ما اووئیل چه حضور ! سور، زیړ سپو کښې د تور سپی څه تخصیص دې ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تور سپې شیطان دې .()

حضرت عمر فاروق ﷺ یو ځل په ترکی اس باندې سور شو اوهغه ډیر په ناز ونعم باندې تګ کولو. حضرت عمر فاروق ﷺ دا اس اووهلو خوبیا به هم ډیر په ناز ونعم سره روان وو. دوی ترې راکوز شول فرمائی چه تاسو خو خما د سورلئ دپاره څوك شیطان راوستې دې. خما په نفس کښې کبر راتلل شروع شو. نوما ددې نه کوزیدل مناسب اوګنړل.

د رجیم معنی:-د رجیم او فعیل په وزن باندې دمفعول په معنی سره دې. یعنی هغه مرجوم دې یعنی دهرې بنیګړې نه لرې کړې شوې دې. لکه چه الله فرمائی ﴿وَزَیَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْیَا بِمَصَابِیْحَ ۖ وَحِفْظًا ۭ﴾ الخ ، مونږ ددنیا آسمان په ستورو سره ښائسته کړو او دا مو د شیطانانو دپاره رجم جوړ کړې دې﴿ اِنَّا زَیَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْیَا بِزِیْنَةِ الْكَوَاكِبِ ۝﴾ الخ مونږ ددنیا آسمان ته زینت ورکړو او دهر سرکشه شیطان نه مو دده حفاظت اوکړو. دوی داعلی فربښتو خبرې نه آوری. اودهر طرف نه وهلې کیږی او تبښتولې شی او دا لازمی عذاب

---

[1]) احمد:۱۷۸/۵، نسائی کتاب الاستعاذ باب الاستعاذة من شرالشیطان الانس: ۵۵۰۹)-

[2]) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب ما یستر المصلی :۵۱۰، ابوداود: ۷۰۲، نسائی: ۷۵۱، ابن ماجة: ۹۵۷، ابن حبان: ۲۳۸۵)-

Scanned with CamSc

ددوی دپاره دي. چه کوم یو په دوی کښې خبره واوری او په منډه شی نو هغه پسې یو چمك داره شعله ورویشتلې شی. یو ځائې کښې ارشاد دي چه ﴿وَلَقَدْ جَعَلْنَا فِي السَّمَآءِ بُرُوْجًا﴾ الخ یعنی مونږ آسمان کښې برجونه جوړ کړی دی او دي ته دکتونکووالو دپاره مو زینت جوړ کړو. اودهر روند شیطان نه مونږ محفوظ کړوخوچه کوم یو څه خبره پته کړی نودوی پسې یو پرقیدونکې شعله شی،داشان نور آیتونه هم دی.

د رجیم دویمه معنی:-د رجیم یو معنی دراجم هم ده ، چونکه شیطان په وسوسو او کمراهو سره رجم کوی نوده ته رجیم یعنی راجم وئیلې شی.

د بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ تفسیر

بِسْمِ	اللهِ	الرَّحْمٰنِ	الرَّحِيْمِ
شروع کوم اپه نوم د الله اچې بیحده مهربان ارحم کونکې دې			
دالله ﷻ د بخښنې کوؤنکی او مهربان په نوم شروع کوم ؛			

دبسم الله د جزئیت مسئله:- حضرات صحابه کرام ﷺ کتاب الله په دې سره شروع کړې وو. دعلماء کرامو اتفاق دي چه ﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ دسورت نمل یو آیت دي① البته په دې کښې اختلاف دي چه دادهرسورت په شروع کښې یومستقل آیت دي. چه ددې په شروع کښې لیکلې شوې دي② یادهر سورت بعضې آیت دي.③ یا داشان دسورت فاتحې ایت دي او د نورو سورتونو نۀ دي.④ یا صرف یو سورت د بل سورت نه د جدا کولو دپاره لیکلې شوې ده. او آیت نه دي. د عالمانواو سلفو اوخلقو په دې حکمونوکښې اختلاف دي . او په خپل خپل ځائې ددې تفصیل موجود دي.

سنن ابوداود کښې په صحیح سند سره حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دي چه رسول کریم ﷺ د سورتونو جداوالې نه پیژندو. ترکومې چه نبی کریم ﷺ باندې ﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ نه وه نازل شوې. () په مستدرك حاکم کښې داپه یومرسل حدیث کښې دحضرت سعید بن جبیر ﷺ نه هم روایت دي

په صحیح ابن خزیمه کښې حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دي چه رسول کریم ﷺ ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ د سورت فاتحې په شروع کښې په مونځ کښې اولوسلته. اودا ئې یو آیت شمیر کړو(۲)لیکن ددې یو راوی عمر بن هارون بلخی ضعیف دي. اوداشان یوروایت حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دي(۳)داشان د حضرت علی ﷺ حضرت ابن عباس ﷺ وغیره نه هم مروی دي حضرت عبدالله بن عباس ﷺ ، حضرت عبدالله بن عمر ﷺ،حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ،حضرت ابوهریره ﷺ،حضرت علی ﷺ اوحضرت عطاء رحمه الله ، حضرت طاؤس رحمه الله. حضرت سعید بن جبیر رحمه الله،حضرت مکحول رحمه الله اودحضرت زهر رحمه الله هم دا مذهب دي چه بسم الله دهر سورت یو مستقل آیت دي. سوا د سورت براءت نه .

ددې صحابه کرامو ﷺ اوتابعینو رحمهم الله نه علاوه حضرت عبدالله بن مبارك رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمة الله علیه،حضرت ا مام احمد رحمه الله،په یو قول کښې اودحضرت اسحاق بن راهویه رحمه الله او حضرت ابوعبیده قاسم بن سلام رحمه الله هم دامذهب دي. البته حضرت امام مالك رحمه الله،حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ،اوددوی ملګری وائی چه﴿بِسْمِ اللهِ﴾ الخ نه دسورت فاتحې یو آیت دي او نه د بل یوسورت ،دحضرت امام شافعی رحمه الله خو یو قول دا روایت دي چه داد سورت فاتحې یو آیت دي. خو د نورو

---

۱) ابو داود کتاب الصلاة باب من جهر بها : ۷۸۸، وهو صحیح)-

۲) ابن خزیمة باب الذکر الدلیل علی ان بسم الله الرحمان الرحیم: اية من الفاتحة الکتاب: ۴۹۳،)-

۳) دار قطنی باب وجوب قراءة بسم الله الرحمان الرحیم : فی الصلاة : ۳۱۲/۱) وهو صحیح)-

Scanned with CamScanner

سورتونو نه نۀ دي. ددوی یو قول دا هم دي چه دا دهر سورت دشروع دایت حصه ده. لیکن دا دواړه اقوال غریب دی.

حضرت داود رحمه الله فرمائی چه دا د هر سورت په شروع کښې یو مستقل آیت دي. په سورت کښې داخل نه دي.د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه هم دا روایت دي. اود حضرت ابوبکر رازی رحمه الله او حضرت ابوالحسن کرخی رحمه الله هم دا مذهب بیان فرمائیلې دي. چه دوی د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله یو ډیر ښه ملګري هم دي. دا خو وو بحث د بسم الله د سورت فاتحې د آیت دکیدواو ده نه کیدو

په جهری مونځونو کښې د جهر او اخفاء په اعتبار د تسمیه وئیلو حکم:- اختلاف دي چه دا دي په اوچت آواز سره اووئیلې شی اوکه په روآواز سره . چه کوم خلق دا د سورت فاتحې آیت نه ګڼړی نوهغوی ددې د اوچت آواز د وئیلو قائل نه دی. داشان چه کوم خلق داسورت فاتحې نه بیل آیت منی هغوی ددې د رو آواز سره د وئیلو قائل دی. پاتې شو هغه خلق . چه هغوی داد هر سورت نه اول شمار کوی ، نو په هغوی کښې اختلاف دي.دحضرت امام شافعی رحمه الله مذهب دي چه دسورت فاتحې اودهر سورت نه مخکښې په اوچت آوازسره وئیل پکاردی.حضرات صحابه کرامو رضي الله عنهم اوتابعینواو دمخکښې مسلمانانو هم دا مذهب دي. په صحابه رضي الله عنهم کښې دا په اوچت آواز سره د وئیلو کښې حضرت ابوهریره رضي الله عنه ، حضرت ابن عمر رضي الله عنه ،حضرت ابن عباس رضي الله عنهماو حضرت ا میر معاویه رضي الله عنه دی. حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ، حضرت عمر رضي الله عنه،حضرت عثمان رضي الله عنه اودحضرت علی رضي الله عنه نه هم یو غریب سندسره امام خطیب رحمه الله نقل کړی دی. بیهقی رحمه الله اوابن عبدالبر رحمه الله دحضرت عمرفاروق رضي الله عنه اوحضرت علی رضي الله عنه نه همدا روایت نقل کړي دي. تابعینو کښې حضرت سعید بن جبیر رحمه الله ، حضرت عکرمه رحمه الله ، حضرت زهری رحمه الله ، حضرت علی بن حسن رحمه الله ،ددوی خوئې حضرت محمد بن سعید بن مسیب رحمه الله ، حضرت عطاء رحمه الله ، حضرت طاوس رحمه الله ،حضرت مجاهد رحمه الله ،حضرت ابن سیرین رحمه الله ،حضرت علی بن عبدالله بن عباس رضي الله عنه ددوی خوئې حضرت محمد نافع رحمه الله ، دحضرت ابن عمر مولی زید بن اسلم رحمه الله ، حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله ،ازرق بن قیس رحمه الله ،حبیب بن ابی ثابت رحمه الله حضرت ابوشعثاء مکحول رحمه الله ، حضرت عبدالله بن معقل بن مقرن رحمه الله ، اوپه روایت د بیهقی عبدالله بن صفوان رحمه الله ، حضرت محمد بن حنفیه رحمه الله ،او په روایت د حضرت ابن عبد البر عمر وبن دینار ،دوی ټولو به په هغه مونځ کښې ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ په زوره وئیله چه په کومو مونځونو کښې به قرات په زوره وئیلې کیدو .یو دلیل خوددې دادي چې هرکله دا آیت دسورة فاتحې نه دي نو بیا دیو پوره سورة په شان داهم په اوچت آواز لوستل پکار دی.دي نه علاوه سنن نسائی صحیح بن خزیمه ،صحیح ابن حبان ، مستدرك حاکم کښې روایت دي چه حضرت ابوهریره رضي الله عنه مونځ ورکړو اوپه قراءت کښې نې په اوچت آواز سره نې﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ اووئیله. اوفارغیدو نه پس نې اوفرمائیل چه زه په تاسو ټولوکښې زیات مشابه یم د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره په مونځ کښې . دي حدیث ته دارقطنی ، خطیب اوبیهقی وغیره صحیح وئیلی دی.(۱)

ابو داود اوترمذی کښې حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي چه حضرت ر سول کریم صلی الله علیه وسلم به مونځ دبسم الله نه شروع کولو. حضرت امام ترمذی رحمه الله ،فرمائی چه دا حدیث څه داسې زیات صحیح نه دي (۲)په مستدرك کښې هم ددوی نه روایت دي چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ په اوچت آواز سره وئیله . امام حاکم دي ته صحیح وئیلی دی. (۳)

---

[۱]) نسائی کتاب الافتتاح باب قراءة بسم الله الرحمان الرحیم: ۹۰۶، ابن خزیمة : ۴۹۹، ابن حبان: ۱۷۹۷، حاکم: ۲۳۷/۱،)-

[۲]) ترمذی ابواب الصلاة باب من رای الجهر بسم الله الرحمان الرحیم: ۲۴۵)-

[۳]) حاکم: ۲۰۸/۱،)-

Scanned with CamSc

د رسول کریم ﷺ دقراءت انداز:- په صحیح بخاری کښې دی چه د حضرت انس ﷺ نه سوال اوشو چه د رسول کریم ﷺ قراءت څنګه وو؟وې فرمائیل نبی کریم ﷺ به هرولاړ لفظ اوږدولو.بیا ئې﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ اووئیل. په بسم الله باندې ئې مد اوکړو په الرحمن ئې مد اوکړو او په رحیم ئې مد اوکړو ()
په مسند احمد ،سنن ابوداود، صحیح ابن خزیمه اومستدرك حاکم کښې د حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ به په هر هر آیت باندې وقف کولو. او د نبی کریم ﷺ قرات به جدا جدا وو. لکه ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾باندې به اودریدل اوبیابه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴾باندې اودریدل بیابه ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ باندې اودریدل بیا به﴿مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۭ﴾باندې اودریدل.دارقطنی دې ته صحیح وائی. ()
حضرت امام شافعی رحمه الله ،حضرت امام حاکم رحمه الله دحضرت انس ﷺ نه روایت کوی حضرت امیر معاویه ﷺ په مدینه منوره کښې مونځ ورکړو او بسم الله ئې اونه وئیله. نو چه کوم مهاجرین په هغه وخت کښې موجود وو نوهغوی اورتلو. نوبیا چه کله مونځ ته اودریدل نو وې وئیله. () غالبًا دومره احادیث اوآثار ددې مذهب د حجت دپاره کافی دی. باقی پاتې شو ددې خلاف آثار ، روایات،ددې سندونه،ددې تعلیل،ددې ضعف اوددې تقریرونه وغیره نوددې تفصیل په بل ځانې کښې دې.
دویم مذهب دادې چه په مونځ کښې ﴿ بِسْمِ اللّٰهِ ﴾ په اوچت آواز سره وئیل پکار دی ، څلو واړه خلفاء کرام ، عبدالله بن مغفل اوتابعین او ددې نه پس خلقو د نورو ډلو نه دا ثابت دی. حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله حضرت ثوری رحمه الله اود احمد بن حنبل رحمه الله هم دا مذهب دې.
د حضرت ا مام مالك رحمه الله مذهب دادې چه بالکل دې هډو﴿ بِسْمِ اللّٰهِ ﴾ ﷺ وائی نه په اوچت آواز او نه په رو.ددوی دلیل خو یو د صحیح مسلم والا دحضرت عائشه رضی الله عنها روایت دې چه رسول کریم ﷺ به مونځ د تکبیر اود قراءت د﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴾نه شروع کولو(۲)بخاری اومسلم کښې دحضرت انس ﷺ نه روایت دې چه مانبی کریم ﷺ پسې او حضرت ابوبکر صدیق ﷺ پسې اوحضرت عمر ﷺپسې مونځ کړې دې ټولو به د ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ﴾ نه شروع کوله.(۳)په مسلم کښې دی چه دبسم الله ذکر به ئې نه فرمائیلو نه د قراءت په شروع کښې او نه دقراءت په آخر کښې ()
په سنن کښې حضرت ابن مغفل نه هم روایت داشان روایت دې . (۴)دا دلیل دې د هغه انمه کرامو د بسم الله په رو وئیلو قائل دی. دا خیال دې وی چه دا څه لوئې اختلاف نه دې. هر یو ډله دیو بل د مونځ د صحت قائله ده .﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾

په جهری مونځ کښې د تسمیه د جهر او اخفاء حکم

مسلک حنفی:-صاحب د قدوری رحمه الله فرمائی.چه په تسمیه او تعوذ کښې به پتوالے کوی.یعنی په مانځه کښې به دا په پټه وائی.
دلیله:دلیل دابن مسعود ﷺ قول دې.چه څلور څیزونه داسې دی.کوم چه امام پټ وائی.هغه څلور څیزونه دا دی.تعوذ ،تسمیه ،تحمید (ربنالك الحمد)او آمین، صاحب د شرح نقایه د تحمید په ځائې

---

۱) صحیح بخاری کتاب فضائل القران باب مع القراة : ٥٠٤٦)-
۲) ابوداود کتاب الحروف والقراة: ٤٠٠، ترمذی:٢٩٧٧،احمد: ٣٠/٦،حاکم: ٢٣٢/٢، صحیح ابن خزیمة: ٤٩٣،دار قطنی :٣١٢/١)
۳) مسند الشافعی : ٨٠/١، رقم الحدیث: ٢٧٣، حاکم: ٢٣٢/١، وسنده حسن)-
۴) صحیح مسلم ، کتاب الصلاة باب ما یجمع صفة الصلاة وما ینفع به.....٤٩٨، ابوداود: ٧٨٣، ابن ماجة: ٨٥٩)-.
۵) صحیح بخاری : کتاب الاذان باب یقول بعد التکبیر: ٧٤٣، صحیح مسلم: ٣٩٩)-
۶) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب حجة من وقال لایجهر بالبسملة: ٣٩٩)-
۷) ترمذی : ابواب الصلاة باب ماجاء فی ترکل الجهر بسم الله الرحمان الرحیم: ٢٤٤، نسائی: ٩٠٩، ابن ماجة: ٨١٥)-

Scanned with CamSc

ثناء ذکرکړي ده.خکه چه امام محمد رحمه الله په اثار کښې روایت کړي دي(عن أبي حنيفة رضي الله عنه عن حماد عن ابراهيم النخعي أنه قال أربع تخفيهن الإمام التعو وبسم الله الرحمن الرحيم، وسبحانك اللهم وبحمدك وأمين) (شرح نقایه) (تسهیل الهدایه)۱\۳۲۱)-

فصل _ دبسم الله فضائل :-

بِسْمِ اللهِ د الله لویې نوم دي:- تفسیر ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت عثمان بن عفان د رسول کریم ﷺ نه د بسم الله متعلق پوښتنه اوکړه. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا دالله ﷻ نوم دي. دا دالله ﷻ دلویو نومونونه ده او په دې کښې دومره نزدیکت دي چه لکه د سترګې توروالي او سپین والي. ()

دبِسْمِ اللهِ په حروفو کښې اشاري:-په ابن مردویه کښې هم داشان روایت دي. اودا روایت هم په ابن مردویه کښې دي. چې رسول کریم ﷺ اوفرمائیل کله چې حضرت عیسی علیه السلام لره دده مور بی بی معلم سره کینولو نوهغه اووئیل چه بسم الله . حضرت عیسی علیه السلام اوفرمائیل چه دا بسم الله څه دی؟ استاد ورته اووئیل چه ماته پته نشته .حضرت عیسی علیه السلام ورته اوفرمائیل چه د " ب " نه مراد دالله ﷻ اوچتوالي ، د "س" نه مراد ددې سنا یعنی نور اورنړا ده . اود " م " نه مراد دهغه ذات مملکت یعنی بادشاهی ده. او الله ﷻ وائی دمعبودانو معبود ته او رحمن وائی په دنیا او آخرت کښې رحم کولووالا او رحیم وائی په آخرت کښې رحم اوکرم کولو والا . ابن جریر کښې هم دا روایت دي . لیکن د سند په لحاظ سره بیحد غریب دي. ممکن دی چه د چا صحابی وغیره نه روایت وی. او ممکن دی چه د بنی اسرائیلو د روایاتو نه وی او مرفوع حدیث نه وی. والله اعلم.

بِسْمِ اللهِ دي امت خصوصیت دي:- ابن مردویه کښې دی چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل ماباندې یو داسې آیت نازل شو چه په هیڅ یو نبی باندې نه دې نازل شوې سواد حضرت سلیمان علیه السلام . هغه آیت ﴿ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ ()دي .

دبسم الله د نزول په وخت کښې خارق العادت کارونه:-حضرت جابر رضي الله عنه فرمائی چه کله دا آیت نازل شو نو وریځې مشرق طرف ته لاړې او هواګانې اودریدې ،سمندرونه اودریدل ، ځناورو غوږونه کیخودل ، شیطانانوباندې دآسمان نه شغلې اوغورزولې شوې ،او پرودګار عالم په عزت اوجلال قسم اوخوړو او وې فرمائیل چه په کوم څیز باندې ځما دا نوم واخستلې شی په هغې کښې به ضرور برکت وی.

بسم الله وئیل د جهنم د نورلسو فرشتو نه حفاظت:-حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه څوک غواړی چه هغه دې دجهنم دنورلسو داروغه ګانو نه بچ شی نوهغه دې ﴿ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ وائی. ددې هم نورلس حروف یعنی توری دی. هر حرف به دهرې فرښتې نه دبچ کیدو ذریعه جوړه شی. دا ابن عطیه بیان کړې دي. او ددې تائید به په یو بل حدیث سره هم کړې دي په هغې کښې دی چه ماد دیرشو نه زیاتې فرښتې اوکتلې چه هغوی تیزی کوله. دا نبی کریم ﷺ په هغه وخت کښې بیان کړی وو چه کله یو سړی﴿ربنا ولك الحمد حمداكثيراطيبامباركافيه﴾ ()وئیلی وو.په دې کښې هم د دیرشو نه زیات حروف دی ، هم دومره فرښتې راکوزې شوې. داشان بسم الله کښې هم نورلس حروف دی . او په هغه ځائې کښې دفرښتو تعداد هم نورلس دي وغیره وغیره.

بسم الله سره شیطان ذلیل کیږی:- مسند احمد کښې دی چه د نبی کریم ﷺ په سورلۍ پسې چه کوم صحابی رضي الله عنه سور وو دهغوی بیان دې چه نبی کریم ﷺ اوښه لړه شان اوخوزیده نوما اووئیل چه دشیطان

---

[1]) الضعفاء للعقيلي : ۲/۱۶۲)-

[2])امام ابن کثیر سورة نمبل آیت نمبر ۳۰ لاندې فرمائی چه داحدیث پاک غریب دې اوددې سند ضعیف دې دا روایت مردود دې)

[3]) صحيح بخاری كتاب الاذان باب، رقم: ۱۲۶، رقم الحديث : ۸۹۹)-

Scanned with CamScanner

دې کور ویران شی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دا مه وایه په دې سره شیطان خوشحالیږی او خیال کوی چه ګویا دې نې دخپل قوت نه غوزار کړو. اوبسم الله وئیل سره هغه دمچ په شان ذلیل او خواریږی () نسائی په خپل «کتاب الیوم واللیلة» کښې او ابن مردویه په خپل تفسیر کښې هم داسې بیان کړې دې. او دصحابی ﷺ نوم نې ابن اسامه بن عمیر خودلې دې. او په دې کښې دی چه بسم الله وایه دا د بسم الله برکت دې()

بِسْمِ اللهِ نه وئیل بې برکتی ده:- چه ددې وجې دهر کار اودهرې خبرې په شروع کښې بسم الله وئیل مستحب دی. دخطبې په شروع کښې بسم الله وئیل پکار دی. په حدیث مبارک کښې دی چه کوم یو کار په بسم الله سره شروع نه شی نو په هغې کښې برکت نه وی. () بیت الخلاء (لیټرین) ته دتلو په وخت کښې دې بسم الله وائی .()

په اودس کښې بسم الله وئیل:په حدیث کښې داهم راغلی دی چې د اودس په وخت کښې دې هم وائی، مسند احمد او سنن کښې د حضرت ابوهریره ﷺ، سعید بن زید ﷺ او ابوسعید نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې په اودس کولو کښې دالله ﷻ نوم وانخلی نودده اودس نه کیږی. اوداحدیث حسن دې (). بعضې عالمان داودس په وخت کښې بسم الله وئیل واجب ښائی. بعضې د مطلق وجوب قائل دی.

د اودس په اول کښې د بسم الله حکم

صاحب دقدوری رحمه الله فرمائیلی دی.چه د دوارو لاسونو تر مړوندونو پورې وینځل خوپه اودس باندې وړاندې دی.خوچه کله اودس شروع کوی.① نود الله په نوم دے شروع کوی.او د تسمیه ادنی درجه دا ده.چه بسم الله اووائی.اوشروع اوکړی. اواعلی درجه نې دا ده.چه بسم الله الرحمن الرحیم اووائی. ②اوعلامه ابن الهمام رحمه الله فرمائیلی دی.چه امام طحاوی رحمه الله فرمائیلی دی.چه «بسم الله العظیم والحمدلله علی دین الإسلام» دے وائی.هم دادسلفو نه منقول ده.او بعضو فرمائیلی دی.چه دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مرفوعا نقل دی.(تسهیل الهدایه (۵۵۱۱)-

د ذبحې په وخت کښې بِسْمِ اللهِ وئیل:-د خناورو د ذبح کولو په وخت کښې هم ددې وئیل مستحب دی. د حضرت امام شافعی رحمه الله اودیوې ډلې هم دا خیال دې.بعضو دذکر په وخت کښې اوبعضو مطلق دې ته واجب وئیلی دی . ددې بیان به نزدې راشی.ان شاءالله تعالی

د متروك التسمیه خاوری حکم

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز په کوم څاروی چې د الله تعالی نوم وانخستې شی نو د دې دوه صورتونه دی یو دا چې د ذبحې په وخت کښې ترې د الله تعالی نوم هیر شی نو په دې صورت کښې دغه ذبیحه حلاله ده اودویم صورت دا دې چې په قصد باندې د الله تعالی نوم د ذبحې په وخت کښې وانخلی په دې صورت کښې دغه بیحه خوړل ناجائز او حرام دی (احکام القرآن للجصاص (۱۱۱۳)-

د جماع په وخت کښې بسم الله وئیل:- حضرت امام رازی رحمه الله په خپل کتاب کښې ددې آیت په فضیلت کښې ډیر احادیث نقل کړی دی. په یو کښې دی چه کله ته خپلې بی بی لره ورشې او بسم الله اووائې او

---

[1]) احمد: ۵۹/۵)-،

[2]) الیوم واللیلة للنسائی : ۵۵۹، وسنده ضعیف وهو صحیح بالشواهد)-

[3]) الطبقات الشافعیه : ۶/۱،)-

[4])ترمذی ابواب الجمعة باب ماذکر تسمیة من دخول الخلاء : ۶۰۶، ابن ماجة: ۲۹۷،)-،

[5]) احمد: ۴۱۸/۲، ابوداود: کتاب الطهارة باب فی التسمیة علی الوضوء: ۱۰۱، ابن ماجة: ۳۹۸)-

Scanned with CamScanner

هم ددې نه الله ﷻ تاته څه اولاد درکړی نو ددې اوددې د اولاد دساه ګانو په برابر به ستاپه اعمال نامه کښې نیکۍ لیکلې شی. خودا روایت بالکل بې اصل دې. ما خودا روایت چرته نه دې موندلې.
د خوراک وغیره خوړولو په وخت کښې هم بسم الله وئیل مستحب ده. صحیح مسلم کښې دی چه رسول کریم ﷺ حضرت عمربن ابوسلمه ﷺ ته اوفرمائیل (دوئ ستاسو په کور کښې د ام سلمه رضی الله عنها دمخکښې خاوند نه وو) چه بسم الله وایه او په ښی لاس سره خوراک کوه او خپلې مخښې نه نمړئی خوره (۱)
بعضې علماء کرامو په دې وخت کښې هم بسم الله وئیل واجب ګروزلې دی.

د خوراک نه وړاندې د بسم الله حکم

مسلک حنفی:-د خوراک نه وړاندې بسم الله وئیل سنت دی (منهاج الصالحین شرح ریاض الصالحین)-
د بی بی سره دملاویدو په وخت کښې هم بسم الله وئیل پکار دی. په بخاری شریف او صحیح مسلم شریف کښې دابن عباس ﷺ نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله تاسو نه څوک خپلې بی بی سره دملاویدو اراده اوکړی نو اودې وائی چه ﴿بسم الله اللهم جنب الشیطان وجنب الشیطان ما رزقتنا﴾ یعنی ای الله ﷻ مونږه او چه ته مونږ ته کوم اولاد راکوې هغه د شیطان نه اوساتې. فرمائی که ددې جماع نه حمل شو نو دې بچی ته به شیطان هیڅ کله نقصان نشی رسولې. (۲)
دبسم الله ،،با،، تعلق:-ددې ځائې نه دا هم معلومه شوه چه دبسم الله د"ب"تعلق چاسره دې. په دې کښې دنحویانودوه اقواله دی. اودواړه یو بل سره نزدې نزدې دی①بعضې وائی چه دا اسم دې②اوبعضې وائی چه دا فعل دې. د هریو دلیل په قرآن پاک کښې ملاویږی چه کوم خلق د اسم متعلق وائی هغوی خو وائی چه ﴿بِسْمِ اللّٰهِ ابتدانی﴾ یعنی دالله ﷻ دنوم سره څما شروع ده. په قرآن کښې دی چه ﴿ارْكَبُوا فِيهَا بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرٖىهَا وَمُرْسٰىهَا﴾ په دې کښې اسم مصدر ظاهر شوې دې. اوچه کوم خلق ئې د فعل سره مقدر وائی که هغه امر وی اوکه خبر لکه ﴿ابدا بِسْمِ اللّٰهِ﴾ او﴿ابتدات بِسْمِ اللّٰهِ﴾ ددوی دلیل دا آیت﴿اِقْرَاْ بِاسْمِ﴾ دې اصل کښې دواړه صحیح دی ددې وجهې نه چې دفعل دپاره دمصدرکیدل ضروری دی نواختیار دې چه فعل مقدر اومنلې شی او ددې مصدر مطابق ددې فعل چه ددې نوم مخکښې اخستې شوې دې اودریدل ، کښیناستل،خوراک کول،څکل،دقران پاک تلاوت کول یا اودس کول او مونځ وغیره وی نوددې ټولوپه شروع کښې دبرکت حاصلولو دپاره امداد غوښتلو دپاره او دقبولیت دپاره دالله ﷻ نوم اخستل پکار دی. والله اعلم.
نبی کریم ﷺ د بسم الله تعلیم ورکول:- ابن جریر او ابن ابی حاتم کښې روایت دې چه ابن عباس ﷺ فرمائی چه دټولونه مخکښې حضرت جبریل ﷺ چه کله حضرت محمد ﷺ ته وحی راوړه نووې فرمائیل ائې محمد ﷺ اوفرمائی چه ﴿استعذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم﴾ بیا اووایه چه ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ مقصد داوو چه پاسیدل ،کښیناستل ، وئیل ټول دې دالله ﷻ په نوم سره شروع کړې شی. (۳)
بې کاره بحث:-هم اسم (یعنی نوم) مسمی(یعنی نوم والا) دې یا څه نور او په دې کښې د عالمانو درې اقوال دی.یو داچه هم اسم مسمی دې.دابوعبید رحمه الله اوسیبویه رحمه الله هم داقول دې. باقلانی او ابن فورک هم دا خوښوی. ابن خطیب رازی رحمه الله د خپل تفسیرپه مقدماتو کښې لیکی چه حشویه او کرامیه او اشعریه خودا وائی چې اسم نفس مسمی دې اود نفس تسمې غیر دې. اومعتزله وائی چې اسم د مسمی

---

[۱]) صحیح بخاری: کتاب الاطعمة بآب التسمیة علی الطعام..... ۵۳۷۶ ، صحیح مسلم: ۲۰۲۲)-
[۲]) صحیح بخاری : کتاب الوضوء باب التسمیة علی کل حال وعند الوقاع: ۱۴۱، وانظر: ۳۲۷۱، صحیح مسلم: ۱۴۳۴، ابوداود: ۲۱۶۱، ترمذی : ۱۰۹۷، ابن ماجة: ۱۹۱۹)-
[۳]) الطبری : ۱/۵۰،۵۱)-

Scanned with CamSc

غیر دي. اونفس تسمیه دي .زمونږ په نیزاسم مسمی هم غیر دي او د تسمې هم غیر دي . مونږ وایو که ددې نه مراد لفظ وی چه د آوازونو د تکړو او دحرفونومجموعه ده نوبالبداهت ثابته ده چه دا د مسمی غیر دي.که د اسم نه مراد ذات مسمی وی نو دا وضاحت لره واضحه کوی چه محض بیکاردي. نو ظاهره ده چه په دې بیکاره بحث کښې پریوتل فضول دی.

په اسم او مسمی کښې فرق:-دې نه پس د اسم مسمی په فرق باندې دلائل موراوړی دی چه اسم او کله مسمی وی هډو وی نه لکه معدوم لفظ کله د یومسمی ډیر اسمونه وی لکه مترادف، کله اسم یو وی دمسمی ډیر اسمونه وی لکه مشترك .ددې نه معلومه شوه اسم بل څیز دي او مسمی بل څیز دي. یعنی نوم بیل څیز دي او نوم والا بیل څیز دي.او دلیل واورئی چه اسم خو لفظ دي او هغه عرض اوکله ذات وی،ممکن دی یا واجب .او واورئی که هم اسم مسمی اومنلې شی نوداور نوم آوریدو سره دې گرم والې محسوس شی او د واورې په آوریدو سره دې یخ والې محسوس شی، حالانکه هیڅ عقل والا داسې نه شی وئیلې.

د اسم او مسمی جدا جدا کیدو دلائل:-او دلیل واورئی دالله ﷻ فرمان دي چه دالله ﷻ ډیر بهترین نومونه دی ،تاسو په دې نومونو سره الله ﷻ لره بلئ . په حدیث شریف کښې دی چه دالله ﷻ یو کم سل نومونه دی نوخیال کوئی چه نومونه څومره زیات دی، حالانکه مسمی هم یو دي. اوهغه الله ﷻ وحده لاشریك له دي داشان ﴿اسماء﴾ دالله ﷻ طرف ته په دې آیت کښې مضاف کول او بل ځائې کښې فرمائی چه﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾ وغیره دا اضافت هم دي دا اضافت ددې تقاضا کوی چې اسم دې بل وی اومسمی دې بل وی،ځکه د اضافت مقتضاء مغائرت دي .دا شان دا حکم فرمائیل چه ﴿فَادْعُوهُ بِهَا﴾یعنی الله ﷻ لره دهغه په نومونو سره بلئ. دا هم ددې امر دلیل دي چه نو یو دي او نوم والا بل

د اسم او مسمی یو کیدو دلائل:-او اوس دهغه چا دلائل واورئی چه اسم اومسمی ته یو وائی.دالله ﷻ فرمان دي چه ﴿تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ﴾ یعنی جلال واکرام والا ستا د رب برکت والا نوم دی. نوم یو ته برکتونو والا وئیل حالانکه پخپله الله ﷻ برکتونو والادي ، ددې آسان جواب دادې چه ددې مقدس ذات په وجه دده نوم هم لوئې والا دي. دویم دلیل ددوی دادې چه کله یو سړې اووائی زینب ته طلاق نو طلاق په هغه ښځې د چاچې نوم زینب دي واقع کیږی،که نوم اونوم والا کښې فرق وی نوپه نوم به طلاق پریوتې وي. په نوم والا باندې څنگه پریوزی؟ ددې جواب دادې چې ددې نه مراد هم داوی چه په هغه ذات طلاق چه د هغه نوم زینب دي.دتسمیه داسم نه بیل کیدل ددې دلیل په وجه دی چه تسمیه وائی د چا نوم مقرر کولو او ظاهرولو ته چه دا څیز بیل او نوم بیل څیز دي.دحضرت امام رازی رحمه الله قول هم دادې چه دا ټول هر څه د لفظ باسم متعلق دی.

د الله لفظ اسم ذات دي:اوس لفظ " الله "معنی او اشتقاق متعلق واورئی دا "خاص"نوم دي. د رب تبارك وتعالی ﷻ. وئیلې شی چه اسم عظم هم دادې. ددې وجې چې ټولو ښو صفتونو سره هم دا موصوف وی . لکه څنگه چه په قرآن پاك کښې دي چه ﴿هُوَ اللَّهُ الَّذِي﴾یعنی الله ﷻ هغه ذات دي چه دهغه نه سوا بل معبودنشته چه د ټولو پټو ښکاره پیژندونکې دي . چه رحم کوونکې دي. اومهربانه دي. هغه الله ﷻ چه دهغه نه سوا بل څوك دعبادت لائق نشته چه بادشاه دي،پاك دي،سلامتیاوالا دي،امن والادي ، محافظ دي ،غلبې والا دي ، زبردست دي،لوئی والادي.هغه دهر شرك نه اودشرك دهر څیز نه پاك دي ،هغه الله ﷻ پیدا کولو والا دي ، جوړولو والادي،صورت بخښلووالا دي،دده دپاره بهترین پاك نومونه دی ،د آسمان او زمکې ټول څیزونه دهغه تسبیح بیانوی ،هغه ذات عزتونو والا او حکمتونو والا دي په دې آیتونو کښې باقی تمام نومونه صفتی دی ، اودلفظ الله صفات دی،نو اصلی نوم الله ﷻ دي لکه څنگه چه یو ځائې کښې فرمایی چه دالله ﷻ دپاره پاك او ښه نومونه دی نو تاسو هغه په دې نومونو سره

Scanned with CamS

بلئ.اوفرمائی چه الله ﷻ بلئ یارحمن بلنی چه کوم نوم سره بلئ هم دده ښائسته ښائسته او ښه ښه نومونه دی

دالله د نومونو یادولو فضیلت:- بخاری شریف اومسلم شریف کښې دی د حضرت ابو هریره ﷺ نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل دالله ﷻ یوکم سل نومونه دی چه څوک دا یاد کړی نوهغه جنتی دې. (۱)دترمذی شریف اوابن ماجه په روایت کښې ددې نومونو تفصیل هم راغلې دې. او په دواړو روایتونو کښې الفاظ څه بدل بدل دی. (۲)

دالله پنځه زره نومونه:رازی رحمه الله په خپل تفسیرکښې دبعضو خلقونه روایت کړې دې چه د الله ﷻ پنځه زره نومونه دی یو زرخو په قرآن کریم اوصحیح احادیثو کښې دی اویو زر په تورات کښې اویو زر په انجیل کښې او یو زر په زبور کښې اوزر په لوح محفوظ کښې دی.

د ،،الله،، د اشتقاق بحث:-الله ﷻ هغه نوم دې چه سوادالله ﷻ نه د بل چا نشته دې. هم داوجه ده چه تر ننه پورې عربو ته دامعلومه نشوه چه ددې اشتقاق څه دې ؟ ددې باب څه دې؟ بلکه دیو لوې ډلې دامذهب نقل شوې دې چې دا اسم جامد دې او ددې هډو اشتقاق نشته قرطبی رحمة الله دعلماء یو مذهب نقل کړې دې چه په هغې کښې حضرت امام شافعی رحمه الله،حضرت امام خطابی رحمه الله،او امام الحرمین رحمه الله او امام غزالی رحمه الله ،وغیره دی.

خلیل اوسیبویه نه روایت دې چه الف لام په دې کښې لازم دې. امام خطابی رحمه الله ددې یودلیل دا هم ورکړې دې چه یاالله ﷻ وئیلې خوشې خویا(الرَّحْمٰن)وئیلوباندې موڅوک نه دی لیدلی.که دالله لفظ کښې الف لام اصل کلمه نه وی نو په دې باندې د ندا لفظ (یا)نشو داخلیدلې ځکه د قواعد عربی لحاظ سره حرف د ندا په الف لام والا اسم باندې داخلیدل جائز نه دی.

دبعضې خلقو قول دا هم دې چه دامشتق دې اوپه دې باندې د روبه یو شعرددلیل په طور راوړی. چه په دې کښې مصدر(تاله) بیان دې چه ددې ماضی مضارع (اله،یأله) او(تألها)دې لکه حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه هغه (وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ) وائی ، ددې نه مراد عبادت دې. یعنی دهغه عبادت کولې شی دنور چا عبادت نشی کولې.مجاهد رحمه الله وغیره وائی چه بعضو په دې باندې دا ایت دلیل نیولې دې چه (وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ) اوآیت کښې (وَهُوَالَّذِيْ فِي السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّفِي الْاَرْضِ اِلٰهٌ) یعنی هم هغه الله ﷻ دې چه په آسمانونو او زمکه کښې هم هغه دې چه په آسمان کښې معبود دې او په زمکه کښې معبود دې.

سیبویه خلیل نه نقل کوی چه اصل کښې (اله) وو لکه (فعال)بیا همزه به بدله د الف لام کښې راوړې شو لکه (الناس) چه ددې اصل (اناس) دې. بعضو وئیلی دی د لفظ الله اصل (لاه) دې،الف لام حرف د تعظیم په طور راوړې شوې دې.دسیبویه هم داخوښ قول دې،دعربو شاعرانوپه شعرونوکښې هم دا لفظ ملاویږی.کسائی اوفراء وائی چه ددې اصل (الاله) وو،همزه حذف کړې شو اومخکښې لام په دویم کښې مدغم شو لکه (لکناهوالله ربی) کښې (لکن انا) (لکنا) شوې دې.نود حضرت حسن رحمه الله په قرات کښې هم (لکن انا) دې او ددې اشتقاق (وله) نه دې،او ددې معنی (تحیر) ده.(وله) عقل تلو ته وئیلې شی ،عربئ کښې (رجل واله) او (امراة ولهی) او (مولهة) په هغه وخت کښې وائی چه کله هغه خنګل ته لیږلې شی.چونکه دالله ﷻ دصفتونو په تحقیق کښې عقل حیرانیږی ددې وجهې دې ذات پاک ته وئیلې شی. په دې بناء باندې اصل کښې دا لفظ (ولاة) وو،واو په همزه سره بدل کړې شو لکه (وشاح)او(وسادة) کښې چې اشاح اواسادة وئیلې شی.

---

۱) صحیح بخاری : کتاب الشروط باب مایجوز فی الاشتراط : ۲۷۳٦، وانظر:۷۳۹۲، صحیح مسلم: ۲٦۷۷)-

۲) ترمذی: ابواب الدعوات باب حدیث فی اسماء الله الحسنی : ۳۵۰۷، ابن ماجة: ۳۸٦۱،)-

Scanned with CamScanner

درازی رحمه الله قول دي چه دا لفظ د ﴿الهت الی فلان﴾ نه مشتق دي چه په معنی کښې د ﴿سکنت﴾ هم هغه دي ، یعنی ما فلاني سره سکونت اوراحت حاصل کړو. چونکه دعقل سکون صرف دالله ﷻ ذات د ذکر طرف ته دي. اود روح حقیقی خوشحالی هم دهغه په معرفت کښې ده. ددي وجهې علی الاطلاق کامل هم دا دی ، ددي نه سوا نور څوک نه دي،هم ددي وجهې ده ته الله ﷻ وئیلي شی.قرآن مجید کښې دی چه﴿اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ﴾ یعنی دایمان والو زړونه صرف دالله ﷻ په ذکر سره اطمینان حاصلوی.

یوقول داهم دي چه د ﴿لاه یلوه﴾ نه ماخوذ دي چه ددي معنی پتیدل اوپرده کول دی،. اودا هم وئیلي شوی دی چه دا ﴿اله الفصیل﴾ نه دي، چونکه بندګان دي پاك ذات طرف ته تضرع او زاریٰ سره سجده کوی اوپه هر حال کښې دده درحمت لمن نیسی،ددي وجي دي پاك ذات ته الله ﷻ اوئیلي شو. یو قول داهم دي چه عرب ﴿اله الرجل یأله﴾ په هغه وخت کښې وائی کله چې دیو اچانك امر نه څوک اویریږی او بل هغه ته پناه ورکړی او بچ ئې کړی چونکه ټول مخلوق لره دهر مصیبت نه بچ کولو والا صرف سبحانه وتعالی دي ددي وجي پاك ذات ته الله وائی. لکه په قران کریم کښې دی چه﴿وَهُوَ يُجِيْرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ﴾ یعنی هغه ذات دي بچ کولووالااودهغه نه څوک نشی بچ کیدلي.حقیقی منعم هغه ذات دي.فرمائی چه تاسوسره څومره نعمتونه دی هغه ټول دالله ﷻ دطرف نه درکړې شوی دی. هم هغه ذات ﴿مطعم﴾ دي فرمائی چه هغه خوراك ورکوی او هغه ته څوك خوراك نه ورکوی.هم هغه موجد دي اوفرمائی چه دهر څیز وجود دالله ﷻ دطرف نه دي.د رازی رحمه الله مختارمذهب هم دادي لفظ الله مشتق نه دي ،خلیل سیبویه اکثر اصولی او دفقهاء کرام دا قول دي چه ددي ډیر زیات دلیلونه دی،که دا مشتق وي نوددي په معنی کښې به دډیرو سړو شرکت وي حالانکه داسې نه ده.

د ،، الله،، لفظ موصوف دي:بیا دا لفظ موصوف جوړولې شی او ددي ډیرزیات صفات رازی. لکه رحمان ، مالک، رحیم،قدوس وغیره.نومعلومه شوه چه دا مشتق نه دي. قرآن پاك کښې یو ځائي کښې ﴿عَزِيْزِ الْحَمِيْدِ اللّٰهِ﴾ چه کوم راغلي دي هغه ځائي دا عطف بیان شوي دي.یو دلیل ددي دمشتق نه کیدو دا هم دي چه ﴿هَلْ تَعْلَمُ لَهٗ سَمِيًّا﴾ یعنی آیاددهٔ څوک هم نامه هم تاسوپیژنئ ؟بیان کولې شی لیکن داغور طلب خبره ده. والله اعلم بعضې هغې خلقو دا هم وئیلی دی چه دا عبرانی لفظ دي ،

د الله د معرفت نه مخلوق عاجز دي:- رازی رحمه الله فرمائی چه دمخلوق دوه قسمونه دی یو خوهغه چې د معرفت الهی غاړې ته رسیدلی دی او دویم هغه چې ددي نه محروم دی. چه دحیرت په تیرو کښې پراته دی. اودجهالت په ازغنو میدانونو کښې پراته دی. هغوی خوعقل ورك کړي دي او روحانی کمالات نې هیرکړی دی. لیکن چه کوم د معرفت غاړې ته رسیدلی دی چه دنورانیت په فراخه باغونو کښې اوسیږی،چه هغوی دجلا ل اودکبریائی وسعت اندازه کړې ده.هغوی هم چې دي ځائي پوري رارسیدل نوحیران ولاړ پاتې شو او د بارګاه فردانیت او دربار صمدیت کښې حیران ولاړ دي.

غرض داچه ټول مخلوق د هغه د پوره معرفت نه عاجزه دی او پریشان اوحیران دی.نو دا ددي معانی په بناء د هغه ذات نوم الله ﷻ دي ، ټول مخلوق د هغه محتاج دي ، دهغه مخکښې سر بسجود دی او د هغه ذات په تلاش کښې دی.دي معنی کښې ده ته الله ﷻ وئیلي شی لکه څنګه چې د خلیل قول دي ، عرب محاوره کښې هر اوچت خائي او اوچت څیز ته لاه وائی.نمر چه کله راخیژی نو بیا هم وائی چه ﴿لاهت الشمس﴾ چونکه پروردګار عالم هم د ټولونه اوچت او بالا دي نوددي وجي هغه ذات ته هم الله ﷻ وئیلي شی.اود (اله) معنی دعبادت کولو او د (تأله) معنی په حکم برداریٰ اوقربانیٰ کولوده . اودالله ﷻ د ټول عالم عبادت کوی. اودهغه ذات په نوم قربانی ورکوی ، ددي وجهې هغه ته الله ﷻ وائی . د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په قراءت کښې دی چه ﴿وَيَذَرَكَ وَاِلٰهَتَكَ﴾،ددي اصل (الاله) دي،نو(ف) دکلمې په

ځانې چه کوم همزه دې هغه حذف کړې شوې،بیا نفس کلمې لام زائد لام سره چه کوم تعریف دپاره راوړې شوې دې،ددې سره ملاو شو اویو بل کښې مدغم شو نویو لام مشدد پاتې شو او تعظیما (الله) اوونیلې شو.نو دا د الله د لفظ تفسیر دې

﴿الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ دادواړه نومونه د رحمت نه مشتق دی،دواړو کښې مبالغه ده. رحمان کښې د رحیم نه زیاته مبالغه ده.د علامه ابن جریر رحمه الله دقول نه معلومیږی چه گویا په دې اتفاق دې. دبعضې سلفود تفسیرونو نه هم دا معلومیږی .دحضرت عیسی علیه السلام قول هم ددې معنی تیر شوی دې چه رحمان نه مراد دنیا او آخرت کښې رحم کولو والا او د رحیم نه مراد آخرت کښې رحم کولو والا دې . بعضې خلق وائی چه رحمان مشتق نه دې ، که داشان وې نو (مرحوم) سره په نه ملاویدو حالانکه په قران کریم کښې ﴿بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا﴾ راغلې دې. مبرد وائی چه رحمان عبرانی نوم دې عربی نه.ابو اسحاق زجاج معانی القران کښې لیکی چه داحمد بن یحیی قول دې چه رحیم دعربۍ لفظ دې او رحمان دعبرانۍ دې ،دواړه جمع کړې شوی دی . لیکن ابو اسحاق فرمائی چه دې قول طرف ته زړه نه مانیله کیږی . قرطبی رحمه الله ددې لفظ د مشتق کیدو دا دلیل راوړې دې چه د ترمذی صحیح حدیث دې . رسول کریم ﷺ فرمائی چه دالله ﷻ فرمان دې چه څه رحمان یم ما رحم پیدا کړې دې او د خپلو نومونو نه مې ددې نوم اشتقاق کړې دې ددې یو ځانې کولو والابه څه یو ځانې کړم او ددې ماتولو والا به څه پرې کړم. (۱) اوس د صریح حدیث په موجودگئ کښې د انکار کولو اومخالفت کولوهیڅ گنجائش نشته . پاتې شو دکفار عرب ددې نوم نه انکار کول نو دا محض ددوی جهالت وو. قرطبی رحمه الله فرمائی چه رحمان او رحیم په یومعنی کښې دی . لکه ﴿ندمان﴾ او ﴿ندیم﴾ دابو عبید رحمه الله هم داقول دې.یو قول دا هم دې چه دا﴿فعلان د فعیل﴾ په شان نه دې. فعلان کښې مبالغه ضروری وی ، لکه څنگه چې غضبان هغه سړی ته وائی چه ډیر غصه ناك وی او فعیل کله فاعل اوکله مفعول دپاره هم رازی. کوم چې د مبالغې نه خالی وی . ابوعلی فارسی رحمه الله وائی چه رحمان عام اسم دې چه دا هر قسمه رحمتونو ته شامل دې. اوصرف الله ﷻ سره مخصوص دې او رحیم په اعتبار دمومنانو دې.فرمانی چه ﴿وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا﴾ مومنانو باندې رحیم دې . حضرت ابن عباس فرمائی دا دواړه نومونه رحمت او رحم والا دی ، په یو کښې د بل نه زیات رحم او رحمت دې .

دحضرت ابن عباس رضی الله عنه په دې روایت کښې لفظ د ﴿ارق﴾دې،ددې معنی خطابی رحمه الله وغیره ﴿ارفق﴾ کوی. لکه څنگه چه په حدیث کښې دی چه الله ﷻ رفیق یعنی نرمی کوونکې اومهربانی کوونکې دې. هغه ذات په هر کار کښې نرمی اوآسانی خوښوی. هغه په نرمی اوآسانی سره هغه نعمتونه ور کوی. چه په سختئ باندې ئې نه ورکوی.(۲)

ابن المبارك رحمه الله فرمائی چه رحمان هغه ته وائی چه کله دهغه نه څه اوغوښتلې شی نوهغه ورکړی او رحیم هغه ذات دې کله چې دهغه نه اونه غوښتلې شی نوهغه غضبناك شی(۳)دبعضې شاعرانوقول دې چه :

الله یغضب ان ترکت سئواله وبنی ادم حین یسئال یغضب

یعنی الله ﷻ نه که نه غواړئ نوهغه خفه کیږی اوکه دبنی آدم نه غواړئ نوهغوی غصه کیږی : عزرمی رحمه الله فرمائی چه درحمن معنی په ټول مخلوق باندې رحم کولو والا د رحیم په معنی کښې دې. اوگورئی

---

۱) ابوداود کتاب الزکوة باب فی صلة الرحم : ۱٦۹٤، ترمذی: ۱۹۰۷)-

۲) صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب فضل الرفق:۲۵۹۳)-

۳) ترمذی کتاب الدعوات باب من لم یسآالله .....۳۳۷۳، ابن ماجة: ۳۸۲۷،)-

Scanned with CamSc

د قران پاك دوه آیتونه ﴿ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ﴾ او ﴿اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى﴾ کښې ﴿اسْتَوٰى﴾ سره د رحمان لفظ ذکرکړې شو. دې دپاره چې ټول مخلوق ته دا لفظ دخپل عام رحم اوکرم په معنی سره شامل شی او دمومنانوسره ئې لفظ د رحیم. فرمائی ﴿وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا﴾ نو معلومه شوه چې په رحمان کښې مبالغه په نسبت د رحیم ډیره زیاته ده. لېکن دحدیث په یو دعا کښې ﴿یارحمان الدنیا والاخرة ورحیمهما﴾ راغلې دی. () رحمان دا نوم هم دالله ﷻ سره مخصوص دې. دده نه سوا د بل چا نوم نه دې لکه دالله تعالی فرمان دې چه الله ﷻ لره بلئ یا رحمن لره چه په کوم نوم سره ئې غواړئ بلئ یئ: دده ډیر ښه ښه نومونه دی ، په یو آیت کښې دی چه ﴿وَسْئَلْ مَنْ اَرْسَلْنَا﴾ الخ ،یعنی دخپل خان نه مخکښې رسولانو نه تپوس اوکړئی چه هغوی دپاره څوك بل څوك معبود وو د رحمان نه چه هغوی به دهغه عبادت کولو. کله چه مسیلمه کذاب لوئې لوئې دعوې کول شروع کړې او خپل نوم ئې رحمان الیمامه کیخودو نو الله ﷻ هغه لره ډیر زیات رسوا او تباه او برباد کړو. او په دروغه او کذب سره مشهور شو.نن هغه ته مسیلمه کذاب وئیلې شی.اوهر د دروغودعویدار ته ده سره تشبیه ورکولې شی.هریو کلی والا اوهر ښاروالا،هر پوخ او کچه کور والا هغه ډیر ښه پیژنی.

بعضې وائی چه په رحیم کښې درحمن نه زیاته مبالغه ده ځکه چه په دې لفظ سره د مخکښې لفظ تاکید شوې دې او تاکید په نسبت دهغه چه د هغه تاکید اوکړې شی زیات قوی وی. ددې جواب دادې چه په دې خائې کښې تاکید هډوشته دې نه بلکه داخو صفت دې .اوپه صفت کښې دا قاعده نشته دې ، نودالله ﷻنوم واخستلې شو.چه په دې نوم کښې هم دهغه سره شریك نشته دې. اوده صفت مخکښې د رحمان بیان اوشو چه دا نوم کیخودو دنورودپاره ممنوع دې لکه څنګه چه ئې اوفرمائیل چه الله ﷻ لره په رحمان سره اوبلئ چه په کوم نوم سره غواړئ وې بلئ ده دپاره اسماء حسنی ډیر دی. مسیلمه خودابدترین جرات اوکړو اوبربادشو اوده ګمراه ملګرو نه سوادې خبرې په بل چا باندې عمل اونکړو.

رحیم د مخلوق صفت هم کیدې شی:- درحیم وصف سره الله ﷻ نورو لره هم موصوف کړې دې. فرمائی چه ﴿لَقَدْ جَآءَكُمْ﴾ په دې آیت کښې ئې خپل نبی ته رحیم اووئیل. داشان خپلو بعضې نومونو سره ئې نور خلق هم یاد کړی دی،لکه آیت ﴿اِنَّا خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ﴾ الخ کښې انسان ته سمیع و بصیر وائی. حاصل دادې چه دالله ﷻ بعضې نومونه خو داسې دی چې په نورو باندې نورو معنو کښې ددې اطلاق کیدیشی.او بعضې داسې دی چه نه کیږی . لکه الله ﷻ اورحمن اوخالق اورازق وغیره . داشان الله ﷻ خپل رومبې نوم الله واخستلو. بیا د هغه صفت ئې په رحمان سره اوکړو ځکه چې رحمن د رحیم په نسبت زیات خاص دی. او زیات مشهور دې،قاعده ده چه مخکښې دټولو نه زیات بزرګ نوم سره نوم اخستلې شی ځکه دټولو نه مخکښې زیات خاص نوم سره واخستلې شوبیا ددې نه کم ،بیا ددې نه کم ، که اووئیلې شی چه په رحمان کښې د رحیم نه زیاته مبالغه موجود ده نو بیا هم په دې باندې اکتفا ولې نه ده ؟ نوددې په جواب کښې د حضرت عطاء خراسانی رحمه الله داقول پیش کولې شی چه چونکه کافرانو رحمان نوم هم دغیرو دپاره کیخودلې وو ددې وجې ئې د رحیم لفظ هم راوړو چه هډو هیڅ قسمه وهم پاتې نشی . رحمان او رحیم صرف دالله ﷻ نوم دې، ابن جریر رحمه الله نه دا قول نقل کړې دې .

بعضې خلق وائی چه دجاهلیت په زمانه کښې عرب درحمان نه هډو واقف نه وو. تردې چه الله ﷻ د قران پاك آیت کښې فرمائی چه ﴿قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ اَوِادْعُوا الرَّحْمٰنَ﴾[1] نازل کړو اوددې تردید اوکړو. دقریشوکافرو د حدیبیې په کال کله چه رسول الله ﷻ حضرت علی ﷺ ته اوفرمائیل چه ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ اولیکه

---

[1]) مستدرک حاکم : ۱/۵۱۵)-

نوهغوی وئیلی وو چې مونږ رحمان او رحیم نه پیژنو. بخاری شریف کښې روایت موجوددې[۱] بعضې روایتونو کښې دی چه هغوی اووئیل مونږ رحمان د یمامه ته وایو بل رحمان مونږ نه پیژنو، داشان په قران پاك کښې په بل ځائې کښې دی چه ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اسْجُدُوا لِلرَّحْمَٰنِ﴾ یعنی کله چه دوی ته اوئیلی شی د رحمان په وړاندې سجدئ اوکړئ نو دوی په ویره کښې شی. او جواب ورکوی چه رحمان څوك دې؟ چه مونږ هغه ته ستادقول په وجه سجده اوکړو. ددې ټولو صحیح مطلب دادې چه بدکاره خلقوبه صرف دعناد او تکبر،سرکشئ اودښمنئ په وجه درحمان نه انکار کولو.دا نه چه دوی ددې نوم نه خبر نه وو. خکه چه دجاهلیت په زمانې په زړوشعرونو کښې هم دالله ﷻ نوم رحیم موجود دې چه هم ددې شاعرانو شعرونه دی.

دسلامه شعر اودنورو اشعارو ملاحظه اوکړئی.حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه په تفسیر ابن جریر کښې نقل دی چه رحمان د فعلان په وزن سره د رحمت نه ماخوذ دې.اودعربود کلام ځنی دې. هغه الله ﷻ رفیق ذات دې په چا باندې رحم کول غواړی او چه چا ته غصه شی نودهغه نه ډیر لرې وی او په هغه باندې سخت هم وی

داشان دده ټول نومونه دی. حسن رحمه الله فرمائی چه درحمان نوم دنورو دپاره منع دې. خکه چه پخپله دا د الله ﷻ نوم دې. دخلقو په دې نوم هیڅ حق نشته دې. دام سلمه رضی الله عنها په حدیث کښې دی چې په هر آیت به نبی کریم ﷺ اودریدلو مخکښې تیر شوې دې.[۲] اویوجماعت داشان هم دې چې هغوئ بسم الله باندې ته آیت وائی او دا جدا وائی اوځینې ئې یو ځائې وائی.میم باندې دوه ساکن دی نو په دې وجه ئې ته زیر سره وائی د جمهورو هم دا قول دې. کوفی وائی چې ځینې عرب دا دمیم په زبر سره وائی. د همزه حرکت د میم زبر ته ورکوی.لکه الٓمٓ ۝ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ. ابن عطیه رحمه الله فرمائی چې زما خیال دې چې د زبر والا قرآت د چا نه هم مروی نه دې.

د سورة فاتحه تفسیر

اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ	رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝	
ټول تعریفونه	الله لره دی	چه پالونکې دې دټولومخلوقاتو	
ټول تعریفونه الله پاك لره ښائی چې پالونکې دټولو مخلوقاتودې			

قوله تعالی:- اَلْحَمْدُ

د ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ قراءت:- اووه واړه قاریان ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ د دال په پیښ سره لولی او ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ مبتدا ء خبر منی دسفیان ابن عیینه او روبه بن عجاج قول دې چې د دال زبر سره دې او فعل په دې ځائې کښې مقدر دې،ابن ابی عبله رحمه الله د ﴿لِلّٰهِ اَلْحَمْدُ﴾ دال اود ﴿لِلّٰهِ﴾ مخکښې لام دواړه پیښونوسره لولی. او دا لام مخکښې تابع کوی اگر چه ددې شهادت د عربو د ژبې نه ملاویږی ، لیکن شاذ دی. حسن رحمه الله او زید بن علی رحمه الله دا دواړه حرفونه په زیر سره لولی. او ،،لام،، د دال تابع کوی.

د حمد معنی:- ابن جریر رحمه الله فرمائی چه د ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ معنی داده چه صرف دالله ﷻ شکر دې دده نه سوا هیڅوك ددې لائق نشته دې که هغه مخلوق نه څوك هم وی. خکه ټول نعمتونه چه کوم لره مونږ نه شو شمیرلې او سوا د هغه مالك نه نور څوك ددې تعداد نشی پیژندې هم د هغه طرف نه دی. هم هغه ذات د خپل اطاعت ټول اسباب مونږته راکړی دی،هم هغه ذات د خپلو فرائضو پوره کولودپاره نعمتونه

---

[۱]) صحیح بخاری کتاب الشروط باب الشروط فی الجهاد: ۲۷۳۱)-

[۲]) ابوداود کتاب الحروف والقراة :۴۰۰۱، ترمذی: ۲۹۲۷)-

Scanned with CamSc

قوتونه مونږ ته راکړی دی،بیا دنیاوی بې شمیره نعمتونه اود ژوند ټول ضرورتونه زمونږ حق نه بغیر هغه ذات مونږته هبه کړل.دده همیشګیرنعمتونه دده تیارشوی پاك مقامات دجنت به مونږځنګه حاصلوؤ؟ داهم هغه ذات مونږ ته خودلی دی. نومونږ وایو چه اول آخرهم دهغه مالك پاك ذات دهر شان تعریف او حمد اوشکر لائق دي. ()

په حمد او شکر کښې فرق: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ داد ثناء کلمه ده ، الله ﷻ خپله ثناء په خپله کړي ده او هم په دې ضمن کښې ئې دا فرمائیلی دی چه تاسو وائی چه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ بعضو وئیلی دی چه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ وئیل دا دالله ﷻ په پاکو نومونو کښې اودهغه په اوچتو صفتونو سره دهغه ثناء کل دی ی او ﴿الشکرلله﴾ وئیل دا دالله ﷻ دنعمتونو او دهغه د احسان شکر ادا کول دی. ()لیکن دا قول صحیح نه دې ځکه د عربیۍ ژبې عالمانو دا اتفاق دی دشکر په ځائې لفظ دحمداودحمدپه ځائې لفظ دشکر وئیلې شی. جعفر صادق رحمه الله او ابن عطاء رحمه الله صوفی هم دا فرمائی.حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه هر شکر کولو والا کلمه د﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ ده.قرطبی رحمه الله د ابن جریر رحمه الله قول معتبر کولودپاره دا دلیل هم بیان کړې دې اوکه څوك ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ شکرا﴾ اووائی نودا جائز دی.دراصل د علامه ابن جریر رحمه الله په دې دعوی کښې کلام دې. په مخکښې عالمانو کښې مشهوردی چه ﴿حمد﴾ وائی زبانی تعریف بیانولو ته اګر که د چا حمد کولې شی دهغه په متعدی صفتونوباندې وی اوکه په لازمی صفتونوباندې.اوشکرصرف متعدی صفتونوباندې کیږی اوهغه په زړه ژبه او ټول ارکانو سره کیږی ، دعربو شاعرانو په شعرونو کښې ددې دلیل شته دې.

د حمد یا د شکر عمومیت:-خو په دې کښې اختلاف دې چه دحمد لفظ عام دې یا دشکر.او صحیح خبره داده چه په دې کښې عموم په دې حیثیت سره خصوص دې چه د حمد لفظ چه په دې واقع وی هغه عام طوردشکر په معنی کښې رازی.ددې وجې دا لازم او ملزوم دواړه اوصاف باندې رازی. قدوسیت اوکرم دواړو باندې﴿حمدته﴾ وئیلې شی لیکن په دې حیثیت سره چه داصرف ژبې سره اداکیدلې شی،دا لفظ خاص دې او دشکر لفظ عام دې ځکه چه هغه قول وفعل او نیت دریو واړو دپاره وئیلې کیږی او صرف متعدی صفتونو باندې وئیلی کیږی په دې اعتبارسره د شکر لفظ خاص دې.قدوسیت باندې ﴿شکرته﴾ نشو وئیلې البته ﴿شکرته علی کرمه واحسانه إلی﴾وئیلې شو دا وه خلاصه دمتاخرینودقول ، والله اعلم.

ابونصراسماعیل حماد جوهری رحمه الله حمد مقابل وئیلی دی د ذم ،داسې وائی چه ﴿ حمدت الرجل احمده حمده ومحمد فهو حمید ومحمود ﴾تحمید چه حمد سره هم زیاده مبالغه ده،حمد دشکرنه عام دې.شکروانی دیو محسن ورکړې شوی نعمتونو باندې دهغه ثناء وئیلوته. په عربیۍ ژبه کښې ﴿شکرته﴾او﴿شکرت له﴾ دواړه وئیلې شی لیکن لام سره وئیل زیات فصیح دی ، د مدح لفظ د حمد نه هم زیات عام دې. ځکه ژوندې ،مړ،بلکه جماداتو دپاره هم د مدح لفظ استعمالولې شی.د خوراك او دمکان اوددا سې څیزونو مدح کولې شی،د احسان نه مخکښې احسان نه پس لازمی صفتونو باندې متعدی صفتونه باندې ددې اطلاق کیدلې شی،نو ددې عام کیدل ثابت شو. والله اعلم.

دحمد تفسیر کښې دسلفودعالمانو اقوال:-حضرت عمر فاروق یو ځل اوفرمائیل چه﴿سبحان الله﴾ او﴿لااله الاالله﴾ اوبعضو روایتونو کښې دی چه ﴿الله اکبر﴾ خومونږ ته پته ده لیکن دا د ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ څه مطلب دې.حضرت علی رضی الله عنه جواب ورکړو دا کلمه الله ﷻ دخان دپاره خوښه کړې ده. اوبعضو روایتونو کښې

---

[1]) الطبری: ۱/۱۳۵)-

[2]) الطبری: ۱/۱۳۷)-

Scanned with CamS

دی ددې وئیل الله ﷻ دپاره ښه لږی.(۱) حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا کلمه دشکر ده ، ددې په جواب کښې الله ﷻ فرمائی چه ځما بنده ځما شکر اداکړو. نو په دې کلمه کښې دهغه ذات دشکر نه علاوه دهغه دنعمتونو ،هدایتونو اواحسان وغیره اقرار هم دې.دحضرت کعب بن احبار ﷺ قول دې چه دا کلمه دالله ﷻ ثناء ده ، ضحاك وائی چه دا دالله ځادر دې،یو حدیث کښې داسې هم دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه کله تاسو﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۝﴾ اووئیل نوتاسودالله شکراداکړو ،اوس به الله ﷻ تاسوته برکت درکړی.(۲) حضرت اسود بن سریع یوځل د رسول کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو چه ما دالله ﷻ په حمد کښې اشعار وئیلی دی که اجازت وی نو هغه به واوروم. وې فرمائیل چه الله ﷻ ته خپل حمد ډیر خوښ دې.(۳) (مسند احمد ونسائی)

افضله دعا:- ترمذی نسائی او ابن ماجه کښې هم حضرت جابر بن عبدالله ﷺ نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه افضل ذکر ﴿لااله الاالله﴾ دې او افضله دعا ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ ده. امام ترمذی ؒ دې حدیث ته غریب وئیلی دی.(۴)دابن ماجه په یوحدیث کښې دی چه کوم یو بنده ته الله ﷻ څه نعمت ورکړی او هغه په دې باندې﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ اووائی نو دا ددې ورکړې شوی نعمت نه افضل دې.(۵)

دنعمت په ملاویدو حمد وئیل:فرمائی چه که ځما په امت کښې الله ﷻ چاته دنیا ورکړی اوهغه ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ اووائی نودا کلمه دټولې دنیا نه افضله ده. قرطبی ؒ فرمائی چه مطلب دادې چه ټول ورکړه دومره لوئې نعمت نه دې چه څومره د﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ﴾ دوئیلو توفیق دې. ځکه چه دنیا فانی ده او دا کلمه پاتې کیدو والا ده. لکه څنګه چه په قران پاك کښې دی ﴿اَلْمَالُ وَالْبَنُوْنَ﴾ یعنی مال او اولاد ددنیا زینت دې. اونیك اعمال همیشه پاتې کیدونکی اوثواب والا او نیك امید والا دی.

ابن ماجه کښې دحضرت عمرفاروق ﷺ نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه یوسړی اووئیل چه﴿یارب لك الحمد کماینبغی لجلال وجهك وعظیم سلطانك﴾ نوفرښتې اوویریدې چه مونږ ددې اجر څومره اولیکو آخر الله ﷻ ته دوی عرض اوکړو چه ستا بنده دا کلمه وئیلې ده اومونږ نه پوهیږو چه ددې څه اجر اولیکو؟الله ﷻ ورته سره د خبر نه اوفرمائیل هغه څه وئیلی دی ؟ هغوی اووئیل چه ده داکلمه وئیلې ده . الله ﷻ اوفرمائیل داهم داسې اولیکئی زه به ددې اجر ځما سره دملاقات په وخت کښې ورکوم. .(۶)

په کمله دتوحید د الحمد فضیلت:-قرطبی ؒ دعلماء کرامو یوجماعت نه نقل کوی چه ﴿لااله الاالله﴾ نه هم﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۝﴾ افضل دې. ځکه چه په دې کښې چه توحید اوحمد دواړه دی. اودعلماء کرامو خیال دې چه ﴿لااله الاالله﴾ افضل ده ځکه چه په ایمان او کفر کښې دا فرق کوی. هم ددې وئیلو دپاره کفارو سره جنګونه اوشول لکه په صحیح بخاری کښې او صحیح مسلم کښې چې په یو حدیث کښې هم دی.(۷)او په یو مرفوع حدیث کښې دی چه څه ما او ځما نه مخکښې ټولو نبیانو اووئیل په هغې کښې د ټولونه افضل ﴿لااله الاالله وحده لاشریك له﴾ ده(۸).

---

۱) ابن ابی حاتم : ۱/۱۵،)-

۲) الطبری: ۱/۶۰،)-

۳) السنن الکبر للنسائی: ۷۷۴۵، احمد: ۴۳۵/۳)-

۴) ترمذی باب الدعوات باب ما جاء ان دعوة المسلم مستجابة رقم: ۳۳۸۳، ابن ماجة: ۳۸۰۰، الیوم واللیله؟؟ للنسائی: ۸۳۱، ابن حبان: ۸۴۶)

۵) ابن ماجة کتاب الادب فضل الحامدین: ۳۸۰۵،)-

۶) ابن ماجة کتاب الادب فضل الحامدین: ۳۸۰۵،)-

۷) صحیح بخاری : کتاب الزکوة باب وجوب الزکاة : ۱۳۹۹، صحیح مسلم: ۲۰۴)-

Scanned with CamSc

حضرت جابر ﷺ نه په یو مرفوع حدیث کښې مخکښې تیر شوی دی چه افضل ذکر ﴿لااله‌الاالله﴾ او افضله دعا ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ﴾ ده. ترمذی دې حدیث ته حسن وئیلی دی.(۱)

د ،،الحمد،، کښې د الف لام تشریح:- الحمد کښې الف لام استغراق دپاره دی یعنی دحمد ټول قسمونه اوجنسیات ټول په ټوله صرف دالله ﷻ دپاره ثابت دی لکه څنګه چه په یوحدیث کښې دی انې الله ﷻ هم ستا دپاره ټول تعریفونه دی او ټول ملکونه دی ، هم ستا په اختیار کښې ټولې ښیګړې دی او ټول کارونه هم ستا طرف ته رجوع کوی. (۲)

قوله‌تعالی:- رَبِّ

د رب معنی:- رب وائی مالك اومتصرف ته . لغت کښې ددې اطلاق سردار او اصلاح دپاره هلې خلې کولو والا باندې هم کیږی او ددې ټولو معنو په اعتبار سره د پاك ذات دپاره دا نوم ښائیږی. درب لفظ هم سوا دالله ﷻ د بل چا دپاره نشی وئیلې کیدې. خوپه اضافت سره که وی نو بله خبره ده لکه څنګه ﴿رب‌الدار﴾ یعنی کور والا وغیره دی. د بعضو قول دې چه دا اسم اعظم دې.

قوله‌تعالی:- اَلْعٰلَمِیْنَ

دعالمین تشریح :- ﴿اَلْعٰلَمِیْنَ﴾ جمع ده د﴿عالم﴾د الله ﷻ نه سوا ټول مخلوق ته عالم وئیلې شی،لفظ دعالم هم جمع دې اود دې واحد لفظ نشته دې.دآسمانونو مخلوق اود اوچې او لمدې مخلوق ته هم عوالم یعنی ډیر عالمونه وئیلې کیږی. دا شان یوې یوې زمانې او یویو وخت ته هم عالم وئیلې کیږی. حضرت ابن عباس ﷺ نه ددې آیت تفسیر په باره کښې روایت دې چه ددې نه مراد ټول مخلوق دې که هغه په آسمانونو یا په زمکو کښې دی یا ددې په مینځ کښې دی،که د هغې علم مونږ ته وی اوکه نه وی ،داشان ددې نه جنات او انسانان هم مراد اخستلې شوی دی. حضرت سعید بن جبیر ﷺ ، حضرت مجاهد ﷺ او ابن جریج ﷺ نه هم دا روایت دې. حضرت علی ﷺ نه هم غیر معتبر سند سره دامنقول دی. ددې قول دلیل داقرآن پاك په دې آیت کښې هم﴿ لِیَكُوْنَ لِلْعٰلَمِیْنَ نَذِیْرًا﴾ بیانولې شی یعنی تردې چه هغه﴿ اَلْعٰلَمِیْنَ ﴾ یعنی جن وانس لره ویرولو والا جوړ شی.

دفراء او ابوعبیده قول دې چه پوهه ته عالم وئیلې شی. او انسانان او جنات ،فرښتې او شیاطین هغه ته عالم وائی.څناورو ته به نشی وئیلې. زید بن اسلم ﷺ او ابومحیص ﷺفرمائی چه په روح والا څیز به عالم وئیلې شی. قتاده ﷺ فرمائی چه هر قسم ته یو عالم وائی ، مروان بن حکم عرف جعد چه دده لقب حمار وو او په بنو امیه کښې وو او دخپلې زمانې خلیفه وو ، وائی چه الله ﷻ اویا زره عالمان پیدا کړی دی. آسمان والا یو عالم، زمکې والا ټول یو عالم ، او باقی الله ﷻ ته ددې پته ده . مخلوق ته ددې پته نشته دې. ابوالعالیه ﷺ فرمائی چه ټول انسانان یو عالم دې ،دټولو جناتو یو عالم دې او ددې نه سوا اتلس زره یا څوارلس زره عالم دی. او فرښتې په زمکه دی اود زمکې څلور ګوټونه دی او په هر ګوټ کښې دري نیم زره عالمونه دی. چه دا الله ﷻ صرف دخپل عبادت دپاره پیدا کړی دی. دا قول بالکل غریب دې اوداسې خبرې چه کله څه دصحیح قول نه ثابتې نه وی نو دمنلو قابلې نه وی. حمیری وائی یو زر امتونه دی،شپږ سوه په لمده اوځلور سوه په اوچه کښې،حضرت سعید بن مسیب ﷺ نه هم دا روایت دې ، یو ضعیف روایت کښې دی

---

۱) ترمذی ابواب الدعوات باب فی دعاء یوم عرفة: ۳۵۸۵، احمد: ۲۱۰/۲، بیهقی : ۱۱۷/۵، موطا امام مالک: ۲۱٤/۱، تخریج فتح المجید لعبد الرازق المهدی: ٤۰)-

۲) ترمذی ابواب الدعوات باب ماجاءان دعوة المسلم مستجابة : ۳۳۷۳، وسنده حسن ابن ماجة : ۳۸۰۰)-

۳) احمد: ۳٤٦/۵)-

د ملخانو ورکیدل:- د حضرت عمرفاروق ﷺ په خلافت کښې یو کال مولخان اونه لیدلې شول بلکه په تپوس کولو هم پته اونه لګیده. دوی غمژن شول او یمن اوشام طرف ته ئې سواره اولیږل چه په نورو خایونو کښې مولخان شته دې اوکه نه . نو یمن والا کس لږ شان مولخان راوړل او دامیر المومنین په مخکښې ئې پیش کړل. دوی چه کله هغه اوکتل او تکبیر ئې اوونیلواو وې فرمائیل چه ما درسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه فرمائیل ئې چه الله ﷻ یو زر امتونه پیدا کړی دی چه په دې شپږ سو په لمده کښې دی او څلور سوه په اوچه کښې دی. په دې کښې دټولونه مخکښې چه کوم امت به هلاکیږی نو هغه به مولخان وی. نوددې دهلاکت نه پس به پرله پسې نور امتونه هلاکیږی لکه څنګه چه دتسبیح تاراوشلیږی اویوبل نه پس ټولې مرنی ګډې وډې شی. ددې راوی محمد بن عیسی هلالی ضعیف دې. سعید بن مسیب رحمه الله نه هم دا قول روایت دې. (۱)

اویازره مخلوقات:- وهب بن منبه فرمائی چه اتلس زره عالمونه دی ،ټوله دنیا په دې کښې یو عالم دې. حضرت ابوسعید خدری ﷺ فرمائی چه څلویښت زره عالمونه دی ،او ټوله دنیا په دې کښې یو عالم دې. زجاج رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ په دنیا او آخرت کښې څه پیدا کړی دی هغه ټول یوعالم دې. قرطبی رحمه الله دې قول ته صحیح وئیلی دی. ځکه چې دا په ټولو عالمینو کښې شامل دې. لکه فرعون چه ددې سوال په جواب کښې وئیلی وو ستا رب څوک دې؟ حضرت موسی ﷺ فرمائیلی وو چه دآسمانونو او زمکې ترمینځه څه دی ددې ټولو رب هغه پاک رب دې. دعالم لفظ دعلامت نه مشتق دی ځکه چه عالم یعنی مخلوق خپل پیدا کولو والا او جوړولووالا باندې ښښه او دده وحدانیت باندې علامت دې. لکه ابن معتز شاعر وائی چه :

فیاعجبه کیف یعصی الاله امرکیف یجحده الجاحد
وفی کل شئ له ایة تدل علی انه واحد

یعنی تعجب دې چه څنګه دالله ﷻ نافرمانی کولې شی او څنګه دهغه نه انکار کولې شی حالانکه په هرځیز کښې دهغه دپاره ښښه ده او دده په وحدانیت باندې دلالت کوی.

د ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ﴾ نه پس د ﴿ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ ﴾ تفسیر اولولئ.

الرَّحْمٰنِ	الرَّحِيْمِ ۝
ډیرمهربان	زیات رحم کونکې دې
بیحده مهربان	اوډیررحم کونکې دې

ددې مکمل تفسیر مخکښې تیرشوې دې او اوس د دوباره تفسیر ضرورت نشته دې. قرطبی رحمه الله فرمائی چه د ﴿ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ﴾ دوصف نه پس د ﴿ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۝ ﴾ وصف دترهیب عینی ویرولو نه پس د ترغیب یعنی امید دې لکه فرمائی چه ﴿نَبِّئْ عِبَادِيْ﴾ یعنی ځما بندګانو ته خبر اوکړه چه څه بخښونکې اومهربان یم او ځما عذاب هم دردناک دې او وې فرمائیل چه ستا رب سزا ورکولو والا او مهربانۍ اوبخښلووالا هم دې.(۲)

په رحمن او رحیم کښې امید:- د رب لفظی معنی د ویرولو ده. او درحمان او درحیم په لفظ کښې امید دې. صحیح مسلم چه د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې رسول کریم ﷺ اوفرمائیل که ایمان دار دالله ﷻ د غضب اوغصې او دده دسختو عذابونو نه پوره واقف وې نو په هغه وخت کښې به دده دزړه نه د

---

۱) مجمع الزوائد للهیثمی : ۳۲۲/۷)-
۲) قرطبی : ۱۳۹/۱)-

جنت طمع وتلي وې اوکه کافر دالله ﷻ دنعمتونو او دده درحمتونو نه پوره واقف وې نو کله به نه ناامیده کیدو ()

مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ۝
د مالک د ورځې قیامت دې
دانصاف دورځې(تنها) واکداردې

مالک قراءت :بعضې قاریانو ﴿مٰلِكِ﴾ وئیلې دې او باقی ټولو ﴿مَلِكِ﴾ او دواړه قراتونه صحیح او متواتر دی. اود اووه واړه قراتونو نه دی. اومالك رحمه الله دلام زیر او ددې سکون سره ﴿مَلِكِ﴾او﴿مَلِكَ﴾ هم وئیلې دې. مخکښنې دواړه قراء تونه دمعنی په اعتبار سره ترجیح والا اودواړه صحیح دی. او ښه دی. زمخشری رحمه الله ﴿مَلِكِ﴾ ته ترجیح ورکړې ده. ځکه حرمینووالوداقراءت دې اوپه قران هم ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾ او ﴿قَوْلُهُ الْحَقُّ وَلَهُ الْمُلْكُ﴾ دی.حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت دې چه هغوی ﴿مَلِكِ﴾ اووئیلو ،په دې وجه فعل اوفاعل او مفعول رازی. لیکن دا شاذ دی اودیر غریب دې،ابوبکر بن ابوداود رحمه الله په دې کښې یو غریب روایت نقل کړې دې چه حضرت رسول اکرم ﷺ او دریې واړه خلفاء کرامو ﷺ او حضرت امیر معاویه ﷺ او دده خوئې به هم دا وئیلو. ابن شهاب رحمه الله وائی چه دټولونه مخکښې مروان ﴿مَلِكِ﴾ اووئیله،زه وایم چه مروان ته په دې خپل قرات باندې د صحت اطلاع وه چه راوی ابن شهاب ته نه وه ، والله اعلم.

ابن مردویه رحمه الله نه په ډیر وسندونو سره دا بیان شوی دی حضرت رسول اکرم ﷺ به مالك لوستل،د مالك لفظ دملك نه ماخوذ دې لکه څنګه چه په قرآن پاك کښې دی چه ﴿اِنَّا نَحْنُ نَرِثُ الْاَرْضَ﴾یعنی د زمکې او ددې دپاسه د ټول مخلوق هم مونږ مالکان یو.اومونږ طرف ته مخلوق ټول رازی. او وې فرمائیل چه ﴿قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝ مَلِكِ النَّاسِ ۝﴾ یعنی اووایه چه ځه پناه غواړم دخلقو په رب سره او د خلقو په مالك سره. اودملك لفظ دملك نه ماخوذ دې. لکه فرمائی ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ﴾یعنی نن ملك دچا دې؟ صرف دالله ﷻ چه غلبې والا دې. او فرمائی چه ﴿قَوْلُهُ الْحَقُّ وَلَهُ الْمُلْكُ﴾ یعنی دهغه حق فرمان اوهم دهغه ټول ملك دې. اوفرمائی چه نن هم درحمن حق دې او نن ورځ په کافرانو باندې ډیره سخته ده. په دې فرمان کښې دقیامت په ورځ سره دملکیت تخصیص کولو سره دې دا دې اونه ګنړلې شی چه دهغه نه سوا انکار دې. ځکه چه مخکښې خپل صفت ﴿رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾کیدل بیان شو. چه دنیا اوآخرت دواړو ته شامل دی. دقیامت په ورځ سره ددې تخصیص وجه داده چه په هغه ورځ به هیڅوك دملکیت دعوی کوونکې نه وی. بلکه بغیر ددې حقیقی مالك داجازت نه به څوك ژبه هم نه شی خوزولې.لکه فرمائی چه په کومه ورځ روح او فرښتې په صف کښې ولاړې وی اونور هیڅ کار به نشی کولې تر دې پورې چه رحمان ورته اجازت ورکړی او هغه صحیح خبره ده. یو بل ځائې ارشاد دې چه ټول آوازونه د رحمن وړاندې کمزوری دی او سوا د ګنړاری به هیڅ نه شی آوریدلې. او فرمائی چه کله قیامت راشی نو په هغه ورځ به د رب العالمین د اجازت نه بغیر به هیڅ سړې خبرې نشی کولې.بعضې به په دې کښې بدبخته وی او بعضې نیك بخته.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه په هغه ورځ به دهغه پاك ذات په بادشاهئ کښې دهغه نه سوا نور څوك نه وی لکه څنګه چه په دنیا کښې مجازی طور وو ﴿يَوْمِ الدِّيْنِ ۝﴾ نه مراد دمخلوق دحساب ورځ یعنی قیامت دې. چه په کومه ورځ به د ټولو ښه اوبد اعمالو بدله به ورکولې شی خو که د بدئ ورته

---

[1]) صحیح بخاری:کتاب الرقاق باب الرجاء مع الخوف: ٦٤٦٩، وانظر: ٦٠٠٠، صحیح مسلم: ٢٧٥٥، ترمذی: ٣٥٤٢)

Scanned with CamSc

الله ﷻ معافی کوی نو دا د هغه رب اختیار کښې دي. صحابه کرام ﷺ،تابعین اوسلف صالحین رحمهم الله نه هم دا روایت دي،بعضو نه دا قول هم نقل دي چه وائی چه ددي نه مراد دادي چه الله ﷻ د قیامت په قائم کولو باندې قادر دي. ابن جریر رحمه الله دي قول ته ضعیف وئیلی دی لیکن په ظاهر کښې په دي دواړو اقوالو کښې څه مخالفت نشته دي.دهر یو قائل قول د بل د قول تصدیق کوی،خود رومبی قول مطلب باندې دلالت کوی لکه څنګه چه فرمان دي چه﴿اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ﴾ اوبل قول ددي آیت مشابه دي. چه فرمائی﴿وَيَوْمَ يَقُوْلُ كُنْ فَيَكُوْنُ﴾یعنی په کومه ورځ چې به اووائی چه شه نوشی به هم په هغه وخت والله اعلم.

د شهنشاه وئیلو حکم :حقیقی مالك هم الله ﷻ دي لکه فرمائی﴿هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْمَلِكُ﴾بخاری شریف اومسلم شریف کښې دحضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دي چه رسول کریم ﷺ فرمائیلی دی چه بدترین نوم دالله ﷻ په نیز دهغه سړی دي چه هغه ته شهنشاه اووئیلي شی،حقیقی مالك الله ﷻ نه سوا بل څوك نشته(۱)

دالله نه سا (مالک) بل چاته د وئیلو حکم:-یو حدیث شریف کښې دی چه الله ﷻ به زمکه په خپله قبضه کښې واخلی او آسمان به دده ښی لاس کښې راغونډ وی بیا به فرمائی چه څه بادشاه یم ،اوبه وئیلي شی چه دزمکې بادشاهان چرته لاړل؟ تکبر کوونکي چرته لاړل؟(۲)په قران عظیم الشان کښې دی نن بادشاهی دچا دي؟ صرف دالله ﷻ غلبې والا ده؟ اونور چا ته دا وئیل صرف مجازا وئیلی شی،په قران عظیم الشان کښې طالوت ته ملك اووئیلي شو اود﴿وَكَانَ وَرَآءَهُمْ مَّلِكٌ﴾ لفظ راغلي دي (۳)او په بخاری اومسلم شریف کښې دملوك لفظ راغلي دي اوبه قران عظیم الشان کښې دی چه﴿ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا﴾یعنی تاسو کښې ئې نبیان پیدا کړل او بادشاهان مو جوړ کړل .

قوله تعالي:- الدِّيْنِ

د دین معنی :هغه ورځ د بدل جزا اوحساب ده لکه په قران عظیم الشان کښې دی ، په هغه ورځ به الله ﷻ دوی ته پوره پوره بدله ورکړی او دوی به پوهه شی،اوبه بل ځائي کښې دی چه آیا مونږ به بدله ورکوؤ.په یوحدیث شریف کښې دی چه هوښیار هغه دي دخپل نفس نه پخپله بدله واخلی اودمرګ نه پس په کار راتلونکی کارونه اوکړی (۴)یعنی خپل نفس سره خپله حساب اوکړی. لکه د حضرت عمر فاروق ﷺ قول دي چه تاسو پخپله دخپلو نفسونو نه حساب واخلئ ددي نه مخکښې چه ستاسو حساب واخستلی شی او دخپلو عملونو پخپله وزن اوکړئی ددي نه مخکښې چه په تله کښې کیخودلې شی. اود هغه لوئې پیشئ دپاره تیار شئ کله چه تاسو د هغه الله ﷻ په مخکښې اودریږئی چه په هغه باندې ستاسو هیڅ عمل پټ نه دي لکه پخپله الله ﷻ اوفرمائیل چه په کومه ورځ تاسو پیش کولې شئ نو هیڅ یوه خبره به درنه پټه نه وی.

اِيَّاكَ	نَعْبُدُ	وَاِيَّاكَ	نَسْتَعِيْنُ ۝
خاص ستا عبادت کوو		او هم خاص ستا نه مدد غواړو	
انې الله مؤنږ صرف ستا عبادت کوؤ او صرف ستا نه مدد غواړو			

---

۱) صحیح مسلم کتاب الادب باب تحریم التسمی بملک الاملاک: ۲۱۷۳، ابوداود: ٤٩٦١، ترمذی: ۸۳۷)-

۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر تفسیر سورة الزمر : ٤٨١٢، صحیح مسلم: ۲۷۸۷، ابن ماجة: ۱۹۲)-

۳) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب فضل مایصرع فی سبیل الله فمات فهزموهم رقم: ۲۷۹۹، صحیح مسلم: ۱۹۱۲)-

۴) ترمذی: ابواب صفة القیامة باب حدیث الکیس من دان نفسه : ۲٤٥۸، -

Scanned with CamSc

قوله تعالي:- اِيَّاكَ نَعْبُدُ

عبادت څه څيزدي: اووه واړه قراء حضرات اوجمهورودا ﴿اِيَّاكَ﴾ لوستلي دي، عمر بن فائددا ﴿اِيَّاكَ﴾ لوستلي دي ﴿اِيَّاكَ﴾ ليکن داقراءت شاذ اومردود دي ځکه چه د ﴿اِيَّاكَ﴾ معنى دنمر رنړا ده اوبعضودا ﴿هَيَّاكَ﴾ لوستلي دي اوبعضو ﴿هَيَّاكَ﴾ لوستلي دي. دعربوشاعرانوپه شعر کښي هم ﴿هَيَّاكَ﴾ ونيلي دي ﴿نَسْتَعِيْنُ﴾ هم دا قراءت دټولو قراء حضراتو دي. سوا د يحيى بن وثاب رحمه الله اواعمش رحمه الله نه ، دوى دواړه مخکښي نون په زير سره وائى. دقبيله بنو اسد ،ربيعه اوبنو تميم هم دا لغت دي. لغت کښي عبادت ته وئيلي شى اوذلت او کمزورئى ته. طر يق معبد هغه لاري ته وئيلي شى چه ذليله وى داشان ﴿بعيرمعبد﴾ هغه اوښ ته وائى چه ذليله وى

دعبادت شرعى تعريف:- او په شريعت کښي دعبادت نوم دي. محبت خشوع خضوع او د وړې مجموعه ده. لفظ د ﴿اِيَّاكَ﴾ چه مفعول دي مخکښي راوړي شو اوبيا همدا دوباره اولوستلي شو چه ددي اهميت زيات شى اوعبادت او طلب دمدد دالله ﷻ دپاره مخصوص شى. نو ددي جملي معنى دا شوه چه مونږ ستا نه سوا د بل چا عبادت نه کوو اوستا نه سوادبل چا نه مدد نه غواړو د کامل اطاعت اود پوره دين حاصل هم دا دوه څيزونه دى.

فاتحه د ټول قران خلاصه:- دبعضو سلفوفرمان دي چه دټول قران پاک راز سورت فاتحه دي. او دپوره سورت راز په دي آيت ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ۝﴾ کښي دي. دآيت په رومبئ حصه کښي دشرک نه دبيزارئى اعلان شوي دي. او په بله جمله کښي دخپلو قوتونو او طاقتونو انکار دي او دالله ﷻ طرف ته خپل ټول کارونه حواله کول دى. ددي مضمون نور هم ډير آيتونه په قران کريم کښي موجود دى. لکه فرمائى ﴿فَاعْبُدْهُ وَتَوَكَّلْ عَلَيْهِ﴾ يعنى دالله ﷻ عبادت کوئى اوهم په هغه ذات بهروسه کوئى. ستارب ستا د عملونو نه غافله نه دي. بل ځائي کښي فرمائى ﴿قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ﴾ اووايه چه هم هغه پاک ذات رحمن دي، مونږ په هغه پاک ذات باندي ايمان راوړي دي .او په هغه باندي توکل کوؤ. اوفرمائى چه ﴿رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيْلًا۝﴾ يعنى مشرق اومغرب دهغه پاک ذات دى،دهغه نه سوا بل څوک دعبادت لائق نشته دي ، نوته هغه پاک ذات لره خپل کار ساز اوګنړه. هم دا مضمون په دي آيت کريمه کښي راغلي دي. ددي نه مخکښي آيتونوکښي خطاب نه وو (بلکه دغائب صيغه استعمال شوي وه)ليکن په دي آيت کريمه کښي الله ﷻ ته خطا اوکړي شو (ياك اوونلى شو) چه ډير زيات لطافت او مناسبت لرى.

ددي وجي کله چه بنده دالله ﷻ صفتونه اوثناء بيانوى نو ګويا چه ده دالله ﷻ قرب ته حاضر شو.اودالله ﷻ حضور ته اورسيدو اوس هغه مالك ته خطاب کوى اودخپل ذلت او عاجزئى اظهار کوى.او وائى چه ائې الله ﷻ مونږ خوستا ذليله غلامان يو اوپخپلو ټولوکارونو کښي هم ستامحتاج يو.په دي آيت کريمه کښي ددي خبرې هم دليل دي چه ددي نه مخکښي ټولو جملو کښي خبر وو.

الله څپله خپل تعريف کول: الله ﷻ پخپلو بهترينو صفاتوخپله ثناء پخپله بيان کړي ده اوخپلو بندګانوته ئې هم په دي صفاتو دبيانولو ارشاد فرمائيلي دي. ددي وجي دهغه سړى مونځ صحيح نه دي چه هغه ته داسورت لوستل معلوم وى. او بيا ئې اونه اووائى لکه بخارى شريف او مسلم شريف يوحديث د حضرت عباده بن صامت ﷺ نه روايت دي چې رسول کريم ﷺ اوفرمائيل چه دهغه سړى مونځ نه کيږى چه هغه په خپل مونځ کښي سورت فاتحه اونه وائى. ()

دسورة فاتحي تقسيم:- صحيح مسلم کښي دحضرت ابو هريره ﷺ نه يوحديث نقل دي چه رسول کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه د الله ﷻ فرمان دي چه ما مونځ په خپل مينځ کښي اود بندګانو په مينځ کښي

---

[1]) صحيح كتاب الاذان باب وجوب القراءة الامام والمامو: ٧٥٦، صحيح مسلم: ٣٩٤)-

Scanned with CamSc

نیم نیم تقسیم کړي دي ، ددي نیمه حصه ځما ده او نیمه حصه ځما دبنده دپاره ده . او ځما بنده دپاره هغه دی چه څه هغه طلب کوی. کله چه بنده ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝﴾ اوائی نوالله ﷻ فرمائی چه ځمابنده ځما حمد بیان کړو. کله چه وائي ﴿الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ۝﴾ نوالله ﷻ فرمائی چه ځما بنده ځما ثناء بیان کړه. کله چه ﴿مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ۝﴾ اووائی کله چه هغه ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ۝﴾ اووائی نوالله ﷻ فرمائی چه داځما او ځما دبنده په مینځ کښې دی او ځما دبنده دپاره هغه دی چه څه هغه غواړی ،بیا آخرسورت پوري وائی نوالله ﷻ فرمائی چه دا ځما دبنده دپاره دی او ځما بنده چه ځما نه څه غواړي نودهغه دپاره دی.()

قوله تعالی:- اِيَّاكَ نَعْبُدُ

دعبادت او مدد غوښتلو لائق څوک دی ؟:-حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾ معنی دا ده چه ائي الله ﷻ مونږ خاص ستا توحید منو اومونږ هم خاص ستا نه ویریږو اوهم ستا ذات نه امید لرو. ستانه سوادبل چا خونه مونږ عبادت کوؤ اونه د چا نه امید ساتو.اود ﴿ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ۝﴾نه مراد دادي چه مونږ ستا په اطاعت باندې په خپلو ټولو کارونو کښې هم ستا نه مدد غواړو.قتاده رحمه الله فرمائی چه مطلب دادي چه د الله ﷻ حکم دي چه تاسو ټول خالص دهغه عبادت کوئی اوتاسو ټول په خپلو کارونو کښې دهغه پاك ذات نه مددغواړئی.

د عبادت دتقدیم وجه او ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾ مخکښې بیانول ددي وجې دی چه اصل مقصود دالله ﷻ عبادت دي اومدد طلب کول دا دعبادت وسیله او اهتمام او ددي پوخ والي دي اودا ظاهره ده چه زیات اهمیت والا څیز مخکښې راوړل او دي نه کم اهمیت والا څیز ددي نه پس راوړلی دی. والله اعلم.

دجمعې د صیغې راوړو وجه:-که اووئیلې شی چه په دي ځاني د جمعې د صیغې دبیانولو یعنی د "مونږ " څه ضرورت وو؟ که دا دجمعې دپاره ده نو ویونکي خو یو دي اوکه د تعظیم دپاره ده نو په دي مقام کښې دا ډیر زیات نامناسب دی ځکه چه په دي ځاني کښې خو عاجزی ظاهرول مقصود دی. ددي جواب دادي چه دیو بنده دطرف نه ټولوبندګانو لره خبردار کوی اوخاص کر چه کله دي عبادت ته اودریدو یا امام جوړ شو،نو ګویا چه دي دخپلو ټولومومنانو رونړو د طرف نه اقرار کوی چه هغه ټول ددي پاك ذات بندګان دی. اوهم دهغه عبادت دپاره پیدا شوی دی. اودي دهغوی د طرف نه دښیګړې دپاره مخکښې شوې دي.

بعضو وئیلی دی چه دا دتعظیم دپاره دی ګویا کله چه بنده عبادت کښې داخلیږی نو هم هغه ته وئیلې شی چه ته شریف ئې او اوستا عزت زمونږ په دربار کښې ډیرزیات دي. نو اوس ﴿اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ۝﴾ اووایه او خپل ځان په عزت سره یاد کړه . که عبادت نه بیل شوې نو په هغه وخت کښې " مونږ " مه وایه اګرکه په زرګونو اولکهونو کښې یئ ځکه ټول په ټوله دالله ﷻ محتاج دی او دده په دربار کښې فقیران دی.

دبعضوقول دي چه ﴿ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَا ﴾ کښې تواضع اوعاجزی ده اوهغه په ﴿اياك عبدنا﴾ کښې نشته دي ددي وجې چه په دي کښې خپل دنفس اوئې والي او دخپل عبادت اهلیت موندلې شی. حالانکه هیڅ ویونده د الله ﷻ په پوره عبادت او چه څنګه غواړی په هغه شان صفت او ثناء باندې د بیانولو قدرت نه لری. دیوشاعر قول دي چه ماته دهغه غلام اووایه ځکه ځما د ټولو نه بنه نوم هم دادي.

نبی کریم ته عبد وئیل:- الله ﷻ د خپل رسول ﷺ نوم عبد یعنی غلام په هغه ځایونوکښې اخستې دي . چه په کوم ځاني کښې دخپلو لویو لویو نعمتونو ذکر ئې کړېدي لکه قران پاك نازلول ، مونږ ته اودریدل ،معراج کول وغیره فرمان دي چه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا۝﴾ ،بل ځائي

---

[1]) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب وجوب قراة فاتحة الکتاب فی کل رکعة : ۳۹۵)-

Scanned with CamSc

کښې فرمائی چه ﴿ وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ يَدْعُوْهُ كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴾ او ﴿ سُبْحٰنَ الَّذِيْٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ ﴾ او ورسره قران پاك داتعليم ورکړو چه ائې نبی ﷺ چه په کوم وخت کښې ستا زړه دمخالفينو په رټلوسره تنګ شی نو ته ځما په عبادت کښې مشغول شه.فرمان دې ﴿ وَلَقَدْ نَعْلَمُ ﴾ يعنی مونږ ته معلومه ده دمخالفو خلقو خبرې ستازړه ته درد ورکوی نو ته په داسې وخت کښې دخپل رب تسبيح بيانوه اوسجده کوه. اودمرګ وخت پورې دخپل رب عبادت کوه .

دعبادت مقام د رسالت نه افضل: رازی رحمه الله پخپل تفسير کښې دبعضو خلقونه نقل کړی دی چه دعبوديت مقام درسالت دمقام نه افضل دې ځکه چه دعبادت تعلق مخلوق نه خالق طرف ته دی. اود رسالت تعلق د الله نه د مخلوق طرف ته دې. او ددې دليل نه هم دا ثابتيږی چې د بنده د ټولو اصلاحی کارونومتولی پخپله الله ﷻ دې . او رسول د خپل امت د مصلحتونو والی وی. ليکن دا قول غلط دې او ددې دواړه دليلونه بوګس او لاحاصل دی،افسوس چه رازی رحمه الله نه دې ته ضعيف اووئيل اونه ئې دا رد کړو،

دعبادت اغراض:-دبعضو صوفياء کرامو قول دې چه عبادت يا خو دثواب حاصلولو دپاره وی اويا د عذاب لرې کولو دپاره وی، هغوی وائی چه دا څه دفائدې خبره نه ده. ځکه چې په دې وخت کښې مقصد صرف او صرف د خپل مراد حاصلول دی . اوددې مقصد حاصلولو دپاره په تکليفونو راضی کيدل هم کمزوری ده .د اعلی مرتبې عبادت دادې چه انسان دهغه مقدس ذات چه دټولو کاملو صفاتو سره موصوف دې ،صرف دهغه عبادت اوکړی او مقصود ئې هيڅ نه وی. ددې وجې مونځ صرف دالله ﷻ دپاره ادا کولې شی.که هغه د ثواب موندل او عذاب لرې کولو دپاره وی نو باطل دې. دويم که ددې ترديد کوی او وائی چه عبادت د الله ﷻ دپاره کيدل څه ددې خلاف نه دې د ثواب دطلب دپاره او عذاب نه بچ کيدو دپاره مطلوب نه وی. ددې دليل دا دې چه يو اعرابی د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او وې وئيل چه يارسول الله ﷺ نه څه لوستونکې يم ستا په شان او نه د معاذ په شان څه خو دجنت سوال کوم او دجهنم نه نجات غواړم .حضور ﷺ اوفرمائيل چه مونږ هم ددې نزدې نزدې يو

اِهْدِنَا	الصِّرَاطَ	الْمُسْتَقِيْمَ	
اوښايه مونږ ته	لار	نيغه	
(ائې الله) مونږ په نيغه لار روان کړه			

قوله تعالی:- اِهْدِنَا

دسوال کولو طريقه :-جمهورو ﴿ صِرَاطَ ﴾ لوستلې دې،بعضو ﴿ بِرَاطَ ﴾ لوستلې دې او زې هم يوقراءت دې. فراء وائی چه دبنی عذره او بنی کلب هم داقراءت دې. چونکه مخکښې ئې ثناء اوصفت بيان کړونو اوس مناسب وو چه دخپل حاجت طلب کړی لکه څنګه چه مخکښې حديث کښې تير شو چه ددې نيمه حصه ځما دپاره ده اونيمه حصه ځما دبنده دپاره او ځما دبنده دپاره هغه دی چه هغه طلب کړی. خيال اوکړئی چه په دې کښې څومره لطافت او ښه والې دی اومخکښې دپروردګارعالم تعريف اوتوصيف ئې اوکړوبيا ئې خپل اودخپلو رورنړو حاجت بيان کړو،دا هغه لطيفه کربنه ده چه دمقصود حاصلولو دپاره اودمراد موندلو دپاره په نيغه لار روان ده.دې کاملې طريقې خپلولوسره الله ﷻ ددې هدايت کړې دې کله سوال دا شان وی چه سائل خپل حاجت او حالت ظاهروی . لکه حضرت موسی عليه السلام فرمائيلی وو ﴿ رَبِّ اِنِّيْ لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴾ انې الله ﷻ چه کومې نېکۍ تا ماسره کړی دی ځه دهغې محتاج يم. حضرت يونس عليه السلام هم دعا غوښتلې ده چه ﴿ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴾ انې الله ﷻ ستا نه سوا هيڅوک دعبادت لائق نشته دې ته پاك ئې اود نقصان اوچتوونکو نه يم کله سوال داشان هم وی

Scanned with CamSc

چه سائل صرف تعریف او بزرګی بیان کړی او چپ شی لکه د شاعر قول دي چه ماته د خپل حاجت دبیانولو هیڅ ضرورت نشته دي ،ستا دمهربانو نه ډك بخشش مالره کافی دي. ماته پته ده چه داد او دهش ستا په پاکو عادتونو کښې داخل دي ، صرف ستا پاکوالي بیانوم ستا حمد اوثناء خما د حاجت پوره کولو دپاره کافی ده. د هدایت معنی په دې خائې کښې ارشاد او د توفیق ده.

دهدایت نحوی تشریح: کله هدایت بنفسه متعدی وی لکه پدې خائې چه کښې دی نو معنی ﴿الهمنا ووفقنا ارزقنا﴾ او ﴿اعطنا﴾ یعنی مونږ ته راکړه اوپه بل خائې کښې ارشاد دي ﴿وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ﴾ یعنی مونږ هغه ته دواړه لارې اوخودلي نیکه او بده دواړه .اوکله هدایت (الی)سره متعدی وی لکه فرمائی . وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴾ او فرمائی چه﴿ فَاهْدُوْهُمْ اِلٰى صِرَاطِ الْجَحِيْمِ﴾په دې خائې کښې هدایت او ارشاد د دلالت په معنی کښې دی.داشان فرمان دي چه ﴿وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾ یعنی ته خوالبته په نیغه لار ګورې اوکله هدایت لام سره متعدی وی لکه د جنتیانو قول قران کریم کښې دی چه ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدٰىنَا لِهٰذَا﴾ یعنی دالله ﷻ شکر دي.هغه مونږ ته دنیغې لارې توفیق راکړو اوهدایت والا ئې جوړ کړو.

قوله تعالی:- اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ

د صراط مستقیم معنی:-دصراط مستقیم معنی واورئی① حضرت امام جعفر ابن جریر رحمه الله فرمائی چه دي نه مراد واضحه او صفا لاره ده چه په هیڅ خائې کښې کږه نه وی. دعربو په لغت کښې او دشاعرانو په شعرونوکښې دا معنی ښکاره موندلې شی. اوپه دې بې شماره شواهد موجود دی. دصراط استعمال د استعاري په طور په قول او فعل باندې هم رازی. اوبیا ددې وصف استقامت او کوږ والی سره رازی.

②سلفو اوخلفو مفسرینو ددې ډیر زیات تفسیرونه نقل کړی دی او دهغه ټولو خلاصه یو ده او هغه دالله ﷻ اوهغه درسول ﷺ په نقش قدم تګ اوتابعداری ده.

③په یومرفوع حدیث کښې دی چه صراط مستقیم کتاب الله دي. ابن ابی جریر رحمه الله او ابن ابی حاتم رحمه الله نه دا روایت دي .فضائل قران مجیدباره کښې مخکښې حدیث تیر شوي دي چه دالله ﷻ مضبوطه رسۍ،حکمتونو والا ذکر اونیغه لاریعنی صراط مستقیم هم دالله ﷻ کتاب الله قران پاك دي ()(مسند احمد ترمذی)حضرت علی ﷺ نه هم داقول نقل دي. اودیومرفوع حدیث موقوف کیدل هم زیات مشابه دي. والله اعلم. حضرت عبدالله ﷺ نه هم دا روایت دي. د حضرت ابن عباس ﷺ قول دي چه حضرت جبریل ﷺ اوفرمانیل چه اې محمد ﷺ ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ﴾ اووایه یعنی مونږ ته هدایت والا لار اوښایه. او ددین پوهه راکړي چه په هغې کښې څه کوږوالي نه وی.

④ د نبی کریم ﷺ نه دا هم روایت کړي شوي دي چه ددې نه مراد اسلام دي.حضرت ابن عباس ﷺ ، حضرت ابن مسعود ﷺ او صحابه کرام رضی الله عنه اجمعین نه هم دا تفسیر نقل دي. حضرت جابر ﷺ فرمائی چه د صراط مستقیم نه مراد اسلام دي چه دهر هغه څیز نه زیات وسعت والا دي چه دآسمانونو او زمکې ترمینځه دي. ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد دالله ﷻ هغه دین دي چه ددې نه سوا بل مقبول نشته دي. دعبدالرحمن بن زید بن اسلم قول دي چه صراط مستقیم اسلام دي.

د صراط مستقیم مثال:-دمسند احمدپه یوحدیث روایت کړي شوي دي چه رسول الله ﷺ فرمائی چه الله ﷻ یومثال بیان کړي دي د صراط مستقیم چه ددې دواړه طرفونو ته دوه دیوالونه دی چه په دې کښې ډیري بیرته دروازې دی اوپه دروازو باندې پردې وی .د صراط مستقیم په درازو باندې یو آواز کونکې مقرر دي چه وانی اې خلقو تاسو ټول په ټوله په دې نیغه لار روان شئ په کږو وږو لاروباندې مه خئ ،یو آواز کوونکې په دې لارباندې دي،لکه چه څوك سړي پدې درزاوکښې یودروازه بیرته کوی نووانی

---

[1]) احمد: ۹۱/۱، ترمذی: ابواب الفضائل: باب ماجاء ق فضل القران : ۲۹۰۶)۔

Scanned with CamSc

خبردارد ا مه بیرته کوه، که بیرته دې کړه نو هم ددې لارې به شې. اوصراط مستقیم نه به واوړې. نو صراط مستقیم خو اسلام شو اودیوالونه دالله ﷻ حدونه دی او بیرته دروازې دالله حرام ځیزونه دی ، او دروازوباندې آواز کوونکې قرآن کریم دې او په لاره باندې آواز کوونکې هغه دې چه دهر ایماندار په زړه کښې دالله ﷻ دطرف نه دواعظ په طور وی ()،داحدیث ابن ابی حاتم رحمه الله ،ابن جریر رحمه الله ، ترمذی او نسائی نه نقل دې. اوددې سند هم صحیح دې والله اعلم.

⑤مجاهد رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد حق دې. ددوی دا قول د ټولو نه زیات مقبول دې او په دې ټولو قولونو کښې هیڅ مخالفت نشته دې .

⑥ابو العالیه رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد نبی کریم ﷺ او د نبی کریم ﷺ نه پس ددوی دواړو خلفاء دی. ابوالعالیه رحمه الله ددې قول تصدیق اوتحسین کوی،

په اقوالوکښې تطبیق:- په اصل کښې دا ټول قولونه صحیح دی اوپه یو بل تصدیق کوی.

نبی کریم ﷺ او ددوی دواړه خلفاء کرام رضی الله عنهم ، حضرت صدیق او فاروق تابعدار دحق تابع دې. او دحق تابع داسلام تابع دې اوداسلام تابع دقرآن پاك تابع دې او قران پاك دالله ﷻ کتاب اوهغه پاك ذات طرف ته مضبوطه رسۍ او نیغه لار ده. بیا دصراط مستقیم په تفسیر کښې دا ټول اقوال صحیح دی او دیو بل تصدیق کوی. فالحمد لله .

حضرت عبدالله فرمائی چه صراط مستقیم هغه دې چه په هغې باندې مونږ رسول الله ﷺ پریښودی وو . دامام ابوجعفر ابن جریر فیصله ده چه ځما په نیز ددې آیت دټولونه بهترین تفسیر دادې چه هغوی اوونیل چه مونږ ته توفیق راکړه دهغه ځیز چه کوم دالله ﷻ مرضی وی اوپه هغې باندې دتلو په وجه الله ﷻ دخپلو بندګانو نه راضی کیږی او په هغوی باندې انعام کوی او همداصراط مستقیم دې. ځکه چه کوم سړی ته ددې ځیز توفیق ورکړې شوې وی چه دکومې توفیق دالله ﷻ په نیکو بندګانوباندې وو. او چه په هغوی باندې دالله ﷻ انعام شوې وو او چه کوم نبیان علیهم السلام ا و صدیقین او شهیدان او نیك خلق وو. اوهغوی داسلام اود رسولانو تصدیق اوکړو او دالله ﷻ کتاب ئې مضبوط اونیولو او دالله ﷻ احکام ئې پوره کړل او دهغه کارونو نه منع شو چه دکومو نه هغه ذات منع کړې وو او د نبی کریم ﷺ او د ځلورو واړو خلفاء راشدینو رضی الله عنهم او د نیکو خلقو دلارې توفیق ورکړې شوې وی نو هم دا صراط مستقیم دې.

یو اعتراض او د هغې جواب:- که دا اوونیلې شی چه مومن دالله ﷻ د طرف نه هدایت حاصل کړې دې ، بیا مونږ او مونږ نه بهر د حاجت غوښتلو څه ضرورت دې؟ نوددې جواب دادې چه ددې نه مراد ثابت قدمی ده په هدایت باندې او رسوخ اوبینائی او همیشه دپاره طلب دې. ځکه بنده په هر حالت او هر ساعت کښې دالله ﷻ محتاج دې. هغه په خپله د خپل ځان د نفع او نقصان مالك نه دې. بلکه شپه ورځ خپل رب ته محتاج دې. ددې وجې الله ﷻ ده ته اوخودل چه هر وخت دالله ﷻ نه هدایت غواړه. او ثابت قدمی او توفیق تری غواړه. ښه او نیك بخته انسان هغه دې چه کوم لره الله ﷻ دخپل در سوال کړې جورکړی. اوهغه الله ﷻ په هر وخت دهر سوال کوونکی اوغوښتونکی کفیل دې. خاصکر دبې قراره محتاج او دده په در کښې دخپلو حاجتونو پیش کوونکی دهر آواز الله ﷻ ضامن دې.

یو داسې قسم بل ایت:- او په بل ځائې کښې ارشاد دې ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ﴾ اې ایمان والو په الله ﷻ باندې اودده په ر سولانو باندې ایمان راوړئی اودده په کتابونو باندې چه دې پاك ذات په خپل رسول ﷺ باندې نازل کړی دی او چه کوم کتابونه ددې نه مخکښې نازل شوی دی په ټولو ایمان راوړئی.

) احمد: ۹۱/۱، ترمذی: ابواب الامثال باب ماجاء فی مثل الله عزوجل لعباده: رقم: ۲۸۵۹ وهو الصحیح السنن الکبری : ۱۱۲۳۳)

Scanned with CamSc

د صراط مستقیم د غوښتلو حکم: په دې ایت کریمه کښې ایمان والو ته دایمان راوړو حکم کول داسې دی لکه چه په د ې خائې کښې چه هدایت والو ته د هدایت د غوښتنې حکم ورکول. مراد په دواړه خایونو کښې ثابت قدمی ده او په داسې عملونو باندې همیش والې کول دې چه دده د مقصد په حاصلولو کښې مدد اوکړی. په دې باندې اعتراض هم نشی وارد کیدلې چه دا د حاصل شوی څیز حاصلول دی. والله اعلم.

اویاد ساتنې الله رب العزت خپلوبندګانوته حکم ورکړې دې چه هغوی دې وانې ﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۝﴾ یعنی ائې زمونږه ربه زمونږه زړونه هدایت نه پس مه کړوه او مونږ ته دخپل طر ف نه رحمت راکړه اوته ډیر لوئې ورکونکې او ورکړې والا ئې. داهم روایت دې حضرت ابوبکر صدیق ﷺ دمانبام د مونځ په دریم رکعت کښې دسورت فاتحې نه پس داآیت په پته لوستلو.د ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝﴾ معنی داشوه چه ائې الله ﷻ مونږ صراط مستقیم باندې ثابت قدم اوساته او ددې نه مونږ مه اړوه.

صِرَاطَ	الَّذِيْنَ	اَنْعَمْتَ
	لار | دهغه خلقو	چې نعمت کړې دې تا
	دهغه چا په لار چې تا پرې نعمت کړې دې	

عَلَيْهِمْ ۙ	غَيْرِ	الْمَغْضُوْبِ	عَلَيْهِمْ	وَلَا	الضَّآلِّيْنَ ۝
په هغوی باندې | د نه لار هغه خلقو	چه هغوی غضب شوې	په هغوی	او نه	د هغه خلقو لار چه ګمراه شوی دی	
چې غضه شوې پرې نه ئې	اونۀ ګمراهان دی				

قوله تعالی:- صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ

د انعام والا څوک دی :-ددې بیان مخکښې تیر شوې دې چه بنده په دې قول باندې الله ﷻ فرمائی چه دا ځما دبنده دپاره دې او ځما دبنده دپاره هغه څه دی چه څه هغه غواړی. د آیت تفسیر د صراط مستقیم . او دنحویانو په نیز دا دې بدل دې. او عطف بیان هم کیدشی . والله اعلم. او چه په کومو باندې الله ﷻ انعام کړې دې دهغوی بیان په سورت نساء کښې بیان دې . فرمان دې:

﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ۝ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ۝﴾ یعنی دالله ﷻ اوددہ د رسول منلووالا خلق به دوی سر ه وی چه په کومو باندې دالله ﷻ انعام دې چه نبیان اوصدیقین او شیهدان او نیکان دی. دا بهترین ملګری دې او نیك خلق دی. داد الله ﷻ فضل دې او د علم په اعتبار سره الله ﷻ کافی دې.حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمانی مطلب دادې چه یاالله ﷻ ! ته ما د دې فرښتو، نبیانو،صدیقینو ، شهیدانو او دصالحانو په لار باندې روان کړئی چه په هغوی باندې تا دخپل اطاعت اوعبادت په وجه انعام کړې دې. دا آیت بالکل د ﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ ﴾ په شان دې.ربیع بن انس ﷺ وانی چه ددې قول نه مراد نبیان دی. حضرت ابن عباس ﷺ او مجاهد رحمه الله فرمانی حضرت رسول الله ﷺ او د رسول کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ مراد دی.د حضرت ابن عباس ﷺ قول زیات قوی دې او معقول دې . والله اعلم.

قوله تعالی:- غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ

د غیر د قراءت تحقیق:- دجمهورو په قراءت کښې ﴿غَيْرِ﴾ د " ر "په زیر سره دې او صفت دې.زمخشری رحمه الله فرمائی چه د "ر"په زبر سره لوستلې شوې دی چه ضمیر دې .هغه دده ذوالحال دې او ﴿اَنْعَمْتَ﴾ عامل دې. معنی داشوه چه ائې الله ﷻ مونږ ته نیغه لار اوښایه دهغه خلقو لار چه په هغوی باندې تا

Scanned with CamSc

انعام کړي دي چه کوم هدايت او استقامت والا دی او دالله ﷻ اوددہ د رسول ﷺ تابعدار دی او دده په حکمونو باندې عمل کولو والا ، اوددہ د منع شوی کارونو نه منع کیدونکی دی.

مغضوب څوک دي :-دهغه لارې نه مو بچ کړه چه په هغوی باندې غضب شوې دي چه دهغوی ارادې فاسدې شوې حق نې پیژنده او ددې نه واوړیدل او د ګمراهانودلارې نه مو اوساتې چه بالکل ورته علم نشته سروهلی بروهلی ګرځی او لاره تړې نه هیره شوې ده اوحیران او سرګردان دی او حق لارې طرف ته نې را هنمائی نه کیږی.

د ،،لا،، کلمې دوباره راوړو وجه:-﴿لا﴾ ئې دوباره راوړو اودکلام تاکید کول ددې دپاره دي چه په دې خاني کښې دوه غلطې لارې دی،یو دیهودیانو لاره اوبله د نصارٰی .بعضې نحویان وائی چه د ﴿غَيْرِ﴾ لفظ په دې خاني کښې داستثناء دپاره دې نو استثناء منقطع کیدلې شی،ځکه چه په چا باندې انعام شوېدې په هغوی کښې دا استثناء ده اودا خلق په انعام والو کښې داخل نه وو. لیکن مونږ چه کوم تفسیر کړې دې هغه ډیرښه دې،دعربو شاعرانو په شعرونو کښې داسې موندلې شوی دی چه هغوی موصوف حذف کوی اوصرف صفت بیانوی،داشان پدې آیت کښې هم صفت بیان شوې دې.اوموصوف حذف شوېدې. ﴿ غَيْرِالْمَغْضُوْبِ﴾ نه مراد﴿ غَيْرِالصِّرَاطِ الْمَغْضُوْبِ﴾ دی.دمضاف الیه په ذکرکولوسره کفایت اوشو.اودمضاف بیان اونه کړې شو ځکه چه د عبارت الفاظ په دې باندې دلالت کوی . مخکښې دوه ځل دا لفظ راغلې دی. بعضې وائی چه ﴿وَلَاالضَّآلِّيْنَ ﴾کښې ﴿لا﴾ زائددې او ددوی په نیز تقدیر د کلام څه دا شان دې.﴿ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَالضَّآلِّيْنَ ﴾ اوددې شهادت دعربو شاعرانو د شعرونو نه کیږی لیکن صحیح خبره داده چه کومه مونږ بیان کړه مخکښې.

دحضرت عمر فاروق ﷺ نه غَيْرِالْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَغَيْرِالضَّآلِّيْنَ)لوستل په صحیح سندسره روایت دی. اوداشان حضرت ابی بن کعب ﷺ نه هم روایت دی اودا محمول دې په دې باندې ددې بزرګانونه دا د تفسیر په طور صادر شو. نوزمونږ دقول تائید اوشو چه لا دنفی د تاکید دپاره ده چه دا وهم نه وی چه په ﴿ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ باندې عطف دې او ددې وجې هم د دواړو لاروفرق معلوم شی چه هر سړې ددې دواړونه بچ اوسی. دایمان والو طریقه ده چه دحق علم ورته هم وی او په حق روان هم وی. یهودیانو سره علم نشته دې او نصرانیانو سره عمل نشته دې. نوپدې وجه دعلم نه باجودعمل پرینبودل دغضب سبب دې. یعنی دیوځیز قصد خو کوی لیکن ددې صحیح لار نشی موندلې،ځکه چه ددوی طریقه کار غلط دې. دوی د حق د اتباع نه اوړیدلی دی. هسې خو غضب او ګمراهی ددې دواړو ډلو په حصه کښې ده لیکن یهودیان دغضب په حصه کښې مخکښې دی.لکه څنګه چه په قران پاک کښې دی چه﴿ مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ﴾اونصرانیان په ضلالت کښې مخکښې دی.دالله ﷻ فرمان دې چه﴿قَدْ ضَلُّوْامِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْاعَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ﴾ یعنی دوی دمخکښې نه په ګمراهئ کښې دی اوډیرخلق ئې ګمراهان کړی دی اودنیغې لارې نه اوړیدلی دی ددې په تائید کښې ډیرزیات روایات اواحادیث پیش کیدې شی.

دعدی ﷺ د ایمان راوړو واقعه:-مسند احمد کښې دی چه حضرت عدی بن حاتم ﷺ فرمائی چه د رسول کریم ﷺ لښکرځما تروراو څه نور خلق ګرفتار کړل اودحضور اکرم ﷺ په خدمت ئې پیش کړل نو ځما ترور اووئیل چه ځما خبر اخستونکې لرې دي او څه بوډنی یم .اودځه خدمت کولو نه یم. اني حضور ﷺ ماباندې احسان اوکړئی. اوما دبند نه خلاصه کړئی.الله ﷻ به په تاسوباندې هم احسان اوکړی.حضور ﷺ تړې تپوس اوکړو چه ستا خبر اخستونکې څوک دې ؟ هغې اووئیل چه عدی بن حاتم . حضور ﷺ اوفرمائیل چه هغه کس چه دالله ﷻ اود رسول ﷺ نه تښتې.بیا حضور ﷺ هغه دبند نه خلاصه کړه. هرکله چه واپس شوه نو رسول کریم ﷺ سره یو کس وو او غالبا هغه حضرت علی ﷺ وو. هغوی اوفرمائیل چه دده نه سورلی اوغواړئی. ځما ترور دوی ته درخواست اوکړو او منظور شو. اوسورلی ورته ملاؤ شوه.

Scanned with CamSc

هغه ددې خاني دښد نه خلاصه شوه اوماته راغله او وې وئيل چه د حضور ﷺ سخاوت خو خما ډيلاز حاتم سخاوت لره هم پاتې راوستو.حضور ﷺ ته چه څوك راشي نوهغه خالي لاس نه خي. په دې آوريدو سره خه هم د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضرشوم، ما اوکتل چه وړوکی ماشومان او بوډۍ بنځې هم دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضريږی. اوحضور ﷺ هغوی سره ډير په بې تکلفۍ سره خبرې کوی. دې خبرې ماته يقين راکړو چه د قيصر او کسری په شان بادشاهت او وجاهت طلب کولو والا نه دی. حضور ﷺ چه کله خه اوليدم نووې فرمائيل چه عدی ﴿لا اله الا الله﴾ نه ولې تښتې. آيا دالله ﷻ نه سوا نور څوك دعبادت لائق شته دي ؟ د﴿الله اکبر﴾ونيلو نه ولې مخ اړوې. آيا الله ﷻ نه هم څوك لوئې شته دي؟ ما باندې دې کلماتو اود حضور ﷺ سادګۍ ډير زيات اثر اوکړو او ما زر کلمه اووئيله او مسلمان شوم او په دې سره نبی ﷺ ډير زيات خوشحاله شو او وې فرمائيل ﴿غَيْرِالْمَغْضُوْبِ﴾نه مراد هم دا يهود دی او د﴿الضَّآلِّيْنَ﴾ نه مراد نصرانيان دی (۱).

په يوبل حديث کښې دی چه د حضرت جعفر عدی ﷺ په سوال باندې حضور ﷺ دا تفسير بيان کړې وو. ددې حدېث ډير زيات سندونه دی او مختلف الفاظو سره روايت دې. د بنو قين يو سړی په وادی القری کښې د حضور ﷺ نه دا سوال اوکړو نو حضور ﷺ په جواب کښې هم دا اوفرمائيل . بعضو روايتونو کښې ددوی نوم عبدالله بن عمرو ﷺ راغلې دې. والله اعلم.

ابن مردويه کښې د حضرت ابوذر ﷺ نه هم دا روايت دې.حضرت عبدالله بن عباس ﷺ،حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ اوډير نور صحابه کرامو ﷺ نه هم دا تفسير نقل دې. ربيع بن انس ؒ،عبدالرحمن بن زيد بن اسلم ؒ وغيره هم دا فرمائی. بلکه ابن ابی حاتم ؒ خو فرمائی چه په مفسرينو کښې په دې باره کښې اختلاف نشته دې. ددې امامانو ددې تفسير دليل خو هغه حديث دې چه کوم مخکښې تير شو .دويم دسورت بقره هغه آيت دې چه په هغې کښې بنی اسرائيلوته خطاب شوې دې﴿ بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ﴾په دې آيت کښې دی چه په هغوی باندې غضب نازل شو.او دسورت مائده په آيت ﴿قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَاللّٰهِ﴾کښې هم دی چه په هغوی باندې غضب نازل شوې وو.يو خائې ارشاد دې کښې ﴿لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾يعنی بنی اسرائيلو کښې چه کوموخلقو کفر اوکړوپه هغوی لعنت اوکړې شو. دحضرت داود ﷺ اود حضرت عيسی بن مريم ﷺ په ژبه دا دهغوی دنافرمانۍ او د حدنه دتيريدو په وجه وو. دې خلقو به خپلو کښې يوبل د بدو نه نه منع کول. يقيناً ددې خلقو کارونه ډير خراب وو.

د حق دين په تلاش کښې د څو کسانو کوشش:-او دتاريخ په کتابونو کښې دی چه زيد بن عمرو بن نفيل چه کله خپلو ملګروسره دالله ﷻ دين په تلاش کښې اووتلواوشام ملك ته راغلونودوی ته يهوديانو اووئيل ته زمونږ په دين کښې نشې داخليدې ترکومې پورې چې ته دالله ﷻ د غضب حصه جوړه نشې. هغوی اووئيل چه ددې نه دبچ کيدو دپاره خو دالله ﷻ ددين په تلاش کښې وتلی يو نوبيا به دا څنګه قبول کړو. نصرانيانو سره ملاؤ شو. هغوی اووئيل چه ته ترکومې پورې دالله ﷻ د خفه کيدو حصه جوړه نشې نو تر هغه پورې زمونږ دين کښې نشې داخليدې. هغوی اووئيل چه مونږ خو داسې هم نشوکولې. نوهغوی په خپل فطرت باندې پاتې شو. د بتانو عبادت او دقوم دين ئې پرښودو. ليکن يهوديت اونصرانيت ئې اختيار نه کړو(۲)البته د زيدملګرو عيسائی مذهب قبول کړو ځکه چه دا يهودی مذهب سره يوشان وو. هم په دې کښې حضرت ورقه بن نوفل هم وو. ده ته د نبی کريم ﷺ زمانه ملاؤ شوه اود الله ﷻ هدايت دده راهنمائی اوکړه اوده په رسول کريم ﷺ باندې ايمان راوړو او چه کومه وحی په هغه وخت کښې نازل شوې وه هغه ددې تصديق اوکړو.

---

[1]) احمد: ۳۷۸/٤، ابواب التفسير: باب ومن سورة فاتحة الكتاب : ۲۹۵۳ وسنده حسن)-

[2]) صحيح بخاری : كتاب المناقب الانصار باب حديث زيد بن عمرو بن نفيل: ۳۸۲۷)-

Scanned with CamSc

(مسئله)

د ض او دظ فرق :- ضاد او ظاء په قراءت کښې ډير زيات باريکئ دی او دا فرق دهر يو په وس کښې نه دی. ځکه چه د عالمانو صحيح مذهب دادی چه دا فرق معاف دی. د ضاد صحيح مخرج خوداد ی چه د ژبې په اولې غاړې اودې سره نزدې داړهې سره، او د ،ظاء، صحيح مخرج دژبې يو طرف او مخامخ پاسنو دوؤ غاښونو غاړه. دويم دا چه دا دواړه حرفونه مجهوره دی او رخوه او مطبقه دی. نو هغه سړی ته دا معاف دی چه په دې کښې فرق نشی کولې چه ضاد دظاء په شان اووائی. په يو حديث کښې دی چه د ټولو نه زيات صحيح وئيلو والا څه يم ليکن داحديث بالکل بې اصل او لاپته دی.

(فصل) دسوره فاتحه خلاصه

دا مبارک سورت ډير زيات کارآمد مضمونونو والا مجموعه دی. په دې اووه آيتونو کښې دالله ﷻ حمد وثناء دهغه بزرګی بيان شوی ده.او دهغه ډيا کو نومونو اود هغه د اوچتو صفتونو بيان دی. ورسره د قيامت د ورځې ذکر دی. او بندګانو ته ارشاد دی چه دوی دی دهغه مالك نه سوال کوی اودهغه طرف ته دی تضرع کوی او هغه ته دی دخپلې غريبئ او د بې قرارئی اظهار کوی. او دهغه عبادت دی خلوص سره کوی.اودهغه د توحيد د الوهيت اقرار دی کوی. او هغه پاك ذات دی د شرك او نظير او مثل نه بالکل پاك او غوره اومنی. اودصراط مستقيم او په دې باندې د ثابت قدمئی مدد دی غواړی. اوهم دا هدايت به دوی د قيامت په ورځ د پل صراط نه هم پوری باسی او په جنت کښې به د نبيانو او صديقينواو نيکانواو صالحانوسره دده ګاونډ وی. ورسره په دې سورت کښې دنيکو عملونو ترغيب دی چه دقيامت په ورځ دنيکانو سره يوځائې شی. او باطلو لارو باندې دتلو نه ويرول دی چه د قيامت په ورځ هم د هغوی د ډلونه لرې وی ، دا باطل پرست يهوديان او نصرانيان دی.

دضلالت نسبت الله ته نه دې شوې:- په دې باريکه نکته باندې هم غور اوکړئی چه د انعام استناد الله ﷻ طرف ته اوشو.او﴿ اَنْعَمْتَ﴾ اووئيلې شو اودغضب اسناد اونکړې شو. پدې ځائې کښې فاعل حذف کړې شو او ﴿غَيْرِالْمَغْضُوْبِ﴾ اووئيلې شو نو په دې کښې د پروردګار عالم په حضور کښې ادب اوساتلې شو. په اصل کښې حقيقی فاعل الله دی لکه په بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿غَضِبَ اللّٰهُ﴾ او داشان دضلالت اسناد هم دهغوی طرف ته اوشو چه کوم ګمراه دی حالانکه په بل ځائې کښې دی چه ﴿ مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ۝ ﴾ او چاته چه الله ﷻ لار اوښائی نو هغه لار بيا مونده. او چه څوك ګمراه کړی نو دده ولی اومرشد هيڅوك نشته دی. او په بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ﴾ يعنی الله ﷻ چه څوك ګمراه کړی نو دده هيڅوك هادی نشته دی نودوی په خپله سرکشئ کښې دی.داشان نور آيتونه هم دی چه دهغې نه ثابتيږی چه لاره خودونکې اوګمراه کوونکې صرف دالله ﷻ ذات دی.

دقدريه فرقې مذهب:- قدريه فرقه اخواديخوا نه متشابه آيتونه دليل جوړوی او هغه پيش کوی اووائی چه بندګان په خپله مختار دی دا (بندګان) په خپله خوښه روان دی او پخپله يو کار کوی خو دا غلط دی. صريح او صفا صفا آيتونه ددې په ضد کښې موجود دی. ليکن د باطل پرستو فرقو هم دا عقيده دی چه صراحت پريږدی او متشابه پسې روان وی صحيح حديث کښې دی چه کله تاسوهغه خلق اوګورئی چه دمتشابه آيتونو پسې روان وی نو پوهه شئ الله ﷻ هم ددې خلقو نومونه اخستی دی تاسو دوی پريږدئی ()د نبی کريم ﷺ ارشاره دی آيت مبارك طرف ته ده چه ﴿ فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ﴾ يعنی چه دکومو خلقو زړونه کاږه دی هغوی متشابه پسې روان وی او د فتنواوتاويلونو په تلاش کښې وی. نو

---

[1]) صحيح بخاری كتاب التفسير: تفسير سورة آل عمران : ٤٥٤٧، صحيح مسلم: ٢٦٦٥،)-.

Scanned with CamScanner

الحمد لله د بدعتیانو دپاره په دې قران کریم کښې صحیح دلیل هیڅ نشته دې . قران پاك خو حق او باطل او ضلالت او هدایت کښې فرق کولو دپاره راغلې دې. په دې کښې تناقض او اختلاف نشته . دا خو د حکیم اوحمید نازل شوې کتاب دې .

﴿ فصل ﴾

امام پسې اوچت اواز سره امین وئیل :-د سورت فاتحه په خاتمه آمین وئیل مستحب دی. ﴿ آمین ﴾ د یا سین په شان دې. او آمین هم وئیلې شوې دې. او ددې معنی داده چه اې الله ﷻ ته ئې قبول کړه. د آمین د مستحب کیدو دلیل دا حدیث دې چه کوم په مسند احمد ،ابوداود اوترمذی کښې د وائل بن حجر ﷺ نه روایت دې. هغه وائی چه ماد رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه ﴿ غَيْرِالْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَاالضَّآلِّيْنَ ﴾ وئیلو نه پس ئې ﴿آمین﴾ وئیل. امام ترمذی رحمه الله دې حدیث ته حسن وائی()حضرت علی کرم الله وجهه ، حضرت ابن مسعود ﷺ او حضرت ابوهریره ﷺ وغیره نه هم روایت دې چه درسول الله ﷺ آمین به هغه خلقو آوریدو چه کوم به په رومبی صف کښې حضور ﷺ سره نزدې وو. ابوداود او ابن ماجه کښې هم دا حدیث شته دې. په ابن ماجه کښې هم دی چه دآمین آوازسره کښې جمات ګنړار شو(')دار قطنی کښې هم دا حدیث دې اودار قطنی دې ته حسن وائی. بلال ﷺ نه روایت دې چه هغه به رسول الله ﷺ ته وئیل چه ځما نه مخکښې آمین مه وایه.(')(ابوداود) حسن بصری رحمه الله او جعفر صادق رحمه الله نه آمین وئیل روایت شوېدې. لکه په قران کریم کښې دی ﴿ آمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ ﴾ .زمونږ اصحاب وغیره وائی که په مونځ کښې نه وی نو هم آمین وئیل پکار دی. خو که په مونځ کښې وی نو په دې کښې تاکید زیات دې.

امین د هرچا وظیفه ده:-که مونځګزار یوازې وی او که مقتدی اوکه امام وی په هر حالت کښې آمین دې وائی.بخاری شریف او مسلم شریف کښې دحضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه امام آمین اووائی .نوتاسو هم آمین وائې.د چا آمین چه دفرښتو آمین سره یو ځائې شی نو دده مخکښې روستی ګناهونه معاف کیږی (').مسلم شریف کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه کله په تاسو کښې څوك په خپل مونځ کښې آمین اووائی نو فرښتې په آسمان کښې آمین وائی او چې د یو آمین دبل د آمین سره مطابقت راشی نو دده تول مخکښې روستو ګناهونه معاف کیږی ('). مطلب دادې چه دده دآمین اود فرښتو د آمین وخت یو شی یاموافقت نه مراد قبولیت کښې موافق کیدل دی یا اخلاص کښې. صحیح مسلم کښې د ابوموسی اشعری ﷺ نه مرفوعاً روایت دې چه کله امام ﴿ وَلَا الضَّآلِّيْنَ ﴾ اووائی نو آمین وائې الله ﷻ به ئې قبلوی. (')

د امین معنی:- ①حضرت ابن عباس ﷺ د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چې د آمین څه معنی ده؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اې الله ﷻ ته ئې قبول کړه②جوهری رحمه الله فرمائی چه ددې معنی دې " داشان وی "③ ترمذی وائی چه ددې معنی ده " زمونږ امیدونه مات نه کړې"④ اکثر علماء کرام وائی چه ددې معنی ده " اې الله ﷻ زمونږ دعا قبوله کړه ".

---

[1]) احمد ٤/٣١٨، ابوداود کتاب الصلوة باب التامین وراء الامام: ٩٣٢، وهو صحیح، ترمذی : ٢٤٨)-

[2]) ابوداود کتاب الصلاة باب التامین وراء الامام : ٩٣٤)-

[3]) ابوداود کتاب الصلوة باب التامین وراء الامام: ٩٣٧، احمد:٦/١٢، وهو صحیح .)-

[4]) صحیح بخاری : کتاب الاذان باب جهر الامام باالتامین : ٧٨٠، وانظر: ٦٤٠٢، ابوداود: رقم: ٩٣ نسائی: ٩٢٦)-

[5]) صحیح بخاری : کتاب الصلوة باب التسمیع والتامین: رقم: ٤٠٩)-

[6]) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب التشهید ف الصلاة : ٤٠٤، ابوداود: ٩٧٢)-

Scanned with CamSc

مجاهد رحمه الله ، جعفر صادق ، هلال بن سیاف، فرمائی چه آمین دالله ﷺ په نومونو کښې یونوم دې.حضرت ابن عباس ﷺ نه مرفوعاً هم روایت دې لیکن صحیح نه دی. دحضرت امام مالك رحمه الله د اصحابوهم دامذهب دې چه امام دې آمین نه وائی اومقتدی دې آمین وائی ځکه چه موطا امام مالك رحمه الله په حدیث کښې دی چه کله امام ﴿وَلَاالضَّآلِّيْنَ﴾ اووائی نو تاسو آمین وائې.()

داشان ددوی ددلیل په تائید کښې صحیح مسلم والا د ابو موسی اشعری ﷺ دا روایت هم راخی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل کله چه امام ﴿وَلَاالضَّآلِّيْنَ﴾ اووائی نو تاسوآمین وائې (). لیکن د بخاری او مسلم حدیث مخکښې بیان شو کله چې امام آمین وائی نو تاسو هم آمین وائې اودا حدیث هم دې چه کله به حضور ﷺ ﴿ولاالضالین﴾ اوئیلو نو بیا به نې آمین وئیلو.

امین د چا وظیفه ده؟

مسلک حنفی:- مسئله دا ده.چه د سورة فاتحې په ختمیدو باندې چه کله امام ﴿وَلَاالضَّآلِّيْنَ﴾ اووائی نو امام او مقتدی دواړو لره آمین وئیل پکار دی. (تسهیل الهدایه (۱\۳۲۴)-

جهری مونځونو کښې آمین په اوچت آواز سره ، جهری مونځونو کښې مقتدی آمین په اوچت آواز سره وائی که نه به وائی په دې کښې زمونږ دملګرو اختلاف دې. د هغې خلاصه داده که امام نه آمین وئیل هیر شو نو مقتدی دې په اوچت آواز سره آمین اووائی . که امام پخپله په اوچت آوازسره آمین اووئیلو نو نوې قول دادې چه مقتدی دې په اوچت آواز سره نه وائی. داد حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب هم دې. او په یو روایت کښې د امام مالك رحمه الله نه دا هم نقل دی ځکه چه د مونځ او نورو ذکرونو په شان دا هم یو ذکر دې. خو دا په اوچت آواز سره وئیلې کیږی اونه دغه په اوچت آواز سره. لیکن رومبې قول دا دې چه دا آمین دې په اوچت آواز سره اووائی. د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دا مذهب دې. او د حضرت امام مالك رحمه الله د بل روایت مطابق هم دا مذهب دې. اوددې دلیل هغه دې چه مخکښې کوم بیان شو چه د آمین سره به جمات کښې شور شو(۲)زمونږ یو دریم قول دا هم دې که جمات وړوکې وی نو مقتدی دې په اوچت آواز سره آمین نه وائی ځکه چه دې دامام قرات آوری. او که جمات لوې وی نو په اوچت آوازدې وائی چه د جمات ګوټ ګوټ ته د آمین آواز اورسی. والله اعلم .

د یهودو مسلمانانوسره دحسد وجه:- مسند احمد کښې حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه رسول کریم ﷺ سره دیهودو ذکر اوشو نو رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه زمونږ په دریو ځیزونوباندې یهودو ته دیر زیات حسد او بغض دې چه په بل څه نه دې . یو خوجمعه ده چه الله ﷻ مونږ ته ددې هدایت کړې دې او دوی اورغړیدل. دوئمه قبله ، دریم امام پسې آمین په اوچت آواز سره وئیل. د ابن ماجه په یو حدیث کښې دی چه یهودو ته په سلام او آمین وئیلو باندې ځومره حسد دې دومره په بل څه نه دې. (۳)او حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه روایت دې چه حضور نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چه یهودیان ځومره حسد ستاسوسره په آمین وئیلو کوی دومره په بل څه نه کوی. تاسو هم آمین په کثرت سره وائې. ددې په اسناد کښې طلحه بن عمرو راوی ضعیف دې(۴)ابن مردویه د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آمین دالله ﷻ مهر دې په خپلومومنانو باندې.(۵)دحضرت انس ﷺ والا

---

۱) موطا امام مالک کتاب الصلوة باب ماجاء فی التامین خلف الامام :٤٥، وهو صحیح)-

۲) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب التشهید فی الصلاة: ٩٠٤)-

۳) ابو داود کتاب الصلاة باب التامین وراء الامام رقم: ٩٣٤، ابن ماجة: ٨٥٣،)-.

۴) احمد:٦/١٣٤، ابن ماجة: کتاب اقامة الصلاة بآب الجهر بآمین: ٨٥٦، وسنده صحیح ابن خزیمة : ١٥٨٥، الترغیب: ٧١٩)-

۵) ابن ماجة: کتاب اقامة الصلاة بآب الجهر بآمین: ٨٥٧،) -

۶) الدعاء للطبرانی : ٢١٩،)-

Scanned with CamScanner

حدیث کښې دی چه په مونځ کښې امین وئیل او په دعا باندې امین وئیل ماته راکړې شوی دی. چه ځما نه مخکښې نور چا ته نه وو ورکړې شوی. خودومره دی چه د حضرت موسی ﷺ په خاص دعا به حضرت هارون ﷺ آمین وئیلو. تاسوپه خپلې دعاګانې په آمین باندې ختموئی. الله ﷻ به دا ستاسو په حق کښې قبولی ()

امین به په جهر وئیلی شی که رو ؟

مسلک حنفی:- زمونږ په نیز د امام او مقتدی پولو دپاره آمین په پټه وئیل مسنون دی. دلیل د حضرت ابن مسعود ﷺ حدیث دې. کوم چه وړاندې تیر شو. یعنی ﴿قال أربع يخفيهن الإمام التعوذ وبسم الله الرحمن الرحيم واللهم ربنا لك الحمد وآمين﴾ او په یو روایت کښې دی. ﴿خمس يخفيهن الإمام﴾ او دذکر شوی ځلورو څیزونو نه علاوه نې ﴿سبحانك اللهم وبحمدك﴾ هم ذکر کړې دې. ددې روایت نه آمین په پټه وئیل ثابت شو (تسهیل الهدایه (۳۲۵\۱)

داحدیث مد نظر کیږدئی او دقران پاك هغه الفاظ اوګورئی چه په هغې کښې د حضرت موسی ﷺ دعا ﴿رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيْتَ فِرْعَوْنَ﴾ ده یعنی اې الله ﷻ تا فرعون او فرعونیانوته ددنیا زینت او مال ددنیا په ژوند کښې ورکړې دې په دې سره دوی ستا د لارې نه خلق اړوی. اې ربه ددوی مالونه تباه کړې او د دوی زړونه سخت کړې چې دوی ترهغه وخته پورې ایمان رانوړی ترڅو چه دوی سخت عذاب نه وی لیدلې. د حضرت موسی ﷺ ددې دعا د قبلیدو اعلان په دې الفاظو کښې دې چه ﴿قَالَ قَدْ أُجِيبَت دَّعْوَتُكُمَا﴾ یعنی ستاسو د دواړو دعا قبوله شوه. تاسو مضبوط اوسئ او دې بې علموته لار مه ښائې. دعابه صرف موسی ﷺ کوله او هارون ﷺ به په دې آمین وئیلو. لیکن قران پاك ددعا نسبت دواړو طرف ته کړې دې. ددې نه بعضې خلقو استدلال کړې دې چه کوم سړې د چا په دعا باندې آمین اووائی نو داداسې شو لکه چه ده په خپله دعا اوکړه. اوس دا استدال مخکښې اړدی او هغوی قیاس کوی چه مقتدی دې قراءت نه کوی ځکه دده په سورت فاتحه باندې آمین وئیل داسې دی لکه چه ده اووئیله . دا حدیث هم دلیل کښې راوړلې شی چه د چا امام وی نو دامام قرات دمقتدی دپاره کافی دی(")(مسند احمد) .

حضرت بلال ﷺ فرمائی چې حضور نبی ﷺ به فرمائیل چې اې خلقو په آمین کښې ځمانه مه وړاندې کیږئی(")په دې بحث مباحثه کښې په مقتدی باندې په جهری مونځونو کښې سورت فاتحه وئیل ثابت کول دی. والله اعلم

ابوهریره ﷺ فرمائی چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله امام ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّينَ﴾ اووائی او بیا آمین وائی او د آسمان والو آمین د زمکې والو آمین سره ملاوشی نو الله ﷻ دبندګانو ټول مخکښې ګناهونه معاف فرمائی. (")

د آمین نه وئیلو مثال داسې دې لکه چه یوسړې یو قوم سره شو او جنګ کښې شریك شو اودوی پرې غالب شو اومال غنیمت نې جمع کړو ،اوس قرعه اندازی کوی او حصې اخلی نوددې سړی د نوم هډو قرعه راو نه وته او ورته څه حصه ملاؤ نشوه ،هغه وائی چه دا ولې؟ نو جواب ملاؤ شی چه ستا دآمین نه وئیلو په وجه.

---

[1]) ابن خزیمة: رقم:١٥٨٦،)-

[2]) احمد: ٣٣٩/٣، ابن ماجة كتاب اقامة الصلوات باب اذا قراء الامام فانصتوا.....: ٨٥٠،)-

[3]) ابوداود كتاب الصلاة باب التامين وراء الامام : ٩٣٧، داروایت صحیح دې)-.

[4]) مسند ابی یعلی : ٦٤١١،)-

Scanned with CamSc

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د سورت بقره تفسیر

د سورة بقرې د نزول کیفیت :- حضرت معقل بن یسار ﷺ فرمائی چه رسول کریم ﷺ وفرمانیل چه سورت بقره د قران پاك کوب دې. اوددې اوچتوالې دې څکه چه ددې یویو آیت سره به اتیا زره فرښتې راکوزیدې. اوخاص کر آیت الکرسی خو خاص د عرش دلاندې نه نازله شوې ده. اودې سورت سره یو خانې شوه. سورت یس د قران پاك زړه دې. چه کوم سړې دا د الله ﷻ درضا او د آخرت د طلب کولو دپاره اولولی نودې به اوبخښی.دا مړو ته وائی ()(مسند احمد) ددې حدیث په سند کښې یو خانې "عن رجل"دی نودامعلومه نه شوه چه ددې نه مراد څوك دی؟ لیکن دمسند احمد په یو بل روایت کښې د ده نوم ابوعثمان راغلې دې. دا حدیث داشان په ابو داود ،نسائی اوابن ماجه کښې هم دې ().

سورة بقره د قران اوچتوالې دې:- دترمذی په یو ضعیف سند والا حدیث کښې دی چه دهر څیز دپاره یو اوچتوالې وی او د قران پاك اوچتوالې سورت بقره دې.په دې سورت کښې یو آیت دې چه د ټولو آیتونو سردار دې اوهغه آیت الکرسی ده ().

کورونو کښې سورة بقره وئیل:-مسند احمد،صحیح مسلم ، ترمذی اونسائی کښې حدیث دې چه خپل کورونو نه قبرونه مه جوړوئی. چه په کوم کور کښې سورت بقره اولوستلې شی نو هغه خانې ته شیطان نه داخلیږی()حضرت امام ترمذی رحمه الله دې حدیث ته حسن وائی. په یو بل حدیث کښې دی چه په کوم کور کښې سورت بقره اولوستلې شی نود هغه کور نه شیطان تښتی()ددې حدیث راوی یحیی بن معین ته خو ثقه وائی لیکن احمد وغیره دده حدیث ته منکر وائی. حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نه هم داشان قول نقل دې دا نسائی په،عمل الیوم اللیلة، کښې اوحاکم په مستدرك کښې روایت کړې دې او ددې سند ته ئې صحیح وئیلی دی.

د سورة په وئیلو د شیطان تختیدل:- ابن مردویه کښې دی چه رسول کریم ﷺ فرمانی چه خه دې زه دې په تاسو کښې داسې کس اونه وینم چه هغه ډیر تلاوت کوی ولې سورة بقره اونه وائی. واورئی چه په کوم یوکور کښې دا آیت مبارك لوستلې شی نو دهغه خانې نه شیطان تښتی. په ټولو کورونو کښې بدترین او ذلیل کورهغه دې چه په هغې کښې دالله ﷻ دکتاب تلاوت نه کیږی. امام نسائی دا په ،،عمل الیوم واللیلة،، کښې هم نقل کړی دی().

سورة بقره د قران مغز دې - په مسنددارمی کښې دحضرت ابن مسعود ﷺ نه روایت دې چه په کوم یو کور کښې سورت بقره اووئیلې شی نوهغه کور نه شیطان په تیښته ځی. دهر څیز اوچتوالې وی اود قران پاك اوچتوالې سورت بقره ده.دهرڅیز دپاره لباب (مغز) وی او د قران کریم لباب مفصل سورتونه دی().

---

[1]) احمد:۲۶/۵،)-

[2]) ابوداود کتاب الجنائز ،باب یقراة عندالمیت:۳۱۲۱،)-

[3]) ترمذی ابواب فضائل القران باب ماجاء فی سورة بقرة واية الكرسی :۲۸۷۸،)-

[4]) صحیح مسلم : کتاب صلاة المسافرین باب استحباب صلاة النافلة فی بیته: ....۷۸۰، احمد: ۳۷۸/۷، ترمذی : ۲۸۷۷، السنن الکبری للنسائی: ۱۰۸۱۰)-

[5]) فضائل القرانِ لابی عبید: ۳٤/۹،)-

[6]) السنن الکبری للنسائی : کتاب عمل الیوم واللیلة : ۹٦٤،)-

[7]) مسند دارمی : ۲٤۱۸،)-.

Scanned with CamSc

د سورة بقري د لس اياتونو فضيلت:- حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه کوم سړي د سورت بقره رومبی څلور آيتونه او آيت الکرسی او دوه آيتونه دي نه پس اودري آيتونه دتولو نه آخری چه دا ټول لس آيتونه شو دشپي په وخت کښې اووائی نودي کور ته شيطان نشی راتلې. او په دې ورځ کښې به دي کور والا ته شيطان يا څه بل څيز تکليف نشی رسولې. که دا آيتونه په ليونی باندې دم کړې شی نو دهغه ليونتوب به ختم شی (۱).

د شيطان نه حفاظت:- رسول کريم ﷺ فرمائی چه څنګه دهر څيز دپاره اوچتوالي وی د قران پاک اوچتوالي سورت بقره ده. چه څوک د شپي په وخت کښې دا په خپل کور کښې وائی نو تر دريو ورځو پوري شيطان دې کور ته نه داخليږی (۲)(طبرانی . ابن حبان ، ابن مردويه).

سورة بقره د سرداریٔ سبب:- ترمذی ، نسائی او ابن ماجه کښې دی چه رسول کريم ﷺ يو خاني ته يو ورکې شان لښکر اوليږلو اوددې سرداری رسول کريم ﷺ هغه سړی ته ورکړه چه کوم سړی وئيلی وو چه ما ته سورت بقره ياده ده. په هغه وخت کښې يو شريف سړی اووئيل چه خه هم دا يادوم، ليکن خه ويريدم چه هسې نه چه په دې باندې عمل اونکړې شم. نبی کريم ﷺ اوفرمائيل قران پاک زده کړه ، قران وايه، چه څوک دا زده کوی او وائی نې بيا په دې عمل هم کوی نودهغه مثال داسې دي لکه د مشکو نه ډک لوښې چه دهغې خوشبو هر طرف ته خوره وی. اوکوم سړی چه دا سورت ياد کړې وې اوبيا نې لولی نه نو دده مثال د هغه لوښی پشان دي چه په هغې کښې خو مشک وی ليکن خوله پرې بنده وی. امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وائی او دا روايت مرسل هم دې والله اعلم (۳).

د سورة بقري دپاره د فرشتو راکوزيدل:- صحيح بخاری کښې دی چه حضرت اسيد بن حضير ﷺ يو شپه د سورت بقره تلاوت شروع کړو نودده آس چه ده سره تړلې وو هغه په توپونو شو نو دوی قرات پريښودو آس قلا ر شو نودوی بيا لوستل شروع کړل نو آس بيا په توپونو شو. نودوی بيا وئيل موقوف کړل. آس بيا صحيح شو. په دريم خل بيا داسې اوشول . چونکه دده ځوئې يحيی د آس سره ملاست وو ددې وجې ويريده چه هسې نه بچې نه خلاص شی (يعنی هغه چغنړی کړی) نو قران پاک وئيل نې بندکړو اودې نې اوچت کړو. آسمان طرف ته نې اوکتل چه د څناور د آواز څه وجه ده؟ سحر د حضور اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو اوتوله واقعه نې ورته بيان کړه. حضور ﷺ آوری او فرمائی چه اسيد وايه . حضرت اسيد اووئيل چه حضور ! د يحيی په وجه خو مونږ وئيل بندکړل. اوس چه مې اوکتل نو څه ګورم چه يو نورانی څيز د سيوری کوونکې وريځې پشان دې اوپه دې کښې د چراغونو په شان رنړا ده نو ځما په کتلو سره هغه پورته لاړو. حضور اکرم ﷺ اوفرمائيل چه تاته پته ده چه دا څه څيز وو. دا فرښتې وې چه ستا آواز آوريدو سره نزدې راغلې وې او که تا تلاوت کول نه وې پريښودې نو ترصبا پورې به هم داسې وې او هر سړی به دوی کتلې د چا نه به نه پټيدلې (۴). دا حديث په څو کتابونو کښې چه په څو سندونو سره موجود دي. والله اعلم.

داسې يوه بله واقعه:- ددې نزدې نزدې يو واقعه حضرت ثابت بن قيس بن شماس دي . يو خل حضور ﷺ ته خلقو اووئيل چه مونږ اوکتل چه توله شپه د حضرت ثابت کور په نور سره رنړا کوی او پرقا کوی . حضور ﷺ اوفرمائيل شائد ده دشپي سورت بقره لوستې وی. کله چه ده نه تپوس اوکړې شو نو هغوی

---

۱) دارمی کتاب فضائل القران باب فی فضل سورة البقرة: ۳۳۷۵)-

۲) مسند ابی يعلی :۷۵۵، -

۳) ترمذی ابواب فضائل القران باب ماجاء فی سورة وايةالکرسی:۲۸۷۶، ابن ماجة : ۲۱۷، ابن حبان : ۷۱۷۶، ابن خزيمة: ۱۵۰۹: وسنده حسن)-

۴) صحيح بخاری کتاب فضائل القران باب نزول السکينة والملائکة: ۵۰۱۸، تعليقا ، صحيح مسلم: ۷۹۶)-

Scanned with CamS

اووئیل چه ربښتیا دی. دشپې څه د سورت بقره په تلاوت کښې مشغول اووم ، ددې اسناد ډیر ښه دی مګر په دې کښې ابهام دی. اودا مرسل هم دی.(۱) والله اعلم.

د سورت بقره اود سورت آل عمران فضیلت :-نبی کریم ﷺ فرمائی چه سوره بقره وایې څکه چې د دې اخستل برکت دی او ددې پریښودل تاوان دی ، جادوګر ددې طاقت نه لری. بیا څه وخت پس چپ پاتې کیدو نه پس ئې اوفرمائیل چه سورت بقره او سورت آل عمران زده کړئی . دا دواړه نوارنی سورتونه دی ، خپل لوستونکی باندې سیوری کوئی یا وریځ کوی یا د مارغانو سیل په شان دقیامت په ورځ سیورئی کوی. قران پاك لوستونکې کله چه د قبر نه راوزی نو ګوری به چې یو نورانی خوان نورانی مخ سره دې سړی سره ولاړ وې او وائی به آیا ته ما پیژنې؟ دې به اووائی نه ، نو جواب به ورکړی څه قران پاك یم. چه دې ته اوږې ټرې کړې وې او دشپو ئې د بسترې نه لرې کړې وې ، هر تاجر دخپل تجارت په سوچ کښې دې.خونن ته په هر تجارت پسې ئې.(یعنی د خلقو یو تجارت وی چې په هغې کښې هغوی ګټه کوی اوستا هر یو عمل ګټه ده) اوس به ده ته بادشاهی په ښی لاس کښې ورکړې شی او همیشوالې په ګس لاس کښې اودده په سر به د وقار او عزت والا تاج کیخودې شی. ددې مور پلار ته به داسې دوه قیمتی جوړې واغوندلې شی چه ټوله دنیا به هم ددې قیمت مخکښې هیڅ نه وی ،هغوی به حیران شی او وائی به چه آخر ددې رحم اوکرم اوانعام څه وجه ده ؟ نودوی ته به جواب ملاؤ شی چه ستاسو د بچو د قران پاك د وئیلو په وجه په تاسوباندې انعام شوې دې ، بیا به اووئیلې شی چه لوله او د جنت په درجو ورخیژه. نو هغه به وائی او په درجو به خیژی ، که په ترتیل سره ئې وائی او که بغیر د ترتیل نه. (۲)

دحدیث د سند تحقیق:-ابن ماجه کښې هم ددې حدیث څه روایت شوې دې(۳)ددې اسنادحسن دی. اودا مسلم په شرط دې.ددې راوی بشر بن مهاجر دې.امام مسلم رحمه الله هم روایت کړې دې.اوامام بن معین رحمه الله ده ته ثقه وائی. د نسائی رحمه الله قول دې چه په دې کښې هیڅ حرج نشته ، خو امام احمد رحمه الله ده ته منکر الحدیث وائی. اوفرمائی چه ما تلاش کړل او اومې کتل چه هغه عجیبه عجیبه احادیث راوړی.د حضرت امام بخاری رحمه الله فیصله ده چه دده احادیث لیکلې شی خو دلیل پرې نشی نیولې. د حضرت ابن عدی رحمه الله قول دې چه دده داسې روایتونه هم دی چه ددې متابعت نشته دې. دارقطنی فرمائی چه دا قوی نه دې.

د سورة بقرې د لوستلو حکم:مسند احمد کښې دی چه قرآن پاك وائی چه داخپلو ویونکو دپاره دقیامت په ورځ شفاعت کوی. دوه نورانی سورتونه بقره اوآل عمران وائې.دا دواړه به د قیامت په ورځ دا شان رازی چه ګنې دادوه سیوری دی یابه دوه وریځې وی یادواړه دمارغانودوه سیلونه دی.خپلو ویونکو والو دپاره به الله ﷻ ته سفارش کوی.بیا حضور ﷺ اوفرمائیل چه سوره بقره وائې، ددې وئیل د ویونکو دپاره برکت دې. اوپرېښودل ئې حسرت دې. ددې طاقت باطل کیدو والا نه دې. په صحیح مسلم کښې هم حدیث دې (۴)

د سورة بقرې سفارش:- دمسنداحمد په یوحدیث کښې دی چه قرآن پاك اوددې ویونکې به دقیامت په ورځ راوبللې شی. مخکښې مخکښې به سورت بقره او سورت آل عمران وی اودوی به د وریځو په شان

---

[۱]) فضائل القران لابی عبید : ۳٤/۱۲،)-

[۲]) احمد۳٤۸/، دارمی کتاب فضائل القران باب سورة البقرة و آل عمران : ۳۳۹٤، وسنده حسن)-

[۳]) ابن ماجة کتاب الادب باب ثواب قراة القران رقم:۳۷۸۱، وسنده حسن)-

[۴]) احمد: ۲٤۹/۵، صحیح مسلم: کتاب فضائل القران باب فضل قراة القران وسورة البقرة: ۸۰٤)-

Scanned with CamSc

یا دسیوری پشان یا د چترئ په شان یا د مارغانو د سیل په شان وی اودواړه به الله ﷻ ته سفارش کوی مسلم او ترمذی کښې هم دا حدیث دې (۱)امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وئیلی دی.

په سورة بقره کښې اسم اعظم دې:- یوسړی په خپل مونځ کښې سورت بقره او سورت آل عمران اوئیلو ، ددې د فراغت نه پس حضرت کعب اوفرمائیل په الله ﷻ قسم چه د چا په اختیار کښې ځما سا ده ،په دې کښې دالله ﷻ هغه نوم دې چه دې نوم سره کله هم هغه راوبللې شی نوهغه ذات ئې قبلوی.اوس دې سړی حضرت کعب ﷺ ته عرض اوکړو ماته اووائې هغه نوم کوم دې. حضرت کعب ﷺ ددې نه انکار اوکړو او وې فرمائیل چه هسې نه خه ئې اووایم او ته ددې نوم په برکت سره دعا اوکړې اوهغه ځما او ستا د هلاکت سبب جوړ شی.

د سورة بقرې ویونکو دپاره عجیبه زیرې:-حضرت ابوامامه فرمائی چه ستا رور ته په خوب کښې اوخودلې شو چه گویا خلق په اوچتو غرونو باندې خیژی،دغر په څوکه باندې دوه شنې وني دی او ددې نه آوازونه رازی چه آیا په تاسو کښې څوک سورت بقره والاشته دې ؟ آیا په تاسو کښې څوک سورت آل عمران والاشته دې؟ کله چه څوک اووائی نو هغه ونه دوی طرف ته خپلې میوې رانښکته کړی اودوی دهغې په ښاخونو باندې کښینی او دوی لره پورته کړی.

سورة بقره ترخپله وسه پورې خپل تالی ملګرتیا کوی:- حضرت ام درداء رضی الله عنها وائی چه یو سړی به قرآن پاك لوستلو او ده خپل ګواندې مړ کړو اوبیا په قصاص کښې دې هم اوژولې شو نو قران پاك یویو سورت شواو بیل بیل شو تردې چه ده سره صرف سورت آل عمران او سورت بقره پاتې شوه. یو جمعه پس سورت آل عمران هم لاړو . بیا یو جمعه نوره تیره شوه نو آواز راغلو ځما خبرې نه بدلیږی او خه په خپلو بندګانو باندې ظلم نه کوم. نودا مبارك سورت یعنی سورت بقره هم دده نه جدا شوه ، مطلب دادې چه دا دواړه سورتونه دده دپاره د عذاب او بلاګانو نه حفاظت کوی. او دده قبر دده دلجونی کوی او د ټولونه په آخر کښې دده دګناهونو په وجه دده سفارش نه شی کولې.

سحرمانبام د سورة بقرې لوستل:-یزید بن اسود جرشی رحمه الله وائی چه د دې دواړو سورتونو لوستونکې ټوله ورځ دې د نفاق نه بری کوی او ددې د شپې لوستونکې ټوله شپه دې د نفاق نه بری کوی. پخپله حضرت یزید رحمه الله دخپل معمول په وظیفه کښې د قران پاك نه علاوه به دا دوه سورتونه سحر مانبام لوستل.حضرت عمر فاروق ﷺ فرمائی چه کوم سړې دا دواړه سورتونه وائی نودالله ﷻ په نیز دې په فرمانبردارو کښې شمارلې شی. ددې سند منقطع دې. بخاری اومسلم کښې دی چه رسول کریم ﷺ دا دواړه سورتونه په یو رکعت کښې اووئیل . (۲)

د اوو لوسو سورتونو فضیلت:- رسول کریم ﷺ فرمائی چه ماته اووه لوئې لوئې سورتونه د تورات په ځائې راکړې شوی دی. اود انجیل په ځائې ماته دوه آیتونه راکړې شوی دی. اود زبور په ځائې ماته دوؤ سووؤ نه کم آیتونو والا سورتونه راکړې شوی دی. اوبیا ماته په فضیلت کښې خاص سوره "ق" نه واخله تر آخری پورې سورتونه ملاو شوی دی(۳)داحدیث غریب دې اوددې راوی سعید بن ابوالبشر رحمه الله کښې څه کلام شوې دې ابوعبید رحمه الله دا په بل سند سره روایت کړې دې ، والله اعلم.

یو بل حدیث کښې دی چه کوم سړې دا اووه سورتونه حاصل کړی نو هغه ډیر لوئې عالم دې (۴). دا روایت هم غریب دې ،

---

[۱]) احمد: ۲٤۹/٥، صحیح مسلم: کتاب صلاة المسافرین باب فضل قراة فی صلاة اللیل: ۷۷۲، ترمذی: ۲٦۲)-،

[۲]) صحیح مسلم کتاب صلاة المسافرین استحباب تطویل قراة فی صلاة اللیل: ۷۷۲)

[۳]) فضائل القران لابی عبید: ۳٤/۱،)-

[۴]) احمد: ۷۲/٦، مشکل الاثار: ۱٥۳/۲، حاکم: ٥٦٤/۱، وسنده حسن وصححه الحاکم ووافقه الذهبی)-

Scanned with CamScanner

د سورة بقري په وجه امارت ملاويدل:-مسند احمد کښې دا روايت دې چه يو څل حضور ﷺ يو لښکر اوليږلو او ددوی امير ئې هغه سړې مقرر کړو چه چاته سورت بقره يـاده وه. حالانکه هغـه په دې ټولو کښې کشر وو(۱)

حضرت سعيد بن جبير ﷺ د ﴿ وَلَقَدْ اٰتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْاٰنَ الْعَظِيْمَ ﴾ په تفسير کښې فرمائی چه ددې نه مراد هم دا اووه سورتونه دی،سوره بقره،سورت نساء،سورت مائده،سورت انعام، سورت اعراف او سورت يونس .حضرت مجاهد مکحول رحمه الله،حضرت عطيه بن قيس رحمه الله،حضرت ابو محمد فارسی رحمه الله،شداد بن اوس رحمه الله،حضرت يحيی بن حارث ذماری رحمه الله نه هم دا نقل دی.

﴿ فصل ﴾ مقام نزول او نور معلومات

سورت بقره ټوله په مدينه منوره کښې نازله شوه. او په شروع شروع کښې چه کوم سورتونه نازل شو په هغې کښې يو دا هم دې البته ددې يو آيت﴿وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ ﴾ دټولونه په آخر کښې نازل شوې دې. يعنی قران پاك کښې د ټولو نه آخری آيت دا دې. ممکن دی چه نازل شوې دې نه پس وی خو موجود په دې کښې دې اودا شان د سود د حرمت آيتونه هم په آخر کښې نازل شوی وو. حضرت خالد بن معدان ﷺ سورت بقره ته فسطاط القران وائی يعنی دقران پاك خيمه. دبعضو عالمانو فرمان دې چه په دې کښې يو زر خبرونه دی او يو زر احکام دی او يو زر کارونو نه منع کړې شوې ده . ددې آيتونه دوه سوه اووۀ اتيا دی.ددې کلمات شپږ زره دو سوه او يويشت دی. ددې حروف پنځويښت نيم زره دی. والله اعلم.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا سورت مدنی دې. عبدالله بن زبير ﷺ اوحضرت زيد بن ثابت ﷺ او ډير امامان اوعالمان مفسرينو نه بلاخلاف دا روايت شوې دې.

سورة بقري ته سورة بقره وئيل:- ابن مردويه نه يو حديث کښې دی چه سوره بقره ، سورت آل عمران اوسورت نساء وغيره وغيره دې ته مه وائې بلکه داسې وائې چه هغه سورت چه په هغې کښې د بقره ذکر دې.اوهغه سورت چه په هغې کښې دعمران ذکر دې. اوداشان د قرآن پاك دټولو سورتونو نومونه وائې(۲) ليکن دا حديث غريب دې بلکه د دې فرمان د رسول عليه السلام نه ثابت کيدل صحيح نه دی.ددې راوی عيسی بن ميمون ابوسلمه خواص ضعيف دې دده روايت د سند لحاظ سره صحيح نه وی.ددې خلاف بخاری اومسلم کښې ابن مسعود ﷺ نه روايت دې چه هغوی په بطن وادئ کښې په شيطان باندې کانړی ويشتلی وو. دا د بيت الله شريف ګس طرف ته وو. او دمنی نه بئی طرف ته او فرمائ چه هم دې خائې نه به ئې پرې کانړی ويشتل چه په کوم خائې سورت بقره نازل شوې وو(۳). نوددې حديث نه صفا ثابت شو چې سورت بقره وغيره وئيل جائز دی.

په جنګ حنين کښې د صحابؤ راجمع کيدل:- ليکن نور واورئی په چې ابن مردويه کښې دی کله چې نبی کريم ﷺ په خپلو صحابه کرام ﷺ څه سستی اوليده نو دوی ته ئې﴿ياأصحاب﴾ ﴿سورة البقرة﴾ اووئيل.غالبًا دادحنين د ورځې ذکر دې کله چه دلښکر قدمونه خويدلی وو نودنبی کريم ﷺ په حکم سره حضرت عباس ﷺ انې ونې والو،يعنی انې بيعت الرضوان والو او انې سورت بقره والو وئيلی وو چه په دوی کښې بهادری پيدا شی. نو په دې آواز سره صحابه کرام دهر طرف نه راجمع شول.

په جنګ يمامه کښې د صحابؤ راجمع کيدل:- مسيلمه چه د نبوت دروغژنه دعوی کړې وه دده سره د جنګ په وخت کښې چې کله د قبيله بنوحنيفه تکليفونو پريشان کړل او قدمونه ئې اوخويدل ، نو

---

۱) ترمذی ابواب فضائل القران باب ماجاء فی سورة البقرة : ۲۸۷۶، وسنده حسن فقال الترمذی حسن ، وصححه ابن خزيمه : ۱۵۰۹. ابن حبان : ۱۷۸۹، والحاکم علی الشرط الشيخين: ۱/۴۴۳، ووافقه الذهبی)-

۲) مجمع الزوائد:۷/۱۵۷)-

۳) صحيح بخاری کتاب الحج باب رمی الجمال من بطن الوادی: ۱۷۴۷، صحيح مسلم: ۱۲۹۶)-

Scanned with CamSc

صحابه کرامو دا شان خلقو ته اوئیل چه ﴿یااصحاب سورة البقرة﴾ یعنی دې ائې د سورې بقر والو ئې اووئیل .او په دې آواز ټول جمع شو. او په یو مخ ئې جنګ اوکړو تر دې چه په دې مرتدانو باندې الله ﷻ خپل لښکر ته فتح ورکړه، الله ﷻ دې دخپل رسول د ټولو صحابه کرامونه راضی وی.

بِسْمِ	اللّٰهِ	الرَّحْمٰنِ	الرَّحِيْمِ
شروع کوم په نوم	د الله	چه ډیرمهربان	زیات رحم کونکې دې
الٓمّٓ ①			
ا ل م ا			
الم			

قوله تعالی:- الٓمّٓ ①

د حروف مقطعات معنی شته که نه؟:- ﴿الٓمّٓ﴾ددې پشان حروف مقطعات چه د سورتونو په شروع کښې رازی ددې په تفسیر کښې د علماء کرامو اختلاف دې① ځینې وائی چه ددې معنی صرف الله ﷻ ته معلومه ده بل چاته نه ده معلومه ، په دې وجه هغوئ ددې تفسیرنه کوی. قرطبی رحمه الله حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ،حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ، حضرت عثمان غنې رضی الله عنه ،حضرت علی رضی الله عنه او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه هم دا نقل کړی دی .عامرشعبی رحمه الله ، سفیان ثوری رحمه الله ، ربیع بن خثیم رحمه الله هم دا وائی . ابوحاتم رحمه الله ،ابن حبان رحمه الله هم دا خوښوی ② ځینې خلق ددې حروفو تفسیر هم کوی خو ددې تفسیر کښې ډیر اختلاف دې

د حروف مقطعاتو معنی کښې اقوال:- ① عبدالرحمان بن زید بن اسلم رحمه الله فرمائی چه دا دسورتونو نومونه دی .علامه ابوالقاسم محمود بن عمرزمحشری رحمه الله خپل تقریر کښې لیکی چه داکثرو خلقوپه دې اتفاق دې . سیبویه هم دا وئیلی دی او ددوی دلیل د بخاری او مسلم هغه حدیث دې په کوم کښې چې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ به د جمعې په ورځ د سحر مونځ کښې ﴿الم السجدة﴾ او ﴿هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ﴾ وئیل ().حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ﴿الم﴾او ﴿حم﴾او ﴿المص﴾او ﴿ص﴾دا ټول د سورتونو ابتداء ده او ددې نه دا سورتونه شروع کیږی . دا هم منقول دی چه [الم] دقران پاک د نومونو نه یو نوم دې . د د حضرت قتاده رحمه الله او حضرت زید بن اسلم رحمه الله هم دا قول دې اوشاید چه ددې مطلب هم دا وی چه کوم عبدالرحمان بن زید بن اسلم رحمه الله فرمائی چه دا د سورتونو نومونه دی . ځکه چې هر سورة ته قران وئیلی کیدیشی او دا نشی کیدې چې د ټول قرآن پاک نوم [المص] وی ځکه چه کله یو سړې اووائی چه ما سورة ﴿المص﴾ اولوستو نو په ظاهره دا ګنړلې کیږی چه دۀ سورة اعراف اووئیلو ،ټول قران پاک ئې نه دې وئیلې والله اعلم

② ځینې مفسرین وائی چه دا د الله ﷻ نومونه دی . حضرت شعبی ، سالم بن عبدالله ، اسماعیل بن عبدالرحمن،سدی کبیر هم دا فرمائی .حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه الم دالله لوئې نوم دې یو روایت کښې دی چه (حم) (طسم) او(الم) دا ټول دالله ﷻ لوئې نومونه دی . حضرت علی رضی الله عنه او حضرت ابن عباس رضی الله عنه دواړو نه دا مروی دی . او یو روایت کښې دی چه دا دالله ﷻ قسم دې اودهغه نوم هم دې حضرت عکرمه رضی الله عنه فرمائی چه داقسم دې ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه هم دا مروی دی چه ددې معنی انا الله اعلم ده ،یعنی څه یم الله ﷻ چه ماته زیات معلومات دی . حضرت سعید بن جبیر رضی الله عنه نه هم دا مروی دی.ابن عباس رضی الله عنه او ابن مسعود رضی الله عنه او نور صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی چه دالله ﷻ بیل بیل نومونه دی (۲)

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب ما یقرا فی صلاة الفجر یوم الجمعة: ۸۹۱، صحیح مسلم: ۸۷۹)

[2]) الطبری: ۸۸/۱،)-

Scanned with CamScanner

③ابوالعالیه فرمائی چه دا دری حروف الف ،لام او میم یو کم دیرشو حرفونو نه دی او دا ټولو ژبو کښې رازی . دې کښې هر یو حرف دالله ﷻ یویو نوم نه شروع کیږی . او دالله ﷻ نعمت او دې کښې د قومونو او د هغه دوختونوبیان دې . حضرت عیسی ﷺ تعجب سره وئیلی وو چه هغه خلق به کفر کوی او د هغوی په خلو به دالله ﷻ نومونه وی دهغه په روزئ خو دوی ژوندی دی.

،الف، نه دالله ﷻ نوم شروع کیږی . او لام نه دهغه ،لطیف، نوم شروع کیږی .او میم نه د هغه نوم مجید شروع کیږی.او ،الف، نه مراد ،الاء، یعنی نعمتونه دی اود ،لام، نه مراد د الله ﷻ لطیف نوم دې او میم نه مراد دالله ﷻ ،مجید، یعنی بزرګی ده. د ،الف، نه مراد یو کال دې او ،لام، نه دیرش کاله دی او ،میم، نه ځلویښت کاله دی (ابن ابی حاتم) (۱)

په اقوالو کښې تطبیق:-امام جریر رحمه الله دې ټولو اقوالو کښې تطبیق کوی یعنی ثابت کړی ئې دی چه دې کښې داسې اختلاف نشته دې چه هغه د یوبل خلاف وی . کیدیشی چه داد سورتونو نومونه هم وی او د الله ﷻ نومونه هم وی اود سورتونو د شروع الفاظ هم وی او ددې نه د هر هر حرف نه دالله ﷻ د نوم مبارک طرفته اشاره هم وی او دهغه ذات صفت طرفته هم او مودې وغیر ته هم . یویو لفظ څو څو معنو کښې رازی . لکه امة ، ددې یو معنی ده دین

لکه قران پاک کښې دی چه ﴿اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ﴾ یعنی مونږ خپل پلار نیکه په دې دین باندې اوموندو. دویمه معنی ئې دالله ﷻ اطاعت والا بنده ده لکه ﴿اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً﴾یعنی حضرت ابراهیم ﷺ دالله ﷻ مطیع اوفرمانبردار بنده وو. او هغه مشرکانو نه نۀ وو. دریمه معنی ئې جماعت (ډله) ده لکه فرمائی چه ﴿وَجَدَ عَلَيْهِ اُمَّةً﴾الخ یعنی هغه(موسی ﷺ)یوجماعت اولیدوچه ددې کوهی نه ئې اوبه څکلې.څلورمه معنی ئې دمودې او زمانې ده.فرمان دې چه ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا﴾ یعنی مونږ یو جماعت اولیږلو. فرمان دې چه ﴿وَادَّكَرَ بَعْدَ اُمَّةٍ﴾یومودې نه پس هغه ته وریاد شو. نوځنګه چه دلته ددې مطلب دادې چه یو لفظ سره یو ځائې کښې ددې ډیرې معنې دی اولفظ دامت وغیره چه په ډیرومعنوکښې استعمالیږی اودې ته اصطلاح کښې الفاظ مشترکه وائی اوددې معنی هر ځائې کښې جدا جدا ضرور وی خو هر ځائې کښې ئې یو معنی وی اوهغه د عبارت نه معلومیږی اوټول ځائې کښې ټولې معنې مراد نه وی او ټولو باندې دیو محمول کولو مسئله کښې علماء کرامو داصول لوئې اختلاف کړې دې او زمونږ د تفسیر موضوع نه ددې بیان خارج دې ، والله اعلم.

دویم دا چه دامت وغیره الفاظو چې کومې معانې دی ،نو هغه ډیرې زیاتې دی .اودا الفاظ هم د دې دپاره مقررشوی دی. اود کلام په ترکیب کښې او د الفاظو په وضع سره یو معنی صحیح شی خو د یو حرف دلالت په یو داسې نوم باندې ممکن دې چه هغه داسې بل نوم باندې هم دلالت کوی، او یو ته په بل فضیلت نه وی . نو مقدر منلو سره، نه ضمیر ورکولو سره، نه د وضع اعتبار سره او نه د بل څه اعتبار سره ،خو داسې خبره علمی طور سره په پوهه کښې نشی راتلې البته که منقوله وی نو بله خبره ده . خو دلته اختلاف دې او اجماع نشته دی ، په دې وجه دا فیصله قابل غور ده . اوس د عربو خینې اشعار چه د دلیل په طور پیش کولې کیږی چه دکلمې بیانولودپاره صرف ددې رومبې حرف وائی ، دا صحیح دی خو داسې اشعارو کښې عبارت داسې وی چه په دې دلالت کوی . یو حرف وئیلو سره پوره جمله په پوهه کښې رازی . خو دلته داسې هم نه دی. والله اعلم.

قرطبی رحمه الله وائی چه یو حدیث مبارک کښې دی چه څوک دیو مسلمان په قتل کولو د نیمې کلیمې هومره هم مدد اوکړی (۲)، مطلب دادې چه اُقتل پوره اونه وائی بلکه صرف اق ا ووائی.

---

(۱) طبری: ۸۸/۱ عن ابی العالیة)-

Scanned with CamSc

مجاهد رحمة الله علیه وائی چه دسورتونو شروع کښې چه کوم حروف دی لکه (ق ، حم ،طسم ، الر) وغیره ټول حروف هجا دی . ځینې عرب دان وائی چه دا حروف چه بیل بیل اتویشت دی لیکلې کیږی. دې کښې څو ذکر کولو نه پس باقی پریښودې شوی دی لکه چه څوک اووائی چه زما خوئې اب ت لیکلې شی نو ددې مطلب دادې چه دا ټول اتویشت حروف لیکلې کیږی خو د ابتداء څو حروف ذکر کړې شو اوباقی پریخودې شو. د سورتونو شروع کښې داشان څوارلس حروف رازی چه (ال م ص ر ک ه ی ع ط س ح ق ن) که دا ټول یو ځائې کړې شی نو ددې نه عبارت جوړیږی چه (نص حکیم قاطع له سر) د تعداد لحاظ سره دا څوارلس حروف دی او جمله حروف چونکه اتویشت دی نو په دې وجه دا نیم شو. دا چه کوم حروف بیان کړې شو دا د هغه حروفونه دی چه کوم نه دی راوړې شوی او زیات فضیلت والا دی یعنی مهموسه مجهوره وغیره سبحان الله ! هر څیز کښې د هغه مالک حکمت په نظر رازی . دا خبره یقینی ده چه دالله ﷻ کلام لغو، بیهوده او بې کاره او بې معنی الفاظو نه پاک دی . کوم جاهل خلق چه وائی چه ددې حروفو هډو معنی نشته دې نوهغوئ بالکل په خطا باندې دی ، ددې څه نه څه معنی ضرور شته دې .

که حضرت نبی کریم ﷺ نه ددې څه معنی ثابت وی نو مونږ به ئې هم کوؤ او ګنړو به ئې نو چرته چه حضور نبی کریم ﷺ نه ددې څه بیان نه دی شوی نو مونږ به ئې هم نه کوؤ خو په دې به ایمان راوړو ځکه چه دا دالله ﷻ دطرفنه دی .دحضور ﷺ طرفنه خو په دې کښې مونږ ته ملاؤ نشو. دعلماء کرامو په دې کښې ډیر اختلاف دی ،

د حروف مقطعاتو حکمتونه:-که چاته په دې باندې څه قوی دلیل ملاؤ شی نو خیر هغه دې اومنی ګنی بهتر دادی چه په دې دې ایمان راوړې شی چه داحروف دالله ﷻ کلام دې او دا دې منی چه ددې معنی ضرور شته دې او هغه رب علیم ته معلومې دی او مونږ ته نه دې معلومې.

② اوبل حکمت ددې حروفو په راوړلو کښې دا هم دې چه ددې سورتو نو آغاز معلوم شی . خو دا وجه ضعیفه ده ځکه چه ددې نه بغیر هم د سورتونو جدائی معلومیږی او چه د کومو سورتونو شروع کښې داسې حروف نه وی نو د هغې ابتداء او انتها معلومه نه ده څه ؟ بیا د سورتونو نه اول (بِسْمِ اللهِ) الخ وئیلو او د لیکلو اعتبار سره موجود کیدل ولې دا یو سورت د بل سورت نه جدا کوی څۀ ؟

③ ابن جریر ددې یو حکمت دا بیان کړې دې مشرکانو به کتاب الله هډو آوریدو نه نو دوی ته دآورولو دپاره داسې حروف راوړې شو. چه دوی متوجو شی او بیا ددې تلاوت شروع کړې شی. خودا وجه هم ناقصه ده . ځکه که داسې وې نو د ټولو سورتونو ابتداء به ددې حروفو نه کیده خوداسې نه ده بلکه اکثر سورتونه ددې نه خالی دی . بیا چه کله مشرکانو سره کلام شروع کول وی نو هم دا حروف ادا کول پکار دی دانه چه صرف د سورتونو شروع کښې هم دا حروف دې وی . بیا په دې غور کول پکار دی چه داسورة یعنی سورة بقره او دې نه پس سورت یعنی سورت آل عمران دا خو مدینه منوره کښې نازل شوی وو او ددې دنازلیدو په وخت کښې مشرکان هلته نه وو ، بیا دې کښې دا حروف ولې راغلل ؟

④ دلته یو بل حکمت بیان شویدې چه ددې حروفو په راوړلو کښې د قران پاک معجزه داده چه ددې نه ټول مخلوق عاجزه دې ، ددې نه باوجود چه دا حروف د روزمره استعمال والا حروفو ترکیب سره ورکړې شوی دی . خود خلقو دکلام نه بالکل یو طرفته دی . دمبرد او محققینو یو جماعت اوفراء او قطرب نه هم دا منقول دی . زمحشری کشاف کښې ددې قول نقل کولو نه پس ددې ډیر تائید کړې دی . زمحشری ، ابن تیمیه او حافظ مزی رحمة الله علیهم نه هم دا حکمت بیان شوې دې . زمحشری رحمه الله فرمائی چه هم دا وجه ده چه داټول حروف یو ځائې نه دی .

---

[1]) ابن ماجة ابواب الديات باب التغليظ فى قتل ظلمان : ٢٦٢٠)-

Scanned with CamSc

د حروفو مقطعاتو د بار بار راوړلو وجه:- ددې حروفو د بار بار راوړلو وجه داده چه مشرکانو لره عاجزه کړې شی او لاجواب کړې شی او دوی اورتلې شی او دهمکی ورکړې شی . لکه چه قران پاک کښې اکثر قصې څو ځوځل بیان شوی دی او بار بار دقران د مثل راوړلو سره ددوی د عاجزئی بیان شوې دې ، ځینو خایونو کښې صرف یو حرف راغلې دې . لکه (ص) (ن) (ق) او ځینو خایونو کښې دوه حروف راغلی دی . لکه (حم) او چرته دري حروف راغلی دی .لکه (الم) او چرته څلور لکه (المر) او(المص) اوچرته پنځه راغلی دی لکه (کهیعص) او (حم عسق) ځکه چه دعربو کلمات هم داشان دی چه هغې کښې خو یا یو حرف وی یا دوه یا دري یا څلور یا پنځه حروف وی او پنځو حروفو نه زیات کلمات نه وی . خو خبره داده چه دا حروف قران پاک کښې په طور دمعجزې راغلی دی نو ضروری وو چه د کومو سورتونو شروع کښې دا حروف راغلی وی نو هلته ذکرهم دقران پاک وی او دقران پاک بزرګی اولوئې والې بیان شوې وی نو یو کم دیرش سورتونو کښې هم داشان دی ، دالله فرمان دې چه﴿ الٓمّٓ ۚ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ﴾ دلته هم قران پاک د الله ﷻ کلام کیدو کښې څه شک نشته دې . اوبل خائې کښې ارشاد دې چه ﴿ الٓمّٓ ۚ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۙ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۚ نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ﴾ هغه الله ﷻ چه دهغه نه سوابل څوک دعبادت لائق نشته دې او هغه دوام والا دې اوهغه تا باندې حق سره کتاب نازل کړو چه د اولنو کتابونو تصدیق کوی . دلته هم ددې حروفو نه پس دقران عظمت بیان شوې دې .او بل خائې کښې ارشاد دې چه ﴿الٓمّٓصٓ ۚ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ﴾ الخ، یعنی دا کتاب ستا طرفته نازل کړې شوې دې ا وته خپل زړه مه تنګوه .اوبل خائې کښې فرمائی چه ﴿الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ ﴾ الخ،مونږ دا کتا ستا طرفته نازل کړې دې چه خلق دخپل رب په حکم سره د تیرو نه راوباسې او رنړا ته نې راولې ارشاد دې چه ﴿الٓمّٓ ۚ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۚ﴾ ددې کتاب د رب العالمین دطرفنه نازلیدو کښې هیڅ شک نشته دې . فرمائی چه ﴿ حٰمٓ ۚ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۚ﴾ بخښنو والا اومهربانو والا مالک دا نازل کړو﴿ حٰمٓ ۚ عٓسٓقٓ ۚ كَذٰلِكَ يُوْحِيْٓ اِلَيْكَ﴾ الخ یعنی داسې وحی کوی چه الله ﷻ غالب حکمتونو والاستا طرفته اوددې نبیانو طرفته چه ستا نه مخکښې وو. داشان او ددې په پشان نورو سورتونو ته که بغور اوکتلې شی نو معلومیږی چه ددې حروفو نه پس دکلام الله دعظمت ذکر دې . اوددې نه دا خبره قوی معلومیږی چه دا حروف په دې وجه راوړې شوی دی چه خلق ددې د معارضی او مقابلې نه عاجزه شی (والله اعلم).

ځینې خلقو دا وئیلی دی چه ددې حروفو نه موده معلوم کړې شوې ده اود فتنو او جنګونو او د داسې کارونو اوقات خودلې شوی دی .خودا قول ضعیف معلومیږی .ددې په دلیل کښې هو بل حدیث پاک بیانیږی اول خو هغه ضعیف دې ددې حدیث پاک اوددې قول پوخوالې یو طرفته کړه خوددې باطل کیدل زیات ثابت دی .هغه حدیث پاک محمد بن اسحاق بن یسار نقل کړې دې چه د تاریخ مصنف دې .

دابن اخطب یهودی حاضری:-دې حدیث پاک کښې دی چه ابویاسر بن اخطب یهودی خپلو څو ملګرو سره دحضورنبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضرشو. اوحضور نبی کریم ﷺ هغه وخت کښې دسورۃ بقرۃ آیت ﴿الٓمّٓ ۚ ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ﴾ تلاوت فرمائیلو .ددې آوریدو نه پس هغه خپل رور حیې بن اخطب ته رازی او وائی چه ما حضور نبی کریم ﷺ نه دا آیت مبارک آوریدلې دې ؟ هغه تپوس اوکړو چه تا تري پخپله واوریدو؟ وې وئیل چه آو ما پخپله آوریدلې دې . حیې (دا دیو سړی نوم دې) دا ټول یهود دحضور نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر کړل او عرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ آیا دا رښتیا دی چه تاسو ددې آیت مبارک تلاوت کولو.؟ حضور نبی کریم ﷺ اوفرمائیلو چه آو دا رښتیا دی.هغه اووئیل چه واوره ستا نه مخکښې چه څومره نبیان علیهم السلام راغلی دی هغوئ هیچا ته هم دا نه وو وئیلې شوی چه دهغه ملک او مذهب به تر کومې مودې پورې وی او حضور نبی کریم ﷺ ته وئیلې شوی دی .بیا پورته شو او خلقو ته اووئیل چه دالف عدد شو دیو لام دیرش ،دمیم څلویښت جملې یو اویا شوې .آیا تاسو د نبی کریم

Scanned with CamSc

ﷺ اطاعت کول غواړئی چه دهغه ملک او امت به یو اویا کاله وی . بیا حضور نبی کریم ﷺ ته متوجه شو او وې وئیل چه آیا داسې څه بل آیت هم شته دې ؟

حضور نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه آؤ ﴿الٓمٓصٓ﴾ هغه اووئیل چه دا ډیر اوږد ا و دورند دې . د الف یو لام د دیرشو ، میم څلویښت ، دصاد یو نوی (لس کم سل) ،دا ټول یو سل یوشپیته کاله شو. وې وئیل چه داسې څه بل آیت هم شته دې ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آؤ ، (الر) هغه وئیل چه داهم ډیر درونډ او اوږد دې . د الف یو لام د یرشو، او د راء دوه سوه ، ټول دوه سوه یو اویا کاله شو. آیا دې سره څه بل آیت هم شته دې ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آؤ (المر) هغه اووئیل چه دا ډیر درونډ دې . دالف یو لام د دیرشو ، میم د څلویښتو او راء د دوه سوؤ، ټول چه یو خائې شی نو دوه سوه یو اویا کاله شو . اوس خو کار مشکل شواو خبره ګډه وډه شوه ځنې خلقو ا ووئیل چې څئ . ابویاسر خپل رور او نورو یهودوعالمانو ته اووئیل چې په دې کښې تعجب کیدیشی چې ددې حرفونو مجموعه نبی ﷺ ته ملا شوې وی . یو اویا یو،یو سل یو دیرش بل،دوه سوه یو دیرش،دوه سوه یو اویا ،دا ټول چه راجمع کړې نو اووۀ سوه څلور کاله شو. هغه اووئیل چه اوس کار ګډوډ شو.

دځینې خلقو خیال دې چه دا آیت مبارک دهغه خلقو حق کښې نازل شو ﴿هُوَالَّذِیۡۤ اَنۡزَلَ عَلَیۡكَ الۡكِتٰبَ مِنۡهُ اٰیٰتٌ مُّحۡكَمٰتٌ﴾ الخ . یعنې هغه الله چه هغه په تا باندې نازل کړو کتاب چه دې کښې محکم آیتونه دی او دا اصل کتاب دې او نور آیتونه متشابه والا دی .ددې حدیث پاک دارومدار په محمد بن سائب کلبی باندې دې . اوچه دکوم حدیث پاک راوی یو وی نو محدثین هغه حجت نه نیسی .اوبیا که دا شان اومنلې شی نوهر داسې عددونه راویستلې شی نو چه کوم څوارلس حروف مونږ بیان کړې دی دهغې عددونه به ډیر زیات شی او چه کوم حروف دې کښې ډیر ځل راغلی دی که دهغې عددونه شمیر کړې شی نو بیا به هم ډیر لونې شمیر شی . والله اعلم .

ذٰلِكَ	الۡكِتٰبُ	لَا	رَیۡبَ ۛۚ	فِیۡهِ ۛۚ	هُدًی	لِّلۡمُتَّقِیۡنَ ۙ
ا دا ا	کتاب دې	انشته دې	شك	په دې کښې	الارښودنکې دې	دپاره دپرهیزګارو
دا ده الله	هغه	کتاب	دې	چې هیڅ	شک شبه	په کښې نشته هغې	پرهیزګارو	ته

قوله تعالی:- ذٰلِكَ

قران مجید بیشکه د الله کلام دې:-حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دلته د (ذالك) معنی کښې هذا دپاره ده. مجاهد ، عکرمه ، سعید بن جبیر ، سدی ، مقاتل بن حیان ، زید بن اسلم او ابن جریج ﷺ نه هم داقول نقل دې . دا دواړه الفاظ د یو بل قائمقام عربی ژبه کښې یو بل دپاره اکثر رازی.امام بخاری رحمه الله حضرت ابوعبیده ﷺ نه هم نقل کړی دی .مطلب دادې چه (ذالك) اصل کښې د لرې اشارې دپاره دې اوددې معنی ده هغه ، خو کله کله دا د نزدې معنی دپاره هم رازی . نو په هغه وخت کښې به ددې معنی وی دا. دلته هم ددې معنی داده . زمخشری وائی چه ددې نه اشاره الم طرفته ده .لکه آیت مبارک کښې دی چه ﴿ فَارِضٌ وَّلَا بِكۡرٌ ؕ عَوَانٌۢ بَیۡنَ ذٰلِكَ ؕ﴾ یعنی نه خو هغه غوا بوډنی ده او نه وړه ځنې ده بلکه ددې مینځ کښې ده . او بل خائې کښې ارشاد دې چه ﴿ ذٰلِكُمۡ حُكۡمُ اللّٰهِ ؕ یَحۡكُمُ بَیۡنَكُمۡ ؕ﴾ او ددې مثال اومواقع مخکښې تیر شوی دی . والله اعلم

په ذٰلك سره وعدې ته اشاره ده:- ځینو مفسیرینو وئیلی دی چه ددې نه اشاره ده قران پاک طرفته ده چه ددې د نازلیدو وعده حضرت نبی کریم ﷺ سره شوې وه.ځینې وائی چه دا انجیل طرفته اشاره ده او ځینی وائی چه دا تورات طرفته اشاره ده .اودا شان لس اقوال دی. خو دې ته اکثرو مفسرینو ضعیف وئیلی دی. والله اعلم .

Scanned with CamSc

قوله تعالی:- الْكِتٰبُ

د کتاب نه مراد:-کتاب نه مراد قران پاک دي .کومو خلقو چه وئیلی دی چه د ﴿ذٰلِكَ الْكِتٰبُ﴾ اشاره انجیل اوتورات طرفته ده نو دوی ډیره لرې لاړ اختیار کړې ده او ډیر تکلیف نې پورته کړې دي او هیڅ بې هیڅه نې خبره کړې ده اوهغوئ ته ددې علم نشته دي چه د(ریب) معنی شک ده .حضرت ابن عباس ﷺ ، حضرت ابن مسعود ﷺ او ډیر صحابه کرام ﷺنه هم دا معنی مروی ده. حضرت ابو درداء ﷺ او حضرت ابن عباس ﷺ،حضرت مجاهد ﷺ ،حضرت سعید بن جبیر ﷺ ،حضرت ابومالک نافع ﷺ چه د ابن عمر ﷺ مولادي ،عطاء، ابوالعالیه ، ربیع بن انس ،مقاتل بن حیان ، سدی ،قتاده اسماعیل بن ابوخالد رحمة الله علیهم نه هم دا مروی دی .

قوله تعالی:- لَا رَيْبَ ۛ بَعْضُهُمْ فِيْهِ ۚ

د ریب معنی :ابن ابی حاتم فرمائی چه د مفسرینو دي کښې اختلاف دي چه د(لَا رَيْبَ) لفظ دعربو شاعرانو شعرونو د تهمت معنی کښې هم راغلي دي او د حاجت معنی کښې هم استعمال شوي دي . ددې جملې معنی داشوه چه دا قران پاک د الله ﷻ طرفنه نازلیدو کښې هیڅ شک نشته دي.لکه څنګه چه سورة سجده کښې دی چه ﴿الٓمّٓ ۚ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾ یعنی بیشکه دا قران پاک د ټولو جهانونو پالونکی طرفنه نازل شوي دي . ځینووئیلی دی اګر چه داخبر دي خو په معنی د نهی کښې دي یعنی دي کښې شک مکوئ

ځیني قاری حضرات (لَا رَيْبَ) باندي وقف کوی ﴿فِيْهِ ۚ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ﴾ جدا وائی خو (لَا رَيْبَ) باندي وقف کول ډیر بهتر دی .ځکه چه هم دا مضمون تیر شوي دي او په هغې کښې په نسبت د(فِيْهِ ۚ هُدًى) زیاته مبالغه ده

قوله تعالی:- هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝

د «هدی» تشریح:-(هُدًى) نحوی اعتبارسره صفت کیدو نه پس مرفوع کیدیشی اود حال په بناء هم کیدیشی .دي ځائي کښې هدایت متقینو سره خاص کوی. لکه بل ځائي کښې ارشاد دي چه ﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ۭ﴾ الخ ،یعنی دا قران پاک هدایت او شفاء ده ایمان والو دپاره اود بې ایمانو د غوږونو دروندوالي دي او سترګې نې رندي دی ، دوی ډیر لرې خائي نه آواز کوی﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ﴾ الخ ،یعنی دا قران ایمان والو دپاره شفاء او رحمت دي او ظالمان خلق خو خپل نقصان کښې مخکې روان دی . ددې مضمون نور آیتونه هم دی . اودهغه ټولو مطلب هم دادي چه قران پاک پخپله هدایت او صرف هدایت دي ا و ټولو دپاره دي . خو ددې هدایت نه نفع اوچتونکی نیک بخت خلق دی . لکه فرمائی چه ﴿يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُمْ مَّوْعِظَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ﴾ الخ ،ائي خلقو تاسو لره دالله ﷻ نصیحت اود سینې دبیمارو شفاء راغلي ده .اودا مومنانو دپاره شفا او رحمت دي .حضرت ابن عباس او ځیني نورو صحابه کرامو نه مروی دی چه هدایت نه مراد نور دي .

قوله تعالی:- لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝

متقیان څوک دی ؟①حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه متقیان هغه خلق دی چه ایمان راوړلو نه پس د شرک نه لرې اوسیږی اودالله ﷻ احکامو باندي عمل کوی②او یو بل روایت کښې دی چه متقیان هغه خلق دی چه دالله ﷻ عذابونو نه ویریدو نه پس هدایت نه پریږدی . او د هغه رحمت امید ساتلو سره د هغه طرفنه چه څه نازل شوی دی هغه ریښتونی منی③حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه متقیان هغه خلق دی چه حرامو نه ځان بچ اوساتی او فرائض پوره کړی④اعمش دحضرت ابوبکر عیاض رحمه الله نه سوال کوی چه متقیان خلق څوک دی ؟ دوی ورته هم دا جواب ورکوی . بیا دوی فرمائی چې ما د حضرت کلبی نه هم ددې باره کښې تپوس اوکړم ، نو هغوئ اووئیل چه متقیان هغه خلق دی چه دکبیره ګناهونو نه بچ اوسی .

Scanned with CamSc

په دې د دواړو اتفاق دې⑤حضرت قتاده رحمه الله فرمائي چه متقيان هغه خلق دی چه دهغوئ صفت الله ﷻ په خپله دې آيت مبارک کښې بيان فرمائی چه ﴿الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ﴾ الخ ،
حضرت ابن جرير فرمائي چه داټول اوصاف متقيانو کښې جمع دی . دترمذی او ابن ماجه روايت کښې دی چه نبی کريم ﷺ فرمائی چه بنده ترهغه وخته پورې حقيقی متقی نشی کيدې تر چه هغه څيزونو پرې نږدی چه په هغې کښې گناه نشته دې ددې ويرې چه هسې نه هغې کښې مبتلا شی. کوم چې حرام دی ترمذی دې ته حسن غريب وائی (۱)
ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت معاذ رضی الله عنه فرمائی چه کله د قيامت په ورځ خلق يو ميدان کښې را ايسار کړې شی نو هغه وخت کښې به يو آواز کوونکې آواز کوی چه متقيان خلق چرته دی ؟دې آواز باندې به هغوئ اودريږی او الله ﷻ به دوی خپله قبضهٔ قدرت کښې واخلی او دوی سره به بغير حجاب نه ديدار اوکړی . ابو عفيف تپوس اوکړو چه متقيان خلق څوک دی ؟ دوی اوفرمائيل چه کوم شرک نه او بت پرستئ نه ځان بچ اوساتی او خالص دالله ﷻ عبادت اوکړی نو هم دې عزت سره به جنت ته داخل کړې شی
دهدايت وضاحت: ①دهدايت معنی کله زړه کښې پيوست ايمان سره رازی او په دې هدايت خو بغير دالله ﷻ نه نور څوک قدرت نه لری . فرمان دې چه ﴿اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ﴾ يعنی ائې نبی ! ته چه چاته غواړې نو هدايت نه شی ورکولې .فرمائی چه ﴿لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ﴾ الخ، تا باندې ددوی هدايت لازم نه دې . فرمائی چه ﴿مَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ﴾ الخ ،چالره چه الله ﷻ گمراه کړی نوهيڅوک هغه په لار کولې نشی .فرمائی چه ﴿وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ﴾ الخ يعنی چاته چه الله ﷻ هدايت ورکړی نو هغه هدايت والادې او چالره چه هغه ذات گمراه کړی نو دهغه په لار کولو والا به ته هيڅوک دوست اونه مومی او نه مرشد. داسې قسمه نور هم آيتونه دی②او کله د هدايت معنی حق سره او حق لره واضح کوونکې او حق باندې د دلالت کونکی رازی . او حق طرفته لار خودلو والاهم رازی . دالله ﷻ فرمان دې چه ﴿وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾ يعنی ته يقينی طور د نيغې لارې رهبری کوې . اوفرمائی چه ﴿اِنَّمَآ اَنْتَ مُنْذِرٌ وَّلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ﴾ يعنی ته صرف ويرولو والا ئې اودهر قوم يو هادی يی . يو بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ﴾ الخ، يعنی مونږ ثموديانو ته هدايت اوخودلو خوهغوئ روندوالې خوښ کړو. فرمائی چه ﴿وَهَدَيْنٰهُ النَّجْدَيْنِ﴾ مونږ هغوئی ته دواړه لارې اوخودلې يعنی ښه اوبده .د تقوی اصل معنی د خراب څيز نه بچ کيدل ده. اصل کښې داد قوی او وقايت نه ماخوذ ده. دنابغه وغيره شعرونو کښې هم راغلې ده .
حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه تپوس اوکړو چه تقوی څه څيز دې ؟ هغوئ اوفرمائيل چه ته کله په ازغی داره لاره تلی ئی ؟ لگه څنگه چه هلته کپړې او بدن بچ کول وی نو داشان د گناهونو نه د بچ کيدلو نوم هم تقوی دې . ابن المعتز شاعر وائی چه :

خل الذنوب صغيرها وكبيرها ذاك التقى
واصنع كماش فوق ارض الشوك يحذر ما يرى
لا تحقرن صغيرة ان الجبال من الحصى

ترجمه :: واړه او لوئې گناهونه پريږده هم دا تقوی ده . داسې اوسه لکه چه څنگه يو سړې په ازغی داره لاره کښې خی . واړه گناهونه هم واړه مه گڼړه . اوگوره کنه غر ورو ورو کانړو نه جوړ شوې دې .
ابو درداء رضی الله عنه خپلو اشعارو کښې فرمائی چه انسان د خپلو خواهشواتو پوره کولو خواهش مند وی اودالله ﷻ په ارادو ئې نظر نه وی . حالانکه کيږی هغه چه کوم الله ﷻ غواړی . هغه دخپل دنياوی فائدې او مال پسې انختې وی اود هغه بهترينه فائده او مال تقوی دې .

---

(۱) ترمذی ابواب صفة القيامة ، باب علامة التقوى : ۲٤٥۱، ابن ماجة : ٤۲۱٥، وسنده حسن.

Scanned with CamScanner

ابن ماجه کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه ټولو نه ښه فائده چه انسان ته حاصلیدیشی هغه د الله ﷻ ویره ده. دې نه پس نیکه ښځه ده چه خاوند کله دې طرفته اوګوری نو هغه خوشحالیږی. او چه کوم حکم ورکړی نو هغه پوره کوی. اوکه قسم ورکړی نو پوره کوی نې. او کله چه هغه موجود نه وی نو د هغه مال کښې خیانت نه کوی. (۱)

الَّذِيْنَ	يُؤْمِنُوْنَ	بِالْغَيْبِ
دا هغه خلق دی چې ایمان راوړی	په نالیده ځیزونو	.
دالله او درسول لاز ښائی چې په نالیده ځیزونو ایمان راوړی		

قوله تعالی:- الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

دایمان معنی اومفهوم: ①حضرت عبدالله ﷺ فرمائی چه ایمان وائی تصدیق ته. حضرت ابن عباس ﷺ نه هم دانقل دی.②زهری ﷺ فرمائی چه ایمان وائی عمل ته③ربیع بن انس ﷺ فرمائی چه په دې خاني کښې دایمان نه مراد ویریدل دی.حضرت ابن جریر ﷺ فرمائی چه دا ټول اقوال ملاویږی. مطلب دادې چه د زړې نه او زړه نه او عمل نه په غیبوباندې ایمان راوړل.اوالله ﷻ ویره (په خپلوزړونو)کښې ساتل. دایمان مطلب دې چې په الله ﷻ باندې، دده په کتابونو باندې ، دده په رسولانو باندې ایمان راوړل او ددې اقرارتصدیق سره عمل کولو ته(ایمان وائی)خه وایم چه په لغت کښې ایمان وائی صرف ریښتیا ګنړلو ته.قران کریم کښې هم په دې معنی کښې استعمال شوې دې لکه فرمائی چه﴿الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ﴾ یعنی الله ﷻ لره منې او ایمان والا ریښتونې ګنړی.دحضرت یوسف ﷺ رونړو خپل پلارته وئیلی وو چه ﴿وَمَآ اَنْتَ بِمُؤْمِنٍ لَّنَا وَلَوْ كُنَّا صٰدِقِيْنَ﴾ یعنی ته په مونږ باندې یقین نه کوې اګرچه مونږ ریښتونې یو.داشان ایمان دیقین په معنی کښې رازی.کله چه داعمالو ذکرسره یوځاني شی لکه فرمائی چه﴿اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ نو په کوم وخت کښې ددې استعمال مطلق وی نو ایمان شرعی چه دالله ﷻ په نیز مقبول دی ، هغه د اعتقاد،قول اودعمل مجموعې ته وائی.داکثرو امامانو هم دامذهب دې.بلکه امام شافعی ﷺ،امام احمد ﷺ او امام ابوعبیده ﷺ وغیره په دې باندې اجماع نقل کړې ده چه ایمان نوم دې په ژبې سره دوینا او عمل کول او ایمان زیاتیږی اوکمیږی.اوددې په ثبوت کښې آثار او احادیث هم راغلی دی چه مونږ دبخاری په شرح کښې نقل کړی دی ، فالحمد لله.

بعضې خلقود ایمان معنی دالله ﷻ نه ویره او خوف هم کړې ده. لکه فرمان دې چه﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ﴾چې کوم خپل رب نه پټ په ټه هم وریږی. اوپه بل ځائې کښې فرمائی چه﴿مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ﴾ یعنی چې کومو خلق الله ﷻ نه دې لیدلې او په ټیټو زړونو سره راغلی دی﴿اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا﴾. یعنی د رب نه هغه خلق ویریږی چه کوم علم والا دی. بعضې وائی چه هغوی په غیبوباندې هم داسې ایمان لری لکه څنګه چه په حاضر باندې ایمان لری. او ددوی حال دمنافقانو پشان نه دې چه کله ایمان والو ته مخامخ شی نو خپل خان ایماندار بولی لیکن کله چه خپلو کښې وی نو هغوی ته وائی چه مونږ تاسوسره یو مونږ دوی پورې خندا ګانې کووؤ،ددې منافقانو حال په سورت منافقین کښې داسې راغلې دی چه ﴿اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ﴾ یعنی منافقان چه کله تاسو ته رازی نو وائی چه مونږ د زړه دکومی شهادت ورکووؤ چه ته دالله ﷻ رسول ئې او الله ﷻ ته ښه معلوم دی چه ته دهغه رسول ئې لیکن الله ﷻ ګواهی ورکوی چه دا منافقان تاته دروغ وائی ددې معنی اعتبار سره ﴿بِالْغَيْبِ﴾ به حال وی یعنی هغوی ایمان

---

(۱) ابن ماجة كتاب النكاح ، باب افضل النساء : ۱۸۵۷،)-

Scanned with CamScanner

راوړی،حال دادې چه دخلقونه پټ وی دغیب لفظ په دې ځائې کښې دې،ددې معنی کښې هم مفسرینو نه ډیر اقوال ذکر کړی دی او هغه ټول صحیح دی او جمع کیدیشی.
ابوالعالیه رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد په الله ﷻ باندې ، په فرښتو باندې ، کتابونو باندې ، رسولانو باندې،قیامت باندې ، جنت دوزخ باندې،ملاقات باندې،دمرګ نه پس ژوند باندې، ایمان راوړل دی.
د حضرت قتاده ﷺ هم داقول دې. حضرت ابن عباس ﷺ ، حضرت ابن مسعود ﷺ او نورو صحابه کرام ﷺ نه روایت دې چه ددې نه مراد پټ ځیزونه دی چه د نظر نه پټ دی لکه جنت ، دوزخ وغیره ،هغه امور چه په قران پاك کښې ذکردی. عطاء رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ باندې ایمان راوړلو والا په غیبوباندې ایمان راوړلووالا دې. حضرت اسماعیل بن ابو خالد رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد داسلام پټ ځیزونه دی .حضرت زید بن اسلم رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد تقدیر باندې ایمان راوړل دی. نودا ټول اقوال دمعنی په لحاظ سره یو دی ځکه چه دا ټول ځیزونه پټ دی او دغیب تفسیر ددې ټولودپاره دې او په ټولوباندې ایمان راوړل واجب دی.
د حضرت ابن مسعود ﷺ په یومجلس کښې یو ځل د صحابه کرامو ﷺ فضائل بیانیدل نو دوی اوفرمائیل چه کومو خلقو نبی کریم ﷺ لیدلې وو هغوی خو په نبی کریم ﷺ باندې ایمان راوړو خوپه الله قسم ایمانی حیثیت سره هغه خلق افضل دی چه دلیدو نه ئې بغیر ایمان راوړی. بیا دوی د ﴿الٓمّٓ۝﴾ نه واخله تر ﴿الْمُفْلِحُوْنَ۝﴾ پورې آیتونه اولوستل (ابن ابی حاتم ، مردویه)مستدرك حاکم،امام حاکم رحمه الله دا روایت صحیح ګڼړی .
په مسند احمد کښې هم ددې مضمون یو حدیث دې. ابوجمعه صحابی ﷺ ته ابن محریر رحمه الله اوفرمائیل چه څه حدیث اووایه چه هغه تا د نبی کریم ﷺ نه آوریدلې وی .وې فرمائیل چه ښه ده ځه تا ته یو ډیر ښه حدیث وایم. مونږ د نبی کریم ﷺ سره یو ځل ناشته اوکړه .مونږ سره حضرت ابوعبیده بن جراح ﷺ هم وو. هغوی اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ آیا زمونږ نه هم څوك بهتر شته دې؟ مونږ تاسو باندې ایمان راوړو او تاسو سره په جهاد کښې شریك شو، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل آو هغه خلق چه ستاسونه پس رازی اوپه ماباندې به ایمان راوړی. حالانکه هغوی به زه نه یم لیدلې.
تفسیر ابن مردویه کښې دی صالح بن جبیر رحمه الله فرمائی چه ابوجمعه انصاری ﷺ مونږ سره بیت المقدس ته راغلو،رجاءبن حیوه ﷺ هم مونږ سره وو،کله چه واپس کیدو نو مونږ د رخصت اخستلو دپاره ورسره شو.کله چه جدا کیدو نو وې فرمائیل چه ستاسوددې مهربانو بدله اوحق ماته ادا کول پکار دی. واورئی خه تاسو ته یو حدیث وایم چه دا ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلې دې .مونږ اووئیل الله ﷻ دې په تاسو باندې رحم اوکړی ضرور اووائې. هغوی اووئیل چه مونږ نبی کریم ﷺ سره وو اومونږ لس کسان وو. په دوی کښې معاذ بن جبل هم وو. مونږ اووئیل یارسول الله ﷻ آیا مونږ د لویو اجرونو مستحق یو؟مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړې دې اوستاسوتابعداری مواوکړه.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسو به ولې نه کوئی ؟ دالله ﷻ رسول په تاسو کښې موجود دې ، دالله ﷻ وحی دآسمان نه نازلیږی. ایمان خو دهغه خلقودې چه ستاسو نه به پس رازی . د دوو جلدونو مینځ کښې به قرآن پاك مومی. په دې باندې به ایمان راوړی. او په دې باندې به عمل کوی. داخلق به ستاسونه په اجر کښې دوچندوی.
دې حدیث کښې وجاده دقبولیت دلیل دې اوپه دې کښې دمحدثینو اختلاف دې.ما دامسئله د بخاری شریف په شرح کښې ښه واضحه کړې ده . ځکه چه ددې نه پس دکومو خلقو تعریف کیږی نو هغه ددې وجه کیږی. او دوئ ته چې کوم دا زیات اجر ملاویږی نو دا په دې حیثیت سره دی ګنی علی الاطلاق هر لحاظ سره بهتر او افضل خو صحابه کرام ﷺ دی .
یوحدیث کښې دی چې نبی کریم ﷺ یو ځل دصحابه کرامو ﷺ نه تپوس اوکړو،ستاسو په نیز په ایمان راوړو کښې څوك زیات افضل دی؟هغوی اووئیل فرښتې،وې فرمائیل چه هغوی به ایمان ولې نه

راوړی هغوی خوخپل رب سره دی.صحابه کرامو ﷺ اوفرمائیل چه بیا نبیان علیهم السلام نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې هغوئ به ایمان ولې نه راوړی په هغوی خو وحی نازلیږی. وې فرمائیل بیا مونږ ، وې فرمائیل چه تاسوبه ایمان ولې نه قبولئ ،حالانکه څه په تاسو کښې موجود یم. واورئی ا څما په نیز دټولو نه زیات افضل ایمان والا به هغه خلق وی چه ستاسونه پس به ایمان راوړی. په صحیفو کښې به لیکلې شوی مومی او په دې باندې به ایمان راوړی.ددې سند کښې مغیره بن قیس دې.ابوحاتم رازی رحمه الله دوی ته منکر الحدیث وئیلی دی.لیکن هم ددې مضمون یو حدیث ضعیف سند سره مسند ابویعلی،تفسیر ابن مردویه ، مستدرك حاکم کښې روایت دې. حضرت انس بن مالك ﷺ نه هم داشان یو مرفوعا روایت دې . والله اعلم.

په غیبو باندې د ایمان راوړو مصداق خلق:- ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت بدیله بنت اسلم فرمائی چه دبنو حارثه په جمات کښې مونږ د ماسپخین مونځ کښې وو. او بیت الله شریف طرف ته مو مخ وو. دوه رکعته مو اداکړی وو. چا خبر راوړو چې نبی کریم ﷺ بیت المقدس طرف ته مخ کړې دې. مونږ په دې آوریدوسره واوړیدو. بنځې د سړو ځائې کښې شوې. او د سړو په ځائې بنځې شوې. اوباقی دوه رکعته مونږ بیت الله شریف ته ادا کړل. کله چه نبی کریم ﷺ ته داخبر اورسیدو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دا هغه خلق دی چه په غیبوباندې ایمان راوړی. دا حدیث داسناد لحاظ سره غریب دې.

وَيُقِيمُونَ	الصَّلٰوةَ	وَمِمَّا
اوقایئموی	مونځ	اودهغه مالونو نه
او صحیح مونځونه ادا کوی		
رَزَقْنٰهُمْ	يُنْفِقُونَ ۝	
چې ورکړې دې مونږ هغوی ته	خرچ کوی	
چې مونږ دوی ته ورکړی دی دهغې نه (حقداروته) ورکړی		

قوله تعالی:- وَيُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ

د مونځ قائمولو نه مراد:① حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د مونځ فرائض ادا کوی ، رکوع کوی، تلاوت کوی،خشوع اوخضوع او توجه قائمه ساتی②قتاده رحمه الله وائی چه دوختونو خیال ساتل،اودس ښه طریقې سره کول،رکوع پوره کول اقامت صلوة دی ③مقاتل رحمه الله وائی چه دوخت خیال ساتل ، کامل طهارت،رکوع سجده پوره کول،تلاوت په ښه طریقه کول ، التحیات اودرود شریف وئیل اقامت صلوة دی.

قوله تعالی:- وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُونَ

د زکاة ادا کول: ①حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ﴿وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُونَ ۝﴾معنی زکوة ادا کول دی. حضرت ابن عباس ﷺ،حضرت ابن مسعود ﷺ اوبعضې صحابه کرامو ﷺ فرمائیلی دی چه ددې نه مراد د سړی خپلو بچو ته خوراك ورکول دی. دا د زکوة د حکم نه مخکښې آیت دې②حضرت ضحاك رحمه الله فرمائی چه دزکوة اووه آیتونه چه په سورت براة کښې دی ، ددې دنازلیدو نه مخکښې دا حکم شوې وو چه د خپل طاقت مطابق چه څه درسره وی لږلږ خرچ کوئی③حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه دا مال تاسو سره دالله ﷻ امانت دې. نزدې ده چه ستاسو نه به دا جدا شی. په خپل ژوند کښې دا د الله ﷻ په لار کښې خرچ کړئی④حضرت ابن جریر رحمه الله فرمائی چه دا آیت عام دې د زکوة دپاره، داهل وعیال خرچ دپاره،او چه کوموخلقو ته ورکړه ضروری ده دهغوی ټولو دپاره.ځکه چې الله ﷻ یو عام وصف بیان

Scanned with CamSc

کړي دي او عام تعريف نې کړي دي. نوهر شان خرچ ته به شامل وی⑤ خه (حافظ ابن کثير) وايم چه په قرآن پاک کښې اکثرو ځاينو کښې دمال او دمونځ ذکر يو ځائې راغلې دي ځکه چه مونځ دالله ﷻ حق اودهغه عبادت دي چه څوک دهغه توحيد اودهغه ثناء اودهغه بزرگی او دهغه طرف ته تيتيږی ، په هغه ذات باندې توکل کوی نوپه دې سره ددعا کولو نوم دی. اوخرچ کول دمخلوق سره احسان کول دی. چه په هغې سره هغوی ته فائده اورسی. ددې زيات حقدار اهل وعيال او غلامان وی ، بيا لرې خلق ، اجنبی ، نو ټول واجب خرچ او اخراجات او فرض زکوة په دې کښې شامل دی ،

داسلام پنځه ارکان:-بخاری اومسلم کښې ابن عمر نه روايت دې چه حضرت رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه د اسلام بنيادونه پنځه دی① دالله ﷻ توحيد د رسول کريم ﷺ د رسالت ګواهی ② مونځ قائمول ③ زکوة ورکول④ درمضان روژې نيول⑤ اودبيت الله شريف حج کول()ددې په باره کښې نورډير احاديث دی. دعربئ لغت کښې د صلوة معنی دعا ده. دعربو د شاعرانو شعرونه په دې باندې ګواه دی. بيا په شريعت کښې ددې استعمال په مونځ باندې دې چه درکوع او سجدې او دنورو خاصو افعالو نوم دې چه په مخصوص وختونو چه کښې د جمله شرائطو او صفاتو اواقسام سره ادا کولې شی.

د صلاة وجه تسميه:-① حضرت ابن جرير رحمه الله فرمائی چه مونځ ته صلوة په دې وجه وائی ځکه چه په مونځ کښې دالله ﷻ نه دخپل عمل ثواب طلب کوی . او خپل حاجتونه غواړی②بعضو وئيلی دی چه کوم دوه رګونه د ملا نه د ملا د تير هډوکی دواړو طرفونوته رازی ، هغې ته په عربئ کښې صلوين وائی.چونکه په مونځ کښې داخوزی ددې وجې مونځ ته صلاة اووئيلې شو. لهکن داقول صحيح نه دې.③ بعضو وئيلی دی چه دا ماخوذ دې د «صلی» نه چه ددې معنی انختل او لازم کيدل دی لکه قران پاک کښې دی چه ﴿لَا يَصْلَاهَا﴾ يعنی په جهنم کښې به همیشه دپاره نه اوسيږی مګر بدبخته خلق. ④ د بعضې عالمانوقول دې چه کله لرګې دصحيح کولودپاره په اوورکيخودې کيږی نو عرب ورته ﴿تَصْلِيَةٌ﴾ وائی. چونکه مونځګذار هم دخپل نفس کوږوالي صحيح کوی نو ددې وجې دې ته صلوة وائی . لکه قران پاک کښې دی چه ﴿اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ يعنی مونځ دهرې بې حيائی نه منع کوی. ليکن ددې د دعا په معنی کښې استعمال زيات صحيح اوزيات مشهور دی. والله اعلم . لفظ دزکوة بحث به انشاء الله په بل ځائې کښې راشی.

وَالَّذِيْنَ	يُؤْمِنُوْنَ		بِمَآ
اوهغه خلق دی	اچی يقين ساتی		په هغه کتاب
چې مونږ دوی ته ورکړی دی دهغې نه (حقداروته) ورکړی اوکوم کتاب چه په تاباندې نازل شوې			
اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	وَمَآ	اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ	وَبِالْاٰخِرَةِ هُمْ
چی نازل شوی دی	تاته	اوپه هغه کتابونو اچی نازل شوی وو مخکښې ستاته	اوپه اخرت باند هغوئ	
هغه هم منی اوهغه ټول کتابونه هم منی چې ستا نه مخکښې(نبيانوباندې) نازل شوي وو اودقيامت په				
يُوْقِنُوْنَ ۝				
يقين ساتی				
ورځ پوخ يقين لری				

[1]) صحيح بخاری : كتاب الايمان باب دعاؤكم ايمانكم : ٨، صحيح مسلم: ١١)-

قوله تعالی:- وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ

د مومنانو څو نور صفات :- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی ددې مطلب دادې چه څه د الله ﷻ د طرف نه په تاسو باندې نازل شو اوستاسونه مخکښې نبیانو باندې نازل شو هغوی ددې ټولوتصدیق کوی. دا نه ده چه څه منی او څه نه منئ بلکه د خپل رب ټولې خبرې منی او په آخرت باندې هم ایمان لری. یعنی بعث او قیامت ،جنت او دوزخ ، حساب اومیزان ټول منی. قیامت به چونکه ددنیا د فنا کیدو نه پس راځی نو ددې وجې ده ته آخرت اووئیلې شو. بعضې مفسرین وائی چه دکومو کسانو مخکښې په ایمان بالغیب سره صفات بیان شوی دی هم دهغوی دوباره صفات بیان کړې شو. یعنی ایماندار که عرب مومن وی اوکه اهل کتاب وغیره. حضرت مجاهد رحمه الله ،حضرت ابوالعالیه رحمه الله ، حضرت ربیع بن انس رحمه الله او حضرت قتاده رحمه الله نه هم دا قول نقل دې. بعضو ونیلی دی چه دا دواړه څو یو دی مګر مراد ددې نه صرف هم اهل کتاب دی. په دې دواړو صورتونو کښې به واؤ عطف دپاره وی او د صفتونو عطف به په صفتونوباندې وی. لکه ﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى﴾ کښې د صفتونو عطف په صفتونو باندې دې. اود شاعرانو په شعرونو کښې هم دا راغلی دی. دریم قول دادې چې رومبی درې صفتونه دهغه مومنانو دی چې کوم عرب دی او ﴿وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ﴾ نه د اهل کتابو د مومنانو صفات مراد دی.دا سدی رحمه الله دحضرت ابن عباس ﷺ اوبعضې نورو صحابه کرامو ﷺ نه نقل کړې دې او ابن جریر رحمه الله هم دا خوښ کړې دې. اوددې شهادت کښې دا آیت راوړی﴿وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ﴾یعنی اهل کتابو کښې داسې خلق هم دی چه الله ﷻ باندې او په هغه وحی باندې چه په تاسو نازله شوې ده او په هغه وحی باندې چه ستاسونه مخکښې نازله شوې وه ایمان راوړی. اوالله ﷻ نه ویریږی .اوپه بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ﴾یعنی چه چا ته ددې نه مخکښې کتاب ورکړې شوې وو او دې سره ایمان لری او کله چه په دوی باندې قران پاک لوستلې شی نو وائی چه مونږ په دې باندې ایمان راوړی دې او دا مود خپل رب طرف نه حق اومنلو. مونږ خوددې نه مخکښې مسلمانان وو . دوی ته به د صبرکولو اود بدئی په بدله کښې د نیکئ او الله ﷻ په لار کښې د خرچ کولو په وجه دوچند اجر ملاویږی.

درې کسانو ته دوچنده اجر ملاویدل:- بخاری شریف او مسلم شریف کښې دی چه رسول کریم ﷺ فرمائی چه دریو سړو ته به دوچند اجر ملاویږی①یو اهل کتاب چه په خپل نبی نې ایمان راوړې وو اوبیا په ماباندې ایمان راوړی②دویم هغه غلام چه د الله ﷻ حق ادا کړی اود خپل مالك هم③دریم هغه سړې چه خپلې وینځې ته ښه آدب اوښائی بیا دا آزاده کړی اودې سره نکاح اوکړی. ()

دحضرت ابن جریر رحمه الله ددې قول مناسبت سره ددې نه هم معلومیږی چه د دې سورت په شروع کښې د مومنانو اودکافرانو بیان شوې دې نو څنګه چه د کافرانودوه قسمونه دی کافر او منافق، داشان د مومنانو هم دوه قسمونه شو ،عربی مومن او کتابی مومن. څه وایم چه دا ظاهره ده چه د مجاهد رحمه الله داقول صحیح دې چه دسورت بقره رومبی څلور آیتونه د مومنانو دصفاتو په باره کښې دی. اوددې نه پس دیارلس آیتونه دمنافقانو په حق کښې دی. عربی وی که عجمی ، کتابی وی که غیرکتابی ، انسانانو نه وی اوکه جناتونه ځکه چه په دوی کښې هر یووصف دبل دپاره لازم او شرط دې ، یو بغیر د بل نشی کیدلې.

غیب باندې ایمان راوړل ، مونځ کول اوزکوة ورکول صحیح نه دی تر کومې چه رسول کریم ﷺ باندې اوپه مخکښونبیانو باندې ایمان چه کوم کتابونه نازل شوی ووپه هغې ایمان راونړی اودې سره په

() صحیح بخاری : کتاب العلم باب تعلیم الرجل امته واهله : ۹۷. صحیح مسلم: ۱۵٤)-

Scanned with CamScanner

اخرت باندې ایمان راوړی. چه څنګه رومبی دري څیزونه بغیر د مخکښو دریو څیزنو نه غیر معتبر دی داشان مخکښې دري څیزونه د دري روستنو نه صحیح نه دی. ددې وجې ایمان والو ته الله ﷻ حکم دې چه ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ﴾ یعنی ائې ایمان والوپه الله ﷻ اودده په رسول ﷺ باندې اوچه کوم کتاب په ده نازل شوې دې او چه کوم کتابونه ددې نه مخکښې نازل شوی دی په هغې ایمان راوړئی.اوبل ځائې کښې فرمانی چه :﴿وَلَا تُجَادِلُوا أَهْلَ الْكِتَابِ﴾

یعنی اهل کتابو سره په جنګ کولو کښې ښه طریقه اختیار کړئی او وائی چه مونږایمان راوړې په هغه څه چه مونږ ته نازل شوې دې او چه کوم تاسو طرف ته نازل شوې دې. ځمونږ معبود یو دې .او په بل ځائې کښې ارشاد دې چه ائې اهل کتابو چه څه مونږ نازل کړی دی په هغې ایمان راوړئی دا د هغې تصدیق کوونکې دې چه کوم تاسوسره دې. اوپه بل ځائې کښې ارشاد دې چه ائې اهل کتابو تاسو په هیڅ څیز باندې نه یئ ترکومې پورې چه تورات او انجیل او څه چه ستاسو طرف ته ستاسو د رب د طرف نه نازل شوی دی قائم اونه ساتئ. اویو بل ځائې کښې دټولو ایمان والو دطرف نه خبر ورکوی او قران پاك کښې وائی چه: ﴿آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ﴾ الخ یعنی رسول ایمان راوړو په هغه باندې چه دوی طرف ته نازل شوې ددوی درب دطرف نه اوټول ایماندار هم .هر یو ایمان راوړو په الله ﷻ باندې او دده په فرښتو باندې او دده په کتابونوباندې او دده په رسولانوباندې او مونږ په رسولانو کښې فرق اوجدائی نه کوؤ . داشان ارشاددې چه کوم خلق په الله ﷻ باندې اودده په رسولانو باندې ایمان راوړی او په رسولانو کښې فرق نه کوی . دا مضمون په نورو آیتونو کښې هم دې. چه په هغې کښې ټولو ایمان والوته په الله ﷻ باندې او دده په ټولو رسولانو باندې او په ټولو کتابونو باندې دایمان راوړو ذکر شوې دې.

دا بله خبره ده چه داهل کتابوپه ایماندارو کښې یوخاص خصوصیت دې. ځکه چه ددوی ایمان په خپلو کتابونو باندې تفصیل سره وی اوبیا کله چه د نبی کریم ﷺ په لاس ئې ایمان راوړو نو په قران پاك باندې هم تفصیل سره ایمان راوړی. ددې وجې دوی ته دوچند اجر ملاویږی. اوددې امت خلق هم مخکښې کتابونو باندې ایمان راوړی. لیکن ددوی ایمان اجمالی طور سره وی لکه څنګه چه په صحیح حدیث کښې دی چه کله تاسوته اهل کتاب څه بیان اوکړی نوتاسو نه ئې دروغ ګنړی او نه رښتیا بلکه اووائې چه مونږ ته څه نازل شوی دی مونږ هغه منو. او څه چه په تاسو باندې نازل شوی دی په هغې هم ایمان لرو. ()

په بعضوموقعو باندې داسې هم کیږی چه کومو خلقو په نبی کریم ﷺ باندې ایمان راوړې دې دهغوی ایمان د اهل کتابو په نسبت زیات پوره اوزیات کمال والا اوزیات راسخ اوزیات مضبوط وی، په دې حیثیت سره ممکن دی چه دوی ته اهل کتابونه هم زیات اجر ملاؤ شی. اګر چه هغوی په خپل پیغمبر او په نبی کریم ﷺ باندې د دوچنده اجر حقدار شوی دی خو داخلق دکمال په وجه په ایمان او اجر کښې هم زیات مخکښې دی. والله اعلم

أُولَٰئِكَ	عَلَىٰ هُدًى	مِّن رَّبِّهِمْ	وَأُولَٰئِكَ
داسې خلق	په صحیح لار قائم دی	دطرفه درب خپل نه	اودا خلق چې دی
دغه کسان دخپل پروردګارپه	په توفیق سره په سمه لار(روان) دی اوهم دوئ		

() صحیح بخاری : کتاب التفسیر سورة البقرة : ٤٤٨٥، بلفظ (لا تصدقوا الکتاب ولاتکذبوهم(وقولو امنا بالله) ابوداود: ٣٦٤٤، بلفظ (ماحدثکم اهل الکتاب فلا تصدقوهم ولاتکذبوهم) سنن ابی داود والی روایت غلة)-

Scanned with CamScanner

هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝
هم دوئ| کامیاب دی |
په دنیا او آخرت کښې کامیاب دی

قوله تعالی:- أُولَٰئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْ ۝

هدایت موندونکی څوک دی:- یعنی هغه خلق چه د کومو صفتونه مخکښې بیان شو لکه په غیبو باندې ایمان راوړول ، مونځ قائمول ، دالله ﷻ په ورکړې شوی مال کښې خرچ کول، په نبی کریم ﷺ باندې چه څه نازل شوی دی په هغې ایمان راوړل ، د نبی کریم ﷺ نه مخکښې چه کوم کتابونه نازل شو په هغې باندې ایمان راوړل ، په آخرت باندې ایمان راوړل او د هغه ځائې دپاره نیك عملونه کول ، د بدو او حرامو کارونو نه بچ کیدل،هم دا خلق هدایت والا دی کومو ته چه دالله ﷻ د طرف نه نورملاؤ شوې دې. او بیان اوبصیرت ورته حاصل شوې دې. اوهم ددې خلقو دپاره په دنیا او آخرت کښې کامیابی ده. حضرت ابن عباس ﷺ د هدایت تفسیر نوراو استقامت کړې دې. اود فلاح تفسیر نې خپله خوښه موندل او دبدو نه بچ کیدل کړې دې. حضرت ابن جریر رحمه الله فرمانی چه دا خلق د خپل رب د طرف نه په نور او دلیل اوثابت قدمئی او ربښتیا او دحق په توفیق باندې دی. اوهم دا خلق د خپلو پاکو اعمالوپه وجه د نجات او د ثواب او همیشه د جنت موندلو مستحق دی. اود عذابونونه لرې دی.

ابن جریر رحمه الله دا هم فرمائی چه نور خلق د ﴿أُولَٰئِكَ﴾ اشاره اهل کتابو ته کوی چه د هغوی صفت ددې نه مخکښې بیان شو. لکه مخکښې تیر شو په دې اعتبار سره ﴿ وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ مخکښې آیت نه به جدا وی. اومبتدا به جوړه شی او مرفوع به وی او ددې خبر به ﴿ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝﴾ وی. خو ښه قول دادې چه ددې اشاره دمخکښو صفتونو والو طرف ته ده. اهل کتاب وی اوکه عرب. حضرت ابن عباس ﷺ اوابن مسعود ﷺ او بعضې نورو صحابه کرامو ﷺ نه روایت دې چه د ﴿يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ﴾ نه مراد عرب ایماندار دی.

قوله تعالی:- وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ

کامیاب خلق:- اودې نه پس جمله نه مراد اهل کتاب ایماندار دی. بیا دواړو دپاره زیرې دې چه دا خلق په هدایت باندې دی او فلاح والا دی. او مخکښې بیان شوی دی چه دا آیتونه عام دی اودا اشاره هم عامه ده .والله اعلم. حضرت مجاهد ابوالعالیه رحمه الله ، حضرت ربیع بن انس رحمه الله او حضرت قتاده رحمه الله نه هم دا روایت دې.

یو ځل رسول کریم ﷺ نه سوال کیږی چه دقران پاک ځینې آیتونه مونږ ته تسلی راکوی او امید راکوی او ځینې آیتونه زمونږ ملا ماتوی او نزدې وی چه ناامیده شو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څه به تاسو د جنتی او جهنمی پیژندګلو اوښایم صفا صفا ،بیا نبی کریم ﷺ ﴿الٓمٓ ۝﴾ نه تر ﴿الْمُفْلِحُونَ ۝ ﴾ پورې تلاوت اوکړو او وې فرمائیل چه دا جنتان دی،حضرات صحابه کرام ﷺ ډیر خوشحاله شو او وې فرمائیل چه الحمد لله مونږ ته امید دې چه مونږددوی نه یو. بیا نبی کریم ﷺ د ﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ نه تر ﴿ عَظِيمٌ ۝﴾ پورې تلاوت اوکړو او وې فرمائیل دا جهنمیان دی، صحابه کرام ﷺ اوفرمائیل چه مونږ داسې نه یو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آو. (ابن ابی حاتم)

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ
| بیشکه | هغه خلق اچی انکار نې کړې دې ایوشان ده| هغوئ دپاره
بیشکه چاچې ستا ددې خبرودمنلونه انکار کړې دې انې رسوله د هغوی په

Scanned with CamScanner

ءَاَنْذَرْتَهُمْ	اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ	لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝	
که ته ویروې هغوئ	یانه ویروې هغوئ	خونه راوړی ایمان هغوئ	
حق کښې ستا ویرول اونه ویرول دواړه برابر دی	هغوئ ایمان نه راوړی		

قوله تعالی:- اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ

بدنصیبه خلق :یعنی کوم خلق چې حق لره پټوی او د پټولو عادی دی او ددوی په قسمت کښې هم دادی نوستا دپاره ددوی ویرول اونه ویرول برابر دی، دوی بۀ هیڅ کله دالله ﷻ د وحي تصدیق اونه کړی چه کومه په نبی کریم ﷺ باندې نازله شوې ده. او په بل ځائې کښې فرمائی چه﴿اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝﴾ یعنی چه کومو خلقو باندې دالله ﷻ خبره ثابته شوې ده هغوی به ایمان نه راوړی. اگر چه ټول آیتونه اوګوری تردې چه دردناک عذاب هم اوګوری.

ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ

اودا شان د سرکشه اهل کتابو په باره کښې فرمائی چه﴿وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ اٰيَةٍ﴾ یعنی دې اهل کتابو ته اگر چه ټول دلیلونه راوړې نو دوی به ستا قبله اونه منی. یعنی دې بدنصیبو ته دا نیک بختی نه ده حاصله ، نودې ګمراهانو ته هدایت دکومه ارخه ؟ نوائې نبی تاسو په دوی باندې افسوس مه کوئی ستا کار صرف د رسالت حق ادا کول دی او رسول دی ، منلو والا که نصیب والا وی نو فائده به واخلی. اوکه څوک نه منی نو نه دې منی ستا فرض ادا شو ،مونږ به پخپله ددوی نه حساب اخلو. ته صرف ویرولو والا ئې او دهر څیز هم الله ﷻ وکیل دې.

ابن عباس فرمائی چه نبی کریم ﷺ ته ددې خبرې ډیر حرص وو چه ټول ایماندار شی او هدایت قبول کړی، لیکن الله ﷻ ورته اوفرمائیل چه دا سعادت دهر چا په حصه کښې نشته دې دا نعمت تقسیم شوې دې چه د چا په حصه کښې راغلې دې هغوی به ستا منی او چه کوم بدقسمته دی هغوی به هیڅ کله ستا اطاعت طرف نه رانشی. نو مطلب دادې چه څوک دقران پاک نه انکاری دی او وائی چه مونږ مخکښې کتابونه منو نوددوی ویرولو هیڅ فائده نشته دې ځکه هغوی خو پخپله په حقیقت کښې خپل کتاب نه منی ځکه په دې کښې ستا دمنلو وعده ده . نوهرکله چه دوی دخپل نبی نصیحت او کتاب نه منی نو ائې نبی ﷺ ستا خبره به څه اومنی؟

ابوالعالیه رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه دا آیت د جنګ احزاب د سردارانو په باره کښې نازل شوې وو. چه ددې په باره کښې الله فرمائی﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ﴾ . لیکن چه کومه معنی مونږ مخکښې بیان کړې ده هغه زیاته ظاهره ده. او د بل آیت مطابق ده . والله اعلم. په دې حدیث باندې چه کوم ابن ابی حاتم رحمۃ اللہ علیہ حوالې سره نن بیان شو په هغې دوباره نظر واچوئی﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝﴾ دمخکښې جملې تاکید دې. ددوی کفر به مات نشی. دا هم ممکن دی چه ﴿ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝﴾ خبر وی ځکه چه تقدیر کلام د﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝﴾ دې او﴿سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ﴾ جمله معترضه به شی ، والله اعلم.

خَتَمَ اللّٰهُ	عَلٰى قُلُوْبِهِمْ	وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ	وَعَلٰٓى اَبْصَارِهِمْ	
مهرلګولې دې الله	دهغوئ په زړونوباندې	اودهغوئ په غوږونوباندې	اودهغوئ په سترګوباندې	
الله تعالی د هغوی په زړونو او غوږونو باندې مهر لګولې دې		اود دوی په سترګو ئې پرده غوړولې ده		
غِشَاوَةٌ ۫	وَّلَهُمْ	عَذَابٌ	عَظِيْمٌ ۝	
پرده ده	اودې هغوئ دپاره	عذاب	لوئ	
اوهغوئ لره لویه سزا مقرره				

Scanned with CamScanner

قولہ تعالیٰ:- خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ

په زړونو او غوږونو مهر لګول:- حضرت سدی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه د ختم نه مراد طبع ده یعنی مهر لګول دی. قتاده رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه په دوی شیطان غالب شو اودوی دده په ماتحتئ کښې اولګیدو. تر دې پورې چه مهر الهی ددوی په زړونواو ددوی په غوږونوباندې اولګیدو. اوپه سترګو ئې پردې شوې او دوی هدایت نشی کتلې او نه پرې پوهیږی.

حضرت مجاهد رحمۃ اللہ علیہ فرمائی ګناه دخلقو په زړونو باندې راوړی او دوی د هر طرف نه ګیروی ، بس هم دا طبع او ختم یعنی مهر دې. اود غوږونو دپاره محاوره کښې مهر رازی. حضرت مجاهد رحمۃ اللہ علیہ فرمائی په قران کښې د(ران) لفظ دې د﴿طبع﴾ لفظ دې. اود (اقفال) لفظ دې او﴿ران﴾ د﴿طبع﴾ نه کم دې. او (طبع) د (اقفال) نه کم دې. (اقفال) د ټولو نه زیات دې. حضرت مجاهد رحمۃ اللہ علیہ خپل لاس اوخودلو او وې فرمائیل زړه د لاس د تلی په شان دې او دبنده دګناهونو په وجه راټولیږی او بندیږی. داشان چه یوګناه اوکړې شوه نو ګویا چه کچه ګوته بنده شو او بیا ئې ګناه اوکړه نوګویا چه بله ګوته بنده شوه تر دې پورې چه ټولې ګوتې بندې شی او اوس موټې بند شو چه په دې کښې هیڅ نشی داخلیدې. داشان د ګناهونو په وجه په زړه باندې پردې راشی اومهر پرې اولګی. بیا په دې باندې هیڅ اثر نه کیږی ، دې ته "رین" هم وائی. مطلب دا شو چه د دوی تکبر اود دوی د حق نه مخ اړول بیانیږی. لکه وئیلې شی چه فلانې سړې ددې خبرې په آوریدوسره کونړ شو. مطلب دا وی چه تکبر او بې پرواهئ کولو سره دوی دې خبرې طرف ته غوږ نه کیخودو. حضرت امام ابن جریر رحمۃ اللہ علیہ فرمائی لیکن دا مطلب صحیح نه دې ځکه چه په دې ځائې کښې خو الله ﷻ پخپله فرمائی هغه پاک ذات ﷻ ددوی په زړونو باندې مهر اولګولو. زمحشری رحمۃ اللہ علیہ ددې تردید کړې دې او پنځه تاویلونه ئې کړی دی . لیکن ټول په ټوله بالکل فضول او بکواس دی او صرف د خپل معتزله کیدو په وجه ده دا ټول تکلفات کړی دی. ځکه چه ددوی په نیز دا خبره ډیر خرابه ده چه دچا په زړه باندې الله ﷻ مهر اولګوی. لیکن افسوس چه هغوی په نورو صفا او واضحه آیتونوباندې غور اونکړو. دالله ﷻ ارشاد دې چه﴿فَلَمَّا زَاغُوْٓا اَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ؕ﴾ یعنی کله چه دوی کاږه شو نو الله ﷻ به ددوی زړونه کاږه کړی.اوفرمائی چه﴿وَنُقَلِّبُ اَفْـِٕدَتَهُمْ وَاَبْصَارَهُمْ﴾ یعنی مونږ به ددوی زړونه او ددوی نظرونه الټه کړو ګویا چه دوی هډو ایمان نه وو راوړې اوفرمائی مونږ دوی ددوی په سرکشئ کښې سروهلی پریږدو.داقسمه آیتونه هم دی چه الله ﷻ ددوی په زړونو باندې مهر اولګولو او هدایت ئې ددوی نه لرې کړو ،ددوی حق ئې لرې کولو او په باطل باندې د ټینګیدو په وجه.اودا سراسر عدل و انصاف دې او عدل ښه څیز دې . دا نه چه خراب. که زمحشری هم په دې آیتونو باندې نظر کړې وې نو تاویل به ئې نه کولو. والله اعلم.

قرطبی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه دامت اجماع ده چه الله ﷻ خپل یو صفت مهر لګول هم بیان کړې دې چه د کفارودکفر بدله ده. فرمائی﴿بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ﴾ یعنی بلکه ددوی دکفر په وجه الله ﷻ په دوی مهر لګولې دې.حدیث شریف هم دی چه الله ﷻ زړونه اړوی راوړوی،په دعا کښې دی چه﴿یامقلب القلوب ثبت قلوبنا علی دینك﴾ یعنی انې د زړونو اړوونکیه زمونږ زړونه په خپل دین باندې قائم اوساته.

د حضرت حذیفه ﷺ په حدیث کښې دی چه رسول کریم ﷺ فرمائیلی دی چه په زړونو باندې فتنې داشان پیش کیږی لکه دشلیدلی بورنی یو ټکړه،چه کوم زړه داقبلوی نو په دې کښې یوتوره نقطه لګی او چه په کوم زړه کښې د فتنې اثر نه کوی نو په هغې یو سپین داغ لګی. چه ددې سپین والې زیاتیږی اوبالکل صفا شی اومنور شی.اوبیا دې (زړه) ته هیڅ فتنه نقصان نشی رسولې. اوددې بل زړه تورواڼې هم خوریږی تر دې پورې چه ټول تور شی او اوس دا دالټه کوزې په شان شی. نه په دې ښه خبره لګی او نه ورته ګناه خرابه معلومیږی .

Scanned with CamScanner

ابن جریر رحمه الله فیصله کړې ده چه په حدیث کښې راغلی دی چه کله مومن ګناه کوی نو دده په زړه باندې یو تور داغ لګی که دې منع شی اوتوبه اوکړی نو هغه داغ ختم شی او دده زړه صفاشی . اوکه هغه ګناه زیاته شی نو هغه تورواله خوریږی تر دې پورې چه په زړه خوره شی، هم دا هغه ران دې چه د هغې ذکر په آیت کښې دې چه﴿ كَلَّا بَلْ ۜ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾ یعنی مونږ ددوی په زړونو باندې " ران"لګولې دې ددوی د بدعملونو په وجه. (ترمذی ، نسائی ، ابن جریر).امام ترمذی رحمه الله دې حدیث ته حسن وئیلې دې. نومعلومه شوه چه دګناهونوزیاتوالې په زړه باندې غلاف راولی او ددې نه پس مهر الهی پرې لګی چه دې ته ختم یا طبع وئیلې شی ، اوس په زړه کښې د ایمان د تلو او د کفر د پاتې کیدو هیڅ لار پاتې نشی.

قوله تعالی:- وَعَلٰٓى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۖ

په سترګو پردې :-هم ددې مهر ذکر د دې آیت په (خَتَمَ اللّٰهُ)کښې دې. دامثال دې زمونږ د سترګود لیدلو څیزونو کله چه مونږ ددې خله بنده کړو اوپه دې مهر اولګوؤ نو ترکومې پورې چې هغه مهر مات نشی نو په دې کښې نه څیز داخلیدې شی اونه ددې نه څه څیز راوتلې شی. داشان چه دکومو کفارو په زړونو باندې اوغورږونوباندې دالله ﷻ مهر لګیدلې دې په هغې کښې هم ددې د ماتیدو او لرې کیدو نه بغیرهدایت نشی داخلیدې اونه تري کفر وتلې شي .

په ﴿سَمْعِهِمْ ۭ﴾باندې پوره وقف دې. او﴿سَمْعِهِمْ ۭ وَعَلٰٓى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۖ﴾ بیله پوره جمله ده ختم او طبع په زړونواوغورږونوباندې وی. اوغشاوه یعنی پردۀ په سترګو باندې رازی لکه حضرت ابن عباس رضی الله عنه ، حضرت ابن مسعود رضی الله عنه، او نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه روایت دی.په قران پاك کښې دی چه﴿ فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰي قَلْبِكَ ۭ﴾ او په بل ځائې کښې دی چه ﴿ وَخَتَمَ عَلٰي سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰي بَصَرِهٖ غِشٰوَةً ۭ﴾. په دې آیتونو کښې زړه اوغورږ باندې د (مهر) ذکر دې او په سترګو باندې دپردې .

بعضو په دې ځائې کښې د﴿غِشٰوَةٌ ۭ﴾زبر وئیلې دې، نوممکن دی چه ددوی په نیز فعل ﴿جعل﴾ مقدر وی اوممکن دی چه نصب دمحل اتباع وی.لکه په﴿وَحُوْرٌ عِيْنٌ ۝﴾کښې دسورت دشروع څلورآیتونو کښې د مومنانو اوصاف بیان شوی دی بیا دوه آیتونو کښې دکافرو حال بیان شوې دې، اوس دمنافقانو ذکر کیږی ، چه څوك په ظاهره ایماندار جوړیږی لیکن په حقیقت کښې کافر دی.چونکه ددې خلقو چالاکئ عام طور پتې پاتې کیږی ځکه چه ددوی بیان لږ په تفصیل سره اوشو اوډیرې نښې ددوی بیان شوې. هم ددوی باره کښې سورت براءت نازل شو. او هم ددوی ذکر په سورت نور وغیره کښې کړې شوې دې چه ددوی نه پوره بچ کیدل اوشی او ددوی دمذمومو خصلتونونه مسلمانان لرې شی ، نو فرمانی:

وَمِنَ النَّاسِ	مَنْ	يَّقُوْلُ	اٰمَنَّا	
اوځینی دخلقو نه	هغه څوك دی	چی وائی	ایمان راوړی دې مونږ په	
اوځینې خلق داسې دی چې(په خولې)وائی چې مونږ په الله او په ورځ				
بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ	وَمَا	هُمْ	بِمُؤْمِنِيْنَ ۝	يُخٰدِعُوْنَ
په الله	اوپه ورځ	دخرت باندې	اوحال داچی نه دی	هغوئ	مومنان	دهوکه کوی هغوئ
داخرت ایمان راوړلې دې	خودوئ (په ربښتیانه) مسلمانان نه دی	دوئ(پخپل ګمان کښې)				
اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا ۚ	وَمَا يَخْدَعُوْنَ	اِلَّآ	اَنْفُسَهُمْ
الله سره	اوهغه کسانو سره	چې ایمان ئې راوړې دې	خو نه کوی دهوکه	مګر	ځانونوخپلوسره
د الله پاک	او مسلمانانو	سره تګی کوی	خو په اصل کښې	خپلو ځانونو ته دهوکه ورکوی	

Scanned with CamSc

وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿۹﴾
اونه لری| هغوئ پوهه	
او پوهیږی پرې نه	

قوله تعالی:- وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ

دنفاق دوه قسمونه: دراصل نفاق وانی نیکئ لره ظاهرولواوبدئ لره پټولوته.د نفاق دوه قسمونه دی ①اعتقادی ②عملی. رومبی قسم منافق خوابدی جهنمی وی اودویم قسم بدترین مجرم دي. ددې بیان به په تفصیل سره انشاء الله په څه مناسب ځائې کښې راشی.

ابن جریج رحمه الله فرمائی چه د منافق قول دده د فعل خلاف وی دده باطن دده د ظاهر خلاف وی.دده تګ د راتګ خلاف وی، دده موجودګی دده د عدم موجودګئ نه خلاف وی. نفاق خوهډوپه مکه کښې وو نه بلکه ددې خلاف وو. بعضې خلق داسې وو چه په زبردستئ په ظاهره دکافرو سره وو خو په زړه کښې به مسلمانان وو، کله چه نبی کریم ﷺ هجرت اوکړو او مکه معظمه ئې پرېښوده اومدینې منورې ته ئې تشریف یوړو او په دې ځائې کښې د اوس او خزرج قبیلې انصار جوړ شواو ددوی ملګرتیا ئې اوکړه او د جاهلیت مشرکانه بت پرستی ئې پرېښوده او په دواړو قبیلو کښې خوش نصیبه مسلمانان شو ، لیکن یهودیان تر اوسه پورې دالله ﷻ ددې نعمت نه محروم وو. په هغوی کښې صرف حضرت عبدالله بن سلام ﷺ دارښتونې دین قبول کړې وو. تردې وخته پورې دمنافقانو دا خبیثه ډله نه وه قائمه شوې او نبی کریم ﷺ دې یهودو او دعربو نورو قبیلو سره صلحه کړې وه.

د نفاق ابتداء: ددې ډلې د قیام ابتداء څه په دا ډول اوشو چه دمدینې دیهودو درې ډلې قبیلې وې. ① بنو قینقاع ② بنو نضیر③ بنو قریظه. بنو قینقاع خود بنو خزرج رونړه اوحلیف وو. اوباقی ددوؤ قبیلو روروڼی اوس سره وه. کله چه جنګ بدر اوشو او په دې کښې الله ﷻ خپل دین والو ته غلبه ورکړه اود اسلام شان اوشوکت ظاهر شو ، دمسلمانانو غلبه شوه او دکفر زور مات شو نو په هغه وخت کښې دا ناپاکه ډله قائمه شوه. عبدالله بن ابی سلول خو وو دخزرج قبیلې نه لیکن اوس اوخزرج دواړو دې خپل مشر منلو. بلکه دده دبادشاهت او دده دسردارئی باقاعده داعلان اراده کولو والا وو چه ددې دواړو قبیلو رخ اسلام طرف ته شو او دده سرداری همداشان پاتې شوه. ()دا ازغې خو دده په زړه کښې وو ، بل طرف ته د اسلام ورځ په ورځ پرمختګ او په جنګ کښې کامیابئ دې ډیر زیات هواس باخته کړې وو. اوس ده اوکتل چه داسې به کار اونه چلیږی . زر په ظاهره مسلمان شو اوپه باطن کښې ئې دکافر پاتې کیدو اراده اوترله. اوخومره ډله چه ده سره وه ټولو ته ئې هم دا هدایت اوکړو اوداشان د منافقانو یوه ډله (جماعت) په مدینه منوره کښې اوددې په چاپیر چل کښې قائمه شوه. په دې منافقانو کښې بحمدالله یومکی مهاجر هم نه وو. بلکه دې بزرګانو خو خپل خانونه او خپل اهل وعیال او مالونه د الله ﷻ په نوم قربان کړی وو او د الله ﷻ رسول ﷺ سره راغلی وو. ﴿فرضی الله عنهم اجمعین﴾حضرت عباس ﷺ فرمائی چه دا منافقان د اوس او خزرج قبیلو کښې وو. او یهودیان هم چه ددوی په طریقو باندې وو.په دې آیتونو کښې دقبیله اوس اود قبیله خزرج بیان دې ابوالعالیه رحمه الله ، قتاده رحمه الله او سدی رحمه الله هم دابیان کړې دې.

قوله تعالی:- يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

منافقان په خپل ګمان کښې الله او مومنانو ته دهوکه ورکوی:-په دې ځائې کښې الله ﷻ د منافقانو دډیرو خصلتونوذکرکړې دې چه مسلمانان ددوی دظاهر نه دهوکه کښې پریوزی. اوهسې نه چه دوی

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب التفسیر تفسیر سورة بقرة آل عمران باب لتسمعن من الذین....٤٥٦٦، صحیح مسلم: ١٧٩٨)-

Scanned with CamSc

مسلمانان اوګنړی او خپل ځان ګړی. اوددې په وجه څه لوئې فساد اوشی. دا یاد ساتئ چې بد کاره خلق نیک ګنړل ډیر خراب عمل دې اګر چې دا (بد کول) پخپله هم ډیر خراب عمل دې. لکه څنګه چه په دې آیت کښې بیان شوی دی چه داخلق زبانی اقرار خو ضرور کوی خو په زړه کښې ددوی ایمان نشته دې. داشان په سورة منافقون کښې هم وئیلې شوی دی چه: ﴿ إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ﴾ یعنی دامنافقان تالره راځی او وائی چې مونږ ګواهی ورکوو چه ته دالله ﷻ رسول ئې او الله ﷻ ته پته ده چه ته دهغه پاك ذات رسول ئې. خو په حقیقت کښې د منافقانو داقول ددوی د عقیدې مطابق نه وو ځکه چه ددې خلقو دشاندارو الفاظو او دتاکید نه باوجود الله ﷻ دوی ته دروغژن اووئیل او وې فرمائیل چه ﴿وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ﴾ یعنی الله ﷻ ګواهی ورکوی چه په یقین سره دا منافقان دروغژن دی. او په دې ځائې کښې هم فرمائی چه ﴿وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ﴾ یعنی دراصل دوی ایمان نه دې راوړې دوی خپل ایمان ظاهروی او خپل کفر لره پټوی او په خپل جهالت سره الله ﷻ ته دهوکه ورکوی. او دا فائده ورکونکې او الله ﷻ ته دهوکه ورکونکې کاریګری ګنړی لکه څنګه چه په بعضو مومنانوباندې ددوی مکر چلیږی . په قران پاك کښې دی چه : ﴿يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ﴾ یعنی د قیامت په ورځ چه کله الله ﷻ دوی ټولو لره اودروی لکه څنګه چه دوی په دې ځائې دایمان والو په مخکښې قسمونه خوری ،دالله ﷻ په مخکښې به هم قسمونه خوری اودا به ګنړی چه دوی هم څه دی. خبردار ! یقیناً دوی دروغژن دی.په دې ځائې کښې ئې هم ددوی د غلطې عقیدې مقابله کښې اوفرمائیل چه په اصل کښې دوی ته ددوی دخپل کار خرابی نه ده معلومه. دوی دا دهوکه خپلوخانونو ته ورکوی لکه په بل ځائې کښې ارشاددې چه ﴿اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ﴾ یعنی منافقان الله ﷻ ته دهوکه ورکوی اوهغه ذات دوی ته (دهوکه) ورکوی .

بعضو قاریانو دا ﴿يُخٰدِعُوْنَ﴾ لوستلې دی. اوبعضو ﴿يُخٰدِعُوْنَ﴾ اود دواړو قراءتونومعنی اومطلب یو دې. اوکه څوك اووائی چه الله ﷻ ته اوایمان والو ته به دهوکه څنګه ورکوی؟ دوی دخپل زړه خلاف ظاهروی او دا خو صرف دبچ کیدو دپاره وی. نو په جواب کښې به وئیلې شی چه داشان خبره کولو والو ته هم چه د ویرې نه بچ کیدل غواړی،په عربیۍ کښې ﴿مخادع﴾ وائې چونکه منافقان هم قتل ، قید او د دنیاوی عذابونو نه دمحفوظ کیدو دپاره چال چلولو او د باطن خلاف الفاظ ئې ظاهرول ځکه دوی ته دهوکه بازاوونیلې شو.

قوله تعالی:- وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ

د منافقانو خپل ځان ته دهوکه ورکول:- ددوی دا کار اګر چه چا ته په دنیا کښې دهوکه هم ورکړی لیکن په حقیقت کښې هغوی خپل ځان ته پخپله دهوکه ورکوی. ځکه چه هغوی په دې کښې کامیابی ګنړی. اوپه اصل کښې به دا ددوی د عذاب الهی سبب وی چه په دوی کښې به د هغې د برداشت کولو طاقت نه وی. نو په حقیقت به دا دهوکه ددوی دپاره عذاب شی. هغوی چه د کوم کار انجام ښه ګنړی هغه (کار) به ددوی په حق کښې خراب او ډیر خراب وی. ددوی د کفر او ددوی دتکذیب په وجه به د دوی رب ددوی نه سخت خفه وی. خو افسوس په دې چه په دوی کښې شعور نشته دې او دوی په خپل روندتوب کښې مست دی. ابن جریج رحمه الله ددې په تفسیر کښې فرمائی چه د ﴿لا اله الا الله﴾ اظهار کوی او خپل ځان بچ کوی ، داکلمه به ددوی په زړونو کښې ځائې اونکړی. قتاده رحمه الله فرمائی چه دمنافقانو هم داحالت دې چه په ژبه ئې څه او په زړه کښې بل څه ، عمل یو څه وی او عقیده بل څه ، سحر یو او ماښام بل څه. دکشتۍ په شان چه دهوا په وجه کله یو خوا شی او کله بل خوا.

Scanned with CamSc

فِيْ قُلُوْبِهِمْ	مَّرَضٌ ۙ	فَزَادَهُمُ			اللّٰهُ
په زړونو دهغوئ کښې	مرض دي	نو زيات کړل	هغوئ لره		الله
ددوئ په زړونو کښې (د نفاق) مرض دي نو الله (دقانون قدرت مطابق) ددوئ مرض					
مَرَضًا ۚ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	اَلِيْمٌ ۢ	بِمَا	كَانُوْا
د حيثيت د مرض نه	اودي دهغوئ دپاره	عذاب	دردناک	په سبب دهغې	چې ووهغوئ
زيات کړو	اودوئ دپاره د دوی د دروغو وئيلو په وجه دردناکه سزا مقررشوې ده				
يَكْذِبُوْنَ ۝					
چې دروغ ئې وئيل					

قوله تعالى:- فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ ۙ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا ۚ

د نفاق مرض :-دبيمارئى نه مراد په دې خائې کښې شك او شبه ده. حضرت ابن عباس ﷺ ، حضرت ابن مسعود ﷺ اوځو صحابه کرامو ﷺ نه هم دا روايت دي. حضرت مجاهد رحمه الله ، عكرمه رحمه الله ، حسن بصرى رحمه الله ، ابوالعاليه رحمه الله ، ربيع بن انس رحمه الله اوقتاده رحمه الله نه دا قول روايت شوې دي. عكرمه رحمه الله او طاؤس ددې تفسير په ريا سره کړې دي. اوحضرت ابن عباس ﷺ نه ددې تفسير نفاق هم روايت شوې دي. زيدبن اسلم رحمه الله فرمائى چه په دې خائې تړې دينى بيمارى مراد ده جسمانى نه ده ، دوى ته په اسلام کښې دشك بيمارى وه او الله تعالى د دوى په ناپاكئ کښې نور زيات والې اوكړو.

د قرائى ايتونونه شواهد:- لكه په قران پاك کښې په يو بل خائې کښې دى چه ﴿فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ اِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ۝ وَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا اِلٰى رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ۝﴾ يعنى د ايمان والو په ايمان کښې زياتې کوى او دوى خوشحاله کوى، ليكن د بيمارى والو په ناپاكئ کښې او پليتئ کښې نور هم زياتى کوى (يعنى ددوى ابدى گمراهى نوره هم زياتيږى) دا بدله ده ددوى د عملونو مشابه ده.

دا ښه تفسير دي،هم ددې په مثل يو فرمان هم دي چه ﴿وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّاٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ۝﴾ دهدايت والوهدايت کښې زياتوالې کوى اوداقوى کوى. ﴿يَكْذِبُوْنَ﴾ قاريانو ﴿يُكَذِّبُوْنَ﴾ هم وئيلې دي.دادواړه خراب خصلتونه دى چه په دوى کښې وو دابه نې په دروغه هم کنټرل او دوى دروغژن هم وو.

دمنافقانو نه قتلولووجه:- رسول الله ﷺ بعضې منافقان پيژندلو نه باوجود هم دوى نه قتلول اوددې وجه هغه ده چه کومه د بخارى اومسلم په روايت کښې ده چه نبى كريم ﷺ حضرت عمر فاروق ﷺ ته اوفرمائيل چه څه دا خبره نه خوښوم چه په خلقو کښې دامشهوره شى چه حضرت محمد ﷺ خپل ملگرى قتل كوى.(۱)

مطلب دادې چه كوم اعرابيان چاپير چل کښې دى هغوى ته به دا معلوم نه شى چه دا كافران ددوى پټ كفر په وجه قتل کړې شوى دى ، ددوى نظرونه خو صرف په ظاهر باندې وى. كله چه په دوى کښې دا خبره مشهوره شى چه نبى كريم ﷺ خپل ملگرى قتل كوى نو ويره ده چه هسې نه دوى داسلام قبلولو نه منع شى. حضرت قرطبى رحمه الله فرمائى چه زمونږ د عالمانو هم دا قول دې دا صحيح دې دا شان نبى كريم ﷺ مولفة القلوب چه دكومو زړونه اسلام طرف ته مائل كړى نو هغوى ته به نې مال وركولو حالانكه نبى كريم ﷺ ته معلومه وه د دوى عقيدې خرابې دى. حضرت امام مالك رحمه الله هم د منافقانو د

---

(۱) صحيح بخارى : كتاب المناقب ،باب ماينهى من دعوى الجاهلية: ۳۵۱۸، صحيح مسلم: ۲۵۸٤)-

Scanned with CamS

نه قتل کولو هم دا وجه فرمانی ، لکه څنګه چه محمد بن جهم ، قاضی اسماعیل او ابهری نه نقل شوی دی. حضرت امام مالک رحمه الله نه په قول د ابن ماجشون یو وجه داهم نقل شوی ده چه دا په دی وجه وو چه د حضرت محمد ﷺ امت ته معلومه شی چې حاکم په خپل علم باندې فیصله نشی کولې. امام قرطبی رحمه الله فرمائی اګر چه په ټولومسئلو کښې د عالمانو اختلاف دی لیکن په دی مسئله کښې دټولو اتفاق دی چه قاضی صرف د ذاتی معلوماتو په وجه یو کس نشی قتل کولې. حضرت امام شافعی رحمه الله یو وجه دا هم بیان کړی ده، دوی فرمائی د نبی کریم ﷺ دمنافقانو نه قتل کولو وجه ددوی ایمان په خپله ژبه باندې ظاهرول وو اګر چه ددې ورته علم وو چه ددوی زړونه ددوی خلاف دی. خو ظاهری کلمه دا رومبئ خبره لرې کوی.

ددې په تائید کښې د بخاری شریف او مسلم شریف دا حدیث هم پیش کولې شی چه په هغې کښې دی چه ماته حکم راکړی شوی دی چه څه خلقوسره جنګ اوکړم تر دې چه هغوی ﴿لااله‌الاالله﴾ اووائی. هرکله چه دوی ته دا کلمه اووئیلې شوه نو هغوی ځما نه خپل ځانونه اومالونه بچ کړل او ددوی حساب په الله ﷻ باندې دې (۱)مطلب دادې چه ددې کلمې وئیلو سره داسلام ظاهری احکام په دوی باندې جاری شی ، اوس که ددوی عقیده هم ددې مطابق وی نو په آخرت کښې به دنجات سبب جوړ شی ګنی په هغه ځائې کښې به دوی ته هیڅ نفع نه ورکوی. لیکن په دنیا کښې خو به دمسلمانانو احکام په دوی باندې جاری وی . اګر چه داخلق به دوی په دې ځائې کښې دمسلمانانو په صفونو کښې او ددوی په فهرست کښې په نظر راځی لیکن آخرت کښې په پل صراط باندې به دوی بیل شی اوپه تیرو کښې به حیران اوپریشان وی او په اوچت آوازسره به مسلمانانو ته آوازونه کوی چه آیا مونږ تاسو سره نه وو؟ لیکن دهغه ځائې نه به ورته جواب ملاؤ شی چه وئ خو صحیح مګر تاسو په فتنو کښې پریوتئ او په انتظار کښې پاتې شوئی او خپل کړه مو کول او خپلو خواهشواتو پسې شوی وئی تر دې پورې چه الله ﷻ حکم راغلو.

غرض دا چه په آخرت کښې به هم مسلمانانوپسې لګیدلی وی خو آخردوی به بیل کړې شی، او ددوی په امیدونوباندې به اوبه تونی شی. هغوی به غواړی چه مسلمانانو سره په سجده کښې پریوزی لیکن سجده به نشی کولې (۲). لکه څنګه چه په احادیثو کښې تفصیل سره بیان راغلې دې .بعضو محققینو وئیلی دی چه ددوی د نه قتل کولو وجه دا وه چه د الله ﷻ رسول په موجودګئ کښې ددوی شرارتونه نشی ملاویدلې. الله ﷻ به مسلمانان دخپلې وحی په ذریعه ددوی د بدو نه محفوظ کړې وی. لیکن نبی کریم ﷺ نه پس الله ﷻ دې نه کړی که داسې خلق وی ددوی نفاق بنکاره شی او مسلمانان ترې بنه واقف شی نو هغوی به قتلوی .د حضرت امام مالک رحمه الله فتوی ده چه نفاق د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې وو لیکن نن خو دا بې دینی او زندیقیت دې.

داهم یاد ساتل پکار دی چه د زندیق په باره هم د عالمانو اختلاف دې چه کله هغه کفر بنکاره کړی نوده د قتل کولو نه مخکښې دې ده ته دتوبې کولو پیشکش اوکړی یا نه ؟ او هغه زندیق چه خلقو ته هم ددې تعلیم ورکوی اوهغه زندیق چه معلم نه وی ، په دې دواړو کښې به فرق کولې شی یا نه ؟ او که دا ارتداد څو ځل شوې وی نوبیاددې څه حکم دې یا صرف په یو ځل کولو باندې هم ؟ بیا په دې کښې هم اختلاف دې چه دا اسلام راوړل او رجوع کول دده دخپل طرف نه وی او په ده باندې د زور کولو نه پس هم دا حکم ؟ غرض په دې ټولو خبرو کښې اختلاف دې. لیکن ددې دبیان ځائې داحکامو کتابونه دی تفسیرونه نه دی.

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب الایمان باب (فان تابوا...) :۲۵، صحیح مسلم: ...۲۱)-.

[2]) صحیح بخاری: کتاب الاذان فضل ل السجود: ۸۰۶،کتاب التوحید باب قول الله تعالی (وجوه یومئذ ناظرة): ۷۴۳۹،صحیح مسلم: ۱۸۲)

Scanned with CamSc

نبی کریم ته د بعضې کسانو د نفاق علم:- د څوارلسوکسانو د نفاق علم خو نبی کریم ﷺ ته وو (). دا هغه بدظن خلق وو چه هغوی په غزوه تبوك کښې مشوري کړې وې اودا نې فیصله کړې وه چه نبی کریم ﷺ سره دهوکه اوکړی. دوی د نبی کریم ﷺ دقتل کولو پوره سازش کړې وو چه د شپې په تیاره کښې چه کله رسول کریم ﷺ فلانی غر ته نزدې شی نو د رسول کریم ﷺ اوښه اویرونی ،هغه به اویریږی او په منډه به شی او رسول کریم ﷺ به په غر کښې پریوزی ، الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته په هغه وخت کښې وحی اوکړه اوددوی ناپاك سازش نه نې خبر کړل . نبی کریم ﷺ حضرت حذیفه ﷺ راوبللو اوددې واقعې خبرې نې ورکړو. او ددې غدارو نومونه نې هم ورته اوخودل. بیا هم رسول کریم ﷺ ددوی د قتل کولو حکم اونه فرمائیلو()ددې نه سوا رسول کریم ﷺ ته د نورو منافقانو علم نه وو. قران پاك فرمائی چه ﴿وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ مِّنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ﴾یعنی ستاسوچاپیر چل کښې بعضې اعرابیان منافق دی اوبعضې سرکشه په مدینه کښې هم دی تاسو ته د هغوی معلومات نشته دې.خو مونږته معلوم دی. اوپه بل ځائې کښې فرمائی چه﴿لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ الْمُنٰفِقُوْنَ﴾یعنی که دامنافقان ګنده زړونو والا اوفساد کولووالا او تکبر کولودخپلو شرارتونو نه منع نه شو نومونږبه هم دوی نه پریږدو. اوپه مدینه کښې ډیرکم باقی پاتې شی بلکه په دوی به لعنت اوکړې شی چه په کوم ځائې موندلې شی نونیولې به شی او ټکړې ټکړې کولې به شی.

ددې آیتونو نه معلومه شوه چې نبی کریم ﷺ ته ددې منافقانو علم وو چه څوك څوك دی؟ خو ددوی مذموم خصلتونه چه بیان شو ، دا چه په چا کښې وی نو په هغه به نفاق صادق رازی. لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿ وَلَوْنَشَآءُلَاَرَيْنٰكَهُمْ﴾ یعنی که مونږ اوغواړو نودوی به ښکاره کړو تاسو به دوی د دوی د انداز ګفتګو نه اوپیژنئ. په دې منافقانو کښې د ټولونه زیات مشهور عبدالله ابی ابن سلول وو ، حضرت زید بن ارقم دده د منافقانه خصلتونو د حضور اکرم ﷺ په مخکښې ګواهی ورکړې وه . ()دې چه کله مړ کیږی نو حضور اکرم ﷺ دده دجنازې مونځ کوی او دده په دفن کولوکښې شریکیږی ()لکه څنګه چه نې دعامو صحابه کرامو ﷺ په جنازه کښې شرکت کولو. بلکه عمر فاروق ﷺ چه کله حضور اکرم ﷺ ته لږ په زور سره وریاد کړل نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه څه نه غواړم چه خلقو کښې دا خبرې مشهورې شی چه حضرت محمد ﷺ خپل صحابه کرام وژنی (). یو صحیح حدیث کښې روایت دې چه ماته اختیار راکړې شو داستغفار کولو اونه کولو نو ما کول خوښ کړل()په یو روایت کښې دی که اویا ځلو نه زیات استغفار کولو کښې هم ما ته دده بخښش معلوم شوې وې نوما به ددې نه هم زیات استغفار غوستې وې ()

وَاِذَا	قِيْلَ	لَهُمْ	لَا تُفْسِدُوْا	فِى الْاَرْضِ ۙ
اوهر کله	چې اووئیلې شو	هغوئ ته	چې مۀ کوئ فساد	په زمکه کښې
اوهرکله چې دوئ ته (داصلاح دپاره)اووئیلې شی چې د زمکې په مخ فسادمه کوئی (اونفاق پریږدئ)				

---

۱) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین واحکامهم باب صفات المنافقین:۲۷۷۹)-

۲) صحیح مسلم: کتاب صفات المنافقین واحکامهم باب صفات المنافقین:۲۷۷۹)-

۳) صحیح بخاری : کتاب التفسیر، سورة المنافقون: ٤٩٠٠)-

٤) صحیح بخاری : کتاب الجنائز باب الکفن القمیص: ١٢٦٩، صحیح مسلم: ٢٧٧٣)-.

٥) صحیح بخاری : کتاب المناقب باب ماینهی من دعوی الجاهلیة:٣٥١٨، صحیح مسلم: ٢٥٨٤)-

٦) صحیح بخاری کتاب الجنائز باب مایکره من الصلاة علی المنافقین: ١٣٦٦)-.

٧) صحیح بخاری کتاب الجنائز باب مایکره من الصلاة علی المنافقین: ١٣٦٦)-.

Scanned with CamSc

قَالُوْٓا	اِنَّمَا	نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ۝	اَلَآ	اِنَّهُمْ	هُمُ الْمُفْسِدُوْنَ
نووې وئیل	بیشکه مونږ	اصلاح اکونکی یو	خبردار	بیشکه هم دوئ	فساد کونکی دی
نودوئ وائی مونږ خو(خپله) لګیا یو(دخلقو)اصلاحوکوؤ			بلکه هم دوئ ښکاره فسادیان دی		
وَلٰكِنْ	لَّا يَشْعُرُوْنَ۝				
خو	نه لری دوی پوهه				
خو(پخپلو خانونو) نه پوهیږی					

قوله تعالی:- وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ

فسادیان منافقان :-حضرت ابن عباس ﷺ ،حضرت ابن مسعود ﷺ اود رسول کریم ﷺ بعضې صحابه کرامو ﷺ نه روایت دې چه دا بیان هم دمنافقانو دې ددوی فساد کفر او معصیت الهی دې[1] مطلب دادې چه په زمکه کښې دالله ﷻ نافرمانی کول یا د نافرمانئی کولو حکم ورکول په زمکه کښې فساد پیداکول دی او دزمکې او آسمان اصلاح دالله ﷻ اطاعت دې [2]حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه کله دوی د الله ﷻ دنافرمانئ نه منع کولې شی نو وائی چه مونږ خو په هدایت اواصلاح باندې یو.

حضرت سلمان فارسی ﷺ فرمائی چه ددې خصلت خلق اوسه پورې نه دی راغلی. مطلب دادې چه د حضور اکرم ﷺ په زمانه کښې دبدخصلت دا خلق موجود وو. خواوس چه څوک رازی نوهغوی به ددوی نه هم بدترین وی. دا نه دې ګنړل پکار چه دوی دا وائی چه ددې وصف د حضور ﷺ په زمانه کښې هډو وو نه. حضرت ابن جریر رحمه الله فرمائی چه ددې منافقانو فساد پیدا کول دا وو چه د الله ﷻ نافرمانئ به ئې کولې. چه دکوم کار نه الله ﷻ دوی منع کول هغه (کارونه) به ئې کول. او دالله ﷻ فرائض به ئې ضائع کول.دالله ﷻ په ریښتونی دین کښې به ئې شك کولو ،ددې په حقیقت اوصداقت باندې ئې یقین نه کولو. مومنانوته چه به کله راغلل نو لاپې به ئې ویشتلې. حالانکه په زړونو کښې ئې رنګ په رنګ وسوسې وې.موقع به ئې کتله اودالله ﷻ ددښمنانو امداد او مدد به ئې کولو او د الله ﷻ دنیکو بندګانو په مقابله کښې به ئې دهغوی مدد کولو اوددې مکر او فسا د نه پس به ئې خپل ځان ته مصلح وئیل او مصلح ګنړلو (۲).

کافرو سره دوستی هم فساد دې:- قران پاك دکافرو سره دوستی او تعلق نه هم په زمکه کښې د فساد کولوسره تعبیر کړې دی. ارشاد فرمائی چه(وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ) یعنی کفارپخپلو کښې دیو بل دوستان دی که تاسو داسې اوکړل (دې کافرو سره مو دوستی اوکړه) نو په زمکه کښې به غټ فساد او فتنه پیدا شی.په دې آیت کښې ئې دمسلمانانو اوکفارو د دوستانې اوتعلقاتو کټ کولو حکم کړې دې او بل ځائې کښې فرمائی چه انې ایمان والو مومنان مه پریږدئی او کافران خپل دوستان مه جوړوئی ، آیا تاسوداغواړئی چه د الله ﷻ په تاسوباندې ښکاره حجت شی یعنی ستاسودنجات دلیل پریکړی. بیا فرمائی چه منافق خلق به د جهنم په لاندې حصه کښې وی او تاسو به ددوی دپاره بالکل مددګار نشئ. چونکه دمنافقانو ظاهر ښه وی ددې وجې په مسلمانانو باندې حقیقت پټ وی.دوی مومنانو ته په خپلو خوندوروخبرو دهوکه ورکوی. او ددوی د بې حقیقته کلماتونه او دکافرو د پټې دوستانې نه مسلمانانو ته ډیر زیات مصیتبونه برداشت کول دی.دامنافقان دفساد کولو مشران دی. که دوی پخپل کفر باندې

---

[1]) الطبری: ۱/۲۸۸)-.
[2]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۵۰)-
[3]) الطبری: ۱/۲۸۹)-

Scanned with CamSc

اوسی نو د دوی خوفناکوسازشونو او غټو چالونو به مسلمانانوته دومره نقصان بالکل نه رسیدو او پوره به مسلمانان شوی وي. او خپل ظاهر او باطن به ئې ښه کړي وي. نوبیا به دوی د دنیا د امن سره د آخرت نجات به هم حاصل کړي وي. ددې خطرناکې پالیسئ باوجود کله چه دوی ته نصیحت کولې شی نو دوی وائی چه مونږ خوصلح کوونکی یو او دوی دروغ وائی ، مونږ د چا څه ویرانول نه غواړو مونږ فریقینو سره اتفاق کوؤ.

قوله تعالی:- قَالُوْٓا اِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُوْنَ

خپل ځانته مصلح وئیل:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائئ: چه هغوی به وئیل چه مونږ د دواړو ډلو یعنی مومنانو او اهل کتابو مینځ کښې صلح کوونکی یو. لیکن الله ﷻ اوفرمائیل چه دا د دوی سراسر جهالت دي کوم ته چه دوی صلح وائی دا عین فساد دي خودوی ته هیڅ پته نشته دي ()

وَاِذَا	قِيْلَ لَهُمْ	اٰمِنُوْا	كَمَآ	
اوهرکله	چی اوونیلې شوهغوئ ته	چی ایمان راوړئ	لکه څنګه	
اوهرکله چې دوئ ته اوونیلې شی چې داسې (ربښتینی) ایمان راوړئ لکه				
اٰمَنَ	النَّاسُ	قَالُوْٓا	اَنُؤْمِنُ	كَمَآ	اٰمَنَ
چی ایمان راوړي دي	انو روخلقو	انووې وئیل	آیا مونږ ایمان	راوړو	لکه څنګه چی
ایمان راوړي دي					
چې نورومسلمانو) خلقو راوړئی دي نو وائی (بښه) داسې ایمان				ایمان راوړو	
السُّفَهَآءُ ؕ	اَلَآ	اِنَّهُمْ	هُمُ	السُّفَهَآءُ	وَلٰكِنْ
بیوقوفانو	خبردار	په حقیقت کښې	دوئ چی دی	دوئ پخپله بیوقوفان دی	خو
لکه دي کم عقلوخلقو چې راوړئی دي		واوړئی چې هم دوئ پخپله بې عقله دي خو (پخپلې بې عقلئ هم)			
لَا يَعْلَمُوْنَ ۝					
نه پوهیږی دوئ					
نه پوهیږی (ځکه دوئ نورو خلقو ته بې عقله وائی)					

قوله تعالی:- اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَلٰكِنْ لَّا يَعْلَمُوْنَ

حقیقی بیوقوفان:- مطلب دادي کله دي منافقانو ته دصحابه کرامو ﷺ پشان په الله ﷻ دایمان راوړو ، په فرښتوباندي دایمان راوړو ،په رسولانو باندي دایمان راوړو ، مرګ نه پس ددوباره ژوند ،د دوزخ اود جنت حقانیت دتسلیمولو ،دالله ﷻ تابعدارئ کولو ،د نیک عملونو کولو او د بدونه دمنع کیدلو اووئیلې شی نودراملعونه ډله داسې ایمان ته بیوقوفه ایمان وائی.ابن مسعود ﷺ اوبعضې نورصحابه کرام ﷺ او ربیع بن انس ﷺ ،عبدالرحمان بن زید ﷺ وغیره نه هم دا تفسیر نقل شوي دي ()

د سفیه معنی:- (السُّفَهَآءُ ؕ) د (سفیه) جمع ده لکه حکماء اوحکیم او حلماء اوحلیم، جاهل کم عقل او نفع نقصان لره پوره نه پیژندلووالا ته (سفیه) وئیلې شی. قران پاک کښې په بل ځائې کښې ارشاد دي چه (وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ) بیوقوفوته مال مه ورکوئی کوم چه ستاسودقیام سبب جوړیږی. دعامو مفسرینو دا قول دي چه په دي آیت کښې (السُّفَهَآءُ) نه مراد ښځې اوبچی دی،ددې منافقانو په جواب کښې پخپله په دي

---

[1]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۵۲)-

[2]) الطبری: ۱/۲۹۳)-.

Scanned with CamScanner

خائی کښې پروردګار عالم ﷻ جواب ورکړو اوتاکید ئې اوفرمائیل چه بیوقوف خو دوی دی او ورسره جاهلان هم دی داسې چه خپله بیوقوفی ورته معلومه هم نه ده. نه ورته خپل جهالت اوګمراهی معلومه ده . ددې نه زیات به ددوی خرابی او ړوندتوب او ـهدایت نه لرې کیدل نور څه وی؟

وَاِذَا	لَقُوا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
اوکله چې	ملاویږی دوئ	دهغه خلقو سره	چې ایمان ئې راوړې دې
اوهرکله چې دوئ مسلمانانو سره ملاو شی			
قَالُوْٓا	اٰمَنَّا ۚ	وَاِذَا	خَلَوْا
نو وایئ	چې ایمان راوړې دې مونږ	اوکله چې	خانله شی
نو (مسلمانانو ته) وائی چې مونږ (هم) ایمان راوړئی دې اوهرکله چې خپلوشیطانانو (یارانو) سره یوازې شې نو وائی			
اِنَّا	مَعَكُمْ ۙ	اِنَّمَا نَحْنُ	مُسْتَهْزِءُوْنَ ۝
په حقیقت کښې مونږ	تاسو سره یو	بیشکه مونږ	ټوقې کونکی یو
چې مونږ خو ستاسو ملګری یو مونږ خو په مسلمانانو پورې ټوقې کوؤ			
اَللّٰهُ	يَسْتَهْزِئُ	بِهِمْ	وَيَمُدُّهُمْ
الله	بدله د ټوقو ورکوی	دوئ ته	اومهلت ورکوی
الله دوئ ته ددې ټوقوسزاورکوی			
فِيْ طُغْيَانِهِمْ	يَعْمَهُوْنَ ۝		
دوئ ته	سرګردان دی		
او دوئ ته مهلت ورکوی	چې پخپله سرتیزئی کښې سروهلی بروهلی ګرځی.		

قوله تعالی:- وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ

منافقانه رویه::مطلب دادې چه دا بدظن مسلمانانو لره رازی او خپل ایمان اودوستی او خیرخواهی ظاهروی اودوی په دهوکه کښې اچوی. چه دمال او ځان بچ کیده اوشی او نیکی او د غنیمت مال کښې هم ددوی حصه اورسی،اوکله چه خپلې ډلې(شیطانانو) ته لاړ شی نو دهغوی حق کښې خبرې کوی.

قوله تعالی:- وَاِذَا خَلَوْا اِلٰى شَيٰطِيْنِهِمْ ۙ

دخلو معنی:-د (خَلَوْا) معنی په دې خائې کښې د (اِنْصَرَفُوْا) او (ذَهَبُوْا) او (خَلَصُوْا) او د (مَضَوْا) ده یعنی واپس کیږی او رسی اوپه خانله والی کښې وی او ځی.چه د «الی» سره متعدی ده دا په معنی د واپس کیدو ده. په فعل مضمر او ملفوظ دواړو باندې دلالت کوی ، بعضې وائی چه «الی» په معنی د مع دې . مګر رومبئ معنی صحیح ده.

د شیطانانو نه مراد:-دابن جریر رحمه الله دکلام خلاصه داده چه دشیاطین نه مراد مشران او لوئې لوئې سرداران دی لکه د یهودو عالمان او د قریشو اومنافقینوسرداران.

حضرت ابن عباس رضی الله عنه او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه او نور صحابه کرام رضی الله عنهم قول دې چه دا شیاطین ددوی مالداره مشران او دکفر سرداران وو. او ددوی په عقیده کښې شامل خلق وو. د یهودو دې شیطانانو به دوی ته د پغمبرنی دروغ ګنړلواو دقران پاک د تکذیب کولو مشورې ورکولې. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائې چه د شیاطین نه مراد دهغوی هغه ملګری دی چه یا خومشرکان وو او یا منافقان وو. حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد هغه خلق دی چه په خرابو او شرک کښې ددوی سرداران وو. ابو العالیه رحمه الله سدی رحمه الله ، ربیع بن انس رحمه الله هم دا تفسیر کړې دې. ابن جریر رحمه الله فرمائی چه هر دهوکه ورکونکی او سرکشی کونکی ته شیطان وئیلې شی که هغه د جناتونه وی اوکه د انسانانو نه . په قران

Scanned with CamSc

پاك کښې هم دی چه ﴿شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ وَالْجِنِّ﴾ یعنی د انسانانو اوپیریانو شیطانان. په حدیث کښې دی چه مونږ د جناتو اود انسانانود شیطانانونه دالله ﷻ پناه غواړو. ابو ذر ﷺ د رسول کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! آیا په انسانانو کښې هم شیطانان وی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آو. ()

قوله تعالی:- قَالُوْٓا اِنَّا مَعَكُمْ اِنَّمَا نَحْنُ مُسْتَهْزِءُوْنَ

د منافقانو دوه پریقتوب:- کله چه دامنافقان مسلمانانو سره ملاویږی نو وائی چه مونږ تاسوسره یو یعنی څنګه چه تاسو یئ داشان مونږ هم یو.مونږ خو هغوی سره هسې ټوقې کوؤ. حضرت ابن عباس ﷺ ، ربیع بن انس رحمه الله او قتاده رحمه الله نه هم دا تفسیر شوې دې. الله ﷻ دوی ته جواب ورکوی اوددوی ددې مکر او فریب د فعل باره کښې فرمائی چه الله ﷻ به هم دوی سره ټوقې اوکړی او دوی به په سرکشئ کښې نور هم زیات کړی لکه څنګه چه بل ځائې کښې فرمائی چه د قیامت په ورځ به منافقان سړی او ښځې ایمان والو ته وائی چه لږ شان اودریږئی چه مونږ هم ستاسو دنور نه فائده اوچته کړو. ورته به اووئیلې شی چه روستو لاړشئ او نورتلاش کړئی.ددوی په روستو کیدو به ددوی په مینځ کښې یو دیوال قائم کړې شی. په دې کښې به دروازه وی. ددې یو طرف ته به رحمت وی او بل طرف ته عذاب. اوپه بل ځائې کښې ارشاد فرمائی چه کافر دې زمونږ صبر (ډهیل) ته ښه نه وائی په دې تاخیر کښې دوی په خپل بدکردارونو کښې نورهم زیاتیږی.نو قران پاك کښې چه په کوم ځائې کښې استهزاء، مسخریت یعنی ټوقې،مکر،خدیعت یعنی ددهوکې الفاظ راځی نوپه هغه ځائې کښې به هم دامراد وی

قوله تعالی:- اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ

د الله په دوی پورې د ټوقو کولو معنی:- یو ډله وائی چه داالفاظ صرف د زورنې او خبردارنی دپاره استعمال کړې شوی دی ، ددوی دبدوکردارونو اود دوی کفر اوشرك باندې دوی ملامته کړې شوی دی. مفسرین لیکی چه دا الفاظ صرف په جواب کښې راوړې شوی دی. لکه څنګه چه یو نیك سړې د یو مکار سړی د دهوکې نه بچ شی او په دوی باندې غالب شی او وائی چه اووایه ما څنګه فساد اوکړو حالانکه دده دطرف نه فریب نشی کولې.داشان دادالله ﷻ فرمان دې چه ﴿وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللّٰهُ﴾ او ﴿اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ﴾ ګنی دالله ﷻ ذات دمکر او فریب نه پاك دې. مطلب دادې چه ددوی فن به هم دوی لره بربادکړی. ددې الفاظو مطلب دا هم بیان شوې دې چه الله ﷻ به ددوی دتمسخر او ددوی د دهوکې او ددوی دهیرې بدله ورکړی .نوپه بدله باندې هم د دې الفاظو اطلاق شوې شو، معنی د دواړو لفظونو په دواړو ځایونو کښې جداجداده.اوګورئی قرآن پاك کښې دې چه ﴿جَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا﴾ یعنی د بدئی بدله بدی ده. ﴿فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ﴾ چه څوك په تاسو باندې ظلم اوکړی نوتاسوهغه سره زیاتې کوئی،نوظاهره ده چه د بدئی بدله په بدئی سره خرابه نه ده. دزیاتئ په بدله کښې دزیاتئ بدله اخستل زیاتی نه ده. لیکن لفظ په دواړو ځایونو کښې هم یو دې. حالانکه اوله بدی اوزیاتی ظلم دې. او بله بدی او زیاتی عدل دې. لیکن لفظ په دواړو ځایونو کښې یو دې. داشان چه په کوم ځائې کښې دالله ﷻ په کلام کښې داسې عبارتونه دی په هغه ځائې کښې هم دا مطلب دې، او یو مطلب بل هم واورنی . په دنیا کښې دا منافق د خپلې دې پلیتې پالیسئ سره دمسلمانانوسره مذاق کولو،الله ﷻ هم دوی سره هم داسې اوکړل چه په دنیا کښې دوی ته امن وامان ملاؤ شو او اوس دوی مست شول . حالانکه دا عارضی امن دې.د قیامت په ورځ به دوی ته هیڅ امن نه وی. په دې ځائې کښې اګر چه ددوی مالونه او ددوی ځانونه بچ شو لیکن الله ﷻ سره به دوی ته درد ناك عذاب ملاویږی؟. ابن جریر رحمه الله هم دې قول ته ترجیح ورکړې ده. او ددې ئې ډیر تائید کړې دې. ځکه چه مکر دهوکه او مذاق چه بغیر د څه وجې

---

[1]) احمد:۱۷۸/۵، کتاب الاستعاذه باب الاستعاذه من شر شیاطین الانس: ۵۵۰۹)-

Scanned with CamScanner

نه وی ددې نه خو دالله ﷻ ذات پاك دی. خود انتقال او بدلې اودمقابلې په طور دا الفاظ دالله ﷻ په حق کښې د وئیلو څه حرج نشته. حضرت ابن عباس ؓ هم دا فرمائی چه دا ددوی بدله ده اوددوی سزا ده.

قوله تعالی:- وَيَمُدُّهُمْ

منافقانو ته مهلت ورکول:- د ﴿وَيَمُدُّهُمْ﴾ مطلب ډهیل ورکول او زیاتول کړې شوې ده. لکه فرمانی ﴿أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُمْ بِهِ﴾ یعنی آیا دوی دا ګڼری چه ددوی مالونه او ددوی اولاد زیاتیدل ددوی دپاره بنه ځیز دې نه دوی ته بالکل صحیح شعور نشته دې. او فرمائی چه ﴿سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ﴾ یعنی داشان به مونږ دوی په مزه مزه نیسو چه دوی ته به معلومه هم نشی. نو مطلب داشوچه یو خوا دوی دا ګناه کوی او بل طرف ته ددوی دنیاوی نعمتونه زیاتیږی اودوی خوشحالیږی حالانکه په اصل کښې دا عذاب دې. قرآن پاك کښې په بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ﴾ یعنی کله چه دې خلقونصیحت هیر کړو نو مونږ په دوی باندې دټولو څیزونو دروازې پرانیستې تردې پورې چه دوی په خپلو څیزونوباندې نازیدل نو مونږ دوی لره راونیول نو اوس اوویریدل اود ظالمانو بربادی اوشوه او اووئیلې شو چه تعریفونه دالله ﷻ دپاره دی. ابن جریر رحمه الله فرمائی چه دوی د مهلت ورکولواو دوی ته په خپلې سرکشئ او بغاوت کښې دزیاتیدو دپاره نوره زیاتی اوکړې شوه. بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ﴾ مونږ د دوی زړونه اړوو راړوو

قوله تعالی:- فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ

د طغیان معنی:- ﴿طُغْيَانِهِمْ﴾ وانی په یو څیز کښې داخلیدو ته. لکه چې فرمائی ﴿إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاءُ﴾ ابن عباس ؓ فرمائی چې دوئ خپل کفر کښې ډیر وربوختیږی. عمه ګمراهئ ته وانی، نو ددې جملې مطلب داشو چه ضلالت او کفر کښې ډوب شول. او دې ناپاکئ دوی لره راګیرکړل. او اوس دوی په دې دلدل کښې راکوزیږی. او هم په دې ناپاکئ کښې انخلی. او د خلاصی ټولې لارې په دوی باندې بندې شوی دی. نو په داسې دلدل کښې چه وی او بیاړوندوالې، او کونړتوب اوبیوقوفتیا وی، هغوی به څنګه نجات بیاموميی. د سترګو ړندو دپاره په عربئ کښې دعمی لفظ رازی. او د زړه د ړوند دپاره دعمه لیکن کله د زړه د ړوند دپاره دعمی لفظ رازی لکه په قران پاك کښې دی چه ﴿وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ﴾ لیکن زړونه ئې ړانده دی کوم چه په سینو کښې دی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ	اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ	بِالْهُدَىٰ ۖ	فَمَا	رَبِحَت
داهغه خلق دی	چې اغستلی ئې ده ګمراهی	په بدله دهدایت کښې	خو اونۀ کړه	ګټه
داهغه کسان دی چې د هدایت په بدل کښې ئې ګمراهی په بیعه اخستې ده			خو ددوی سوداګرئ څه	
تِّجَارَتُهُمْ	وَمَا كَانُوا	مُهْتَدِينَ ﴿١٦﴾		
سوداګرئ ددوی	اونۀ دی دوی	صحیح لارموندونکی		
ګټه او نکړه	اونه دوی (دحق)	لار موندونکی دی		

قوله تعالی:- أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الضَّلَالَةَ بِالْهُدَىٰ ۖ

دهدایت په بدله کښې ګمراهی اخستل:- حضرت ابن عباس ؓ، حضرت ابن مسعود ؓ او بعضې نورو صحابه کرامو ؓ نه روایت دی چه هغوی هدایت پریښودو او ګمراهی ئې واخسته. حضرت عبدالله فرمائی چه دوی دایمان په بدله کښې ګمراهی خوښه کړه. لکه څنګه چه د ثمودیانو باره کښې ارشاد دی چه ﴿وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمَىٰ عَلَى الْهُدَىٰ﴾ یعنی ددې باوجود چه مونږ ثمودیانو ته لار اوښائیله مګر بیاهم هغوی ددې رهنمائی په بدله کښې ړوندتوب خوښ کړو. مطلب دا شو چه منافقان د هدایت نه

Scanned with CamSc

واوړيدل او ګمراهۍ طرف ته راغلل. اودهدايت په بدله کښې ئې ګمراهي واخستله يعنی هدايت ئې خرڅ کړو او ګمراهی ئې واخستله. که اوس ئې ايمان راوړې وی او بيا کافر شوی وی يا ورته هډود ايمان راوړل نه وی نصيب شوی. او په دې منافقانو کښې دوه قسمه خلق وو. چنانچه په قران پاک کښې دی چه ﴿ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ﴾ يعنی دا په دې وجه چه دوی ايمان راوړو او بيا کافران شو نوددوی په زړونو باندې مهر اولګولې شو. اوداسې منافقان هم دی چه هغوی ته ايمان نصيب نشو.

قوله تعالی:- فَمَا رَبِحَتْ تِّجَارَتُهُمْ وَمَا كَانُوْا مُهْتَدِيْنَ

په تجارت کښې تاوان:- نو نه خودوی ته په دې سودا کښې څه فائده ملاؤ شوه او نه ورته لار ملاؤ شوه. بلکه دهدايت د چمن نه اووتل او په ازغو کښې داخل شو او د جماعت د مضبوطې قلعه نه اووتل او په تنګو جيلونو کښې داخل شو اود امن نه اووتل او په ويرو اوتيارو کښې داخل شو اود سنت د پاکو باغونو نه اووتل او د بدعت په ويرانو ځنګلونو کښې داخل شو[1]

مَثَلُهُمْ	كَمَثَلِ	الَّذِي				
| مثال ددوئ |پشان دمثال |دهغه کس دې						
| ددې درغلوخلقو مثال دهغه چا پشان دې						
اسْتَوْقَدَ	نَارًا ۚ فَلَمَّآ	اَضَآءَتْ	مَا	حَوْلَهٗ	ذَهَبَ اللّٰهُ	
چې بل کړي ئې وی |اور|نوهرکله| چې روښانه کړو|دې وور | خو اوشاتول خائې دهغه | نو واخستلو الله						
چې اور ئې په تيارۀ کښې بل کړو| نوهرکله چې ګيرچاپيره خائې ئې رنړا کړو| نو الله پاک د دوی						
بِنُوْرِهِمْ	وَتَرَكَهُمْ	فِيْ ظُلُمٰتٍ	لَّا يُبْصِرُوْنَ ۝			
طاقت دليدلو دهغوئ|اوپريښودل ئې هغوئ | په تيروکښې |چې نه وينی هيڅ څيز						
(د سترګو) رنړا ختمه کړه |اوپه تورو تيرو کښې ئې پريښودل |چې هيڅ نه وينی (دوی)						
صُمٌّ	بُكْمٌ	عُمْيٌ	فَهُمْ	لَا يَرْجِعُوْنَ ۝		
کانړه دی | چارګان دی | رانده دی | اوس دوئ| نۀ واپس کيږی|						
کانړه ،ګونګيان اورانده دی|نود (خپلې ګمراهئ نه)بيرته نه راګرځی |						

قوله تعالی:- مَثَلُهُمْ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا

دمنافقانو مثال :- مثال ته په عربئ کښې مثيل هم وائی. ددې جمع امثال راځی. لکه په قران پاک کښې دی چه ﴿وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ﴾ يعنی دامثالونه مونږ خلقو دپاره بيانوؤ اوپه دې باندې صرف عالمان پوهيږی. دآيت مطلب دادې چه منافق ګمراهی دهدايت په بدله کښې او رونډ والې دبينائی په بدله کښې اخلی.

قوله تعالی:- فَلَمَّآ اَضَآءَتْ مَا حَوْلَهٗ ذَهَبَ اللّٰهُ بِنُوْرِهِمْ وَتَرَكَهُمْ فِيْ ظُلُمٰتٍ لَّا يُبْصِرُوْنَ

په تيارہ کښې اور بلول:- ددوی مثال دهغه سړی په شان دې چه په تيارہ کښې اور بل کړی اوده ته ښی طرف ته او ګس طرفته څيزونه په نظر راغلل او پريشانی ترې لرې شی او د فائدې اميد ورته اوشی چه په دې کښې اورمړ شی اويو دم تيارہ شی،چه نه نظر کار کوی او نه لار معلوميږی او دې سره سره هغه سړې پخپله کونړ وی، نه د چا خبره آوريدې شی،ګونګې وی د چا نه تپوس نشی کولې، رونډ وی چه

[1]) الطبری: ۳۱۶/۱)-.

Scanned with CamSc

په رنړاسره هم کار نشی کولې. اوس به دې څنګه لار اومومی. هم داشان دامنافقان هم دی چه هدایت لره ئې پریخودې دې او لاره ترې هیره شوې ده او نیکی ئې پریخودې ده او بدی غواړی. ددې مثال نه معلومه شوه چه دې خلقو ایمان قبول کړې وو خوکفر ئې کړې وو. لکه څنګه چه په قران پاك كښې په ډیرو ځایونو كښې په صراحت سره موجود دی. والله اعلم.

حضرت امام رازی رحمه الله په خپل تفسیر كښې د سدی رحمه الله نه دانقل کړی دی ،بیا وائی چه دا تشبیه ډیره ښه ده او صحیح ده ځکه چه مخکښې دې منافقانوته دایمان نور حاصل شو او بیا ددوی دنفاق په وجه هغه (نور)مړ شو. اودوی په حیرت كښې پریوتل. او د دین د حیرت نه به زیات حیرت بل څه وی؟

حضرت ابن جریر رحمه الله فرمائی چه د چا دپاره دامثال بیان شوې دې هغوی ته هیڅ وخت هم ایمان نه وو نصیب شوې ځکه چه مخکښې دالله ﷻ فرمان تیر شوې دې چه ﴿ وَمَاهُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ۝ ﴾ یعنی اګر چه دوی په ژبه باندې په الله ﷻ اوپه ورځ دقیامت باندې د ایمان راوړلو وائی خو په حقیقت كښې دوی ایماندار نه دی. لیکن صحیح خبره داده چه په آیت مبارك كښې ددوی دکفر او د نفاق دوخت خبر ورکړې شوې دې . ددې نه ددې انکار نشی کولې چه ددې حالت کفر او نفاق نه مخکښې دوی ته ایمان نصیب شوې وو. ممکن دی چه ایمان ئې راوړې وی ، بیا ددې نه روستو شو او اوس ددوی په زړونو باندې مهر لګیدلې دې. اوګورئی دقران پاك په بل ځائې كښې څه وائی ﴿ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا﴾ دا په دې وجه دوی دایمان نه پس کفر کړې وو. بیا ددوی په زړونو باندې مهر اولګولې شو او اوس دوی هیڅ نه پیژنی. هم دا وجه ده په دې مثال كښې د رنړا اوتیارې ذکر دې. یعنی کلمه دایمان د ظاهرولو په وجه په دنیا كښې پرې څه نور اوشو لیکن دکفر دپټولو په وجه بیا په آخرت كښې په تیارو كښې راګیر شو.

دجماعت نه په یو فرد سره تعبیر:- دیوجماعت مثال اکثر په یوسړی سره ذکر کولې شی قران پاك فرمائی چه ﴿رَاَيْتَهُمْ يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ تَدُوْرُ اَعْيُنُهُمْ﴾ یعنی ته به اوګورې چه دوی به ستا طرف ته سترګې نیولې ګوری د هغه سړی پشان د مرګ په سلګو كښې وی. اوپه دې آیت كښې هم اوګورئی ﴿مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ﴾ یعنی ستاسو دټولو پیداکول او دوژلو نه پس بیا ژوندی کول داسی دی لکه څنګه چه دیو څیز نفس دوباره ژوندی کیدل . په دریم ځائې كښې دی چه تورات زده کړی او عمل اوعقیده ئې ددې مطابق نه وی نو ددوی مثال. بیانوی ﴿ كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ﴾ چې د دوی مثال د خر په شان دې چه کتابونه پرې بار شوی وی. په دې ټولوآیتونو كښې دیو ډلې مثال ورکړې شوې دې ، داشان په ذکر شوی پورتنو آیتونو كښې د منافقانو دیوډلې مثال په یو سړی سره ورکړې شوې دې ،

تقدیردکلام:- بعضې وائی چه تقدیر کلام څه داسې دې چه ﴿مثل قصتهم كمثل قصة الذين استوقدوانارا﴾ یعنی ددوی د واقعې مثال دهغه خلقو د واقعې پشان دې چه اوور بل کړی،بعضې وائی اووربلوونکې یو دې لیکن بلوی ئې دیو جماعت دپاره چه ده سره دې. اوځه خلق وائی چه ﴿الَّذِیْ﴾ په دې ځائې كښې په معنی د ﴿الَّذِيْنَ﴾ دې لکه چه دشاعرانو په شعرونو كښې رازی. څه وایم چه پخپله په مثال كښې د واحد صیغې نه پس د جمعې صیغه هم ده. ﴿ بِنُوْرِهِمْ ﴾ او ﴿ وَتَرَكَهُمْ ﴾ او ﴿ لَا يَرْجِعُوْنَ۝ ﴾ اوګورئی او داشان په کلام كښې اعلی فصاحت او بهترین ښه والې راغلو. الله ﷻ ددوی رنړا بوتله. ددې مطلب دادې چه کوم نور نفع ورکونکې هغه خودوی نه لرې کړې شو اولکه څنګه چه اوور نه پس ددې د ګرمو الی لوګې اوتیاره پاتې کیږی داشان دوی سره نقصان رسولو والا څیز یعنی شك ،کفر اونفاق پاتې شو نه خو دوی صحیح لار کتلې شی اونه دنورو ښه خبره آوریدلې شی اونه د چا نه دښیګړې سوال کولې شی ، اوس بیا واپس کیدل او په هدایت باندې راتلل محال شو ، ددې تائید كښې د مفسرینو اقوال واورئی.

دابن کثیرد رائې تائید:- حضرت ابن عباس ؓ ، حضرت ابن مسعود ؓ او بعضې صحابه کرام ؓ فرمائی چه دحضور ﷺ مدینې ته د راتلونه پس څه خلقو اسلام قبول کړو خو بیا منافقان جوړ شو ،

Scanned with CamScanner

ددوی مثال دهغه سړی پشان دی چه په تیاره کښې وی ، بیا اور بل کړی او رڼا شی او چاپیر چل کښې ښه اوبد اوګوری اوورته معلوم شی چه په کومه لار باندې دی ؟ چه په دې کښې یو دم اوور مړ شی او رڼا ختمه شی. اوس ورته معلومه نه ده چه په کومه کومه لار څه څه دی ؟ داشان منافقان د شرك او کفر په تیارو کښې وو ، بیا ئې اسلام راوړو او ښه او بد یعنی حلال حرام وغیره ئې اوکتل خو بیا هم کافر شو اوحرام اوحلال خیر او شر کښې څه فرق پاتې نشو.

دنور اوظلمت نه مراد:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د نور نه مراد ایمان اود ظلمت نه مراد ضلالت اوکفر دی. دا خلق په هدایت باندې وو. لیکن بیا ئې سرکشی اوکړه او اوخوئیدل. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه دایماندارئی او د هدایت طرف ته د رخ کولو نه د چاپیر چل څیزونو په رڼا کولو سره تعبیر کړې شو. د عطاء خراسانی رحمه الله قول دی چه منافق کله کله نیکی ګوری او دا پیژنی هم خوبیا دده د زړه رونډتوب په ده باندې غالب شی . حضرت عکرمه رحمه الله ،حضرت عبدالرحمن ، حضرت حسن رحمه الله ،حضرت سدی رحمه الله او ربیع رحمه الله نه دا نقل شوی دی .عبدالرحمن بن زید رحمه الله فرمائی چه د منافقانوهم دا حالت دی چه ایمان راوړی او ددې پاکې رڼا سره ددوی زړونه ګویا پرقیږی ، لکه څنګه چه په اوور بلولو سره د چاپیر چل څیزونه روښانه کیږی. خوکفر بیا دا رڼا مړه کوی . لکه څنګه چه اوور مړه کیدل بیا تیاره کوی ،داټول اقوال خو زمونږ د تفسیر په تائید کښې وو چه دکومو منافقانو دا مثال بیان شوې دې هغوی ایمان راوړې وو ، بیا ئې کفر اختیار کړو .

دابن جریر تائید:- اوس د ابن جریر رحمه الله په تائید چه کوم تفسیر دې هغه واورئی. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا مثال د منافقانو دې چه هغوی داسلام په وجه عزت حاصلوی. په مسلمانانو کښې نکاح ، وراثت او مال غنیمت تقسیمیږی . لیکن مړکیدو سره تری دا عزت لاړشی. لکه څنګه چه د اور رڼا د اورمړ کیدو سره لاړه شی. ابوالعالیه رحمه الله فرمائی کله منافق ﴿لا اله الا الله﴾ وائی نو په زړه کښې ئې نور پیدا کیږی،بیا چه په کوم ځائې ئې شك اوکړو نو نور لاړو،لکه څنګه چه لرګی بل شی او رڼا شروع کړی اوچه کله مړ شی نو ددې رڼا ختمه شی. ضحاك رحمه الله فرمائی نور نه مراد په دې ځائې کښې ایمان دی چه ددوی ژبو باندې وو. قتاده رحمه الله فرمائی چه ﴿لا اله الا الله﴾ ددوی دپاره رڼا کوی. امن و امان او خوراك څکاك او ښځه بچی ټول ملاوٗ شی ، خود شك او نفاق په وجه ددوی نه دا راحتونه واخستلې شی. لکه څنګه چه د اور مړ کیدو سره رڼا لاړه شی. قتاده رحمه الله فرمائی چه ﴿لا اله الا الله﴾ونیلو سره منافق ته دینی فائده لکه په مسلمانانو کښې د هلك اوجینئ لین دین ، وراثت ، دمال تقسیم اوحفاظت وغیره ملاوٗ شی لیکن چونکه ددوی په زړه کښې د ایمان جړه او دده په کارونو کښې حقیقت نه وی خکه دمرګ په وخت کښې هغه ټولې فائدې دده نه واخستلې شی لکه د اور رڼا چه کله مړه شی.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه په تیارو کښې پریښودل دمرګ نه پس عذاب دی. دا خلق حق ګوری ،په ژبه ئې وائی اوکفر اوظلمت نه اوزی ، لیکن بیا دکفر او نفاق په وجه دهدایت کتل او حق باندې د قائم پاتې کیدل د دوی نه واخستلې شی.د سدی رحمه الله قول دی چه د تیارو نه مراد د دوی نفاق دی. حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه دمرګ په وخت کښې دمنافق بدعملونه دتیارو په شان په ده باندې راشی او هیڅ د ښیګړې رڼا ده سره پاتې نشی چه په دې سره دده دتوحید تصدیق اوکړې شی.

قوله تعالی:- صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَرْجِعُونَ

دنفاق نه نهٔ واپس کیدل:-دوی د حق اوریدو نه ګونګیان دی،او د حق د لارې لیدو نه اوپه دې د پوهیدلو نه راندې دی .اوهدایت طرف ته واپس نشی راتلې.او دوی ته دا نه نصیب کیږی او نه نصیحت حاصلولې شی.

Scanned with CamScanner

أَوْ كَصَيِّبٍ
	يانې مثال |پشان دشيبو باران دې
|يادد وې مثال دهغه چادې چې د آسمان نه په شيبو شيبو
مِّنَ السَّمَآءِ فِيْهِ ظُلُمٰتٌ وَّرَعْدٌ وَّبَرْقٌ ۚ يَجْعَلُوْنَ
چې وريږي داسمان نه |چې په هغې کښې| تيرې	اوتندر |اوبريښنا وي |دې هغوئ
باران وريږي|چې په کښې څوڅو تيرې وي اوګړزهار اوبريښنا وي| نو دوئ خپلې ګوتې په غوږونو
اَصَابِعَهُمْ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ مِّنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ ؕ وَاللّٰهُ
ګوتې خپلې| په غوږونو خپلو	دوجې د ګړزاری نه| د وجې د يرې د مرګه| الله
کښې ټومبی |دتندر دګړزهار دلاسه |د هلاکت د ويرې نه	اوالله پاک (پخپل قدرت سره)
مُحِيْطٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ۝ يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ اَبْصَارَهُمْ ؕ
په ګيره کښې اغستونکې دې |حق منکرو خلقو لره	نزدې ده |چې دابريښنا| ويسې نظر دسترګو دهغوئ
دکافرانونه راتاؤشوې دې |نزدې ده چه بريښنا دسترګو نظر اوتختوی (اونظرئې کار پريږدی)
كُلَّمَآ اَضَآءَ لَهُمْ مَّشَوْا فِيْهِ ۙ وَاِذَآ اَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوْا ؕ
کله چې|رنړا شی |هغوئ ته|انوروان شی|په هغې کښې|اوکله چې|تياره شی|په هغوئ باندې|انو ودريږی
هرکله چې لږه رنړا شی نو دوئ په کښې روان شی| او چې پرې تياره شی نو بيا په ټپو اودريږی
وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَذَهَبَ بِسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ ؕ
اوکه چرې| غوښتلې	الله |نو اغستلې به ئې وې| قوت داوريدو دهغوئ| اودليدودهغوئ
اوکه الله تعالی رضاشوې وه| نو (سره دهرقسم حفاظت نه) بخ ئې ددوئ غوږونه کانړۀ سترګې ړندې کړې وې
اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝ ع
بې شکه چې الله| په هر څيز باندې	قادردې
بيشکه الله تعالی په هرڅيز پوره پوره قدرت لری

قوله تعالی: ﴿أَوْ كَصَيِّبٍ مِّنَ السَّمَآءِ فِيْهِ ظُلُمٰتٌ وَّرَعْدٌ وَّبَرْقٌ﴾

دمنافقانودويم مثال:- دا دويم مثال د بل قسم منافقانو دپاره بيان شوې دې . دا هغه قوم دې چه په هغوی باندې کله حق ظاهريږی اوکله په شک کښې پريوزی .نودشک په وخت ددوی مثال لکه د باران په شان دې. د (صَيِّبٍ) معنی باران دی . بعضو د وريځو معنی هم کړې ده. ليکن زيات مشهور باران دې چه په تيارو کښې وريږی. د(ظُلُمٰتٌ) نه مراد شک ، کفر اونفاق دې او(رَعْدٌ) يعنی تندر چه خپل خوفناک آواز سره زړه ويروی. هم دا حال د منافقانو دې چه دوی سره هر وخت ويره وی او پريشانی وی لکه څنګه چه په بل ځائې کښې دی (يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ؕ) هر آواز په خپل خان ګڼړی. او په بل ځائې کښې ارشاد دې چه دا منافقان دالله ﷻ په نوم قسمونه خوری او وائی چه هغوی ستاسونه دی ليکن په اصل کښې دوی ويريدونکی خلق دی او که دوی څه پناه يا لار بيا مومی نو يقيناً دوی به هغې ته ورشی.چې کوم ايمان په يو وخت کښې په زړه کښې يو رنړا جوړوی نودهغې مثال ئې بجلئ سره ورکړې دې.

Scanned with CamSc

قوله تعالی:- يَجْعَلُونَ أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ مِنَ الصَّوَاعِقِ حَذَرَ الْمَوْتِ

په غوږونو کښې ګوتې ورکول:- نو دوی په هغه وخت کښې دوی خپلې ګوتې دمرګ د ویرې د وجې په خپلو غوږونو کښې ورکوی،لیکن دا دوی ته هیڅ فائده نه ورکوی. دا د الله ﷻ دقدرتونو اود هغه دارادو لاندې دی.دوی بچ کیدلې نشی.لکه څنګه چه په بل ځائې کښې دی چه﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْجُنُودِ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ﴾ یعنی آیا تاته د لښکر اودفرعون او دثمود واقعات نه دی راغلې.که راغلی هم وی خو دا کافران هغه دروغ ګڼری او الله ﷻ دوی راګیروی.

قوله تعالی:- يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ كُلَّمَا أَضَاءَ لَهُمْ مَشَوْا فِيهِ

د نظرونو سوزول:-دبجلئ د سترګو بریښول او (ددې د بریښیدو په وخت کښې) ددې د قوت او سختئ بیان دې او دې سره سره) ددې منافقانو د بینائی دکمزورئ اود دوی د ضعف ایمان بیان دې. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه مطلب دادې چه دقران پاك مضبوط آیتونه به ددوی رازونه ښکاره کړی او ددوی پټ عیبونه به ښکاره کړی. او دوی به په خپل نورانیت سره چپ کړی ()

قوله تعالی:- وَإِذَا أَظْلَمَ عَلَيْهِمْ قَامُوا

په تیارو کښې اودریدل:-کله چه په دوی باندې تیاره شی نو اودریږی یعنی کله چه په دوی باندې دایمان رنړا ظاهره شی نو ددوی زړونه روښانه شی او په (حق) پسې روان شی خو بیا چه کله دوی ته څه شك او شبه راشی نو په زړونو کښې ئې نفرت او ظلمت پیدا شو او تش اودریږی. ددې مطلب دادې چه اسلام ته لږ شان عروج ملاؤ شی نو ددوی زړونه لږ شان په اطمینان کښې شی خو کله چه اسلام د دې خلاف په نظر راغلو نودوی الټه شول او واپس شو()لکه دالله ﷻ ارشاد دې چه ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ﴾ بعضې د خلقونه هغه هم دی چه په غاړه باندې ولاړ وی او دالله ﷻ عبادت کوی نو که ورته لږه شان ښیګړه ملاؤ شوه نو مطمئن شو او که ورته لږ بد ملاؤ شو نو بیا واپس اورغړی.حضرت ابن عباس ﷺ دا هم فرمائی چه ددوی په رنړا کښې تګ داسلام کلمه وئیل دی او په تیاره کښې تګ کفر طرف ته تګ دې. او نورو مفسرینو نه هم دا قول نقل دې. اوزیات صحیح هم داقول دې (). والله اعلم.

د قیامت په ورځ د ایمان رنړا:-دقیامت په ورځ به ددوی داحال وی چه خلقو ته به ددوی دایمان د اندازې مطابق نور ملاویږی. بعضوته به د څو څو میلو پورې او بعضو ته به ددې نه هم زیات او چاته به ددې نه هم کم تر دې چه بعضو ته به دومره نور ملاؤ شی چه کله به روښانه کیږی اوکله به پرې تیاره کیږی بعضې خلق به داسې هم وی لږ شان مزل به کوی اوبیا به اودریږی،بیا به لږ شان مزل کوی او بیا به اودریږی. بیا به ورته لږ شان نور ملاؤ شی اوبیا به مړ شی.اوبعضې بې نصیبه به هغه خلق وی چه د هغوی نور به بالکل مړشوې وی.دا (خلق) به منافق وی چه ددوی په باره کښې الله ﷻ فرمائی﴿يَوْمَ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ لِلَّذِينَ آمَنُوا انْظُرُونَا﴾ یعنی په کومه ورځ چه به منافقان سړی اومنافقانې ښځې ایماندارو ته آوازونه کوی او وائی به لږ شان اودریږئی مونږ هم ځان سره بوزئی چه مونږ هم ستاسو دنور نه فائده اوچته کړو. نوورته به اووئیلې شی واپس لاړ شئ او رنړا تلاش کړئی. ددې مومنانو په باره کښې الله ﷻ فرمائی چه ﴿وَالْمُؤْمِنَاتِ يَسْعَىٰ نُورُهُمْ﴾ یعنی په هغه ورځ به ته اوګورې چه دمومنانوسړو اومومنانې ښځو نه به مخکښې مخکښې اوښی طرف ته نور وی اوورته به وئیلې شی چه تاسو ته دې نن ورځ د جنتونو زیری وی چه ددې لاندې به نهرونه بهیږی .

---

[1]) الطبری: ۳٤۹/۱)-

[2]) الطبری: ۳٤۹/۱)-.

[3]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۷۵)-

Scanned with CamS

اوفرمائی چه په کومه ورځ به نه رسوا کوی الله ﷻ نبی ﷺ لره اوهغه خلقو لره چه په دوی باندې نې ایمان راوړې وی. د دوی نور به ددوی نه وړاندې طرف ته وی او ښۍ طرفته به وی او هغوی به وانی چه اې زمونږ ربه مونږلره زمونږ نور پوره کړه او مونږ اوبښه او یقینا ته په هر څیزباندې قادر یې. ددې آیتونو نه پس ددې مضمون نور احادیث هم واورئی.

احادیث مبارکه:- نبی کریم ﷺ فرمائی چه بعضو مومنانو ته به دمدینې نه واخله تر عدن پورې نور ملاؤ شی ،بعضو ته به ددې نه کم تر دې چه بعضو ته به دومره کم ملاؤ شی چې صرف د پښې کیخودو خائې به پرې روښانه کیږی (ابن جریر رحمه الله)

حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی ایمان والو ته به ددوی د اعمالو مطابق نور ملاویږی. بعضوته به دفجورې د ونې برابر او چاته به د قدم برابر اوچاته به صرف دومره نور ملاویږی چه دده ګوته به روښانه وی اوکله به مړ کیږی او کله به روښانه کیږی. (ابن ابی حاتم رحمه الله)

حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه دوی ته به نور ملاویږی ددوی داعمالو مطابق چه ددې رنړا کښې به دوی په پل صراط باندې تیریږی. دبعضو نور به دغر برابر وی ، دبعضو دقجورې برابر او دټولو نه کم نور والا به هغه څوک وی چه دهغه نور به دهغه په ګوته باندې وی ،کله به روښانه کیږی او کله مړکیږی. (ابن ابی حاتم رحمه الله)

دمومنانو رنړا:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ټولو توحیدو والوته به دقیامت په ورځ نور ملاویږی کله چه د منافقانو نور مړشي او موحد به ویږی او وانی به ﴿رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا﴾یعنی اې الله ﷻ زمونږ نور لره پوره کړه (ابن ابی حاتم رحمه الله) دضحاك رحمه الله هم داقول دې .

ددې احادیثو نه معلومه شوه چه خالص مومنان هغه دی چه دهغوی بیان په تیرو شوؤ څلورو آیتونو کښې بیان شو.خالص کفار چه د هغوی ذکر ددې نه پس دوؤ آیتونوکښې راغلې دې اومنافق چه د هغوی دوه قسمونه دی یوخالص منافقان دی چه دهغوی مثال د اور رنړا سره ورکړې شو ، نورمنافقان هغه دی چه په شك کښې دی کله خو ئې ایمان رنړا کوی او کله مړشی. ددوی مثال د باران سره ورکړې شوې دې دا د ړومبی قسم منافقانو نه لږکم دی.

داشان په سورت نور کښې هم الله ﷻ دمومنانو اوددوی د زړه د نور مثال د هغه روښانه چراغ سره ورکړې دې چه په روښانه فانوس کښې وی او پخپله فانوس ورسره هم د ستوری پشان پرق کوی نود ایماندار خو یو طرفته زړه روښانه وی او بل دده (نبی کریم) خالص شریعت سره امداد شوې دې ، نو دا نورعلی نور دې .داشان په بل خائې کښې د کافرو مثال هم ورکوی د خپلې بې وقوفتیا په وجه خپل خانونه څه ګټری خو په حقیقت کښې دوی هیڅ نه دی،فرمائی دکافرو دعملونو مثال دشګې د پرقیدونکو ډیرکو پشان دې چه تږې پرې د اوبه ګمان کوی تردې چه نزدې ورته راشی او اوګوری نو هیڅ نه وی. بیا په بله موقع باندې ددې جاهلانو او کافرو مثال بیانوی چې په سخت جهالت کښې ګرفتار دی.ددوی په مثال کښې فرمائی دسختو تیارو په شان دی چه په ژورسمندر کښې وی چه په چپو باندې چپې وی،بیا د وریځو نه ډك وی اوپه تیارو باندې تیارې وی،که لاس راوباسی نوهغه ورته هم نه ښکاری. حقیقت دادې چه د چا دپاره دالله ﷻ نور نه وی نوده سره به نوردکومه راشی ؟

دکافرانو دوه قسمونه:-نو دکافرو هم دوه قسمونه دی.① یو خو نورو خلقو لره کفر طرف ته رابلونکی② بلدنورو تقلید کونکی لکه د سورت حج په شروع کښې دی چه ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطَٰنٖ مَّرِيدٖ﴾یعنی بعضې خلق هغه دی چې دالله ﷻ په باره کښې دعلم نه بغیرجګړې کوی اوهر سرکشه شیطان پسې روان دی. او بل خائې کښې الله ﷻ فرمائی چه ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٖ وَلَا هُدٗى وَلَا كِتَٰبٖ مُّنِيرٖ﴾یعنی بعضې خلق د علم او کتاب او هدایت نه بغیر د الله ﷻ په باره کښې جګړې کوی

Scanned with CamSc

دسورت واقعه په شروع کښې او په اخر دسورت نساء کښې د مومنانو دوه قسمونه بیان شوی دی .سابقین او اصحاب یمین یعنی د الله ﷻ په درگاه کښې مقرب او پرهیزگاره اونیك خلق ، نو ددې آیتونونه معلومه شوه چه دمومنانو دوه ډلې دی ① مقرب او② ابرار. اودکافرو هم دوه قسمونه دی ①کفر طرفته بلونکی ②او ددوی تقلید کونکې اود منافقانو هم دوه قسمونه دی.① خالص پاخه منافقان ②اوهغه منافقان چه په هغوی کښې د نفاق یونیم ښاخ شته وی.

د منافق درې خویونه:- بخاری او مسلم شریف کښې حدیث دی .چې حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمانی نبی کریم ﷺ فرمائی چه درې خصلتونه دی په چا کښې چه درې واړه وی هغه پوخ منافق دی. او چه په چا کښې یو وی په هغه کښې یوخصلت دنفاق موجود دی.تر کومې پورې چه دا پرې نږدی①په خبرو کښې دروغ ونیل ② وعده خلافی کول ③ په امانت کښې خیانت کول ()ددې نه ثابته شوه چه په انسان کښې هم کله څه حصه د نفاق وی خواه که هغه عملی نفاق وی اویا اعتقادی لکه چه د آیت او حدیث نه معلومیږی. دسلفو اود عالمانو د یوې ډلې هم دامذهب دی .ددې بیان مخکښې هم تیر شوی دی. اوبیابه هم رازی انشاءالله .

د زړه څلور قسمونه:- مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه زړه په څلور قسمه دی. ① یو خو صفا زړه دی چه د روښانه چراغ په شان پرقیږی.② دوئم هغه زړه چې غلاف کښې وی ③ دریم هغه زړه دی چه الټه دی④ هغه زړه چه مخلوط وی. رومبې زړه د مومن دی چه پوره شان سره نورانی دی دویم دکافر زړه دی په دی پردې پرتې دی. دریم خالص دمنافق زړه دی چه ده ته معلومه وی خو بیا هم انکار کوی. څلورم زړه د هغه منافق دی په هغې کښې ایمان او نفاق دواړه وی. دایمان مثال دهغه شینکی پشان دی چه پاکو اوبه سره وده کوی او دمنافق مثال دهغه دانې په شان دی چه په هغې پیپ او وینه زیاتیږی ، اوس چه کومه ماده زیاته شی هغه به غالبه رازی (). ددې حدیث اسناد هم عمده دی.

دغوږونو او سترګو هلاکت:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه که الله ﷻ غواړی نوددوی غوږونه او ددوی سترګې به بربادې کړی. مطلب دادې چه کله دوی ته حق معلوم شو اودوی هغه پریښودو نو الله ﷻ په هرځیز باندې قادر دې یعنی الله ﷻ که غواړی نو دوی ته به عذاب ورکړی. اوکه غواړی نو معاف به ئې کړی ().

په ایت کښې د ،،او، کلمې تحقیق:- په دې ځائې کښې دقدرت بیان دی. ځکه مخکښې ئې منافقان دخپل عذاب اوجبروت نه ویرولی دی اوفرمائی چه هغه پاك ذات ددوی په راګیرولو باندې قادر دی. د قدیرمعنی قادر ده().لکه څنګه چه دعلیم معنی عالم ده .ابن جریر رحمه الله فرمائی چه دا دوه مثالونه دیو قسم دی. اومعنی کښې د"و"دی. لکه بل ځائې کښې چې فرمائی [وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْ كَفُوْرًا] یا لفظ "او" د اختیاردپاره دې یعنی که دامثال بیانوئ اوکه هغه مثال بیانوې دواړوکښې اختیار دی. قرطبی رحمه الله فرمائی او په دې ځائې کښې تساوی یعنی برابرئ دپاره دی لکه دعربئ محاوره ده (جالس الحسن اوابن سیرین)زمحشری رحمه الله هم دا توجیه کوی نو مطلب داشو چه په دې دواړو مثالونو کښې چه کوم مثال غواړې بیانوه ، دواړه ددوی دحال مطابق دی.

---

[1]) صحیح بخاری: کتاب الایمان باب علامات المنافق : ۳٤، صحیح مسلم: ۵۷)-.

[2]) احمد: حضرت/۱۷،)-

[3]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۷٦)-

[4]) الطبری: ۳٦۱/۱)-

Scanned with CamS

خه وایم دا په اعتبار دمنافقانو اود دوی داحوالو اود صفاتو په اعتبارسره دي.لکه په سورت براءت کښې ﴿فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ وَمِنْهُمْ مَّنْ كَفَرَ﴾ بیانوی او هم د دوی ئې ډیرقسمونه اوډیر اقوال بیان کړي دی. نو دا دوه مثالونه د دوه قسمه منافقانو دی چه د هغوی اقوالو او صفاتو سره بالکل مشابه وو. والله اعلم.

سورت نورکښې دوه قسمونه د کفارومثالونه بیان شوی دی① یوکفرطرفته بلونکی او②مقلد فرمائی وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍۢ بِقِيْعَةٍ بیا فرمائی ﴿اَوْ كَظُلُمٰتٍ﴾ نورومبې مثال یعنی د شکې ډیری دکفر طرفته بللو والادی چه په جهل مرکب کښې انختی دی.دویم دمقلد دي چه سخت جهالت کښې اخته دي والله اعلم.

يٰٓاَيُّهَا	النَّاسُ	اعْبُدُوْا	رَبَّكُمُ	الَّذِيْ		
اے	خلقو	عبادت کوئ	ادرب خپل	هغه رب		
اني خلقو دهغې پروردګارعبادت کوئ						
خَلَقَكُمْ	وَالَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تَتَّقُوْنَ ۙ		
چې پیدائي کړئ تاسو	اوهغه خلق	اچې ووړاندې ستاسو نه	د دپاره چه تاسو	پرهیزګارجو شئ		
چې تاسو اوستاسو نه پخوانی ئې پیدا کړی دی	چې په دې طریقه تاسو خان د عذاب نه بچ کړئ					
الَّذِيْ	جَعَلَ لَكُمُ	الْاَرْضَ	فِرَاشًا	وَّالسَّمَآءَ	بِنَآءً ۖ	وَّاَنْزَلَ
هغه (رب) چې	اجوړه کړئ ئې ده تاسو دپاره	ازمکه	فرش	اوآسمان	چت	اووې ورولې
الله تعالی هغه لوئې ذات دي چې زمکه ئې تاسو دپاره بستره کړخولې ده	او آسمان ئې درباندې ګنبد ښکاره کړې دی					
مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً	فَاَخْرَجَ	بِهٖ	مِنَ الثَّمَرٰتِ	رِزْقًا	لَّكُمْ ۚ فَلَا
د آسمان نه	اوبه	او راوی ویستی	اپه دې سره	هر قسم میوې	دپاره د خوراک	ستاسو
«دطرفه» اوبه رالیږی	نوپه هغې سره ئې ستاسو د خوراک دپاره رنګ رنګ میوې پیدا کړی دی نواوس مه					
تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ	اَنْدَادًا	وَّاَنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ ۝			
جوړوئ الله سره	مقابل	اوحال داچې تاسو	پوهیږئ			
پیدا کوئ د الله تعالی سره شریکان	حا دا چه تاسو پوهیږئ					

قوله تعالی:- يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ

د الله د حدانیت دلائل:- ددې خائې نه دالله ﷻ توحید او دهغه د ذات الوهیت بیان شروع کیږی او هم هغه ذات خپلو بندګانو لره دعدم نه وجود ته راوستولو او هم هغه ذات هر شان ظاهری او باطنی نعمتونه ورکړی دی.

قوله تعالی:- الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّالسَّمَآءَ بِنَآءً ۖ

دزمکې او اسمان نعمت:- هم هغه ذات دزمکې فرش جوړ کړو او په دې کښې ئې مضبوط غرونه میخونه جوړ کړل اوآسمان لره چت جوړ کړو.لکه بل خائې کښې فرمائی چه﴿وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوْظًا﴾ یعنی آسمان ئې محفوظ چت جوړ کړو ددې باوجود چه دوی د نښو نه مخ اړوی.

قوله تعالی:- وَاَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ

دباران نازول:- اوبه د آسمان نه د نازلو مطلب د وریځو نه نازل فرمائیل دی. په هغه وخت کښې چه کله خلق ددې پوره محتاج وی، بیا په دې اوبو سره رنګ په رنګ میوې پیدا کول دی چه دې نه خلق فائده اوچتوی. او ددوی ځناور هم .لکه په قران پاک کښې خائې په خائې ددې بیان راغلې دې،یو خائې کښې

Scanned with CamSc

ارشاد دي چه ﴿اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ قَرَارًا﴾ يعنی الله تعالی ستاسو دپاره زمکه فرش اوآسمان چت کرزولي دي اوتاسوته ني ښکلی ښکلی صورتونه درکړی دی.او پاکه روزی ني درکړه. هم دا الله ﷻ دي چه برکتونو والا اود ټول عالم پالونکي دي . نودټولو خالق ، دټولو رازق ، دټولو مالك هم الله ﷻ دی ، اوهم دا وجه ده چه د هر قسمه عبادت مستحق دي او د دي چې څوک ورسره شريک نکړي شی ځکه ني اوفرمائيل چه الله ﷻ سره شريك مه جوړوئی حالانکه تاسوته پته ده.

قوله تعالی:- فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا

دالله ﷻ په بندګانو باندي حق:- بخاری شريف اومسلم شريف کښي حديث دي،ابن مسعود ﷺ ټپوس کوی انې نبی کريم دټولو نه لويه ګناه کومه يوه ده ؟ فرمائی دالله ﷻ سره شريك جوړول ()، کوم ذات چه پيدا کړی يئ ،هغه پاك ذات خالق دي. حضرت معاذ ﷺ والا حديث کښي دی تاته څه پته ده چه دالله ﷻ حق په بندګانو باندي څه دي؟ دا چه دهغه عبادت کوی او هېڅوك هغه سره په عبادت کښي نه شريکوی ()دويم حديث کښي دی چه په تاسو کښي دي هيڅوك دا نه وائی چه څه الله ﷻ غواړی او فلاني غواړی بلکه داسي دي وائي څه چې صرف يو الله غواړی ()

چه څه الله ﷻ او رسول ﷺ غواړی دا وئيل شرک دي:- طفيل بن سخره ﷺ (چه دي دحضرت عائشه رضی الله عنها ناسکه رورډي) فرمائی چه ما خوب کښي څو يهوديان اوکتل،ما ددوی نه ټپوس اوکړو چه تاسو څوك يئ ؟وي وئيل مونږ يهود يو. ما اووئيل افسوس چه تاسوپه لويه خرابئ کښي يئ چه تاسو حضرت عزير ﷺ ته دالله ﷻ څوئي وئيلي دي. هغوی اوئيل چه تاسو هم ښه خلق يئ مګر افسوس چه تاسو وائي چه څه الله ﷻ غواړی او څه حضرت محمد ﷺ غواړی.بيا د نصرانيانو ډلې لره ورغلم اوددوی نه مې نه هم دا تپوس اوکړو.هغوی هم داجواب راکړو.ما اووئيل چه تاسومسيح ﷺ ته دالله ﷻ څوئي اووئيلو، هغوی هم داجواب راکړو.ما سحر ددي خوب ذکر څه خلقو ته اوکړو،بيا د نبی کريم ﷺ په دربار کښي حاضر شوم او نبی کريم ﷺ ته مې ټوله واقعه بيان کړه. نبی کريم ﷺ ټپوس اوکړو چه تا خو ددي ذکر بل چاته نه دي کړي. ما ورته اووئيل چه کړي مې دي. نبی کريم ﷺ اوس اودريدو او دالله ﷻ حمدو ثناء ني بيان کړه او وې فرمائيل طفيل يو خوب کتلي دي او تاسو کښي ني بعضو خلقو ته دا بيان کړي هم دي ،ما غوښتل چه تاسو ديو کلمې نه منع کړم خود فلاني فلاني کارپه وجه ما درته اونه وئيلي شو. ياد لرئی چه بالکل دا اونه وائي چه " الله ﷻ غواړی او دهغه رسول ﷺ " . بلکه داسې وائي چه صرف الله ﷻ څه غواړی ()(ابن مردويه)

يو سړی نبی کريم ﷺ ته اووئيل چه څه الله ﷻ غواړی او څه ته غواړې . نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه آيا ته ما دالله ﷻ سره شريك جوړوی.داسې واية چه څه صرف الله ﷻ غواړی(۴) (ابن مردويه)داټول کلمات سراسر دتوحيد خلاف دی. د الله ﷻ د توحيد بچ کولو دپاره دا ټول احاديث بيان شوی دی. والله اعلم.

دالله د عبادت حکم:- ټول کافرانو اومنافقانوته الله ﷻ د عبادت حکم ورکړو او وې فرمائيل چه د الله ﷻ عبادت کوئی يعنی د هغه دتوحيد پابنداوسئ. دهغه سره شر يك مه جوړوئی چه نه تاسو ته نفع درکوی اونه نقصان. او تاسوته معلومه ده چه دهغه ذات نه سوا بل هيڅوك رب نشته دي چه تاسو ته روزی درکوی.اوتاسو ته معلومه ده چه دالله ﷻ رسول ﷺ تاسوهغه توحيد طرف ته رابلی.چه د هغې په حق

---

[1]) صحيح بخاری : كتاب الادب باب قتل الولد خشية ان ياكل معه: ٦٠٠١، صحيح مسلم: ٨٦)-

[2]) صحيح بخاری : كتاب الجهاد باب اسم الفرس والحمار: ٢٨٥٦، صحيح مسلم: ٣٠)-

[3]) ابو داود كتاب الادب باب لايقال خبث نفسی : ٤٩٨٠، وسنده صحيح ،اليوم والليلة للنسائی : ٩٨٥)-.

[4]) احمد: ٧٢/١، ابن ماجة كتاب الكفارات باب النهی عن يقال ماشاء الله وشئت : ٢١١٨ ، دارمی: ٢٦٩٩)-.

[5]) احمد: ٢١٤/١)-

کیدو او ربښتیا والی کښې هیڅ شك نشته دې. شرك ددې نه هم زیات پټ دې. لکه میږې چه د شپې په تیاره کښې په صفا کانړی باندې روان وی.

بعضې شرکیه کلمات:-دانسان داویناچه قسم دې دالله ﷻ اوقسم دې ستا دژوند ،دا هم شرك دې. دانسان دا وینا که د شپې داسپې نه وې نو غل به زمونږ کور ته راغلې وې،داهم شرك دې. د سړی داقول که په کور کښې بطخ نه وی نو غلا به شوې وې. دا هم دشرك کلمه ده. دیو کس دا وینا څه چې الله ﷻ غواړی او تاسو غواړئ،نو دا هم شرك دې.د یو کس دا وینا که الله ﷻ نه وې او فلانې نه وې ،دا ټول کلمات شرکیه دی.

صحیح حدیث کښې دی چه یوکس نبی کریم ﷺ ته اووئیل چه څه الله ﷻ غواړی اوڅه چه تاسو غواړئ. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل آیاته ما دالله ﷻ سره شریك جوړوې. ؟ په بل حدیث کښې دی چه تاسو ښه خلق یئ که تاسو شرك اونه کړئ.تاسو وائې چه څه الله ﷻ غواړی اوڅه فلانې غواړی() ابو العالیه رحمه الله فرمائی چه د (أَنْدَادًا) معنی شریك او برابر ده . مجاهد رحمه الله فرمائی تاسو تورات وائې او درته معلوم دی چه الله ﷻ یو او لاشریك دې ، بیا تاسوته پته ده ولې دالله ﷻ سره شریك جوړوئی ؟

یحیی ﷺ. **ته د پنځو خبرو حکم** :مسند احمد کښې دی نبی کریم ﷺ فرمائی الله ﷻ حضرت یحیی ﷺ ته دپنځو احکامو حکم ورکړې وو. چه په دې باندې عمل کوه او بنی اسرائیلو ته هم په دې باندې دعمل کولو حکم وو. نزدې وه چه هغوی په دې کښې سستی کړې وې نوحضرت عیسی ﷺ دوی ته ورياد کړل دوی ته د پروردګار عالم دا حکم وو چه په دې پنځوؤ څیزونو باندې پخپله مضبوط اوسئ او نورو ته هم حکم کوئی.

① یوداچه دالله ﷻ عبادت کوئی اوده سره هیڅوك شریك مه جوړوئی. ددې مثال داسې دې لکه چه یوسړې خاص په خپل مال سره یو غلام واخلی ، غلام کار کوی او چه څه مومی هغه بل چاته ورکوی ، آیا تاسو کښې څوك دا خبره خوښوی چه دهغه غلام دې داسې وی؟ هم داشان ستاسو پیداکولووالا ، تاسوته روزی درکولو والا ستاسو حقیقی مالك الله ﷻ وحده لاشریك دې،نو تاسو دهغه پاك ذات عبادت کوئ اوهغه سره هېڅوك شریك مه جوړوئی.

② دویم دا چه مونږ کوئی ، دالله ﷻ مخ دبنده مخ طرفته وی څو پورې چه دې په مونږ کښې یوخوا بل خوا نه ګوری ، کله چه تاسوپه مونږ کښې یئ نو یو خوابل خوا توجه مه کوئی.

③ دریم دا چه روژې نیسئ .ددې مثال داسې دې لکه یو سړی سره دمشکو تهیلئ ډکه وی چه په دې سره دده دټولوملګرودماغ معطر وی اویادساتنی دروژه داردخلې بدبوئی الله ﷻ ته دمشکود خوشبوئی نه هم زیاته خوښه ده.

④ څلورم داچه صدقه ورکوئی،ددې مثال داسې دې لکه یو سړې دښمنانو قید کړې وی او ده لاسونه ئې دده څټ سره ترلی وی او ده د څټ وهلو دپاره ئې دې بوتلی وی. نوهغه وائی چه تاسو ځما نه فدیه واخلئ اوما پریږدئی نو ده سره چه څه وی کم یا زیات هغه ټول ئې راوړل او خپل ځان ئې بچ کړو.

⑤ پنځم داحکم دې چه د هغه ذات د نوم مبارك ورد په کثرت سره کوئی. ددې مثال دهغه سړی په شان دې چې ده پسې په تیزئی دښمن روان وی او هغه یوې مضبوطې قلعې ته داخل شی او په امن سره شی. داشان دې دالله ﷻ دذکر په وخت کښې د شیطان نه په امن کښې وی.

دې فرمائیلوسره نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اوس څه تاسو ته دپنځو خبرو حکم کوم ، چه ددې حکم الله ﷻ ماته راکړې دې① دمسلمانانو ډله لازمی نیسئ (دالله ﷻ دهغه د رسول ﷺ او د حاکم وخت احکام)

---

[1]) ابن ماجة كتاب الكفارات باب النهى عن يقال ماشاء الله وشئت : ۲۱۱۸ وسنده ضعيف)-

اوریدل اومنل ② هجرت کول ③ اوجهاد کول.چه کوم سړي د ډلې نه یو لیشت هم لرې شو نو ده داسلام رسۍ دخپلې مرئی نه اوویستله .دا بیله خبره ده چه دې واپس شی. چه کوم سړي د جاهلیت خبرې کوی نودې دجهنم خشاك دې. خلقو اووئیل یا رسول الله ﷺ اګر چه دې روژې نیسی او مونځګذار وی ، وې فرمائیل اګر چه مونځګذار وی او روژې نیسی ،او خپل خان مسلمان بولی. مسلمانان په هغه نومونو سره بلئ چه پخپله الله ﷻ اینبودی دی،مسلمین ، مومنین اوعبادالله ، دا حدیث حسن دې ().

په دې آیت مبارك کښې هم دابیان دې چه الله ﷻ تاسو پیدا کړی یئ،هغه تاسوته روزی درکوی ، نو تاسو هم دهغه ذات عبادت کوئی،دهغه سره شریك مه جوړوئی . ددې آیت نه ثابته شوه چه په عبادت کښې دتوحید پوره خیال ساتل پکار دی . ل چا عبادت نه دی کول پکار.دهرقسمه عبادتونو لائق صرف هغه پاك ذات دې.

حضرت امام رازی رحمه الله وغیره دالله ﷻ په وجود باندې ددې آیت نه دلائل اخستی دی. او فی الواقع دا آیت ډیرغټ دلیل دې دالله ﷻ په وجود باندې.دزمکې اوآسمان مختلف شکل وصورت مختلف رنګونه ، مختلف مزاج او مختلفې فائدې موجودات ، په دې کښې دهر یو نفعې والا کیدل او خاص حکمت سره ثابتیدل دی .ددوئ د خالق وجود ،د هغه عظیم الشان قدرت او حکمت، زبرست سطوت او سلطنت ثابتیږی.

دالله په وحدانیت د یو باندېچی استدلال:- دیو باندېچی نه تپوس اوکړې شو چه دالله ﷻ په ذات اقدس باندې څه دلیل دې؟ نوهغه اووئیل چه: **(یاسبحان الله ان البعر لیدل علی البعیروان اثر الاقدام لتدل علی المسیر فسماء ذات ابراج وارض ذات فجاج وبحار ذات امواج الا یدل ذالك علی وجود اللطیف الخبیر)** یعنی د غوشی (څپیاکې) نه اوښ معلوم شی اودپښو نښې په زمکه باندې کتلو سره معلوم شی چه سړې تلې دی نو آیا دا برجونووالا آسمان ، دا لارو والازمکه، او موجونووالا سمندر دالله ﷻ دباریکئ اوخبرداری دالله ﷻ په وجود باندې دلیل نشی جوړیدلې؟ ()

دالله په وجود د امام مالک رحمه الله استدلال:- د حضرت امام مالك رحمه الله نه هارون الرشید تپوس اوکړو چه دالله ﷻ په وجودباندې څه دلیل دې. نودوی اوفرمائیل دژبو مختلف کیدل ،د آوازونو مختلف کیدل ، دنغمو بیل کیدل دا ټول ثابتوی چه الله ﷻ شته دې.

دالله په وجود د امام ابوحنیفه رحمه الله استدلال:- حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم دا سوال اوکړې شو نو دوی په جواب کښې فرمانی پریږده څه څه په بل سوچ کښې یم ، خلقو ماته وئیلی دی چه یو ډیره لویه کشتی چه په هغې رنګ په رنګ تجارتی څیزونه دی ، نه ئې څوك نګهبان شته دې او نه ددې مانړکې او ددې باوجود هغه روانه وی. او لوئې لوئې چپو نه تیریږی. داودریدو په څانې اودریږی او د روانیدپه څانې روانیږی. او نه دده څوك مانړکې شته دې او نه څوك منتظم . سوال کولو دهریانو اووئیل تاسو څنګه سوال کوئی څوك داسې خبرې کولې شی ، چه دومره لویه کشتئ دومره سامانونو سره د نظام سره ښه په طریقه روانه وی په سمندر کښې اوهیڅوك ددې دچلولووالا نه وی؟ دوی اوفرمائیل افسوس ستاسو په عقلونو باندې،چه یوکشتئ بغیر دمانړکی نه نشی تلې لیکن دا دومره لویه دنیا او آسمان او زمکه اوپه دې کښې ټول څیزونه په خپل خپل څانې صحیح کار کوی او ددې مالك او حاکم او خالق دې څوك نه وی؟ دې جواب اوریدو سره هغه خلق لاجوابه شو او حق معلومیدو سره مسلمانان شو.

---

[۳]) احمد: ۱۳۰/٤، ترمذی ابواب الامثال ، باب ماجاء فی مثل الصلوة والصوم والصدقة : ۲۸٦۳، وسنده صحیح. مسند ابی یعلی : ۱۵۷۱، ومسند طیالسی: ۱۱٦۱، ابن خزیمة: ۱۸۹۵، ابن حبان: ٦۲۰۰، حاکم: ۱۱۷/۱)-

[۲]) الرازی :۹۱/۲)-

Scanned with CamScanner

دالله په وجود د امام شافعی رحمه الله استدلال:-دحضرت امام شافعی هم داسوال اوشو نودوی په جواب کښې اوفرمانیل چه د توت پانړې یو دی په یوذانقه کښې دی ، چینجی او دشهدو مچئ او غواګانې اوچیلئ او اوسئ وغیره ټول دا خوری او په دې کښې څریږی ،ددې په خوراک د چینجو نه ریښم راوزی. دشهدو مچئ شهد ورکوی . اوسئ مشك پیدا کوی. اوغوا میخې سوتې کوی. آیا دا ددې امر صفا دلیل نه دې چه په یو پانړه کښې مختلف خصلتونه پیدا کولو والا څوك شته دې؟ هم د دې وجې مونږ الله ﷻ منو او هم هغه ذات موجد اوصانع دې.

د الله په وجود د امام احمد بن حنبل رحمه الله استدلال:- امام احمد بن حنبل رحمه الله نه هم یو څل دالله ﷻ په وجود باندې دلیل طلب شو نو دوی اوفرمائیل واورئی یو ډیره مضبوطه قلعه ده ، چه په دې کښې یو دروازه هم نشته دې ،اونه په کښې څه لار شته ، بلکه سورې هم نشته دې ، دبهر نه د چاندئی په شان څلیږی او دننه دسروپشان څلیږی اوپاس اولاندې په کښې هیڅ دروازه نشته دې د څلورووارو طرفونونه بالکل بنددې.پدې هواهم نه ورځی.یکدم یودیوال راپریوزی اویوژوندې سترګووالا،غوږونووالا، ګرځیدونکې ښکلی صورت او ښکلې خبروکولو والا راوزی . نوااووائې چه په دې بند محفوظ مکان کښې دده څوك پیداکونکې شته دې اوکه نشته دې اوهغه هستی د انسانانودهستئ نه بالاتر،دهغه ذات قدرت غیر محدود ده که نه ده ، مطلب ددوی دا وو چه اندې (آګئ) ته اوګورئی چه د څلورووارو طرفونو نه بنده ، بیا صرف هغه واحد ذات دې چه په دې کښې ژوندې بچې پیدا کوی. هم دا دلیل دې د الله ﷻ په وجود باندې او د هغه د ذات په توحیدباندې.

د الله په وجود د ابونواس رحمه الله استدلال:-ابونواس نه چه کله دا مسئله اوپوښتلې شوه ، د آسمان نه دباران وریدل او ددې نه دونو پیداکیدل اوپه شنو شنو ښاخونو باندې ښکلې میوې کیدل دالله ﷻ په وجود باندې دوحدانیت دلیل دې.

دالله د توحید باره کښې د ابن المعتز قول:-دابن المعتز قول دې،افسوس دالله ﷻ په نافرمانئ اود هغه ذات دروغ ګنړلو باندې څومره بهادری خودلې شی حالانکه هریوشیز دالله ﷻ په هستئ باندې او لاشریك کیدو باندې ګواه دې.

دالله په وحدانیت د کائناتو نه استدلال:- اودنورو بزرګانو قول دې چه آسمان ته اوګورئی ددې اوچتوالې ، ددې واړه لوئې او څلیدونکی او روښانه ستورو باندې نظر واچوئی. ددې د څلیدو او تګ راتګ او داودریدو اود ظاهریدو او دپټیدو مطالعه اوکړئی. بیا سمندرونوته اوګورئی چه چپې وهی او زمکه ئې ګیره کړې ده . بیا اوچت اوچت غرونو ته اوګورئی چه په زمکه کښې ښخ دی او دا خوزیدلو ته نه پریږدی ، چه ددې په رنګ کښې ددې صورتونه مختلف دی. بیا په قسم قسم مخلوقاتو باندې نظر واچوئی او چاپیر چل کښې پتې اوباغونو ته او شنه کوونکی ښکلی نهرونو ته اوګورئی اودباغونو شنه کیدوته او ددې رنګ رنګ میووته اوددې په ښکلو ښکلو میوؤ باندې غور اوکړئی. زمکه یو ، اوبه یو ، لیکن ددې شکلونه ، صورتونه ،خوشبویاني ، ذائقې ، اوفائدې جدا جدا دی. آیا دا ټول مصنوعات تاسوته دا نه ښائی چه ددې څوك صانع (جوړونکی) شته دې؟ آیا دا ټول موجودات په اوچت آوازدا نه وائی چه ددې موجد څوك شته دې .آیا دا ټول مخلوق دخپل خالق په هستئ باندې اوده په توحید باندې دلالت نه کوی؟ دا دی هغه مضبوط دلائل چه د الله ﷻ د خپل ذات منلو دپاره هر یو نظر کونکی ته وړاندې کړی دی آیاداټول د هغه ذات په زبردست قدرتونو،دهغه په زبردست حکمتونو اودهغه ذات په لاثانی رحمتونو،دهغه ذات په بې نظیره انعامونو،دهغه ذات په لازواله احسانونوباندې دلالت دپاره کافی نه دی.

زمونږاقراردې چې د هغه ذات نه سوا هیڅوك پالونکې نشته ، دهغه ذات نه سوا بل هیڅ څوك پیدا کونکې او حفاظت کونکې نشته دهغه ذات نه سوا بل هیڅوك معبود برحق نشته .د هغه ذات نه سوا

Scanned with CamScanner

بل هیڅوک مسجود نشته،نوددنیا خلقو واورئی،خما بهروسه په هغه ذات باندې ده،خما انابت اوالتجا هغه طرفته ده ،خما تیتیدل او پست کیدل د هغه په وړاندې دی. خما د خواهشاتو مرکز خما د امیدونو آسرا ،خما ماوی او خما ملجا هغه یو ذات دې هم د هغه دست رحمت ته ګورم ،اوهر وخت هم د هغه نوم اخلم.

وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ	
اوکه چرې | یئ تاسو | په شك کښې	
اوکه ستاسو د هغه کتاب په حقله	
مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ	
په هغه کتاب کښې اچې نازل کړې دي مونږ اپه بنده خپل باندې انوراوړئ | یو سورة | پشان ددې	
څه شک شبه پاتې وی | چې مونږ خپل بنده (محمد ﷺ) باندې نازل کړیدي | نوتاسوهم ددې پشان یوورکې سورة راوړئ	
وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ	
او رااوغواړئ | ملګری مددګاران خپل | ماسوا دالله نه | که چرې | یئ تاسو | ریښتینی |	
اوږد یو ورکوټی سورت پشان جوړولو کښې، بې دالله نه نور ټول خپل مددګاران راوبلئ که تاسو ریښتونې یئ	
فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَلَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَقُوْدُهَا	
خوکه | اونه کړو تاسو داکار | اوهرګز نې نشئ کولې | نو اویریږئ | دوورنه | هغه | چې خشاك دهغې	
اوکه تاسو داکار اونکړې شو | او بالکل به نې اونه کړې شئ | انوخان دهغه اور نه بچ اوساتئ | چې دهغې خشاك	
النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ	
خلق دی | اوکانړی | چې تیار شوې دې | دپاره د کافرانو |	
(کافر) خلق اوکانړی (بتان) دی | دغه اور د کافرانو دپاره تیار شوې دې |	

قوله تعالى:- وَاِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ

د محمد ﷺ دنبوت تصدیق :-دتوحید دبیان نه پس اوس دنبوت تصدیق کیږی. کافرو ته خطاب کوی او فرمائی مونږ چې کوم قران پاك په خپل بنده (حضرت محمد ﷺ)باندې نازل کړې دې، که دا تاسو دالله ﷻ کلام نه منئ اوستاسو ټول مددګار یوځائې شی نوپوره قران خولاځه چې یو سورت هم ددې پشان نشئ جوړولې.هرکله چه تاسو دا نشئ کولنی اوددې نه عاجزه یئ نو بیا د دې قران پاك په کلام الله کیدوکښې ولې شك کوئی ؟

قوله تعالى:- وَادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ

د شهداء نه څوك مراد دی؟ :-د(شهداء) نه مراد مددګار او ملګری دی ()چه ددوی مدد به نې کولو نو مطلب داشوڅوك چې تاسو خپل معبودان جوړکړی دی نوهغوی هم راوبلئ اودهغوی نه مددحاصل کړئی.بیا ددې په شان یوسورت جوړکړئی. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه تاسو خپلو حاکمانو او خپل زیاندان ،فصیح او بلیغ خلق راوبلئ او دهغوی نه هم مدد اوغواړئی. ()

---

[1]) الطبری: ۳۷۶/۲۱)-

[2]) ابن ابی حاتم : ۱ /۸۵)-

Scanned with CamScanner

د قران پاک اعجاز :-د قران پاک ددې معجزې اظهار اودا طرز کلام په څو ځایونو کښې دې.په سورت قصص کښې دی چه﴿ قُلْ فَأْتُوا بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ اَهْدٰى مِنْهُمَآ اَتَّبِعْهُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝﴾ یعنی که تاسو رینبستونی یئ نو ددې دواړو نه(یعنی قران پاک اوتورات نه) زیات هدایت والا بل د الله ﷻ کتاب راوړئ نو خه به دهغې تابعداری اوکړم. په سوره سبحان کښې فرمائی چه ﴿قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا۝﴾ یعنی که ټول جنات او انسانان جمع شی اوهر یو د یو بل مدد کول غواړی چه ددې پشان قران جوړ کړی نو بیا هم ددې هیڅ امکان نشته دې. په سورت هودکښې دی﴿اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۭ قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ وَّادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝﴾ یعنی آیا داخلق داسې وائی چې دا قران ده (نبی کریم ﷺ) پخپله جوړکړې دې .تاسو اووائئ که چرې تاسو رینبستونی یئ نو ټول یو خائې شئ اودالله ﷻ نه سوا چه تاسو څوک رابلئ راوبلئ اوددې پشان لس سورتونه جوړ کړئی. په سورت یونس کښې دی ﴿وَمَا كَانَ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اَنْ يُّفْتَرٰى مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ الْكِتٰبِ لَا رَيْبَ فِيْهِ مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝﴾ یعنی دا قران پاک دالله ﷻ نه سوا دبل چا دطرفه نۀ دې. بلکه دا د رومبوکتابونو تصدیق کولو والا اودکتاب تفصیل دې پدې کښې هیڅ شك نشه دې چه دالله ﷻ کلام دې اوچه داد رب العالمین د طرفنه دې. آیا دا خلق دې ته پخپله جوړشوې (کتاب) وائی؟ دوی ته اووایه ذالله ﷻ نه سوا هرسړې راوبلئ(اوددې قران پاک د سیکړو سورتونو نه).یو وړوکې شان سورت جوړ کړئی چه ستاسو رښتیا ظاهر شی.

دا ټول آیتونه خوپه مکه مکرمه کښې نازل شو او اهل مکه خلق ددې د پیش کولو نه عاجزه شو د دې نه پس په مدینه منوره کښې هم دا مضمون پیش کړې شو. لکه څنګه چه په پورتنی آیت کښې د مثله ضمیر بعضو دا قران پاك طرف ته راجع کړې دې یعنی ددې پشان څه سورت راوړئی.اوبعضو دا ضمیر حضرت محمد ﷺ طرف ته راجع کړې دې. یعنی دحضرت محمد ﷺ پشان هیڅوك نشی کیدلې حالانکه دوی څه لیك لوست والا نه دې او د دې باوجود هغه کلام وائی چه ددې مثل هیڅوك نشی جوړولې. لیکن صحیح قول رومبې دې. عمر ﷺ ،حضرت ابن مسعود ﷺ ،حضرت ابن عباس ﷺ ، مجاهد رحمه الله ، قتاده رحمه الله ،او حسن بصری رحمه الله او اکثرو محققینو نه هم دا قول نقل دې. ابن جریر رحمه الله ، طبری رحمه الله ، زمحشری رازی رحمه الله هم دا خوښ کړې دې.

دا ولنی تفسیر وجوه ترجیح:- ددې د ترجیح ډیر زیات وجوهات دی. ①یو دا چه په دې کښې اجتماعی او انفرادی طور سره ټولو ته زورنه ده. که هغه امی وی یا لیك لوست والا نه وی ، که اهل کتاب وی اوکه لیك لوست والا خلق وی.② بیا په دې کښې دمعجزې کمال دې .اوددې (لیك لوست) خلقو په نسبت غیرلیك لوست والا عاجزه کړې شی او په دې کښې زیاته مبالغه ده.③ بیا د لسو سورتونو مطالبه کول ، ددې دمثال نه راوړو پیشن ګوئی کول هم دا ثابتوی چه ددې نه مراد قران پاك دی . د رسول الله ﷺ ذات مبارک نه دې . نو ددې عام اعلان چه بار بار اوشو او ورسره پیشن ګوئی هم اوکړې شوه چه دا خلق په دې باندې قادر نه دی ،مکه معظمه او مدینه منوره کښې د ځل ددې اعاده اوکړې شوه. او هغه خلق چه دهغوی مورنئ ژبه عربی وه ، خپل فصاحت او بلاغت باندې هغوی فخر کولو. چه کومو خلقو ددوی اوددوی دین سره دښمنی کوله،هغوی په حقیقت کښې ددې نه عاجزه وو. نه صرف دپوره قران پاك نه چه جواب نې ورکړی او نه دلسو سورتونو او نه دیو سورت.

نویو معجزه خو داشوه چه ددې پشان یو وړوکې سورت هم هغوی جوړ نه کړې شو.دوئمه معجزه دا شوه چه دا پیشن ګوئی هم رښتیا ثابته شوه چه دوی بالکل ددې پشان نه شی جوړولې اګر که ټول جمع شی اوترقیامته پورې کوشش اوکړی اوداسې هرګز نه دی شوې نه په دې زمانه کښې او نه چاته ددې دکولو جرات اوشو اونه ددې نه پس تر ننه پورې اونه ترقیامته به څوك داسې اوکړې شی. او څنګه به اوکړې

Scanned with CamScanner

شی ؟ لکه څنګه چه د الله ﷻ ذات بې مثاله دې نوداشان دهغه کلام هم بې مثله دې،حقیقت هم دادې چه دقران پاك په کتلوسره ددې ظاهری باطنی ، لفظی او معنوی ، هغه کمالات ظاهریږی چه د مخلوق په وس کښې نه دی. پخپله الله ﷻ فرمانی چه ﴿الٓرٰ ۚ كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰيٰتُهٗ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ﴾ یعنی د کتاب آیتونه چه د حکمت والا،د خبرداره الله ﷻ دطرف نه نازل شوی ددی محکم اومضبوط او مفصل بیل بیل دی. نوالفاظ ئې محکم او معانې ئې مفصل یا الفاظ ئې مفصل او معانې ئې محکمې دی ، نو قران پاك دخپلو الفاظو اوخپلومضمونونو لحاظ سره یو داسې کتاب دې چې ددې مثال بالکل نتشه اوددې د مقابلې او معارضې نه دنیا عاجزه او بې بسه ده.

دې پاك کلام کښې مخکښې خبرونه چه د نیا نه پټ وو،هغه هوبهو بیان شو.د راتلونکو امورو ذکر اوشو ، چه کوم لفظ په لفظ پوره نازل شو،دټولو نیکو احکام په دې کښې دی اود ټولو بدو نه ممانعت هم په دې کښې دې. ربښتیا دی چه ﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ﴾یعنی اوستا د رب د کلام صداقت او عدالت پوره دې. دا ټول قران پاك ټول په ټوله حق ، دصداقت او عدالت نه ډك دې. نه په دې کښې واهیات شته دې اونه په کښې د تباهئ خبرې شته ، نه په دې کښې دمذاق خبرې شته اونه په کښې افتراء شته کومه چه دشاعرانو په کلام کښې عام طور موندلې شی. بلکه ددوی داشعارو قدر اوقیمت هم په دې باندې دې .مقوله مشهوره ده چه ﴿اعذبه اکذبه﴾ چې څومره دروغ زیات وی دومره مزه زیاته وی تاسو ګورئی چه اوږدې اوږدې پرزوره قصیدې به وی او دې کښې به ټول دروغ وی او مبالغې نه په کښې اخستې شوې وی. یا به په کښې د یو انسان په حق کښې لوئې لوئې تعریفونو شوی وی ، یا داوښانو په ښانست یا بهادرئی باندې دمبالغې سره سندرې یا د جنګونو چالونه ،یا دویرې خیالی منظرونه بیانولو کښې وی ، چه په هغې کښې نه د دین څه فائده وی اونه ددنیا. صرف د شاعر په ژبه دهغه د کلام قدرت نه دهغه کمال ظاهریږی. او نه په اخلاقو باندې ددې څه اثر شته اونه په اعمالو باندې ، بیا نفس مضمون کښې هم پوره قصیدو کښې هم په مشکله سره دوه شعرونه وی. باقی د یوخوا بل خوا او فضول بکواس وی.

دقران پاک اعجاز:- ددې مقابله کښې قران پاك باندې نظر واچوئی نوتاسو به ګورئی چه ددې یویو لفظ دفصاحت او بلاغت ،د دین او دنیا د نفعې اوخیر اوبرکت باندې مشتمل دې. بیا دکلام ترتیب او تهذیب ، دالفاظو بندش ،دعبارت روانی ، دمعنو نورانیت ،دمضمون پاکوالې نورعلی نور دې. د دې دخبرو حلاوت ، ددې بیان شوی واقعات اوسلاست ، دمې شوؤ زړونو ژوندی کیدل دې. ددې اختصار داعلی کمال نمونه ده اوددې تفصیل معجزه ده.ددې یو ځیز دوباره کول دقندو مزه ورکوی.دا معلومیږی چه ګویا د حقیقی غمو باران وریږی. دا بار بار وایه او زړه تړې نه مړیږی. مزې اخله او هر وخت نوې نوې مزې اخله ،مضامینو باندې ئې پوهیږه او ختمیږی به نه ، دا د قران پاك خاصه ده ، ددې خوند ، ددې خوږوالی مزه ، ددې تپوس د هغه چا نه اوکړه چې هغوئ ته الله ﷻ د عقل او حواس ، علم و فضل څه حصه قدرې ورکړې ده. ددوی دعذابونونه ویرول ،او دنیولو رانیولو بیان چه مضبوط غرونه خوزوی ،انسانی زړه څه څیز دې . ددې وعدې او زیری ، نعمتونه اورحمتونو سره د زړه غوټئ پرانیستې کیږی ،اود شوق اود خواهش پټ جذباتو لره راپاروونکې دې ،د جنتونواو راحتونو خواږه خواږه منظرونه د سترګو مخکښې رازی. دې سره زړه پرانیستې کیږی. غوږونه دې طرف ته لګی او سترګې پرانیستې کیږی.

د قران ترغیب:- الله تعالی رغبت ورکوی او فرمانی ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ﴾ چاته څه پته ده چې د ده د نیکو اعمالو بدله ،دده د سترګو یخوالې دپاره څه څه سامان پټ په پټه تیار شوې دې

Scanned with CamScanner

اوفرمائی﴿ وَأَكْوَابٌ وَفِيهَا مَا تَشْتَهِيهِ الْأَنفُسُ﴾ اوددې همیشه جنتونو کښې هرهغه څیز دې چې زړه ته ښه معلومیږی او په سترګوباندې اثر غورزوی .

د قران ترهیب:- اوزورنه ورکوی فرمائی﴿أَفَأَمِنتُمْ أَن يَخْسِفَ بِكُمْ جَانِبَ الْبَرِّ﴾ ،او﴿ءَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ﴾ آیا تاسودخپلو ښځولویا دآسمان نه کانړو ورولو نه بې ویرې شوئ. آیا دآسمان والا په دې باندې قادرنه دې. داصرف دهمکی مه ګټرئی بلکه ددې حقیقت به تاسوباندې نزدې ده چه واضحه شی.

د پخوانو قومونو انجام:- زورنه او ویره ورکوی او ارشاد فرمائی چه ﴿ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِ﴾ مونږ یویو کس د هغوی په کردارونو باندې اونیول. بیا په طرز د نصیحت فرمائی چه﴿أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَاهُمْ سِنِينَ﴾ ګوره که مونږ څو کاله دوی ته فائده ورکړې وه نو څه اوشو؟ آخر د وعدې د پورا کولو وخت راغلو او دې مال و متاع ورته هیڅ فائده او نه رسوله. مقصد دا چې څه ئې ترکومې پورې بیانوی.اوچې کوم مضمون شروع کړی هغه کمال ته رسوی او رنګ په رنګ فصاحت اوبلاغت ، حلاوت او حکمت نه ډک دې.

دقران پاک احکام:- داحکامو روک ټوک اوګورئی،هرحکم ښه یا بد ،دنفع او پاکوالی جامع ، هر ممانعت ، قباحت ، رزالت ،دنائت اودخباثت قاطع دې. د حضرت ابن مسعود ﷺ وغیره اسلافو قول دې چه کله قران پاک کښې ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ اووینئ نو واورئی چه یا به دادنیکئ حکم وی یا به د بدئی نه منع وی . پخپله پروردګار عالم فرمائی﴿يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ﴾ یعنی دنیکوحکم کوی اودبدونه منع کوی،پاک څیزونه لره حلالوی او پلیت څیزونه حراموی،هغه بیړئی چه ددوی په پښو کښې وې،هغه سخت طوق چه ددوی په څټونو کښې وو هغه پرانیزی.

قران او د قیامت بیان:-دقیامت دبیان آیتونه ،دهغه ځائې هولناك منظرونه ، د جنت اود دوزخ بیان ، د رحمتونواوزحمتونو پوره پوره وصف،داولیاءالله دپاره رنګ په رنګ نعمتونه، دالله ﷻ د دښمنانودپاره رنګ په رنګ عذابونه ، چرته بشارت دې ،او چرته ویرول دی، چرته نیکو طرف ته رغبت دې او چرته دبدو نه منع کول دی، چرته ددنیا دزهد طرفته اوچرته د آخرت طرف ته د رغبت تعلیم دې. هم دا هغه ټول آیتونه دی چه نیغه لار ښائی ، بهترینه رهنمائی کوی ، او دالله ﷻ خوښ شریعت طرف ته راوستل کوی او زړونو ته خوشحالی ورکوی اوشیطانی دروازې بندوی او خراب اثرات ختموی.

قران پاک ټولونه لویه معجزه ده:- په صحیح بخاری او مسلم کښې د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائی هرنبی ته داسې معجزې ورکړې شوی دی چه دهغې په کتلو سره خلقو ایمان راوړو او ځما معجزه د الله ﷻ وحی ده یعنی قران پاک دې. ددې وجې ځما امیددې چه ځما تابعدار خلق به د نورو نبیانو په نسبت ډیر زیات وی ([1])ځکه چه دنورو نبیانومعجزې دهغوی سره ختمې شوې خو د نبی کریم ﷺ دا معجزه به تر قیامت پورې باقی وی . خلق به دې ته ګوری او په اسلام کښې به داخلیږی). د نبی کریم ﷺ دافرمان چه ځما معجزه وحی ده چه ماته راکړې شوې ده ، مطلب دادې چه څه دې سره خاص شوې یم .اودا قران پاک ماته ملاؤ شوې دې. چه دا دخپلې معارضې او مقابلې سره ټولې دنیا لره عاجزه کوونکې دې. په خلاف د نوروآسمانی کتابونو چه هغه د اکثرو عالمانوپه نیز ددې وصف نه خالی دی. والله اعلم.

د نبی کریم د نبوت په صداقت اود دین اسلام په حقانیت باندې ددې معجزې نه علاوه نور هم دومره دلائل موجود دی چه د شمیر نه بهر دی. ولله الحمد والمنه.

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب فضائل القران ، باب کیف نزل الوحی واول مانزل:٤٩٨١، صحیح مسلم: ١٥٢)-

Scanned with CamScanner

بعضو متکلمینو دقران پاك معجزې په داسې طریقه بیان کړی دی چه داهل سنت او معتزله په قول کښې مشترك دی. هغوی وائی ① چه یا خو دا قران پاك فی نفسه معجزه ده ، انسان دپاره ممکن نه دی چه ددې په شان جوړ کړی. په ده کښې ددې دمعارضې کولو طاقت او قوت نشته.② یا دا اگر چې ددې معارضه ممکن ده او د انسانی طاقت نه بهر نه ده ، لیکن ددې باوجود د معارضې چلینج ورکولې شی. هغوی په عداوت او دښمنئ کښې د حد نه تیر شوی دی ، هغوی دحق دین ختمولو دپاره هر وخت هرطاقت سره د هرځیز تباه کولو دپاره تیار دی . لیکن دقران پاك معارضه اومقابله دوی نشی کولې. دا دلیل په دې خبره باندې دې چه دا قرآن پاك دالله ﷻ د طرف نه دې او قدرت او طاقت نه باوجود هغه دوی لره منع کوی اود قران پاك مثل پیش کولو نه عاجزه کیږی. نودا بله وجه دومره ښه نه ده خوکه دا هم اومنلې شی نو دې نه هم د قران پاك معجزه ثابتیږی چه په طریقه دتنزل حمایت حق او دمناظرې دخاطره صلاحیت لری.حضرت امام رازی رحمه الله هم د وړو وړو سورتونو په سوال و جواب کښې هم دا طریقه اختیار کړې ده.

قوله تعالی:- وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ

د جهنم خشاك :-د ﴿وَقُوْدُ﴾ معنی خشاك ده ، چه په دې سره اور بلولې شی. لکه لرګی وغیره. په قران پاك کښې یوځائې کښې ارشاد دې چه﴿وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا﴾یعنی ظالمان خلق به د جهنم خشاك وی .او په بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ تاسو اوستامعبودان چه دالله ﷻ نه سوا دی د دوزخ خشاك دی،تاسو ټول به په دې کښې داخلیږئی که چرې هغوی رینبتونی معبودان وې نودې ځائې ته به نه داخلیدې.قرطبی رحمه الله او رازی دې قول ته ترجیح ورکړې ده او وائی چه دګندهک کانړی باندې اور لګیدل څه نوې خبره نه ده په دې وجه مراد ترې هم دا اصنام او بتان دی چه دهغوئ عبادت کولې شی د الله ﷻ د عبادت نه بغیر.خو دا وجه څه وجه نه ده ځکه که اور ګندهک سره بل کړې شی نو ظاهر ده چه ددې اوور ډیر تیز وی. الله ﷻ دې مونږ ددې نه محفوظ اوساتی. آمین .

دجهنم خشاك د رنړو کانړې:-حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه دا کانړی د آسمان اوزمکې پیداکیدو سره په اول آسمان کښې پیدا شوی دی (). (ابن جریر،ابن ابی حاتم مستد)ابن عباس ﷺ ، حضرت ابن مسعود ﷺ ، او نورو څو صحابه کرامو ﷺ نه سدی نقل کړی دی چه په جهنم کښې دا تورخاورئ (کومه چې تروه وی) کانړی هم دی ، چه په دې سره به سختو کافرانو ته عذاب ورکولې شی. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چې ددې کانړ و بدبو دمرداري د بو نه هم زیاته وی. محمد بن علی او ابن جریج هم وائی چه ددې نه مراد دګندهك غټ غټ او سخت کانړی دی. بعضو وئیلی دی چه ددې نه مراد هغه کانړی دی چه هغې نه تصویرونه وغیره جوړولو او بیابه ئې د هغې عبادت کولو. لکه په بل ځائې کښې فرمائی ﴿اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ تاسواوستاسوهغه معبودان چه دالله ﷻ نه سوا دی ، داوور لرګی دی .

حضرت امام قرطبی رحمه الله او امام رازی رحمه الله هم دې قول ته ترجیح ورکړې ده او فرمائی چه (کومه چې تروه وی) کانړو باندې اوور لګیدل څه نوې خبره ده. ددې وجې مراد ترې هم دا اصنام او بتان دی دکومو کانړو چې د الله تعالی نه سوا عبادت دالله شوې دې

د حافظ ابن کثیر رحمه الله رائې: - لیکن دا وجه څه قوی وجه نه ده ځکه چه کله اور د (کومه چې تروه وی) په کانړو سره بل کړې شی نوظاهره ده چه ددې تیزی او حرارت به د معمولی اور نه هم زیات وی ،ددې شغلې وهل او بلیدل به هم ډیرې زیاتې وی. ددې نه علاوه بیا د سلفو نه هم ددې تفسیر هم دا روایت شوې دې. دا شان په دې کانړو باندې اور لګیدل هم ظاهر دی او په آیت کښې مقصود د اور تیزی او

---

[1]) المستدرک ۲۶۱/۲، وسنده صحیح وصححه الحاکم)-

Scanned with CamScanner

ددې د سوزولو بیانول دی او ددې دبیانولودپاره هم په دې ځائې کښې ددې کانړو نه مراد دګندهك کانړی اخستل زیات مناسب دی.ځکه چه ددې اورتیز وی اوپدې سره په عذاب کښې سختی هم وی.په قران پاك کښې دی چه﴿كُلَّمَاخَبَتْزِدْنٰهُمْسَعِيْرًا﴾کله چې شغلې کمې شوې نومونږ به نورې هم زیاتې کړو.
په یوحدیث شریف کښې دی چه هر موذی (ضرری څیز) په اور کښې دې لیکن دا حدیث محفوظ او معروف نه دی.
امام رازی رحمه الله فرمائی چه ددې دوه معنانی دی. ① هغه سړې چه نورو ته تکلیف ورکوی جهنمی دې. ② دویم دا چه هر تکلیف ورکونکې څیز به د جهنم په اوور کښې موجود وی چه دا به جهنمیانوته عذاب ورکوی.
قوله تعالی:- اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ۝
د جهنم تیاری:- ﴿اُعِدَّتْ﴾ یعنی تیار کړې شوې دې ، دې نه مراد په ظاهر هم دامعلومیږی چه دا اوور د کافرو دپاره تیارکړې شوې دې اودا هم کیدې شی چه ددې نه مراد کانړی وی یعنی هغه کانړی چه تیار شوی دی دکافرو دپاره. دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه هم دا قول نقل دې. او په حقیقت کښې په دواړو معنو کښې هیڅ اختلاف نشته دې ځکه چه دکانړو تیارول داوور بلولو دپاره دی اوداوور کانړی تیارول ضرورې دی نو یوبل سره لازم او ملزوم شو. نبی کریم ﷺ فرمائی هر هغه سړې چه په کفر باندې وی دهغه دپاره اوور تیار کړې شوې دې .په دې آیت باندې استدلال کړې شوې دې چه جهنم اوس موجود او پیدا شوې دې ځکه چه د ﴿اُعِدَّتْ﴾ لفظ دې او ددې دلیل کښې ډیر احادیث هم دی.
جهنم اوس هم موجود دې :- یو اوږد حدیث کښې دی چه دجنت او دوزخ مینځ کښې جګړه اوشوه (۱). په بل حدیث کښې دی چه جهنم دالله ﷻ نه ددوٗ ساه ګانواخستلو اجازت اوغوښتلو او ده ته په یخنۍ کښې دیو ساه اوپه ګرمئی کښې دبلې ساه د اخستلو اجازت ورکړې شو (۲)په دریم حدیث کښې دی صحابه کرام رضی الله عنهم فرمائی چه مونږ یو ځل ډیر زوردار آواز واوریدو .د نبی کریم ﷺ نه مو تپوس اوکړو چه دا د څه څیز آواز وو؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اویاکاله مخکښې یو کانړئی په جهنم ته غورزولې شوې وو نن هغه (ویخ) ته اورسیدو(۳)په څلورم حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ د نمر د تندر په وخت مونږ اداکولو په وخت جهنم اولیدو(۴)په پنځم حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ د معراج په شپه جهنم اولیدو اوددې عذابونه ئې اوکتل. داشان نور صحیح اومتواتر احادیث هم روایت شوی دی.
د معتزلوٗ جهالت:- معتزله دخپل جهالت په وجه دا نه منی او ددې نه خلاف وائی او قاضی اندلس منذر بن سعید بلوطی هم ددوی سره موافقت کړې دې.
د سورت جوړولو اعلان:- یادساتل پکار دی چه په دې ځائې او په سورت یونس کښې وئیلې شوی دی چه هم یو سورت ددې پشان راوړئی شامل دی. وړوکې او لوئې هر سورت ته ددې وجې چه دعربئی قواعدو مطابق چه کوم اسم نکره وی او دشرط په طور راوړې شوې وی نوهغه دعمومیت فائده ورکوی لکه څنګه چه نکره دنفی لاندې داستغراق فائده ورکوی. نو په لوئې او وړوکې هر سورت کښې اعجاز دی. او په دې خبره باندې د سلفواو خلفو اتفاق دی.
امام رازی رحمه الله په خپل تفسیر کښې لیکی که څوك اووائی چه دسورة لفظ کښې سورة کوثر او سورة العصر او سورةالکافرون واړه واړه سورتونه هم شامل دی ،اودا بالکل یقین سره معلوم دی چه ددې په

---

[۱]) صحیح بخاری : کتاب التفسیر باب قوله تعالی (وتقول هل من مزید) : ٤٨٥٠، صحیح مسلم: ٢٨٤٦)-
[۲]) صحیح بخاری : کتاب المواقیت الصلاة باب الیراد بالظهر ف شدة الحجر: ٥٣٨، صحیح مسلم: ٦٢١)-
[۳]) صحیح المعلم کتاب الجنة باب جهنم اعاذنا الله منها: ٢٨٤٤)-.
[۴]) صحیح بخاری : کتاب الکسوف باب صلاة الکسوف جماعة : ١٠٥٢، صحیح مسلم: ٩٠٧)-.

Scanned with CamSc

شان یا دې ته نزدې څه سورت جوړول ممکن دی،دې ته د انسانی طاقت نه بهر وئیل یو وړوه شان هټ دهرمی او بې خایه طرفداری ده. نومونږ به جواب ورکوؤ چه مونږ ددې د معجزې دوه طریقې بیان کړی دی او دویمه طریقه مو خوښه کړې ده. مونږ وایو چه واړه سورتونه هم په فصاحت اوبلاغت کښې ددې برابر دی چه دې ته هم معجزه وئیلې شی اوددې تعارض ممکن نه دې نو مقصودحاصل شو ځکه چه باوجود پداسې سورتونو باندې د انسان د جوړولو طاقت کیدل او بیا هم د ډیرو سختو کوششونو اوسختې دښمنئ نه باوجود ددې نه جوړل نو اددې قرآن پاک دپاره صفا دلیل دې چې دا قران پاك ا و دې واړه واړه سورتونه معجزه دې.

دا خو دامام رازی رحمه الله کلام دې. خو صحیح قول دادې چه د قرآن پاك هر وړوکې اولوئې سورت فی الواقع معجزه دی. او انسان ددې نظیر جوړولو نه محض عاجزه اوبالکل بې طاقت دې. حضرت ا مام شافعی رحمه الله فرمائی که خلق غور اوتدبر او عقل سره صرف سورت العصر باندې پوهه شی نو د ټولو دپاره داکافی دې.

دعمربن العاص رضی الله عنه د کفر په حالت کښې د سورة کوثر د اعجاز اقرار:- حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه چه کله په وفد کښې مسیلمه کذاب لره ورغلو اوتر اوسه پورې دې لا پخپله هم مسلمان شوې نه وو نودهغه نه ئې تپوس اوکړو چه تاسو د مکې نه تشریف راوړئی ،نن سبا په مکه معظمه کښې څه نوې وحی نازله شوې ده ؟ هغه اووئیل چه اوس اوس یو مختصر نوې سورت نازل شوې دې چه ډیر زیات فصیح ، بلیغ او جامع اومانع دې. بیائې ورته سورت العصر تلاوت کړو نومسیمله څه وخت سوچ اوکړو او ددې په مقابله کښې ئې اووئیل چه په ماباندې اوس اوس یو سورت داشان نازل شوې دې . هغه اووئیل چه ته هم اووایه نوهغه اووئیل چه ﴿یاوبریاوبر انما انت اذنان وصدروسائرك حقرفقر﴾ یعنی انې ځنګلی مړه انې ځنګلی مړه ستا وجود د دوؤ غوږونواو سینو نه سوا هیڅ نه دې. باقی سراسر ته ناچیزئې. بیا ئې په فخر سره اووئیل چه اووایه انې عمرو څنګه مې اووئیلو؟ هغه اووئیل ځمانه څه له تپوس کوې دا خو تاته پخپله معلوم دی سراسر کذب اوبهتان دې. چرته دا فضول کلام او چرته هغه حکمتونو والا کلام.

وَبَشِّرِ	الَّذِيْنَ								
	اوزیرې ورکړه		هغه خلقو ته						
	او ایمان راوړئ دې هغوئ ته								
اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ	اَنَّ	لَهُمْ	جَنّٰتٍ				
چې ایمان ئې راوړې	او	عمل ئې	نیك	بیشکه چې	دی دهغوئ دپاره		باغونه		
زیرئ ورکړه چاچې	اودنیکئ کارونه کوی	هغوی لره داسې باغونه تیار کړې شوی دی							
تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ ط	كُلَّمَا	رُزِقُوْا	مِنْهَا	مِنْ ثَمَرَةٍ			
بهیږی به	لاندې دهغې	نهرونه	هرکله چې	ورکړې شی هغوئ ته	ددغه باغونو نه	څۀ میوه			
چې دهغې دونواومانړو	لاندې همیشه ولې بهیږی	هرځلې چې دوئ ته د خوراک دپاره ددې باغونونه څه میوه							
رِّزْقًا لا	قَالُوْا	هٰذَا	الَّذِيْ	رُزِقْنَا	مِنْ قَبْلُ لا				
دپاره دخوراك	انو اوبه	وایئ	چې دا	هغسې میوې دی	چې راکړې شوې وې مونږ ته	وړاندې د دې نه			
ورکړې شی	نودوئ به وائ	چې داخوهغه (رنګ)	میوه ده چې مونږ ته پخوا	په دنیا کښې	راکولې شوه				

Scanned with CamScanner

وَأُتُوا	بِهِۦ	مُتَشَٰبِهًا ۖ	وَلَهُمْ	فِيهَآ
اوورکولی به شی هغوئ ته	ادغه میوی	دیوبل پشان	اووی به دهغوئ دپاره	په هغې کښې
اودامیوې به ورته هم شکل ورکولې شی	اودوی ته به په دغه باغونو کښې پاکدامنې جوړې ورکولې شی			

أَزْوَٰجٌ	مُّطَهَّرَةٌ ۖ	وَهُمْ	فِيهَا	خَٰلِدُونَ ﴿٢٥﴾
بیبیانې	پاکې	اووی به هغوئ	په هغې کښې	همیشه
(یعنی بیبیانې اود جنت حورې) اودوی به همیشه دپاره په هغې کښې وی				

قوله تعالی:- وَبَشِّرِ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ

ایمان دارو ته د جنت زیرې:- مخکښې دکافرانواو ددین ددښمنانو سزا او عذاب اودهغوی درسوائی ذکر وو ددې وجې په دې مقام کښې د ایمان دارو او نیك صالحو خلقو داجر اوثواب اوکامیابئ بیان کیږی د قران پاك مثانی کیدو یو معنی دا هم ده او صحیح قول هم دا دې چه په دې کښې هر مضمون تقابلی جانزې سره بیان کړې شوې دې. ددې تفصیلی بیان به هم څه خاص موقعه باندې راشی. مطلب دادې چه دایمان سره کفر او دکفر سره دایمان ، دنیکو سره دبدو او بدو سره دنیکو ذکر راتلل ضروری دی. چه کوم څیز بیان کیږی دې سره دهغې دمقابلې دځیز ذکر رازی. دیو څیز ذکر کولو سره دهغې مثال هم بیان کړې شوې دې. دامعنې د ﴿مُتَشَٰبِهًا﴾ کیدو او دا دواړه لفظونه دقران پاك په اوصافو کښې راغلی دی ، دې ته مثانی هم وئیلې شوی دی اومتشابه هم وئیلې شوی دی.

قوله تعالی:- أَنَّ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَٰرُ

دجنتو لاندې د نهرونو بهیدلو مطلب:- د جنتونولاندې نهرونه بهیدل ،ددې د ونو او بالاخانو لاندې بهیدل دی. حدیث مبارك کښې دی چه نهرونه بهیږی خو ددې کنده نشته دې . حدیث مبارك کښې دی چه دکوثرنهردواړو طرفونوته د غموپشان دې ، ددې ښاوره خالص مشك دی او ددې کانړی ملغلرې او جواهردی(۱) الله ﷻ دې په خپل فضل وکرم سره مونږته دانعمتونه راکړی اوهغه احسان کولووالا او لوئې رحیم دې. حدیث مبارك کښې دی چه دجنت نهرونه دمشکی غرونو لاندې بهیږی (ابن ابی حاتم)

قوله تعالی:- وَأُتُوا بِهِۦ مُتَشَٰبِهًا

د میوو یوبل سره مشابه کیدل:- حضرت عبدالله ﷺ نه هم دا روایت دې. دجنتیانو دا قول چه دا مونږ ته مخکښې راکړی شوی وو ،دې نه مراد دادې چه په دنیا کښې هم دا میوې ملاؤ شوې وې. صحابه کرام او ابن جریر رحمه الله هم ددې قول تائید کوی. بعضې وائی چه مطلب دادې چه مونږ ته ددې نه مخکښې یعنی پرون هم دا راکړی شوې وې. دا په دې وجه چه په ظاهری شکل وصورت کښې به دا بالکل مشابه وی، یحیی بن کثیر رحمه الله وائی چه یو پیاله به راشی هغه به اوخکی ، بیا به بله پیاله راشی نو وائی به چه دا خو مو اوس اوخکله .فرښتې به ورته وائی اګر چه داپه شکل وصورت کښې یوشان دی لیکن مزه ئې بدله ده.

فرمائی چه دجنت وانبه زعفران دی اوددې ډیرئی مشك دی . واړه واړه ښکلی غلمان د یو خوا بل خوا نه به میوې راوړی او پیش کوی به ئې اودوی به ئې خوری ،بیا به دوی ته پیش کولې شی نووائی به چه دا خو مو اوس اوخوړلې. هغوی به جواب کښې فرمائی حضرت رنګ او شکل خو ئې یو دی لیکن خوند ئې نور دې،دا تاسواوخکئ اواوګورئی نو خوند به درکړی. هم دا معنی ده چه هم شکل به راوړی. ددنیا میوؤ سره به صرف نوم او شکل وصورت کښې یو شان وی خوددې نه به ئې خوند بیل وی.

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب الرقاق: باب : فی الحوض: (۶۵۷۱)-

دابن عباس ﷺ قول دي چه صرف نوم کښې مشابهت دي ګڼې چرته ددنيا څيز اوچرته د جنت د نعمتونو خوانچه ؟ په دې مقام صرف نوم دي. دعبدالرحمان ﷺ قول دي چه ددنيا دميوو په شان ميوې چه اوګورې نو وائې به چه دا خومونږ په دنيا کښې خوړلې دی خوکله چه نې اوخورې نو خوند به نې څه نور وی.

قوله تعالى:- وَلَهُمْ فِيهَآ أَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ

دجنت بيبيانې:-په هغه ځائې کښې به چه دوی ته کومې بيبيانې ملاويږي هغوی به دګندګنی،ناپاکئی ،حيض ، نفاس ، ميتازو ، توکانړو ، خړينګ اومنيۍ وغيره نه بالکل پاکې وی .يو قول دي چه حضرت حواعليها السلام هم مخکښې دحيض نه پاکه وه ، ليکن د نافرمانئی په وجه ورته دا بلا ورپيښه شوه. خوداقول دسند لحاظ سره غريب دي(۱).

په يو غريب او مرفوع حديث کښې دی چه حيض ، غټ اودس ماتئی او خړينګ نه به پاکې وی. حاکم دي حديث ته صحيح او د شيخينو په شرط باندې ئې وائی. ليکن دا دعوی صحيح نه ده ،ددې يو راوی عبدالرازق بن عمربزينی دي چه دې ابو حاتم د احتجاج قابل نه دي ګڼړلې. په ظاهره دا معلوميږی چه دا مرفوع حديث نه دي بلکه د حضرت قتاده ﷺ قول دي . والله اعلم.

قوله تعالى:- وَّهُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ

ددې ټولونعمتونو سره دي زبردست نعمت ته اوګورئی چه نه به نعمتونه فنا شی او نه به دنعمتونو والا اونه به نعمتونه د دوی نه اخستلې شی او نه به دوی د نعمتونو نه جدا کولې شی. نه به په مرګ سره خاتمه وی او نه آخرشته. نه ماتيدل او نه کميدل شته. دالله رب العالمين جواد الکريم او براو رحيم نه درخواست دي چه هغه پاک مالک دي مونږ داهل جنت په زمره کښې شامل کړی او هم هغوی سره دي زمونږ حشر اوکړی . آمين.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ	
بيشکه الله شرم نۀ کوی	
بيشکه الله پدې نه شرميږی	
أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا	
چې بيان کړی مثال ديو ماشی يازيات سپک دهغه نه نو هغه خلق چې ايمان ئې راوړې دې	
چې يومتل بيان کړی که هغه دماشی وی اوکه د ماشی نه هم کم وړوکې څيز وی نومؤمنانو خو په دې	
فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا	
پوهيږی هغوی چې دامثال احق دي دطرفه درب دهغوی نه اوکوم خلق چې نۀ منونکی دی	
ډيرښه پوهيږی چې دامتل په ربنتيا دالله دطرفنه دي (چې مونږ پرې پوهوی) پاتې شوکافران	
فَيَقُولُونَ مَاذَا أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا	
نو هغوی وائی چې څه اراده کړی ده الله په دې مثالونو سره گمراه کوی په دې سره ډير خلق	
نوهغوی وائی چې په داسې متل وئيلو کښې دالله څه مطلب دي په داسې متلونوسره الله ډيرگمراه کوی	

۱) داسرائيليات لمدي ، عبدالرحمان بن زيد بن اسلم)-.

Scanned with CamSc

وَيَهْدِيْ بِهٖ كَثِيْرًا ؕ وَمَا يُضِلُّ بِهٖٓ اِلَّا الْفٰسِقِيْنَ ۙ﴿۲۶﴾

اوصحیح لارښائی| په دې سره | ډیروته | اونه ګمراه کوی| په دې سره| مګر فاسقان خلق

اوډیروته پرې سمه لار ښائی| اوپه داسې متلونو باندې صرف هغه فاسقان ګمراه کوی |

الَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ۪ وَيَقْطَعُوْنَ مَآ

هغه فاسقان|چې ماتوی| وعده دالله| روستو |دمضبوطوالی دهغې نه| اوپریکوی | هغه |

چې دالله سره په ښه شان سره پخه کړې وعده بیابیا ماتوی| اوهغه تعلقات (خپلولی) پریکوی دکوموچه

اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ

چې حکم کړې دې الله|په هغې سره| چې پیوند دې کړې شی| اوفساد کوی | په زمکه کښې

الله تعالی د ساتلو حکم کړیدې | اوپه ملک کښې فسادونه جوړوي

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۲۷﴾

هم داخلق| په حقیقت کښې تاوانیان دی|

همدا خلق زیات کاران دی (ښه ئې اوپیژنئ) |

دایت شان نزول:- حضرت ابن عباس ﷺ ،حضرت ابن مسعود ﷺ او نور صحابه کرامو ﷺ نه روایت دې چه کله په پورتنی آیت کښې دوه مثالونه دمنافقانو بیان شو یعنی د اوراو داوبو نوهغوی اووئیل چه داسې واړه مثالونه الله ﷻ هیڅ کله نه بیانوی. په دې باندې دا دوه آیتونه نازل شو(۱) حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه کله قران پاک کښې د جولا اودمچئ مثال بیان شو نو مشرکانواووئیل چه دداسې حقیر څیز دبیانولو په قران پاک کښې څه ضرورت وو؟ نو په جواب کښې داآیت نازل شو(۲)

إِنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَحْيِيْٓ اَنْ يَّضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوْضَةً فَمَا فَوْقَهَا ؕ

اواووئیلې شو چه دحق بیان نه الله ﷻ ته شرم نه ورزی که هغه کم وی اوکه زیات وی ، لیکن ددې نه څه داسې معلومیږی چه ګویا دا آیت په مکه معظمه کښې نازل شو حالانکه دا سې نه وو. والله اعلم.

اودبزرګانو نه دا رنګ شان نزول هم روایت دې. ربیع فرمائی چه دا خپله یو مستقل مثال دې کوم چې ددنیا بیان شوې دې ماشئ چه کله اوبې وی نو ژوندې وی کله چه مورِ شو نو مړ شی، داشان دا خلق هم دی کله چه دنیاوی نعمتونه ورته حاصلیږی نو الله ﷻ دوی راونیسی لکه بل خائې کښې فرمائی ﴿فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا بِهٖ﴾یعنی کله چه دوی زمونږ نصیحت هیرکړو نومونږ په دوی باندې دټولو څیزونو دروازې پرانیستې. تردې پورې چه دوی ښه په مزو کښې شو. او اوس یکدم مونږ دوی راونیول (ابن جریر رحمة الله علیه، ابن ابی حاتم رحمه الله)(۳). ابن جریر رحمة الله علیه(۱) رومبې قول خوښ کړې دې. او مناسبت هم ددې زیات ښه معلومیږی،والله اعلم.نومطلب داشو چه دهیڅ وړوکی نه وړکی مثال او د لوئې نه لوئې مثال نه الله ﷻ نه منع کیږی اونه ورته د هغې د بیانولو نه شرم ورځی.

د ،،ما،، او ،،بعوضة،، اعرابی تحقیق:- لفظ د "ما "په دې مقام د کمی په معنی کښې دې او د ﴿بَعُوْضَةً﴾ د زبرد بدلیت په بناء باندې دعربئ دقاعدې مطابق دې. چه په ادنی څیز باندې صادق راتلې شی. یا

---

(۱) الطبری: ۱/۳۹۸)-

(۲) الطبری: ۱/۳۹۹)-

(۳) الطبری: ۱/۳۹۸)-

Scanned with CamSc

نکره موصوفه ده او ﴿بَعُوْضَةً﴾ صفت دي. ابن جرير رحمه الله دا خوښوی چې "ما"ماصوله ده او د ﴿بَعُوْضَةً﴾ هم ددې په اعراب سره معرب دي اودعربو په کلام کښې دا په کثرت سره شائع دی چه هغوی " ما " او د «من» په بدله کښې دواړوته اعراب ورکوی ځکه کله دا نکره وی اوکله معرفه، لکه د حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه په شعرونو کښې دی چه:

يكفي بنا فضلا على من غيرنا حب النبي محمد ايانا

يعنی مونږ ته په غيرو باندې صرف دا فضيلت دي چه زمونږ زړونه دنبی ﷺ د محبت نه ډك دی.

اودا هم کيدیشی چه ﴿بَعُوْضَةً﴾منصوب وی او دحرف جار په وجه اوددې نه مخکښې د ﴿بين﴾ لفظ مقدر اومنلې شی.کسائی او فراء هم دا خوښوی. ضحاك رحمه الله او ابراهيم بن عبله رحمه الله ﴿بَعُوْضَةٌ﴾ وائی. ابن جنی رحمه الله فرمائی چه دا به د "ما" صله وی او عائد به حذف منلې شی لکه ﴿ تَمَامًا عَلَى الَّذِيْٓ اَحْسَنَ﴾ کښې ﴿ فَمَا فَوْقَهَا﴾ دوه معنې بيان شوی دی.① يودا چه ددې هم سپك او ردی څيز لکه ديوسړی د بخيلتوب وغيره ذکر اوشی اوبل اووائی چه هغه ددې نه هم زيات دي نو مراد تري داوی چه هغه ددې نه هم زيات پريوتې دي.

کسائی رحمه الله اوابوعبيده رحمه الله فرمائی چه يو حديث کښې راغلی دی که د دنيا قدر او وقعت دالله ﷻ په نيزد ماشی د يو وزر برابر هم وې نو کافر ته به ئې يو ګوټ اوبه هم نه وې ورکړې ()② بله معنی دا ده چه ددې نه زيات لوئې ځکه چه ماشئ نه به وړوکې اوسپك څيز بل څه وی؟ د حضرت قتاده رحمه الله هم دا قول دي. ابن جرير رحمه الله هم دا قول خوښ کړې دي.

په صحيح مسلم کښې حديث دې چه کله ديو مسلمان (بدن) کښې يو ازغې ننوخی يا ددې نه زيات نوپه دي سره هم دده درجې اوچتيږی اوګناهونه ئې رژيږی ()په دې حديث کښې هم دا لفظ ﴿فَمَافَوْقَهَا﴾ دي. نومطلب داشو چه څنګه الله ﷻ ددې لويوړو څيزونو پيدا کولو کښې شرم نه کوی اونه ئې منع کوی نو داشان دا دمثال په توګه بيانولو نه هم هغه ته څه شرم نه ورځی. يو ځائې کښې په قران پاك کښې ارشاد دي چه ائې خلقو ايو مثال بيانولې شی اودې ته ښه غوږ اونيسئ ،چه کوم تاسو دالله تعالی نه سوا بلئ هغه ټول که جمع شی نو يو ماشئ هم نشی جوړولې بلکه که ددوی نه ماشئ څه اوتښتوی نو هغه ترښه هم نشی واپس کولی ،عابد اومعبود ددواړه بې حده کمزوری دی. په بل ځائې کښې ارشاددي چه ددې خلقو مثال چه دالله ﷻ نه سوا نورو لره خپل مددګار بولی د جولا دجالې پشان دی. چه دهغه کور دټولو کوزونو نه زيات کمزوري دي. اوپه مقام کښې الله ﷻ دکلمه طيبه مثال ورکړې دې د پاکې ونې سره چه دهغې جړه مضبوطه او دهغې ښاخونه په آسمان کښې وی او دالله تعالی په حکم سره هروخت ميوې ورکوی. دامثالونه الله ﷻ دخلقو دعبرت دپاره بيانوی. او دناپاکې کلمې مثال د ناپاکې ونې پشان دي. چه په زمکه باندې وی او ددې جړې مضبوطې نه وی او الله ﷻ ايماندار په دنيا اوآخرت کښې په مضبوطې خبرې سره برقرار ساتی. اوظالمان ګمراه کوی الله ﷻ چه څه غواړی هغه کوی. اوپه بل مقام کښې الله ﷻ ددې مملوك غلام مثال پيش کوی چې هغه ته په څه څيز باندې اختيار نه وی. او په بل ځائې کښې د دوؤ سړو مثال الله ﷻ بيان فرمائی چه په دې کښې يو ګونګې او بالکل پريوتې بې طاقته وی چه په خپل مالك باندې بوج وی چه چرته څی نو دخان سره خرابی اوړی او بل هغه چه د عدل اوحق حکم کوی آيا دا دواړه برابريدیشی ؟ په بل مقام کښې دی چه الله ﷻ ستاسو دپاره پخپله مثال بيان فرمائی ، آيا تاسو په خپلو څيزونو کښې خپل غلامان هم شريك او برابر حصه دار ګڼئی؟ اوپه بل مقام کښې ارشاد فرمائی چه دهغه سړی مثال الله ﷻ بيان فرمائی چه دهغه ډير

---

[1]) ترمذی: ابواب الزهد باب ماجاء فی هوان الدنيا....۲۳۲، وهو حسن ،، ابن ماجه: ٤١١٠)-

[2]) صحيح بخاری : كتاب المرضى باب، ماجاء فی كفارة المرض: ٥٦٤٠، صحيح مسلم: ٦٥٦١، ترمذی : ٩٦٥)-

Scanned with CamScanner

شریکان وی . او په بل ځائې کښې الله ﷻ ارشاد فرمائی چه دا مثالونه مونږ دخلقو دپاره بیانوو او په دې باندې صرف (په ښه شان) پوره علم والا پوهیږی.

ددې نه علاوه نور هم ډیر مثالونه په قران پاک کښې بیان شوی دی .بعضې سلف صالحین فرمائی کله چه څه په قران پاک کښې څه مثال اورم او په دې نه پوهیږم نو ماته ژړا راشی ځکه چه الله ﷻ فرمائیلی دی چه دې مثالونو باندې صرف عالمان پوهیږی. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی مثالونه که واړه وی او که لوئې ایماندار په دې باندې ا یمان راوړی او داحق ګنړی اوددې نه هدایت مومی.د حضرت قتاده رحمه الله قول دې چه هغه دا مثال د الله ﷻ کلام ګنړی.د(اَنَّهُ) ضمیر مرجع مثال دې. یعنی مومن دامثال دالله ﷻ د طرفه حق ګنړی اوکافر په دې پسې خبری جوړوی لکه په سورت مدثر کښې دی (وَمَاجَعَلْنَا اَصْحٰبَ النَّارِ ۙ)یعنی مونږ د اورد فرښتو شمیر د کافرانو د آزمیښت دپاره مقرر کړې دی د دې دپاره چې اهل کتاب پرې یقین اوکړی ، ایماندار په ایمان کښې زیات کړی. دې دواړو ډلو ته څه شك نشته دې. لیکن د بیمار زړه خاوندان او کافران وائی چه ددې مثال نه څه مراد دې ؟ دا شان الله ﷻ چه چاله غواړی نو هغه ګمراه کوی اوچا لره چه غواړی نو هدایت ورته کوی. ستا درب لښکرو لره دهغه ذات نه سوا نور هیڅوك نه پیژنی ، په دې مقام کښې هم ددې هدایت او ضلالت بیان اوشو.

اَلَّذِيْنَ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِيْثَاقِهٖ ۠

د الله ﷻ وعدې څوك ماتوی؟: صحابه کرامو ﷺ نه روایت دې چه په دې سره ګمراه کیږی منافق او لار مومی مومن اودا اقرارکوی اودې سره هدایت اوایمان زیاتیږی.(اَلْفٰسِقِيْنَ) نه مرادمنافقان دی.بعضو وئیلی دی چه دې نه کافران مراد دی چه دوی ته پته ده اوبیا هم انکار کوی. حضرت سعد ﷺ فرمائی چه مراد تړې نه خوارج دی . که ددې قول سند حضرت سعد بن ابی وقاص پورې صحیح وی نو مطلب به دا وی چې دا تفسیر معنوی دې ، دا نه چه خوارج دی بلکه دا چه دا فرقه هم فاسقانو کښې داخله ده. چه هغوی نهروان کښې علی کرم الله وجهه باندې حمله کړې وه،دا خلق ددې آیت د نازلیدوپه وخت کښې موجود نه وو.لیکن د خپل بدترین وصف په وجه معنوی طور سره دوی هم فاسقانو کښې داخل دی. دوی ته خوارج په دې وجه اووئیلې شو چه د امام برحق د اطاعت نه وتلی وو او داسلامی شریعت د پابندئی نه آزاد شوی وو.

په لغت کښې فسق وائی د اطاعت او فرمانبردارئی نه وتلوته ، کله چه پوستکې اخوا کړې شی او په دې کښې دننه غوښه راوښکلې شی نوعرب وائی چه (فسقت)مړی ته هم (فویسقه) وائی. ځکه چه دا خپلې سوړې نه راوز ی نو فساد کوی . د بخاری او مسلم شریف په یو حدیث کښې دی چه نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چه پنځه ځناورفاسقان دی،په حرم کښې اود حرم نه دې بهرقتل کړې شی①کارغه ②باخه ③ لړم ④ منړۍ ⑤ تور سپی(). نو لفظ د فسق کافر دپاره او هر نافرمان دپاره دې. لیکن دکافر فسق زیات سخت او زیات خراب دې. په آیت کښې فاسق نه مراد کافر دی. والله اعلم.

ددې لوئې دلیل دادې چه دې نه پس ددوی وصف بیان شوې دې چه دوی دالله ﷻ وعده ماتوی،دهغه پاك ذات فرمان ماتوی ،اوپه زمکه کښې فساد پیدا کوی او دا ټول صفتونه د کافرانو دی. دمومنانو صفتونه خو ددې خلاف وی لکه په سورۀ رعد کښې بیان دې چه (اَفَمَنْ يَّعْلَمُ) آیا هغه سړې چه هغه ته پته ده چه څه ستا د رب طرف نه په تاباندې نازل شوی دی دا حق دی آیا دهغه سړی په شان کیدې شی چه کوم ړوند وی؟ نصیحت خو صرف عقلمند خلق حاصلوی چه کوم دالله ﷻ وعدې پوره کوی. او میثاق نه ماتوی او الله ﷻ چه دکومو کارونو د جوړولو حکم کړېدی هغه جوړوی یعنی یو ځائې کوی اودخپل رب نه ویریږی او د حساب د خرابوالی نه ویریږی .

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب بدء الخلق: باب اذا وقع الذباب فی شراب احدکم:۳۳۱٤ صحیح مسلم: ۱۱۹۸)-

Scanned with CamScanner

مخکښې ارشاد فرمائی چه کوم خلق دالله ﷻ وعدو لره ددې دمضبوطیا نه پس ماتوی او چه دکومو څیزونو د جوړښت حکم الله ﷻ ورکړې دې هغه نه جوړوی او په زمکه کښې فساد پیدا کوی نو د دوی دپاره لعنتونه دی او ددوی دپاره ډیر خراب کوردې. په دې مقام کښې د عهد نه مراد هغه وصیت دې چه کوم الله ﷻ خپلو بندګانوته کړې وو چه په دې کښې د هغه پاك ذات ټول احکامو باندې عمل او د ټولو نافرمانونه بچ کیدل شامل دی. ددې ماتول په دې عمل نه کول دی.بعضې وائی چه ماتوونکی اهل کتاب کافران اومنافقان دی. اوعهد هغه دی چه ددوی نه په تورات کښې اخستلې شوې وو چه دوی به ددې په ټولوعملونو باندې عمل کوی اودحضرت محمد ﷺ اتباع به کوی کله چه حضرت محمد ﷺ تشریف راوړی. نود محمد ﷺ دنبوت اقرار دې اوکړی او څه چې د نبی اکرم ﷺ په ذریعه د الله ﷻ د طرفنه راغلی دی د هغې تصدیق دې اوکړی اوعهد ماتول دا دی چه دوی د حضرت نبی اکرم ﷺ د نبوت او اطاعت نه انکار کړې وو او د عهد د علم باوجود ئې دا پټ کړو او د دنیا مصلحتونو په وجه ئې ددې خلاف اوکړل. امام ابن جریر رحمه الله دا قول خوښ کړې دې. اود مقاتل رحمه الله هم دا قول دې.

قوله تعالی:-وَيَقْطَعُوْنَ مَآ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖٓ اَنْ يُّوْصَلَ وَيُفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ ؕ

د قطع نه مراد:- بعضې وائی چه ددې نه مراد خاص ډله نه ده بلکه شرك ،کفر او نفاق والا ټول په ټوله مراد دی. دعهد نه مراد د خپل توحید اود خپل نبی ﷺ د نبوت اقرار دې چه په دې باندې ښکاره ښې او لوې لوئې معجزې موجود دی او ددې ماتول د توحید اوسنت نه مخ اړول دی ، دا قول ښه دې . زمخشری هم دا قول خوښ کړې دې. هغه وائی چه دعهد نه مراد د الله ﷻ د توحید دمنلو اقرار دې چه په انسانی فطرت کښې د داخلیدونه علاوه په ورځ د میثاق کښې هم منلې شوی دی . فرمائیلې شوی وو چه :﴿ اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ؕ ﴾ یعنی آیا څه ستاسو رب نه یم ؟ نوټولو جواب ورکړې وو چه بیشکه ته ځمونږ رب ئې. بیا چه کوم کتابونه ورکړې شوی وو ، په هغې کښې هم اقرار اخستې شوې وو لکه فرمائی ﴿وَاَوْفُوْا بِعَهْدِىْٓ ﴾خما وعده پوره کړئی څه به هم خپله وعده پوره کړم. بعضې وائی چه ددې نه مراد هغه وعده ده چه د روحونو نه اخستې شوې وه کله چه دوی د حضرت آدم علیه السلام د ملا نه راوویستی شو . لکه فرمائی﴿ وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ ﴾ کله چه ستا رب د آدم اولاد سره وعده اوکړه چه څه ستاسو رب یم او دوی ټولو اقرار کړې وو او ددې ماتول ددې پرینښودل دی. دا ټول اقوال تفسیر ابن جریر کښې منقول دی.

د منافقانو شپږ خصلتونه:- ابوالعالیه رحمه الله فرمائی چه دالله ﷻ عهد ماتول چه دا دمنافقانو کار وو هغه شپږ خصلتونه دی ①په خبرو کښې دروغ وئیل ② وعده خلافی کول③ په امانت کښې خیانت کول ④ د الله ﷻ عهد د هغې د مضبوطیا نه پس ماتول ⑤ الله ﷻ چه دکومو کارونو د یوځائې کولو حکم کړې دې هغه یو ځائې کول ⑥ په زمکه کښې فساد پیدا کول. دا شپږ خصلتونه دهغوی په هغه وخت کښې ظاهریږی کله چه د هغوی غلبه وې او کله چه مغلوب شی نو مخکښې دری کارونه پریږدی او دې نه پس دری کارونه کوی. امام سدی رحمه الله فرمائی چه دقران پاك احکام لوستل ، په دې پوهیدل ، رښتیا وئیل ، بیا نه منل هم دعهد ماتول دی . الله ﷻ چه د کومو کارونو د یو ځائې کولو حکم کړې دې دهغې نه مراد صله رحمی ساتل او د رشته دارئ حقوق ادا کول وغیره دی لکه په بل مقام کښې قران پاك کښې دی چه ﴿ فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ وَتُقَطِّعُوْٓا اَرْحَامَكُمْ ۝ ﴾ یعنی نزدې ده که تاسو زمکې ته واپس شئ نو په زمکه کښې به فساد پیدا کړئی او رشتې به پریکړئی.

قوله تعالی:- اُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ

دکافرانو تاوان:- ابن جریر رحمه الله هم دې ته ترجیح ورکړې ده اودا هم وائی چه دا آیت عام دې. چه ددې د

Scanned with CamScanner

یوخائې کولو او ادا کولو حکم ګران وو ،هغوی دا مات کړو او وې نه کړو ﴿الْخٰسِرُوْنَ﴾ نه مراد آخرت کښې نقصان اوچتول دی لکه د الله ﷻ فرمان دې()چه﴿اُولٰٓئِكَ لَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ﴾ په دې خلقو باندې لعنت دې اوددوی دپاره خراب کور دې. د حضرت ابن عباس ﷺ فرمان دې چه د اهل اسلام نه علاوه نورو ته چه په کوم مقام کښې قرآن پاك ﴿خَاسِرٌ﴾ وئیلی دی په هغه مقام ترې مراد کافر دی او داهل اسلام دپاره په کوم ځائې کښې دا لفظ راغلې دې په هغه ځائې کښې ترې مراد ګناهنګار دی ()

﴿خَاسِرُوْنَ﴾ جمع ده د﴿ خَاسِرٌ﴾چونکه دا خلق په نفسانی خواهشاتواو دنیاوی لذتونو کښې اخته وو او خپل ځانونه ټې دالله ﷻ د رحمت نه لرې کړی وو نو دوی ته نقصان والا اووئیلې شو . لکه هغه سړې چه هغه ته په خپل تجارت کښې نقصان اوشی،دا شان دا کافر اومنافقان هم دی چه کله د رحم اوکرم زیات ضرورت وی یعنی د قیامت په ورځ نو په هغه ورځ په د الله ﷻ د رحمت نه محروم وی.

كَيْفَ	تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ	وَكُنْتُمْ			
ځرنګې	تاسو انکار کوئ دالله نه	اوداحال دا چی وئ تاسو			
	تاسودالله (دوجودنه)ځنګه انکارکولئ شئ ته نه ګورئ چې تاسو				
اَمْوَاتًا	فَاَحْيَاكُمْ	ثُمَّ	يُمِيْتُكُمْ	ثُمَّ	يُحْيِيْكُمْ
مړه	نو به ژوندی کړی تاسو	بیا	به مړه کړی تاسو	بیابه	(دوباره) ژوندی کړی تاسو
مړی وې نوهغه ژوندی کړئ اوس یوځل بیابه تاسومړه کړی اوبیا به مودوباره ژوندی کړی					
ثُمَّ	اِلَيْهِ	تُرْجَعُوْنَ			
بیا به	هغه ته	واپس کیږئ تاسو			
اوبیابه هغه ته واپس شئ					

قوله تعالی:-كَيْفَ تَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا فَاَحْيَاكُمْ

د عدم نه وجود کښې راوستولو والا څوک دې ؟ ددې خبرې ثبوت ورکوی چه الله ﷻ موجود دې اوهغه قدرتونو والا دې هم هغه ذات پیدا کونکې دې او اختیار والادې ، په دې آیت کښې فرمائی چه تاسو دالله ﷻ د وجود نه ځنګه انکار کولې شئ یا هغه پاك ذات سره دبل عبادت ځنګه کولې شئ؟ حالانکه تاسو د عدم نه وجود ته راوستولو والا یو ذات دی لکه فرمائی چه آیا دوی بغیر دڅه ځیزنه پیدا شوی دی ؟ یا دوی په خپله پیدا اشوی دی ؟ یا دوی زمکه آسمان هم پیدا کړې دې ؟ بالکل نه بلکه دا بې یقینه خلق دی .او په بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ حِيْنٌ مِّنَ الدَّهْرِ﴾ یقیناً په انسان باندې هغه زمانه هم راغلی وه چه هغه وخت کښې دې قابل ذکر ځیزنه وو او نور هم دا شان آیتونه دی.

حضرت ابومسعود ﷺ فرمائی چه کافران به وائی چه ﴿قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ﴾ انې الله ﷻ دوه ځل تا مونږ مړه کړو او دوه ځل دې راژوندې کړو ، مونږ دخپلو ګناهونواقرار کوؤ ،ددې نه مراد هم دادی چه په آیت ﴿ وَكُنْتُمْ اَمْوَاتًا﴾ کښې کوم مطلب دې. مطلب دادې چه تاسو دخپلو پلارانو په ملاګانو کښې مړه وئ یعنی څه هم نه وې ،هغه پاك ذات تاسو ژوندی کړئ بیا به تاسو مړه کړی یعنی مرګ به یو ورځ ضرور رازی بیا به هغه ذات تاسو د قبرونو نه راپاسوی. نو دیو حالت مړه کیدو نه دنیا کښې د راتلو نه مخکښې بیا بلې دنیا کښې د مړکیدو اود قبرونو طرف ته ،بیا دقیامت په ورځ دپاسیدو ، دوه ژونده

---

[1]) ابن ابی حاتم : ۱ /۱۰۱)-

[2]) الطبری:۱/٤۱۷)-

Scanned with CamSc

او دوه مرګونه. ابو صالح رحمه الله فرمائی په قبر کښې انسان ژوندې کولې شی. دعبدالرحمن بن زید رحمه الله بیان دې چه حضرت آدم علیه السلام په ملا کښې ئې دوی لره پیدا کړل ، بیا ئې د دوی نه وعده واخستله او په دوی کښې ئې ساه واچوله ، بیا ئې دوی د مور په خیټه کښې پیدا کړل ،بیا ددنیا مرګ په دوی باندې راغلو ،بیا دقیامت په ورځ به دوی لره راپاسوی. لیکن دا قول غریب دې. رومبې قول صحیح دې.

قوله تعالی:- ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ

الله ته واپس کیدل:- ابن مسعود رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنه او دتابعین رحمهم الله یوډلې نه هم دا قول نقل دې. په قران پاك کښې یو بل ځائې کښې دی چه ﴿قُلِ اللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ﴾ اووایه چه الله تعالی تاسوپیدا کړئی بیا ئې تاسومړه کړئی اوبیا به تاسو دقیامت په ورځ راژوندی کوی. ددې کارڅخه تصویرونوبه چه مشرکانوسجدې کولې، قرآن پاك دوی ته مرده اوونیل، فرمائی ﴿أَمْوَاتٌ غَيْرُ أَحْيَاءٍ﴾ داڅول مړه دی ژوندی نه دی. دزمکې باره کښې فرمائی چه ﴿وَآيَةٌ لَّهُمُ الْأَرْضُ الْمَيْتَةُ﴾ ددوی دپاره په مرده زمکه کښې هم زمونږ دصداقت نښې دی چه دا مونږ ژوندئ کړي ده او ددې نه دانې راوزی چه دوی ئې خوری.

هُوَ الَّذِي	خَلَقَ	لَكُم	مَّا			
هم هغه دې	چې پیدا کړے ئې دی	ستاسو دپاره	هغه څیزونه			
الله هغه ذات دې چې ستاسو دفائدې دپاره ئې د زمکې ټول نعمتونه						
فِي الْأَرْضِ	جَمِيعًا	ثُمَّ	اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ	فَسَوَّاهُنَّ	سَبْعَ	سَمَاوَاتٍ
چې په زمکه کښې دی	ټول	بیائې	توجه اوکړه پورته طرفته	نو برابرئې کړل	اووه	آسمانونه
پیدا کړل		بیا ئې د آسمان پیدا کولو اراده اوکړه نواوۀ آسمانونه ئې پیدا کړل				
وَهُوَ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيمٌ				
اوهغه	په هر	څیز	عالم دې			
اوهغه په هرڅه باندې ښه پوهه دې						

قوله تعالی:- ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ فَسَوَّاهُنَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ

د کائناتو تخلیق:- په تیر شوی دی آیت کښې دقدرت ددې دلائلو بیان وو یا څه چه په انسان کښې دننه دی. خکه په دې آیت مبارك کښې دهغه دلائلو بیان کیږی چه کوم د روزمره سترګو په مخکښې دې. ﴿اسْتَوَىٰ﴾ پدې مقام کښې د قصد کولواودمتوجه کیدو په معنی دې ځکه چه ددې بدله ﴿إِلَى﴾ ده .د ﴿فَسَوَّاهُنَّ﴾ معنی صحیح کول او د اووه واړو آسمانونو جوړول ده. ﴿السَّمَاءِ﴾ اسم جنس دې. بیا فرمائی چه دهغه ذات علم په هر څیزمحیط دې لکه په بل مقام فرمائی چه ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ﴾ خبردارهغه څوک چه بې علمه کیدیشی چې هغه خالق وی؟دسورت حم سجده ﴿قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ﴾ لکه چه ددې آیت تفصیل دې. په هغې کښې فرمائی چه آیا تاسو د الله ﷻ نه انکار کوئی ؟ چه هغه پاك ذات زمکه صرف په دوو ورځو کښې پیدا کړه،تاسوهغه پاك ذات سره شریك جوړوئی ؟ چه رب العالمین دې . چه هغه پاك ذات په زمکه کښې مضبوط غرونو د پاسه نه ښخ کړل. هغه ذات په دې زمکه کښې برکتونه او روزئی پیدا کړې او په څلورو ورځو کښې ئې ټول څیزونه د زمکې صحیح کړل. چه په دې کښې د تپوس کونکو دپاره تشفی ده. بیا آسمان طرف ته متوجه شو چه دلوړی په شکل کښې وو ، فرمائی چه ائې زمکې او آسمانا! په خوشحالئ یا خفګان سره راشئ ، نو دواړو اووئیل چه ائې الله ﷻ مونږ خو په خوشحالئ سره

Scanned with CamScanner

راغلی یو. په دوؤ ورځو کښې ئې دا اووه اسمانونه جوړ کړل او په هر اسمان کښې ئې دهغه کار تقسیم کړو اود دنیا آسمان ئې په ستورو سره ښکلي کړو او دوی ئې د (شیطانانو) نه بچ کړو.
مونږ گورو چې د هر عمارت هم دا قاعده ده مخکښې ئې لاندې حصه جوړولې شی اوبیاددې پاسنۍ حصه. مفسیرین حضراتوهم ددې تشریح کوی چه دهغې بیان مخکښې رازی انشاء الله .خو داگنړل پکاردی چه په قران پاك کښې په یو بل مقام کښې فرمائی ﴿ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ ؕ بَنٰهَا﴾ ستاسو پیدائش مشکل دې یا دآسمانونو ؟ الله ﷻ ددې غټوالې اوچت کړو اودائې صحیح کړو او په دې کښې ئې شپه ورځ پیدا کړه ، بیا ددې نه پس ئې په زمکه کښې ددې نه اوبه او خوراك راوویستلو او غرونه ئې په کښې ښخ کړل چه ستاسو او ستاسو د ځناورو دکار ځیزونه دی ، په دې آیت کښې فرمائی چه د زمکې پیدائش دآسمان نه پس دی. نو بعضې بزرگانو خو فرمائیلی دی چه په تیر شوی آیت کښې ﴿ثُمَّ﴾ صرف عطف د خبر دپاره دی ،عطف د فعل دپاره نه دې. یعنی دا مطلب نه دې چه د زمکې نه پس د آسمان پیدائش شروع شو بلکه صرف خبر ورکول مقصود دی چه آسمانونه ئې هم پیدا کړل او زمکې هم. د عربوشاعرانو په شعرونو کښې هم دا موجود دی چه دې آیت ﴿ءَاَنْتُمْ﴾ کښې د آسمانونو پیدا کولو نه پس د زمکې خوررولو او غوړولو بیان شوې دې نوصحیح ده چه مخکښې ئې زمکه پیدا کړه بیا ئې آسمان پیدا کړو بیا ئې زمکه صحیح کړه نو دواړه آیتونه د یوبل نه خلاف نه دی ددې عیب نه دالله ﷻ کلام بالکل پاك دې : حضرت ابن عباس ﷺ نه هم دا معنی بیان کړې شوې ده. فرمائی (یعنی مخکښې د زمکې پیدائش ،بیا دآسمانونو ، البته دزمکې صحیح والئ وغیره دا د دې نه پس شوې دې) حضرت ابن مسعود ﷺ او نور صحابه کرامو ﷺ نه روایت دی چه دالله ﷻ عرش په اوبوباندې وو او هیڅ ځیز ئې نه وو پیدا کړې ، کله چه ئې نور مخلوق لره پیدا کول اوغوښتل نو اوبو نه ئې لوړې اوچت کړو اوهغه اوچت شو او ددې نه آسمان جوړ شو بیااوبه اوچې شوې او ددې نه ئې زمکه جوړه کړه. بیا ئې دا بیله بیله کړه او اووۀ زمکې ئې جوړې کړې. د اتواراوګل دوؤ ورځو کښې دا ټولې اووۀ زمکې جوړې شوې. زمکه په مهې (کب) باندې ده ، مهې هغه دې چه دهغې ذکر د قرآن پاك په دې آیت کښې راغلې دې ﴿ نٓ وَالْقَلَمِ﴾ مهې په اوبوکښې دې او اوبه په صفاة باندې دی او صفاة فرشتو باندې او فرښته په کانړی باندې اودا کانړئ هغه دې چه دهغې ذکر لقمان کړې دې. دا کانړئ په هوا کښې دې . دمهی خوزیدلو سره زمکه خوزیدله نو الله تعالی په دې زمکه باندې غرونه ښخ کړل او زمکه اودریدله . هم دا معنی ده دالله ﷻ دفرمان ﴿ وَجَعَلْنَا فِي الْاَرْضِ رَوَاسِيَ اَنْ تَمِيْدَ بِهِمْ ۪﴾ چه زمکه او نه خوزی مونږ په دې باندې غرونه ښخ کړل ، غرونه د زمکې پیداوار او ونې وغیره دزمکې ټول ځیزونه ئې د نهې او چارشنبې په ورځ پیدا کړل هم ددې بیان ﴿قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ﴾ والا آیت کښې دې بیا آسمان طرفته متوجه شو چه لوړې وو اودې نه ئې آسمان جوړ کړو ،بیا ددې نه ئې اووۀ آسمانونه جوړ کړل دزیارت (جمعرات) او جمعې په دواړو ورځو کښې ، بیا جمعې ته په دې وجه جمعه وئیلې شی چه په دې کښې د زمکې او آسمان پیدائش جمع شو. په هر آسمان کښې هغه پاك ذات فرښتې پیدا کړې اوهغه ځیزونو لره چه دهغې علم دهغه پاك ذات نه سوا بل چاته نشته دی. د دنیا آسمان ئې په ستورو سره ښکلي کړو او دا ئې د شیطان نه دبچ کیدو سبب جوړ کړو او دا ټول ځیزونه ئې پیدا کړل او پروردګار عالم په عرش باندې قرار اونیولو. لکه فرمائی ﴿ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ﴾ یعنی شپږو ورځو کښې ئې آسمان او زمکه پیدا کړل او بیا په عرش باندې برابر شو. بل مقام کښې فرمائی ﴿ كَانَتَا رَتْقًا﴾ یعنی دا دواړه د لوړی نه وو مونږ دا اوشلول او دې سره مو اوبوباندې هر ځیز ته ژوند ورکړو. (تفسیر سدی)

Scanned with CamScanner

ابن جریر رحمه الله فرمائی چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه داتوار نه دمخلوق پیدائش شروع شو. په دوۀ ورځو کښې زمکې پیدا شوې. اوپه دوۀ ورځو کښې ددې ټول څیزونه پیداشو. په دوۀ ورځو کښې آسمان پیدا شو ،د جمعې په ورځ آخری وخت وو نوددې پیدائش ختم شو اوهم په دې وخت حضرت آدم علیه السلام پیدا شو. او هم په دې وخت به قیامت قائمیږی. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائي چه الله ﷻ زمکه دآسمان نه مخکښې پیدا کړې وه ، ددې نه چه کوم لوړې پاس اوختلو نودهغې نه آسمان جوړ کړې شو چه داشان یو باندې اووۀ آسمانونه دی. او زمکې د یو بل لاندې داشان اووۀ دی. ددې آیت نه صفا معلومیږی چه د زمکې پیدائش دآسمانونونه مخکښې شوې دې. لکه سوره حم سجده په آیت کښې چه دی()عالمان هم په دې باندې متفق دی.صرف حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه آسمان دزمکې نه مخکښې پیدا شوې دې . قرطبی رحمه الله په دې کښې توقف کړې دې .د﴿وَالنّٰزِعٰتِ﴾د آیت په وجه دا خلق وائی چه په دې ځائې کښې د آسمان د پیدا کیدو ذکر د زمکې نه مخکښې دې . په صحیح بخاری کښې دی چه کله د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه سوال اوشو نو هغوی جواب اوفرمائیل چه زمکه خو دآسمان نه مخکښې پیدا شوې وه لیکن دې نه پس خوره شوې وه . هم دا جواب مخکښې روستی ټول عالمان ورکوی. د سورت نازعات په تفسیر کښې به ددې بیان راشی انشاء الله . حاصل امر دا دې چه د زمکې خورول او غوړول روستودی. او د﴿ دَحٰهَا ﴾ لفظ په قران پاك کښې دې.اوددې نه پس چه د اوبو اوخوراك وغیره ذکر دې نودا ددې لفظ تشریح ده. چه دکومو کومو د نشوونما قوت په دې زمکه کښې اینبودې شوې وو نوهغه ټول ئې ښکاره کړل. او دزمکې پیداوار او رنګ په رنګ مختلفو شکلونو اومختلفو قسمونو کښې راوختل. داشان په آسمان کښې هم اوسیدونکی او تلونکی ستوری وغیره ئې جوړ کړ ل والله سبحانه وتعالی اعلم.

صحیح مسلم او نسائی کښې حدیث دې چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ خما لاس اونیولو او وې فرمائیل خاوره الله ﷻ د خالی په ورځ پیدا کړه او غرونه ئې داتوار په ورځ او ونې ئې د پیر په ورځ او بدئ ئې د نهې په ورځ او نور د چارشنبې په ورځ او ځناور د جمعرات په ورځ او حضرت آدم علیه السلام د جمعې په ورځ د مازیګر نه پس په آخری وخت کښې د مازیګرنه واخله تر شپې پورې ()دا حدیث په غرائب مسلم کښې دې او امام ابن مدینی رحمه الله او امام بخاری رحمه الله وغیره په دې کښې کلام کړې دې او فرمائیلی ئې دی چه دا د کعب رضی الله عنه خپل قول دې او حضرت ابوهریره رضی الله عنه کعب رضی الله عنه نه دا کلام آوریدلې دې اوبعضو روایت کوونکو دې ته غلطئ سره مرفوع حدیث وئیلې دې ، امام بیهقی رحمه الله هم دا فرمائی.

وَاِذْ	قَالَ	رَبُّكَ	لِلْمَلٰٓئِكَةِ	اِنِّيْ		
او یادکړه کله اچی اووئیل استارب			فریښتوته		چی زۀ	
او(هغه خبره یاده کړه)چې ستارب فرښتوته اووئیل چې خه						
جَاعِلٌ	فِي الْاَرْضِ	خَلِيْفَةً ؕ	قَالُوْٓا	اَتَجْعَلُ	فِيْهَا	مَنْ
جوړونکې یم|په زمکه کښې| یوخلیفه	هغوئ اووئیل|آیا ته جوړوې		په زمکه کښې| هغه څوك		
په زمکه کښې یو نائب جوړوم| هغوئ اووئیل چې(زمونږ ناقص فکروائی چې اسې مخلوق پرې آبادوې						

۱) صحیح بخاری : کتاب التفسیر: سورة حم السجدة)-

۲) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین: باب ابتداء الخق وخلق آدم علیه السلام :۲۷۸۹)-.

Scanned with CamScanner

يُفْسِدُ	فِيهَا	وَيَسْفِكُ	الدِّمَاءَ	وَنَحْنُ نُسَبِّحُ	بِحَمْدِكَ
چې فساد به کوی	په دې کښې	او تویوی به	وینې	اومونږ تسبیح بیانوو	سره د ثنا ستا
چې په زمکه کښې به فساد ونه کوی	او (دیوبل) وینې به تویوی (اوبل خوا)	مونږ هروخت ستا ثناء وایو			
وَنُقَدِّسُ	لَكَ ۖ	قَالَ	إِنِّي	أَعْلَمُ	مَا	لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾
اوپاکي بیانوو	تالره	اوونیل الله	بیشکه زهٔ	پوهیږم	په هغه څیزونو	چې نهٔ پوهیږئ پرې تاسو
اوستاپاکی بیانوو	الله ورته په جواب کښې اوونیل	چې څه په هغه کارونو	نه پوهیږم	چې تاسو پرې		

قوله تعالی:-وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً ۖ

دخلیفه معنی او مقاصد:- دالله ﷻ دې احسان ته اوګورئی چه هغه ذات د حضرت آدم ﷺ د پیدا کولو نه وړاندې فرښتو ته د هغوی ذکر اوفرمائیلو ددې بیان په دې آیت مبارک کښې دې چه اې بنی آدم! تاسو یادکړئی او خپل امت ته ددې خبرورکړه .حضرت ابوعبیده ﷺ خو وائی چه لفظ د (اذ) په دې مقام کښې زیاتی دې. لیکن ابن جریر ﷺ وغیره مفسرین ددې رد کوی،د ﴿خَلِيفَةً﴾ نه مراد دا دې چه دده به بعضې د بعضو جانشین وی پرله پسې او دیو دور نه پس به بل دور وې او داشان به ترزمانو پورې دا سلسله روانه وی لکه په بل ځائې کښې ارشاد فرمائی ﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَٰئِفَ الْأَرْضِ﴾ او فرمائی ﴿وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ ۗ﴾ یعنی تاسو ئې ددې زمکې خلیفاګان جوړکړئی.او په بل مقام کښې فرمائی که مونږ غوښتلې نوفرښتې به مونږ خلیفه جوړې کړې وې. اوپه بل ځائې کښې ارشاددې چه ددوی نه پس ددوی خلیفه یعنی جانشین خراب خلق شو ، په یو شاذ قرات کښې ﴿خَلِيفَةً﴾ هم دی. بعضې مفسرین وائی دخلیفه نه مراد صرف حضرت آدم ﷺ دې لیکن په دې کښې تامل دې. تفسیر رازی وغیره کښې دااختلاف ذکر شوې دې،په ظاهره دا معلومیږی چه دا مطلب نه دې ،ددې یودلیل خو دا فرښتو داقول دې چه دوی به په زمکه کښې فساد پیدا کوی او وینې په تویوی نو ظاهره ده چه هغوی د آدم ﷺ داولاد باره کښې دا فرمائیلی وو خاص د حضرت آدم ﷺ په باره کښې نه وو.

قوله تعالی:-قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ

فرشتو ته د ادم ﷺ د اولاد په زمکه د فساد کولو علم:- اودا خبره ده چه ددې علم فرشتو ته څنګه اوشو؟ یا خو په څه خاصه وجه هغوی ته معلوم شوی وی یاد بشری طبیعت د تقاضې په کتلو سره به ئې دا فیصله کړې وه. ځکه دا فرمائیلې شوی وو چه ددې پیدائش به دخاورې نه وی. اود دې یو وجه دا هم کیدیشی چه لفظ خلیفه مفهوم نه به هغوی پوهه شوی وی چه هغه به فیصله کوونکې او مظالمو نه منع کولووالا اودحرامو اودګناه خبرو کولو نه منع کولو والا وی. او دویمه وجه دا چه هغوی د زمکې مخلوق په رومبنی ځل کتلې وو او قیاس به ئې کړی وی.(ځکه چه وړاندې په زمکه جنات اباد وو او هغوی هم فساد کړې وو)

د فرشتو خبره د اعتراض په وجه نه وه:-دا خبره یاد ساتل پکار ده چه د خبرو داغرض د اعتراض په طور نه وو اونه بنی آدم سره د حسد په طور وو دکومو خلقو چې دا خیال دې هغوی بالکل غلطی کوی. د فرښتو په شان کښې قران عظیم الشان فرمائی چه ﴿لَا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ﴾ یعنی د کومو خبرو د معلومولوچې دوی ته اجازت نه وی هغوی په کښې شوندې هم نه خوزوی. (او داهم ظاهره ده چې د فرښتو طبیعت د حسد نه پاک دې)

قوله تعالی:-وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ

بلکه صحیح مطلب دا دې چه داسوال صرف ددې حکمت د معلومولو او د راز ښکاره کولو دپاره وو چه دا د هغوی دپوهې نه بالاتر وو. دا خو ورته معلوم وو چه په دې مخلوق کښې به فسادیان خلق هم

Scanned with CamSc

وی نو ډیر په ادب سره ئې سوال اوکړو چې ائې الله ﷻ ددې مخلوق په پیدا کولو کښې څه حکمت دې؟ که عبادت مقصد وی نو مونږ ئې کوؤ، که تسبیح او تقدیس اوتحمید مقصد وی نوهر وخت زمونږ په ژبه باندې دا جاری وی. بیا دفساد وغیره نه پاك یو نوې مخلوق چه په دوی کښې به فساد کوونکی اووینه تویونکی هم وی په څه مصلحت سره پیدا کوی؟ نوالله ﷻ دوی ته په جواب کښې فرمائی چه ددې فساد اوخونی کیدونه باوجود دکومو مصلحتونو اوحکمتونو د وجې چه څه دوی پیدا کوم نو هغه ځما په علم کښې دی. ستاسو علم هغې ته نشی رسیدلې. ماته معلوم دی چه په دوی کښې به نبیان علیهم السلام اورسولان علیهم السلام وی،په دوی کښې به صدیقین او شهیدان وی ، په دوی کښې به عابدان، زاهدان ، اولیاء کرام ،ابرار،نیکان ،دالله په دربار کښې مقرب بنګان،عالمان، صالحان،پرهیزګار،دالله ﷻ نه ویریدونکی دالله ﷻ سره محبت ساتلونکی،دالله د احکاموسره سترګو سره منولو والا، ځما د نبیانوعلیهم السلام په ارشاداتو باندې لبیك ویونکی وی. بخاری او مسلم کښې په یو حدیث کښې دی چه د ورځې فرښتې د صبا صادق په وخت کښې رازی اود مازیګر په وخت کښې واپس ځی ،اوپه دې وخت کښې د شپې فرښتې رازی او د صبا فرښتې واپس ځی .راتلونکې چه کله رازی په دې وخت کښې او کله چه ځی نو د سحر اومازیګر په مونځ کښې خلق وینی اودالله ﷻ په دربار کښې دواړه ډلې په سوال اوجواب کښې دا وائی چه تلو نو په مونځ کښې مو اومونډل او چه راتلو نو په مونځ کښې مو اومونډل.()

قوله تعالی:-قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ

هم دا هغه مصلحت دې چه دا فرښتوته فرمائیلې شوی وو چه هغه ماته معلوم دې تاسو ته نه دې معلوم .دا فرښتې ددې څیز دکتلو دپاره لیږلې شی او د ورځې عملونه د شپې نه مخکښې اود شپې د ورځې نه مخکښې الله ﷻ ته پیش کولې شی(۲)غرض تفصیلی حکمت چه د انسان په پیدا کولو کښې وو د هغې باره کښې فرمائی چه داځما په مخصوص علم کښې دی. تاسو ته ددې پته نشته دې. بعضې وائی چه دا جواب د هغوی د قول چه مونږ ستا تسبیح وغیره بیانوؤ کښې وو.نو دوی ته ئې اوفرمائیل چې ماته پته ده یعنی تاسو چه څنګه ګنړئی اوټول یو تله کښې تلئ داشان نه ده بلکه تاسو کښې یوابلیس هم دې. یودریم قول داهم دې چه د فرښتودا هر څه وئیل په اصل کښې ددې مطلب دا وو چه مونږ دې زمکې اولیږلې شو نو په جواب کښې اووئیلې شو چه ستاسو په آسمانونو کښې د اوسیدو مصلحت هم ماته معلوم دی اوماته علم دې چه ستاسو لاتق ځائې هم دا دې. والله اعلم. حسن رحمه الله اوقتاده رحمه الله وغیره وائی چه الله ﷻ فرښتو ته خبر ورکړو. سدی رحمه الله فرمائی چه مشوره ئې واخسته. خو ددې معنی خبر ورکول هم کیدیشی. او که دا معنی ئې نه وی نو بیا دا خبره بې وزنه کیږی

ابن ابی حاتم رحمه الله فرمائی چه رسول کریم ﷺ فرمائیلی دی چه کله دمکې نه زمکه خوره شوه او اوغوړولې شوه نو دبیت الله طواف ټولو نه مخکښې فرښتو اوکړو. او زمکه کښې دخلیفه جوړولو نه مراد مکه کښې خلیفه جوړول دی (۳). داحدیث مرسل دې بیا په دې کښې ضعف دې او مدرج دې یعنی د زمکې نه مراد مکه اخستل د راوی خپل خیال دی .والله اعلم.

په ظاهر خو دامعلومیږی د زمکې نه مراد عام ، ټوله زمکه مراد ده. فرښتو چه کله واوریدل نو تپوس ئې کړې وو چه هغه خلیفه به څوك وی؟ نو په جواب کښې وئیلې شوی وو چه ددوی په اولاد کښې به داسې خلق هم موجود وی چه په زمکه کښې به فساد کوی ،حسد ،بغض او وینه به تویوی. هغه خلیفه

---

۱) صحیح بخاری : کتاب مواقیت الصلاة باب فضل صلاة العصر : ۵۵۵، صحیح مسلم: ۱۳۲)-

۲) صحیح مسلم ، کتاب الایمان باب فی قوله ﷺ ان الله لاینام:۱۷۹)-.

۳) الطبری: ۱۹۹/۱، عن عطاء السائب عن ابن سابط مرسلا)-

Scanned with CamScanner

به په دوی کښې عدل وانصاف کوی او ځما احکام به جاری کوی. نوددې نه مراد آدم ﷺ دې چه دده قائمقام دې. دالله ﷻ اطاعت او مخلوق کښې عدل او انصاف کولو کښې،لیکن فساد کولو او وینه تویولو والا خلیفه نه دې.

خویاد لرئی چه په دې ځائې کښې مراد خلافت دې. یوې زمانې د خلقو نه پس د بلې زمانې خلق راتلل. خلیفه د فعیله په وزن باندې دې،کله چه د یو نه پس بل د هغه قائمقام جوړ شی. عرب وائی (خلف فلان فلانا) (فلانې سړې د فلانې سړی خلیفه جوړ شو). لکه چه په قران پاك کښې دی چه مونږ د دوی نه پس تاسو په زمکه کښې خلیفګان جوړ کړئ چه تاسو څنګه عمل کوئی. او ددې وجې سلطان اعظم ته خلیفه وائی. ځکه چه هغه دمخکښې بادشاه خلیفه وی. ابن اسحاق وائی چه مراد دا دې چه د زمکې ساکن یعنی د آبادولو والا.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه مخکښې په زمکه کښې جنات اوسیدل . هغوی په دې کښې فساد اوکړو او وینې ئې تویې کړې او قتلونه ئې اوکړل. بیا ابلیس اولیرلې شو نوده اوددې ملګرو هغوی په وهلو وهلو سره جزیرو ته اوشړل او غرونو ته ئې اوشړل. بیا حضرت آدم ﷺ ئې پیدا کړو او په زمکه ئې د هغه د اوسیدو قابله کړه. نودوی د مخکښو خلقو جانشین اوخلیفګان شو. نو د فرښتو د قول نه مراد دحضرت آدم ﷺ اولاد دې.کله چه دوی ته اووئیلې شو چه زه په زمکه کښې د دې اوسیدونکې مخلوق پیدا کوم. په هغه وخت کښې زمکه وه لیکن په دې کښې آبادی نه وه .دبعضې صحابه کرامو ﷺ نه روایت دې چه چونکه الله ﷻ دوی ته معلومه کړې وه چه د حضرت آدم ﷺ اولاد به په دې کښې داسې داسې کارونه کوی نو هغوی ددې باره کښې تپوس اوکړو. اودا هم روایت دې چه دجناتو په فساد کولو هغوی د بنی آدم فساد قیاس کړو اودا سوال ئې اوکړو. حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ نه روایت دې چه د حضرت آدم ﷺ نه دوه زره کاله مخکښې جنات په زمکه کښې موجود وو. ابوالعالیه ﷺ فرمائی چه فرښتې د چارشنبې په ورځ پیداکړې شوې او جنات د زیات په ورځ پیدا کړې شو او دجمعې په ورځ حضرت آدم ﷺ پیدا شو.دحسن ﷺ او قتاده ﷺ قول دې چه الله ﷻ دوی ته خبر ورکړې وو چه ابن آدم ﷺ به داسې داسې کوی نوپه دې بناء باندې هغوی وئیلی وو.

ابوجعفر محمد بن علی ﷺ فرمائی سجل نومې یو فرښته ده چه دې سره هاروت او ماروت وو. دې ته هره ورځ درې ځل لوح محفوظ باندې دنظر اچولو اجازت وو. یو ځل دې دحضرت آدم ﷺ د پیدائش د امورو په غور مطالعه اوکړه نو پټ ئې خپلو دواړو ملګرو ته هم ددې خبر ورکړو. اوس کله چه الله ﷻ د خپلې ارادې د ښکاره کول بیان اوفرمانیل نو دې دواړو داسوا ل اوکړو.خو داروایت غریب دې او صحیح منل ئې هم ممکن دی چه ابو جعفر ﷺ دا د اهل کتاب یهود اونصاری نه اخستې وی. بهر حال دایو فضول روایت دې. او قابل تردید دې. والله اعلم.

بیا په دې کښې دی چه دوۀ فرښتو دا سوال اوکړو.دا د قران روانی عبارت نه هم خلاف دی. دا روایت هم روایت شوې دې چه دا ویونکې فرښتې لس زره وې او هغه ټولې اوسیزلې شوې. دا هم اسرائیلی روایت دې او ډیر زیات غریب دې. ابن جریر ﷺ فرمائی چه ددې سوال هغوی ته اجازت ورکړې شوې وو اودا هم وئیلې شوی وو چه دا مخلوق به نافرمان هم وی نو هغوی تعجب سره د مصلحت الهی معلومولو دپاره دا سوال اوکړو نه دا چه مشوره ئې واخستله. انکار ئې اوکړو یا ئې اعتراض اوکړو.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه کله د حضرت آدم ﷺ پیدائش شروع شو نو فرښتو اووئیل ناممکن ده. چې یو مخلوق زمونږ نه زیات بزرګان او عالمان شی. نو په دوی باندې داامتحان راغلو او هېڅوک د امتحان نه بچ نشو. د زمکې او آسمان هم امتحان اخستې شوې وو. او هغوی سرتیټ کړو او دالله ﷻ اطاعت ته ئې غاړه ایښودې وه. د فرښتو د تقدیس او تسبیح نه مراد دالله ﷻ پاکی بیانول او مونځ کول ، بې ادبئ نه بچ کیدل،لوئی عظمت وغیره کول،نافرمانی نه کول(سبوح قدوس) وغیره وئیل دی. د

Scanned with CamSc

قدوس معنی پاك ده ، پاکي زمکي ته مقدس ونیلي شی.د نبی کریم ﷺ نه سوال کیږی چه کوم یوکلام افضل دي؟نبی کریم ﷺ جواب کښې فرمائی چه هغه چه کوم الله ﷻ دخپلو فرښتو دپاره خوښ فرمائیلي دي (سبحان الله وبحمده) ()(صحیح مسلم) نبی کریم ﷺ دمعراج په شپه په آسمانونو کښې د فرښتو دا تسبیح واوریدلو (سبحان الاعلی سبحانه وتعالی)(۲)

دخلیفه انتخاب او ددي دوجوب شرعی حیثیت :- قرطبی وغیره ددي آیت نه استدلال کوی چه دخلیفه مقرر کول واجب دی چه هغه د خلقو د اختلاف فیصله کوی ، ددوی جنګونه ختموی ، دمظلوم نه بدله واخلی ، حدود قائم کړی د بدو نه خلق منع کړی او دوی ته زورنه ورکړی، هغه لوئي لوئي کارونه چه بغیر د امام د انجام نه نشی کیدلی. چونکه دا کارورنه واجب دی او دا بغیر دامام نه نشی پوره کولي . او چه کوم څیز بغیر د واجب نه نه پوره کیږی نوهغه هم واجب وی ددي وجي خلیفه مقرر کول ثابت شو. امامت خو به د قران پاك د ظاهری لفظونو نه ملاویږی لکه څنګه چه د اهل سنت والجماعت د یوي ډلي د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په باره کښې هم دا خیال دي چه دهغوی نوم نبی کریم ﷺ د خلافت دپاره اخستي وو. یا قران اوحدیث کښې دي طرف ته اشاره ده. لکه د اهل سنت والجماعت د خلیفه اول په حقله دا خیال کوی. چه اشارتًا د هغوی ذکر نبی کریم ﷺ دخلافت دپاره کړي وو یا یو خلیفه خپل ځان نه پس بل څوك نامزد کړی. لکه څنګه چه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ حضرت عمر فاروق ﷺ لره خپل جانشین مقرر کړي وو. یائي د صالحانو کمیټی جوړه کړي وی اود انتخاب کار ئي د هغوی په ذمه اچولي وی. لکه څنګه چه حضرت عمر فاروق ﷺ کړی وو. یا اهل حل و عقد (یعنی بااثره سرداران علماء،صلحاء وغیره)د دوی په بیعت باندي اجماع اوکړی.یا په دوی کښې څوك بیعت واخلی نود جمهوروپه نیز دده لازم نیول به واجب شی،امام الحرمین رحمه الله په دي باندي اجماع کړي ده. والله اعلم.
یا څوك سړي په زور او جبر سره خلقو لره خپل ماتحت جوړ کړی. نوبیاهم واجب کیږی چه دده په لاس باندي بیعت اوکړی چه اختلاف او فساد نه وی. امام شافعی رحمه الله په صفا لفظونو کښې ددي فیصله کړي ده ، په دي وخت د ګواهانو د موجودکیدو په وجوب کښې اختلاف دي. بعضي خو وائی چه دا شرط نه دي،اوبعضي وائی چه شرط دي.اودوه ګواهان کافی دی. د جبائی رحمه الله قول دي چه بیعت کولو والا او چه دچا په لاس باندي بیعت شوي وی د دي دواړونه علاوه څلور ګواهان پکار دی لکه څنګه چه حضرت عمر فاروق ﷺ کړی وو چه دشوری شپږ ارکان ئي مقررکړی وو. بیا هغوی عبدالرحمن بن عوف ﷺ ته اختیار ورکړو اوهغوی د حضرت عثمان ﷺ په لاس باندي د باقی څلورو په موجودګئ کښې بیعت اوکړو. په دي استدلال کښې کلام دي. والله اعلم.
د امامت کبری شرطونه:-امام به سړي وی،آزاد به وی ، بالغ به وی ، عقل والا به وی ، مسلمان به وی ، عادل به وی ، مجتهد به وی، بینا به وی ، صحیح سالم به وی په اندامونوباندي، د جنګ د فنونو اود رائي نه به خبر وی، قریشی کیدل به واجب وی. اوهم دا صحیح قول دي. خو هاشمی کیدل او د خطا نه پاکیدل شرط نه دي. دا دوه شرطونه کلك رافضی مقرر کوی.
د فاسق امام د معزوله کولو حکم:- امام که فاسق شی نو هغه معزول کول پکار دی که نه ، په دي کښې اختلاف دي. او صحیح خبره داده چه معزول دي نه کړي شی. ځکه چه په حدیث کښې راغلی دی چه تر کومې پورې په کښې ښکاره کفر نه وی کتلي شوي ، چه دهغه د کفر کیدو ستا سره څه ظاهری دلیل وی (۳)داشان امام پخپله خپل ځان معزوله کولي شی یا نه ؟په دي کښې هم اختلاف دي. حضرت حسن

---

۱) صحیح مسلم: کتاب الذکر والدعاء باب فضل سبحان الله وبحمده: ۲۷۳۱)-
۲) مجمع الزوائد : ۸۷/۱)-.
۳) صحیح بخاری : کتاب الفتن باب قول النبی ﷺ سترون بعدی امور تنکرونها: ۷۰۵۶، صحیح مسلم: ۱۷۰۹)-

Scanned with CamScanner

بن علی ﷺ خان پخپله معزوله کړې وو. او امامت نې حضرت امیر معاویه ﷺ ته ورکړې وو، لیکن دا دعذر په وجه وو چه په دې باندې دهغه تعریف اوکړې شو.

په یو وخت کښې یو امام جوړیدې شی:-په مخ دزمکې یو نه زیات امامان په یو وخت کښې نشی کیدلې.نبی کریم ﷺ فرمائی کله چه ستاسو کارجمع شی اوس یو کس راشی اوستاسو مینځ کښې جدائی راوستل غواړی نوهغه قتل کړئی که هرڅوك وی (۱).

د جمهورو هم دا مذهب دې او ډیرو بزرګانو نه په دې باندې اجماع شوې ده. چه په هغوی کښې یو امام الحرمین رحمه الله دې. دکرامیه (شیعه) قول دې چه په یو وخت کښې دوه او زیات امامان کیدیشی. لکه څنګه چه حضرت علی ﷺ او حضرت امیر معاویه ﷺ دواړه د اطاعت لائق وو. دا ډله وائی چه کله په یو وخت کښې دوه یا دزیاتو نبیانوراتلل جائزدی نود امامانو جائز کیده ولې نه دی؟ د نبوت مرتبه خو یقینًا دامام دمرتبې نه زیاته ده.(لیکن په صحیح مسلم حدیث کښې دی اوداتاسو مخکښې هم لوستلې دې چه نورو لره قتل کړئی ځکه صحیح مذهب هم دادې چه کوم مخکښې بیان شو) امام الحرمین استاد ابواسحاق نه هم حکایت کړې دې چه هغه د دوؤ یا د زیاتو امامانو مقرر کول په هغه وخت کښې جائز ګنړی چه کله دمسلمانانو سلطنت ډیر وسیع وی او ځلورو واړو طرفونوته خور شوې وې او ددوؤ امامانوپه مینځ کښې د ډیروملکونو فاصله وی. امام الحرمین په دې کښې په تردد کښې وو،د خلفاء بنی عباس په عراق کښې اودخلفاء بنی فاطمه په مصر کښې،اود خاندان بنی امیه په مغرب کښې حکومتونه وو.ځما په خیال دهغوی هم دا حال وو.ددې بسط اوتفصیل به انشاء الله په کتاب الاحکام کښې په مناسب مقام کښې رازی.

وَعَلَّمَ	اٰدَمَ	الْاَسْمَآءَ	كُلَّهَا	ثُمَّ	عَرَضَهُمْ	عَلَى	الْمَلٰٓئِكَةِ
اوښودل (الله)	آدم ته علیه السلام	نومونه	دټولو څیزونو	بیائې	وړاندې کړل	هغه	فرشتوته
اوالله آدم ﷺ ته ټول نومونه (دهغه څیزونو) اوخودل (چه ورته ضرورت وو) بیا ئې هغه څیزونه فرښتوته وړاندې کړل							
فَقَالَ	اَنْۢبِـُٔوْنِىْ	بِاَسْمَآءِ	هٰٓؤُلَآءِ	اِنْ	كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ
اوورته ئې اوونیل	اوښایئ ماته	نومونه	ددې څیزونو	که چرې	ایئ تاسو	ریښتنی
اووې ونیل چې اوس ماته ددې څیزونونومونه اوښائې	که تاسو(پخپله دعوی) کښې ریښتونی یئ						
قَالُوْا	سُبْحٰنَكَ	لَا عِلْمَ	لَنَآ	اِلَّا	مَا	عَلَّمْتَنَا	اِنَّكَ اَنْتَ
اوونیل هغوی	پاکی ده تالره	نشته دې علم	مونږ لره	مګر	هغو مره	چې راکړې دې تامونږ ته	بیشکه ته ئې
فرښتواوونیل ائې الله ته پاک ئې مونږ په هیڅ خبر نه یو بغیر دهغې خبرونه چې تامونږ ته خودلی دي	بیشکه ته						
الْعَلِيْمُ	الْحَكِيْمُ	قَالَ	يٰٓاٰدَمُ	اَنْۢبِئْهُمْ	بِاَسْمَآئِهِمْ
په هر څیز پوهه	دحکمت خاوندئې	اوونیل (الله)	اے ادمه	خبر ورکړه دوئ ته	د نومونوددې څیزونو
په هرڅۀ پوهه اودحکمتونومالک ئې	الله اوفرمائیل ائې آدم ته دوئ ته ددې څیزونونومونه اوښایه						
فَلَمَّآ	اَنْۢبَاَهُمْ	بِاَسْمَآئِهِمْ	قَالَ	اَلَمْ اَقُلْ	لَّكُمْ
نوکله چې	هغه خبرورکړوهغوی ته	د نومونودهغه څیزونو	اوونیل (الله)	ایانه ووٴ ونیلی ما	تاسوته
نوهرکله چې هغه فرښتو ته د ټولونومونواوخودل	نو الله ورته اوفرمائیل ولې ماتاسوته نه ووونیلی				

(۱) صحیح مسلم: کتاب الامارة باب حکم من فرق المسلمین: ۱۸۵۲، ابوداود: ۴۷۶۲، نسائی: ۴۱۹۶)-

Scanned with CamSc

إِنِّيٓ أَعۡلَمُ غَيۡبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَأَعۡلَمُ مَا تُبۡدُونَ
چې زۀ پوهيږم	په پټو	دآسمانونو	او دزمکې	اوپوهيږم	په هغه څه|چې تاسو ئې ښکاره کوئ
چې څۀ دآسمانونو اوزمکې په پټورازونو ډيرښۀ پوهيږم |اوستاسوپه سرګنده خبرو اوپه پټوخيالاتو
وَمَا كُنتُمۡ تَكۡتُمُونَ ۝
اوپه هغه څه	چې تاسو ئې	پټوئ	
هم پوهه يم (نوما چه د آدم د پيدائش کومه اراده کړې ده هغه صحيح ده

په فرښتو باندې د حضرت ادم ﷺ دفضيلت وجه :- په دې خائې ددې خبرې بيان کيږی چه الله ﷻ په يو خاص علم کښې حضرت آدم ﷺ ته په فرښتو باندې فضيلت ورکړې دې. داواقعه د فرښتود سجدې کولونه پس ده ليکن دالله ﷻ حکمت چه د حضرت آدم ﷺ په پيدا کولو کښې وو او چه ددې علم فرښتو ته نه وو اودهغې اجمالی بيان په تير شوی آيت کښې اوشو، ددې مناسبت په وجه ئې داواقعه مخکښې بيان کړه اود فرښتو سجده چه ددې نه مخکښې وه هغه ئې روستو بيان کړه. چه دخليفه د پيدا کولو مصلحت او حکمت ظاهر شی او دا معلوم شی چه دا شرافت او فضيلت حضرت آدم ﷺ ته ملاؤ شو دا هغه علم چې فرښتې ددې نه عاجزه وې .

قوله تعالى:- وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا ثُمَّ عَرَضَهُمۡ عَلَى ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ

فرمائی چه حضرت آدم ﷺ ته مو ټول نومونه اوخودل يعنی دده دټول اولاد ،دټولو ځناورو، دزمکې او آسمان،اوچې او لمدې ، آسونه ، خرۀ لوښی،چرندو پرند ،فرښتې ستوری ر وغيره دټولو ځيزونو نومونه ()امام ابن جرير رحمه الله فرمائی چه د فرښتو او انسانانو نومونه ورته معلوم کړې شوی وو. ځکه چه ددې نه پس لفظ د ﴿عَرَضَهُمۡ﴾ رازی. او عقل مندو خلقو دپاره رازی. خودا داسې معقول وجه نه ده چه په کوم ځائې کښې ذی عقل او غير ذی عقل جمع کيږی. په هغه ځائې کښې چه کوم لفظ راوړې شی نو هغه د هوښيارو او عقل مندو خلقو دپاره راوړې شی. لکه قران پاک کښې دی چه ﴿أَنَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٖ مِّن مَّآءٖ﴾ الله ﷻ ټول ځناور د اوبونه پيدا کړی دی چه په دوی کښې بعضې په خيټه باندې کشيږی او بعضې په دوۀ پښو اوبعضې په څلورو پښو ،الله ﷻ چه څه غواړی نو پيدا کوی اوپه هر څيز باندې هغه ذات قادر دې. نو ددې آيت نه ظاهره ده چه غير ذی عقل هم په دې کښې داخل دی خو صيغې ټولې د ذی عقل دی.

ددې نه علاوه ﴿عَرَضَهُنَّ﴾ هم د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ په قرات کښې دی. اود حضرت ابی بن کعب ﷺ په قرات کښې ﴿عرضها﴾ هم دی. صحيح قول دادې چه د ټولو ځيزونو نومونه ورته خودلې شوی وۀ ، ذاتی نومونه هم او صفاتی نومونه هم اودکارونو نومونه هم لکه د حضرت ابن عباس ﷺ قول دې چه د ګورنر نوم ورته خودلې شوې وو.

دقيامت په ورځ شفاعت کبری:- په صحيح بخاری په کتاب التفسير کښې ددې آيت په تفسير کښې حضرت امام بخاری رحمه الله حديث راوړې دې چه نبی کريم ﷺ فرمائی چه ايماندار به د قيامت په ورځ جمع شی او وائی به څه ښه به وې که مونږ څوک سفارشی جوړ کړې وې او الله ﷻ ته مو ليږلې وې. نو دوی ټول به حضرت آدم ﷺ ته ورشی،اوهغوی ته به اووائی چه ته زمونږ د ټولو پلار ئې ، الله ﷻ ته په خپل لاس پيدا کړې،دخپلو فرښتو سجده ئې درته اوکړه ، تاسوته ئې دټولو ځيزونو نومونه اوخودل، ته دالله ﷻ په وراندې زمونږ سفارش اوکړه چه مونږ ددې تکليف نه راحت بيامومو. حضرت آدم ﷺ به ددې په آوريدوسره جواب ورکړی څه ددې قابل نه يم. حضرت آدم ﷺ ته به خپله ګناه ياده شی. تاسو

() الطبری: ۱/۴۵۸)-.

Scanned with CamSc

حضرت نوح ﷺ ته ورشئ هغه رومبې رسول دې چه هغه الله ﷻ د زمکې خلقو ته لیږلې وو. په دې آوریدوسره به ټول حضرت نوح ﷺ ته ورشی هغه به هم دا جواب ورکړی اود الله ﷻ د مرضئ خلاف دخپل ځوئې دپاره به ورته خپله دعا یاده شی او اوبه شرمیږی. او اوبه فرمانی چه تاسو خلیل الرحمن (حضرت ابراهیم ﷺ) ته ورشئ . دا ټول به دوی ته ورشی خو ددې ځائې نه به ورته هم دا جواب ملاؤ شی. هغوی به ورته اوفرمائی چه تاسو حضرت موسی ﷺ ته ورشئ چه هغه سره الله ﷻ کلام کړې دې. اوهغه ته ئې تورات ورکړې وو. په دې آوریدو سره به ټول حضرت موسی ﷺ ته ورشی او دوی ته به دا درخواست اوکړی. خو ددې ځائې نه به ورته هم جواب ملاؤ شی. دوی ته به هم یو سړې بغیر د قصاص وژل یاد شی. او شرمنده به شی او فرمائی به چه تاسو حضرت عیسی ﷺ ته ورشئ هغه دالله ﷻ بنده دې اود هغه رسول دې اوکلمة الله او روح الله دې. دا ټول به جمع شی او حضرت عیسی ﷺ ته به ورشی خو هغوی به هم دا جواب ورکړی چه ځه ددې لائق نه یم. تاسو حضرت محمد ﷺ ته ورشئ چه دهغه ټول مخکښې روستی ګناهونه معاف دی. نودا ټول به ما ته راشی او ځه به د خپل رب نه اجازت اوغواړم اوماته به اجازت ملاؤ شی. ځه به دخپل رب په کتلو سره په سجده کښې پریوزم . ترکومې پورې چه الله ﷻ ته منظور وی نو په سجده کښې به پروت یم. بیا به آواز اوشی سر اوچت کړه سوال کوه هغه به پوره کولې شی ، وایه آوریدلې به شی ، شفاعت کوه هغه به قبلولې شی. ځما دپاره به حد مقرر کړې شی ځه به هغوی جنت ته رسوم اوبیا به راځم. بیا به خپل رب ته ګورم اوداشان سجده به کوم ،بیا به شفاعت کوم ،بیا به حد مقرر کولې شی. هغوی به جنت ته رسوم او په دریم ځل به بیا رازم. بیا په ځلورم ځل به حاضر شم تر دې چه په جهنم کښې هغه خلق به پاتې شی چه کوم قران منع کړی وی او چه دهغوی دپاره همیشه دپاره جهنم واجب شوې وی ()(یعنی شرك اوکفر کولو والا) صحیح مسلم شریف نسائی ، اوابن ماجه وغیره کښې هم د شفاعت دا حدیث موجود دې. په دې حدیث کښې دا جمله هم ده چه خلق به حضرت آدم ﷺ ته اووائی چه الله ﷻ تاسو ته دټولو ځیزونو نومونه خودلی دی .

قوله تعالی:- قَالُوْا سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا ؕ

د فرشتو د خپلې لاعلمئ اقرار :-بیا ئې دا ځیزونه فرښتوته پیش کړل او هغوی ته ئې اوفرمائیل که تاسو په خپل قول کښې ریښتونی یئ چه دټول مخلوق نه زیات علم والا تاسو یئ نویا په دې قول کښې چه الله ﷻ دې په زمکه خلیفه نه جوړوی ریښتونی یئ نو ددې ځیزونو نومونه اوښائی. دا هم روایت دی که په دې خبره کښې ریښتونی یئ چه بنی آدم به په دې زمکه کښې فساد کوی او وینه به تویوی. نوددې نومونه اوښائې. لیکن بهتر قول رومبې دې. ګویا دوی ئې اورټل چه اووائې که تاسو د زمکې دخلافت لائق یئ اوانسانان نه دې نو ، هم تاسو ځما تسبیح خوان یئ او اطاعت ګزار یئ او انسان نه دې،که دا ریښتیا وی نو ددې ځیزونو نومونه چه کوم ستاسو مخکښې دی اوښائی. اوکه تاسوئې نه شئ خودلې نو پوهه شئ چه تاسو ته ددې موجوده ځیزونو نومونه هم معلوم نه دی نو بیا دپاره د نورو ځیزونو په باره کښې به تاسو ته ځه علم وی.

فرښتو چه دا واوریدل نو دالله ﷻ پاکی او لوئی ئې بیان کړه اود خپل علم د کمئ اقرار ئې شروع کړه او وې وئیل چه الله ﷻ تا چې ځومره علم مونږ ته خودلې دې هغه هومره علم مونږ ته شته. انې الله ﷻ ته دټولو ځیزونواحاطه کوونکې صرف ستا علم دې ، ته دهر ځیز پیژندو والا او خپلو ټولو احکامو کښې حکمت والا چې چاته خودنه اوکړې نو هغه هم حکمت نه خالی نه وی. او چه چاته اونکړې نو هغه هم حکمت نه خالی نه وی نو حکمتونو والا او عدل والا ئې.

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب التفسیر سورة البقرة: ٤٤٧٦، صحیح مسلم: ١٩٣، السنن الکبری للنسائی: ابن ما جه: ٤٣١٧)

Scanned with CamScanner

د تسبیح فضیلت:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دسبحان الله معنی دالله ﷻ پاکی ده چه هغه پاك ذات دهري برائی نه پاك دي. حضرت عمر فاروق ﷺ ، حضرت علی ﷺ او نور صحابه کرامو ﷺ نه یو خل سوال اوکړي شو چه د ﴿لااله الاالله﴾ خو مونږ ته پته ده لیکن د ﴿سبحان الله﴾ څه معنی ؟ نو حضرت علی ﷺ جواب ورکړو چه دا کلمه الله ﷻ دخپل ځان دپاره خوښه کړي ده . اوپه دي سره هغه پاك ذات خوشحالیږی اوددي وئیل هغه پاك ذات ته خوښ دی. حضرت میمون ﷺ فرمائی چه په دي کښې دالله ﷻ تعظیم دي او دټولو بدو نه دپاکوالی بیان دي.

کله چه ددوی نه تپوس اوکړي شو نو هغوی اوخودل. چه ستا نوم حضرت جبریل ﷺ دي او ستا نوم حضرت میکائیل ﷺ دي او ستا نوم حضرت اسرافیل ﷺ دي ،تر دي چه د کارغه ، باز وغیره ټول نومونه. کله چه د حضرت آدم ﷺ دا فضیلت فرښتوته معلوم شو نو الله ﷻ اوفرمائیل گورئی ما تاسوته مخکښې نه وو وئیلی چه هم څه د ټولو پټو او ښکاره ځیزونو پیژندونکي یم او په بل مقام فرمائی ﴿وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفَى﴾ که ته په اوچت آواز اووائي (که نه وائي) الله ﷻ د هر پټ او ښکاره ځیزونو پیژندونکي دي او په بل ځائي کښې فرمائی ﴿اَلَّا يَسْجُدُوْا﴾ دا خلق ولي هغه الله ﷻ ته سجده نه کوی چه هغه ته د آسمانونواود زمکې ټولو ځیزونه ښکاره کوونکي دي اوستاسو هر پټ او ښکاره ځیزونه پیژنی. الله ﷻ یوازي یو معبود دي اوهم هغه دعرش عظیم رب دي چه څه تاسو ظاهروئی اوتاسوپټوئی ، هغه ماته معلوم دی. مقصود د فرښتو دا قول چه دي چې په زمکه کښې ادم ولي پیدا کوي ،دوی به په زمکه کښې فساد کوی او وینه به تویوی. دا خو هغه قول وو چه هغوی ظاهر کړي وو. حضرت ابن عباس ﷺ ،حضرت ابن مسعود ﷺ او نور صحابه کرام ﷺ او سعید بن جبیر ﷺ ، مجاهد ﷺ ،سدی ﷺ ، ضحاك ﷺ او ثوری ﷺ نه هم داقول نقل دي. ابن جریر ﷺ هم دا قول خوښ کړي دي. اود ابوالعالیه رحمة الله علیه، ربیع بن انس ﷺ ، حسن ﷺ او قتاده ﷺ قول دي چه د دوی پته خبره ددوی دا خبره وه چه کوم مخلوق هم پیدا کوي مونږ د هغوی نه زیات عالمان او زیات بزرگان یو ، خو دي نه پس ثابته شوه او پخپله هغوی ته هم معلومه شوه چه حضرت آدم ﷺ ته په علم او کرم دواړو کښې فرښتو باندي فوقیت حاصل دي. عبدالرحمن بن زید ﷺ فرمائی چه الله ﷻ فرښتوته اوفرمائیل چه څنگه تاسو ددي ځیزونو دنومونونه بې خبره یئ نوداشان تاسو ته ددي هم پته نشته چه په دوی کښې به بنه او خراب هر رنگه خلق وی ، فرمانبردار به هم او نافرمانه به هم وی ، اوما مخکښې هم لیکلی دی چه زه جنت او دوزخ دواړه ډکوم. لیکن تاسوته ما ددي خبر درنکړو. اوس کله چه فرشتو آدم ﷺ ته ورکړي شوي دا علم اوکتلو نو دده دبزرگئ اقرار ئې اوکړو.

ابن جریر ﷺ فرمائی چه دټولو نه اعلی قول د حضرت ابن عباس ﷺ دي چه د آسمان او زمکې د غیبو علم ،ستاسو د ظاهراوباطن علم ، ددوی د ظاهر اوباطن قول او د ابلیس باطنی مکر اوغرور الله ﷻ ته معلوم وو. په دي کښې د پټولووالا صرف یو ابلیس وو خو صیغه ئې د جمعې راوړه. ځکه چه په عربو کښې دا دستور دي اوددوی په کلام کښې هم دا خبره موندي شی چه دیو یا د بعضو کسانو کار نسبت هم یو ته کوی ،هغوی وائی چه لښکر اووهلي شو یا دوی ته شکست اوشو حالانکه شکست او قتل د یویادبعضو کیږی او صیغه د جمعې راوړي شی. دبنو تمیم یو سړی نبی کریم ﷺ ته د نبي کریم ﷺ د حجري دشانه آواز کړي وو(۱)نوپه قران پاك کښې دهغه بیان په دي لفظونو سره دي چه ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ﴾ چه کوم خلق تاسو ته د حجري دشانه آوازونه کوی. نو اوگورئی آواز کوونکي یو وو او صیغه د جمعې راوړي شوه . دا شان ﴿وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ﴾ کښې هم په خپل زړه کښې بدی پټوونکي صرف یو کس ابلیس وو لیکن صیغه د جمعې راوړي شوه.

---

(۱) احمد:۳/۴۸۸،-

وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ
اویاده کړه کله چې اووئیل مونږ فریښتو ته
او(بیا) مونږ فریښتوته اووئیل
اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ ؕ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ ۫
چې سجده اوکړئ آدم ته انو هغوئ سجده اوکړه خو شیطان اونکړه انکار اوکړوهغه اولوئی ئې اوکړه
چې آدم ته(دمشرئ) سجده اوکړئ انوبغیر د ابلیس نه نوروټولوسجده اوکړه هغه انکاراوکړو اولوئی ئې اوکړه
وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝
اوشو د نافرمانونه
اود کافرانو په ټولګی کښې شمیر شو

قوله تعالی:- وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ

د فریښتو حضرت ادم علیه السلام ته سجده :- دحضرت آدم علیه السلام ډیره لویه بزرګی ذکر کوی او الله ﷻ په انسانانو باندې خپل احسان ظاهره وی او خبر ورکوی چه هغه ذات فریښتو ته حکم اوکړو چه هغوی حضرت آدم علیه السلام ته سجده اوکړی. ددې په دلالت کښې ډیر زیات احادیث دی، یو د شفاعت حدیث اوس بیان شو. په دویم حدیث کښې دی چه حضرت موسی علیه السلام الله ﷻ ته درخواست اوکړو چه ائې الله ﷻ ځما ملاقات حضرت آدم علیه السلام سره ا وکړه ، هغه په خپله هم دجنت نه راووتلواومونږ ئې هم د جنت نه راوویستلو. هر کله چه دواړه پغمبران جمع شو نو حضرت موسی علیه السلام اوفرمائیل ته هغه آدم علیه السلام ئې چه الله ﷻ تاسو په خپل لاس سره پیداکړئی او خپل روح ئې پوك وهلو او خپلو فریښتو باندې ئې تاسو ته سجده اوکړه. ()(آخره پورې) پوره حدیث به نزدې ذکر کړې شی. انشاء الله .

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ابلیس دفریښتو د یوې قبیلې نه وو. چه د اور د شغلونه پیدا شوې وو. د ابلیس نوم حارث وو او دجنت خازن وو او ددې قبیلې نه سوا باقی ټولې فریښتې دنور وې. قران پاك هم دجناتو د پیدائش ذکر کړې دې. اوفرمائی چه(مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ) د اور شغلې چه په تیزئ سره اوچتیږی دې ته (مَارِج) وائی. چه ددې نه جنات پیداکړې شوی وو. او انسان د خاورې نه پیدا کړې شوې وو. په مخ دزمکې دټولونه مخکښې جنات اوسیدل ،هغوی فساد او وینه تویول شروع کړل نوالله ﷻ ابلیس ته دفریښتو لښکر ورکړو ور وې لیږلو ،دې ته جنات وئیلې شی. ابلیس دوی سره جنګونه اوکړل او دوی ئې سمندرونواو جزیرواو غرونوته اوشړل. اودابلیس په زړه کښې دا تکبر پیدا شو چه ماداکار کړې دې. چه بل چا اونه کړې شو. د زړه ددې بدنی علم صرف الله ﷻ ته وو ،کله چه پروردګار عالم اوفرمائیل چه څه په زمکه کښې یو خلیفه جوړوم نو دې فریښتو عرض اوکړو چه بیا داسې خلق ولې پیدا کوې چه د مخکښو خلقو په شان به فساد کوی او وینې په تویوی. نو دوی ته ئې جواب ورکړو چه ما د هغه څه پته ده چه تاسو ته د هغې پته نشته دې. یعنی د ابلیس په زړه کښې چه کوم غرور او تکبردې دهغې علم ماته دې تاسوته ددې خبر نشته .بیا دحضرت آدم علیه السلام خاوره اوچته کړې شوه چه ډیره مزیداره اوښکلې وه. کله چه دده خمیره اوچته کړې شوه نو ددې نه الله تعالی حضرت آدم علیه السلام پخپله پیدا کړو. او تر څلویښتو ورځو پورې هم داشان ډهانچه پرته وه. ابلیس به راتلو او دې ته به ئې لتې ورکولې او کتل به ئې چه دا څه مړه خاوره ده لکه روست څیز وی ،بیا به په دې (ډهانچه) کښې د خلې دسوری نه داخل

() صحیح مسلم :کتاب القدر باب حجاج آدم وموسی علیه السلام : ۲۶۵۲ ، ابوداود: ۴۷۰۲)-

Scanned with CamSc

شو او د روستو سوری په لار به اووتلو اوبیا به ددې په خلاف ورننوتلو. او وئیل به نې چه په حقیقت کښې دا څه څیز نه دې اوکه څه په ده مسلط شم نو دې به برباد کړم او که دې په ماباندې مسلط کړې شی نو څه به بالکل دا نه منم.

په حضرت ادم ﷺ باندې دالله ﷻ احسانات :- بیاکله چه الله ﷻ په دې کښې روح پوک وهلو او هغه د سرد طرفنه لاندې طرفته راغلو نوچه کوم کوم خائې ته اورسیدو نو هغه ځایونه غوښه او وینه شو . کله چه نامه پورې روح راورسیدو نو حضرت آدم ﷺ څپل جسم اوکتلو او ډیر خوشحاله شو او زر پاسیدو لیکن لاندې حصې ته ئې روح نه وو رسیدلې ، ددې وجې پانه سیدو. هم ددې تیزئی بیان په دې آیت کښې دې ﴿وَكَانَ الْإِنْسَانُ عَجُولًا﴾یعنی انسان بې صبره او جلدباز دې. نه خوپه خوشحالئ باندې صبر کولې شی اونه په غم. هرکله چه روح ئې جسم ته اورسیدو نو انټوشې ورته راغلو نو وې فرمائیل چه ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾نوالله ﷻ ورته جواب ورکړو چه ﴿یرحمك الله﴾بیا صرف د ابلیس ملګرو او فریښتو ته اووئیلې شو چه آدم ﷺ ته سجده اوکړئی نو هغه ټولو سجده اوکړه خو ابلیس اونکړه ، هغه نه غرور اوتکبر ظاهر شو.ده او نه منلو او دسجدې نه ئې انکار اوکړو او وې وئیل چه څه دده نه بهتر یم ، دده نه په عمر کښې زیات یم اوددې نه قوی یم اومضبوط یم ، دې دخاورې نه پیدا شوې دې او څه د اور نه جوړ کړې شوې یم. او اوردخاورې نه قوی دې اوپه دې انکار باندې الله ﷻ دې دخپل رحمت نه نا امیده کړو او هم ددې وجې ده ته ابلیس اووئیلې شو. دده د نافرمانئ په سزا کښې دې ئې شیطان جوړ کړو. بیا ئې حضرت آدم ﷺ ته دانسانانو،ځناورو،زمکې،سمندر،غرونو وغیره نومونه اوخودل او دا ئې فریښتوته وراندې کړل چه کومې ابلیس سره وې او د اورنه پیدا کړې شوې وې.

قوله تعالی:- قَالَ اَنْۢبِئْهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ فَلَمَّآ اَنْۢبَاَهُمْ بِاَسْمَآئِهِمْ قَالَ اَلَمْ اَقُلْ لَّكُمْ اِنِّيْٓ اَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَاَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ وَاِذْ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ اِبْلِيْسَ اَبٰى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ

دفرشتو نه تپوس کول:-اوهغوی ته ئې اوفرمائیل چه که تاسو په دې خبره کښې رښتونی یئ چه څه به په دې زمکه کښې خلیفه جوړوم . نوماته ددې څیزونو نومونه اوښایې . کله چه دې فریښتو اوکتل چه زمونږ په مخکنئ خبره الله ﷻ ناراض شوې دې نو وې وئیل چه انې الله ﷻ ته ددې خبرې نه پاك ئې چه ستانه سوابل څوك غیب پیژنی. څمونږ توبه ده او اقرار دې چه مونږ غیب نه پیژنو. مونږ ته خو صرف د هغه څیزونو علم شته دې چه ته راته اوښائې لکه تا ﷻ د ددوی نومونه صرف حضرت آدم ﷺ ته خودلی دی.اوس الله ﷻ حضرت آدم ﷺ ته اوفرمائیل چه ته ددې ټولو څیزونو نومونه اوښائې. نوهغوی اوخودل. نو وې فرمائیل انې فریښتو ! آیا ماتاسوته نه وو وئیلی چه هم زه صرف په آسمانونواو زمکه کښې دټولو څیزونو خبر لرونکې یم بل څوك نشته دې. څه پټ څیزونه داسې پیژنم لکه څنګه چه ښکاره څیزونه پیژنم. یعنی د ابلیس کبراو غرور هم پیژنم حالانکه تاسوددې ټولو نه بې خبره یې. لیکن دا قول غریب دې او په دې کښې ډیرې خامئ دی . که مونږ د بیل بیل بیان اوکړو نومضمون به ډیر اوږد شی.اوحضرت ابن عباس ﷺ پورې ددې سند هم هغه دې چه دچا نه دهغه مشهورتفسیر روایت شوې دې. یو بل اثر هم داشان روایت شوې دې په هغې کښې څه کمې زیاتې شته دې. او په هغې کښې دا هم دی چه د زمکې خاورې اخستلو دپاره حضرت جبریل ﷺ لاړو نو زمکې اووئیل چه څه دالله ﷻ پناه غواړم چې هسې نه ته ځما نه څه کم کړې. هغه واپس لاړو بیا ملك ا لموت راغلو ،هغه هم دا اووئیل خوهغه ورته دا هم اووئیل چه څه هم دالله ﷻ پناه غواړم چه زه د الله ﷻ حکم پوره کولونه بغیر لاړشم. نوهغوی دټولې زمکې نه یویو موټې خاوره واخستله،دخاورې رنګ په بعض ځایونو کښې سور او په بعضو ځایونو کښې سپین وو اوپه څه ځائې کښې تور وو،نو هم په دې وجه د انسانانو رنګونه هم رنګ په رنګ دی. لیکن دا روایت هم د بنی اسرائیلو نه دې،غالبًا په دې کښې ډیرې خبرې د روستو خلقو ملاؤ شوی دی. دصحابی بیان نه دې او که دصحابی قول هم وی نو بیاهم هغوی به دبعضو روستو کتابونو نه احستې وی. والله اعلم.

Scanned with CamSc

ابلیس په خطاب کښې شامل وو:-امام حاکم په خپل مستدرک کښې ډیر داسې روایات لیکلی دی او ددې سند نې په شرط بخاری باندې وئیلې دي ()مطلب دادې کله چه الله ﷻ فرښتو ته حکم اوکړو چه تاسو حضرت آدم ﷺ ته سجده اوکړئ نو په دې خطاب کښې ابلیس هم داخل وو. اګر چه ددوی نه نه وو نو ددوی پشان وو او ددوی په شان کارونه نې کول. ددې وجې په دې خطاب کښې داخل وو. اوبیا نې دنافرمانئی سزا اومونډله. ددې تفسیر به انشاء الله په کان من الجن کښې راشی.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د نافرمانئ نه مخکښې هغه دفرښتونه وو. دده نوم عزازیل وو ، دده استوګنه په زمکه باندې وه او دده اجتهاد اوعمل ډیر زیات وو نو ددې په وجه دده په دماغو کښې غرور وو. او دده دجماعت اودده تعلق د جناتوسره وو ([2])دده څلور وزرې وې. دجنت خازن وو. د زمکې اوآسمان سلطان وو. حضرت حسن ﷺ فرمائی چه ابلیس فرښته نه وه ، دده اصل دجناتو نه دې ، لکه د حضرت آدم ﷺ اصل انس دې ،ددې اسناد صحیح دی .دعبدالرحمن بن زید بن اسلم رحمه الله او شهر بن حوشب رحمه الله هم دا قول دې .

سعدبن مسعود رحمه الله فرمائی چه فرښتو کله جنات اووهل نو بیا ئې دا جنات قید کړی او آسمان ته نې بوتلې وو اوپه هغه ځائې د عبادت په وجه پاتې شو ، حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه مخکښې الله ﷻ یو مخلوق پیدا کړو ،اوهغوی ته نې اووئیل چه حضرت آدم ﷺ ته سجده اوکړې خو هغوی انکار اوکړو نو په دې وجه هغوی اوسیزلې شو ، بیا بل مخلوق نې پیدا کړو اودهغوی هم دا حشر وو ، بیا دریم مخلوق نې پیدا کړو او هغوی د حکم تعمیل اوکړو لیکن دا اثر هم غریب دې. اوددې اسناد هم تقریبا صحیح نه دی. په دې کښې یو راوی مبهم دې ، په دې وجه دا روایت قابل حجت نه دې.د ﴿كَفِرِيْنَ﴾ نه مراد نافرمان دی.د ابلیس شروع هم په کفر او ضلالت باندې وه ،څو ورځې صحیح وو خوبیا په خپل اصلیت راغلو.دسجدې کولو حکم پوره کول دالله ﷻ حکم منل او دالله ﷻ اطاعت کول او د حضرت آدم ﷺ اکرام وو.

ادم ته د سجدې نوعیت:- بعضې خلق وائی چه دا سجده د سلام اوعزت او اکرام وه. لکه څنګه چه د حضرت یوسف ﷺ باره کښې ارشاد دې چه هغوی خپل پلار په تخت باندې کینولو او هغوی ټول په سجده پریوتل. اوحضرت یوسف ﷺ اوفرمائیل چه ائې پلاره هم دا ځما دهغه خوب تعبیر دې چه ځما رب دارښتیا کړو.په مخکښوامتونو کښې سجده کول جائز وو. خو ځمونږ په دین کښې دا منسوخ شوه.

دمعاذ ﷺ نبی کریم ته د سجدې کولو درخواست:-حضرت معاذ ﷺ فرمائی چه ما دشام خلق اولیدل چه هغوی به خپلو سردارانو اوعالمانو ته سجده کوله نو نبی کریم ﷺ ته نې درخواست اوکړو چه تاسو ددې زیات حقدارئ چه مونږ تاسوته سجده اوکړو.نونبی کریم ﷺ اوفرمائیل که ما اجازت کولې چه یو انسان دې بل انسان ته سجده اوکړی نو ښځو ته به مې حکم کړې وې چه خپلو خاوندانوته دې سجده کوی. ځکه هغوی په دوی باندې ډیر زیات حق دار دی.امام رازی دې ته ترجیح ورکړې ده ([3])

بعضې وائی چه سجده دالله ﷻ دپاره وه حضرت آدم ﷺ ورته دقبلې په طور سره وو لکه څنګه چه په قران پاک کښې ارشاد دې چه﴿أَقِمِ الصَّلٰوةَ لِدُلُوْكِ الشَّمْسِ﴾ خو په دې کښې نظر دې او د رومبی قول زیات ظاهر کیدل صحیح دی ځکه چه دهغه د ذات حکم وو. امام رازی رحمه الله هم دې قول ته قوی وئیلی دی او فرمائی چه ددې نه سوا دواړه اقوال ضعیف دی.یو خو دحضرت آدم ﷺ په طور د قبلې چه په دې کښې

---

[1]) حاکم : ۲۶۱/۲، وسنده صحیح وصححه الحاکم ووافقه الذهبی)-

[2]) الطبری:۵۰۲/۱)-

[3]) ابن ما جه کتاب النکاح ، باب حق الزوج علی المراة : ۱۸۵۳، وسنده حسن وصححه ابن حبان (الموارد: ۱۲۹۰) والحاکم (۱۷۲/٤) ووافقه الذهبی)-

Scanned with CamSc

دوی ته څه لوئې شرف نه حاصلیږی. دویم تاویل دا دې چې د سجدې نه مراد عاجزه کیدل دی ددې نه د تندې په زمکه لګول اوحقیقی سجده کول مراد نه دی خو دا دواړه تاویلونه ضعیف دی.

حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه دټولو نه مخکښې هم دا تکبر د ابلیس نه شوې وو. په صحیح حدیث کښې دی چه د چا په زړه کښې دغوښت ددانې هومره هم کبر وی نوهغه به جنت ته نه داخلیږی ، هم د دې تکبر په وجه دابلیس په غاړه د لعنت هار واچولې شو او درحمت نه مایوسه شو دالله ﷻ دغضب لاندې راغلو(۱)په دې ځائې کښې د(کَانَ) معنی (صار)هم اوخودلې شوه لکه ځنګه چه په ﴿ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِيْنَ۝﴾ او په ﴿ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ۝﴾ کښې دی. دشاعرانو په شعرونو کښې هم ددې ثبوت شته دې نو معنی هم داشوه چه هغه کافرشو.ابن فورک رحمه الله وائی چه هغه دالله ﷻ په علم کښې دکافرو نه وو. قرطبی رحمه الله هم دی ته ترجیح ورکړې ده.او په دې ځائې کښې یومسئله بیان فرمائی چه دیوکس دلاس نه څه کرامتونه ښکاره شی نودده دولی کیدو ثبوت نه دی اګر چه بعضې صوفیان او رافضیان ددې خلاف دی. ځکه چه مونږ دیو خبرې د چا دپاره فیصله نشو کولې چه هغه دایمان په حالت کښې الله ﷻ ته ملاو شو.دې شیطان ته اوګورئی ،ولی ئې جوړ کړې وو او فرښته جوړه شوې وه ، لیکن آخر د کفر او کفارو سردار شو ،

خارق عادت د نبوت خاصه نه ده:- ددې نه علاوه داسې خلاف عادت او عقل نه خلاف خبرې چه په ظاهره کرامات په نظر راځی ،اولیاء الله نه سوا د نورو خلقونه هم کیږی بلکه دفاسق ، فاجر،مشرك او کافر نه هم دا ظاهریږی.نبی کریم ﷺ په خپل زړه کښې﴿فَارْتَقِبْ يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ۝﴾ دا آیت مبارك پټ کړواوکله چه ئې دابن صیاد نه تپوس اوکړوچه اووایه ما څه پټ کړی دی؟نوهغه وئیلی وو چه دخان (۲) بعضې حدیثونو کښې دی چه دغصې په وخت کښې به دده بدن دومره پلن شو چه دده په و جه به ټوله لاره بنده شوه. حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه دې اوژولو(۳)د دجال داسې ډیرې خبرې هم په احادیثو کښې واردشوی دی لکه دده دآسمان نه باران ورول،د زمکې نه پیداوار زرغونول، د زمکې د خزانو پسې لګیدل،یو نوجوان وژل اوبیا هغه ژوندی کول وغیره (۴)حضرت لیث بن سعد رحمه الله او حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی که تاسو څوك اووینئ چه په اوبو باندې روان دې او په هواکانو کښې الوزی نو دې ولی مه ګنړئ تر کومې پورې چه دده ټول اعمال او افعال دحدیث مطابق اونه ګورئی. ددې سجدې حکم دزمکې او آسمان ټولو فرښتو ته وو. اګر چه دیو ډلې قول دې چه صرف د زمکې فرښتو ته دا حکم وو. لیکن دا صحیح نه دی. په قران پاك کښې دی چه ﴿فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ۝﴾یعنی دابلیس نه سوا ټولوفرښتوسجده اوکړه .نواول خودجمعې صیغه راوړل اوبیا ﴿كُلُّهُمْ﴾ نه تاکید کول اوبیا ﴿اَجْمَعُوْنَ۝﴾ بیا صرف ابلیس استثناء کول ، د دې څلورو واړو وجوهاتو په وجه صفا ظاهره ده چه دا حکم عام وو. والله اعلم.

وَقُلْنَا	يٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ	اَنْتَ	وَزَوْجُكَ
بیا اووئیل مونږ	اے آدمه وسیږه	ته	اوبی بی ستا
(د دې نه پس) اومونږ حضرت آدم ته اووئیل چې ته اوستا جوړه			

---

[۱]) صحیح مسلم : کتاب الایمان باب تحریم الکبر وبیانه: ۹۱)-

[۲]) صحیح بخاری : کتاب الجنائز باب اذا سلم الصبی فمات....۱۳۵٤، صحیح مسلم: ۲۹۳۰)-

[۳]) صحیح بخاری : کتاب الفتن، باب ذکر ابن صیاد: ۲۹۳۲)-

[۴]) صحیح بخاری : کتاب الفتن باب الذکر الدجال : ۷۱۲۲، صحیح مسلم، کتاب الفتن باب الذکر الدجال: ۲۹۳۷)-

Scanned with CamScanner

الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا ص وَلَا تَقْرَبَا
په جنت کښې اوخورئ دواړه ددې جنت نه پریمانه هرچرته چې مو خوښه وی اومئ نزدې کیږئ
په جنت کښې اوسیږئ او چې دکوم خائې نه موخوښه وی خوراکونه کوئ اوفلانئ ونې ته مه ورنږدې
هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝ فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ
دې ونې ته کنی شئ به تاسو دواړه د ظالمانو نه آخر ولمسول دواړه شیطان
کیږئ (کنی (که میوه مواوخورله نو) په خان به زیاتې اوکړئ نوشیطان دوی دواړو ته د هغې وونې لغزش ورکړو
عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ ص وَقُلْنَا اهْبِطُوْا
دغه ونی ته اوراوې ویستل دواړه دهغه حالت نه چې ووایه هغې کښې اواووئیل مونږ کوز شئ ټول
اودوی نې د هغه نعمتونو نه راویستل چه دوی په کښې وو اومونږورته اووئیل چې (لاندې زمکې ته) کوز شئ
بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ج وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ
ځینی ستاسو به (دپاره دنورودپاره) دشمنان وی اودې ستاسو دپاره په زمکه کښې اخائې داستوګنې اوفائده
(چه کله کوز شئ نو) تاسوبه دیوبل دښمنان یئ اوستاسودپاره د یو مقرر وخته پورې په زمکه باندې
إِلٰى حِيْنٍ ۝
دخاص وخته پورې
اوسیدل دی

قوله تعالی:- وَقُلْنَا يٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ

د حضرت ادم ﷺ اوبی بی حواء جنت ته داخلول:-دحضرت آدم ﷺ دایو بله بزرګی بیانیږی چه په فرښتو سره د سجده کولو نه پس ئې هغه جنت کښې اوساتلو اودهر څیز ئې رخصت ورکړو. د ابن مردویه حدیث کښې دی چه حضرت ابوذر رضی الله عنه یوځل د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ آیا حضرت آدم ﷺ نبی وو؟ نبی کریم ﷺ فرمائی چه آو نبی هم اورسول هم بلکه الله ﷻ دوی سره مخامخ په مخامخ خبرې اوکړې او دوی ته ئې اوفرمائیل چه ته اوستا ښځه په جنت کښې اوسیږئی (دعامو مفسرینو خیال دې چه په آسمانی جنت ئې دوی اوسول. لیکن معتزله او قدریه وائی چه دا جنت په زمکه باندې وو. ددې بیان به په سورة اعراف کښې انشاء الله راشی.

ددې قرآنی عبارت نه هم معلومه شوه چه په جنت کښې داوسیدونه مخکښې حضرت حوا پیدا کړې شوې وه. محمد بن اسحاق رحمه الله فرمائی چه داهل کتابو وغیره عالمانو نه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه یو روایت شوې دې چه په ابلیس باندې د غصې او لعنت کولو نه پس ئې د حضرت آدم ﷺ علم بنکاره کړو او بیا ئې په دوی باندې پرکالې راوستلې شوه اودده د ګسې پوښتئ نه ئې حوا پیدا کړه. هرکله چه دوی سترګې پرانیستې او حضرت آدم ﷺ هغه اوکتلو نو د خپلې وینې اوغوښې په وجه ئې هغې سره محبت پیدا شو،بیا الله ﷻ حضرت آدم ﷺ ته داپه نکاح کښې ورکړه.او دوی ته ئې په جنت کښې دپاتې کیدو حکم ورکړو.بعضې وائی چه حضرت آدم ﷺ جنت ته داخلیدو نه پس حضرت حوا پیدا شوه.دحضرت ابن عباس رضی الله عنه او حضرت ابن مسعود وغیره صحابه کرامونه نقل دی چه د ابلیس د جنت

---

[1]) صحیح ابن حبان (الاحسان : ٦١٥٧، دویمه نسخه: ٦١٩٠) وسنده صحیح)-

Scanned with CamScanner

نه دوتلو نه پس حضرت آدم ﷺ ته په جنت کښې ځائې ورکړې شو خو یوازې وو. نو په دې وجه په خوب کښې د دوی د ګسې پوښتنې نه حضرت حوا پیدا کړې شوه. کله چې بیدار او دانې اوکتله نو تپوس ئې اوکړو ته څوک ئې ؟ او ولې پیدا کړې شوې ئې ؟ حوا اوفرمائیل چه ځه یوښځه یم.اوستاسو دتسکین او ستاسوسره اوسیدو دپاره پیدا کړې شوې یم. نو زر تر ې فرښتوتپوس اوکړو چه ددې نوم څه دې؟آدم ﷺ اوفرمائیل حوا. نوهغوی تپوس اوکړو چه ددې نوم څه وجه ده؟ وې فرمائیل ځکه چه دادیو ژوندی نه پیدا شوې ده. نو هم په دې وخت کښې دالله ﷻ آواز راغلو.چه انې آدم ﷺ اوس ته اوستابی بی دې په جنت کښې په آرام او اطمینان سره اوسیږئی اوچه څه غواړئی نوهغه خورئی اوځکئ.

قوله تعالی:- وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ

دوونې د نزدیکت نه ممانعت:-یو خاص ونې نه منع کول دا د امتحان په طور وو.بعضې وائی چه داد انګوروخیلئ وه.څوک وائی چه دا د غنمو ونه وه ، څوک وائی چه د سنبله وه. څوک وائی چه دا دقجوری ونه وه. څوک وائی چه دا انځر وو. څوک وائی د دې ونې په خوراک سره انسانی حاجت پیدا کیدو او دا په جنت کښې نه وو. څوک وائی چه ددې ونې خوراک سره ژوند همیشه کیدو. ابن جریر رحمه الله فرمانی چه یو ونه وه چه دهغې نه الله ﷻ منع فرمائیلې وه. نه دقران پاک نه ددې تعین ثابت دې اونه په څه صحیح حدیث کښې دی. اویه مفسرینو حضراتو کښې اختلاف دې.اوددې په معلومولو کښې څه فائده نشته اویه نه معلومولوکښې څه نقصان نشته دې. نوپدې کښې مونږ ته دمحنت کولو څه ضرورت دې. الله ﷻ ته ددې ښه علم دې.امام رازی رحمه الله وغیره هم دافیصله کړې ده اوهم داخبره ئې صحیح هم معلومیږی

قوله تعالی:- فَاَزَلَّهُمَا الشَّيْطٰنُ عَنْهَا فَاَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيْهِ

د (عَنْهَا) د ضمیر مرجع:-د ﴿ عَنْهَا ﴾ ضمیر مرجع بعضو جنت ونیلې او بعضو شجره،یو قرات د ﴿ فَاَزَلَّهُمَا ﴾ هم دې. نو معنی ئې داشوه چه ددې جنت نه دوی دواړه بیل شو او دویمه معنی دا شوه چه هم ددې ونې په وجه شیطان دوی لره دهوکه کړل.

قوله تعالی:- وَقُلْنَا اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ

زمکه باندې د انسانی ژوند اعاز :-لفظ د(عن) د سبب معنی کښې هم راغلې دې . دده د نافرمانئ په وجه د ده نه جنتی لباس،هغه پاک کور،هغه پاکه روزی وغیره ټول هر څه واخستلې شو.اودنیا ته راکوز کړې شو. اوورته اووئیلې شو چه اوس به ستاسو رزق وغیره په زمکه کښې وی او تر قیامته پورې به هم په دې کښې یئ. او ددې ځائې نه به فائدې حاصلوئی.د مار اوابلیس قصه،ابلیس څنګه جنت ته اورسیدو او وسوسې وغیره ئې واچولې ،ورې اوږدې قصې په دې مقام کښې مفسرینو نقل کړی دی. لیکن هغه ټول اسرائیلی روایات دی. خومونږ به دا په سورۀ اعراف کښې بیانوؤ. ځکه چې ددې واقعې پوره بیان به هغه ځائې کښې ښه په تفصیل سره وی.

ابن ابی حاتم نه په یو حدیث کښې نقل شوی دی چه د ونې خوړولو سره ترې جنتی لباس اووتلو. خپل خان ئې پخپله بربنډ اولیدلو. یو طرف ته بل طرف ته ئې منډې وهلې. لیکن ددوی قد اوږد وو او دسر ویښته ئې اوږده وو نو دوی یو ونې کښې انخښته. الله ﷻ اوفرمائیل چه انې آدم ﷺ آیا ځما نه تیښته کوې؟ عرض ئې اوکړو نه ، انې الله ﷻ ځه دشرم په وجه مخ پټوم ()او په یو روایت کښې دی چه الله ﷻ اوفرمائیل چه انې آدم ! ځما نه لاړ شه ، ځما دې په خپل عزت قسم وی ځما سره ځما نافرمان نشی اوسیدلې. که زمکه ډکه شی اویه هغوی کښې ستاسوپشان نافرمانه پیداشی اوبیاهغوی ځما نافرمانی اوکړی نو یقیناً څه به هغوی لره دنافرمانو کور ته اورسوم. دا روایت غریب دې ، او ورسره په دې کښې انقطاع ده بلکه معضل هم دې.

---

[1]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۱۳۹ ، دې روایت کښې قتاده ا وحسن مدلس راوی دی ، نودا ضعیف دې)-

Scanned with CamScanner

د آدم ﷺ په جنت کښې وخت تیرول:- حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه حضرت آدم ﷺ د مازیګر نه واخله تر نمر پریوتلو پورې په جنت کښې یو ساعت دپاره وو(۱). حضرت حسن رحمه الله فرمانی چه یو ساعت دیرش کاله وو. ربیع بن انس رحمه الله فرمائی چه په نهم لسم ساعت کښې د حضرت آدم ﷺ اخراج اوشو اودوی سره دجنت یوښاخ وو او دجنت دونې یو تاج ددوی په سر وو.د سدی رحمه الله قول دې چه حضرت آدم ﷺ په هند کښې راکوز شوې وو او دوی سره حجر اسود وو. او ورسره جنتی ونې او پانړې وې چه په هند کښې خواره شو. اوددې نه خوشبو داره ونې پیداشوې. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دهند په ښار وحنا کښې راکوز شوې وو. یو روایت کښې دی چه د مکې او د طائف په مینځ کښې راکوز شوې وو(۲)حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه حضرت آدم ﷺ په هند کښې او مور (حوا) په جده کښې راکوزه شوې وه.او ابلیس دبصرې نه څومیله لرې په دست میسان کښې اوغورزولې شو. اومار اصبهان کښې(۳)دحضرت ابن عمر ﷺ قول دې چه حضرت آدم ﷺ په صفا باندې اوحضرت حواپه مروه باندې راکوز شوی وو.دراکوزیدو په وخت ددوی لاسونه ددوی په څنګونونوباندې وو او سرونه ټې ټیټ وو او ابلیس ګوتې په ګوتو کښې ورکړې وې او دآسمان نه راکوز کړې شو و آسمان ته ټې کتل. حضرت ابوموسی ﷺ فرمائی چه الله ﷻ دوی ته ټولې طریقې خودلې وې. او دسبزیانو توبنه ټې ورکړې وه (۴)یو حدیث کښې دی چه په ټولو ورځو کښې بهترینه دجمعې ورځ ده ، هم په دې ورځ حضرت آدم ﷺ پیدا شوې وو ،هم په دې ورځ جنت ته داخل شوی وو اوهم په دې ورځ راویستلې شوی وو،اوګورئی صحیح مسلم اونسائی (۵).

دامام رازی تحقیق:- امام رازی رحمه الله فرمائی چه په دې آیت کښې په څو وجو غصه او زورنه ده. اول سوچ کول پکار دی په لږه شان غلطئ باندې حضرت آدم ﷺ ته څومره سزا ملاؤ شوه ، یو شاعر څه ښه وئیلی دی که ته په ګناه پسې ګناه کوې اود جنت طالب ټې نو آیا ستانه هیر شو چه ستا پلار په وړه شان ګناه باندې دجنت نه راویستلې شوې وو ، مونږ په دې خائې کښې ددښمن په قید کښې یو چه کله به صحیح سلامت خپل وطن ته واپس شو. فتح موصلی رحمه الله وائی چه مونږ جنتیان وو. دابلیس په قید دنیاته راغلو. اوس په دې خائې سوا دغم او خفګان نه څه پاتې دی . دا تکالیف به هله ختم شی چې کله مونږ هغه خائې ته اورسو چه دکوم خائې نه راویستلې شوی وو.

یواعتراض:- که معترض اعتراض اوکړی چه کله حضرت آدم ﷺ دآسمانی جنت نه راکوز کړې شو. او ابلیس د خپله دره ویشتلې شو نو بیا هغه خائې ته څنګه اورسیدو؟

جواب:- نوددې یو جواب خو دادې چه یو قول داهم دې چه هغه جنت په زمکه باندې وو ،لیکن دې نه علاوه نور هم ډیر جوابونه دی چه دده داخلیدل په طور د اکرام منع وو داهانت او غلا په طور نه وو منع نوپه تورات کښې دی چه هغه دمار په خله کښې ناست وواو جنت ته لاړو اودا هم جواب دې چه هغه جنت ته نه وو تلې. بلکه دبهرنه ده وسوسه اچولی وه. اوبعضو وئیلی دی چه د زمکې نه ټې وسوسه اچولی وه. امام قرطبی رحمه الله په دې مقام کښې دمار په باره کښې اودده دوژلو په باره کښې یوحدیث هم نقل کړې دې چه ډیر مفید او باموقع دې.

---

۱) حاکم:۵۴۲/۲، وسنده حسن صححه الحاکم: ۵۴۳/۲، واتحاف المهرة: ۱۱۱/۱۰، وسنده حسن وصححه الحاکم ووافقه الذهبی)-

۲) ابن ابی حاتم : ۱ /۱۳۱)-

۳) ابن ابی حاتم : ۱ / ۱۳۱)-

۴) حدیث ابی موسی ﷺ حاکم : ۵۴۳/۲، واتحاف المهرة: ۱۱۱/۱۰)

۵) صحیح مسلم ، کتاب الجمعة باب فضل یوم الجمعة : ۸۵۴، ترمذی: ۴۸۸، نسائی: ۱۳۷۳)-

Scanned with CamSc

فَتَلَقَّىٰٓ	اٰدَمُ	مِنْ رَّبِّهٖ	كَلِمٰتٍ	فَتَابَ	عَلَيْهِ ؕ
انو زده کړي	آدم	درب خپل نه	يوځو کلمي	اورجوع اوکړه الله په هغه باندې	
	بيا آدم ﷺ خپل رب د نه (دمعافئ) يو څو کلمي زده کړي	انو الله دده توبه قبوله کړه			

اِنَّهٗ	هُوَ	التَّوَّابُ	الرَّحِيْمُ ۝
بيشکه چې هغه	اډير توبه قبلونکي	اورحم کونکي دي	اووئ
بيشکه الله معاف کوونکئ مهربان دي			

قوله تعالى:- فَتَلَقّٰى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ؕ

د معافئ کلمات :-چه کوم کلمات حضرت آدم ﷺ زده کړی وو دهغې بيان پخپله قران پاک کښې موجود دي.﴿قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ۖ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝﴾يعنى دې دواړو اوونيل چه اې زمونږه ربه مونږ په خپلو ځانونوباندې ظلم اوکړو ، که ته مونږ اونه ببښې او په مونږ باندې رحم اونکړې نومونږ به نقصان کوونکو نه شو.

داکثرو بزرګانو همدا قول دي . حضرت ابن عباس ﷺ نه احکام د حج زده کول هم مروى دى عبيد بن عمير ﷺ وائى چه هغه کلمات دا وو چه هغوى اووئيل چه اې الله ﷻ ! چه کومه خطا مو اوکړه هغه ځما د پيدائش نه مخکښې ځما په تقدير کښې ليکلې شوې وه يا مادا خپله ايجاد کړه؟ جواب ملاؤشو چه ايجاد دې نه کړه بلکه مخکښې نه ليکلې شوې وه . په دې آوريدو سره حضرت آدم ﷺ اووئيل اې الله ﷻ ! نوبيا ما معاف کړه. حضرت ابن عباس ﷺ نه روايت دې چه حضرت آدم ﷺ اوفرمائيل اې الله ﷻ آيا تا ځه په خپل لاس پيدا نکړم ؟ او په ما کښې دې خپل روح وانه چولو ځه ؟ او ځما په انتيوشى دې ﴿يرحمك الله﴾ اونه وئيلو؟آياستا رحمت ستا په غضب باندې غالب شوې نه دې ؟آيا ځما د پيدائش نه وړاندې ځما په تقدير کښې دا ګناه نه وه ليکلې شوې ځه ؟جواب ملاؤ شو چه آو داټول ماکړى دى. نووې فرمائيل اې الله ﷻ ! چه ځما توبه قبليديشى او بيا ماته جنت ملاويدې شى که نه ؟ جواب ملاؤ شو آو(). همدا هغه کلمات يعنى څو خبرې وې چى دوى ﷺ دالله ﷻ نه زده کړې.

ابن ابى حاتم ﷺ يو بل مرفوع حديث روايت کوى چې حضرت آدم ﷺ اوفرمائيل چه اې الله ﷻ که ځه توبه اوباسم اورجوع اوکړم نو آيا ماته جنت بيا ملاويديشى ؟ جواب ملاو شو آو،هم دا معنى ده دالله ﷻ دکلمو تلقين حاصلول. ليکن داحديث د غريب کيدلو نه علاوه منقطع هم دې.بعضو بزرګانو نه روايت دې چه داکلمات تفسير کښې ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَآ الخ﴾ اوهغه ټولې خبرې شاملې دى کومې چه حضرت مجاهد ﷺ نه روايت شوى دى،هغه کلمات دادى ﴿اللهم لا اله الا انت سبحانك وبحمدك رب انى ظلمت نفسى فاغفرلى انك خير الغافرين، اللهم لا اله الا انت سبحانك وبحمدك رب انى ظلمت نفسى فارحمنى انك خير الراحمين، اللهم لا اله الا انت سبحانك وبحمدك رب انى ظلمت نفسى فتب على انك انت التواب الرحيم﴾ قران پاک کښې په بل کښې فرمانى چه آيادې خلقو ته پته نشته دې چه الله ﷻ دخپلوبندګانو توبه قبلوى. اوپه بل ځائې کښې ارشاد دې چه څوک خراب کار اوکړى يا په خپل ځان باندې ظلم اوکړى نو توبه استغفار دې کوى نوهغه به اوګورى چه الله ﷻ دده توبه قبلوى او دې په خپل رحمت اوکرم کښې داخلوى.اوپه يو بل مقام کښې فرمائى ﴿اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا﴾پدې ټولو آيتونو کښې بيان دې چه الله ﷻ دبندګانو توبه قبلوى.داشان په دې مقام کښې هم فرمان دې چه هغه الله ﷻ توبه قبلونکي اوډير زيات رحم او کرم والا دې .د الله ﷻ دې لطف اوکرم او دهغه ذات فضل او رحم ته اوګوره چه هغه په خپل ګناهګاربندګان هم دخپل در نه نه محرومه کوى

() الطبرى: ۱/۵۴۳)-

Scanned with CamSc

رښتيا دی چه دهغه نه سوا هيڅوك معبود نشته دي ، نه دهغه نه څوك زيات مهربان اوكرم والا ، شته نه د هغه نه زيات څوك خطا ببنونكي او رحم كونكي شته دي.

قُلْنَا	اهْبِطُوا	مِنْهَا	جَمِيعًا				
اووئيل مونږ	كوز شئ	اددي خائي نه	ټول				
امونږ ورته اووئيل چې ددي خائي نه ټول په يوخائي كوز شئ							
فَإِمَّا	يَأْتِيَنَّكُمْ	مِنِّي	هُدًى	فَمَنْ	تَبِعَ	هُدَايَ	
بيا كه چرې	راغلو	تاسو ته	د طرفه زمانه	څه هدايت	نو كوموخلقو	چې تابعداري اوكړه	د هدايت زما
بيا چې تاسوته خماد طرفنه هدايت درشي	نوچاچې خماد (كتاب) هدايت پيروي اوكړه	(اوپه هغې نې عمل اوكړو)					
فَلَا	خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ	وَلَا	هُمْ	يَحْزَنُونَ ۝	وَالَّذِينَ	كَفَرُوا
نونه به وي	ويره	په هغوئ باندې	اونه به	هغوئ	غمژن شي	اوهغه كسان	چې انكار نې كړې
نو په هغوئ باندې هيڅ قسمه ويره نشته	اونه به په راروان ژوند كښې غمژن شي	اوچاچې انكار اوكړو					
وَكَذَّبُوا	بِآيَاتِنَا	أُولَٰئِكَ	أَصْحَابُ النَّارِ	هُمْ	فِيهَا	خَالِدُونَ ۝	
اودروغ ئې اووئيل	آيتونو زمونږ	هغوئ	ملګري د ووردي	هغوئ به	په هغې كښې	هميشه وي	
اوخما آيتونه ئې دروغ اوګڼل	هغوئ دوزخيان دي	اوپه دوزخ كښې به تر تله پراته وي					

قوله تعالى:- قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا

دنبيانو په تابعدارئ به جنت ملاويږي :- دجنت نه دويستلوپه وخت كښې چه كوم خبر حضرت آدم ﷺ او حضرت حوا او ابليس ته وركړې شوې وو دهغې بيان په دې ځائي كيږي چه كتابونه ، نبيان اورسولان مو اوليږل، معجزې مو بنكاره كړې، دلائل مو بيان كړل، حق لارمو بنكاره كړه. حضرت محمد ﷺ به هم راځي. اوپه حضرت محمد ﷺ باندې به قران پاك نازليږي. او څوك چه دخپلې زمانې كتابونو او نبيانو تابعداري كوي، هغو ى باندې به په آخرت كښې هيڅ ويره نه وي. اوددنيا په مال ومتاع به نې هم څه غم نه وي. په سورة طه كښې هم دا فرمائيلى شوى دى چه خما دهدايت موندونكى به نه ګمراه كيږي اونه به بدبخت وي اونه به بې نصيبه وي او څوك چې خما دياد لو نه مخ اړوى نو هغه به په آخرت او دنيا كښې تنګ وي او ړوند به وي، په دې مقام كښې نې اوفرمائيل چه انكار اوتكذيب كوونكى به هميشه په جهنم كښې وي ،

ابن جرير رحمه الله يو حديث نقل كوى چه رسول الله ﷺ فرمائى چه كوم اصلى جهنميان دى هغوى ته به نه په جهنم كښې مرګ راځي او نه به ورته ژوند ملاويږي ،خو چه كوم خلق موحد وى اودسنتو تابع وى نودوى به د دوى دبعضو ګناهونو په وجه په جهنم كښې وى دوى به سوزلې شى او ايره به شى اوبيابه په شفاعت سره راوښكلې شى. په صحيح مسلم كښې هم يو حديث كښې دى(۱) چه په دويم ځل د جنت نه دوتلو د كوم حكم ذكر شوې وو نوځينى وائى چه دا په دې وجه وو چه په دې ځائي كښې نور احكام بيانول وو .اوبعضې وائى چه په ړومبى ځل دجنت نه ړومبى آسمان كښې كوز كړې شوې وو ،دوباره د اول آسمان نه زمكې طرف ته راكوز كړې شوې وو ليكن صحيح قول ړومبې دي ، والله اعلم.

---

۱) صحيح مسلم: كتاب الايمان باب اثبات الشفاعة : ۱۸۵، ابن ماجة: ٤٣٠٩)-

Scanned with CamSc

يٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ	ٱذۡكُرُواْ	نِعۡمَتِيَ	ٱلَّتِيٓ	أَنۡعَمۡتُ	عَلَيۡكُمۡ	وَأَوۡفُواْ	بِعَهۡدِيٓ
اے بنی اسراءیلو	یاد کړئ	نعمت زما	هغه	چې ما کړې وو	په تاسو	اوپوره کړئ	وعده زما
انې د یعقوب اولاده! خماهغه نعمت یاد کړئ چې په تاسو مې کړې وو او خما سره کړې وعده پوره کړئ نو زه به هم							
أُوفِ	بِعَهۡدِكُمۡ	وَإِيَّٰيَ	فَٱرۡهَبُونِ ۝	وَءَامِنُواْ	بِمَآ		
پوره به کړم زهٔ	وعده ستاسو	اوخاص زما نه	اویریږئ	اوایمان راوړئ	په هغه کتاب		
تاسوسره کړې وعده پوره کړم	اوخاص خما (د رانیولو) نه ویریږئ	او په هغه کتاب ایمان راوړئ					
أَنزَلۡتُ	مُصَدِّقٗا	لِّمَا	مَعَكُمۡ	وَلَا تَكُونُوٓاْ			
چې نازل کړې دي ما	چې تصدیق کونکې دي	دهغه کتاب	چې تاسو سره دي	او مهٔ کیږئ تاسو			
چه مادرلیږلې دي	چې ستاسو دمذهبی کتاب (توراة) سره (په اصولو کښې) موافقت لری	او په قران باندې					
أَوَّلَ	كَافِرِۭ	بِهِۦۖ	وَلَا تَشۡتَرُواْ	بِـَٔايَٰتِي	ثَمَنٗا	قَلِيلٗا	وَإِيَّٰيَ	فَٱتَّقُونِ ۝
اول	انکارکونکی	د دې نه	او مهٔ خرڅوئ	ایتونه زما	په قیمت	لږ	اوخاص زما نه	اویریږئ
د ټولو نه وړاندې کفر مکوئ	اوخما ایتونو په بدل کښې (د دنیا) لږ قیمت مه اخلئ	اوخما (د عذاب نه) اوویریږئ						

قوله تعالی:- يٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ

بنی اسرائیلو ته خطاب :پدې ایتونو کښې بنی اسرائیلوته داسلام قبلولواودحضرت محمد ﷺ د تابعدارئی حکم کولې شی. اوپه یو اشارې سره دوی پوهولې شی چه تاسو دیو پیغمبر اولاد یئ . او ستاسو په لاسونو کښې کتاب الله موجود دې. اود قران پاك تصدیق کیږی ، نوبیا تاسو ته نه دی پکار دی چه مخکښې انکار تاسو شروع کړئی . اسرائیل نوم وو د حضرت یعقوب ﷺ نو دوی ته اوئیلې شو چه تاسو خما د فرمانبردار او صالح بنده اولاد یئ نوتاسو ته پکار دی چه د جد امجد په شان دحق تابعداری اوکړئی لکه څنګه چه وئیلې شی چه تاسو دسخی اولاد یئ او مخکښې شئ ، تاسو دپهلوان اولاد یئ د شجاعت داد ورکړئی ، تاسو د عالم بچی یئ په علم کښې کمال پیدا کړئی . په بل مقام کښې فرمائی چه ﴿ ذُرِّيَّةَ مَنۡ حَمَلۡنَا مَعَ نُوحٍۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا ۝﴾

تاسودهغه چا اولاد ئې چه مونږ دنوح ﷺ سره سوارهٔ کړې وئ هغه زمونږ شکرګذاربنده وو په یو حدیث کښې دی چه د یهودو د یوې ډلې نه نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چه آیا تاسو ته پته نشته دې چه اسرائیل دحضرت یعقوب نوم وو هغوی ټولو قسم اوخوړو چه والله دا رښتیا دی. نو نبی کریم اوفرمائیل چه ائې الله ﷻ ته ګواه اوسه ().

داسرائیل معنی:- د اسرائیل لفظی معنی عبدالله ده(۱)دلته دوی ته هغه نعمتونه وریادولې شی چه د کامل قدرت عظیمې ښې دی. لکه دکانړی نه نهرونه جاری کیدل ،من سلوی نازلیدل، دفرعونیانو نه نجات(۲)هم په دوی کښې نبیان اورسولان مبعوث کول،په دوی کښې سلطنت او بادشاهان لیږل وغیره.

قوله تعالی:- وَأَوۡفُواْ بِعَهۡدِيٓ أُوفِ بِعَهۡدِكُمۡ

خما وعدې پوره کړئی یعنی چه کومه وعده ما ستاسو نه اخستې وه چه محمد ﷺ راشی او په نبی کریم باندې خما کتاب نازل شی نو تاسو به په هغه باندې ایمان راوړئی نوهغه به ستاسو بوج کم کړی. او

---

(۱) مسند الطیالسی: ۲۷۳۱، دویمه نسخه: ۲۷۵٤، وسنده حسن)-
(۲) الطبری: ۱/۵۵۳)-
(۳) الطبری: ۱/۵۵٦)-

Scanned with CamScanner

ستاسو زنخیرونه به مات کړی او ستاسو طوقونه به اوباسی او ځما وعده به هم پوره شی چه څه ددې دین دسختو احکامو په بدله کښې تاسو ته د نبی آخرالزمان ﷺ باندې د ایمان راوړو په بدله کښې تاسو ته یو آسان دین درکړم .په بل مقام کښې فرمائی چه ﴿وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّیْ مَعَكُمْ ۭ لَىِٕنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ﴾ که تاسو مونځونه قائموئی،زکوة ورکوئی،ماته خپل قرض راکوئی،نوستاسو بدئی به لرې کړم اوتاسو به هغه جنتنونوته داخل کړم چه په هغې کښې نهرونه بهیږی . دا مطلب هم بیان شو ې دې چه په تورات کښې وعده کړې شوې وه چه د حضرت اسماعیل علیه السلام په اولاد کښې به یو عظیم ا لشان پیغمبر پیدا کوم د هغه تابعداری به په ټول مخلوق باندې فرض کوم اوده تابعدار به ببنم. اوهغوی به جنت ته داخلوم او لوئې اجر به ورکوم. امام رازی رحمه الله په خپل تفسیر کښې د لویو لویو نبیانو علیهم السلام نه د نبی کریم ﷺ باره کښې پیښن ګوئی نقل کړی‌س دی. داهم روایت شوې دې چه دبندګانو عهد اسلام قبلول او په دې باندې عمل کول دی (۱)دالله ﷻ د خپلې وعدې پوره کول دادی چې دوی به خوشحاله کړی او دوی ته به جنت ورکړی (۲).

قوله تعالی:- وَاِيَّایَ فَارْهَبُوْنِ

دالله نه د ویرې حکم:- او ځما نه ویریږنی هسې نه چه کوم عذاب په مخکښې خلقو باندې نازل شوې وو په تاسو هم نازل شی.اودې لطیفې اشارې ته اوکورئ چه د ترغیب د بیان نه پس د ترهیب بیان طرفته واپس شو. ترغیب او ترهیب دواړه جمع کوی او دحق د اتباع او د حضرت محمد ﷺ د نبوت دعوت ورکوی . قرآن پاك سره نصیحت حاصلول او د هغه د خودلې شوی احکامو منلواو د ده د منع شوې کارونو نه منع کولو هدایت ورکوی. هم په دې وجه ددې نه پس فرمائی چه تاسو په دې قرآن باندې ایمان راوړئی چه دا ستاسو دخپل کتاب تصدیق هم کوی اوتائید هم . دا یو نبی راوړې دې چه امی دې،چه عربی دې،چه نذیر دې،چه بشیر دې ، سراج منیر دې، چه دهغه اسم مبارك محمد ﷺ دې . چه ستاسو د انجیل تصدیق کوونکې او دحق خورونکې دې. چونکه په تورات او انجیل کښې هم د حضرت محمد ﷺ ذکر وو. نود نبی کریم ﷺ تشریف راوړل د تورات درښتینوالی دلیل وو ، ځکه چه ونیلې شوی دی چه هغه ستاسودلاسونو دځیزونو تصدیق کوی ، ددې باوجود چه تاسو ته علم دې ، بیا تاسوددې رومبی منکرجوړیږئی.بعضې وائی چه د(به)ضمیر مرجع قران دې او مخکښې راغلی هم دی(بِمَآ اَنْزَلْتُ) اودواړه قولونه حقیقت او ریښتونی هم دی. قران پاك لره منل رسول ﷺ لره منل دی اود رسول تصدیق دقرآن پاك تصدیق کول دی.

قوله تعالی:- وَلَا تَكُوْنُوْٓا اَوَّلَ كَافِرٍۢ بِهٖ

د اول کافر کیدو نه منع کول:- اول کافر نه مراد د بنی اسرائیلو اول کافر دی،څکه چه د قریشوکفارو هم انکارکړې وونو اوس د بنی اسرائیلو انکار داهل کتابو د رومبی جماعت انکار وو. څکه چه هغوی ته کافراووئیلې شو،هغوی سره هغه علم وو چه دنورو سره نه وو. ځما دآیتونو په بدله کښې لږ شان عوض مه اخلئ یعنی د دنیا په بدله کښې چه لږه او فانی ده ، ځما په آیتونوباندې ایمان راوړل او ځما درسول تصدیق کول نې پرې نښودل. اګر چه ټول په ټوله دنیا ورته هم ملاؤ شی،بیا هم هغه د آخرت په مقابله کښې لږه او ډیره لږه ده او دا پخپله په هغه کتابونو کښې موجود وو.

---

(۱) الطبری: ۱/۵۵۸)-.
(۲) ابن ابی حاتم : ۱ / ۱٤۳)-

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:- وَلَا تَشْتَرُوا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا

دینی تعلیم باندې اجرت اخستل څنګه دی ؟:- په سنن ابوداود کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه کوم سړې داعلم چه په دې علم سره دالله ﷻ رضامندی حاصلیږی ، ددې دپاره زده کړی چه په دې سره دنیا اوګټی هغه به دقیامت په ورځ دجنت خوشبو اونه مومی (۱)د علم خودلواجر بغیر دمقرر کولو جائز دی. داشان علم خودلو والا عالمانو ته دبیت المال نه ورکړه هم جائز ده. چه هغه ښه فرسوده حال وی او خپل ضروریات پوره کړې شی. که دبیت المال نه څه ملاؤ نشی اود علم خودولو په وجه څه کار وغیره هم نشی کولې نو بیا اجرت مقرر کول اواخستل جائزدی. حضرت امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ او حضرت امام مالك رحمۃ اللہ علیہ ، حضرت امام احمد رحمۃ اللہ علیہ او دجمهورو علماء هم دا مذهب دې ، ددې دلیل هغه حدیث هم دې چه په صحیح بخاری کښې دې . حضرت ابو سعید خدری ﷺ نه روایت دې چه هغه اجرت مقرر کړو او ده یو سړې دم کړو چه هغه مار چیچلې وو ، کله چه نبی کریم ﷺ ته داقصه بیان کړې شوه نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ﴿ان احق ما اخذتم علیه اجرا کتاب الله﴾ یعنی چه په کومو څیزونو تاسو اجرت واخلئ نو د ټولو نه زیات حقدار څیز کتاب الله دې (۲)په بل طویل حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ دیو سړی نکاح یوښځې سره کوی او فرمائی چه ﴿زوجتکها بما معك من القران﴾ ما دا ستا په زوجیت کښې درکړه په دې مهر باندې چه تاته قران پاك یاد دې نو دا هغې ته یاد کړه(۳) دابوداود یو حدیث کښې دی چه یوسړی اهل صفه ته دقران پاك څه حصه اوخودله.ده هغه ته یوکمان د هدیه په طور ورکړو. ده د نبی کریم ﷺ نه دمسئلې تپوس اوکړو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که ته داورکمان اخستل غواړې نودا واخله. نو هغه پرېښودلو(۴)حضرت ابی ابن کعب ﷺ نه هم داسې مرفوع روایت دې (۵). ددې دواړو احادیثو مطلب دادې چه کله ده خالص دالله ﷻ د پاره اوخودلو ، بیا ئې په دې باندې تحفه هدیه واخستله اوخپل ثواب ئې ختم کړو نو ددې څه ضرورت وو؟ او کله چه دشروع نه د اجرت تعلیم ئې ورکړو نو بیا بیشکه جائز دی لکه څنګه چه په مخکښو دوؤ حدیثونو کښې دی. والله اعلم.

قوله تعالی:- وَاِيَّايَ فَاتَّقُوْنِ ﴿۴۱﴾

صرف دالله ﷻ د ویرې څه مقصد دی:- صرف الله ﷻ نه د ویرې معنی داده چه دالله ﷻ د رحمت په امید دهغه ذات باری تعالی عبادت کولو کښې مشغول اوسیدل. او دده دعذابونو نه ویریدل ، دده نافرمائی پریخودل او په دواړو حالتونو کښې دخپل رب نه رسئ لاس نه پریخودل. غرض دا چه دې جملې سره هغوی ته ویره ورکړې شوه چه هغوی ددنیا په لالچ کښې راشی او د نبی کریم ﷺ دنبوت هغه تصدیق پټ نه کړی چه کوم ددوی کتابونو کښې دې. اوددنیا ریاستونو په مقابله کښې د نبی کریم ﷺ مخالفت اونه کړی بلکه دالله ﷻ دویرې حق دې ادا کړی.

وَلَا تَلْبِسُوا	الْحَقَّ	بِالْبَاطِلِ	وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ	وَاَنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۲﴾
اومدغلوی کوئ	حق	دباطل سره	او (مه) پټوئ حق	اوحال داچی تاسو	پوهیږئ
اوحق (چه دنبی کریم صفتونه دی) د باطل سره مه ګډوی کوئ				اوسره دپوهې حق مه پټوئ	

---

[۱]) ابوداود کتاب العلم با بماق طلب العلم لغیر الله: ۳٦٦٤، ابن ماجة:۲۵۲، وسنده حسن وصححه ابن حبان : ۸۹، والحاکم: ۸۵/۱) والذهبی)-

[۲]) صحیح بخاری : کتاب الطب با بالشروط فی الرقیة بفاتحة الکتاب : ۵۷۳۷)-

[۳]) صحیح بخاری : کتاب النکاح با ب الصدق وجوازکونه تعلیم القران : ۵۱٤۹، صحیح مسلم: ۱٤۲۵)-

[٤]) ابو داود کتاب البیوع باب فی کسب المعلم : ۳٤۱٦، وسنده حسن بیهقی : ۱۷۵/٦. حاکم: ٤۱/۲)-

[۵]) ابن ماجة : ۲۱۵۸،)-

Scanned with CamSc

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ۝
اوقائیموئ | مونځ |او ورکوئ | زکاة | او تیټ شئ | دتیټیدونکو خلقو سره |
اومسلمانان شئ بیا مونځونه کوئ اوزکاة ورکوئ اوعاجزی کوؤنکوسره(په شریکه)عاجزی کوئ

قوله تعالی:- وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ

حق پټول دیهودیانو خصلت دي :- دیهودیانوپه دې بد خصلت باندې دوی لره متنبه کولې شی چه دوی ته ښه معلوم وو خو بیابه ئې هم کله حق اوباطل سره گډوډ کول او کله به ئې پټولو، کله به ئې باطل ظاهرول نو دوی ته پکار دی چه دا ناپاك عادتونه پریږدی او حق ظاهر کړی او داسې ښه په ښکاره دحق دبیانولو هدایت ورته کیږی چه حق او باطل په خپلو کښې یو بل سره مه یو ځائې کوئی. دالله ﷻ د بنده گانو خیرخواهی غواړئی.دیهودیانو اونصرانیانو بدعات داسلام په تعلیم کښې مه گډوډ کوئی. د خلقو نه د نبی کریم ﷺ د پیشن گوئی چه تاسو په خپلو کتابونو کښې وائی هغه مه پټوئی.

﴿تَكْتُمُوا﴾ مجزوم هم کیدیشی اومنصوب هم ، یعنی دا اوهغه مه جمع کوئی.د حضرت ابن مسعود ﷺ په قرات کښې﴿ وَتَكْتُمُونَ﴾ هم دی. دابه حال وی اودې نه پس جمله هم د حال ده.معنی ئې داشوه چې حق حق منئ او بې حیائی مه کوئی. اودا معنی هم کیدیشی چه د علم باوجود دا (حق) مه پټوئ او دا گډوډ کوئی مه اوتاسو ته معلومه چې ددې وبال به څه وی خو بیاهم په تاسو افسوس دې چه تاسو په دې بې حیائی کښې اخته ښکارئی.

قوله تعالی:-وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

د مونځ او زکاة حکم:-بیا دوی ته حکم ورکولې شی چه د نبی کریم ﷺ سره مونځونه کوئی ، او نبی کریم ﷺ ته زکوة هم ورکوئی او دنبی کریم ﷺ سره سجده او رکوع کښې شامل اوسئ ،هم په دې کښې یو ځائې شئ او پخپله هم د نبی کریم ﷺ امتیان جوړشئ(۱) اطاعت اواخلاص ته هم زکوة وائی. حضرت ابن عباس ﷺ ددې آیت په تفسیر کښې هم دا فرمائی . زکوة دوه سوه درهمه یا ددې نه په زیاته باندې واجب کیږی. مونځ او زکوة فرض او واجب دی. ددې نه بغیر عملونه خراب دی. د زکوة نه بعضې خلقو فطرانه هم مراد اخستې ده.

قوله تعالی:- وَارْكَعُوْا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ

د رکوع حکم:-د رکوع کونکوسره رکوع کوئی ، مراد دادې په ښه اعمالو کښې دایماندارو سره شئ او په دې کښې بهترین څیز مونځ دې ، ددې آیت نه اکثر عالمان د جمعې مونځ مراد اخلی او په دې ځائې کښې امام قرطبی رحمه الله دجمعې مسائل په وضاحت سره بیان فرمائیلی دی.

أَتَأْمُرُوْنَ
| آیا تاسوحکم کوئ
آیا تاسو نورو

النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَاَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ ط
خلقو ته د نیکئ | او هیروئ ځانونه خپل | او حال داچې تاسو | لولئ | کتاب |
خلقوته دنیکئ حکم کوئ |اوخپل ځانونه مو هیرکړی دی | سره ددې چې سحرماښام کتاب (توراة) لولئ

(۱) الکشاف: ۱/۱۳۳)-

Scanned with CamScanner

أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٤٤﴾
آیا نه اخلئ تاسو دعقل نه کارا
آیاتاسودعقل نه کار نه اخلئ ا

قوله تعالى:-أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ

بل ته وئیل او خپل ځان هیرول مکوئ:-یعنی اهل کتاب دعلم باوجود چه څه وانی هغه نه کوی،په دې باندې څومره عذاب دې.بیاتاسو پخپله داسې ولې کوئی؟ لکه څنګه چه نورو ته تقوی او پرهیزګاری او طهارت ښائی نوددې پخپله هم عمل کوونکی جوړ شی .خلقو ته د روژې حکم کول اوپخپله ددې پابند نه کیدل داخو ډیره دشرم خبره ده.نورو ته دوینا نه مخکښې انسان ته پخپله عمل کول پکاردی. دا معنی هم ده چه تاسو خو نورخلق د خپل کتاب دکفر نه منع کوئی خو دالله ﷻ دا نبی دروغ ګنړئ اودا تاسوپخپل کتاب کفر ولې کوئی ؟دا مطلب هم دې چه تاسونوروته ددې دین د قبلولو وانی اود دنیاوی ویرې په وجه دا پخپله نه قبلوئی.

د واعظینواومبلغینو دپاره هدایات :حضرت ابوالدرداء ﷺ فرمائی چه انسان پوره پوهې والا نشی جوړیدې ترڅو چې د هغه خلقو دښمن جوړ نشی چه کوم د الله ﷻ خلاف دی او خپل نفس د ټولو نه زیات دشمن دې. دې خلقو ته به چه رشوت وغیره نه ملاویدو نو حق به نې وئیل خو پخپله به نې په دې عمل نه کولو په دې وجه الله ﷻ ددوی مذمت اوکړو او په دې مقام کښې یوه خبره یاد ساتل پکار س دی چه د ښه څیز حکم کولو سره د هغې برائی اونشوه بلکه پخپله د نه کولوپه وجه برائی بیان شوې ده. ښه خبره کول خو پخپله ښه والې دې بلکه دې سره سره انسان ته پخپله هم په دې عمل کول پکار دی لکه څنګه چه حضرت شعیب ﷺ فرمائیلی وو چه ﴿ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ ﴾ یعنی څه داسې نه یم چه تاسو دهغه څه نه منع کړم چې زه ئې پخپله کوم زه د خپل وس مطابق د اراده لرم.ځما توفیق د الله ﷻ په مدد دې او ځما بهروسه هم په هغه ذات ده او ځما رغبت هم د هغه طرف ته دې. نود نیکو کارونو حکم کول هم واجب دی او پخپله کول هم واجب دی. د یو واجب کیدو په وجه بل واجب نه دی پریښودل پکار. دسلفواوخلفو عالمانو هم دا قول دې اګر چه د بعضو خلقو دا قول هم چې کوم کس پخپله بدئی او ګناهونه کوی نو هغه دې نورو ته د نیکئ حکم نه ورکوی،لیکن صحیح قول دا نه دې بیا ددې حضراتو ددې دلیل نیول بالکل صحیح نه دی بلکه صحیح دادی چه د نیکئ حکم دې کوی او د بدئی نه دې منع کوی او پخپله دې هم کوی او منع دې هم کوی،که دواړه پریږدی نو ګناهګار به وی او دیو په پریښودلوهم ګناهګاریږی .دطبرانی په معجم کبیر کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم عالم خلقو ته دنیکئ حکم ورکوی اوپخپله پرې عمل نه کوی نوددې مثال د چراغ پشان دې چه خلق ددې نه فائده اخلی. خو پخپله هغه (چراغ) بلیږی. ()داحدیث غریب دې.

د بې عمله واضحه سزا:- د مسند احمد په روایت کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه دمعراج په شپه ما اوکتل چه دځه خلقو شونډې د اور په قینچیانو سره پرې کولې شوې ماتپوس اوکړو دا کوم خلق دی؟ نواووئیلی شو چه دا د نبی کریم ﷺ دامت خطیبان او واعظان اوعالمان دی چه خلقو ته به نې د نیکو حکم کولو او پخپله به نې نه کول ، د علم باوجود به نې پوهه نه لرله. په دویم حدیث کښې دی چه ددوی ژبې اوشونډې پرې کولې شوې ()دا حدیث صحیح دې،ابن حبان،ابن ابی حاتم ، ابن مردویه وغیره کښې هم دا حدیث موجود دې.

---

[1]) المعجم الكبير للطبراني : ١٦٦/١، مجمع الزوائد: ١٨٤/١، الترغب: ١٠٣/١)-

[2]) احمد: ١٢٠/٥، وسنده ضعيف وللحديث شواهد)-

Scanned with CamSc

ابو وائل رحمه الله فرمانی چه یوځل حضرت اسامه رضي الله عنه ته اووئیلي شو چه ته حضرت عثمان ته څه نه وائي. دوی جواب ورکړو چه آیا څه ددي خلقو په مخکښي علی الاعلان اووایم نو بیا به وئیل وی څه خو پټ په پټه هر وخت وایم ، خو څه یوکار لره خوړول نه غواړم ،په الله ﷻ قسم څه یو سړی ته د ټولو نه افضل نه وایم ځکه چه ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه یو سړي به د قیامت په ورځ راوستلي شی او دي به جهنم ته داخل کړي شی ، دده کولمي به راوزی او هغه به دده نه ګیرچاپیره چکرلګوی او جهنمیان به راجمع شی او تپوس به تري کوی چه حضرت تاسوخومونږ ته د ښو خبرو حکم کولو اوبدونه به مومنع کولو ، دا ستاسوڅه حالت دي ؟ هغه به اووائی چه افسوس مابه تاسوته وئیل خو ما به پرې پخپله عمل نه کولو،تاسو به مې منع کولئ لیکن خپله به نه منع کیدم. مسند احمد ()بخاری او مسلم شریف کښي هم دا روایت دي. ()

دمسند په یو بل حدیث کښي دی چه الله ﷻ به ان پرهه خلقو ته دومره معافئ کوی چه دومره به علم والوته نه کوی(۲) بعضي آثارو کښي دا هم روایت دي چه عالم په یو ځل ښبلي شی او عامی به اویا ځله ښبلي شی عالم اوجاهل یوشان نشی کیدلي.په قران کریم کښي دی چه ﴿ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ لوستونکی اوغیر لوستونکی یوشان نه دی. نصیحت صرف عقل والا حاصلولي شی.په ابن عساکر کښي دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه جنتیان خلق به د جهنم خلقو ته ګوری او وانی به ستاسود نصیحتونو په آوریدو آوریدو خو مونږ جنتیان شوی یو، تاسو ولي جهنمیان شوئی؟ هغوی به اووائی چه افسوس مونږ به تاسو ته وئیل خو پخپله به مو نه کول. (۳)

حضرت ابن عباس ته یو سړی اووئیل څه خلقوته د نیکئ حکم اود بدئی نه منع کول غواړم. دوی اووئیل چه آیا ته دي درجې ته رسیدلي ئې ؟ هغه اووئیل آو.دوی اوفرمائیل که ته ددي دریو آیتونو د رسوائی نه په امن شوي بې نو صحیح ده وعظ شروع کړه. هغه تپوس اوکړو چه هغه دري آیتونه کوم کوم دی؟ دوی ورته اوفرمائیل چه یو خو﴿ أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ ﴾دي یعنی آیا تاسو خلقو ته د نیکئ حکم کوئی اوپخپله خپل ځانونه هیروئی.دویم آیت ﴿لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ۝ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ۝﴾ یعنی ولي تاسو هغه وائی چه پخپله ئې نه کوئئ،دالله ﷻ په نیز دا لویه ناخوښی ده چه تاسو هغه وائي چه پخپله ئې نه کوئی. دریم آیت د حضرت شیعب علیه السلام فرمان دي چه ﴿ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ ۚ إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ ﴾یعنی د کومو کارونونه چه څه تاسو لره منع کوم په هغې کښي څه ستاسو مخالفت کول نه غواړم ، ځما اراده صرف ستاسو اصلاح کول دی. اووایه ته ددي دریو آیتونونه بې ویري ئې ؟ هغه اووئیل چه نه . وي فرمائیل چه ته دخپل نفس نه شروع اوکړه. (تفسیر ابن مردویه)

په یو ضعیف حدیث د طبرانی کښي دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څوك څه قول او فعل طرف ته خلق رابلی او پخپله هغه نه کوی نو هغه د الله ﷻ په غضب کښي وی. تر دي پوري چه هغه پخپله عمل اونکړی. (۵)ابراهیم نخعی رحمه الله هم د حضرت ابن عباس رضي الله عنه والا دري آیاتونه پیش کړی دی او فرمائیلی ئې دی چه څه ددي په وجه قصه ګو نه خوښوم.

---

۱) احمد: ۲۰۵/۵،وهو صحیح)-

۲) صحیح بخاری : کتاب بدء الخلق باب صفة الصلوة وا نها مخلوقة : ۳۲۶۷، صحیح مسلم: ۲۹۸۹)-

۳) حلیة الاولیاء :۲۲۲/۹، والسند ظاهره الصحة ولکنه منکرقال الامام احمد)-

۴) طبرانی: ۱۵۰/۲۲،)-

۵) مجمع الزوائد: ۲۷۶/۷، -

Scanned with CamS

وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ وَاِنَّهَا
او مدد غواړئ په صبر او په ما نځه سره اوبیشکه دا مونځ
په صبر اومونځ کولو سره د الله نه مدد اوغواړئ اوبیشکه دا مونځ
لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ۙ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ
خامخا گران عمل دی اومگرنه دی گران اپه ویریدونکو (دالله نه) اویریدونکی هغه دی اچی یقین لری
(دعاموخلقودپاره) گران کار دی اومگر هغه چاته (آسان دی) چې دالله نه ویریږی اودا یقین کوی
اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَاَنَّهُمْ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ۝
چې آخرهغوئ املا ویدو نکې دی ادخپل رب سره اوچې بیشکه هغوئ اهغه ته واپس ورتلونکی دی
چې دوی به خپل پروردګارسره به ملاقات کوی اوبیشکه هغه ته به دوئ ټول واپس (پیش کیږی

قوله تعالی:-وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ؕ

صبر څه څیز دی ؟ :-په دې آیت کښې فرمانی چه تاسو د دنیا اود آخرت په کارونو کښې په مونځ او صبر سره مدد غواړئ،فرض پوره کوئ او مونځ ادا کوئ.روژه نیول هم په صبرکولوکښې داخل دی. او هم ددې وجې رمضان ته د صبر میاشت وئیلې شوې ده. نبی کریم ﷺ فرمائی چه روژه نیم صبر دې. (۱) صبر نه مراد دګناهونونه منع کیدل هم دی. په آیت مبارک کښې که صبر نه مراد دا واخستلې شی نود بدو نه منع کول او نیکئ کول دواړه بیان شو.، په نیکو کښې دټولو نه اعلی څیز مونځ دې.

حضرت عمر فاروق فرمائی چه د صبر دوه قسمونه دی.①دمصیبت په وخت کښې ② اودګناهونونه صبرکول.اودا صبرد مخکښې نه زیات ښه دې.سعید بن جبیر رحمه الله فرمائی چه د انسان دا اقرار کول چه هر څیز دالله ﷻ د طرفه کیږی ، او په باندې ثواب طلب کول،او د الله ﷻ سره د مصیبتونو د اجر ذخیره ګنړل دا صبردې. دالله ﷻ دمرضئ په کار باندې صبر کوئی او دا هم د الله ﷻ اطاعت اوګنړنې.

د نیکو په کارونو هم په مونځ سره صبرملاویږی. پخپله په قران پاک کښې دی چه﴿ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ﴾ مونځ قائم کړئ دا د ټولو بدو نه منع کوی او یقیناً دالله ﷻ ذکر ډیر لوئې څیز دې.

حضرت حذیفه ﷺ فرمائی چه کله به نبی کریم ﷺ ته څه مشکل کار او غم پیښ شو نو زر به نبی کریم ﷺ مونځ طرفته متوجه شو(۲) هم داشان د خندق په موقع باندې د شپې په وخت کښې حذیفه ﷺ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو نبی کریم ﷺ مونځ کولو. حضرت علی ﷺ فرمائی چه د غزوه بدر په شپه ما اوکتل چه مونږ ټول اوده وو. خو دالله ﷻ رسول ﷺ ټوله شپه په مونځ کښې مشغول وو. او تر صبا پورې نې مونځ کولو او دعاګانې نې غوښتلې(۳)تفسیر ابن جریر رحمه الله کښې دی چه نبی کریم ﷺ حضرت ابوهریره ﷺ اولیدو چه داولږې په وجه نې په خیټه مبارکه درد دې ، نبی کریم ﷺ دهغوی نه په فارسئ ژبه کښې تپوس اوکړو چه " درد شکم داری " آیا ستا په خیټه کښې درد دې څه ؟ هغوی اوفرمائیل چه آو. نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه پاسه مونځ اوکړه په دې کښې شفا ده. (۴)

---

(۱) ترمذی:کتاب الدعوات باب التسبیح نصف المیزان: ۳۵۱۹، احمد۴/۲۶۰، ابن ماجه: ۴۱۳/۲،

(۲) ابوداود کتاب الصلاة ، باب وقت قیام النبی ﷺ من الیل :۱۳۱۹،)-

(۳) احمد: ۱۲۵/۱، وسنده صحیح ،:۱۳۸، ابن حبان: ۱۴۰۸، ابن خزیمه: ۸۹۹)-

(۴) احمد: ۴۰۳/۲، ابن ماجة: ۳۴۵۸،)-

Scanned with CamSc

حضرت ابن عباس ﷺ ته په سفر کښې دخپل رورقثم د انتقال خبر ورکړې شو. نو دوی (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ) اووئيل اويوطرفته شو او اوښې ئې کينولو او مونځ ئې شروع کړو او ډير اوږد مونځ ئې اوکړو. بيا په خپلې سورلئ طرفته لاړل او دا آيت ئې اووئيل غرض په دې دواړو څيزونو صبر او صلوة سره دالله ﷻ مدد حاصليږی.

قوله تعالی:-وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ

دضمير وضاحت:- د ﴿ اِنَّهَا ﴾ دضمير مرجع ،بعضو خلقو خو صلوة يعنی مونځ خودلې دې.بعضې وائی مدلول کلام يعنی وصيت ددې مرجع دې. لکه د قارون په قصه کښې د ﴿ وَلَا يُلَقّٰهَا ﴾ ضمير او د بدئ بدله کښې د نيکئ کولو حکم کښې ﴿ وَمَا يُلَقّٰهَا ﴾ ضمير . مطلب دادې چه دا کار يعنی صبر اوصلوة د هر سړی د وس کار نه دې. دا کار د ويرې والا ډلې دې. يعنی څوک چې قران پاک منی نو دغه ربښتونی مؤمنان دی او (دغه شان) ويريدونکی او عاجزه خلق، اطاعت طرف ته راتلونکی خلق ، د وعدې پوره کوونکی خلق، وعيد لره منوونکی خلق ، په دې صف کښې شامل دی. لکه په يو حديث کښې دی چه د يو سړی په سوال باندې نبی کريم ﷺ فرمائيلی وو چه دا ډير لوی څيز دې ليکن په چا چه الله ﷻ مهربان وی آسان دی ()

ابن جرير رحمه الله ددې آيت مبارک معنی کوی او فرمائی چې دا هم ديهوديانو په خطاب کښې شامل دې.ليکن ظاهری خبره داده چه دا د هغوی په بيان کښې ده خو د حکم اعتبار سره عام دی. والله اعلم.

قوله تعالی:-اَلَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ

د خپل رب د پيشئ يقين کول:- مخکښې د ﴿ خٰشِعِيْنَ ﴾ صفت دې. په دې کښې د ظن معنی يقين ده اگرچه ظن په معنی د شك هم رازی. لکه څنګه چه (صدقة) د تيارې په معنی کښې رازی. او د رنړا په معنی کښې هم راځی.اود صارخ لفظ د فرياد کولو او فرياد آوريدونکی دواړو دپاره راځی. اودا شان ډير نومونه دی. د هغې معنی د دوۀ مختلفو څيزونو دپاره استعماليږی. ظن د يقين په معنی د عربو شاعرانو په معنی هم راغلی دی. پخپله په قران پاک کښې په بل مقام کښې دی چه ﴿ وَرَاَ الْمُجْرِمُوْنَ النَّارَ فَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مُّوَاقِعُوْهَا ﴾ يعنی ګناهګار چه جهنم اووينی نو يقين به اوکړی چه اوس به مونږ دې ته داخل کړې شو. په دې ځائې کښې هم ظن ديقين په معنی کښې دې. بلکه حضرت مجاهد فرمائی چه په قران پاک کښې هر ځائې کښې دا لفظ د ظن په معنی د يقين او علم راځی. ابوالعاليه رحمه الله هم په دې ځائې کښې ظن په معنی د يقين کولو اخلی. حضرت مجاهد رحمه الله ، حضرت سدی رحمه الله ،حضرت ربيع بن انس رحمه الله حضرت قتاده رحمه الله او ابن جريج رحمه الله نه هم دا قول نقل دې. په قران پاک کښې په بل ځائې کښې دی چه ﴿ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴾ يعنی ماته يقين وو چه ماسره به حساب کتاب کيږی.

يوصحيح حديث کښې دی چه د قيامت په ورځ به يو ګنهګار بنده ته الله ﷻ اوفرمائی چه آياما تاته ښځه اوبچی نه وو درکړی ؟ آيا په تاباندی مې رنګ په رنګ احسانات نه وو کړی ؟ آيا ستا دپاره مې آسونه او اوښان نه وو ښانسته کړی ؟ آيا تاته مې د آرام او راحت والا خوراك نه وو درکړی ؟ دې به اووائی چه آو (راکړی دي وو)ائې الله ﷻ دا ټول هر څه وو.بيا به الله ﷻ اوفرمائی چه آيا ستا علم او يقين په دې خبره نه وو چه ته به خما سره ملاويږې ؟ دې به اووائی آو ائې الله ﷻ ما دامنل الله ﷻ به اوفرمائی څنګه تا څه هير کړې وم نن به څه تا هير کړم()په دې حديث کښې هم د ظن لفظ دې اومعنی ئې يقين ده. ددې مزيد تحقيق او تفصيل به ا نشاء الله په ﴿ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰىهُمْ اَنْفُسَهُمْ ﴾(سورة حشر) کښې راشی.

---

[1]) ترمذی ابواب الايمان ماجاء ق حرمة الصلاة :٢٦١٦، ابن ماجة: ٣٨٧٣، وهو حسن وقال الترمذی حسن صحيح)-.

[2]) صحيح مسلم ، كتاب الزهد باب الدنيا سجن المومن .....٧٤٣٨)-

Scanned with CamSc

يٰبَنِيْٓ	اِسْرَآءِيْلَ	اذْكُرُوْا	نِعْمَتِيَ	الَّتِيْٓ	اَنْعَمْتُ	عَلَيْكُمْ	وَاَنِّيْ
اې بنی	اسراءیلو	یاد کړئ	نعمت زما	هغه	چې ما کړې وو	په تاسو	اوبله خبره دا چې ما

انې د یعقوب اولاده! ځماهغه نعمت یادکړئ چې په تاسومې کړې وو اوتاسو مې دپه خپله زمانه کښې

فَضَّلْتُكُمْ	عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۝	

په د دنیا په ټولو قومونوغوره کړی وئ

په ټولوخلقو باندې افضل کړی وې

قوله تعالى:- يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اذْكُرُوْا نِعْمَتِيَ الَّتِيْٓ اَنْعَمْتُ عَلَيْكُمْ

دبنی اسرائیلو په پلار نیکه باندې انعامات:- دبنی اسرائیلو پلار نیکه ته چه کوم نعمتونه ورکړې شوی وو ،دهغې ذکر کولې شی چه په دوی کښې مونږ رسولان جوړ کړل او په هغوی باندې مو کتابونه نازل کړل اودهغوی په زمانه کښې مو دوی ته په نورو خلقو مرتبه ورکړه لکه فرمائی چه ﴿وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى عِلْمٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ﴾ یعنی دوی ته مو ددوی په زمانه کښې په نورو خلقو په علم کښې فضیلت ورکړو. (۱)بل ځائې کښې فرمائی ﴿وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ﴾ یعنی موسی علیه السلام اوفرمائیل انې زما قومه تاسوالله ﷻ هغه نعمت یادکړئ چه په تاسو باندې شوې دي هغه ذات په تاسو کښې پیغمبران راولیږل ،تاسو ئې بادشاهان جوړ کړئ ، اوهغه څه ئې درکړل چه نورو ته ئې نه وو ورکړی.

دامت محمدی ﷺ فضیلت(اول قول): په ټولو باندې تاسو ټولو ته دفضیلت ورکولو نه مراد دهغوی دزمانې نور خلق دی. ځکه امت دمحمد ﷺ دهغوی نه یقینی افضل دي. ددې امت په باره کښې فرمائیلی شوی دی چه ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ﴾تاسو بهتر امت یئ چه خلقو دپاره جوړشوی یئ تاسو د نیکئ حکم کوئی اود بدئی نه منع کوئی او تاسو په الله ﷻ باندې یقین لرئی. که اهل کتابو هم ایمان راوړې وې نو دا به دهغوی دپاره بهتر وې.په مسانید او سنن کښې هم روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه تاسو اویایم امت یئ اودټولونه بهتر ئې اوبزرګ یئ. (۲)داسې نور ډیر احادیث به انشاء الله په ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ﴾ آیت کښې راشی.

دویم قول:: او وئیلې شوی دی چه په ټولو خلقو باندې د فضیلت نه مراد دادې چه په دې سره هر قسمه فضیلت نه لازمیږی. رازی رحمه الله نه هم دا نقل دی. خو د غور خبره ده.

دریم قول:: او داهم وئیلې شوی دی چه دهغوی فضیلت په نورو ټولو امتونوباندې دې ځکه نبیان هم ددوی نه وو. لیکن په دې هم دغور کولو ضرورت دې ځکه داشان عموم ددوی نه په مخکښې خلقو کښې هم شامل وو. او په حقیقت کښې مخکښې نبیان ددوی نه وو لکه چه ابراهیم خلیل الله علیه السلام ، حضرت محمد ﷺ مصطفی ﷺ چه ددوی نه پس راغلی وو چه په ټول مخلوق کښې افضل وو او چه دټول اولادآدم علیه السلام سردار دی په دنیا کښې هم او په آخرت کښې هم.صلاة الله وسلامه علیه.

وَاتَّقُوْا	يَوْمًا	لَّا تَجْزِيْ

او د هغه ورځې (د راتلو نه) اوویریږئ | چې نۀ به ځوک د بل

اوخان دهغې ورځې(دعذاب نه)چې هیڅ په کارنه راځی

---

(۱) ابن ابی حاتم : ۱ / ۱۵۸)-

(۲)احمد: ٤/٤٤٧، ابواب التفسیر،باب ومن سورة آل عمران: ۳۰۰۱. ابن ماجة: ٤٢٨٨، وهو حدیث حسن وحسنه الترمذی)

Scanned with CamSc

نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْئًا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا
یونفس|دپاره دبل نفس| څه څیز |اونۀ به شی قبلولې	دطرفه ددغه نفس نه| سفارش	اونۀ شی به
چا نه عذاب لرې کولې شی| او نه به د ده نه د چا په حق کښې سفارش قبلیدې شی |اونه به
يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۸﴾
اخستې |ددغه نفس نه| فدیه	اونۀ به	دهغوئ سره|مدد اوکړې شی| اویاد
دچانه بدله اخستې شی	اونه به دهغوئ څه قسم مدد کولې شی	

قوله تعالی:-وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِيْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْئًا

په حشر کښې به هیڅ سفارش اوفدیه وغیره نه وی :-دنعمتونو بیان اوشو.او اوس نې د عذابونونه ویروی چه هیڅوك به چاته څه فائده ورنکړی لکه فرمائی چه ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى﴾یعنی د هیچابوج به په بل چاباندې نه پریوزی. په یو مقا کښې دی چه﴿ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَاْنٌ يُّغْنِيْهِ﴾یعنی په هغه ورځ هر سړې به په خپل سوچ کښې وی. فرمائی انې خلقو دخپل رب نه اوویریږئی اودهغه ورځې نه چه په کومه ورځ به پلار دخپل خوئې نه او خوئې به دخپل پلار نه هیڅ فائده اوچته نه کړی﴿وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ﴾یعنی کافر به څوك سفارش نه کوی اونه دده سفارش قبول دې دې

کافروته به دسفارش کولوسفارش هیڅ فائده ورنکړی.او په بل ځائې د اهل جهنم دا قول نقل شوې دې چه افسوس نن زمونږ څوك سفارش کولو والا نشته دې اونه مو څوك دوست. اوپه یو بل مقام باندې فرمائی چه فدیه به هم نشې اخستلې .

قوله تعالی:-وَلَا يُؤْخَذُ مِنْهَا عَدْلٌ

دفدیه نه قبلیدل:: په یوبل مقام کښې فرمائی چه کوم خلق په کفر باندې مړه شی که هغوی سروزورونه دکه دادنیا ورکړی اود عذابونونه بچ کیدل غواړی نوبیا هم نشی اخستلې.په یو بل مقام کښې فرمائی که کافرو سره که دټولې زمکې ټول څیزونه اوددې په شان نور هم وی او دقیامت په ورځ هغه فدیه ورکړی اود عذاب نه بچ کیدل غواړی نوبیا به هم قبول نه وی. اوپه دردناك عذاب کښې به اخته وی. اوپه بل ځائې کښې دی اګرچه هغوی زبردسته فدیه هم ورکړی نوبیا به هم قبول نه وی او په یو بل مقام کښې دی چه نن به نه ستاسونه فدیه اخستې شی او نه به دکافرونه.ستاسو ځائې دوزخ دې او هم په دې اوور کښې ستاسو مولا دې.مطلب دادې چه ایمان نه بغیر صرف دسفارش او شفاعت آسره بې کاره ده. په قران پاك کښې دی چه دهغه ورځې نه مخکښې مخکښې خپلې نیکئ اوکړئی چه په کومه ورځ اخستل خرڅول نه وی او نه به شفاعت وی او په بل ځائې کښې دی چه ﴿لَا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خِلٰلٌ﴾ په هغه ورځ به نه بیعه وی او نه به دوستانه وی.

دعدل معنی په دې ځائې کښې د بدلې ده. اوبدل او فدیه یو ده. د حضرت علی ﷺ والا روایت کښې دشفاعت معنی نفل اودعدل معنی فریضه روایت ده. لیکن دا قول په دې ځائې کښې غریب دې. او صحیح قول رومبې دې. په یو بل روایت کښې دی چه نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړې شو دعدل څه معنی ده؟نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه فدیه .(۱)

قوله تعالی:-وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ

مدد به نشی کولې:-دهغوی مدد به هم نشی کولې.یعنی ددوی به هیڅوك حمایت کولو والا نه وی. رشته دارئی به ختمې شی. مرتبې به ختمې شی. د هیچا په زړه کښې به ددوی دپاره څه رحم نه وی. نه

---

(۱) الطبری: ۷۶۹/۱،

Scanned with CamScanner

به دوی کښې په خپلو کښې څه رحم وی اونه به څه قوت وی .په یو بل مقام کښې فرمانی چه﴿وَهُوَيُجِيْرُوَلَا يُجَارُعَلَيْهِ﴾هغه پناه ورکوی اودهغه دنیولو نه هېڅوك نجات ورکولو والانشته دې. اوپه بل مقام کښې فرمانی چه نن ورځ د الله تعالی پشان نه څوك عذاب ورکوونکې شته اونه دهغه پشان څوك قیدونکی او بندونکی. په بل مقام کښې دی چه ﴿مَالَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ۝ بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُوْنَ ۝﴾ تاسو نن ولې دیوبل مدد نه کوئی؟ بلکه هغوی به ټول په ټولو سرونه ټیټ کړی وی او فرمانبردار به ولاړ وی. په بل آیت کښې دی چه ﴿فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً﴾ هغوی چه به الله ﷻ نه سوا دالله تعالی دنزدیکت دپاره د نورومعبودانو عبادت کولو نن هغه معبودان ددوی مدد ولې نه کوی. بلکه هغوی ورك شو. مطلب دادې چه محبتونه فنا شو ، رشوتونه کټ شو ، شفاعتونه ختم شول، په خپلو کښې مدد کول او نصرت کول لرې شول. معامله هغه حاکم عادل او قهار او جبارذات سره ده چه هغه ذات ته به څوك شفاعت کولو والا نه وی او نه به څوك مددکولو والا وی. بلکه دوی به دټولو بدو بدله مومی.داد هغه په بندګانو کامل رحم او هغوئ باندې انعام او اکرام دې چه دګناه بدله یوشان ورکوی اودنیکئ بدله کم ازکم لس چنده زیاته وی. په قران کریم کښې یومقام کښې ارشاد فرمانی چه دوی لږ شان ایسار کړئی چه ددوی نه یو سوال اوکړې شی چه نن دوی دیوبل سره دمدد کولو نه دی او په خپل فکر کښې ولې اخته ولې دی ؟ بلکه زمونږ په وړاندې نې سرونه ټیټ کړی اوتابع فرمان ولاړ دی. (۱)

وَاِذْ	نَجَّيْنٰكُمْ	مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ	يَسُوْمُوْنَكُمْ	سُوْٓءَ	الْعَذَابِ	
اویادکړئ هغه وخت	کله چې مونږ نجات درکړو تاسوته	دفرعونیانو نه	چې رسول به نې تاسو ته	سختی	د عذاب		
اوهغه وخت(یادکړئ)چې مونږتاسو دآل فرعون نه نجات درکړو|چې تاسوته به نې سخت عذاب رسولو(هغه عذاب دا)						
يُذَبِّحُوْنَ	اَبْنَآءَكُمْ	وَيَسْتَحْيُوْنَ	نِسَآءَكُمْ ؕ	وَفِيْ ذٰلِكُمْ		
چې ذبح کول به نې	خامن ستاسو	اوژوندئ به نې پرېښودلې	اجینکئ ستاسو	اوپه دې حالت ستاسو کښې		
چې ستاسو خامن به نې حلالول اوستاسوجینکئ به نې(دوینځ توب دپاره) ژوندئ ساتلې| اوپدې کښې ستاسو						
بَلَآءٌ	مِّنْ رَّبِّكُمْ	عَظِيْمٌ ۝	وَاِذْ	فَرَقْنَا	بِكُمُ الْبَحْرَ	
آزمیت ووٴ	دطرفه درب ستاسو نه	لوئ	اویادکړئ کله چې	جدا کړو مونږ	ستاسو دپاره دریاب		
دپروردګار دطرفه ډیرلوئې آزمیښت وو| اوهغه وخت (یادکړئ) چې مونږستاسو دپاره سمندراوشلولو|					
فَاَنْجَيْنٰكُمْ	وَاَغْرَقْنَآ	اٰلَ فِرْعَوْنَ	وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ۝			
نو نجات درکړو مونږ تاسو ته	او غرق کړل مونږ	فرعونیان	اوتاسو ورته کتل			
نوتاسوموخلاص کړئی اوآل فرعون موستاسوپه وړاندې ډوب کړل						

قوله تعالی:-وَاِذْ نَجَّيْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ يَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ

په بنی اسرائیلو باندې دالله ﷻ انعامات:- په دې آیتونو کښې دالله ﷻ فرمان دې چه ائې دیعقوب ﷺ اولاده زما هغه مهربانی هم یاده کړئ چه ما تاسو دفرعون دبدترین عذاب نه بچ کړئی.فرعون یوخوب لیدلې وو چه دبیت المقدس طرفنه یو اوور راوچت شو چه دمصر دهر قبطی په کور کښې داخل شو او دبنی اسرائیلو کورونو ته داخل نشوچه دهغې تعبیر داوو چه بنی اسرائیلو کښې به یو سړې پیدا کیږی چه دهغه دلاسه به دفرعون غرور ختم شی. اوهغه ته به دخدائی د دعوې بدترینه سزا ملاوٴ شی. ددې

(۱) الطبری: ۱/۳۵)-

وجې دې ملعون څلورو واړو طرفونوته احکام جاری کړل چه په بنی اسرائیلو کښې کوم بچې پیدا کیږی نو سرکاری طور به ددې خبرې خیال ساتلې شی که هغه ماشوم نر وی نوهغه به زر تر زره قتل کولې شی. اوکه ښځه وی نو هغه دې پریښودې شی او دبنی اسرائیلو نه دې سخت بیګار واخستلې شی اودمشقت د کارونو بوج دې په هغوی واچولې شی.

قوله تعالی:-يُذَبِّحُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ

د هلاکانو ذبح کول:-په دې خائې کښې دعذاب تفسیر دهلکانو دوژلوسره اوکړې شو.او په سورت ابراهیم ﷺ کښې دیوعطف ئې په بل باندې واچولو چه ددې پوره تشریح به انشاء الله ﷻ په سورت "ق" کښې بیانیږی. الله ﷻ دې مضبوطی راکړی او ځمونږ مدد دې اوکړی او تائید دې اوکړی آمین.

د ﴿يَسُومُونَكُمْ﴾ معنی لګول اوهمیشه کول دی.یعنی هغوی به برابراینبودل.چونکه پدې آیت کښې مخکښې دا فرمائیلی شوی وو چه زما نعمتونه یاد کړئی ځکه ئې دفرعونیانو عذاب کښې د تفسیر په طور هلکانووژلو سره بیان اوفرمائیلو. اوسورت ابراهیم په شروع کښې فرمائیلې شوی دی چه تاسو دالله ﷻ نعمتونه یادکړئی ځکه چه په هغه ځائې کښې ئې عطف سره بیان کړې دې چه دنعمتونو تعداد نور هم زیات شی. یعنی دمختلفو عذابونونه او دبچو قتل کولو نه موتاسو بچ کړئی د حضرت موسی ﷺ په لاس سره.

دمصر چه ځومره بادشاهان عمالیق وغیره په کفارو کښې وو هغه ټولوته به ئې فرعون ونیلو. لکه څنګه چه د روم بادشاه ته قیصر او دفارس بادشاه ته کسری اود یمن بادشاه ته تبع او د حبشې بادشاه ته نجاشی اودهند بادشاه ته بطلیموس وئیلې شو.ددې فرعون نوم ولید بن مصعب بن ریان وو. بعضو مصعب بن ریان هم وئیلی دی. دا د عملیق بن اود بن ارم بن سام بن نوح په اولاد کښې وو.دده کنیت ابومره وو. په اصل کښې داصطخر فارسیبانونه وو ، دالله ﷻ غصه او لعنت په ده باندې نازل شو.

قوله تعالی:-وَفِي ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ

په نجات کښې امتحان وو:- بیا ئې اوفرمائیل چه په دې نجات ورکولو کښې ځمونږ د طرف نه یو ډیر لوئې نعمت وو.د ﴿بَلَآءٌ﴾ اصل معنی آزمیښت ده.لیکن په دې ځائې کښې حضرت ابن عباس ﷺ، حضرت مجاهد رحمه الله ، ابوالعالیه رحمه الله اوسدی وغیره نه دنعمت معنی نقل ده. (۱) امتحان ښیګړه، بدی دواړه سره راځی. لیکن دبلاء لفظ عام طور د آزمښیت دپاره (۲) او ﴿ابلیه ابلاءوبلاء﴾ لفظ دښیګړې سره دآزمښیت په طور رازی. دا ونیلې شوی دی چه په دې کښې ستاسو آزمیښت وو یعنی په دې عذاب کښې او ددې بچو په قتل کولو کښې .قرطبی رحمه الله دې دویم مطلب ته د جمهورو قول وانی نو دې کښې اشاره ده د ذبح وغیره طرفته او د (بلاء) معنی به د بدئی وی.

قوله تعالی:-وَإِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَأَنجَيْنَاكُمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ

دفرعونیانو نه نجات:- بیا فرمائی چه مونږ فرعونیانو نه بچ کړئی. تاسو حضرت موسی علیه السلام سره روان شوئی او فرعون ستاسو نیولو پسې در اووتلو. او تاسو دپاره اوبه اودرولې او تاسو مو دې کښې پوری ویستئ اوستاسو مخکښې مو دفرعون سره د لښکره ډوب کړو. ددې پوراتفصیل به انشاء الله سورة شعراء کښې رشی.

د بنی اسرائیلو موسی ﷺ سره روانیدل:- عمرو بن میمون اودی رحمه الله فرمائی چه کله حضرت موسی ﷺ بنی اسرائیل خان سره واخستل او اووتلو او فرعون ته ددې خبر اوشو نو هغه اووئیل کله چه چرګ اذان اوکړی نوبیا اوزئی او هغه اونیسئ او وې وژنئ. خو په هغه شپه چرګ هډو تر سحره پورې اذان اونکړو

---

(۱) الطبری : ۱ / ٤٨)-

(۲) الطبری : ۱ / ٤٨)-

Scanned with CamScanner

دالله ﷻ په حکم سره ، د چرګ اواز اوريدو سره فرعون يوچيلئ ذبحه کړه او وې ونيل چه ددې نه مخکښې چه ددې د کليجئ نه څه فارغ شم ددې نه مخکښې دشپږ لاکهو قبطيانو لښکرزما په وړاندې حاضريدل پکار دی.نوحاضر کړې شو. اودې ملعون دومره غټ تعداد سره ډله واخسته اودبنی اسرائيلو د هلاکت دپاره ډير په شان وشوکت سره اووتلو اودسمندرپه غاړه نې اومونډلو.اوس په بنی اسرائيلوباندې دنيا تنګه شوه. که روستو کيږی نو دفرعونيانو دتورو لاندې راځي اوکه مخکښې ځی نو د مهيانو خوراک کيږی . په دغه وخت کښې حضرت يوشع ﷺ اوفرمائيل چه انې دالله ﷻ نبی اوس به څه کيږی ؟ دوی اوفرمائيل چه اوس امر د رب مخکښې دی ، په دې آوريدو سره هغوی خپل آس اوبوته داخل کړو خوکله چه نې په ژورو اوبو غوپې اووهلې نو واپس غاړې ته راغلو او تپوس نې اوکړو انې موسی ﷺ دالله ﷻ مدد چرته دې ؟ نه خو مونږ تا په دروغه ګنړو او نه الله ﷻ لره. دړې خل داشان ئی اوونيل. بيا حضرت موسی ﷺ طرفته وحی راغله چه خپله همساباندې سمندراووهه، دهمسا وهلو سره اوبو لار جوړه کړه اوبه دغرونو پشان سختې شوې .حضرت موسی ﷺ او ددوی منلووالا په دې لارو باندې تير شول ، کله چه فرعون اودهغه لښکر ددوی دا داسې پورې کيندل اوليدل نو هغوی هم خپل آسونه درياب کښې داخل کړل ، هرکله چه دفرعون ټول لښکر سمندر ته داخل شو نواوبو ته ديوخائې کيدو حکم اوشو اود څلورو واړو طرفونونه يو حال جوړ شو اوټول په ټوله ډوب شو. بنی اسرائيلو چه دالله ﷻ دقدرت دانظاره اوکتله په خپلوسترګو سره اوکتله نو پدې سره هغوی ډير زيات خوشحاله شو او خپله آزادی او دفرعون بربادی ددوی دپاره دخوشحالئ سبب جوړ شو. دا هم روايت دې چه دا د عاشورې ورځ او دمحرم لسمه نيټه وه.

ديهوديانو روژه نيول:- په مسند احمد کښې يو حديث دې چه کله حضرت محمد ﷺ مدينې منورې ته تشريف راوړو نو وې کتل چه يهوديان دعاشورې دورځې روژه نيسی نو تپوس نې اوکړو چه تاسو ددې ورځې روژه ولې نيسئ ؟ هغوی اونيل څکه چه په دې مبارکه ورځ بنی اسرائيل دفرعون د لاس نه آزاد شوی وو او دهغوی دښمن غرق شو. نودهغې په شکر کښې حضرت موسی ﷺ دا روژه اونيوله. نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه په تاسو کښې زيات حقدار دحضرت موسی ﷺ څه يم . نو نبی کريم ﷺ پخپله هم ددې ورځې روژه اونيوله. او خلقو ته ئې هم ددې ورځې د روژې نيولو حکم اوکړو. ([1])بخاری ،مسلم،نسائی اوابن ماجه کښې هم دا حديث موجود دې([2])يو بل ضعيف حديث کښې دی چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه په دې ورځ باندې الله ﷻ دبنی اسرائيلو دپاره اوبه اودرولې وې . ددې حديث راوی زيد العمی دې او دده شيخ يزيد رقاشی دده نه هم زيات ضعيف دې.

وَاِذْ وٰعَدْنَا	مُوْسٰٓى	اَرْبَعِيْنَ	لَيْلَةً	ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ	الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ
اوياد کړئ| کله چې وعده کړې وه مونږ|دموسی سره |څلويښت	شپې |بيا |اونيولئ تاسو| سخې |روستو دتلو دهغه نه	
اوبيا مونږ موسی سره(دتوراة ورکولو دپاره)دځلويښتوشپووعده اوکړه|نوتاسودهغه(دکوه طوردتلو)نه پس					
وَاَنْتُمْ	ظٰلِمُوْنَ ۝	ثُمَّ	عَفَوْنَا	عَنْكُمْ	
دغه وخت وئ تاسو	زياتې کونکی په نفسونو خپلو	بيا	معافی اوکړه مونږ	تاسو ته	
(دسامری په وينا)څخې(په خدائې)اونيولو|اوپخپل ځان موزياتې اوکړو|بيامونږ تاسود دې جرم نه					

[1]) احمد: ۲۹۱/۱،

[2]) صحيح بخاری : كتاب الصوم صوم يوم عاشوراء : ۲۰۰٤، صحيح مسلم: ۱۱۳۰، ابوداود: ۲٤٤٤، ابن ماجة: ۱۷۳٤)-

مِّنۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ	لَعَلَّكُمۡ	تَشۡكُرُوۡنَ ﴿۵۲﴾	وَاِذۡ اٰتَيۡنَا	مُوۡسَى
روستو ددغه نه	شاید چې تاسو	شکر ګزار شئ	اویادکړئ کله چې اورکړو مونږ	موسی ته
پس معاف کړئ	چې تاسو (زما د دې نعمت) شکر اوباسئ		اویادکړئ کله چې مونږ موسی ته	

الۡكِتٰبَ وَالۡفُرۡقَانَ	لَعَلَّكُمۡ	تَهۡتَدُوۡنَ ﴿۵۳﴾	
کتاب	اوفرق کونکې	اډپاره ددې	چې تاسو نیغه لاربیا مومئ
کتاب (توراة) ورکړو	چې دحق اوباطل بیلونکې وو		چې تاسو سمه لار اومومئ

قوله تعالی:- وَاِذۡ وٰعَدۡنَا مُوۡسٰۤى اَرۡبَعِيۡنَ لَيۡلَةً

دځلویښتو ورځووعده او دسخی عبادت:- په دې ځائې کښې هم الله ﷻ خپل احسانات وریادوی چه کله ستاسونبی حضرت موسی ﷺ دځلویښتو ورځو په وعده ستاسونه لاړو اوده دتلو نه پس تاسود سخی عبادت شروع کړو اوبیادهغه په راتګ باندې تاسو ددې شرک نه توبه اوویستله نومونږ ستاسوددې دومره کفرنه باوجود تاسواوبخښلئ. او په بل ځائې کښې ارشاددې چه ﴿وَوٰعَدۡنَا مُوۡسٰى ثَلٰثِيۡنَ لَيۡلَةً وَّاَتۡمَمۡنٰهَا بِعَشۡرٍ﴾ یعنی مونږ دحضرت موسی ﷺ نه د دیرشوشپو وعده واخستله اولس (ورځې) موپرې زیاتې کړې او ځلویښت شپې مو کړې. وئیلې شی چه دوعدې دا زمانه پوره د ذی القعده میاشت وه او لس ورځې د ذی الحجې وې. دا واقعه دفرعونیانو نه دنجات او دسمندر نه د راوتلو نه پس راپیښه شوې وه.

قوله تعالی:- وَاِذۡ اٰتَيۡنَا مُوۡسَى الۡكِتٰبَ وَالۡفُرۡقَانَ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُوۡنَ

دکتاب ملاویدل:- دکتاب نه مراد تورات دې او فرقان هر هغه څیز ته وئیلې شی چه په حق او باطل اوهدایت او ضلالت کښې فرق اوکړی. داکتاب هم ددې واقعې نه پس ملاؤ شو لکه څنګه چه سورت اعراف ددې واقعې په طرز بیان شوې دې. په بل ځائې کښې ﴿مِنۡۢ بَعۡدِ مَاۤ اَهۡلَكۡنَا الۡقُرُوۡنَ الۡاُوۡلٰى﴾ هم راغلی دی. یعنی مونږ دمخکښو خلقو د هلاکت نه پس حضرت موسی ﷺ ته مونږ هغه کتاب ورکړو چه دټولو خلقودپاره بصیرت ورکوونکې اوهدایت او رحمت دې چه خلق ددې نه نصیحت حاصل کړی. دا هم وئیلې شوی دی چه واؤ زائد دې او پخپله کتاب ته فرقان وئیلې شوی دی. لیکن دا غریب دې. بعضو وئیلی دی چه په کتاب باندې د فرقان عطف دې یعنی کتاب مو هم ورکړو اومعجزه هم. په اصل کښې دمعنې اعتبار سره د دواړو مفهوم هم یو دې. او ددې اسې یو څیز دوه نومونونه بطور عطف کلام عرب کښې راځی. دعربو شاعرانو ډیر شعرونه ددې شاهد دی.

وَاِذۡ	قَالَ						
اویادکړئ کله چې	اوونیل						
اوکله چې موسی ﷺ							
مُوۡسٰى لِقَوۡمِهٖ	يٰقَوۡمِ	اِنَّكُمۡ	ظَلَمۡتُمۡ	اَنۡفُسَكُمۡ			
موسی	قوم خپل ته	اے قومه زما	ابیشکه تاسو	ظلم کړې دې	په نفسونو خپلو باندې		
خپل قوم ته اوونیل	اچې اې قومه تاسو په خان ډیر زیاتې کړیدې						
بِاتِّخَاذِكُمُ	الۡعِجۡلَ	فَتُوۡبُوۡۤا	اِلٰى بَارِئِكُمۡ	فَاقۡتُلُوۡۤا	اَنۡفُسَكُمۡ ؕ		
په سبب دنیولو ستاسو	سخی لره (انوتو به اوباسئ)	خالق	خپل ته	اواووژئ	خانونه خپل		
چې څخې موپه خدائې سره نیولې دې (انوخپل پیدا کونکی ته توبه اوباسئ (داسې) چې خپل خانونه اووژئ							

Scanned with CamScanner

ذٰلِكُمْ	خَيْرٌ	لَّكُمْ	عِنْدَ بَارِئِكُمْ ؕ	فَتَابَ	عَلَيْكُمْ ؕ
داخان وژل ستاسو|بهتر دی|ستاسو دپاره|په نزد د خالق ستاسو| نو قبوله ئې کړه توبه| ستاسو				
داکار(چه قتل دی) ستاسو دپاره دالله په نزد غوره دی	(نوالله) ستاسوتوبه قبوله کړه				

اِنَّهٗ	هُوَ التَّوَّابُ	الرَّحِيْمُ ۝	
بیشکه هغه دی	ډیر توبه قبلونکی	رحم کونکی	
بیشکه هغه معاف کوونکی ،مهربان دی			

قوله تعالی:- وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اِنَّكُمْ ظَلَمْتُمْ اَنْفُسَكُمْ بِاتِّخَاذِكُمُ الْعِجْلَ فَتُوْبُوْٓا اِلٰى بَارِئِكُمْ

توبه قبلیدل:-په دې ځاني دهغوی دتوبې طریقه بیانیږی.هغوی د سخی عبادت اوکړواودهغې محبت ددې خلقوپه زړونو کښې پریوتو.بیا دحضرت موسی ﷺ په پوهولو دوی په هوش کښې شو اوپخپلو کړو باندې شرمنده شو. اودوی ته دخپلې ګمراهئ یقین اوشو او توبه ئې ویسته نوبیا دوی ته حکم اوشو چه تاسو په خپلو کښې یو بل قتل کړئی. هغوی دا اوکړل اوالله ﷻ دهغوی توبه قبوله کړه. او قاتل مقتول دواړه ئې اوبخښل. ددې پوره بیان به دسورت طه په تفسیر کښې راشی انشاء الله.د حضرت موسی ﷺ دا فرمان چه خپل خالق ته توبه ګار شئ ،دا ښائی چه ددې نه به زیات بل کوم ظلم وی چه تاسودې الله ﷻ پیدا کړی او بیاتاسو دبل چا عبادت کوئی.په یو روایت کښې دی چه هغوی ته ئې حکم دالله ﷻ واورولو او چه کومو خلقو د سخی عبادت کړې وو هغوی ئې کینول او نور خلق ئې اودرول او قتل کول ئې شروع کړل. قدرتی طور تیاره شوې وه ، هرکله چه تیاره لاړه نو دوی منع کړې شو. په شمار کولو سره معلوم شو چه اویازده کسان قتل کړې شوی وو. اود ټول قوم توبه قبوله کړې شوه. دا یوسخت حکم وو چه خلقو پوره کړو. او خپل پردنی ئې ټول قتل کړل تر دې پورې چه الله ﷻ دوی اوبخښل او حضرت موسی ﷺ اوفرمائیل چه اوس بس کړئی. مقتول ته ئې دشهید اجر ورکړو اود قاتل او دباقی خلقو توبه ئې قبوله کړه. او هغوی ته ئې د جهاد ثواب ورکړو. حضرت موسی ﷺ او حضرت هارون ﷺ چه کله خپل قوم قتل کول اولیدل نو دعا ئې شروع کړه چه ائې الله ﷻ دې سره خو به بنی اسرائیل ختم شی نودوی ئې معاف کړل. اوالله ﷻ اوفرمائیل چه زما پیغمبره د مقتولینو غم مه کوه دهغوی درجه خمونږ په نیز دشهیدانو ده هغوی مونږ سره ژوندی دی. او رزق به ورته ملاویږی. اوس حضرت موسی ﷺ اوددوی قوم ته صبر راغلو او دښځو او ماشومانو فریاد کول ختم شو ، توری بندې شوې،نیزې اوچړې بندې شوې. په خپلوکښې په پلارا و خوئې کښې قتل ختم شو او الله ﷻ ددوی توبه قبوله کړه. (۱)

وَاِذْ	قُلْتُمْ	يٰمُوْسٰى			
	اویاد کړئ کله چې	اوئیلی ووئ تاسو	اے موسی		
	او (بیا) کله چې تاسو موسی ﷺ ته اووئیل				
لَنْ	نُّؤْمِنَ	لَكَ	حَتّٰى	نَرَى	اللّٰهَ	جَهْرَةً
هرګز	مونږ یقین نه کوو	په خبره ستا	ترهغه پورې	چې اووینو مونږ	الله	ښکاره
مونږستاپه خبره هیڅکله یقین نه کوؤ| تردې چې الله ﷻ پخپله سرګند اووینو(نوهله به باور اوکړو)					

(۱) ابن ابی حاتم : ۱ / ۱۲۷ ،الطبری: ۳۰۶/۱۸)-

فَأَخَذَتْكُمُ	الصّٰعِقَةُ	وَأَنْتُمْ	تَنْظُرُونَ ﴿۵۵﴾	ثُمَّ	بَعَثْنٰكُمْ	مِّنْ بَعْدِ
پس اونیولئ تاسو	یوتندر	اوحال داچې	تاسو کتل	بیا	اژوندی کړئ مونږ تاسو	وروستو
نوپه تاسو تندر راغلو	او (د تندر راتلو په وخت کښې) تاسو ښکاره کتل	بیا د دې مرګ نه پس دوباره				

مَوْتِكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُونَ ﴿۵۶﴾	
دمرګ ستاسو نه	دې دپاره چې تاسو	شکر ګزار شئ	
مونږ راژوندی کړئ	چې (ددې احسان) شکر ادا کړئ		

قوله تعالی:- وَإِذْ قُلْتُمْ يٰمُوسٰى لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰى نَرَى اللّٰهَ جَهْرَةً

دالله د لیدو مطالبه:- حضرت موسیٰ ﷺ چه کله دبنی اسرائیلو اویا کسانو سره کوه طور ته دالله ﷻ دوعدې مطابق لاړو اوهغه کسانو دالله ﷻ کلام واوریدو نو حضرت موسیٰ ﷺ ته ئې اووئیل چه مونږ به هله اومنو چه کله الله ﷻ خمونږ مخامخ راشی. په دې ګستاخانه سوال باندې په دوی باندې د آسمان نه تندر راپریوتلو اویو سخت آواز راوچت شو په دې سره ټول په ټوله مړه شو. حضرت موسیٰ ﷺ چه کله دا اوکتل نو الله ﷻ ته په زارو شو اودالله تعالی په دربار کښې ئې عرض اوکړو چه زه به بنی اسرائیلو ته څه جواب ورکوم داډله دهغوی سرداران او دهغوی بهترین خلق وو. ائې الله ﷻ که ستا دا خوښه وه نو څه او دا خلق به دې ددې نه مخکښې مړه کړې وې. ائې الله تعالی! ددې بې وقوفانو په بې وقوفئ باندې مونږ مه نیسئ. دا دعا قبوله شوه او حضرت موسیٰ ﷺ ته اووئیلې شو چه په اصل کښې دوی د سخی عبادت کوونکو کښې وو. دوی ته هم سزاملاؤ شوه. بیائې هغوی ژوندی کړل او یونه پس بل ژوندی کړې شو. [1] دیو بل ژوندی کیدل ئې اولیدل.

محمد بن اسحاق رحمه الله فرمائی چه کله حضرت موسیٰ ﷺ خپل قوم ته ئې راغلو اودوی ئې د سخی په عبادت کولو اوکتل نو خپل رور اوسامری ته ئې خبرداړ ورکړو او سخی ئې اوسیزلو اوددې ایره ئې په سمندر کښې واچوله اوددې نه پس ئې په دوی کښې بهترین خلق منتخب کړل اوخان سره ئې واخستل ددې خلقو تعداد اویا وو او کوه طور ته دتوبې دپاره لاړل. دوی ته ئې اووئیل چه تاسو توبه اوکړئ او روژه اونیسئ اوپاکې کپړې واغوندئ او پاک شئ. هرکله چه کوه طور ته دالله د حکم مطابق اورسیدل نو دې خلقو حضرت موسیٰ ﷺ ته اووئیل چه ائې دالله ﷻ پیغمبره الله ﷻ ته دعا اوکړه چه هغه ذات مونږ ته خپل کلام واوروی. هرکله چه حضرت موسیٰ ﷺ غره لره ورغلو نو یو وریځ راغله او ټول غر ئې په خپل ګیره کښې واخستلو او هم په دې کښې دننه دننه حضرت موسیٰ ﷺ الله ﷻ ته نزدې شو. هرکله چه دالله کلام شروع شو نو د حضرت موسیٰ ﷺ تندې نور په ځلیدو شو. نوداشان دوی یو هم هغه طرفته نظر نشو کولې. وریځې ختمې شوې او ټول سجده کښې پریوتل. حضرت موسیٰ ﷺ دعاسره خلقوهم دالله ﷻ کلام واوریدو چه هغوئ ته د احکامو حکم بیان کیدو. هرکله چه دالله ﷻ کلام ختم شو نو وریځې ختمې شوې او حضرت موسیٰ ﷺ دې خلقو ته راغلو نودې خلقو اووئیل چه ای موسیٰ ﷺ مونږ به تر هغه وخته پورې ایمان نه راوړو ترکومې پورې چه خپل رب مونږ پخپله مخامخ اونه ګورو. ددې ګستاخئ په وجه باندې په هغوی زلزله راغله او ټول په ټوله هلاک شو.

دموسی ﷺ دعا:- پس حضرت موسیٰ ﷺ دزړه په اخلاص سره دعاشروع کړه او وې وئیل چه ددې نه خو دابنه وه چه مونږ مخکښې ددې نه هلاک شوې وې، دبې وقوفانو په کارونو باندې مونږ هلاک نه کړې دا خلق خو د هغوئ خاص خاص او خوښ خلق وو کله چه څه یوازې بنی اسرائیلو ته لاړشم نوهغوی ته به څه جواب ورکوم، څوک به زما دا خبره رښتیا ګنړی او ددې نه پس به څوک په ماباندې

---

[1]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۱۷۳)-

Scanned with CamSc

ایمان راوړی. الله ﷻ خمونږ توبه دلته قبوله کړه اوبه مونږ باندې رحم او فضل اوکړه. حضرت موسی ﷺ همداشان په خشوع او خضوع کښې دعا غوښتله تردې پورې چه الله ﷻ دده دا دعا قبوله کړه اوهغه مړی نې ژوندی کړل. ددې نه پس ټولو یو خله سره دبنی اسرائیلو د طرف نه توبه غوښتل شروع کړل ، دوی ته اووئیلې شو چه تر کومې پورې دوی خپل ځانونه هلاك نه کړی او یو بل لره قتل نه کړی نو ددوی توبه به نه قبلوم. سدی رحمه الله وغیره وائی چه دا واقعه د بنی اسرائیلو په خپلوکښې دجنګ جګړې نه پس ده ،ددې نه دا هم معلوم شوچه داخطاب عام دې لیکن حقیقت کښې ددې نه مراد هم دا اویا کسان دی.

دامام رازی یوضعیف روایت:-رازی رحمه الله په خپل تفسیر کښې ددې اویا کسانو قصه لیکلې ده چه هغوی دخپل ژوندی کیدو نه پس اووئیل انې د الله ﷻ نبی ! دالله ﷻ نه دعا اوکړه چه الله مونږ نبیان کړی . دوی دعا اوکړه او هغه قبوله شوه خو دا غریب قول دی.د حضرت موسی ﷺ په زمانه کښې سوا د حضرت هارون ﷺ نه اودده نه پس حضرت یوشع بن نون ﷺ او دنورو نبوت ثابت نه دی. اهل کتاب دا هم عوی کوی چه دې خلقو دخپلې دعا مطابق الله ﷻ لره په خپلو سترګو هم په دې خانې کښې اولیدو ، دا هم غلط دی ځکه چه پخپله حضرت موسی ﷺ چه کله دالله ﷻ د دیدار دپاره سوال اوکړو نو دې منع کړې شو. نودا اویا کسان به څنګه دالله ﷻ دیدار اوکړې ؟ ددې آیت په تفسیر کښې یو بل قول هم دې حضرت موسی ﷺ تورات راوړو او په دې کښې داحکامو مجموعه وه او دوی ته نې اووئیل چه دا دالله ﷻ کتاب دې ، په دې باندې عمل اوکړئی او مضبوطیا سره په دې باندې پابند اوسئی نو هغوی اووئیل چه انې حضرت موسی ﷺ مونږ ته څه خبردې الله ﷻ دې مونږ ته په خپله رابنکاره شی او مونږ ته پخپله ولې نه وائی؟ څه وجه ده چه هغه تاسو سره خبرې کوی اومونږ سره نه کوی؟ ترکومې پورې چه الله ﷻ مونږ پخپله اونه ګورو تر هغه پورې به ایمان راونړو. ددې قول په وجه په هغوی باندې دالله ﷻ غضب نازل شو اوهغوی هلاك شو. بیا ژوندی کړې شو ،بیا حضرت موسی ﷺ هغوی ته اووئیل چه اوس تاسو دا تورات اونیسئ ،هغوی بیا انکار اوکړو ، دې ځل فرښتو غر اوچت کړو اوددوی په سرونو نې زوړند کړو که چرې نه منئ نودا غر به ستاسو په سرونو راغوزار کړې شی او تاسو ټول به مړه شئ ،[1] ددې نه داهم معلوم شو چه مرګ نه پس به دوی ژوندی شو اوبیاهم دوی مکلف وو. یعنی دالله ﷻ احکام بیاهم په دوی باندې جاری وو.

دامام ماوردی قول:- ماوردی رحمه الله وئیلی دی چه بعضې خلق وائی چه کله هغوی د الله ﷻ دا زبردسته نښه اوکتله او دمرګ نه پس بیا ژوندی شو نو بیا ددوی نه شرعی تکلیف لرې شو. ځکه چه اوس دوی مجبور وو چه ټول هر څه اومنی او پخپله دوی سره دا واقعه پیښه شوه نو اوس تصدیق یو بې اختیار امر جوړ شو. دوئمه ډله وائی چه نه بلکه باوجود ددې نه هغوی په شرعی احکامو باندې مکلف وو ځکه چه هر عاقل مکلف دی.

دامام قرطبی قول:- قرطبی رحمه الله وائی چه صحیح قول هم دادی. دا امور په هغوی باندې قدرتی طور سره راغلی وو دوی د شریعت د پابندئی نه نشو آزادیدلې. پخپله بنی اسرائیلو هم لوئې لوئې معجزې اوکتلې ، دوی سره داسې داسې کارونه اوشول چه بالکل عجیبه او خلاف قیاس او زبردستی معجزې وی. ددې نه باوجود هغوی هم مکلف وو ،داشان دوی هم. صحیح هم دا قول دې او واضح امر هم دا دې ، والله اعلم.

---

[1]) الطبری: ۸۸/۲)-

Scanned with CamScanner

وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ
اوسوري کړي وه مونږ په تاسو باندې وريځ
اوپه تاسوباندې مې د وريځې سورې جوړ کړې وو
وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا
اونازل کړل مونږ په تاسو باندې من مرزان خورئ د پاکو څيزونونه هغه
اومن وسلوى (ترنجبين اومرزان)مو درته اوليږل اواجازت مودرکړو،چې مونږ درته کوم پاک څيزونه
رَزَقْنٰكُمْ ؕ وَمَا ظَلَمُوْنَا وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ
چې درکړې دي مونږ تاسو ته اوظلم نه ووکړې هغوئ په مونږ باندې بلکه ووهغوئ په خانونوخپلو باندې
درکړې دي هغې نه خورئ اوپه مونږ په هغوى هيڅ زياتې نه ووکړې بلکه هغوى په خپله پخپلوخانونو
يَظْلِمُوْنَ ۝
چې ظلم به ئې کولو
زياتې کولو

قوله تعالى:-وَظَلَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْغَمَامَ

په بنى اسرائيلو باندې دوريځو سورې :-مخکښې بيان شوى وومونږ ستاسونه فلانى تکليفونه لرې کړل. اوس بيان کيږى چه مونږ تاسو ته فلانى فلانى نعمتونه درکړل. غمام د غمامة جمع ده ، چونکه دا آسمان پټوى نوددې وجې دې ته غمامه وائى.دايوسپين رنګ والاوريځ وه.چه په وادى تيه کښې د دوى په سرونو باندې سيورئى(سورې) شوې وو.نسائى وغيره کښې دحضرت ابن عباس ﷺ نه يواورد حديث روايت شوى دې. ابن ابى حاتم وائى چه حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت ربيع بن انس رحمه الله،حضرت ابومجلز رحمه الله،ضحاك رحمه الله،او سدى رحمه الله وغيره کښې ددې تائيد کړې دې. بعضې خلق وائى چه دا وريځې دعامو ورځو د وريځو نه هم زياتې يخې وې او ښه وې. مجاهد رحمه الله فرمائى چه دا هم هغه وريځ وه چه په دې به الله تعالى د قيامت په وريځ رازى.د حضرت ابوحذيفه ﷺ قول هم دادې.

﴿هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ﴾ الخ په دې آيت کښې ددې ذکر دې چه دې خلقو ته ددې انتظاردې چه الله ﷻ په وريځ کښې راشى او دهغه ذات فرښتې هم.همدا هغه وريځې دى چه په دې کښې دبدر په ورځ فرښتې راغلې وې.

قوله تعالى:-وَاَنْزَلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ؕ

دالله ﷻ خاص نعمت من اوسلوى :-چه کوم من په هغوى باندې نازل شو هغه په ونو باندې نازل شوې وو. دوى به سحرتلل او هغه به ئې راغونډولو او خوړلو به ئې.دا دګوند په شان وو. څوك وائى چه دپرځې په شان وو. حضرت قتاده رحمه الله فرمائى چه رڼې په شان من او سلوى به ددوى کورنو ته نازليده چه د پيټو نه زيات سپين اودشهدونه زياته خوږه وو. دصباصادق نه واخله تر نمر ختلوپورې به نازليده . هر سړى به دخپل کور دپاره دومره اوړه چه خومره به ددوى دپاره ددې ورځې دپاره کافى وو. که چا به زياته واخستله نوهغه به خرابيده. دجمعې په ورځ به هغوى د دوؤ ورځو اخستله.دجمعې او هفتې ورځ په دې وجه چه هفته دهغوى لويه ورځ وه. ربيع بن انس رحمه الله فرمائى چه من دشهدو په شان وو او په دې کښې به ئې اوبه يو خائې کولې او څکل به ئې.شعبى رحمه الله فرمائى چه ستاسودا شهد دهغه من سلوى اويايمه حصه ده.په شعرونو کښې هم من دشهدو په معنې رازى. دا ټول قولونه نزدې نزدې دى.غرض دا چه

Scanned with CamScanner

دایوځیز وو چه هغوی ته به بغیر د څه تکلیف نه ملاویدو. که دا ځانله خوری نودادخورلو څیز وو او که په اوبوکښې ګډ کړی نو دځکلو څیز وو او که نورو څیزونوسره ګډکړې شی نو بل څیز تری جوړیږی خو په دې ځائی کښې دمن نه مراد هم دا مشهور من نه دې.

صحیح بخاری کښې په یو حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمانی چه خریږی د من پشان دی او ددې اوبه دسترګې دپاره شفاده[1] دې حدیث ته ترمذی حسن وائی. په ترمذی کښې دی چه عجوه چه داد مدینې دکهجورونه یوقسم دې ،هغه جنتی څیز دې او په دې کښې دزهرو تریاق دې او خریږې دمن پشان دې اوددې اوبه دسترګې د درد دپاره دوائی ده[2] دا حدیث حسن غریب دې. په نورو مفیدو طریقو سره هم روایت شوې دې. دابن مردویه په یو حدیث کښې دی چه صحابه کرامو ﷺ ددې ونې په باره کښې ا ختلاف کړې دې چه دزمکې دپاسه وی چه ددې جړې مضبوطې نه وی ،بعضې وائی چه د خریږی ونه ده. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خریږې من دې اوددې اوبه دسترګې دپاره مفید دې.[3]

سلوی یو قسم مارغه دې چه دچنچنړې نه لږ شان غټ وی. سره بخنه وی. د جنوب د طرف نه به هواګانې چلیدې او دا مارغان به ئې هغه ځائې کښې جمع کول . بنی اسرائیلو به دخپل ضرورت مطابق دا نیول او ذبح کول به ئې او دبلې ورځې دپاره به ئې ایښودل نوخرابیدل به اودجمعې په ورځ به ئې د دوۍ ورځو دپاره ایښودل ځکه دهفتې ورځ به دهغوی دپاره د اختر ورځ وه. په دې ورځ باندې به په عباداتو کښې مشغول اوسیدل او دښکار وغیره نه ورته دبچ کیدو حکم وو. بعضو خلقو ونیلی دی چه دا مارغان د کونترو پشان وو. دیو میل په فاصله کښې به دیو نیزې برابر یو اوچت ډیرې ددې مارغانو وو. دا دواړه څیزونه په هغوی باندې په وادی تیه کښې نازل شوې وو. چه په هغه ځائې کښې دوی خپل پیغمبر ﷺ ته وئیلی وو چه په دې څنګل به زمونږ دخوراک انتظام څنګه کیږی. نو دوی باندې من وسلوی نازله شوه.

داوبو انتظام:-اوکله چه حضرت موسی ﷺ ته داوبو دپاره درخواست اوکړې شونو الله ﷻ ورته اوفرمائیل چه دا کانړۍ په خپله همسا باندې اووهه ، همسا وهل وو چه ددې کانړی نه دولس چینې روانې شوې او دبنی اسرائیلو دولس قبیلې وې. هرې یوې قبیلې ځان دپاره یویو چینه اونیوله. بیا ئې دسیوری دپاره سوال اوکړو چه په دې خوشی میدان کښې دسیوری نه بغیر اوسیدل مشکل دی نوالله ﷻ په دوی باندې دطورغر سیورنی کړو.پاتې شو لباس نودالله ﷻ قدرت سره به چه هغوی کوم لباس اغوستلو نو هغه به ددوی قد سره سره اوږدیدو. دیو کال بچې چه به کوم لباس وو هغه به دده قد سره سره اوږدیدو اوبه نه هغه شلیدو اونه خرابیدو اونه به خیرنیدو. ددې ټولو نعمتونو ذکر په قران پاک کښې په مختلفو ځایونو کښې موجود دې لکه د ﴿وَإِذِ اسْتَسْقَىٰ﴾ والا آیت چه دې. وغیره.

هذلی رحمه الله فرمانی چه سلوی شهدو ته وئیلې شی. ددوی داقول غلط دې. مؤرخ او جوهری رحمه الله هم دا قول وئیلې دې او ددې په شهادت کښې ئې دعربو شاعرانو شعرونه او بعضې لغوی محاورې پیش کړې دی .بعضوونیلی دی چه دیو دوائې نوم دې. نسائی یاکسائی وائی چه سلوی واحدلفظ دې. او د دې جمع سلاوی رازی.اوبعضې وائی چه په جمع او مفردکښې هم دا صیغه رازی. یعنی لفظ سلوی.

الغرض دالله ﷻ دوه نعمتونه وو چه دهغې خوراک ددوی دپاره مباح کړې شوې وو خو دې خلقو دالله ﷻ ددې نعمتونو ناشکری اوکړه. اوهم ددوی په خپلو خانونوباندې ظلم وو ددې باوجود چه په دوی باندې د الله ﷻ ډیر نعمتونه نازل شوی وو.

---

[1]) صحیح بخاری: کتاب التفسیر باب(وظلنا علیکم الغمام..): ٤٤٧٨، وانظر: ٥٧٨، صحیح مسلم: ٢٠٤٩، ترمذی:)-

[2]) ترمذی کتاب الطب: باب ماجاء فی الکمأة.....٢٠٦٦، سنده حسن)-

[3]) ددې سن بالشواهد حسن دې)-

Scanned with CamScanner

صحابه کرام ﷺ او بنی اسرائیل :- چه دبنی اسرائیلو دحالت دانقشه مخکښې کیږدو او بیا د رسول الله ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم حالت باندې یو نظر واچوؤ چه باوجود د سختو مصیبتونو برادشت کولو اوډیروزیاتو تکلفیونو برداشت کولو نه پس هم هغوی ﷺ دالله ﷻ په عبادت او د نبی کریم ﷺ په اطاعت باندې کلك ولاړوو. نه ئې معجزې اوغوښتلې اونه ددنیا راحتونه ئې اوغوښتل اونه ئې دخپل عیش دپاره څه دنیوی څیز دپیدا کولو خواهش اوکړو. په جنګ تبوك کښې چه کله د صحابه کرامو ﷺ د اولړې نه په بدحال وواودمرګ مزه ورته راغله نو صحابه کرام ﷺ نبی کریم ﷺ ته اوفرمانیل چه یارسول الله ﷻ دعا اوکړئی چه الله ﷻ په دې خوراك کښې برکت واچوی اوالله ﷻ ئې دعا قبوله کړه او الله ﷻ په دې کښې برکت واچولو. هغوی ښه خوراك اوکړو اوټول لوښی ئې هم ډك کړل. هرکله چه داوبودیوبو ګوټ دپاره فریادیان شول نو دالله ﷻ درسول په دعا سره وریخ راغله او (اوبه) ډیرې زیاتې شوې او دوی پخپله هم څکلې او په نوروئې هم اوڅکولې. او مشکونه ئې تړې ډك کړل ، نوصحابه کرام ﷺ ددې ثابت قدمئ ، اولوالعزمی ، کاملې اتباع او د ربښتونی توحید د (نبی کریم ﷺ) صحابه کرام ﷺ د حضرت موسی ﷺ په ملګرو باندې ښکاره فضیلت ثابت کړو.

وَاِذْ	قُلْنَا	ادْخُلُوْا	هٰذِهِ	الْقَرْيَةَ		
او یادکړئ کله چې اووئیل مونږ چې ننوخئ ادې (مخامخ) کلی ته						
او (هغه وخت یاد کړه هغه د یادولو لائق دې) کله چې مونږ اووئیل چې دې ښار ته ننوخئ						
فَكُلُوْا	مِنْهَا	حَيْثُ	شِئْتُمْ	رَغَدًا	وَّادْخُلُوا	الْبَابَ
اوخورئ دهغې دبیداوار نه چې څنګه خوښه وی ستاسو پریمانه اوننوخئ په دروازه						
اودخپلې خوښی خوراکونه په کښې کوئی اود ښاردروازې ته سرتیټې (په عاجزئ سره) ننوخئ						
سُجَّدًا	وَّقُوْلُوْا	حِطَّةٌ	نَّغْفِرْ	لَكُمْ	خَطٰيٰكُمْ ؕ	
سر تیټې اووایئ زمونږ ګناه معاف کړه مونږ به معاف کړو تاسو ته ګناهونه ستاسو						
اولفظ حطة حطة (یعنی توبه توبه) وائې (په دې طریقه کولوبه) مونږبه ستاسو ګناهونه معاف کړو						
وَسَنَزِيْدُ	الْمُحْسِنِيْنَ ۝	فَبَدَّلَ	الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْا		
اوپه زیات فضل به اوکړومونږ اپه نیکانوخلقو باندې نو بدله کړه اهغه کسانو چې ظلم ئې کړې وؤ						
او نیکانو ته به زیات اجر ورکړو نو ظالمانو هغه خودلې شوې لفظ بدل کړل						
قَوْلًا غَيْرَ	الَّذِيْ	قِيْلَ	لَهُمْ	فَاَنْزَلْنَا	عَلَى الَّذِيْنَ	
خبره چې نه وه هغه اونیلې شوې هغوئ ته آخر نازل کړو مونږ په هغه کسانو باندې						
(او استغفارنه ئې توقې جوړې کړې) نومونږ په هغه کسانو د آسمان د طرفه عذاب راولیږلو						
ظَلَمُوْا	رِجْزًا	مِّنَ السَّمَآءِ	بِمَا	كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ۝ ع		
چې ظلم ئې کړې وؤ عذاب د آسمان نه په سبب د دې چې نافرمانی به ئې کوله						
څکه چه هغوی بهٔ ظلم کولو (او د ظلم سزا هم دا وی) څکه چې دوی بدعمله شوی وو						

Scanned with CamScanner

قوله تعالى:- وَإِذْ قُلْنَا ادْخُلُوا هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ فَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ رَغَدًا

مقدسې زمکې ته ددا خليدو حکم:- کله چه حضرت موسىٰ ﷺ د مصر نه بنى اسرائيلو سره راغلو اودوى ته ارض مقدس دتلو حکم اوشو ، چه کومه زمکه ددوى موروثى وه ،هغوى ته اووئيلې شو چه په دې خائې کښې چه کوم عماليق دى هغوى سره جهاد اوکړئى. نودې خلقوبزدلى اوکړه چه ددې په سزا دوى دوادى تيه ميدان ته اوليږلې شو. لکه څنګه چه په سورت مائده کښې ذکر دې.

دا کوم کلى وو؟:-دقريه نه مراد بيت المقدس دې.(۱) حضرت سدى رحمه الله ،حضرت ربيع رحمه الله ،حضرت قتاده رحمه الله اوابومسلم وغيره هم دا وئيلى دى. په قران پاک کښې دى چه موسىٰ ﷺ خپل قوم ته اووئيل چه انې زما قومه ! دې پاکې زمکې ته لاړشئ چه دا ستاسو دپاره ليکلې شوې ده. بعضو وئيلى دى چه ددې نه مراد اريحاء دې. بعضې وائى چه ددې نه مراد مصر دې. ليکن صحيح قول رومبې دې چه ددې نه مراد بيت المقدس دى. دا واقعه دتيه نه دوتلو نه پس ده. دجمعې په ورځ دمانښام په وخت کښې الله ﷻ دوى ته فتح ورکړه بلکه نمر نې ددوى دپاره لږ شان اودرولو چه فتح اوشى دفتحې نه پس دوى ته حکم اوشو چه دې ښار کښې سجده کوونکې ور داخل شئ ، دابه ددې فتحې دشکر دپاره وى.

قوله تعالى:- وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا

دسجدې حالت کښې داخليدلو مطلب:- حضرت ابن عباس ﷺ دسجدې نه مراد رکوع اخستې ده.(۲) راوى وائى چه دسجدې نه په دې خائې کښې مراد خشوع او خضوع ده. ځکه چه په حقيقت باندې ئې محمول کول ناممکن وو. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائى چه دا دروازه دقبلې طرف ته وه اوددې نوم باب الحطه وو . امام رازى رحمه الله دا هم وئيلى دى چه د دروازې نه مراد د قبلې طرف دې. دسجدې په خائې دې قوم په ځنګونو تګ شروع کړو ،اوپه شاباندې داخل شو اودسرونو د ټپټولو په خائې ئې اوچت کړى وو.(۳)

قوله تعالى:- وَقُولُوا حِطَّةٌ نَّغْفِرْ لَكُمْ خَطَايَاكُمْ

د حطة معنى:-د ﴿حِطَّةٌ﴾ معنى بخښش ده(۴) بعضو وئيلى دى چه دا امر حق دې.عکرمه رحمه الله وائى چه ددې نه مراد لااله الا الله وئيل دى. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائى چه په دې کښې دګناهونو اقرار وو. حسن رحمه الله او قتاده رحمه الله فرمائى چه ددې معنى ده انې الله ﷻ ازمونږ ګناهونه زمونږ نه لرې کړه(۵) بيادوى سره وعده کيږى که تاسو داسې وائې اوښار ته داخل شئ او د فتح په وخت تاسو دخپلې کمزورتيا اوالله ﷻ دنعمتونو او دخپلو ګناهونو اقرار اوکړو او خمانه مو بخښش اوغوښتلو نو چونکه داځيزونه ماته ډير خوښ دى نو زه به هم ستاسوګناهونه معاف کړم.

دفتحې په موقع عاجزى کول:- دفتح مکه په موقع باندې دالله ﷻ فرمان په سورت اذاجاء الخ کښې نازل شوې وو اوپه دې کښې هم داحکم وو چه کله دالله ﷻ مدد راشى او خلق دالله ﷻ دين کښې داخليږى نو انې نبى ﷺ اته دخپل رب تسبيح اوحمد وثناء وايه اودهغه نه بخښنه غواړئى،بيشکه هغه توبه قبلوونکې دې.په دې سورت کښې چه په کوم خائې کښې د استغفار ذکر دې نو بل طرفته د نبى کريم ﷺ دآخرى وخت خبر هم دې. حضرت ابن عباس ﷺ د حضرت عمر فاروق ﷺ په مخکښې ددې سورت يومطلب داهم بيان کړې وو چه هغوئ خوښ کړې وو(۶)کله چه دمکې د فتح نه پس نبى کريم ﷺ ښار

---

(۱) ابن ابى حاتم : ۱ /۱۸۱)-
(۲) الطبرى:۲/۱۱۳)-
(۳) ابن ابى حاتم: ۱/۱۸۳)-
(۴) ابن ابى حاتم: ۱/۱۸۳)-
(۵) ابن ابى حاتم: ۱/۱۸۳)-
(۶) صحيح بخارى : كتاب المغازى ، باب : ٥١، حديث رقم: ٤٢٩٤، وا نظر: ٤٩٨٠)-

Scanned with CamScanner

ته داخل شو نو ډير په عاجزئ او انکسارئی سره وو. تر دې پورې چه سرمبارک ئې تيټ وو چه د اوښې کوب سره ئې سرمبارک لګيدلی وو. بنار ته د داخليدو په وخت کښې ئې غسل اوکړو او ضحی يعنی د چاشت په وخت کښې ئې اته رکعته نفل اوکړل (۱)چه هغه د ضحی مونځ هم وو او دمکی دفتح دشکر هم. او دواړه قسمه اقوال دمحدثينو دی. حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ چه کله دايران ملک فتح کړو او دکسری شاهی محلونوته اورسيدو نوهم ددې سنت مطابق اته رکعته مونځ ئې اوکړو.دوه دوه رکعته په يو سلام سره د ادا کولو مذهب دبعضو دی. اوبعضې دا هم وئيلی دی چې اته په يوځای او يوسلام سره ئې ادا کړل. والله اعلم.

قوله تعالی:-فَبَدَّلَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ .

په الفاظو کښې تبديلی کول- صحيح بخاری کښې دی چه نبی کريم ﷺ فرمائی چه بنی اسرائيلو ته حکم ورکړې شوې وو هغوی دسجدې په حالت کښې او(حِطَّةٌ) وئيلوسره دی په دروازه باندې داخل شی ، ليکن هغوی دا بدل کړو او په خپلو څنګونونو باندې او(حِطَّةٌ)په ځائې (حبة فی شعرة)نې وئيل او داخل شو(۲)نسائی رحمه الله ،عبدالرازق رحمه الله ، ابوداود رحمه الله ،مسلم او ترمذی کښې هم دا حديث دالفاظو په اختلاف سره موجود دی، او سند ئې صحيح دی.(۳)حضرت ابوسعيد خدری ﷺ فرمائی چه مونږ نبی کريم ﷺ سره روان وو،ذات الحنظل نومې غر ته نزدې اورسيدلو نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه ددې غر مثال دبنی اسرائيلو د دروازې پشان دی چه په کوم ځائې کښې هغوی ته دسجدې کولو حکم شوې وو او(حِطَّةٌ)وينا سره داخليدو دپاره وئيلی شوې وو، او ددوی دګناهونودمعافئ کولو وعده کړې شوې وه. حضرت براء ﷺ فرمائی چه په (سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ) کښې(سفهاء) يعنی بې وقوفو نه مراد يهود دی چه هغوی دالله ﷻ خبره بدله کړې وه.

حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه د (حِطَّةٌ) په بدله کښې هغوی (حنطة حبة حمراء فيها شعيرة) وئيلی وو. دهغوی په خپله ژبه کښې د هغوی الفاظ دا وو چه (هطاسمعانازب مزبا) . حضرت ابن عباس ﷺ هم د هغوی بدلون بيانوی او فرمائی چه درکوع کولوپه بدله کښې هغوی په دواړو څنګونونو تلل اود(حِطَّةٌ) په بدله کښې ئې (حنطة) وئيل اوداخل شو.حضرت عطاء رحمه الله ، حضرت مجاهد رحمه الله ، ضحاك رحمه الله ، حضرت حسن رحمه الله ، حضرت قتاده رحمه الله ، حضرت ربيع رحمه الله او حضرت يحيی رحمه الله هم دابيان کړې دی. مطلب دادې چه دکوم قول او فعل هغوی ته حکم شوې وو هغوی هغې پسې خندګانې کولې او ښکاره مخالفت ئې اوکړو او دښمنی ئې اوکړه ، هم په دې وجه الله ﷻ په هغوی باندې عذاب نازل کړو.

قوله تعالی:-فَاَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ

دعذاب نازلول:- فرمائی چه مونږ په ظالمانو دهغوی دفسق په وجه آسمانی عذاب نازل کړو. درجز نه مراد عذاب دې ، څوك وائی غضب دې او چا ورته طاعون وئيلی دی. يو مرفوع حديث کښې دی چه طاعون رجزدې او دا عذاب ستاسو نه په مخکښې خلقو باندې نازل کړې شوې وو(۴) بخاری اومسلم کښې هم د نبی کريم ﷺ حديث مبارک دې چه کله تاسو واورئی چه په فلانی ځائې کښې طاعون دې نو هغه ځائې ته مه ځئ. الخ(۵)ابن جريرکښې هم دی چه دا تکليف او بيماری رجز چه دې سره ستاسونه مخکښې خلق عذابولې شوی وو.

---

۱) صحيح بخاری : كتاب التقصير، باب من تطوع فی السفر:۱۱۰۳. صحيح مسلم: ۷۱۹)-

۲) صحيح بخاری : كتاب التفسير ، باب سورة البقرة: باب رقم: ۵، حديث رقم: ٤٤٨٩)-

۳) صحيح بخاری : كتاب التفسير ، باب فی آيات متفرقات: ۳۰۱۵، ترمذی: ۲۹۵۶، السنن الكبرى للنسائی: ۱۰۹۸۹)-

٤) صحيح مسلم : كتاب السلام باب الطاعات والطيرة: ۲۲۱۸، السنن الكبرى للسنائی: ۲۵۲۳، احمد: ۲۱۳/۵)-

۵) صحيح بخاری : كتاب الطب باب مايذكر فی الطاعون : ۵۷۲۸، وانظر: ۳٤۷۳ ، صحيح مسلم: ۲۲۱۸)-

Scanned with CamSc

وَاِذِ	اسْتَسْقٰى	مُوْسٰى	لِقَوْمِهٖ	فَقُلْنَا	اضْرِبْ
اویاد کړئ کله چې	اوبه اوغوښتې	موسی	دپاره دقوم خپل	نو اووئیل مونږ	چې اووهه
اویاد کړئ کله چې موسی علیه السلام دخپل قوم دپاره دځکلو اوبه اوغوښتې				نومونږورته اووئیل چې	

بِّعَصَاكَ	الْحَجَرَ ؕ	فَانْفَجَرَتْ	مِنْهُ	اثْنَتَا عَشْرَةَ	عَيْنًا ؕ	قَدْ عَلِمَ
په همسا خپله	دغه ګټ	نو روانې شوې	دهغې نه	دولس	چینې	پیژندل
په خپله همسا باندې دغه ګټه اووهه	نودهغې نه دولس چینې راوخوتې کیدې				اهرې قبیلې	خپل خپل

كُلُّ اُنَاسٍ	مَّشْرَبَهُمْ ؕ	كُلُوْا	وَاشْرَبُوْا	مِنْ رِّزْقِ	اللّٰهِ	وَلَا تَعْثَوْا
هرې قبیلې	اخانې داوبو ځکلو خپلو	خورئ	اوڅکئ	د رزق د	الله نه	او مه ګرځئ
ګودر (داوبو ځانې)	پیژندل	(اوورته مواووئیل) چې د الله رزق خورئ او څکئ اوپه زمکه کښې د فساد				

فِي الْاَرْضِ	مُفْسِدِيْنَ ۝
په زمکه کښې	فساد کونکی
(چه شرک اوګناهونه دی) کوشش مکوئ	

قوله تعالی:- وَاِذِ اسْتَسْقٰى مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ؕ

دولس چینې راویستل: دایوبل نعمت ورته یادولې شی چه کله ستاسو نبی ستاسو دپاره اوبه اوغوښتلې نومونږ د هغه کانړی نه اوبه جاری کړې چه ستاسو سره به وو. اوستاسو دهرې یوې قبیلې دپاره مو په دې کښې یو یو چینه جاری کړه او مونږ اووئیل من او سلوی خورئی اوددې چینو اوبه څکئ او بې محنته روزی خورئی اوپه عبادت کښې اخته اوسئ،نافرمانئ کولوسره په زمکه کښې فسادمه خورونی ګنی دا نعمتونه به درنه هم واخستلې شی. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دا یو ځلورکونجه کانړی وو چه هم دوی سره وو.حضرت موسی علیه السلام دالله ﷻ په حکم دا کانړئی په همسا باندې اووهلو اود ځلورواړو طرفونونه ددې نه چینې روانې شوې. دا کانړئی د غوئی دسر هومره وو چه په غوئی به ئې بارولوچه کوم ځانې کښې به کوزیدل نودا به ئې اینبودو او همسا وهلو سره به ددې نه چینې روانیدې . کله چه به ئې کوچ کولو نو دا به ئې رااوچت کړو چینې به ترې بندې شوې او دا به ئې دخان سره واخستلو. دا کانړئی دطور دغرونو. دا یو ګز اوږد او یو ګز پلن وو.

جنتی کانړې:- بعضې وائی چه دا جنتی کانړئی وو. لس لس ګزه اوږد او پلن او دوه ښاخونه ووپکښې چه دابه پرقیدل. یوبل قول کښې دی چه داکانړئی حضرت آدم علیه السلام سره دجنت نه راغلې وو او همداشان دیو بل ته حواله کولو سره تر دې وخته راورسیدو.حضرت شعیب علیه السلام ته ملاؤ شوې وواوهغه دا کانړئی او لرګې حضرت موسی علیه السلام ته ورکړی وو. بعضې وائی چه دا هغه کانړې دې چه حضرت موسی علیه السلام په دې خپلې جامې اینبودې وې اولامبلی ئې وو. او دې کانړی دالله ﷻ په حکم دحضرت موسی علیه السلام جامې تښتولې وې.او دا حضرت موسی علیه السلام د حضرت جبریل علیه السلام په مشوره اوچت کړې وو. چه ددې نه دا معجزه ښکاره شوه.

د زمخشری تحقیق:- زمخشری فرمائی چه حجر باندې الف لام دجنس دپاره دې ، دوعدې دپاره نه دې یعنی یو کانړئ په لرګې اووهئ دانه چه فلانې کانړئی دې په لرګې اووهئ .دحسن رحمه الله هم دا روایت دی. اوهم دادمعجزې اود قدرت پوره کمال دې.حضرت موسی علیه السلام په لرګی وهلوسره دهغې نه چینې روانیدې اوبیا په لرګی وهلو سره هغه (چینې)اوچیتدی،بنی اسر ائیلوپخپلو کښې اووئیل که دا

Scanned with CamScanner

کانړئی ورک شو نو مونږ به تندې نه مړه شو نوالله ﷻ اوفرمائیل چه ته دا په لرګی مه وهه بلکه صرف په ژبه اووایه چه دوی ته یقین راشی. والله اعلم.

قوله تعالی:- قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ط

دهرې قبیلې خپله چینه:- هره یوه قبیله خپل خپل نهر داشان پیژنی چه دهرې قبیلې یو یو سړې کانړی سره ولاړ وی اوپه لرګی وهلو سره ددې نه چینې راوزی. چه کوم سړی طرفته کومه چینه زی نوهغه خپله قبیله رابلی او وانی چه داچینه ستاسوده.دا واقعه دمیدان تیه ده. په سوره اعراف کښې هم ددې واقعې بیان دې لیکن چونکه هغه مکی سورت دې ددې وجې نه دهغې بیان په غائب ضمیر سره شوې دی. او الله ﷻ چه کوم احسانات په هغوی باندې نازل کړی وو هغه ئې خپل رسول ﷺ ته دوباره بیان کړل. او داسورت اعراف مدنی دی خکه چه په دې کښې دوی ته پخپله خطاب شوې دې.

﴿فَانْبَجَسَتْ﴾وئیلې شوی دی او دې ځائې کښې﴿ فَانْفَجَرَتْ﴾وئیلې شوی دی ځکه چه په هغه ځائې کښې اول اول دجاری کیدو معنی کښې دې اوپه دې ځائې کښې د آخری حال بیان دې. والله اعلم.او ددې دواړو مقاماتو بیان کښې په لسو وجوهاتو فرق دې چه دا فرق لفظی هم دې اومعنوی هم. زمخشری رحمه الله په خپل طورباندې داټول وجوهات بیان کړی دی او په دې کښې حقیقت نزدې دې. والله اعلم.

وَاِذْ	قُلْتُمْ	يٰمُوْسٰى	لَنْ		
اویاد کړئ کله چې	اووئیل تاسو	اے موسی	اهرګز نشو کوو		
او(مونږ به تاسو ته تیار خوراک درکولونو) تاسو اووئیل ای موسی					
نَّصْبِرَ	عَلٰى طَعَامٍ	وَّاحِدٍ	فَادْعُ لَنَا	رَبَّكَ	يُخْرِجْ لَنَا
مونږ صبر اپه خوراک	یو باندې	انو اوغواړه مونږ دپاره	درب خپل نه اچې	راوباسئ	دپاره زمونږ
مونږ په یوقسم خوراک (چه من وسلوی دی) بیخی صبرنشو کولې	نوخپل رب ته سوال اوکړه چې زمونږ دپاره داسې				
مِمَّا	تُنْۢبِتُ	الْاَرْضُ	مِنْۢ بَقْلِهَا	وَقِثَّآئِهَا	
خینې هغه پیداوار	چې زرغونوی ئې	زمکه	لکه ساګ د دې	اوبادرنګ د دې	
څیزونه پیداکړی چې د زمکې نه رازرغونیږی	لکه ساګ ، بادرنګ				
وَفُوْمِهَا	وَعَدَسِهَا	وَبَصَلِهَا ط	قَالَ	اَتَسْتَبْدِلُوْنَ	الَّذِيْ هُوَ
اوغنم ددې	اودال ددې	اوپیاز ددې	اووئیل الله	آیا تاسو بدلول غواړئ	هغه څیز چې هغه
غنم ، دال او پیاز شول	هغه (موسی) په جواب کښې اووئیل	چې آیا تاسو هغه معمولی څې			
اَدْنٰى	بِالَّذِيْ	هُوَ خَيْرٌ ط	اِهْبِطُوْا	مِصْرًا	فَاِنَّ
د ادنی درجې دی	په هغې څیز	چې هغه	ابهتر دی	کوزشئ	ایو ښار ته
(چه په مشقت به پیدا کیږی) دبهتر (چه د آسمان نه تیار راځی) په بدله کښې بدلوئ	(ښۀ ده نو) (دشام یو) ښار ته کوز شئ				
لَكُمْ	مَّا	سَاَلْتُمْ ط	وَضُرِبَتْ	عَلَيْهِمُ	الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ
تاسو ته	هغه څیز چې	غواړئ ئې	تاسو	آخر دا چې	مقرر شو
تاسو چې څه غواړئ هلته به درته ملاؤ شی	(نو آخردې حد ته راوغورزیدل چه)	دوئ	دپاره خواری	اوعاجزی	مقرر شوه
					ذلت اومحتاجی

Scanned with CamScanner

وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ
او گير شو	په غضب کښې	د طرفه دالله نه	دا په دې وجه	چې هغوئ		

قوله تعالی:- وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ

د اعمالو شامت :-مطلب دادي چه ذلت او مسکینی په دوی مسلط کړې شوه. ذلت او پستی په دوی باندې واچولې شوه. ددوی نه جزیه وصول کولې شوه. دمسلمانانو پښو ته راغلل. دوی ته اولږه او خیر غوښتلو نوبت راغلو. په دوی باندې دالله ﷻ غضب او غصه راغله .دباء،ومعنی واپس شو او رجوع ئې اوکړه.د باء دښیګړې بدلې سره او کله دبدئ بدلې سره راځی.پدې ځائې کښې دبدئی بدلې سره راغلې ده. داټول عذاب دهغوی د تکبردښمنئ په وجه اودحق دقبولیت نه دانکار په وجه اودالله ﷻ دآیتونو نه دکفراودنبیانو علیهم السلام او دهغوی نه پس د هغوئ دتابعدارو اهانت او دهغوی دقتل په وجه وو. ددې نه به زیات کفر څه وی دالله ﷻ دآیتونو نه انکار کوی او دهغه نبیان علیهم السلام بغیر د څه وجې قتل کول دی،حضرت نبی اکرم ﷺ فرمائی چه دتکبرمعنی حق پټول او خلقو لره ذلیله کول دی() مالك بن مراره رهاوی ﷺ یوه ورځ د حضرت نبی اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضرشو او عرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ څه ښکلې سړې یم زما زړه نه غواړی چه دچا د پیزار تسمه هم زما نه ښه وی نو آیا داتکبر او سرکشی ده؟ حضرت نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چه نه بلکه سرکشی خو حق پټول او خلقو لره سپک کنړل دی. (۲)

قوله تعالی:- ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانُوا يَكْفُرُونَ بِآيٰتِ اللّٰهِ وَيَقْتُلُونَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ

کفر د نبیانو قتلول:- چونکه دبنی اسرائیلوتکبر اوکفردنبیانو قتل کولو ته اورسیدل.ځکه په دوی باندې دالله ﷻ غضب په دنیا او آخرت کښې لازم شو. حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه بنی اسرائیلو یویو ورځ کښې به دري دري سوه نبیان قتل کول ،بیا به بازارونو ته تلل او په خپلو کاروبارونو کښې به مشغول وو. (ابوداود طیالسی).(۳)حضرت نبی اکرم ﷺ فرمائی چه دټولو نه زیات سخت عذاب به د قیامت په ورځ دهغه سړی وی چه هغه نبی قتل کړې وی یا دې یو نبی قتل کړې وې اودګمراهئ امام او تصویر جوړولووالا وی.دا بدله وه دهغوی دنافرمانئ او دظلم او د زیاتئ ، دا دویم سبب دې چه هغوی به هغه کارونه کول چه دکومو نه منع شوی وو اودحد نه به تیر شو. والله اعلم. (۴)

إِنَّ الَّذِينَ	آمَنُوا
بشکه چې کوموکسانو	ایمان راوړې دې (په نبی)
بیشکه چاچې په ظاهره ایمان راوړلی دې (اوکلمه د توحید او رسالت ئې وئیلی ده	
وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ	
اوچې کوم کسان (یهودیان شوی دی) او که عیسایان دی) اوکه صابیان دی (چا چې هم (ایمان راوړو	
یا یهودیان یا نصاری یا صابئین دی) (نو زمونږ چا سره ضد نشته بلکه) هر هغه څوک چه په الله	
بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ	
په الله (اوپه ورځ دآخرت) اوعمل ئې اوکړو) نیك (انوده دهغوئ دپاره) بدله دهغوئ) په نزد	
اوپه ورځ دآخرت باندې ایمان راوړی) اوښه کارونه کوی) نوهغوی د رب په نیز د هغوی دپاره اجر	

---

۱) صحیح مسلم : کتاب الایمان باب تحریم الکبر وبیانه: ۹۱ ،)-

۲) احمد: ۳۸۵/۱، حاکم: ۱۸۲/٤،)-

۳) ابن جریر: ۱٤٤/۳، تفسیر ابن ابی حاتم:۱۲٦/۱،

٤) احمد: ٤۰۷/۱، وسنده حسن مسندالبزار: ۱٦۰۳، الطبرانی: ۱۰۱۵۱۵، الترغیب : ۱۳٦/۳)-

Scanned with CamSc

رَبِّهِمْ ۚ	وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ	وَلَا هُمْ	يَحْزَنُونَ ۝
د رب دهغوئ	اونۀ به وی یره په هغوئ باندې	اونۀ به هغوئ	غمژن شی
مقرر دې	اونه به په هغوی (په آخرت کښې) څه قسمه ویره وی	اونه به په پرې څه خفګان وی	

قوله تعالی:- اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالنَّصٰرٰى وَالصَّابِـِٕيْنَ

په الله او اخرت ایمان راوړل:- مخکښې دفرعونیانو د عذاب ذکر وو نو په دې ځائې کښې چه کوم خلق نیکان وو دهغوی ثواب بیانیږی. د نبی کریم ﷺ تابعدارو دپاره دا زیرې د قیامتـه پورې دې چه نـه بـه ورته دمستقبل ویره وی او نه به ورته د فـوت شـوؤ ځیزونـو څـه افسـوس او حسرت وی او په بل ځائې کښې دی چه :﴿ اَلَآ اِنَّ اَوْلِيَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝﴾یعنی دالله ﷻ په دوستانوباندې بـه هیڅ ویره او غم نه وی.اوهغه فربښتې چه دمسلمانانو د روح اخستلو دپاره راځی هغوی هم داوائـی چـه : ﴿اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝﴾تاسومه ویریږئی اوتاسومه خفه کیږئ مونږ تاسو تـه دهغـه جنت زیرې درکوؤ چه دکوم تاسو سره وعده شوې وه.

حضرت سلمان فارسی ﷺ فرمائی چه زه د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضریدو نـه مخکښې دکومـو دینداروسره ملاؤشوې وم دهغوی دعبادت او روژو او مونځ وغیره ذکر اوشو نـو دا آیـت نـازل شـو (ابـن ابی حاتم) . په یو بل روایت کښې دی چه حضرت سلمان دهغوی ذکر اوکړو او وې فرمائیـل چـه هغـوی مونځګزاراو روژه دار او ایماندار وو اوددې خبرې معتقد وو چه محمد ﷺ معبوث کیـدونکې دې. نبـی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغوی جهنمیان دی.حضرت سلمان فارسی ﷺ په دې سره سـخت خفـه شـو. نـودا آیت نازل شو.خو دا دې واضحه وی چه په یهودیانو کښې ایماندار هغه څوک دی چه تورات لـره منـی او دحضرت موسی ﷺ دسنتو عامل وی او دحضرت موسی ﷺ په سـنتو بانـدې ولاړ وی اوکـه دحضرت موسی ﷺ نه ئې انکار اوکړو او تابعدارئی ئې اونکړه نو بیا بې دینه شو.

داشان په نصرانیانو کښې ایماندار هغه څوک دی چه انجیـل لـره کـلام الله منـی،اودحضرت عیسـی ﷺ په شریعت باندې عمل کوی او په چه خپله زمانه کښې نبی کریم ﷺ اووینی نود نبی کریم ﷺ تابعـداری او د نبوت تصدیق اوکړی. او که بیا هم هغه انجیل او اتباع دعیسی ﷺ پرې نښـوده او دنبـی کـریم ﷺ په طریقـه ئې عمـل اونکړو نـو هـلاك بـه شـی(ابـن ابـی حـاتم)سـدی رحمه الله او سـعید بـن جبیـر رحمه الله هـم دا فرمائی. مطلب دادې چه دهر نبی تابعدار اوددې منلووالا ایمانداراو صـالح دې او الله ﷻ سره نجـات موندونکې دې.خو کله چه بل نبی راغلو او ده دهغه نه انکار اوکړو نوکافر بـه شـی. دقران پـاك یـو خـودا آیت چه مخامخ دې او بل دا آیت چه په هغې کښې بیان دې چه ﴿ وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ ۚ﴾ یعنی چه کوم سړې داسلام نه سوا بل دین تلاش کړی نـو هغـه دیـن بـه دده نـه قبـول نـه وی او پـه آخـرت کښې به هغه دنقصان والو نه وی.

په دې دواړوآیتونو کښې هم دا تطبیق دې . چه دیوسړی هیڅ یو عمل او هیڅ یو طریقه به قبولـه نـه وی چه هغه د شریعت محمدی ﷺ مطابق نـه وی خـو دا پـه هغـه وخـت کښـې دی چـه کلـه دوی مبعوث شـو اودنیا ته راغلل. د نبی کریم ﷺ نه مخکښې چه دکوم نبی زمانه وه او چه کوم خلق په هغـه زمانـه کښـې وو دهغوی دپاره دهغه زمانې د نبی تابعداری اودهغه د شریعت مطابق عمل کول شرط وو.

یهودیان څوک دی ؟لفظ یهود د هوادې نه ماخوذ دې چه ددې معنی مودة او دوستی ده یا دا مـاخوذ دې د تهود نه چه ددې معنی توبه ده. لکه څنګه چه په قران پاك کښې دی چه ﴿اِنَّا هُدْنَآ اِلَيْكَ﴾حضرت موسی ﷺ فرمائی چه انې الله ﷻ مونږ تاته توبه کوؤ . نو هغوی ته هم ددې دوؤ وجوهاتو پـه وجـه یهـود ونـیلې شوی دی.یودتوبې په وجه اوبل خپلو کښې د دوستئ په وجه،اوبعضې وائی چه دوی دیهـودا د اولاد نـه

Scanned with CamSc

وو نوپه دې وجه دوی ته یهود اووئیلې شو. یهودادحضرت یعقوب ﷺ د مشرځوني نوم وو.یو قول دا هم دې چه دوی دتورات د لوستلوپه وخت کښې به خوزیدل نو په دې وجه دوی ته یهود یعنی حرکت والا اووئیلې شو.

کله چه د حضرت عیسی ﷺ دنبوت زمانه راغله نوپه بنی اسرائیلو باندې دهغوی د نبوت تصدیق اوددوی د فرمان اتباع واجب شوه او دهغوی نوم نصاری شو ځکه چه هغوی په خپلو کښې دیو بل نصرت یعنی تائید او مدد کړې وو. اودوی ته انصار هم وئیلې شوی دی. ځکه چه د حضرت عیسی ﷺ قول دې چه : ﴿ مَنْ اَنْصَارِیْۤ اِلَی اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ ﴾ دالله ﷻ په دین کښې زما مددګار څوک دې ؟ حواریانو اووئیل چه مونږ یوددالله ددین دپاره مددکونکی.بعضې وائی چه دا خلق په کوم خانې کښې کوز شوی وو دهغې زمکې نوم ناصره وو نو په دې وجه دوی ته نصاری اووئیلې شو. حضرت قتاده رحمه الله او حضرت ابن جریج رحمه الله نه همدا قول نقل دې. حضرت ابن عباس ﷺ نه هم دا روایت نقل شوې دې والله اعلم.

دنصاراوپیژندګلو:- نصاری د ﴿نصران﴾ جمع ده لکه دنشوان جمع نشاوی او سکر جمع سکاری ، ددې مونث ﴿نصرانة﴾ راځی. اوس چونکه د نبی کریم ﷺ زمانه راغله او نبی کریم ﷺ ټولې دنیا طرفته رسول اولیږلې شو نو په هغوی باندې او په ټولو باندې د نبی کریم ﷺ اتباع واجب شوه. او دنبی کریم ﷺ دامت نوم مومن کیخودلې شو ددوی دایمان او د یقین دپوخوالی په وجه او په دې وجه هم چه ددوی ایمان دټولو مخکښو نبیانو علیهم السلام باندې هم دې اوپه راتلونکو خبرو باندې هم .

دصابی په تعریف کښې اقوال:- ① دصابی معنې یوخو بې دینه اوبې مذهبه شوې ده اود اهل کتابو یوې ډلې نوم هم وو چه هغوئ زبور لوستلو او هم په دې وجه د ابوحنیفه رحمه الله اواسحاق رحمه الله مذهب دی چه ددوی دلاس ذبح زمونږ دپاره حلاله ده. او ددوی ښځو سره نکاح کول هم جائز دی. حضرت حسن رحمه الله اوحضرت حکم رحمه الله فرمائی چه دا ډله په شان د مجوسیانو ده ، دا هم روایت دی چه دې خلقو به د فرښتو عبادت کولو ، زیاد چه کله دا واوریدل چه دا خلق پنځه وخت مونځ قبلې طرف ته کوی نواراده نې اوکړه چه ددوی جزیه معاف کړی لیکن ورسره دا هم معلومه شوه چه هغوی مشرکان دی نوزیاد دخپلې ارادې نه منع شو.

② ابوالزناد رحمه الله فرمائی چه دا خلق عراقیان وو اودبکوئی اوسیدونکی وو ،ټول نبیان علیهم السلام ئې منل،هر کال کښې به ئې دیرش روژې نیولې اویمن طرفته به ئې مخ کولو او ورځ کښې به ئې پنځه مونځونه کول .وهب بن منبه وائی دا خلق الله ﷻ پیژنی. دوی په هیڅ شریعت باندې نه دی اوکفار هم نه دی.دعبدالرحمان بن زید رحمه الله قول دې چه داهم یومسلك دې چه دا خلق په جزیره موصل کښې وو ﴿لااله الاالله﴾ به ئې ونیل او هیڅ یوکتاب یا نبی به ئې نه منلو اونه به ئې څه خاص شریعت باندې عمل کولو. مشرکانوبه هم په دې بناء باندې نبی کریم ﷺ اود نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته صابی ونیل.د ﴿لااله الاالله﴾ ونیلو په وجه ددوی دین نصرانیانو سره ملاویږی. دهغوی قبله جنوب طرف ته وه. دې خلقو به ونیل چه مونږ دحضرت نوح ﷺ په دین باندې یو. یو قول دا هم دې چه دا دیهودو اود مجوسیانو ګډوډ شوې دین وو. ددوی ذبح خوړل اوددوی ښځو سره نکاح کول منع دی.حضرت مجاهد رحمه الله ، حضرت حسن رحمه الله او د ابن ابی نجیح رحمه الله هم دا فتوی ده.قرطبی رحمه الله فرمائی چه ماته ترکومې پورې معلوم شوی دی چه دا خلق موحد وو لیکن د ستورود تاثیر او د نجوم معتقد وو.ابو سعید اصطخری رحمه الله په دوی باندې دکفر فتوی ورکړې ده.

③ رازی رحمه الله فرمائی چه دا خلق ستوری پرست وو. اودوی طرف ته حضرت ابراهیم ﷺ لیږلې شوې وو. دحقیقت حال علم خو ئې صرف الله ﷻ ته دې خو په ظاهر دا قول ښه معلومیږی چه دا خلق نه یهودیان

وو اونه نصرانیان او نه مجوسیان او نه مشرکان وو بلکه دا خلق فطرت باندې وو. د یو خاص مذهب پابند نه وو. او هم په دې وجه به مشرکانو نبی ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته صابی وئیل. یعنی دې خلقو ټول مذهبونه ترک کړی وو. دبعضو عالمانو قول دې چه هغوی صابیان وو چه دوی ته هیڅ یونبی دعوت نه وی رسیدلې. والله اعلم.

د صابی د ذبیحې حکم

مسلک حنفی:- په هدایه کښې دی وَيَجُوزُ تَزْوِيجُ الصَّابِئَاتِ إِنْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِدِينِ نَبِيٍّ وَيَقْرَءُونَ بِكِتَابٍ لِأَنَّهُمْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ او جائز دې نکاح کول د صابیه ښځو سره که هغوی ایمان لرلو د چا نبی په دین او منلو ې ځه کتاب لره، په دې عبارت کښې د صابیه تعریف شوې دې او د دې سره د نکاح جواز خودلې شوې دې نو هرکله چه د دې سره نکاح جائز شوه دغه شان به د دې ذبیحه هم حلاله وی لکه څنګه چه د اهل کتابو ذبیحه حلاله ده او نکاح ورسره هم جائز ده از شاه فیصل (تسهیل الهدایه ۴۰۱۳)

وَإِذْ	أَخَذْنَا	مِيثَاقَكُمْ	وَرَفَعْنَا	فَوْقَكُمُ	الطُّورَ ط خُذُوا
اویادکړئ کله چې	اواخسته مونږ	ایخه وعده ستاسو نه	اوپورته کړه مونږ	ادپاسه ستاسو	اکوه طور | اونیسئ
اوکله چې مونږ ستاسونه وعده واخسته (چې دتوراة حکمونه اومنئ)					اوکوه طورمودرباندې اوچت کړو

مَآ	اٰتَيْنٰكُمْ	بِقُوَّةٍ	وَّاذْكُرُوْا	مَا	فِيْهِ
هغه کتاب	اچې درکوونې مونږ تاسو ته	په مضبوطیا سره	اویادکړئ	هغه احکام	اچې په دې کښې دی
اودرته مواووئیل چه په دې حکمونو په کوشش سره اوعمل اوکړئ					اوپه دې کښې چه څه دی هغه یاد کړئ

لَعَلَّكُمْ	تَتَّقُوْنَ ۝	ثُمَّ	تَوَلَّيْتُمْ	مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ ج
دې دپاره چې تاسو	دتقوی په لاروان شئ	خوبیا	واپس شوئ تاسو	روستو ددغه وعدې نه
ددې دپاهر چه څان دګناه نه اوساتئ	اخوددغې پخې (وعدې)	نه پس هم تاسو	دخپلولوظونونه اوګرزیدئ	

فَلَوْلَا	فَضْلُ اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهٗ	لَكُنْتُمْ	
نوکه چرې نه وې	فضل د الله	په تاسو باندې	اورحمت د هغه	نوخامخابه شوې وئ تاسو	
نوکه دالله مهربانی اورحمت درباندې نه وې (اونرمی ئې درسره نه وې کړې)				نو تاسو به (د خپل دې عمل په وجه)	

مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝
دنقصان موندونکونه
د تاوانیانو څنی وئ (اوهلاک شوې به وئ)

قوله تعالی:- وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ

د کوه طور د سرونو دپاسه کول :-په دې آیتونو کښې الله ﷻ بنی اسرائیلو ته وعده وریادوی چه تاسو نه مادخپل عبادت او خمادنبی دتابعدارئی وعده اخستې ده او ددې وعدې پوره کولو دپاره اومنلو دپاره ما ستاسوپه سرونو باندې کوه طور غر راتیت کړې وو. اوبل ځائې کښې ارشاد دې چه (وَإِذْ نَتَقْنَا الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ) الخ .کله چه مونږ دهغوی په سرونو باندې سیورئ کړو غر لره اودوی یقین اوکړو چه دا به اوس دوی لره تباه اوچخنړی کړی نو په هغه وخت دوی زمونږ ورکړې شوی څیزونه کلك اونیسول او په دې کښې چه څه دی دا یادکړئی نو بچ به شئ.دطور نه مراد غر دې لکه چه د سورت اعراف آیت کښې دې

Scanned with CamScanner

اولکه څنګه چه دصحابه کرامو ﷺ او تابعینونه ددې تفسیر شوې دې [۱] اوهم دا ظاهر دی. طور هغه غر ته وئیلې شی چه په هغې باندې څه زرغونیږی [۲] په حدیث فتون کښې د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه کله هغوی د اطاعت نه انکار اوکړو نوپه هغه وخت غر دهغوی دسرونو دپاسه راتیټ شو چه اوس واورئی. سدی رحمه الله وائی چه ددوی دسجدې کولو دانکار په وجه ددوی په سرونو باندې غر راتیټ کړې شو لیکن په دغه وخت کښې دوی ټول په سجده کښې پریوتل او دویرې دوجې نې پاس کتل، الله ﷻ په دوی باندې خپل فضل اوکړو او غر نې تري اخوا کړو. هم په دې وجه هغوی داسې سجده خوښوی چه نیمه تنه ئې په سجده کښې وی او بل طرفته هغوی پاس ګوری.

دکوم څیز د نیولو حکم شوې وو؟:- چه کوم مونږ درکړل ددې نه مراد تورات دې. دقوت نه مراد اطاعت دې یعنی تورات باندې مضبوطیا سره دعمل کولو وعده اوکړئ ګنی تاسو باندې به غر راوغورزولې شی. او په دې کښې چه څه دی هغه یادکړئ یعنی تورات لره لولئ [۳] خو دې خلقو ددې دومره پوخ میثاق او د اعلی وعدې هم لحاظ اونه ساتلواووعده خلافی نې اوکړه ، اوس دالله ﷻ رحمت او کرم نه وې او هغه توبه قبلونکې نه وی. اود نبیانو سلسله نې جاری نه وې ساتلې نو یقیناً تاسو ته به زبردست نقصان رسیدلې وې ددې وعدې د ماتولو په وجه او په آخرت کښې تاسو بربادشوی وې.

وَلَقَدْ	عَلِمْتُمُ	الَّذِيْنَ	اعْتَدَوْا	
اوخامخا	معلومه ده تاسو ته قیصه	دهغه کسانو	چې تجاوز نې کړې وو	
اوتاسوهغه کسان ښه پیژنئ	چې د خالی په ورځ نې نافرمانی			
مِنْكُمْ	فِي السَّبْتِ	فَقُلْنَا	لَهُمْ	كُوْنُوْا	قِرَدَةً	خَاسِئِيْنَ ۝
ستاسو نه	په په ورځ د خالی کښې	نواووئیل مونږ	هغوئ ته	شئ	شادوګان	ذلیلان
(چه دمهیانونیولو) کړې وه	نومونږورته اووئیل چې خوار اوذلیله د شادوګانو شکلونه اختیار کړئ					
فَجَعَلْنٰهَا	نَكَالًا	لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا	
پس اوګرځوله مونږ دا واقعه	یوعیرت	دهغه وخت خلقو دپاره	اودروستو راتلونکی نسل دپاره	
نومونږ دغه واقعه دهغه زمانې (دخلقو دپاره) او د راتلونکو خلقو دپاره عبرت اوګرزوله (اودغه شان)				
وَمَوْعِظَةً	لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝			
اونصیحت	دپاره دپرهیزګارانو			
د پرهیزګارو خلقودپاره مو نصیحت اوګرځولو				

قوله تعالی:- وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خَاسِئِيْنَ

دخالی په ورځ د ښکار کولو واقعه:- ددې واقعې پوره تفصیل په سورت اعراف کښې دې چه په هغه خاني کښې فرمانیلې شوی دی چه ﴿وَاسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ﴾ الخ. هم هغه خاني کښې به ددې پوره تفسیر بیان کړې شی، انشاء الله .دا دایله کلی اوسیدنکی وو. په دوی باندې د هفتې (خالی) دورځې تعظیم لازم کړې شوې وو، په دې ورځ ښکارهم منع کړې شوې وو او دالله ﷻ په حکم سره به په دې ورځ مهیان

---

[۱]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۲۰۳)-
[۲]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۲۰۳)-
[۳]) ابن ابی حاتم : ۱ / ۲۰۳)-

Scanned with CamSc

زیات وو نوهغوی حیله جوړه کړه اوکندې نې اوکنستلې،رسئ او کوندې بڼه نې واچولې اودهفتې په ورځ هغه (مهیان) راغلل او په دې (کوندو او کندو) کښې به انختل او داتوار په ورځ دوی هغه اونیول. په دې جرم باندې الله ﷻ دهغوی شکلونه بدل کړل.

د مجاهد یوغریب قول:- مجاهد رحمه الله فرمائی چه شکلونه نې نه وو بدل شوی بلکه زړونه نې مسخ کړې شوی وو ، داصرف دمثال په طور دی لکه څنګه چه د عمل نه کولو والا علماء دخرو سره مثال ورکړې شوې دې. لیکن داغریب قول دې او د قران پاك واضحه الفاظو نه هم خلاف دی. په دې آیت باندې بیا سورت اعراف آیت ﴿وَاسْئَلِ﴾ الخ او ﴿وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ﴾ الخ باندې نظر واچوئی. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ددوی ځوانانونه شادوګان جوړ شو او بوډاګانو نه نې خنزیران جوړ شو. (۱) قتاده رحمه الله فرمائی چه د ټولو بنځواوسړو نه ئې لکئ والا شادوګان جوړ شوی وو.آسمانی آواز راغلو(كُوْنُوْا قِرَدَةً) چه تاسو شادوګان جوړ شئ. نو ټول په ټوله شادوګان شو. (۲)چه کومو خلقو دوی لره ددې مکرو و فریب نه منع کول اوس هغوی راغلل او وې وئیل چه آیا مونږ مخکښې تاسو نه منع کولئ څه ؟ نو هغوی سر خوزولو یعنی آو.

د مسخ شوو خلقو هلاکت:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه په لږ وخت کښې هغوی ټول هلاك شو اودهغوی نسل هډوپاتې نشو(۳)،دریو ورځو نه زیات هیڅ یومسخ شوې قوم نه پاتې کیږی.دا ټول په دریو ورځو کښې رانښکلو سره هلاك شو په پوزه پوزه رانښکلو سره. خوراك څکاك او نسل نې ټول منقطع شو.دا خو ځناور دی چه داشان پیدا شوی وو،الله ﷻ چه څه غواړی او څنګه نې غواړی پیدا کوی او چا لره څنګه غواړی نوهغه شان تر جوړوی(۴) (الله ﷻ دې مونږ دخپل غضب اوغصې او دخپلو نیولونه او دخپل دنیاوی او اخروی عذاب نه دې مونږ ته نجات راکړی آمین) د ﴿خَاسِئِيْنَ﴾ معنی ذلیل او کمینه ده. ددوی تفصیلی واقعه حضرت ابن عباس ﷺ وغیره چه کومه بیان کړې ده هغه واورئی. په دوی باندې دجمعې احترام او ادب فرض کړې شوې وو لیکن هغوی دجمعې ورځ خوښه نه کړه اود هفتې ورځ نې مقرر کړه او په دې ورځ دعزت په طور په دوی باندې بنکارکول وغیره په دې ورځ حرام کړې شو. بل طرفته د آزمیښت په وجه دهفتې په ورځ به ټول مهیان پاس راتلل او ټوپونه به نې وهل ، په باقی ورځو کښې به په نظر نه راتلل،ترڅه وخته پورې دوی خوخاموش وو اودبنکار کولو نه منع وو.

دبنکار دپاره حیله لټول:- دې نه پس په دوی کښې یو سړی داحیله راویستله چه دهفتې په ورځ نې مهیان اونیول او کونده نې واچوله او یو غاړې ته نې تار په څه څیز پورې اوترلو. او د اتوار په ورځ لاړواو هغه نې راواخستل او پاخه نې کړل او ددې خوشبو په خلقو باندې اولګیدله نو خلقو تري نه تپوس اوکړو نو ده اووئیل چه ما خو نن داتوار په ورځ باندې بنکار کړې دې ، آخر دا راز بنکاره شو او خلقو داحیله خوښه کړه اوداشان هغوئ ټولو دماهیانو بنکار شروع کړو ،بیا بعضو د دریاب سره نزدې کندې ویستلې.دهفتې په ورځ چه به کله مهیان په دې کښې راتلل نو دابه نې بندوله او داتوار په ورځ به نې دا نیول ،

نیکان خلق:- څه خلق چه په دوی کښې نیکان وو او رینبتونی مسلمانان وو هغوی به دوی منع کول لیکن ددوی جواب به داوو چه مونږ دهفتې په ورځ بنکار نه کوؤ ، مونږ خو د اتوار په ورځ بنکار کوؤ .ددې بنکار کولو والو او ددې نه منع کولو والونه سوا یوه بله ډله راووتله چه دمصلحت وخت تیرولو

---

۱) ابن ابی حاتم : ۱ /۲۱۰)-
۲) ابن ابی حاتم : ۱ /۲۰۹)-
۳) ابن ابی حاتم : ۱ /۲۰۹)-
۴) الطبری: ۲/۱۶۷)-

Scanned with CamScanner

او دواړو ډلو لره راضی کولو والا وو . هغوی خو نه ددوی سره ملګرتیا کوله او نه به نې ښکار کولو اونه به نې ښکار نه خلق منع کول. بلکه منع کوونکی ته نې وئیل چه دې قوم ته ولې نصیحت کوئ ،دوی به الله ﷻ هلاك کړی یا به ورته سخت عذاب ورکړی او تاسو خپل فرض ادا کړو دوی مو منع کړه. هرکله چه نه منی نو اوس دوی پریږدئ ، منع کوونکو به جواب ورکولو چه یو طرفته خو دالله تعالی په نیز مونږ چه معذور شو ددې په وجه او بل په دې وجه چه شاند نن نه نو سبا اوکه سبا نه وی نوبله ورځ به دوی اومنی اودالله ﷻ دعذاب نه به بچ شی. بالاخر دې مسلم جماعت ددې حیله کوونکو ډلې سره بائیکاټ اوکړو اوددوی نه بالکل جدا شو. دکلی په مینځ کښې نې یو دیوال اووهلو او یو دروازه نې دتګ راتګ دپاره پریښودله.په دې حیله کوونکې نافرمانوباندې هم داشان څه موده تیره شوه. یو ورځ چه کله دامسلمانان دخوب نه رابیدار شو دخوب نه او ورځ راوختله نوتر هغه وخته پورې دې خلقو خپله دروازه بیرته نه کړه او نه ددوی آوازونه راتلل ، دا خلق حیران وو چه نن څه خبره ده؟

دعجیبه منظر لیدل:- آخر چه کله وخت زیات تیر شو نو خلقو په دیوال باندې اوکتل نو په هغه ځائې کښې عجیبه منظر ورته په نظر راغلو،وې کتل چه ټول خلق ښځو او ماشومانو سره شادوګان شوی دی اودهغوی کورونه څنګه چه دشپې نه بند وو هم هغه شان بند وو او دننه ټول خلق د شادوګانو پشان وو او ددوی لکئ شوې وې. بچی د وړوکو شادوګانو په شان ، سړی د لویو شادوګانو په شان او ښځو نه ماده شادوګانې جوړې شوې وې. اوهر سړې به پیژندې کیدو چه دا فلانې کس دې اودا فلانئ ښځه ده اودا فلانې بچې دې. وغیره وغیره. اودا هم یاد ساتل پکار دی چه کله داعذاب راغلو نو نه صرف دا خلق هلاك شو چه کومو ښکار کولو بلکه هغه خلق هم هلاك شو چه مصلحت پسند ووا و دوی نې نه منع کول او خاموشه ناست وو اودوی سره نې تګ راتګ نه وو پریښودې. بلکه صرف هغه خلق باقی پاتې شو چه کومو منع کول او ددوی نه جدا شوی وو. دا ټول اقوال اودقران پاك ډیر آیتونه وغیره په دې ګواه دی صحیح خبره داده چه دهغوی شکلونه بدل شوی وو او په ربښتیاؤ ترینه شادوګان جوړ شوی وو. نه صرف دا چه معنوی مسخ وه یعنی ددوی زړونه دشادوګانو په شان وو لکه څنګه چه د حضرت مجاهد رحمه الله قول دې،صحیح تفسیر هم دا دې چه الله ﷻ دوی نه خنزیران او شادوګان جوړ کړی وو او ظاهری شکلونه ئې هم ددوی دبدو ځناورو په شان وو،والله اعلم.

په واقعه کښې عبرت:- (فَجَعَلْنٰهَا) کښې د (ها) ضمیر مرجع د (قِرَدَةً) دې یعنی مونږ دې شادوګانو لره د عبرت سامان جوړ کړل .ددې مرجع (حیتان) دې یعنی مهیانو لره یا ددې مرجع (عقوبة) دې یعنی دا سزااودا هم وئیلې شوی دی چه ددې مرجع (قریة) دې یعنی دا کلئ مونږ دمخکښو اوروستوخلقو دپاره عبرتناك جوړکړو او صحیح خبره دا معلومیږی چه قریه تری مراد ده او قریه نه مراد اهل قریه دی.

(نَكَالًا) وانی عذاب او سزا ته لکه څنګه چه په بل ځائې کښې دی چه (فَاَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْاٰخِرَةِ وَالْاُوْلٰى) دامو دعبرت سبب جوړ کړل د مخکښو روستو والو کلو دپاره لکه څنګه چه په بل ځائې کښې دی چه (وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى الخ) مونږ ستاسو چاپیرچل کلی هلاك کړل او نښې مو جوړ کړل چه داخلق واپس راشی اوارشاد دې چه (اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِى الْاَرْضَ)

بل مطلب:- اودا هم مطلب بیان شوې دې چه دهغه وخت موجوده خلقو دپاره اودهغوی نه پس راتلونکو خلقو دپاره دعبرت واقعه او دلیل جوړ شی. اګر چه بعضې خلق وائی چه دمخکښو روستو دپاره دا یوسبق دې. لیکن ظاهر دی تیر شوی خلق د راتلونکو خلقو دپاره . واقعه که هر څومره زبردسته او عبرتناکه وی دلیل نشی جوړیدلې ځکه چه هغوی خو تیر شو. نو قول صحیح هم دادې چه په دې ځائې کښې مراد مکان او ځائې دې یعنی دهغوی نه ګیر چاپیره کلی او هم دا تفسیردې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوسعیدبن جبیر رحمه الله. والله اعلم. او دا معنی هم بیان شوې ده چه دهغوی مخکښې ګناهونه اودوی نه پس دراتلونکو خلقو داسې ګناهونو دپاره مونږ د داسې سزا سبب جوړ کړل لیکن صحیح هم هغه

Scanned with CamScanner

دي چه دکومې صحت مونږ بيان کړو د چاپيرچل کلی. قران پاک فرمانی چه ﴿ وَلَقَدْ اَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُمْ مِّنَ الْقُرٰى الخ﴾ او فرمان دي چه ﴿ وَلَا يَزَالُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ ﴾ اوفرمان دي چه ﴿ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ الخ﴾ .

امت محمديه دپاره تنبيه:- غرض دا چه عذاب دراتلونکو خلقو دپاره او ددوی نه پس خلقو دپاره يو سبق دي. او هم ددي وجې نه ﴿وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ﴾ يعنی دا روستو راتلوونکو پرهيزګارانو دپاره دعبرت سامان دي. تر دي پورې چه د حضرت محمد ﷺ د امت دپاره چه دا خلق ويره کښې وی چه کوم عذاب اوسزا په هغوی باندې دهغوی دحيلو او مکر او فريب په وجه ، او حرام لره حلال ګڼلو په وجه نازل شو نو اوس چه څوک داسې کوی هسې نه چه هم هغه سزا په هغوی باندې راشی. يو صحيح حديث امام ابوعبدالله بن بطه رحمه الله وارد کړې دي چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه ﴿لاترتکبوامارتکبت اليهود فتستحلوا محارم الله بادنی الحيل﴾ يعنی تاسو هغه مه کوئی چه کوم يهودو اوکړل په حيلوحوالو سره ئې دالله ﷻ حرام حلال وي. يعنی په شرعی احکامو کښې حيلې کولو نه بچ اوسئ ، داحديث بالکل صحيح دي او ددې ټول راويان ثقه دی. والله اعلم.

وَاِذْ	قَالَ	مُوْسٰى	لِقَوْمِهٖٓ	اِنَّ اللّٰهَ	يَاْمُرُكُمْ
ياده کړه هغه واقعه کله چې	اووئيل	موسی	اقوم خپل ته چې بيشکه الله احکم کوی تاسو ته		
اويادکړئ هغه وخت چې موسی خپل قوم ته اووئيل دالله حکم دي چې تاسو (دقاتل معلومولو دپاره)					
اَنْ تَذْبَحُوْا	بَقَرَةً	قَالُوْٓا	اَتَتَّخِذُنَا	هُزُوًا
چې ذبحه کړئ تاسو	يوه غوا	اووئيل هغوئ	آيا ته نيسئ مونږ لره	په توقو سره
يوه غوا حلاله کړئ	هغوئ ورته	اووئيل آياته مونږ پورې توقې کوې هغه (موسی ﷺ ورته)		
قَالَ	اَعُوْذُ	بِاللّٰهِ	اَنْ اَكُوْنَ	مِنَ الْجٰهِلِيْنَ
اووئيل موسی	زه پناه غواړم	په الله سره	چې زه شم	دجاهلانو نه
اووئيل چې زه په الله د دي خبرې نه پناه غواړم (د الله د حکم په بيانولو کښې) د توقو کونکو نه شم				

د خپل ترهٔ قتل کول :- ددي پوره واقعه داده چه په بنی اسرائيلو کښې يو سړي وو چه ډير مالدار وو. ددې نارينه اولاد نه وو. صرف يوه لور ئې وه او يو وراره ئې وو. کله چه ئې دي وراره اوکتل چه دا بوډها هډومړ کيږی نه نو د وراثت په باره کښې ورته خيال راغلوچه څه دي ولی قتل نه کړم؟ چه ددې لور سره نکاح اوکړم او دقتل تهمت په نوروباندې اولګوم اوديت هم وصول کړم او دمقتول مالک هم جوړشم. په دي شيطانی خيال کښې هغه باحوصله شو او يوورځ ئې موقع بيا مونده اوخپل تره ئې قتل کړو. دبنی اسرائيلو ښه خلق ددوی دجنګ جګړو نه تنګ شو او جدا شو تري اوپه بل ښار کښې اوسيدل. دماښام به ئې دخپلې قلعې دروازه بندوله سحر به ئې بيرته کوله. هېڅ يو مجرم به ئې نه پريښودلو. دي هلک (وراره) د خپل لاش واخستلو او د قلعې پاتک سره ئې واچولو. واپس راغلو او خپل تره ئې تلاش کولو. بيائې هله ګله جوړه کړه چه زما تره چا قتل کړي دي او په دي قلعې والو باندې ئې تهمت اولګولو. اوده د ديت درقم مطالبه اوکړه. هغوی ددې قتل اود ديت نه انکارا وکړو او وې وئيل مونږ ترهنه نه يو خبر. خو دي په ضد شو تردي پورې چه خپل ملګری ئې واخستل او جنګ ئې جوړکړو.

موسی ﷺ ته تلل:- داخلق عاجزه شو او حضرت موسی ﷺ ته راغلل او واقعه ئې ورته عرض کړه چه اني دالله ﷻ رسوله هيڅ بې هيڅ په مونږ باندې دقتل تهمت لګوی حالانکه مونږ بری الذمه يو. حضرت موسی ﷺ دالله ﷻ نه دعا اوکړه او د هغه ذات د طرفنه نه وحی نازله شوه يو غوا ذبحه کړئ. هغوی اووئيل چه اني دالله ﷻ رسوله چرته د قاتل معلومول اوچرته د غوا ذبح کولو حکم؟ آيا ته مونږسره ټوقې

کوي څه ؟ حضرت موسی ﷺ ورته اووئیل اعوذبالله (دشریعت دمسئلو په وخت کښې) د تپوتې کول د جاهلانوکار دي. دالله ﷻ حکم هم دادي.

عبث تپوسونه کول:اوس که دا خلق تلې وې اوغوائي ذبح کړې وې نو کافی به وه لیکن هغوی سوالونه شروع کړل او وې وئیل چه هغه غوا څنګه پکار ده؟

د غوا صفتونه:- په دې باندې حکم نازل شو چه نه ډیره بوډنی ده اونه ډیره وړه ده (بلکه) څوانه ده. هغوی اووئیل چه داسې غواګاني خو ډیرې دی دا اوفرمائې چه دهغې رنګ څنګه دې؟ وحی راغله چه دهغې رنګ بالکل صفا زیړه ده. او هر کتونکی ته ډیره ښکلې ښکاری. بیاني اووئیل چه حضرت داسې غواګاني خوډیرې دی. څه بل خاص صفت ئې بیان کړئی. وحی راغله چه هغې باندې هیڅ کله هم ییوة نه ده شوې،پټو ته پرې اوبه نه دی ورکړې شوی دهر عیب نه بالکل پاکه ده.یو رنګ ئې دي ، هیڅ داغ پرې نشته دي ،چه څومره به دوی سوالونه کول دومره په حکم کښې سختی راتله.

د پلار تابعداری:- اوس دداسې غوا په تلاش کښې اووتل اوهغه صرف یو هلك سره ملاؤ شوه. دا ماشوم دخپل پلار ډیر زیات فرمانبردار وو. یو ځل ددده پلار اوده وو اودنقدو د پیټې چابی دده سر ته پرته وه ، یو سوداګر یو قیمتی هیرا خرڅوله . هغه اووئیل چه څه دا خرڅول غواړم ،هلك ورته اووئیل چه څه به ئې درنه واخلم. اوددې قیمت اویا زره مقرر شو. هلك ورته اووئیل چه لږ صبر اوکړه چه کله زما پلار پاسی نو څه به دهغه نه چابی واخلم او تاته به قیمت درکړم. هغه اووئیل که اوس رقم راکوې نو څه به ستا نه لس زره کمې واخلم. هلك اووئیل چه نه څه خپل پلار نه پاسوم. که ته لږ شان ایسار شې نو څه به تاته د اویازرویه ځائې اتیا زره درکړم. همداشان یوطرفنه او بل طرفنه کمې زیاتې شروع شو تر دې پورې چه تاجر ورته دیرش زره قیمت مقرر کړو. که ته اوس پلار پاسوې اوماته رقم راکړې نو څه ستا نه دیرش زره واخلم. هلك ورته اووئیل که ته لږ ایسار شې چه زما پلار پاسی نو څه به تاته یو لاکهه درکړم. آخر هغه خفه شو او خپله هیره ئې واپس واخسته او لاړو. د پلار ددې بزرګئ او دهغه د راحت او دهغه دادب خیال ساتلو په احترام کښې الله ﷻ ددې هلك نه ډیر خوشحاله شو او ده ته ئې دا غوا ورکړه.

دهلک نه دغوا مطالبه کول:- هرکله چه بنی اسرائیلوداقسمه غوابیا مونده اوددې هلك نه بغیر بل چا سره داسې نه وه ، نو ده ته وائی چه ددې غوا په بدله کښې دوه غواګاني واخله خو هغه هلك انکار کوی. بیا وائی چه دري غواګاني واخله خو هغه هلك نه راضی کیږی . هغوی تر لسو (غواګانو) پورې شمیر اورسو خو دې نه منی اودا خلق حضرت موسی ﷺ ته شکایت کوی. حضرت موسی ﷺ ورته اووئیل چه څه دې غواړې هغه ورکړئی او غوا تري واخلئ. آخر د غوا د وزن برابر ورته سره زر ورکړې شو نو بیا دې هلك خپله غوا خرڅه کړه. دا برکت الله ﷻ دې هلك ته مور پلار دخدمت په بدله کښې ورکړو. او دې ډیر زیات محتاج وو او دده پلار وفات شوې وو. اوددده کوندې مور ډیره غریبه وه.

د غوا اخستل:-غرض دا چه غوا ئې تري واخسته او دائې ذبح کړه او ددې دبدن یو حصه ئې دمقتول په جسم باندې اووهله نو دالله ﷻ په قدرت سره هغه مړې ژوندې شو اودهغه نه تپوس اوکړې شو چه ته چا قتل کړې ئې ؟ هغه اووئیل زما وراره څکه چه هغه زما مال واخلی او زما لور سره نکاح اوکړی ، بس دومره ویناوه او هغه دوباره مړ شو اودقاتل معلومات اوشو. او په بنی اسرائیلو کښې جنګ چه. کیدونکې وو ختم شو.اودا فتنه ختمه شوه. دهغه مرده دا وراره خلقو اونیولو اودهغه دا مکار توب ښکاره شو اوهغه ددې په بدله کښې قتل کړې شو. داواقعه مختلفو الفاظو سره روایت کړې شوې ده. په ظاهره دا معلومیږی چه دا واقعه دبنی اسرائیلو ده چه ددې تکذیب یا تصدیق مونږ نشو کولې. خو روایت جائزدې. او په دې آیت کښې هم بیانیږی چه اې بنی‌اسرائیلو زما هغه نعمت هم مه هیروئی چه

Scanned with CamSc

مادعادت خلاف د معجزې په طور دیو غوا (دغوښې ټکړې) په لګولو سره هغه مرده ژوندې کړو او دهغه مقتول اود قاتل معلومات اوشو. او یو خوریدونکې فتنه ختمه شوه.

قَالُوا	ادْعُ	لَنَا رَبَّكَ	يُبَيِّنْ لَّنَا	مَا	
اووئیل هغوئ	اوغواړه	دپاره زمونږ درب خپل نه	چې بیان کړی	مونږته	چې څنګه ده
هغوئ اووئیل زمونږ دپاره د خپل رب نه تپوس اوکړه					
هِيَ ؕ	قَالَ	اِنَّهٗ	يَقُوْلُ	اِنَّهَا	بَقَرَةٌ	لَّا فَارِضٌ
هغه	اووئیل موسی	چې بیشکه	الله فرمائی	چې وی دې هغه	داسې غوا	چې نۀ بوډئ وی
چه دا غوا به څنګه وی	هغه (موسی) اووئیل چې الله وائی دایوه داسې غواده چې نه ډیره زړه ده					
وَّلَا بِكْرٌ ؕ	عَوَانٌ	بَيْنَ ذٰلِكَ ؕ	فَافْعَلُوْا	مَا	تُؤْمَرُوْنَ ﴿٦٨﴾
اونۀ بچئ	بلکه میانه حاله وی	په منځ ددې کښې	پس اوکړئ	هغه	چې دکومې درته حکم کیږی
اونۀ ډیره وړه ده	بلکه ددې په مینځ کښې درمیانه ده	نوتاسوته چه کوم حکم کولې شی په هغې عمل اوکړئ			
قَالُوا	ادْعُ	لَنَا رَبَّكَ	يُبَيِّنْ لَّنَا	مَا	لَوْنُهَا ؕ
اووئیل هغوئ	اوغواړه	دپاره زمونږ	درب خپل نه	چې بیان کړی	مونږ ته	چې څه دی	رنګ دهغې
هغوئ اووئیل چې دخپل رب نه زمونږ دپاره بیا تپوس اوکړه چې مونږته دهغې رنګ اوښائی							
قَالَ	اِنَّهٗ	يَقُوْلُ	اِنَّهَا بَقَرَةٌ	صَفْرَآءُ ۙ	فَاقِعٌ	لَّوْنُهَا	تَسُرُّ
اووئیل موسی	چې بیشکه	الله وائی	چې وی دې هغه غوا	زیړه	شوخ دې وی	رنګ دهغې	چې خوشحالوی
هغه (موسی) اووئیل چې الله پاک وائی دایوه تکه زیړه غوا ده	چې (په کتلو سره) د زړونه خوشحالوی						
النّٰظِرِيْنَ ﴿٦٩﴾	قَالُوا	ادْعُ	لَنَا	رَبَّكَ	يُبَيِّنْ لَّنَا
کتونکولره	اووئیل هغوئ	اوغواړه	دپاره زمونږ	اد رب خپل نه	چې بیان کړی مونږ ته
هغوئ اووئیل چې ته زمونږ دپاره د خپل رب نه یوخل بیا تپوس اوکړه چې مونږ ته (د کار کولو په اعتبار سره)					
مَا هِيَ ۙ	اِنَّ الْبَقَرَ	تَشٰبَهَ	عَلَيْنَا ؕ	وَاِنَّآ	اِنْ شَآءَ	اللّٰهُ
چې څه قسم ده هغه	بیشکه غواګانې	ګډې وډې شوې	په مونږ باندې	او مونږ	که اوغواړی	الله
اوښائی چې داڅنګه غوا ده	څکه چې غواګانې په مونږ باندې ګډې وډې شوې	اوکه الله اوغواړی				
لَمُهْتَدُوْنَ ﴿٧٠﴾	قَالَ	اِنَّهٗ	يَقُوْلُ	اِنَّهَا بَقَرَةٌ	لَّا ذَلُوْلٌ
خامخالار موندونکی یو	اووئیل موسی	بیشکه	الله وائی	چې هغه داسې غوا ده	چې نۀ ده کار کونکی
نومونږ به ئې خامخا بیاموندې شو	هغه (موسی) اووئیل الله فرمائی چې دایوه داسې غوا ده چې جوتی نه ده				
تُثِيْرُ	الْاَرْضَ	وَلَا تَسْقِي الْحَرْثَ ۚ	مُسَلَّمَةٌ	لَّا شِيَةَ	فِيْهَا ؕ
چې اړوی	زمکه	اونۀ اوبۀ کوی	پتې (فصل) صحیح سالمه ده	نشته داغ	په هغې کښې
چه یوې کوی یا اوبۀ خورکوی بالکل سالمه ده	(د کار نه کولو په وجه) هیڅ داغ پرې نشته				

Scanned with CamScanner

قَالُوا	الْـٰٔنَ	جِئْتَ بِالْحَقِّ ؕ	فَذَبَحُوْهَا	وَمَا	كَادُوْا
اووئیل هغوئ	اوس راغلې ته	حق خبرې ته	بیاذبحه کړه هغوئ	هغه	اونۀ وو نزدې

هغوئ اووئیل چې هیله اوس دې پوره تفصیلی خبره اوکړه نو(غوا ئې پیدا کړه او) غوائې حلاله کړه

يَفْعَلُوْنَ ۝

چې کړې نې وې دا کار|

اونزدې وو چه دا کار ئې نه وو کړې)

د غوا باره کښې تپوسونه:- دبنی اسرائیلو دسرکشئ او د نافرمانئ او دالله ﷻ په حکم کښې خبرې کولو بیان په دې ځائې کښې کیږی چه حکم آوریدو سره په دې باندې ئې عمل اونکړو بلکه په دې کښې نې مچختی لټول اوباربار به ئې سوالونه کول .ابن جریج فرمائی چه هغوی حکم ملاویدو سره هره یوه غوا ذبح کړې وې نو دابه کافی وه. خو هغوی پرله پسې سوالونه کول اوپه کار کښې سختی زیاتیده. آخر کښې که هغوی انشاء الله نه وې وئیلې نو نوره به هم دا سختی هیڅکله نه وه لرې شوې اوپه دوی باندې به اظهار نه وو شوې(۱)

د رومبی سوال په جواب کښې اووئیلې شو چه نه هغه بوډئی ده اونه بالکل کم عمر والا ده بلکه د درمیانه عمر ده. بیا د دویم سوال په جواب کښې ددې رنګ بیان شو چه هغه دزیړ رنګ والا ده او چمکداره ده چه کتونکو باندې ښه لګی.د حضرت ابن عباس ﷺ قول دې چه ځوک زیړ پیزار اچوی هغه به هر وخت خوشحاله وی اوددې جملې نه استدلال دې چه ﴿تَسُرُّ النّٰظِرِيْنَ﴾(۲) بعضو وئیلی دی چه ددې نه مراد سخت تور رنګ دې لیکن اول قول صحیح دې اودابله خبره ده چه مونږداسې اووایو چه ددې د شوخئ اود چمک په وجه تور رنګې معلومیده. وهب بن منبه وائی چه دومره شوخه وه چه داسې معلومیده چه ددې نه دنمر شغلې راخیژی .په تورات کښې چه ددې رنګ سور بیان کړې شوې دې خو شاند دا عربئ والو غلطی ده .والله اعلم.

د غوا د کار نوعیت:- چونکه دې رنګ اوددې عمر غواګانې دوی ته ډېرې په نظر راغلې نوهغوی بیااووئیل چه انې د الله ﷻ نبی څه بله نښه اوښایه چه شك ختم شی،انشاء الله اوس به لار ملاؤ شی. که هغوی انشاء الله نه وې وئیلې نوهغوی ته به تر قیامته پورې پته نه لګیده اوکه هغوی داسوالونه نه کولې نوپه هغوی باندې به دومره سختی نه وې بلکه چه کومه غوائې هم ذبحه کړې وې نو هغه به کافی وې. ددې مضمون په یو مرفوع حدیث کښې هم راغلې دې لیکن دهغې سند غریب دې . صحیح خبره دا معلومیږی چه دا د حضرت ابو هریره ﷺ خپل کلام دې والله اعلم.دې ځل ددې صفتونه بیان شو چه هغې باندې یوهٔ نه ده شوې ، اوبه پرې نه دی راویستلې شوې ددې په چمړه باندې څه داغ نشته دې ، یو رنګ ې دې ، په ټول بدن کښې ئې یو ځائې کښې هم بل رنګ نشته دې.ددې لاسونه مخکښې او روستو پښې او د ټول بدن اندامونه بالکل صحیح دی او مضبوط دی.

بعضې وائی چه هغه غوا کار کولو والا نه ده خو د پټو کار کوی. اوبه راوباسی خو دا قول غلط دې. نه په دې کښې څه داغونه شته دې . اوس ددومره کوششونو نه پس دوی ددې قربانئ طرفته متوجه شو ، هم ددې وجې ئې اوفرمائیل چه ذبح کولو ته نیزدې نه وو او د نه ذبح کولو په بهانه کښې وو ، چا وئیلی دی چه هغوی ته خپلې رسوائی خیال وو چه پته نشته چه قاتل څوك دې. بعضې وائی ددې

---

۱) الطبری: ۱/۳٤۸ ،

۲) ابن ابی حاتم : ۱/۱۳۸)-

Scanned with CamSc

قیمت په اوریدو سره هغوی ویریدلی وو، خو په بعضوروایتونو کښې راغلی دی چه ټول ددې قیمت دري دیناره مقرر شوې وو. خو دا درېو دینارو والا اود غوا د وزن برابر سرو زرو والا روایتونو کښې اسرائیلی روایتونه دی. صحیح خبره داده چه ددوی اراده د حکم پوره کولو نه وه خو اوس ددومره وضاحت نه پس اودقتل مقدمې په وجه دوی دا حکم اومنلو . والله اعلم.

یوه فقهی مسئلهٔ:- ددې آیت نه په دې مسئله هم استدلال کیدیشی چه ځناور بغیر دکتلو نه قرض اخستل جائز دی. ځکه چه صفات ښکاره کړې شوی دی اوصفتونه ټول بیان کړې شو. لکه څنګه چه حضرت امام مالك رحمه الله ،امام اوزاعی رحمه الله ، امام لیث رحمه الله ، امام شافعی رحمه الله ، امام احمد رحمه الله اود جمهور عالمانو مذهب دې ، دمتقدمینو او متاخرینو مذهب دې. اوددې دلیل د بخاری او مسلم دا حدیث هم دې چه هیڅ یو نسخه دې دبلې نسخې صفات دخپل خاوند په وړاندې داسې نه بیانوی لکه چه هغه ئې وینی. (۱)اوپه حدیث مبارك کښې نبی کریم ﷺ د دیت داوښانو صفتونه هم بیان کړی دی . قتل

خطا کښې او هغه قتل چه قصدسره مشابه وی (۲)، خوامام ابوحنیفه رحمه الله او او نور کوفی عالمان او امام ثوری رحمه الله وغیره دبیع سلم قائل نه دی. هغوی وائی چه د ځناورو په صفتونو اواحوالوباندې پوره ضبط نشی کیدلې ،داشان حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ، حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه او عبدالرحمان بن سمره رضی الله عنه وغیره نه منقول دی .

بغیر د لیدو نه د ځناورخرڅولو حکم

مسلک حنفی:- علامه عثمانی رحمه الله فرمائی چه امام صاحب په ځناورو کښې د وصف بیانول کافی نه ګڼړی نو دا خبره صحیح ده اودا ایت د امام رحمه الله خلاف حجت نشی جوړیدې ځکه چه په دې کښې الله تعالی د غوا وصف بیان کړې دې او امام ابوحنیفه رحمه الله دا نه فرمائی چه د الله تعالی په وصف بیانولو سره تعین نه راځی هغوی چه انکار کړې دې نود خلقو د وصف په بیانولو سره ئې د تعین نه انکار کړې دې (احکام القران للعثمانی (۳۱۱۱۱)-

وَاِذْ	قَتَلْتُمْ	نَفْسًا	فَادّٰرَءْتُمْ	فِيْهَا ؕ
او کله چې مړکړو تاسو یوسړې نو په یوبل موالزامونه لګول په باره دمړی کښې				
او(یادکړئی کله) چې تاسویوسړې دوژلوبیا(دقاتل په حقله)پخپلو				
وَاللّٰهُ	مُخْرِجٌ	مَّا كُنْتُمْ	تَكْتُمُوْنَ ۝	فَقُلْنَا	اضْرِبُوْهُ
اوالله ښکاره کونکې وو دهغه څه چې تاسووئ چه پټول مو انو اووئیل مونږ اووهئ دامړې					
کښې په جګړه شوې اوالله هغه څیز ښکاره کولو کوم چې تاسوپټولو نومونږ اووئیل چې دامقتول دغوا په یوه حصه					
بِبَعْضِهَا ؕ	كَذٰلِكَ	يُحْيِ اللّٰهُ	الْمَوْتٰى ۙ	وَيُرِيْكُمْ	اٰيٰتِهٖ	لَعَلَّكُمْ
په یوه حصه ددې غوا درانګې ژوندی کوی الله مړی اوښانی تاسو ته ښکې خپلې دپاره ددې						
اووهئ (نوژوندې اوګویابه شی) دغه شان به الله (دقیامت په ورځ) مړی ژوندی کوی اوتاسوته دخپلوقدرتونوښکې ښانی						
تَعْقِلُوْنَ ۝						
چې تاسو پوهه شئ						

---

۱) صحیح بخاری : کتاب النکاح باب لاتباشر المراة المراة: ۵۲٤۰، صحیح مسلم: ۳۳۸، بمعناه)-

۲) ابو داود ، کتاب الدیات ، باب فی دیة الخطا شبه العمد: ٤٥٤٧، وهو صحیح نسائی : ٤٨٩٥، ابن ماجه: ۲٦۲۷)-

Scanned with CamScanner

چې تاسو دعقل نه کار واخلئ!

الله دپټو څیزونو ښکاره کونکې دي:- په صحیح بخاری کښې (ادارتنه) معنی ده چه تاسو اختلاف کړې دي[1] مجاهد رحمه الله وغیره نه هم دا روایت دي[2] مسیب بن رافع رحمه الله وائی. چه کوم سړي په اوډ کورونو کښې پټ شی اونیك عملونه کوی نو الله ﷻ به دده نیکئ ظاهري کړی. داشان که څوك په اوډ کورونو کښې پټ شی او دبدئ کار کوی نوالله ﷻ به دده دا بدی ښکاره کړی. بیائې دا آیت تلاوت کړو چه ﴿وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنْتُمْ تَكْتُمُوْنَ﴾

قوله تعالی:- فَقُلْنَا اضْرِبُوْهُ بِبَعْضِهَا ؕ كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى ۙ وَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ

دغوا په څه حصه د مړی وهل:- په دې خائې کښې هم هغه د تره او وراره واقعه بیانیږی چه ددې په وجه هغوی ته دغوا د ذبح حکم شوې وو او وئیلې شوی وو چه ددې یو ټکړه واخلی او په دې باندې د مقتول بدن اووهی، هغه ټکړه د کوم خائې وه ؟ ددې بیان خو نه قرانپاك کښې شته دې اونه په څه صحیح حدیث کښې او نه مونږ ته ددې په معلومیدو سره څه فائده ملاویږی ،د نه دمعلومیدوسره هیڅ نقصان نشته . ښه خبره داده چه دکوم څیزبیان نه وی نو چه مونږ هم په هغې پسې لټون نه کوؤ . اګر چه بعضو وئیلی دی چه هغه دغضروف نرم هډوکئ وو. څوك وائی چه هډوکئ نه وو بلکه داد پټون غوښه وه. څوك وائی چه د دواړو اوږو په مینځ کښې غوښه وه. څوك وائی چه دژبې غوښه وه. څوك وائی چه دلکئ غوښه وه وغیره .لیکن زمونږ بهتری په دې کښې ده چه څنګه الله ﷻ پټ ساتلی دی مونږ ئې هم پټ اوساتو. ددې ټکړې په لګیدوسره هغه مرده ژوندې شو. او الله ﷻ د هغوی د جګړو فیصله اوکړه اودقیامت په ورځ ئې هم دا دلیل جوړ کړو.

پنځه ځایه د مرګ ذکر:-په دې سورت کښې پنځه خائې کښې دمرګ نه پس ژوندی کیدل بیان شوی دی.یوخودې آیت ﴿ثُمَّ بَعَثْنٰكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَوْتِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ﴾ کښې دی او بل په دې قصه کښې او دریم د هغوی په قصه کښې چه د زرګونو په شمیر وتلی وو او په یو ویران کلی باندې تیر شوی وو. څلورم د ابراهیم ﷺ دڅلورو مارغانو وژلو نه پس په ژوندی کیدو کښې . او پنځم دزمکې دمرګیدو نه پس ددې دپاره ژوندی کیدو ته په مرګ او ژوند سره تشبیه ورکول دی.

په بیا ژوند یو دلیل:-د ابو داود طیالسی رحمه الله یو حدیث دې چه ابو رزین عقیلی ﷺ د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ مړی الله ﷻ څنګه ژوندی کوی ؟ وې فرمائیل چه کله ته په ویرانه زمکه باندې تیر شوې ې. وې فرمائیل چه آو ، بیا ئې اوفرمائیل چه بیادې دا شنه کتلې ده ؟ وې فرمائیل چه آو .نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه داشان دمرګ نه پس ژوندی کیدل دی[3] په قرآن پاك کښې یو بل خائې کښې دی چه ﴿وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ﴾ یعنی ددې منکرانو دپاره د امړه زمکه هم یو نښه ده. چه دامونږ ژوندنی کوؤ.اوددې نه دانې راوباسو او دادوئ خوری اومونږ په دې کښې د انګورو او کهجورو باغونه پیداکوؤ اوددې څلور واړه طرفونو ته نهرونه بهیږی او دوئ ددې میوې ښه په خوند خوند خوری. حالانکه دا دهغوی دلاسو جوړ شوی یا پیدا شوی نه دی.

دویمه فقهي مسئله:- آیا بیا به هم دوی شکر نه ادا کوی ؟ یو زخمی سړې که اووائی چه فلانی سړی د غصې په وجه قتل کړې یم نودده دا قول به ثبوت ګنرلې شی. په دې مسئله باندې ددې آیت نه دلیل اخیستې شوې دي.د امام مالك رحمه الله په مذهب کښې دې ته تقویت ورکړې شوې دي. ځکه چه د مقتول

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب احادیث الانبیاء باب قوله تعالی (واذ قال موسی لقومه.....)-

[2]) ابن ابی حاتم : ۲۲۹/۱)-

[3]) مسند الطیالسی : ۱۰۸۹، وسنده حسن

Scanned with CamScanner

بیان ژوندی کیدو نه پس اودهغه د تپوس کولو نه پس چه کوم قاتل هغه خودلې ووهغه قتل کړې شو او دمقتول په قول باندې باور اوکړې شو. ظاهره ده چه په داسې حالت کښې انسان ربښتیا وانې او په دې دروغژن نه شی ګنړلې.

د نبی کریم (ص) د مړی ژوندی کولو یوه معجزه:- حضرت انس ﷺ فرمائی چه یو یهودی دیوې ویناځې سر په کانړې باندې کیښودلو . سرئې ورله مات کړو اوددې کړې (بنګړی) ئې ویستل . هرکله چه ددې پته نبی کریم ﷺ ته اولګیدله نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ددې ویناځې نه تپوس اوکړئی چه دا چا قتل کړې ده. خلقو تپوس کول شروع کړو چه آیا ته فلانی قتل کړې ئې ، فلانی قتل کړې ئې ؟ هغې به دخپل سر په اشارې سره انکار کولو تر دې پورې چه ددې یهودی نوم راغلو نو دې دسر په اشارې سره اووئیل چه آو. نو دایهودی ګرفتار کړې شو اودهغه نه باربار تپوس کولو سره هغه اقرار اوکړو نو نبی کریم ﷺ حکم ورکړو چه دده سر هم دهغې ویناځې پشان د دوؤ کانړو په مینځ کښې مات کړئی. (۱)

دریمه مسئله- اود امام مالك رحمه الله په نیز کله چه دې د غصې په وجه وی نو دمقتول وارثانو ته به قسم ورکولې شی په طور د قسامت لیکن جمهور ددې مخالف دی او د مقتول دې قول باره کښې ثبوت نشته دې.

ثُمَّ	قَسَتْ	قُلُوبُكُمْ	مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ	فَهِيَ	كَالْحِجَارَةِ	
ابیا	سخت شو	زړونه ستاسو	روستو	ددې نه	انو دغه	دی پشان دکانړو
ابیا ددې واقعې نه پس(هم)ستاسوزړونه سخت شو|نودازړونه داسې(سخت)دی لکه						
اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً ؕ	وَاِنَّ	مِنَ الْحِجَارَةِ	لَمَا	يَتَفَجَّرُ		
بلکه زیات دی په سختوالی کښې	اوبیشکه	خینې دکانړو نه	هغه دی	چې بهیږی		
کانړې یادکانړونه هم زیات سخت دی	(ځکه چې) خینې کانړې داسې دی چې د هغې نه ولې بهیږی					
مِنْهُ الْاَنْهٰرُ ؕ	وَاِنَّ مِنْهَا	لَمَا	يَشَّقَّقُ	فَيَخْرُجُ	مِنْهُ	
دهغې نه	چینې	اوبیشکه خینې کانړې	هغه دی	چې چوی	نو راوخی	دهغې نه
اوخینې کانړې داسې دی چه اوچوی نواوبه (چینې) ترینه روانې شی						
الْمَآءُ ؕ	وَاِنَّ مِنْهَا	لَمَا	يَهْبِطُ	مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ	وَمَا اللّٰهُ	بِغَافِلٍ
اوبه	اوبیشکه خینې کانړې	هغه دی	چې رارغړی	دیرې	دالله	نه|اونه دې الله
اوخینې دالله دویرې نه راورغړیږی	اودغر دسوکو نه د زمکې تل ته راخی	اوالله ستاسو د کارونو				
عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ ۝					
دهغه کارونو نه	چې تاسو نې کوئ					
نه بې خبره نه دې						

قوله تعالی:- ثُمَّ قَسَتْ قُلُوْبُكُمْ مِّنْ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ

د قساوت په لحاظ سره د زړونو قسمونه :- په دې آیت کښې بنی اسرائیلو ته زورنه ورکړې شوې ده چه ددا شان زبردستې معجزې او دقدرت دنبنو په کتلو نه پس بیا ستاسو زړونه سخت شو لکه دکانړې په

(۱) صحیح بخاری : کتاب الخصومات باب مایذکره فی الاشخاص والخصومة بین المسلم والیهود : ۲٤۱۳، صحیح مسلم: ۱٦۷۲-

شان شو. نو په دې وجه ایماندار داشان سختئ سره منع کړې شو او وئیلې شوی دی چه ﴿ اَلَمْ يَاْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ۭ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ۝﴾ یعنی آیا تراوسه پوری هغه وخت مومنانو ته نه دې ښائلي چه ځله د ایماندارو زړونه په ویریدو شو دالله ﷻ د ذکر نه اودالله ﷻ د نازل شوی حق نه درزیږی ؟ او دمخکښو اهل کتابو په شان دې نه شی چه دهغوی زړونه دزمانې دتیریدو نه پس سخت شو او په دوی کښې اکثر فاسقان وو.

د قاتل ورارهٔ د قتل کولو نه انکار:- حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه ددې مقتول وراره هم دخپل تره دوباره مړ کیدو نه پس دهغه تکذیب اوکړو او وې وئیل چه ده دروغ اووئیل او بیا څه وخت پس د بنی اسرائیلو زړونه هم دکانړې پشان سخت شو بلکه ددې نه هم زیات سخت. ځکه چه دکانړو نه خو نهرونه راوزی او اوبه تری بهیږی ، بعضې کانړی اوشلیږی اوددې نه اوبه روانې شی اګر چه هغه د بهیدو قابلې نه وی ، بعضې دالله ﷻ ویرې نه راپریوزی ،لیکن ددوی زړونه په څه وعظ او نصیحت سره نه نرمیږی.ددې ځایه داهم معلوم شو چه په کانړو کښې پوهه او ادراک شته دې او په بل ځائې کښې ارشاد دې چه﴿ تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبْعُ وَالْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهِنَّ ۭ وَاِنْ مِّنْ شَيْءٍ اِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ وَلٰكِنْ لَّا تَفْقَهُوْنَ تَسْبِيْحَهُمْ ۭ اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا غَفُوْرًا ۝﴾ یعنی اووه واړه آسمانونه او اووۀ واړه زمکې او ددې تول مخلوق او هر څیز دالله ﷻ تسبیح بیانوی خوتاسو دهغه پاك ذات تسبیح نه کوئی ، الله ﷻ حلیم او بخښونکې دې.

یو غلط تاویل:- ابو علی جبائی د کانړی دویرې نه دپریوتلوتاویل په ولیٔ سره ورکړې دې. خو دا صحیح نه دې. رازی رحمه الله هم دې ته صحیح نه وائی او حقیقت کښې دا تاویل صحیح نه دې ځکه چه ددې دلیل نه بغیر لفظی معنی پریښودل لازم رازی ، والله اعلم.نهرونه بهیدل زیات ژړېدل دی. او شلیدل او داوبو راوتل ددې نه کم ژړېدل دی. راپریوتل د زړه ویریدل دی، بعضې وائی چه دا دمجاز په طور وئیلې شوی دی. لکه په بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ يُرِيْدُ اَنْ يَّنْقَضَّ﴾ دیوال غورزیدل ئې غوښتل. ظاهر دی چه دامجاز دی او په حقیقت کښې ددیوال هډو اراده نه وی.رازی رحمه الله او قرطبی رحمه الله وائی چه دداسې تاویلونو هیڅ ضرورت نشته دې. الله ﷻ چه دکوم څیز نه کوم صفت پیدا کول غواړی نو پیدا کولې شی.

جمادات هم خاص قسم ژوند لری:- اوګورئی دهغه فرمان دې چه ﴿ اِنَّا عَرَضْنَا الْاَمَانَةَ الخ ﴾ (مونږ امانت په زمکه اوآسمانو او په غرونو باندې پیش کړو،اوهغوی ددې د اوچتولو نه مجبوری ظاهره کړه او اوویریدل).مخکښې آیت تیرشو چه تول څیزونه دالله ﷻ تسبیح وائی،او په بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ وَالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ۝﴾ (ستوری او وني الله ﷻ ته سجده کوی)او فرمائی چه ﴿ يَتَفَيَّؤُا ظِلٰلُهٗ الخ ﴾او فرمائی چه ﴿ قَالَتَآ اَتَيْنَا طَآئِعِيْنَ ۝﴾(زمکې او آسمان اووئیل چه مونږ په خوشحالئ خوشحالئ حاضر یو) .او په بل ځائې کښې ارشاد دې چه غرونه هم د قران پاك نه متاثره شو او د ویرې له کبلې اوشلیدل او په بل ځائې ارشاد دې چه ﴿وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ﴾(ګناهګار خلق به خپلو بدنونو ته اووائی چه تاسو زمونږ خلاف ولې شهادت ورکړو ؟ هغوی به جواب ورکړی چه مونږ ته هغه الله ﷻ د ویناطاقت راکړو چه هغه پاك ذات هرڅیز ته د وینا طاقت ورکوی).

د احد د غر واقعه:- یوصحیح حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ د احدغر په باره کښې اووئیل چه دا غر مونږ سره محبت کوی او مونږ هم دې سره محبت کوو، (۱)په یوبل حدیث کښې دی چه دکهجوری کومې وني ته به نبی کریم ﷺ اډانړه لګوله او دجمعې خطبه به ئې ورکوله،نو کله چه منبر جوړ شو او

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب الجهاد باب فضل الخدمة فی الغزو ،: ۲۸۸۹، صحیح مسلم: ۱۳۹۲)-

Scanned with CamScanner

هغه تنه پریخودلي شوه نوهغه تنې په چغو چغو اوژړل[۱] دصحیح مسلم په یو حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه څه دمکې هغه کانړئ پیژنم چه دنبوت نه به ئې مخکښې ماته سلام کولو.[۲] دحجر اسود په باره کښې دی چه چا دا په حق سره ښکل کړو نودا به دهغه دایمان ګواهی د قیامت په ورځ ورکوی[۳] اوداشان ډیر احادیثو کښې دی چه دهغې نه صفا معلومیږی چه پدې څیزونو کښې پوهه او حس شته اودا ټول په حقیقت باندې محمول دی نه په مجاز باندې.

قوله تعالی:- اَوْاَشَدُّ قَسْوَةً

د «او» د لفظ تحقیق:- په دې آیت کښې لفظ " او " په باره کښې قرطبی رحمه الله او رازی رحمه الله وائی چه دا دتخییر دپاره دی. یعنی ددوی زړونه د کانړی په شان سخت اوګنړئ او یا ددې نه هم زیات. رازی رحمه الله یو وجه دا هم بیان کړې ده چه داټول د ابهام دپاره دی اګر چه دمخاطب په مخکښې باوجود دیو څیز نه دوه څیزونه پیش کولې شی په طور دابهام. دبعضو قول دی چه مطلب دادې دبعضوزړونه دکانړی په شان او دبعضو دې نه هم زیات سخت ، والله اعلم.

ددې لفظ چه کومه معنی په دې ځائې کښې ده هغه هم واورئی. په دې باندې خو اجماع ده چه او شك دپاره نه دی ، یا خوداد واو په معنی کښې ده یعنی ددوی زړونه کانړی پشان یا ددې نه هم زیات سخت شو. لکه په ﴿ لَاتُطِعْ مِنْهُمْ اٰثِمًا اَوْكَفُوْرًا ﴾ کښې او ﴿ عُذْرًا اَوْنُذْرًا ﴾ کښې . دشاعرانو په شعرونو کښې هم " او " دواو په معنی کښې دجمعې دپاره راغلې دی. یا " او "په دې ځائې کښې د بل یعنی بلکه ده لکه ﴿ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْاَشَدَّ خَشْيَةً ﴾ کښې او ﴿ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْاَدْنٰى ﴾ کښې او ﴿ وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ اَلْفٍ اَوْيَزِيْدُوْنَ ﴾ او کښې اودبعضو قول دې چه مطلب دادې چه هغه لکه د کانړی پشان دی یا په سختئ کښې ستاسو په نیز ددې نه هم سخت دی. بعضې وائی چه صرف په مخاطب باندې ابهام اچولې شوې دې اودادشاعرانو په شعرونو کښې هم موندې شی د پوخ علم او یقین نه باوجود صرف مخاطب باندې دابهام اچولو دپاره داسې کلام کوی.په قران پاك کښې په بل ځائې کښې دی چه ﴿ وَاِنَّآ اَوْاِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى اَوْفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴾ یعنی مونږ یاتاسو په صفا هدایت یاګمراهئ باندې یو،نو ظاهر ده چه دمسلمانانو په هدایت باندې کیدل اوکفارو په ګمراهئ باندې کیدل یقینی څیز دې .لیکن دمخاطب ابهام دپاره دهغه په مخکښې کلام مبهم وئیلې شوې دې.

د ایت بل مطلب:-داهم مطلب کیدیشی چه ستاسو زړونه د دې دواړو نه خارج نه دی یا هغه د کانړی پشان دی یا ددې نه هم زیات سخت یعنی بعضې داسې اوبعضې هغه سې. ددې قول مطابق دا قول هم دی چه ﴿ كَمَثَلِ الَّذِي اسْتَوْقَدَ نَارًا ﴾ بیا فرمائی چه ﴿ اَوْكَصَيِّبٍ الخ ﴾ او فرمان دې چه ﴿ كَسَرَابٍ ﴾ او بیافرمائی چه ﴿ اَوْكَظُلُمٰتٍ الخ ﴾ مطلب هم دا دی چه بعضې داسې او بعضې هغه سې دی. والله اعلم.

د زړه د سختوالی مذمت:- تفسیر ابن مردویه کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه دالله ﷻ دذکر نه سوا زیاتې خبرې مه کوئی،داسې خبرې زړه سختوی اوسخت زړه والا دالله ﷻ نه لرې کیږی[۴] امام ترمذی رحمه الله هم دا حدیث بیان فرمائیلې دې او ددې یو طریقې ته ئې غریب وئیلی دی،بزار کښې حضرت انس رضی الله عنه نه مرفوع روایت دې چه څلور څیزونه د بدبختئ دی ① دالله ﷻ دویرې نه دسترګې نه اوبنکې نه تلل ② دزړه سختیدل ③ دامیدونو زیاتوالئ ④ لا لچی جوړیدل.[۵]

---

[۱]) صحیح بخاری : کتاب الجمعة باب الخطبة علی المنبر:۹۱۸)-

[۲]) صحیح بخاری : کتاب الفضائل ، باب نسب ا لنبی : ۲۲۷۷، ترمذی : ۳۶۲۴)-

[۳]) ترمذی کتاب الحج باب ماجاء فی الحجر الاسود: ۹۶۱، ابن ماجة : ۲۹۴۴، وهو حسن)-

[۴]) ترمذی : کتاب الزهد باب رقم: ۲۴۱۱:۶۱،

[۵]) مسند البزار کشف الاستاد: ۳۲۳۰،

Scanned with CamSc

اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ
آیا تاسو امید لرئ	چې ایمان به راوړی دوئ	په وینا ستاسو
	نو آیا تاسو دا امید کوئی چې دا (یهودیان) به ستاسو په دین باندې ایمان راوړی
وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ
اوحال دا چې وه	یوه ډله	ددوئ نه	چې اوریدو به ئې	کلام دالله	ببیابه ئې	بدلولو هغه کلام
(حال دا) چې ددوئ یوې ډلې به دالله خبرې اوریدلې	اوبیا هغې باندې د پوهولو نه پس به ئې په کښې کمې زیاتې کولو
مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ۝ وَاِذَا لَقُوا الَّذِيْنَ
روستو دهغې نه	چې پوهه به شول په هغې	اوهغوئ پوهیدل	اوکله چې	ملاویږی	دهغه کسانو سره
او دوئ پوهیدل (چه د الله تعالی په کتاب کښې بدلون ګناه ده) او کله چې دوئ مسلمانانو سره مخامخ شی
اٰمَنُوْا قَالُوْٓا اٰمَنَّا ۚ وَاِذَا خَلَا
	چې ایمان ئې راوړې دې	نو وایئ	چې ایمان راوړې دې مونږ	اوکله چې	خانله شی
نو (دوی ته) وائی (تاسو چه څنګه ایمان راوړې دې دغه شان) مونږ هم ایمان راوړئ دې	او چې کله شی
بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ
خپلې دهغوئ	دخپلو نورسره	نو وائي	آیا تاسو خبروئ هغوئ	په هغه خبرو	چې ښودلی دی الله
په خپل مینځ کښې یو بل سره یوخائې شی	نو وائی چې آیاتاسو مسلمانانوته هغه خبرې ښائی کومې چې
عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ
تاسو ته	دپاره ددې چې جګړه اوکړی تاسو سره	په ذریعه دهغې	په نزد د رب ستاسو
الله تعالی تاسو ته خودلی دی	(د دې نه نقصان دا دې) چه (مسلمانان به) تاسوسره دالله په مخکښې جګړه کوی
اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝ اَوَلَا يَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا
آیا نه پوهیږئ (په دې)	اوولې معلومه نه ده دوئ ته	چې بیشکه الله ته	معلوم دی	هغه څه
نوتاسوولې نه پوهیږئ	او آیا دا یهودیان نه (په دې خبره نه) پوهیږی چې الله ته د دوی هغه خبرې کومې
يُسِرُّوْنَ وَمَا يُعْلِنُوْنَ ۝
چې دوئ ئې پټوی	اوهغه څه	چې ښکاره کوئ ئې دوئ
چه دوئ پټوی اوکومې چه ښکاره کوی تولې معلومې دی

قوله تعالی:- اَفَتَطْمَعُوْنَ اَنْ يُّؤْمِنُوْا لَكُمْ

د یهودیانو د ایمان امید مه ساتئ:- ددې ګمراه قوم یهود دایمان نه الله ﷻ خپل نبی او د نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته ناامیدی ورکوی چه دې خلقو لوئې لوئې پریشانئ اوکتلې او خپل زړونه ئې د کانړی په شان سخت کړل ، دالله ﷻ کلام ئې واوریدو اوبیا هم ددې تحریف کوی او په دې کښې تبدیلی راولی نوتاسو ددې نه څه امیدساتئ ؟ هم ددې آیت پشان بل ځائې فرمائی چه ﴿ فَبِمَا نَقْضِهِمْ

مِيْثَاقَهُمْ الخ) یعنی ددوی د وعده خلافئ په وجه مونږ په دوی باندې لعنت اوکړو او ددوی زړونه مو سخت کړل. ځکه چه دوی به دالله ﷻ کلام کښې تبدیلی کوله.

قوله تعالی:- وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللّٰهِ

دالله د کلام اوریدلو مطلب:-حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه په دې ځای کښې د کلام الله آوریدل اوفرمائیل.ددې نه مراد د حضرت موسی ﷺ د ملګرو هغه ډله ده چه هغوی دحضرت موسی نه دالله ﷻ کلام په خپلو غوږونود آوریدلو درخواست کړې وو. او کله چه هغوی پاک شو او روژه نې اونیوله او حضرت موسی ﷺ سره کوه طور ته لاړل او په سجده پریوتل نوالله ﷻ دوی ته خپل کلام واورولو. کله چه دوی واپس راغلل او حضرت موسی ﷺ دالله ﷻ دا کلام بنی اسرائیلو ته بیانول شروع کړل نو دې خلقو په هغې کښې تحریف او بدلون کول شروع کړل.

قوله تعالی:-ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْۢ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ

په تورات کښې تحریف کول:-سدی رحمه الله فرمائی چه دې خلقو په تورات کښې تحریف کړې وو ، هم دا عام معنی صحیح ده. چه په دې کښې به هغه خلق هم شامل شی اودا بدخصلت والا نور یهود هم وو. په قران پاک کښې په بل ځائې کښې دی چه ﴿فَاَجِرْهُ حَتّٰى يَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ﴾یعنی په مشرانو کښې که څوک ستاسو نه پناه اوغواړی نو هغه ته پناه ورکړه تر دې پورې چه هغوی کلام الله واوری نو ددې نه مراد دا نه دی چه دالله ﷻ کلام په خپلو غوږونو واوری بلکه قران واوری ، نو په دې ځائې کښې هم دکلام الله نه مراد تورات دې. داتحریف کوونکی او پټوونکی دهغوی عالمان وو . (۱)

قوله تعالی:- وَاِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ اِلٰى بَعْضٍ قَالُوْٓا اَتُحَدِّثُوْنَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ لِيُحَآجُّوْكُمْ بِهٖ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ

دیهودو عالمانو بد خصلتونه:-د نبی کریم ﷺ صفتونه دهغوی په کتابونو کښې وو،هغوی په دې ټولو کښې تاویلونه اوکړل داصل مطلب نه ئې لرې کړی وو.داشان حلال به نې حرام ، حق به نې باطل کول. رشوتونه به نې اخستل اودغلطو مسائلو وئیلو عادت په کښې وو.خو کله کله چه به ورته درشوت اخستلو امکان نه وو،دریاست د تللو ویره به ورته نه وه ، دمریدانو نه به جدا شو نو حق خبره نې هم کوله. مسلمانانو سره به ملاویدل نو وئیل به نې ستاسو نبی ربښتونې دی،دا په حقه پیغمبر دی(۲) خو بیا چه به خپلو کښې کیناستل نو وئیل به نې چه ولې عربو ته داخبرې کوئی بیا خو به دوی په تاسو باندې غالب شی اودالله ﷻ په نیز به هم تاسو لره لاجوابه کړی. نوددې په جواب کښې الله ﷻ اوفرمائیل چه آیا دې بې وقوفوته دومره علم نشته دې چه مونږ ته پټ او ښکاره هر څه معلوم دی.

د یهودیانو منافقت:- یوروایت کښې دی چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه په مدینه کښې زمونږ سره دایمان والو نه سوا بل څوک نه وو. نودې کافرو او یهودو اووئیل ورشئ او وائې چه مونږ هم ایمان راوړو او دلته راغلل نو بیا هم هغه شان زوړ حالت کښې پاتې شو چه څنګه وو. نودا خلق به سحر راغلل او دایمان دعوی به نې کوله او مابنام چه به کافرو ته ورغلل نو هغوی سره به شامل شو. په قران پاک کښې دی چه ﴿ وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ الخ ﴾ (د اهل کتابو یو ډلې اووئیل چه په ایمان والو باندې څه نازل شوی دی نو په هغې باندې دورځې په یو حصه کښې ایمان راوړئ بیا په (دویمه حصه) کښې کافر شئ چه پخپله ایمان والا هم دخپل دین نه واوړی) دې خلقو په دهوکه ددې ځائې رازونه معلومول او دائې خپلې ډلې ته بیانول غوښتل او مسلمانان ئې هم ګمراه کول غوښتل. خو د هغوی دا چالاکی اونه چلیده. او الله ﷻ دا راز ښکاره کړو. کله چه به په دې ځائې کښې وو نو خپل ایمان او اسلام به نې ظاهرولو نو صحابه کرامو ﷺ به ددوی نه تپوس کولو چه آیا ستاسو په کتاب

---

(۱) الطبری: ۱/۲٤٥)-

(۲) الطبری: ۱/۲٤٥)-

Scanned with CamSc

کښې دنبی کریم ﷺ بشارت وغیره نشته دې؟نو هغوی به اقرارکولو. کله چه به خپلو مشرانو ته ورغلل نو هغوی به دوی رټل او وئیل به نې چه تاسو خپلې خبرې ولې هغوی ته کوئی او وسله هغوی له په لاس کښې ورکوئی.(۱)

قوله تعالی:- أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ

د یهودیانو پټې خبرې نبی کریم ته معلومیدل:- مجاهد رحمه الله فرمائی چه نبی کریم ﷺ د قریظه په ورځ دیهودیانو په قلعه کښې اودریدلو او وې فرمائیل چه اې د شادوګانو او خنزیرانو او دطاغوت د عبادت کوونکو رونړو(۲) نو دوی په خپلوکښې اووئیل چه زمونږ دکور داخبره دوی ته چا اوکړه؟ خبردارخپلې خبرې دوی ته مه کوئی. ځنی هغه به دالله ﷻ په مخکښې حجت جوړشی.اوس الله ﷻ اوفرمائیل اګر چه تاسو پټوئی لیکن زما نه هیڅ یو څیز نشی پټیدلې ، تاسو دا پټ په پټه ولې خپلې دلې ته وائې چه خپلې خبرې هغوی ته مه رسوئی او دا چه تاسو دخپل کتاب خبرې پټوئی. نو ستاسو ددې خراب کار نه څه ښه خبر یم اودا تاسو چه خپل ایمان ښکاره کوئی نوستاسو ددې اعلام حقیقت هم ماته پته ده.

وَمِنْهُمْ	أُمِّيُّونَ	لَا يَعْلَمُونَ					
اوځینی ددوئ نه	امیان دی	چې نه پوهیږی					
اوپه دوئ کښې ځینې خلق امیان دی چې بیخی							
الْكِتَابَ	إِلَّا	أَمَانِيَّ	وَإِنْ هُمْ	إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٧٨﴾	فَوَيْلٌ		
په کتاب	مګر	صرف آرزوګانو دی	اونۀ دی دوئ	مګر ګمانونه چلوی	نو هلاکت دې		
په کتاب (چه توراة دې) نه پوهیږی	تش د زړه ارمانونه اوخپل ګمانونه کوی	نوافسوس دې					
لِّلَّذِينَ	يَكْتُبُونَ	الْكِتَابَ	بِأَيْدِيهِمْ	ثُمَّ يَقُولُونَ	هَٰذَا	مِنْ عِنْدِ اللَّهِ	
دپاره دهغه کسانو	چې لیکی	کتاب	په لاسونو خپلو	بیا	وائی	چې دا	دطرفه دالله نه دې
دهغه چاپه حال چې اول پخپلو لاسونوبو کتاب اولیکی	بیا وائی چې داکتاب دالله دطرفنه دې						
لِيَشْتَرُوا	بِهِ	ثَمَنًا	قَلِيلًا	فَوَيْلٌ لَّهُمْ	مِّمَّا	كَتَبَتْ	
دپاره ددې چې واخلی	په هغې	قیمت	لږ	انو تباهی ده دپاره دهغوئ	په سبب دهغې	چې لیکلی دی	
چې ددې (دهوکې) په ذریعه (د دنیا) لږ مال واخلی	نو ددوی په دې لیکلو باندې افسوس دې						
أَيْدِيهِمْ	وَوَيْلٌ	لَّهُمْ	مِّمَّا	يَكْسِبُونَ ﴿٧٩﴾			
لاسونو دهغوئ	اوتباهی ده	دپاره دهغوئ	په سبب دهغې	چې کتی ئې هغوئ			
او ددوئ په دې کار کسب بیا افسوس دې (چه دکتاب ناشکره دی اوبل ئې دا ظلم اوګورئ چه)							

قوله تعالی:- وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ

دامی دلفظ وضاحت :- دامی معنی ده چه هغه سړې چه په ښه شان لیکل نشی کولې ددې جمع (أُمِّيُّونَ) ده.دنبی کریم ﷺ په صفتونو کښې یو صفت دامی هم راغلې دې ځکه چه نبی کریم ﷺ هم لیک لوست

---

۱) الطبری: ۱۳۵۲)-

۲) الطبری: ۱۳٤۸ .

Scanned with CamSc

والا نه وو. قران پاك كښې فرمائى چه ﴿ وَمَاكُنْتَ تَتْلُوْامِنْ قَبْلِهٖ مِنْ كِتٰبٍ الخ﴾ (اې نبى ﷺ تا ددې نه مخكښې نه لوست كولې شو او نه ليكل،كه داسې وې نو دې باطل پرستو ته به دشك كولو ګنجائش باقى پاتې وې)نبى كريم ﷺ فرمائى چه مونږ امى او ان پڑهه خلق يو ، نه ليكل كولې شو او نه وئيل ،نه حساب كولې شو ، مياشت كله دومره وى اوكله دومره . په رومبى خل خو نبى كريم ﷺ دخپلودواړولاسونو ټولې ګوتې دري خل لاندې طرفته مائلې كړې يعنى ديرش ورځې او دوباره بيا ئې هم داسې اوكړل. خو په دريم خل ئې د كتې ګوتې نه حلقه جوړه كړه يعنى يو كم ديرش ورځې (۱) مطلب دا دې چه ځمونږ عبادتونه دهغوى دوختونو حساب باندې موقوف نه دى. قران پاك په بل ځائې كښې فرمائى چه الله ﷻ په نالوستونكو خلقو كښې يورسول اوليږلو چه هم ددوى نه دې. ابن جرير رحمه الله فرمائى چه په دې لفظ كښې ان پڑهه سړې مور طرفته منسوب كړې شوې دې. حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه يو روايت دې چه په دې ځائې كښې امى هغه چاته اووئيلې شو چه هغوى نه دى يو رسول تصديق اوكړو اونه ئې چرته يو كتاب اومنلو اوخپل ليكلې شوى كتابونه ئې دكتاب الله ﷻ پشان په خلقو منل غوښتل.خو اول دا قول عربو د محاورو نه خلاف دې ، دويم دا چه ددې قول سند صحيح نه دې.

قوله تعالى:- اِلَّآ اَمَانِيَّ

دامانى تشريح:-د "اَمَانِيَّ" معنى خبرې او اقوال .حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې چه كذب خواهشات او د دروغو پورې كولو معنى هم كړې شوې ده، دتلاوت او د ظاهرى الفاظو معنى هم روايت شوې ده. لكه په قران پاك كښې په بل ځائې كښې دى چه ﴿ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى اَلْقَى الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ﴾ په دې ځائې كښې دتلاوت معنى صفا ده. دشاعرانو په شعرونو كښې هم دا لفظ دتلاوت په معنى كښې دې. او هغه صرف په ګمان باندې ده. يعنى حقيقت لره نه پيژنى او ناحق ګمان كوى او فضول خبرې كوى. بيا ديهودو ديوبل قسم په دې ځائې كښې بيان كيږى چه ښه ليك لوست والا خلق وو. او په الله ﷻ پورې به ئې دروغ پورې كول (نعوذبالله) او دمريدانو مال به ئې خوړلو.

قوله تعالى:-فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ

دويل څه معنى ده :-د ﴿وَيْلٌ﴾ معنى هلاكت او بربادى ده او دجهنم د يوكندې نوم هم دې. چه دهغې اوورتيز دې ، كه په هغې كښې غرونه هم واچولې شى نو ويلې به شى ، ابن ابى حاتم كښې يو حديث دې چه نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه دجهنم ديو وادى نوم ﴿وَيْلٌ﴾ دې چه په هغې كښې به كافران اچولې شى،ددې ژوروالئى دومره دې چه متواتر ځلويښت كاله په لاندې تګ اوشى نو ويخ ته به ئې اورسى. (۲)خو دسند اعتبار سره دا حديث غريب هم دې ، منكر او ضعيف هم. يو بل غريب حديث كښې دى چه دجهنم د غر نوم ﴿ وَيْلٌ﴾ دې .يهوديانو د تورات تحريف اوكړو اوپه دې كښې ئې كمې اوكړو. د نبى كريم ﷺ نوم مبارک ئې تري اوويستلو ، نو په دې وجه دالله ﷻ غضب په هغوى باندې نازل شو، تورات پورته كړې شو او الله ﷻ اوفرمائيل چه ددوى دلاسونو ليكلو او ددوى ګټې لره هلاكت دې(۳)د ﴿وَيْلٌ﴾ معنى سخت عذاب،ډير بد ، هلاكت،افسوس ، درد ، غم ، او ملامتيا وغيره هم رازى﴿ وَيْلٌ،ويح ، ويش ،ويه،ويك،ويب ﴾ دټولو يو معنى ده. اګر چه بعضو ددې الفاظو بيله بيله معنى كړيده. لفظ د ويل نكره دې . او نكره مبتدا نشى جوړيدلې چونكه دا په معنى كښې د بددعا ده ، ځكه دا مبتدا جوړه كړې شوه. بعضې خلقو ددې معنى نصب كښې كول هم جائز ليكلې ده. ليكن د ويل قرات نشته . په دې

---

(۱) صحيح بخارى : كتاب الصوم باب قول النبى ﷺ لانكتب ولا نحسب: ۱۹۱۳صحيح مسلم: ۱۰۸۰، ابوداود: ۲۳۱۹، نسائى : ۲۱۴۲)-

(۲) ترمذى: كتاب التفسير القران با ب ومن سورة الانبياء: ۳۱۶۴،)-

(۳) الطبرى: ۱۳۸۹،)-

خانې کښې د یهودو دعالمانو غندنه کیږی چه هغوی به خپلو خبرو ته دالله ﷻ کلام وئیلو، او خپله ډله به ئې خوشحالوله او دنیابه ئې گټله. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه تاسو داهل کتابو هم تپوس کوئ ؟ دالله ﷻ تازه لیکل ستاسو په وراندې دې ستاسو لاسونو کښې دې. اهل کتاب خوپه کلام الله ﷻ کښې تحریف اوکړو، دخپل لاس لیکلو ئې الله ﷻ طرفته منسوب کړل او خواره ئې کړل ، نوبیا تاسوته ددې څه ضرورت وو چه تاسو خپل محفوظ کتاب پریښودو ؟ اود هغوئ د تحریف شده کتاب ضرورت نه وو. افسوس چه هغوی ستاسو نه تپوس کوی او تاسو هغوئ نه معلومات نه کوئ. (۱)

قوله تعالی:- لِيَشْتَرُوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا

لږ قیمت څه وو:- دلږ قیمت نه مراد چه ددنیا ټول مال ملاؤ شی خو بیا هم دآخرت په مقابله کښې ددې هیڅ قدر وقیمت نشته دې. خو د جنت په مقابله کښې دا ډیر زیات حقیر څیز دې. بیانې اوفرمائیل چه دهغوئ ددې فعل په وجه چه هغوی خپلو خبرو لره دالله ﷻ د خبرو پشان په خلقومنی او په دې باندې دنیا گټی. او دا هلاکت او بربادی ده.

وَقَالُوْا	لَنْ تَمَسَّنَا	النَّارُ	اِلَّآ اَيَّامًا	مَّعْدُوْدَةً ؕ	قُلْ	اَتَّخَذْتُمْ
اووائی هغوئ	هرگز به ونۀ رسیږی مونږ ته	وور	امگرڅوورځې	شمارلې شوی	ورته اوویه	آیا تاسو اخستې ده
وائی چې مونږ ته د شمیر د څو ورځې نه سوا ددوزخ اور نه رارسی	ورته اووایه آیا تاسو په دې باره کښې د					
عِنْدَ اللّٰهِ	عَهْدًا	فَلَنْ يُّخْلِفَ اللّٰهُ	عَهْدَهٗٓ	اَمْ تَقُوْلُوْنَ	عَلَى اللّٰهِ	مَا
دالله نه	څه وعده	چې نشی کولې خلاف الله	دوعدې خپلې	یا وایئ تاسو	په الله باندې	هغه
الله تعالی نه څه لوظ اخستې دې	چې هغه به کنی دخپل لوظ خلاف نه کوی	اوکنه تاسودخانې په الله باندې				
لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۰﴾						
چې نۀ ده معلومه تاسو ته						
هیڅ بې هیڅه دروغ جوړوئی						

قوله تعالی:- وَقَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ؕ

دجهنم عذاب څوورځې دې :- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه یهودیانو به وئیل چه ددنیا ټوله موده اووه زره کاله ده . دهرو زرو کالو بدله کښې به مونږ ته یو ورځ سزا راکولې شی نودا به صرف اووه ورځې په جهنم کښې اوسیدل وی. ددې قول تردید کښې دا آیت نازل شو.بعضې خلق وائی چه دې خلقو به دا منل چه مونږ به څلویشت ورځې په اوور کښې یو. ځکه دا خلق په دې دهوکه شوی وو چه دوی به وئیل چه په تورات کښې دی چه دجهنم دواړو طرفونو ته د زقوم ونو پورې دځلویښتو کالو لاره ده، نوهغوی به وئیل چه ددې مودې نه پس به عذاب لرې شی. په یو روایت کښې دی چه نبی کریم ﷺ لره راغلل او وې وئیل چه مونږ به څلویښت ورځې په جهنم کښې یو ، بیا به زمونږ په ځانې نور خلق راشی یعنی د نبی کریم ﷺ امت ، نبی کریم ﷺ د هغوی په سرونو لاس کیخودلو او وې فرمائیل نه ، بلکه تاسو به همیشه همیشه په جهنم کښې پراته یئ ، په دې باندې دا آیت نازل شو.

د یهودیانو نه څو تپوسونه کول:- حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه دفتح خیبر نه پس د نبی کریم ﷺ په وراندې د هدئې په طور د چیلئ پخه غوښه پیش کړې شوه او په دې کښې زهر گډ شوی وو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ددې خانې یهود جمع کړئی ، بیانې دهغوی نه تپوس اوکړو ، ستاسو پلار څوک دې ؟

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب الشهادات باب لا یسئل اهل الشرک عن الشهادة: ۲۶۷۵)۔

هغوی اووئیل چه فلاني.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسو دروغ وائي،ستاسو پلا رخو فلاني دي. هغوی اووئیل چه تاسو صحیح اوفرمائیل هم هغه زمونږ پلار دي. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ګورئی اوس څه څه بله پوښتنه کوم. تاسو به ربښتیا ربښتیا وائي. هغوی اووئیل چه انی ابو القاسم ﷺ که مونږ دروغ اووایونو ستا په وړاندي هغه نه چلیږی مونږ په دي آزمښیت اوکړو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اووائي کوم خلق جهنمیان دی؟ هغوی اووئیل چه څو ورځي خو مونږ یو، بیا ستاسو امت. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل لري شئ بالکل نه، بیائي اوفرمائیل چه اووائي تاسو په دي غوښه کښي زهر ګډ کړی دی که نه . هغوی اووئیل چه آو .نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ولي ؟ وي وئیل که تاسو ربښتونی یئ نو دا زهر تاسوته نقصان نشی درسولي. اوکه تاسو په دروغه یئ نو مونږ به ستاسونه نجات حاصل کړو. (مسند احمد ، بخاری ، نسائی). (۱)

بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓـَٔتُهٗ
| ولي نه | چاچي | وکړه | بدی | اوچاپیره شوه | دهغهٔ نه | ګناه دهغه
| بلکه خبره داده چي څوک ګناه اوکړی | اوخپل ګناهونه ترینه راچاپیره شی
فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۸۱﴾ وَالَّذِيْنَ
نو هغوئ | خاوندان | دووردی | هغوئ به اپه هغي کښي | همیشه وی | اوهغه کسان |
نوهم دغه کسان دوزخیان دی | او تر تله به په اور کښي پراته وی | اوکومو کسانو چه ایمان راوړي دي
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ
چي ایمان ئي راوړو | او وي کړو عمل | نیك | هغوئ | خاوندان دی | دجنت | هغوئ به
او(دایمان راوړلو نه پس صرف په ایمان بسوالي نه کوی بلکه) نیک کارونه کوی | نوهغوئ جنتیان دی
فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع
په هغي کښي | همیشه وی | |
تول عمر به جنت کښي عیش وعشرت کوی |

قوله تعالی:-بَلٰى مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَّاَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْٓـَٔتُهٗ فَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

په ګناهونو کښي راکیږ خلق:- مطلب دادي چه دچا عملونه سراسر بد دی، چه کوم دنیکو نه خالی لاس دی، هغه جهنمیان دی.او چه کوم سړي په الله ﷻ او دهغه په رسول ﷺ باندي ایمان راوړی او دسنتو مطابق عمل کوی هغه جنتی دي لکه بل خائي کښي فرمائی چه﴿ لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ۭ الخ﴾ (نه خوستاسو منصوبي چلیدي شی اونه د اهل کتابو، هره بدئ کولو والا به دخپلي بدنی سزا بیا مومی او هري نیکئ کولو والا به د خپلي نیکئ، دبدو به هیڅوك مددګار نه وی اود نیك به هیڅ یو عمل نه بربادیږی نه دسړ ی او نه دښخي).

د بدئ نه مراد:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه په دي ځائي کښي چه دبدئي نه مطلب کفر دي . او په پوروایت کښي دی چه ددي نه مراد شرك دي(۲)ابو وائل رحمه الله ، ابوالعالیه رحمه الله ، مجاهد رحمه الله ، حسن رحمه الله ، قتاده رحمه الله ، ربیع بن انس رحمه الله وغیره نه هم دا روایت شوی دی. سدی رحمه الله فرمائی چه ددي نه

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب الجزیة باب اذا غدر المشرکون بالمسلمین: ۳۱۶۹)-

(۲) ابن ابی حاتم : ۱ /۲۵۲)-

Scanned with CamSc

مراد کبیره ګناهونه دی چه داپرله پسې وی نوددې سره زړه ګنده کیږی(۱) حضرت ابو هریره ﷺ وغیره فرمانی چه مرادتري شرك دې چه د چا په زړه باندې قابض شی. د ربیع بن خثیم ﷺ قول دې چه څوك په ګناهونوباندې مړ شی او توبه ورته نصیب نه شی.په مسند احمد کښې یو حدیث دې چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه ګناهونه سپك مه ګڼئی،دا جمع کیږی اودانسان د هلاکت سبب جوړیږی . ګورئی نه چه د ډیرو همساګانونه یو ګیډې جوړیږی بیا که په دې کښې اوور اولګولې شی نو ډیر غټ غټ څیزونه لره ایره کوی ،(۲)

قوله تعالی:- وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ

د ایمان دارو د نیکو عملونوبدله:- بیا دایمان والو حال بیانوی فرمائی چه څوك ستاسو پشان عمل نه کوی بلکه ستاسو دکفر په مقابله کښې دهغوی ایمان دې اوستاسو دبدعملونو په مقابله کښې دهغوی پاك عملونه دی،دوی ته به ابدی راحتونه او همیشه جنتونه ملاویږی، دالله ﷻ عذاب اوثواب دواړه پائیدار دی.

وَاِذْ	اَخَذْنَا	مِيْثَاقَ	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ			
اویاد کړئ کله چې	واغسته مونږ	پخه وعده	داولاد داسراءیل نه			
او(یاد کړئ کله) چې مونږبنی اسرائیلونه پوخ لوظ واخستل						
لَا تَعْبُدُوْنَ	اِلَّا اللّٰهَ ۖ	وَبِالْوَالِدَيْنِ	اِحْسَانًا	وَّذِي الْقُرْبٰى	وَالْيَتٰمٰى	
چې مه کوئ عبادت	مګر دالله	اودموراوپلارسره	کوئ احسان	اوخپلوانو سره	اویتیمانو سره	
چې بغیر دالله پاك نه به دبل چا عبادت نه کوئی		اومورلارسره به نیکی کوئی		اوخپلوخپلوانویتیمانو		
وَالْمَسٰكِيْنِ	وَقُوْلُوْا	لِلنَّاسِ	حُسْنًا	وَّاَقِيْمُوا	الصَّلٰوةَ	وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ؕ
اودمسکینانو سره	اوکوئ	خلقو سره	ښې خبری	اوقائیموئ	مونځ	اوورکوئ زکاة
مسکینانوسره به هم نیکی کوئی		اوخلقوسره به په خوږه خوله خبره کوئی		اومونځونه به کوئی		اوزکاة به ورکوئی
ثُمَّ	تَوَلَّيْتُمْ	اِلَّا قَلِيْلًا	مِّنْكُمْ	وَاَنْتُمْ	مُّعْرِضُوْنَ ۝	
خو بیا	اواپس شوئ	تاسو	بغیرد لږو	کسانو	ستاسو نه	
اوحال داچې تاسو	مخ اړونکی یئ					
نوبیا لږکسانو نه بغیرتاسولوظ نامې ته شاکړه		اوتاسوهمیشه (دالله دحکمونونه)		مخ ګرزولې دې		

قوله تعالی:-وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ لَا تَعْبُدُوْنَ اِلَّا اللّٰهَ

صرف الله ﷻ دعبادت لائق دې :- بنی اسرائیلو ته چه کوم احکام ورکړې شوی وو اودهغوی نه چه په کومو څیزونوباندې وعده اخستلې شوې وه ، دهغې بیان کیږی. او دهغوی د وعده خلافئ ذکر کیږی هغوی ته حکم ورکړې شوی وو چه هغوی دې توحید اومنی اودالله ﷻ نه سوا دې د نورو عبادت نه کوی. نه صرف بنی اسرائیلو ته بلکه ټول مخلوق ته هم دا حکم شوې دې فرمان دې چه ﴿ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ۝﴾ او مونږ چې ستا نه وړاندې کوم پیغمبر هم لیږلې وو نو هغه ته مو وحی کړې وه چې دعبادت لائق زما نه سوا نور څوك نشته دې ، ټول خلق دې هم زما عبادت کوی.

---

(۱) ابن ابی حاتم : ۱ /۲۵۳)-

(۲) احمد: ۱/ ۴۰۲ ، ،

او فرمانی چه ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ﴾ یعنی مونږ هر امت ته رسول اولیږلو چه هم دالله ﷻ عبادت کوئی او دهغه نه سوا د نورومعبودانو باطلو نه بچ شئ.دټولو نه زیات حق دالله ﷻ دی اودهغه په ټولو حقونو کښې لوئی حق دادی چه دهغه عبادت اوکړې شی او دبل هیڅا عبادت دې اونکړېشی ، بیا د حقوق الله نه پس د حقوق العباد ذکر کیږی.

قوله تعالی:- وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا

مور پلارسره ښه سلوک:- دبندګانو په حقونو کښې دمور پلار حق چونکه زیات دې نوددې وجې مخکښې دا بیانوی.او ارشاد فرمائی چه﴿ اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ اِلَيَّ الْمَصِيْرُ﴾ (زما شکرادا کړئی او دخپل مورپلارهم احسان اومنئ) اوبل ځائې کښې فرمانی چه ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ الخ﴾(ستاسودرب فیصله داده چه دهغه نه سوا دنورو عبادت مه کوئی او دمور پلار سره احسان کوئی) . په بخاری او مسلم شریف کښې دی چه حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ تپوس اوکړو یارسول الله ﷺ کوم یو عمل دټولو نه افضل دې ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل مونځ په وخت باندې ادا کول. بیا تپوس کوی چه ددې نه پس . نبی کریم ﷺ فرمائی چه مور پلار سره ښه سلوک اواحسان کول. بیا تپوس کوی چه ددې نه پس کوم یو دې ؟ فرمائی چه دالله ﷻ په لار کښې جهاد کول . (۱) په یوصحیح حدیث کښې دی چه چاتپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ څه دچا سره ښه سلوک اوکړم او ښیګړه اوکړم ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دخپلې مور سره. بیا تپوس کوی دچا سره ؟ نبی کریم ﷺ فرمائی چه دخپلې مور سره. بیا تپوس کوی دچا سره ؟ نبی کریم ﷺ فرمائی چه دخپل پلار سره ، بیا نزدې (رشته دار) سره او بیا نزدې (رشته دار) سره. (۲)

په آیت کښې ﴿لَا تَعْبُدُوْنَ﴾فرمانی څکه چه په دې کښې په نسبت د ﴿لَا تَعْبُدُوْا﴾زیاته مبالغه ده .داخبر دې په معنی دطلب دې.بعضې خلقو دا﴿ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓ ﴾ هم وئیلې دې.ابی او ابن مسعود ﷺ نه داروایت دې هغوی به﴿ لَا تَعْبُدُوْا﴾ وئیل .

قوله تعالی:-وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ

یتیم چاته وائی؟:-یتیمان هغه وړو بچو ته وائی چه دهغوی سرپرست پلار نه وی. مسکین هغه خلقو ته وئیلې شی چه هغه دخپل اود خپلو بچو پرورش او نور ضروریات پوره نشی ادا کولې. ددې نوره تشریح به انشاء الله په سورت نساء کښې هم ددې پشان آیت کښې راشی.

قوله تعالی:- وَقُوْلُوْا لِلنَّاسِ حُسْنًا

د ښه سلوک حکم:-بیا فرمائی چه خلقو ته ښه خبرې کوئی یعنی دهغوی سره نرمې خبرې او په فراخه تندی سره ملاویږئی.دښو خبرو حکم کوئی،د بدئی نه منع کوئی. حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه دنیکئ حکم کوئی،د بدئی نه منع کوئی ، برداشت کوئی ، بردباری درګزر اوخطاګانې معاف کول خپله لار جوړه کړئی. هم دا ښه اخلاق دی اودا اختیارول پکار دی.حضرت رسول الله ﷺ فرمائی چه ښه څیز لره حقیر مه ګڼئی که ستاسو نه نور څه نشی کیدې نو خپل رور سره په رونړتندی ملاقات کوئی (مسند احمد) (۳)قران پاک کښې دالله ﷻ دعبادت حکم دې ، بیا خلقو سره دښیګړې کولو، بیا ښه خبرې کول ،بیا د څه نورو اهمو څیزونو حکم هم راغلې دې چه مونځ کوئی اوزکوة ورکوئی.

بیاخبر ورکوی چه دې خلقو وعده خلافی اوکړه او عام طور سره نافرمان جوړ شو خو لږ خلق په خپله وعده باندې قائم پاتې شو، دې امت ته هم دا حکم ورکړې شوې دې . فرمائی چه ﴿وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا الخ ﴾(دالله ﷻ عبادت کوئی اودهغه ذات سره شریک مه جوړوئی،مورپلار سره ،

---

۱) صحیح بخاری : کتاب الادب باب البر والصلة: ۵۹۷۰،صحیح مسلم:۲۵۲، ترمذی: ۱۸۹۸، نسائی: ۲۱۱)-

۲) صحیح بخاری : کتاب الادب من احق الناس بحسن الصحبة :۱۷۳)-

۳) احمد: ۲۱۰۰۸، صحیح مسلم:کاب البروالصلة، باب استحباب طلاقة الوجه عندالقاء :۲۶۲۶، ترمذی: ۱۸۳۳)-

Scanned with CamScanner

رشته دارو سره، یتیمانو سره اومسکینانو سره او نزدې ګوانډیانو سره، اجنبی ګوانډیانوسره، دپیژندګلو سره، مسافرو سره، وینځو او غلامانو سره ښه سلوك او احسان کوئی، یاد ساتئی تکبر او فخر کوونکی الله ﷻ ته خوښ نه دی. الحمدلله دا امت په نسبت دنوروامتونو ددې احکامو په منلو کښې او په دې باندې عمل کولو کښې زیات مضبوط ثابت شو. اسدبن وداعه رضی الله عنه نه روایت دی چه هغه به یهودیانو او نصرانیانوته سلام کولو او دلیل به ئې ورکولو چه دالله ﷻ فرمان دی چه ﴿وَقُولُوا لِلنَّاسِ﴾ لیکن دااثر غریب دی. او دحدیث خلاف دی، په حدیث کښې صفا موجود دی چه یهودیانو او نصرانیانو سره شروع په السلام علیکم باندې مه کوئی. والله اعلم. (۱)

وَاِذْ	اَخَذْنَا	مِيْثَاقَكُمْ	لَا تَسْفِكُوْنَ	دِمَآءَكُمْ
اویادکړئ کله چې	واغسته مونږ	محکمه وعده ستاسو نه	چې مه تویوئ	وینې خپلې
او(یادکړئی) هغه وخت چې مونږستاسومشرانونه پوخ لوظ اخستې ووچې خپلې وینې مه تویوئی				
وَلَا تُخْرِجُوْنَ	اَنْفُسَكُمْ	مِّنْ دِيَارِكُمْ	ثُمَّ اَقْرَرْتُمْ	وَاَنْتُمْ
اومه اوباسئ	خانونه خپل	د کورونو خپلو نه	بیا اقرار وکړو تاسو	اوتاسو
خپل خپلوان دکورکلی نه مه شړئی نو(هغه وخت)تاسوپه دې لوظ کلک اقرار اوکړو اوپه دې خبره				
تَشْهَدُوْنَ ۝	ثُمَّ اَنْتُمْ	هٰٓؤُلَآءِ	تَقْتُلُوْنَ	اَنْفُسَكُمْ	وَتُخْرِجُوْنَ
ګواهان یئ	بیا هم تاسو	هغه کسان یئ	چې وژنئ	خانونه خپل	اواوباسئ تاسو
(اوس هم)ګوایان یئ بیاهم دغه تاسویئ چې خپل خپلوان بې دریغه وژنئ او اوباسئ					
فَرِيْقًا	مِّنْكُمْ	مِّنْ دِيَارِهِمْ	تَظٰهَرُوْنَ	عَلَيْهِمْ	بِالْاِثْمِ
څه خلق	د رورالي خپلې	دکورونودهغوئ نه	مرسته کوئ یو بل سره	دهغوئ خلاف	په ګناه
ځینې (کمزوری) خلق دکورونونه شړې یئ اودهغوئ خلاف (دهغوی دشمنانوسره) په ګناه					
وَالْعُدْوَانِ ؕ	وَاِنْ	يَّاْتُوْكُمْ	اُسٰرٰى	تُفٰدُوْهُمْ	
اوپه زیاتئ سره	اوکه	چرې	راشی هغوئ تاسو ته	اپه حیثیت دقیدیانو	نوپه فدیه ورکولوسره تاسو آزادوئ هغوئ
اوزیاتی کولو کښې مدد کوی او(عجیبه خبره داده) چې دغه خلق قیدیان شی اوتاسوته دمدد دپاره راشی					
وَهُوَ مُحَرَّمٌ	عَلَيْكُمْ	اِخْرَاجُهُمْ ؕ	اَفَتُؤْمِنُوْنَ	بِبَعْضِ	
حالانکه حرام کړې شوی وو	په تاسو باندې	اویستل دهغوئ	آیا تاسو ایمان راوړئ	په یوه حصه	
نوتاسودهغوئ دخلاصولودپاره فدیه ورکوئی حال دا چه د دوی (دکورونونه) ویستل ناروا وو نو آیا تاسو					
الْكِتٰبِ	وَتَكْفُرُوْنَ	بِبَعْضٍ ۚ	فَمَا	جَزَآءُ	مَنْ يَّفْعَلُ	ذٰلِكَ
د کتاب	اوکفر کوئ	اپه بله حصه	نو څه ده	بدله	دهغه چا	چې کوی داسې کار
ایمان لرئی په بعضې حصه د کتاب اود بعضې نه انکارکوئی نوپه تاسو کښې څوک چې داسې کارونه کوی						

(۱) صحیح بخاری: کتاب السلام باب النهی عن ابتداء اهل الکتاب بالسلام: ۲۱۶۷)-

Scanned with CamScanner

مِنْكُمْ إِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ
ستاسو نه ا ماسوا ا درسوایئ ا نه په ژوند د دنیا کښې ا اوپه ورځ ا د قیامت ا به واپس کړې شی
هغوئ لره فقط دومره سزا بس ده چې په دنیا کښې به د رسوائی ژوند تیروی او د قیامت په ورځ به
إِلَىٰ أَشَدِّ الْعَذَابِ ۗ وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
سخت عذاب ته ا اونه دې الله ا ناخبره ا د هغه کارونو نه ا چې تاسو نې کوئ ا داهغه خلق دی
ډیر سخت عذاب کښې واچولی شی او الله پاک د ستاسو کارونو نه بې خبره نه دې د اهغه کسان دی چې
اشْتَرَوُا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ
چې اغستې نې دي ا ژوند د دنیا ا په مقابله د آخرت ا نو سپک به نه کړې شی ا د دوئ نه ا عذاب ا اونه به د دوئ سره
د آخرت په بدل کښې نې د دنیا ژوند غوره کړې دي نو د دوی نه به نه خو عذاب سپکولې شی اونه به نې
ينصرون ۝ ع
امداد اوکړې شی ا
هیڅ مدد اوکړې شی

د یهودیانو خپل مینځ کښې جګړې کول :- اوس او خزرج د مدینې د انصارو دوه قبیلې وې. د اسلام نه مخکښې د دې قبیلو په خپلو کښې څه اتفاق نه راتلو. هیشه به نې خپلو کښې جنګونه کول. د مدینې د یهودو درې قبیلې وې. ① بنو قینقاع ② بنو نضیر ③ بنو قریظه. بنو قینقاع او بنو نضیر خو د خزرج طرفدار اوددوی سره نې رورولی وه. اود بنو قریظه رورولی د بنواوس سره وه. کله چه به د خزرج او د اوس جنګ وو نو د یهودو دې دریواړو قبیلو به هم دخپل حلیف ملګرتیا کوله. اودوی سره یو خاني شو اوددوی دښمنانو سره به جنګیدل. د دواړو طرفونو نه به یهود د یهودیانو دلاسه مړه کیدل او موقعې ته به نې کتل اودیوبل کورونه به نې هم ورانول. او د وطن نه به نې بې دخله کول هم. اودهغوی په مال اودولت باندې به نې هم قبضه کوله. کله چه به جنګ ختم شو نو مغلوبې ډلې به څه فدیه ورکړه او خپل قیدیان به نې راخلاصول. او وئیل به نې چه مونږ ته دالله ﷻ حکم دی چه په مونږ ټولو کښې څوک قید شی نومونږ دې فدیه ورکړو او هغه دې راخلاص کړو. په دې موقعه باندې الله ﷻ فرمائی چه ددې څه وجه ده چه تاسو زما دا حکم اومنلو. او ما خو دا هم وئیلی دی چه په خپلو کښې یوبل لره مه قتل کوئ. اودکورونو نه نې هم مه اوباسئ، ولې نه منئ په یو حکم باندې ایمان راوړل او بل حکم نه انکار کول دا دکومه خایه ایماندارۍ ده ؟ په دې آیت کښې اوفرمائیلې شو چه خپلې وینې مه تویوئ او خپل خانونه دکورنو نه مه اوباسئ. دا په دې وجه چه یو مذهب والا دیو خان په شان وی. دا په حدیث کښې هم دی چه ټول ایماندار په دوستئ کښې ، صله رحمئ کښې او رحم وکرم کښې دیو بدن پشان دی. دیو اندام په درد سره ټول جسم لړزیږی، تبه نې اونیسی او دشپې خوب نې خراب شی[1] داشان په یوادنی مسلمان باندې د ټول جهان مسلمانان لړزیدل پکار دی.

دعبدالله بن سلام ؓ یوه واقعه:- عبد خیر ؒ وائی چه مونږ د سلمان بن ربیعه ؓ په نګرانئ کښې په بلخبر کښې جهاد کولو ، دمحاصرې نه پس مونږ دا بنار فتح کړو او په دې کښې ډیر قیدیان ملاؤ شو. حضرت عبدالله بن سلام ؓ په هغوی کښې یو وینځه په اووه سوه واخستله. مونږ چه کله راس الجالوت

[1] صحیح بخاری : کتاب الادب رحمة الناس والبهائم :٦٠١١، صحیح مسلم: ٢٥٨٦)-

Scanned with CamScanner

ته اورسیدو نو عبدالله بن سلام ﷺ هغې لره ورغلو او وې فرمائیل چه دا وینځه خو ستا مذهب والا ده ما دا په اووه سوه اخستې ده ، اوس تاسو دا زما نه واخلئ او آزاده ئې کړئی . هغه اووئیل چه ډیره ښه ده خه دا په څوارلس سوه اخلم . دوی اوفرمائیل چه خه ئې د څلورو زرو نه کمه نه خرڅوم . هغه اووئیل چه خه ئې بیا نه اخلم. دوی اووئیل چه یا خو ته دا واخله ګنی ستا دین به لاړشی. په تورات کښې لیکلی دی چه د بنی اسرائیلو څوك بنده ګرفتار شی نو هغه واخلئ اوآزاد ئې کړئی. اوکه قید شی او تاسو لره راشی نو فدیه ئې ورکړئی اوهغه راخلاص کړئی او دهغوی دخپلو کورونو نه مه بې دخله کوئی.اوس خو ته یا تورات لره اومنه اودا واخله او یا دتورات نه منکر شه. هغه پوهه شو او وې ونیل چه داسې معلومیږی چه ته شائد عبدالله بن سلام ئې؟ دوی اوفرمائیل چه آو. هغه څلور زره راوړې او دوی ترې دوه زره واخستلې او دوه زره ئې واپس کړې.بعضو روایتونو کښې دی چه راس الجالوت په کوفه کښې وو. دوی به دهغه وینځو فدیه نه ورکوله چه عربو نه بچ شوې نه وی. نو په دې باندې عبدالله ﷺ هغوی ته دتورات آیت واورولو. غرض په دې آیت کښې دیهودیانومذمت شوې دې چه هغوی دالله ﷻ احکام پیژنی او بیا هم هغه شاته غورزوی. امانتداری او ایماندای اوچته شوې وه. د نبی کریم ﷺ صفات ، د نبی کریم ﷺ نبنې ، د نبی کریم ﷺ دنبوت تصدیق ، د نبی کریم ﷺ دپیدائش مقام مبارك ، د هجرت ځائې وغیره ټول ځیزونه دهغوی په کتاب کښې موجود وو. خو دوی هغه پټ کړی وو او دومره هم نه بلکه دوی به د نبی کریم ﷺ مخالفت کولو ، هم په دې وجه په هغوی باندې ددنیا رسوائی راغله او په نه کمیدونکی او اُخروی عذاب کښې هم اخته شو.

وَلَقَدْ	اٰتَيْنَا	مُوْسَى	الْكِتٰبَ	وَقَفَّيْنَا
اویقینی خبره ده	چې ورکړې وو مونږ	موسی ته	کتاب	اوپرله پسې لیږلي وومونږ
اوبیشکه مونږ موسی علیه السلام ته کتاب(تورات) ورکړې وو اوهغه پسې				
مِنْۢ بَعْدِهٖ	بِالرُّسُلِ ۡ	وَاٰتَيْنَا	عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ	الْبَيِّنٰتِ
روستودهغه نه	رسولان	اوورکړې وې مونږ	عیسی څوئ دمریم ته	ښکاره نبنې
موپرله پسې نورپیغمبران اولیږل اوعیسی علیه السلام دمریم څوئې ته موښکاره معجزې ورکړې				
وَاَيَّدْنٰهُ	بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ	اَفَكُلَّمَا	جَآءَكُمْ	رَسُوْلٌ
اوامداد کړې وو مونږهغه	په روح پاك سره	آیانو هر کله چې	راغې تاسوته	یو رسول
اوپه روح القدس(جبریل)سره مودهغه مدد کړې ووکله چه راوړی تاسو ته یو پیغمبر				
بِمَا	لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُكُمُ	اسْتَكْبَرْتُمْ ۚ	فَفَرِيْقًا	كَذَّبْتُمْ ۫
دهغه حکمونوسره	اچې نه به خوښول نفسونو ستاسو	انولوئی اوکړه تاسو	انوخه خلق	ادروغ اوګنړل تاسو
داسې حکمونه چې هغه ستاسود خوښې مطابق نه وی نوتاسوبه کبرشروع کړئی چاته به دروغژن وائې				
وَفَرِيْقًا	تَقْتُلُوْنَ ۝			
اوخه خلق	ا و وژل تاسو			
اوڅوک به وژنئی				

بنی اسرائیلو کښې پرله پسې پیغمبران رالیږل:- دبنی اسرائیلو دعناد تکبر او دهغوی د خواهش پرستئ بیان کیږی چه په تورات کښې تحریف او تبدیلی اوکړه.حضرت موسی علیه السلام نه پس هم دده په شریعت

باندې راتلونکې نبیان علیهم السلام راغلل او دهغوی ئې هم مخالفت اوکړو. چنانچه فرمائی چه ﴿إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ﴾ الخ (مونږ تورات نازل کړو چه په دې کښې هدایت وو او نور وو چه په دې باندې به نبیانو علیهم السلام به پخپله هم عمل کولو او یهودیانوته به ئې حکم کولو او دهغوی علماء اودرویشانو به هم ددې د منلو حکم کولو.)غرض دا چه پرله پسې نور نبیان علیهم السلام هم راتلل تر دې پورې چه دا سلسله په حضرت عیسی ﷺ باندې ختمه شوه.حضرت عیسی ﷺته انجیل ملاؤ شو چه په هغې کښې بعضې احکام د تورات خلاف وو ، نو ددې وجې نه هغه ته نوی معجزې هم ملاؤ شوې. لکه دالله ﷻ په حکم سره ژوندی کیدل ، د ښاورې نه مارغان جوړول اوپه دې کښې پوک وهل اودالله ﷻ په حکم سره الوزول ، بیماران دالله ﷻ په حکم سره روغول ، دبعضو غیبو خبرونه بیانول وغیره. بیا ددوی په تائید باندې روح القدس یعنی جبریل ﷺ ئې مقرر کړو.

دبنی اسرائیلو تکبر:- لیکن بنی اسرائیل په خپل تکذیب و تکبر کښې زیات شو او حسدئې کولو. اودې ټولو نبیانو علیهم السلام سره ډیر په بدسلوک پیش شول. څوک به ئې په دروغه ګنړل او څوک به ئې قتل کول ، صرف په دې وجه چه نبیانو علیهم السلام تعلیم به ددوی دطبیعت نه خلاف وو. ددوی د رائې اوددوی دقیاساتو او ددوی دجوړ شوی اصولواو احکامو د قبولیت نه منع کوونکی وو. ددې وجې نه دښمنئ ئې شروع کړه.

د روح القدس نه مراد:- ①حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ، حضرت عبدالله بن عباس ﷺ ، محمد بن کعب ﷺ، اسماعیل بن خالد ﷺ، ربیع بن انس ﷺ، عطیه عوفی ﷺ اوقتاده ﷺ وغیره نه هم دا قول نقل دې چه روح القدس نه مراد حضرت جبریل ﷺ دې لکه قران پاک کښې په بل ځائې کښې دی چه ﴿نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ﴾ الخ (دا روح الامین راوړی دې.

حسان بن ثابت ﷺ سره د روح القدس مدد کول:- صحیح بخاری کښې تعلیقًا روایت دې چه نبی کریم ﷺ د حسان بن ثابت شاعر دپاره په جمات کښې یو منبر کیخودو هغوی به د مشرکانو د هجوې جوابونه ئې ورکول او نبی کریم ﷺ به دده دپاره دعا کوله چه ائې الله ﷻ د حسان مدد په روح القدس سره اوکړې لکه څنګه چه دې ستا دنبی دطرف نه جواب ورکوی.(۱) دصحیح بخاری په یو بل حدیث کښې دی چه حضرت حسان ﷺ یو ځل دعمرفاروق ﷺ په دور کښې په مسجد نبوی کښې څه اشعار وئیل ، حضرت عمر ﷺ ورته په کوږ نظر اوکتل نو هغه (حسان بن ثابت ﷺ) اوفرمائیل چه ما خو په دې ځائې کښې هغه وخت دااشعار وئیل چه ستانه مخکښې په دې ځائې یو بهترین سړې موجود وو. بیا حضرت ابوهریره ﷺ طرف ته ئې اوکتل او وې فرمائیل چه ائې ابوهریره ﷺ ستادې په الله قسم وی آیا تا د نبی کریم ﷺ نه دا آوریدلی دی چه ائې حسان ته دمشرکانو د اشعارو جواب ورکړه ، ائې الله ﷻ ته دحسان تائید په روح القدس سره اوکړه. حضرت ابوهریره ﷺ اوفرمائیل چه په الله ﷻ قسم ما د نبی کریم ﷺ نه دا آوریدلی دی. (۲)

په بعضې روایاتو کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ائې حسان ته ددې مشرکانو هجوه اوکړه حضرت جبریل ﷺ تاسره دې. (۳)د حضرت حسان په شعر کښې هم حضرت جبریل ﷺ ته روح القدس وئیلې شوې دې. یو بل حدیث کښې دی چه کله یهودیانو د حضرت محمد ﷺ نه د روح په حقله تپوس اوکړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ستاسو دې په الله ﷻ قسم وی دالله ﷻ نعمتونه یادکړئی او اووائې چه آیا تاسو ته پخپله دا معلومه نه ده څه چه هغه حضرت جبریل ﷺ دې او هم هغه مالره هم وحی راوړی،

---

۱) ابوداود کتاب الادب باب ماجاء فی الشعر: ۵۰۱۵، وسنده حسن)-

۲) صحیح بخاری : کتاب بدء الخلق ذکر الملائکة صلوات الله علیهم :۳۲۱۲، وانظر: ۴۵۳، صحیح مسلم: ۲۴۸۵)-

۳) صحیح بخاری : کتاب بدء الخلق ذکر الملائکة صلوات الله علیهم :۳۲۱۲، وانظر: ۴۵۳، صحیح مسلم: ۲۴۸۲)-

Scanned with CamScanner

هغوئ تولو اووئیل او بیشکه [۱] (ابن اسحاق)په ابن حبان کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمانی چه حضرت جبریل ﷺ زما په زړه کښې چه اووئیل چه هیڅ یو سړي ددې نه مخکښې نه مری چه هغه خپله روزی او خپل ژوند پوره نه کړی. دالله ﷻ نه اویریږه او ددنیا په ګټلو کښې ددین خیال ساته. [۲] بعضو دروح القدس نه مراد اسم اعظم اخستې دې. بعضو وئیلی دی چه دا دفرښتو یو سرداره فرښته ده.

د روح القدس په تعریف کښې نور اقوال: ① بعضې وائی چه دقدس نه مراد الله ﷻ او د روح نه مراد اسم اعظم دې ② چا وئیلی دی چه قدس یعنی برکت ③ چا وئیلی دی پاك ، چا وئیلی دی دروح نه مراد انجیل دې لکه فرمائی چه ﴿ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا ﴾ (داشان مونږ ستا طرف ته دروح وحی په خپل حکم سره اوکړه). امام ابن جریر رحمه الله هم دا فیصله کوی چه په دې خاڼې کښې د روح نه مراد روح القدس حضرت جبریل ﷺ دې لکه بل خاڼې کښې فرمائی چه ﴿ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ ۖ الخ ﴾ په دې آیت کښې روح القدس دتائید ذکر کوی او ورسره د کتاب او حکمت ،تورات اود انجیل خودلو بیان هم دې. معلوم شو دا بل څیز دې اوهغه بل څیز او د روانی عبارت هم ددې تائید کوی ، دقدس نه مراد مقدس دې لکه فرمائی چه ﴿خاتم جود﴾ او ﴿رجل صدق﴾ کښې. روح القدس وئیلو کښې او ﴿روح منه﴾ وئیلو کښې قربت او بزرګی یو خصوصیت موندې شی. دا په دې وجه هم اووئیلې شو. بعضو مفسرینو ددې نه مراد د حضرت عیسی ﷺ روح اخستې دې. ځکه چه دهغه روح دانسانی شا وغیره نه پاك او بیل وو. بیا فرمائی چه یو ډله تاسو دروغ اوګنړله او یو ډله مو قتل کړه. په دروغ وئیلو کښې د ماضی صیغه ئې راوړه خوپه قتل کښې دمستقبل. ځکه چه دهغه خلقو حالت ددې آیت دنازلیدو نه پس هم هغه شان وو. چنانچه نبی کریم ﷺ په خپل مرض الموت کښې اوفرمانیل ددې زهرو نمړئی (لقمې) اثر چه ما باندې کیدو چه کوم ما په خیبر کښې خوړلی وو او په هغه وخت خوهغوی رګ وهلې وو. [۳]

وَقَالُوا	قُلُوبُنَا	غُلْفٌ ۚ	بَل
او وائی هغوئ	زړونه زمونږ	پرده بنددی	نه ده داسې بلکه
او(یهودیان) وائی چې زمونږ زړونه انغختی دی (داسلام آواز نه ورسی)نه بلکه			
لَّعَنَهُمُ	اللَّهُ	بِكُفْرِهِمْ	فَقَلِيلًا	مَّا	يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾
لعنت کړې دې په هغوئ باندې	الله	په سبب دکفر دهغوئ	نو ډیر لږدی	هغه	چې ایمان راوړی
دوئ دکفرپه وجه الله ﷻ رټلی دی (هم دا وجه ده) نوډیر لږ کسان په کښې ایمان راوړی					

دغلف معنی او مفهوم :- دیهودیانو یو قول دا هم دې چه خمونږ په زړونو باندې غلافونه دی یعنی دا دعلم نه ډک دی، اوس مونږ ته دنوی علم هیڅ ضرورت نشته دې. [۴] ددې وجې جواب ملاوئ شو چه نه داسې نه ده بلکه د الله ﷻ دلعنت مهر پرې لګیدلې دې. دوی ته ایمان نه نصیب کیږی. ﴿غُلْفٌ﴾ ﴿غُلْفٌ﴾ هم وئیلې شوې دې. یعنی دوی دعلم لوښی دی. اوپه بل خاڼې کښې قران پاك کښې فرمانیلی دی چه ﴿وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ الخ﴾ (چه کوم څیز طرفته تاسو مونږ بلئ دهغه څیز نه زمونږه زړونه پردو کښې دی او په دې باندې مهرلګیدلې دې. هغوی په دې باندې نه پوهیږی اونه دې طرف ته مائله کیږی اونه دا یاد ساتی).

---

[۱]) الطبری:۱٤۹۲ ،)-

[۲]) ابن ماجه:۲۱٤٤، وصحیح ابن حبان (الموارد : ۸٤) وهو صحیح)-

[۳]) صحیح بخاری : ٤۲۲۸ تعلیقا)-

[۴]) قرطبی:۲/۲۵)-

Scanned with CamScanner

یوحدیث کښې دی چه بعضې زړه والا وی چه په هغوی باندې دالله ﷻ غضب وی دا زړونه دکفارو وی. په سورت نساء کښې هم یو آیت هم ددې معنې دې ﴿ وَقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ الخ ﴾ دلږ ایمان راوړو یو معنی خوداده چه په دوی کښې ډیر کم خلق ایماندار دی او بله معنی ئې دا هم ده چه ددوی ایمان ډیر کم دې یعنی د قیامت ، ثواب ، عذاب وغیره قائل، په حضرت موسی ﷺ باندې ایمان راوړنکی ، تورات لره کتاب الله منی خو دا پغمبر آخرالزمان نه منی چه خپل ایمان لره پوره کړی ، بلکه د نبی کریم ﷺ په انکار سره خپل هغه لږ ایمان هم تباه کوی. دریمه معنی ئې داده چه دا بالکل بې ایمانه دی ځکه عربیئ ژبه کښې په داسې موقعو باندې بالکل نشت په صورت کښې داسې الفاظ وئیلې کیږی ، لکه ددې پشان مې ډیر کم اوکتل ددې مطلب دادې چه بالکل مې کتلی نه دی ، والله اعلم.

وَلَمَّا	جَآءَهُمْ	كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ	مُصَدِّقٌ	لِّمَا	مَعَهُمْ
اوهرکله چې	راغې دوئ ته	کتاب	دطرفه د الله نه	چې تصدیق کونکې دې	دهغه کتاب
اوهرکله چې دوئ ته دالله ﷻ دطرفنه داسې کتاب راغلوچې ددوی دمذهبی کتابوسره(په اصولو کښې موافق) وو					
وَكَانُوْا	مِنْ قَبْلُ	يَسْتَفْتِحُوْنَ	عَلَى الَّذِيْنَ		
اوحال دا چې وودوی	مخکښې دراتلوددې کتاب نه	چې فتحه به ئې غوښتله	په مقابله دهغه کسانوکښې		
احال دادې چې ددې کتاب نه د راتلونه ورانديې دوئ فتحه غوښتله دهغه کسانو په مقابله کښې					
كَفَرُوْا ۚ	فَلَمَّا	جَآءَهُمْ	مَّا	عَرَفُوْا	كَفَرُوْا
چې کافران وو	اخو کله چې	راغې	دوئ ته	هغه پیغمبر	چې اوپیژندو دوئ
نو انکار ئې اوکړو					
چې کافر وو خوهرکله چې هغه کتاب دوی ته راغلواودوئ په ښه شان اوپیژندو نوانکار ئې اوکړو					
بِهٖ ؕ	فَلَعْنَةُ اللّٰهِ	عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۝			
دمنلو دهغې نه	نو لعنت دالله دې	په دې انکار	کونکو	بدد	
ددې نه نوپه داسې انکار کوونکو باندې دالله لعنت وریږی					

دیهودوانکار د حسد په وجه دې :- کله چه به دیهودیانواو دعربو مشرکانو په مینځ کښې جنګ کیدو نو یهودو به وئیل نزدې ده چه دالله ﷻ یو کتاب سره یو عظیم نبی تشریف راوړلو والا دې. مونږ به هغه سره شو اوستاسو سره به داسې جنګ اوکړو چه ستاسو به هډو نوم پاتې نشی. دالله ﷻ نه به ئې دعا کوله چه انې الله ﷻ ته دا نبی زر راولیږه چه د هغه صفات مونږ په تورات کښې وئیلی دی چه مونږ په هغه باندې ایمان راوړو او هغه سره شو او خپلې متې مضبوطې کړو اوستاد دښمنانو نه بدله واخلو. مشرکانو ته به ئې وئیل چه اوس دهغه نبی زمانه نزدې ده ، لیکن چه کله نبی کریم ﷺ مبعوث شو او تولې نښې دوی اوکتلې او وې پیژندو ، او په زړه سره قائل شو خو چونکه نبی کریم ﷺ دعربونه وو ، ددې وجې نه به ئې حسد کولو او د نبی کریم ﷺ دنبوت انکار به ئې کولو او دالله ﷻ په لعنت کښې راغلل. بلکه دمدینې هغه مشرکان چه ددوی نه به ئې دا آوریدل ، هغوئ ته ایمان نصیب شو او بالاخر نبی کریم ﷺ سره شواو په یهودو باندې غالب شو.(۱)

دمعاذ ﷺ یهودیانو سره خبرې کول:- یو ځل حضرت معاذ بن جبل ﷺ ، حضرت بشر بن جراء ﷺ او حضرت داود بن سلمه ﷺ دمدینې یهودو ته اووئیل چه تاسو به زمونږ دشرک په حالت کښې څمونږ په

---

(۱) صحیح ابن حبان المورد: ۲۱۰۷، وسنده حسن)-

مخکښې د نبی کریم ﷺ دنبوت ذکر کولو بلکه مونږ به موویرولو او چه کوم اوصاف به تاسو بیانول هغه ټول اوصاف په نبی کریم ﷺ کښې موجود دی ،بیا تاسو پخپله ولې ایمان نه راوړئ ؟ د نبی کریم ﷺ سره ملګرتیا ولې نه کوئ. نوسلام بن مشکم جواب ورکړو چه مونږ به دده په باره کښې نه وښیل. (۱)هم ددې ذکر په دې آیت کښې دې چه مخکښې به ټې منل او منتظر وو خو د راتلو نه پس ئې حسد او تکبر اوکړو چه هسې نه زمونږ نه ریاست لاړ نشی .

بِئْسَمَا	اشْتَرَوْا				
| بددې هغه څیز | چې خرچ نې کړل|					
ډیربددې هغه څیزچې دوی پرې خرڅ کړی دی					
بِهٖٓ	اَنْفُسَهُمْ	اَنْ يَّكْفُرُوْا	بِمَآ	اَنْزَلَ اللّٰهُ	بَغْيًا
په هغې سره \څانونه خپل چې\	انکارکوی دوئ	\دهغه کتاب نه\	چې نازل کړوالله\	صرف ددې ضدپه وجه\	
خپل څانونه (هغه دا) چې دالله ﷻ دکتاب نه د بغض په وجه انکارکوی (اومسلمانانوسره حسد ساتی) چې (ولې)					
اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ	مِنْ فَضْلِهٖ	عَلٰى مَنْ	يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ ۚ	فَبَآءُوْ
چې نازلوی \الله \فضل	خپل\	په هغه چا	چې خوښه ئې وی	دبندګانو خپلونه\	نو مستحق شوی دی
الله خپل فضل په هغه چاکوی چې پخپلو بندګانو کښې دهغه خوښ شی(اوپیغمبرمونږکښې ولې نه رالیږی)					
بِغَضَبٍ	عَلٰى غَضَبٍ ؕ	وَلِلْكٰفِرِيْنَ	عَذَابٌ	مُّهِيْنٌ ۝	
دیو غضب \ دپاسه دبل غضب\	اودې دپاره دکافرانو \	عذاب	\سپکونکې\		
ځکه خودوئ په لاندې باندې غضب کښې اخته شو اوکافرو دپاره سپکونکې سزا مقرره					

دیهودیانود تکبر اوحسد سزا :-مطلب دادې چه دې یهودیانو چه د نبی کریم ﷺ دتصدیق په بدله کښې تکذیب اوکړو او په نبی کریم ﷺ ئې دایمان دراوړو په بدله کښې کفر اوکړو او د نبی کریم ﷺ د مدد کولوپه ځائې ئې ددوی مخالفت اوکړو اودښمنی ئې اوکړه او په دې سره ئې خپل ځان د الله ﷻ دغضب اوسزا قابل جوړ کړو. دابدترین څیز دې چه دبهترین څیز په مقابله کښې دې خلقو خپل کړو. او ددې وجه سوا دحسد او بغض او تکبر اوعناد نه نور هیڅ نه ده. چونکه نبی کریم ﷺ ددوی نه نه وو بلکه دعربو نه وو ، په دې وجه ددوی په خپلو کښې درد وو.حالانکه په الله ﷻ باندې څوک حاکم نه وو. هغه د رسالت حقدار ښه پیژندو او هغه خپل فضل او کرم چه کوم بنده ته ورکول غواړی نو ورکوی ئې. نو یو خو د تورات د احکامو نه منلو په وجه په دوی باندې غضب وو او اوس بل د نبی کریم ﷺ نه د انکار په وجه نازل شو. داسې اوګنړئی چه رومبې غضب د حضرت عیسی ﷺ د پغمبرئی نه منلو (۲)او دویم دحضرت محمد ﷺ دپیغمبرئی نه منلو.یا رومبې غضب هغه وو چه دسخی د عبادت په وجه وو او دویم غضب د نبی کریم ﷺ دمخالفت په وجه وو.

چونکه دوی دحسداو بغض په وجه د نبی کریم ﷺ د نبوت نه انکاری شوی وو او ددې حسد اصلی وجه دهغوی تکبر وو ، ځکه هغوی په ذلیله عذابونو کښې اخته کړې شو چه دګناهونو بدله پوره شی. لکه قران پاك کښې فرمان دې چه ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ۝ ﴾ (زما دعبادت نه چه څوك هم تکبر کوی هغه به ذلیل وی او جهنم ته به داخلیږی). نبی کریم ﷺ فرمائی چه دکبر کوونکو

---

(۱) الطبری: ۲/۳۳۳)-

(۲) ابن ابی حاتم : ۱ /۲۷۶)-

Scanned with CamSc

خلقو حشر به دقیامت په ورځ په انسانی صورت کښې دمیړو په شان وی. چه دوی لره به ټول څیزونه چخنړه کوی او روان به وی اود جهنم بوس نومی قیدخانه کښې به اچولې شی ، چه په هغه ځانې کښې اوور دنورو ټولو قسمونو اوور نه زیات تیز وی او دوی باندې به د جهنمیانو وینې زوې څکولې شی.

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ
اوکله چې اوونیلې شی| دوئ ته| چې ایمان راوړئ	په هغه| چې نازل کړې دی الله	نو وائی| مونږ ایمان راوړو
اوکله چې چې دوئ ته اوونیلې شی چې دالله په کتاب ایمان راوړئ نووائی چې مونږ خوپه هغه کتاب ایمان ساتو
بِمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ
په هغه	چې نازل کړې شوې دې	په مونږ	او انکار کوی	دمنلودهغې نه	چې ماسوا دی دهغې نه
چې مونږ ته(اوزمونږ کورنئ ته) رالیږلې شوې دې اودهغې نه بغیردنورو کتابونونه انکار کوی
وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ ؕ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ
حالانکه هغه |حق دې	تصدیق کونکې دې |د هغه کتاب	چې ددوئ سره دې	اوویه| نو ولې	وژل تاسو
دا کتاب (قران پاک)حق دې اود دوئ د کتاب (توراة) تصدیق کوی ورته اووایه چې ولې مو اووژل
اَنْۢبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ
پیغمبران| دالله |مخکښې ددې نه	که چرې	یئ تاسو	مؤمنان |اوپه تحقیق سره| راغلې ووتاسو ته
رومبی پیغمبران دالله ﷺ که تاسو ربنتونی مؤمنان یئ اوراغلې وو تاسو ته
مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَنْتُمْ
موسی	په ښکاره معجزو سره| بیا	اونیووتاسوؤ سخې	روستو دهغه نه| او وئ تاسو
موسی په معجزو څرګندو (د دې باوجود) تاسوځخې معبود جوړ کړلودهغه (کوه طور ته دتلونه) پس
ظٰلِمُوْنَ ۝
ظلم کونکی|
اوپه ځان مو زیاتې کوؤ

دخواهش بندګان د نفس غلامان دی :-یعنی کله چه دوی ته په قران باندې او نبی کریم ﷺ باندې د ایمان راوړلو دپاره اوونیلې شی نو دوئ اوونیل چه مونږ لره په تورات باندې ایمان راوړل کافی دی. الله ﷻ فرمائی چه دوی په دې کښې هم دروغژن دی. قران پاك خودهغه کتابونو تصدیق کوونکې دې او پخپله دهغوی په کتابونو کښې هم د نبی کریم ﷺ تصدیق موجود دې.لکه فرمائی چه﴿اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ﴾ (اهل کتاب نبی کریم ﷺ داشان پیژنی لکه څنګه چه څوك خپل اولاد پیژنی) . نو د نبی کریم ﷺ انکارسره ددوی په تورات باندې او انجیل باندې هم ایمان پاتې نشو. او اوس بل حجت قائموی چه ښه په تورات او انجیل باندې خو ستاسو ایمان دې ، بیا مخکښې نبیان چه ددې تصدیق کوونکی او تابعداری نې کوله او دنوی شریعت او نوی کتاب بلکه تاسو صرف دخواهش بندګان او د نفس غلامان دخپل رائې او قیاس ماتحت یئ. بیا فرمائی چه ښه ده تاسو حضرت موسی ﷺ نه ډیرې غټې غټې معجزې کتلې وې ، طوفان ، مولخان ، سپرې ، چیندخان ، وینه وغیره د حضرت موسی ﷺ په بددعا سره داټول د معجزې په طور ظاهر شو ، دلرګی نه مارجوړیدل ، دلاس روښانه کیدل ،

Scanned with CamScanner

درياب شليدل ، او اوبه دكانړي پشان كيدل ، دوريخو سيورئى ، من و سلوى نازليدل ، دكانړي نه نهرونه جاري كيدل ، وغيره ټول غټې غټې معجزې وې چه دحضرت موسى ﷺ دنبوت اود الله ﷻ دتوحيد روښانه معجزې وې. ټولې مو په خپلو سترګو اوكتلې خو كله چه حضرت موسى ﷺ كوه طور ته لاړو نو تاسو دسخى عبادت شروع كړو ،اوس اووائې چه پخپله په تورات او په حضرت موسى ﷺ باندې ستاسو ايمان چرته پاتې شو؟ آيا ددې بدكارونو په وجه تاسو دظالمان وئيلو قابل نه ئې ؟ (مِنْ بَعْدِهٖ) نه مراد حضرت موسى ﷺ كوه طورته دتلو نه پس ده . لكه په بل ځائې حضرت فرمائى چه ﴿وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْۢ بَعْدِهٖ الخ﴾ (موسى ﷺ چه كوه طور ته لاړو نو تاسو سخى خپل معبود جوړ كړو اوبه خپلو ځانونو مو ددې سخى دعبادت په وجه ډير ظلم اوكړو). چه ددې احساس ددې نه پس هغوى ته هم اوشو. لكه فرمائى چه ﴿وَلَمَّا سُقِطَ فِيْٓ اَيْدِيْهِمْ الخ﴾ (كله چه هغوى ته هوش راغلو نو شرمنده شو او خپله گمراهى ئې محسوس كړه) په هغه وخت كښې ئې اووئيل ائې الله ﷻ كه مونږ باندې ته رحم اونكړې او ځمونږ خطاګانې معاف نه كړې نو مونږ به دنقصان كوونكو نه شو).

وَاِذْ	اَخَذْنَا	مِيْثَاقَكُمْ	وَرَفَعْنَا	فَوْقَكُمُ
او ياد كړئ كله چې اواغستله مونږ اپخه وعده ستاسو نه اوپورته كړو مونږ اډپاسه ستاسو				
او(ياد كړئى)چې مونږ ستاسونه پوخ لوظ واخستو اومونږ ستاسوډپاسه كوه طور				
الطُّوْرَ ؕ	خُذُوْا	مَآ	اٰتَيْنٰكُمْ	بِقُوَّةٍ	وَّاسْمَعُوْا ؕ
طور غر| چې اونيسئ| هغه	چې دركوو مونږ تاسو ته| په سختئ سره| اوپه غوږونوئې واورئ					
اوچت كړو چې مونږ كوم كتاب دركړې دې هغه مضبوط اونيسئ (زمونږ دخبرې آوريدو پشان) واورئى					
قَالُوْا	سَمِعْنَا	وَعَصَيْنَا ۘ	وَاُشْرِبُوْا	فِيْ قُلُوْبِهِمُ
اووئيل هغوئ	اواوريدل مونږ	اوونۀ منل مونږ	او اخكلې شوى وو	په زړونو دهغوئ كښې
نودوئ اووئيل چې مونږ واوريدلې خو منلې ئې نه شو ځكه چې ددوئ زړونه دځځې په مينه كښې				
الْعِجْلَ	بِكُفْرِهِمْ ؕ	قُلْ	بِئْسَمَا	يَاْمُرُكُمْ	بِهٖٓ
محبت دسخى| په سبب دكفردهغوئ| ورته اوويه|بددې هغه څيز|چې حكم كوى تاسو ته|په هغې سره					
دكفر په وجه خړوب شوى وو	ورته اووايه چې ډير خراب تعليم دركوى تاسوته				
اِيْمَانُكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ ۝			
ايمان ستاسو	كه چرې يئ تاسو	مؤمنان	دو		
دا ايمان ستاسوكه چرې تاسومؤمنان يئ (نودا خوځه عجيبه غوندې ايمان دې)					

ديهوديانو دټولو نه لوئې كفر :- الله ﷻ د بنى اسرائيلو خطاګانې ، سركشى ، مخالفتونه اودحق نه مخ اړول بيانوى . چه كله هغوى كوه طور غر په سرونو باندې اوكتلونو اقرار ئې اوكړو خو كله چه هغه لرې شو نو بيا منكر شو ، ددې تفسير مخكښې تير شوې دې .د سخى محبت دهغوى په زړونو كښې پوخ شوې وو. لكه څنګه چه حديث كښې دى چه ديو څيز محبت انسان روند كوئ كوى.(۱) حضرت موسى ﷺ دا سخى تكړې تكړې او وې سيزلو او ددې ايره ئې په هوا كښې والوزوله او په درياب كښې ئې

---

(۱) ابوداود كتاب الادب باب مايى الهوى : ۵۱۳۰)-

Scanned with CamScanner

واچوله. چه ددې اوبه بنی اسرائیلو اوځکلې. اوددې اثر په هغوی باندې ظاهر شو. سخې تباه کړې شو خو ددې سخی تعلق دهغوی په زړونو کښې وو. ددې آیت مطلب دادې چه تاسو دایمان دعوی څنګه کوئی ؟ په خپل ایمان باندې نظر نه اچوئی او باربار وعده خلافی کوی ، ډیر خل مو کفر اوکړو ، آیا تاسو هغه ټول هر څه هیر کړل ؟ تاسو د حضرت موسی علیه السلام نه انکار اوکړو اودهغوی نه پس تاسو پغمبرانو سره سرکشی اوکړه تر دې پورې چه دافضل الانبیاء علیهم السلام ، د خاتم المرسلین حضرت محمد ﷺ نبوت نه هم انکاری شوئې او دا ټولو نه لوئې کفردې.

قُلْ	اِنْ كَانَتْ	لَكُمُ
	دوئ ته اووایه اکه چرې وی	ستاسودپاره
ورته اووایه که (د) آخرت		
الدَّارُ الْاٰخِرَةُ	عِنْدَ اللّٰهِ	خَالِصَةً	مِّنْ دُوْنِ النَّاسِ	فَتَمَنَّوُا
کور د آخرت	په نزد الله	خالص	ماسوا دنورو خلقو نه	نو آرزو اوکړئ
(نعمتونه) خالص تاسودپاره مقرر وی اودنورچاپه کښې څه برخه نه وی نوراځئ د مرګ خواهش اوکړئی				
الْمَوْتَ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ ۝	وَلَنْ يَّتَمَنَّوْهُ	اَبَدًا	بِمَا
دمرګ	که چرې یئ تاسو	ربښتینی	اوهرګز به آرزو اونکړی	همیشه دپاره	په سبب دهغه
که تاسو په (پخپله دعوی کښې) ربښتونی یئ اودوی به دمرګ خواهش هیڅ کله اونکړی					
قَدَّمَتْ	اَيْدِيْهِمْ ؕ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌۢ	بِالظّٰلِمِيْنَ ۝	وَلَتَجِدَنَّهُمْ
چې مخکښې لیږلې دي	لاسونه ددوئ	اوالله	ښه خبردي	په حال ددې ظالمانو	اوخامخابه ته به یې مومې دوئ
دخپلو (بدو) عملونو په وجه	اوالله ﷻ ظالمان خلق ډیر ښه پیژنی			اوته به دوئ اومومې	
اَحْرَصَ النَّاسِ	عَلٰى حَيٰوةٍ ۛ	وَمِنَ الَّذِيْنَ	اَشْرَكُوْا ۛ	يَوَدُّ اَحَدُهُمْ
زیات حرص کونکي دخلقو نه	په ژوند باندې	اودهغه خلقو نه	چې شرک ئې کړې دی	غواړی هریو سړې ددوئ
ډیرزیات حرصناک دټولوخلقونه په ژوندن پسې	دمشرکانونه هم زیات حرصناک	په دوئ کښې هریوداغواړی		
لَوْ يُعَمَّرُ	اَلْفَ سَنَةٍ ۛ	وَمَا	هُوَ	بِمُزَحْزِحِهٖ	مِنَ الْعَذَابِ
که عمر ورکړې شی	زر کاله	اوحال دا چې نه دی	هغه	خلاصونکي ده لره	د عذاب نه
که ورته زر کاله عمر ورکړې شی نوښه به وی	اخو نشی خلاصولې دوئ د عذاب (د الله نه)				
اَنْ يُّعَمَّرَ ؕ	وَاللّٰهُ	بَصِيْرٌۢ	بِمَا	يَعْمَلُوْنَ ۝
چې ورکړې شی عمر	اوالله	الیدونکي دي	هغه عمل	چې کوی نی دوئ	
دعمر زیات والی	اوالله ددوئ کارونه ډیرښه وینی ګوری				

یهودیانو ته دمباهلې دعوت :- حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمانی چه دې یهودیانو ته د نبی کریم ﷺ په خله باندې پیغام ورکړې شوکه تاسو ربښتونی یئ نو مقابلې دپاره راشئ ، تاسو ټول یو ځائې شئ

اودالله ﷻ نه دعا اوکړئی چه په مونږ کښې دروغژن خلق هلاک کړه. او دې سره دا پیشنګوئی هم اوکړې شوه چه دا خلق بالکل داسې کولو باندې نه راضی کیږی. نو داسې اوشو چه دا خلق مقابلې دپاره رانغلل. ځکه چه دې خلقو نبی کریم ﷺ او قران کریم ریښتیا منلو . که داخلق په دې اعلان سره راوتلې وې نو ټول په ټوله به هلاک شوی وو. په مخ دزمکې به یو یهودی هم بچ نه وو پاتې شوې. یو مرفوع حدیث کښې دی که یهودیان دمقابلې دپاره راوتلی وې او د دروغو دپاره ئې د مرګ دعا کړې وې نو ټول په ټوله به مړه شوی وې او خپل ځائې به ئې جهنم کښې جوړ کړې وو. داشان چه کوم نصرانیان به نبی کریم ﷺ لره راتلل که هغوی هم دمقابلې دپاره تیار شوی وې نوهغوی به تباه شوی وو اودهغوی د اهل وعیال به هډو نوم ونشان نه ووپاتې شوې. (مسند احمد).(۱)

په سورت جمعه کښې هم داشان دعوت دوی ته ورکړې شوې دې . آیت ﴿ قُلْ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْٓا ﴾ تر آخره پورې اولولئ،دهغوی دعوه وه چه ﴿ نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ﴾ مونږ خودالله ﷻ اولاد او دهغه خوښ یو،دا به ئې وئیل ﴿ وَقَالُوْا لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى ﴾ جنت ته به صرف یهودا و نصرانیان داخلیږی ، ځکه دوی ته اووئیلې شو چه رازئی چه ددې فیصله داشان اوکړو چه دواړه ډلې دې میدان ته راوزی اودالله ﷻ نه دې دعا اوکړی چه الله ﷻ دې په مونږ کښې دروغژن هلاک کړی. چونکه دې ډلې ته دا علم وو چه دوی دروغژن دی.ځکه دوی تیار نشو اوددوی کذب په ټولو باندې ښکاره شو. داشان چه کله دنجران نصرانیان نبی کریم ﷺ ته راغلل ، بحث او مباحثه اوشوه نو هغوئ ته هم اووئیلې شو چه ﴿ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ اَبْنَآءَنَا وَاَبْنَآءَكُمْ الخ ﴾ (رازئی چه مونږ اوتاسو خپل خپل اولاد او ښځې واخلو او اوځو اود الله ﷻ نه دعا اوکړو چه هغه ذات دې په دروغژنو باندې لعنت اوکړی). خو هغوی ټولو په خپلو کښې اووئیل چه بالکل نه ، نبی کریم ﷺ سره مباهله مه کوئی ګنی برباد به شئ. نودمباهلې نه ئې انکار اوکړو او سرونه ئې ټیټ کړل او صلح ئې اوکړه او جزیه ورکول ئې منظور کړل. نبی کریم ﷺ حضرت ابوعبیده بن جراح ﷺ دوی سره په طور د امین اولیږلو.

داشان مشرکان دعربو ته هم اووئیلې شو چه ﴿ قُلْ مَنْ كَانَ فِي الضَّلٰلَةِ فَلْيَمْدُدْ لَهُ الرَّحْمٰنُ مَدًّا ﴾ (مونږ کښې چه څوک ګمراه شی نوالله ﷻ دې د هغه ګمراهی زیاته کړی) . ددې پوره تفصیل ددې آیت لاندې به بیانیږی. انشاء الله . ددې پورتنی ایت په تفسیر کښې یو مرجوح قول دا هم دې چه تاسو دخپلو ځانونو دپاره مرګ اوغواړئی ځکه په قول دستاسو د آخرت ښیګړې صرف ستاسو دپاره دی. خوهغوی انکار اوکړو اودا قول څه زړه ته نزدې نه دې. ځکه چه ډیرو نیکو کسانو هم ژوند غوښتلو. بلکه په حدیث کښې دی چه په تاسوکښې بهتر هغه څوک دی چه دهغه عمر زیات وی او اعمال ئې ښه وی(۲) ددې نه علاوه دا قول یهودو هم وئیلې شو نو خبره به فیصله نه وی ، صحیح تفسیر هم هغه دې چه کوم مخکښې تیر شو چه دواړه ډلې دې د دروغژنود هلاکت او دهغه دمرګ دعا اوکړی. ددې اعلان آوریدو سره یهودیانو باندې یخې اوبه توئې شوې او ټول خلقو ته ددوی دروغ معلوم شو او پیشنګوئی هم صحیح ثابت شوه چه دا خلق بالکل دمرګ طلب نه کوی.ددې مباهلې په اصطلاح کښې (تمنی) کیخودلې شوه ځکه چه هرې ډلې به د باطلو دمرګ خواهش کولو.

د مشرکانو نه زیات د عمر سره محبت ساتل:- بیا فرمائی چه د دوی د مشرکانو هم د زیات عمر غوښتلو خواهشمند دی. ځکه چه ددې کافرو دپاره دنیا جنت ده. او ددوی خواهش اوکوشش دې چه په دې دنیا کښې زیات پاتې شی.حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه دمنافق د دنیا ژوند دکافر د حرص نه هم زیات وی. یهودو خو په یوخل زرکاله عمر غوښتلو حالانکه دا زیات عمر هم دوی ته د

---

(۱) مسند احمد: ۱/۲۴۸)-

(۲) ترمذی : کتاب الزهد باب ماجاء فی طول العمر للمومن: ۲۳۲۹)-

Scanned with CamScanner

عذابونو نه نجات ورکولې نشی ، چونکه کفار په اخرت باندې یقین نه ساتی او یهودت یقین ساتی د آخرت، بیا ددوی دهوکې هم ښکاره شوې نوددې وجې دمرګ نه زیات ویریدل. خوکه د ابلیس برابر عمر ورته هم ملاؤ شی نودعذاب نه نشی بچ کیدې. (۱)الله ﷻ ددوی دبدو عملونونه بې خبره نه دې ، دټولو بندګانو ټول نیک عملونو نه هغه ښه خبر دې او داشان بدله به ورکوی. (۲)

قُلْ	مَنْ كَانَ				
| اوویه |هغه څوك چې وی					
| ورته اووایه هرڅوک چې					
عَدُوًّا	لِّجِبْرِيلَ	فَإِنَّهُ	نَزَّلَهُ	عَلَىٰ قَلْبِكَ	بِإِذْنِ اللَّهِ
دشمن |دجبریل | نوبیشکه هغه| نازل کړې دې دا(قرآن) | په زړۀ ستا | په حکم دالله |					
دښمن دې دجبریل (نوتکړه دې شی)بیشکه داقران هم هغه دالله په حکم سره ستاپه زړۀ نازل کړې دې					
مُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهِ	وَهُدًى	وَبُشْرَىٰ	
تصدیق کونکې دې| دهغه کتابونو|چې مخکښې ددۀ دی| اوهدایت دې | اوزیرې دې |					
چې د مخکښو کتابونو تصدیق کوی| اودالله لاز خودونکې او زیرورکوؤنکې دې					
لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٩٧﴾	مَن كَانَ	عَدُوًّا لِّلَّهِ	وَمَلَائِكَتِهِ	وَرُسُلِهِ	وَجِبْرِيلَ
دپاره دمؤمنانو | هرڅوك چې وی | دشمن دالله |اودفرښتو دهغه | اودرسولانو دهغه| اودجبریل					
مومنانو ته | څوک چې دښمن وی دالله اودهغه دفرښتو او دهغه درسولانو اود جبریل ﷺ					
وَمِيكَالَ	فَإِنَّ اللَّهَ	عَدُوٌّ	لِّلْكَافِرِينَ ﴿٩٨﴾		
اودمیکائیل| نو بې شکه، چې الله| دشمن دې| دکافرانو | اوپه تحقیق سره|					
اود میکائیل| نوبیشکه الله تعالی دکافرانو دښمن دې|					

قوله تعالی:- قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ

دیهودیانو حضرت جبریل ﷺ سره دښمنی :- امام طبری رحمه الله فرمائی چه په دې خود مفسرینو اتفاق دې چه کله یهودیانو حضرت جبریل ﷺ لره خپل دښمن او حضرت میکائیل ﷺ لره دخپل دوست جوړولو وئیلی وو نو په هغه وخت دهغوی په جواب کښې دا آیت نازل شو(۳)خو بعضې وائی د نبوت باره کښې چه کومې خبرې اترې دهغوی نبی کریم ﷺ سره شوې وې نوهغوی دا وئیلی وو. بعضې وائی چه حضرت عمرفاروق ﷺ سره چه کومه مناظره دهغوئ نبی کریم ﷺ دنبوت باره کښې کړې وه نو دا ئې وئیلی وو..

د یهودیانو د نبی کریم ﷺ نه سوالونه :- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دیهودیانو یو ډله نبی کریم ﷺ ته راغله او وې وئیل چه مونږ ستاسو نبی ﷺ نه څه سوالونه کوؤ چه دهغې صحیح جوابونه د ستاسو نبی ﷺ نه سوا بل ته نه دی معلوم. که تاسو په رښتیا نبی یئ نو ددې سوالونو جوابونه ورکړئ . نبی

---

۱) الطبری:۲/۳۷۶)-
۲) الطبری:۲/۳۷۷)-
۳) الطبری: ۲/۳۷۷)-

Scanned with CamScanner

کریم ﷺ اوفرمائیل تپوس کونی.خودا وعده اوکړئی که ما جوابونه صحیح درکړل نو تاسو به زما دنبوت تصدیق کونی او زما فرمانبردار به جوړیږئی. هغوی د نبی کریم ﷺ سره وعده اوکړه. نبی کریم ﷺ هم دحضرت یعقوب ﷺ پشان دالله ﷻ دشهادت پخه وعده واخستله اوهغوی ته ئې دسوال کولو اجازت ورکړو(دهغوی سوال وجواب څه په دې ډول وو مترجم).

یهود :- هغوی اووئیل چه مخکښې خو دا اووائې چه د تورات نازلیدونه مخکښې حضرت اسرائیل ﷺ په خپل نفس باندې کوم یو څیز حرام کړې وو؟

حضرت محمد ﷺ :- نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واورئی کله چه حضرت یعقوب ﷺ به دعرق النساء په بیمارئی کښې سخت بیمار شو نو نذر ئې اومنلو که الله ﷻ ماته ددې مرض نه شفا را کړی نو څه به خوراك کښې خپل محبوب (خوښ) څیز او په څکاك کښې خپل محبوب څیز پریږدم. کله چه صحت مند شو نود اوښ غوښه خوړل او داوښ پئ څکل ئې پریښودل چه دا دواړه حضرت یعقوب ﷺ ته ډیر زیات خوښ وو. ستاسو دې په الله ﷻ قسم وی چه هغه پاك ذات په حضرت موسی ﷺ باندې تورات نازل کړو داربښتیادی که نه.دې ټولو قسم اوخوړو او وې وئیل آو داربښتیا دی،تاسو صحیح اوفرمائیل.

یهود :- یهودو اووئیل چه زمونږ سوال دادې چه د بنځې اودسړی داوبو څه کیفیت دې ؟او ولې کله هلك پیدا کیږی او کله جینئ؟

حضرت محمد ﷺ:- نبی کریم ﷺ اوفرمائیل واورئی د سړی اوبه ټینګې اوسپینې وی او د بنځې اوبه نرئی او زیړیخنې وی. په دې کښې چه کومې هم غالبې شی نو دهغې مطابق پیدائش کیږی او په شکل کښې هم ددې مطابق وی ، کله چه دسړی اوبه د بنځې په اوبوباندې غالبې شی نو دالله ﷻ په حکم سره نر اولادپیدا کیږی او کله چه د بنځې اوبه دسړی په اوبو غالبې راشی نودالله ﷻ په حکم جینئ پیدا کیږی. ستاسو دې په الله ﷻ قسم وی چه دهغه نه سوابل معبودنشته دې،ربښتیا اووائې زما جواب صحیح دې که نه؟ ټولو قسم اوخوړلو او اقرار ئې اوکړو بیشکه تاسو ربښتیا اوفرمائیل ، دوی په دې دواړو خبرو باندې الله ﷻ گواه کړو.

یهود:- هغوی اووئیل چه نبه ده اوس اووائې چه په تورات کښې د کوم یونبی اُمی خبر دې دهغه نبی خاص نبئ کومې کومې دی؟ اوده لره کومه فربښته وحی راوړی؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دهغه خاص نبئ دادی چه کله ئې سترګې اودې وی نو دده زړه به ویښ وی ، ستاسو دې په هغه رب قسم وی چه هغه حضرت موسی ﷺ ته تورات ورکړو ،اووائې ما ربښتیا اووئیل که نه ، ټولوقسم اوخوړو او وې وئیل چه تاربښتیا اووئیل. تاسو زمونږدسوال دبلې حصې جواب راکړئی. چه په دې باندې دبحث خاتمه اوشی. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه زما ولی حضرت جبریل ﷺ دې ، هغه ماته وحی راوړی او هغه دالله ﷻ د طرفنه مالره پیغام راوړی. ربښتیا اووائې اوقسم اوخورئی چه زما جواب صحیح دې ؟ هغوی ټولو قسم اوخوړو او جواب ئې ورکړو جواب خو صحیح دې خو چونکه حضرت جبریل ﷺ ځمونږ دښمن دې هغه سختی او خونریزی وغیره راوړی ، ځکه مونږ دهغه نه منو. اونه ستاسومنو، خوکه تاسو لره حضرت میکائیل ﷺ وحی راوړی چه هغه دالله ﷻ رحمت باران راولی او پیداوار وغیره راوړی اوهغه ځمونږدوست دې نو مونږ به ستا سو نبی ﷺ تابعداری اوکړو او تصدیق به ئې اوکړو ، په دې باندې داآیت نازل شو. (۱)

بعضې وائی چه هغوی دا سوال هم کړې وو چه " رعد " څه څیز دې؟ نبی کریم ﷺ فرمائیلی وو چه هغه یو فربښته ده په وریځوباندې مقرر ده چه هغه دالله ﷻ په حکم سره دا (وریځې) یو طرفته اوبل طرفته

---

(۱) مسندالطیالسی : ۲۷۳۱، وسنده حسن احمد: ۲۷۳/۱)-

Scanned with CamScanner

اړوی راوړی. هغوی اووئیل دا تندر څه څیز دي ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دا ددي فرښتي اواز دي . اوکورنی مسند احمد وغیره. (۱)

دعبدالله بن سلام اسلام قبلول :-د صحیح بخاری په یو حدیث کښې دی چه کله نبی کریم ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړو نو په هغه وخت کښې عبدالله بن سلام ﷺ په خپل باغ کښې وو او په یهودیت باندې وو.هغه چه کله دا واوریدل نو نبی کریم ﷺ لره راغلو او وې وئیل اې نبی کریم ﷺ څه ستاسو نه د دریوخبرو تپوس کوم چه دهغې جواب د نبیانونه سوا بل چاسره نشته دي.① دا اووائې چه دقیامت رومبې شرط کوم دي ؟ ② او دجنتیانو رومبې خوراك کوم یو دي ؟ ③ او کوم یو څیز بچی لره کله مور طرفته راکاږی اوکله پلار طرفته ؟

نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ددې دریوواړو سوالونو جوابونه اوس ماته حضرت جبریل ﷺ راوړه . حضرت عبدالله بن سلام اووئیل چه هغه خو زمونږ دښمن دي . نو حضرت محمد ﷺ دا آیت تلاوت کړو ، بیاني اوفرمائیل ① رومبنۍ نښه دقیامت یواوور دي چه خلقو پسې به شی اوهغوی به دمشرق نه مغرب طرفته جمع کوی . ② د جنتیانو رومبې خوراك دمهیانو کلیجی ده③ کله چه دسړی اوبه دښځې په اوبوباندې سبقت واخلی نو هلك پیدا کیږی او کله چه د ښځې اوبه سړی باندې غالبې شی نو جینۍ پیدا کیږی. په دې جواب آوریدو سره حضرت عبدالله بن سلام مسلمان شو او وې وئیل ﴿اشهدان لااله الاالله وانك رسول الله﴾بیا ئې اووئیل چه اې نبی کریم ﷺ یهودیان ډیر بیوقوف خلق دی که هغوی ته زما اسلام راوړل معلوم شی نوما ته به بدرد وائی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مخکښې هغوی لره قائل کړه. نبی کریم ﷺ لره چه کله یهود راغلل نو نبی کریم ﷺ تري تپوس اوکړو په تاسو کښې عبدالله بن سلام څنګه سړي دي ؟ هغوی اووئیل چه ډیر بزرګ او باخبره سړي دي او دبزرګانو داولاد نه دي. هغه خو زمونږ سردار دي.اود سردارانوداولاد نه دي. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که هغه مسلمان شی نو بیا خو به ستاسو په اسلام راوړلو کښې څه رکاوټ نه وی که نه ؟ هغوی اووئیل ﴿اعوذبالله اعوذبالله﴾ ، هغه به ولې مسلمانیږی.حضرت عبدالله بن سلام چه تراوسه پورې پټ وو بهر راغلو او په زوره ئې کلمه اووئیله ، بیا یهودیانوشور جوړ کړو چه دي پخپله هم خراب دي او دده پلار نیکه هم خراب وو. دا ډیر د لاندې درجې سړي دي او خاندانی کمینه دي. حضرت عبدالله بن سلام اوفرمائیل چه اې نبی کریم ﷺ ماته ددې خبرې ویره وه (۲)

دلفظ جبریل وغیره معنی :- په صحیح بخاری کښې دی چه عکرمه ﷺ فرمائی چه د ﴿جبر،میك،اسراف﴾ معنی عبد یعنی بنده ده (۳)او دایل معنی الله ده نو د جبریل وغیره معنی عبدالله شوه. بعضې خلقو ددې خلاف معنی هم کړې ده، هغوی وائی چه د ایل معنی عبد ده او ددې نه دمخکښې لفظ معنی دالله ﷻ دنوم ده. لکه په عربی کښې عبدالله ، عبدالرحمان ، عبدالمالك ، عبدالقدوس ، عبدالسلام ، عبدالکافی،عبدالجلیل وغیره،لفظ دعبد هرځائې کښې باقی دي اودالله ﷻ نوم بدلیږی،داشان ایل په هر ځائې کښې باقی دي او دالله ﷻ اسماء بدلیږی. په غیر عربیۍ ژبه کښې مضاف الیه مخکښې رازی او مضاف بعد کښې هم ددې قاعدې مطابق په دې نومونو کښې هم دي. لکه جبریل ، میکایل ، اسرافیل ، عزرایل وغیره.

دخلقو کانړی سره مونځ کول او دحضرت عمر فاروق ﷺ خفګان :- اوس دمفسرینو د بلې ډلې دلیل واورئی چه لیکی چه دا خبرې اترې حضرت عمر فاروق ﷺ سره شوې وې. شعبی رحمه الله وائی حضرت

---

۱) احمد ۲۷٤/۱، ترمذی ، کتاب تفسیر القران ، باب و من سورة الرعد: ۳۱۱۷، وهو حسن)-

۲) صحیح بخاری : کتاب احادیث الانبیاء ،باب خلق آدم و ذریته: ۳۳۲۹)-

۳) صحیح بخاری : کتاب التفسیر: سورة البقرة باب من کان عدوا لجبریل قبل حدیث: ٤٤٨٠)-

Scanned with CamScanner

عمر فاورق ﷺ روحاء ته راغلو او وې کتل خلق منډې وهی اویو کانړی سره مونځ اداکوی. تپوس نې اوکړو چه داخبره څه ده ؟ جواب ملاؤ شو چه په دې خاڼې کښې نبی کریم ﷺ مونځ ادا کړې وو. حضرت عمر فاروق ﷺ ډیر خفه شو او وې فرمائیل چه نبی کریم ﷺ ته به کله هم د مونځ وخت ملاویدو نو مونځ به ئې کولو. بیابه ئې تشریف اوړو. اوس دا مقامات متبرک ګنړل او په هغه خاڼې خامخا مونځ کول چا وئیلی دی ؟ بیا دوی په نورو خبرو کښې اخته شول.

د حضرت عمرفاروق ﷺ دیهودو سره مکالمه :- حضرت عمر فاروق ﷺ فرمانی چه څه به کله دیهودو ډلې ته تلم او کتل به مې چه څنګه قران پاك د ثورات او ثورات د قران پاك تصدیق کوی. یهودیانو هم ماسره محبت کولو. او اکثر به خبرې اترې کیدې. یو ورځ ئې دوی سره خبرې اترې کولې چه په لار کښې نبی کریم ﷺ راووتلو. هغوی (یهودیانو) ماته اووئیل هغه دې ستا نبی روان دې. ما اووئیل خه خو څم خو دا اووائې ستاسو دې په یو الله ﷻ باندې قسم وی ، درب حق یاد کړئی او د رب نعمتونو باندې نظر واچونی،دالله ﷻ کتاب په تاسو کښې موجود دې ددې خیال اوساتئی،په هغه رب قسم اوخری آیا تاسو نبی کریم ﷺ لره نه منئی . ټول خاموش شو ،دهغوی لوئې عالم چه په هغوی ټولو کښې په علم کښې زیات وو اودټولو سردار هم وو ، هغوی ته ئې اووئیل چه ده دومره سخت قسم درکړو تاسو صفا اورښتیا جواب ولې نه ورکوئی ؟ هغوی ټولو اووئیل حضرت تاسو زمونږ مشر یئ تاسو جواب ورکړئی . په دې باندې پادری اووئیل چه واورئی ده زبردست قسم درکړې دې ، رښتیا دادی مونږ دزړه نه وایو چه نبی کریم ﷺ دالله ﷻ رښتونې پغمبر دې.

ما اووئیل چه تاسو ته پته ده نو ولې ئې نه منئ: وې وئیل صرف په دې وجه چه دوی لره آسمانی وحی حضرت جبریل ﷺ راوړی ، هغه ډیره زیاته سخته ، تنګئی ، شدت ، عذاب او تکلیف والا فرشته ده. مونږ دهغه اوهغه زمونږ دښمن دې. که وحی حضرت میکائیل ﷺ راوړه چه ډیره درحمت ، تخفیف اوراحت والا فرښته ده نو مونږ به په منلو کښې هیڅ صبر نه وې کړې . ما.اووئیل چه ښه ده دا اووائې چه ددې دواړو دالله ﷻ په نیز څه قدر او احترام شته دې ؟ هغوی اووئیل چه یو خودالله ﷻ ښې لاس دې اوبل دالله ﷻ ګس لاس دې . ما اووئیل دالله ﷻ قسم چه دهغه نه سوا بل څوك معبود نشته دې چه څوك په دوی کښې دچا دښمن وی نودهغه دښمن الله ﷻ دې اودویمه فرښته هم ، د حضرت جبریل ﷺ دښمنانو سره حضرت میکائیل ﷺ دوست کیدې نشی او د حضرت میکائیل ﷺ دښمن د حضرت جبریل ﷺ دوست نه شی کیدې. اونه ددې دواړو دښمن دالله ﷻ دوست کیدیشی. اونه دا دواړه دالله ﷻ د حکم نه بغیر زمکې ته راتلې شی اونه څه کار کولې شی. والله ﷻ نه ماته ستاسو نه څه لالچ شته دې اونه څه ویره، واورئی چه کوم سړې دالله ﷻ دښمن وی دهغه دفرښتو ، دهغه د رسولانو ، اود حضرت جبریل ﷺ دښمن وی نوداسې کافر الله ﷻ دښمن دې ، دومره ویناسره څه لاړم.حضرت نبی ﷺ لره چه راغلم نو زما په کتلو سره ئې اوفرمائیل چه اې ابن خطاب په ماباندې اوس اوس وحی راغله. ما اووئیل چه اې نبی کریم ﷺ اوفرمائې. نبی کریم ﷺ هم دا آیت تلاوت اوفرمائیلو. ما اووئیل چه اې نبی کریم ﷺ په تاسو دې زما مورپلار قربان وی هم دا خبرې خواوس اوس ما دیهودو سره اوکړې . ما خو دا غوښتل او همدې دپاره ستاسو په خدمت کښې حاضر شوم چه تاسو ته ددې خبر درکړم خو زما دراتلونه مخکښې هغه لطیف اوخبیر بصیر او سمیع ذات الله ﷻ تاسو ته دا خبردرکړو. اوګورئی دابن ابی حاتم [1]وغیره. مګر دا روایت منقطع دې، سند ئې متصل نه دې ، شعبی ﷺ د حضرت عمر فاروق ﷺ په زمانه کښې موجود نه وو.

---

[1]) ابن ابی حاتم : ۲۹۰)-

Scanned with CamSc

فرشتو کښې هم رسولان شته :-د آیت مطلب دې چه حضرت جبریل ﷺ دالله ﷻ امین فرښته ده ، دالله ﷻ په حکم سره نبی کریم ﷺ ته دالله ﷻ وحی رسولو باندې مقرر ده. هغه په فرښتو کښې دالله تعالی رسول دې. دیو رسول سره دښمنئ کولو والا دټولو رسولانو سره دښمنئ کولو والا دی.لکه په یورسول باندې ایمان راوړل په ټولو رسولانو باندې ایمان راوړل دی ، اویو رسول سره کفر کول دټولو نبیانو سره کفر کول دی. پخپله الله ﷻ دبعضو رسولانو منلووالو ته کافر وائی فرمائی چه ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ وَيُرِيدُونَ﴾ (چه کوم خلق دالله تعالی سره اودهغه رسولانو سره کفر کوی،اوالله ﷻ او دهغه رسولانو په مینځ کښې تفرقه اچوی او وائی چه مونږ بعضې منو او بعضې نه منو ، د دویم آیت آخر پوری). نو په دې آیتونوکښې په وضاحت سره دې خلقو ته کافر اووئیلې شو چه یو رسول نه منی.داشان د حضرت جبریل ﷺ دښمن دالله ﷻ دښمن دې . ځکه چه هغه (جبریل ﷺ) په خپله مرضئ نه رازی. قرآن پاک فرمائی چه ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ﴾ اوفرمائی چه﴿ وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ﴾ (مونږ دالله ﷻ د حکم نه بغیر نه راکوزیږو دا نازل شوی دالله ﷻ دطرفه دی چه دا جبریل ﷺ راوړی اوستا په زړه کښې ئې اچوی چه خلقو لره هوښیار کړی.په صحیح بخاری کښې یو حدیث قدسی کښې دی چه زما دوستانو سره دښمنئ کولو والا ماسره د جنګ اعلان کولو. (۱)

قوله تعالی:- فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

قران د اسمانی کتابو مصدق دې:- دقران پاک دا یو صفت هم چه دې دا دمخکښې نبیانو علیهم السلام تصدیق کوی اودایماندارو زړونوته هدایت اوددوی دپاره دجنت زیرې ورکوونکې دې.لکه فرمائی﴿ قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ ۖ وَالَّذِينَ﴾ (دا قران پاک د ایمان والو دپاره هدایت اوشفا دې).بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾. په رسولانو کښې انسانی رسولان او آسمانی رسولان هم شامل دی.لکه فرمائی چه﴿ اللَّهُ يَصْطَفِي مِنَ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا وَمِنَ النَّاسِ﴾ (الله ﷻ په فرښتو کښې انسانانو کښې خپل رسولان منتخب کوی) . حضرت جبریل ﷺ او حضرت میکائیل ﷺ هم د فرښتونه دی. خو ددی خاص طور سره نوم واخستلې شو چه مسئله بالکل صفا شی او یهودیانو ته پته اولږی چه په دوی کښې دیو دښمن دبل هم دښمن دې بلکه دالله ﷻ دښمن دې.

حضرت میکائیل ﷺ هم کله کله نبیانو علیهم السلام لره راتلو لکه نبی کریم ﷺ سره به په اول اول کښې وو. خو په دې کار باندې مقرر حضرت جبریل ﷺ دې. لکه حضرت میکائیل زرغونیدو او باران وغیره باندې او حضرت اسرافیل ﷺ په صور (شپیلئ) وهلو باندې مقرر دې ، په یو حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ به کله دشپې پاسیدونو دا دعا به ئې کوله ﴿اللهم رب جبرائیل وميكائيل واسرافيل فاطر السموات والارض عالم الغيب والشهادة انت تحكم بين عبادك فيما كانوا فيه يختلفون،اهدنی لما اختلف فيه من الحق بأذنك انك تهدی من تشاء الی صراط مستقيم﴾ (ترجمه . ائې الله ﷻ ،ائې د جبریل ﷺ ، اسرافیل ﷺ ، میکائیل ﷺ ربه ، ائې دزمکې او آسمان پیدا کولو والا ، ائې دپټو او ښکاره پیژندو والا دخپلو بندګانو داختلاف فیصله هم ته کوې ، ائې الله ﷻ په اختلافی کارونو کښې حق طرفته زما رهبری اوکړه ته چه چاته غواړې نوښغه لار ورته ښائې) (۲)د لفظ جبریل وغیره تحقیق اوددې معنې بیان شوی دی.

په فرشتو کښې دجبریل نوم :- حضرت عبدالعزیز بن عمیر رحمه الله فرمائی چه په فرښتو کښې د حضرت جبریل ﷺ نوم خادم الله دې .ابو سلیمان دارانی رحمه الله چه دا واوریدل نو ډیر زیات خوشحاله شو او وې فرمائیل چه دا روایت ماته د روایتونو د یو دفتر نه هم زیات محبوب دې .د حضرت جبریل او حضرت میکائیل په الفاظو کښې ډیر زیات لغات او قراتونه دی چه دهغې تفصیل د لغت په کتابونو کښې

---

۱) صحیح بخاری : کتاب الرقاق باب التواضع : ۶۵۰۲)-

۲) صحیح بخاری : کتاب صلاة المسافرين باب الدعاء ف صلاة الليل وقيامه: ۷۷۰)-

Scanned with CamScanner

موجود دي. مونږ دهغې په بيانولو سره دزياتو پانړو زياتول نه غواړو ، ځکه چه ديوې معنی يا پوهه يا حکم په دې باندې موقوف نه دي. الله ﷻ دې ځمونږ مدد اوکړی ، ځمونږ بهروسه اوتوکل په هغه پاک ذات باندې دي.

قوله تعالی:- فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ

الله د کافرانو دشمن دي:- د آيت په خاتمه کښې ئې دا نه دی فرمائلي چه الله ﷻ هم ددې خلقو دښمن دي بلکه فرمائی چه الله ﷻ دکافرو دښمن دي. په دې کښې دداسې خلقو حکم هم شامل شو. دې ته په عربئ کښې د«مضمر» په ځائې«مظهر» وئيلې شی او په کلام عرب کښې اکثر ددې مثالونه په شعرونو کښې موندې شی. گويا داسې وئيلې شی چه چا دالله ﷻ دوست سره دښمنی اوکړه نو هغه دالله ﷻ سره دښمنی اوکړه او چه څوک دالله ﷻ دښمن شو الله ﷻ دهغه دښمن دي او چه دچا دښمن الله ﷻ شی پخپله نو دهغه په کفر او تباهئ کښې بيا څه شک دي؟ په صحيح بخاری کښې يو حديث مخکښې تير شوې دي چه الله ﷻ فرمائی چه زما دوستانو سره دښمنئ کولو والاته څه د جنګ اعلان کوم[1] يوحديث کښې دی چه څه دخپلو دوستانوبدله اخلم[2] يوحديث کښې دی چه د چا دښمن څه شم نو هغه برباد شو[3]

وَلَقَدْ	اَنْزَلْنَآ										
	اوپه تحقيق سره	نازل کړی دی مونږ									
	او(اني پيغمبر) مونږ درليږلی دی										
اِلَيْكَ	اٰيٰتٍۭ	بَيِّنٰتٍ ۚ	وَمَا يَكْفُرُ	بِهَآ	اِلَّا	الْفٰسِقُوْنَ ۝					
تاته	داسې ايتونه	چې ښکاره دی	اونۀ کوی انکار	دهغې نه	مګر	فاسقان خلق					
تاته ښکاره ايتونه	اودهغې نه بل څوک نه صرف فاسقان (نافران) انکار کوی										
اَوَكُلَّمَا	عٰهَدُوْا	عَهْدًا	نَّبَذَهٗ	فَرِيْقٌ	مِّنْهُمْ ؕ	بَلْ					
ايادا سې نۀ ده چې هرکله	اوکړه هغوئ	وعده	نوهيره کړه هغه	يوې ډلې	دهغوئ نه	بلکه					
ايا هرچرې چې	دوی	يو لوظ نامه	اوکړی	نو (خواه مخواه)	يوډله به هغه لوظ نامه ماتوی	بلکه					
اَكْثَرُهُمْ	لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝	وَلَمَّا	جَآءَهُمْ	رَسُوْلٌ	مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ						
زيات خلق دهغوئ	نۀ راوړی ايمان	اوهرکله چې	راغې	دوئ ته	يو رسول	دطرفه دالله نه					
دوئ زيات (خو په توراة هم) ايمان نه راوړی	اوهرکله چې دوئ ته دالله دطرفه رسول راغلو										
مُصَدِّقٌ	لِّمَا	مَعَهُمْ	نَبَذَ	فَرِيْقٌ	مِّنَ الَّذِيْنَ						
چې تصديق کونکی دی	دهغه کتاب	چې ددوئ سره دی	نو اوغورزول	يوې ډلې	دهغه کسانونه						
چې ددوئ سره دموجوده کتاب تصديق اوتانيد کوی نو ددغې											
اُوْتُوا	الْكِتٰبَ ۙ	كِتٰبَ اللّٰهِ	وَرَآءَ	ظُهُوْرِهِمْ	كَاَنَّهُمْ						
چې ورکړې شوې وو	ورته کتاب	کتاب دالله	روستو	دشاګانو خپلو نه	لکه چې دوئ						
اهل کتابو خلقونه يوې ډلې دالله کتاب داسې شاته اوغورزولو لکه چې دوئ											

[1]) صحيح بخاری : كتاب الرقاق باب التواضع:٦٥٠٢)-

[2]) شرح السنة للبغوی : ١٢٤٩، بلفظ اخر)-

[3]) ابن ماجة كتاب الدهن ، باب اجرالاجراء: ٢٤٤٧، وسنده حسن وصحيح بخاری : ٤١٢٢٧)-

Scanned with CamSc

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ

نه پوهيږي په هيڅ څيز|او ورپسې شو|په هغه څيز پسې|چې پيښ کوو به| شيطانانو | په زمانه د بادشاهۍ

هلږود سره نه پيژندو| اوپه هغوخبرو(منترجادو) پسې روان شول چې شيطانانوبه په زمانه د بادشاهۍ

سُلَيْمٰنَ ۚ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا

د سليمان | حلانکه نه دې کفر کړې | سليمان هيڅرې | ليکن | شيطانانو به | کفرکولو|

دسليمان کښې کولې |اوسليمان ﷺ هيڅ کله کفر نه وو اختيارکړې کفرخوبه شيطانانوکولو

يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ ۚ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ

چې ښودوبه نې| خلقو ته | جادو | او په هغه څيز پسې|چې نازل شوې وو| په دوو فرښتو

چې ناپوهه اوساده خلقو ته به نې جادو خودلو|اوپه هغې پسې روان شو چې نازل شوې وو په دوو فرښتو

بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ ؕ وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى

په بابل کښې|چه هاروت او ماروت وه | اونه به |ښودلوهغوی دواړو| هيڅا ته | تردې پورې|

هاروت اوماروت باندې په بابل ښارکښې |اوهغې دواړوبه ترهغې هيڅاته تعليم نه ورکولو

يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ ؕ فَيَتَعَلَّمُوْنَ

چې اوبه وئيل دواړو | چې مونږ آزمينښت يو| نومه کوه ته کفر| نو زده کولو به هغوی

چې اول به نې ورته اونه وئيل چې کوره مونږ آزمينښت (له راغلی) يو|نوکفر مه کوه| خوبياهم زده کول به

مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ ؕ

ددې دواړونه | هغه څيز|چې جدائی راولی | په هغې سره | په منځ دسړی | اودښځې دهغه کښې |

دوی هغه (تعويزونه)چې په هغې سره به نې د خاوند او ښځې ترمينځه جدائی راوسته

وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

اونه وو | هغوی | ضرررسونکی | په هغه جادو سره| هيڅا ته | مګر | په حکم ذالله|

اوپه دې (جادو) سره به نې بې دالله دحکم نه هيڅاته ضرر نشو رسولې

وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ؕ

اوزده کوو به هغوی|هغه څيز| چې ضرر به نې رسولو هغوی ته| اونه به نې ورکوله| فائده هغوی ته

خو (دومره څيز به نې دهغې نه) زده کولوچې پخپله ددوی په حقله به زيان ووا|اوسودمند به نه وو

وَلَقَدْ عَلِمُوْا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ

اويقينا|چې ښه معلومه ده هغوی ته داخبره|چې خامخا هغه څوک| چې وائې غستود| نشته| هغه لره

اودوی ښه پوهيدل چې چا دغه (جادو)اختيارکړو| هغه دپاره هيڅ حصه نشته دې

فِي الْاٰخِرَةِ	مِنْ خَلَاقٍ ۚ	وَلَبِئْسَ	مَا	شَرَوْا	بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ؕ	لَوْ
په آخرت کښې	څه برخه	اوډیر بددي	اهغه څیز	اچي خرچ کړل	هغوئ	اپه هغې سره خانونه خپل	افسوس چې
د نیکئ په آخرت کښې	اودوئ خپل خانونه دخراب څیز په بدل کښې خرڅ کړی دی						که چرې
كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ ۝	وَلَوْ	اَنَّهُمْ	اٰمَنُوْا	وَاتَّقَوْا	
وې هغوئ	چې پوهیدلې	اوکه چرې	هغوئ	ایمان راوړې وې	اوتقوی ئې اختیارکړې وې	
دوئ پوهیږی (نوداسې به ئې نه ووکړي)		اوکاش که دوئ ایمان راوړئ وې او خان ئ			(دجادونه)	بچ ساتلې وې	
لَمَثُوْبَةٌ	مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ	خَيْرٌ ؕ	لَوْ	كَانُوْا	يَعْلَمُوْنَ ۝	
نوخامخا هغه ثواب	اچې دطرفه دالله نه دي	اهغه ډیربهتروو	افسوس که چرې	اوې هغوئ	چې خبروې	
نواالله دطرفنه به لږ ثواب هم	(ددې هرڅۀ) نه بهتر وو	کاش که دوئ پوهیدلئ	(نوداسې به ئې نه ووکړي)			

قوله تعالی:- وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ ۚ وَمَا يَكْفُرُ بِهَآ اِلَّا الْفٰسِقُوْنَ

د قران ایاتونه واضح دی:- یعنی ائې حضرت محمد ﷺ مونږ داسې پټې نبۍ چه هغه ستادنبوت بنکاره دلیل جوړ شی نازلې کړې دی . دیهودیانو دمخصوص معلومات ذخیره ، دهغوی د کتاب پټې خبرې ، دهغوی تحریف او تبدیل احکام وغیره ټول مونږ په خپل معجزنما کتاب قران پاك کښې بیان فرمائیلې دی. چه ددې په آوریدو سره هر ژوندي ضمیر ستا نبوت طرفته مجبوریږی. آودا بیله خبره ده چه یهودو لره دهغوی سخت حسد او بغض منع کړی. ګنی هر سړې ته معلومیدیشی چه دیو امی سړی نه داسې پاکیزه صفات او حکمتونو والا کلام نشی جوړیدی.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ابن صوریا قطوینی رسول کریم ﷺ ته وئیلی وو چه تاسوڅه داسې څیزراوړئ چه مونږ دهغې نه تااوپیژنو. تاسوسره داسې څه بنکاره دلیلونه نشته دې. په دې باندې دا آیت نازل شو. چونکه یهودیانو ددې خبرې نه انکار کړې وو چه مونږ نه د رسول کریم ﷺ په باره کښې وعده اخستې شوې ده نو په دې باندې الله ﷻ دا آیت نازل کړو. چه دا خو ددوی عادت دې چه وعده ئې اوکړه او بیائې هغه ماته کړه. بلکه ددوی اکثریت خو دایمان نه بالکل خالی دې.

د نبذ معنی:- د " نبذ " معنی غوزرول دی ، چونکه دې خلقو دالله ﷻ وعده یعنی قران پاك داسې پریخودې وو ګویا چه غورزولې ئې وو ،ددې وجې دهغوی په غندنه کښې دا الفاظ بیان کړې شو.

په بل ځائې کښې صفا بیان دی چه ددوی په کتابونو کښې د رسول کریم ﷺ ذکر موجود وو. فرمائی چه ﴿ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِيْلِ ۡ ﴾ (داخلق په تورات او انجیل کښې د رسول کریم ﷺ ذکر مومی)

قوله تعالی:- وَاتَّبَعُوْا مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ عَلٰى مُلْكِ سُلَيْمٰنَ ۚ

د جادو تابعداری کول:- په دې خائې کښې ئې هم فرمائیلې دی چه ددې کتاب تصدیق کولو والا څمونږ پغمبران دوی لره راغلل نوددوی یوې ډلې دکتاب الله نه بې پرواهی اوکړه او دائې داشان پریخودو چه ګنی هډو دوی ته علم نشته دې بلکه جادو پسې شو او په رسول کریم ﷺ ئې جادو اوکړو چه ددې اطلاع نبی ﷺ ته الله ﷻ ورکړه او ددې اثر ختم شو او رسول کریم ﷺ ته شفا ملاؤ شوه. په تورات سره ئې د رسول کریم ﷺ مقابله نشوه کولې. ځکه هغه ددې تصدیق کوونکې وو ، نو دائې پریخودواو نور کتابونه ئې واخستل او په هغې پسې شو. او دالله ﷻ کتاب ئې داسې پریخودو ګویا چه ګنی هډو ورته پته نشته ، نفسانی خواهشات ئې مخکښې کیخودل او کتاب الله ئې روستو اوغورزولو اودا هم وئیلې شوی دی چه ډول سرناګانې تولې دالله ﷻ دذکر نه منع کوونکی څیز په ﴿ مَا تَتْلُوا الشَّيٰطِيْنُ ﴾ کښې داخل دی.

Scanned with CamSc

قوله تعالی:- وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ

دیهودیانو سلیمان ﷺ ته د جادوګر نسبت کول:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه حضرت سلیمان ﷺ سره یو ګوته وه ،کله چه به دوی اودس ماتی له تلل نو دا ګوته به ئې خپلې بیبۍ حضرت جراده ته حواله کوله. هرکله چه د حضرت سلیمان ﷺ د آزمینښت وخت راغلو نو په هغه وخت کښې یو شیطان جن ددوی په شکل کښې ددوی بیبۍ لره راغلو او ګوته ئې تري اوغوښتله اوهغې ورته حواله کړه. هغه دا ګوته واچوله او په تخت سلیمانی باندې کیناستو ،ټول جنات وغیره دده په خدمت کښې حاضر شو او ده پرې حکومت کولو. بل طرفته چه حضرت سلیمان ﷺ واپس راغلو او دبیبۍ نه ګوته ئې طلب کړه نو هغې ورته په جواب کښې اووئیل چه ته دروژغن ئې ګوته خوما سلیمان ته حواله کړې ده. حضرت سلیمان ﷺ ته معلومه شوه چه دا دالله ﷻ د طرفنه یو آزمینښت دې. په دې ورځو کښې شیطانانو د جادو، نجوم ،کهانت شعر وادب او دغیبو د دروغو خبرونو کتابونه اولیکل او د حضرت سلیمان ﷺ د کرسئ لاندې ئې ښخول شروع کړل. ددوی د آزمینښت دا زمانه تیره شوه. حضرت سلیمان ﷺ بیا د تاج و تخت مالك شو. هرکله چه طبعی عمر ته اورسیدو او ددې دنیا نه ئې رحلت اوکړونوشیطانانو انسانانو ته وئیل شروع کړل چه د حضرت سلیمان ﷺ هغه خزانه او کتابونه چه د هغې په ذریعه به هغه په هواګانو اوجناتو حکومت کولو دده دکرسئ لاندې ښخ شوی دی. چونکه جنات به ددې کرسئ لاندې نه شو ورتلې نو په دې وجه انسانانو دا اوکنستلو نوهغه کتابونه برآمدشو. نودا مشهور شو او دهر سړی په ژبه باندې هم دا وینا وه چه د حضرت سلیمان ﷺ د حکومت راز هم دا وو. بلکه خلق د حضرت سلیمان ﷺ د نبوت نه ا نکاری شول او دوی ته ئې جادوګر وئیل شروع کړل. حضرت نبی اکرم ﷺ دا خبره ښکاره کړه چه د جادوګرئی دا کفر شیطانانو خو رکړې دې. حضرت سلیمان ﷺ ددې نه بری الذمه دې.

د علی ﷺ د نه وفات کیدو عقیده:- حضرت ابن عباس ﷺ لره یو سړې راغلو . دوی تري تپوس اوکړو دکومه خایه راغلې ئې ؟ هغه اووئیل عراق نه . دوی تري تپوس اوکړو چه عراق کښې دکوم ښار نه ؟ هغه اووئیل کوفې نه . تپوس ئې تري اوکړو څه خبر دې ؟ هغه اووئیل چه په هغه ځائې کښې خبرې کیږی چه حضرت علی ﷺ وفات شوې نه دې بلکه غائب شوې دې. او نزدې ده چه هغه به راشی. دوی په لږزیدو شو او وې فرمائیل که داسې وې نو مونږ به دهغه میراث نه وو تقسیم کړې. او نه به دهغه ښځو نوری نکاح کولې. واوره شیطانانو آسمانی خبرې راپټولې او په دې کښې به ئې خپلې خبرې شاملولې. او دا به ئې بیا خورولې.حضرت سلیمان ﷺ داکتابونه دخپلې کرسئ لاندې جمع کړی اوښخ کړی ئې وو.ددوی د انتقال نه پس جناتو هغه راوویستل،هم هغه کتابونه په عراقیانو کښې خواره شوی دی.اوهم ددې کتابونو خبرې هغوی بیانوی اوخوروی ئې. هم ددې ذکر په آیت ﴿وَاتَّبَعُوْا﴾ کښې دې. (۱)

شیطانانوته د غیبو علم نشته:- هم په هغه زمانه کښې دا مشهور شوی وو چه شیطانانو ته دعلم غیب پته ده. حضرت سلیمان ﷺ ددې کتابونو نه صندقونه ډک کړل او ددې دښخولو حکم ئې اوکړو اودا حکم ئې جاری کړو چه څوك دا وائی نو هغه به قتل کولې شی. بعضو روایتونو کښې دی چه جناتو د حضرت سلیمان ﷺ د انتقال نه پس هغه کتابونه ددوی دکرسئ لاندې دفن کړی وو. اوددې د شروع په صفحه باندې لیکلې شوی وو چه دا علمی خزانه د آصف بن برخیا جمع کړې شوې ده. اودې د حضرت سلیمان ﷺ وزیراعظم وو. مشیرخاص او ولی اودوست وو. یهودیانو مشهوره کړې وه چه حضرت سلیمان ﷺ نبی نه ووبلکه جادوګر وو. په دې وجه دا آیت نازل شو اوالله ﷻ یو ربښتونی نبی دیورښتونی نبی دبرائت اعلان اوکړو. او دیهودیانو دا عقیده ئې باطله کړه. چه کله ئې د حضرت

---

(۱) اخرجه الحاکم فی کتاب التفسیر: ۲۶۵/۲، وسنده حسن)-

Scanned with CamScanner

سلیمان ﷺ نوم ئې د نبیانو په زمره کښې واوریدو نو ډیر به ئې غپل په دې وجه دا واقعه مو په تفصیل سره بیان کړه. یو وجه دا هم ده چه حضرت سلیمان ﷺ د ټولو موذی خناورو نه وعده اخستې وه اودوی ته چه هغه وعده وریادولې شیوه نو دوی ستومانه کیدل به نه او بیا خلقو دخپل طرفنه عبارتونه جوړکړل اود جادو پشان منترونه به ئې جوړول او ټول به ئې حضرت سلیمان ﷺ ته منسوب کول. دا یادساتل پکار دی چه (علی) په دې ځائې کښې د (فی) په معنی کښې دې. یا (تَتْلُوا) متضمن دې د (تکذیب). اوهم دا اولی او احسن دې والله اعلم.

جادو د سلیمان ﷺ نه وړاندې شروع وو:- د حسن بصری رحمه الله قول دې چه جادو د حضرت سلیمان ﷺ نه مخکښې هم وو. او دا بالکل ریښتیا دی. حضرت سلیمان ﷺ د حضرت موسیٰ ﷺ نه پس راغلی دی. اود حضرت موسیٰ ﷺ په زمانه کښې دجادوګرو موجودګی د قران پاك نه ثابت ده. اود حضرت سلیمان ﷺ دحضرت موسیٰ ﷺ نه پس راتلل هم د قران پاك نه ثابت دی. د داود ﷺ اود جالوت په قصه کښې دی چه ﴿ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ﴾ بلکه د حضرت ابراهیم ﷺ نه هم مخکښې حضرت صالح ﷺ ته خپل قوم وئیلی وو چه ﴿ اِنَّمَاۤ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴾ یعنی ته دجادوګرو نه ئې. بیا فرمائی چه ﴿ وَمَاۤ اَنْزِلَ الخ ﴾. بعضې خلق وائی چه په دې ځائې کښې "ما" نافیه ده.یعنی دانکارپه معنی کښې ده.اوددې عطف ﴿ وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ ﴾ باندې دې.

د یهودیانو د عقیدې تردید:- دیهودیانو دویمه عقیده چه جادو په فرښتو باندې نازل شوې دې ، په دې آیت کښې ددې تردید دې.

دهاروت اوماروت لفظ دشیطانانو بدل دې ، په تثنیه باندې هم د جمعې اطلاق کیږی لکه ﴿ فَاِنْ كَانَ لَهٗۤ اِخْوَةٌ ﴾ کښې (۱)یا په دې وجه جمع اووئیلې شوه چه دده منلو والا هم شامل کړې شی. اوددوی نومونه ددوی دسرکشئ په وجه ښکاره کړې شوی دی. قرطبی رحمه الله خو وائی چه ددې آیت هم دا مطلب صحیح دې ، ددې نه سوا نورو مفتیانو طرفته توجه نه ده پکار. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه جادو دالله ﷻ د طرفنه نه دې نازل شوې(۲)ربیع بن انس رحمه الله فرمائی چه په دوی باندې هیڅ جادو نه وو نازل شوې(۳)نو په دې بناء به ددې آیت ترجمه څه په دې ډول وی چه دې یهودیانو ددې څیز تابعداری اوکړه چه دحضرت سلیمان ﷺ په زمانه کښې به شیطانانو لوستل. حضرت سلیمان ﷺ کفر نه وو کړې اونه الله ﷻ جادو په دې دوو فرښتو باندې نازل کړې وو (لکه ائې یهودیانو ستاسو خیال حضرت جبریل ﷺ اوحضرت میکائل ﷺ طرفته دې)بلکه دا کفر د شیطانانو دې چه په بابل کښې به ئې خلقو ته جادو خودلو. او ددوی سرداران دوه سړی وو. اوددوی نومونه هاروت اوماروت وو. حضرت عبدالرحمان بن ابزی رحمه الله به دا داسې وئیل چه ﴿ وَمَاۤ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ داود وسلیمان ﴾(داود او سیلمان دواړه بادشاهانو باندې جادو نه وو نازل شوې) یا دا چه هغوی به ددې نه منع کوله ځکه چه دا کفر دې. امام ابن جریر رحمه الله ددې زبردست رد کړې دې ، هغه فرمائی چه (ما) په معنی کښې د (الذي) دې او هاروت او ماروت دوه فرښتې دی. چه هغوی الله ﷻ زمکې طرفته لیږلی وې. او خپلو بندګانو د آزمیښت او امتحان دپاره ئې دوی ته د جادو د تعلیم اجازت ورکړې وو ، نو هاروت اوماروت دالله ﷻ د فرمان پوره کولو والا فرښتې وې . یوغریب قول دا هم دې چه دجناتو دوه قبیلې دی (الْمَلَكَيْنِ) یعنی د بادشاهانو په قرات باندې د (انزال خلق) په معنی کښې به وی لکه فرمائی چه وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْاَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ

---

(۱) القرطبی: ۲/۵۰)-

(۲) الطبری:۲/ ۴۱۹)-

(۳) الطبری:۲/ ۴۱۹)-

Scanned with CamScanner

ازواج (مونږ ستاسو دپاره اته قسمه چارپایان پیدا کړی دی) ([1])او فرمائی ﴿ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ ﴾ (او اوسپنه موجوده کړه) او فرمائی ﴿ وَيُنَزِّلُ عَلَيْكُمْ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً ﴾ (او دآسمان نه موتاسودپاره رزق نازل کړو). په حدیث شریف کښې دی چه ﴿ ما انزل الله داء ﴾ (یعنی الله ﷻ چه څومره بیمارئی پیدا کړی دی هغې دپاره علاجونه ئې هم پیدا کړی دی)مثال مشهور ردې چه نیکئ او بدئی لره پیدا کولو والا الله ﷻ دی . په دې ټولوخایونو کښې انزال خلق یعنی دپیدائش په معنی کښې دی. ایجاء یعنی د راوړنکی او نازلوونکی په معنی کښې نه دی. داشان په دې آیت کښې هم داکثرو سلفو مذهب دې چه دا دواړه فرښتې وې. په یو مرفوع حدیث کښې هم دا مضمون په تفصیل سره راغلې دې چه اوس بیان شو ، خکه چه دا دواړه به هم په عامو فرښتو خاص شی لکه چه د ابلیس په حقله تاسو ﴿ وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ ﴾ په تفسیر کښې تاسو لوستی دی. حضرت علی ﷺ ، حضرت ابن مسعود ﷺ ، حضرت ابن عباس ﷺ ، حضرت ابن عمر ﷺ ، حضرت کعب بن احبار ﷺ اوحضرت کلبی ﷺ هم داسې فرمائی ، اوس دا حدیث واورئی.

د هاروت ماروت واقعه :- نبی کریم ﷺ فرمائی چه کله حضرت آدم ﷺ لره الله ﷻ زمکې ته راولیږلو اوده اولاد خور شو او په زمکه کښې دالله ﷻ نافرمانئی شروع شوې نو فرښتو اووئیل دا اوګورئی څومره بد خلق دی،څومره نافرمانه او سرکشه دی ، که مونږ ددوی په خائې وې نو هیڅکله به مو نافرمانی نه وه کړې. الله ﷻ اوفرمائیل چه ښه تاسو په خپلو کښې د دوؤ فرښتو انتخاب اوکړئی . څه په هغوی کښې انسانی خواهشات پیدا کوم او هغوی لره لیږم اوبیا ګورم چه هغوی څه کوی؟ نو هغوی هاروت اوماروت پیش کړل. الله ﷻ په هغوی کښې انسانی طبیعت پیدا کړو او دوی ته ئې اووئیل چه ګورئی بنی آدمو ته څه دپیغمبرانوپه ذریعه خپل احکام رسوم ،لیکن تاسو ته بلاواسطه وایم چه زما سره هیڅوك شریك مه جوړوئی ، زنا مه کوئی ، شراب مه څکئی . اوس دا دواړه زمکې ته راکوزې شوې اوزهره ئې ددوی د آزمیښت دپاره دیو ښکلې ښځې په صورت کښې دوی لره اولیږله چه ددې په کتلو سره دوی سم لیونې شو. اودې سره ئې زنا کول غوښتل. دې ورته اووئیل که تاسوشرك اوکړو نو څه به ستاسو خواهش پوره کړم. دوی هغه هم اومنل. بیا راغله اودوی ته ئې اووئیل چه دا شراب اوڅکئ. هغوی دا هم اوکړل اودائې یو معمولی ګناه اوګڼله . اوس نشه کښې مست وو او دوی زنا هم اوکړه. اوهغه بچې ئې هم قتل کړو.هرکله چه هوش کښې راغلل نو هغه ښځې ورته اووئیل چه تاسودکومو کومو کارونونه مخکښې انکار کولو هغه ټول تاسو اوکړل .دوی شرمنده شو. بیا دوی ته اختیار ورکړې شو چه یا ددنیا عذاب لره اومنئ او یا دآخرت عذاب. دوی ددنیا عذاب خوښ کړو. په صحیح ابن حبان ، مسند احمد .ابن مردویه ، ابن جریر ،عبدالرزاق کښې دا حدیث په مختلفو الفاظو سره راغلې دې ([2])دمسند احمد روایت غریب دې په دې کښې یو راوی موسی بن جبیر انصاری سلمی حذاء لره حاتم مستورالحال لیکلې دې.

ابن مردویه کښې یو روایت دا هم دې چه یو شپه دسفر په دروان کښې حضرت عبدالله بن عمر ﷺ د حضرت نافع ﷺ نه تپوس اوکړو چه آیا زهره ستورې راختلې دې ؟ هغه اووئیل چه نه . د دوه درې ځله سوالونو کولو نه پس زهره راوختله نو وې فرمائیل چه دا دی نه خوشحاله وی اونه دې ورسره نیکی اوشی. حضرت نافع ﷺ اوفرمائیل چه یو ستورې دالله ﷻ په حکم سره راخیژی او پریوزی ،تاسو هغې ته بد ولې وائې ؟ وې فرمائیل چه واوره څه هغه وایم چه څه ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی. بیا ئې ددې نه پس پورتنې حدیث (دالفاظو په اختلاف سره) واورولو. خو داهم غریب دې. د حضرت کعب ﷺ والا حدیث د مرفوع نه زیات صحیح موقوف دې . اوممکن دی چه هغه اسرائیلی روایت وی. والله اعلم

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب الطب باب ماانزل الله داء .....:٥٦٧٨، ابن ماجة: ٣٤٣٨)-

[2]) احمد : ١٣٤/٢، مسند البزار:٢٩٣٨، ابن حبان : ٦١٨٦)-

Scanned with CamSc

دصحابه کرامو ﷺ او تابعینو نه هم داقسمه ډیرروایات نقل شوی دی. په بعضو کښې دی چه زهره یو ښځه وه چه هغې فرښتو سره دا شرط لګولې وو چه تاسو ماته هغه دعا اوښائې چه تاسو هغه وائې او آسمان ته خیژئی. هغوی ورته اوخودله. اودا پورته اوختله. او په هغه ځائې ددې نه دستوری شکل جوړشو.(۱) په بعضو مرفوع روایاتو کښې داهم شته دې خو هغه منکر او غیر صحیح دی. په یو بل روایت کښې دی چه ددې واقعې نه مخکښې فرښتو به صرف دایمان والو دپاره دعا دمغفرت کوله خوددې نه پس ئې دټولې زمکې والو دپاره دعا شروع کړه. په بعضو روایتونو کښې دی چه کله ددې دواړو فرښتونه دا غلطئ اوشوې نوبیا نورو فرښتو اقرار اوکړو بنی آدم چه دالله ﷻ نه لرې دی او دالله تعالی ذات ئې لیدلې نه دې اوپه ده باندې ایمان راوړی ، ددوی نه د ګناهونو کیدل څه داسې عجیبه څیز نه دې. دې دواړو فرښتوته اووئیلې شو چه اوس یا خو ددنیا عذاب خوښ کړئی یا د آخرت عذاب دپاره تیارې شئ. دواړو په خپلو کښې مشوره اوکړه او ددنیا عذاب ئې اختیار کړو ځکه دافناکیدووالا او د آخرت عذاب دائمی دې. په یو روایت کښې دی چه هغوی ته الله ﷻ کوم احکام ورکړی وو په هغې کښې دقتل او حرام مال نه منع شوې وه. اودا هم وو چه فیصله انصاف سره کوئی. دا هم وارد شوی دی چه دا درې فرښتې وې خو یود آزمیښت نه انکار اوکړو او واپس شوه ، بیا د دوؤ آزمښت اوشو. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا واقعه د حضرت سلیمان ﷺ د زمانې ده. په دې ځائې کښې د بابل نه مراد بابل دنیاوند دې. ددې ښځې نوم په عربئ کښې زهره وو او په نبطی ژبه کښې ددې نوم بیدخت وو او په فارسئ کښې ناهید وو. دې ښځې دخپل خاوندخلاف یو مقدمه راوړې وه . هرکله چه هغوی ددې سره د بدئی کولو اراده اوکړه نو دې ورته اووئیل چه مخکښې زما دخاوند خلاف فیصله اوکړئی نوبیا څه تیاره یم. هغوی هم داسې اوکړل. بیا ورته هغې اووئیل چه تاسو څه وائې چه آسمان ته پرې خیژئی ؟ هغوی ورته داهم اوخودل. نو دې هغه اووئیل او آسمان طرفته اوختله. خو دراکوزیدو وظیفه ترې هیره شوه. اوهم په هغه ځائې دستوری په شکل کښې مسخ کړې شوه. عبدالله بن عمر ﷺ چه به کله ستوری ته کتل نو لعنت به ئې پرې وئیلو. اوس چه دې فرښتو کله پورته ختل اوغوښتل نو نه ئې شو وئیلې. پوهه شو چه اوس مونږ هلاک شو.

حضرت مجاهد ﷺ فرمائی چه اول اول خو دا فرښتې ترڅو ورڅو پورې ثابت قدم وې ، دسحر نه مابنام پورې ئې په عدل سره فیصلې کولې . مابنام به آسمان ته ختلې او بیا د زهره په کتلو سره ئې په خپلو نفسونو قابو اونه موندلو. زهره ستوری لره دیو ښکلې ښځې په صورت کښې اولیږلې شوه. الغرض د هاروت او ماروت قصه په تابعینو کښې ا کثرو خلقو بیان کړې ده. لکه مجاهد سدی ﷺ ، حسن بصری رحمة الله علیه، قتاده ﷺ ، ابوالعالیه . زهری ﷺ ، ربیع بن انس ﷺ ، مقاتل بن حیان ﷺ وغیره او متقدمینو او متاخرینو مفسرینو په خپلو خپلو تفسیرونو کښې دا نقل کړی ده. خوددې زیات نه زیات دارومدار دبنی اسرائیلوپه کتابونو باندې دې. څه مرفوع متصل حدیث په دې باب کښې د نبی کریم ﷺ نه نه دې ثابت شوې او نه په قران پاک کښې دا دومره په وضاحت سره شته دې ، نو زمونږ ایمان دې چه څومره په قران پاک کښې دی صحیح او درست دی. او حقیقت علم الله ﷻ ته دې (دقران پاک ظاهری الفاظ دمسند احمد ، ا بن حبان ، بیهقی وغیره مرفوع حدیث ، د حضرت علی ﷺ اوحضرت ابن عباس ﷺ او حضرت ابن مسعود ﷺ وغیره موقوف روایات او دتابعینو وغیره تفسیرونه وغیره یو ځائې کولو سره دې واقعې ته څه تقویت ملاویږی. نه په دې کښې څه محال عقلی دې اونه په دې کښې څه داسلامی اصولو خلاف شته دې. بیا د ظاهر نه یوطرفته کیدل او دبې ځایه تکلفاتو هیڅ ضرورت نشته دې والله اعلم ، فتح البیان).

---

(۱) حاکم : ۲۶۵/۲، الطبری: ۴۷۸/۲، والعجاب فی بیان الاسباب لابن حجر: ۱ /۳۲۲)-

Scanned with CamScanner

یوه عجیبه واقعه: - ابن جریر رحمه الله کښې یو غریب اثر او یو عجیبه واقعه ده هغه هم واورئ. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه د دومة الجندل یو ښځه د نبی کریم ﷺ د وفات نه لږ وخت پس د نبی کریم ﷺ په تلاش کښې راغله او د نبی کریم ﷺ دوفات دخبر په آوریدو سره هغه ډیره خفه شوه او ژړل ئې شروع کړل. ما دهغې نه تپوس اوکړو چه دا څه خبره ده ؟ نوهغې اووئیل چه زما او ځماد خاوند په مینځ کښې به همیشه جګړه وه ، یو خل هغه څه پرینښودم او چرته لاړو. ما یو بوډهئ ښځې ته ددې ذکر اوکړو. هغې اووئیل چه څه څه وایم هغه کوه. هغه به تالره ضرور راشی . څه تیاره شوم. هغې دوه سپې دشپې مالره راوستل ، په یو باندې هغه پخپله سوره شوه او په بل باندې څه سوره شوم. لږ وخت پس مونږ بابل ته اورسیدو. ما اوکتل چه دوه سړی هغه ځائی کښې زوړند دی او په اوسپنه کښې ترلې شوی دی. دې ښځې ماته اووئیل ،دوی لره ورشه او دوی ته اووایه چه څه دجادو زده کولو دپاره راغلې یم . ما هغوی ته اووئیل. هغوی اووئیل واوره مونږ خو په آزمیښت کښې یو ته جادو مه زده کوه ، د دې زده کول کفر دې.

ما اووئیل زه خو به ئې زده کوم. هغوی اووئیل ښه بیا لاړه شه او په دې تنور کښې متیازې اوکړه اوراشه. ما اراده اوکړه خو په ماباندې څه ویره راغله . څه واپس شوم او ورته مې اووئیل چه څه فارغه شوم. هغوی اووئیل څه دې اوکتل ما اووئیل هیڅ هم نه. هغوی‌اووئیل چه ته غلط وائې. تر اوسه پورې هیڅ نه دی شوی ستاایمان لا صحیح دې اوس هم واپس شه او کفر مه کوه. ما ورته اووئیل چه څه خو جادو زده کوم .هغوی بیا اووئیل چه لاړه شه او په دې تنور کښې متیازې اوکړه اوبیا راشه. څه بیا لاړم خو دې خل هم زما زړه اونه منل او واپس راغلم. بیا مې داشان سوال وجواب اوشو. څه په دریم خل بیا تنور لره ورغلم او زړه مې کلك کړو او متیازو کولو دپاره کیناستم اوما اوکتل چه یو په آس سور چه دده په مخ باندې نقاب وو آسمان طرفته پورته لاړو. څه واپس راغلم او دوی ته مې ذکر اوکړو. هغوی اووئیل چه ته دې خل رښتیا وائې. هغه ستاایمان وو چه ستانه لاړو اوس لاړه شه. څه راغلم او دې بوډهئ ته مې اووئیلې چه هغوی خوماته هیڅ زده نه کړل. هغې اووئیل چه اوس ستا هر څه زده شو. اوس چه ته څه وائې هغه به کیږی. ما دآزمیښت په طور یو دانه دغنمو واخستله او دامې په زمکه باندې غوزاره کړه اوورته مې اووئیل چه زرغونه شه نو هغه زر زرغونه شوه. ماورته اووئیل چه په تا کښې دې وږی زرغون شی. نو هغه اوشو. ما اووئیل اوچ شئ نو هغه اوچ شو. ما اووئیل بیلې بیلې دانې شئ نو هغه شوې. بیا ماووئیل اوچې شئ نوهغه اوچې شوې ، بیا ما اووئیل اوړۀ شئ نوهغې نه اوړه جوړ شو. ما اووئیل روتې شئ پخې نو هغه پخې شوې. په دې کتلو سره ځمازړه شرمنده شو او ماته په خپل بې ایمانه کیدو ډیر زیات خفګان اوشو. ائې ام المومنین رضي الله عنها! مادې جادو نه هیڅ کار نه دې اخستې اونه مې په چا جادو کړې دې . څه خوداشان په ژړا د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوې یم چه نبی کریم ﷺ ته اووایم ، خوافسوس بدقسمتئ سره ما نبی کریم ﷺ هم اونه لیدو ، اوس څه څه اوکړم. دې وینا سره هغې ژړه انګولا شروع کړه اودومره ئې اوژړل چه هر چاته په دې باندې ترس راغلو. صحابه کرام ﷺ هم حیران وو چه دې ته څه فتوی ورکړی. آخر بعضو صحابه کرامو ﷺ اوفرمائیل چه اوس سوا ددې نه څه کیدیشی چه ته دا کار مه کوه اوتوبه اوباسه او د خپل مور پلار په خدمت کښې اوسه.

ددې اسناد بالکل صحیح دی. خودلته دا خیال ساتل هم پکار دی چه صحابه کرامو ﷺ به په فتوی ورکولو کښې ډیر زیات احتیاط کولو چه په وړه خبره کښې به هم دوی تامل کولو. نن مونږ د لوئې نه لوی خبره هم په خپلې رائې او قیاس سره کوؤ. ددې اسنادبالکل صحیح دی. بعضې خلق وائی چه نظر دجادو په زورسره بدل شی او بعضې وائی چه نه کتوونکو ته دا خیال رازی ، اصلی څیز پشان وی چه څنګه هغه وی لکه څنګه چه په قرآن پاك کښې دی چه ﴿سَحَرُوٓا اَعۡيُنَ النَّاسِ﴾ (دوی دخلقو په سترګوباندې

جادو اوکړو)اوفرمائی چه ﴿يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ﴾حضرت موسی ﷺ طرفته به خیال کیدلې شو چه گویا هغه ماران وغیره دده د جادو په زور سره روان دی. دې واقعې نه داهم معلوم شو چه په دې آیت کښې د بابل لفظ نه مراد دعراق بابل دنیاوند نه دې. د ابن ابی حاتم په یو روایت کښې دی چه حضرت علی ﷺ د بابل په زمکه باندې روان وو ، د مازیګر د مونځ وخت شو خو دوی په هغه خائ کښې مونځ ادا اونه فرمائیلو بلکه ددې زمکې دحد نه دوتلونه پس ئې مونځ ادا اوفرمائیلو. او وې فرمائیل چه زما حبیب ﷺ څه منع کړې یم چه په قبرستان کښې مونځ اوکړم او دبابل په زمکه ئې دمونځ کولونه منع کړې یم. دا زمکه ملعونه ده. (۱) په ابوداود کښې هم داحدیث روایت شوې دې او ابوداود رحمه الله په دې کښې هیڅ کلام نه دې کړې او چه کوم یو حدیث ابوداود په خپل کتاب کښې راوړې دې اوددې په سند باندې خاموش پاتې شوې دې نودهغه حدیث ددوی په نزد حسن وی. دې نه معلوم شو چه دبابل په زمکه باندې مونځ کول مکروه دی لکه د ثمودیانو دزمکې په حقله د نبی کریم ﷺ ارشاد دې چه ددې خلقو منزلونو ته مه ځئ که دتلو اتفاق اوشی نو دالله ﷻ دویرې نه ژاړئ (۲). د هیئت دانو خلقو قول دې چه د بابل لرې والئ د بحر غربی اوقیانوس نه اویا درجې او وسط دزمکې نه جنوب طرفته بخط استواء درې دیرش درجې دې ،والله اعلم.چونکه هاروت اوماروت ته الله ﷻ دخیر او شر ، کفر او ایمان علم ورکړې دې ، ددې وجې دهر یو کفر طرفته ورتلونکی ته نصیحت کوی او په هره طریقه ئې منع کوی، کله چه دا نه منی نو دا کلمات دهغه نه ادا شی او دده د ایمان نور لاړشی. او دایمان نه لاس اووینځی. او ده سره جادو راشی. شیطان دده دوست جوړ شی. د ا یمان دتلو نه پس په ده باندې دالله ﷻ غضب راشی. ابن جریر رحمه الله فرمائی چه سوا د کافر نه دې هیڅوک د جادو زده کولو کوشش نه کوی.

دفتنه نه مراد:- دفتنه معنی په دې ځائې کښې ، مصیبت ،آزمیښت اوامتحان دې .دحضرت موسی ﷺ قول په قران پاک کښې ذکردې چه﴿ إِنْ هِيَ إِلَّا فِتْنَتُكَ ﴾ددې آیت نه داهم معلوم شو چه جادوزده کول کفر دې. په حدیث کښې هم دی چه کوم سړې کاهن یا جادوګر لره ورشی او دهغه خبرې ته رښتیا اووائی نوده په هغه وحی باندې کفر اوکړو چه کومه په حضرت محمد ﷺ باندې نازله شوېده (بزاز). دا حدیث صحیح دې اوددې تائید په نورو احادیثو کښې هم شته دې.

بیا فرمائی چه خلق د هاروت او ماروت نه جادوزده کوی چه ددې په ذریعه غلط کارونه کوی.د ښځې سړی محبت او موافقت په بغض او مخالفت سره بدلوی. په صحیح مسلم کښې حدیث دې چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه شیطان خپل تحت په اویو باندې ایږدی ، بیا خپلې لښکرې د خلقو د غولولودپاره لیږی او دتولو نه زیات مرتبې والا دهغه په نیزد هغه دې چه هغه په فتنه کښې دتولو نه لوئې وی. کله چه دوی واپس رازی نو دخپلوبدترینو کارونو ذکر کوی. څوک وائی ما فلانې داشان بې لاړې کړو ، څوک وائی ما فلانې داشان بې لاړې کړو. څوک وائی ما دفلانی سړی نه دا ګناه سرګنده کړه . شیطان دوی ته وائی چه هیڅ مو نه دی کړی دا خود معمول کارونه دی. تر دې پورې چه یو راشی او وائی چه مادفلانی سړی او دهغه دښځې په مینځ کښې جنګ تود کړو تردې پورې چه دهغوئ په مینځ کښې بیلتون راغلو. شیطان دې راغاړه باسی او ورته وائی چه تا دتولو نه لوئې کار اوکړو. اودې خان سره کینوی اودهغه رتبه اوچتوی(۳)نوجادوګر هم په خپل جادو سره داسې کار کوی چه په هغې سره ښځه او خاوند جدا شی، لکه په شکل وصورت کښې دې ښه اونه لګی یادهغه دعاتونو د طریقو نه دده نفرت

---

(۱) ابوداود: کتاب الصلاة باب فی المواضع التی لا تجوز فیها الصلاة : ۴۹۰)۔

(۲) صحیح بخاری : کتاب الصلوة باب الصلاة مواضع الخسف والعذاب: ۴۳۳، صحیح مسلم: ۲۹۸۰)۔

(۳) صحیح بخاری : کتاب صفات المنافق ، باب تحریش الشیطان: ۲۸۱۳)۔

Scanned with CamSc

پیداکړی اګر چه دا دشریعت خلاف نه وی یانې په زړه کښې عداوت پیدا شی وغیره وغیره. په مزه مزه دا خبرې زیاتیږی د ښځې خاوند په مینځ کښې جدائی راشی. " مرء " وائی سړی ته ، ددې مذکر مونث او تثنیه خو شته دې خوددې جمع نه جوړیږی. بیافرمائی چه هیڅاته هم دالله ﷻ دمرضئ نه بغیر تکلیف نشی ورکولې. یعنی دا ددوی دوس خبره نه ده. دالله ﷻ د قضااو قدرت او دهغه د ارادې نه نقصان هم نشی ورکولې که الله ﷻ اونه غواړی. ددوی جادو بې اثره او بې فائدې دې. دا مطلب هم کیدیشی چه دا جادو هغه سړی ته نقصان ورکوی چه څوك دا حاصل کړی او په دې کښې داخل شی. بیا ارشاد فرمائی چه دوی دا زده اودا ددوی دپاره بالکل نقصانی دی. چه په دې کښې هیڅ فائده نشته دې. او یهودیانو ته دا معلوم دی چه د نبی کریم ﷺ تابعدارئی په پریښودو او جادو پسې لګیدلو والوپه آخرت کښې هیڅ حصه نشته دې اونه ددوی څه قدر او وقعت دالله ﷻ سره شته دې اونه دوی ته دیندار وئیلې کیږی.

قوله تعالی:- وَلَوْاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ

ایمان راوړل او تقوی اختیارول ښه وو:- بیا فرمائی که دوی ددې کار بدی محسوس کړی او ایمان اوتقوی اختیار کړی نو یقینا ددوی دپاره ډیره بهتری ده خودا خلق بې علمه دی. او فرمائی که علم والو اووئیل نوپه هغوی باندې افسوس دې. دالله ﷻ ورکړې شوې ثواب دایماندارو او نیك عملونووالو دپاره ډیر بهتر دې. خودا صبر کوونکو ته ملاویدیشی. د دین بزرګانو په دې آیت هم استدلال کړې دې چه جادوګر کافر دې. ځکه چه په آیت کښې ئې ﴿ وَلَوْاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ ﴾ فرمائیلی دی. حضرت امام احمد رحمه الله اود سلفو یو ډله هم جادو زده کونکی ته کافر وائی. بعضې ورته کافر نه وائی خو فرمائی چه جادوګر حد دادې چه دې دې قتل کړې شی.بجاله بن عبید رحمه الله فرمائی چه حضرت عمر فاروق ﷺ په خپل یو فرمان کښې لیکلی وو چه هر یو جادوګر ښځه سړې دې قتل کړې شی. نومونږد دریوجادوګرانو څټونه جدا کړل . (۱)په صحیح بخاری کښې دی چه ام المومنین حضرت حفصه رضی الله عنها باندې ددې یو وینځې جادوکړې وو چه په دې وجه هغه (وینځه) قتل کړې شوه. (۲)حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه د دریو صحابه کرامو ﷺ نه د جادوګر د قتل کولو فتوی ثابت ده. په ترمذی کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه دجادوګر حد په توره قتلول دی(۳)ددې حدیث راوی اسماعیل بن مسلم ضعیف دې. صحیح خبره دامعلومیږی چه غالبًا داحدیث موقوف دې ، خو طبرانی کښې یو بل سند سره هم دا حدیث مرفوع روایت شوې دې . والله اعلم.

ولیدبن عقبه سره یوجادوګروو چه هغه به خپل کره وړه خودل .چه په ظاهره به دیوسړی سر قلم کړې شو اوبیابه ئې آواز ورکولو نو سر به په خپل خائې باندې شو هغه به موجود شو. په مهاجرینو ﷺ کښې یو بزرګ صحابی دا اوکتل او بله ورځ توره ترلئ راغلو ، هر کله چه ساحر خپل کهیل شروع کړو نو ده په خپلې توړې سره دهغه سړی څټ پریکړو نو ورته ئې اوفرمائیل که ته ریښتونې یئ نو دا ژوندې کړه . بیا ئې دقرآن پاك دا آیت خلقو ته واورولو ﴿ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴾ (آیا تاسو جادولره ورځئ ؟). چونکه دې بزرګ صحابی ددې سړی دقتل کولو اجازت دولید نه نه وو ا خستې نوددې وجې هغه دې اونیولو او ډیر خفه شو او بیانې دې پریښودو.(۴) حضرت امام شافعی رحمه الله ،د حضرت عمرفاروق ﷺ

---

(۱) احمد: ۱۹۰/۱، وهو صحیح ، ددې اصل صحیح بخاری کتاب الذمة باب الجزیة والموادعة مع اهل والحرب: ۳۱۵۶، کښې موجود دې ، خو په هغې کښې د قتل او سحر ذکر نشته دې)-

(۲) موطا امام مالک ، کتاب العقول باب ماجاء فی الغیلة والسحر: ۸۷۱/۲، وهو صحیح بالشواهد)-

(۳) ترمذی کتاب الحدود باب ما جاء فی حد الساحر: ۱۴۶۰)-

(۴) سنن دارقطنی: ۱۱۴/۳، وسنده صحیح)-

Scanned with CamSc

فرمان او د حضرت حفصه رضی الله عنها دواقعې متعلق دا وئیلی دی چه دا حکم په هغه وخت کښې دې چه کله جادو په شرکیه لفظونو سره وی.

دجادو وجود :- معتزله دجادو دوجود منکر دی ، هغوی وائی چه جادوهیڅ څیزنه دې ، بلکه بعضې خلق خو بعضې وخت دومره پوري وائی چه څوك دجادو وجود منی هغه کافر دې. لیکن اهل سنت والجماعت دجادو دوجود قائل دی او دامنی چه جادو کر دخپل جادو په زور سره په هوا باندې قابوموندې شی. اوانسان په ظاهره خر او خر په ظاهر انسان جوړوی. خو دکلماتو اومنتر وغیره په وخت کښې ددې پیدا کولووالا الله تعالی دې. آسمان او ستورو لره تاثیر پیدا کولو والا اهل سنت نه منی. دفلسفې او نجوم والا او بې دینه خلق خو ستورو او آسمان اثرپیداکولو والا منی. داهل سنت یودلیل دا آیت دې چه ﴿ وَمَاهُمْ بِضَآرِّيْنَ ﴾او دویم دلیل پخپله په نبی کریم ﷺ باندې جادوکیدل دی او په نبی کریم ﷺ باندې ددې اثر کیدل دی ، دریم دهغه بنځې واقعه چه کومه حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کړې ده. چه دهغې ذکر شوې دې او هم دا شان نور په سوونوواقعات وغیره دی.

آیا دجادو علم زده کول جائز دی :- ؟ رازی رحمه الله په خپل تفسیر کښې لیکلی دی چه دجادو زده کول بد نه دی. دمحقیقینو هم دا قول دې . ځکه چه دا هم یو علم دې اوالله ﷻ فرمانی چه قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَالَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴾ (علم والا او بې علمه برابر نه دی) او ددې نه وجې هم چه دا معلوم شی چه په دې سره معجزې او دجادو فرق واضح شی. اود معجزې علم واجب دې. او هغه موقوف دې په جادو زده کولو باندې چه په دې سره فرق معلوم شی نو جادو زده کول هم واجب شو. د رازی رحمه الله دا قول بالکل غلط دې ، که هغه عقلی لحاظ سره دې ته بد نه وائی نو معتزله موجود دی چه عقلی لحاظ سره ددې قائل دی. اوکه هغه شرعی لحاظ سره دې ته بدنه وائی نو دقران پاك دشرعی بدو دپاره کافی دې. په صحیح حدیث کښې دی چه یوکس یو جادوکر یا کاهن لره ورشی نوهغه کافر شو. ([1])په سنن کښې حدیث دې چه چا غوټه جوړه کړه او بیا ئې په دې چف اوکړو نو ده جادو اوکړو. نو درازی رحمه الله دا قول غلط دې ، ([2])دهغوی دا وینا چه دا دمحقیقینو قول دې ،دا هم صحیح نه دی ، آخر دداسې محقیقینودپاره داسې اقوال چرته دی ؟ په آنمه اسلام کښې چا داسې هم وئیلی دی چه بیا ﴿هَلْ يَسْتَوِي ﴾ آیت پیش کول هم سوا دجرات نه نور څه نه دی لیکن په آیت کښې دعلم نه مراد دینی علم دې. آیت کښې دشرعی علم والو عالمانو فضیلت بیان شوې دې. بیا دهغوی داقول چه په دې سره دمعجزې علم حاصلیږی نودا خو بالکل فضول او غلطه اوفاسده خبره ده ، ځکه چه د نبی کریم ﷺ دټولو نه لویه معجزه قرآن پاك دې. چه دا د باطل نه بالکل محفوظ دې. خوددې معجزې منلو دپاره دجادو علم زده کولو باندې موقوف نه دی. هغه خلق چه هغوی د جادو نه ډیر لرې دی هغوی هم دامعجزه منلې ده. صحابه کرام رضی الله عنهم ،تابعین رحمهم الله، آئمة المسلمین بلکه عام مسلمان هم دا معجزه منی. حالانکه په دې ټولو کښې نه چا جادو زده کړو اونه جادو لره ورغلو او نه ئې جادو اوخودلو بلکه دې ټولو کارونو ته کفروانی . بیا دا دعوی کول چه دمعجزې پیژندل واجب او دجادو اومعجزې فرق په جادو زده پیژندو باندې موقوف دی ، لهذا دجادو زده کول واجب دا څومره مهمله دعوی ده.

دجادو قسمونه:- اوس دجادو قسمونه واورئی چه دا ابوعبدالله رازی بیان کړی دی .

① یو جادو دستاره پرست ډلې دې. هغوی د اوږ ستورو متعلق دا عقیده لری چه نیکی بدی ددې اوږ ستورو په وجه دی. ددې وجې دې (ستورو) طرفته خطاب کوی او مقرر شوی الفاظ لولی او ددې عبادت کوی. په دې قوم کښې حضرت ابراهیم علیه السلام راغلو او دوی ته ئې هدایت اوکړو. رازی رحمه الله په

---

[1]) البزار:٤٠٦٧)-

[2]) نسائی کتاب المحاربة باب الحکم فی السحرة: ٤٠٨٤)-

Scanned with CamSc

دې فن کښې یو خاص کتاب تصنیف کړې دې چه د هغې نوم " السرالمکتوم فی مخاطبة الشمس و النجوم "دې. اوګورئی ا بن خلکان وغیره. بعضې وائی چه بیائې ددې نه توبه اوویسته. اوبعضې وائی چه صرف معلومولو دپاره او دخپل دې علم ظاهرولو دپاره ئې دا کتاب لیکلې وو او نه دده داعقیده وه چه سراسر کفر دې. په دې کتاب کښې ئې دهغه خلقو طر یقې بیان کړې دی.

④ دوئمه ډله د قوی نفس او قوت واهمه والوخلقو ده. ، دوی وهم او خیال ډیر اثر ګنړی. ګورئی که په یوتنګ پل په زمکه باندې کیخودې شی نو په دې باندې به انسان په آسانئ سره لاړشی. خو که دا پل په یو دریاب باندې وی نو نه شی پرې تیریدې. ځکه چه په هغه وخت کښې خیال وی چه دادې اوس پریوتم ، دادې اوس پریوتم. نودا واهمه دکمزورئی په وجه چه ځومره ځانې باندې په زمکه باندې تلې شو نو په هغه هومره ځانې باندې د ویرې په وجه نشی تلې. حکیمانواو طبیبانو هغه سړې دسور ځیز دکتلو نه منع کړې دې چه دچا نکسیر وی. او مرګی والا ئې دزیاتې تیزې رنړا او دتیزحرکت ځیزونو کتلو نه منع کړی دی چه ددې نه ظاهر دی چه د قوت واهمه یوخاص اثر په طبیعت باندې وی. عقل مندو خلقو په دې باندې هم اتفاق دې چه نظر لګی ،(۱) اوپه صحیح حدیث کښې هم راغلی دی د نظر لګیدل حق دی. که یو ځیز په تقدیر باندې سبقت والا وې نو نظر به وو. اوس چه کله نفس قوی دې نودظاهر اډانړو اوظاهری کارونو هیڅ ضرورت نشته دې. اوکه دومره قوی نه وی نو بیا ددې آلاتو هم ضرورت پیښیږی. چه ځومره دنفس قوت زیاتیږی نوهغه به په روحانیاتو کښې پرمختګ کوی. او په تاثیر کښې به هم پرمختګ کوی. او چه ځومره دا قوت کمیږی نودومره به کمیږی. داکیفیت د غذا دکمی او دخلقو سره د ملاویدو په پریښودو سره هم کیږی. کله کله خو انسان دا حاصل کړی او انسان خپل کارونه دشریعت مطابق اخلی ددې نه. دې حال ته دشریعت په اصطلاح کښې کرامت وائی. دې ته جادو نه وائی. اوکله کله ددې حال نه دباطلوکارونو په کولو کښې مدد اخلی اود دین نه لرې کیږی. داسې خلقونه که څه خلاف شرع کار اوشی نو په دې دهوکه کښې هغوی ته ولی وئیل نه دی پکار. ځکه دشریعت نه خلاف تلو والا ولی الله نشی کیدې. تاسو ګورئی نه چه په صحیح احادیثو کښې ددجال باره کښې څه راغلی دی ؟ هغه به څنګه څنګه خلاف عادت کارونه کوی اوددې په وجه هغه دالله ﷻ ولی نه دې بلکه هغه ملعون اومردود دې.

③ دریم قسم دجادودجناتو په ذریعه دزمکې والو روحونو نه ا مدادطلب کول دی. معتزله او فلاسفه ددې قائل نه دی. دې روحونو سره بعضې مخصوص الفاظ او اعمالوسره تعلق پیدا کیږی ، دې ته سحر بالعزائم او عمل تسخیر وائی.

② ځلورم قسم د خیالاتو بدلول ، په سترګوباندې تیاره راتلل اودهوکه ورکول. چه په هغې سره د حقیقت نه خلاف څه نه څه ښکاره شی. تاسو به کتلی وی دهوکه ورکول رومبې یو کار شروع کوی ، هرکله چه خلق دې طرفته متوجه شی او تول په توله ددې خبرو کښې مشغول شی نو دې چالاقئ سره یو بل کار اوکړی چه دخلقو د نظرونو نه پټ وی او دې ته خلق اوګوری او حیران شی . دبعضو مفسرینوقول دې چه د فرعون د جادوګرو جادو هم داسې وو. هم ددې وجې نه په قران پاک کښې دی چه (سَحَرُوٓا اَعۡيُنَ النَّاسِ وَاسۡتَرۡهَبُوهُمۡ) (دخلقو په سترګو نې جادو اوکړو اوددوی په زړونو کښې ې ویره پیدا کړه) . په بل مقام باندې دی چه(يُخَيَّلُ اِلَيۡهِ) د حضرت موسی ﷺ په خیال کښې هغه ټول لرګی اورسو نه ماران جوړ شوی وو او منډې به نې وهلې ، حالانکه په حقیقت کښې داسې نه وو. والله اعلم.

① بعضو ځیزونو ته څه ترکیب ورکول اوددې نه څه عجیبه کار اخستل ، لکه د خر شکل نې جوړ کړو اوپه دې باندې یو سور جوړول او دده په لاس کښې ناقوس دې او کله چه یو ساعت تیر شو نو ددې

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب السلام باب الطب والمرض والرقی: ۲۱۸۸، ترمذی: ۲۰۹۲)-

Scanned with CamSc

ناقوس نه یواوازراووتلو حالانکه هیچا دې لره نه وو چیرلې. داشان ئې انسانی شکل په دې کاریګرئی سره جوړکړو لکه چه اصلی انسان خاندی یا ژاړی. دفرعون دجادوګرو جادو هم داشان وو ، چه هغوی به ماران وغیره جوړ کړل او د رئبق په وجه دا په حرکت کښې ښکاریدل. ګهړئی او ګنهتې او واړه واړه څیزونه چه په دې سره به وزنی څیزونه راتلل ټول په دې قسم کښې داخل دی. حقیقت کښې دې ته جادو نه دی وئیل پکار. ځکه چه دا خویو ترکیب او کاریګری ده. چه ددې اسباب بالکل ظاهر دی چالره دا کار ورځی نو هغه ددې فنونو نه کار اخستې شی. داشان هغه حیله هم ده چه د بیت المقدس نصرانیانو به کوله چه پراسرار طور سره به ئې د ګرجې قندیلونه اوسیزل اودا به ئې مشهور کړل چه دا ددې ګرجې کرامت دې. او خلق به ئې خپل دین طرفته رامائل کول. دبعضو کرامیه صوفیاء هم داخیال دې که دترغیب او ترهیب حدیثونه بیان کړې شی او خلق عبادت طرفته متوجه کړې شی نو هیڅ حرج نشته دې ، خودالویه غلطی ده . نبی کریم ﷺ فرمائی چه کوم سړې په ماباندې دقصده دروغ پورې کړی نوهغه دې خپل ځائې په جهنم کښې مقرر کړی. (۱)او فرمائی چه زما حدیثونه بیانوئی خو په ماباندې دروغ مه ترئی ، په ماباندې دروغ ترلووالا بالکل جهنمی دې. (۲)

یونصرانی پادری یو ځل اوکتل چه د مرغئ یو وړوکې بچې په ژاله کښې ناست دې اودې الوتې او تللې نشی. هرکله چه هغه خپل ضعیف آواز راوباسی نو مارغان په دې باندې رحم کوئی او د زیتون میوه راوړی او دده په خله کښې ئې ورکوی. دې پادری هم په دې شکل کښې یومرغئ جوړه کړه اوهغه ئې دلاندې نه ډډه کړه اوددې په مخوکه کښې ئې یو سوري پریښودو چه په دې سره به هوا دې کښې دننه ورتله او چه ددې نه به په مخوکه هوا وتله نوددې نه به یوآوازپیدا کیدو اودائې راوړه او په خپله ګرجه کښې ئې کیخوده دهوا په طرف. په چت کښې ئې یو وړوکې شان سوري اوکړو چه په دې سره هوا رازی، اوس چه کله به هوا راتله اوددې نه به آواز راوتلو نوداقسمه مارغان به جمع کیدل اودزیتونو میوې به ئې راوړې او ایښودې به ئې. ددې په خلقو کښې یو شهرت جوړشو چه په دې ګرجا کښې دا کرامت دې.تر دې پورې چه دیو بزرګ مزار دې اودا دهغه کرامت دې. خلقو چه دا په سترګو سره اوکتل نو عقیده ئې په دې پیدا شوه. او په دې قبر باندې ئې نذرونه او منختې اچول شروع کړل اودا کرامت تر لرې لرې پورې مشهور شو. حالانکه نه دا څه کرامت وو او نه څه معجزه. صرف یو پټ فن وو چه دا هغه ملعون سړی د خیتو ډکولو دپاره په پټه ایښودې وو اوهغه لعنتی فرقه په دې باندې معتقد شوی وه.

⑥دبعضې دوایانو پټ خواص معلومول اوهغه په کارراوستل. اودا ظاهردی چه په دوایانوکښې عجیبه عجیبه خاصیتونه وی. مقناطیس ته اوګورئی چه ده طرفته اوسپنه څنګه رازی،اکثر صوفی اوفقیر او درویش هم په داسې حیله بهانوسره دکرامت په طور خلقو ته ښائی او هغوی سره خپل مریدان جوړوی.

⑦په زړه باندې یو خاص قسمه اثر اچول او چه څه غواړی نو په ده ئې منی. لکه هغه ته وائی چه ماته اسم اعظم یاد دې یا جنات زما په قبضه کښې دی. اوس که آوریدو والا دکچه زړه والا او کمزورد غوږونووالا او خرابې عقیدې والا دې نو هغه به دا رښتیا ګنړی ، دې ته یو قسم لره ویره او هیبت او رعب به دده په زړه کښې کینی چه دې سره به دې ضعیف شی. اوس چه څه دې غواړی نو هغه به کولې شی اودده کمزورې زړه به ده ته عجیبه عجیبه خبرې ښائی. دې ته تنبله وائی اودا اکثر کم عقلو خلقوته کیږی. او په علم فراست کامل عقل والا او کم عقل والا انسان معلومولې شی. اوددې حرکت کولو والا په خپل فعل قیافه سره کم عقل والا پیژنی.

---

[۱]) صحیح بخاری : کتاب العلم باب اثم من کذب علی النبی ﷺ : ۱۱۰، صحیح مسلم: ٤)-

[۲]) احمد:۳/۳۹، العلم باب اثم من کذب علی النبی ﷺ : ۱۱۰، صحیح مسلم: ٤)-

Scanned with CamSc

⑧ اتم قسم چغلی کول دروغ رښتیا یو ځائې کول اود چا په زړه کښې خپل ځائې پیدا کول او په پټو چالونو سره هغه خپل مرید جوړول. دا چغل خوری که دخلقو دلمسولو او دهغه دراپاراکولو دپاره او دهغوی په مینځ دښمنئ پیدا کولو دپاره وی نو دا شرعی طورسره حرامه ده. هرکله چه داصلاح په طور وی اوپه خپلو کښې یو بل لره یو ځائې کولو دپاره څه داسې ظاهری خبره اووانی چه په هغې باندې په خپلو کښې صلح اوشی یا مسلمانانو نه څه راتلونکې مصیبت لرې شی یا دکافرو قوت ختم شی ، په هغوی د زړه بدوالئ پیدا شی او په هغوی کښې مخالفت راشی نو دا جائز دی. په حدیث کښې دی چه هغه سړې دروغژن نه دې چه دښیګړې دپاره خلق یو خوا بل خوا بوزی(۱)اولکه څنګه چه په حدیث کښې دی چه جنګ کول دمکر نوم دې (۲)او لکه څنګه چه حضرت نعیم بن مسعود ﷺ دجنګ احزاب په موقعه باندې دعربو کافرو او یهودو ترمینځه څه دیو خوا بل خوا لاندې باندې خبرې کړې وې او په هغوی کښې ئې بیلتون راوستې وو. اوهغوی ته دمسلمانانوپه مقابله کښې شکست اوشو، داکار ډیر د اعلی دماغو والا او زیرک او معامله فهم سړی وی.

یاد ساتئ! امام رازی رحمه الله چه دجادو کوم اته قسمونه بیان کړی دی دا په اعتبار د لفظ دی. ځکه چه په عربئ ژبه کښې سحر یعنی جادو هر هغه څیز ته وائی چه ډیر لطیف او باریك وی او په ظاهر کښې دانسان په نظر کښې دهغې اسباب پټ پاتې شی. هم ددې وجې نه یو حدیث مبارك کښې دی چه بعضې بیان هم جادو وی (۳)او هم ددې وجې دسحر اول وخت ته سحور وائی ځکه چه دا پټ وی او هغه رګ ته هم سحر وائی چه د خوراك نالئ ده . ابو جهل د بدر په ورځ دا وئیلی وو چه دده سحر یعنی د خوراك نالئ پولئ شوه . حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ځماد سحر اونحر په مینځ کښې نبی کریم ﷺ وفات شو(۴)نودنحرنه مراد سینه اود سحرنه مراد رګ د خوراك. په قران پاك کښې هم دی چه ﴿ سَحَرُوٓا اَعۡيُنَ النَّاسِ﴾ (دخلقو د نظرونو نه ئې پټ خپل کار اوویستلو).

ابوعبدالله قرطبی رحمه الله وائی چه مونږ وایو جادو دې او منو چه کله الله تعالی ته منظور وی اوهغه ذات دجادو په وخت کښې چه څه غواړی نوهغه کوی ، اګر چه معتزله اوابو اسحاق اسفرائنی شافعی رحمه الله ددې قائل نه دې. اوکله جادو دلاس په صفائی سره هم کیږی. او کله په غوټو وغیره هم. کله دالله ﷻ دنوم په دم کولو سره چه په دې کښې هم یو خاص اثر دې ، کله دشیطان په نوم اخستلو سره دشیطانی کارونودپاره ئې هم خلق کوی. کله د دوایانووغیره په ذریعه سره. د نبی کریم ﷺ ددې فرمان چه " بعضې بیان جادو دې " دوه مطلبونه کیدیشی.یوخودا چه نبی کریم ﷺ دا د تعریف په طور اووئیل او ممکن دی چه په طور دغندنې ئې دا ارشاد فرمائیلې وی چه هغه خپله غلطه خبره داسې بیانوی چه رښتیا معلومیږی. لکه څنګه چه په یوبل حدیث کښې دی چه کله تاسو مالره څه مقدمه راوړئی او یو سړې په خپلې چالاکئ سره خپله غلطه دعوی صحیح ثابتوی (۵) وزیر ابوالمظفر یحیی بن محمد بن هبیره رحمه الله په خپل کتاب الاشراف علی مذاهب الاشراف کښې دسحر په باب کښې وئیلی دی چه اجماع ده چه جادو حقیقت دې. خو امام ابوحنیفه رحمه الله ددې قول قائل نه دې . دجادو زده کوونکی او ددې استعمالونکی ته حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ، حضرت امام مالك رحمه الله ، حضرت امام احمد رحمه الله

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب الصلح باب لیس الکاذب یصلح بین الناس: ۲۶۹۲، صحیح مسلم: ۲۶۰۵، ابوداود: ۴۹۲۹، ترمذی: ۱۹۳۸)-

[2]) صحیح بخاری : کتاب الجهاد، باب الحرب خدع: ۳۰۳۰، صحیح مسلم ۱۷۳۹،)-

[3]) صحیح بخاری : کتاب النکاح ، باب الخطبة: ۵۱۴۵)-

[4]) صحیح بخاری : کتاب المغازی باب مرالنبی ووفاته: ۴۴۴۹)-

[5]) صحیح بخاری : کتاب المظالم باب اثم من خاصم فی باطل وهو یعلمه: ۲۴۵۸، صحیح مسلم: ۱۷۱۳)-

Scanned with CamScanner

کافر وائی. دامام ابوحنیفه دبعضو شاګردانو قول دي که جادو دخپل بچاؤ دپاره زده کړي نو کافر نه دي ، خو چه څوك ددي عقیده ساتي او دا فائده رسونکي ګڼړي نو هغه کافر دي. اوداشان چه څوك دا خیال کوی چه شیطانان ذا کارکوی او دومره قدرت لری هغه هم کافر دي. حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دجادوګر نه دي تپوس اوکړي شی که هغه د بابل والو پشان عقیده لری اواوؤ ستورو لره دتاثیر والا ګڼړی ، نو کافر دي . اوکه نه وی اوجادو لره جائز ګڼړی نوبیا هم کافردي. د حضرت امام مالك رحمه الله اوحضرت امام احمد رحمه الله هم داقول دي چه جادوګر کله جادو کوی اوجادو په استعمال کښي راولی نو هغه دي په هغه څائي کښي قتل کړي شی. حضرت امام شافعی رحمه الله او حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه تر کومي پوري بار بار اونکړی یا د چامعین کس په باره کښي پخپله اقرار اونکړی نوهغي پوري دي نه قتل کوی. دري واړه امامان رحمهم الله فرمائی چه دده قتل کول د حد په وجه دی. خو امام شافعی رحمه الله بیان دي چه دا په وجه دقصاص دی.د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او حضرت امام مالك رحمه الله او یو مشهور قول کښي د حضرت امام احمد رحمه الله فرمان دي چه په جادوګر دي توبه هم نه اوباسی ځکه چه دده توبه دي دحد نه شی بچ کولي.دحضرت امام شافعی رحمه الله قول دي چه دده توبه به قبوله وی. په یو روایت کښي دامام احمد رحمه الله هم دا قول دي. د اهل کتابو جادوګر به هم د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیزقتل کولي شی. خو د حضرت امام مالك رحمه الله ، حضرت امام شافعی رحمه الله او د حضرت ا مام احمدبن حنبل رحمه الله مذهب ددي نه خلاف دي. لبید بن اعصم یهودی په حضرت محمد ﷺ باندي جادو کړي وو او نبی کریم ﷺ دهغه دقتل کولو حکم نه وو فرمائیلي. ([1])که څوك مسلمانه جادوګره وی نودهغي باره کښي حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه هغه دي قید کړي شی او حضرت امام ا حمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه هغه دي هم دسړی پشان قتل کړي شی.والله اعلم.

د حضرت زهری رحمه الله قول دي چه مسلمان جادوګر دي قتل کړي شی او مشرك دي قتل نه کړي شی. حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی که د ذمی په جادو سره څوك مړ شی نو ذمی هم قتل کول پکار دی. دا هم ددوی نه روایت دي چه مخکښي دي هغه ته اووئیلي شی چه توبه اوباسه که هغه توبه اوباسی او اسلام قبول کړی نو خیر دي ګنی قتل دي کړیشی. اودا هم ددوی نه روایت دي چه که اسلام قبول کړی نوبیا دي هم قتل کړي شی. هغه جادوګر لره چه دهغه په جادو کښي شرکیه الفاظ وی ، آنمه اربعه وغیره هغه ته کافر وائی. ځکه چه په قران پاك کښي دی ﴿ فَلَا تَكْفُرْ ﴾.

حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی که په ده باندي غلبه اوموندي شی اوبیا دي توبه اوباسی نوتوبه نې قبوله نه ده لکه زندیق .خوکه ددي نه مخکښي توبه اوباسی نو قبوله به وی. که دده په جادو سره څوك مړه شو نوبیا به دي په هر صورت کښي قتل کړي شی. امام شافعی رحمه الله فرمائی که چرې هغه اووائی چه ما دده دوژلو دپاره په ده جادونه دي کړي نو دقتل خطا دیت (جرمانه) دي واخستلي شی.

جادوګرنه دهغه جادو لري کولو دپاره حضرت سعید بن مسیب رحمه الله اجازت ورکړي دي. لکه څنګه چه په صحیح بخاری کښي دی. ([2])عامر شعبی رحمه الله هم په دي کښي څه حرج نه ښائی. خو حضرت حسن بصری رحمه الله دي ته مکروه وائی. حضرت عائشه رضي الله عنها د نبی کریم ﷺ په خدمت کښي عرض کړي وو چه تاسو ولي جادو لري کوئی نه ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ماته الله ﷻ شفا راکړه او څه په خلقو باندي بدئی لري کولو نه ویریږم. ([3])حضرت وهب رحمه الله فرمائی چه د بیري اووه پتي دي واخستي شی او په چتو دي میده کړي شی او په اوبو کښي دي ګډ کړي شی ،بیا دي په دي باندي آیت الکرسی اووائی او

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب الطب باب السحر: ۵۷۶۳، صحیح مسلم: ۲۱۸۹)-

[2]) صحیح بخاری : کتاب الطب ، باب هل یستخرج السحرتعلیقا)-

[3]) صحیح بخاری : کتاب الطب باب السحر: ۵۷۶۶، صحیح مسلم: ۲۱۸۹)-

Scanned with CamSc

چه په چا باندې جادو شوې وې هغه ته دې درې ګوټه ورکړيشي او په باقي اوبودې غسل اوکړي نوانشاء الله دده به دجادو اثر لرې شي. داعمل دهغه سړي دپاره ډير ښه دې چه د خپلې بې بې نه منع (بند) کړې شوې وې. دجادو لرې کولو اوددې ختمولودپاره دټولونه ښه ځيز سورت الفلق اوسورت الناس دې سورتونه دې. په حديث مبارک کښې دې چه ددې په شان هيڅ تعويذ نشته دې.(۱) داشان آيت الکرسی هم دشيطان لرې کولو دپاره ډير داعلی درجې ځيزدې.(۲)

د جادو حکم

مسلک حنفی:- دسحر په باره کښې پوره تفصيل زه دلته کښې نشم کولې ځکه چه د سحر مختلف قسمونه دی او دهريو خپل خپل حکم دې که تفصيل غواړئ نو احکام القران للعثمانی رحمه الله ته رجوع اوکړئ(احکام القران ۱۱۱ ۴۰ تا ۵۳)-

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَقُوْلُوْا	رَاعِنَا	وَقُوْلُوا	انْظُرْنَا
اے هغه کسانو|چې ايمان موراوړې دې|	مه وايئ	راعنا تکې	|اووايئ	انظرنا	
ائې مسلمانانو تاسوهيڅرې لفظ د راعنا مه وائې					اوددې په خائې(انظرنا وائې
وَاسْمَعُوْا ؕ	وَلِلْكٰفِرِيْنَ	عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝	مَا يَوَدُّ	الَّذِيْنَ	
اووراوړئ خبره په توجه سره	اودې دپاره دکافرانو	عذاب دردناک	نه خوښوی	هغه کسان	
اوخبرې ته ښه غوږ اوونيسئ اوکافرو دپاره دردناک عذاب مقرر دې	نوخوښوی هغه کسان				
كَفَرُوْا	مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ	وَلَا الْمُشْرِكِيْنَ	اَنْ	يُّنَزَّلَ	
چې دحق نه ئې انکارکړې دې	د اهل	کتابونه	اونه د مشرکانونه	دا خبره چې	نازل شی
چه کفرئې کړې دې د اهل کتابو نه	اونه بت پرست مشرکان	چې په تاسو نازل شی			
عَلَيْكُمْ	مِّنْ خَيْرٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ	وَاللّٰهُ	يَخْتَصُّ	بِرَحْمَتِهٖ	مَنْ
په تاسو باند څه	خيرد طرفه درب ستاسو نه|	اوالله	اخاص کوی |په رحمت خپل سره|هغه څوک چې	
په تاسوباندې دخپل پروردګار دطرفنه لږ ډيرخير(وحی)	اوالله خپل رحمتونه خاص هغه چا ته ورکوی				
يَّشَآءُ ؕ	وَاللّٰهُ	ذُو الْفَضْلِ	الْعَظِيْمِ ۝		
خوښ ئې شی	اوالله	خاوند	دفضل	لوئ دې		
چې چاته ئې رضا شی(هغه دچانه مشورې نه اخلی)					

د مشتبه الفاظو د نه استعمال حکم:- په دې ايت کښې الله ﷻ خپلو مومنانو بندګانوته دکافرو په پشان بول چال او دهغوی دکارونومشابهت نه منع کوی. يهودو به بعضې الفاظ په پټه ژبه کښې وئيل. او دهغې مطلب به ئې بد اخستو. هرکله چه به هغوی دا وئيل چه زمونږ واوره نو وئيل به ئې " راعنا " او ددې نه مراد به ئې رعونت او سرکشی اخسته لکه په بل خائې کښې فرمانی چه ﴿مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا الخ﴾ (په يهودو کښې داسې خلق هم دی چه هغوی خبرې داصليت نه اړوی او وائی چه مونږ آورو خو منو ئې نه)خپلې ژبې به ئې کړې وړې کړې او په دين کښې د طعنې دپاره به ئې ﴿رَاعِنَا﴾ وئيل.او که اووئيلې شی

---

(۱) نسائی کتاب الاستعاذه باب ماجاء فی سورتی المعوذتين : ۵۴۴۰، وهو حسن)-
(۲) صحيح بخاری : کتاب فضائل القران باب فضل فی سورة البقرة : ۵۰۱۰)-

Scanned with CamScanner

چه مونږ واوريدل او مونږ اومنل اوزمونږ خبره واوره او مونږ طرفته متوجه شه نو ددوی دپاره به دا بهتر وي اومناسب به وي خو ددوی دکفر په وجه الله ﷻ دوی لره دخپل رحمت نه لرې کړی دی په دوی کښې ایمان ډیر کم دي.

په احادیثو مبارکو کښې دی چه کله خلق سلام کوی نو ﴿السام علیکم﴾ وائی او د ﴿سام﴾ معنی مرګ دي نو تاسو ددوی په جواب کښې ﴿وعلیکم﴾ وائي ، زمونږ دعابه ددوی په حق کښې قبوله شی اوددوی بددعا به زمونږ په حق کښې قبوله نه وی. (۱) غرض دا چه په قول او فعل کښې ددوی مشابهت منع دي. په مسند احمد کښې یو حدیث دي چه " څه قیامت ته نزدې دتورې سره لیږلې شوی یم ، زما رزق الله ﷻ دتورو او نیزو لاندې اېښودې دي ، ذلت اورسوائی دهغه خلقو دپاره ده چه څوک زما احکامو خلاف کوی. اوچه دکوم سړي یو غیر مسلم قوم سره مشابهت اوکړی هغه دهغوی نه دي (۲) په ابو داود کښې هم دامشابهت والا حصه روایت شوې ده (۳) ددې آیت او حدیث نه ثابت شو چه کافرواقوال ،لباس ، اختر اوعبادت کښې دهغوی مشابهت کول زمونږ دپاره مشروع او مقرر نه دی ،سخت منع دی او په دې باندې شریعت کښې دعذاب زورنه اوسخته ویره او حرمت دي.

مسلمانانو ته د خطاب نه پس:-حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه کله تاسو په قران کریم کښې واورئی چه ﴿ يَاأَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ نو غوږ ورته کیږدئی اودزړه په توجه سره ئې آورئی نود څه بدئی نه به ممانعت وی یا به دنیکئ حکم وی. حضرت خیثمه ﷺ فرمائی چه په تورات کښې الله ﷻ بنی اسرائیلو ته خطاب کوی او فرمائی چه ﴿یاایهاالمساکین﴾ خو د محمد ﷺ امت ته ﴿ يَاأَيُّهَاالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ په معززو الفاظو سره خطاب کوی.د ﴿رَاعِنَا﴾ معنی ده زمونږ طرفته غوږاونیسه. لکه ﴿عاطنا﴾ (۴) حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ددې معنی دمخالفت ده (۵) یعنی خلا ف مه وایه . ددوی نه دا هم روایت دي چه مطلب دادي چه ته زمونږ واوره او مونږ به ستا. انصارو هم دا لفظ نبی کریم ﷺ ته وئیل شروع کړې وو ، خو قران پاک ددې نه دوی منع کړل (۶) حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه راعن وائی دخندا خبرې ته یعنی تاسو د نبی کریم ﷺ خبرو او اسلام سره خندا مه کوئی. ابوصخر رحمه الله وائی چه کله به نبی کریم ﷺ تلو او دوی به ورته څه خبره کوله نودوی به وئیل خپل غوږ دې خوا کړه. الله ﷻ دوی ددې بې ادبئ نه منع کړل. او دخپل نبی دعزت کولو تعلیم ئې ورکړو. حضرت سدی رحمه الله فرمائی چه رفاعه بن زید یهودی نبی کریم ﷺ سره خبرې کولې اودا الفاظ ئې وئیل. مسلمانانو هم دا خیال اوکړو چه دا د ادب لفظ دي نودوی هم لفظ وئیل شروع کړو. چه ددې نه دوی منع کړې شو. لکه څنګه چه په سورت نساء کښې دی . مقصد دادي چه داکلمه الله ﷻ ته ښه او نه لګیده او ددې د استعمال نه ئې مسلمانان منع کړل. لکه څنګه چه په حدیث مبارک کښې دی چه انګور ته کرم او غلام ته عبد مه وائي (۷) وغیره . او الله ﷻ ددې بدظنو خلقو حسد او بغض بیانوی چه اې مسلمانانو ! چه تاسو ته ددې کامل نبی ﷺ په ذریعه کامل شریعت ملاؤ شوې دي ، ددې نه دوی سوزی ، دوی ته اووایه چه دا خوالله ﷻ فضل دي چه چاته ئې ورکول غواړی نو ورکوی ئې . هغه ډیر لوئي فضل والا او کرم والا دي.

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب الاستئذان ، باب کیف الراد علی اهل الذمة باالاسلام: ۶۲۵۷، صحیح مسلم : ۲۱۶۴)-

(۲) احمد ۲/۵۰)-

(۳) ابو داود: کتاب للباس: باب فی لبس الشهرة: ۴۰۳۱، وهو حسن مشکل الاثار للطحاوی: ۸۸/۱)-

(۴) الطبری: ۴۶۱/۲)-

(۵) ابن ابی حاتم: ۱/۳۱۸)-

(۶) ابن ابی حاتم : ۱ /۳۱۸)-

(۷) صحیح مسلم : کتاب الالفاظ من الادب ، باب کراهیة العنب کرما: ۲۲۴۸، صحیح بخاری: ۲۵۵۲)-

Scanned with CamSc

مَا نَنْسَخْ	مِنْ اٰيَةٍ
	هغه چې منسوخ کوؤ مونږ	یو آیت
	مونږ چې کوم حکم منسوخ کړو
اَوْ نُنْسِهَا	نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ؕ اَلَمْ تَعْلَمْ
	یاني هیر کړو	نو راوړو مونږ	بهتر	د هغه ایت نه	یا په مثل دهغې	آیانشته	علم تاته
	یاني ستا زړه نه هیروؤ	نودهغې نه غوره یا دهغې پشان (بل حکم) رالیږو	اولې ته نه پوهیږې
اَنَّ اللّٰهَ	عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝ اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ
	چې بیشکه الله	په هرشیز باندې	قادر دې	آیا نشته	پته تاته	چې بیشکه الله	لره ده	بادشاهی
	چې الله په هرشه قدرت لری	آیا ته نه پوهیږې (بلکه ښه پوهیږې) چې بادشاهی
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَا	لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝
	دآسمانونو	اودزمکې	اونشته	ستاسو دپاره	ماسوا د الله نه	څوك دوست	اونه مددګار
	دآسمانونو اودزمکې یوازې دالله ده	او بې دالله نه ستاسو څوک دوست نشته	اونه څوک مددګارشته

دناسخ اومنسوخ بحث:-حضرت ابن عباس ﷺ فرمانی چه دننسخ معنی دبدلون ده. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه د ختمولو په معنی کښې دی. چه هیڅ کله په لیکلو کښې باقی پاتې نشی. او حکم بدلیږی. د حضرت ابن مسعود ﷺ شاګرد او ابوالعالیه رحمه الله او محمد بن کعب قرظی رحمه الله نه هم دا شان روایت دی.ضحاك رحمه الله فرمائی چه دهیرولو په معنی کښې دی. عطاء رحمه الله فرمائی چه د پریښودلو په معنی کښې رازی.سدی رحمه الله فرمائی چه داوچتولو په معنی دی. لکه آیت ﴿الشیخ والشیخة اذازنیا فارجموهما البتة﴾ یعنی زانی سړی او زانیه ښځه دې سنګسار کړې شی ، او لکه څنګه چه په آیت ﴿ لوکان لابن ادم و ادیان من ذهب لابتغی لهما ثالثا﴾ یعنی ابن آدم ته که دوه څنګلونه ملاو شی نو بیا به هم دې د دریم په تلاش کښې وی. ابن جریر رحمه الله فرمائی چه په احکامو کښې بدلون ته مونږ کوؤ. حلال لره حرام ، حرام لره حلال،جائز لره ناجائز او ناجائز لره جائز وغیره. حکم کول ، منع کول او رخصت او اجازت او په ممنوعه کارونو کښې تنسیخ وی. خو چه کوم خبر ورکړې شوې دې ، واقعات بیان شوی دی په هغې کښې ردوبدل او ناسخ اومنسوخ نه کیږی.

دنسخې لفظی معنی:- د نسخ لفظی معنی نقل کول دی. لکه دکتاب دیو نسخې نه بله نسخه نقل کول. داشان دیو حکم په بدله کښې بل حکم بدلول. دې وجې نه دې ته نسخ وائی. که د حکم بدلون وی اوکه د الفاظو بدلون وی.

د نسخ اصطلاحی معنی:- د علماء اصول عبارتونه اګر چه په دې کښې مختلف دی خو د معنې په لحاظ سره ټول نزدې نزدې دی. دنسخ معنی په شرعی حکم کښې ددې دروستو والا دلیل په وجه لرې کول دی. کله د آسان څیز په بدله کښې ګران وی او کله د ګران په بدله کښې آسان. اوکله هډو څه بدلولې نشی،پاتې شو دنسخ احکام ، ددې قسمونه او ددې شرائط وغیره د فن په کتابونو کښې کتل پکار دی. په تفسیر کښې ددې احکامو دبیانولو ځائې نشته دې.

په طبرانی کښې یو حدیث دې چه دوه کسانو د حضرت نبی اکرم ﷺ نه یوسورت یاد کړې وو ، او دوی به هغه لوستلو. یوځل ئې دشپې په مونځ کښې ډیر ګوشش اوکړو چه دا اووانی خو قوت حافظې ورسره ملګرتیا اونکړه. په دې اوویریدل او د حضرت نبی اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او حضرت

Scanned with CamScanner

نبی اکرم ﷺ ته ئې ددې ذکر اوکړو. حضرت نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمانیل دا منسوخ شوې دې او هیر کړې شوې دې،دزړونو نه اوښکلې شوې دې ،تاسو هیڅ غم او فکرمه کوئی.

زهری به د نون خفیفه پیش سره وئیلو(نُنْسِهَا) ددې یو راوی سلیمان بن ارقم دې او هغه ضعیف دې ابوبکر انباری رحمه الله نه هم په بل سند سره دا مرفوع روایت نقل کړې دې. لکه د قرطبی رحمه الله بیان دې چه **(ننسها)** لره **(ننساها)** هم وئیلې شوې دې.د **(ننساها)** معنی روستوکول اوموخر کول دې.حضرت ابن عباس رضی الله عنه ددې په تفسیر کښې فرمائی چه یعنی مونږ دا پریږدو ، منسوخ کوؤ نه . د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه شاګرد وائې یعنی مونږ ددې الفاظو لره باقی ساتو او حکم ئې بدلوؤ. عبد بن عمیر رحمه الله ، مجاهد رحمه الله اوعطاء رحمه الله نه روایت دې چه مونږ دا موخر کوؤ او روستو کوؤ ئې. عطیه عوفی رحمه الله ، سدی رحمه الله او ربیع رحمه الله وائی یعنی منسوخ کوؤ ئې نه،ضحاك رحمه الله وائی چه ناسخ منسوخ لره روستو کوی. ابوالعالیه رحمه الله وائی چه دا خپل ځان سره ساتو. حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خطبه کښې **(ننساها)** اووئیل اوددې معنی موخر کول ئی بیان کړې ده. **(ننساها)** چه کله اووائی نو مطلب به ئې داوی چه مونږ دا هیروؤ. الله ﷻ چه کوم حکم لره اوچتول غوښتل نوهغه به ئې د حضرت نبی اکرم ﷺ نه هیرولو. داشان هغه آیت به پورته شو. سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه به دا **(ننسها)** وئیلو. نوده ته قاسم بن ربیعه اووئیل چه سعید بن مسیب رحمه الله خو دا **(ننساها)** وائی.نوهغوی اوفرمانیل چه په سعید یا د سعید په خاندان خو قران پاك نه دې نازل شوې. الله ﷻ فرمائی چه ﴿ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنْسٰٓى ۝﴾ (مونږ به تاته زده کوؤ چه هغه به ته نه هیروې). او فرمائی چه ﴿ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ اِذَا نَسِيْتَ﴾ (هرکله چه هیر کړې نو خپل رب لره یاد کړه). حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمائی چه حضرت علی رضی الله عنه دټولونه ښه فیصله کولو والا دې. او ابی رضی الله عنه دټولونه زیات قاری دقران پاك دې او مونږ د ابی رضی الله عنه قول پریږدو ځکه چه ابی رضی الله عنه وائی چه ما څه درسول الله ﷺ نه آوریدلی دی هغه به نه پریږدم .اوالله ﷻ فرمائی چه ﴿مَا نَنْسَخْ﴾ یعنی مونږ چه څه منسوخ کړل یا هیرکړو نوهغې نه بهتر راوړو. یا ددې پشان یا ددې نه بهتر وی. (بخاری و مسند احمد)یعنی د بندګانودسهولت یا ددوی دآرام لحاظ سره یا ددې په شان وی خو دالله ﷻ مصلحت په دې روستی څیز کښې وی.

دنسخې جواز:- الله ﷻ حاکم مطلق او مختار کل دې. په مخلوق کښې هیر پهیر کولووالا ، دپیدائش او د حکم اختیار لرلو والایوالله ﷻ دې. چه څنګه غواړی نو جوړوی او چه چاته اوغواړی نو نیك بختی ورکوی او چه چالره اوغواړی نو بدبختی ورکوی ، چالره چه اوغواړی نو صحت ورکوی او چالره چه اوغواړی بیماری ورکوی. چالره چه اوغواړی نو توفیق ورکوی او چالره چه اوغواړی نو بدنصیبه ئې کړی. په بندګانو چه کوم حکم غواړی نوجاری کوئی ئې ، چه څه اوغواړی نو حلالوی او چه څه اوغواړی نوحراموی،چالره چه اوغواړی نو رخصت ورکړی او چالره چه اوغواړی نو منع ئې کړی ، هغه حاکم مطلق دې چه څه احکام جاری کول غواړی نو هغه جاری کړی او ،هیڅوك دهغه حکم نشی ردکولې . چه څه غواړی هغه کوی دهغه نه څوك تپوس کولو والا نشته دې.هغه پاك ذات بندګانو لره آزمائی اوګوری چه هغوی دنبیانواو د رسولانو څنګه تابعداری کوی ، دیو څیز دمصلحت په وجه ئې د هغې حکم ورکړو او بیا د څه مصلحت په وجه ئې هغه ختم کړو. اوس آزمښت کیږی دنیکو خلقو نو په هغه وخت هم هغوئ لاس په نامه ولاړ وو او اوس هم دی. خوبد باطن خلق خبرې جوړوی او پوزې نچونړه وی.حالانکه ټول مخلوق لره پکار دی چه دخپل خالق ټولې خبرې اومنی.اوپه هر حال کښې د رسول ﷺ په نقش قدم باندې تلل پکار دی او چه څه اووائی هغه په زړه سره منل پکار دی ، او چه څه حکم ورکوی هغه منل پکار دی او چه دکومو نه منع اوکړی نو دهغې نه دې منع اوکړی.

د یهودیانودعدم نسخ تردید:- په دې ځائې کښې هم دیهودیانو زبردست رد دې. اودهغوی دکفر بیان دې چه هغوی د تنسیخ قائل نه وو. بعضې خووائی چه په دې کښې محال عقلی لازم رازی او بعضې به

Scanned with CamScanner

محال نقلی منلو. په دې آیت کښې اګر چه خطاب رسول کریم ﷺ ته دې مګر دراصل دا کلام یهودیانو ته آورول دی. چه هغوی انجیل اوقران په دې وجه نه منلو چه په دې کښې بعضې احکام د تورات منسوخ شوی وو. او هم په دې وجه هغوی ددې نبیانو د نبوت نه هم دعناد او تکبر په وجه منکر وو. ګنې عقلاً نسخ محال نه ده ځکه چه څنګه هغه په خپلو کارونو کښې بااختیار دې داشان په حکمونوکښې هم بااختیار دې چه څه غواړی اوکله غواړی ، څنګه غواړی او څنګه نې غواړی او چه په څه وخت کښې نې غواړی،داشان چه څه غواړی او په څه وخت کښې نې غواړی حکم ورکوی ، ددې حاکمانوحاکم څوک دې؟داشان نقلاً داهم ثابت شوې امردې چه کوم په رومبنی کتابونوکښې او په رومبنی شریعتونو کښې موجود دې.

فرعی احکامو کښې تبدیلئ: ①د حضرت آدم ﷺ څامن او لونړه په خپلو کښې رونړه خوښندې وې لیکن نکاح نې جائز وه. بیا نې دا حرام کړل②حضرت نوح ﷺ چه کله په کشتئ کښې سور شو نو په دې وخت کښې دټولوحیواناتو خوراك حلال وو. خو بیا دبعضو حلت منسوخ شو③د دوؤ خوښندو نکاح په بنی اسرائیلو اوددوی په اولاد حلاله وه لیکن بیا ددې نه پس په تورات کښې حرام شو④حضرت ابراهیم ﷺ ته د څوئې د قربانی کولو حکم اوشو بیا د قربانئ کولو نه مخکښې مخکښې دا منسوخ کړې شو⑤بنی اسرائیلو ته حکم شوې وو چه څوك د سخی په عبادت کولو کښې شامل وو ټول دې خپل ځانونه قتل کړی خو اوسه پورې لا ډیر باقی وو چه دا منسوخ کړې شو. داشان نور ډیر واقعات موجود دی ، او پخپله یهودیان هم ددې اقرار کوی ، لیکن بیا هم قران پاك او نبی آخر الزمان ﷺ لره دوی نه منی اودا وائی چه په دې سره دالله تعالی په کلام کښې نسخ لازمیږی او هغه محال ده.

بعضې خلق ددې په جواب کښې په لفظی بحثونو کښې پریوزی ، هغوی دې یادساتی چه په دې سره دلالت نه بدلیږی او مقصودتری هغه دې. د رسول کریم ﷺ بشارت به دې خلقو په خپلو کتابونو کښې موندلو ، د رسول کریم ﷺ د تابعدارئی حکم به نې کولو ، اودا ورته هم معلوم وو د رسول کریم ﷺ شریعت مطابق کوم یو عمل نه وی هغه مقبول نه دې.دا بیله خبره ده چه څوك اووائی چه هغه مخکښې شریعتونه صرف د رسول کریم ﷺ تر راتلو پورې وو،ددې وجې دهغوی دا شریعت ناسخ نشو ، یا اووائی چه ناسخ دې. بهر حال د رسول کریم ﷺ دتابعدارئی نه بغیر هیڅ چاره نشته دې. ځکه چه رسول کریم ﷺ د الله ﷻ د طرفنه خپل آخری کتاب راوړې دې ، نو په دې آیت کښې الله ﷻ دنسخ جواز بیان کړې دې او ددې ملعونې ډلې یعنی یهودو رد نې کړې دې.په سورت آل عمران کښې هم بنی اسرائیلو ته خطاب شوې دې ، دنسخ دواقع کیدو ذکر موجود دې. فرمان دې چه ﴿ كُلُّ الطَّعَامِ ﴾ یعنی ټول خوراکونه په بنی اسرائیلوباندې حلال وو خو چه کوم یو څیز حضرت اسرائیل ﷺ په خپل ځان باندې حرام کړې وو ، دهغې نور تفصیل به مخکښې په هغه مقام باندې راشی انشاء الله . دټولو مسلمانانو په دې باندې اتفاق دې چه دالله ﷻ په احکامو کښې نسخ کول جائز دی بلکه واقع شوې هم دې. اوهم په دې باندې دالله ﷻ حکمت بالغه دې.

دابومسلم اصبهانی نظریه د عدم نسخ :- ابو مسلم اصبهانی مفسر لیکی چه په قران پاك کښې نسخ نه واقع کیږی خودده دا قول ضعیف دې اومردود دې او صرف غلط او دروغ دې. چه په کوم کوم ځائې کښې د قرانپاك نسخ موجود ده ددې په جواب کښې اګر چه ابو مسلم ډیر محنت کړې دې خو بې سوده دې. چه د کومې ښځې خاوند مړ شی . مخکښې دهغې عدت یو کال وو ، بیا څلور میاشتې لس ورځې شو. او دواړه آیتونه په قران پاك کښې موجود دی. قبله مخکښې بیت المقدس وه او بیا کعبه شوه. دویم آیت بالکل صفا او رومبې حکم ضمناً ذکر شوې دې. مخکښې مسلمانانو ته حکم وو یو یو مسلمان دې لسولسو کافرو سره جنګ کوی اوددوی دمقابلې نه دې مخ نه اړوی. خوبیا دا منسوخ شو او د دوؤ په مقابله کښې دصبر کولو حکم اوشو او دواړه آیتونه په کلام الله کښې موجود دی. مخکښې

Scanned with CamScanner

حکم وو چه نبی ﷺ سره دپټو خبرو نه مخکښې صدقه ورکوئی خوبیا دا حکم منسوخ شو او دوارې آیتونه په قران پاك کښې موجود دی ، وغیره وغیره ، والله اعلم.

أَمْ تُرِيدُونَ	أَنْ تَسْـَٔلُوا	رَسُولَكُمْ	كَمَا	سُئِلَ
نوآیا تاسو غواړئ	چې تپوسونه اوکړئ	د رسول	خپل نه	لکه څنګه چې	تپوسونه شوی وو
آیا تاسو دخپل پیغمبرنه هغه شان تپوسونه کول غواړئ لکه څنګه چې به د دې نه وړاندې د موسی				
مُوسَىٰ	مِن قَبْلُ ۗ	وَمَن يَتَبَدَّلِ	الْكُفْرَ	بِالْإِيمَانِ	فَقَدْ
دموسی ﷺ نه	مخکښې ددې نه	حالانکه څوك چې بدلوی	کفر	په ایمان باندې	نو یقینا چې
نه ددې نه تپوسونه کولې شو		اوچاچې کفرپه ایمان بدل کړو			نوبیشکه
ضَلَّ	سَوَآءَ السَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾				
بې لاره شو	دصحیح لارې نه	غواړی			
هغه دسمې لارې نه واوړیدو شو					

د بې فائدې سوالونو نه ممانعت :- په دې آیت کریمه کښې الله ﷻ ایماندار منع کوی چه د څه واقعې د کیدو نه مخکښې زما دنبی نه فضول سوالونه مه کوئی. د ډیرو سوالونو عادت ډیر خراب دې. لکه دالله ﷻ ارشاد دې چه﴿ يَاأَيُّهَاالَّذِينَ اٰمَنُوْالَاتَسْئَلُوْاعَنْ اَشْيَآءَ﴾ (ائې ایماندارو دهغه څیزونو سوال مه کوئی که هغه ښکاره کړې شی نو ستاسو به خوښ نه شی اوکه د قران پاك د نازلیدو په زمانه کښې داسې خبرې اترې کوئی نو دا څیزونه به ښکاره کړې شی. هسې نه چه د یو څیز باره کښې دسوال کولو نه مخکښې هغه څیز حرام نشی).

بې مطلبه تپوس کول:- په صحیح حدیث مبارك کښې دی چه په مسلمانانو کښې دټولونه غټ مجرم هغه دې چه دیو څیز باره کښې سوال اوکړی چه هغه حرام نه وو او دده په سوال کولو سره هغه څیز حرام شو (۱)یوځل د رسول کریم ﷺ نه تپوس اوشو که یو سړې خپلې ښځې سره پردې سړې اووینی نو څه به کوی ؟ که خلقو ته ددې خبر کوی نو دا هم ډیره دبې شرمئ خبره ده او که نه کوی نو دا هم ډیره دبې غیرتئ خبره ده. رسول کریم ﷺ ته داسوال ډیر خراب معلوم شو. آخر هم په دې سړی باندې داقسمه واقعه راغله اود لعان حکم نازل شو. (۲)

دبخاری او مسلم په یوحدیث کښې دی چه رسول کریم ﷺ د بکواس کولو نه او مال ضائع کولو او زیاتوتپوسونو کولو نه منع فرمانیلې ده.(۳) په صحیح مسلم کښې دی چه ترکومې پورې څه څه اونه وایم تر هغه وخته پورې تاسو هم څه تپوس مه کوئی. ستاسو نه مخکښې خلق هم داشان خصلتونو هلاك کړی دی چه هغوی به ډیرزیات سوالونه کول. او خپلو نبیانو سره به ئې اختلاف کولو. هرکله چه څه تاسو ته څه حکم اوکړم نودخپل طاقت مطابق هغه پوره کوئی اوکه تاسو لره منع کوم نو منع کیږئی. دا رسول کریم ﷺ په هغه وخت کښې فرمانیلی وو چه کله ئې خلقو ته خبر ورکړوچه الله ﷻ په تاسو باندې حج فرض دې.، نو چا رسول کریم ﷺ ته اووئیل چه هر کال؟نو رسول کریم ﷺ خاموش شو.هغه بیاتپوس اوکړو.رسول کریم ﷺ هیڅ جواب ورنکړو. هغه په دریم خل سوال اوکړو.رسول کریم ﷺ

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة باب ما یکره من کثرة السوال: ۷۲۸۹، صحیح مسلم: ۲۳۵۸)-

(۲) صحیح بخاری : کتاب التفسیرباب سورة النور:۴۷۴۵)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الاستقراض ، باب ما ینهی عن اضاعة المال : ۲۴۰۸، صحیح مسلم: ۱۷۱۵)-

Scanned with CamSc

اوفرمائیل هر کال نه . لیکن که ما اوئیلی وي نو هر کال به فرض شوي وو اوبیا به تاسو دا حکم هیڅکله نشو پوره کولې. (۱)بیا رسول کریم ﷺ دا مخکښې آیت مبارك اولوستلو.حضرت انس ﷺ فرمانی چه کله مونږ د رسول کریم ﷺ نه دسوال کولو نه منع کړې شو نو مونږ د رسول کریم ﷺ نه به تپوس کولو کښې ویره کیده او مونږ به غوښتل چه یو ناواقفه سړې راشی او هغه تپوس اوکړی او مونږ ته ئې واورو. (۲)حضرت براء بن عازب فرمائی چه کله به ما د رسول کریم ﷺ نه څه سوال کول غوښتل. نوکلونه کلونه به تیرشو نودهیبت په وجه به ما جرات نشو کولې. مونږ خو خواهش ساتلو چه څوك اعرابی راشی او د رسول کریم ﷺ نه سوال اوکړی اومونږ ئې هم واورو(۳)ابن عباس ﷺ فرمانی چه د حضرت محمد ﷺ د اصحابونه بهتر جماعت بل نه وو ، هغوی رسول کریم ﷺ صرف دولس کاله مسائل اوپوښتل چه ټول په ټوله په قران پاك کښې سوال وجواب سره ذکر دی لکه دشرابو سوال ، دحرمت والامیاشتې په باره کښې سوال ، دیتیمانو په باره کښې سوال وغیره وغیره. (۴)

په دې ځائې کښې "ام" یا خو د بل په معنی کښې دی یا په خپله اصلی معنی کښې دی. یعنی دسوال په باره کښې چه په دې ځائې کښې ا نکاری دې. دا حکم دمومن کافر ټولو دپاره دې. ځکه چه د رسول کریم ﷺ رسالت دټولو دپاره وو. په قرآن پاك کښې په بل ځائې کښې دی چه ﴿يَسْئَلُكَ أَهْلُ الْكِتٰبِ﴾ (اهل کتاب ستاسونه سوال کوی چه ته په هغوی باندې څه آسمانی کتاب نازل کړی هغوی داسې سوال د حضرت موسی ﷺ نه هم کړې ووچه الله ﷻ مونږ په خپلو سترګوسره کتل غواړو چه دهغوی د ظلم په وجه هغوی د تیز آواز په وجه هلاك کړې شو). رافع بن حریمله او وهب بن زید وئیلی وو چه ائې حضرت محمد ﷺ په مونږ باندې څه آسمانی کتاب نازل کړه چه هغه مونږ وایو او زمونږ په ښارونو کښې هغه دریابونه جاری کړې. نو بیا به مونږ تاسو رسول کریم ﷺ لره اومنو ، نو په دې باندې دا آیت نازل شو.

ابوالعالیه وائ چه یوسړی رسول کریم ﷺ ته اووئیل یارسول الله ﷺ چه کاش زمونږ دګناهونو کفاره هم هغه وي لکه څنګه چه دبنی اسرائیلو دګناهونو وه. ددې په آوریدو رسول کریم ﷺ دري ځل دالله ﷻ په درګاه عالیه کښې عرض اوکړو چه ائې الله ﷻ مونږداسې نه غواړو مونږ دا سې نه غواړو. بیائې عرض اوکړو چه واورئی په بنی اسرائیلو کښې به چه چا څه ګناه کوله نو دهغه په دروازه باندې به لیکلې کیدل او ورسره به ددې کفاره هم لیکلې کیدله. اوس خو یادنیاوی رسوائی منظوره کړئی اوکفاره ادا کړئی او خپل پټ ګناهونه ښکاره کړئی یا کفاره مه ورکوئی اود آخرت رسوائی منظوره کړئی. خوتاسو ته الله ﷻ فرمائیلی دی چه ﴿ وَمَنْ يَعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ (چه دچا نه څه خراب کاراوشی یا هغه په خپل ځان باندې ظلم اوکړی،بیا بخښنه غواړی نو دې به الله ﷻ لره ډیربخښنې والا اومهربانه ذات بیاومومی). داشان یومونځ تر بل مونځ پوري دګناهونوکفاره ګرزی. بیا یوه جمعه تر بلې جمعې پوري دګناهونو کفاره ګرزی. واورئی چه کوم سړې د بدئ اراده اوکړی او بدی اونکړی نودده په حق کښې بدی نه لیکلې کیږی ، اوکه د نیکئ اراده اوکړی او هغه نیکی اونه کړی نو بیاهم دده دپاره نیکی لیکلې کیږی. او که نیکی اوکړی نو بیا دده دپاره لس نیکئی لیکلې کیږی. اوس تاسو اووائې تاسوښه شوئی او که بنی اسرائیل ؟ نه تاسو د بنی اسرائیلو نه ډیر بنه یئ . باوجود ددې دومره کرم او رحم نه بیا هم که څوك هلاك شی نو پوهه شئ چه هغه پخپله هلاك شو. نوپه دې باندې دا آیت نازل شو.

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب الاعتصام ، باب الاقتداء بسنن رسو ل الله ﷺ : ۷۳۸۸، صحیح مسلم :۱۷۱۵)-
(۲) صحیح بخاری : کتاب الاعتصام با ب الاقتداء بسنن رسول الله ﷺ : ۷۳۸۸، بدون قصة ومسلم: ۱۳۳۷)-
(۳) دډې سند دشرط مسلم مطابق دې)-
(۴) مجمع الزوائد: ۱۵۹/۱، ۱

Scanned with CamSc

قریشو رسول کریم ﷺ ته اووئیل که د صفا غر دسرو زرو شی نو مونږ به تاسو باندې ایمان راوړو رسول کریم ﷺ اوفرمائیل ښه د مائده (آسمانی دسترخوان) والو چه څه انجام وو هغه به ستاسو هم شی. نو په دې باندې هغوی انکاری شو او خپل سوال ئې پریښودو. مراد دا دې چه په سرکشئ او عنادسره دنبیانو نه سوال کول ډیر دغندنې حرکت دې. چه کفر لره دایمان په بدله کښې اخلی او آسانی دسختئ په بدله کښې اخلی نوهغوی دنیغې لارې نه اړوی او جهالت او ګمراهئ کښې پریږدی. داشان دغیرضروری سوالونو کولو نه هم .لکه بل ځائې کښې فرمانی چه ﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا ﴾ (آیا ته هغه کسانوته نه ګورې چه دالله تعالی نعمتونو لره په کفر سره بدلوی او خپل قوم لره په هلاکت کښې اچوی ، دوی به جهنم ته داخلیږی اوهغه ډیر خراب ځائې دې.

وَدَّ	كَثِيْرٌ	مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ	لَوْ يَرُدُّوْنَكُمْ		
اغواړی	اکثر خلق	د اهل کتابونه	چې واپس کړی تاسو		
ډیر اهل کتاب (کافر) داغواړی چې					
مِّنْ بَعْدِ	اِيْمَانِكُمْ	كُفَّارًا	حَسَدًا	مِّنْ عِنْدِ اَنْفُسِهِمْ	مِّنْ بَعْدِ مَا
روستو	دایمان ستاسونه	اوشئ تاسو کافران	دوجې دحسدنه	دطرفه دخپلونفسونو	اروستو دهغې نه
چې تاسودایمان راوړلونه پس بیادوباره کافران کړی	خکه چې په زړونو کښې ئې حسدشته دې سره دې نه چه				
تَبَيَّنَ	لَهُمُ الْحَقُّ	فَاعْفُوْا	وَاصْفَحُوْا	حَتّٰى	يَاْتِيَ اللّٰهُ
چې ښکاره شو	هغوئ ته حق	نو معافی کوئ	اومخ اړوئ	تر هغې پورې چې	راولیږی الله
په ښه شان سرکنده شوې ده چې دادین (اسلام) حق دې نوتاسو (فی الحال) دوئ معاف کړئ اومخ ترې واړوئ تردې					
بِاَمْرِهٖ	اِنَّ اللّٰهَ	عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	وَاَقِيْمُوا	الصَّلٰوةَ	وَاٰتُوا
فیصله خپله	بیشکه چې الله	په هر څیز باندې	قادر دې	اوقائیموئ	مونځ	اوورکوئ
چې الله خپل حکم راولیږی	بیشکه الله په هرڅه پوره پوره قدرت لری	اومونځونه کوئی او زکاة				
الزَّكٰوةَ	وَمَا	تُقَدِّمُوْا	لِاَنْفُسِكُمْ	مِّنْ خَيْرٍ	تَجِدُوْهُ
زکاة	اوهغه	چې مخکښې لیږئ تاسو	دپاره دخانونو خپلو	څه نیکی	اوبه مومئ هغه
ورکوئ اوتاسو چې خان نه مخکښې هر څه نیکی اولیږلو نویقین اوکړئی چې بیا مومئ					
عِنْدَ اللّٰهِ	اِنَّ اللّٰهَ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	بَصِيْرٌ	
دالله سره	بیشکه	چې الله	د هغه څه	چې کوئ ئې تاسو	لیدونکې دې
هغه دالله څخه بیشکه چې الله ستاسو کارونه وینی ګوری اودوئ وائ					

دایت شان نزول:- دحضرت ابن عباس ؓ نه روایت دې چه حي بن اخطب او ابویاسر بن اخطب دا دواړه یهودیان مسلمانانوسره دټولو نه زیات حسد کوونکی وو. خلق به ئې داسلام نه منع کول. اوعربوباندې به سوزیدل. ددوی په باره کښې دا آیت نازل شو .دکعب بن اشرف هم د ا قول وو. زهری رحمه الله وائی ددوی په باره کښې داآیت نازل شوې دې. دا هم یهودی وو او په خپلو شعرونو کښې به ئې د رسول

Scanned with CamSc

کریم ﷺ هجوه کوله[1] اګر چه د هغوی په کتابونو کښې د رسول کریم ﷺ تصدیلق موجود وو. او دوی د رسول کریم ﷺ دصفاتونه ښه خبر وو. او رسول کریم ﷺ نې ښه پیژندو ، اودوی دا هم کتل چه قرآن پاک ددوی دکتاب تصدیق کوی. یو امی او ان پرهه دا کتاب وائی نو دا سراسر معجزه ده. خوصرف د حسد په وجه چه رسول کریم ﷺ ولې په عربو کښې مبعوث شو دوی کفر اوانکار باندې کلك شو. بلکه نوروخلق نې هم لمسول شروع کړل. نواللہ ﷻ مومنانوته حکم ورکړو چې تاسو معافی کوئی او دالله ﷻ دحکم اودهغه دفیصلې انتظار کوئی . لکه څنګه چه په بل ځائې کښې فرمائی چه تاسو به د مشرکانو اواهل کتابو نه ترخې خبرې آورئی. آخرداچې حکم نازل شو چه تاسو اوس ددې مشرکانو نه مه ویریږئی تاسو ته ددوی د جنګ کولو اجازت دې.

قوله تعالی:-فَاعْفُوْا وَاصْفَحُوْا

د عفو او درګذر حکم:- حضرت اسامه بن زید ﷺ وائی چه رسول کریم ﷺ او د رسول کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ به مشرکانو اواهل کتابو څه معافی کوله. او دهغوی تکلیفونه به نې برداشت کولو[2] او په دې آیت باندې به نې عمل کول. تر دې پورې چه بل آیت نازل شو اوداحکم منسوخ شو.اوس ددوی نه بدله اخستل اود خپل بچاؤ کولو حکم اوشو. اورومبې جنګ چه د بدر په میدان باندې شوې وو په هغې کښې کفاروته شکست اوشو اودهغوی د لویولویو سردارنو لاشونه په میدان دجنګ کښې پراته وو.

قوله تعالی:-وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ

د مونځ او زکاة حکم:- بیا مومنانو ته رغبت ورکولې شی چه تاسود مونځ اود زکوة وغیره حفاظت کوئی دابه تاسو دآخرت دعذاب نه بچ کړی او په دنیا کښې به هم په دې سره ستاسو غلبه او نصرت وی.

قوله تعالی:-وَمَا تُقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوْهُ عِنْدَ اللّٰهِ

په نیک عمر د ثواب وعده:- بیا فرمائی چه الله ﷻ به ستاسو دهر نیك اوبد عمل بدله درکوی په دواړو جهانونو کښې ، دهغه پاك ذات نه هیڅ څه ورپوکې غټ ، پټ ، ښکاره ، ښه او خراب عمل پټ نه دې. دا نې په دې وجه اوفرمائیل چه دا خلق اطاعت طرفته متوجه شی اودنافرمانۍ نه بچ شی.

د بصیر معنی:- (مبصر) ئې په بدله د (بصیر) کښې اووئیل لکه څنګه چه (مبدع) په دبدله کښې (بدیع) او د (مولم) په بدله کښې (الیم) دې. ابن ابی حاتم کښې یو حدیث دې چه رسول کریم ﷺ به په دې آیت کښې (سَمِيْعُ الْبَصِيْرُ) ونیلو او فرمائیل به نې الله ﷻ هرځیز وینی

وَقَالُوْا	لَنْ يَّدْخُلَ	الْجَنَّةَ	اِلَّا	مَنْ	كَانَ	هُوْدًا	اَوْ نَصٰرٰى ؕ تِلْكَ	اَمَانِيُّهُمْ ؕ
اووائی دوئ هر ګز به داخل نشی	جنت ته	اِمګر	اهغه څوك	چې وی	یهودی	یا عیسائی	دا	آرزوګانې ددوئ دی
چې جنت ته به بل څوك نه ننوخی مګر(یهودوائی چې)	یهودیان	او(نصاری وائی)	نصاری	داددوئ	هسې آرزوګانې دی			

قُلْ	هَاتُوْا	بُرْهَانَكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ ۝	بَلٰى ۚ	مَنْ	اَسْلَمَ
ورته اووایه	راوړئ	دلیل	خپل اکه چرې یئ	تاسو	ریښتنی	احق دادې چاچی	اوتابعدار کړل
ورته اووایه چې خپل دلیل پیش کړئی که تاسو ریښتونی یئ		بلکه هرڅوك چه خپل ځان الله ته اوسپاری					

وَجْهَهٗ	لِلّٰهِ	وَهُوَ	مُحْسِنٌ	فَلَهٗۤ	اَجْرُهٗ	عِنْدَ رَبِّهٖ ۪	
خان خپل	دالله	اوهغه	په نیك لارتلونکې وؤ	نودې هغه لره	اجر دهغه	درب خپل سره	
..... اونیک کارونه کوی		نو دهغه ثواب د خپل رب سره موجود دې (چه هغه ته به ثواب ورکوی					

[1]) ابن ابی حاتم :۱/۳۳۳)-

[2]) صحیح بخاری : کتاب التفسیر،باب ولتسمعن من الذین.....٤٥٦٦، صحیح مسلم: ۱۷۹۸)-

Scanned with CamSc

وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿۱۱۲﴾ وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ

اونۀ به وی یره په هغوئ | اونۀ به هغوئ | غمژن شی | اووائی | یهودیان | نۀ دی |

اوپه داسې خلقوبه هیڅ قسم ویره نه راځی | اونه به غمژن کیږی | او یهودیان وائی | چې عیسایان

النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ ۖ وَقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلٰى شَيْءٍ ۙ

عیسایان | په هیڅ څیز (حق دین) | او وائی عیسایان نۀ دی یهودیان | په هیڅ څیز (حق دین)

په هیڅ دین نه دی ..... | اونصاری وائی چې دیهودو مذهب هیڅ مذهب نه دې

وَهُمْ يَتْلُونَ الْكِتٰبَ ۗ كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ

حال دا چې دوئ دواړه | لولی کتاب | هم دغه شان | وائی | اهغه کسان | چې علم نۀ لری

(اوعجیبه داده) چې دا دواړه د الله کتابونه لولی | داشان نوروناپوهه خلقو (مشرکانواومجوسیانو)

مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيمَا

پشان د وینا ددوئ | نوالله | به فیصله کوی | په منځ ددوئ کښې | په ورځ | دقیامت | په هغه کارونوکښې

هم ددوی پشان خبرې اترې کړی دی | نوالله به دقیامت په ورځ په هغه خبرو کښې د دوی په مینځ کښې

كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿۱۱۳﴾

چې وۀ دوئ | چې په هغې کښې به ئې | اختلاف کولو | اوڅوك دې |

پخپله فیصله کوی په کومو کښې چه دوی اختلاف کوی |

قوله تعالی:- بَلٰى مَنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ

دهر عمل د قبولیت دپاره دسنتو اتباع شرط ده :- په دې ځانې کښې د یهودیانو او نصرانیانو د غرور بیان دې چه هغوی دخپل ځان نه سوا نور خلق څه نه ګڼړی اوصفا وائی چه زمونږ نه سوا به جنت ته هیڅوك نه ځی. په سورت مائده کښې ددوئ بیان شوې دې چه مونږ دالله ﷻ اولاد اودهغه محبوب یو.نو ددې په جواب کښې قرآن پاك وائی چه بیا تاسو ته په ګناه ولې عذاب درکوی ؟ داشان مخکښې تیر شو چه ددوی دعوی دا هم وه چې مونږ به یو څو ورځې به په جهنم کښې یو.نو ددې په جواب کښې دالله ﷻ ارشاد دې چه دا دعوی هم بې دلیله ده. داشان په دې مقام کښې د دوی د دعوې تردید کوی او وائی چه راوړئ پیش کړئ دلیل ، دوی عاجزه ثابتوی او وائی چه څوك هم دالله ﷻ فرمانبردار شی او خلوص او توحید سره نیك عمل اوکړی نوهغه ته به پوره بدله ملاویږی . لکه په بل مقام باندې فرمانی که دوی جګړه کوی نو دوی ته اووایه چه ما او ځما منلو والو خپل مخونه رب طرفته کړل ، الغرض د قبولیت دپاره اخلاص اود سنت مطابق هر عمل کول شرط دې نو د ﴿ أَسْلَمَ وَجْهَهُ ﴾ نه مراد خلوص (۱) او د ﴿وَهُوَ مُحْسِنٌ﴾ نه مراد اتباع دسنت ده ، ستاسو اخلاص هم عمل لره مقبول نشی کولې ترڅو پورې چه دسنت تابعداری اونکړئ. په حدیث مبارکه کښې دی چه کوم یوکس دا عمل اوکړی چه زمونږ په طریقه کښې نه وی نو هغه مردود دې. (مسلم). (۲)

---

۱) ابن ابی حاتم : ۱ / ۳۳۷۱)-

۲) صحیح بخاری : کتاب الا قضیة باب نقض الاحکام الباطلة ، ۱۷۱۸، صحیح بخاری : ۲٦۹۷، ابوداود: ٤٦۰٦، ابن ماجة: ۱٤۰)-

Scanned with CamScanner

دسنت نه خلاف عمل نتیجه:- نود رهبانیت عمل اگر چه په اخلاص سره وی خو د اتباع سنت مطابق نه کیدو په وجه هغه مردود دی. هم دداسې اعمالو په باره کښې قرآن عظیم الشان فرمائی چه ﴿وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا﴾ (هغوی چه کوم اعمال کړی وو مونږ به ټول رد کړو اوپه خائې د کافرو داعمالو مثال دشګې پرقیدونکو ډیرو پشان دی چه تږې په دې باندې د اوبو خیال اوکړی خوکله چه دې ته ورشی نو هیڅ به نه مومی). او په بل مقام باندې دی چه د قیامت په ورځ به په ډیرو مخونو باندې ذلت خور وی هغه خلق به عمل کوونکی تکلیف اوچتونکی وی او په لمبه شوی اور کښې به داخل کړې شی اودوی ته به ګرمې اوبه ورکولې شی دڅکلو دپاره. حضرت امیر المومنین ددې آیت مبارک نه دیهودو اونصرانیانو علماء او عابدان مراداخستی دی.

د اخلاص نه بغیر عمل:- دا هم یاد ساتل پکاردی که یو عمل د سنت مطابق هم وی خوپه دې کښې اخلاص نه وی ، ددې مقصد د الله ﷻ رضا نه وی ، نوهغه عمل هم مردود دی. د ریاکارو او منافقو خلقود اعمالو هم دا حال دی. لکه څنګه چه الله ﷻ فرمائی چه دوی رب لره دهوکه ورکول غواړی او ر په دوی ته دهوکه ورکوی اوچې مونږ کوی نو سستی په کښې کوی او صرف خلقو ته دخودنې دپاره عمل کوی اوالله ﷻ ذکر ډیر کم کوی. او فرمائی چه ﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ﴾ د هغه مونږګذارو دپاره ویل دی چه خپلو مونږونو نه غافل دی چه څوک ریاکاری کوی او واړه واړه د استعمال څیزونه هم منع کوی. او په بل ځائې کښې ارشاد دی چه ﴿اَفَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ﴾ چه کوم سړې دخپل رب دملاقات خواهش مند وی نوهغه له پکار دی چه نیک عملونه کوی او دخپل رب په عبادت کښې هیڅوک نه شریکوی.

قوله تعالی:- وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ

بیا فرمائی چه دوی ته به ددوی رب اجر ورکوی. او د ویرې او خوف نه به نې بچ کړی. په آخرت کښې به په دوی باندې ویره نه وی او ددنیا د پرینبودو هیڅ غم به نه وی.

قوله تعالی:- وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ

د اهل کتابو په خپل مینځ کښې اختلاف:- بیا دیهودیانو او نصرانیانو په خپلو کښې د بغض او دښمنئ ذکر فرمائی.

دنجران د نصرانیانو وفد د رسول کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو رسول کریم ﷺ سره دیهودو عالمان هم ناست وو. په هغه وخت کښې دې (وفد) هغه خلقو ته اوهغوی دوی ته ګمراهان اووئیل. حالانکه دواړه اهل کتاب وو. په تورات کښې دانجیل تصدیق او په انجیل کښې دتورات تصدیق موجود دی.نوبیا ددوی داقول څومره لغوه دی[1] مخکښې یهودیان او نصرانیان په حق دین باندې قائم وو.خوبیا د بدعتونو اوفتنو په وجه دین ددوی نه لاړو.اوس نه یهود په هدایت وو اونه نه نصرانیان.

قوله تعالی:- كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ

د زړونو مشابهت:- بیا فرمائی چه کومو خلقو ته معلوم نه وو هغوی هم داسې اووئیل. په دې کښې هم اشاره هغوی طرفته ده.اوبعضو وئیلی دی چه ددې نه مراد دیهودیانو او نصرانیانو نه مخکښې خلق وو.بعضې وائی چه دې نه دعربو خلق مراد دی. امام ابن جریر رحمه الله ددې نه مراد عام خلق اخلی چه په دې کښې ټول شامل دی. او هم دا صحیح دی. والله اعلم.

قوله تعالی:- فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ

د قیامت په ورځ فیصله:- بیا فرمائی چه ددوی داختلاف فیصله به دقیامت په ورځ پخپله الله ﷻ کوی. چه په هغه ورځ به هیڅ څه ظلم او زور نه وی. او په بل مقام ځائې کښې هم دا مضمون راغلې دی . په سورت حج کښې ارشاد دی چه ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـُٔوْنَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ

[1]) الطبری : ۱۸۱۳)-

بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴾ (دمومنانو او یهودیانو او صابیانو او نصرانیانو اومجوسیانو اومشرکانو په مینځ کښې به الله ﷻ دقیامت په ورځ فیصله کوی. الله تعالی په هر څیز باندې قادر اوګواه دی) . او په بل مقام باندې فرمانی چه ﴿قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا﴾ (ا ووایه زمونږ رب به مونږ لره جمع کوی بیا به حق سره فیصله کوی او هغه باخبره بهترین فیصله کوونکې دی).

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ	
اوخوك دي | زيات ظالم | دهغه چانه |	
اوهغه چانه بل لوئي ظالم څوك كيديشي	
مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى	
چې منع كوی | عبادت خانې دالله | ددې نه چې | یادكړې شی | په هغې كښې | انوم دهغه | اوكوشش كوی	
چې جماتونه ددې خبرې نه بندوی چې په هغې كښې دالله نوم واخستې شی | اود هغې په شاړولو	
فِيْ خَرَابِهَا ۭ اُولٰۗىِٕكَ مَا كَانَ لَهُمْ اَنْ يَّدْخُلُوْهَآ اِلَّا	
په ورانولو دهغې كښې | داسې خلق | نه دی لائق هغوئ له | اچې داخل شی دغه عبادت خانونه | مګر	
كښې كوشش كوی (هغه وخت نزدې دې چې) هم دوئ به دغې جماتونو ته په ویره ویره ورځی	
خَاۗىِٕفِيْنَ ۭ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ	
یریدونكی | دپاره ددوئ | په دنیا كښې | شرمندګی ده | اودپاره ددوئ | په آخرت كښې | عذاب |	
..... هم دوئ لره په دنیا كښې خواری او (رسوائی) ده | اودوی دپاره په آخرت كښې لوئي عذاب	
عَظِيْمٌ	
لوئ دي |	
دي |	

دجماتونو نه منع کونکي:- ددې آیت په تفسیر کښې دوه قولونه دی. ①یو خو دا چه ددې نه مراد نصرانیان دی. ②دویم دا چه ددې نه مراد مشرکان دی.

دنصاراو سرکشی:- نصرانیانو به دبیت المقدس په جمات کښې پلیتی اچوله او خلق به ئې په دې کښې دمونځ کولونه منع کول. بخت نصر چه کله دبیت المقدس دبربادولو دپاره حمله کړې وه نو دې نصرانیانودهغه ملګرتیا کړې وه اوهغه سره ئې مدد کړې وو. بخت نصر دبابل اوسیدونکې وو او مجوسی وو. دیهودیانو په مدد کولو دې نصرانیانو هم هغه سره ملګرتیا کړې وه. او په دې وجه هم چه بنی اسرائیلو حضرت یحیی ﷺ قتل کړې وو. اومشرکانو هم د حدیبیه په کال د کعبة الله نه منع کړی وه. تر دې پورې چه رسول کریم ﷺ په ذی طوی کښې قربانی اوکړه اومشرکانو سره ئې صلح اوکړه. رسول کریم ﷺ هم دغه ځائې نه واپس شو حالانکه دا د امن ځائې وو. د رور او پلار قاتل ته هم چا په دې ځائې کښې څه نشو وئیلې. اوددې د شاړولو کوشش هم دا وو چه دذکر الله او حج او عمرې کولو نه دمسلمانانو جماعت منع کړو[1] (دحضرت ابن عباس ﷺ هم دا قول دې. ابن جریر رحمه الله مخکښې قول خوښ کړې دې. او وئیلې ئې دی چه مشرکانو د کعبة الله ویرانولو کوشش نه کولو داکوشش د

[1]) الطبری: ۵۲۱/۲)-

نصرانیانو وو چه هغوی دبیت ا لمقدس ویرانولو پسې راخستې وه. خوپه حقیقت کښې دویم قول زیات صحیح دې.د ابن زید رحمه الله او حضرت ابن عباس رضي الله عنه هم دا قول دې.

دیهودیانو دمغلوبیت وجه:- یاد دې وی چه کله نصرانیانو یهودیان دبیت المقدس نه منع کړی وو نوپه هغه وخت کښې یهود هم بالکل بې دینه شوی وو. په هغوی باندې خود حضرت داود علیه السلام او حضرت عیسی بن مریم علیه السلام په زبان لعنتونه نازل شوی وو ،هغوی نافرمان او دحد نه تیر شوی وو. اونصرانیان دحضرت مسیح علیه السلام په دین باندې وو. ددې نه معلومه شوه چه ددې آیت نه مراد مشرکان دمکې دی اویو وجه دا هم ده چه مخکښې دیهودیانو اونصرانیانو مذمت بیان شوې وو او په دې ځاني کښې د عربو دمشرکانو دابدخصلت بیانوی چه هغوی رسول کریم صلی الله علیه وسلم او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ملګری رضي الله عنهم دمسجد حرام نه منع کړی وو او مکې نه ئې ویستل او د حج کولو او عمرې کولو نه ئې منع کړل.

د ابن جریر قول:- د ا بن جریر رحمه الله وینا ده چه دمکې والا خلق دبیت المقدس په ویرانولو کښې هلو ځلو والا نه وو.ددې جواب دادې چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرام رضي الله عنهم ئې د هغه ځاني نه اوویستل او منع کول او په بیت الله شریف کښې بتان ایښودلو نه به زیاته لویه ویرانی څه وی. پخپله په قرآن پاک کښې موجود دی چه ﴿ وَهُمْ يَصُدُّونَ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾ (داخلق دمسجد حرام نه منع کوی ، مشرکان دالله ﷻ کور لره نشی آبادولې ، په خپل کفر باندې خپله ګواه دی ، ددوی اعمال تباه دی ، او دوی دهمیشه دپاره جهنمیان دی. دجماتونو آبادی دهغه خلقو ده چه څوک په الله ﷻ باندې او ورځ دقیامت باندې ایمان لری او مونځ کوی او زکوة پابندئی سره ورکوی اوصرف دالله ﷻ نه ویریږی اوهم دا خلق په نیغه لار باندې دی)او په بل ځاني کښې فرمائی چه ﴿ هُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا وَصَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ﴾ (دا هغه خلق دی چې کفر ئې هم اوکړو او تاسو ئې د جمات نه هم اوویستلئ او تاسو دقربانئی ذبح کولو ځاني ته هم اونه رسیدئی،که مونږ ته ددې مومنانو سړواو ښځو خیال نه وې چه دخپلې کمزورئی او بې وسئ په وجه د مکې نه بهر نه شی وتلې چه هغوی لره تاسو پیژنئی نو مونږ به دوی سره جنګ کړې وې او ددوی د تباه کولوحکم به مو ورکړې وې خوهسې نه چه دا مسلمان بې ګناه خراب شی نو په دې وجه مونږ دا حکم اونه فرمائیلو. خو که دا کفار دخپلو شرارتونو نه منع نشو نوهغه وخت لرې نه دې چه په دوی باندې به دردناک عذاب نازل شی). نو هغه مسلمانې هستئ چه په هغوی سره دجماتونو آبادی په حقیقی معنو کښې ده نو هم هغه خلق منع کړې شو نو دجماتونو په ویجاړولو کښې بل کوم کار پاتې شو؟ د جماتونوآبادی صرف په ظاهری زیب وزینت او رنګ روغن سره نه ده بلکه په دې کښې دالله تعالی ذکر کیدل ، دشریعت قائمول ، دا دشرك او ظاهری پلیتئ نه پاك ساتل ، دا ددې آبادی ده.

قوله تعالی:- أُولَٰئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ ۚ

بیا فرمائی چه دوی لره نه دی لائق چه بې ویرې شی او جمات ته راشی . مطلب دادې چه انې مسلمانانو دوی لره په بې خوفئ او بې باکئ سره بیت الله ته مه پریږدئی ، هرکله چه مونږ تاسو لره غالب کړو نو تاسو په هغه وخت کښې هم داسې کوئی. نومکه فتح شوه او رسول کریم صلی الله علیه وسلم راتلونکی کال په نهمه هجرئی کښې اعلان اوکړو چه دې کال نه پس دې هیڅ یو مشرك حج ته نه رازی. او هیڅوك دې د بیت الله شریف طواف په بربنډه نه کوی. دکومو خلقوپه مینځ کښې چې د صلح موده مقرر ده هغه قائمه ده (۱)، دا حکم په اصل کښې تصدیق او عمل دې په دې آیت باندې چه ﴿فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ۚ﴾ (مشرکان خلق نجس دی ددې کال نه پس دې دوی مسجد حرام ته نه نزدې کیږی ②اودا معنی هم بیان شوې ده چه پکار خودا وو چه دا مشرکان په ویرې سره جمات ته راغلې وې خوددې خلاف دوی مسلمانانو لره منع کوی. ③دا مطلب هم کیدیشی چه په دې آیت کښې الله ﷻ

---

(۱) صحیح بخاری، کتاب صلاة باب ما یستر من العورة:۳۶۹، صحیح مسلم: ۱۳۴۷، مختصرا نسائی: ۲۹۶۱)-

ایماندارو ته زیري ورکوی چه نزدې ده چې زه تاسو غالب کړم اودا مشرکان به دې جمات طرفته په رخ کولو هم ویریږی،نو هم داسې اوشو او رسول کریم ﷺ وصیت اوکړو چه په جزیره عرب کښې دې دوه دینونه باقی پاتې نشی (۱)او یهود اونصرانیان دې ددې خائې اوویستلې شی. (۲)الحمد لله چه حضرت محمد ﷺ دامت بزرګانو د رسول کریم ﷺ په دې وصیت باندې عمل کول هم اوخودل. ددې نه دجماتونو فضیلت او بزرګی هم ثابته شوه. خاص کر ددې خائې او ددې جمات چه دې ته د ټول جن وانس رسول حضرت محمد ﷺ لیږلې شوې وو ، په دې ګناهنګاروباندې د دنیا رسوائی هم راغله او ځنګه چه دوی مسلمانان منع کړل او جلاوطن نې کړل ، داشان دوی ته ددې پوره بدله داهم ملاؤ شوه چه دوی هم منع کړې شو او جلاوطن کړې شو. اودوی لره اُخروی عذاب هم باقی دی. ځکه چه دوی دبیت الله حرمت مات کړو ، په دې خائې کښې نې بتان کیخودل ، دغیرالله نه نې دعاګانې اوکړې او مناجات نې شروع کړل ، په بربنډه نې دبیت الله شریف طوافونه کول وغیره.

اوکه ددې نه مراد نصرانیان واخستلې شی نو بیا هم ظاهره ده چه هغوی هم بیت المقدس ته په ویرې سره ځی. هغوی هم دبیت المقدس بې حرمتی کړې وه او خاص کرد دې صخره (کانړی) چه دې طرفته به یهودومونځ کولو ،داشان هرکله چه یهودیانو بې حرمتی اوکړه او دنصرانیانو نه هم زیات شو نوبه هغوی باندې په دې وجه داذلت هم نازل شو. ددنیا درسوائی نه مراد دامام مهدی ؒ دزمانې رسوائی ده او دجزیه ادا کول هم. په حدیث کښې یو دعا راغلې ده ﴿اللهم احسن عاقبتنا فی الامور کلها واجرنا من خزي الدنیا وعذاب الاخرة﴾ (اې الله ﷻ ! ته زمونږ دکارونو انجام لره ښه کړه اوددنیارسوائی او د آخرت دعذاب نه مونږ ته نجات راکړه). دا حدیث حسن دې ، مسند احمد کښې موجود دې. په صحاح سته کښې نشته دې. ددې راوی بشر بن ارطاة صحابی ﷺ دې ، دهغوی نه خوداحدیث روایت شوې دې اوبل حدیث هغه روایت شوې دې چه په هغې کښې دی چه دعزوه او دجنګ په موقع دې هغه خائې کښې لاس پرې نکړې شی.(۳)

وَلِلّٰهِ	الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ۚ	فَاَيْنَمَا	تُوَلُّوْا	فَثَمَّ
اودپاره دالله دې	طرف دمشرق	اودمغرب	نوهرطرفته	چې تاسو مخ ګرزوئ	نو هم هغه طرفته
	..... اومشرق دې که مغرب ، ټول اړخونه دالله پاک دی نو چې کوم اړخ ته مخ اوګورئ هغې اړخ ته			
وَجْهُ اللّٰهِ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	وَاسِعٌ	عَلِيْمٌ ۝	
مخ دالله دې	بیشکه الله	دیرفراښئ والا دې	په هرځه عالم دې	اووائی دوئ		
الله ﷻ شته	الله د فراخوخاوند او ښه پوهه دې			

دبیت المقدس په خائې کعبه قبله جوړول :- په دې آیت کښې رسول کریم ﷺ اود رسول کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته تسلی ورکول کیږی چه د مکې نه ویستلې شوی وو او دخپل جمات نه منع کړې شوی وو. رسول کریم ﷺ به په مکه معظمه کښې په مونځ کښې بیت المقدس طرفته مخ کولو نو کعبة الله به نې هم مخامخ وه. هرکله چه مدینې منورې ته تشریف راوړو نو شپاړس یا اوولس میاشتو پورې خو به نې (بیت المقدس) طرفته مونځ کولو خوبیا ورته الله ﷻ کعبة الله طرفته د مخ کولو حکم اوکړو. (۴)

---

۱) احمد:۶/۲۷۵، موطا امام مالک کتاب الجامع با ماجاء فی اجلاء الیهود من المدینة، ۱۷، ۱۸، مرسلا)-

۲) صحیح مسلم : کتاب الجهاد: باب اخراج الیهود والنصاری من جزیرة العرب: ۱۷۶۷)-

۳) ابوداود کتاب الحدود باب السارق یسرق فی الغرور ایقطع .....۴۴۰۸، ترمذی : ۱۴۵۰، نسائی : ۴۹۴۲)-

۴) صحیح بخاری : کتاب صلاة باب التوجه نحو القبلة حیث کان: ۳۹۹، صحیح مسلم: ۵۲۵)-

Scanned with CamSc

د ټولو نه رومبې منسوخ حکم:-ابوعبیده قاسم بن سلام رحمه الله پخپل کتاب ناسخ اومنسوخ کښې دابن عباس رضي الله عنه نه روایت نقل کړی دی چه قرآن پاك کښې دټولو نه مخکښې منسوخ حکم د قبلې دي.د ﴿وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ﴾ والا آیت نازل شو او رسول کریم ﷺ بیت المقدس طرفته مونځ کولو،بیا ﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ الخ﴾ آیت نازل شو او رسول کریم ﷺ بیت الله شریف ته مخ کړو او مونځ کول ئې شروع کړو(۱)

په مدینه منوره کښې چه کله رسول کریم ﷺ بیت المقدس طرفته مونځ کولو ، نویهودیان به ډیر خوشحاله وو خو کله چه دا حکم څو میاشتې پس منسوخ شو او رسول کریم ﷺ ته دخپلې خوښې او دعا او دانتظار مطابق کعبة الله طرفته دمونځ کولو حکم اوشو نودې یهودو ورته طعنې ورکول شروع کړل چه ته ولې ددې قبلې نه واوړیدلې. نوالله ﷻ دا آیت نازل کړو چه مشرق اومغرب دالله ﷻ دی الخ . بیادا اعتراض څنګه دې؟ چه کوم طرفته دهغه ذات حکم وی هغه طرفته مخ کول پکار دی. (۲)حضرت ابن عباس رضي الله عنه هم روایت دې چه په مشرق او مغرب کښې تاسو چرته هم یئ نو مخ کعبې طرفته کوئی (۳)، دبعضې بزرګانوبیان دې چه دا آیت کعبې طرفته د مخ کولو نه مخکښې نازل شوې وو او مطلب دادې چې مشرق اومغرب کښې تاسو کوم طرفته هم مخ کوئی نو کوئی څکه چه ټول طرفونه دالله ﷻ دی اوهر طرفته الله ﷻ موجود دې. دهغه پاك ذات نه هیڅ یوځائې خالی نه دې. لکه فرمائی﴿ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا ﴾ (نه د دې نه کم او نه زیات دوی چې کوم ځائې کښې هم وی الله به دوی سره وی).بیا دا حکم منسوخ شو اوکعبة الله طرفته مخ کول فرض شو،

په هر ځائې کښې د الله د وجود مطلب:- په دې قول کښې دا لفظ دې چه دالله ﷻ نه هیڅ یوځائې خالی نه دې ، که ددې نه مراد د الله ﷻ علم واخستلې شی نو صحیح دی ، هیڅوك دالله تعالی د علم نه خالی نه دی. اوکه دالله ﷻ پاك ذات تری مراد و ی نو صحیح نه ده. دالله ﷻ پاك ذات ددې نه ډیر زیات اوچت او بالادې چه ګنی هغه دې دخپل مخلوق په یو څیز کښې حاضر شی. هم داشان دآیت مطلب دا هم بیان شوې دې چه دا آیت دسفر او راه روئی او دویرې دوخت دپاره نازل شوې دې چه په دې وختونو کښې نفل مونځ کښې کوم طرفته مخ کوئی نو کوئی.(۴)

په سورلئ دمونځ کولوحکم:- د حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دې چه دهغه داوښې مخ به کوم طرفته وو هغه طرفته به ئې مونځ کولو. او فرمائیل به ئې چه د رسول کریم ﷺ به هم دا طریقه وه. او ددې آیت مطلب هم دادې. د آیت دذکر نه بغیر دا حدیث په مسلم شریف ، ترمذی ، نسائی ، ابن ابی حاتم او ابن مردویه وغیره کښې هم روایت شوې دې. اوددې اصل په صحیح بخاری ، صحیح مسلم کښې هم موجود دې(۵)په صحیح بخاری کښې دی چه د حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه د ویرې دمونځ په باره کښې تپوس اوشو نو دویرې مونځ به ئې بیان فرمائیلو او فرمائیل به ئې که ددې نه هم زیاته ویره وی نو پیدل یا سور یا په ولاړه یا ناسته مونځ کوئی که مخ مو قبلې طرفته وی اوکه نه وی.

د حضرت نافع رحمه الله بیان دې فرمائی چه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه ځما په خیال سره دامرفوع کړې دې(۶)د امام شافعی رحمه الله مشهور فرمان دې او دامام ابوحنیفه رحمه الله قول دې که سفرکه څوك په امن

---

(۱) حاکم: ۲/۲۶۷)-

(۲) الطبری: ۲/۵۲۷)-

(۳) ابن ابی حاتم : ۱/۳٤۷)-

(٤) الطبری: ۲/۵۳۰)-

(۵) صحیح بخاری : کتاب التقصیر، باب صلاة علی الدواب: ۱۰۹۵، صحیح مسلم: ۷۰۰)-

(۶) صحیح بخاری : کتاب التفسیر سورةالبقرة ، باب فی قوله تعالی (فان خفتم فرجالا اورکبانا) ۳۵٤۵. وصحیح مسلم: ۸۳۹)-

Scanned with CamSc

کښې سفر کوی اودجنګ د ویرې وی نوپه سورلئ باندې نفل مونځ ادا کول جائزدی. امام مالک رحمه الله او ددوی ډله ددې خلاف کوی. امام ابویوسف رحمه الله اوابوسعید اصطخری رحمه الله بغیر دسفر نه هم دا جائز ګڼړی. حضرت انس رضی الله عنه نه دا هم روایت دې چه امام ابوجعفر طبری رحمه الله هم دا خوښوی او تردې پورې چه هغه پیدل تلونکو ته هم اجازت ورکوی.

په سورلئ باندې د نفل مونځ ګولو حکم

مسلک حنفی:- په سورلئ باندې نفل مونځ جائز دې که سفر وی اوکه حضر البته د صبا د سنتو دپاره د سورلئ نه راکوزیدل پکار دی دا د امام ابوحنیفه رحمه الله نه روایت دې (مفتاح الفلاح شرح نورالایضاح تالیف احقر العباد شاه فیصل) صفحه ۵۲۰.

د ایت شان نزول:- دبعضې نورو مفسرینوپه نیز دا آیت دهغه خلقو په باره کښې نازل شوې دې چه هغوی ته قبله معلومه نشوه. او هغوی په اندازې سره مختلفو طرفونو ته مخ کړو اومونځ ئې ادا کړو نوپدې باندې دا آیت نازل شو اوددوی مونځ ته ادا شوې اووئیلې شو. حضرت ربیعه رضی الله عنه فرمائی چه مونږ نبی کریم ﷺ سره په یوسفرکښې وو، یو ځائې مو پراؤ اوکړو ،شپه تیاره وه ، خلقو کانړی واخستل او دنشان په طور ئې قبلې طرفته کیخودل اومونځ کول ئې شروع کړل ، صبا چه کله دوی په رنړا کښې اوکتل نو مونځ ئې قبلې طرفته نه وو ادا کړې . مونږ د رسول کریم ﷺ نه پوښتنه اوکړه نو په دې باندې دا آیت نازل شو. داحدیث په ترمذی کښې موجود دې[1] امام صاحب رحمه الله دې ته حسن وئیلې دې. ددې دوه راویان ضعیف دی ،یو بل روایت کښې دی چه په هغه وخت کښې ډیره تیاره خوره وه او مونږ مونځ اوکړو او خپلو مخو ته مو نښې اولګولې چه صباپه رنړا کښې معلوم کړو چې مونځ مو قبلې طرفته ادا کړې دې که نه ؟ سحر معلومه شوه چه قبلې معلومولو کښې مونږ غلطی کړې وه. خو رسول کریم ﷺ مونږ ته ددې مونځ د دوباره کولو حکم اونه فرمائیلو او دا آیت نازل شو. ددې روایت هم دوه راویان دی اودواړه ضعیف دی ، دا روایت دارقطنی وغیره کښې موجود دې . ([2])په یو روایت کښې دی چه دوی سره رسول کریم ﷺ نه وو. دا سند هم ضعیف دې. ددې مونځ دا راګرزولو باره کښې د عالمانو دوه قولونه دی. صحیح قول هم دا دې چې دا دې راونه ګرزولې شی او هم ددې قول تائید کولو والا حدیث مخکښې بیان شو.

غیرقبلې ته د مشتبه علیه القبله د مونځ حکم

مسلک حنفی:- اوچه کوم سړی ته په قبله کښې شك شی (یعنی دقبلې صحیح طرف ور ته معلوم نه وی) او هغه سره څوك خبر ورکونکے هم نه وی اونه محراب وی نوهغه دے غور اوکړی.اودے به دوباره مونځ نه کوی.که خطا شوے وو. اوکه ده غلطی اوکړه او خپله غلطی ورته په مانځه کښے معلومه شوه نو مخ دے واړه وی او بنا دے اوکړی (یعنی خپل مخکنی مونځ سره دے باقی مونځ ملاوکړی.اودوباره دے نیت نه کوی) .اوکه بغیر دځه غور نه ئے مونځ شروع کړے وو او دفراغت نه پس ورته معلومه شوه چه ده صحیح طرف نه مونځ کړے دے نو دده مونځ اوشو.اوکه خپله غلطی ورته په مانځه کښے ورپه یاد شوه نو مونځ ئے مات شولکه څنګه چه ده ته خپله غلطی نه وی معلومه (نو په هغه وخت کښے هم مونځ ماتیږی.) . اوکه یو قوم دسوچ کولو نه پس مختلفو طرفونو ته مونځ اوکړو (اوهرکس یودخپل خپل خیال مطابق مخ کړے وو) اودخپل امام دحالت نه ناخبره وو نودټولو مونځ اوشو (پدے شرط چه دچا ملا دامام مخے ته نه وی) کذا في نورالایضاح.

---

[1]) ترمذی : کتاب الصلوة باب ماجاء فی الرجل یصلی لغیر القبلة فی الغیم : ۳۴۵، ابن ماجة: ۱۰۲۰،)-

[2]) دار قطنی ۲۷۱/۱، حاکم : ۲۵۶/۱،)-

Scanned with CamSc

دجنازې مونځ غائبانه کولو بیان :- بعضې مفسرین وائی چه ددې نازلیدو وجه نجاشی دې. هرکله چې رسول کریم ﷺ دهغه د مرګ خبر ورکړو او وې فرمائیل چه دهغه غائبانه دجنازې مونځ اوکړئ نوبعضو اووئیل چه هغه خو مسلمان نه وو نصرانی وو. نو په دې باندې دا آیت نازل شو چه ﴿وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ﴾(بعضې اهل کتاب په کتاب الله باندې او په هغه څیز باندې چه کوم انې مسلمانانو ستاسو طرفته نازل شو اوپه هغه څیز باندې چه دوی طرفته نازل شوې دې ایمان راوړی او دالله ﷻ نه ویریږی)هغوی اووئیل یارسول الله ﷺ هغه خو به قبلې طرفته مونځ نه کولو. نو په دې باندې دا آیت نازل شو. خودا روایت غریب دې. (۱)والله اعلم.ددې معنی دا هم شوې ده هغوی بیت المقدس طرفته په دې وجه مونځ کولو چه هغوی ته ددې دمنسوخ کیدو علم نه وو. قرطبی رحمه الله فرمانی چه دهغه دجنازې مونځ رسول کریم ﷺ په خپله کړې وو. او دا دلیل دې چه غائبانه نماز جنازه ادا کول پکار دی.

د غائبانه جنازې عدم جواز د قائلینو دریٔ تاویلونه:- اوددې نه منلو والا دا مخصوص ګنړی اوددې دریٔ تاویلونه کوی ، ①یوخوداچې رسول کریم ﷺ دهغه جنازه کتلې وه ، رسول کریم ﷺ دپاره زمکه راغونډه کړې شوه ، ②دویم دا چه په هغه ځائې هغه سره دهغه دجنازې مونځ کولو والا څوک نه وو نوپه دې وجه رسول کریم ﷺ د هغه دجنازې مونځ غائبانه اوکړو. ابن عربی هم دا جواب خوښوی. قرطبی رحمه الله وائی چه دا ناممکن دی چه یو بادشاه دې مسلمان وی اوددې دقوم یو سړې دې هم ده سره مسلمان نه وی،ابن عربی ددې په جواب کښې وانی چه شائد دهغه په نیز دجنازې مونځ نه وی د هغوی دشریعت مطابق. دا جواب ډیر ښه دې ③دریم دا چه رسول کریم ﷺ دجنازې مونځ غائبانه ادا کړو چه خلقو ته ترغیب اوشی اوددې په شان نور بادشاهان اسلام طرفته مائل شی.

دغائبانه جنازې حکم

مسلک حنفی:- داحنافواودمالکیانوپه نزدغائبانه جنازه جائزنه ده .اوترکومې چه دنجاشی دواقعی تعلق دې.نودا ددوی خصوصیت ووځکه چه هغه مسلمان بادشاه وو.اودمسلمانانودوی خاص امدادکړې وو.اوپه دوی چامونځ نه ووکړې.دې وجه نه حضور ﷺ په دوی په مدینه کښې مونځ اوکړو.اونجاشی وفات په خپل مل کښې شوې وو.ددینه علاوه درویاتونه معلومیږی چه دنبی کریم ﷺ اودنجاشی په مینځ کښې چه څومره حجابات وو هغه ټول لری کړې شوی وو.تردې چه دنجاشی جنازه ددوی وړاندې په نظررغله لکه واحدی رحمه الله په خپل " اسباب النزول کښې دحضرت ابن عباس نه بغیردسندنه نقل کړې دې. (درس ترمذی (۱۰۱۱۳)-

ابن مردویه کښې یو حدیث دې چه رسول کریم ﷺ فرمائی چه د اهل مدینه ، اهل شام ، اهل عراق قبله دمشرق او مغرب ترمینځه ده (۲)دا روایت په ترمذی کښې هم په نورو الفاظو سره روایت دې اوددې یو راوی ابومعشر په حافظه باندې دبعضو اهل علمو کلام دې. امام ترمذی رحمه الله دا په یوسند سره هم نقل کړې دې اودې ته ئې حسن وئیلی دی.(۳) حضرت عمر بن خطاب ﷺ ،حضرت علی کرم الله وجهه ﷺ ، حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه هم دا نقل شوی دی . حضرت عمر ﷺ فرمائی چه کله ته مغرب خپل ښی طرفته او مشرق خپل کس طرفته کړئی نو مخامخ به تاته قبله وی. حضرت ابن عمر نه هم د اپورتنې حدیث روایت شوې دې د مشرق او مغرب ترمینځه قبله ده (۴)اوګورئی دارقطنی ، بیهقی وغیره.

---

(۱) الطبری:۱۸٤٦، عن قتاده مرسلا-

(۲) ترمذی: کتاب صلاة باب ماجاء بین المشرق والمغرب قبلة: ۳٤٦، ابن ماجة : ۱۰۱۱، نسائی: ۲۲٤٥، تعلیقا وهو صحیح)

(۳) ترمذی: کتاب صلاة باب ماجاء بین المشرق والمغرب قبلة : ۳٤٤)،

(۴) ایضا)-.

امام جریر فرمائی چه دا مطلب ددې ایت کیدیشی چه تاسو په دعا غوښتلو کښې کوم طرفته مخ کړئ نو ځما مخ به هم هغه طرفته مومئ او ځه ستاسو دعاګانې قبلوم. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه کله دا آیت ﴿اُدْعُوْنِیْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ (ځما نه دعا غواړی ځه قبلوم) نازل شو نو خلقو اوونیل کوم طرفته دعا کوو. ددې په جواب کښې دا آیت ﴿فَاَیْنَمَا تُوَلُّوْا﴾ نازل شو.

قوله تعالی:- اِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِیْمٌ ۝

بیا فرمائی چه الله ﷻ په ټولو وسعتونو باندې غالب دې او ګنجائش والا اوعلم والا دې. د هغه کفایت سخاوت او فضل وکرم ټول مخلوق باندې احاطه کړې ده. هغه ټول څیزونه پیژنی، دوړوکی نه وړوکې څیز هم دهغه پاك ذات د علم نه بهر نه دې بلکه هغه دټولو څیزونو عالم دې.

وَقَالُوا	اتَّخَذَ اللّٰهُ	وَلَدًا	سُبْحٰنَهٗ	بَلْ	لَّهٗ مَا	فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ كُلٌّ لَّهٗ
اووائی دوئ	اچې نیولې دې الله	خوئې	پاکی ده هغه لره	بلکه	هغه لره دی هرهغه څه	اچې په آسمانونو کښې دی اوپه زمکه کښې دی تول هغه لره
اویهودا ونصاری وائی	چې الله څوئې لری		هغه پاك دې (دهغه څوئې ته حاجت نشته څکه چې)		دآسمانونو اوزمکې مالک ټول څیزونه (هسې هم)	

قٰنِتُوْنَ ۝	بَدِیْعُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاِذَا	قَضٰٓی	اَمْرًا
تابعدار دی	اهغه پیداکونکې دې	دآسمانونو	اودزمکې	اوهرکله چې	فیصله کوی	دیوکار
فرمان منونکی دی	اللّٰه دآسمانونو اوزمکې پیداکونکې دې			اوهغه چې دیوکار فیصله اوکړی		

فَاِنَّمَا	یَقُوْلُ	لَهٗ	كُنْ	فَیَكُوْنُ ۝
نوبیشکه	وائی	اهغه کار ته	شه	نو هغه موجود شی
نووائی چې	اوشه (نوهغه کار هم هغه شان)	اوشی		

الله ﷻ مقتدر اعلی او بې نیاز دې:- دا او ددې سره ایت دمشرکانوپه رد کښې دې. اوددوی په شان نصرانیانو او یهودو په رد کښې هم دې چه وائی چه دالله تعالی لره اولادشته دې. دوی ته وئیلې کیږی چه د زمکو اوآسمانونو وغیره ټولو څیزونو مالك الله ﷻ دې، ددوی پیدا کولو والا، رزق ورکولو والا، ددوی اندازې مقرر کولو والا، دوی ته قبضه کښې ساتلو والا، په دوی کښې بدلون کولو والا هم الله تعالی دې. نوبیا په دې مخلوق کښې د هغه اولاد څنګه کیدیشی. نه عزیر علیه السلام اونه عیسی علیه السلام دالله ﷻ څامن کیدیشی لکه څنګه چه یهودیانو او نصرانیانو خیال کولو، نه فرښتې دهغه لونړه کیدیشی لکه څنګه چه دعربو دمشرکانو خیال وو څکه چې دوه برابر څیزونه چې خپلو کښې هم جنس وی دهغې نه اولاد پیدا کیږی، نوهغه پاك ذات اولاد به څنګه اوشی؟ دهغه څوك ښځه نشته دې هغه پاك ذات دهر څیز خالق او دهر څیز عالم دې. الله تعالی په بل ځائې کښې فرمائی تاسو رحمان لره اولاد جوړوئ دا تاسو څومره بې هوده خبره کوئ، دا دومره خرابه خبره تاسو په خپلو ژبو راولئ چه په دې سره د آسمان شلیدل، دزمکې شلیدل اود غرونو ریزه ریزه کیدل ممکن دی. ستاسو دعوی ده چه الله ﷻ اولاد والا دې. دالله ﷻ اولاد خو هډو کیدې نشی دهغه نه سوا چه څوك دی دهغه په ملکیت کښې دی، دزمکې او آسمان ټولې هستئ دهغه په غلامئ کښې دی چه هغه پاك ذات دا ټول په خپله قبضه کښې ګیر کړی دی او شمیر کړی دی او په دوی کښې به هر یو کس هغه ته د قیامت په ورځ ځانله ځانله پیش

Scanned with CamSc

کیږی نو غلام اولاد نشی کیدلې ، ملکیت او ولدیت دوه مختلف څیزونه او متضاد څیزونه دی. اویه سورت اخلاص کښې هم ددې نفی شوې ده ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝﴾ (اووایه چه الله تعالی یو دی ، الله ﷻ بې نیازه دی ، دده څوك اولاد نشته دی ، نه ئې مور پلار شته دی ، دده څوك هم جنس نشته دی.) په دې آیتونو کښې او ددې په شان نورو آیتونو کښې هغه خالق کائنات خپله تسبیح بیان کړې ده ، خپل بې نظیری ، بې مثله کیدل او شریك نه لرل ئې ثابت کړی دی او دمشرکانو ددې گنده عقیدې دباطل کیدو اعلان ئې کړې دې اوفرمائیلې یې دی چه هغه ذات خو دټول کائنات رب اوخالق دې نو بیا د هغه ذات اولاد او لونړه چرته نه راغلل ؟.

حدیث قدسی :- دسورت بقرې ددې آیت تفسیر په بخاری کښې په یو حدیث قدسی کښې دې چه الله ﷻ فرمائی چه ابن آدم زما تکذیب کوی اوده دپاره دا لائق نه دی ، هغه ماته کنځل کوی ده دپاره دا نه دی پکار . دده په دروغه گنړل خو دادی چه هغه دا خیال کوی چه څه دده دمرګ نه پس دده په بیا ژوندی کولوباندې قادر نه یم .اود ده کنځل کول دادی چه هغه زما دپاره اولاد ښائی حالانکه څه پاك یم او اعلی ذات یم اوددې نه پاك یم چه څما دې اولاد وی او څما دې ښځه وی(۱) هم دا حدیث په نوروسندونو سره په کتابونو کښې هم په اختلاف دالفاظو راغلې دې. بخاری اومسلم کښې دی چه رسول کریم ﷺ فرمائی چه بدوخبرو آوریدل او په دې باندې صبر کولو کښې دالله تعالی نه څوك زیات (صابر) نشته دې ، خلق دهغه ذات اولاد ښائی او هغه پاك ذات دوی ته رزق او معافی کوی. (۲)

قوله تعالی:- كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ

هرڅیز دالله تابع دې:- بیافرمائی چه هر څیز دده اطاعت والا دې ، دده دغلامئ اقرار کوی ، دده دپاره اخلاص کولو والا دی ، دده په دربار کښې دقیامت په ورځ لاس په نامه ولاړ په دنیا دده غلامان دی. چه چاته اووائی نو وائی چه داشان جوړ شه نو هغه هم هغه شان جوړ شی .داشان هر یو د هغه په وړاندې تابعدار او سرتیټې دې .اگر چه کافران نه غواړی خوبیاهم ددوی سیوری دالله ﷻ په وړاندې تیټیږی . قران پاك کښې په بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ﴾ (د زمکې آسمان ټول څیزونه خوشحاله اوخفه دالله تعالی په وړاندې سجده کوی ، ددوی سینې سحرماښام تیټیږی) یو حدیث پاك کښې دی چه چرته قران پاك کښې دقنوت لفظ دی نودهغې نه مراد اطاعت دې. (۳)خو ددې مرفوع کیدل صحیح نه دی.ممکن دی چه د صحابی یا دبل چاکلام وی.دې سندسره دنورو آیتونو تفسیر هم مرفوع مروی دې.خو یاد ساتل پکاردی چه دا ضعیف دی. څوك دې هم په دې نه دهوکه کیږی.والله اعلم.

قوله تعالی:- بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

د زمکې اواسمانونو پیدا کونکی:- بیا فرمائی چه هغه پاك ذات زمکې اوآسمان پیدا کولو والا دې بغیر د څه مخکښې نقشې کتلو نه. په لغت کښې دبدعت معنی خو پیدا کولو والا اونوې جوړولو والا ده. په حدیث شریف کښې دی چه هر بدعت ګمراهی ده. (۴)دا خو شو شرعی بدعت ، کله کله د بدعت اطلاق صرف په لغت باندې وی ، شرعی طور مراد نه وی. لکه حضرت عمر فاروق ﷺ خلق په تراویح باندې جمع کړل ، بیا دا شان ئې جاری اوساتل او وې فرمائیل چه دا ښه بدعت دې. (۵)

---

۱) صحیح بخاری : کتاب التفسیر باب (وقالواتخذالله ولد سبحانه) ۴۸۲)-

۲) صحیح بخاری : کتاب الادب باب الصبر فی الاذی:۶۰۹۹، وصحیح مسلم: ۲۸۰۴)-

۳) احمد: ۷۵/۳)-

۴) ابوداود: کتاب السنة باب فی لزوم السنة:۴۶۰۷، وسنده صحیح ، ترمذی : ۲۶۷۶)-

۵) صحیح بخاری: کتاب صلاة التراویح باب فضل من قام رمضان : ۲۰۱۰)-

Scanned with CamScanner

دبدیع تشریح:- (بدیع دمبدع) نه راخستې شوېدې لکه د (مولم) نه (الیم) او د (مسمع) نه (سمیع). د (مبدع) معنی انشاء او نوی پیدا کولو والا ده ، بغیر دمثال او نمونې نه او بغیر د رومبی خل دپیدائش نه پیدا کولو والا ده. بدعتی ته په دې وجه بدعتی وئیلې شی چه هغه هم دالله ﷻ په دین کښې هغه کار یا هغه طریقه ایجاد کوی چه دده نه مخکښې په شریعت کښې نه وی ، داشان څه نوې کار پیدا کولو والا ته په عربیۍ ژبه کښې مبتدع وائی. ابن جریر رحمه الله فرمائی چه مطلب دا شوچې الله ﷻ د اولاد نه پاک دې ، هغه پاک ذات دزمکې او اسمان او دټولو څیزونو مالک دې. هر یو څیز دهغه د وحدانیت دلیل دې. هر څیز دهغه اطاعت کولووالا دې. دټولو پیدا کولووالا ، جوړولو والا ، موجود کولو والا ، بغیر داصلی او مثال نه هغه په وجود کښې راوستلو والا هم هغه یو رب العالمین دې. دهغه پاک ذات ګواهی هر یو څیز ورکوی. پخپله مسیح علیه السلام هم دهغه ګواه او بیانولو والا دې. چه کوم یو رب دا ټول څیزونه بغیر دنمونې او بغیر دمادې او اصل نه پیدا کړه،هغه پاک ذات حضرت عیسی علیه السلام بغیر د پلار نه پیداکړو بیا هیڅ وجه نشته دې چه تاسو هغه (حضرت عیسی علیه السلام) لره دالله ﷻ څوښې اومنئ.

قوله تعالی:- وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ

دکائناتو هر څیز کول هغه ته اسان دی:- بیا فرمائی چه دهغه الله ﷻ قدرت او سلطنت او شوکت داسې دې چه کوم یو څیز لره څنګه جوړوی او پیدا کوی نوهغه ته وائی چه داشان شه نوهغه هم هغه شان شی . لکه فرمائی چه ﴿ إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَن يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴾ په بل ځاني کښې فرمائی چه ﴿ إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْنَاهُ أَن نَّقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴾ او ارشاد دې چه ﴿ وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴾ . شاعر وائی چه :

اذاما اراد الله فانما يقول له كن فيكون

مطلب دټولو دادې چه دالله ﷻ اراده دیو څیز وی او هغه پاک ذات اووائی چه شه نوهغه موجود شی.دهغه پاک ذات د ارادې نه ؟؟ د هغه پاک ذات د ارادې نه مراد جدا کیدل نه دې. نو ددې پورتنو آیتونو په ذریعه عیسایان ډیر په نازک انداز سره پوهولې شی چه حضرت عیسی علیه السلام هم ددې کن په وینا سره پیدا شوې دې. په بل ځاني کښې صفاصفا فرمائی چه ﴿ إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ خَلَقَهُ مِن تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴾ (د حضرت عیسی علیه السلام مثال دالله ﷻ په نیز د حضرت آدم علیه السلام په شان دې چه هغه د خاورې نه پیدا شوې وو ، بیائې اوفرمائیل چه شه نو هغه شو).

وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ	
اووائی هغه کسان چې نه لری پوهه	
اوناپوهه کسان وائی	
لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللَّهُ أَوْ تَأْتِينَا آيَةٌ ۗ كَذَٰلِكَ قَالَ الَّذِينَ	
ولې نه کوی خبری زمونږ سره الله یا ولې نه راخی مونږ ته ایوه نښه هم دارنګ ایه وئیل هغه کسانو	
چې الله پاک مونږ سره ولې پخپله خبرې نه کوی یاولې مونږ ته (ستادصداقت) نښې نه رالیږی ادغسې خبرې کړې	
مِن قَبْلِهِم مِّثْلَ قَوْلِهِمْ ۘ تَشَابَهَتْ قُلُوبُهُمْ ۗ قَدْ بَيَّنَّا	
چې مخکښې ددوئ نه وو په شان دوینادوئ یوشان شوی دی زړونه ددوئ بیشکه بیان کړی دی مونږ	
پخوانوخلقوهم کړې وې ددوئ اودهغوئ زړونه (په کفر کښې) یود بل پشان دی مونږ بیان کړی دی	
الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ	
ایاتونه ډپاره دهغې خلقو چې یقین لری	
نښې نښانې دیقین لرونکودپاره	

دالله د خبرو مطالبه کول:- رافع بن حریمله رسول کریم ﷺ ته وئیلی ووکه ته رښتونې نې نو الله ﷻ مونږ ته پخپله ولې نه وائی؟چه مونږپخپله هم دهغه ذات کلام واورو. نو په دې باندې دا آیت نازل شو (۱) مجاهد رحمه الله فرمائی چه دا خبره نصرانیانو کړې وه. ابن جریر رحمه الله فرمائی چه هم دا صحیح معلومیږی خکه چې دا آیت دهغوی دبیان په دوران کښې دې.خو په دې قول د سوچ کولوضرورت دې.قرطبی رحمه الله فرمائی چه هغوی وئیلی وو چه درسول کریم ﷺ دنبوت خبرمونږ ته الله ﷻ پخپله ولې نه راکوی. اوهمدا خبره صحیح ده. والله اعلم بعضې مفسرین وائی چه دا قول دعربو د کفارو وو

قوله تعالی:- كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ

اوبیا چې دا فرمائی چه داشان بې علمه خلقو هم وئیلی وو ، ددې نه مراد یهود او نصرانیان دی. (۲)

ددې مطلب تائیدی ایاتونه:- قرآن پاك کښې په بل خائې کښې دی ﴿وَاِذَا جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ﴾ دوی ته چه کله څه نښه راشی نو وائی چه مونږ به ترهغه وخته پورې نه منو چه تر کومې پورې هغه رانکړې شی کوم چه رسولانو ته ورکولې شی) او په بل مقام باندې فرمائی چه ﴿قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ﴾ (او هغوی وائی چه مونږ په رسول کریم ﷺ باندې هیڅ کله ایمان راونړو تر کومې پورې ته زمونږ دپاره په دې زمکه کښې چینې جاری نه کړې) او په بل خائې کښې فرمائی چه ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا﴾ (زمونږ دملاقات نه منکر وائی چه په مونږ باندې فرشتې ولې نه نازلیږی ، الله ﷻ مونږ ته ولې نه مخامخ کیږی ؟ الخ. او په بل مقام کښې فرمائی چه ﴿بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ اَنْ يُّؤْتٰى صُحُفًا مُّنَشَّرَةً﴾ په دوی کښې هر سړې دا غواړی چه هغه ته دې پخپله یو کتاب ورکړې شی ، وغیره وغیره.

دعناد په وجه د معجزاتو مطالبه کول:- دا آیت صفا وائی چه د عربو مشرکانو د رسول کریم ﷺ نه صرف دعناد او تکبر په وجه د داسې داسې څیزونو مطالبه کړې وه، داشان دا مطالبه هم ددې مشرکانو وه او ددوی نه مخکښې اهل کتابو هم داسې فضول سوالات کړی وو.ارشاد دې چه ﴿يَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ﴾ الخ (اهل کتاب ستاسونه دا غواړی چه تاسو په دوی باندې څه کتاب نازل کړئی او د حضرت عیسی علیه السلام نه هم دوی ددې نه زیات غټ سوال کړې وو. هغوی ته نې وئیلی وو چه مونږ ته الله ﷻ مخامخ اوښایه). او په بل خائې کښې (اهل کتابو ته) فرمان دې چه کله تاسو اوونیل چه ای موسی علیه السلام مونږ په تاسو باندې بالکل ایمان نه راوړو تر کومې چه رب مونږته مخامخ خان اونه ښائې.

قوله تعالی:- تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ

د کافرو په زړونو کښې مشابهت:- بیا فرمائی چه ددوی اودهغوی زړونه یوشان او مشابه دی یعنی ددې مشرکانو زړونه د نوروکافرو پشان دی. او په بل مقام باندې فرمائی چه خلقو هم خپلو نبیانو ته جادوګر او لیونی وئیلی وو، دوی هم دهغوی موافقت اوکړو.

قوله تعالی:- قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ

اهل یقین دپاره د ایاتونو کفایت:- بیا فرمائی چه مونږ یقین والو ته خپل آیتونه بیان کړل ددې نه درسول تصدیق ښکاره دې. دځه بل څیز طلب کولو حاجت باقی نشته دې ، هم دا نښې دایمان والو دپاره کافی دی. خو چه دچا په زړونوباندې مهر لګیدلې دې نو هغوی ته دهیڅ یو آیت نه څه فائده نه وی لکه فرمائی چه ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ﴾ الخ (چه په دوی باندې ستا درب خبره ښکاره شوې ده هغوی ایمان نه راوړی اګر چه دوی ته ټول آیاتونه راشی تر کومې پورې چه دوی دردناك عذاب اونه ګوری).

---

۱) ابن ابی حاتم : ۱ /۳۵۲)-

۲) ابن ابی حاتم : ۱ /۳۵۲)-

Scanned with CamScanner

إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ بَشِيرًا

| بیشکه لیږلی ئې مونږته | په حق سره | زیږې ورکونکې |

| (اوددې نه لویه ننبه به څۀ وی چې) مونږ ته په حقه سره (د جنت) زیږې ورکونکې

وَنَذِيرًا وَلَا تُسْـَٔلُ عَنْ أَصْحَٰبِ ٱلْجَحِيمِ

اویرونکې | اونۀ به کیږی ستانه تپوس | په باره دخاوندانو د دوزخ کښې |

او (د عذاب نه) ویرونکې لیږلی ئې | اوستانه به د دوزخیانو باره کښې تپوس نه کیږی |

په پیغمبر صرف تبلیغ دې:- حدیث پاک کښې د جنت خوشخبری او د جهنم نه ویرل دی. د ﴿لَا تُسْئَلُ﴾ دویم قرات ﴿مَا تُسْئَلُ﴾ هم دې .اود حضرت ابن مسعود ﷺ په قرات کښې ﴿لَنْ تُسْئَلَ﴾ دې. یعنی ستانه به دکافرو په حقله سوال نشی کولې. لکه فرمائی چه ﴿فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَٰغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ﴾ (ستا کار صرف رسول دی ، حساب خو زمونږ په ذمه دې) او فرمائی چه ﴿وَذَكِّرْ ۖ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ ۝ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ﴾ (ته نصیحت کوه ته صرف نصیحت کولووالا ئې ته په دوی باندې داروغه نه ئې).او په بل مقام کښې فرمائی چه ﴿نَّحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُولُونَ﴾ (مونږته ددوی خبرې ښه معلومې دی ته په دوی باندې زور کونکې نه یې ته دقران پاك په ذریعه دوی ته نصیحت اوکړه چه دقیامت نه اوویریږی). هم ددې مضمون نور آیتونه هم ډیردی.په یو قرات کښې ﴿ولاتسئلنی﴾ هم دې.یعنی ائې نبی ﷺ ددې جهنمیانو په باره کښې خما نه تپوس مه کوه.

عبدالرزاق کښې دی چه رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه کاش ماته دخپل مور پلار حال معلوم وې ، کاش چه ماته دخپل مور پلار حال معلوم وې ، کاش چه ماته دخپل مور پلار حال معلوم وې. نوپه دې باندې دا فرمان نازل شو ، بیا تر آخره پورې رسول کریم ﷺ د خپل مور پلار باره کښې ذکر اونکړو(۱)ابن جریر رحمه الله هم په روایت د موسی بن عبیده رحمه الله وارد کړی دی خو په راوی باندې کلام دې. قرطبی رحمه الله وائی چه مطلب دادې چه جهنمیانو حال دومره خراب او بد دې چه ته هیڅ تپوس مه کوه.

درسول کریم ﷺ د والدینودکفر او ایمان بیان :- قرطبی رحمه الله په تذکره کښې یو روایت نقل کړې دې چه د رسول کریم ﷺ والدین ژوندی کړې شو او هغوی ایمان راوړو. او په صحیح مسلم کښې یو حدیث دې چه په هغې کښې رسول کریم ﷺ دچا په سوال باندې اوفرمائیل خما پلار اوستا پلار په اور کښې دی. ددې جواب هم په هغه خائې کښې دې(۲)خو یادداسې پکار دی چه د رسول کریم ﷺ مور پلار دژوندی کیدو حدیث په صحاح سته وغیره کښې نشته دې اوددې اسناد ضعیف دی والله اعلم.

ابن جریر رحمه الله یو مرسل حدیث کښې فرمائی چه رسول کریم ﷺ یو ورځ تپوس اوکړو چه خما مور پلارچرته دې ؟ نو په دې باندې دا آیت نازل شو. ابن جریر رحمه الله ددې تردید کړې دې او فرمائی چه دا محال دی چه رسول کریم ﷺ دخپل مور پلار باره کښې شك اوکړی. رومبې قرات صحیح دی. خو مونږ ته په امام همام باندې تعجب دې چه هغه دې ته محال څنګه اوونیل ؟ ممکن دی چه دا واقعه دهغه وخت وی چه کله رسول کریم ﷺ دخپل مورپلار دپاره استغفار کولو. اوانجام ورته معلوم نه وو. بیا چه کله ورته ددې دواړو حالت معلوم شو نو رسول کریم ﷺ دا پرینبسودل او بیزارئی ئې ظاهره کړه او صفا ډیر مثالونه دی.

---

۱) اخرجه عبدالرزاق فی تفسیر: ۱۲۶، الطبری: ۱۸۷۷،)-

۲) صحیح مسلم ، کتاب الایمان باب بیان ان من مات علی الکفر.....۲۰۳)-

Scanned with CamSc

په تورات کښې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم صفتونه: - مسند احمد کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ نه حضرت عطاء بن یسار رحمه الله تپوس اوکړو چه د رسول کریم ﷺ صفت او ثناء په تورات کښې څنګه ده ؟ نو دوی اوفرمائیل چه آو په الله ﷻ قسم چه کوم صفتونه د رسول کریم ﷺ په قران پاک کښې دی هم هغه په تورات کښې دی . په تورات کښې دی چه انې نبی ﷺ مونږ ته ګواه او زیری ورکوونکی او ویرولو والا او دان پرهو بچ کولو والا لیږلې ني ته خما بنده او خما رسول ني ، ما ستا نوم متوکل ایښودی دي. نو نه خو بدزبانه ئې نه سخت زړه ، نه بداخلاقه ، نه په بازارونو کښې شور کولو والا ، نه دبدئی په بدله کښې بدئی کولو والا ني. بلکه ته خو معاف کولو والا ني، الله ﷻ به هغه تر هغه وخته پورې ددنیا نه اوچتوی تر څو چه دهغه په وجه دین صحیح نه کړی او درست ني نکړی او خلق د ﴿لااله الاالله﴾ اقرار اونکړی. اوددوی زړي سترګې غړې نشی . اوددوی کانړه غوږونه اوریدونکی نشی . او ددوی زنګ شوی زړونه صفا نشی. دبخاری په کتاب البیوع کښې هم دا حدیث دي چه او په کتاب التفسیر کښې هم (۱) ابن مردویه کښې ددې روایت نه پس دی چه عطاء وائی چه څه بیا لاړم اود حضرت کعب ﷺ نه مې دا سوال اوکړو نو هغوی هم دا جواب راکړو.

وَلَنْ تَرْضٰى	
اوهیڅکله به راضی نشی	
اوستا نه یهود او	
عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ؕ قُلْ	
ستانه یهودیان اونه عیسایان ترهغې پورې چې ته روان شې په طریقې دهغوئ ورته اووایه	
نصاری هیڅکله نه راضی کیږی ترڅو چې ته ددوئ د مذهب تابعداری اونکړې ورته اووایه	
اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ اَهْوَآءَهُمْ	
چې بیشکه لارښودنه دالله بس هغه حقیقی لارښودنه ده اوکه چرې تابعداری اوکړه تا دخواهشاتو دهغوئ	
چې الله ماته کومه لار خودلې ده هم هغه سمه لار ده اوکه ته ددوی خواهشاتو پسې روان شوې	
بَعْدَ الَّذِيْ جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ۝	
روستو دهغې نه چې راغلې دي تاته علم انو نشته ستا دپاره دالله نه سوا څوک دوست اونه مددګار	
دپوره علم نه پس نوالله (د عذاب) نه دبچ ساتلو به ستا هیڅ دوست او مددګار پیدا نشی	
اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ	
هغه کسان چې ورکړي دي مونږ هغوئ ته کتاب هغوئ لولی هغه کتاب الکه څنګه چې حق دي	
هغه خلق چاته چې مونږ کتاب (توارت) ورکړي دي اوهغوی په حقه د هغې کتاب تلاوت کوی	
تِلَاوَتِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ	
دوینا دهغې هغوئ ایمان راوړی په هغې باندې اوچاچې انکار اوکړه دهغې نه	
هغوئ په دې کتاب (قران) هم ایمان راوړی (اوقران دچا منت کونکی نه دی) اوڅوک چې ترې انکار اوکړی	

(۱) صحیح بخاری : کتاب البیوع ، باب کراهیة السخب فی السوق: ۲۱۲۵، کتاب التفسیر ، باب (انا ارسلناک شاهدا و مبشرا ونذیرا) ۴۸۳۸)-

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٢٧﴾

نو هغوئ | په اصل کښې نقصان موندونکی دی |

نوهغوئ یوازې خپل تاوان کوی|

قوله تعالی:- وَلَنْ تَرْضَىٰ عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ

ددې پورتنی آیت مطلب دا دی چه خلق هیڅ کله ستانه نۀ راضی کیږی. ته دوی پریږده او د رب په رضا پسې روان شه. دوی ته د رسالت دعوت اورسوه. حق دین هغه دې چه کوم الله ﷻ تاته درکړې دې. ته په دې باندې قائم اوسه. په حدیث کښې دی چه ځما دامت یو جماعت به په حق قائم وی او دنورو مقابله به کوی او غلبې سره به وی. تر دې پورې چې قیامت راشی. (۱)

د باطل پرستو د تابعدارئ ممانعت:- بیا خپل نبی ته خطاب کوی او خبرداري ورکوی چې بالکل ددوی د رضا او د صلحې دپاره په خپل دین کښې سستی مه کوه. دوی طرفته مه ټیټیږه. اونه ددوی خبره منه. فقهاء کرامو ددې آیت نه استدلال کړې دې چه کفر یو مذهب دې که هغه یهودی وی او که نصرانی وی یا بل یو وی، ځکه چه ملت لفظ په دې ځائې کښې مفرد راغلې دې لکه څنګه چه په بل مقام باندې دی چه ﴿ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ ﴾ (ستاسو دپاره ستاسو دین او زما دپاره ځما دین دې) . په دې استدلال باندې ددې مسئلې بنیاد ایښودې شوې دې مسلمان او کافر په خپلو کښې وارثان نشی کیدلې اوکافران په خپلو کښې دیو بل وارثان کیدیشي . که هغوی د یو قسم کافران وی او که دبیل بیل کفر کافر وی. د امام شافعی رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله هم دامذهب دی. او امام احمد رحمه الله نه هم په یو روایت کښې دا نقل دی. او په بل روایت کښې دی چه امام احمد رحمه الله او امام مالك رحمه الله نه دا قول روایت دې چه دوه مختلف مذهبونو والا خپلو کښې دیو بل وارثان نشی جوړیدې ، یو صحیح حدیث کښې هم دا مضمون راغلې دې. (۲)والله اعلم.

مختلف دین والا یو بل نه میراث نشی اوړې

مسلک حنفی:- هرکله چې دینونه مختلف وی مثلا یو مسلمان وی او بل کافر وی نو اګرچې په نسب کښې ډیر نزدې وی بیا هم د یو بل میراث نشی اوړې (سراجی فصل في الموانع صفحه ۶)-

قوله تعالی:- الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ

دتلاوت حق څه دی :- بیا فرمائی چه مونږ چاته کتاب ورکړې دې هغوی دتلاوت حق ادا کوی او لولی ئې. قتاده رحمه الله وائی چه ددې نه مراد یهود اونصرانیان دی. او په بل روایت کښې دی چه ددې نه اصحاب درسول الله ﷺ مراد دی ①حضرت عمر فاروق فرمائی چه دتلاوت حق دا دې چه دجنت د ذکر په وخت کښې دجنت سوال وی او دجهنم دذکر په وخت کښې ددې نه پناه غوښتل وی(۳)②حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی چه دحرام اوحلال پیژندل ، کلمات په خپل ځاې ادا کول کمې زیاتې نه کول وغیره هم دا دتلاوت حق ادا کول دی(۴)③حسن بصری رحمه الله فرمائی چه واضح آیتونو باندې عمل کول ، متشابه آیتونو باندې ایمان راوړل ، مشکلات دعالمانو په وړاندې پیش کول دتلاوت حق سره وئیل دی④حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه ددې مطلب د اتباع حق ادا کول هم روایت شوې دې. نو تلاوت په معنی داتباع دې. لکه څنګه چه ﴿وَالْقَمَرِ إِذَا تَلَاهَا﴾ کښې دی. یو مرفوع حدیث کښې ددې هم دا معنی روایت

---

۱) صحیح مسلم : ۱۹۲۲)-

۲) ابن ماجة كتاب الفرائض باب ميراث اهل الاسلام من اهل الشرك: ۲۷۳۱، وهو صحيح)-

۳) القرطبی : ۹۵/۲)-

۴) الطبری:۵۶۷/۲)-

Scanned with CamSc

شوې ده. خو ددې بعضې راویان مجهول دی اګر چه معنی صحیح ده. حضرت موسی اشعری ﷺ فرمانی چه د قران پاك اتباع کولو والا دجنت په باغیچو کښې کوزیدو والا دي. د حضرت عمر فاروق ﷺ د تفسیر مطابق دا هم روایت دي چه رسول کریم ﷺ چه به کله د رحمت دذکر آیت لوستلو نو ادریدلو به اودالله ﷻ نه به ئې د رحمت طلب کولو اوکله چه به ئې دعذاب آیت تلاوت کولو نو اودریدلو به اوالله ﷻ نه به ئې پناه غوښتله . (۱)

قوله تعالی:- أُولَٰئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ

د بعضې اهل کتابو په قران ایمان راوړل:- بیا فرمائی چه په دې باندې ایمان هم دا خلق ساتی. یعنی چه کوم اهل کتاب خپل کتاب لره ښه په سوچ او پوهې سره تلاوت کوی ، دغه خلق د قران عظیم الشان نه متاثره شی او په دې خامخا ایمان راوړی. لکه یو ځائې کښې ارشاد دي چه ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَاةَ ﴾ (که دوی په تورات او انجیل باندې او دالله ﷻ دطرفنه په نازل شوی ځیزباندې قائم پاتې وې نو دوی ته به د پورته نه او دلاندې نه خوراك ملاویدو الخ) او فرمائی چه ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ﴾ ائې اهل کتابو ترکومې پورې چه تاسو په تورات او انجیل او هغه ځیز چه ستاسو طرفته نازل شوې دي په هغې قائم پاتې نشئ نو تر هغه پورې تاسو په هیڅ ځیزباندې نه یئ ددې قائم ساتل لازم دی چه په دې کښې څه دی هغه ربښتیا اومنئ او په دې کښې د رسول کریم ﷺ ذکر او د رسول کریم ﷺ صفات اود رسول کریم ﷺ دتابعدارئی حکم دي ، ددوی همرکابی ټول هر څه موجود دی. او په بل مقام باندې فرمائی چه کوم خلق د اُمی نبی تابعداری کوی ، چه دکوم رسول ذکر او تصدیق په خپل کتاب تورات اوانجیل کښې هم دوی لیکلې شوی ګوری . او په بل مقام باندې فرمائی چه ﴿إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهِ﴾ (تاسو که ایمان راوړئی اوکه راونړئی چه چاته ددې نه مخکښې علم ورکړې شوې دي په هغوی باندې چه کله دالله ﷻ دکتاب تلاوت کیږی نودوی په سجده کښې پریوزی اووائی چه زمونږ رب پاك دي اوزمونږ درب وعده بالکل ربښتونې او صحیح ده. او په بل ځائې کښې دی چه کومو خلقو ته مونږ ددې نه مخکښې کتاب ورکړې وو هغوی هم په دې باندې ایمان راوړی او کله چه په هغوی ته دا لوستلې شی نوهغوی دخپل ایمان اقرار کوی او وائی چه مونږ خودا د مخکښې نه منو، دوی ته به ددوی دصبر دوچند اجر ورکولې شی. دا خلق بدئی لره په نیکئ سره لرې کوی. زمونږ په ورکړه کښې خیرات کوی . په بل مقام باندې فرمائی چه﴿وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَالْأُمِّيِّينَ﴾ (دې لوستونکو او نه لوستونکی ته اووایه چه آیا تاسو اسلام قبلوئی ؟ که دوی اومنی نو په لار دی اوکه نه منی نو په تاباندې صرف تبلیغ دي ، الله ﷻ خپلوبندګان ښه وینی.

قوله تعالی:- فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ

ایمان نه راوړونکی تاوانیان دی:- هم په دې وجه فرمائی چه په هغه ذات باندې کفر کونکې په نقصان کښې دی. لکه فرمائی چه ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِهِ مِنَ الْأَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ ﴾ چه څوك هم دهغه سره کفر کوی نو هغوی په نقصان کښې دی. په صحیح حدیث کښې دی چه دهغه ذات قسم چه دهغه لاسو کښې ځما ساه ده په دې امت کښې څوك ځما واوری که هغه یهودی وی اوکه نصرانی او بیا هم په ما باندې ایمان راونړی نو هغه جهنمی دي.(۲)

---

۱) ابن ماجه: ۱۳۵۱، صحیح مسلم : کتاب صلاة المسافرین ، باب استحباب تطویل القراءة فی صلاة اللیل : ۱۸۱٤)-

۲) صحیح مسلم : کتاب الایمان ، باب وجوب الایمان برسالة نبینا: .....۱۵۳)-

Scanned with CamScanner

يٰبَنِيٓ اِسۡرَآءِيۡلَ اذۡكُرُوۡا نِعۡمَتِيَ الَّتِيۡٓ

| اے بنی اسرائیلو | یاد کړئ | نعمت زما | هغه

اې دحضرت یعقوب(علیه السلام) اولاده خما هغه نعمت یادکړئ

اَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَاَنِّيۡ فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۴۷﴾ وَاتَّقُوۡا

چې ماکړې وو | په تاسو باندې | اوبل دا چې ما | غوره کړی وئ تاسو | په خلقو | اواویریږئ

چې په تاسومې کړې وو | اوتاسومې (دخپلې زمانې) په ټولوخلقوغوره کړې وئ | او ویریږئ

يَوۡمًا لَّا تَجۡزِيۡ نَفۡسٌ عَنۡ نَّفۡسٍ شَيۡـًٔا

دهغه ورځې نه | چې نۀ به شی ورکولې | په بدله کښې یو نفس | دبل یونفس نه | هیڅ څیز

دهغې ورځې (دنیولونه) چې هیڅوک به د هیچا په کار رانشی (که پلار وی اوکه اولاد اوکه یاران)

وَّلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٌ وَّلَا تَنۡفَعُهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا

اونۀ به شی قبلولې | ددغه نفس نه | فدیه | اونۀ به ورکوی فائده دغه نفس ته | سفارش | اونۀ به

اونه بۀ دچانه نه فدیه قبوله کړې شی | اونه به چاته سفارش فائده اورسوی | اونه به (دکافرانو)

هُمۡ يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۴۸﴾

دهغوئ سره | مدد اوکړې شی |

هیڅ قسمه مدد اوکړې شی |

تاکیدی خطاب:- مخکښې خو تقریباً په دې موضوع باندې ایت تیر شوې دې اودهغې مفصل تفسیر هم بیان شوې دې. په دې ځائې کښې صرف دتاکید په طور ذکر کړې شوې دې او دوی ته دامی نبی دتابعداری رغبت ورکړې شوې دې. چه دهغه صفتونه به دوی په خپلو کتابونو کښې لوستل. چه دهغه کار او نوم مبارك هم لیکلې شوې وو. د رسول کریم ﷺ د امت ذکر هم په دې کښې موجود دې. نو دوی لره ددې دپټولو او دالله ﷻ دنورو نعمتونو دپټ ساتلو په وجه ویرولې شی. او ددنیاوی او دینی نعمتونو ذکر کولې شی. اوپه عربو کښې چه ددوی دتره (اسماعیل علیه السلام) ځامن دی. دالله ﷻ چه کوم نعمت راغلې دې، په هغې کښې خاتم النبیین الله ﷺ راولیږلو هغه سره حسد نه کوی او دنبی په مخالفت او ددوی په تکذیب باندې د نه راضی کیدو هدایت ورکولې شی.

وَاِذِ ابۡتَلٰٓى اِبۡرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ

| اویادکړئ کله چې | ازآمایو | ابراهیم لره | رب د هغه | په څوخبرو |

| او(یادکړه هغه وخت چې) دابراهیم رب په یوڅوخبرو کښې دهغه آزمینښت اوکړو

فَاَتَمَّهُنَّ ؕ قَالَ اِنِّيۡ جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ اِمَامًا ؕ

نو هغه پوره کړې هغه خبرې | اوونیل الله | چې زه | جوړونکې یم تالره | دپاره دخلقو | پیشوا |

نوهغه ټول حکمونه په ځائې کړل | الله ورته اوفرمانیل چې زه تا د خلقو دپاره پیشوا ګرځوم هغه اوونیل چې

Scanned with CamScanner

قَالَ	وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ؕ	قَالَ	لَا يَنَالُ	عَهْدِي الظّٰلِمِيْنَ ۝
اوونیل ابراهیم‌اودا اولادزما نه هم اوکړخوی‌اوونیل الله‌ نه شاملیږی				وعده زما ظالمانو ته
زما په اولاد کښې هم (داسلسله قائمه اوساته)الله ورته اوونیل چې(ښه ده خو) زما وعده د ظالمانوپه حق کښې نه ده				

په توحید کښې ددنیا امام :- په دې ایت کښې دخلیل الله حضرت ابراهیم ﷺ د بزرګئ بیان دې چه په توحید کښې ددنیا امام دې.چه هغه په تکلیفونو باندې صبر اوکړو اوالله ﷻ داحکامو پوره کولو کښې ثابت قدم پاتې شو . فرمانی چه اې نبی ﷺ ! چه ته دا مشرکان او اهل کتاب چه د ملت ابراهیمی دعویدار دی ، لږ خو دوی ته ابراهیم ﷺ د فرمانبردارئی اود اطاعت واقعات واوروه چه دوی ته معلومه شی چه په دین حنیف باندې اوپه اسوه ابراهیم باندې څوک قائم دی ؟ هغه خوته ﷺ او ستا اصحاب ﷺ دی .

د دې معنی تائیدی ایاتونه: ①اوپه قران پاک کښې په بل خائې کښې ارشاد دې چه ﴿وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰٓى ۝﴾ (او ابراهیم ﷺ هغه دې چه هغه پوره وفاداری اوخودله)②او په بل مقام باندې فرمانی چه ﴿ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ كَانَ اُمَّةً قَانِتًا ﴾(ابراهیم ﷺ دخلقو پیشوا دالله ﷻ فرمانبردار ، مخلص او د نعمت شکرګزار وو). هغه الله ﷻ خوښ کړې وو او په نیغه لار ې راوستلو. هغه ته مونږ په دنیا کښې نیکی ورکړې وه او په آخرت کښې به د نیکانو په ډله کښې وی بیا مونږ اې نبی ﷺ ستا طرفته وحی نازله کړه ، ته د حضرت ابراهیم ﷺ د ملت په نقش قدم باندې روان شه او هغه دمشرکانو نه نه وو③او په بل مقام باندې ارشاددې چه حضرت ابراهیم ﷺ نه یهودی وو ، نه نصرانی وو،اونه مشرک وو. بلکه خالص مسلمان وو اوهغه قربت اونزدیکت کښې هغه سړې دې چه د هغه دتعلیم تابع وی او ادا نبی ابتلاء او ایمان والا ، ددې ایمان والو الله ﷻ پخپله دوست دې. دابتلاء معنی امتحان او آزمیښت ده.

کلمات کوم کوم دی ؟: ①دکلماتو نه مراددشریعت حکم او ممانعت وغیره دې.②کلماتو نه مراد کلمات دتقدیر هم وی.لکه دحضرت مریم علیها السلام په باره کښې ارشاد دې چه﴿وَصَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا﴾ (هغې دخپل درب کلماتو تصدیق اوکړو اودهغه دلیك شوی هم ، هغه ډیره فرمانبرداره وه)③اودکلمات نه مراد کلمات شرعیه هم وی﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ﴾ (دالله ﷻ شرعی کلمات صداقت او عدل سره پوره شوی)،داکلمات یا خو ربښتیا خبرې دی یا طلب دعدل دې. غرض ددې کلماتو دپورا کیدو په بدله کښې دوی ته دامامت درجه ملاوشوه.

دکلماتو باره کښې اقوال:-ددې کلماتو په باره کښې ډیر اقوال دی،لکه احکام دحج ، بریت کمول ، خوله کښې اوبه اچولو،پوره صفا کول ،مسواك کول،دسر ویښته خرئیل یا ساتل اوپه دې کښې لاره ویستل ، نوکونه پریکول،دنامه نه لاندې ویښته خرئیل،سنت (ختنه) کول ، دترخ ویښته خرئیل،د متیازو نه پس استنجاء کول،دجمعې په ورځ غسل کول،طواف کول،د صفااو مروه په مینځ کښې سعی کول ، رمی جمارکول،طواف افاضه کول وغیره.

لس خصلتونه د سورة توبه :حضرت عبدالله بن مسعود فرمانی چه ددې نه پوره اسلام مراد دې چه ددې دری حصې دی،دلسو بیان په سورت براءت کښې دی.د﴿اَلتَّآئِبُوْنَ﴾ نه تر﴿الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ پورې یعنی ①توبه کول② عبادت کول③حمدبیانول ④دالله تعالی په لار کښې تلل⑤رکوع کول⑥سجده کول ⑦دنیکئ حکم کول ⑧دبدئی نه منع کول ،دالله ﷻ حفاظت کول ، ⑩ایمان راوړل.

لس خصلتونه د سورة مومنون اومعارج :-دلسو بیان د سوره مومنون په شروع کښې او په سورت معارج کښې ﴿ قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝﴾ یعنی ①مونځ په خشوع او خضوع سره کول ②لغو اوفضول خبرو او کارونونه مخ اړول ③زکوة ورکول ④دشرمګاه حفاظت کول⑤امانتداری کول ⑥دوعدې پوره کول ⑦په مونځ

باندې همیشوالې کول ⑧قیامت رښتونې ګنړل ⑨د عذابونو نه ویریدل⑩رښتونې شهادت باندې قائم پاتې کیدل.

لس خصلتونه د سورة احزاب :-دباقی لسو بیان په سورت ا حزاب کښې د ﴿اِنَّ الْمُسْلِمِیْنَ﴾ نه تر ﴿عَظِیْمًا﴾ پورې دي.یعنی ①اسلام راوړل ②ایمان راوړل③قران پاك ونیل④رښتیا ونیل ⑤صبر کول ⑥عاجزی کول ⑦خیرات ورکول ⑧ روژه نیول ⑨، دبدکارئی نه بچ کیدل ⑩دالله ﷻ ذکر هر وخت کثرت سره کول،ددې دیرشو احکامو عامل (عمل کوونکې) وی نوهغه دپوره اسلام پابند دي . او دالله ﷻ د عذابونو نه بری دي.

دکلمات ابراهیمی مزید وضاحت:- ①په کلمات ابراهیمی کښې دخپل قوم نه جدا کیدل ②د وخت د بادشاه نه نه ویریدل ③او هغه ته تبلیغ کول ④بیا دالله ﷻ په لار کښې چه کوم مصیبت راشی په هغې باندې صبر کول ⑤بیا وطن او کور وغیره پریښودل او هجرت کول⑥میلمستوب ⑦جانی اومالی مصیبتونه دالله ﷻ په لار کښې برداشت کول ⑧، تردې پورې چه بچې دالله ﷻ په لار کښې قربانول او هغه هم په خپل لاس سره،داټول احکام خلیل الله حضرت ابراهیم ﷺ پوره کړل.

دامتحان نور اجزاء:- ①په نمر ②سپوږمۍ او ③ستورو سره هم ددوی آزمینښت اوشو④امامت سره، ⑤د بیت الله جوړولو حکم سره⑥احکام حج سره ⑦مقام ابراهیم سره ⑧دبیت الله شریف داوسیدونکو په روزئ سره⑨حضرت محمد ﷺ لره ددوی په دین باندې دلیږلو سره هم آزمینښت اوشو. الله ﷻ اوفرمائیل چه انې خلیل الله ! څه په تا آزمینښت کوم ، ګورم چه څه کوې ؟ نو حضرت ابراهیم ﷺ اوفرمائیل مالره دخلقو امام جوړ کړه .کعبه دخلقو د ثواب او د اجتماع مرکز جوړ کړه. ددې خانې خلقو ته امن ورکړه .مونږ لره فرمانبردار مسلمانان جوړ کړه. زمونږ په اولاد کښې یو فرمانبرداره ډله جوړه کړه. ددې خانې خلقو ته د میوې روزی ورکړه .داټولې خبرې الله ﷻ پوره کړې . اوداټول نعمتونه دوی ته ورکړې شو. صرف یو خواهش پوره نه شو ، فرمائیلی ئې وو چه ځما اولاد ته امامت ملاؤ شی ، نو جواب ملاؤ شو چه ځما وعده ظالمانو دپاره نه ده. دکلماتو نه مراد آیتونه دی.

سنت دابراهیمی ﷺ :- په مؤطا وغیره کښې دی چه دټولو نه مخکښې سنت (ختنه)کونکې د،دټولو نه مخکښې میلمستیا کونکې،دټولو نه مخکښې نوکونو کټ کولووالا،دټولو نه مخکښې بریتو لره کټ کوونکې،دټولو نه مخکښې سپین ویښتو کتونکې صرف حضرت ابراهیم ﷺ دي. دسپینو ویښتو په کتوسره حضرت ابراهیم ﷺ تپوس اوکړو چه یا الله ﷻ دا څه دی ؟ جواب ملاؤ شو چه دا وقار او عزت دي. وې ونیل چه انې الله ﷻ بیا خو دا زیات کړه. ([1])دټولو نه مخکښې په منبر باندې خطبه ورکونکې ، دټولو نه مخکښې قاصد لیږونکې،دټولو نه مخکښې توره چلونکې،دټولونه مخکښې مسواك کونکې،دټولو نه مخکښې په اوبو سره استنجا کونکې،دټولو نه مخکښې پائجامه اغوستونکې حضرت ابراهیم خلیل الله وو.

په یو غیر ثابت حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که څه منبر جوړ کړم نو ځما پلار حضرت ابراهیم ﷺ هم جوړکړې وو. اوکه لرګې (همسا) په لاس کښې واخلم نو داهم ځما دپلار سنت دی.([2]) دمختلفو صحابه کرامو ﷺ او تابعینو وغیره چه د کلماتو په تفسیر کښې څه ونیلی وو هغه مونږ بیان کړل. او صحیح هم دادی چه دا ټولې خبرې په دې کلماتو کښې وې . د څه خاص تخصیص څه قوی وجه ملاؤ نشوه ، والله اعلم.

---

[1]) الموطا : ۹۲۲/۲، عن سعید ا لمسیب وسنده صحیح)-

[2]) البزار: ۶۳۳،)-

Scanned with CamSc

لس دفطرت خبري:- په صحيح مسلم کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دي نبی کريم ﷺ اوفرمانيل چه لس خبري د فطرت دی او اصل دين دي. ① بريت کمول ② ږيره لويول ③ مسواك کول ④ په پوزه کښې اوبه اچول ⑤ نوکونه پريکول ⑥ ⑦ دګوتو سرونه وينځل ⑧ د ترخ وينښته ويستل ⑨ دنامه نه لاندې وينښته خرنيل ⑩ استنجا کول . راوی وائی خما نه لسمه خبره هيره شوېده. (۱)شاند چه په خوله کښې اوبه اچول وو.

په بخاری اومسلم کښې دی چه نبی کريم ﷺ فرمائی چه پنځه خبري دفطرت دی ① ختنه (سنت) کول ② دشرم ګاه وينښته اخستل ③ بريت کمول ④ نوکونه پريکول ⑤ (۲)دترخ وينښته خرنيل . په يو حديث کښې دی چه حضرت ابراهيم خليل الله عليه السلام ته وفا کولو والا په دې وجه اوونيلې شو چه هغوی به دهر سحرپه وخت کښې ﴿ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ۝ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ ۝ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۭ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ۝﴾ ونيل.(۳) په يو روايت کښې دی چه په هره ورځ کښې به نې ځلور رکعته کول ، خودا دواړه احاديث ضعيف دی. اوپه دې کښې ډير راويان ضعيف دی. اود ضعف ډير وجوهات دی. بلکه دهغه روايت ذکر د ضعف دذکر نه بغير بيانول جائز نه دی. متن هم په ضعف باندې دلالت کوی.

قوله تعالى:- قَالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِيْ ؕ

حضرت ابراهيم خليل الله عليه السلام چه دخپل امامت زيرې واوريدو نو دخپل اولاد دپاره نې هم دا دعا کوله. اودا قبوله شوه خو دې سره دا هم اوونيلې شو چه ستاسو په اولاد کښې به ظالمان هم وی هغوی دپاره دا وعده نه ده. هغوی به امامان نشی جوړولې. سورت عنکبوت دا مطلب واضح کوی چه دخليل الله دا دعا هم قبوله شوه ،په هغه مقام باندې فرمائی چه ﴿ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ ﴾ (مونږ ددوی په اولاد کښې نبوت اوکتاب کيخودو). د حضرت ابراهيم عليه السلام نه پس چه څومره نبيان عليهم السلام او رسولان عليهم السلام راغلل نوهغه ټول د حضرت ابراهيم خليل الله عليه السلام په اولاد کښې وو. او چه څومره کتابونه نازل شو هغه ټول د حضرت ابراهيم خليل الله عليه السلام په اولاد کښې نازل شو (صلوت الله وسلامه عليهم اجمعين) .

د ظالم اوعهد وضاحت:- په دې ځائې کښې دا خبر ورکړې شوې دې چه د حضرت ابراهيم عليه السلام په اولاد کښې به ظلم کونکی هم وی. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ددې مطلب دادې چه خه به ظالم لره امام نه جوړوم. دظالم نه مراد بعضو مشرك اخستې دي. دعهد نه مراد امر دي. حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه ظالم لره دې د څه څيز ولی او مشر جوړ نه کړې شی. اګر چه هغه د حضرت ابراهيم عليه السلام د اولاد نه وی. د حضرت ابراهيم خليل الله عليه السلام دعا دهغوی په اولاد کښې د نيکانوپه حق کښې شوې ده. دا معنی هم شوې ده چه د ظالم هيڅ عهد نشته دې چه دهغه دې اطاعت اوکړې شی. دهغه عهددې مات کړې شی او پوره دې نکړې شی. اودا هم مطلب دې چه دقيامت په ورځ دالله ﷻ وعده دوی سره هيڅ نشته دې. په دنيا کښې خو دوی خوراك څکاك کوی او عيش و عشرت کوی. دعهد نه مراد دين هم دې.يعنی ستا اولاد ټول ايماندار نه دی لکه څنګه چه فرمائی چه ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ۝﴾(دهغوی په اولاد کښې نيك هم او خراب هم شته) اود اطاعت معنی هم کړې شوې ده يعنی

---

(۱)صحيح مسلم : كتاب الطهارة باب خصالة الفطر: ۲۶۱، ابوداود: ۵۳، ترمذی : ۲۷۵۸، نسائی : ۵۰۴۳)-

(۲)صحيح مسلم : كتاب اللباس باب قص الشوارب : ۵۸۸۹، صحيح مسلم: ۲۵۷)-

(۳) الطبری : ۱۹۴۰،)

اطاعت صرف نیکی او بنیګړه ده. اودعهد معنی نبوت هم ده.ابن خویز منداد مالکی رحمه الله فرمائی چه ظالم سړی نه خلیفه جوړیدی نشی نه حاکم ،نه مفتی او نه ګواه او نه راوی.

وَإِذْ	جَعَلْنَا	الْبَيْتَ	مَثَابَةً	لِّلنَّاسِ	وَأَمْنًا ط
اویاد کړئ کله چې| مقرر کړو مونږ| دا کور	ځائ دثواب (مرکز) |دپاره دخلقو	اوځانی دامن|					
اویاد کړه)هغه وخت چې مونږ بیت الله (خانه کعبه)دخلقو دپاره دثواب اودامن ځانې مقرر کړو					
وَاتَّخِذُوا	مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ	مُصَلًّى ط			
اوحکم مواوکړو چې جوړ کړئ	دځائ داودریدودابراهیم نه	ځانی دمونځ			
اوخلقوته موحکم اوکړو چې تاسو په مقام ابراهیم کښې مونځونه کوئی					

قوله تعالی:- وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا ط

بیت الله دامن او امان ځائې :- د ﴿مَثَابَةً﴾ نه مراد باربار راتلل ،حج به کوی او واپس به ځی. خودتولو په زړه کښې به یو شوق وی. دهر هر ځائې نه به خلق رازی دې طرفته ډلې ډلې . دا دجمع کیدو ځائې دې ، هم دا دامن مقام دې. چه په دې کښې وسله نشی اوچتولې .دجاهلیت په زمانه کښې هم ددې چاپیر چل کښې لوټ مار کیدو خو په دې ځائې کښې به امن وو. چا به بل ته کنځل نه کول ، دا ځائې همیشه متبرك اوشریف وو، نیك روحونه به دې طرفته په شوق وو چه هر کال ددې زیارت اوکړی.خو خیال به نې دې طرفته وو. دا د حضرت ابراهیم خلیل الله علیه السلام ددعا اثر دې ،حضرت ابراهیم علیه السلام دعاکړې وه چه ﴿فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ﴾ (ته دخلقو زړونه دې طرفته مائل کړه)په دې ځائې کښې که څوك د پلاراو رور قاتل هم اووینی نو خاموش شی .په سورت مائده کښې دی چه ﴿قِيَامًا لِّلنَّاسِ﴾(دادخلقو دقیام ځائې دی).حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه که خلق حج کول پریږدی نو په زمکه به آسمان راپریوزی. ددې کور دشرف په کتلو ددې د اول بانی حضرت ابراهیم خلیل الله علیه السلام شرف ته خیال اوکړئی. الله ﷻ فرمائی چه ﴿وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ﴾(مونږ دبیت الله ځائې ابراهیم ته ورکړو او ورته مو اووئیل چه مونږ سره څوك شریك مه جوړوه) او په بل مقام باندې دی چه ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ﴾ (دالله ﷻ رومبې کور مکه دې چه د برکت اود هدایت نه نښو دې).

قوله تعالی:- وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى

مقام ابراهیم علیه السلام څه دې ؟ :- مقام ابراهیم نه مراد ټول حرم دې ،امن وامان والا .او خاص مقام ابراهیم هم دې .او پوره حج هم دې. لکه عرفات ، مشعر الحرام،منی،رمی وجمار،د صفا مروه طواف .مقام ابراهیم په اصل کښې هغه کانړې دې چه هغه د حضرت ابراهیم علیه السلام بی بی د اسماعیل علیه السلام د لمبلو دپاره ددوی د پښو لاندې ایښودې وو.([1])خو حضرت سعید بن جبیر رحمه الله وائی دا غلط دی، اصل کښې دا هغه کانړې دې چه په دې باندې اودریدو او حضرت ابراهیم علیه السلام به کعبه تعمیر کوله.

مقام ابراهیم دمونځ ځائې کیدل:- د حضرت جابر یو اوږد حدیث دې چه هرکله نبی علیه السلام طواف اوکړو نو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه مقام ابراهیم طرفته اشاره اوکړه او وې فرمائیل چه آیا هم دا زمونږ دپلار حضرت ابراهیم علیه السلام مقام دې ؟ حضرت نبی کریم علیه السلام اوفرمائیل چه آو. بیائې اوفرمائیل چه مونږ دې دا ولې قبله جوړه نکړو ؟ نو په دې باندې دا آیت نازل شو. په یو بل حدیث کښې دی چه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په سوال باندې لږ وخت تیر شوې وو چه دا حکم نازل شو. په یوبل حدیث کښې دی چه دمکې

([1]) الطبری : ۳/۳۵-

Scanned with CamScanner

دفتحي په ورځ حضرت عمر فاروق ﷺ مقام ابراهيم طرفته اشاره کړې وه اوتپوس ئې کړې وو چه ایا هم دا مقام ابراهيم دې چه مونږ ددې دقبلې جوړولو حکم راکړې شوې دې. رسول کريم ﷺ اوفرمائيل چه آو هم دا دې. (۱)

د حضرت عمر فاروق ﷺ فضيلت :- په صحيح بخاری کښې دی چه حضرت عمر فاروق ﷺ به فرمائيل چه ما دخپل رب سره په دريو خبرو کښې موافقت اوکړو، چه الله ﷻ ته منظور وو هغه ځما دژبې نه اووتل.① ما اووئيل ائې رسول کريم ﷺ کاش چې مونږ مقام ابراهيم لره د مانځه ځائې جوړه کړې وې نو حکم راغلو چه ﴿وَاتَّخِذُوا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى﴾② ما اووئيل چه يارسول الله ﷺ امهات المومنين ته دپردې حکم ورکړه ، نو په دې باندې دپردې آيت نازل شو.③ هر کله چه ما ته معلومه شوه چه رسول کريم ﷺ د خپلو بيبيانو نه خفه دی نو ځه لاړم او هغوی ته مې اووئيل که تاسو منع نه شوئی نو الله ﷻ به ستاسونه ښې بيبيانې ستاسوپه بدله کښې خپل نبی ته ورکړی . نوپه دې باندې الله تعالی نازل اوفرمائيل چه ﴿عَسٰى رَبُّهٗۤ﴾(۲) د دې حديث ډير سندونه دی او په ډيرو کتابونو کښې روايت شوې دې. په يو روايت کښې دی چه دبدر د قيديانو په باره کښې هم د حضرت عمر فاروق ﷺ موافقت نقل شوې دې. دوی فرمائيلی وو چه ددوی نه فديه مه اخلئ بلکه دوی دې قتل کړې شی. اوالله ﷻ ته هم دامنظور وو(۳) عبدالله بن ابی سلول چه هرکله مړ شو او رسول کريم ﷺ دهغې جنازه کله ادا کولو دپاره تيار شو نو ما وئيلی وو چه تاسو ﷺ به ددې منافق جنازه کوئی ؟ رسول کريم ﷺ ځه په دې اورتلم. نو په دې باندې دا آيت نازل شو چه ﴿وَلَا تُصَلِّ عَلٰۤى اَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾ او رسول کريم ﷺ دداسې جنازو نه منع کړې شو.

دمقام ابراهيم نور تفصيل :- دابن جريج په روايت کښې دی چه رسول کريم ﷺ په رومبنی طواف کښې دري ځل رمی کړې وه يعنی په پهلوانئ سره تلل او ځلور چکرې ئې اولګولو. بيا دمقام ابراهيم شاته راغلل او دوه رکعته مونځ ئې اوکړو او دا آيت مبارک ئې تلاوت کړو چه ﴿ وَاتَّخِذُوا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ﴾ . حضرت جابر ﷺ نه يو حديث نقل دې چه مقام ابراهيم او دبيت الله شريف په مينځ کښې ولاړوو(۴) ددې احاديثو نه معلومه شوه چه دمقام ابراهيم نه مراد هغه کانړې دې چه په هغې باندې حضرت ابراهيم ﷺ دکعبې تعمير کولو. حضرت اسماعيل ﷺ به دوی ته کانړی ورکول اوکعبه ئې تعمير کوله او په دې کانړی به اودريدل ، ځومره چه به ديوال اوچتيدو نوهغه ځائې ته به ئې اوړو ، اوداشان دکعبې ديوالونه پوره شو. ددې پوره بيان به دحضرت ابراهيم ﷺ په واقعه کښې راشی انشاء الله. په دې کانړی باندې ددوی د دواړو پښو نښې ښکاره وې چه عربو د جاهليت دزمانې خلقو هم کتلی وو ، ابو طالب په خپله مشهوره قصيده کښې وئيلی دی چه :

وموطئ ابراهيم في الصخر رطبة على قدميه حافيا غير ناعل

(په دې کانړی کښې د حضرت ابراهيم ﷺ د دواړو پښو نښې تازه دی ، چه په هغې کښې پيزار نشته).

بلکه مسلمانانو هم دا کتلی وو.حضرت انس فرمائی چه په مقام ابراهيم کښې ما د حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ د پښو د ګوتو نښې کتلې وې. بياخلقو هغه په چونې سره ختم کړل.حضرت قتاده ﷺ فرمائی چه دې ته دمونځ کولو حکم دې. دتبرک په طور د لاس لګولو دپاره نه دې. دې امت هم د مخکښو امتونو په شان دالله ﷻ د حکم نه بغير بعضې کارونه په خپل خان لازم کړل ، او دا نقصانی دی. هغه نښې د خلقو دلاس لګولو په وجه ورانې شوې. دا مقام ابراهيم مخکښې ديوال سره نزدې وو ،

---

(۱) ابن ابی حاتم : ۱ / ۳۷۱ ، السنن الکبری للنسائی : ۱۰۹۹۸)-

(۲) صحيح بخاری : کتاب التفسير: سورة البقرة باب (واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى) ٤٤٧٣، ترمذی: ۲۹۵۹)-

(۳) صحيح مسلم : کتاب فضائل الصحابة باب من فضائل عمر ﷺ : ۲۳۹۹)-

(۴) صحيح مسلم : کتاب الحج باب حجة النبی ﷺ : ۱۲۱۸)-

Scanned with CamSc

د کعبې د دروازې طرفته ، دحجر اسود سره د دروازې نبی طرفته په یو مستقل ځانې باندې وو چه نن هم خلقوته معلوم دي. خليل الله ﷺ خو يا داپه دې ځائې اينبودې وو يا دبيت الله د جوړولو په وخت آخری حصه ئې هم دا جوړه کړې وه. او هم په دې ځائې ئې هغه کانړۍ کيخودو.

امير المومنين حضرت عمر فاروق ﷺ دخپل خلافت په زمانه کښې دا روستوکړې وو. ددې په ثبوت کښې ډير روايات دی. بيا ؟؟يوځل په دې خانه کعبه کښې اوبه راغلې وی او اوبو سره دا کانړۍ يعنی حجر اسود هم دخپل ځائې نه اخوا شوې وو.. خليفه ثانی دا بياپه خپل ځائې باندې کيخودو. حضرت عثمان فرمائی چه ماته نه دی معلوم چه کله دا دخپل ځائې نه بې ځايه کړې شو نو ددې نه مخکښې دا ددې ديوال نه څومره لرې وو، يو روايت کښې دی چه پخپله رسول کريم ﷺ دا دهغه ځائې نه اخوا کړې وو او په هغه ځائې کښې ئې اينبودې وو چه په کوم ځائې کښې چه اوس دې. خو دا روايت مرسل دې. صحيح خبره داده چه حضرت عمر ﷺ دا روستو اينبودې وو ، والله اعلم.

وَعَهِدْنَآ							
اوتاکيدی حکم کړې وؤ مونږ							
اوپيغام مو ورکړو							
اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ وَاِسْمٰعِيْلَ	اَنْ طَهِّرَا	بَيْتِىَ	لِلطَّآئِفِيْنَ				
ابراهيم او اسماعيل ته	چې پاک ساتئ تاسودواړه	کورزما	دپاره دطواف کونکو				
ابراهيم(اودهغه نومورنی خوئې)اسماعيل ته چې زماکور(کعبه د هرڅه نه) پاکه کړئی د طواف کونکو							
وَالْعٰكِفِيْنَ	وَالرُّكَّعِ	السُّجُوْدِ ۝	وَاِذْ	قَالَ			
اودپاره داعتکاف کونکو	اودپاره د رکوع کونکو	دپاره دسجده کونکو	اويادکړئ کله چې	اووئيل			
داعتکاف کونکو، رکوع کونکو اوسجده کونکو دپاره			اويادکړئی هغه وخت، چې اووئيل				
اِبْرٰهٖمُ رَبِّ	اجْعَلْ هٰذَا	بَلَدًا اٰمِنًا	وَّارْزُقْ	اَهْلَهٗ			
ابراهيم اے ربه زما	جوړ کړه دا	ښار د امن	او ورکړه	اوسيدونکو ددې ته			
حضرت ابراهيم انې زما ربّ دا ښار د امن خانې اوګرزوه			اوددې خانې خلقوته				
مِنَ الثَّمَرٰتِ	مَنْ	اٰمَنَ	مِنْهُمْ بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ	قَالَ		
هرقسم ميوې	هغه چاته	چې ايمان ئې راوړې دی	ددوئ نه	په الله باندې	اوپه ورځ داخرت باندې	اووئيل الله	
رنګ رنګ ميوې نصيب کړې	هغه چاته چې په الله او په ورځ دقيامت يقين لری	الله په جواب کښې	الله اووئيل				
وَمَنْ كَفَرَ	فَاُمَتِّعُهٗ	قَلِيْلًا	ثُمَّ اَضْطَرُّهٗٓ	اِلٰى عَذَابِ النَّارِ ؕ	وَبِئْسَ		
اوچاچې کفراوکړو	نوفائده به ورکړو هغه له هم	لږه	بيا به راکاږم هغه	عذاب د وورته	اوبد ځائې		
اوځوک چې خمادحکم منلونه انکار اوکړی	هغه ته به هم لږه فائده ورکړم	بيابه دې په ذلت سره ددوزخ عذاب ته اوسپارم					
الْمَصِيْرُ ۝	وَاِذْ	يَرْفَعُ	اِبْرٰهٖمُ	الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ	وَاِسْمٰعِيْلُ ؕ		
دورتلودې هغه	اويادکړئ کله چې	اوچتول	ابراهيم	بنيادونه	ددې کور	اواسماعيل	
کوم چه داستوګنې په لحاظ ډيرخراب ځانې دې	اويادکړه	کله چې ابراهيم او اسماعيل ددې والونو					

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ط اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ
نو دعا به ئې کوله اے ربه زمونږ! قبول کړې ! زمونږ نه!بیشکه ته!هم خاص ته! دهرڅه اوریدونکې
دبیت الله بنیادونه خیژول(اودعائې غوښتله)ائې زمونږ ربه زمونږ (داخدمت)قبول کړه بشکه ته اوریدنکې
الْعَلِيْمُ ﴿۱۲۷﴾ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَا
اوپه هرڅه پوهه ئې!اے ربه زمونږ! جوړ کړې مونږ! تابعدار ! ستا !اورا پورته کړې داولاد زمونږنه
اوپه هرڅۀ پوهه ئې ! ائې زمونږ ربه مونږ دواړه خپل تابعدار اوفرمانبرداراوګرزوه! اوزمونږ په اولاد کښې هم
اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ص وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا ج
یوقوم ! حکم منونکې ستا ! او اوښایه مونږته ! طریقې دعبادت زمونږ ! اوقبولوالې د توبې اوکړې په مونږ
یوډله خپل فرمانبردارکړه اومونږته دحج طریقې اوښایه اوزمونږ توبه قبوله
اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۲۸﴾
بیشکه ته! خاص هم ته! ډیرمعاف کونکې! اورحم کونکې ئې!
بیشکه ته توبه قبلونکې مهربان ئې !

احکام د بیت الله او مساجد :- په دې خاني کښې دعهد نه مراد حکم دې. پاك ساتل،د ګندګۍ نه،او پلیتۍ نه اود خرابو ځیزونو نه(۱)دعهد تعدیه په " الی " سره اوشوه نومعنی داشوه مونږ هم وحی اوکړه او مخکښې نه موده ته اووئیل،دپاك ساتلو مطلب دبتانو نه بچ کول دی، په هغه ځائې کښې دغیرالله ﷻ عبادت نه کول،په دې کښې د لغوه کارونو ، فضول بکواس ، دروغو خبرو ، شرك او کفر او توقو نه هغه بچ ساتل هم شامل دی.

قوله تعالی:- لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْعٰكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ

د(طائف)یو معنی طواف کونکی دی. په دې تقدیر باندې د ﴿ وَالْعٰكِفِيْنَ ﴾ معنی دمکې اوسیدونکی شوه. یوځل خلقو اووئیل امیر وخت ته وئیل پکاردی چه خلق د بیت الله کښې دځملاستو نه منع کړی. ځکه چه ممکن دی چه جنب شی،ممکن دی چه په خپلو کښې څه فضول خبرې اوکړی ، نومونږ واوریدل چه هغه منع کول نه دی پکار.ابن عمر ﷺ به هغوی ته هم﴿ وَالْعٰكِفِيْنَ ﴾ وئیل. یو صحیح حدیث کښې دی چه په مسجد نبوی ﷺ کښې به د حضرت عمر فاروق ﷺ ځوئې عبدالله ځملاستلو ، هغه ځوان او ځلمې وو(۲) د﴿ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ﴾ نه مراد مونځ ګزاردی (۳)ددې دپاك ساتلو حکم په دې وجه ورکړې شو چه په هغه وخت کښې هم بت پرستی قائم وه. بله خبره دا وه چې ددې بزرګانو ذهن کښې دا خبره وی. په بل خاني کښې ارشاد دی چه ﴿ وَاِذْ بَوَّاْنَا لِاِبْرٰهِيْمَ﴾ په دې آیت کښې هم دا حکم دې چه ځما سره شریك مه جوړوئی،او ځما کور لره پاك ساتئ ،دفقهاء کرامو په دې کښې اختلاف دې چه د بیت الله مونځ افضل دې او که طواف. حضرت امام مالك رحمه الله فرمانی چه دبهر والو دپاره طواف افضل دې ، دجمهورو قول دې چه دهر یو دپاره مونځ افضل دې ، ددې د تفصیل مقام دا نه دې.

---

(۱) ابن ابی حاتم : ۳۸٦/۱)-

(۲) صحیح بخاری : کتاب الصلاة باب نوم الرجل فی المسجد. ٤٤٠، صحیح مسلم : ۲۷۷۹)-

(۳) ابن ابی حاتم : ۳۷٦/۱)-.

Scanned with CamSc

طواف افضل دي که مونځ

مسلک حنفي:- کوم کسان چه اهل حرم نه وی نو د هغوی دپاره طواف د نفلی مونځ نه افضل دي اوکوم کسان چې اهل حرم وی نو د هغوی دپاره نفلی مونځ افضل دي (احکام القران للعثمانی ۱۱۱/۷۲).

په ایث کښې په اهل کتابو رد :- مقصد ددي نه مشرکانو ته تنبیه او تردید دي چه بیت الله خو خاص د الله ﷻ دعبادت دپاره جوړ شوي دي ، په دي کښې ډنورو غبادت کول او خالص دالله ﷻ عبادت کوونکی ددي نه منع کول څومره زیاته ناانصافی ده. ددي وجې په بل ځائي کښې فرمائی چه داسې ظالمانو ته به مونږ دردناکه سزا ورکوؤ. د مشرکانو ددي ښکاره تردید سره سره د یهودو او نصرانیانو هم ښکاره تردید اوشو چه هغوی د حضرت ابراهیم ﷺ او حضرت اسماعیل ﷺ دبزرګئ قائل دی. هرکله چه دوی ته پته ده چه دا شریف کور هم ددي متبرکو لاسونوجوړ شوي دي ، او دوی ددي هم قائل دی چه داصرف دمونځ او طواف او د رب د عبادت دپاره جوړ شوي دي ، حج او عمري وغیره دپاره مخصوص کړي شوي دي نوباوجود ددي نبیانو دتابعدارئی دعوي نه ولي (خلق) دحج اوعمري نه منع کوی ، ولي بیت الله شریف ته حاضری نه کوی. بلکه پخپله حضرت موسی ﷺ ددي بیت الله شریف حج اوکړو لکه څنګه چه په حدیث کښې صفا موجود دی . ([1])

د دي آیت کریمه نه دا هم ثابته شوه چه جمات لره پاك صاف ساتل پکار دی. او په بل مقام باندې دی چه ﴿ فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ يُسَبِّحُ لَهٗ فِيْهَا بِالْغُدُوِّ وَالْاٰصَالِ ﴾ الله ﷻ د جماتونود اوچتولو اجازت ورکړي دي ، په دي کښې دي دهغه پاك ذات دنوم ذکر اوکړي شی ، په دي کښې دي سحر مانښام دهغه پاك ذات تسبیح اوکړي شی اودا دهغه پاك ذات نیك بندګان کوی. په حدیث کښې هم دی چه جمات دکوم کار دپاره دي هم دهغې دپاره دی ([2]) او په احادیثو کښې ډیر زیات تاکید سره دجماتونو دپاکوالی حکم راغلي دي . (امام ابن کثیر ﷺ په دي باره کښې یوخاص رساله لیکلي ده) .

د بیت الله د تعمیر تاریخ:- ①بعضې خلق خو وائی چه دټولو نه مخکښې کعبة الله فرښتو جوړه کړي وه . خو دا سند غریب دي. ②بعضې وائی چه حضرت آدم ﷺ دټولونه مخکښې جوړه کړي وه. حرا ، طور سیناء ،طور زیتا ، جبل لبنان او جودی ، ددي پنځو غرونو نه جوړه کړي شوي وه. خو دا سند هم غریب دي([3])③بعضې وائی چه حضرت شیث ﷺ دټولو نه مخکښې دا جوړه کړي وه. خودا هم د اهل کتابو خبره ده. په حدیث مبارك کښې دی چه حضرت ابراهیم ﷺ مکي لره حرم جوړکړو ، څه مدیني لره حرم جوړوم ، په دي ځائي کښې دي ښکار اونکړي شی ، ددي ونې دي اونه وهلي شی ، په دي ځائي کښې دي وسله وانخستلي شی([4])دصحیح مسلم په یو حدیث کښې دی چه خلقوبه نوي میوي واخستلي او د رسول کریم ﷺ په خدمت کښې به حاضریدل ، رسول کریم ﷺ به هغه واخستلي او دعابه ئي کوله چه ائي الله ﷻ زمونږ په میوؤ کښې ، زمونږ په ښار کښې ، زمونږ په ناپ تول کښې برکت واچوي،ائي الله ﷻ ! حضرت ابراهیم ﷺ ستا بنده ، ستا خلیل اوستا رسول وو،څه هم ستابنده ستا رسول یم ، هغه ﷺ ستا نه دمکي دپاره دعا کړي وه ، څه هم ستا نه دمدینې دپاره دعا کوم. لکه څنګه چه هغه دمکي دپاره دعا کړی وه دغه شان څه دمدینې دپاره هم کوم ، بیا به رسول کریم ﷺ څوك ماشوم راوستلو او هغه میوي به ئي هغه ته ورکړي. ([5])

---

[1]) صحیح مسلم ، کتاب الایمان ، باب الاسراء برسول ﷺ :۱۶۶)-

[2]) صحیح مسلم ، کتاب المساجد ، باب النهی عن نشد الضالة ف المسجد: ۵۶۹)-

[3]) ثابت نه دی (ضعیف الترغیب والترهیب: ۶۹۵)-

[4]) صحیح مسلم : کتاب الحج ، باب فضل المدینة: ۱۳۶۳)-

[5]) صحیح مسلم : کتاب الحج ،فضل المدینة: ۱۳۷۳: الترمذی: ۲۴۵۴، ابن ماجه: ۳۳۲۹)-

Scanned with CamS

د مدینې منورې حرمت :- حضرت انس بن مالك ﷺ فرمائی چه رسول کریم ﷺ یو خل ابوطلحه ﷺ ته اوفرمائیل چه لارشه او دخپلو بچونه یو بچې مالره ځما د خدمت دپاره راوله ،نو حضرت ابوطلحه ﷺ ځه راوستلم ، ځه په سفر اوحضر کښې د رسول کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر ووم . یو خل رسول کریم ﷺ د بهر نه راتللو،کله چه ا حد غر باندې د رسول کریم ﷺ نظر پریوتلو نو رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا غر ماسره او ځه ده سره محبت کوم. هرکله چه مدینې منورې باندې ئې نظر اولګیدونو وې فرمائیل چه یا الله ﷻ ځه ددې د دوؤ غاړو په مینځ ځائې حرم مقررکوم لکه څنګه چه حضرت ابراهیم ﷺ مکه حرم جوړ کړې وو.انې الله ﷻ ددوی په مد او صاع کښې اوناپ تول کښې برکت واچوې(۱)اویه بل حدیث کښې دی چه یا الله ﷻ څومره برکت چه تا مکې ته ورکړې دې ددې نه دوچند برکت مدینې منورې ته ورکړه(۲)په یو بل روایت کښې دی چه په مدینه منوره کښې قتل اونکړې شی.اود ګیا نه سوا دې ددې ځائې د ونو پانړې هم اونه څنډلې شی(۳)ددې مضمون نور هم ډیر احادیث دی چه دهغې نه ثابتیږی چه په مدینه کښې هم دمکې پشان حرم دې.

د مکې حرمت د اولې ورځې نه دی:- په دې مقام باندې ددې احادیثو د لیکلو نه زمونږ غرض دمکې مکرمې حرمت اوددې امن بیانول دی.بعضې خو وائی چه دا د شروع نه حرم اوامن دې،بعضې وائی چه د خلیل الله ﷺ د زمانې نه دې. خو رومې قول زیات ظاهر دې. د بخاری او مسلم حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ دمکې دفتحې په ورځ اوفرمائیل هرکله چه الله ﷻ آسمانونه او زمکې پیدا کړې د هغه وخت نه دا ښار حرمت او عزت والا جوړ کړې شوې دې.اوس به دا تر قیامته پورې حرمت او عزت والا وی. په دې کښې جنګ جګړې دهچا دپاره حلال نه دی. ځما دپاره هم صرف په نن ورځ ، دلږ وخت دپاره حلال کړې شوی وو اوس دا حرام دې. واورئی ! په دې کښې دې ښکار اونکړې شی ، ددې وانښه دې پرې نکړې شی. په بل روایت کښې دی چه دا حدیث رسول کریم ﷺ دخطبې په دوران کښې بیان اوفرمائیلو.اود حضرت ابن عباس ﷺ په سوال باندې رسول کریم ﷺ د ،اذخر، نومې وښو پرې کولو اجازت ورکړې وو. (۴)

د مکې حرمت دائمی دې:- حضرت ابن شریح عدوی ﷺ عمرو بن سعید ته په هغه وخت کښې اوونیل چه کله هغه مکې طرفته لښکر لیږلو چه انې امیر واوره دمکې دفتحې په ورځ رسول کریم ﷺ په خپله خطبه کښې سحر سحر فرمائیلی وو چه هغه ځما غوږونو واوریدل اویادئې اوساتل اوما په خپلو سترګو رسول کریم ﷺ په هغه وخت کښې اوکتلو،رسول کریم ﷺ حمدوثناء اووئیله او دې نه پس ئې اوفرمائیل چه مکې لره الله ﷻ حرم کړې دې خلقو نه دې کړې. په دې کښې یو ایماندار لره وینه تویول ، وونه کټ کول حلال نه دی.که څوک ځما دا جنګ دلیل جوړوی نوورته اووائی چه صرف په نن ورځ ځما دپاره په دې ځائې کښې داحلال کړې شوی وو،بیا ددې ښار حرمت راغلو لکه څنګه چه پرون وو ، خبردار حاضر دې غائبو ته اورسوی. خوعمرو چه دا حدیث واوریدو نو صفا ئې اووئیل چه ماته ستا نه زیات ددې حدیث پته ده.حرم نافرمانه ، خونی او بربادئ کولو والا نه بچ کوی. (۵)

تطبیق:-هیڅوک دې په دې دواړو احادیثو کښې تعارض اونه کنړی،تطبیق ئې دادې چه مکه د اولې ورځې نه حرمت والا وه لیکن ددې حرمت تبلیغ حضرت خلیل الله ﷺ اوکړو،ځنګه چه رسول کریم ﷺ د

---

۱) صحیح بخاری : کتاب الجهاد: باب من غز بصبی للخدمة: ۲۸۹۳، صحیح مسلم: ۱۳٦۵)-
۲) صحیح بخاری : کتاب فضائل المدینة: ۱۸۸۵، صحیح مسلم: ۱۳٦۹)-
۳) صحیح مسلم : کتاب الحج ، باب الترغیب والترهیب فی سکنی المدینة.....۱۳۷٤)-
۴) صحیح بخاری : کتاب الجنائز باب الاذخرو الحشیش فی القبر، ۱۳٤۹، صحیح مسلم : ۱۳۵۳)-
۵) صحیح بخاری : کتاب العلم ، باب لیبلغ الشاهد الغائب: ۱۰٤، صحیح مسلم: ۱۳۵٤)-

Scanned with CamScanner

هغه وخت نه نبی وو کله چه د حضرت آدم ﷺ خمبیر اخکلي شوي وو. بلکه دوی ته په هغه وخت کښې هم خاتم النبین ونیلي شوی وو(۱)خوحضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ د رسول کریم ﷺ نبوت دعا اوکړه چه(وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ)(هم په دوی کښې یورسول اولیږه)او دا الله ﷻ قبول کړل او دتقدیر لیکلي شوي خبره ظاهره اوښکاره شوه .

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د نبوت ابتداء:-په یو حدیث کښې دی چه خلقو رسول کریم ﷺ نه اووئیل چه تاسودخپل نبوت دابتدا خو لږ ذکر اوفرمائي. نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زه د خپل پلارحضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ دعایم اود عیسی بن مریم بشارت یم او خپلې مور خوب یم، هغه خوب ګوری چه دهغې نه یونور پیدا شوچه په دې سره د شام تول محلات روښانه شول او هغه په نظر راغلل.(۲)

د مکې او مدینې په خپل مینځ کښې افضیلت:-ددې خبرې بیان چه آیامکه د مدینې نه افضله ده لکه څنګه چه دجمهورو قول دي،یا مدینه دمکې نه افضله ده لکه څنګه چه امام مالك رحمه الله او ددوی د تابعینو مذهب دي،دا به مونږ ددواړو طرفونوپه دلائلوسره نزدې بیانوو انشاء الله .حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ دعا کوی چه یاالله ﷻ دا ښار امن والا یعنی ددې ځائې اوسیدونکی بهادر او نه ویریدونکی جوړکړه. الله ﷻ دا قبلوی لکه فرمائی چه (وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا) (په دې کښې چه څوك داخل شو هغه امن والا شو)او په بل ځائې کښې ارشاد دي چه (أَوَلَمْ يَرَوْا) (آیا هغوی نه ګوری چه مونږ حرم ځائې د امن جوړ کړې دي ، خلق دې طرفته په منډه راځی او په دې ځائې کښې هغوی په امن سره وی). داقسمه نور آیتونه هم دی اوددې مضمون نور ډیر احادیث هم پورته تیر شوی دی چه مکه معظمه کښې قتل کول حرام دی. حضرت جابر ﷺ فرمائی چه ما درسول الله ﷺ نه واوریدل چه رسول کریم ﷺ به فرمانیل چه هیچا لره حلال نه دی چه په مکه معظمه کښې وسله پورته کړی. (صحیح مسلم). (۳) ابراهیم ﷺ دا دعا دمکې دحرمت دپاره مخکښې نه وه په هغې کښې ئې دا فرمائیلی وو چه اې الله ﷻ دا ښاردامن والا جوړکړه. په سورت ابراهیم کښې هم دادعاپه دې الفاظوسره ده چه(رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا بَلَدًا آمِنًا)کیدې شی چه دادعا دوباره وه. هرکله چه بیت الله تیار شو او ښار جوړ شو او حضرت اسحاق ﷺ چه دحضرت اسماعیل ﷺ نه دري کاله کشر وو پیدا شو،نو ددې وجې ددعا په آخر کښې د هغوی دپیدائش شکریه هم ده.

قوله تعالی:- قَالَ وَمَنْ كَفَرَ

دکافرو دپاره صرف دنیاوی فائده ده:- (وَمَنْ كَفَرَ) نه ترآخره پورې دالله ﷻ کلام دي. بعضو دا هم په دعا کښې شامل کړی دی.نوپه دې تقدیر به مطلب دا وی چه کفارو ته هم څه لږه شان فائده ورکړه،بیا هغوی عذاب طرفته بې بس کړه.په دې کښې هم دحضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ الله تعالی سره خالصه دوستانه ظاهریږی چه هغه دخپل اولادهم مخالف وو. اوکه دا د الله کلام اومنلې شی نو په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه چونکه د امامت سوال ئې چه کله دخپل اولاد دپاره اوکړو او دظالمانو دمحرومئ اعلان ئې واوریدو اومعلوم شو چه د دوی نه پس راتلونکی به هم دالله ﷻ نافرمان وی نو اوس ئې دویرې نه ادب سره دروستو راتلونکو والو د روزنی طلب هم صرف ایماندار اولاد دپاره اوکړو خو دالله ﷻ ارشاد اوشو چه دنیاوی فائده خوبه کافرو ته هم وی.لکه څنګه چه فرمائی (كُلًّا نُّمِدُّ هَٰؤُلَاءِ وَهَٰؤُلَاءِ مِنْ عَطَاءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَاءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا ۝ الخ)(مونږ دوی ته اوهغوی ته فائده ورکوو. ،ستا درب ورکړه بنده نه

---

۱) احمد : ۱۲۷/۴)-

۲) احمد: ۱۲۸/٤)-

۳) صحیح مسلم : کتاب الحج . باب النهی عن حمل السلاح بمکة.... ۱۳۵٦)-

Scanned with CamScanner

ده).او په بل خائې کښې ارشاد دې چه کوم خلق په الله ﷻ باندې دروغ پورې کوی هغوی به فلاح نه مومی اګر چه ددنیا څه فائده ورته وی خوزمونږ طرفته په راتلو به دوی ته سخت عذاب ورکولې شی. اوپه بل مقام باندې ارشاد دې چه دکافرو کفر دې تالره غمګین نه کړی دوی مونږ طرفته واپس کیږی اومونږ به ددوی په اعمالو دوی ته تنبیه کوو،الله ﷻ ته دسینو پټې خبرې ښه معلوم دی،مونږ به دوی ته لږه فائده ورکړو او بیابه ئې سخت عذاب کښې بې قرار کړو.اوپه بل مقام باندې دی چه﴿لَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ النَّاسُ اُمَّةً﴾که داخطره نه وې چه خلق به یو امت شی نومونږ به دکافرانو چتونه او پورهئ دسپینو زرو جوړې کړې وې اوددوی دکورونو دروازې اوتختونه چه په هغې دوی تکیه لګوی اوکینې پرې اوسره به مو هم ورکول خو داټولې دنیاوی فائدې دی.دآخرت نیك کور خو صرف د پرهیز ګارو دپاره دې.

هم دا(ددوئ دانجام باره کښې) په دې آیت دی چه ددوی انجام خراب دې. په دې دنیا کښې دې عیش اوکړی بیا به مونږ لکه فرمائی چه﴿فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ الخ﴾ (مونږ ډیر وظالمانو کلوته مهلت ورکړو بیا مو راونیول اوددوی انجام ډیر خراب وو دوی به مونږ ته واپس کیږی) بخاری او مسلم کښې یو حدیث کښې دی چه دخرابو خبرو آوریدو باندې صبر کولو کښې دالله ﷻ نه زیات څوك نشته. خلق وانی چه دهغه پاك ذات اولاد شته دې ، خوبیاهم الله ﷻ هغوی ته رزق ورکوی.(۱) اوپه یو حدیث کښې دی چه الله ﷻ ظالمانوته صبرکوی بیا دوی زر راونیسی(۲) بیا نبی کریم ﷺ دا آیت مبارك تلاوت اوفرمائیلو چه ﴿وَكَذٰلِكَ اَخْذُ رَبِّكَ الخ﴾دا جمله دحضرت ابراهیم ﷺ په دعا کښې شاملول یو شاذ قرات دې. چه اوو قراتونو د قرات نه خلاف دی. اوترکیب او سیاق اوسباق په ظاهره ددې انکار کوی. والله اعلم. ځکه چه دې صورت کښې دقال ضمیر مرجع چې الله ﷻ شی نوددې شاذقرات په وجه ده که ددې فاعل او مفعول هم حضرت ابراهیم ﷺ وی اودا خبره دنظم کلام نه په ظاهره مخالف ده.

قوله تعالی:- وَاِذْ يَرْفَعُ اِبْرٰهِيْمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَاِسْمٰعِيْلُ ؕ

د خانه کعبې تعمیر:-قواعد جمع ده د قاعدة.الله ﷻ فرمائی چه ائې د الله نبی ﷺ خپل امت ته دبناء ابراهیمی خبر ورکړه،په یو قرات کښې د(واسماعیل)نه پس(ویقولان) هم دی ، هم ددې دلالت مخکښې لفظ ﴿مُسْلِمَيْنِ﴾ هم دې(۳)دواړه نبیان علیهم السلام په نیك کار کښې هم مصروف وو او د نه قبلیدو ورته ویره هم ده نوالله ﷻ نه د قبولیت دپاره دعا کوی . ﷺ حضرت وهیب رحمه الله چه به کله دا آیت تلاوت کولو نوډیر به ئې ژړل او فرمائیل به ئې چه د خلیل الله ﷺ پشان مقبول پغمبر دالله تعالی په حکم سره کار کوی ، دهغه پاك ذات کور دهغه پاك ذات په حکم سره جوړوی.او ورته ویره ده چه هسې نه داقبول نه شی. ربښتیا دادی چه دمخلصو مومنانو هم دا حال دې.[وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ الخ](هغوی نیك کار کوی،صدقې او خیراتونه ورکوی خوبیا هم ورته ویره وی دالله ﷻ نه او رپیږی (چه هسې نه قبول نشی). د حضرت عائشه رضی الله عنها په سوال باندې ددې آیت مطلب د نبی کریم ﷺ په ژبه هم دا بیان شوې دې. (۴)

بعضې مفسرینو وئیلی دی چه بنیادونه به حضرت ابراهیم ﷺ اوچتول او دعا به حضرت اسماعیل ﷺ کوله ، خو صحیح دادی چه دواړه په هر کار کښې شریك وو. د صحیح بخاری یو روایت او بعضې آثار ددې واقعې متعلق په دې خائې کښې دذکر قابل دی.

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ملا بند ښځو د حضرت اسماعیل ﷺ دمور بی بی نه زدکړه کړې ده. هغوی دا ترلې وو چه حضرت ساره رضی الله عنها ته دهغوی نقش قدم ملاوٗ نشی.دا اوددې د زړه سر اوخپل اکی

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب الادب ، باب الصبر فی الاذی : ۶۰۹۹، صحیح مسلم : ۲۸۰۳)-

(۲) صحیح بخاری : کتاب التفسیر: سورة هود باب قوله تعالی (وکذالک اخذ ربک...) ۴۶۸۶، صحیح مسلم : ۲۵۸۳)-

(۳) القرطبی : ۱۲۶/۲)-

(۴) ترمذی کتاب التفسیر القران باب : ومن سورة المومنون : ۳۱۷۵، ابن ماجه: ۴۱۹۸ وهو حسن)-

Scanned with CamScanner

یو خونې حضرت اسماعیل ﷺ نې بوتلو او حضرت ابراهیم ﷺ په سفر اووتلو اودا ښکلې بچې لا پې رودونکې وو.

د بی بی هاجرې د مکې خوشې میدان ته بوتلل:- اوس چه په کوم ځائې باندې بیت الله جوړ شوې دې په دې ځائې باندې یو غونډنی وه او خوشې خوشیا میدان وواو په دې ځائې داوسیدو والا څوک نه وو. حضرت هاجره ورته آواز اوکړو چه ائې خلیل الله ﷺ چه مونږ په خوشی میدان کښې یوازې پریږدې چه په دې ځائې کښې زمونږ څوک نشته دې. تاسو چرته تشریف اوړنی ؟ لیکن حضرت ابراهیم ﷺ ورته هیڅ جواب ورنکړو بلکه دې طرفته ته ئې هډو توجه اونکړه.اونه ئې هډوروستو اوکتل.دحضرت هاجره په باربار وینا سره هم هیڅ توجه ورنکړه اووې فرمائیل چه دالله ﷻ خلیل ﷺ امونږ چاته حواله کوې؟حضرت ابراهیم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ ته. وې فرمائیل چه آیا تاته دالله ﷻ حکم دې ؟ نو حضرت ابراهیم اوفرمائیل چه ماته دالله ﷻ حکم دې.

بی بی هاجره پریخودل اود ابراهیم ﷺ دعا :- په دې آوریدو سره حضرت هاجری ته لږ تسکین اوشو او وې فرمائیل چه بیاتاسو تشریف یوسئ هغه الله ﷻ به مونږ بالکل نه ضائع کوی،هم د هغه سهارا او هم دهغه بهروسه ده. حضرت هاجره واپس شوه اود خپل زړه سر ، دخپلو سترګونور،د الله ﷻ دنبی خونې نې په غیږې کښې واخستو اوپه دې خوشی او بیابان میدان کښې کیناستله. ابراهیم ﷺ چه کله ثنیه ته اورسیدو او دا ورته معلومه شوه چه اوس حضرت هاجره دوی پسې نه ده اوتردې پورې دهغوی نظر هم کار نشی کولې نو بیت الله طرفته متوجه شو اولاسو نه ئې اوچت کړل او دعا ئې اوکړه چه ﴿رَبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ ٱلخ﴾ (یاالله ﷻ ماخپل بال بچ په یو غیر آباد ځنګل کښې ستا دښکلی کور سره پریښودل چه هغوی مونږ قائم کړی،نو دخلقو زړونه دې طرفته راواړوه او هغوی ته د میوې روزی ورکړه ، دې دپاره چه دوی شکر ګزار شی) حضرت ابراهیم ﷺ خو دا دعا اووئیله او دالله ﷻ حکم ئې اومنلو او خپل بچی ئې الله ﷻ ته حواله کړو او لاړو.

د بی بی هاجرې صبر:-بل طرفته حضرت هاجره بی بی شکراوصبر سره خپل بچی سره مشغوله وه، هغې سره لږې شان کهجورې او اوبه وې هغه ختمې شوې ،او ورسره نه د څکلو څه وو اونه د خوړلو دپاره،پخپله هم تږې او ددې بچې هم د تندې نه بیتاب وو.تردې چه دې ته د معصوم نبی زاد ښکلې مخ غمګین شو اود تکلیف په وچه ئې ژړل. .دمینې نه ډکه مورکله خو دتنهائی اود بې کسئ خیال کوی،اوکله دخپل معصوم بچی حال ته ګوری اودا برداشت کوی. معلومه ده چه په دې خوفناک ځنګل کښې هیڅ انسان نشی تیریدې. دمیلونو میلونو پورې د آبادئی هیڅ نښه پته نه وه. خوراک لا څه کوې د اوبویو څاڅکې هم نه وو.

دصفا او مروه دسعی شروع :- آخر کښې کله چې ددې وړوکی شان ماشوم تکلیف تږې برداشت نشو نو پاسی او خی.اوصفا مروه چه ورسره نزدې وه په هغې باندې خیژی. او میدان طرفته ګوری چه څوک خی راځی که نه.خوددې مبارکونظرونه د ځلورو واړو طرفونو نه مایوسه واپس کیږی.نو بیا لاندې راکوزیږی اودمیدان مینځ ته راشی او بیا په منډه شی او په مروه غر باندې اوخیژی . په دې باندې دختلو نه پس ځلورو واړو طرفونو ته مبارک نظرونه واړوی خو هیڅوک نه ګوری او بیا دهغه ځائې نه هم واپس شی.اوداشان ددې دواړو غرونو ترمینځه لږه شان حصه کښې په منډه منډه خی او باقی حصه کښې په تیزئی سره خی اوبیا صفا باندې خیژی. داشان اووه ځل کوی .دهر چکر نه پس راځی او بچې ګوری چه دده حالت وخت په وخت خرابیږی.(نبی کریم ﷺ فرمائی چه د صفا او مروه سعی چه کوم حاجیان کوی ددې شروع دې هم ددې ځائې نه کوی)په اووم ځل چه کله دا مروه ته راځی نو څه آوازونه ئې غوږونوته رازی نودا خاموشه شی او په احتیاط سره دې طرفته متوجه کیږی چه دا آواز څنګه دې؟

اوازبیاراخی او دې خل ورته صفا اوریدلې کیږی نو دا اواز ظرفته په منډه ورخی(او اوس چه په کوم خائې کښې زمزم دې) په دې خائې حضرت جبریل ﷺ وینی.

د زم زم چینه راوتل:- حضرت جبریل ﷺ تری تپوس کوی چه ته څوک ئې ؟ دا جواب ورکوی چه څه هاجره یم ،څه د حضرت ابراهیم ﷺ د زوئې مور یم. حضرت ابراهیم ﷺ ته په دې خوشی بیابیان کښې څنګه پریښودې ؟حضرت هاجره فرمائی چه الله ﷻ ته ئې پریخودو.وې فرمائیل چه بیا الله کافی دې . حضرت هاجره ورته فرمائی چه ائې غیبی سړیه ، واز خوما واوریدو آیا خما به هم څه اوشی که نه ؟ حضرت جبریل ﷺ خپلې پوندې په زمکه باندې مخی اوددې نه یوچینه راوزی.حضرت هاجره ددې اوبه په خپلو لاسونو مبارکوسره په خپل مشك کښې اچول شروع کوی ، مشك چې کله ډك کړی نو ددې اوبونه ګیر چاپیره یو دیوال جوړوی چه هسې نه اوبه یو خوابل خوا اونه بهیږی.(نبی کریم ﷺ فرمائی چه الله ﷻ دې دحضرت اسماعیل ﷺ په مور بی بی باندې رحم اوکړی که هغې اوبه نه وې رامنع کړې نو زمزم به د یو کوهی په شکل کښې نه وې بلکه دیو نهر په شکل کښې به وې. (حضرت هاجرې اوبه اوڅکلې او بچی ته ئې هم ورکړې اوبیائې بچی ته پئ ورکړل. فرښتې ورته اووئیل چه ا وس ته بې فکر اوسه الله ﷻ به تالره نه ضائع کوی. چه په کوم خائې چه ته ناسته ئې په دې خائې دالله تعالی یوکوربه ددې بچی اوددې بچی د پلارپه لاسو جوړیږی.حضرت هاجره په دې خائې کښې اوسیدل شروع کړل.دزمزم اوبه به ئې څکلې او خپل بچی سره به مشغولیده.دباران په موسم کښې به د سیلاب اوبه دځلورو واړو طرفونونه راتلې خودا خائې لږ په لوړه باندې وو ، ددې خائې نه به تیرې شوې او په دې خائې کښې به امن وو.

د جرهم قبیله راتلل:-څه موده پس د جرهم قبیله دکداء دلارې د طرفنه اتفاقی طور تیره اومکې مکرمې سره ئې نزدې پراؤ اوکړو. دوی یو د اوبو مارغه اولیدو.نودوی په خپلو کښې اووئیل چې دامارغه خو د اوبودې،او په دې خائې کښې خو هډو اوبه نه وې. مونږ خو په دې خائې ډیر ځل تیر شو،داخویو اوچ ځنګل او خوشې میدان دې. په دې خائې کښې اوبه دچرته راغلې ؟نودوی خپل څه کسان د معلوماتو دپاره اولیږل. هغوی چه واپس راغلل نو وې وئیل چه په هغه خائې کښې خو ډیرې بهترښې او ډیرې اوبه دی. هغوی ټول راغلل او د حضرت اسماعیل ﷺ مور بی بی نه ئې تپوس اوکړو چه ائې مور بی بی آیامونږ په دې خائې کښې اوسیدې شوځکه په دې خائې کښې اوبه دی. حضرت هاجره ورته اووئیل چه اوسیږئی په شوق سره خو په دې اوبو به خما قبضه وی. نبی کریم ﷺ فرمائی چه حضرت هاجرې خودا غوښتل چه څوك هم جنس ملاؤ شی نودې قافلې په دې خائې کښې پراؤ اوکړو.

دحضرت اسماعیل ﷺ ږومبئ نکاح :-حضرت اسماعیل ﷺ هم لوئې شو اوددغه ټولو خلقو حضرت اسماعیل ﷺ سره محبت وو. تردې پورې چه دوی بالغ شو نوپه دغه خلقو کښې ئې نکاح هم اوکړه. او هم ددې خلقو نه ئې عربی هم زده کړه. د حضرت هاجره انتقال هم په دې خائې کښې اوشو. هرکله چه حضرت ابراهیم ﷺ ته دالله ﷻ د طرفنه اجازت ملاؤ شو نو حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ دخپل خوئې ملاقات دپاره تشریف راوړو. په بعضو روایاتو کښې دی چه د حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ داتګ راتګ به په براق وو.

دابراهیم ﷺ تلل راتلل:- حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ به د شام دملك نه راتلو او بیا به واپس تلو. په دې خل خو دوی ته حضرت اسماعیل ﷺ په کور کښې ملاؤ نشو ، دخپلې اِنګور نه ئې تپوس اوکړو چه حضرت اسماعیل ﷺ چرته دې ؟نو وې وئیل چه د خوراك څکاك په تلاش کښې دې یعنی ځنګل ته تلې دې.حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ تری تپوس اوکړو ستاسوڅه حال دې ؟وې وئیل ډیر خراب حال مو دې. ډیره تنګی او سختی ده. حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه ښه چه کله ستا خاوند راشی نو ورته اووایه چه دخپلې دروازې در شل بدله کړه.

Scanned with CamSc

داسماعیل ﷺ د ښکار نه واپس راتلل:- حضرت ذبیح الله ﷺ واپس راغلونو دوی ته څه محبت معلوم شو . تپوس ئې تري اوکړو چه څوك راغلی وو څه ؟نو بی بی ورته اووئیل چه یو سړي په داسي داسي شکل وصورت کښي راغلي وو او ډیر عمر والا وو.سثاسو باره کښي ئې تپوس اوکړو نو ما ورته اووئیل چه هغه دښکار په تلاش کښي وتلي دي .بیا ئې تپوس اوکړو چه وخت مو څنګه تیریږی ؟ ما ورته اووئیل چه ډیره سختی او تنګی ده. وې فرمائیل چه مادپاره ئې هم څه وئیلی دی ؟ بی بی ورته اووئیل چه آو،هغه (ﷺ) اووئیل چه کله هغه راشی نو هغه ته خما سلام وایه او ورته اووایه چه دخپلې دروازې درشل بدله کړه. دوی ورته اووئیل چه ښځې واوره دا خما پلار وو ، اودا چه څه ئې وئیلی دی ددې مطلب دادي چه څه تالره جدا کړم (چونکه تا ناشکری کړې ده) نوماتا طلاق درکړو.

دابراهیم ﷺ دوباره راتلل:- څه موده پس بیا دالله ﷻ په حکم سره حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ راغلو ،دې ځل هم ذبیح الله ﷺ سره ئې ملاقات اونشو. اِنګور نه ئې تپوس اوکړو نو جواب کښي ئې اووئیل چه زمونږ دروزې په تلاش کښي وتلي دي. تاسو راځئ تشریف راوړئی چه څه حاضر دی هغه اوخورئی. حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوفرمائیل چه اووایه وخت مو څنګه تیریږی ؟ څه حال مو دی ؟ جواب ملاؤ شو چه الحمد لله مونږ بالکل خیریت سره یو ، اودالله ﷻ په فضل سره ښه خوشحاله او راحت سره یو. دالله ﷻ ډیر شکر دي. حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اووئیل چه ستاسو څه خوراك دې ؟ وې وئیل غوښه. حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ تپوس اوکړو چه څکئ څه ؟ جواب ملاؤ شو اوبه. نو حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ دعا اوکړه چه یاالله ﷻ دوی ته غوښه او اوبه ښه ډیري ورکړې. (نبی کریم ﷺ فرمائی چه که هغوی سره غله وې او هغې وئیلې وې نو حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ به دهغوی دپاره د غلې دعا هم کړې وې ، اوس ددې دعا په برکت سره مکې والوته صرف په غوښه او اوبو باندې ګزاره پکار ده ، نور خلق نشی کولې). حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوفرمائیل چه ښه څه څم ته خپل خاوند محترم ته خما سلام وایه او ورته اووایه چه خپله درشل ثابته اوساته او آباده ئې ساته . دې نه پس حضرت اسماعیل ﷺ راغلو او ټوله واقعه ورته معلومه شوه. نو دوی اوفرمائیل چه دا خما والد محترم وو،ماته ئې حکم کړې دی چه څه دې تالره جدا نه کړم (ته شکر کوونکې ئې).

د بیت الله د تعمیردپاره د ابراهیم ﷺ راتلل :- بیا څه موده پس حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ ته اجازت ملاؤ شو او حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ راغلو اوحضرت اسماعیل ﷺ ئې زمزم سره اولیدو چه غشئ نیغولو. حضرت اسماعیل ﷺ چه کله خپل پلار اولیدو نو دادب په وجه پاسیدو. هرکله چه پلار خوئې یو بل سره ملاقات نه فارغ شو نو حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوفرمائیل چه ائې اسماعیل ﷺ ماته د الله ﷻ حکم شوې دی حضرت اسماعیل ﷺ اوفرمائیل چه څه حکم شوې دی ائې اباجانه هغه پوره کړئی.حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوفرمائیل چه ائې خویه ته به هم ماسره ملګرتیا کوې. عرض ئې اوکړو څه حاضریم .حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوفرمائیل چه په دې ځائې کښي دالله ﷻ یوکور جوړول دی.

حضرت اسماعیل ﷺ اوفرمائیل ډیره ښه ده . دواړو پلار خوئې دبیت الله بنیاد کیخودو او دیوالونه ئې اوچتول شروع کړل.حضرت اسماعیل ﷺ به کانړی راوړل او حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ به کیخودل. هرکله چه دیوالونه اوچت شو نو حضرت اسماعیل ﷺ داکانړئې یعنی د مقام ابراهیم والاکانړئ راوړو،په دې اوچت کانړی باندې به اودریدلو دبیت الله ﷻ دیوالونه به ئې وهل. اودواړو پلارځوئې دا دعا غوښتله چه ائې الله ﷻ ته زمونږ دا خدمت قبول کړې.بیشکه ته آوریدونکې او پیژندونکې ئې(۱)دا روایت د احادیثو په نورو کتابونو کښي هم موجود دي. چرته مختصر او چرته

---

(۱) صحیح بخاری ، کتاب احادیث الانبیاء باب یزفون السلان فی المشی:۳۳٦٤)-

Scanned with CamSc

تفصیل سره دي ، یو صحیح حدیث کښې دی چه د حضرت ذبیح الله ﷺ په بدله کښې کوم یو ګډ ذبح شوي وو دهغې ښکرې هم په بیت الله کښې وي. (۱)

دا پورته اوږد روایت دحضرت علی ﷺ نه روایت شوي دي. په دې کښې دا هم دی چه کله حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ بیت الله ته نزدې ورغلو نو په خپل سر ئې یو سیورنی اولیدو ، ددې نه آواز راغلو چه تر کوم خائې پورې ددې وریخې سیورې دي تر هغه پورې دبیت الله زمکه واخله، کمې زیاتې په کښې مه کوه. په دې روایت کښې داهم دی چه حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ بیت الله جوړ کړو او په دې خائې کښې ئې حضرت هاجره او حضرت اسماعیل ﷺ پرینبودو او تشریف ئې یوړو.(یعنی چې د بیت الله د تعمیر په وخت کښې بی بی هاجره ژوندئ وه) خو ډومبې روایت صحیح دي. اوداشان تطبیق هم کیدیشی چې بنیاد ئې مخکښې اینبودي وي او دې نه پس ئې جوړه کړې وی. او په جوړولو کښې پلار خوئې دواړه شامل وو لکه څنګه چه د قران پاك الفاظ دی.

دحجر اسود لګول:- په یو روایت کښې دی چه خلقو د حضرت علی ﷺ نه د بیت الله شریف د بنیاد د کیخودو تپوس اوکړو . نو هغوی اوفرمائیل چه الله ﷻ حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ ته اوفرمائیل چه ځما کور جوړ کړه.حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوویریدو چه ماته خو جوړول نه رازی. ځومره او څنګه پکار دي. وغیره.په دې باندې سکینه نازله شوه او حکم اوشو چه په کوم خائې کښې دا ایساره شی نو هغه خائې کښې ځما کور جوړ کړه. حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ جوړول شروع کړل. هرکله چه دحجر اسود خائې راغلو نوحضرت اسماعیل ﷺ ته ئې اووئیل څوبه څه بنه شان کانړئی راوړه. حضرت اسماعیل ﷺ کانړئی راوړو نو وې کتل چه پلار محترم ئې په هغه خائې کانړئی لګولې وو. تپوس ئې اوکړو چه دا چاراوړې دي ؟ حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوفرمائیل چه دالله ﷻ په حکم سره دا کانړې حضرت جبریل ﷺ دآسمان نه راوړې دي. (۲)

دکعب بن احبار روایت:- حضرت کعب بن احبار ﷺ فرمائی چه اوس په کوم خائې کښې بیت الله شریف دي،ددې زمکې دپیدائش نه مخکښې په دې خائې باندې برېرقو سره خګ وو. هم دې نه زمکه خوره کړې شوه. حضرت علی ﷺ فرمائی چه دکعبة الله جوړولو دپاره حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ د آرمینیه نه تشریف راوړې وو.حضرت سدی رحمه الله فرمائی چه حجر اسود حضرت جبریل ﷺ د هند نه راوړې وو،په هغه وخت دا سپین چمکدار یاقوت وو او دا دحضرت آدم ﷺ سره دجنت نه راغلې وو. دخلقو د ګناهونو له کبلې دا کانړئی تور شو. په دې روایت کښې هم دی چه بنیادونه مخکښې نه موجود وو.هم په هغې باندې حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ تعمیر شروع کړو. عبدالرزاق کښې دی چه حضرت آدم ﷺ په هند کښې کوز شوې وو.په هغه وخت کښې دهغوی قد اوږد وو.زمکې ته راتلو نه پس به ئې دفرښتو تسبیح او مونځ وغیره آوریدو .هرکله چه (قد) ئې وړوکې شو نو هغه آوازونه راتلل بند شو.نو ویریدو نو حکم اوشو چه مکې طرفته لاړشه .حضرت آدم ﷺ تشریف یوړو.په کوم خائې باندې چه د حضرت آدم ﷺ قدم مبارك اینبودي شوې وو په هغه خائې کښې آبادی اوشوه. الله تعالی د جنت نه یو یاقوت نازل کړو او دبیت الله په خائې باندې یې کیخودو اودا ئې خپل کور اوګرزولو. حضرت آدم ﷺ په دې خائې طواف کول شروع کړه او دې سره مانوس شو ، ویره ترینه لاړه.د حضرت نوح ﷺ دطوفان په زمانه کښې دا کانړې اوچت شو او د ابراهیم ﷺ په زمانه کښې بیا الله ﷻ راولیږلو . حضرت آدم ﷺ دا کور دحرا، طورزیتا، طور سینا ، جودی ، دې پنځو غرونونه جوړ کړې وو. خو په دې ټولو روایتونو کښې تضاد دي. والله اعلم.

---

(۱) مسند احمد : ٦٨/٤، والفظ له : سنن ابی داود : ۲۰۳۰. وهو حدیث حسن)-

(۲) حاکم: ۲۹٤/۲، ۲۹۳، وابن جریر فی تفسیره و سنده حسن)-

Scanned with CamSc

د ذوالقرنین د ابراهیم ﷺ سره ملاقات:-په بعضو روایاتو کښې دی چه دزمکې پیدائش نه دوه زره کاله مخکښې بیت الله شریف جوړ شوې وو. حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ سره دبیت الله شریف نښو اچولودپاره حضرت جبریل ﷺ راغلې وو. په هغه وخت کښې په دې خائې د څنګلونو نه سوا نور څه نه وو. لرې تر نه د عمالیقو آبادی وه. په دې خائې کښې حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ خپله بی بی هاجره او خپل څوئې حضرت اسماعیل ﷺ پرینبودو د یو چپر لاندې. په یو بل روایت کښې دی چه بیت الله څلور ارکان دی او تر اوومې زمکې پورې لاندې تلې دی. او په یو روایت کښې دی چه کله ذو القرنین دې خائې ته راورسیدو او وې کتل حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ بیت الله جوړوی نو تپوس ئې اوکړو دا څه کوئی ؟ حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوفرمائیل چه مونږ دالله تعالی په حکم سره دهغه کور جوړوو. تپوس ئې ترې اوکړو څه دلیل دې ؟ حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ اوفرمائیل دا شرمخان به ګواهی ورکړی. پنځو شرمخانو اووئیل چه مونږ ګواهی ورکوؤ دا دواړه دالله ﷻ مامور دی. ذو القرنین ډیر خوشحاله شو او وې فرمائیل ما اومنل. د ارزقی په تاریخ مکه کښې دی چه ذو القرنین د حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ او ذبیح الله ﷺ سره د بیت الله شریف طواف اوکړو. والله اعلم. په صحیح بخاری کښې دی چه قواعد بنیادنوته وئیلې شی ، دا د قاعدة جمع دې. په قران پاک کښې په بل خائې کښې دی چه ﴿ وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ ﴾ ، ددې مفرد هم قاعده دې.

حضرت عائشه ﷺ فرمائی چه رسول کریم ﷺ ماته اوفرمائیل چه تاته معلوم نه دی چه ستا قوم چه کله بیت الله جوړکړو نو دقواعد ابراهیم نه ئې کم کړو. ما ورته اووئیل چه تاسو دا زیات او په خپل اصل حالت کښې ئې کړئی. حضرت محمد ﷺ اوفرمائیل که ستا دقوم اسلام تازه نه وې او ددوی دکفر زمانه نزدې نه وې نو مابه داسې کړی وې. حضرت ابن عمر ﷺ ته چه کله داحدیث راورسیدو نو وې فرمائیل چه کیدې شی هم دا وجه ده چه رسول کریم ﷺ به حجراسود سره نزدې دوه ستنې نه ښکلولې. (۱) په صحیح مسلم کښې دی چه رسول کریم ﷺ فرمائی چه انې عائشه ﷺ اکه ستا دقوم دجاهلت زمانه نزدې نه وې نوما به د کعبې خزانې دالله ﷻ په لار کښې خیرات کړې وې او دروازې به مې راغورزولې وې (۲) اوحطیم به مې په بیت الله شریف کښې داخل کړې وې. دصحیح بخاری په یو حدیث کښې دی چه ما به ددې دوئمه دروازه هم جوړه کړې وې. یود راتلو دپاره او بله د تلو دپاره. نو ابن زبیر ﷺ د خپل خلافت په زمانه کښې هم داسې اوکړل (۳) اوپه یو روایت کښې دی چه ما به دوباره د ابراهیم ﷺ په بنیادونو باندې جوړکړې وې (۴) اوپه یو بل روایت کښې دی چه یو دروازبه مشرق طرفته وې اوبله به مغرب طرفته او شپږ ګزه حطیم به مې په دې کښې شامل کړې وې خکه چه قریشو دا بهر کړې دې. (۵)

په عهد قریشی کښې د بیت الله تعمیر:-د رسول کریم ﷺ د نبوت نه پنځه کاله مخکښې قریشو بیت الله نوې جوړ کړې وو. ددې تفصیل بیان اوګورئ په دې جوړولو کښې رسول کریم ﷺ پخپله هم شریک وو. د رسول کریم ﷺ عمر پنځه دیرش کاله وو. او رسول کریم ﷺ به هم پخپله کانړی اوچتول. ابن اسحاق ﷺ فرمائی چه هرکله د رسول کریم ﷺ عمر مبارک پنځه دیرش کاله شو نو قریشو دبیت الله شریف دنوی جوړولو اراده اوکړه. خکه چه ددې دیوالونه ډیر واړه وو. چت ئې نه وو.

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب التفسیر سورة البقرة: (واذ یرفع ابراهیم القواعد) ٤٤٨٤، صحیح مسلم: ۱۳۳۳)-
(۲) صحیح مسلم : کتاب الحج باب نقض الکعبة .....: ۱۳۳۳)-
(۳) صحیح بخاری : کتاب الحج، باب من ترک بعض الاختیار مخافة: ۱۲٦، و صحیح مسلم: ۱۳۳۳)-
(٤) صحیح بخاری : کتاب الحج باب فضل مکة وبنیانها: ۱۵۸۵، وصحیح مسلم: ۱۳۳۳)-
(٥) صحیح بخاری : کتاب الحج باب نقض الکعبة: ۱۳۳۳)-

Scanned with CamSc

په بیت الله کښې خزانه:- دویم په دې وجه هم چه دبیت الله خزانه پټه شوې وه چه دا دبیت الله شریف په مینځ کښې یو ژوره کنده کښې ښخه شوې وه. دامال د "دویك" نومې سړی نه برآمد شوې وو. اودې د خزاعه قبیلې د بنو ملیح بن عمرو مولی وو. ممکن دی چه غلو په دې خانې کښې اینبودی وی اوددې لاسونه ددې دغلا په وجه پریکړې شوی وی. ددې د جوړولو ډپاره یو بل قدرتی سهولت هم شوې وو چه دروم دتاجرانویوکشتئ چه په هغې ډیر اعلی لرګی وو،هغه دطوفان په وجه دجدې غاړې ته راغلی وو. دا لرګی په چت کښې استمالیدیشو نو په دې وجه قریشو دا واخستل. او دمکې ترکانې ته نې د چت د کار اووئیل ا ودهغه تعلق د قبطی خاندان سره وو.

د مار لرې کولو غیبی انتظام:- دا ټولې تیارتی کیدلې خود بیت الله شریف د ویرانولو په چا کښې همت نه وو. ددې قدرتی اسباب هم مهیا کړې شو. دبیت الله په خزانه کښې یو ډیره غټه اژدها وه. هرکله چه به خلق نزدې ورتلل نو هغه اژدها به خله وازه کړه او دوی طرفته به نې رامنډه کړه. دامار به هره ورځ ددې کوهی نه راوتلو او دبیت الله شریف په دیوالونو به کیناسټلو. یوه ورځ ناست وو چه الله ﷻ یو غټ مارغه راولیږلو ، هغه مارغه دامار واخستلو او والوتلو. قریشو اووئیل چه زمونږ اراده دمولی دمرضئ مطابق ده. لرګی هم مونږ ته ملاؤ شو ، ترکانې زمونږ سره موجود دی. مار هم الله ﷻ لرې کړو.اوس دوی پخه اراده اوکړه چه بیت الله ویران کړی او دا دوباره جوړ کړی. دټولو نه مخکښې وهب اودریدو او یو کانړئ د کعبة الله نه اونړولو اوهغه دده د لاس نه لاړو بیا په خانې باندې نصب شو. ده ټولو قریشو ته اووئیل چه واورئی،هرسړې دې خپل پاك مال دبیت الله شریف په جوړولوکښې خرچ کړی. په دې د زنا کارئی پیسه،دسودی کاروبار پیسه او دظلم پیسه مه لګوئی. بعضې خلق وائی چه دامشوره ولید بن مغیره ورکړې وه. (۱)

دبیت الله د جوړولو تقسیم:- اوس دبیت الله شریف حصې تقسیم کړې شوې. د دروازې حصه به بنو عبد مناف اوبنوزهره جوړوی،حجر اسود او رکن یمانی والا حصه دې بنو مخزوم جوړه کړی،قریش او قبائل دې هم دوی سره مدد اوکړی. دکعبې مخکښئ حصه دې بنو جمح او بنو سهم جوړه کړی ، دحطیم سره حصه دې بنو عبدالدار بن قصی او بنو اسد بن عبدالعزی او بنو عدی بن کعب جوړه کړی

د ولیدبن مغیره په نړولو شروع کول:- د دې معامله د حل کیدو نه پس دبیت الله شریف رومبې عمارت د غورزولو مسئله راپیښه شوه چه دا جداکړی. خو د هیچا همت نه کیدو چه ددې نړول شروع کړی.آخر ولید بن مغیره اووئیل څه شروع کوم. کودالـه نې واخستله او پورته اوختلو او وې وئیل انې الله ﷻ ! تاته ښه علم دې زمونږ اراده غلطه نه ده،مونږ ستا کور نړوو نه غواړو ،بلکه ددې د آبادولو په فکر کښې یو.په دې وینا سره نې د دواړو رکن غاړې اونړولې. قریشو اووئیل چه اوس نې پریږدئی او ټوله شپه انتظار اوکړئی. که په دې سړی باندې څه وبال راغلو نو دا کانړئی به په خپل ځانې باندې اولګوئی اوخاموشه شئ. اوکه څه عذاب رانغلو نو پوهه شئ چه ددې نړول الله ﷻ ته خوښ دی. بیا صباله په خپل خپل کار کښې اخته شئ. کله چه صبا شو نو بالکل خیریت وو. نو اوس ټول په ټوله راغلل او دبیت الله شریف نور عمارت اونړولې شو.تردې پورې اصلی بنیادونو یعنی بناء ابراهیمی ته اورسیدل. په دې خانې دشین رنګ کانړی وو.اویو بل سره پیوست وو.یو سړی دوه کانړی بیلول اوغوښتل،په دې کښې نې کودالـه واچولـه او زور نې اوکړو نـود کـانړی خوزیـدو سره ټولـه زمکـه اوخوزیدله. نو هغوی پوهه شو چې ددې کانړو لرې کول او د دې په ځائې نور کانړی الله ﷻ ته منظور نه دی. ددې وجې دا زمونږ دوس کار نه دې. ددې ارادې نه منع شو او داکانړئی همداشان پریښودل. (۲)

---

[1]) ابن هشام : ۲۰۳/۱)-

[2]) ابن هشام : ۲۰۷/۱)-

Scanned with CamScanner

د حجر اسود لګولو واقعه:- بیا هري قبیلي د خپلي خپلي خصتي مطابق بیل بیل کانړی جمع کړل. او عمارت جوړیدل شروع شو. تر دي پوري د حجراسود د اینبسودو وخت راغلو. اوس هري قبیلي دا غوښتل چه داشرف هغوی حاصل کړی. په خپلو کښي په جنګ شو. تر دي پوري د باقاعده جنګ نوبت راغلو.قبیلي په خپلو کښي تقسیم شوي. او د جنګ په تیارو کښي اخته شو. بنو عبدالدار او بنو عدی یولوښی کښي وینه واخستله او په دي کښي ټي لاسونه کیخودل اوحلف ټي اوکړو ټول به مړه شی خو هیڅوك به حجر اسودکینخودي شی. داشان ځلور پنځه ورځي تیري شوي .بیا قریش مسجد حرام کښي جمع شو چه په خپلو کښي مشوره او انصاف اوکړی ، نو ابوامیه بن مغیره چه قریشی وو ، زیات دعمر والا اوعقل مند وو،وي وئیل که ټاسو خپل څوك منصف جوړکړئی چه هغه فیصله اوکړی چه ټولو ته منظور وی ، خو بیا به په منصف جوړولو کښي اختلاف وی ، ددي وجي داسي اوکړئی چه څوك دټولو نه مخکښي دي مسجد حرام ته راشی نو هغه به زمونږ منصف وی. په دي رائي باندي اتفاق اوشو.اوس منتظر دی څوك به دټولونه مخکښي راځی ؟.

د نبی کریم ﷺ په نصیب کښي د حجراسودکیخودل راتلل:- نودټولو نه مخکښي حضرت محمد ﷺ تشریف راړو.د رسول کریم ﷺ په کتلو سره دا ټول خلق خوشحاله شو او وي وئیل مونږ ته ستا فیصله منظور ده.مونږ ستا په حکم راضی یو.دا خو امین دي دا خو محمد (ﷺ) دي. بیا ټول ددوی په خدمت کښي حاضر شو. اوټوله واقعه ټي رسول کریم ﷺ ته بیان کړه. رسول کریم ﷺ اوفرمائیل چه لاړ شئ.اویو غټ شان څادر راوړئی. هغوی راوړو. رسول کریم ﷺ حجر اسود واخستلو او په خپلو لاسونو مبارکو ټي په دي څادر کښي کیخودو. بیا ټي اوفرمائیل چه دهري قبیلي سردار دي راشی اوددي کپړي یو ګوټ دي اونیسی اوداشان دي دحجر اسود داوچتولو حصه دار جوړ شی. په دي باندي ټول خلق ډیر خوشحاله شواو ټولو سردارانو دا څادر اونیولواو اوچت ټي کړو. هرکله چه ددي دکیخود ځائي راغلو نود الله ﷻ نبی ﷺ دا کانړئی واخستلو او په خپل ځائي باندي ټي کیخودو. او داشان هغه اختلاف اوجنګ بالکل ختم شو.او داشان الله ﷻ د خپل نبی ﷺ په لاسونو مبارکو سره په خپل کور کښي کانړي نصب کړو.(دوحی نازلیدو نه مخکښي به قریشو رسول کریم ﷺ ته امین وئیلو). اوس پورتنئ حصه جوړه شوه.او د کعبة الله تعمیر پوره شو.

په خلافت د ابن زبیر رضی الله عنه کښي د کعبي تعمیر:- ابن اسحاق فرمائی چه د رسول کریم ﷺ په زمانه کښي کعبه اتلس ګزه وه ، په دي باندي به دقباطی پرده اچولي شوه. بیا پري د څادر پرده اچولي شوه. ریښمی کپړه پري دټولونه مخکښي حجاج بن یوسف اچولي وه. (۱)

دکعبي مبارکي هم دا عمارت وو تردي پوري چه د حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه دور خلافت په ابتداء زمانه کښي شپیته کاله پس په دي ځائي کښي اور اولګیدو او کعبه مبارکه اوسوزیده. دا د یزید بن معاویه د ولایت آخری زمانه وه. او هغه ابن زبیر رضی الله عنه په مکه مکرمه کښي ګیرکړي وو. په دي ورځو کښي خلیفه په مکه مکرمه کښي حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه خپلي ترور حضرت عائشه رضی الله عنها نه چه کوم حدیث آوریدلی وو،هم دهغي مطابق ټي د رسول کریم ﷺ په خواهش باندي بیت الله شهیدکړو او په دابراهیم علیه السلام په بنیادونو باندي ټي جوړ کړو ، حطیم په کښي دننه شامل کړي شو.مشرق او مغرب طرفته دروازي کیخودي شوي یود تلواو بله دراتلو. او دروازي ټي زمکي سره یو شان کیخودي. ددوی دامارت دزماني پوري کعبة الله همداسي وه. تردي پوري چه د ظالم حجاج دلاسه بیت الله شهید شو ، اوس حجاج بیاد عبدا الملک بن مروان په حکم سره بیت الله شهیدکړو او دمخکښي پشان ټي جوړکړو.

---

۱) ابن هشام : ۲۱۱/۱)-

Scanned with CamSc

د تعمیر نه وړاندې استخاره کول:- په صحیح مسلم کښې دی چه د یزید بن معاویه په زمانه کښې ، چه شام والو په مکه باندې حمله کړې وه او چه څه کیدل هغه اوشو. حضرت عبدالله ﷺ بیت الله شریف هم داسې پریښودو. دحج په موقعه خلق جمع شو او هغوی دا ټول هر څه اوکتل اوددې نه پس خلقو مشوره اوکړه چې ټوله کعبه دې شهیده کړې شی او بیا دې نوې جوړه کړې شی یا چه کومه نړیدلې ده هغه صحیح کړئی ؟ نو عبدالله بن عباس ﷺ اوفرمائیل چه ځما رائې داده چه اوس کومه نړیدلې ده هغه جوړه کړئی اوباقی نوره پخوانئ پریږدئ. دوی اوفرمائیل چه تاسو کښې که دچا کوراوسوزی نو دهغه به دا خواهش نه وی چه هغه دې نوې جوړ کړی. بیا تاسو دالله ﷻ کور متعلق داسې کمزورې رانې ولې ساتئی. ښه ده څه دري ورځو پورې دخپل رب سره استخاره کوم او بیا چه څه ځما په زړه کښې وو هغه به کوم. دري ورځې پس ددوی هم دا رائې وه چه باقی ډیوالونه دې هم غوزار کړې شی اوکعبه دې دوباره تعمیر کړې شی. نودا حکم ورکړې شو. خودکعبې شهید کولو په چا کښې همت نه وو. ویره وه چه څوك هم مخکښې د شهید کولو دپاره مخکښې شو په هغه به عذاب رازی. خو یو همت والا سړې پورته اوختلو او هغه یو کانړې اونړولو ، هرکله چه خلقو اوکتل چه هغه ته هیڅ تکلیف اونه رسیدو نو بیا ټولو نړول شروع کړل. او زمکې پورې نې ټوله صفا کړه. په هغه وخت کښې څلور وارو طرفونو ته ستنې اودرولې شوې اویو کپړه پرې زورنده کړې شوه. (۱)

په تعمیر باندې شروع کول:- اوس د بیت الله شریف تعمیر شروع شو. حضرت عبدالله ﷺ فرمائی چه ما د حضرت عائشه ﷺ نه واوریدل ، هغې به فرمائیل چه رسول کریم ﷺ فرمائیلی دی که دخلقود کفر زمانه نزدې نه وې اوماسره دخرچ کولو څه هم وې چه په دې سره مې جوړ کړې وې نو د حطیم نه به مې پنځه ګزه بیت الله شریف کښې شامل کړې وې او دکعبې به مې دوه دروازې جوړې کړې وې ، یو دراتلواو بله دتلو. حضرت عبدالله ﷺ داروایت بیان کړو او وې فرمائیل چه اوس دخلقو د کفر زمانه لرې ده،اوس ویره ختمه شوه ، او خزانه هم ډکه ده ، ځماسره کافی روپئ دی ، بیا هیڅ وجه نشته دې چه څه د نبی کریم ﷺ خواهش پوره نکړم . نو پنځه لاسه ئې حطیم کښې دننه واخستل او اوس ئې کنستل اوکړل نو ابراهیمی بنیاد په نظر راغلو اوخلقو داپخپلو سترګو اولیدو اوهم په دې دیوال باندې دبیت الله شریف اوړدوالې اتلس ګزه وو. اوس په دې کښې پنځه ګزه نور هم زیات شو نو پلن والې ئې کم شو نو ددې وجې په پلن والی کښې لس ګزه نور هم زیات کړې شو او دوه دروازې جوړکړې شوې یو دننه طرفته او بله بهر طرفته ،

د حجاج بن یوسف تعمیر:- د ابن زبیر ﷺ دشهادت نه پس حجاج عبدالملك ته اولیکل اوهغه سره ئې مشوره اوکړه چه اوس څه اوکړې شی ، دائې هم ورته اولیکل چه دمکې مکرمې عادلانو ددې متعلق معلومه ده. او بالکل د حضرت ابراهیم ﷺ په بنیادونو باندې کعبه تیاره کړې شوې ده. خو عبدالملك جواب ورکړو پلن والې باقی پریږده ، او حطیم بهر کړه او دویمه دروازه بنده کړه . حجاج ددې حکم مطابق کعبه شهیده کړه اوبیائې دعبدالملك په وینا باندې جوړه کړه. خو سنت طریقه هم دا وه چه د حضرت عبدالله بن زبیر بنیاد باقی ساتلې شوې وې. ځکه چه دا د نبی کریم ﷺ خوښه وه. خو په هغه وخت کښې نبی کریم ﷺ ته داویره وه چه خلق بدګمانی اونکړی ځکه چه اوس اوس نوی نوی اسلام کښې داخل شوی دی.

دعبدالملک بن مروان افسوس :- خوداحدیث عبدالملك بن مروان ته نه وو رسیدلې. ځکه هغه کعبه شهیده کړه. هرکله چه هغه ته داحدیث اورسیدو نو ډیر خفګان به ئې کولو او وئیل به ئې چه کاش مونږ هغه داشان پریښودې وې او شهیده کړې مو نه وې. د صحیح مسلم په یو بل روایت کښې دی چه

---

[1]) صحیح مسلم : کتاب الحج: باب نقض الکعبة: ۱۳۳۳)-

Scanned with CamSc

حارث بن عبدالله کله دیو وفد په شکل کښې عبدالملك بن مروان ته راغلو نو عبدالملك بن مروان اووئیل ځما خیال دې چه ابوحبیب یعنی حضرت عبدالله بن زبیر ﷺ به داحدیث دخپلې ترور حضرت عائشه رضی الله عنها نه آوریدلې وی حارث اووئیل ضرور ئې آوریدلې دې. ما پخپله هم دا دمور بی بی نه آوریدلې دې. تپوس ترې اوکړو تاترې نه څه آوریدلی دی ؟ وې وئیل ماترې آوریدلی دی چه هغې به فرمائیل نبی کریم ﷺ یو ځل ماته اوفرمائیل ائې عائشې رضی الله عنها ستا قوم بیت الله شریف تنګ کړو. که ستا دقوم دشرك زمانه نزدې نه وې نو ما به دوباره ددې (بیت الله) کمې پوره کړې وې . خو رازه چه څه تاته نوی بنیادونه اوښایم که ستاقوم دا بیاتعمیر کوی نو چه په اصلی صورت ئې جوړه کړی. نو نبی کریم ﷺ حضرت عائشه رضی الله عنها ته په حطیم کښې اووه ګزه دننه داخلولو اووئیل او وې فرمائیل چه مابه ددې دوه دروازې کړې وې ، یو دراتلو اوبله دتلو. اودواړه دروازې به مې زمکې ته نزدې جوړې کړې وې،یو مشرق طرفته اوبله مغرب طرفته. تاته پته ده چه ستا قوم دروازې دومره اوچتې ولې کړی دی ، دې رضی الله عنها اوفرمائیل چه حضور ﷺ ماته نه دی معلوم. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه صرف دخپل اوچتوالی او لوئې والی په خاطر چه چالره اوغواړی نو چه دننه ئې پریږدی او چالره چه اوغواړی نو منع ئې کړی.عبدالملك اووئیل ائې حارث اتا پخپله دا حدیث د حضرت عائشه رضی الله عنها نه آوریدلی دی . هغه اووئیل آوماپخپله آوریدلې دې.نو لږ وخت عبدالملك خپله همسا تکوله سوچ ئې کولو ،بیائې اووئیل چه کاش ما هغه هم دهغه پشان پریښودې وې. (۱)

د صحیح مسلم په یرحدیث کښې دی عبدالملك بن مروان یو ځل طواف کولو او حضرت عبدالله ﷺ ئې اورتلو او وې وئیل چه ددې حدیث په وجه په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې الزام لګولو نو حضرت حارث ﷺ هغه منع کړو اوګواهی ئې ورکړه چه هغه رښتونې ووما هم د حضرت عائشه رضی الله عنها نه دا حدیث آوریدلې دې.اوعبدالملك افسوس اوکړو او وې وئیل که ماته دمخکښې نه معلوم وې نو ما به هغه نه وه شهیده کړې. (۲)

د هارون الرشید اراده:- قاضی عیاض رحمه الله او امام نووی رحمة الله علیه لیکلی دی چه خلیفه هارون رشید د حضرت امام مالك رحمة الله علیه نه تپوس کړې وو که اجازت وی نو زه به دوباره کعبه هغه شان جوړه کړم څنګه چه حضرت زبیر جوړه کړې وه. امام مالك رحمة الله علیه اووئیل تاسو داسې مه کوئی.هسې نه کعبه هم دبادشاهانو دپاره لوبې توقې شی چه هر څوك ئې دخپلې خوښې مطابق جوړوی او ورانوی.نو خلیفه دخپلې ارادې نه منع شو هم دا خبره صحیح معلومیږی چه کعبه باربار چیرې صحیح نه دی.دبخاری او مسلم په یو حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دا (کعبه به) دوه پنډو والا حبشی بیا نوروی(۳)نبی کریم ﷺ فرمائی لکه چه څه هغه وینم. هغه تور سړې به یو یو کانړې بیلوی. (۴)ددې غلاف به اخلی او ددې خزانه به هم ،دهغه لاسونه به کاږه وی اوپښې هم او ګنجې به وی. څه وینم چه هغه کوداله ټنګوی او ټکړې کوی ئې(۵)غالبًا دا بدنصیبه واقعه به د یاجوج او ماجوج راوتلونه پس وی(ددې دکتلونه دې مونږ الله ﷻ محفوظ اوساتی)په صحیح بخاری کښې یو حدیث دې چې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه تاسوبه د یاجوج اوماجوج راوتلو نه پس (۶)هم د بیت الله حج اوعمره کوئی .

---

۱) صحیح مسلم : کتاب الحج باب نقض الکعبة: ۱۳۳۳)-

۲) ایضا)-

۳) صحیح بخاری : کتاب الحج با ب هدم الکعبة : ۱۵۹۵)-

۴) صحیح بخاری : کتاب الحج: باب هدم الکعبة ۱۵۹۵)-

۵) احمد: ۲۲۰/۲)-

۶) صحیح بخاری کتاب الحج : باب قول الله تعالی (جعل ا لله الکعبة البیت .....) ۱۵۹۳)-

Scanned with CamSc

قوله تعالی:- رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ

د حضرت خلیل الله او حضرت ذبیح الله دعاکښې:- حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ او حضرت اسماعیل ذبیح الله ﷺ په خپلو دعاګانو کښې وائی چه مونږ لره مسلمانان جوړ کړه یعنی مخلص مو جوړ کړه ، مطیع مو جوړ کړه ، موحد مو جوړ کړه ، دشرک نه مو بچ کړه اوریا کارئی نه مو بچ اوساته ، خشوع او خضوع راکړه. حضرت سلام بن ابی مطیع فرمائی چه مسلمانان خو وو خوداسلام ثابت قدمی نې طلب کوله. چه ددې په جواب کښې الله ﷻ ارشاد فرمائی چه ﴿قد فعلت﴾ (ماستاسو دا دعا قبوله کړه) بیا دخپل اولاد دپاره هم دادعا کوی چه قبلیږی. بنی اسرائیل هم حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ په اولاد کښې دي او عرب هم ،په قران پاك کښې دی چه﴿ وَمِنْ قَوْمِ مُوسَىٰ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِ يَعْدِلُونَ﴾ (دموسی ﷺ په قوم کښې یو ډله پیه حق اوعدل باندې وه) خو دعبارت روانئی نه معلومیږی چه دعربو دپاره دا دعا ده. اګر چه نورو لره هم شامله وی. ځکه چه ددې نه پس بله دعاده چه په دوی کښې یو رسول اولیږه او د رسول نه مراد حضرت محمد مصطفی ﷺ دې، نودا دعا هم پوره شوه لکه فرمائی چه ﴿هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ﴾ خوددې نه ددوی رسالت خاص نه دې

د نبی کریم ﷺ د رسالت عمومیت:- بلکه د نبی کریم ﷺ رسالت عام دې. دعربو عجمو ټولو دپاره ، لکه فرمائی چه ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾ (اووایه چه ائې خلقو څه تاسو ټولو ته یو رسول راليږلې شوې یم).

څنګه چه ددې دواړو نبیانو دعاده داسې دې دهر متقی هم وی ، لکه څنګه چه په قران پاك کښې تعلیم دې چه مسلمانان دا دعا کوی﴿ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا﴾ (ائې زمونږه ربه ! مونږ لره زمونږ ببیبانې او اولاد زمونږ د سترګو یخوالې جوړ کړې. او مونږ دپرهیزګارونه اوګرزوی). دا هم دالله ﷻ دمحبت دلیل دې چه انسان غواړی چه ځما.اولاد ځما نه پس هم دالله تعالی عابدان وی، او په بل ځائې کښې ددې دعا الفاظ دادی چه﴿ وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ﴾ (ائې الله ﷻ اما اوځما اولاد لره د بت پرستئ نه بچ اوساتې).

دانسان په مرګ د اعمالو خاتمه خو:- نبی کریم ﷺ فرمائی چه دانسان مړ کیدو سره دده اعمال ختم شی خو دري کارونه به باقی پاتې شی① صدقه جاریه ② علم چه دهغه نه فائده واخستلې شی او③ نیک اولاد چه دعا کوی. (مسلم) . ([1])

قوله تعالی:- وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا

د حج احکام کول:- بیا دعا کوی چه مونږ ته مناسک اوښایه یعنی احکام د حج او د ذبح وغیره اوښایه. دکعبې دعمارت پوره کیدو نه پس حضرت جبریل ﷺ دوی لره صفا ته راولی،اوبیا مروه ته ځی او فرمائی چه دا دالله ﷻ شعائر دی. بیا منی طرفته لاړل.عقبه سره شیطان یوونې سره ولاړ وو ، ملاوُ شو نووې فرمائیل تکبیر اووایه اودې په کانړی اوولې. ابلیس ددې ځائې نه اوتښتیدو او جمره وسطی سره اودریدو ، دې ځائې کښې هم دې په کانړو اوویشتلې شو نو خبیث ناامیده شو او لاړو. ددې اراده وه چه دحج په احکامو کښې څه مداخلت اوکړی خو موقعه ورته ملاوُ نشوه اومایوسه شو. ددې ځائې نه دوی مشعر ا لحرام ته راوستلو. بیا ئې عرفات ته بوتلو ،بیائې تری دري ځل تپوس اوکړو اووایه پوهه شوې. دوی اوفرمائیل آو.([2]) په دویم روایت کښې دري ځائې کښې شیطان په کانړو ویشتلې شوې دې. او هر شیطان ئې په اووه اووه کانړوویشتلې دې.

---

[1]) صحیح مسلم کتاب الوصیة باب مایلحق الانسان من الثواب.....) ۱۶۳۱)-

[2]) ابن ابی حاتم : ۱/۳۹۰)-

Scanned with CamSc

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ
اې ربه زمونږ راولیږه په دوئ کښې
اې ربه په دوئ کښې د دوئ د نسب نه یو رسول راولیږه
رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ
یو پیغمبر ددوئ نه چې اوروی هغوئ ته ایتونه ستا اوښائي هغوئ ته کتاب
چې ستا آیتونه ورته لولی او د کتاب (قرآن) ښودیم ورکوی (دخپل احادیثو په ذریعه)
وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۱۲۹﴾
او حکمت اوپاکوی هغوئ لره بیشکه خاص هم ته غالب صاحب د حکمت ئې
او(تعلیم ورکوی) دهوښیارتیا اودګناهونونه ئې پاکوی بیشکه ته غالب او صاحب د حکمت ئې

د دعاء ابراهیمی ظهور :- دحرم والو دپاره دابله دعاده چه ددوی په اولاد کښې یو پیغمبر پیدا شی نودا هم پوره شوه. مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی خه د الله ﷻ په نیز خاتم النبین ﷺ دهغه وخت نه یم چه کله حضرت آدم ﷺ لا دښاوري په صورت کښې وو. خه تاسو ته ابتدائی امر اوښایم، خه دخپل پلارحضرت ابراهیم ﷺ دعا یم او د حضرت عیسی ﷺ بشارت یم اودخپلې مور خوب یم. د نبیانو میاندې هم داسې خوبونه وینی (۱) ابو امامه ﷺ یوځل سوال اوکړو مونږ ته خپل ابتدائی حالات بیان اوفرمائی. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل خه دخپل پلار حضرت ابراهیم ﷺ دعا او د حضرت عیسی ﷺ زیږې یم او خما مور اوکتل چه ددې نه یو نور روان شو چه دې سره دشام محلونه په پرقا شو. مطلب دادې چه په دنیا کښې دشهرت دا څیزونه شو. د نبي کریم ﷺ دمور خوب هم په عربو کښې مخکښې نه مشهور شوې وو. اوهغوی به وئیل چه د حضرت آمنه درحم نه به یو لوئې سړې پیدا کیږی. د بنی اسرائیلو نبی خاتم حضرت روح الله ﷺ چه به کله خطبه وئیله نو د ددوی (نبی کریم ﷺ) نوم به ئې هم اخستلو او فرمائیل به ئې انې خلقو ! خه دالله تعالی د طرفنه تاسو ته رسول یم. خما نه مخکښې کتاب تورات دې دهغې هم خه تصدیق کوونکې یم، او خما نه پس د راتلونکی نبی تاسو ته بشارت درکوم چه دهغه نوم احمد (ﷺ) دې. هم دې طرفته په دې حدیث کښې اشاره ده ، په خوب کښې نور نه دشام محلونه پرقیدلو کښې دې طرف ته اشاره ده ، چه دین به په هغه ځائې قائم شی.
بلکه دروایتونونه ثابت دی چه په آخره زمانه کښې به شام داسلام او داهل اسلام مرکز جوړ شی. دشام په مشهور ښاردمشق کښې به حضرت عیسی ﷺ په شرقی سپینه مناره باندې راکوزیږی.په بخاری اومسلم کښې دی چه خمادامت یو ډله به په حق باندې قائم وی. ددوی مخالفین به دوی ته نقصان نه شی رسولې تر دې پورې چه دالله ﷻ حکم راشی(۲)په صحیح بخاری کښې دومره اضافه ده چه هغوی به شام کښې وی(۳)دابوالعالیه نه روایت دې چه ددې دعا په جواب کښې اووئیلې شو چه دا هم قبول شوې ده او داپیغمبر به په آخری زمانه کښې مبعوث کیږی.

قوله تعالی:- وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ ۚ

د کتاب اوحکمت نه مراد:- دکتاب نه مراد قران او حکمت نه مراد سنت اوحدیث دی. حسن رحمه الله ،قتاده رحمه الله ،مقاتل رحمه الله ،بن حیان رحمه الله اوابومالك رحمه الله وغیره هم دا فرمان دې. او دحکمت نه مراد ددین پوهه

---

(۱) مسند احمد: ۱۲۷/٤)-

(۲) صحیح مسلم کتاب الامارة باب قوله ﷺ (لاتزال طائفة من امتی....) ۱۹۲۰)-

(۳) صحیح بخاری : کتاب التوحید ،باب قول تعالی (انما قولنا لشی...) ۷٤٦۰)-

Scanned with CamS

هم ده. پاکول یعنی اطاعت او اخلاص خودل ، نیکئ کول ، دبدو نه منع کول ، دالله ﷻ اطاعت کول او دالله ﷻ رضا حاصلول، الله ﷻ عزیز دي ، هغه پاك ذات هیڅوك نشي عاجز کولي ، په هر څیزباندي غالب دي ، حکیم دي یعنی دهغه پاك ذات هیڅ یو قول او فعل دحکمت نه خالی نه دي ، هغه هر څیز لره پخپل محل باندي حکمت او عدل سره کوی.

وَمَنْ	يَّرْغَبُ	عَنْ مِّلَّةِ	اِبْرٰهِيْمَ	اِلَّا	مَنْ	سَفِهَ نَفْسَهٗ ؕ	وَلَقَدِ
اوڅوك دي|چي نفرت اوکړي	دطریقي	دابراهیم نه|	مګر|	هغه څوك	چي بیوقوف کړي نی وی خان خپل |اوحقیقت دادي	
اوڅوك دي(یعنی نشته)چي مخ واړوی	دملت	ابراهیمی نه		بغیر		دهغه چانه چي خپل خان نې کم عقل کړي وی	
اصْطَفَيْنٰهُ	فِي الدُّنْيَا ۚ	وَاِنَّهٗ	فِي الْاٰخِرَةِ	لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝	
چي غوره کړي وؤ مونږ هغه لره|	په دنیا کښي|	او بیشکه وی به هغه|	په آخرت کښي|اداوچتونیکانونه		
اومونږ هغه(ابراهیم)په دنیا کښي هم غوره ګرځولي وو				اوپه آخرت کښي به هم دنیکانو په ډله کښي شمیر وی			
اِذْ	قَالَ	لَهٗ	رَبُّهٗٓ	اَسْلِمْ ۙ	قَالَ	اَسْلَمْتُ
کله چي	اووئیل	هغه ته	رب خپل		چي ثابعدار شه	نو اووئیل هغه		چي زهٔ تابعدار شوم
(داحال وو)چي الله ورته اوفرمائیل چي(خما حکم ته)غاړه کیږده هغه (زر)اووئیل چي ما غاړه ایښودي ده						
لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝	وَوَصّٰى	بِهَآ	اِبْرٰهٖمُ	بَنِيْهِ	وَيَعْقُوْبُ ؕ
دمالك دکائناتو	او وصیت	کړي وؤ	په دي سره	ابراهیم ﷺ	اولاد خپل ته	او یعقوب هم	
هغه چاته د ټول جهان مالک دي	اوبیا ددي خبري وصیت ابراهیم اود(هغه نمسی)یعقوب خپل اولاد ته هم کړي وو					
يٰبَنِيَّ	اِنَّ اللّٰهَ	اصْطَفٰى	لَكُمُ	الدِّيْنَ	فَلَا تَمُوْتُنَّ
چي اے بچو زما| بیشکه چي الله	غوره کړي دي|	ستاسودپاره		دادین		نومهٔ مرئ تاسو|
چي انې خماخامنوالله تعالی ستاسو دپاره دین (اسلام) غوره کړي دي نو(خبردار)تاسو مه مرئی					
اِلَّا	وَاَنْتُمْ	مُّسْلِمُوْنَ ۝ ؕ			
مګر په داسي حال کښي	چي یئ تاسو	مسلمانان		آیا وئ تاسو	
مګر هله چي مسلمان یئ (هروخت مسلمانان اوسیږئ)					

ددین ابراهیمی دعویدار دمشرګینو ذکر :- په دي آیتونو کښي هم دمشرکانو رد دي چه هغوی به خپل خان په دین ابراهیمی باندي ګڼلو.حالانکه هغوی مکمل طور سره مشرکان وو. اوحضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ خودموحدینو امام وو. توحید لره دشرك نه ممتاز کولو والا وو. په ټول عمر کښي نې د سترګي درپ هومره هم دالله ﷻ سره شرك نه وو کړي. بلکه دهر مشرك او دهرقسمه شرك او ددي نه بیزاره وو،هم په دي دقوم نه بیل شو. وطن نې پریښودو. تردي پورې چه دپلارنې هم مخالفت اوکړو اوددي نې هیڅ پرواه اونکړه.او صفائي اووئیل ﴿ اِنَّنِيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ۝ الخ ﴾ (خه بیزاره یم ددي څیزنه چه کوم تاسو شرك کوئی ، خه یو خواته شوم اوخپله ټوله توجه مې هغه پاك ذات طرفته کړه. چه هغه پاك ذات زمکې اوآسمانونه پیداکړی دی.خه دشرك کوونکو نه نهٔ یم.)په بل ځائي کښي دی چه حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ خپل پلار اوخپل قوم ته صفا اووئیل چه خه ستاسو دمعبودانونه بری یم. خه خود خپل حقیقی الله ﷻ سره محبت لرم ، هغه پاك ذات به ماته نیغه لار ښائی. اوپه بل ځائي کښي دی چه

Scanned with CamScanner

﴿ وَمَاكَانَ اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ الخ﴾ حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ به صرف ديو وعدې په وجه دخپل پلار دپاره استغفار کولو.خو کله چه هغه ته معلومه شوه چه هغه دالله ﷻ دښمن دي نودهغه نه بيزاره شو.

دابراهيم ﷺ صفات:-حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ ډير رجوع کوونکي او بردبار وو. او په بل ځاني کښې دی چه حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ مخلص او مطيع وو اومشرك بالکل نه وو.دالله تعالی دنعمتونوشکر کوونکي وو.دالله ﷻ خوښ وو.او په نيغه لاړ باندې روان وو. ددنيا دښو خلقو نه وو اوپه آخرت کښې هم د صالحانو ځنی وی.ددې آيتونو په شان په دې ځائې کښې هم فرمائی چه په خپلو خانونوباندې ظلم کوونکی بی تدبير او ګمراه خلق هم دحضرت ابراهيم خليل الله ﷺ ملت پريږدی ځکه چه حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ الله دهدايت دپاره منتخب کړې وو. او وړوکوالی نه نې ورته توفيق هم ورکړې وو. دخليل پشان ښکلي خطاب نې ورکړې وو.په آخرت کښې به هم د نيك بختو خلقو ځنی وی. دحضرت ابراهيم خليل الله ﷺ مسلك او ملت لره پرېښودونکی او ګمراهۍ کښې اخته کيدونکی نه به زيات بې وقوف او ظالم څوك وی ؟په دې آيت مبارك کښې ديهوديانو هم رد دې. لکه فرمائی چه ﴿مَاكَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا الخ ﴾ (ابراهيم ﷺنه يهودی وو او نه نصرانی اونه مشرك بلکه موحد او مسلمان او مخلص وو،اوهغه ته نزدې هغه خلق دی چه دهغه تابعدار دی او دا نبی او چې ايماندار دی.الله تعالی دمومنانو ولی دې.کله ورته الله ﷻ فرمائی چه دا اومنۍ نو هغوی جواب ورکوی چه اننې رب العالمين ما اومنل. هم ددې ملت وحدانيت وصيت حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ او حضرت يعقوب ﷺ خپل اولاد ته کړې وو.د "ها" مرجع يا خو ملت دې يا کلمه.

دملت نه مراد اسلام او کلمې نه مراد ﴿اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ﴾دې.اوګورئی ددوی زړونو کښې داسلام څومره محبت اوعزت وو چه په دې باندې تر عمره پوری عمل کوونکي وواو خپل اولادته نې هم ددې وصيت اوکړو.لکه فرمائی چه ﴿وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً﴾(مونږ هغه کلمه دده په اولادکښې هم باقی اوساتله). بعضې سلفو﴿يَعْقُوْبَ﴾ هم وئيلې دې خوبيا به په "بنيه" باندې عطف وی.اومطلب به داوی حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ خپل اولاد او داولاد اولاد نه حضرت يعقوب ﷺ ته چه په هغه وخت کښې موجود وو،دهغه ددين داستقامت په وجه وصيت اوکړو. قشيری رحمه الله فرمائی چه حضرت يعقوب ﷺ د حضرت ابراهيم ﷺ د وفات نه پس پيدا شوې وو. خودا صرف دعوی ده. په دې باندې هيڅ دليل نشته. والله اعلم.

يعقوب ﷺ د ابراهيم ﷺ په ژوند کښې پيدا شوې وو:- بلکه په ظاهره دامعلوميږی چه حضرت يعقوب ﷺ د حضرت اسحاق ﷺ کره د حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ په ژوند کښې پيدا شوې وو.ځکه چه دقران پاك آيت دې چه﴿ فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ ۙ وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ﴾(مونږ هغه ته داسحاق اوداسحاق نه پس د يعقوب زيرې ورکړو).اوددې نصب د خفض په لرې کولوسره هم لوستلې شوې دې.نوکه حضرت يعقوب ﷺ د حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ په ژوند مبارك کښې ژوندې نه وې نو بيا د هغه دنوم په اخستلو کښې څه غټه فائده باقی نه پاتې کيږی. په سورت عنکبوت کښې هم دی چه مونږ حضرت ابراهيم ﷺ ته حضرت اسحاق ﷺ ورکړو او حضرت يعقوب مو ورکړو اومونږ دهغه په اولاد کښې نبوت اوکتاب جاری کړو.اوپه آيت کښې دی چه مونږ هغه ته اسحاق ﷺ او يعقوب ﷺ زياتی ورکړو.نو ددې نه معلوميږی چه حضرت يعقوب ﷺ د حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ په ژوند کښې وو. په مخکښو کتابونوکښې هم دی چه هغه به بيت المقدس ته رازی.

په بيت الله او بيت المقدس کښې فاصله:-حضرت ابوذر ﷺ يو خل دنبی کريم ﷺ نه تپوس اوکړو يارسول الله ﷺ ! کوم يو جمات مخکښې جوړکړې شوې دې ؟ نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل مسجد حرام. تپوس کوی بيا ؟نبی کريم ﷺ اوفرمائيل بيت المقدس .ما اووئيل د دواړو په مينځ کښې څومره موده

وه ؟وې فرمانيل څلويښت کاله الخ.(۱)ابن حبان وئيلی دی چه د حضرت ابراهيم خليل الله ﷺ اود حضرت سليمان ﷺ په مينځ کښې د فاصلې دا بيان دې حالانکه داقول بالکل مخالف دې ، ددې دواړو نبيانو په مينځ کښې خو د زرګونو کلونو موده وه. بلکه مطلب د حديث څه بل څه دې. اوشاه زمان سليمان ﷺ خو ددې مرمت کړې وو.داشان يعقوب ﷺ هم وصيت کړې وو چه د هغې ذکر هم رازی.وصيت ددې امر شوې وو چه په ژوند ګښې مسلمان اوسئ چه مرګ هم درته په دې ګښې راشی.

چه څه کړې هغه به ريبې :-عام طور انسان چه په ژوند ګښې په کوم څيز باندې اوسيږی،په هغې باندې ورته مرګ هم راځی. او چه په کوم مرې په هغې به پاسی. دالله ﷻ غادت داشان دې چه دنيکئ ارادې کولو والا ته دنيکئ توفيق ورکوی. نيکی دده دپاره آسانولې هم شی.او ده لره ثابت قدم ساتلې شی. هيڅ شك نشته دې چه دا حديث هم راغلې وی چه انسان دجنتيانو عمل کولوسره جنت ته يو ليشت نزدې شی اوده تقدير غالب شی،اودجهنميانو کار کولو سره جهنمی شی(۲) اوکله ددې خلاف هم وی.ددې مطلب دادې چه دا ښه او خرابو کارونه ظاهری طور سره کيږی حقيقی طور سره نه .نو بعضو روایاتو کښې هم دا لفظ هم دې.(۳)قران پاك وائی سخاوت ، تقوی او ﴿لااله‌الاالله﴾ تصديق کولووالا دپاره مونږ دآسانئ لارپيدا کوو او بخل او بې پرواهئ او دنيکو خبروتکذيب کوونکو دپاره مونږ دسختی لار آسانوو.

أَمْ كُنتُمْ	شُهَدَاءَ	إِذْ				
	آيا وئ تاسو	حاضر	په هغه وخت کښې			
	ايا تاسوحاضروئ څه وخت چې					
حَضَرَ	يَعْقُوبَ	الْمَوْتُ	إِذْ قَالَ	لِبَنِيهِ	مَا تَعْبُدُونَ	
چې راغې	يعقوب ته	مرګ	اکله چې	اووئيل هغۀ	خامنو خپلو ته	دچا عبادت به کوئ تاسو
يعقوب ﷺ ته (د)	مرګ (نبنې)	ښکاره شوې	او هغه خپلوخامنو ته	اووئيل	چې د څه عبادت به کوئ	
مِن بَعْدِي	قَالُوا	نَعْبُدُ	إِلَٰهَكَ	وَإِلَٰهَ آبَائِكَ	إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ	
روستو زمانه	انواووئيل	هغوئ مونږ به عبادتکوو	ادمعبودستا	اودمعبوددپلارونوستا	اچې ابراهيم اواسماعيل	
ځما (دمرګ) نه پس	هغوئ ورته اووئيل	چې ستادمعبود	اوستاد پلار نيکه د	معبود دابراهيم ،اسماعيل		
وَإِسْحَاقَ	إِلَٰهًا وَاحِدًا	وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ	تِلْكَ أُمَّةٌ	قَدْ خَلَتْ		
او اسحاق دې	چې معبود يو دې	او مونږ دهغه حکم منونکی يو	هغه څه خلق وو	چې تير شو		
اوداسحاق چه يوالله معبود دې	اومونږ دهغه احکامو ته غاړه ايخودې ده	دغه يوه ډله په چې لاړه تيره شوه				
لَهَا	مَا	كَسَبَتْ	وَلَكُمْ	مَّا	كَسَبْتُمْ	
دهغوئ دپاره دی	هغه څه	چې کړی وو هغوئ	اوستاسو دپاره دی	هغه څه	چې کړی دی تاسو	
هغوئ ته به دخپل عمل بدله ورکولې شی	اوتاسوته به ستاسودکارونو بدله درکولې شی					

---

۱) صحيح بخاری ، كتاب احاديث الانبياء ، باب رقم: ۳۳٦٦/۱۰، صحيح مسلم : ۵۲۰، نسائی : ٦۸۱، ابن ماجه: ۷۵۳)-

۲) صحيح بخاری كتاب القدر باب رقم :آ،ح/ ، ٦۵۹٤ ، صحيح مسلم : ۲٦٤۳)-

۳) صحيح بخاری ، كتاب الجهاد، باب لا يقال فلان شهيد ، ۲۸۹۸، صحيح مسلم، ۱۱۲)-

Scanned with CamScanner

وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝
اونۀ به کیږی تپوس ستاسو نه | دهغه څه | چې کول به هغوئ
اوتاسونه به دهغوئ دعملونوپحقله هیڅ تپوس نه کیږی |

دتوحید الوهیت ثبوت:- دعربو مشرکان چه د حضرت اسماعیل ﷺ اولاد وو ، او کفار بنی اسرائیل چه د حضرت یعقوب ﷺ اولاد وو هغوئ (دواړو باندې) دلیل راوړی او الله ﷻ فرمائی چه حضرت یعقوب ﷺ خو اولاد ته په خپل آخری وخت هم دالله ﷻ وحده لاشریك له دعبادت وصیت کړې وو. دوی نه نې مخکښې تپوس اوکړو چه تاسوبه د چا عبادت کوئی ؟ تولو جواب ورکړو چه ستا او ستا د (اله) او د بزرګانو حق د معبود.

حضرت یعقوب ﷺ د حضرت اسحاق ﷺ خوئې وو او حضرت اسحاق د حضرت ابراهیم ﷺ خوئې وو، د حضرت اسماعیل ﷺ نوم دپلار نیکه په ذکر کښې دتغلیب په طور راغلې دې. ځکه دوی د حضرت یعقوب ﷺ تره دې اوادې هم ښکاره وی چه عربو کښې تره ته هم پلار وائی. (۱)

د ایت نه یو استدلال:- په دې آیت باندې استدلال کولې شی چې تره هم د پلار په زمره کښې ذکر دې نودنیکه په موجودګئ کښې به رور خور د وراثت نه محروم وی.د حضرت صدیق اکبر ﷺ فیصله هم داده لکه څنګه چه په صحیح بخاری کښې موجوددی. (۲)د ام المومنین حضرت عائشه ﷺ مذهب هم دادی. حضرت حسن بصری ﷺ ، حضرت عطاء ﷺ او حضرت طاؤس ﷺ هم دا وائی. د امام ابوحنیفه ﷺ او ډیر و سلفو او خلفو هم دا مذهب دې. امام مالك ﷺ ، امام شافعی ﷺ او یو مشهور روایت کښې امام احمد ﷺ نه هم منقول دی چه دوئ رونړو خویندوته هم وارث وئیلې شی. حضرت عمر فاروق ﷺ ، حضرت عثمان ﷺ ، حضرت علی ﷺ ، حضرت ابن مسعود ﷺ ، حضرت زید ﷺ او سلفو خلفو هم دا مذهب دې. قاضی ابویوسف ﷺ ، اودمحمد بن حسن عنهم دا مذهب دې. اودا دواړه د امام ابوحنیفه شاګردان دی.ددې مسئلې د صفایې دامقام نه دې. اونه دتفسیرموضوع ده.

دنیکی په موجودګئ کښې د نمسی حصه

مسلک حنفی:- دنیکه په موجودګئ کښې درونړو او خویندو حصه نشته لکه څنګه چه په سراجی کښې دی (وبنوالاعیان والعلات کلهم یسقطون بالابن وابن الابن وان سفل وبالاب بالاتفاق وبالجد عندابی حنیفه الصفحة ۱۱ وقال فی بحث اولاد الام... ویسقطون بالولد وولد الابن وبالاب والجد بالاتفاق الصفحة ۷ وقال فی باب مقاسمة الجد قال ابوبکر الصدیق رضی الله عنه ومن تابعه من الصحابة رضی الله بنوالاعیان وبنوالعلات لایرثون مع الجد وهذا قول ابی حنیفة رحمه الله وبه یفتی الصفحة ۲۹)سراجی)-

قوله تعالی:- قَالُوْا نَعْبُدُ اِلٰهَكَ الخ

بچی دالله د الوهیت اقرار کوی:- دې تولو بچو اقرار اوکړو چه مونږ به دیو معبود عبادت کوؤ یعنی دالله ﷻ اودهغه ذات په الوهیت کښې به څوك نه شریک کوؤ. اومونږ به دهغه پاك ذات اطاعت کوؤ، فرمانبرداری به کوؤ ، خشوع اوخضوع کښې به مشغول اوسو. او په بل ځائې کښې دی چه ﴿ لَهٗۤ اَسْلَمَ الخ ﴾ دزمکې اوآسمان هر څیز خوشحالئ او زور سره د هغه پاك ذات تابع دی هغه طرفته به تاسو واپس کیږئی.دتولونبیانو دین هم دا اسلام وو.اګر چه په احکامو کښې جدائی شته دې لکه فرمائی چه ﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْۤ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ۝﴾ (ستا نه چه مخکښې څومره رسولان مونږ لیږلی ووتولوطرفته مووحی کړې وه چه خما نه سوابل څوك دعبادت لائق نشته دې تاسوتول خما عبادت

---

۱) القرطبی:۲/۱۳۸)-

۲ (صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء قول الله تعالی (واذکر فی الکتاب مریم) ۳۴۴۳،صحیح مسلم: ۲۳۶۵)-

Scanned with CamSc

کونی).او نوردا مضمون په نورو ډیرو ایاتونوکښې دی. اوپه احادیثو کښې هم دامضمون په کثرت سره وارد شوې دي.نبي کریم ﷺ فرمائی چه مونږعلاتی رونړه یو ، زمونږ یودین دي (۱).

قوله تعالی:- تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ

هرچاته به د خپل بدله ملاویږی:- بیا فرمائی چه دا یو امت وو چه تیر شو ستاسو دپاره خپل عملونه دی او دو ی دپاره خپل عملونه دی. هغوی چه څه اوکړل هغوی ته به د هغې جزاء ملاویږی او ستاسو چې څه کوئ تاسو ته به د هغې بدله ملاویږی .ستاسونه به دهغوی دکارونو تپوس نه کیږی . په حدیث مبارک کښې دی چه څوک چې په عمل کښې کمزورې وی نو دهغه نسب به هغه په عمل کښې تیز نکړی (۲)

وَقَالُوا	كُونُوا	هُودًا	أَوْ نَصَارَىٰ	تَهْتَدُوا ۗ	قُلْ	بَلْ
اووائی(یهودیان)	چې شئ	یهودیان اياعیسایان انو صحیح لاربه بیا مومئ	ورته اووایه	نا بلکه		
اویهودیان اوعیسایان وائی چې شئ یهودیان یانصاری نوسمه لار به بیامومئ	ورته اووایه چې(نه)بلکه					
مِلَّةَ	إِبْرَاهِيمَ	حَنِيفًا ۖ	وَمَا كَانَ	مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾		
طریقه	دابرهیم	یو مخیزی	اونۀ ووهغه	دمشرکانونه		
مونږدابراهیم په ملت قائم یوچې (ټول عمر)دباطل نه روګردان اودحق پیروکار ووواودمشرکانوملګری نه وو						

داهل کتاب تردید:- عبدالله بن صوریا اعور نبی کریم ﷺ ته وئیلی وو چه په هدایت خو مونږ یو که ته زمونږ منې نوتاسوته به هم هدایت درکړو.نصرانیانو هم دا وئیلی وو،په دې باندې دا آیت نازل شو چه مونږ خود ابراهیم د دین حنیف تابع یو،اوهغه استقامت والا،اخلاص والا،حج والا،بیت الله طرفته مخ کولو والا،داستطاعت په وخت کښې دحج فرض پیژندلووالا،دالله ﷻ فرمانبرداری کولووالا،په ټولو رسولانو باندې ایمان راوړلو والا،د لا اله الا الله شهادت کولو والا،مور،ترور،اودپلار خور لره حرام کولو والا،اوټولوحرامو کارونوونه بچ کیدو والا وو.دټولې معنې دحنیف مختلفو حضراتوبیان کړی دی.

قُولُوا	آمَنَّا	بِاللَّهِ	وَمَا
اووایئ اے مسلمانانو	چې ایمان راوړې دې مو	په الله	او په هغه هدایت باندې
تاسوورته ښئ په ډاګه اووائې	چې مونږ په الله ایمان راوړلی دی اوپه هغه کتاب		
أُنْزِلَ	إِلَيْنَا	وَمَا	أُنْزِلَ	إِلَىٰ إِبْرَاهِيمَ	وَإِسْمَاعِيلَ	وَإِسْحَاقَ
چې نازل شوې دي	مونږته	او په هغه	چې نازل شوې وو	ابراهیم ته	او اسماعیل	او اسحاق
کوم چې مونږ ته رالیږلې شوې دي	اوپه هغه کتابونو چې ابراهیم علیه السلام اسماعیل علیه السلام اواسحاق علیه السلام					
وَيَعْقُوبَ	وَالْأَسْبَاطِ	وَمَا	أُوتِيَ	مُوسَىٰ	وَعِيسَىٰ	وَمَا
او یعقوب	او اولاد(دیعقوب) ته	اوپه هغه	چې ورکړې شوې وو	موسی	او عیسی ته	او په هغه
اویعقوب ته اوددوئ نمسوته رالیږلې شوی دی	اوپه هغه کتابونو چې په موسی او عیسی نازل شوی اوپه هغه					
أُوتِيَ	النَّبِيُّونَ	مِنْ رَبِّهِمْ ۖ	لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ	أَحَدٍ مِنْهُمْ ۖ
چې ورکړې شوې وو	پیغمبرانوته	دطرفه درب خپل نه	نۀ کوومونږ فرق په مینځ	دیودهغوئ کښې
کتابونو چې نورپیغمبرانو ته دخپل رب دطرفه ورکړې شوی وو	مونږ ددوئ ترمینځ(په منلواونه منلو			

۱) صحیح مسلم : کتاب الذکر والدعاء ، باب فضل الاجتماع علی تلاوة ا لقرا ن الکریم: ۲۶۹۹)-

۲) ابن ابی حاتم :۳۹۷/۱)-

Scanned with CamScanner

وَنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ۝

اومونږ هغه لره | تابعداران یو |

کښې،هیڅ فرق نه کوؤ اوداالله حکمونوته موغاړه ایخوډې ده|

په ټولو پیغمبرانو ایمان راوړل:- الله ﷻ خپل ایماندارو بندګانو ته فرمائی چه څه په حضرت محمد ﷺ باندې نازل شوی دی په هغې باندې په تفصیل سره ایمان راوړئ،اوچه څه په مخکښې نبیانو باندې نازل شوی وو په هغې باندې هم اجمالی طور ایمان راوړئ. په هغه مخکښې نبیانو کښې ئې دبعضو نومونه هم واخستل او دباقی نبیانوئې مجمل ذکراوکړو. ورسره ئې اوفرمائیل چه دوی دې د هیڅ یونبی په مینځ کښې فرق نه کوی . چه یو منی او بل نه منی،چه کوم عادت دنورو وو چه هغوی به دنبیانو په مینځ کښې فرق کولو او څوک به ئې منل او څوک به ئې نه منل. یهودیان حضرت عیسی ﷺ لره،نصرانیان حضرت محمد ﷺ لره ، حجازی عرب حضرت موسی ﷺ لره،حضرت عیسی ﷺ لره او حضرت محمد ﷺ لره یعنی دریواړو لره نه منی. دې ټولو ته فتوی ملاؤ شوه چه ﴿ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ حَقًّا ﴾ (داخلق په یقین سره کافران دی). حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه اهل کتابو به تورات په عبرانئ (ژبه) کښې لوستلو. او ددې تفسیر به ئې په عربئ (ژبه) کښې کولو او اسلام والو ته به ئې وئیلو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه داهل کتابو منل یا تکذیب مه کوئی ، وائې چه په الله ﷻ باندې اودهغه په نازل کړې شوؤ کتابونوباندې زمونږ ایمان دې. (۱)

دسحرپه سنتوکښې قراءت:- نبی کریم ﷺ به دسحر په دوؤ سنتوکښې په رومبی رکعت کښې آیت ﴿ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ أُنْزِلَ إِلَيْنَا ﴾ پوره آیت اوپه دویم رکعت کښې به ئې دآل عمران آیت ﴿ آمَنَّا بِاللّٰهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُوْنَ ﴾ لوستلو.(۲)

داسباط تشریح : ①اسباط د حضرت یعقوب ﷺ څامنوته وائی ، چه دولس وو. چه ددوی په هر یو نسل کښې ډیر انسانان وو. بنی اسماعیل ته ئې قبائل وئیل. اوبنی اسرائیلو ته به ئې اسباط وئیل(۳)

② زمخشری رحمه الله په کشاف کښې لیکلی دی چه دا د یعقوب ﷺ نمسې وو چه دهغوی د دولسو څامنو اولاد وو.په بخاری شریف کښې دی چه د قبائل نه مراد بنی اسرائیل دی،په دوی کښې هم نبیان وو.چه په هغوی باندې وحی نازله شوې وه.لکه حضرت موسی ﷺ فرمائی ﴿ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنْبِيَاءَ ﴾ دالله ﷻ نعمتونولره یادکړئی چه هغه ذات په تاسوکښې نبیان راولیږل.اوپه بل مقام باندې فرمائی چه﴿ وَقَطَّعْنَٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ أَسْبَاطًا أُمَمًا ﴾ (مونږ ددوی دولس قبیلې جوړې کړې).

د "سبط" وائی تتابع ته ، دا هم یو بل پسې وو. بعضې وائی .دا ماخوذ دې د "سبط "نه ،سبط وانی ونې ته یعنی دوی په مثال دونې دی. چه ددې ښاخونه خواره شوی دی. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ټول نبیان علیهم السلام په بنی اسرائیلو کښې دی سوا دلسو نه. حضرت نوح ﷺ ، حضرت صالح ﷺ ،حضرت شعیب ﷺ ، حضرت ابراهیم ﷺ ، حضرت یعقوب ﷺ ، حضرت اسماعیل ﷺ ، حضرت هود ﷺ ، حضرت اسحاق ﷺ او حضرت محمد ﷺ ، سبط وائی هغه ډلې اوقبیلې ته چه د هغوی مورث اعلی پورته په سلسله نسب کښې یو وی. (۴)

---

۱) صحیح بخاری ، کتاب التفسیر ،سوررة البقرة ، باب قول الله (قولو امنا بالله) ٤٤٨٥)-

۲) صحیح مسلم کتاب الصلوة المسافرین ،باب استحباب رکعتی سنة الفجر: ۷۲۷)-

۳) ابن ابی حاتم : ۳۹۹/۱)-

۴) طبی : ٤١/٣ -

Scanned with CamSc

ایمان په ټولو خو عمل په قران:- مونږ ته په تو. ات اوانجیل باندې ایمان راوړل ضروری دی. لیکن عمل کول صرف په قران پاك باندې دی ، ابن ابی حاتم کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه تورات ، انجیل ، زبور باندې ایمان ساتئ لیکن عمل دپاره صرف قران پاك کافی دې.

فَاِنْ اٰمَنُوْا بِمِثْلِ مَآ اٰمَنْتُمْ
ا نوکه چری ایمان راوړوهغوئ په شان ا دهغې چې ایمان راوړې دې تاسو
ا که دوئ هم ستاسوپه شان په نورو کتابونو ایمان راوړو
بِهٖ فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا هُمْ فِيْ شِقَاقٍ ۚ
په هغې ا نوپه هدایت دی هغوئ ا اوکه چری ا مخ نې واړوو ا نوبې شکه هغوئ ا په ضد کښې پراته دی
نوسمه لار نې بیاموندە ا اوکه دې ته ئې شاکړه ا نو دوئ پخپلو اختلافونو کښې (بوخت) پراته دی
فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝
نو زړه چې کافی به شی تاله په مقابله دهغوئ کښې الله ا اوهغه ا هر څه اوریدونکې ا او په هرڅه پوهه دې
ائې پیغمبره ددوئ دشرنه دبچ کیدودپاره تاله الله کافی دې ا اوهغه ښه آوریدونکې اوډیرپوهه دې په (مونږ)
صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۚ وَّنَحْنُ لَهٗ
اووایه چې رنګ دالله ا او بل څوك زیات ښه دې ا دالله نه ا په لحاظ درنګ سره ا او مونږ ا هغه لره
دالله رنګ دې ا اود الله پاک نه د بل چا رنګ ښائسته کیدې شی ا اومونږ یوازې دهغه
عٰبِدُوْنَ ۝
عبادت کونکی یو ا
عبادت کوونکی یو ا

دنجات موندودپاره شرط:-یعنی ائې ایماندارو صحابه کرامو ﷺ اکه دا کفار هم ستاسو په شان ایمان راوړی یعنی په ټولو کتابونو باندې، اوټولو ر سولانو باندې نو حق او رشدوهدایت سره به نجات اومومی.اوکه دحجت دقائمیدو نه پس بیا هم دوی نه منع کیږی نویقینا دحق خلاف دی. الله ﷻ به تاسوته په دوی باندې غلبه درکړی. اوستاسو دپاره به کافی شی. هغه آوریدونکې او عالم دې.

دعثمان ﷺ د شهادت په وخت کښې تلاوت:- نافع ابن ابی نعیم وائی چه یو خلیفه ته د حضرت عثمان ﷺ دتلاوت والا قران پاك اولیږلې شو.زیاد چه دا واوریدل نو وې وئیل چه په خلقو کښې مشهور دې چه حضرت عثمان خلقو کله شهید کړو ، په هغه وخت کښې دا کلام دهغه په غیږ کښې وو او دهغوی وینه بالکل په دې لفظونوباندې وه چه ﴿ فَسَيَكْفِيْكَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝ ﴾ آیا دا صحیح دی؟حضرت نافع رحمه الله اووئیل بالکل صحیح دی. ماپخپله په دې آیت باندې د حضرت عثمان ﷺ وینه کتلې ده (۱)

د صبغة نحوی تحقیق:- درنګ نه مراد دین دې(۲)او ددې زبر په طورداغراء دې لکه فطرة الله کښې ، مطلب دادې چه د الله ﷻ دین لازم اونیسئ او په دین باندې ورپریوزئی. بعضې وائی چه دا بدل دې د ﴿مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ﴾ نه.چه ددې نه مخکښې موجود دې. سیبویه وائی د امصدر موکد دې.د ﴿اٰمَنَّا بِاللّٰهِ﴾ وجې

---

(۱) ابن ابی حاتم: ۱/۴۰۲،)-.

(۲) ابن ابی حاتم : ۱/۴۰۲)-

Scanned with CamSc

سره منصوب ده. لکه (وَعْدَاللّٰهِ حَقًّا) په یو مرفوع حدیث کښې دی چه بنی اسرائیلو اوونیل انې دالله ﷻ رسوله ﷺ ! آیا زمونږ رب هم رنګ کوی. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دالله ﷻ نه ویریږئ. آواز را غلو چه دوی ته اووایه چه ټول رنګونه خوزه پیدا کوم. هم دا مطلب ددې آیت هم دې. لیکن ددې روایت موقوف کیدل صحیح دی. اوداهم په هغه وخت کښې چه کله ددې اسناد صحیح وی.

قُلْ	اَتُحَآجُّوْنَنَا	فِى اللّٰهِ	
اووایه (دوئ ته)	چې ایا جګړې کوئ تاسو زمونږ سره	په باره دالله کښې	
ورته اووایه چې آیا تاسو مونږ سره دالله په حق کښې جګړې کوی			
وَهُوَ	رَبُّنَا	وَرَبُّكُمْ ۚ	وَلَنَآ	اَعْمَالُنَا	وَلَكُمْ
حال داچې هغه	رب زمونږ دې	اورب ستاسو هم دې	اومونږ لره دی	عملونه زمونږ	اوتاسو لره دی
حال دا چې هغه ستاسو اوزمونږ (په شریکه) پالونکې دې	اوزمونږ خپل عملونه دی اوستاسو				
اَعْمَالُكُمْ ۚ	وَنَحْنُ	لَهٗ	مُخْلِصُوْنَ ۝	اَمْ تَقُوْلُوْنَ	اِنَّ
عملونه ستاسو	اومونږ	هغه لره	خاص بندګی کونکی یو	ایاوایئ تاسو	چې بیشکه
خپل عملونه دی	اومونږ خالص دهغه عبادت کوو	آیاتاسو دا وائې چې			
اِبْرٰهٖمَ	وَاِسْمٰعِيْلَ	وَاِسْحٰقَ	وَيَعْقُوْبَ	وَالْاَسْبَاطَ	كَانُوْا	هُوْدًا	اَوْ نَصٰرٰى ؕ
ابراهیم	اواسماعیل	اوسحاق	او دیعقوب	اولاد	وو	یهودیان	یاعیسایان
ابراهیم ﷺ ، اسماعیل ﷺ اواسحاق ﷺ اویعقوب ﷺ اودهغوئ نمسی ټول یهودیان یا عیسایان وو							
قُلْ	ءَاَنْتُمْ	اَعْلَمُ	اَمِ اللّٰهُ ؕ	وَمَنْ	اَظْلَمُ	مِمَّنْ	كَتَمَ
ورته اووایه	ایا تاسو	ښه پوهیږئ	که الله	اوڅوك دې	زیات ظالم	دهغه چانه	چې پټه کړې نې وی
ورته اووایه چې تاسو ښه پوهیږئ اوکه الله		اودهغه چانه لوئې ظالم څوک کیدې شی چې پټ					
شَهَادَةً	عِنْدَهٗ	مِنَ اللّٰهِ ؕ	وَمَا اللّٰهُ	بِغَافِلٍ	عَمَّا
ګواهی	چې وه په ذمه دهغه	دطرفه دالله نه	او نه دې	الله	نا خبره
کړې نې وی شهادت	دالله	چې ورسره وی	اوالله ستاسو د عملونو نه ناخبره نه دې		
تَعْمَلُوْنَ ۝	تِلْكَ اُمَّةٌ	قَدْ خَلَتْ ۚ	لَهَا	مَا	كَسَبَتْ
چې تاسو نې کوئ	هغه څه خلق وو	چې تیرشو	دهغوئ دپاره وو	هغه څه	چې هغوئ کړې وو
(دکومو پیغمبرانو نومونه چه ذکرشول) دغه یوه ډله وه چې لاړه تیره شوه دهغوئ خپل عمل وو					
وَلَكُمْ	مَّا	كَسَبْتُمْ ۚ	وَلَا تُسْـَٔلُوْنَ	عَمَّا
او ستاسو دپاره دی	هغه څه	چې تاسو نې کوئ	اونه به کیږی ستاسو نه تپوس	دهغه عملونو
اوستاسو خپل عملونه دی	اوستاسو نه به د هغوی د عملونو په باره کښې هیڅ تپوس نشی کولې			

Scanned with CamScanner

كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۳۴﴾
چې وو هغوی | چې کول به ئې
بلکه د هغوی دپاره خپل اعمال دی او ستاسو دپاره ستاسو عملونه دی

حقیقی دین اسلام دی :- دمشرکانو جنګونه ختمولو دپاره الله ﷻ خپل نبی ته حکم فرمائی چه ته دوی ته اووایه مونږ سره دالله ﷻ توحید ، اخلاص،اطاعت وغیره باره کښې ولې جنګ کوئی؟ هغه پاك ذات خوصرف زمونږ نه بلکه ستاسو هم رب دی. مونږاوتاسو باندې قابض اومتصرف هم هغه یوازې دی ، زمونږ عملونه مونږ سره دی او ستاسو عملونه ستاسوسره .اومونږ ستاسو د شرك نه بیزاره یو. او په بل ځائې کښې ارشاد دی چه ﴿فَإِنْ كَذَّبُوكَ الخ﴾(که تا په دروغه ګڼړی نواووایه چه ځما دپاره ځما عمل دی او ستاسو دپاره ستاسوعمل دی. تاسو ځما دنیك کار نه او څه ستاسو د اعمالونه بیزاره یم. او په بل ځائې کښې ارشاد دی چه﴿فَإِنْ حَآجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ﴾ دوی تا سره جنګ کوی نو اووایه ما او ځما منلووالا خپل مخونه الله ﷻ طرفته کړل.

حضرت ابرا هیم ﷺ هم خپل قوم ته هم دا وئیلی وو ﴿أَتُحَآجُّونَنَا فِي اللهِ﴾ (تاسو دالله ﷻ په حق کښې ماسره جنګ کوئی. اوپه بل ځائې کښې ارشاد دی چه ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَآجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ﴾ (تا هغه هم اوکتلو چه ابراهیم ﷺ سره ئې دهغه در ب په حق کښې جنګ کولو) نو په دې ځائې کښې دې جګړه کونکو خلقو ته اووئیلې شو چې زمونږ عملونه ځمونږ دپاره اوستاسو عملونه ستاسو دپاره.مونږ ستاسو نه بیزاریو اوتاسو ځمونږ نه بیل .مونږ خو په عبادت اوتوجه کښې اخلاص او یکسوئی کولو والا خلق یو.

قوله تعالی:- مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا الخ

ابراهیم مسلمان وو:- بیا ددې خلقو د دعوې تردید کیږی چه حضرت ابراهیم ﷺ نه خو یهودی وو اونه نصرانی،تاسو ائې یهودو او ائې نصرانیانو ولې داخبرې جوړوئی ؟ آیا ستاسو علم دالله ﷻ نه زیات دې څه ؟ الله ﷻ خو صفا وائی چه ﴿مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾ (حضرت ابراهیم ﷺ خو نه یهودی وو اونه نصرانی اونه مشرك بلکه خالص مسلمان وو) دهغوی د الله ﷻ شهادت لره پتول ډیر لوئې ظلم کول دا وو چه دالله ﷻ کتاب کوم چه دوی سره وو ، په هغې کښې دوی اولوستل چه حقیقی دین اسلام دی، محمد ﷺ دالله ﷻ ریښتونې رسول دی . حضرت ابراهیم ﷺ، حضرت اسماعیل ﷺ او حضرت یعقوب ﷺ وغیره دیهودیت او نصرانیت نه بیل وو. لیکن دانې اونه منل او دومره نه بلکه داخبره ئې پټه کړه.

قوله تعالی:- وَمَا اللهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ﴿۱۴۰﴾

بیا فرمائی ستاسو اعمال دالله ﷻ نه پټ نه دی. دهغه محیط علم ټول څیزونه ګیر کړی دی. هغه به دهرې نیکئ او هرې بدئې پوره پوره بدله ورکوی.

قوله تعالی:- تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ

هرچا دپاره د هغه عمل دی:- دا ددې تنبیه ورکولو نه پس فرمائی دا پاکباز جماعت خو الله تعالی ته اورسیدو ، تاسو چه ترکومې پورې د دوی په نقش قدم باندې روان نه شئ ، صرف ددوی په اولاد کښې کیدل تاسوته دالله ﷻ سره هیڅ فائده او عزت نشی درکولې. ددوی په نیکو عملونو کښې ستاسو هیڅ حصه نشته دی.اوستاسو دبدو عملونو په دوی باندې هیڅ بوج نشته . چه څه کرئی هغه به ریبئ. تاسو چه ډیو نبی تکذیب اوکړو نو لکه چه دټولونبیانو تکذیب مو اوکړو. او ائې خلقو خاص کر چه تاسو د نبی آخرالزمان په زمانه کښې یئ. نو تاسو باندې ډیر وبال راغلو. تاسو دا نبی ﷺ په دروغه اوګنړلو چه سید الانبیاء دی. چه رسول رب العالمین دی. چه دهغه رسالت ټولو انسانانو او جناتو طرفته دی. چه دده درسالت هر یو منلو والا او هر سړی مکلف دی.دالله تعالی بیشمیره درود اوسلام دی وی په حضرت محمد ﷺ باندې ،اود نبی کریم ﷺ نه علاوه په ټولونبیانو باندې

الحمد لله دتفسیر ابن کثیر پښتو ترجمه اوله پاره ختمه شوه .

Scanned with CamSc

سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰىهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا

اوبه وانی | ناپوهان | دخلقو نه | چې څه څیز اوګرزول دوی | دقبلې خپلې نه | هغه قبله | چې وو دوی

ناپوهه خلق به ضرر وانی چې په دوی څه اوشو چې دهغې خپلې هغې قبلې نه اوګرزیدل چې تراوسه

عَلَيْهَا ؕ قُلْ لِّلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ ؕ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ

هغې طرفته | ورته اووایه | چې الله لره دي | مشرق | اومغرب | هدایت کوی | هغه چاته | چې خوښه ئې شی

پورې به ئې ورته مونږ وانه کول | ته ورته اووایه چې مشرق اومغرب ټول دالله دی | چې دچا په باره کښې ئې

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا لِّتَكُوْنُوْا

د لارې نیغې | اودارنګې | جوړکړئ مونږ تاسو | امت درمیانه | دپاره ددې چې شئ

خوښه شی نوهغه په سمه لار روان کړی | او په دې خبره موتاسو غوره ټولې اوګرولې | چې تاسوبه (دقیامت

شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ عَلَيْكُمْ شَهِيْدًا ؕ وَمَا جَعَلْنَا

تاسو ګواهان | په خلقو | اوچې شی | رسول په تاسو | ګواه | اونه وه ګرزولی مونږ

په ورځ، په نورو خلقو باندې ګواهان شئ | او پیغمبر په تاسو باندې ګواه شی | اومونږ هغه

الْقِبْلَةَ الَّتِيْ كُنْتَ عَلَيْهَآ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَّتَّبِعُ

قبله | هغه | چې وې ته | هغې ته | مګر | دپاره ددې چې معلوم کړومونږ | چې څوک | تابعداری کوی

قبله چې تابه ورته (په مکه کښې) مونږ کولو په دې غرض بیا مقرر کړه | چې ښکاره کړو چې څوک د پیغمبر تابعداری

الرَّسُوْلَ مِمَّنْ يَّنْقَلِبُ عَلٰى عَقِبَيْهِ ؕ وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا

د رسول | دهغه چانه | چې واپس ځی | په پوندو خپلو | او بیشکه | وو | دیر ګران | مګر

کوی او څوک په اړولو پوند بیرته (کفرته) ګرځی | اودا خبره (د قبلې بدلیدو) اګرچې ډیره ګرانه ده مګر

عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ ؕ اِنَّ

په هغه چاباند | چې هدایت کړې وو هغه ته الله | او نه دې الله | چې ضائع کوی | ایمان ستاسو | بیشکه

چې الله چاته هدایت اوکړی هغوی ته ګرانه نه ده | اوالله ستاسوایمان اوعمل هیڅرې نه ضائع کوی

اللّٰهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝

چې الله | په خلقو باند | ډیرمهربان | رحم کونکې دی |

هغه په خلقو باندې ډیر مهربان رحم کونکې دی |

قوله تعالی:- سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ

په دې بې وقوفانو کښې د عالمانو اقوال:- ①وئیلې شی چه ددې بې وقوفو خلقو نه دعربو مشرکان مراد دی.②بو قول دادې چه د یهودوعلماء تری مراد دی.② اوداهم وئیلې شوی دی چه منافقین تری مراد دی.

د قبلې بدلیدو حکم راتلل:- په صحیح بخاری کښې دحضرت براء ﷺ نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ شپاړس یا اوولس میاشتوپورې بیت المقدس طرفته مونږ اوکړو، خو پخپله د نبی کریم ﷺ دا خواهش وو چه د دوی قبله دې خانه کعبه وی.نو دحکم ملاویدونه پس نبی کریم ﷺ دې طرفته مخ کړو او

رومبې رکعت نې دمازیګر ادا کړو.چه کومو خلقو نبی کریم ﷺ سره مونځ ادا کړوپه هغوی کښې یو کس جماعت سره تیر شو هلته خلق په رکوع کښې وو.دې سړی اوونیل چه په الله ﷻ مې دې قسم وی چه ما نبی کریم ﷺ پسې مکې طرفته مونځ ادا کړو.په دې آوریدوسره هغه خلق هم په هغه حالت کښې کعبې طرفته واوړیدل.

قوله تعالی:-وَمَاكَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ

د تحویل قبلې نه وړاندې وفات شوو خلقو د مونځونوحکم:- او داسې خلق چه دقبلې د بدلیدونه مخکښې وفات شو او ډیر شهیدان شو.خلقو ته معلوم نه وو چه دهغوی د مونځونو باره کښې څه اووائی ؟ نوپه دې باره کښې دا آیت ﴿ وَمَاكَانَ ﴾ نازل شو.یعنی الله ﷻ به ستاسودخلقوایمان (مونځونه)ضائع نه کړی.

د ایت شان نزول:- په صحیح مسلم کښې دا روایت بل شان دې (۱)،یو ځل نبی کریم ﷺ بیت المقدس طرفته مونځ کولو،او اکثر به ئې آسمان طرفته ته کتل او دالله تعالی د حکم انتظار به ئې کولو.تر دې پورې چه دا آیت نازل شو.﴿ قَدْنَرٰى تَقَلُّبَ الخ ﴾ اوکعبة قبله مقرر شوه.په دې موقع په مسلمانانوکښې څه خلقو اوونیل چه کاش مونږ ته دهغه خلقو حال معلوم وی چه د قبلې د بدلیدو نه مخکښې وفات شوی دی.په دې باندې الله ﷻ دا آیت کریمه نازل کړو ﴿ وَمَاكَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ ﴾.(۲)

داهل کتابو په تحویل کعبه اعتراض :- په اهل کتابو کښې بعضې بې وقوفو په دې بدلون باندې اعتراض اوکړو.نوالله ﷻ آیت ﴿ سَيَقُوْلُ السُّفَهَآءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلّٰهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِيْ كَانُوْا عَلَيْهَا ﴾ نازل اوفرمانیلو کله چه نبی کریم ﷺ مدینې ته هجرت اوکړو نو دبیت المقدس قبله جوړولو حکم شوې وو.پدې باندې یهود ډیر خوشحاله شو.خو نبی کریم ﷺ قبله ابراهیمی خوښوله.نو کله چه دبدلون حکم راغلو نو یهودو د حسدپه وجه اعتراضونه اوکړل.په دې باندې الله ﷻ دا آیت نازل اوفرمانیلو چه مشرق او مغرب ټول دالله ﷻ دی الخ (۳)

خلاصه دکلام :- دې باره کښې نور ډیر احادیث روایت شوی دی.خلاصه د کلام دا شوه چه نبی کریم ﷺ به په مکه مکرمه کښې د دوۀ رکنونو ترمینځه بیت المقدس طرفته مونځ ادا کولو.کله چه دوی مدینې طرف ته هجرت اوکړو نو ددې دواړو جمع کول ناممکن شو.ځکه چه په مکه کښې به نبی کریم په داسې طریقه مونځ کولو چه خانه کعبه او بیت المقدس دواړه به ئې مخې ته راتلل اوچه کله مدینې منورې ته لاړلو نو هلته بیا دا صورت ممکن نه وو ځکه چه د مدینې نه به یا کعبې ته مخ کیدو او یا بیت المقدس ته دواړو ته په یو وخت کښې مخ کیدل ممکن نه وو، ددې وجې الله ﷻ بیت المقدس طرفته دموخ کولو حکم اوفرمانیلو.

نبی کریم ﷺ ته بیت المقدس ته د مخ کولو حکم په کومه ذریعه اوشو؟په دې باره کښې اختلاف دې چه نبی کریم ﷺ ته ددې خبرې حکم دقرآن پاك په ذریعه ورکړې شو یا څه په بله ذریعه.① بعضې وائی چه دا د نبی کریم ﷺ اجتهادی امر وو.او مدینې ته راتلو نه پس نبی کریم ﷺ په دې باندې عمل کولو.او دالله تعالی نه د تبدیلئ خواستګار وو.بالآخر دعا قبوله شوه او بیت المقدس طرفته ئې رومبې دمازیګر مونځ اداکړو.په بعضو روایتونوکښې دی چه هغه د ماسپخین مونځ وو.

په مسجد القبلیتین کښې د تحویل قبلې حکم راتلل:- حضرت ابوسعید ابن المعلی وئیلی دی چه ما او زما رور چه کوم مونځ کعبې طرفته مخ کولو سره ادا کړو هغه د ماسپخین مونځ وو.دبعضو مفسرینو

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب التفسیر سورة البقره باب : ۱۷ ح:٤٤٨٦،صحیح مسلم: ٥٢٥)-
(۲) ابن اسحاق بسنده)-
(۳) الطبری: ۱۳۸/۳)-

وغیره بیان دي چه نبی کریم ﷺ باندي چه کله دقبلي دبدلون ایت نازل شو نو په هغه وخت کښې نبی کریم ﷺ په مسجد بنوسلمه کښې دماسپخین مونځ کولو او دوه رکعته ئې ادا کړی وو.بیا باقی دوه رکعته نبی کریم ﷺ بیت الله شریف طرفته ته ادا کړل.هم په دي وجه ددي جماعت نوم مسجدالقبلتین یعنی د دوؤ قبلو والا جماعت دي.

د تحویل قبلې حکم په کوم مونځ کښې راغلې وو:- حضرت نویله بنت مسلم رضی الله عنها فرمائی چه مونږ دماسپخین په مونځ کښې وو چه مونږ ته خبر ملاؤ شو او مونږ په مونځ کښې واوړیدلو.سړی د ښځو په خائې شول او ښځې د سړو خائې ته راغلې وې.خو قبا والو ته په دویمه ورځ دا خبر اورسیدو.

په بخاری او مسلم کښې دحضرت عبدالله بن عمر نه روایت دي چه خلقو د سحر په وخت کښې په مسجد قبا کښې مونځ کولو.چه ناڅاپه یو کس راغلو او وې وئیل چه نبی کریم ﷺ باندې دشپې د قرآن پاك حکم نازل شو او کعبې طرفته دمونځ ادا کولو حکم ورته اوشو.نومونږ خلقوهم دشام طرف نه مخ واړولو او کعبې طرفته مو اوګرځولو([1]).

یواستدلال:- د دې حدیث نه هم معلومه شوه چه دناسخ حکم لازم کیدل په هغه وخت کښې وی چه کله ددې علم اوشی.اګر دا حکم مخکښې نازل شوې وو ځکه چه دې حضراتو ته د مازیګر او مابنام او ماسپخین د مونځ د دوباره ادا کولو حکم اونه شو.والله اعلم.

دخلقو اعتراضونه او د هغې جواب:- اوس باطل پرست کمزورې عقیدې والو خبرې شروع کړې چه دا څه وجه ده.کله دې ته قبله وائی او کله هغې ته.هغوی ته جواب ورکړې شو چه حکم او تصرف او امر دالله ﷻ دي.چه تاسو کوم طرفته مخ کړئی هغه طرفته هغه موجود دي.ښه والئ څه په دې کښې رانغلو بلکه اصلیت خو دایمان مضبوطیا ده.چه دهر حکم په منلو باندې مجبوره وی.او په دې کښې ګویا مومنانو ته ادب خودلې شوې دي.چه ددوی کار صرف د حکم منل دی.چه کوم طرفته دوی ته دمتوجه کیدلو حکم اوشی نو هغه طرفته به دوی متوجه کیږی.د اطاعت معنی دهغه لوئې ذات حکم منل دی. که په یو ورځ کښې سل خله مونږ ته د اوړیدو یا تاویدو حکم اوشی نو مونږ به خوشحالئ سره داسې کوؤ ،مونږ دهغه پاك ذات غلامان یو،مونږ دهغه ماتحت یو،دهغه فرمانبردار یو،اودهغه پاك ذات خادمان یو.چه کوم طرفته هغه مونږ ته حکم راکوی مونږ به هغه طرفته مخ اړوؤ.په امت محمدی ﷺ باندې هم دالله ﷻ دا کرم دې چه دوی ته د خلیل الرحمان قبلې طرفته د مخ کولو حکم ا وشو.چه هغه هم دهغه پاك ذات په نوم باندې جوړه شوې ده او کومې ته ټول فضیلتونه حاصل دی.

دیهودو د مسلمانانو سره د حسد وجه:- دمسند احمد په یو مرفوع حدیث کښې دی چه یهودیانو ز مونږ سره په دې خبره ډیر زیات حسد دي ①چه مونږ ته الله ﷻ د جمعې د ورځې توفیق راکړو او دوی ددې نه واوړیدل ②او په دې باندې چه ځمونږ قبله دا ده اوهغوی ددې نه ګمراه شو.③ او دوی ته غټ حسد ځمونږ په آمین وئیلو دي چه کوم امام پسې وئیلې کیږی.([2])

قوله تعالی:-لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ

دامت محمدی فضیلت:- بیائې اوفرمائیل چه تاسو لره دي ښکلې قبلې طرفته متوجه کول ددې وجې نه دی چه تاسو پخپله هم ښکلئ امت یئ او په نورو امتونو باندې د قیامت په ورځ ګواه هم ئې ځکه چه هغوی ټول ستاسو فضیلت منی.

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب الصلوة باب ماجاء فی القبلة...٤٠٣،صحیح مسلم: ٥٢٦،ترمذی: ٣٤١،نسائی: ٧٤٣)-

[2]) احمد: ١٣٥/١،)-

Scanned with CamSc

د وسط وضاحت:- د ﴿وَسَطًا﴾ معنی دلته بهتر او ښکلې ده لکه څنګه چه وئیلې کیږی چه قریش دنسب په اعتبار سره وسط عرب دی.او وئیلې شوی دی چه نبی کریم ﷺ په خپل قوم کښې وسط وو یعنی اشرف نسب والا وو.او صلوة وسطی یعنی افضل ترین مونځ چه دمازیګر دې لکه څنګه چه په صحیح حدیث سره ثابت دی.او په ټولو امتونوکښې دا امت افضل او اعلی دې خکه چه په شریعت کښې هم کامل دی او دوی ته لار هم بالکل صحیح ملاوٗ شوه او دین ورته هم ښه واضحه ملاوٗ شو.لکه څنګه چه فرمان دې چه﴿هُوَ اجْتَبٰىكُمْ الخ﴾ الله ﷻ تاسو منتخب کړئی اوستاسو په دین کښې هیڅ تنګی نشته دې.ستاسودپلاردحضرت ابراهیم ﷺ په دین باندې تاسو یئ اوهم هغه ستاسو نوم مسلمانان اینبودی دی. او ددې نه مخکښې هم او په دې کښې هم چه نبی کریم ﷺ په تاسوباندې ګواه وی.

د امت محمدی د ګواهئ کیفیت:-په مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه حضرت نوح ﷺ به دقیامت په ورځ رابللو شی اودهغوی نه به تپوس اوشی چه آیاتازما پیغام خلقوته رسولې وو . حضرت نوح ﷺ به اووائی چه آو انې الله ﷻ مارسولې وو.هغوی به صفا انکاراوکړی او وائی به چه مونږ ته هیڅوک ویرونکې نه وو راغلې.حضرت نوح ﷺ ته به اووئیلې شی چه ستا امت انکار کوی ته ګواه پیش کړه.حضرت نوح ﷺ به اووائی چه آو نبی کریم ﷺ امت زما ګواهان دی.هم دا مطلب ددې ﴿وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا﴾ دې.

د﴿وسط﴾ معنی عدل ده.اوس به تاسوراوبلی اوتاسوبه ګواهی ورکوئی(بخاری،ترمذی،نسائی ابن ماجه [1])

دقیامت په ورځ د امت محمدی ګواهی:- دمسند احمد په یو بل روایت کښې دی چه دقیامت په ورځ به نبیان علیهم السلام راشی او د هغوی سره به دهغوی دامت صرف دوه کسان وی اوددې نه زیات هم. د هغوی امت به راوبللې شی او هغوی ته به اووئیلې شی چه آیا دې نبی ﷺ تاسو ته تبلیغ کړې وو؟.هغوی به انکار کوی.نبی به نې راوغوښتلې شی او تپوس به ترې اوکړې شی چه تاسو دوی ته تبلیغ کړې وو،هغوی به اووائی چه آو.اوبه وئیلې شی چه ستا څوک ګواه شته دې،هغه به اووائی چه حضرت محمد ﷺ اود حضرت محمد ﷺ امت.نو حضرت محمد ﷺ او د حضرت محمد ﷺ امت به راوغوښتلې شی اود هغوی نه به دا سوال اوکړې شی چه آیا دې پیغمبر ﷺ تبیلغ کړې وو؟ دوی به اووائی چه آو.دوی ته به اووئیلې شی چه تاسو ته څنګه معلومه ده ؟.دوی به جواب ورکړی چه مونږ ته خمونږنبی ﷺ راغلو اوراته ئې ﷺ خبر راکړې وو.چه انبیاء علیهم السلام تاسو پیغام خپلوخپلو امتونو ته رسولې دې.هم دا مطلب دې دالله ﷻ د فرمان ﴿وَكَذٰلِكَ﴾.[2]

د امت محمدی ګواهی:-دمسنداحمد په یو بل روایت کښې د﴿وسط﴾ معنی ﴿عدل﴾ راغلې ده [3]،ابن مردویه اوابن ابی حاتم کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خه او زما امت به دقیامت په ورځ په اوچته غونډئی باندې یو.په ټول مخلوق کښې به ښکاره یو او ټول به راته ښکاری.په هغه ورځ به ټوله دنیا تمنا کوی چه کاش هغوی دې په خمونږ کښې وې.چه دکوم کوم نبی قوم هغه لره په دروغه ګنړلې وو مونږ به د الله ﷻ په لوئې دربار کښې ګواهی ورکوو چه دې ټولو نبیانو علیهم السلام د رسالت حق ادا کړې وو.

څه واجب شو:په مستدرک حاکم کښې یو حدیث دې چه دبنی سلمه د قبیلې دیوسړی په جنازه کښې مونږنبی کریم ﷺ سره وو.خلقو اووئیل چه دادیرنیک متقی اوپارسامسلمان وو.او نور نې هم ډیر

---

[1]) صحیح بخاری :کتاب التفسیر.سورة البقره باب : ۱۳،ح: ٤٤٨٧،والنظر: ۳۳۳۹،ترمذی: ۲۹٦۱،ابن ماجة: ٤۲۸٤)-

[2]) صحیح احمد: ۵۸/۳،ابن ماجة: کتاب الزهد باب صفة امة محمد ﷺ : ٤۲۸٤،صحیح بخاری: ۳۳۳۹ بلفظ آخر)-

[3]) احمد: ۹/۳،ترمذی: کتاب التفسیر باب ومن سورة البقره: ۲۹٦۱،وصحیح بخاری: ۷۳٤۹)-

Scanned with CamSc

تعریفونه اوکړل.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسو دا څنګه وائې ؟ دې سړی اووئیل چه یارسول الله ﷺ د پټ علم خو الله ﷻ ته دې لیکن په ظاهره ددې سړی دا حالت وو.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دده دپاره واجب شو.بیا دبنو حارثه دیو سړی په جنازه کښې مونږ وو.خلقو اووئیل چه یارسول الله ﷺ دادیر خراب سړې وو.دیر ژبه ور وو.اوبد اخلاقه وو.نبی کریم ﷺ چه ددې سړی خرابئ واوریدلې نو وې فرمائیل چه تاسو دا څنګه وائې ؟.دې سړی هم دا اووئیل.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واجب شو.محمد بن کعب رحمه الله چه دا حدیث واوریدو نو وې فرمائیل چه رسول الله ﷺ رښتونې دې.اوګورئی قرآن پاک هم فرمائی چه ﴿وَكَذَٰلِكَ الخ﴾ (۱).

د مرده د نیکئ ګواهی ورکولو نتیجه: په مسند احمد کښې ابوالاسودفرمائی چه څه مدینې منورې ته راغلم نودلته بیماری وه.خلق زیات مړه کیدل.څه حضرت عمر بن الخطاب ﷺ سره ناست ووم چه دې کښې یو جنازه راووتله.اوخلقو دمرحوم نیکئ شمیرل شروع کړل.دوی اووئیل چه دده دپاره واجب شو ،په دې کښې دوئمه جنازه راووتله خلقوددې سړی بدئی شمیرل شروع کړل.دوی اوفرمائیل چه دده دپاره واجب شو.ما اووئیل چه یاامیرالمومنین ﷺ څه واجب شو ؟.دوی اوفرمائیل چه ما هغه اووئیل چه څه نبی کریم ﷺ فرمائیلی ووچه د کوم مسلمان د نیکئ شهادت څلورو کسانو ورکړو نو الله ﷻ به دې جنت ته داخل کړی.مونږ اووئیل چه یارسول الله ﷺ که دریو سړی ورکړی؟.نونبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دریو هم.مونږ اووئیل چه دوه سړی وی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دوه هم.مونږ دیو باره کښې سوال اونکړو (۲).

ښه او بد پیژندل:- ابن مردویه کښې یو حدیث کښې دې چه نزدې ده چه تاسو به ښه اوبد لره اوپیژنئ. خلقو اووئیل چه یارسول الله څنګه ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په ښه تعریف او خراب شهادت سره، تاسو په زمکه باندې دالله ﷻ ګواه یئ (۳)

قوله تعالی:- وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ

د قبلې بدلون امتحان دپاره وو: بیا فرمائی چه رومبئ قبله صرف د امتحان په طور وه.یعنی مخکښې بیت المقدس قبله مقرر شوه او بیا کعبة الله طرف ته د مخ اړولو حکم صرف ددې وجې وو چه معلومه شی چه رښتونې او تابعدار څوک دې ؟ او چرته چه ته توجو اوکړې نو هلته توجو کولو والا څوک دی؟ او څوک دې چه شا کوی او مرتدکیږی.دا کار په حقیقت کښې دیر ګران دې لیکن چه په کومو زړونوکښې ایمان اویقین دې او چه کوم کسان د نبی کریم ﷺ رښتونې پیروکار دی چه کومو ته معلومه ده چه نبی کریم ﷺ څه فرمائی نودارښتیا دی.اوچه دکومو کسانو عقیده ده چه څه الله ﷻ غواړی نوهغه کوی، خپلو بندګانو ته چه څه غواړی نوهغه حکم ورکوی او چه څوک ختمول غواړی نو هغوی ختموی،او چه څوک باقی پاتې کول غواړی نو هغوی پاتې کوی،د هغه پاک ذات په هر یو کار کښې حکمت دې او په هغوی باندې دده حکم منل هم مشکل نه دی.

اودا خوده چه بیمارو زړونووالو ته چه کوم حکم راغلو نو ددوی سره یو نوې درد پیدا شو.په قرآن پاک کښې یو بل خائې کښې دې چه ﴿وَإِذَا مَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ﴾ کله چه څه سورت نازلیږی نو ددې باره کښې بعضې تپوس کوی چه دې سره دچا ایمان زیات شو؟.اوبل خائې کښې دی چه﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ فِي آذَانِهِمْ وَقْرٌ وَهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى﴾یعنی دایمان والو دپاره دا هدایت اوشفاء ده او بې ایمانه خلقو د

---

۱) حاکم: ۲۲۸/۲،-

۲) صحیح بخاری : کتاب الجنائز باب ثناء الناس علی المیت: ۱۳۶۸،ترمذی: ۱۰۵۹،نسائی: ۱۹۳۶،احمد: ۴۵۲۱)-

۳) ابن ماجة کتاب الزهد باب الثناء الحسن: ۴۲۲۱،وسنده حسن وصححه ابن حبان : ۲۰۵۹،والحاکم: ۱۲۰/۱،والذهبی)-

Scanned with CamSc

غوږونودپاره بوج دي او د سترګو پټوالي دي.او په بل ځائي کښې فرمائی چه ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا﴾ يعنی څمونږ نازل شوي قران پاك د مومنانو دپاره سراسر شفاء او رحمت دي.اود ظالمان په تاوان کښې زياتوی.

د صحابه کرامو کامیابی:- په دې واقعه کښې ټول بزرګان صحابه کرام ثابت قدم وو،اول سبقت کوونکی مهاجر ين اوانصار دواړو قبلو طرفته مونځ کوونکی وو.په پورته حديث کښې بيان شو چه هغوی څنګه مونځ کولواوددي خبرآوريدوسره واوړيدل.(۱)په صحيح مسلم کښې روايت دي چه درکوع په حالت کښې وو،پدي کښې کعبې طرفته ته واوړيدل.چه ددې نه ددوی کمال اطاعت او اعلی درجه تابعداری ثابته شوه.

قوله تعالی:-وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ ؕ

الله بيت المقدس ته شوی مونځونه نه ضائع کوی:- بياارشاد دي چه الله ﷻ به ستاسو ايمان ضائع نه کړی.يعنی تاسو چه کوم مونځونه بيت المقدس طرفته کړی دی هغه به نه ضائع کيږی.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د دوی اعلی ايمانداری ثابت شوه.دوی ته به دواړو قبلو طرفته د مونځ کولو ثواب ملاويږی.دا مطلب هم بيان شوي دي چه الله ﷻ به د نبی کريم ﷺ اود دوی ﷺ د ملګرو اوړيدل ضائع نه کړی،

دالله د مهربانئ مثال:-بيا ارشاد دي چه الله ﷻ روؤف رحيم دي (۲).په صحيح حديث کښې دی چه نبی کريم ﷺ يو قيدی ښځه اوليده چه ددې نه ددې بچې ورک شوي وو.اوهغې خپل بچې دليونو په شان تلاش کولو.او ترکومې پورې چه ورته هغه ملاؤ شوي نه وو نو په قيدکښې چې به دې کوم بچې ليدو هغه به ئې راغاړې ويستلو.تر دې پورې چه ددې بچې پيدا شو.په خوشحالئ خوشحالئ دې اوچت کړو او سينې سره ئې اولګولو.اوده ته ئې پئ ورکړل.په دې کتلو سره نبی کريم ﷺ صحابه کرام ته اوفرمائيل چه اووائي چه آيا دا به دا بچې اور ته واچوی.خلقو اووئيل چه يارسول الله ﷺ بالکل نه.نبی کريم ﷺ اوفرمائيل په الله ﷻ قسم چه څومره دا مور په بچی باندې مهربانه ده ددې نه زيات الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې روؤف و رحيم دي.

قَدْ	نَرٰى	تَقَلُّبَ وَجْهِكَ				
په تحقيق سره	وينومونږ	بار بار ګرزولومخ ستا				
مونږ وينوچې ته (د وحی د راتلو په انتظار) بيا بيا آسمان						
فِي السَّمَآءِ ۚ	فَلَنُوَلِّيَنَّكَ	قِبْلَةً	تَرْضٰىهَا ۖ	فَوَلِّ		
طرف د آسمان ته	نو خامخا به مونږ اوګرزوو تا	هغې قبلې ته	چې ته خوښوي هغه	نواوګرزوه		
طرف ته ګوري	(مونږ ستاخواهش پوره کوؤ)هغې قبلې ته دې ګرزؤ چې کومه ستاخوښه ده			نو خپل مخ		
وَجْهَكَ	شَطْرَ	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ	وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ	فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ		
مخ خپل	طرف	د مسجد حرام ته	اوس چې په کوم ځائي کښې يئ تاسو	نوګرزوئ مخونه خپل		
مسجد حرام(کعبې)طرفته اوګرځوه		او (ددې نه پس) هرځائي کښې چې يئ نومسجد حرام ته مخ کوئ				

(۱) صحيح مسلم كتاب المساجد: باب تحويل القبلة: ۵۲۷)-

(۲) صحيح بخاری : كتاب الادب باب رحمة الولد: وتقبيله ومعانقته : ۵۹۹۹،صحيح مسلم: ۲۷۵٤)-

Scanned with CamSc

شَطْرَهٗ ؕ	وَاِنَّ الَّذِيْنَ	اُوْتُوا الْكِتٰبَ	لَيَعْلَمُوْنَ	اَنَّهُ
طرف دهغې نه| او بیشکه| هغه کسان| چې ورکړې شوې دي ورته کتاب| خامخا پوهیږي	چې داحکم			
اودا خلق چې دوئ ته کتاب ورکړې شوې دي	په دې ډیر پوهیږي چې (دقبلې بدلولو) دا حکم			
الْحَقُّ	مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ	وَمَا اللّٰهُ	بِغَافِلٍ	عَمَّا	يَعْمَلُوْنَ ۝
حق دي| دطرفه درب دهغوئ نه| اونۀ دي| الله	ناخبره| دهغه کارونونه| چې هغوئ ئې کوي|		
دالله دطرفنه بالکل حق دي	اوکوم (دفساد) کارونه چې دوئ کوي الله دهغې نه غافل نه دي			

قوله تعالى:- قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ

ابراهیمی قبله د رسول الله ﷺ خوښه وه :: دحضرت ابن عباس ؓ بیان دي چه په قرآن پاك كښې دټولو نه اوله نسخه حكم دقبلې دي.نبی اكرم ﷺ مدينې منورې طرفته هجرت اوكړو اوددې خائې اوسيدونكی يهوديان وو.الله ﷻ نبی اكرم ﷺ ته بيت المقدس طرفته د مونځ كولو حكم اوكړو.يهوديان په دې ډير خوشحاله شو.نبی اكرم ﷺ ډيرې مياشتې دې طرفته مونځ كولو.خو پخپله د نبی اكرم ﷺ خوښه قبله ابراهيمی وه.نبی اكرم ﷺ به د الله ﷻ نه دعا كوله او نظرونه به ئې آسمان طرفته اوچتول.بالاخر آيت ﴿قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ نه تر وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ﴾ نازل شو.په دې باندې يهوديانو اووئيل چه ددې قبلې نه ولې واوړيدو ؟ نو ددې په جواب كښې اووئيلې شو چه مشرق او مغرب دالله ﷻ دی او وې فرمائيل چه كوم طرفته ستاسومخ وی نوهغه طرفته ته دالله ﷻ مخ (ذات) دې اووې فرمائيل چه رومبئ قبله د امتحان په طوروه(۱)اوپه يو بل روايت كښې دی چه نبی اكرم ﷺ دمونځ نه پس به ئې خپل سرمبارك اسمان طرف ته اوچت كړونو پدې باندې داآيت نازل شواوحكم اوشوچه مسجدحرام طرفته ته كعبه كښې ميزاب طرفته ته مخ كړه.جبريل ؑ امامت اوكړو.عبدالله بن عمر ؓ مسجد حرام كښې د ميزاب مخكښې ناست وو اوداآيت مبارك ئې تلاوت اوفرمائيل چه ميزاب كعبه طرفته دمخ كولو حكم دې(۲)

د قبلې په حد كښې د امامانو مذاهب:- د امام شافعی ؒ هم يوقول دې چه عين كعبې طرفته ته توجه كول مقصود دی.او دويم قول د دوی دا دې چه مخ كعبې طرفته كول كافی دی.او هم دا مذهب داكثرو ائمه كرامودې.حضرت علی ؓ فرمائی چه مراد دې طرفته مخ كول دی د ابوالعاليه ؒ،مجاهد ؒ، عكرمه ؒ،سعيد بن جبير ؒ،قتاده ؒ،ربيع بن انس ؒ وغيره هم دا قول دې (۳)،يو حديث كښې دا هم دی چه د مشرق اومغرب په مينځ كښې قبله ده.(۴) په ابن جريج كښې حديث دې چه نبی اكرم ﷺ فرمائی بيت الله قبله ده.دمسجد حرام والو او مسجد قبله ده اهل حرم والو لره او حرم قبله ده تولې زمكې والو دپاره كه هغوی په مشرق كښې وی اوكه هغوی په مغرب كښې وی د ټولو امتونو هم دا قبله ده.(۵)

د قبلې حدود كوم دی؟

مسلك حنفی: قبلې ته مخ كول هم دمونځ په شرطونو كښې يوشرط دي.دليل دالله ﷻ ارشاد دې ﴿فَوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ شَطْرَهٗ ؕ﴾ وجه د استدلال داده.چه الله ﷻ فرمائيلی دی.﴿فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ۪﴾ مونږ به تا ،ستا خوښې

---

۱) ابن ابی حاتم: ۱۰۳/۱)-.
۲) حاكم: ۲۶۹/۲)-.
۳) ابن ابی حاتم : ۱ / ۱۰۸)-
۴) ترمذی : كتاب الصلوة : باب ماجاء ان بين المشرق والمغرب قبلة: ۳۴۴،وهو صحيح ابن ماجة: ۱۰۱۱،نسائی: ۲۲۴۵)-
۵) قرطبی: ۱۵۹/۲،البيهقی: ۹/۲)-

قبلې طرف ته واړوو.او بیا نې مسجد حرام ته د مخ اړولو حکم اوکړلو.
بیا دمانځه دوه صورتونه دی.یا خو به دا په مکه مکرمه کښې ادا کوی.اویا به د مکې نه بهر په بل ځاني کښې ادا کوی.نو په اول صورت کښې عین کعبې ته مخ کول ضروری دی.ځکه چه نبی ﷺ به په مسجد حرام کښې مونځ کولو.نو عین کعبې ته به نې مخ کولو.اوهم دا معمول د صحابه کرامو ﷺ او تابعینو ﷺ هم پاتې شوې دے.لکه چه په دے باندې اجماع ده.او په دویم صورت کښې قبلې طرف ته مخ کول فرض دی.
دلیل نې دا دی.چه نبی ﷺ او مسلمانان په مدینه منوره کښے وو.نو الله ﷻ هغوی ته مسجد حرام طرف ته د مخ کولو حکم کړې وو.کعبې طرف ته دمخ کولوحکم نې نه وو کړې.نومعلومه شوه.چه کوم سړې د مکې نه بهر وی.دهغه دپاره عین کعبې ته مخ کول فرض نه دی.ځکه چه الله ﷻ بندګان د هغوی د طاقت مطابق مکلف کوی.د الله ﷻ ارشاد دے﴿لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾ (تسهيل الهدايه (۱۱/۳۸۰)-
په ابونعیم کښې دبراء نه روایت دې چه نبی اکرم ﷺ شپاړس اوولس میاشتې بیت المقدس طرفته مونځ اوکړوخو نبی اکرم ﷺ ته خوښ دا امر ووچې بیت الله شریف ته مونځ اوکړی.نو دالله ﷻ په حکم نبی اکرم ﷺ بیت الله شریف ته متوجه شو او د مازیګر مونځ نې ادا کړو.بیا په مونځګذارو کښې یو سړې مسجد والو ته ورغلو اوهغوی په رکوع کښې وو،او وې وئیل چه زه حلفیه ګواهی کوم چه ما نبی اکرم ﷺ سره مکې طرفته مونځ اوکړو.په دې آوریدو سره هغوی چه هغوی په کوم حالت کښې وو هم په هغه حالت کښې بیت الله شریف طرفته اوګرزیدل.(۱) عبدالرزاق کښې هم دا روایت څه قدر کمی زیاتی سره مروی دی.(۲)
نسائی کښې دحضرت ابوسعید معلی نه روایت دې چه مونږ د صبا په وخت کښې مسجد نبوی ﷺ ته د نبی اکرم ﷺ په زمانه کښې تلو.او هلته ته به مو څه نفلونه ګول.یو ورځ مونږ لاړو نو اومو کتل چه نبی اکرم ﷺ په منبر باندې ناست دی.ما اووئیل چه نن څه نوې خبره ضرور شوې ده.څه کښناستم نو نبی اکرم ﷺ دا آیت مبارك اولوستلوچه﴿قَدْ نَرَىٰ تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ ۖ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا ۚ﴾.ما خپل ملګری ته اووئیل چه رازه چه د نبی کریم ﷺ د فارغیدو نه پس ددې نوی حکم تعمیل اوکړو.او اول فرمانبردار جوړشو.نومونږ یو طرفته لاړو.اودټولو نه مو مخکښې بیت الله شریف طرفته مونځ ادا کړو.بیا نبی اکرم ﷺ هم دمنبر نه راکوز شول او دې قبلې طرفته نې اول مونځ دماسپخین ادا کړو.(۳)
رومبې مونځ بیت الله طرف ته ادا ګول:- په ابن مردویه کښې د ابن عمر ﷺ نه روایت دې چه رومبې مونځ چه کوم نبی اکرم ﷺ کعبې مبارکې طرفته اداکړو هغه دماسپخین مونځ وو.او هم دا مونځ صلوة وسطی دې.لیکن مشهور دی چه رومبې مونځ نې کعبې طرفته د مازیګر ادا کړې وو او هم په دې وجه قبا والو ته په دویمه ورځ اطلاع اورسیده.
په ابن مردویه کښې په روایت د نویله بنت مسلم ﷺ موجود دی چه مونږ په مسجد بنوحارثه کښې بیت المقدس طرف ته دماسپخین یا مازیګر مونځ کولو او دوه رکعته مو ادا کړی ووچه په دې کښې څوک راغلل او دقبلې دبدلون خبر نې راکړو.نو مونږ په مونځ کښې بیت الله شریف طرفته شو.اوباقی مونځ مودې طرفته ادا کړو.په دې مخ اړولوکښې سړی د ښځو او ښځې د سړوپه ځاني کښې شوې.نبی اکرم ﷺ ته چه دا خبر اورسیدو نو خوشحاله شو او وې فرمائیل چه دوی ایمان بالغیب والا دی.(۴)

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر.سورة البقرة باب: ۱۲،ح: ٤٤٨٦)-
(۲) عبدالرزاق فی التفسیر: ۱۱۲،صحیح بخاری: ۳۹۹)-
(۳) السنن الکبری للنسائی: ۱۱۰۰٤،مجمع الزوائد : ۱۲/۲)-
(۴) طبرانی: ۵۳۰/۲۴)-

Scanned with CamScanner

د رکوع په حالت کښې د قبلې بدلیدو خبر ملاویدل:-په ابن مردویه کښې دعماره بن اوس ﷺ نه روایت دې چه درکوع په حالت کښې مونږ ته اطلاع ملاؤ شوه اومونږ ټول ښځې سړی اوبچی هم په دې حالت کښې قبلې طرفته واوړیدل.(۱)

قوله تعالی:-وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ

دمسافر،او دمیدان جنګ دسپاهی مونځ:- بیا ارشاد کیږی چه تاسو په کوم ځائې کښې هم یئ په مشرق یا مغرب کښې نو مخ قبلې طرفته کوئی.البته په سفر کښې په سورلئ باندې نفل کولو والا چه کوم طرفته مخ کوی نو هغه طرفته دې نفل اداکړی.دده دزړه توجه دې کعبې طرفته وی.همدارنګه په میدان جنګ کښې د مونځ کولووالا چه ځنګه او کوم طرفته وی مونځ دې ادا کړی او داشان هغه سړې چه هغه ته د قبلې معلومات نه وی نوهغه دې په اندازې سره چه کوم طرفته د هغه غالب ګمان وی نومونځ دې اداکړی بیاکه دې خلقوقبلې طرفته مونځ نه وی کړې نوهم ددې خلقو مونځ اداشو.اوداللہ ﷻ په نیزدا معاف دې.

د ویریدونکی دپاره د استقبال حکم

مسلک حنفی:- مسئله دا ده.که یوکس د ویرے د وجې قبلې ته په مخ کولو قادر نه وی.نو کوم طرف ته چه قادر وی.هغه طرف ته دے مخ کوی.ویره که مالی وی یا جانی وی.که د دشمن وی اوکه د ځناور وی.اوکه د ډاکو وی.مثلاً چه یو کس سره دا ویره وی.که زه اوخوزیدم.او قبلې ته مے مخ کړلو.نو دشمن ته به پته اولګی.نو دهغه دپاره په ناسته یا په ملاسته چه ځنګه ممکنه وی.هغې طرف ته مخ کول جائزدی.مونځ دے اوکړی.

دغه شان دا حکم د هغه بیمارهم دې.چه قبلې طرف ته په اوړیدو باندې قادر نه وی.او داسې ځوک هم نه وی.چه دے قبلې ته واړوی.دغه شان که یو کس په کشتئ کښې ناست وی.اوکشتئ ماته شوه.اوهغه په یوه تخته پاتې شو.اوهغه سره ویره وی.که قبلې ته مخ کوی.نو ډوبیږی.نوددې دپاره جائز دی.چه کوم طرف ته ممکن وی.هغه طرف ته دے مونځ کوی.

دغه شان که په یوکس باندې د قبلې طرف مشتبه شی.او ورسره داسې ځوک هم نه وی.چه هغه د قبلې دجهت نه خبر وی.اودهغه نه تپوس اوکړی.نوددے سړی دپاره تحری (اجتهاد) کول پکار(واجب) دی.نوچه کوم طرف ته ئې غالب ګمان راغلو.هغه طرف ته دے مونځ اوکړی.

که یو کس د قبلې خودونکې موجود وی.نودهغه نه دے تپوس اوکړی.په دے صورت کښې به تحری جائز نه وی.

اول خو دا ضروری ده.چه د چانه تپوس اوکړی.اودا تپوس کول ځکه ضروری دی.) چه تپوس کول د تحری نه قوی دی.نو چه ترکومے پورې تپوس کول ممکن وی.ترهغه وخته پورې تحری کول ناجائز ده.او که خبرورکونکې ځوک موجود نه وی.اوتپوس کول د تحری نه اوچت دی.نو تر څو پورې چه تپوس کول ممکن وی.نوترهغه وخته پورې تحری کول جائزنه ده.

که یوکس باندې د قبلې اشتباه راغلے وه.او هغه د قبلې د طرف معلومولو دپاره تحری اوکړه.اومونځ ئې اوکړلو.د مانځه نه پس ورته معلومه شوه.چه د قبلې طرف ترے خطا شوې وو.یعنی د قبلې نه علاوه بل طرف ته ئې مونځ کړې وو.(تسهیل الهدایه ۱۱/۳۸۲).

دمونځ په حالت کښې دې نظر چرته لری ؟ مالکیانو ددې آیت نه استدلال کړې دې چه مونځګذار دې په حالت د مونځ کښې خپل نظرونه خپلې مخې ته ساتی د سجدې په ځائې نه لکه ځنګه چه د حضرت

---

(۱) مسند ابی یعلی : ۱۵۰۹،مجمع الزوائد: ۱۳/۲،).

Scanned with CamSc

امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ اوحضرت امام احمد رحمۃ اللہ علیہ اودحضرت امام ابوحنیفیه رحمة ا لله علیه مذهب دي،خکه چه دآیت لفظونه دادی چه مخ مسجد حرام طرفته کوئی،اوچې د سجدې په خانې نظرونه ساتل غواړنی نو په دې کښې لږ شان تیتپیدل دی اوداتکلف د کمال خشوع خلاف دي.دبعض مالکیانو دا قول هم دې چه دقیام په حالت کښې دې خپلې سینې طرفته ته نظرونه ساتی.

قاضی شریح وائی چه د قیام په وخت کښې دې سجدې په خائې نظرونه ساتی.لکه څنګه چه د جمهورو علماء کرامو قول دي،خکه چه دا پوره پوره خشوع اوخضوع ده،او یو حدیث مبارك کښې هم دا مضمون راغلې دي.او د رکوع په حالت کښې دې د خپلو قدمونو په خائې خپل نظرساتی،اود سجدې په حالت کښې دې پوزې ته نظر ساتی او دالتحیات په حالت کښې دې خپلې غیږې طرفته.

په مانځه کښې د نظرساتلو مقام

مسلک حنفی:- د قیام په حالت کښے د سجدے خائے ته کتل ددے دپاره مستحب دی.چه نظر په بل څه نه لږی. نوپه دل جمعئ سره به مونځ کوی.اوکه د سجدے خائے ته نه گوری.نودا احتمال شته.چه گیر چاپیره څیزونو کښے مشغول شی.او دمانځه خضوع ترے فوت شی.په متن کښے نے ددے استثناء نه ده کړے.که خانه کعبے ته مخامخ وی.نودسجدے خائے ته به نه گوری.بلکه هغے ته به گوری.ددے نه دا معلومه شوه.که خانه کعبے ته مخامخ وی.هم به په قیام کښے د سجدے خائے ته گوری.خکه چه د سجدے خائے ته کتل د خضوع دپاره دی.چه یوخوا بل خوا ته ئے نظر نه لګی.اودا علت خانه کعبے ته په کتلوکښے هم شته.چه خانه کعبے ته گوری.نوگیرچاپیره څیزونه به ورته ښکاری.او توجه به ئے هغه طرف ته څی.

په رکوع کښے قدمونو ته او په سجده کښے د پوزے سر ته اوپه قعده کښے غیږے ته او په سلام کښے اوږو ته په کتلوکښے هم دا حکمت دے.چه دده توجه یو خائے ته وی.اوپه نورو څیزونوئے نظر نه لګی.(مفتاح الفلاح شرح نور الایضاح فصل آداب الصلاة تالیف شاه فیصل)-

قوله تعالی:- وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَيَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ؕ

د تحویل قبلې یهودیانو ته علم وو:- بیا ارشاد کیږی چه یهودیان څه خبرې جوړول غواړی نو هغه دې جوړې کړی لیکن ددوی په زړونوکښې دا خبره ده چه د قبلې تبدیلی دالله ﷻ د طرفنه ده.اوبرحق ده. خکه چه دا پخپله ددوی په کتابونوکښې موجود دی.لیکن دا خلق دکفر اوعناد اوتکبر اوحسد په وجه دا پتوی.مګر الله ﷻ ددوی د کړو وړو نه بې خبره نه دی.

وَلَئِنْ اَتَيْتَ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا الْكِتٰبَ	بِكُلِّ اٰيَةٍ	مَّا تَبِعُوْا
اوکه چرې راوړې ته|هغه کسانوته|چې ورکړې شوې دي ورته کتاب|هرقسم نښه|اوبه' نه کړی تابعداری				
اوکه دې اهل کتابو ته هرڅومره دلیلونه پیش کړې	خودوئ (د دې هرڅه باوجود) ستا د قبلې تابعداری			
قِبْلَتَكَ ۚ	وَمَآ اَنْتَ	بِتَابِعٍ	قِبْلَتَهُمْ ۚ	وَمَا بَعْضُهُمْ
دقبلې ستا| اونه	نه |تابعداری کونکې نې| دقبلې دهغوئ	اونه	بعضې دهغوئ| تابعداری کونکی دی| دقبلې			
تابعداری نه کوی	اونه ته ددوي قبله قبلولې شې	اوپه دوئ کښې هم یوه ډله دبلې ډلې قبلې ته نه مخ کوی			
بِتَابِعٍ	قِبْلَةَ	بَعْضٍ ؕ	وَلَئِنِ	اتَّبَعْتَ
دبعضو	اوکه چرې| تابعداری اوکړه تا |ادخواهشاتو دهغوئ |اروستودهغې نه |اچې راغلې دي تاته|ادعلم نه			
اوکه چرې ته ددې واضح علم(وحی) راتلونه پس هم ددوئ په خواهشاتو پسې لاړې (اود دوی قبلې ته مه کوې)				

Scanned with CamScanner

اِنَّكَ	اِذًا	لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝	
نو بیشکه چې ته به	په دغه وخت کښې	شې د ظالمانونه	
نو په دغه وخت کښې به ته په ظالمانو کښې شمیر شې			

قوله تعالی:- وَلَئِنْ اَتَيْتَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ بِكُلِّ اٰيَةٍ مَّا تَبِعُوْا قِبْلَتَكَ ۚ

حق پریښودل او باطل پسې تلل ظلم دي:- دیهودیانو دکفر،عناد اودمخالفت اودسرکشئ بیان کیږی چه ددې باوجود چه دوی ته دالله ﷻ درسول ﷺ علم دې لیکن بیا هم دا حالت دې چه د هر قسمه دلیلونو پیش کیدونه پس هم حق طرفته نه رازی لکه یو بل ځائې کښې الله ﷻ فرمائی چه ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝ وَلَوْ جَآءَتْهُمْ كُلُّ اٰيَةٍ حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ۝ ﴾ یعنی چه په کوموخلقو ستا درب خبره ثابته شوې ده هغوی ایمان نه راوړی.که دوی ته ټول دلائل هم راشی تردې چه دردناك عذاب اووینی

قوله تعالی:- وَمَآ اَنْتَ بِتَابِعٍ قِبْلَتَهُمْ ۚ

د نبی کریم ﷺ د هودیانو د تابعداریٔ نه ګولو خبر:- بیا دخپل نبی ﷺ استقامت بیان فرمائی چه څنګه دوی په ناحقه باندې ولاړ دی او هغه ځائې نه اخوا کیدل نه غواړی نودوی دې هم په دې پوهه شی چه ځمونږ نبی داسې نه دې چه ددوی په خبروکښې به راشی،او ددوی په لار به روان شی،هغه ځمونږ تابع دې او ځمونږ په مرضئ عامل دې،هغه به ددوی د باطلو خواهشونو تابعداری بالکل اونه کړی.او نه دده نه دا کیدیشی چه ځمونږه د حکم راتلو نه پس به ددوی قبلې طرفته متوجه شی.بیا خپل نبی ﷺ ته خطاب کوی او په اصل کښې عالمانو ته زورنه ورکوی چه د حق واضح کیدو نه پس چا پسې تګ او دخپل یا دنورو خواهش پوره کول سراسر ظلم دې

					اَلَّذِيْنَ	اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ	
					هغه کسان چې ورکړې دي مونږ هغوئ ته کتاب		
					چاته چې مونږ کتاب ورکړې دې		
يَعْرِفُوْنَهٗ	كَمَا	يَعْرِفُوْنَ	اَبْنَآءَهُمْ ؕ	وَاِنَّ	فَرِيْقًا	مِّنْهُمْ	
هغوئ پیژنی قبله	لکه څنګه چې	پیژنی هغوئ	ځامن خپل	او بیشکه	یوهډله	دهغوئ نه	
هغوئ دا(قبله) داسې پیژنی لکه څنګه چې خپل ځامن په ښه شان پیژنی					اخو په دوئ کښې یو ډله ده		
لَيَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ	وَهُمْ	يَعْلَمُوْنَ ۝	اَلْحَقُّ	مِنْ رَّبِّكَ	فَلَا تَكُوْنَنَّ		
خامخا پټوی حق	حالانکه هغوئ	پوهیږی	دا حق امردي	دطرف درب ستانه	نومهٔ کیږه ته		
چې سره دپوهې حق پټوی	(دادقبلې بدلیدل) دالله دطرفنه حق حکم دې نو(اې مخاطبه) ته په دې باره						
مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ ۝ ع							
د شك کونکونه							
د شک کونکو څنی مه کیږه							

قوله تعالی:- اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ ؕ

حق اود یهودو عالمانو کردار:- ارشاد دې چه د اهل کتابو عالمان په رسول الله ﷺ باندې نازل شوې د حق خبرو حقانیت داسې پیژنی لکه څنګه چې دوی خپل ځامن پیژنی.دایو مثال ووچه دیقین کامل په وخت کښې به عربو وئیلو.

Scanned with CamScanner

یوحدیث کښې دی چه یوسړی سره یو وړوکی بچی وو،نبی کریم ﷺ دهغه نه تپوس اوکړو چه دا ستا بچی دی؟ هغه اووئیل چه آوائی نبی کریم ﷺ تاسو هم گواه اوسئ.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه نه دی په تا باندی پټ دی اونه ته په ده باندی.(یعنی تاسو دواړه یو بل نښه پیژنئ) (۱)

د عبدالله بن سلام ؓ قول:-قرطبی رحمه الله وائی چه یو خل حضرعمر فاروق ؓ دحضرت عبدالله بن سلام ؓ نه تپوس اوکړو او عبدالله بن سلام د یهودو زبردست عالم وو،آیا ته نبی کریم داسې پیژنی لکه څنگه چه ته خپل اولاد پیژنې؟ جواب نې ورکړو چه آو بلکه د دی نه هم زیات،څکه چه د آسمانونو آمین فرښته دزمکی په امین بنده باندی نازله شوه،اوهغی دنبی اکرم ﷺ صحیح تعریف اوخودلو، یعنی حضرت جبریل ؑ حضرت عیسی ؑ ته راغلو او بیا پروردگار عالم د دوی صفتونه بیان کړل چه هغه ټول په ټوله په نبی اکرم ﷺ کښې موجود دی.بیامونږ ته د نبی اکرم ﷺ په نبی برحق کیدو کښې څه شك دی؟مونږ دی ده لره په یونظر ولې اونه پیژنو؟ بلکه مونږته څمونږ د اولاد باره کښې شك کیدې شی اودنبی اکرم ﷺ دنبوت په باره کښې هیڅ شك نشته دی.(۲)غرض دا چه څنگه یو سړی د خلقو په یو لویه ډله کښې خپل بچی پیژنی داشان د نبی اکرم ﷺ صفات دومره ښکاره دی چه کوم د اهل کتابو په آسمانی کتابونوکښې دی هغه ټول صفات په حضور نبی کریم ﷺ کښې داسې ښکاره دی چه هر سړی نبی اکرم ﷺ په یو نظر سره پیژنی.

قوله تعالی:-اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِيْنَ

نبی کریم ﷺ ته د ثابت قدمئ حکم:- بیا فرمائی چه ددی علم برحق باوجود بیا هم دا خلق هغه پټوی.بیا خپل نبی او مسلمانانو ته د ثابت قدمئ حکم ورکوی چه خبردار تاسو هرگز په حق کښې شك مه کوئی

وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا	
او دپاره دهرچا|یو طرف دی|چې هغه| مخ گرزونکی دی هغې ته	
دهر چا (امت د عبادت کولو) یو طرف وی چې مخ کونکی وی	
فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ؕ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يَاْتِ بِكُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا ؕ	
نو وړاندشئ دیو بل نه| نیکو ته |هرچرته چې یئ تاسو| رابه ولی| تاسوالله| ټول	
نو تاسو دنیکوپه کارونو کښې د یوبل نه وړاندوالئ کوئ|هرځائې کښې چې تاسوئ الله پاک به مویوخائې کړی	
اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝	
بیشکه الله| په هر |څیز باند| قادردی	
بیشکه الله پاک په هرکار باندې قدرت لری	

قوله تعالی:-وَلِكُلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا

دهرچا دپاره قبله ده :ابن عباس ؓ فرمائی چه مطلب دا دی چه هر مذهب والو دپاره یو قبله وی،لیکن ربښتونې قبله هغه ده چه په هغې باندې مسلمانان دی(۳)دابوالعالیه رحمه الله قول دی چه دیهودیانو هم

---

(۱) ابوداود کتاب الترجل باب فی الخضاب : ۴۲۰۸،نسائی : ۴۸۳۶،مسند الحمید بتحقیقی: ۸۶۸،وسنده صحیح)-

(۲) قرطبی : ۱۶۳/۲)-

(۳) الطبری: ۱۹۳/۳)-

Scanned with CamScanner

قبله شته د نصرانیانو هم قبله شته او ستاسو هم قبله شته،لیکن هدایت والا قبله هغه ده چه په کومه باندې مسلمانانو دی.(۱) حضرت مجاهد رحمه الله نه هم مروی دی چه هر هغه قوم چه قبله منې،هغه دې په نیکو کښې سبقت اوکړی.د (مُوَلِّيهَا) دویم قرات (مولاها) دې لکه څنګه چه ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ یعنی هر سړی سره دخپلې خپلې قبلې فکر دې.هر سړې په خپله خپله لار روان دې .فرمانې که ستاسو بدنونه او جسمونه مختلف شی،او تاسو اخوا دیخوا شئ لیکن الله ﷻ به تاسو په خپل قدرت کامله سره هم په دې زمکه کښې جمع کوی.

وَمِنْ	حَيْثُ	خَرَجْتَ	فَوَلِّ	
او دکوم ځائې نه	چې تیریږې ته	نوهم دهغه ځائې نه	اوګرزوه	
اوکوم ځائې نه چې ته په سفر وتلی یئ دهغه ځائې نه				
وَجْهَكَ	شَطْرَ	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ط	وَإِنَّهُ	لَلْحَقُّ	مِنْ رَّبِّكَ ط
مخ خپل	طرف	د مسجدحرام ته	ځکه چې دا	حقه فیصله ده	دطرفه درب ستا نه
مسجد حرام طرفته(په مونځ کښې) مخ کوه	ځکه چې داستاسو د پاک رب دطرفه حقه فیصله ده				
وَمَا	اللّٰهُ	بِغَافِلٍ	عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ ۝	وَمِنْ حَيْثُ	خَرَجْتَ
اونۀ دې ے الله	ناخبره	دهغه کارونو نه	چې تاسو ئې کوئ	اودهرځائې نه	چې تیریږې ته	
اوالله پاک ستاسودعملونو نه بې خبره نه دې	اوهر ځائې نه چې ته روان شوې دهغه ځائې نه (مونځ کښې)					
فَوَلِّ	وَجْهَكَ	شَطْرَ	الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ط	وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ	فَوَلُّوْا	وُجُوْهَكُمْ
نوګرزوه	مخ خپل	طرف	دمسجد حرام ته	اوهر چرته چې یئ تاسو	نو ګرزوئ	مخونه خپل
مسجد حرام ته مخ کوه	اوای مسلمانانو)هرځائې کښې چې تاسویئ نو دغې اړخ ته برابر مخونه ګرځوئ					
شَطْرَهٗ لا	لِئَلَّا يَكُوْنَ	لِلنَّاسِ	عَلَيْكُمْ	حُجَّةٌ	إِلَّا	الَّذِيْنَ
طرفه دهغه ته	دپاره ددې چې نۀ وی	خلقو ته	په تاسو باندې	څه اعتراض	سوا	دهغه کسانو نه
چې (عامو) خلقو ته ستاسو خلاف هیڅ حجت(اودلیل)په ګوتو ورنشی	اخو څوک چې ظالمان دی					
ظَلَمُوْا	مِنْهُمْ ق	فَلَا تَخْشَوْهُمْ	وَاخْشَوْنِيْ ق	وَلِأُتِمَّ
چې ظلم ئې کړې دی	دهغوئ نه	خو مه یریږئ دهغوئ نه	اواویریږئ زمانه	او دپاره ددې چې پوره کړم زۀ
(نودهغوئ خولې څوک بندولې نشی)	انوتاسو دهغوئ نه مه ویریږئ اوزمانه اوویریږئ	اودې دپاره چه زۀ په تاسو		
نِعْمَتِيْ	عَلَيْكُمْ	وَلَعَلَّكُمْ	تَهْتَدُوْنَ ۝
نعمت خپل	په تاسو باند	اوپه دې امید چې تاسو	لاربیا مومئ	
باندې خپل نعمتونه ددې چې پوره کړم	اوشاید چې تاسو دکامیابئ لار بیامومئ			

(۱) ابن ابی حاتم: ۱/۱۲۱)-

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:- وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۖ

دیهودو د بې ځایه اعتراضونو پرواه مه کوئی:- دا په دریم ځل باندې حکم کیږی چه په مخ د زمکې تولو مسلمانانو لره د مسجد حرام طرفته په مونځ کښې مخ کول پکاردی.دري ځله تاکید په دې وجه اوشو چه دا دتبدیلئ حکم په رومبی ځل واقع شوې وو.

د تکرار وجه:- ① فخرالدین رازی ددې وجه بیان کړې ده چه رومبی حکم خود هغه چا دپاره دې چه کوم کعبې ته ګوری.دویم حکم دهغه چا دپاره دې کوم چه په مکه مکرمه کښې وی.لیکن کعبه دهغوی په مخکښې نه ده.په دریم ځل نې هغه چاته حکم ورکړو چه کوم په مخ دزمکې دی.② قرطبی یو توجیه داهم بیان کړې ده چه رومبی حکم مکې والودپاره دې او دویم حکم نورو بنارونو والو دپاره دې او دریم مسافرو دپاره،③بعضې وانی چه د دریواړو تعلق د مخکښې روستو عبارتونوسره دې.په رومبی حکم کښې خو د نبی اکرم ﷺ د طلب او بیادهغې دقبولیت ذکر دې،او دویم حکم کښې ددې خبرې بیان دې چه د نبی اکرم ﷺ خوښه هم زمونږ دخوښې مطابق وه.اوحق امرهم داوو،اوپه دریم حکم کښې دیهودیانو د حجت جواب دې چه ددوی په کتابونوکښې مخکښې نه موجود وو چه د نبی اکرم ﷺ قبله به کعبه مبارکه وی،هغه پیشن ګوئی هم پوره شوه.اودې سره دمشرکانو حجت هم ختم شو چه هغوی کعبې لره متبرکه اومشرفه ګڼله او اوس د نبی اکرم ﷺ توجه هم دې طرفته شوه.رازی رحمه الله وغیره دلته ددې حکم باره کښې د بیا بیا راوړلو د حکمتونوتفصیل بیان کړې دې.والله اعلم.

قوله تعالی:- لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَيْكُمْ حُجَّةٌ ۗ

د اهل کتابو حجت ختمول:- بیا فرمانی ددې دپاره چه داهل کتابو په تاسو باندې هیڅ حجت باقی پاتې نشی،هغوی ته پته وه چه ددې امت صفت کعبې طرفته مونځ کول دی.هرکله چه دا صفت اوممی نودوی ته دشک ګنجائش نشی کیدې.لیکن کله چه هغوی اوکتل چه نبی اکرم ﷺ دې قبلې طرفته اوګرزیدو نواوس دوی ته شک نه دی کول پکار.اودا خبره هم ده چه کله هغوی تاسودې قبلې طرفته په مونځ اوګوری نو دوی سره به یوبهانه پیدا شی.لیکن کله چه ابراهیمی قبلې طرفته متوجې شئ هغوی به تش لاس پاتې شی.حضرت ابوالعالیه رحمه الله فرمائی چه د یهودو دا حجت وو چه نن دې ځمونږ قبلې طرفته متوجې شو سبا ته به دې ځمونږ مذهب ته هم راواوړی.لیکن کله چه نبی اکرم ﷺ د الله ﷻ په حکم اصلی قبله اختیار کړه نو د دوی په خواهش باندې اوبه توې شوې.

قوله تعالی:- إِلَّا الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ ۗ

ظالمان به اوس هم د اعتراض نه نهٔ منع کیږی:- بیائې اوفرمائیل مګر څوک چه په دوی کښې ظالمان اوحجت باز دی اوپه مشرکانوباندې داعتراض په طوروائی چه دا سړې په ملت ابراهیمی باندې دکیدو دعوی کوی.لیکن چه ابراهیمی قبلې طرفته مونځ نه کوی نوګویا دوی ته جواب ملاؤ شو چه دا نبی ﷺ ځمونږ د احکامو متبع دې.رومبې ورته مونږ په خپل کمال حکمت سره بیت المقدس طرفته د مخ کولو حکم ورکړو لکه څنګه چه دوی پوره کړو،بیا مو ورته ابراهیمی قبلې طرفته د تاویدلو اووئیل او دا هم هغه پوره کړل.نو ته په هر حال کښې ځمونږ د احکامو پابندئې

قوله تعالی:- فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي ۗ

د استقامت حکم:- بیا نې اوفرمائیل چه ددې ظالمانو دشک په وجه ته شک کښې مه پریوزه.ددې باغیانو په سرکشئ سره ته فکر مه کوه،د دوی د بې ځایه اعتراضونو ته بالکل پرواه مه کوه.اوصرف زما د ذات نه ویره کوه.صرف خمانه ویریږه.قبلې په بدلیدو کښې یومصلحت داووچه دخلقوژبې بندې شی.نوبل طرفته داهم وه چه خه خپل نعمت په تاسو باندې پوره کړم.او قبلې په شان ستا هر شریعت پوره کړم.اوستادین به هر شان سره مکمل کړم.او په دې کښې یورازی هم وو چه دکومې قبلې نه

Scanned with CamScanner

مخکښی امتونه اوخوئیدل،تاسو ددې نه اونه خۍ.مونږ دا قبله خصوصیت سره تاسو ته درکړه،او په ټولو امتونو باندې مو ستاسو فضیلت او شرف او بزرګی ثابته کړه.

كَمَآ	اَرْسَلْنَا
	لکه څنګه چې | اولیږو مونږ
	لکه څنګه چې مونږ په تاسو کښې
فِيْكُمْ	رَسُوْلًا مِّنْكُمْ يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰيٰتِنَا وَيُزَكِّيْكُمْ
په تاسوکښې | یورسول | ستاسو نه | چې اوروی | تاسو ته | آیتونه زمونږ | او پاکوی تاسو	
رسول اولیږلوچه ستاسودقوم نه دې | چې تاسو ته زمونږ آیتونه اوروی | او تاسودګناهونونه پاکوی	
وَيُعَلِّمُكُمُ	الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُوْنُوْا
او تعلیم درکوی تاسو ته د | کتاب | اودحکمت | اوښائی تاسو ته | هغه خبری | چې نه وئ تاسو	
اود کتاب اوحکمت خودنه درته کوی | او په هغه خبرومو پوهوی چې تاسوترې نه پخوا	
تَعْلَمُوْنَ ۝	فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوْا لِيْ وَلَا تَكْفُرُوْنِ ۝
چې پرې پوهیدلئ | نو یادوئ ما | زهٔ به یادوم تاسو | او شکراوباسئ زما | اومهٔ کوئ ناشکری زما	
خبرهم نه وئ | نو تاسو مایادوې زهٔ به تاسویادوم | اوزما شکرادا کوئ اوناشکری مه کوئ	

قوله تعالی:- كَمَآ اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلًا مِّنْكُمْ

په امت محمدی باندې دبیش بها نعمت ذکر :دلته الله ﷻ د خپل ډیر لوئې نعمت ذکر فرمائی چه هغه پاك ذات په مونږ کښې ځمونږ د جنس نه یو نبی مبعوث کړو چه هغه(نبی ﷺ)ځمونږ په وړاندې دالله ﷻ د نورانی اوروښانه کتاب تلاوت کوی.او مونږ د رذیلو عادتونو او د نفس د شرارتونونه او دجاهلیت د کارونونه منع کوی.اومونږ د ظلم اوکفر نه راوباسی اودایمان رنړاته مو راولی.اودکتاب اوحکمت یعنی دقران پاك او دحدیث مونږ ته تعلیم راکوی.او مونږ ته هغه رازونه ښائی چه ترننه پورې مونږ نه پټ وو.نوددوی په وجه هغه خلق چه هغوی د کلونو راسې په جهالت کښې وو،او هغوی دکلونو راسې په تیارو کښې وو،او په هغوی باندې کلونو راسې دښیګړې نمر هم نه وو لګیدلې،هم دغه خلق ددنیا زبردست علامه ګان جوړ شو.هغوی په علم کښې ژور،په تکلف کښې کم،د زړونوپاك،اود ژبهرښتونی جوړشول.د دنیا دحالت دا انقلاب پخپله د نبی کریم ﷺ د رسالت دتصدیق یو شاهد عدل دې.او په بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ﴾یعنی دداسې اولوالعزم پیغمبر په پیدائش په مومنانو باندې دالله ﷻ یو زبردست نعمت دې.ددې نعمت قدر نه کوونکو ته قران پاك وائی چه: ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ كُفْرًا وَّاَحَلُّوْا قَوْمَهُمْ دَارَ الْبَوَارِ﴾ یعنی آیا تاسو دوی ته اونه کتل چه دوی دالله ﷻ دنعمت په بدله کښې کفر اوکړو او خپل قوم ئې د هلاکت په کنده کښې واچولو.

قوله تعالی:- فَاذْكُرُوْنِيْٓ اَذْكُرْكُمْ

د شکر ادا کولو حکم:- دلته د الله ﷻ د نعمت نه مراد حضرت محمد ﷺ دی (۱).ددې وجې په دې آیت کښې هم دخپل نعمت ذکر کوی،او خلقو ته دخپل یاد او د خپل شکر ادا کولو حکم کوی چه څنګه چه مادااحسان په تاسو باندې اوکړو نو تاسو هم زمادشکرکولونه غفلت کښې مه پریوزئی.حضرت موسی

(۱) صحیح بخاری: کتاب المغازی باب قتل ابی جهل : ۳۹۷۷،-

Scanned with CamSc

ﷺ خپل رب العزت ته عرض کوی چه یاالله ﷻ ستا شکرځنګه ادا کړم ؟.ارشاد کیږی چه مایادوه اوما مه هیروه.یادول شکر دي او هیرول کفردي.

د حضرت حسن بصری رحمه الله وغیره قول دي چه کوم سړي الله ﷻ یاد کړی،الله ﷻ هم هغه یادوی.او چه څوك د هغه شکر اداکړی نوهغه ته زیات ورکوی.او ناشکره ته عذاب ورکوی.دبزرګانو سلف نه مروی دی چه الله ﷻ نه پوره ویریدل دا دی چه دهغه اطاعت اوکړي شی.اودهغه نافرمانی اونه کړي شی.دهغه ذکر اوکړي شی.غفلت تري اونکړي شی.ناشکری دي اونه کړي شی.

الله ګناهګاران هم یادوی خو په بدئ سره:- حضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه سوال کیږی چه آیا زانی، شرابی ،غل او قاتل هم الله ﷻ یادوی ؟ وي فرمائیل په بدئی سره ئي یادوی.حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه مایادکړئی یعنی زما ضرروی احکامو باندي عمل اوکړئی څه به تاسو یادکړم.یعنی خپل نعمتونه به درکړم.سعید بن جبیر ﷺ فرمائی چه تابه اوبښم.او خپل رحمتونه به په تاباندي نازل کړم.

دالله ذکر د الله په نیز د بنده د یادولو سبب دي:- عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی چه الله ﷻ یادول ډیر غټ څیز دي.یو حدیث قدسی دي چه څوك ما په خپل زړه کښې یادوی،څه هم هغه په خپل زړه کښې یادوم.او چه څوك ما په یو ډله کښې یادوی څه هغه په بهترینه ډله کښې یادوم.(۱)مسند احمد کښې دی چه هغه د فرښتو ډله ده. چه کوم سړي زما طرفته یو لیشت رازی نو څه هغه طرفته یولاس ورځم،او ائي بنی آدمه! که ته زما طرفته یو لاس راځي نو څه به ستا طرفته دوه لاسه درځم.که ته زما طرفته رازي نوځه ستاطرفته په منډه درځم.په صحیح بخاری کښې همداحدیث دي(۲)حضرت قتاده ﷺ فرمائی چه دالله ﷻ رحمت ددي نه هم زیات نزدي دي.

قوله تعالی:-وَلَا تَكْفُرُونِ

د ناشکرئ نه منع ګول:- بیا فرمائی چه زما شکر اداکړئی او زما ناشکری مه کوئی.او په بل ځائي کښې ارشاد دي چه ﴿لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ﴾ یعنی ستاسو د رب د طرفنه دا اعلان کیږی که تاسو شکر کوئ نو زه په په هغې کښې نورزیادت اوکړم اوکه ناشکری کوئ نویادساتئ چه زما عذاب ډیرسخت دي. مسنداحمدکښې دی چه عمران بن حصین رحمه الله یو ځل په ډیرقیمتی شکل صورت کښې راغلو اووې فرمائیل چه الله ﷻ چه په چاباندي احسان کړي وی نودهغې اثرپه هغه باندي ښکاره کیدل پکار دی (۳)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	اسْتَعِينُوا	بِالصَّبْرِ	وَالصَّلَاةِ ط	إِنَّ اللَّهَ
اے هغه کسانو| چې ایمان مو راوړی دی| امداداوغواړئ| په صبرسره|اوپه مانځه سره|بیشکه چې الله					
انې مؤمنانو(په هره سخته کښې) په صبراومونځ سره (زما نه) مدد حاصل کړئ بیشکه الله					
مَعَ الصَّابِرِينَ ۝	وَلَا تَقُولُوا	لِمَنْ	يُقْتَلُ	فِي سَبِيلِ اللَّهِ	أَمْوَاتٌ
دصبرکونکو سره دي	او مه وایئ تاسو| هغه چاته| چې قتل کړي شی| په لار دالله کښې	مړه				
دصبروکونکو ملګري دي	اوځوک چې دهغه الله په لار کښې شهید کړي شو	نوهغوئ ته مړه مه وائي			
بَلْ أَحْيَاءٌ	وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ۝				
بلکه ژوندی دی	لیکن نه پوهیږئ تاسو				
هغوئ (په حقیقت کښې) ژوندی دی	خوتاسو پرې نه پوهیږئ				

---

۱) صحیح بخاری : کتاب التوحید: باب ۱۵ ح:۷٤۰۵،صحیح مسلم: ۲٦۷۵)-

۲) احمد: حضرت/۱۳۸،صحیح بخاری: کتاب التوحید: باب ذکر الشی.....۷۵۳٦ مختصرا)-

۳) احمد: ٤/٤۳۸،وسنده صحیح)-

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:- اسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ

بهترینه وسیله صبر او مونځ دي :- شکرنه پس د صبر بیان کیږي او ورسره د مونځ ادا کولو ذکر کیږي او حکم کیږي چې دې لو یو لویو کارونو کښې څومره نجات دې.ښکاره خبره ده که انسان په ښه حالت کښې وی نودا د شکر موقع ده اوکه خراب حالت کښې وی نو دا موقع د صبر ده.حدیث شریف کښې دی چه دمومن څه ښه حالت دې چه په هر کار کښې دده دپاره سراسر نیکی ده،ده ته راحت ملاویږی،که شکر کوی نو ده ته اجر ملاویږی (۱).تکلف ورته اورسی نو صبر کوی نوده ته اجر ملاویږی.

په آیت کښې ددې هم بیان دې چه مصیبتونو باندې صبر اوکړې شی او ددې(مصیبتونو) د تیرولو یا د برداشت کولو ذریعه صبر اومونځ دې لکه څنګه چه مخکښې تیرشو ﴿وَاسْتَعِيْنُوْا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ۚ وَاِنَّهَا لَكَبِيْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِيْنَ ۙ﴾ په صبر اومونځ سره مدد طلب کړئ.دایو ګران کارخو په ویریدونکوباندې ډیر آسان دی. حدیث شریف کښې دی چه کله به دیو کار په وجه نبی کریم ﷺ پریشانه شو نو نبی کریم ﷺ به مونځ شروع کړو.

د صبر قسمونه:- د صبر درې قسمونه دی(۲)① د حرامو او ګناهونو پرخودلو باندې صبر② د اطاعت اودنیکئ په کارونوکولو باندې.داصبردرومبی صبر نه ډیر لوړې دې.دریم په درداومصیبت باندې صبر کول دی،دا هم واجب دې لکه د ګناهونو نه استغفار کول واجب دی.حضرت عبدالرحمن ﷺ فرمائی چه دالله ﷻ په فرمانبردارتی کښې مشغول اوسیدل په استقلال سره اګرچه په نفس باندې ګران وی او د طبیعت خلاف وی،زړه نه غواړی،یو صبر خو دا دې،دویم صبر دالله ﷻ دناخوښه کارونو نه منع کیدل اګر چه طبیعت هغې طرفته ورزی او خواهش راپاریږی.

صابران به بې حسابه جنت ته ځی:- امام زین العابدین ﷺ فرمائی چه د قیامت په ورځ به یو اواز کونکې آواز کوی چه صبر کونکی چرته دی؟ هغوی دې بغیر د حساب کتاب نه جنت ته لاړشی.څه خلق به پاسی او جنت طرفته به روان شی نو فرشتې چه کله دوی اووینی نو تپوس به تړې اوکړی چه چرته روان یئ ؟دوی به اووائی چه جنت ته.هغوی به اووائی چه اوس خو لا حساب کتاب هم نه دې شوی.اوبه وائی چه آو،دحساب نه مخکښې.دوی به تپوس اوکړی چه آخر تاسو خلق څوک یئ.جواب به ورکړی چه صابران یو.دالله ﷻ په فرمانبردائی کښې مشغول وواود هغه دنافرمانئی نه بچ کیدو.ترمرګه مو په دې باندې مونږ صبراوکړواوپه دې باندې کلك ولاړ وو.فرښتې به اووائی چه بیا خوتاسو صحیح وایې، بیشکه هم دا ستاسو بدله ده.اوتاسوهم ددې لائق یئ.ځئ ورشئ جنت ته اوهلته مزې کوئی.د نیکو کارونو والو نیکه بدله وی.هم دا دقران پاك فرمان دې ﴿اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ یعنی (صابرانو ته به دهغوی پوره پوره بدله بې حساب ورکولې شی).مصداق دې

د صابر تعریف:- حضرت سعید بن جبیر ﷺ فرمائی چه د صبر دا معنی ده چه د الله ﷻ د نعمتونو اقرار اوکړی،اودمصیبتونو د بدلې هم د الله ﷻ نه د ثواب طمع ساتی،په هرې پریشانئ او د ویرې او مشکله موقع باندې استقلال کوی او دنیکئ امید باندې هغوی خوشحاله په نظر رازی.

قوله تعالی:- وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ۭ.....

دشهیدانو ژوند :- بیا فرمائی چه شهیدانو ته مړه مه وائې بلکه هغوی خوداسې ژوند کښې دی چه هغه ستاسوپه پوهه کښې نه راځی.هغوی ته حیات برزخی حاصل دې او هغوی ته په هغه ځائې کښې روزی ملاویږی.

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الزهد باب المومن امره کله خیر: ۲۹۹۹)-

(۲) ابوداود کتاب الصلاة باب وقت قیام النبی ﷺ من اللیل : ۱۳۱۹)-

Scanned with CamSc

شهیدان به دنیا ته د واپس تلو تمنا کوی:- په صحیح مسلم کښې دی چه دشهیدانو روحونه د شین رنګ مارغانو په قالب کښې دی.او جنت کښې چه چرته ځی نو تلې شی.بیا به هغه مشالونو ته راځی او کینی کوم چه دعرش لاندې زړوند دی.ددوی رب دوی ته یو ځل اوکتلو اوددوی نه نې تپوس اوکړوچه تاسو څه غواړئ؟ هغوی جواب ورکړو چه انې الله ﷻ مونږته خو تا هغه څه راکړی دی چه هیڅا ته دې نه دی ورکړی.نو بیا مونږ ته دځه ځیز ضرورت دې؟ د دوی نه بیاد ا سوال اوشی،کله چه هغوی پوهه شی چه مونږ به اوس څه نه څه جواب ورکوؤ.نو اوبه وائی چه انې الله ﷻ مونږ غواړو چه ته مونږ دوباره دنیاته اولیږئ،ستاپه لار کښې جهاد اوکړو او بیا شهیدان شو او بیا تاته راشو اود شهادت دوچنده درجه اومومو.رب ذوالجلال به اوفرمائی چه دا نشی کیدې.دا خو ما لیکلی دی چه هیڅوک به د مرګ نه پس دنیاته واپس نه ځی ([1])مسند احمد کښې یو روایت کښې دی چه دمومن روح یو مارغه دې چه دجنت په ونو باندې اوسیږی .او دقیامت په ورځ به هغه خپل جسم ته واپس رازی([2]).ددې نه معلومیږی چه دهرمومن روح هلته ژوندې دې.لیکن دشهیدانو روح ته یو قسم شرافت،کرامت،عزت او عظمت حاصل دې.

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ
اوخامخا مونږ آزمایوتاسو	په څه اندازه	دیری نه
	خوتاسو پرې نه پوهیږئ	اومونږبه په هرقسم ویرې سره
وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ وَبَشِّرِ الصّٰبِرِيْنَ ۝
او دلوږی نه|او دکموالی	د مالونونه	اودنفسونو نه	او دمیوونه	او زیرې ورکړه صبرکونکوته
اولوږې سره اومالی اوجانی نقصان سره اودمیوو په کمی سره ستاسو امتحان اخلو| او صبر کونکو ته زیرې ورکړه
الَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ ۙ قَالُوْٓا اِنَّا لِلّٰهِ
هغه صبر کونکی	چې کله	اورسیږی هغوئ ته مصیبت| نو وائی |چې بیشکه مونږ	الله لره یو
داهغه کسان دی چې مصیبت پرې راشی نو (د ژړا فریادپه خائې) وائی چې مونږ دالله ملکیت یو
وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِّنْ
اومونږ	هغه ته	واپس ورتلونکی یو| دا کسان چې دی| په دوئ باندې به| مهربانیان وی	دطرفه د
اومونږ به هغه ته واپس کیږو| په دغې کسان باندې (چه په دې صفت موصوف وی) د خپل رب د طرفه
رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ ۟ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ ۝
رب ددوئ نه	او رحمت به وی	او هم دغسې خلق	دی په نیغه لار	
مهربانیانې اورحمت وریږی| اوهم داکسان دی چه سمه لار ئې بیاموندې ده|

قوله تعالی:- وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْاَمْوَالِ وَالْاَنْفُسِ وَالثَّمَرٰتِ ؕ

آزمیښت شرط دې :- الله ﷻ فرمائی چه هغه په خپلو بندګانو ضرور آزمیښت کوی.کله په پرمختګ سره اوکله په نیکئ اوکله په تنزل اوبرانی سره لکه فرمانی چه ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ﴾

---

[1]) صحیح مسلم،کتاب الامارة باب بیان ارواح الشهداء فی الجنة: ۱۸۸۷)-.

[2]) احمد : ۴۵۵/۳،ابن ماجة: کتاب الزهد باب ذکر القبر والبلی: ۴۲۷۱:وهو صحیح بالشواهد عنداحمد: ۴۲۴/۶)-

Scanned with CamScanner

یعنی مونږ به مجاهدین اوصبر کوونکی په ازمیښت سره معلوم کړو.اوپه بل ځائې کښې فرمانی چه ﴿فَأَذَاقَهَا اللّٰهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَالْخَوْفِ﴾ مطلب دادې چه لږ شان ویره،څه اولږه او څه دمال کمې اوځه د خانونو یعنی دخپلواودغیرومرګ کله دمیوؤ او پیداوار نقصان وغیره سره الله ﷻ خپلو بندګانو باندې امتحان کوی او صبر کوونکوته نیك اجر او ښه بدله ورکوی.او بې صبره او جلد باز او ناامیدئی کونکو باندې دده عذاب نازلیږی بعضو سلفو نه منقول دی چه دلته د ویرې نه مراد دالله ﷻ ویره ده،اولږې نه مراد د روژو اولږه ده،دمال دکمی نه مراد زکوة ورکول دی،دځان دکمې نه مراد بیمارئی اود میوؤ د کمی نه مراد اولاد دې.لیکن دا تفسیر لږ د غور طلب دې والله اعلم.

قوله تعالی:- اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ

صابران څوک دي ؟ :اوس بیان کیږی چه دکومو صبر کوونکو د الله ﷻ په نیز قدر شته هغه کوم خلق دی؟نوفرمائی چه داهغه خلق دی چه د تنګئ اومصیبت په وخت کښې ﴿اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ﴾وائی چه مونږ دالله ﷻ ملکیت یو او دا چه کوم نقصان مونږ ته رسیدلې دې،هغه دالله ﷻ د طرفنه دې. او په دوی کښې هغه چه څنګه غواړی تصرف کوی.اوبیا الله ﷻ سره د دوی بدله شته او دوی به اخر هغه ته پیش کیږی.د دوی ددې قول په وجه د الله ﷻ بخششونه په دوی باندې نازلیږی.او دعذاب نه ورته نجات ملاویږی.اوهدایت ورته نصیب کیږی.امیر المومنین حضرت عمر بن الخطاب ﷺ فرمائی چه دوه برابر څیزونه یو مهربانئ او یو رحمت او یو مینځنې څیز دې یعنی هدایت،دا صبر کوونکوته ملاویږی.

د نعمت نعم البدل ملاویدو دعا:- مسنداحمد کښې دی چه حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه یو ورځ زما خاوندحضرت ابو سلمه ﷺ دحضرت محمد ﷺ د صحبت نه واپس راغلو اوپه خوشحالئ خوشحالئ نې اووئیل چه نن خو مایو داسې حدیث آوریدلې دې چه څه نن ډیر زیات خوشحاله یم.هغه حدیث دا دې چه کوم یو مسلمان ته څه تکلیف اورسی اوهغه اووائی چه ﴿اللهم اجرنی فی مصیبتی واخلف لی خیرامنها﴾ یعنی ائې الله ﷻ ماته دې مصیبت کښې اجر راکړه او ماته ددې نه بهتر ه بدله راکړه نو الله ﷻ به ورته اجر اوبدله ضرور ورکوی.حضرت ام سلمه رضی الله عنهافرمائی چه ما دا دعا یاده کړه.

د دې دعا په برکت نبی کریم ﷺ غوندې خاوند ملاویدل:- کله چه حضرت ابوسلمه ﷺ وفات شو نو ما ﴿اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ﴾ اووئیل زما خیال وو چه دابو سلمه نه افضل ماته کوم سړې ملاویدیشی؟ کله چه زما عدت تیر شو نو یو ورځ ما یو څرمن رنګ کوله چه په دې کښې نبی کریم ﷺ تشریف را وړو او د دننه راتلو اجازت نې اوغوښتلو.ما خپل لاسونه وینځل او څرمن مې کیخوده.او نبی کریم ﷺ ته مې د دننه راتلو درخواست اوکړو.او نبی کریم ﷺ مې په یو ګدئی کینولو.نبی کریم ﷺ ماته د نکاح پیغام راکړو.ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ دا خو زما دپاره د خوشحالئ خبره ده.لیکن اول خو څه یو غیرت منده ښځه یم.هسې نه ستاسو د طبیعت نه خلاف څه خبره اوکړم او الله ﷻ راته عذاب راکړی.دویم دا چه زما عمر زیات دې.دریم داچه زما بچی دی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واوره چه الله ﷻ په ستا بې ځایه غیرت لرې کړی او دعمر لحاظ سره څه هم کم نه یم او ستا بچی زما بچی دی.ماپه دې آوریدو سره اووئیل چه بیا خو یارسول الله ماته هیڅ عذر نشته دې.نو خمانکاح نبی کریم ﷺ سره اوشوه.او ماته الله ﷻ دهغه دعا په برکت سره زما د خاوند نه زیات بهتر خاوند راکړو یعنی نبی کریم ﷺ نې راکړو[1].فالحمد لله،صحیح مسلم کښې هم دا حدیث باختلاف الفاظ مروی دې.[2]

په کلمه د استرجاع اجر ملاویدل:- مسنداحمد کښې دحضرت علی ﷺ نه مروی دی چه نبی کریم ﷺ

---

[1] احمد: ۲۷/٤،وسنده ضعیف وحدیث ابی داود : ۳۱۱۹،ومسلم: ۹۱۸،بغنی عنه)-

[2] صحیح مسلم کتاب الجنائز باب مایقال عن المصیبة: ۹۱۸)-

اوفرمائیل چه کوم یو مسلمان ته څه تکلیف اورسی اوپه دې باندې اګر چه زیات وخت تیر شی اوده ته یاد شی اودې ﴿ اِنَّالِلّٰهِ ﴾ اووائی نو د مصیبت د صبر په وخت کښې چه کوم اجر ملاویدو،هم هغه به اوس هم ملاویږی.(۱)

په جنت کښې بیت الحمد جوړیدل:- ابن ماجه کښې دی چه حضرت ابوسنان ﷺ فرمائی چه ما خپل یو بچې دفن کړو.اودهغه د قبر ایله راوتلې اووم چه ابو طلحه خولانی ﷺ زما لاس اونیولواو څه نې راوستلم اوماته نې اووئیل چه واوره چه څه تاته یو زیرې درکوم.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ ملك الموت نه تپوس کوی چه تا کله زما دیو بنده د خیګر ټکړه او دستر ګویخوالئ واخستو نودهغه څه رد عمل وو؟ملك الموت وائی چه انې الله ﷻ هغه ستا تعریف اوکړو او انا الله نې اووئیل.الله ﷻ فرمائی چه دده دپاره جنت کښې یو کور جوړ کړئی او دهغې نوم بیت الحمد اولیکئ.(۲)

اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ	
بیشکه صفا او مروه	د
بیشکه صفا اومروه	
شَعَآئِرِ اللّٰهِ ۚ فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ	
ننبو د الله نه دی	نوڅوك چې حج اوکړی دبیت الله یا عمره اوکړی نونشته ګناه په هغه باند
دالله(ددین) په ننبو کښې شامل دی نوڅوک چې دبیت الله(کعبې)حج یاعمره کوی نوپه دې کښې هیڅ حرج نشته	
اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا ؕ وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ	
چې سعی اوکړی اپه مینځ ددواړو کښې اوهغه څوك چې په خپله رضا اوکړی اڅه نیکی انو بیشکه الله	
چې ددې دواړو خایونو مینځ کښې سعی (اوډ خله تګ راتګ) اوکړی اوهردفرضو نه زیاتی نیکی اوکړی انوالله	
شَاكِرٌ عَلِيْمٌ ﴿۱۵۸﴾	
قدردان دې او ښه پوهه دې	
دهغې قدرکوی (خامخا به د هغې ثواب ورکوی)	

قوله تعالی:- فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ اَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ اَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا

د صفا مروه طواف او د هغې طریقه :حضرت عائشه رضی الله عنها نه حضرت عروه رحمه الله تپوس اوکړو چه ددې آیت نه خو داسې معلومیږی چه په طواف نه کولوکښې هم څه حرج نشته دې.حضرت عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل چه انې وراره تاته صحیح پته نشته دې.که دا بیان مدنظر وې (یعنی که د الله دا مقصود وې لکه څنګه چه ستا خیال دې) نو ﴿ ان لایطوف بهما ﴾ به وې.واوره د آیت مبارك شان نزول دادې چه مشلل (دادیو خائې نوم دې) سره مناة بت وو،د اسلا م نه مخکښې انصاروبه هغې ته سجدې کولې.اوچه چا به دې بتانو ته لبیك اووئیل نو هغه به د صفا مروه طواف کښې حرج ګنړلو.او اسلام نه پس دې خلقو نبی کریم ﷺ نه دصفامروه دطواف دحرج باره کښې سوال اوکړو نو داآیت نازل شو چه په دې کښې هیڅ حرج نشته دې.بیا نبی کریم ﷺ د صفا مروه طواف اوکړواوددې وجې مسنون شو او هیچا ته ددې خبرې

---

(۱) احمد: ۲۰۱/۱،ح/۱۸۳۶،ابن ماجة: ۱۶۰۰،)-

(۲) احمد: ۴۱۵/۴،الترمذی : کتاب الجنائز باب فضل المصیبة اذا احتسب : ۱۰۲۱،)-

Scanned with CamScanner

همت اونشو چه دا پریږدی.(بخاري ومسلم) ([1])
ابوبکر بن عبدالرحمن چه کله دا آیت واوریدو نو وې فرمائیل چه بیشکه دا علمی خبره ده،ما خو ددې نه مخکښې دا هډو آوریدلې نه وه.بعضې اهل علم فرمائی چه انصارو وئیلی وو چه مونږ ته د بیت الله دطواف حکم دې.د صفا او د مروه د طواف حکم نه دې.په دې باندې دا آیت نازل شو.ممکن دی چه ددې شان نزول دا دواړه وی.([2]) حضرت انس ﷺ فرمائی چه مونږد صفا مروه طواف لره دجاهلیت کارګنړلو او د اسلام حالت کښې به ددې نه بچ کیدو تر دې پورې چه دا آیت نازل شو.([3])
حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه ددې دواړو غرونو په مینځ کښې ډیر بتان وو او شیطانانو به ټوله شپه ددې په مینځ کښې طوافونه کول.اسلام نه پس خلقو نبی کریم ﷺ نه ددې د طواف باره کښې مسئله اوپوښتله نو په دې باندې دا آیت نازل شو.([4])
اساف نومې بت په صفا باندې وو.اونائله نومې بت په مروه باندې.مشرکانو به دا بتکلول او ګوتې به ئې وراوړې.اسلام نه پس خلق د دې نه منع شو لیکن دا آیت نازل شو او دهغې نه ددې خائې طواف ثابت شو.سیرت محمد بن اسحاق کښې دی چه اساف اونائله دوه سړې او ښځه وو.دې بدکارو په کعبه کښې زنا کړې وه.الله ﷻ ددوی نه کانړی جوړ کړل.قریشو دا د عبرت دپاره د کعبې نه بهر کیخودل .لیکن څه زمانه پس خلقو ددې عبادت شروع کړو.او دائې راوړل او په صفا او مروه باندې ئې اودرول اوددې طواف ئې شروع کړو.
صحیح مسلم کښې یو اوږد حدیث کښې دی چه کله نبی کریم ﷺ دبیت الله طواف اوکړو نو رکن ته ئې ګوتې ورا وړې او باب الصفا نه اووتلو او دا آیت مبارک ئې تلاوت کولو.بیا ئې اوفرمائیل چه څه د هغه ځائې نه شروع کوم د کوم نه چې الله شروع کړې ده.یو روایت کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسو شروع کړئی ددې نه چه دکومې نه الله ﷻ شروع کړه.یعنی د صفا نه اوخئ او مروه ته لاړشئ.([5])
حضرت حبیبه بنت تجراة ﷺ فرمائی چه ما رسول الله ﷺ اولیدو چه د صفا مروه طواف ئې کولو.خلق ددوی نه مخکښې وو او نبی کریم ﷺ دوی پسې وو.نبی کریم ﷺ به لږ تیز تګ کولو.او ددې وجې به د دوی تهبند (لنګ) د نبی کریم ﷺ د پوندو مبارکو مینځ کښې یو خوا بل خوا کیدو.او په ژبه مبارکه ئې فرمائیل چه خلقو منډې وهئ الله ﷻ په تاسو سعی مقرر کړې ده (مسند احمد).([6]) هم په دې معنی کښې یو بل روایت هم دی.([7]) چه دا حدیث دلیل دې د هغه خلقو دپاره چه د صفا مروه سعی د حج رکن ګڼړی.لکه څنګه چه د امام شافعی ﷺ او د دوی موافقینو مذهب دې.امام احمد ﷺ نه روایت هم دا شان دې.دامام مالك ﷺ مشهور مذهب همدادې.بعضې دې ته واجب وائی دحج رکن ورته نه وائی،که په قصد سره یا په هیره سره څوك دا پریږدی نو یو ځناور به ذبح کوی.امام احمد ﷺ نه روایت دا شان مروی دې اویو بل جماعت هم دا شان وائی.او یو قول کښې دا مستحب دې.امام ابوحنیفه ﷺ،ثوری ﷺ،شعبی ﷺ او ابن سیرین ﷺ هم دا وائی.

د صفا مروه حکم

---

[1]) صحیح بخاری : کتاب الحج باب وجوب الصفا والمروة: ۱٦٤۳،صحیح مسلم: ۱۲۷۷)-
[2]) صحیح مسلم کتاب الحج،باب بیان ان السعی بین الصفا والمروة رکن: ۱۲۷۷)-
[3]) صحیح بخاری : کتاب التفسیر سورة البقرة باب قوله تعالی (ان الصفا والمروة ن شعائر الله) : ٤٤۹٦،مسلم: ۱۲۷۸)-
[4]) حاکم: ۲۷۱/۲)-
[5]) صحیح مسلم کتاب الحج باب حجة النبی : ۱۲۱۸)-
[6]) احمد: ۲/٦،البیهقی : ۹۷/٥،وسنده حسن)-
[7]) احمد: ۲/٦،البیهقی : ٤۳۷/٦،وصحیح ابن خزیمة: ۲۷٦٥،وهو حسن)-

Scanned with CamS

مسلک حنفی:- فاضل مصنف رحمه الله اگرچه امام ابوحنیفه رحمه الله ته د سعی د استحباب د قول نسبت کړې دې خو زمونږ د احنافو په ټولو مشهورو متونو کښې دې ته واجب وئیلی شوی دی او هم په دې باندې د احنافو عمل او فتوی صاحب هدایه فرمائی ثُمَّ السَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَاجِبٌ بیا سعی په مینځ د صفا او مروه کښې واجب ده. وَلَيْسَ بِرُكْنٍ اورکن نه دی.(تسهیل الهدایه شرح هدایه ۱۱ ۴۰۴)

حضرت انس رضي الله عنه،ابن عمر رضي الله عنه او حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه نه هم دا روایت دی.امام مالک رحمه الله نه عتبه کښې هم دا روایت دی دهغوی دلیل دا دی چه (فَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا) لیکن رومبې قول زیات راجح دی ځکه چه نبی کریم ﷺ په خپله د صفا مروه طواف اوکړو او وې فرمائیل چه د حج احکام زما نه زده کړئ.(۱) نو نبی کریم ﷺ چه په دې حج کښې څه کړی دی هغه واجب شو اود دې کول ضروری دی.که یوکار د څه خاص دلیل په وجه د وجوب نه بل طرف واوړی.نو دا بله خبره ده.والله اعلم.

ددې نه علاوه حدیث کښې راغلی دی چه الله ﷻ تاسو باندې سعی فرض کړه.غرض دلته بیانیږی چه د صفا مروه طواف هم د الله ﷻ شرعی احکاموځنی دې چه کوم حضرت ابراهیم علیه السلام ته د حج دپاره خودلې شوی وو.دا مخکښې بیان شو چه ددې اصل سبب دحضرت هاجره رضي الله عنها په مقام منډې وهل دی ځکه چه حضرت ابراهیم علیه السلام حضرت هاجره رضي الله عنها دلته ددې بچی سره پریښودې وه او دوی سره خوراک ختم شوې وو او بچی ته تکلیف وو.نو دې مور بی بی ډیر په بې قراری،بې بسئ،ویرې او پریشانئی سره ددې پاکو غرونو په مینځ کښې د الله ﷻ نه سوال اوکړو.تردې چه ددې غم او تکلیف او پریشانی ختمه شوه.

حاجی دپاره عاجزی پکار ده :- دلته طواف کوونکی حاجی ته هم پکار دی چه ډیر په عاجزئی او خشوع اوخضوع سره طواف اوکړی او خپله فقیری او عاجزی دالله ﷻ په مخکښې پیش کړی او دخپل زړه صلاحیت او دخپل حال هدایت اودخپلو ګناهونو بخشش اوغواړی.او نقائص او عیبونو نه دې پاکوالې اوغواړی اود نافرمانو نه د نفرت پیدا کولودپاره او دثابت قدمئی،نیکئ او فلاح و بهبود دپاره دې دعا اوکړی او الله ﷻ دې ته عرض اوکړی چه هغه پاک ذات ئې د ګناهونو او دخرابو نه او د تنګئ لار نه اوساتی اود کمال اوغفران او دنیکئ توفیق ورته ورکړی.لکه څنګه چه الله ﷻ د حضرت هاجره رضي الله عنها نه تکلیف لرې کړو.

قوله تعالی:-وَمَنْ تَطَوَّعَ خَيْرًا

نفلی عبادات کول:- بیا ارشاد کیږی چه کوم سړې په خپله خوښه په نیکئ کښې زیاتې اوکړی یعنی د اوړ چکرو په خائې اته چکرې اووهی یا نهه چکرې اووهی یا نفلی حج اوعمره کښې هم د صفا مروه طواف اوکړی اوبعضو داعام کړی دی یعنی په هره نیکئ کښې دې زیاتې اوکړی.والله اعلم.

قوله تعالی:- فَإِنَّ اللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ

الله قدردان دی:- بیا فرمائی چه الله ﷻ قدردان او علم والا دې یعنی په لږ کار باندې ثواب زیات ورکوی او د جزا صحیح مقدار ورته معلوم دې،نه هغه پاک ذات دده ثواب کښې کمې راولی او نه هغه پاک ذات د ذرې برابر ظلم کوی،خو دنیکئ ثواب زیات ورکوی او دخپل در نه ورته اجر عظیم ورکوی.فالحمدوالشکر لله.

اِنَّ	الَّذِيْنَ	يَكْتُمُوْنَ	مَآ	اَنْزَلْنَا
بیشکه	هغه کسان	چې پټوی	هغه	اچې نازل کړی دی مونږ
	هغه په هرځۀ پوهه دې	څوک چې	زمونږ نازل کړی	

(۱) صحيح مسلم كتاب الحج باب استحباب رمي جمرة العقبة: ۱۲۹۷)-

Scanned with CamScanner

مِنَ الْبَيِّنٰتِ	وَالْهُدٰى	مِنْۢ بَعْدِ	مَا	بَيَّنّٰهُ
دواضحه حکمونو	او هدایت نه	روستو	دهغې نه	چې بیان کړی دی مونږ

لِلنَّاسِ
خلقو ته

ښکاره آیتونه اودهدایت عمل پټوی| د دې نه پس چې مونږ دخلقو د(اخروی او دنیوی فائدې) دپاره

فِي الْكِتٰبِ	أُولٰٓئِكَ	يَلْعَنُهُمُ	اللّٰهُ	وَيَلْعَنُهُمُ
په کتاب کښې	دغه کسان چې دی	لعنت وائی په هغوئ باند	الله	او لعنت وائی په هغوئ باند

پخپل کتاب کښې په ښه شان سره واضح کړې دي انو په هغوئ باندې دالله لعنت وريږی| اواولعنت ويونکی

اللّٰعِنُوْنَ	اِلَّا الَّذِيْنَ	تَابُوْا	وَاَصْلَحُوْا	وَبَيَّنُوْا
لعنت ويونکی	مګرهغه کسان	چې توبه ئې اوويستله	اودعمل اصلاح ئې اوکړه	اوبیان ئې کړو حق

پرې لعنت وائی| خوځوک چې توبه اوباسی اوخپل عمل صحیح کړی اوکوم تعلیم چې مونږ ورکړې دې هغه بیان کړی

فَاُولٰٓئِكَ	اَتُوْبُ	عَلَيْهِمْ	وَاَنَا التَّوَّابُ
نو دغه کسان چې دی	زهٔ به رجوع اوکړم په رحمت سره	په هغوئ باندې	او زهٔ ډیر معاف کونکې

نوزه به د دغه کسانو توبه قبوله کړم (ځکه چه ټول زما بندګان دی زما چا سره ضد نشته) او زه توبه قبلونکې

الرَّحِيْمُ	اِنَّ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَمَاتُوْا	وَهُمْ
رحم کونکې یم	بیشکه	هغه کسان	چې دکفرعمل ئې اختیار کړو	اومړه شول	حال دا چې وو هغوئ

مهربان یم| (ولې) چاچې کفر اوکړو اوهم د کفر په حالت کښې مړه شول.....

كُفَّارٌ	أُولٰٓئِكَ	عَلَيْهِمْ	لَعْنَةُ اللّٰهِ	وَالْمَلٰٓئِكَةِ	وَالنَّاسِ
کافران	دغه کسان چې دی	دې په هغوئ باند	لعنت دالله	اودفرښتو	او دخلقو

اَجْمَعِيْنَ
تولو

په هغوئ باندې دالله پاک اودفرښتواوټولو بنی آدم لعنتونه وئیلی شی (ځکه چه دایمان ددولت نه محرومه شول)

خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	لَا يُخَفَّفُ	عَنْهُمُ	الْعَذَابُ
همیشه به وی	په دې لعنت کښې وی	نه به د دوئ په عذاب کښې څه سپکوالې کیږی	اونه به ورته مهلت ورکولې شی

وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ
همیشه به په لعنت کښې وی| نه به د دوئ په عذاب کښې څه سپکوالې کیږی اونه به ورته مهلت ورکولې شی

قوله تعالی:- اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى....

حق خبره پټونکی ملعون دی :دې آیتونوکښې دهغه خلقو دپاره یو زبردسته تنبیه اودهمکی ده چه کوم د الله ﷻ خبرې او شرعی مسائل پټوی.اهل کتابو د نبی ﷺ صفتونه پټول نو په هغې باندې دا نازل شو چه حق پټونکی ملعون خلق دی.(۱)ځنګه چه د هغه عالم دپاره چه کوم د رب العزت خبرې خوروی هر څیز استغفارکوی تردې چه داوبه مهیان اود هوا مارغان هم،داشان په هغه خلقو باندې هرڅیز لعنت وائی چه کومو ته دا معلوم دی چه دا حق خبره ده او بیاهم ګونګیان او کانړه جوړیږی.

---

۱) ابوداود کتاب العلم باب فی فضل العلم: ۳٦٤١،ترمذی: ۲۸۸۲،ابن ماجة: ۲۲۳)-

Scanned with CamSc

دحق پتونکی ته د اور واکې اوچول:- صحیح حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه دکوم یو سړی نه دیو شرعی خبرې باره کښې سوال اوکړې شواوهغه سړې دا خبره پټه کړه،د قیامت په ورځ به هغه ته د اورواګې اچولې شي.(۱) حضرت ابوهریره ؓ فرمائی که دا آیت نه وې نازل شوې نو ما به یو حدیث هم نه وې بیان کړې.(۲)

حضرت براء بن عازب ؓ فرمائی چه نبی کریم ﷺ سره مونږ په یو جنازه کښې وو،نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په قبر کښې کافر ستړ سره په تندی داسې وهلې کیږی چه ټول ځناور دا دهماکه آوری سوا د جن وانس نه،بیا هغوی ټول په ده باندې لعنت کوی.هم دا معنی ده چه په دوی باندې دالله ﷻ او ټولو لعنت کوونکولعنت دې یعنی دټولو ځناورو.حضرت عطار ؒ فرمائی چه د ﴿لاعنون﴾ نه مراد ټول ځناور او ټول جن وانس دی.حضرت مجاهد ؒ فرمائی چه کله خشک سالی شی اوباران نه کیږی نو ځناور وائی چه دا دبنی آدم د ګناهونو په وجه سره دې.الله ﷻ دې دبنی آدم په ګناهګارو باندې لعنت اوکړی.(۳) بعض مفسرین وائی چه ددې نه مراد فرښتې اومومنان خلق دی.حدیث کښې دی چه عالم دپاره هر څیز استغفار کوی تردې پورې چه د سمندر مهیان هم.(۴) په دې

آیت کښې دی چه علم پټوونکی باندې الله ﷻ لعنت وائی.او فرښتې او ټول خلق او ټول لعنت کونکی یعنی هر زباندار اوبې زبانه که په زبان سره اووائی او قرائنو سره اودقیامت په ورځ هم ټول څیزونه په ده باندې لعنت کوی.والله اعلم.

قوله تعالی:- اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَبَيَّنُوْا فَاُولٰٓئِكَ اَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۚ وَاَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ

توبه ویستونکی د لعنت نه بچ دی:- بیا ئې په دوی کښې هغه دخلقو استثناء اوکړه چه کوم ددې فعل نه منع شی اودخپلو عملونو پوره اصلاح اوکړی او چه څه ئې پټ کړی وی هغه ښکاره کړی نو د هغه خلقو توبه الله رب العزت قبلوی.ددې نه معلومه شوه چه کوم سړې کفر اوبدعت طرفته خلقو لره رابلونکې وی،هغه هم که په اخلاص سره توبه اوباسی نو دهغه توبه قبلیږی.

قوله تعالی:- اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ اُولٰٓئِكَ عَلَيْهِمْ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ

د کفر په حالت کښې مړه به همیشه لعنتی وی:- بعضو روایتونونه معلومیږی چه مخکښې امتونوکښې د داسې زبردستو بدکارانو توبه نه وه قبوله شوې لیکن د نبی التوبة او نبی الرحمة نبی کریم ﷺ امت سره دامهربانی مخصوص ده.دې نه پس دهغه خلقو بیان کیږی چه کفر اوکړی،توبه ئې نصیب نه شی او د کفر په حالت کښې مړه شی نو په هغوی باندې دالله ﷻ او ټولو فرښتو او دټولو خلقو لعنت دې.دا لعنت هغوی پورې انخلی او تر قیامته پورې به ورسره وی.اودوی به د دوزخ اور ته بوځی.اوپه عذاب کښې به هم همیشه وی.اونه به ددوی په عذاب کښې څه کمې کیږی او نه به تري موقوف کیږی بلکه همیشه به دوی په سخت نه سخت عذاب کښې وی.﴿نعوذباالله من عذاب الله﴾

حضرت ابوالعالیه ؒ او حضرت قتاده ؒ فرمائی چه دقیامت په ورځ به کافران منع کړې شی بیا به الله ﷻ په هغوی لعنت اوکړی اوبیابه فرښتې اوبیا ټول خلق. په کافرو باندې لعنت لیږلوکښې دهیڅا اختلاف نشته دې،حضرت عمر بن خطاب ؓ او ددوی نه پس ټول آئمه کرام ټول په ټولو به قنوت وغیره کښې په کافرو لعنت کولو،خو په یو معین کافر باندې په لعنت وئیلوکښې دعلماء کرامو یوه ډله وائی چه دا جائزنه دی ځکه چه دده دخاتمې هیڅاته علم نشته دې،او د آیت دا قید چه تر مرګه به دوی کافر

---

(۱) ابوداود کتاب العلم باب کراهیة العلم منع العلم: ۳۶۸۵،وهو حسن ترمذی: ۲۶۴۹،ابن ماجة: ۲۶۱)-

(۲) صحیح بخاری کتاب العلم باب حفظ العلم : ۱۱۸،صحیح مسلم : ۲۴۹۲)-

(۳) بن ابی حاتم: ۱۷۵/۱)-

(۴) ابوداود کتاب العلم باب فضل العلم : ۳۶۴۱،ترمذی: ۲۸۸۲،ابن ماجة فی المقدمة : ۲۲۳)-

Scanned with CamSc

وی دلیل دي په یو معین کافر باندي دلعنت نه لیږلو.او دویمه ډله ددي د جواز هم قائله ده لکه فقیه ابوبکر عربی مالکی رحمه الله.لیکن ددوی دلیل یو ضعیف حدیث دي،بعضو ددي حدیث نه هم دلیل راویستي دي چه نبی کریم ﷺ لره یو سړي بیابیا دنشي په حالت کښي راوستلي شو او په هغه باندي بیابیا حد جاری کړي شو نویو سړی اوونیل چه په ده باندي دي الله ﷻ لعنت وی بیا بیا شراب څخی په دي آوریدو سره نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په ده لعنت مه وایه.دي الله ﷻ او دهغه رسول ﷺ لره دوستان شمیری.([1])ددي نه ثابته شوه چه کوم سړي الله ورسول ﷺ سره دوستی نه کوی نو په هغه لعنت لیږل جائز دی.والله اعلم.

وَاِلٰهُكُمْ	اِلٰهٌ	وَّاحِدٌ ۚ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ	الرَّحِيْمُ ۝	
اومعبود ستاسو	بس) معبود	یو دي	نشته بل معبود	مګر هم هغه رحمن	او رحیم دي	
(یادساتی) چي ستاسو الله بس یوالله دي	دهغه نه سوابل څوک دعبادت لائق نشته	هغه رحم کونکي اومهربان دي				

قوله تعالی:-وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ

معبود برحق :-یعنی الوهیت کښي هغه خانله دي،دهغه هیڅوک شریك نشته دي اونه دهغه په شان څوك شته دي.هغه پاك ذات واحد اواحددي.او یودي او صمد دي،دهغه نه سوا دعبادت لائق بل څوك نشته دي،هغه رحمن او رحیم دي.دسورة فاتحه په شروع کښي ددي دواړو نومونوتفسیر تیر شوي دي. نبی کریم ﷺ فرمائی چه اسم اعظم په دي دواړوکښي دي.یو دا آیت او بل آیت ﴿الٓمّٓ ۝ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۝﴾ ([2]) دي نه پس دهغه پاك ذات د توحید دلائل بیانیږی،هغه هم توجه سره واورئی ،فرمائی :

اِنَّ	فِيْ خَلْقِ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاخْتِلَافِ	الَّيْلِ	وَالنَّهَارِ
بیشکه	په پیدا کولو	دآسمانونو	او دزمکي کښي	او په اختلاف	دشپي	اودورځي کښي
(ددي خبري دلیل دادي)چي دآسمانونواودزمکي په پیداکولو کښي اودشپي اود ورځي په پرله پسي تګ راتګ کښي						
وَالْفُلْكِ	الَّتِيْ	تَجْرِيْ	فِي الْبَحْرِ	بِمَا	يَنْفَعُ	النَّاسَ
اوپه کشتئ کښي	هغه کشتئ	چي روانې وی	په دریاب کښي	سره دهغه څیز	چي فائده رسوی	خلقو ته
اوپه هغه بیړو(کشتو) کښي چي په دریابونو کښي دخلقودفائدي سامانونه اوړی راوړی						
وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ	مِنَ السَّمَآءِ	مِنْ مَّآءٍ	فَاَحْيَا	بِهِ	الْاَرْضَ بَعْدَ	
او په هغه څه کښي	چي نازلوی ئی الله	د اسمان نه	یعنی اوبه	نو ژوندئ کوی	په هغي اوبو سره	زمکه
اوپه هغي اوبو کښي چي الله پاك ئي دپورته نه راوروی	اومړه(اوچه) زمکه پرې ژوندئ(آباده)کوی					
مَوْتِهَا	وَبَثَّ	فِيْهَا	مِنْ كُلِّ	دَآبَّةٍ ص	وَّتَصْرِيْفِ	الرِّيٰحِ
دمرګ دهغي نه	اوخوروی	په هغي کښي	هر قسم	دسا مخلوق	او په چلن	دهواګانو کښي
اوددي انتظام په وجه) دزمکي په مخ ټول زنده سر خوروی	او دسیلو(بادونو) په چلولو کښي اوپه هغه وریځو کښي					

[1]) صحیح بخاری : کتاب الحدود،باب مایکره من لعن شارب الخمر: ٦٧٨٠)-

[2]) ابوداود کتاب الصلاة (اب،اب الوتر) باب الدعاء : ١٤٩٦،وسنده حسن ترمذی : ٣٤٧٨،ابن ماجة: ٣٨٥٥)-

Scanned with CamSc

وَالسَّحَابِ	الْمُسَخَّرِ	بَيْنَ	السَّمَآءِ	وَالْاَرْضِ	لَاٰيٰتٍ
او په وريخ |	فرمان منونکي کښې |	په مينځ |	دآسمان |	و دزمکي کښې |	خامخا نښې دی
چې دزمې اوآسمان په مينځ کښې زورندې ولاړې دی په دې ټولو کښې د هغه خلقو دپاره (د الله ﷻ د					
لِّقَوْمٍ	يَّعْقِلُوْنَ ۝				
دپاره دهغه قوم | چې دعقل نه کار اخلی |					
وحدانيت) نښې دی چه عقل لری | (					

قوله تعالی:-اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

د زمکې اواسمان په تخليق کښې دلائل وحدانيت:- مطلب دا دی چه دهغه لوئې رب په ربوبيت او توحيد باندې خو يو دليل خودا آسمان دی.چه دهغه (آسمان) اوچتوالی،لطافت او فراخوالی او په هغې کښې اوسيدونکی اوتلونکی او روښانه ستوری تاسو وينئ.بيا دزمکې پيدائش چه دا يوکثيف څيز دی چه ستاسو د قدمونولاندې خوره شوې ده په دې کښې اوچتواوچتو څوکو والا غرونه دی،اوبه دې کښې چپې وهونکی سمندرونه دی.په دې ډير قسمه ونې بوټی دی په دې کښې رنګ په رنګ پيداوار کيږی .چه په هغې باندې تاسواوسيږئ اودخپلې مرضئ مطابق په دې باندې آرام اومکان جوړوئ او اوسيږئ.او ددې نه ډيرې فائدې اوچتوئ.

قوله تعالی:-وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ

د شپې او ورځې په اختلاف کښې عبرت:- بيا د ورځې شپې راتلل،شپه لاړه ورځ راغله،ورځ لاړه شپه راغله، نه هغه (ورځ) په دې (شپه)باندې سبقت کوی اونه دا (شپه) په (ورځ) باندې سبقت کوی.هر يو په خپله صحيح اندازې سره راځی او ځی.کله ورځې اوږدې او کله شپې اوږدې،کله د ورځې څه حصه شپه کښې لاړه شی اوکله دشپې څه حصه ورځ کښې راشی،

قوله تعالی:-وَالْفُلْكِ الَّتِیْ تَجْرِیْ فِی الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ

د کشتو فوائد:- اوبيا کشتئ اوګورئ چه پخپله تاسو او ستاسو مال هال او تجارتی څيزونو لره اوړی او په سمندرکښې يو طرفنه بل طرفته ځی.چه ددې په ذريعه مختلفو ملکونو سره رابطه او لين دين کولې شئ.دهغه ځانې څيزونه دې طرفته او ددې طرف څيزونه هغه طرفته رسيدې شی.

وَمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا.....

دالله د وحدانيت نور کنړ دلائل:-بيا دالله ﷻ په خپل رحمت کامله سره باران ورول اودې سره مړه زمکه ژوندۍ کول،دې نه غله اومیوې پيداکول،روزی رسول،ددوی دپاره د ځملاستلو،څريدلو ځايونه تيارول،هواګانو لره چلول،کله يخې اوکله ګرمې،کله کمې اوکله زياتې،وريخې دزمکې اوآسمان تر مينځه مسخر کول،هغه يو طرفنه بل طرفته بوتلل،د ضرروت په ځائې باران ورول وغيره دا ټول دالله ﷻ دقدرت نښې دی چه ددې نه عقل مند د خپل الله ﷻ وجود او د هغه وحدانيت معلوموی.

لکه څنګه چه بل ځائې کښې ارشاددې چه د زمکې اوآسمان پيدا کولواوشپې اوورځې په تلو راتلو کښې د عقلمندو دپاره نښې دی.چه هغه (خلق) په ناسته ولاړه يعنی هر وخت کښې د الله ﷻ نوم اخلی اود زمکې او آسمانونوپه پيدا کولوکښې غوروفکر کوی او وائی چه ائې زمونږ ربه تا دا بيکاره نه دی جوړ کړی،ستا ذات پاک دې ته مونږ د جنهم د اور نه اوساتې.

دايت شان نزول:-حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی چه قريش رسول الله ﷺ لره راغلل او وې وئيل چه تاسودالله ﷻ نه دعا اوکړئی چه هغه صفا غر د سرو کړی.مونږ دې سره آسونه او وسله وغيره اخلو او

Scanned with CamS

ستاسره ملگرتیا اوکړو او ایمان هم راوړو.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه داپخه وعده کوئی ؟هغوی اووئیل چه آو پخه وعده ده.نبی کریم ﷺ دالله ﷻ نه دعا اوکړه،حضرت جبریل ﷺ تشریف راوړو او وې فرمائیل چه ستادعا قبوله ده خوکه دې خلقو بیاهم ایمان راونړو نوپه دوی باندې به دالله ﷻ هغه عذاب راځی چه ددوی نه مخکښې په نورو خلقو باندې نه ووراغلې.نبی کریم ﷺ په رپیدو شو او عرض ئې اوکړو انې الله ﷻ ! ته دوی هم داسې پریږده څه به دوی ستا طرفته راوبلم.څه خبر نن نه سبا او سبا نه نوبله ورځ به دوی کښې څوک نه څوک ستا طرفته راشی.په دې باندې دا آیت نازل شو که دوی د قدرت نښې کتل غواړی نو آیا دا نښې کمې دی څه ؟

یو بل شان نزول هم مروی دې چه کله آیت ﴿ وَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ....الخ ﴾ نازل شو نومشرکانو اووئیل چه یو الله ﷻ به دټول جهان بندوبست څنګه کوی نو دا آیت نازل شو چه هغه پاک ذات دومره قدرتونو والا دې. بعضو روایتونو کښې دی چه کله ئې دیو الله ﷻ واوریدل نو دلیل ئې اوغوښتلو نو په دې باندې دا آیت نازل شو او په دوی باندې د قدرت نښې ښکاره کړې شوې.

وَمِنَ النَّاسِ	مَنْ	يَّتَّخِذُ	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ			
دخلقو نه څینی	هغه دی	چې نیسی	په مقابله دالله کښې			
(خوسره ددې) بعضې خلق دالله نه سوا.....						
اَنْدَادًا	يُّحِبُّوْنَهُمْ	كَحُبِّ	اللّٰهِ ؕ	وَالَّذِيْنَ		
شریکان	چې مینه کوی دهغوئ سره	لکه څنګه چې مینه پکاروه	دالله سره	حالانکه هغه کسان		
نورځیزون	هغه سره	په برابرئ نیسی	او دومره مینه	ورسره ساتی څنګه چې د الله سره پکار ده	اودچا په	
اٰمَنُوْٓا	اَشَدُّ	حُبًّا	لِّلّٰهِ ؕ	وَلَوْ	يَرَى	
چې ایمان ئې راوړې دې	زیات سخت دی	په مینه کولو کښې	دالله سر	اوچرته	اولیدلی	
په زړونو کښې چې ایمان وی هغوئ ته الله پاک د هرچانه زیات خوښ دې	افسوس چه هغوی اوس لیدلی					
الَّذِيْنَ	ظَلَمُوْٓا	اِذْ	يَرَوْنَ	الْعَذَابَ ۙ	اَنَّ	الْقُوَّةَ	لِلّٰهِ
هغه کسانو	چې ظلم ئې کړې دی	څه وخت	چې به وینی	عذاب	چې بیشکه	طاقت	الله لره دی
(کوم چې به دوئ په ښه شان وینی) څه وخت چې عذاب اووینی (نودا به اووائی) چې هر قسم ټول طاقت د الله							
جَمِيْعًا ۙ	وَّاَنَّ	اللّٰهَ	شَدِيْدُ	الْعَذَابِ ۝	اِذْ	تَبَرَّاَ	الَّذِيْنَ
ټول	اوبیشکه چې	الله	ډیرسخت دی	په عذاب ورکولو کښې	کله چې	بیزارشی	هغه کسان
دی	اوهغه په عذاب ورکولو کښې ډیر زیات سخت دی	څه وخت چې دوئ عذاب اووینی	نود چا				
اتُّبِعُوْا	مِنَ الَّذِيْنَ	اتَّبَعُوْا	وَرَاَوُا الْعَذَابَ	وَتَقَطَّعَتْ		
چې تابعداری نې شوی ده	دهغه کسانونه	چې تابعداری نې کړې ده	اووینی	عذاب	او ختم به شی	
تابعداری چه شوې وه	هغوئ به دخپلوتابعدارو (مریدانو) نه بیزاره شی	او ددوئ (ترمینځ) به د خپلولئ ټولې سلسلې				
بِهِمُ الْاَسْبَابُ ۝	وَقَالَ الَّذِيْنَ	اتَّبَعُوْا	لَوْ اَنَّ لَنَا	كَرَّةً		
دهغوئ اسباب	اواوبه وائی هغه کسان	چې تابعداری نې کړې ده	کاش چې وې مونږ لره	یو خل تلل بیادنیا ته		
ختمې شی	او چا چې (په دنیا کښې) تابعداری کړې وه	هغوئ به وائی کاش که مونږ ته دواپس تلوبوه موقع راکړې شوې				

Scanned with CamSc

فَنَتَبَرَّاَ	مِنْهُمْ	كَمَا	تَبَرَّءُوْا	مِنَّا ؕ	كَذٰلِكَ	يُرِيْهِمُ
نو زمونږ به بیزاره شو	ددوئ نه	لکه څنګه چې	بیزاره شودوی	زمونږ نه	هم دارنګې به	ښکاره کوی دوئ ته
نومونږ به هم ترینه بیزاره شو	(نن) چې دوئ زمونږ نه څنګه بیزاره شو	دغسې به الله ﷻ دوی ته د دوی				

اللّٰهُ	اَعْمَالَهُمْ	حَسَرٰتٍ	عَلَيْهِمْ ؕ	وَمَا هُمْ	بِخٰرِجِيْنَ	مِنَ النَّارِ ۧ
الله	عملونه ددوئ	سبب د افسوسونو	په هغوئ باندې	اونۀ به وی دوئ	وتونکی	دااور نه
بد عملونه دحسرت اودپښیمانئ سبب جوړ کړی			اوپه هیڅ صورت کښې به داور نه وتلې نشی			

قوله تعالی:-وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّتَّخِذُ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَنْدَادًا يُّحِبُّوْنَهُمْ كَحُبِّ اللّٰهِ ؕ

د الله ﷻ پشان محبت نورو سره ؟ :- په دې آیت کښې د مشرکانو د دنیاوی او اُخروی حال بیان دې.دوی الله ﷻ سره شریك جوړوی.او دهغه پاك ذات په شان نورګڼی.او بیا د هغوی محبت په خپلو زړونو کښې داسې کینوی چه څنګه دالله ﷻ پکار دی.حالانکه هغه معبود برحق صرف یو دې،هغه دشریك او ملګری نه پاك دې.

بخاری اومسلم کښې دابن مسعود ﷺ نه روایت دې فرمائی چه ما تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! د ټولو نه خرابه ګناه کومه یوه ده ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د الله ﷻ سره شریك جوړول حالانکه هغه ذات دې پیدا کړې هم دې.(۱)

قوله تعالی:-وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَشَدُّ حُبًّا لِّلّٰهِ ؕ

مومنان د الله په محبت کښې زیات دی:- بیائې اوفرمائیل چه ایماندار د الله ﷻ په محبت کښې ډیر سخت وی،دهغوی زړونه دالله ﷻ دعظمت نه ډک وی،هغوی دالله ﷻ نه سوا نورو سره د الله په شان محبت نه کوی او نه بل چا طرفته د الله پشان التجا کوی اونه دې نورو طرفته مائل کیږی او نه هغه پاك ذات سره بل څوك شریك کوی.بیا هغه مشرکانو ته د عذاب خبر ورکوی چه په خپلو خانونو باندې دشرك په وجه ظلم کوی،اودې خلقو ته دعذابونو خبر ورکوی اوکه چرې دوئ عذاب لیدلې وې نو دوئ به یقین کړې ووچه قدرتونو والاصرف الله دې،ټول څیزونه دهغه ماتحت اودهغه پاك ذات د حکم لاندې دی،اودهغه پاك ذات عذابونه هم ډیر لوئې لوئې دی.لکه څنګه چه بل ځائې کښې ارشاد فرمائی چه په هغه ورځ به نه دهغه دعذاب په شان څوك عذاب ورکولې شی اونه د هغه د رانیولو په شان څوك رانیول کولې شی،دویم مطلب داهم دې که چرې دوئ ته ددې منظر علم وې نو دوی به په خپل شرك او کفر کلک نه وې ولاړ.

قوله تعالی:-اِذْ تَبَرَّاَ الَّذِيْنَ اتُّبِعُوْا مِنَ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْا وَرَاَوُا الْعَذَابَ

د قیامت په ورځ د معبودانو د عابدانو نه بیزاری:- چه کوم کوم خلقو خپل خپل پیشوایان جوړکړی وو په هغه ورځ به هغوی ټول ددوی نه بیل بیل شی،فرښتې به اووائی چه ائې الله ﷻ ! مونږ ددوی نه بیزاریو دوی به زمونږ عبادت نه کولو.ائې الله ﷻ ! ته پاك ذات ئې،هم ته زمونږ ولی ئې،دې خلقو خو به دجناتو عبادت کولو،اوهم په هغوی به ئې ایمان لرلو.داشان به جنات هم دهغوی نه د بیزارئی اعلان کوی او صفا صفا به دهغوی دښمنانان شی.اودعبادت نه به ئې انکار اوکړی.بل ځائې کښې ارشاد دې ﴿ كَلَّا ؕ سَيَكْفُرُوْنَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ۝﴾ چه کومو خلقو عبادت کولو،هغوی به ټول په ټوله دقیامت په ورځ ددوی د عبادت نه انکار کوی اودهغوی دښمنانان به جوړ شی.دحضرت ابراهیم ﷺ فرمان دې چه ﴿ اِنَّمَا

---

(۱) صحیح بخاری : کتاب التوحید باب قول الله تعالی (فلا تجعلو لله اندادا) : ۷۵۲۰،صحیح : ۲۵۷)-

اتَّخَذَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ أَوْثَانًا ﴾ تاسو دالله ﷻ نه سوا دبتانو محبت په زړه کښې اچولې دې او د هغې عبادت مو شروع کړې دې.دقیامت په ورځ به هغوی ټول ستاسودعبادت نه انکار کوی اوپه خپلو کښې به په یوبل لعنت وائی اوستاسو استوګنه به جهنم وی اوستاسوبه هیڅوک مددګار نه وی.داشان بل ځائې کښې فرمائی چه﴿وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ ﴾یعنی داظالمان به دالله ﷻ مخکښې ولاړ وی او خپلو پیشوایانو ته به وائی که چرې تاسو نه وې نومونږ به ایماندار جوړشوی وو.هغوی به اووائی چه ستاسو د شرک تعلیم مونږ راګیر کړو.اوس به ټول په زړه کښې پښیمانه وی او د هغوی په څټونو کښې به دهغوی دعملونو طوقونه وی.اوپه بل ځائې کښې دی چه په هغه ورځ به شیطان هم وائی چه ﴿إِنَّ اللّٰهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ الْحَقِّ وَوَعَدْتُكُمْ ﴾یعنی الله ﷻ تاسو سره حقه وعده کړې وه او ما چه تاسو ته کوم شنه باغونه خودلی وو هغه محض دهوکه وه.په تاسو باندې خو زما هیڅ زور نه وو.البته دومره وه چې ماتاسوته وئیل اوکړو اوتاسوقبول کړه اوس په ماباندې ملامتیا مه وایې په خپلو ځانونو باندې لعنت او ملامته وایی نه څه ستاسو مدد کولې شم اونه تاسو زما مدد کولې شئ.څه ستاسو د شوی شرک نه انکاری کوم.او په دې پوهه شئ چه د ظالمانو دپاره یو دردناك عذاب دې.

قوله تعالی:- وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ

بیابه هغوی عذاب اوګوری اوټول اسباب به منقطع شی،نه به څوك د تښتیدو په ځائې کښې وی اونه به څوك خلاصیدې شی،دوستئ په ختمې شی او رشتې به ماتې شی.

قوله تعالی:- وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا

دنیا ته د دوباره تلو ارمان:- بلادلیله خبرې منلو والا اوبې وجه اعتقاد لرلو والا او سجدې کولو والا او اطاعت کولو والا چه کله خپل پیشوایان داشان بری الذمه اووینی اواو ګوری نو ډیر په حسرت سره به اووائی که اوس مونږته یو ځل دنیا ته دواپس کیدو موقع ملاؤ شی نومونږ به هم ددوی نه داشان بیزاره شو لکه څنګه چه دوی زمونږ نه شوی وو.نه به دوی طرفته توجه کوؤ اونه به ددوی خبره منو،اونه به دوی الله ﷻ سره شریك ګنړو،بلکه د یوالله ﷻ خالص عبادت به کوؤ.که دوی واپس هم شی نوهغه به کوی چه کوم نې ددې نه مخکښې کړی وو لکه فرمائی چه ﴿وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ﴾ ددې وجې دلته فرمائی چه ددوی کرتوت به الله ﷻ داشان ښائی چه په هغې به دوی حسرت او افسوس کوی یعنی نیك اعمال چه کوم وو هغه هم ضائع شو لکه بل ځائې کښې دی چه ﴿وَقَدِمْنَا إِلَىٰ مَا عَمِلُوا﴾ او بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ أَعْمَالُهُمْ كَرَمَادٍ﴾ او بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿ أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ﴾ یعنی د دوی عملونه برباد دی،ددوی دعملونو مثال دهغه ایرې په شان دې چه تیزې هواګانې هغې والوزوی،ددوی عملونه د شګې په شان دی چه دلرې نه اوبه ښکاری خو کله چه نزدې ورشی نو شګه وی .بیا فرمائی چه دا خلق داوور نه وتلووالا نه دی.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ	كُلُوا	مِمَّا	فِي الْأَرْضِ	حَلَالًا	طَيِّبًا
اے خلقو!	خورئ	دهغه څیزونو نه	چې په زمکه کښې دی	حلال	پاك
اې خلقو! دزمکې په سر چې کوم حلال اوپاکیزه څیزونه موجود دی د هغې نه خوراک څکاک کوئ					
وَلَا تَتَّبِعُوا	خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ		إِنَّهُ لَكُمْ	عَدُوٌّ	مُبِينٌ
اوتابعداری مه کوئ یعنی مه خئ	اپه قدمونو دشیطان پسې		بیشکه هغه ستاسو	دشمن	ښکاره دې
اودشیطان په جوړه کړې لارې پسې مه خئ	.....		هغه خوستاسوښکاره	دشمن	دې

Scanned with CamSc

اِنَّمَا	يَأْمُرُكُمْ	بِالسُّوْٓءِ	وَالْفَحْشَآءِ	وَاَنْ	تَقُوْلُوْا

بيشكه | هغه حكم كوى تاسو ته |په بدئ سره | او دبې حيايئ په كارونو سره | او دا چې | اووايئ تاسو
هغه خوبه تاسوته د بدو او قبيح كارونوحكم كوى| اودابه درته وانى په الله ﷻ پورې داسې دروغ خبرې

عَلَى اللّٰهِ	مَا	لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۶۹﴾	

د الله په باره كښې	هغه خبرى	چې نه دى معلومې تاسو ته
اوترئ چې دهغې تاسو ته پخپله هم نشته

قوله تعالى:- يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ كُلُوْا مِمَّا فِى الْاَرْضِ حَلٰلًا طَيِّبًا

حلال رزق خورئى :مخكښې چونكه د توحيد بيان شوې وو ددې وجې دلته دابيان كيږى چه د ټول مخلوق رازق هم هغه پاك ذات دې.فرمائى چه زما دا احسان هم مه هيروئى چه تاسو دپاره مې حلال څيزونه پاك كړل او هغه تاسو ته خوښ او لذيذ دى.او هغه نه بدن ته تكليف رسوى او نه صحت ته او نه عقل ته.څه تاسو لره منع كوم چه تاسودشيطان په لار مه ځئ.لكه څنګه چه نور خلق په دې لار روان شو او حلال څيزونه ئې په خپل ځان حرام كړل.

تحريم د حلالو د شيطان لمسه ده:- صحيح مسلم كښې دى چه نبى كريم ﷺ فرمائى چه پروردګار عالم فرمائى چه ماكوم مال خپلوبندګانوته وركړې دې هغه مې دهغوى دپاره حلال كړى دى.ما خپلو بندګان موحدين پيدا كړل مګر شيطان هغوى د دين حنيف نه واړول او زما حلال څيزونه ئې په هغوى باندې حرام كړل.(۱)

د سعدبن ابى وقاص ؓ دعا قبليدل:- د نبى كريم ﷺ په وړاندې چه كوم وخت ددې آيت تلاوت اوشو نو حضرت سعدبن ابى وقاص ؓ اودريدو او وې فرمائيل چه يارسول الله ﷺ ما دپاره دعا اوكړئى چه الله ﷻ زما دعاګانې قبلوى.نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه ائې سعد ؓ اپاك څيزونه او حلاله لقمه خوره الله ﷻ به ستادعاګانې قبلوى،قسم دې په هغه پاك ذات چه دهغه په لاس كښې د محمدروح ځان دې حرامه لقمه چه انسان په خپله خيته كښې اچوى ددې په وجه دد ه څلويښت ورځې عبادت نه قبليږى .چه د چا پرورش په حرامو اوشو هغه جهنمى دې.(۲)

قوله تعالى:- وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ

شيطان د انسان دشمن دې:- بيائې اوفرمائيل چه شيطان ستاسو ښكاره دښمن دې لكه څنګه چه بل ځائې كښې فرمائى چه شيطان ستاسو دښمن دې،تاسو هغه خپل دښمن اوګنړئى اوددې د ډلې خو دا خواهش دې چه خلق عذاب طرفته راولى.يو ځائې كښې فرمائى چه ﴿ اَفَتَتَّخِذُوْنَهٗ وَذُرِّيَّتَهٗٓ اَوْلِيَاۗءَ ﴾ آيا تاسو شيطان او دهغه اولادخپل دوستان جوړوئى حالانكه حقيقت كښى هغه ستاسو دښمن دې ،د ظالمانو دپاره خرابه بدله ده.

دخطوات الشيطان نه مراد:- خطوات الشيطان نه څه مراددې؟د﴿خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ﴾نه مراددالله ﷻ هره نافرمانى ده (۳)چه په كوم كښې د شيطان غلول وى.امام شعبى رحمه الله فرمائى چه يو سړى د نذر منخته اوكړه چه هغه به خپل هلك ذبح كوى.

---

(۱) صحيح مسلم،كتاب باب الصفا التى يعرف بها فى الدنيا:....۲۸۶۵)-
(۲) الطبرانى فى الاوسط : ۶۴۹۱،وابن مردويه،)-
(۳) ابن ابى حاتم : ۱ /۲۲۱)-

Scanned with CamScanner

د مسروق واقعه:-دحضرت مسروق رحمه الله په علم کښې چه کله دا واقعه راغله نو دوی فتوی ورکړه هغه سړي دې ګډ ذبح کړی دا نذر د هلك ذبح کول د خطوات الشیطان نه دی.

د حلال څیز حرامول یوه بله واقعه:-ابن مسعود رضی الله عنه یو ورځ د چیلۍ په ښکر باندې مالګه اچولې وه او خوړلوئې.یو سړي چه دوی سره ناست وو پاسیدو اولړي کیښناستو.دوی اوفرمائیل چه اوخوره هغه اووئیل چه نه څه ئې نه خورم.دوی ترښه تپوس اوکړو چه ستاروژه ده څه.هغه اووئیل چه نه بلکه داما په خان حرام کړی دی.دوی اوفرمائیل چه دا دشیطان په لار تګ دې.دخپل قسم کفاره ورکړه او دا اوخوره.

د طلاق یوه مسئله:- ابو رافع رضی الله عنه فرمائی چه یو ورځ څه د خپلې ښځې نه خفه شوم نو هغې اووئیل خه یو ورځ یهودنړه یم او یو ورځ نصرانیه او زما ټول غلامان آزاد دی که ته خپلې ښځې ته طلاق ورنکړې.نو څه حضرت ابن عمر رضی الله عنه ته ددې مسئلې د پوښتلو دپاره راغلم چه په دې صورت کښې څه اوکړم ؟ نو هغوی اوفرمائیل چه دا د شیطان په قدمونو تګ دې،بیا څه زینب بنت سلمه رضی الله عنها لره ورغلم او په هغه وخت کښې په مدینه منوره کښې د هغې نه زیات څوك فقیه ښځه نه وه.مادهغې نه هم ددې مسئلې تپوس اوکړو.ددې ځائې نه هم دا جواب ملاؤ شو.عاصم رضی الله عنه او ابن عمر رضی الله عنه هم دا فتوی ورکړه.دحضرت ابن عباس رضی الله عنه فتوی ده چه کوم قسم د غصې په حالت کښې اوخوړلې شی او چه کوم نذر په داسې حالت کښې اومنلې شې هغه دشیطان قدم تابعداری ده.ددې کفاره دې دقسم د کفارې برابر ورکړی.

قوله تعالی:-اِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوْٓءِ وَالْفَحْشَآءِ

شیطان د ګناه حکم کوی:- بیا فرمائی چه شیطان تاسو ته د خرابو کارونو اوددې نه هم زیاته زناکاری او ددې نه زیات په الله رضی الله عنه باندې د هغه خبرو د جوړښت وائی چه د هغې علم تاسو ته نشته دې.هر کافر او بدعتی په دې کښې داخل دې چه هغه د بدئی حکم کوی او بدئی طرفته رابلل کوی.

وَاِذَا	قِيْلَ	لَهُمُ			
او کله چې	اووئیلې شی	دوئ ته			
اوکله چې دوئ ته اووئیلې شی					
اتَّبِعُوْا	مَآ	اَنْزَلَ اللّٰهُ	قَالُوْا	بَلْ نَتَّبِعُ	
چې تابعداری اوکړئ	دهغه حکمونو چې نازل کړی دی الله	نو وائی دوئ	بلکه مونږ تابعداری کوؤ		
چې کوم حکمونه الله پاک نازل کړی دی په هغې روان شئ	نو وائی نه بلکه مونږ خو د هغه لارو (اوطریقو)				
مَآ	اَلْفَيْنَا	عَلَيْهِ	اٰبَآءَنَا ؕ	اَوَلَوْ كَانَ	اٰبَآؤُهُمْ
دهغه طریقو	چې موندلی دی مونږ	په هغې باندې	پلاران خپل	اګر که وی	پلاران ددوئ
تابعداری کوی په کومو چه مونږ خپل پلرونه اونیکونه موندلی دی	اګر که ددوئ پلار نیکه				
لَا يَعْقِلُوْنَ	شَيْـًٔا	وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ۝	وَمَثَلُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
چې نه پوهیږی	په هیڅ څیز	اونه ئې نیعه لاره موندلی وی	او مثال	دهغه کسانو	چې کافران دی
په هیڅ څیز نه پوهیدل اوسمه لار ئې موندلې نه وی	خوبیا به هم د هغوی تابعداری کوی	ددې کافرانو مثال			

كَمَثَلِ	الَّذِيْ	يَنْعِقُ	بِمَا	لَا يَسْمَعُ	اِلَّا	دُعَآءً وَّنِدَآءً ؕ	
پشان دمثال	دهغه سړی دي	چې آواز کوی	هغه څناورته	چې هیڅ نۀ اوری	مګر	بلنه	اواواز
داسې دي لکه شپونکي	چې څاوری	ته	آواز کوی	اوهغه سوا دبلنې اواواز نه بل هیڅ نۀ اوری			

صُمٌّۢ	بُكْمٌ	عُمْيٌ	فَهُمْ	لَا يَعْقِلُوْنَ ۝
کانړه دی	ګونګیان دی	ړاندی دی	نودوئ	نۀ پوهیږی په خبره
(دوئ د حق نه) کانړه دی، او (د حق وینانه) ګونګیان دی (او د حق لیدلونه) ړانده دی نودوئ په هیڅ نه پوهیږی				

قوله تعالی:- وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ.....

ګمراهی او جهالت: یعنی دې کافرانو او مشرکانو ته وئیلې کیږی چه کتاب الله اوسنت رسول ﷺ باندې تګ کوئی اوخپل ضلالت اوجهالت پریږدئی، نو وائی چه مونږ خو دخپل مشرانو په لارروان یوچه د کوموڅیزونو هغوی عبادت کولو مونږ کوؤ او بیابه نې هم کوؤ. نوددې په جواب کښې قران پاك وائی چه هغوی خو دفهم اوهدایت نه غافل وو. دا آیت دیهودیانو باره کښې نازل شوې دې.

قوله تعالی:- وَمَثَلُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا كَمَثَلِ الَّذِيْ يَنْعِقُ بِمَا لَا يَسْمَعُ اِلَّا دُعَآءً وَّنِدَآءً ؕ.....

د مشرکانو مثال: بیا ددوی مثال ورکوی چه څنګه څریدونکی څناور د خپل شپونکی یو خبره باندې صحیح نشی پوهیدې، صرف د هغه آواز نې غوږونوته رسی او د خبرې د ښه والی او بدوالی نه بې خبره وی. داشان دا خلق هم دی دامطلب هم کیدیشی چه دوی د الله ﷻ نه سوا د چا چا عبادت کوی اود هغوی نه خپل حاجتونه او مرادونه غواړی، هغوی نه آوری او نه په دې پوهیږی اونه نې کتلی دی. نه په دوی کښې ژوند یعنی ساه شته دې اونه دوی ته څه احساس کیږی. دکافرو دا ډله دحق خبرې آوریدو نه کانړه دی، د حق وینا نه ګونګیان او په تیاره کښې دی، په حق نشی تلې ړانده دی. د عقل اوپوهې نه لرې دی لکه بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿صُمٌّۢ بُكْمٌ فِي الظُّلُمٰتِ ؕ﴾ یعنی ځمونږ دخبرویه دروغه ګنړلو والا کانړه اوګونګیان دی. چه الله څوک غواړی نو ګمراه کوی نې او چه څوک غواړی نو په نیغه لار نې راولی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا							
اے هغه کسانو چې ایمان مو راوړې دی							
اې ایمانداروا							
كُلُوْا	مِنْ طَيِّبٰتِ	مَا رَزَقْنٰكُمْ	وَاشْكُرُوْا	لِلّٰهِ	اِنْ كُنْتُمْ		
خورئ	پاك هغه څیزونه	چې درکړی دی مونږ تاسو ته	او شکر اوباسئ	دالله	که چرې یئ تاسو		
زمونږ درکړې پاکیزه (حلاله) روزی خورئ	اودالله شکر اوباسئ که تاسو په ربښتیا صرف د الله ﷻ						
اِيَّاهُ	تَعْبُدُوْنَ ۝	اِنَّمَا	حَرَّمَ	عَلَيْكُمُ	الْمَيْتَةَ	وَالدَّمَ	
چې خاص هغه لره	عبادت کوئ	بیشکه	حرام کړل الله	په تاسو باندې	مرداره	اووینه	
عبادت کوئ	بیشکه الله په تاسوباندې مرداره (چه په بغیر د ذبحې نه مړه شوې وی) او (بهیدلې) وینه						
وَلَحْمَ	الْخِنْزِيْرِ	وَمَآ	اُهِلَّ	بِهٖ	لِغَيْرِ اللّٰهِ ۚ		
اوغوښه	دخنزیر	او هرهغه څیز	چې نوم اغستلې شوې وی	په هغې باندې	سوا دالله		
دخنزیر غوښه اوداسې مذبوحه چې دالله نه بغیر د بل چانوم پرې (د ذبحې په وخت) وئیلې شوې وی حرام کړی دی							

Scanned with CamScanner

فَمَنِ	اضْطُرَّ	غَيْرَ بَاغٍ	وَّلَا عَادٍ
نو څوك اچې مجبوره کړې شو اپه دې حال کښې چې قانون ماتونکې نۀ وی اونۀ دحد نه اوړيدونکې وی			
خوځوک چې دې حرامو څيزونونه محتاج شو اوپه خوړلو کښې د خوند طلبګار نه وی اودحد نه زيات خوراک کونکې نه وی			

فَلَآ اِثْمَ	عَلَيْهِ ط	اِنَّ اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ۝
نونشته ګناه	په هغه باندې	بيشکه چې الله	بښونکې	مهربان دې
نوبيا ددې په خوراک کولو کښې څه ګناه نشته		بيشکه الله پاک بښونکې مهربان دې		

قوله تعالى:- يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ

حلال او حرام رزق څه څيز دې ؟:- په دې آيت کښې الله ﷻ خپلو بندګانو ته حکم ورکوی چه تاسو پاک او صفااوحلال اوطيب څيزونه خورئی اوزما شکراداکوئی،حلاله نمرئی د عبادت د قبوليت سبب دې او حرامه نمرئی دعدم قبوليت سبب دې.

قوله تعالى:- وَاشْكُرُوْا لِلّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ

د حلال رزق خوړل او دهغې د شکر حکم:- مسند احمد کښې حديث کښې دې چه نبی کريم ﷺ فرمائی چه ائې خلقو!الله ﷻ پاک دې اوپاک څيزونه قبلوی.هغه رسولانواوايمان والو ته حکم کړې دې چه هغوی دې پاک څيزونه خوری اونيک عملونه دې کوی.فرمان دې چه ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ ﴾ او فرمائی چه ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ﴾بيا نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه يو سړې اوږد سفر کړې وی او دهغه وينښته ببر وی اوپه هغه ګردوغبار وی اوخپل لاسونه ئې آسمان طرفته اوچت کړې وی او په ډيره زارئی سره الله ﷻ نه سوال کوی اودهغه لباس اوخوراک ټول حرام وی،ددې وجې دهغه په داسې وخت کښې داسې دعا هم نه قبليږی.(۱)

قوله تعالى:- اِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ

د حرامو څيزونو بيان:- دحلالو څيزونو ذکر کولو نه پس بيا دحرامو څيزونو بيان کيږی چه تاسوباندې مردارځناورچه په خپل مرګ مړه شوی وی اوهغه شرعی طور سره نه وی ذبح کړې شوې حرام دې.که چا هغه په مرئی خفه کولو سره مړ کړې وی يا ئې لرګی وغيره سره وهلې وی او مړشوې وی يا يوځائې نه راغوزيدلې وی اومړ شوې وی يا نورو ځناورو دې په خپلوښکرونوسره مړکړې وی يا درنده دې مړ کړې وی،دا ټول په مرداره کښې داخل دی.او حرام دی.

دسمندری مردارې حکم: ليکن په دې کښې د اوبو ځناورمخصوص دی هغه اګر چه پخپله مړ شی خو بيا هم حلال دی.قران پاک فرمائی چه ﴿ اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ﴾ ددې پوره بيان به ددې آيت په تفسير کښې انشاء الله راشی.دعنبر نومې ځناور مړ ملاويدل او دحضرات صحابه کرامو ﷺ ددې خوړل،بيا نبی کريم ﷺ ته ددې خبر کيدل اودنبی کريم ﷺ ددې جائز ګنړل دا ټول په حديث کښې دی.يوحديث کښې دی چه د سمندر اوبه پاکې دی او ددې مړه حلال دی.(۲)

يو بل حديث کښې دی چه حضرت رسول الله ﷺ فرمائی چه دوه مرداری او دوه وينې په مونږ حلالې دی (۳)① مهې ①مولخ ③ کليجی ④توری.(٤) په سورة مائده کښې به ددې بيان تفصيل راشی انشاء الله.

---

(۱) احمد: ۳۲۸/۲،صحيح مسلم: كتاب الزكاة باب قبول الصدقة من الكسب الطيب: ۲۳٤٦)-

(۲) صحيح بخاری كتاب المغازی باب غزوة سيف البحر : ٤۲٦۲،صحيح مسلم: ۱۹۳۵)-

(۳) ابو داود كتاب الطهارة باب الوضوء بماء البحر : ۸۳،صحيح ترمذی :٦۹،نسائی : ۳۳٦)-

(٤) ابن ماجة كتاب الاطعمة باب الكبد والطحال : ۳۳۱٤،وسنده ضعيف وروى البيهقی : ٤۸۰/۱)-

Scanned with CamScanner

د مرداري د پيو او اکئ حکم:- د مردار څناور پئ او دهغې اګئ چه په هغې کښې وی نجس دی.دحضرت امام شافعی رحمه الله مذهب هم دادې،ددې وجې چه هغه هم د مرداري يو جزء دې.حضرت امام مالك رحمه الله نه يو روايت دا دې چې هغه پاك دی ليكن دمرداري دملاويدو په وجه نجس دی،

د مرداري چرګې د اکئ حکم

مسلك حنفی:- امام ابو حنيفه رحمه الله فرمائی دغه شان د دوی شاګردان ټول په دې متفق دی چه د مرداري چرګې اګئ پاكې دی هغه خوړې شی او په استعمال ئې راوستې شی.او د مرداري دپيو په باره کښې د امام ابو حنيفه رحمه الله قول دې چه پاك دی او صاحبين فرمائی چه مكروه دی (احكام القرآن للجصاص (۱۲۸۱۱) شاه فيصل غفرله).

د مرداري د وارګو حکم:- دا شان دمرداري هغه وارګه (هغه پئ چه کله يو څناور پيداشی او دريو ورځو پورې دهغه بچې دهغه پې څکی اوهغه ټينګ پئ وی) مشهورمذهب ددې بزرګانوپه نيز دا دې چې دا ناپاك دی.اګر چه په دې کښې اختلاف هم دی.د صحابه کرامو رضی الله عنهم دمجوسيانو پنير خوړل اګر چه په هغوی باندې په طورد اعتراض واردكيدیشی مګر جواب امام قرطبی رحمه الله دا ورکړې دې چه پئ ډير کم وی او يو بهيدونکې څيز چه کله داسې څيز زيات کښې پريوزی نو هيڅ حرج نشته دې.

قرانی حلال او حرام:-د نبی کريم ﷺ نه د غوړو،پنيرو او د څنګلی خر متعلق تپوس کيږی نو نبی کريم ﷺ فرمائی چه حلال هغه دی چه کوم الله ﷻ په خپل کتاب کښې حلال کړی دی او حرام هغه دی چه کوم الله ﷻ په خپل کتاب کښې حرام کړی دی.او چه دکوم بيان نشته دې هغه ټول معاف دی.(۱)

قوله تعالی:-وَلَحْمَ الْخِنْزِيرِ

د خنزير د حرمت بيان:-بيا ئې اوفرمائيل چه د خنزير غوښه هم حرامه ده که هغه ذبح هم کړې شی او که پخپله مړشوې وی.د خنزير د وازګې هم دا حکم دې،ددې وجې چونکه هغه اکثر غوښه وی او وازګه غوښې سره وی،نو غوښه حرامه شوه او وازګه هم حرامه شوه.دويم د دې وجې هم چه په غوښه کښې چربی شوې وی اود قياس اقتضا هم دا ده.

قوله تعالی:-وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللَّهِ

د غير الله د تقرب دپاره ذبح شوې څناور حرام دي:-بيا فرمائی چه کوم څيز د الله ﷻ نه سوا د بل چا په نوم مشهورکړې شی هغه هم حرام دی.د جاهليت په زمانه کښې کافروخلقو به دخپلوباطلو معبودانو په نوم څناور ذبح کول چه کوم الله ﷻ حرام کړل.

يوځل يوې ښځې د يو ې ګودنی په نكاح کولو باندې يو څناور ذبح کړو نو حضرت حسن بصری رحمه الله فتوی ورکړه چه ددې خوراك کول نه دی پکار ځکه چه هغه ديو تصوير په نوم ذبح کړې شوې دې.

حضرت عائشه رضی الله عنها نه يوځل سوال کيږی چه عجم د خپلو تهوارونو او اخترونو په موقعو باندې چه څناور ذبح کوی او مسلمانانو ته هم ددې هديه ليږی دهغې غوښه خوړل پکار دی که نه.نو وې فرمائيل چه دهغه ورځې دعظمت دپاره چه کوم يوځناور ذبح شی هغه مه خورئی،خو دهغوئ د ونو ميوې خورئی.(۲)

قوله تعالی:-فَمَنِ اضْطُرَّ

د مجبورئ په وخت کښې د حرامو خوړلو اجازت:- بيا الله ﷻ د ضرورت او حاجت په وخت کښې چه بل څه د خوراك دپاره نه ملاويږی حرام څيزونه خوړل مباح کړی دی.ارشاد فرمائی چه کوم سړې بې بسه شی او هغه باغی او سرکشه کيدو والا نه وی نو په هغه باندې د دې څيزونو په خوراك کښې هيڅ ګناه

---

(۱) ترمذی : كتاب اللباس باب ماجاء فی لبس الفراء: ۱۷۲۶،ابن ماجة باب اكل الجبن والسمن : ۳۳۶۷،المستدرک : ۳۷۵/۲،وهو حديث حسن)-

(۲) القرطبی : ۲۲۴/۲)-

نشته دي.الله ﷻ بخښونکي مهربان ذات دي.

قوله تعالى:-غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَلَآ إِثْمَ عَلَيْهِ

د باغ او عاد تفسير:-دباغ اوعادپه تفسير کښې حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ډاکو يا لاره شوکونکی ،په مسلمان بادشاه حمله کوونکي،داسلام د سلطنت مخالف او د الله ﷻ نافرمانۍ کښې سفر کونکی مراددي.د داسې خلقو دپاره ددې اضطراب په وخت کښې حرام څيزونه هم حرام وی.د غير باغ تفسيرحضرت مقاتل بن حيان رحمه الله چې دا هم کوی هغه دا حلال نه ګڼړی(۱)او ددې نه دمزې اولذت اخستلو والا نه وی،ددې وريتول اوددې لذيذه کيدل او پخول اوبيا ددې خوراک نه دې پکار بلکه څنګه چه وی صرف د ځان دبچ کيدو دپاره دې اوخوری او که ځان سره اخستل غواړی نو صرف دومره دې واخلی چه دې پرې ژوندې پاتې شی.او د حلالو څيزونو ملاويدو پورې باقی پاتې نشی او کله چه حلال څيزونه ملاؤ شی نو بيا دې دا اوغورزوی.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دادې ښه په مړه خيته نه خوری.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه کوم سړې ددې په خوراک مجبور کړې شی اوبې اختياره کړې شی نو دهغه هم دا حکم دي.

په اضطراری حالت کښې مرداره خوړل که د بل چا څيز خوړل:- يو سړې ډير اوږې شو اوبې بسه شو اوده ته يو مردار ځناور په نظر راغلو او ورسره ئې يو بل حلال څيز هم اوليدو چه په هغې کښې نه درشتې ماتيدل وی او نه په دې کښې څه تکليف وی نو ده ته پکار دی چه دې دا بل څيز اوخوری مردار دې نه خوری،بيا آيا دهغه څيز قيمت يا هغه څيز به دده په ذمه وی يا نه.په دې کښې دوه اقوال دی،① يو دا چه وی به ② او دويم دا چه نه وی.داکوم قول کښې چې دا دی چې نه به وی يعنی اول قول نو ددې قول تائيد د ابن ماجه په حديث پاک کښې شته دي.

د عهد نبوی يوه واقعه:- حضرت عباد بن شرحبيل غزنوی ﷺ وائی چه يو کال قحط راغلو،څه مدينې ته لاړم،اويو پټی نه مې څه وړی راوشوکول او هغه مې خوړل،لږ وړی مې په څادر کښې واچول او روان شوم.دپټی مالك څه اوليدم او څه ئې اونيولم او وې وهلم او زما نه ئې څادر واخستلو.څه نبی کريم ﷺ لره ورغلم او نبی کريم ﷺ ته مې ټوله واقعه بيان کړه.نو نبی کريم ﷺ هغه سړی ته اووئيل چه دې اوږی ته نه خو تا خوراك ورکړې دي او نه دې ددې دپاره څه بل کوشش اوکړو اونه دې دې پوهه کړو.دا بيچاره نادان وو اوږې وو،لاړشه اودده څادر واپس کړه او يو وسق يا نيم وسق ده ته غله ورکړه.(يو وسق د څلورو منو برابر وی).(۲)په يو بل حديث کښې دی چه په ونوکښې د زوړندو ميوو په نسبت کښې د نبی کريم ﷺ نه تپوس اوشو نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه کوم حاجتمند سړې دا اوخوری او خان سره دا يونسې نو په ده باندې څه ګناه نشته دي.الخ.(۳)

حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه د آيت مطلب دادې چه د اضطرار او بې بسۍ وخت کښې دومره خوړلو کښې هيڅ حرج نشته دي.دا هم مروی دی چه دري نمړو نه زياتې خوړل نه دی پکار.غرض داسې وخت کښې دالله ﷻ مهربانی اونوازش سره دا حرام دده دپاره حلال دی.

مسروق رحمه الله فرمائی چه د اضطرار په وخت کښې چه کوم سړې حرام څيز او نه خوری او مړشی هغه جهنمی دي.(۴) دي نه معلومه شوه چه داسې وخت کښې داسې څيز خوړل ضروری دی.په دې کښې نه صرف اجازت دي،هم دا خبره زياته صحيح ده لکه د بيمار روژه پريښودل وغيره.

---

۱) ابن ابی حاتم: ۲۳۶/۱)-

۲) ابوداود کتاب الجهاد باب ابن السبيل ياكل من الثمرة: ۲۶۲۰،وسنده صحيح: نسائی: ۵۴۱۱،ابن ماجة: ۲۲۹۸)-

۳) ابوداود کتاب للقطة باب التعريف باللقطة : ۱۷۱۰.وهو حسن ترمذی: ۱۲۸۹،نسائی: ۴۹۶۱،)-

۴) بيهقی ۵۶۳۴/۹،)-

Scanned with CamSc

اِنَّ الَّذِيْنَ
بیشکه هغه کسان
څوک چې
يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا
چې پټوی هغه چې نازل کړې دی الله چه کتاب دی او اخلی په هغې باندې پیسې لږې
دالله رالیږلې شوې کتاب پټوی (د دې مسائل).....اوپدې باندې لږ قیمت (د دنیا) اخلی
اُولٰٓئِكَ مَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ
داکسان نه اچوی په خپلو خپلو کښې مګر اور او به نه کړی خبری دهغوئ سره الله
نوهغوئ په حقیقت کښې نورڅه نه کوی خپلې خپلې خیتې په اوردې کوی اوالله به ورسره د قیامت په ورځ خبرې
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ
په ورځ دقیامت اونه به پاک کړی هغوئ اودهغوئ دپاره عذاب درناک دی دا هغه کسان دی
نه کوی اونه به دوی دګناه نه پاک کړی اودوئ ته به دردناک عذاب ورکولې شی داهغه کسان دی
اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ
چې وانې اخستله ګمراهی په بدل دهدایت کښې او وانې اخستلوعذاب په بدله دبښنې کښې
چې دهدایت بدل کښې ئې ګمراهی اخستې ده او دبښنې بدل کښې ئې عذاب په بیعه اخستې دې
فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ ۝ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ
نو عجیبه ده چې څه څیز صبرورکړوهغوئ له په اور باندې دا په دې وجه چې بیشکه الله
نودوی لره تعجب دې چه په اور باندې صبر کوی (څکه چه د دوی دا عمل سبب د اور دې) دا څکه چې الله پاک
نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ
نازل کړو کتاب په حقه رالیږلې دې اوچاچې د(الله پاک) دکتاب په مسئلو کښې اختلاف اوکړو
لَفِيْ شِقَاقٍۢ بَعِيْدٍ ۝
په مخالفت کښې لرې لاړل
هغوئ په جګړو کښې ډیر لرې لاړل

قوله تعالیٰ:- اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ الْكِتٰبِ

بدترین علماء حق پټونکی :چه کوم یهود د نبی کریم ﷺ دصفاتو آیتونه پټوی کوم چې په تورات کښې دی اوددې په بدله کښې دعربوخوشامندې کوی او عوامو نه تحفې او هدیې اخلی او ددې فانی دنیا په بدله کښې خپل آخرت خرابوی،دوی ته ویره ده که د نبی کریم ﷺ نبوت رښتونې اودنبی کریم ﷺ د دعوې تصدیق آیتونه چه کوم په تورات کښې دي خلقو ته ښکاره شی نو خلق به د نبی کریم ﷺ ماتحت

Scanned with CamSc

شی او هغوی به پریږدی.ددې ویرې په وجه نې مغفرت او هدایت پریخودو اوضلالت او عذاب باندې خوشحاله شو.نو ددې وجې په هغوی باندې ددنیا او آخرت رسوانی نازله شوه.د آخرت رسوانی خو ښکاره ده اوپه دنیا کښې هم د هغه خلقو مکر ښکاره شو،وخت په وخت چه کوم څیزونه دې بدترینو عالمانو پټول هغه ښکاره شو.ددې نه علاوه د نبی کریم ﷺ معجزې او د حضرت پاك عادتونو خلق د نبی کریم ﷺ په تصدیق باندې آماده کړل اودهغوی هغه ډله دهغوی دلاس نه لاړه دکوم نه چه دوی دالله ﷻ کلام پټ کړې وو چه دهغوی نه لاس وینځی.دې خلقودنبی کریم ﷺ نه بیعت اوکړواو ایمان نې راوړو او نبی کریم ﷺ سره یو ځائې شو او د هغوی حق پټول ورته معلوم شو او هغوی سره نې باقاعده جهاد اوکړو.په قران پاك کښې دهغوې دداسې رازونو پټولو حرکتونو ځائې په ځائې بیان شوې دې.

قوله تعالی:-وَيَشْتَرُوْنَ بِهٖ ثَمَنًا قَلِيْلًا ۭ اُولٰۗىِٕكَ مَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ اِلَّا النَّارَ...

د کتمان حق په عوض کښې مال خوړل اور د جهنم دې:- او فرمائی چه دا کوم مال چه تاسو خورئی او تاسو دالله ﷻ خبرو لره پټوئی ادا په اصل کښې داور سکروټې دی اودا تاسو په خپلو خیټو کښې اچوئی

دیتیمانو مالو خوړونکی ::قران پاك د هغه خلقو باره کښې دا فرمائیلی دی چه کوم خلق د یتمیانو مالونه په ظلم سره خوری چه هغوی هم په خپلو خیټوکښې د جنهم اور اچوی.او د قیامت په ورځ به تیز اور ته داخلیږی.

دسرو سپینو په لوښو کښې خوراک کول:- صحیح حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه کوم سړې دسرو اوسپینو په لوښوکښې خوراك کوی هغه په خپله خیټه کښې د جهنم اور اچوی.(۱)

قوله تعالی:-وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۚ

د قیامت په ورځ د الله خبرې نه کول:-بیا الله ﷻ فرمائی چه الله ﷻ به دوی سره د قیامت په ورځ خبرې هم نه کوی،او نه به دوی پاك کړی بلکه دردناك عذابونو کښې به اخته وی.ځکه چه ددوی د کړو په وجه په دوی باندې دالله ﷻ عذاب نازل شو.او اوس دوی نه د رحمت نظر لرې کړې شو او دوی د ستائینې اوتعریف قابل نه دی.بلکه سزا به ورکولې شی او هلته به کړیږی.

درې قسمه خلق بد نصیبه دی:- حدیث کښې دی چه درې قسمه خلقو سره به الله ﷻ خبرې اترې نه کوی اونه به هغوی طرفته کوری اونه به هغوی پاکوی او دهغوی دپاره به دردناك عذاب وی.بودا زناکار ، دروغژن بادشاه،او متکبره فقیر.(۲)

قوله تعالی:-اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ اشْتَرَوُا الضَّلٰلَةَ بِالْهُدٰى وَالْعَذَابَ بِالْمَغْفِرَةِ ۚ

دهدایت په مقابله کښې ګمراهی اخستل:-بیافرمایی چه دې خلقودهدایت په بدله کښې ګمراهی اخستې ده.دوی ته پکار ووچه په تورات کښې کوم صفات دحضور نبی کریم ﷺ متعلق وو هغه نې بې خبرو خلقو ته رسولی وې.اود دې هدایت) په بدله کښې هغوی (د نبی کریم ﷺ د صفاتو) پټول کړی وو او پخپله ئې هم د نبی کریم ﷺ نه انکاری اوکړو.اودنبی کریم ﷺ تکذیب نې اوکړو.نوپه اظهار کولو سره دوی ته چه کوم نعمتونه اورحمتونه ملاویدو والا وودهغې په بدله کښې دوی عذابونه اوزحمتونه واخستل.

قوله تعالی:-فَمَآ اَصْبَرَهُمْ عَلَى النَّارِ

بیافرمائی چه دوی ته به دردرناك او حیران کن عذاب ورکولې شی چه کتونکې به حیران پاتې شی او دامعنی هم ده چه دوی د اورپه عذاب باندې کوم یو څیز آماده کړل چه دوی دالله ﷻ په نافرمانۍ کښې مشغول شو.

---

۱) صحیح بخاری کتاب الاشربة باب انیة الفضة : ۵۶۳۴۵،صحیح مسلم: ۲۰۶۵)-

۲) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان غلظ اسباب الازار: ۱۰۷)-

Scanned with CamSc

توله تعالی:- ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ نَزَّلَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ ؕ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِي الْكِتٰبِ

د عذاب سبب:- بیا ارشاد فرمانی چه دوی د دې عذاب حکمه مستحق شو چه دې خلقو د الله ﷻ خبرې په خندا واړولې او هسې توقې نې اوکنړلې. او دوئ ته چه الله ﷻ کوم کتاب دحق او باطل واضح کولو دپاره نازل شوې دې، هغوئ ددې مخالفت اوکړو.. چه کومې خبرې ښکاره کول وو هغه دوئ پټې کړې، دانې الله ﷻ نبی سره دښمنی اوکړه. د نبی کریم ﷺ صفتونه نې ښکاره نه کړل او حقیقت دادې چه ددې کتاب باره کښې اختلاف کوونکی په لرې ګمراهئ کښې پریوتل.

لَيْسَ	الْبِرَّ	اَنْ تُوَلُّوْا	وُجُوْهَكُمْ		
	نۀ ده	دا نیکی	چې اوګرځوئ تاسو	مخونه خپل	
	نیکی صرف دا نه ده چې تاسو (په مانځه کښې) خپل مخونه				
قِبَلَ الْمَشْرِقِ	وَالْمَغْرِبِ	وَلٰكِنَّ	الْبِرَّ	مَنْ اٰمَنَ	بِاللّٰهِ
طرف دمشرق	او مغرب ته	لیکن	نیکی داده چې	څوک	ایمان راوړی په الله
مشرق ته یا مغرب ته اوګرزول	بلکه نیکی کونکې هغه کس دې	چې په الله ﷻ			
وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ	وَالْمَلٰٓئِكَةِ	وَالْكِتٰبِ	وَالنَّبِيّٖنَ ۚ	وَاٰتَى الْمَالَ	
او په ورځ د آخرت	او په فریښتو	او په کتابونو	اوپه پیغمبرانو	او ورکړی مال	
او د آخرت په ورځ او په فرشتو (دالله) اوپه کتابونو اوپه پیغمبرانو باندې پوخ یقین اوساتی او دالله په					
عَلٰى حُبِّهٖ	ذَوِي الْقُرْبٰى	وَالْيَتٰمٰى	وَالْمَسٰكِيْنَ	وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ	
په محبت دالله کښې	رشته دارانو ته	او یتیمانو ته	او مسکینانانو ته	اومسافرونه ته	
محبت کښې خپل مالونه خپلوانو ته.....یتیمانو ته.....مسکینانو.....اومسافرو ته					
وَالسَّآئِلِيْنَ	وَفِي الرِّقَابِ ۚ	وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ	وَاٰتَى الزَّكٰوةَ ۚ		
او سوالګرو ته	اوخرچ کړی مال په آزادولو دغلامانو کښې	او قائم کړی مونځ	او ورکړی زکاة		
اوسوالګرو ته اودغلامانو په آزادولو کښې خرچ کوی	او دمونځ پابندی کوی	اوزکاة ورکوی			
وَالْمُوْفُوْنَ	بِعَهْدِهِمْ	اِذَا عٰهَدُوْا ۚ	وَالصّٰبِرِيْنَ	فِي الْبَاْسَآءِ	
او پوره کونکی وی	وعدې خپلې لره	کله چې او کړی وعده	او صبر کونکی وی	په سختو کښې	
اوچې وعده اوکړی نو هغه په ښه شان سره پوره کوی	او په سختو او مرضونو او دجنګ په مشقتونو				
وَالضَّرَّآءِ	وَحِيْنَ الْبَاْسِ ؕ	اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ	صَدَقُوْا ؕ	وَاُولٰٓئِكَ	
اوپه تکلیفونو کښې	اوپه وخت دجنګ کښې	داهغه کسان دی	چې رښتینې دی	اوهم دا کسان چې دی	
باندې صبر کوی	هم دغه کسان (دایمان په دعوی کښې) رښتینی دی	اوهم دغه خلق (په حقیقت کښې)			
هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ۝					
دوئ پرهیزګاران دی					
پرهیزګار دی					

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:- لَيْسَ الْبِرَّ اَنْ تُوَلُّوْا وُجُوْهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ

نیکی څه څیز دي ؟:-دي آیت مبارک کښې د صحیح عقیدې او نیغې لارې تعلیم ورکړې کیږی.حضرت ابو ذر ﷺ چه کله حضور نبی کریم ﷺ نه د ایمان باره کښې سوال اوکړو چه ایمان څه څیز دي ؟ نو حضرت نبی کریم ﷺ دا آیت مبارک تلاوت اوفرمائیلو.هغه بیا عرض تپوس اوکړو نو حضرت نبی کریم ﷺ بیا دا آیت مبارک تلاو ت اوفرمائیلو.بیا ئې هم دا سوال اوکړو.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل واوره ! نیکئ سره محبت او بدئی سره دښمنی ایمان دي،(ابن ابی حاتم) خو ددې روایت منقطع دي.حضرت مجاهد رحمه الله حضرت ابو ذر ﷺ نه دا حدیث پاک روایت کوی خو ددوی حضرت ابوذر ﷺ سره ملاقات نه دي شوي

دایمان نښه :- یو سړی حضرت ابوذر ﷺ نه تپوس اوکړو چه ایمان څه څیز دي ؟ نودوی هم دا آیت مبارک تلاوت کړو.هغه اووئیل چه صاحبه څه ستاسو نه د نیکئ باره کښې سوال نه کوم.ځما سوال دایمان باره کښې دي.نو دوی ﷺ ا وفرمائیل چه واوره یو سړی حضرت نبی کریم ﷺ نه هم دا سوال کړي وو.او حضرت نبی کریم ﷺ هم دا آیت مبارک تلاوت کړي وو.هغه (سړي) هم ستا په شان راضی نه شو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله یو مومن نیک کار کوی نو د دۀ زړه خوشحالیږی اودۀ ته دثواب امید وی او کله چه ګناه کوی نو ددۀ زړه غمګین کیږی او دعذاب نه ویریږی.(ابن مردویه).داروایت هم منقطع دي

قوله تعالی:- وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ وَالنَّبِيّٖنَ ۚ

د ایت مفهوم:- اوس ددي ایت مبارک تفسیر وا ورئی.اول مومنانو ته حکم وو چه بیت المقدس ته مخ کوئی اومونځ کوی اوبیا دوی کعبې طرفته راوګرزولې شو.اوپدې اهل کتاب او ځینې مومنان سخت خفه شو.نو الله ﷻ ددې حکمت بیانوی چه ددې اصل مقصد دالله ﷻ د فرمان اطاعت دي.هغه پاک ذات چه کوم طرفته دمخ کولو اووائی نو هغه طرفته مخ کوئی.اصل تقوی،اصل نیکی ا و کامل ایمان دا دي چه د مالک حکم اومنی.که څوک مشرق طرفته مخ کوی یا مغرب طرفته مخ کوی ا ودا دالله ﷻ حکم نه وی نو دي سره به دي ایماندار نه وی،حقیقت کښې ایماندار هغه دي چه په هغه کښې دا اوصاف وی چه کوم دي آیت مبارک کښې بیان شو.قران پاک کښې یو ځائې کښې ارشاد دي چه ﴿لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا﴾ یعنی ستاسو دقربانئ غوښې اوویني الله ﷻ ته نه رسی بلکه هغه ته تقوی رسی.

حضرت ابن عباس ﷺ ددې آیت مبارک تفسیر کښې فرمائی چه تاسو مونځونه کوئی اونور اعمال مه کوئی، دا څه نیکی نه ده،دا حکم په هغه وخت کښې وو چه کله مکې نه مدینې منورې ته تلی وو.خو بیا دي نه پس نور فرائض او نور احکام هم نازل شو او په هغې عمل کول ضروری اوګرزولې شو.مشرق او مغرب په دي وجه خاص کړي شو چه یهودیان مغرب طرفته اونصرانیان مشرق طرفته مخ کوی.نو غرض دادي چه دا صرف د ایمان کلام دي اوحقیقت د ایمان عمل دي.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه نیکی دا ده چه زړه کښې د اطاعت ماده وی،د فرض پابندئی سره ادا کول وی،دټولو نیکو عامل وی.حق دادي چه چا په دي آیت مبارک باندې عمل اوکړو نو هغه کامل اسلام واخستلو او د زړه دکومی ئې اسلام قبول کړو.ددۀ ایمان په الله ﷻ باندې دي.دۀ ته دا معلوم دی چه معبود برحق الله ﷻ دي.د فرښتو وجود اودا خبره چه هغوئ د الله ﷻ پیغام دالله ﷻ مخصوص بندګانو ته راوړی اودا منی چې ټول آسمانی کتابونه حق دی.اودا هم منی چه قران پاک ټولو نه آخری کتاب دي او د مخکښو کتابونو تصدیق کوونکې دي د ټولو نیکو جامع دي.په دي کښې د دین او دنیا سعادت دي.اودا شان اول نه آخر پو ري ټولو نبیانو باندې ایمان لری او خاص کر په حضرت نبی کریم ﷺ باندې هم.اګر چه ددۀ مال سره محبت وی خو بیان هم دي مال دالله ﷻ لار کښې خرچ کوی.

قوله تعالی:-وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ

مال سره د محبت باوجود هغه صدقه کول:- صحیح حدیث پاک کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه بهترینه صدقه داده چه ته د خپل صحت حالت کښې مال دالله ﷻ لار کښې خرچ کړې او ستا دې سره محبت هم وی.اوددې باوجود چه ستا سره د مال د کمی اندیښنه اود زیاتی رغبت وی.(۱)(بخاری ومسلم) مستدرک حاکم کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ ﴿وَاٰتَى الْمَالَ عَلٰى حُبِّهٖ﴾ اولوستو او وې فرمائیل چه ددې مطلب دادې چه ته دې د خپل صحت په حالت کښې صدقه ورکړې اوستا مال هم خوښ وی اود فقیرئی نه ویریږې او د مالدارئی خواهش لرې.خو ددې روایت موقوف کیدل زیات صحیح دی.اصل کښې دا فرمان د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ دې.

قران پاک کښې سورة دهر کښې دی چه ﴿وَيُطْعِمُوْنَ الطَّعَامَ عَلٰى حُبِّهٖ﴾ مسلمان د خوراک د خوښوالی باوجود مسکینانو،یتیمانو او قیدیانو ته خوراک ورکوی او وائی چه مونږ تاسو ته دالله ﷻ درضا دپاره خوراک درکوؤ.نه ستاسو نه ددې بدله غواړو اونه شکریه.او بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ﴾ترکومې چه تاسو خپل خوښ څیزونه دالله ﷻ په نوم ورنکړئی نو تاسو حقیقی نیکی نشئ مونډئی .او یو ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ د خپل ضرورت او حاجت باوجود دوی نورو ته په خپل نفس ترجیح ورکوی.ددې خلقو ډیره لویه مرتبه ده.ځکه چه اول قسم خلق دخپلې خوښې باوجود دالله ﷻ محبت کښې نورو ته ورکړه کوی خودې بزرګانو د خپلې خوښې هغه څیزونه چه دکوم دوی محتاج وو نوروته ورکړل او دخپلو حاجتونو خیال ئې هم اونکړو.

قوله تعالی:- ذَوِي الْقُرْبٰى

د ذوی القربی مطلب :- ذوی القربی هغو ته وئیلې شی چه کوم رشته دار وی،د صدقې ورکولو په وخت کښې دوی نورو نه زیات مقدم دی.حدیث پاک کښې دی چه مسکین ته ورکول یو ثواب لری او رشته دار مسکین ته ورکول دوه ثوابونه لری یو ثواب د صدقې او بل ثواب د صله رحمئی.(۲)

قوله تعالی:- وَالْيَتٰمٰى

یتامی : یتامی نه مراد هغه واړه ماشومان دی چه د هغوی پلار مړ شوې وی.اود دوی څوک ګټې والا نه وی او نه دوی پخپله روزی ګټلې شی.حدیث پاک کښې دی چه بلوغت نه پس یتیمی پاتې نشی.(۳)

قوله تعالی:- وَالْمَسٰكِيْنَ

مساکین:- مساکین هغه دی چه هغوئ سره دومره څه وی چه دهغوئ د خوراک ځکاک او اغوستلو دپاره کافی وی.هغوئ سره دې هم حسن سلوک اوکړې شی چه په دې سره د هغوئ حاجت پورا شی اود فقر او فاقې اودذلت د عذاب نه بچ شی.

مسکین څوک دی؟:- بخاری اومسلم کښې د حضرت ابوهریره ﷺ نه مروی دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه مسکینان هغه خلق نه دی چه هغوئ غوښتل کوی او یو یو دوه دوه کهجورې یا یو یو دوه دوه نمرئی د خوراک راوړی بلکه مسکینان هغه خلق دی چه هغوئ سره دومره مال نه وی چه دې سره دهغوئ ضرورتونه پورا شی.اونه هغوئ خپل حالت داسې جوړوی چه هغې سره خلقو ته د دوی د محتاجئ علم اوشی او خلق دوی ته څه ورکړی.(۴)

قوله تعالی:- وَابْنَ السَّبِيْلِ ۙ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الزکوة باب فضل صدقة الشحیح الصحیح : ۱٤۱۹،صحیح مسلم: ۱۰۳۲)-

(۲) ترمذی : کتاب الزکاة باب ماجاء فی الصدقة علی ذوی القرابة : ٦٥٨،وهو صحیح،نسائی : ۲٥۸۳،ابن ماجة : ۱۸٤٤،)-

(۳) ابوداود: کتاب الوصایا باب ماجاء متی ینقطع الیتیم : ۲۸۷۳،)-

(٤) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب : ٥۳،ح: ۱٤۷۹،صحیح مسلم: ۱۰۳۹)-

Scanned with CamScanner

ابن السبیل:- ابن السبیل مسافر ته وائی.دلته ترې مراد هغه مسافردی چه هغوئ د سفر خرچ ختم شوې وی، هغوئ ته دې دومره ورکړی چه دې سره هغوئ خپل وطن ته واپس اورسی.او داشان هغه سړې هم دې چه دالله ﷻ داطاعت دپاره سفر کوی او هغه ته د تلو راتلو خرچ ورکړې شی.میلمه هم دې حکم کښې داخل دې.حضرت عبدالله بن عباس ﷺ میلمه ته هم ابن السبیل وائی.اونورسلف خلق هم.

قوله تعالی:-وَالسَّآئِلِيْنَ

سائلین:- سائلین هغه خلق دی چه هغوئ خپل حاجت بنکاره کوی اوخلقو نه څه غواړی.دوی ته هم صدقه اوزکوة ورکول پکاردی حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه دسائل حق دې اګر چه هغه په آس راشی.(ابو داود)(۱)

قوله تعالی:-وَفِي الرِّقَابِ

رقاب:-فی الرقاب نه مراد د غلامانو آزادی ده اګر چه دا هغه غلام وی چه هغوئ مالکانو سره د مقرر قیمت ورکولو لیکل کړی وی چه مونږ به تاسو ته دومره قیمت درکوؤ او مونږ به آزاد یو.خو اوس دوی سره د ورکولو دپاره هیڅ نه وی.نودوی سره مدد کول او دوی آزادول دی

دالرقاب اوددې په شان نورو مصارفو خلقو تفسیربه انشاء الله سورة براة کښې انما الصدقات لاندې راشی.

حضرت فاطمه بنت قیس رضی الله عنها فرمائی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مال کښې زکوة نه سوا نورهم حق هم شته.بیا حضرت نبی کریم ﷺ دا آیت مبارک اولوستلو.ددې حدیث پاک یو راوی ابوحمزه میمون اعور ضعیف دی.

قوله تعالی:-وَأَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ

مونځ او زکوة ورکول:- بیا فرمائی چې مونځ په وخت ادا کوئ اود دې رکوع،سجدې ښه په اطمینان او خشوع اوخضوع سره کوئ .څنګه چه ددې د ادا کولو حکم شریعت ورکړې دې.او زکوة دې هم ورکوی یا دا معنی چه خپل نفس د خرابو او ذلیل اخلاقو نه پاک کړئ.لکه فرمائی چه ﴿قَدْ اَفْلَحَ مَنْ تَزَكّٰى﴾یعنی خپل نفس لره پاکونکې کامیاب شو او او چا چې نفس ګنده او خرابو کارونو کښې مشغول کړونو هغه تباه شو.حضرت موسی علیه السلام فرعون ته هم دا فرمائیلی وو چه ﴿هَلْ لَّكَ اِلٰٓى اَنْ تَزَكّٰى﴾ آیا ته نصیحت قبلوې؟او بل ځائې کښې دالله ﷻ فرمان دې چه ﴿وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِيْنَ ۙ الَّذِيْنَ لَا يُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ﴾ یعنی د هغه مشرکانود پاره ویل دې چه دوی زکوة نه ورکوی یا دا چه دوی خپل ځان د شرک نه نه پاکوی.نو دې پورتنی آیت مبارک کښې د زکوة نه مراد نفس یعنی خپل ځان د خرابو خصلتونو،شرک او کفر نه پاکول دی.اوممکن ده چه ددې نه مراد د مال زکوة وی که داسې وی نو بیا باقی نور احکام نفلی د صدقې متعلق دې اوګنرلې شی.لکه پورته حدیث بیان شو چه مال کښې د زکوة نه سوا نور حقونه دی.

قوله تعالی:-وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا

د وعدې پوره کول:- بیا فرمائی چه وعده پورا کولو والالکه فرمائی چه ﴿يُوْفُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ﴾ الخ،دا خلق دالله ﷻ وعدې پوره کوی اووعدې نه ماتوی.

دمنافق درې ښې: وعدې ماتول دنفاق علامت دې.لکه حدیث پاک کښې دی چه دمنافق درې ښې دی.خبرو کښې دروغ وئیل،وعده خلافی کول،امانت کښې خیانت کول،(۲)یو بل حدیث پاک کښې دی چه د جنګ په وخت کښې کنځل کول.(۱)

---

(۱) ابوداود کتاب الزکوة باب حق السائل : ۱۶۶۵،وهو حدیث حسن)-

(۲) صحیح بخاری کتاب الایمان باب علامات المنافق : ۳۳،صحیح مسلم: ۵۹)-

Scanned with CamSc

قوله تعالی:- وَالصّٰبِرِيْنَ فِي الْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ وَحِيْنَ الْبَاْسِ

په دې حالتونو کښې صبر کول:- بیا فرمانی چه په فقراوفاقه کښې دمال دکمی په وخت کښې د بدن د بیمارنی په وخت کښې ددین دښمنانو سره دجهاد په وخت کښې صبر کولو والااو د فولاد پشان کلک ولاړخلق د ﴿صَابِرِيْن﴾ نصب په طور د مدح دې.ددې مصیبتونو اوسختو په وخت کښې دصبرتعلیم ورکړې کیږي الله ﷻ دې زمونږ مددګار شی.زمونږ په هغه پاک ذات بهروسه ده.

قوله تعالی:- أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا ۖ وَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ

بیافرمانی چه ددې صفتونو والاخلق د مضبوط ایمان خاوندان دی.د دوی ظاهر او باطن قول اوفعل یو شان دی او هم دا متقیان دی ځکه چه دوی اطاعت کوی او نافرمانو نه بچ اوسی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ	
اے هغه کسانو اچې ایمان مو راوړې دې افرض کړې شوې دې په تاسو باندې	
ائې مؤمنانو .....په ستاسو د قتل شوو کسانو په باره ....|	
الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى ۭ اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى ۭ	
برابرې په مقدمه دقتل کښې آزاد په آزاد قصاصیږی اوغلام په غلام قصاصیږی اوښځه په ښځه قصاصیږی	
کښې برابری فرض شوې ده دآزاد په بدله کښې آزاد او د غلام په بدله کښې غلام اوښځې په بدل کښې ښځه وژلې شی	
فَمَنْ عُفِيَ لَهٗ مِنْ اَخِيْهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌۢ بِالْمَعْرُوْفِ	
نوهغه څوک اچې معافی اوشوه هغه ته اډطرفه د رورخپل نه اډخه څیز اونومطالبه ددیت ده په ښه طریقه	
اوکه یوقاتل ته دخپل رور دطرفه څه قدر معافی وکړې شوه نود (خوښها) فیصله په مناسبه طریقه پکار ده	
وَاَدَآءٌ اِلَيْهِ بِاِحْسَانٍ ۭ ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ	
او ورکول ددیت دی معاف کونکی ته په ښه سلوک سره دا آسانتیا ده اډطرفه درب ستاسو نه	
اوپه راستئ باندې (رقم) ادا کول پکار دی (اولیاؤ د مقتول ته) ادا ستاسو دپروردګار دطرفه آسانتیا	
وَرَحْمَةٌ ۭ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝	
اورحمت دې نوهرچا چې زیاتي اوکړو اروستو ددې فیصلې نه نو ددې هغه دپاره عذاب دردناک	
اومهربانی ده نوځوک چې ددې نه پس هم دخپل حد نه وړاندې تیر شی نوهغه دپاره دردناک عذاب دې	
وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ۝	
اوستاسو دپاره اپه قصاص کښې اژوند دی اے خاوندانو دعقلونو امیدې چې تاسو اخان اوساتئ	
اني د عقل خاوندانو ستاسو دپاره قصاص اخستلوکښې ژوند دې امیددې چې تاسوبه (د قصاص په وجه) دقتل نه خان ساتئ	

د ایت شان نزول:- ائې مسلمانانو ! دقصاص په وخت کښې د عدل نه کار اخلئ.دازاد بدله کښې ازاد،د غلام بدله کښې غلام،دښځې بدله کښې ښځه قصاص کوئ.دې باره کښې د حد نه مخکښې مه خئ.لکه څنګه چه به مخکښې خلقو کول اوالله ﷻ حکم ئې بدل کړې وو.ددې آیت مبارک شان نزول دادې چه د جاهلت زمانه کښې بنو قریظه او بنو نضیرو کښې جنګ شوې وو.او په هغې کښې بنو نضیر غالب شوی

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الایمان باب علامات المنافق: ۳٤،صحیح مسلم: ۵۸)-

وو.اوس دا قانون جوړ شوې وو چه کله به دبنو نضیر یو سړی د بنو قریظه سړې قتل کړو نو ددې بدله کښې به هغه نشو قتل کولې.بلکه سل وسق قجورې به په طور د دیت ورکړې کیدې او چه کله به د بنو قریظه یو سړې د بنو نضیر یو سړې قتل کړو نو ددې قصاص کښې به هغه قتل کولې شو.اوکه دیت به اخستلې شو نو دوچنده دیت به اخستې شو یعنی دوه وسق قجورې به اخستلې شوې.نوالله ﷻ د جاهلت د زمانې دا رسومات ختم کړل.اود عدل او انصاف حکم ئې ورکړو.

دویم شان نزول:- د ابو حاتم روایت کښې ددې آیت مبارک شان نزول داشان بیان شوې دې چه دعربو دوۍ قبیلو کښې به جنګونه کیدل،اسلام نه پس ئې د بدلې اخستلو دپاره تیارې شروع کړو او وې وئیل چه ځمونږ دغلام بدله کښې دې دهغوئ آزاد قتل کړې شی او د بنځې بدله کښې دې سړې اووژلې شی نو ددې باره کښې دا آیت مبارک نازل شو.اودا طریقه منسوخ شوه.قران پاک فرمائی چه ﴿النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾ هر قاتل دې د مقتول بدله کښې وژلې شی که آزاد یو غلام قتل کړې وې اوکه ددې برعکس وی.او که سړی بنځه وژلې وی یا ددې په عکس وی.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دې خلقو به دبنځې بدله کښې سړې نه قتل کولو.نو په دې ﴿النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ﴾ نازل شو.

قوله تعالی:- ﴿اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى﴾

د ساه بدله کښې به ساه اخستلې شی:- نو آزاد خلق ټول برابر دی،د ساه بدله کښې به ساه اخستلې شی که قاتل سړې وی او که بنځه وی.داشان که مقتول سړې وی اوکه بنځه وی.که یو آزاد سړی آزاد سړې قتل کړې وې نو هغه به وژلې شی.داشان به داحکم د غلام او وینځې باره کښې هم جاری کیږی او چه څوک د وژلو په اراده بل لره قتل کړی نوهغه به قصاص کښې قتل کولې شی.او هم دا حکم د قتل نه سوا نورو زخمونو کښې او نورو اندامونوکښې هم دې.

د عالمانو مذاهب:- امام مالک رحمه الله فرمائی چې دا آیت په ﴿النَّفْسَ بِالنَّفْسِ﴾ سره منسوخ شوې دې س.د امام ابوحنیفه رحمه الله،امام ثوری رحمه الله،ابن ابی لیلی رحمه الله اود داود رحمه الله هم دا مذهب دې که آزاد یو غلام قتل کړو نو ددې بدله کښې به هم هغه قتل کیږی.دحضرت علی ﷺ،حضرت ابن مسعود ﷺ،حضرت سعید بن جبیر ﷺ،حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله،حضرت قتاده رحمه الله او حضرت حکم رحمه الله هم دا مذهب دې.امام بخاری رحمه الله،علی مدینی رحمه الله،ابراهیم رحمه الله او د یو بل روایت مطابق دحضرت ثوری رحمه الله هم دا مذهب دې که یو مالک خپل یو غلام قتل کړی نو ددې بدله کښې به هغه قتل کیږی.(۱) دلیل کښې داحدیث پاک بیانوی او فرمائی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې خپل غلام قتل کړی نو مونږ به هغه قتل کوؤ،څوک چه دخپل غلام پوزه پریکړی نو مونږ به دهغه پوزه پریکړو.او چه څوک هغه خصی کړی نو مونږ به هغه نه هم داشان بدله اخلو.

د ازاد قاتل د غلام مقابله کښې قصاص

مسلک حنفی:- دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک هم دغه دې کوم چه فاضل مفسر بیان کړې دې که قاتل آزاد وی نو دې به د غلام په قصاص کښې قتل کولې شی بیا فاضل مفسر رحمه الله اګرچه په امام ابوحنیفه رحمه الله باندې اعتراض کړې دې لیکن امام اعظم رحمه الله چه کوم مسلک اختیار کړې دې.چه مسلمان به د کافر په قصاص کښې قتل کولې شی.د هغې وضاحت دا دې.

① د قصاص د آیت په عموم استدلال:- امام اعظم رحمه الله د ټولو نه اول د قرآن په عموم باندې استدلال کوی ځکه چه قرآن کښې راغلی دی.﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى﴾ اوس،،قتلی،،عام دې که مسلمان وی که کافر هریو ته شامل دې نو مطلب د آیت دا شو چه کوم قاتل وی هغه به قتل کولې شی برابره که

---

(۱) ابوداود کتاب الدیات،باب من قتل عبده اومثل به : ٤٥١٥،وهوحدیث حسن،ترمذی : ١٤١٤،نسائی : ٤٧٤٠،ابن ماجة: ٢٦٦٣)-

Scanned with CamSc

مقتول نارینه وی که زنانه، مسلمان وی که کافر وی ازاد وی که غلام. دغه شان دویم عموم دا هم دې چه ﴿اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰی بِالْاُنْثٰی﴾ په دې کښې د مطلق حر، عبد او انثی ذکر دې. د مومن او کافر قید په کښې نشته نو د دې د عموم نه معلومه شوه چه قاتل به د مقتول په مقابله کښې قصاص کولې شی که قاتل مسلمان وی او که کافر وی

② **د صحابوؤ په عمل باندې استدلال**:- د دې نه علاوه حضرت عمر، حضرت علی او حضرت عبد الله رضی الله عنهم هم د ذمی په مقابله کښې مسلمان قتل کړې دې د دې تفصیل تاسو په احکام القرآن للجصاص کښې کتلې شئ نو که چرته د کافر په مقابله کښې مسلمان نشو قتل کولې نو دې حضراتو ولې د نبی کریم ﷺ د احادیثو نه خلاف کړې دې او ولې نورو صحابو رضی الله عنهم په دوی باندې اعتراض نه دې کړې ځکه چه حضرات صحابو کرام کله هم دقرآن او حدیث په مقابله چاته خاموش او چپ نه دی پاتې شوی. نو معلومه شوه چه امام اعظم رحمه الله د حدیث د ظاهرنه اګرچه خلاف ښکاری خو په حقیقت کښې هم په حدیث عامل وو. ځکه چه د نبی کریم په احادیثو چه څنګه حضرات صحابه کرام پوهیدل داسې روستو خلق نه پوهیدل. نو هرکله چه دغه درې جلیل القدر صحابو د دې حدیث د ظاهره خلاف کړې دې نو معلومیږی داسې چه د ذکرشوی حدیث مطلب او مفهوم او مراد هغه نه دې کوم چه نورو فقهاؤ اخستې دې بلکه دهغې مطلب به هغه وی کوم چه روستو مونږ بیانوو.

د خصم د دلیل نه جواب:- کوم حدیث چه د احنافو د مسلک په مخالفت کښې پیش کولې شی چې «لا یقتل مسلم بکافر» نو د دې تاویل او مطلب ته غوږ شئ (؟) جاری

① اول خو دا چه کافر په دوه قسمه دې یو کافر حربی یعنی هغه کافر چه د مسلمانانو سره جنګ کوی او بل کافر ذمی یعنی هغه کافر چه په اسلامی مملکت کښې اوسیږی او دهغې مطابق قوانین منی او تسلیموی. نو مونږ دا وایو چه په حدیث کښې د کافر نه مراد حربی کافر دې ذمی کافر مراد نه دې او احناف هم د دې قائل دی چې مسلمان به د حربی کافر د قتل په قصاص کښې نشی قتلولې. اوپه دې دعوی باندې دلیل دا دې چه د دې حدیث په یو روایت کښې دا جمله هم ده ﴿لایقتل مسلم بکافر ولاذوعهد فی عهده﴾ نوګوره نودلته دویمه جمله په اوله جمله باندې عطف ده او په معطوف او معطوف علیه کښې مغایرت ضروری وی. نو په اوله جمله کښې د کافر نه حربی کافر مراد دې او په دویمه جمله کښې د ذوعهد نه ذمی کافر مراد دې نو دا حدیث د احنافو د مسلک خلاف نشو. ځکه چه احناف خوهم دا وائی که مسلمان حربی کافر قتل کړو. نو مسلمان به د هغې په مقابله کښې نشی قتل کولې

② په حدیث کښې چه دکوم کافر ذکر دې نو دهغې نه د جاهلیت د زمانې کافر مقتول مراد دې یعنی کوم مسلمان چې په زمانه د جاهلیت کښې څوک کافر قتل کړی وی نو د اسلام نه پس به مسلمان قاتل د جاهلیت د دور کافر مقتول په مقابله کښې نشی قتلولولې. اود دې دعوی دلیل دا دې چه نبی کریم دا حدیث د حجة الوداع په خطبه کښې فرمائیلی وو. هغه داسې چه د خزاعه قبیلې یو کس د هذیل قبیلې یو کس په زمانه د جاهلیت کښې قتل کړې وو. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې ((الاان کل دم کان فی الجاهلیة فهوموضوع تحت قدمی هاتین! لایقتل مسلم بکافر ولاذوعهد فی عهده)) دا ټول تفصیل د احکام القرآن للجصاص نه په تسهیل او اختصار سره ماخوذ دې (احکام القرآن (۱ جلد ۲۰۱، ۲۰۰)

د جمهورو مسلک:- خو د جمهورو مذهب دادې بزرګانو خلاف دې. دوی وائی چه آزاد به د غلام بدله کښې نشی قتل کولې ځکه چه غلام مال دې که هغه په خطاء سره قتل کړې شی نو دیت نشته دې یعنی جرمانه به نه ورکوی صرف ددۀ مالک ته به ددۀ قیمت ورکوی. اوداشان دده سره ددۀ دپښو لاسونو وغیره د نقصان بدلې حکم نه دې راغلې.

Scanned with CamScanner

ایا مسلمان به د کافر بدله کښې قتل کولې شی ؟ :- دې باره کښې دجهمور علماء کرامو مذهب دادې چه نه به شی قتل کولې او د تاویل دپاره د صحیح بخاری شریف دا حدیث پاک دې چه (لا یقتل مسلم بکافر) مسلمان به د کافر بدله کښې نشی قتلولې (۱) د دې حدیث نه یو حدیث هم خلاف نه دې او نه څه دلیل کیدې شی چه هغه ددې خلاف وی.خو بیا هم د امام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دې چه دمسلمان بدله کښې دې کافر قتل کړې شی.

مسلمان به د کافرپ مقابله کښې قصاص کولې شی

مسلک حنفی:- فاضل مفسر رحمه الله اګرچه په امام ابوحنیفه رحمه الله باندې اعتراض کړې دې لیکن امام اعظم رحمه الله چه کوم مسلک اختیار کړې دې.چه مسلمان به د کافر په قصاص کښې قتل کولې شی.د هغې وضاحت دا دې.

① د قصاص د آیت په عموم استدلال:- امام اعظم رحمه الله د ټولو نه اول د قرآن په عموم باندې استدلال کوی ځکه چه قرآن کښې راغلی دی.﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلٰى﴾ اوس،،قتلی،،عام دې که مسلمان وی که کافر هریو ته شامل دې نو مطلب د آیت دا شو چه کوم قاتل وی هغه به قتل کولې شی برابره ده که مقتول نارینه وی که زنانه،مسلمان وی که کافر وی آزاد وی که غلام.دغه شان دویم عموم دا هم دې چه ﴿اَلْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْاُنْثٰى بِالْاُنْثٰى﴾ په دې کښې د مطلق حر،عبد او انثی ذکر دې.د مومن او کافر قید په کښې نشته نو د دې د عموم نه معلومه شوه چه قاتل به د مقتول په مقابله کښې قصاص کولې شی که قاتل مسلمان وی اوکه کافر وی

② **د صحابوٴ په عمل باندې استدلال**:- د دې نه علاوه حضرت عمر،حضرت علی اوحضرت عبدالله رضی الله عنهم هم د ذمی په مقابله کښې مسلمان قتل کړې دې د دې تفصیل تاسو په احکام القرآن للجصاص کښې کتلې شئ نوکه چرته د کافر په مقابله کښې مسلمان نشو قتل کولې نو دې حضراتو ولې د نبی کریم ﷺ د احادیثو نه خلاف کړې دې او ولې نورو صحابورضی الله عنهم په دوی باندې اعتراض نه دې کړې ځکه چه حضرات صحابو کرام کله هم دقرآن او حدیث په مقابله چاته خاموش او چپ نه دی پاتې شوی.نو معلومه شوه چه امام اعظم رحمه الله د حدیث د ظاهرنه اګرچه خلاف ښکاری خو په حقیقت کښې هم په حدیث عامل وو.ځکه چه د نبی کریم په احادیثو چه څنګه حضرات صحابه کرام پوهیدل داسې روستو خلق نه پوهیدل.نوهرکله چه دغه درې جلیل القدر صحابو د دې حدیث د ظاهره خلاف کړې دې نو معلومیږی داسې چه د ذکرشوی حدیث مطلب او مفهوم او مراد هغه نه دې کوم چه نورو فقهاؤ اخستې دې بلکه دهغې مطلب به هغه وی کوم چه روستو مونږ بیانوو.

د خصم د دلیل نه جواب:کوم حدیث چه داحنافودمسلک په مخالفت کښې پیش کولې شی چې ﴿**لا یقتل مسلم بکافر**﴾ نو د دې تاویل او مطلب ته غور شئ

① اول خودا چه کافر په دوه قسمه دې یو کافر حربی یعنی هغه کافر چه د مسلمانانو سره جنګ کوی او بل کافر ذمی یعنی هغه کافر چه په اسلامی مملکت کښې اوسیږی او د هغې مطابق قوانین منی او تسلیموی.نو مونږ دا وایوچه په حدیث کښې د کافر نه مراد حربی کافر دې ذمی کافر مراد نه دې او احناف هم د دې قائل دی چې مسلمان به د حربی کافر د قتل په قصاص کښې نشی قتلولې.اوپه دې دعوی باندې دلیل دا دې چه د دې حدیث په یو روایت کښې دا جمله هم ده ﴿**لایقتل مسلم بکافرولاذوعهدفی عهده**﴾ نوګوره نودلته دویمه جمله په اوله جمله باندې عطف ده او په معطوف او معطوف علیه کښې

---

(۱) صحیح بخاری،کتاب العلم باب کتابة العلم : ۱۱۱)-

Scanned with CamScanner

مغایرت ضروری وی.نو په اوله جمله کښې د کافر نه حربی کافر مراد دې او په دویمه جمله کښې د ذوعهد نه ذمی کافر مراد دې نو دا حدیث د احنافو د مسلک خلاف نشو.ځکه چه احناف خوهم دا وائی که مسلمان حربی کافر قتل کړو.نو مسلمان به د هغې په مقابله کښې نشی قتل کولې

② په حدیث کښې چه دکوم کافر ذکر دې نو دهغې نه د جاهلیت د زمانې کافر مقتول مراد دې یعنی کوم مسلمان چې په زمانه د جاهلیت کښې څوک کافر قتل کړی وی نو د اسلام نه پس به مسلمان قاتل د جاهلیت د دور کافر مقتول په مقابله کښې نشی قتلولې.اود دې دعوی دلیل دا دې چه نبی کریم دا حدیث د حجة الوداع په خطبه کښې فرمائیلی وو.هغه داسې چه د خزاعه قبیلې یو کس د هذیل قبیلې یو کس په زمانه د جاهلیت کښې قتل کړې وو.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې ﴿الاان کل دم کان فی الجاهلیة فهوموضوع تحت قدمی هاتین! لایقتل مسلم بکافر ولاذوعهد فی عهده﴾ دا ټول تفصیل د احکام القرآن للجصاص نه په تسهیل او اختصار سره ماخوذ دې (احکام القرآن (۱ جلد ۲۰۱، ۲۰۰)

سړې د ښځه په بدله کښې قصاص کول:- دحضرت حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ او حضرت عطاء رحمۃ اللہ علیہ قول دادې چه سړې به د ښځې بدله کښې نشی قتلولې او د لیل پورتنې آیت مبارک پیش کوی خود جمهورو علماء کرامو دې کښې اختلاف دې.ځکه چه سورة مائده آیت مبارک عام دې.هغې کښې دی چه (النَّفْسَ بِالنَّفْسِ).او ددې نه علاوه حدیث پاک هم دې چه (المسلمون تتکافادماءهم) (۱) دمسلمانانو وینې خپلو کښې برابر دی.د حضرت لیث رحمۃ اللہ علیہ مذهب دې چه خاوند ښځه اووژنی نو خاص کر هغه دې د هغې بدله کښې نشی قصاص کولې

سړې د ښځې بدله کښې قصاص کول

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز به د ښځې په مقابله کښې سړې قصاص کولې شی (التفسیرات الاحمدیة (صفحه ۵۰)-

د یو مقتول په بدله کښې ټول قاتلان قصاص کول:-د څلورو وارو امامانو او جمهورو مذهب دادې که ډیرو خلقو یو مسلمان قتل کړو نو ټول به ددې یوکس بدله کښې قتلولې شی دحضرت عمرفاروق رضی اللہ عنہ دورخلافت کښې ډیرو کسانو یو سړې اووژلو نو حضرت عمرفاروق رضی اللہ عنہ هغه ټول ددې یو سړی بدله کښې قتل کړل او وې فرمائیل که د صنعاء کلی خلق ټول دې قتل کښې شریک وې نو ما به ټول وژل (۲)

ددوی ددې فرمان خلاف ددوی په دور کښې یو صحابی هم او نکړل.نو په دې خبره د ټولو اجماع شوه.خو د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ نه مروی دی،دوی فرمائی چه دیو بدله کښې دې صرف یو قتل کړې شی زیات نه.حضرت معاذ رضی اللہ عنہ،حضرت ابن زبیر رضی اللہ عنہ،حضرت عبدالملک بن مروان رحمۃ اللہ علیہ،حضرت زهری رحمۃ اللہ علیہ،حضرت ابن سیرین رحمۃ اللہ علیہ،حبیب بن ابی ثابت رحمۃ اللہ علیہ نه هم دا مروی دی.ابن المنذری رضی اللہ عنہ فرمائی چه صحیح قول هم دادې:د یو مقتول په بدله کښې دیو جماعت د قتل کولو دلیل نشته دې اوحضرت ابن زبیر رضی اللہ عنہ نه داثابت دی چه هغوئ دامسئله نه منی.اوس چه کله صحابه کرامو کښې اختلاف شو نو مسئله زیر غور شوه.

قوله تعالی:- فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ۔

د معافئ په صورت کښې فدیه په کومه طریقې سره ادا کول:- بیا فرمائی چه دا بله خبره ده چه یو قاتل ته د مقتول یو وارث څه حصه معاف کړی یعنی د قتل بدله کښې هغه دیت قبول کړی یا دیت هم د خپلې حصې پریږدی اوصفا صفا معافی اوکړی.که هغه په دیت باندې راضی شی نو په قاتل دې مشکل نه راولی.بلکه په ښه طریقه دې وصول کړی او قاتل ته هم پکار دی چه په ښه طریقه دې ادا کړی حیلې

---

(۱) ابوداود کتاب الجهاد باب فی السریة ترد علی اهل العسکر: ۲۷۵۱ وهو حدیث حسن)-
(۲) الموطا ۸۷۱/۲ ح/۱۶۸۸،وهو صحیح)-

Scanned with CamScanner

اوبهانې دې نه کوی.

د دیت په صورت کښې د قاتل رضا مندی:- دامام مالک رحمۃ اللہ علیہ مشهور مذهب اود امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ اوددوی د شاګردانو اوامام احمد رحمۃ اللہ علیہ دیه روایت مطابق د دوی مذهب دا دې چه دمقتول اولیاء دیت پریږدی نوپه دیت راضی کیدل په هغه وخت کښې جائز دی چه کله قاتل پخپله هم په دې راضی وی.خو نور بزرګان فرمائی چه دې کښې دقاتل راضی کیدل شرط نه دی.

په دیت ورکولو کښې د قاتل رضا شرط دې

مسلک حنفی:- د احنافو مسلک دا دې دیت اخستل به هغه په هغه وخت کښې جائز وی چه قاتل په دیت ورکولو باندې هم راضی اوکه قاتل په دیت ورکولو راضی نه وی نو بیا د دیت اخستل جائز نه دی (احکام القرآن للجصاص (۲۱۰۱۱)).

د بښځې په معافئ سره د قصاص ساقطیدل:-دسلفو یوجماعت وائی که بښځې قصاص معاف کړی او په دیت باندې راضی شی نو ددې اعتبار نشته دې.د حسن رحمۃ اللہ علیہ،قتاده رحمۃ اللہ علیہ،ابن شبرمه رحمۃ اللہ علیہ او اوزاعی رحمۃ اللہ علیہ همدا مذهب دې.خو باقی علماء دین ددې خلاف دی.هغوئ فرمائی که یو بښځې په دیت باندې رضامندی ظاهره کړه نو قصاص به ختم شی.

د بښځې په معافئ سره د قصاص ساقطیدل

مسلک حنفی:- په احکام القران کښې د عهد فاروقی یوه واقعه نقل شوې ده چه د عمر فاروق رضی اللہ عنہ په دور خلافت کښې یو کس قتل اوکړو نو د مقتول اولیاؤ د قصاص مطالبه اوکړه په دې کښې د مقتول خور راغله او وې وئیل چه ما قاتل معاف کړې دې په حقیقت کښې قاتل د مقتول اوښې یعنی د خور خاوند وو نو عمر فاورق رضی اللہ عنہ اوفرمائیل قاتل د قصاص نه بچ شو ددې نه معلومه شوه چه د بښځې په معافئ باندې هم قصاص ساقطیږی (احکام القران للظفراحمد عثمانی (۱۱۱)).

قوله تعالی:-ذٰلِكَ تَخْفِيْفٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ

په قتل عمد کښې د دیت اخستلو جواز مهربانی ده:- بیا فرمائی چه قتل عمد کښې دیت اخستل دا دالله ﷻ د طرفنه تخفیف او مهربانی ده.مخکښې امتونو ته دا اختیار نه وو.حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی چه بنی اسرائیلو باندې قصاص فرض وو خوهغوئ ته دقصاص معاف کولو او دیت اخستلو اجازت نه وو.خو په دې امت باندې دا مهربانی اوشوه چه دیت اخستل هم جائز شو نو دلته دې ځیزونه شو،قصاص دیت او معافی.مخکښې امتونو کښې صرف قصاص او معافی وه دیت نه وو.ځینې خلق وائی چه اهل تورات دپاره صرف قصاص او معافی وه او اهل انجیل دپاره صرف معافی وه.

فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ

د دیت اخستلو نه پس بدله اخستلو سزا - بیا فرمائی چه کوم کس دیت یعنی جرمانې اخستلو نه پس یا دیت قبلولونه پس زیاتی اوکړی نو دغه دپاره دردناک عذاب دې.لکه دیت هم واخلی او بیا د قتل کولو هم اراده اوکړی وغیره.

د مقتول ولی یا مجروح ته د دې خبرو اختیار:- حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه دکوم کس مقتول یا مجروح وی نو هغه ته دریو خبرو کښې یو اختیارول پکاردی یا دې قصاص یعنی بدله واخلی یا دې معافی اوکړی یا دې دیت یعنی جرمانه واخلی اوکه بل څه کول غواړی نو هغه منع کړئی.دې کښې په یو

Scanned with CamSc

ځیزباندې د رضامندئی نه پس چه څوک زیاتې اوکړی نوهغه دپاره همیشه جهنم عذاب دې.(۱)بل روایت کښې دی چه چا دیت واخستلو اوبیا ئې قتل اوکړو نو هغه نه به دیت نه اخلم بلکه هغه به قتل کوم.(۲)

قوله تعالی:-وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ

په قصاص کښې ژوند دی: بیا فرمائی چه ائې عقلمندو ستاسو دپاره قصاص کښې انسانی ژوند دې.دې کښې عظیم حکمت دې.اګر چه په ظاهره دامعلومیږی چه دیو بدله کښې یو قتل شی نو دوه مړۀ شول خو که تاسو په دې سوچ اوکړئی نو داد ژوند سبب دې.قاتل ته به پخپله خیال راشی که خه هغه قتل کړم نو بیا به زه هم قتلولې شم نو هغه به ددې فعل نه منع شی او دې سره به دوه سړی د قتل نه بچ شی.مخکښې کتابونو کښې هم دا خبره بیان شوې وه چه (القتل انفی للقتل) قتل قتل لره منع کوی.خو قران پاک کښې ډیر صفا اوفصاحت اوبلاغت سره دا مضمون بیان شوې دې.

قصاص د ګناه نه د بچ کیدو سبب دې:- بیا فرمائی چه دا ستاسو د بچ کیدو یو سبب دې.یو خو به دالله ﷻ دنافرمانئی نهبچ پاتې شئ اوبل به یو کس بل نه قتلوی.په مخ دزمکې به امن وامان وی.تقوی دتولو نیکو کولو او تولو بدو پریخودو نوم دې.

كُتِبَ	عَلَيْكُمْ	إِذَا حَضَرَ	أَحَدَكُمُ	الْمَوْتُ	إِنْ تَرَكَ خَيْرًا ۖ	
فرض کړې شوې دې	په تاسو باندې	کله چې حاضر شی	یو لتا سونه	مرګ	که پریښودونې مال	
په تاسو فرض شوی دی که په تاسو کښې چاته د مرګ وخت راشی نو که مال تری پاتې کیږی						
الْوَصِيَّةُ	لِلْوَالِدَيْنِ	وَالْأَقْرَبِينَ	بِالْمَعْرُوفِ ۚ	حَقًّا		
وصیت کول	دپاره دمور پلار		او دپاره دنورو رشته دارانو	په ښۀ طریقې سره	داحق دې	
هغه دې د مورپلار اود(نورو) خپلوانو په حق کښې په مناسب طریقه وصیت کوی دا (حکم) ضروری دې						
عَلَى الْمُتَّقِينَ ﴿١٨٠﴾	فَمَنْ بَدَّلَهُ	بَعْدَمَا	سَمِعَهُ	فَإِنَّمَا		
په پرهیزګارانو باند	نوچاچې بدل کړو داوصیت	روستو دهغې نه	چې وائې وریدو هغه		نوبیشکه چې		
د پرهیزګارانو دپاره|بیاځوک چې داوصیت د آوریدونه	پس بدل کړی (اود خپل طرف نه په کمې زیاتې اوکړی					
إِثْمُهُ	عَلَى الَّذِينَ	يُبَدِّلُونَهُ ۚ	إِنَّ اللَّهَ	سَمِيعٌ	عَلِيمٌ ﴿١٨١﴾	
ګناه دهغې	په هغه چاباندې ده	چې بدلوی هغه وصیت	بیشکه چې الله	دهرڅه اوریدونکې	اوپه څه پوهه دې		
نو ګناه به ئې دبدلونکی په ذمه وی بیشکه الله هرڅه آوری (څوک ته وصیت پتولې نشی)اوپه هرڅۀ پوهه دې						
فَمَنْ	خَافَ	مِنْ مُوصٍ	جَنَفًا	أَوْ إِثْمًا		
البته هغه څوک	چې اویریدو	دوصیت کونکی نه	چې په خطاسره	یائې قصدابې انصافی کړی وی		
خوکه چا سره دا ویره وه چې وصیت کونکی(په قصدسره یا په غلطئ کښې)ظلم یاګناه کړې وه						
فَأَصْلَحَ	بَيْنَهُمْ	فَلَا	إِثْمَ	عَلَيْهِ ۚ	إِنَّ اللَّهَ	غَفُورٌ
نوا صلاح ئې اوکړه|په منځ دهغوئ کښې| نونشته| ګناه	|په هغه باندې	بې شکه الله	ببنونکې	
او (دمیراث خورو) ئې روغه راوسته نو په هغه هیڅ ګناه نشته	بیشکه الله ببنونکئ (د ګناهونودې)					

(۱) ابوداود کتاب الدیات باب الامام یامر بالعفو ق الدم : ٤٤٩٦،،ابن ماجة،کتاب الدیات باب من قتل له قتیل فهو ٢٦٢٣)-

(۲) ابوداود کتاب الدیات باب من قتل بعداخذ الدیة: ٤٥٠٧،)-

رَّحِيمٌ ﴿۱۲۸﴾ ع
مهربان دي	اے	
مهربان دي	

دوصيت حكم اومنسوخيت :- دي آيت مبارک کښې مور پلار او رشته دارو دپاره د وصيت حکم بيانيږي د صحيح اقوالو مطابق دميراث حکم نه مخکښې دا واجب وو.خود ميراث احکامو د وصيت حکم منسوخ کړو.هروارث به د وصيت نه بغير خپله مقرره حصه اخلي.سنن وغيره کښې حضرت عمرو بن خارجه ﷺ نه روايت دي،فرمائی چه ما حضرت نبی کريم ﷺ نه خطبه کښې واوريدل چه الله ﷻ هر حقدار ته دهغه حق رسولي دي.اوس وارث دپاره وصيت نشته دي.(۱)

حضرت ابن عباس ﷺ د سورة بقره تلاوت کوی او کله چه دي آيت مبارک ته رارسی نو فرمائی چه دا آيت مبارک منسوخ دي.(مسند احمد).(۲)

د وصيت حکم منسوخ کيدل:- حضرت ابن عباس ﷺ نه داهم مروی دی چه اول مور پلار سره بل څوک رشته دار وارث نه وو.باقی رشته دارو دپاره صرف وصيت وو.بيا د ميراث آيت نازل شو.او يوه حصه مال کښې دوصيت اختيار باقی پاتې شو.ددي آيت مبارک حکم منسوخ کولو والا آيت ﴿لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ﴾ الخ دي.حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت ابوموسي ﷺ،سعيد بن مسيب رحمۃ اللہ علیہ،حسن رحمۃ اللہ علیہ،مجاهد رحمۃ اللہ علیہ،عطاء رحمۃ اللہ علیہ،سعيدبن جبير رحمۃ اللہ علیہ،محمد بن سيرين رحمۃ اللہ علیہ عكرمه بن زيد رحمۃ اللہ علیہ،اسلم بن ربيع رحمۃ اللہ علیہ،انس رحمۃ اللہ علیہ،قتاده رحمۃ اللہ علیہ سدی رحمۃ اللہ علیہ،مقاتل بن حيان رحمۃ اللہ علیہ،طاؤس رحمۃ اللہ علیہ،ابراهيم نخعی رحمۃ اللہ علیہ،شريح رحمۃ اللہ علیہ،ضحاک رحمۃ اللہ علیہ اوزهری رحمۃ اللہ علیہ داټول حضرات وائی چه دا آيت مبارک منسوخ دي.خو ددي باوجود تعجب دي چه امام رازی رحمۃ اللہ علیہ خپل تفسير کبير کښې ابومسلم اصفهانی نه دا نقل کوی چه دا آيت مبارک نه دي منسوخ بلکه دا آيت مبارک د ميراث د آيت تفسير دي.

قوله تعالي:- كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ

د وصيت د ايت مفهوم:- اود ايت مبارک مطلب دادي چه تاسو باندي وصيت فرض کړي شوي دي او ددي بيان ايت ﴿يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ﴾ کښې دي.اوهم دا قول د اکثرو مفسرينو او فقهاء کرامو دي.ځينې وائی چه د وصيت حکم د وارثانو حق کښې منسوخ دي خو چه د چا حصه مقرر نه ده دهغوئ حق کښې ثابت ده.حضرت ابن عباس ﷺ،حضرت حسن رحمۃ اللہ علیہ،مسروق رحمۃ اللہ علیہ،طاؤس رحمۃ اللہ علیہ،ضحاک رحمۃ اللہ علیہ،مسلم بن يسار رحمۃ اللہ علیہ اوعلاء بن زياد رحمۃ اللہ علیہ نه هم دا مذهب منقول دي.ځه وايم چه سعيد بن جبير،ربيع بن انس،قتاده او مقاتل بن حيان هم دا وائی خو ددي حضراتو دقول په بناء د روستو فقهاء کرامو اصلاح کښې دا آيت مبارک منسوخ نه دي ځکه چه د ميراث آيت سره هغه خلق خو دي حکم سره مخصوص شو چه دهغوئ حصه شريعت پخپله مقرر کړي ده.او چه کوم ددي آيت مبارک لحاظ سره وصيت کښې داخل وو ځکه چه رشته دار عام دی که دهغوئ حصه مقرر وه او که نه.نو اوس وصيت هغه چا دپاره شو چه کوم وارثان نه دی.اوچه کوم وارثان دی نودهغوئ حق کښې پاتې نشو.داقول اود ځينې نورو حضراتو نه دا قول نقل دي چه د وصيت حکم داسلام شروع کښې وو اوهغه هم غير ضروری،د دوارو مطلب تقريباً يو دي.

خوکوم خلق چه دوصيت دي حکم ته واجب وائی کوم چې د عبارت د روانئ او سياق کلام نه معلوميږی، د هغوی په نزد خو دا آيت مبارک منسوخ شوي دي لکه څنګه چه دا کثرو مفسرينو او فقهاء کرامو قول

---

(۱) ترمذی كتاب الوصايا باب ماجاء لاوصية لوارث : ۲۱۲۱،وهو حسن،نسائی : ۳۶۷۱)-

(۲) حاكم : ۲۷۳/۲،ح/۳۰۸۳،وسنن ابی داود: ۲۸۶۹ وسنده حسن)-

Scanned with CamS

دي مور پلار او وراثت والو رشته دارو دپاره وصيت کول بالاجماع منسوخ دي بلکه ممنوع دي حديث پاک کښې راغلی دی چه الله ﷻ هر حقدار ته دهغه حق ورکړې دي او اوس وراثت دپاره وصيت نشته دي د ميراث د آيت مبارک حکم مستقل دي او دالله ﷻ د طرفنه هغه واجب او فرض دي د ذوی الفروض او عصبات حصه مقرر ده او ددې نه ددې آيت مبارک حکم کلية ختم شو،

د غير ذوی الفروض دپاره د وصيت جواز:- باقی پاتې شوهغه رشته دار چه دهغوئ د وراثت حصه مقرر نه ده نو هغوئ دپاره دريمه حصه مال کښې وصيت کول مستحب دی څه خو د دې حکم ددې آيت مبارک نه معلوميږی او څه حديث پاک کښې راغلی دی.

د وصيت ليکلو حکم:- بخاری شريف او مسلم شريف کښې حضرت ابن عمر ﷺ نه مروی دی چه حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه يو سړی مسلمان دپاره جائز نه دی چه هغه سره څه څيز وی اوهغه ددې وصيت کول غواړی نو دوه شپې دې هم بغير وصيت نه نه کوی راوی دحديث دحضرت عمرفاروق ﷺ څوئې فرمائی چه ددې فرمان آوريدو نه پس خوما يو شپه هم بغير وصيت نه نه ده تيره کړې.(۱)

رشته دارو او خپلوانو سره سلوک باره کښې ډير آيتونه او احاديث موجود دی يو حديث پاک کښې دی چه الله ﷻ فرمائی چه اې ابن آدم ته چه کوم مال خما لار کښې خرچ کوې نو څه به دهغې په وجه تا پاکوم او ستا د مرګ نه پس به هم تا دخپلو نيکوبندګانو د دعاګانو سبب جوړوم.(۲)

قوله تعالی:- إِنْ تَرَكَ خَيْرًا ۖ الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ ۖ

د «خير» نه مراد:- دلته د (خَيْرًا) نه مراد مال دې اکثر جليل القدر مفسرينو نه هم دا تفسير نقل دې د خپلو مفسرينو خو دا قول دې چه مال که هغه ډير وی او که لږ وی دهغې وصيت مشروع دې لکه څنګه چه ميراث په لږ مال کښې هم دې او په ډير مال کښې هم.څينې وائی چه د وصيت حکم په هغه وخت کښې دې چه کله مال زيات وی.حضرت علی ﷺ ته ذکر کيږی چه يو قريشی مړ شوېدې اود هغه ميراث کښې درې څلور سوه ديناره دی.اوهغه څه وصيت نه دې کړې.دوی اوفرمائيل چه دا رقم د وصيت قابل نه دې.الله ﷻ ﴿إِنْ تَرَكَ خَيْرًا﴾ فرمائيلی دی.

يوبل روايت کښې دی چه حضرت علی ﷺ ديو بيمار تپوس ته ورغلو.هغه ته چا اووئيل چه وصيت اوکړه وصيت کښې خير دې.او ته خو لږ مال پريږدې او خپل اولاد دپاره ئې پريږدې.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه چا نه شپيته ديناره پاتې نشو نو هغه ﴿خَيْرًا﴾پرې نه خودو.يعنی په هغه وصيت نشته دې.طاؤس اتيا ديناره وائی.قتاده يو زر ديناره بنائی.

د معروف نه مراد:- په ايت کښې د معروف نه مراد نرمی او احسان دې.حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه وصيت کول په هر مسلمان ضروری دې که وصيت جائز کو ی او که ناجائز او وارثانو ته دې نقصان نه رسوی.اسراف او فضول خرچی دې هم نه کوی.

د سعد بن ابی وقاص ﷺ اکثره حصه مال وصيت کولو درخواست:- بخاری او مسلم شريف کښې دی چه حضرت سعد ﷺ اووئيل يارسول الله ﷺ څه مالدار يم او خما وارثه صرف يو جينئ ده.نو تاسو اجازت راکړئی چه څه د خپل دريو حصو مال وصيت اوکړم.حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه نه.وې وئيل چه د نيم مال د وصيت اجازت راکړئی.حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه نه.وې وئيل چه ديو حصی مال وصيت کولو اجازت راکړئی.حضرت نبی کريم ﷺ ا وفرمائيل چه خيردې د يوې حصې مال وصيت اوکړه

---

۱) صحيح بخاری کتاب الوصايا باب الوصايا: ۲۸۳۸،صحيح مسلم: ۱۶۲۷)-

۲) عبد بن حميد فی مسنده : ۷۷۹،ابن ماجة: ۲۷۱۰،وسنن الدار قطنی : ۱۴۸/۴)-

Scanned with CamScanner

اودا هم ډیر دي.تاته پکار دی چه خپل ځان نه روستو خپل وارثان مالدار پریږدي دا بهتر ده ددي نه چه نه هغوئ فقیران پریږدي چه نورو ته لاس نیسی.(۱)

په وصیت کښې د ابن عباس ﷺ رائې:- صحیح بخاری کښې دی،حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه کاش خلق دریمې حصه پریږدی او ځلورمې حصې ته راشی ځکه چه حضرت نبی کریم ﷺ د یوې حصې اجازت ورکړي دي او دائې فرمائیلی دی چه دریمه حصه زیاته ده.(۲)

دعهد نبوی یوه واقعه:- مسند احمد کښې دی چه د حنظله بن حزیم بن خضیه نیکه خضیه دیو یتیم بچی دپاره چه هغه سره ئې پرورش شوې وو د سلو اوښانو وصیت اوکړو.ددوی په اولاد دا ښه او نه لګیدل دا معامله حضرت نبی کریم ته راغله.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه نه نه صدقه کښې پنځه ورکړه،لس ورکړه،پنځلس ورکړه،شل ورکړه،پنځویشت ورکړه،دیرش ورکړه،پنځه دیرش ورکړه اوکه په دي هم نه منی نو بیا زیات نه زیات ځلویښت ورکړه.الخ.(۳)

قوله تعالی:-فَمَنْ بَدَّلَهُ بَعْدَمَا سَمِعَهُ فَإِنَّمَا إِثْمُهُ عَلَى الَّذِينَ يُبَدِّلُونَهُ

د وصیت بدلولو ګناه:- بیا فرمائی چه کوم سړي وصیت بدل کړی،هغه کمې زیاتې اوکړی یا وصیت پټ کړی نو ددي ګناه بدلولو والا باندې ده.د مړده اجر به د الله ﷻ په ذمه ثابت وی،الله ﷻ ته دوصیت کولو والا دوصیت اصلیت معلوم دي.اود بدلولو والا بدلون هم.نه خو هغه ذات نه څه آواز پټ دي او نه څه راز.دجنف معنی خطا یا غلطی ده.لکه یو وارث ته په څه طریقه زیات ورکول.لکه وې وئیل چه فلانې څیز دي په فلانې په دومره دومره قیمت خرڅ کړې شی و غیره.اوس که په طور د غلطئ او خطا وی یا د محبت او شفقت په وجه بغیر د څه ارادې نه داسې حرکت اوکړی یا دګناه په طور وی نو وصی ته دي بدلون کښې څه ګناه نشته دي.وصیت دي د شرعی احکامو مطابق جاری کړی چه مړده هم دالله ﷻ د عذاب نه بچ شی اوحقدارته حق هم ملاؤ شی.او دي سره به شرعی وصیت هم پو راشی.نوداسې حالت کښې په بدلولو والا باندې څه ګناه نشته یا حرج نشته،والله اعلم.

دظالم صدقه نه قبلیږی:- ابن ابی حاتم کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی په ژوند کښې ظلم کولو نه پس دصدقې کولو والا صدقه به داشان واپس کیږی لکه څنګه چه د مرګ وخت کښې د مړده صدقه واپس کیږی،دا حدیث پاک ابن مردویه کښې هم مروی دي.

د روایت تضعیف:-ابن ابی حاتم فرمائی چه ولید بن یزید چه ددي حدیث پاک راوی دي هغه دي کښې غلطی کړې ده.اصل کښې داکلام د حضرت عروه دي،ولید بن مسلم د اوزاعی نه روایت کړې دي.او عرونه ئې مخکښې سند نه دي بوتلي.ابن مردویه هم یو مرفوع حدیث پاک کښې په روایت دابن عباس ﷺبیان کوی چه دوصیت کمې زیاتې لویه ګناه ده.(۴)خوددي حدیث پاک مرفوع کیدوکښې کلام دي.

د ګناه د وصیت خرابی:- دي باره کښې د ټولو نه صحیح حدیث هغه دي چه کوم مسند عبدالرزاق کښې په روایت د حضرت ابوهریره ﷺ مروی دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه یو سړي اویا کالو پورې د نیکو خلقو په شان اعمال کوی خوپه وصیت کښې ظلم اوکړی اوپه بدود خاتمې په و جه جهنمی شی.او ځینې خلق اویا کاله بدعملونه کوی خو وصیت کښې عدل اوانصاف کوی اودهغوئ آخری عمل نیک شی اودي جنتی شی.بیا حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی که غواړئ نو د قران پاک دا آیت مبارک اولولئ:

---

۱) صحیح بخاری کتاب الوصایا باب ان یترک ورثته اغنیاء : ۲۷۴۲،صحیح مسلم: کتاب الوصایا: ۱۶۲۸)-

۲) صحیح بخاری کتاب الوصایا باب ان یترک ورثته اغنیاء : ۲۷۷۳)-

۳) احمد: ۶۷/۵،سنده حسن)-

۴) النسائی فی الکبری : ۳۲۰/۶،بسند صحیح عن ابن عباس موقوفا والبیهقی : ۲۷۱/۶،وغیره مرفوعا)-

Scanned with CamScanner

﴿تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا﴾ یعنی دا د لله ﷻ مقرر شوی حدونه دی ددې نه مخکښې مه خې.[1]

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	كُتِبَ	عَلَيْكُمُ	الصِّيَامُ
اے هغه کسانو	چې ایمان مو راوړې دې	فرض کړې شوې	په تاسو باندې	روژې
ائې مومنانو په تاسو روژه فرض کړې شوې ده (اود روزې فرضیت څه نوې خبره نه ده بلکه)				
كَمَا	كُتِبَ	عَلَى الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	لَعَلَّكُمْ
لکه څنګه چې	فرض کړې شوې وې	په هغه کسانو باندې	چې مخکښې ستاسونه وو	امیددې چې تاسو
لکه چې ستاسونه مخکښې په نورو امتونو باندې فرض کړې شوې وه				امیددې چې (په روژه ساتلوبه)
تَتَّقُوْنَ ۝	اَيَّامًا	مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ	فَمَنْ	كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا	اَوْ عَلٰى سَفَرٍ
تقوی دار شئ	یو څو ورځې	شمارلې شوی	پس هغه څوک	چې وې ستاسو نه	مریض
تاسو پرهیزګار شئ	روژې دشمیر یوڅو ورځې دی	نوکه په تاسو کښې څوک ناجوړه وی	یا په سفر کښې وی		
فَعِدَّةٌ	مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ	وَعَلَى الَّذِيْنَ	يُطِيْقُوْنَهٗ	فِدْيَةٌ	طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ؕ
نو شمار	دورځو	انورو نه	او په هغه کسانو	چې طاقت لری	دروژونیولو	فدیه ده	خوراك دیو مسکین
نوهغه دې په نورو ورځو کښې دغه شمیر پوره کړی				اوڅوک چې دروژې طاقت نه لری (اونه نې نیسی)			
نوهغه دې فدیه ورکوی (دیوې روژې په بدل کښې) یومسکین ته (په مړه خیټه خوراک							
فَمَنْ	تَطَوَّعَ	خَيْرًا	فَهُوَ	خَيْرٌ	لَّهٗ ؕ	وَاَنْ تَصُوْمُوْا
اوهغه څوك	چې په خپله خوښه اوکړی	څه نیکی	نودغه	بهتره ده	ددغه دپاره	اوچې روژه اونیسئ
اوڅوک چې پخپله خیرات ورکوی		نودادهغه دپاهر ډیره بنه ده		اوکه تاسو (د فدیه په ځای) روژه اونیسئ			
خَيْرٌ	لَّكُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ ۝			
دابهتره ده	ستاسو دپاره	که چرې تاسو	پوهیږئ			
دا ستاسو دپاره ډیره غوره ده		که تاسو (ددې په مصلحتونو) پوهیږئ				

قوله تعالی:- يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ

دروژې فرضیت او مقصد: الله ﷻ ددې امت ایماندارمخاطب کوی اودوی ته حکم کوی چه روژې نیسئ. دروژې معنی دالله ﷻ دفرمان منل خالص نیت سره اودخوراك څکاك اودجماع نه منع کیدل دی. پدې کښې دا فائده ده چه دانسان نفس پاك صفا شی. دخرابو کارونو او غلطو اخلاقو نه انسان بچ شی.

قوله تعالی:- كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

روژه په پخوانو امتونو هم فرض وه:- دې حکم سره فرمائی چه دا حکم صرف په تاسوباندې نه دې بلکه ستاسونه مخکښې خلقو ته هم د روژو حکم وو. ددې بیان نه دا هم مقصد دی چه دا امت په دې فریضه کښې د مخکښې امتونو نه روستو پاتې نشی. لکه فرمانی چه ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ؕ﴾ یعنی د

[1] سنن ابی داود : ۲۸٦۷، وغیره. وسنده حسن، شهر بن حوشب حسن الحدیث)-

هریوامت دپاره مونږ یوه طریقه او لاره مقرر کړې ده.که الله ﷻ غوښتلې نو تاسو به ئې یوامت جوړ کړی وئ.لیکن هغه تاسو باندې آزمیښت کوی اوتاسو ته پکار دی چه په نیکو کښې سبقت اوکړئی.دلته دا هم فرمائی چه په تاسو باندې روژې هغه شان فرض شوې دی چه څنګه ستاسونه مخکښې امتونو باندې وی.

روژې سره نفسانی خواهشات کمزوری کیږی:- روژې سره بدن پاکیږی.اود شیطانی لارونه منع کیږی .بخاری او مسلم کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه انې ځوانانو ! په تاسو کښې چه دچا دنکاح کولو طاقت وی هغه دې نکاح اوکړی او چه دچا طاقت نه وی نو هغه دې روژې نیسی.ځکه چه جوش سړوی.(۱)

قوله تعالی:-اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ

د روژو شمیر:- بیا د روژو مقدار بیانیږی چه دا څو ورځې وی چه هسې نه په دې سره تنګ شی او ددې د اداکولو نه عاجزه شی بلکه شوق سره دالله ﷻ دا فریضه اداکړی.مخکښې خو هره میاشت کښې د دریو روژو حکم اوشو،بیا هغه حکم منسوخ شو.ددې مفصل بیان رازی.انشاء الله.

په مخکنو امتونوباندې د فرض روژو شمیر:-① حضرت معاذ ﷺ،حضرت ابن مسعود ﷺ،حضرت ابن عباس ﷺ،حضرت عطاء رحمه الله او حضرت قتاده رحمه الله او دحضرت ضحاك رحمه الله فرمان دې چه د حضرت نوح ﷺ دزمانې نه په هره میاشت کښې د دریو روژو حکم وو.بیا د نبی کریم ﷺ دامت دپاره دا بدل کړې شو او په دې باندې ددې مبارکې میاشتې رمضان روژې فرض شوې.②حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه په مخکښو امتونو باندې هم د یو میاشتې کاملې روژې فرض وې.یو مرفوع حدیث کښې دی چه درمضان روژې تاسو نه مخکښې امتونو باندې فرض وې.حضرت ابن عمر ﷺ فرمائی چه مخکښو امتونو نه مراد اهل کتاب دی.

قوله تعالی:-وَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ؕ

د بیماراو مسافر دپاره د روژې رخصت:- بیا بیان کیږی چه کوم سړې په میاشت د رمضان کښې بیمار وی یا په سفر کښې وی نو هغه دې په دې حالت کښې روژې پریږدی (یعنی روژې دې نه نیسی) مشقت دې نه اوچتوی اودې نه پس دې په نورو ورځو کښې چه کله هغه عذر ختم شی قضا راوړی.او دا سلام په شروع کښې چه کوم یو کس تندرست وو اومسافر نه وو نو هغه ته هم اختیار وو که هغه روژې نیسی او که نه نیسی خو فدیه کښې به یو مسکین ته خوراك ورکوی،که یو نه زیاتو ته خوراك ورکړی نو روژه نیول د فدې ورکولو نه بهتروو.حضرت ابن مسعود ﷺ،حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت طاؤس رحمه الله او حضرت مقاتل رحمه الله وغیره هم دا فرمائی.

په مانځه کښې دړې تبدیدلئ :- مسند احمد کښې دحضرت معاذ بن جبل ﷺ نه روایت دې چه دمونځ او دروژې دړې حالتونه بدل شو.① چه شپاړس میاشتو پورې نبی کریم ﷺ مدینه منوره کښې بیت المقدس طرفته مونځ اوکړو.بیا د ﴿ قَدْ نَرٰى ﴾ آیت نازل شو او مکې طرفته نبی کریم ﷺ مخ واړولو.② چه مونځ دپاره به یو سړی بل سړې رابللو او جمع کیدل به.لیکن آخر ددې نه عاجزه شو،بیا یو انصاری حضرت عبدالله بن زید ﷺ د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ما خوب کښې اولیدل او داسې لکه چه هغه خوب د بیدارئی حالت کښې وو،چه یو سړی د شین رنګ جامه اغوستې ده او قبلې طرفته متوجه دې او وانی چه ﴿ الله اکبر الله اکبر اشهدان لا اله الا الله ﴾،دوه ځل.غرض هم داشان اذان ئې پوره کړو،بیا لږ وخت پس هغه تکبیر اووئیل چه په هغې کښې ﴿ **قدقامت**

---

(۱) صحیح بخاری کتاب النکاح باب من لم یستطع الباء فلیصم: ٥٠٦٦،صحیح مسلم: ١٤٠٠)-

Scanned with CamSc

الصلوة ﴾ هم دوه خل اوونيلي شو.نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه بلال ته دا اوښائي هغه به اذان کوی،نو دټولو نه مخکښي حضرت بلال ؓ اذان اوکړو.دويم روايت کښي دی چه حضرت عمر فاروق ؓ هم راغلو او خپل خوب ئي بيان کړي وو ليکن ددي نه مخکښي حضرت زيد راغلي وو.

③ چه مخکښي دا دستور وو چه نبی کريم ﷺ به امامت کولو او يوسړي به راغلو او هغه به تپوس اوکړو چه څو رکعته شوی دی،نو هغه بل سړی به آواز ورکړو چه دومره رکعتونه شوی دی.نو هغه به (مخکښي شوی) رکعتونه ادا کړل اوبيا به د نبی کريم ﷺ سره شامل شو.حضرت معاذ ؓ يو وار راغلو او وي ونيل چه څه نبی کريم ﷺ په کوم حالت کښي اووينم او کوم مونځ شوي وی نو هغه به د نبی کريم ﷺ دسلام نه روستو ادا کړم.نبی کريم ﷺ چه کله هغه اوکتلو نو وي فرمائيل چه معاذ ؓ ستاسو دپاره دايو ښه طريقه راوښکله.تاسو هم اوس داسي کوئی.دادري تبديلئ خو په مونځ کښي شوي اوس دروژو تبديلئ واورئی.

په روژو کښي دري تبديلئ :- ①چه نبی کريم ﷺ کله مدينې ته راغلو نو هره مياشت کښي به ئي دري روژې نيولې.او د عاشورې روژه به ئي نيوله.بيا الله ﷻ ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ﴾ نازل کړو اود رمضان روژې فرض کړې شوې.② چه څوک غواړی نو روژې دې نيسی او که څوک غواړی نو نه دې نيسی او فديه دې ورکړی.بيا دا آيت نازل شو چه ﴿ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ﴾ تاسوکښي چه کوم سړي د رمضان په مياشت کښي دقيام په حالت کښي وی (يعنی په خپل مقام کښي وی) نو هغه دې روژې نيسی.چه کوم سړي مقيم وی،مسافر نه وی،تندرست وی،بيمار نه وی،په هغه باندې روژې نيول ضروری شو.خو د بيمار اومسافر دپاره اجازت دي او داسي بوډا چه معذور وی او د روژونيولو طاقت ئي نه وی نو هغه ته هم اجازت دي.③(د روژه ماتی نه پس)په شروع کښي خوراك څكاك او ښځو له ورتلل او ورسره څملاستل جائز وو،که څملاستو او بيا به د شپې هم پاسيدو نو د ده دپاره به خوراك څكاك او جماع حرامه وه.

د ابوقيس ؓ او حضرت عمر ؓ واقعه:- بياابو قيس صرمه نومې يو انصاری صحابی ؓ ټوله ورځ کار اوکړو او ډير ستړي کور ته راغلو.دماسخوتن مونځ ئي ادا کړو او خوب ورغلو،او په سبا ئي په نهره روژه اونيوله،اوده حالت ډير خراب شو.نبی کريم ﷺ تپوس اوکړو چه څه خبره ده ؟ نو هغوی ورته ټوله واقعه بيان کړه.يو طرفته ده سره دا واقعه اوشوه او بل طرفته حضرت عمرفاروق ؓ د اوده کيدو نه پس خپلې بی بی سره جماع اوکړه او د نبی کريم ﷺ په خدمت کښي حاضرشواو دخپل حسرت او افسوس اودخپل قصور اقرار ئي اوکړو ،نو په دې باندې دا آيت چه ﴿ أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ ﴾ نه تر ﴿ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ﴾ پورې نازل شو.او مابنام نه واخله تر دصبا صادق پورې د رمضان په شپه کښي د خوراك څكاك او ښځي سره د جماع کولو اجازت ملاوشو.

بخاری اومسلم کښي دحضرت عائشه ؓ نه روايت دی چه مخکښي د عاشورې روژه به نيولې شوه ،چه کله د رمضان فرضيت راغلو نو اوس ضروری نه ده،که څوک دا نيسی او که نه نيسی.دا دحضرت ابن عمر ؓ او حضرت ابن مسعود ؓ نه هم روايت دي.([1])

د ډيربوډا او حامله او مرضعې دپاره د روژې حکم :﴿ وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ ﴾ مطلب حضرت معاويه ؓ دابيانوی چه د اسلام په شروع کښي چه به چا روژې نيول غوښتل روژه به ئي نيوله او چه چا به نه نيول غوښتل نو نه به ئي نيوله اودهري ورځي په بدله کښي به ئي يو مسکين ته خوراك ورکولو.

دايت منسوخيت:- حضرت سلمه بن اکوع ؓ نه هم په صحيح بخاری کښي روايت راغلي دي چه ددې

[1]) صحيح بخاری كتاب التفسير سورة البقرة باب (يايهاالذين امنوا كتب عليكم الصيام.....) : ٤٥٠١،صحيح مسلم: ١١٢٥)-

آیت دنازلیدو نه پس چه کوم سړي غواړی افطار دي کوی او فدیه دي ورکوی تر دي پوري چه دي نه پس آیت ﴿ شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْ﴾ نازل شو اود آیت ﴿ وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ﴾ منسوخ شو.حضرت ابن عمر ﷺ هم دي آیت ته منسوخ وانی.(۱)

د ابن عباس ﷺ په نیز عدم منسوخیت:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا نه دي منسوخ،ددي نه مراد هغه بوډاسړي او ښځه ده چه دهغه د روژې طاقت نه وی..(۲) ابن ابی لیلی وائی چه څه په رمضان کښې عطاء رحمه الله لره ورغلم نو ما اوکتل چه هغه خوراك کوی،چه څه ئې اولیدم نو وې فرمائیل چه دحضرت ابن عباس ﷺ قول دي چه دي آیت رومبې آیت منسوخ کړو او اوس دا حکم صرف ډیرزیات کمزوری بوډا دپاره دي.

قوله تعالی:- وَعَلَى الَّذِيْنَ يُطِيْقُوْنَهٗ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِيْنٍ ؕ

د شیخ فانی د روژې حکم: حاصل دکلام دادي چه کوم سړي مقیم وی اوتندرست وی نو دهغه دپاره دا حکم نه دي بلکه هغه به روژې نیسی،خو که داسې بوډا،ډیر عمر والا کمزورئی وی چه دهغه د روژې نیولوطاقت نه وی نو هغه دي روژه نه نیسی اونه په هغه باندې قضا ضروری ده.لیکن که مالدار ه وی نو آیا هغه به کفاره ورکوی او که نه ؟ په دي کښې اختلاف دي.د حضرت امام شافعی رحمه الله قول دي چه چونکه په ده کښې د روژې نیولو طاقت نشته نوپه دي وجه دي د بچی په شان دي.اوپه ده باندې کفاره هم نشته دي ځکه چه الله ﷻ هیڅا ته دهغه د طاقت نه زیات تکلیف نه ورکوی.دویم قول د حضرت امام شافعی رحمه الله دا دي چه دده په ذمه کفاره ده اوداکثر علماء کرامو هم دا فیصله ده.حضرت ابن عباس ﷺ وغیره تفسیرونو نه هم دا ثابتیږی.

په شیخ فانی چه مالدار وی کفاره شته

مسلک حنفی:- احناف کثرالله سوادهم فرمائی چه چې شیخ فانی د فدیه ورکولو وس هم نه لری نو دي دي د الله ﷻ نه مغفرت او ښښنه غواړی (الفقه الاسلامی وادلته (۲۸۷۱۲) واحکام القران للعثمانی رحمه الله (۱۱۱)-

دحضرت امام بخاری خوښه مسئله دا ده چه هغه فرمائی چه ډیر عمر والا بوډا چه په هغه کښې د روژې نیولو طاقت نه وی نو هغه دي فدیه ورکړی،لکه څنګه چه حضرت انس بن مالك ﷺ په خپل بوډاوالی په آخری وختونوکښې وو.که بوډا کال دوه کاله پوري روژې او نه نیسی نود هري ورځې په بدله کښې دي یومسکین ته خوراك تیار کړی او دیرشو مسکینانو ته دي ورکړی..(۳)

د فدیه مقدار

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز د یوې ورځې فدیه نیم صاع غنم یا د دې قیمت دي نیم صاع زمونږ د مروجه سیر اتیا تولو په حساب سره تقریبا پوکم دوه سیر جوړیږی د دې بازاری قیمت دي معلوم کړي شی او یو مسکین ته دي مالکانه حیثیت سره ورکړي شی یعنی چه هغه ئې مالک جوړ کړی (معارف القرآن تالیف مفتی محمد شفیع m (۴۴۲۱۱)-

د حاملې او مرضعې د روژې حکم:- هم دا شان حمل والا ښځه اوپې ورکوونکې ښځه چه کله ورته د خپل ځان یا د خپل بچی د ژوند ویره وی نودي باره کښې علماء کراموکښې اختلاف دي.(۱) بعضې وائی چه هغه دي روژه نه نیسی اوکله چه ویره ختمه شی نو دهغې قضا دي راوړی.(۲) بعضې وائی چه صرف فدیه کافی ده قضا دي نه راوړی.(۳) بعضې وائی چه قضا دي راوړی فدیه پرې نشته (۴) او

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (فمن شهد منکم الشهر....) : ٤٥٠٧،صحیح مسلم: ١١٤٥)-

۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب قوله تعالی (ایاما معدودات) : ٤٥٠٥،) -

۳) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب قوله تعالی (ایاما معدودات) : ٤٥٠٥،) -

Scanned with CamSc

دبعضو قول دې چه نه دې روژه نیسی او نه دې فدیه ورکوی او نه دې قضا راوړی.(امام ابن کثیر رحمه الله)
دا مسئله په خپل کتاب الصیام کښې تفصیل سره واضحه کړې ده.فالحمدلله.(په ظاهره هم دا خبره دلائل ته زیاته نزدې په نظر راځی چه دا دواړه دې داسې حالتونو کښې روژه نه نیسی او دې نه پس دې قضا راوړی،فدیه دې نه ورکوی)

د حاملې او مرضعې د روژې او کفارې حکم

مسلک حنفی:-دابوحنیفه m مسلک دا دې چه مرضعه (تئ ورکونکې زنانه) اوحامله (حمله اره زنانه) دې روژه نه نیسی بلکه کله چه د رضاعت او حمل تکلیف ختم شی نو قضاء به راوړی او په دوی باندې فدیه نشته.

①**په مریض باندې قیاس:**- حامله او مرضعه د مریض پشان ده لکه څنګه مریض د بیمارئ نه ټیک شی نو هغه به قضاء راوړی او کفاره پرې نشته دغه شان به حامله او مرضعه هم.امام حسن فرمائی چې د حمل نه زیات بل کوم مرض وی.نوهرکله چه په مریض باندې فدیه نشته نو دغه شان به په حامله او مرضعه باندې هم نه وی.

②**عدم حواز د جمع بین البدلین:**- قضاء روژه د مریض دپاره د اداء نه بدل دې دغه شان فدیه د شیخ فانی دپاره د روژې نه بدل دې.اوس که مونږ په حامله او مرضع باندې قضاء او فدیه دواړه واجب کړو نودا د دوو بدلونو جمع شوه او جمع د بدلین جائز نه ده.کذا في روائع البیان للصابونی (۲۱۰۱۱)

شَهْرُ رَمَضَانَ	الَّذِیْٓ	اُنْزِلَ					
میاشت د رمضان	هغه ده	چې نازل کړې شو					
رمضان هغه میاشت ده چې نازل شوې دې							
فِیْهِ	الْقُرْاٰنُ	هُدًی	لِّلنَّاسِ	وَبَیِّنٰتٍ	مِّنَ الْهُدٰی		
په هغې کښې	قرآن	چې هدایت دې	دپاره دخلقو	او روښانه دلیلونه دی	دلارموندلو		
په دې کښې قران چې د خلقو دپاره سراسر هدایت دې		اود نیغې لارې واضح دلیلونه په کښې موجود دی					
وَالْفُرْقَانِ ۚ	فَمَنْ	شَهِدَ	مِنْكُمُ	الشَّهْرَ	فَلْیَصُمْهُ ؕ		
اوحق لره دباطل نه جدا کولو	نوهغه چاچې	ببیا مونده	ستاسونه	دامیاشت	نوخامخا دروژی اونیسي دهغې		
اوحق اوباطل په ښه شان سره جدا کوی	نوڅوک چه په تاسو کښې دا میاشت بیا مومی	انوخواه مخواه روژې نیسی					
وَمَنْ كَانَ	مَرِیْضًا	اَوْ عَلٰی سَفَرٍ	فَعِدَّةٌ	مِّنْ اَیَّامٍ	اُخَرَ ؕ	یُرِیْدُ اللّٰهُ	
او هغه څوک چې وی	ناجوړه	یا په سفر	نو شمار	دورځو	نورونه	غواړی الله	
اوڅوک چې ناجوړه وی	یا په سفر کښې وی	نوهغه دې په نورو ورځو کښې(دروزو)شمیر پوره کړی الله غواړی					
بِكُمُ	الْیُسْرَ	وَلَا یُرِیْدُ	بِكُمُ	الْعُسْرَ ۫	وَلِتُكْمِلُوا		
په تاسوباندې	آسانتیا	اونه غواړی	په تاسو باندې	سختی	اودپاره ددې چې تاسو پوره کړئ		
چې تاسوسره نرمی اوکړی اوپه تاسو سختی کول نه غواړی(اودا چل ورته ځکه ښایئ) چې پوره کړئی تاسو							

Scanned with CamSc

الْعِدَّةَ	وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ	عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ	وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝
شمار	او چې لوئي بيان کړئ دالله په دې چې هدايت ئې کړې دې تاسوته	اودپاره ددې چې تاسو شکراو باسئ	
شمير د روژو	اوچې په دې هدايت باندې دالله لوئي بيانوئ	اود دې دپاره چې دهغه شکر ادا کړئ	

قوله تعالى:- شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ

د اسمانی کتابونو نزول په رمضان کښې :-درمضان د مياشتې فضيلت او بزرگی بيانيږی چه هم په دې مبارکه مياشت کښې قران پاك نازل شوې وو.مسند احمد کښې حديث دې چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه د ابراهيمی صحيفې د رمضان په رومبئ شپه کښې نازله شوې وې او توراة په شپږم تاريخ،اوانجيل په ديارلسم تاريخ او قران پاك په څليريشتم تاريخ نازل شو.(۱) يو بل روايت کښې دی چه زبور په دولسم تاريخ اوانجيل په اتلسم تاريخ.مخکښئ ټولې صحيفې او توراة،انجيل،او زبور وغيره چه په کوم کوم پغمبر باندې نازل شوې وې په يو ځل نازل شوې وې ليکن قران کريم بيت العزة نه دنياوی اسمان ته خو په يو ځل نازل شوې دې او بيا وخت په وخت د ضرورت په وخت زمکې ته نازل شو.هم دا مطلب دې د ﴿ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ ﴾ او ﴿ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ فِيْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ ۝ ﴾ او ﴿ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ ﴾.قرآن کريم په يو ځل اول آسمان نه د رمضان المبارك په مياشت کښې ليلة القدر کښې نازل شو.او هم دې (ليلة القدر) ته ليله مبارکه وائی.

د قران پاک دنياوی اسمان ته په يو ځل نازليدل:- حضرت عبدالله بن عباس ؓ نه هم دا روايت دې. هرکله چه دوی نه دا سوال اوشو چه قران پاك خو مختلفو مياشتو کښې،کالونوکښې،مکمل شو نو بيا په رمضان کښې او هغه هم ليلة القدر کښې د دې نه نزول څه مطلب دې ؟ نو حضرت عبدالله بن عباس ؓ هم دا مطلب بيان کړو،ابن مردويه وغيره.د دوی نه هم دا روايت کړې دې چه د رمضان په مينځ کښې قران پاك داسمان نه دنياوی آسمان ته نازل شو.پدې کښې ډيرآيتونه دکفارو په جواب کښې نازل شو.دکفارو اعتراض هم دا وو چه دا قران پاك په يوځل ټول په ټوله ولې نازل نه شو.نو ددې په جواب کښې اووئيلې شوچه ﴿لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا﴾ داپدې وجه چه ستازړه برقرار اومضبوط اوساتو، وغيره.

قوله تعالى:- هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ

قران هدايت دې:- بيا د قران پاك په تعريف کښې بيان کيږی چه دا د خلقو دزړونودپاره هدايت دې.او په دې کښې واضح او روښانه دليلونه دی.څوك چې په دې تدبر او غوروفکر کوی نو هغه صحيح او نيغه لار موندیشی. دا(قرآن پاك) حق او باطل،حرام اوحلال کښې فرق کوونکې دې،هدايت اوګمراهئ اورشدوهدايت کښې فرق کوونکې دې.

صرف د رمضان وئيلو حکم:- د بعضو سلفو نه منقول دی چه صرف رمضان وئيل مکروه دی.شهررمضان يعنی درمضان مياشت وئيل پکار دی.حضرت ابوهريره ؓ نه روايت دې چه رمضان مه وائې،دا دالله ﷻ نوم دې.شهر رمضان يعنی د رمضان مياشت وائې.حضرت مجاهد ؒ او محمد بن کعب ؒ نه هم دا روايت دې.د حضرت ابن عباس ؓ او حضرت زيد بن ثابت ؓ مذهب ددې خلاف دې.د رمضان نه وئيلو باره کښې يو مرفوع حديث هم دی.ليکن دسند لحاظ سره هغه صحيح نه دې.حضرت امام بخاری ؒ هم ددې په رد کښې باب قائم کړې دې او ډير احاديث ئې بيان فرمائيلی دی.يو حديث کښې دی چه کوم سړې درمضان المبارك روژې ايمان او صحيح نيت سره اونيسی نو دده مخکښې او

---

(۱) احمد : ٤/١٠٧)-

روستی گناهونه بخښلی شی.وغیره.(۱)

قوله تعالی:-وَمَنْ كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ

بیمار او مسافر دپاره اجازت :- غرض ددې آیت نه دا ثابته شوه چه کله درمضان میاشت په نظر راشی نوکه یوسړې په خپل کورکښې وی،په سفر کښې نه وی،او ښدرست هم وی،هغه باندې روژې نیول لازمی اوضروری دی.مخکښې داسې قسمه خلقو ته د روژې نه نیلو اجازت وو خو هغه ختم شو.ددې بیان فرمانی اودبیماراومسافرداجازت بیان کوی چه دا خلق دې دروژې په ورځوکښې دې روژې نه نیسی.اوددې قضا دې روستو راوړی.یعنی چه دچا په بدن کښې څه تکلیف وی چه د هغې په وجه په روژه کښې مشقت وی یا ورته تکلیف وی یا په سفر کښې وی نو افطار دې کوی او چه څومره روژې اوخوری نو روستو دې ددې قضا راوړی.

قوله تعالی:- يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ

الله د اسانتیا اراده لری:- بیا ارشاد کیږی چه په دې حالتونوکښې رخصت یا اجازت عطاء فرمانی چه تاسودمشقت نه بچ کړی اوداټول ځمونږ د رحمت ظهور دې،او د اسلام په احکاموکښې آسانی ده. اوس دلته څو مسئلې واورئی.

اوله مسئله: دسلفو دیوې ډلې خیال دې چه کوم سړې په خپل کور کښې مقیم وی یا درمضان المبارک میاشت راوخیژی،بیا دې په رمضان کښې په سفر باندې روان شی نو دې که روژه نیسی نو دا جائز دی.ځکه چه داسې خلقو ته د روژې نیولو صفا حکم په قران پاک کښې موجود دې.اوکه داسې خلق (یعنی مسافر)د سفر په حالت کښې روژه نه نیسی نو دا هم جائز دی.اوددې خلقو دپاره په سفر کښې روژه نه نیول جائز دی خوچه درمضان میاشت راشی.خو دا غریب قول دې.ابومحمد بن حزم رحمه الله په خپل کتاب(المحلی)کښې دصحابه او تابعینویو ډلې نه هم دا مذهب نقل کوی.لیکن په دې کښې کلام دې والله اعلم.

نبی کریم ﷺ رمضان المبارک کښې د فتح مکه دپاره اووتل،دروژې میاشت وه،کدید ته په رسیدو ئې روژه افطار کړه،او نورو خلقو ته ئې هم دروژې ماتولو حکم اوفرمائیلو. (بخاری ومسلم). (۲)

دوئمه مسئله

په سفر کښې روژه نه نیول واجب دی:- دصحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو یوه ډله وائی چه په سفر کښې روژه ماتول واجب دی ځکه چه قران پاک کښې دی چه ﴿فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾لیکن صحیح قول دجمهورو دې، هغه دا دې چه سړی ته اختیار دې که روژه نیسی اوکه نه نیسی.ځکه چې کله به خلق په میاشت د رمضان کښې نبی کریم ﷺ سره په سفر وتل نو بعضو به روژې نیولې او بعضو به نه ساتلې.نو هغوی به په بل باندې څه قدغن نه لګولو.(۳)که افطار واجب وې نو په روژه ساتونکو به انکار وې بلکه پخپله نبی کریم ﷺ نه په حالت دسفر کښې روژه ساتل ثابت دی.بخاری اومسلم کښې دی چه حضرت ابودرداء فرمائی چه رمضان المبارک کښې سخته ګرمی وه مونږ حضرت نبی ﷺ سره په یو سفر کښې وو، د ګرمئ د زیات والی په وجه به مو په سرونولاسونه رانښکل.مونږ کښې هیڅوک روژه دار نه وو سوا د نبی کریم ﷺ او دحضرت عبدالله بن رواحه رضی الله عنه نه.(۴)

دریمه مسئله

---

۱) صحیح بخاری کتاب الایمان باب صوم رمضان احتسابا من الایمان : ۳۸،صحیح مسلم: ۷۶۰)-

۲) صحیح بخاری کتاب الصوم باب من افطر فی السفر لیراه الناس: ۱۹۴۸،صحیح مسلم: ۱۱۲۲)-

۳) صحیح بخاری کتاب الصوم باب لم یعب اصحاب النبی بعضهم بعضا فی الصوم والافطار صحیح مسلم: ۱۱۱۶،)-

۴) صحیح بخاری کتاب الصوم باب رقم : ۳۵،ح/۱۹۴۵،صحیح مسلم: ۱۱۲۲)-

Scanned with CamSc

په سفر کښې روژه د عدم روژې نه غوره دی:- دعلماء کرامو دیو جماعت دا خیال دې (چه په دوی کښې حضرت امام شافعی رحمه الله هم شامل دې) چه په سفر کښې روژه ساتل،د نه ساتلونه افضل دی.خکه چه نبی کریم ﷺ نه په حالت دسفر کښې روژه ساتل ثابت دی.دیو بل جماعت خیال دې چه روژه نه ساتل افضل دی.خکه چه په دې کښې په اجازت باندې عمل دې.اویوبل حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ نه دسفری روژې په باره کښې تپوس اوشو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څوك روژه ماته کړی نوهغه ښه اوکړل او چه چا ماته نه کړه نو په هغه باندې هیڅ ګناه نشته دې.(۱)یو بل حدیث کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دالله ﷻ د رخصتونه کوم چې هغه پاك ذات تاسو ته درکړی دی هغه قبول کړئ (۲)

سفر کښې روژې ساتل اونه ساتل برابردی:- د دریم جماعت قول دې چه ساتل نه ساتل دواړه برابر دی.ددوی دلیل دحضرت عائشه رضی الله عنها حدیث دې چه حضرت حمزه بن عمرو اسلمی رضی الله عنه اووئیل چه یارسول الله ﷺ څه اکثر روژې ساتم نو آیا اجازت شته دې چه په سفرکښې روژې اونیسم.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه که غواړې نو ساته او که غواړې نو مه ساته (بخاری ومسلم).(۳)

که مشقت وی نه افطار غوره دې:- د بعضو خلقو قول دې که روژې سره دتکلیف ویره وی نو افطار کول افضل دی.حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه نسبی کریم ﷺ یو سړې اولیدو چه په هغه باندې سیورئی کړې شوې وو.نبی کریم اوفرمائیل چه دا څه خبره ده.خلقو اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! دده خو روژه ده.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په سفر کښې روژه نیول نیکی نه ده.(بخاری ومسلم) (۴)

داخیال دې وی چه کوم سړې دسنتو نه مخ واړوی او روژه پریښودل دسفر په حالت کښې هم مکروه ګنړی نو په هغه باندې افطار کول ضروری دی.او روژه نیول حرام دی.

په سفرکښې د روژې افضیلت که تکلیف نه ورکوی

مسلک حنفی:- د احنافو مسلک دا دې که په سفر کښې ورته روژه تکلیف نه ورکوی نو روژه نیول افضل او غوره دی اوکه تکلیف او مشقت کښې اخته کیږی نو نه نیول ورله افضل دی (احکام القران للعثمانی ،۱۱۱\ ۱۸۲)-

مسند احمد وغیره کښې حضرت ابن عمر رضی الله عنه اودحضرت جابر رضی الله عنه وغیرنه روایت دې چه کوم سړې رخصت قبول نه کړی په هغه باندې دعرفات دغرونو برابر ګناه ده.(۵)

څلورمه مسئله:-په قضاءراوړلوکښې دتسلسل حکم:- څلورمه مسئله داده چه آیاد قضاروژودپاره متواتری روژې نیول ضروری دی او که جدا جدا هم اوساتلې شی نو په دی کښې به هیڅ باك نه وی

(۱)یومذهب دبعضو خلقو دادې چه قضاد ادا په مثل پورا کول پکار دی.جدا جدا نه بلکه متواتر روژې نیول پکاردی.(۲)دویم داچه قضاروژې متواتری ساتل ضروری نه دی.اوکه جدا ئې نیسی(۳)د جمهورو سلفواوخلفو همدا قول دې اودا دلائلو سره هم ثابت دې رمضان المبارك کښې متواتر روژې ساتل ددې وجې دی چه هغه میاشت د ادا کولو ده او د رمضان وتلونه پس خوصرف هغه شمیر پورا کول دی.که هره یوه ورځ وی.ددې وجې د قضا د حکم نه پس الله ﷻ د آسانتیا نعمت بیان کړې دې.

قوله تعالی:- يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ

---

۱) صحیح مسلم کتاب الصوم باب الصیام،باب التخیر ف الصوم والفطر ف السفر: ۱۱۲۱)-

۲) صحیح مسلم کتاب الصوم باب الصیام،باب جواز الصوم والفطر ف شهر رمضان: ۱۱۱۵)-

۳) صحیح بخاری کتاب الصوم ف السفر والافطار : ۱۹٤۳،مسلم: ۱۱۲۱)-

۴) صحیح بخاری کتاب الصوم باب قول ا لنبی صلی الله علیه وسلم ((لم ظلل علیه.....) صحیح مسلم: ۲٦۱۲)-

۵) احمد: ۷۱/۲،)-

Scanned with CamSc

په دین کښې اسانتیا ده:- مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه بهترین دین هغه دې چه هغه آسانتیا والا وی.(۱) مسند احمد کښې یو حدیث کښې دی چه ابوعروه ؓ وائی چه مونږ د نبی کریم ﷺ یو خل انتظار کولو.هرکله چه نبی کریم ﷺ تشریف راوړونو د نبی کریم ﷺ د سرمبارك نه اوبه څڅیدلې.معلومیدله چه نبی کریم ﷺ غسل یا اودس کړې او راغلی دی.هرکله چه مونځ نه فارغ شو نو خلقو ددوی نه سوالونه شروع کړل چه یارسول الله ﷺ آیا په فلانی کار کښې څه باك شته دې ؟ فلانی کار کښې څه باك شته دې؟ نوآخرکښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دالله ﷻ دین آسانتیا والا دې،دری خل نبی کریم ﷺ دا اوفرمائیل.(۲)

دمسند احمد په یو بل حدیث کښې دی چه حضرت نبی کریم صلی ا لله علیه وسلم فرمائی چه په خلقو آسانئ راولئ سختئ نه،تسکین ورکړئی نفرت نه.(۳)دبخاری ومسلم کښې په حدیث کښې هم دی چه نبی کریم ﷺ حضرت معاذ ؓ او حضرت ابوموسی ؓ یمن طرفته لیږل نو وې فرمائیل چه تاسو دواړه خوشحالئ ورکوئی،نفرتونه مه ورکوئی،آسانئ ورکوئی او سختئ مه کوئی،په خپلو کښې اتفاق سره اوسیږئ اختلاف مه کوئی.(۴)سنن او مسانید کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه زه یوطرفیزه د نرمئ او آسانئ په دین سره لیږلې شوې یم.(۵)

محجن بن ادرع ؓ فرمائی چه نبی کریم ﷺ یو سړې اولیدو چه هغه مونځ کولو.نبی کریم ﷺ هغه ته غورسره کتل،بیا نې اوفرمائیل چه تاسو ده ته گورئی چه په ربښتیا سره مونځ ادا کوی.خلقواوونیل چه یارسول الله ﷺ دې په ټولو مدینې والوکښې د ټولو نه زیات مونځگذار دې.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ده ته دا مه وائې هسې نه چه دا د ده دهلاکت سبب جوړشی.واورئی دالله ﷻ اراده دې امت سره د آسانتیا ده.دسختئ نه ده.(۶) نو دآیت مبارك مطلب دا شو چه مریض اومسافر وغیره ته رخصت (اجازت) ورکول او هغه ته معذوره وئیل ددې په وجه دی چه دالله ﷻ اراده د آسانئ ده،دسختئ نه ده.او دقضا حکم د شمیر پورا کولو دپاره دی.او په دې رحمت،نعمت،هدایت،اوعبادت باندې تاسو ته پکاردی چه دالله ﷻ ذکر او لوئی بیان کړئی.لکه څنګه چه یو بل خائې کښې دحج په موقع باندې فرمائی چه﴿فَإِذَآ أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَٰتٍ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ﴾یعنی کله چه تاسو د حج احکام ادا کړئی نو دالله ﷻ ذکر کوئی.یوبل خائې کښې د جمعې دادا کولو نه پس فرمائی چه کله مونځ پوره شی نو په زمکه کښې خواره شئ او رزق تلاش کړئی،او دالله ﷻ ذکر زیات کوئی چه تاسوته فلاح ملاؤ شی.او بل خائې کښې فرمائی چه ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾یعنی دنمر راختلو نه مخکښې،دنمر ډوبیدو نه مخکښې ، د شپې، او د سجدونه پس دالله ﷻ تسبیح کوئی.هم دا مسنون طریقه ده چه دهر فرض مونځ نه پس دالله ﷻ حمد او تسبیح او تکبیر اووئیلی شی

حضرت ابن عباس ؓ نه روایت دې چه مونږ به د نبی کریم ﷺ د مونځ نه فارغیدل صرف د الله اکبر په آوازونو سره پیژندل.(۷) دا آیت دلیل دې ددې امر چه عیدالفطر کښې تکبیرونه وئیل پکار دی.د داؤد بن علی اصبهانی ظاهری رحمه الله مذهب دې چه ددې آیت په رنړا کښې اختر کښې تکبیرونه وئیل واجب

---

(۱) احمد: ٤٧٩/٣،وهو حسن وله طریق اخر عند احمد: ٣٣٨/٤ وسنده حسن)-
(۲) احمد: ٦٩/٥،وسنده ضعیف)-
(۳) احمد: ١٣١/٣،صحیح بخاری: کتاب الادب باب قول النبی صلی ا لله علیه وسلم (یسرو ولا تعسروا) : ٦١٢٥،صحیح مسلم: ١٧٣٤)-
(۴) صحیح بخاری کتاب المغازی باب بعث ابی موسی ومعاذ.....٤٣٤٤،صحیح مسلم: ١٧٣٣)-
(۵) صحیح بخاری کتاب الایمان باب الدین یسر تحت رقم : ١٩،تعلیقا ترمذی کتاب المناقب باب مناقب معاذ بن جبل : ٣٧٩٣)-
(۶) احمد : ٣٢/٥،)-
(۷) صحیح بخاری کتاب الاذان باب الذکر اجر الصلاة : ٨٤٢،صحیح مسلم: ٥٨٣)-

Scanned with CamSc

دی خکه چه په دې ځائې کښې صیغه د امر ﴿وَلِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ﴾ ده.اوداحنافو مذهب ددې خلاف دې. هغوی وائی چه په اختر کښې تکبیرونه وئیل مسنون دی.باقی بزرگان ورته مستحب وائی.اگر چه بعضو تفصیلاتو کښې اختلاف دې.

د اختر په مونځ کښې دتکبیرونو حکم

مسلک حنفی:- په عامو مونځونوکښې تکبیرونه وئیل سنت دی خو په اخترونو کښې د زوائدو تکبیرونو وئیل واجب دی لکه صاحب د هدایه چه واجبات د مانځه شمیری نو په هغې کښې دا هم فرمائی وَتَكْبِيرَاتِ الْعِيدَيْنِ او په عیدینو کښې تکبیرونه.(تسهیل الهدایه (۳۰۵\۱)-

د شکر حکم:- بیا فرمائی چه تاسو شکر کوئی.یعنی دالله ﷻ احکام پوره کولو باندې،اود هغه فرائضو پوره کولو باندې،اود هغه حرام شوی کارونو نه بچ کیدو باندې،د هغه د حدودو حفاظت والا جوړ شئ.

وَإِذَا	سَأَلَكَ	عِبَادِي	عَنِّي	فَإِنِّي	قَرِيبٌ ۖ	أُجِيبُ
اوکله چې	تپوس اوکړی ستانه	بندګان زما	په باره زما	کښې	نو بیشکه زه	نزدې یم
(ائې پیغمبره) هرکله چې زمابندګان زمابابره کښې ستانه تپوس اوکړی (ور ته اووایه) چې زه (هغوی) ته (ډیر) نزدې یم کله چه						
دَعْوَةَ	الدَّاعِ	إِذَا	دَعَانِ ۖ	فَلْيَسْتَجِيبُوا	لِي	
دعا	دغوښتونکی	کله چې	اوغواړی زمانه	نو پکار دی چې هغوئ	قبوله کړی بلنه	زما
زمانه څوک دعا اوغواړی نودهغه دعاقبلوم نوپکارده چې دوئ زما حکمونه اومنی (اوپه هغې عمل اوکړی						
وَلْيُؤْمِنُوا بِي	لَعَلَّهُمْ	يَرْشُدُونَ ﴿١٨٦﴾				
او ایمان راوړی په ما	شاید چې هغوئ	نیغه لاربیاموميا				
اوپه ماباندې یقین اوکړی [د دې دپاره چه دوئ په سمه لار روان شی]						

د ایت شان نزول:- یواعرابی تپوس کړې ووچه یارسول الله ﷺ خمونږ رب نزدې دې ؟ که نزدې وی چه مونږ هغه سره خبرې اوکړو،یاکه لرې وی نو چه مونږ هغه په زوره زوره آوازونوسره راوبلو.نبی کریم ﷺ خاموش شو.په دې باندې دا آیت نازل شو.(ابن ابی حاتم).

قوله تعالی:- وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ

یوروایت کښې دی چه د صحابه کرامو ﷺ په دې سوال باندې چه خمونږ رب چرته دې ؟ داآیت نازل شو. (ابن جریر).حضرت عطاء فرمائی چه کله آیت ﴿ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۖ﴾ نازل شو یعنی ما بلئ څه به ستاسو دعاګانې قبلوم.نو خلقو تپوس اوکړو چه دعا په کوم وخت کښې کول پکار دی.نوپه دې باندې دا آیت نازل شو.(ابن جریج).

په ذکر او دعا کښې اخفاء کول:- دحضرت ابو موسی اشعری ﷺ بیان دې چه مونږ نبی کریم ﷺ سره یو غزوه کښې وو،په هره اوچته باندې دختلو په وخت،هر خوږ ته ته دکوزید په وخت کښې به مونږتکبیر وئیلو.نبی کریم ﷺ مونږ ته تشریف راوړو او وې فرمائیل چه انې خلقو په خپلو خانونوباندې رحم اوکړئ،تاسو څه کم آوریدونکی یا لرې ذات نه رابلئ بلکه چه تاسو کوم ذات رابلئ هغه پاک ذات ستاسو د سورلو څټونو نه هم تاسوته زیات نزدې دې. انې عبدالله بن قیس واورئی د جنت خزانه ﴿ لا حول ولا قوة الا بالله ﴾ ده (مسنداحمد).(۱)

الله د بنده سره وی:- حضرت انس ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه الله ﷻ فرمائی چه زما بنده ما

---

(۱) احمد : ۴۰۲/۴،صحیح بخاری کتاب الدعوات باب اذا علاعقبة : ۶۳۸۴،صحیح مسلم: ۲۷۰۴)-

Scanned with CamSc

سره څنګه عقیده ساتی،څه هم هغه سره هغه شان کوم،هرکله چه هغه زما نه دعا غواړی نو څه هغه سره یم (مسند احمد).(۱)

حضرت ابو هریره ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زما بنده چه کله مایادوی او دده شوندې زما په یادکښې خوزی نو زه ده سره یم (رواه الامام احمد).(۲) ددې مضمون آیت قرآن پاك کښې هم دې،فرمان دې چه ﴿ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوا وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ ﴾ چه کوم تقوی او احسان او خلوص والا خلق دی هغوی سره الله ﷻ دې.حضرت موسی ﷺ اوحضرت هارون ﷺ ته نې اوفرمائیل چه ﴿ قَالَ لَا تَخَافَا إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴾ څه تاسو دواړو سره یم،ستاسو آورم او تاسو وینم

قوله تعالی:- أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ

الله دعا قبلوی:- مقصد دا دې چه الله ﷻ ددعا کونکو دعا نه رد کوی او نه داسې کیږی چه هغه پاك ذات ددې دعا نه غافله پاتې شی،اودا واونری.دې کښې دعا کولو طرفته رغبت ورکړې شوې دې اوددې نه ضائع کیدو وعده کړې شوې ده.حضرت سلمان فارسی ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه بنده کله دالله ﷻ مخکښې لاس پورته کړی او دعا غواړی نو هغه پاك ذات ارحم الراحمین ددې نه شرمیږی چه دده لاسونه خالی اوبې کاره راواپس کړی (مسنداحمد).(۳)

دعا عبث نه ځی:- حضرت ابو سعید خدری ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه کوم یو بنده دالله ﷻ نه څه دعا کوی چه په هغې کښې نه څه ګناه وی،نه دې سره څه رشتې وغیره ماتیږی،نوده ته دالله ﷻ په دریوخبرو کښې یو ضرور ورکوی. ❶ دده دعا په هغه وخت کښې قبوله کړی او هم په هغه وخت کښې د هغه مراد پوره کوی. ❷ دا(دعا)دده دپاه ذخیره کړی او ده دپاره ئې ساتی او په آخرت کښې ورته د هغې ثواب ورکوی. ❸ ددې (دعا) په وجه څه راتلونکی مصیبت او بلا تری لری کړی.خلقو چه دا واوریدل نو وې وئیل چه مونږ به ډیرې دعاګانې کوؤ،نبی کریم ﷺ اوفرمائیل،چه بیا الله ﷻ سره د څه کمې دې.(مسند احمد).(۴)

ناجائزه دعا نه قبلیږی:- حضرت عباده بن صامت ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه په مخ د زمکې کوم مسلمان دالله ﷻ نه دعا اوغواړی نو الله ﷻ هغه قبلوی یا دده چه څه مراد وی نو هغه ده ته ملاویږی یا دده نه هغه شان څه مصیبت لرې شی خو په دې شرط چه ده د رشته دارئی د پرینبودو دپاره دعا نه وی کړې (مسند احمد).(۵)

په دعا کښې تلوار نه دې کول پکار:- حضرت ابو هریره ﷺ نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه ترڅو پورې څوك په دعا کښې تیزی اونه کړی نودده دعا ضرور قبلیږی.تیزی کول دادی چه اووائی چه ما خو ډیرې دعاګانې اوغوښتلې خو قبولې نشوې (موطا امام مالك).(۶)په بخاری شریف کښې روایت دې چه په ثواب کښې جنت ورکړې کیږی.صحیح مسلم کښې دا هم دی چه هغه دې دنه قبلیدو خیال د زړه نه اوباسی او دعا دې اوغواړی،دا تیزی کول دی.(۷) د ابوجعفر طبری رحمه الله په تفسیر کښې دی چه دا قول د حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کړې شوې دې.

---

۱) احمد : ۲۱۰/۳،وسنده صحیح)-

۲) احمد : ۵٤۰/۲،ابن ماجة کتاب الادب باب فضل الذکر: ۳۷۹۰،وهو حدیث صحیح)-

۳) احمد : ٤۳۸/۵،ابوداود کتاب الصلاة (الوتر) باب الدعاء : ۱٤۸۸،ترمذی: ۳۵۵٦،ابن ماجة: ۳۸٦۵،)-

۴) احمد : ۱۸/۳،ح/۱۱۱۳۳،وسنده حسن،)-

۵) احمد : ۳۲۹/۵،کتاب الدعوات باب فی انتظار الفرج : ۳۵۷۳،وهو حدیث حسن)-

۶) صحیح بخاری کتاب الدعوات باب یستجاب للعبد ما لم یعجل : ٦۳٤۰)-

۷) صحیح مسلم کتاب الذکر والدعاء باب بیان انه یستجاب للداعی ما لم یعجل: ٦۳٤۰)-

Scanned with CamSc

د غافله دعا نه قبلیږی:-حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ فرمائی چه حضرت رسو ل اکرم ﷺ فرمائیلی دی چه زړونه په مثال دلوښو دی،بعضې بعضو نه زیات نګرانی کولو والا وی.ائې خلقو ! تاسو چه کله دالله ﷻ نه دعا غواړی نو دقبلیدو یقین تړې ساتئ.واورئی د غافله زړه خاوند دعا الله ﷻ نه قبلوی.(مسند احمد).(۱)

حضرت عائشه صدیقه ﷺ یو ځل رسو ل اکرم ﷺ نه ددې آیت باره کښې تپوس اوکړو،نو حضرت رسول اکرم ﷺ دعا اوکړه چه ائې الله ﷻ ! دحضرت عائشه ﷺ ددې سوال څه جواب دې.حضرت جبریل ﷺ تشریف راوړو او وې فرمائیل چه الله ﷻ تاسو ته سلام کوی.اوفرمائی چه مراد ددې نه هغه سړې دې چه نیك عملونو کولو والا وی او ریښتونی نیت سره ما راوبلی نو څه لبیك ورته وایم او دهغه حاجت ضرور پوره کوم.(ابن مردویه).دا حدیث د اسنا په لحاظ سره غریب دې.

یوه جامع دعا:- یوبل حدیث کښې دی چه حضرت رسو ل اکرم ﷺ ددې آیت مبارك تلاوت اوفرمائیلو ،بیا ئې اوفرمائیل چه ائې الله ﷻ تا ددعا حکم کړې دې او د اجابت وعده دې فرمائیلې ده،څه حاضر یم،یا الهی څه حاضر یم،حاضر یم،اې لا شریك الله ﷻ څه حاضریم.تعریفونه نعمتونه او بادشاهی ستا دپاره ده،تا سره هیڅوك شریك نشته دې،څه ګواهی ورکوم چه ته احد ئې،او بې مثل ئې،او یو ئې،ته پاك ذات ئې،د اهل وعیال نه لرې ئې،نه ستا څوك همسر شته دې او نه ستا ذات سره څوك برابر شته دې اونه ستاپه شان څوك شته،څه ګواهی ورکوم چه ستا وعده ریښتونې ده،ستا ملاقات حق،جنت او دوزخ حق،او دوباره ژوند دا ټول برحق کارونه دی.(ابن مردویه).

په یو څیز کښې د الله او د بنده شراکت:- حضرت انس ﷺ نه روایت دې چه حضرت رسو ل اکرم ﷺ فرمائیلی دی چه د الله ﷻ ارشاد دې چه ائې ابن آدم یو څیز خوستا دې،یو زما دې،او یو زما اوستا په مینځ کښې تقسیم دې.خالص زما حق دادې چه هم یو زما عبادت اوکړې،او زما سره څوك شریك نه جوړوی.څما سره مخصوص دا دې چه ستا دهر هرعمل پورا پورا بدله به څه تاته ضرور درکوم او ستا هیڅ نیکی به نه ضائع کوم.په مینځ کښې چه کوم یو څیز دې هغه دا دې چه ته دعا کوه او څه به ئې قبلوم.دعا کول ستا کار دې او دعا قبلول زما کار دی.(۲)(بزار)

دعا حکم د روژو د احکامو په مینځ کښې:- ددعا ددې آیت د روژو د احکامو په مینځ کښې دراوړو حکمت دادې چه د روژو ختمیدو نه پس خلقو ته د دعا کولو ترغیب وی بلکه هره ورځ د افطار په وخت کښې هغوی ډیرې دعاګانې کوی.حضرت رسول اکرم ﷺ فرمائیلی دی چه روژه دار د افطار په وخت کښې کومه دعا کوی الله ﷻ هغه قبلوی.

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ به د افطار په وخت کښې خپل کور والا او بچی راغوښتل او دعا به ئې کوله (ابو داؤد طیالسی).(۳)ابن ماجه کښې هم دا روایت دې او په هغې کښې دصحابه کرامو ﷺ دا دعا منقول ده.(اللهم انی اسئلك برحمتك التی وسعت كل شئ ان تغفرلی) (۴)یعنی ائې الله ﷻ څه تاته ستا رحمت یادوم،چه هغه ټولو څیزونه راګیر کړی دی،او ستا نه سوال کوم چه زما ګناهونه معاف کړه).

د درې کسانو دعا نه رد کیدل:- اویو بل حدیث کښې دی چه د درې قسمه خلقو دعا نه رد کیږی.① د عادل بادشاه ②دروژه داردعا③ او د مظلوم هغه به د قیامت په ورځ الله ﷻ اوچت کړی.دمظلوم بددعا

---

۱) احمد : ۱۷۷/۲،)-

۲) البزار ۱۸/۱،)-

۳) ابو داود الطیالسی: ۲۲۷۲،)-

۴) ابن ماجة كتاب الصيام باب فی الصائم لا تردد عوته : ۱۷۵۳،وهو حديث حسن)-

Scanned with CamS

دپاره د اسمان دروازې پرانیستې شی.او الله ﷻ فرمائی چه څمادې په خپل عزت قسم وی چه څه به ستا مدد ضرور کوم،اګر چه زر نه وی.(مسند ،ترمذی،نسائی او ابن ماجه).(۱)

أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ

| حلال کړې شوې دې|ستاسو دپاره| په شپه | دروژو کښې

|تاسو دپاره د روژو په شپه کښې

الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ ۚ هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ ۗ عَلِمَ اللَّهُ

کوروالې| دښځو خپلو سره | هغوئ |جامې دی |ستاسو دپاره| اوتاسو |جامې یئ دهغوئ دپاره |معلوم دی الله ته

خپلو ښځو ته نزدیکت مباح شوې دې|هغوئ ستاسو جامې دی اوتاسو دهغوئ جامې یئ |الله ته معلومه ده چې

أَنَّكُمْ كُنتُمْ تَخْتَانُونَ أَنفُسَكُمْ فَتَابَ عَلَيْكُمْ وَعَفَا

چې بیشکه| تاسو |خیانت اوکړو | دځانونو خپلو سره| نو رجوع درحمت ئې اوکړه|په تاسو باندې|اومعافی ئې اوکړه

تاسودخپلو ځانونو سره(پټ پټ) خیانت کړې دې| نوهغه ستاسوتوبه قبوله کړه| اوتاسو ئې معاف کړئ

عَنكُمْ ۖ فَالْآنَ بَاشِرُوهُنَّ وَابْتَغُوا مَا كَتَبَ اللَّهُ

تاسو ته | نواوس | دشپې جماع کوئ دهغوئ سره| اوغواړئ کړئ|هغه اولاد| چې لیکلی دې الله

نواوس ورسره (دشپې) کوروالې کوئی|اوکوم(خوند اواولاد)چې الله ستاسودپاره مقرر کړې دې هغه حاصلوئ شئ

لَكُمْ ۚ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ

ستاسو دپاره| او خورئ | او څکئ | تر هغې پورې |چې ښکاره شی| تاسو ته | تار

.....(ددې نه سوا) دشپې خوراک اوڅکاک هم کوئی| تردې چې راښکاره شی سپین تار

الْأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۖ ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ ۚ

سپین | د تار | تورنه | یعنی صبا | بیا |پوره کړئ| روژه |دشپې پورې

(د صبا رڼا)درته دشپې د تور تار(د شپې تیارې) نه اوصبا راوخیژی| نو بیا ترمابنام پورې روژه پوره کوئ

وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ ۗ تِلْكَ

او کوروالې مه کوئ دښځوسره | کله چې تاسو| اعتکاف کونکی یئ| په جو ماتو نو کښې| دا

او(بله داچې) ښځو ته مه ورنزدې کیږئ کله چې تاسو په جماتونو کښې اعتکاف کښې ئی | دا

حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ

حدودنه دالله دی | نو مه نزدې کیږئ هغې ته| هم دارنګې| بیانوی | الله | آیتونه خپل| دپاره دخلقو

دالله (مقرر کړې) حدونه دی |نودې ته نزدې نزدې مه ګرځئ الله خلقو ته خپل حکمونه وضاحت سره بیانوی

(۱) احمد:۲/۴۴۵،کتاب الدعوات،باب سبق المفردون : ۳۵۹۸،ابن ماجة : ۱۷۵۲،وسنده حسن)۔

لَعَلَّهُمْ	يَتَّقُونَ ﴿١٨٧﴾
امیددي چې هغوئ اخان اوساتی دغلطو طریقو نه	
چې هغوئ دغلط کارونونه بچ شی	

قوله تعالی:- أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ

په رمضان کښې خوراک څکاک او جماع :د اسلام په شروع کښې دا حکم وو چه دافطارنه پس خوراک څکاک اوجماع کول د ماسخوتن مونځ پورې جائز وو.اوکه څوک به ددې نه مخکښې اوده شو اوهغه ته به خوب ورغلو نو هرڅه به پرې حرام شو.په دې کښې صحابه کرام ﷺ ته لږ شان مشقت وو.او په دې باندې د اجازت دا آیتونه نازل شو.او دآسانئ حکم راغلو.

قوله تعالی:- الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ

د رفث نه مراد:- ﴿ الرَّفَثُ ﴾ نه مراد دلته جماع ده.حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ،مجاهد رحمه الله،عطاء رحمه الله، سعیدبن جبیر رحمه الله،طاؤس رحمه الله،سالم بن عبدالله رحمه الله،عمرو بن دینار رحمه الله،حسن رحمه الله،قتاده رحمه الله، زهری رحمه الله،ضحاك رحمه الله،ابراهیم نخعی رحمه الله،سدی رحمه الله،عطاء خراسانی رحمه الله،مقاتل بن حیان رحمه الله هم دا فرمانی.

قوله تعالی:- هُنَّ لِبَاسٌ لَّكُمْ وَأَنتُمْ لِبَاسٌ لَّهُنَّ

د لباس نه مراد:- دلباس نه مرادسکون دې،ربیع بن انس رحمه الله دلحاف معنی بیانوی چه دښځې خاوند خپلوکښې تعلقات داقسمه دی چه هغوی ته په شپوکښې هم دتعلق ساتلواجازت ورکولې شی. مخکښې حدیث تیر شوې دې چه ددې آیت شان نزول څه دې ؟.هغې دا بیان شوی دی چې کله دا حکم ووکه دافطار نه مخکښې به څوک څملاستل اوبیا به د شپې پاسیدل نو هغه دپاره خوراک څکاک کول جائز نه وو.بلکه ده به دا شپه او سبا ورځ تیره کړه او د مابنام نه پس به ددۀ دپاره خوراک څکاک کول حلال وو.

د قیس بن صرمه ﷺ واقعه:- حضرت ابوقیس بن صرمه انصاری ﷺ تولې ورځ په پټو کښې کار اوکړو او کورته واپس راغلو،ښځې ته ئې اووئیل چه دخوراك څه شته دې ؟جواب ملاؤ شو چه هیڅ نشته دې،څه ځم اوڅه راوړم،نو هغه لاړه او دده سترګې ورغلې،هرکله چه راغله او وې کتل نوډیر افسوس ورته اوشو چه اوس به دې دا شپه او سبا ورځ اوږې وی اودا به څنګه تیروی.نوکله چه نیمه ورځ تیره شوه نو حضرت قیس بن صرمه ﷺ د لوږې د وجې بې هوشه شو حضرت رسول اکرم ﷺ سره دده ذکر اوکړې شو نو په هغه وخت کښې دا آیت نازل شو او مسلمانان ډیر خوشحاله شو.([1])

د بعضې صحابوٗ نه کوتاهی کیدل:- یوروایت کښې دی چه صحابه کرام ﷺ به تول رمضان کښې ښځو ته نه ورتلل،لیکن بعضو خلقو نه داسې څه خطاګانې کیدلې نو په دې باندې دا آیت نازل شو.([2]) یوبل روایت کښې دی چه دا قصور د ډیروحضراتو نه شوې وو.چه هغوی کښې حضرت عمرفاروق ﷺ هم وو.نوپه دې باندې دآیت نازل شو.یو روایت کښې دی چه حضرت عمر فاروق ﷺ چه هغوی د ماسخوتن مونځ نه پس خپلې بی بی سره مباشرت کړې وو.بیائې دربارنبوت کښې شکایت اوکړو او درحمت دا آیت نازل شو.یوروایت کښې دی چه کله حضرت عمر فاروق رضی الله عنه راغلو او دا واقعه ئې واورولې نو حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه ائې عمر ﷺ ! ستاسو نه خو دا امید نه وو.هم په هغه وخت کښې دا آیت نازل شو.

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الصوم باب قول الله تعالی : (احل لکم لیلة الصیام....) ۱۹۱۵،ابوداود : ۲۳۱٤،ترمذی: ۲۹٦۸،نسائی: ۲۱۷۰)-

[2]) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (احل لکم لیلة الصیام.....) ٤٥۰۸)-

Scanned with CamSc

یو روایت کښې دی چه حضرت قیس ﷺ د ماسخوتن مونځ نه پس رابیدار شوې وو او خوراك ځکاك نې کړې وو.او سحر د حضرت رسول اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوې وو او خپل قصور نې ورته بیان کړې وو.یو روایت کښې دی چه کله حضرت عمرفاروق ﷺ د مباشرت کولواراده اوکړه نو بی بی ورته اوونیل چه ماله خوب راغلې دې خو هغوی ﷺ ګمان اوکړو چه ګنی دا بهانه کوی.په دې شپه حضرت عمر فاروق ﷺ تر ډیره پورې مجلس نبوی ﷺ کښې ناست وو او ډیر ناوخته کورته واپس شو.اویو روایت کښې دی چه حضرت کعب بن مالك نه هم دا قصور شوې وو.(۱)

قوله تعالی:-وَابْتَغُوْا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ۔

د کتب نه مراد:- ﴿ مَا كَتَبَ اللّٰهُ ﴾ نه مراد اولاد دې.(۲) بعضو وئیلی دی چه لیلة القدر تری مراد دې.قتاده رحمه الله وائی چه ددې نه مراد رخصت دې.تطبیق په دې ټولو اقوالوکښې داشان کیدې شی چه د عموم په طورهم ټول مراد دی.دجماع رخصت نه پس د خوراك ځکاك اجازت ملاویږی چه تر صباصادق پورې د دې اجازت دې.

دپشنمی او افطاری متعلق مسائل :- : صحیح بخاری کښې دی چه حضرت سهل بن سعد ﷺ فرمائی چه مخکښې د ﴿ مِنَ الْفَجْرِ ﴾ لفظ نه وو نازل شوې نو څه خلقو په خپلو پښو سپین او تور تارونه اوترل و ترکومې پورې چه به په سپینوالی او توروالی کښې نې فرق نه وو کړې نو ترهغه به نې خورك ځکاك کولو.دې نه پس معلوم شو چه ددې نه مراد شپه او ورځ دی.(۳)

دعدی بن حاتم ﷺ واقعه:- مسند احمد کښې دی چه حضرت عدی بن حاتم ﷺ فرمائی چه ما هم دوه تارونه سپین او تور دخپلې تکیه لاندې کیخودل او ترکومې چه به مې ددې په رنګ کښې تمیز اونه کړې شو نو ترهغه وخته پورې به مې خوراك ځکاك کولو.سحر مې حضرت رسول اکرم ﷺ ته دا ذکر اوکړو.نو حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه ستا تکیه خو ډیره اوږده راووتله.ددې نه مراد خو د سبا سپین والې،دشپې توروالې دې.دا حدیث په مسلم او بخاری کښې هم دې.(۴)د حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې قول مطلب دادې چه په آیت کښې خو د تارونو نه مراد د ورځې سپین والې او دشپې توروالې دې.نو که ستا د تکیه لاندې دا دواړه (توروالې او سپین والې) راځی نو ګویا چه ددې اوږدوالې مشرق او مغرب پورې دې .صحیح بخاری کښې دا تفسیر هم روایتاً موجود دې.(۵)

بعضو روایتونوکښې دا لفظ هم دې چه بیا خو ته ډیر اوږد څټ والا نې.(۶) بعضو خلقو ددې معنی بیان کړې ده چه کند ذهن یې،لیکن دا معنی غلطه ده،بلکه مطلب د دواړو جملو هم دا یو دې ځکه چه تکیه دومره لویه ده نو څټ به هم دومره لوئې وی.والله اعلم.بخاری شریف کښې د حضرت عدی ﷺ هم دا شان سوال او د حضرت رسول اکرم ﷺ هم داشان جواب تفصیل سره راغلې دې.د آیت د دې الفاظو نه د پشنمی خوړولو استحباب هم ثابت دې.ځکه چه د الله ﷻ په اجازتونو باندې عمل کول هغه ته خوښ دی.

قوله تعالی:-وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الْاَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الْاَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ ۔

د پیشمنی حکم:-دحضرت رسول اکرم ﷺ فرمان دې چه پشنمې کوئ ځکه چه په دې کښې ډیربرکت دې.

---

(۱) احمد: ۳/۴۷۰،ددې سند حسن دې.)-

(۲) ابن ابی حاتم: ۱/۳۷۷)-

(۳) صحیح بخاری کتاب التفسر سورة البقرة باب (کلو واشربوا،....) : ٤٥١١،صحیح مسلم: ۱۰۹۱)-

(۴) احمد: ۳/۳۷۷،صحیح بخاری کتاب التفسر سورة البقرة باب (کلو واشربوا،....) : ٤٥٠٩،صحیح مسلم: ۱۰۹۰)-

(۵) صحیح بخاری کتاب التفسر سورة البقرة باب (کلو واشربوا،....) : ٤٥١٠)-

(۶) صحیح بخاری کتاب التفسر سورة البقرة باب (کلو واشربوا،....) : ٤٥١٠)-

Scanned with CamSc

(بخاری ومسلم).([1]) زمونږ او داهل کتابو په روژو نیولو کښی هم دا د پښمنی خوړلو فرق دی (مسلم).([2]) پښمنی خوړل برکت دی.دامه پریږدئی اگر چه څه ملاؤ نشی اگر چه د اوبو یو ګوټ ولی نه وی.الله ﷻ او د هغه فرښتی په پښمنی کونکو باندی رحمت لیږی.(مسند احمد).([3]) داشان نور ډیر احادیث هم دی. پښمنی ناوخته خوړل پکار دی په داسی وخت کښی چه د فارغیدو نه پس صبا صادق شی.حضرت انس ﷺ فرمائی چه مونږ به پښمنی خوړلو نه پس مونځ دپاره اودریدو،د اذان او پښمنی په مینځ کښی به دومره فرق وو چه پنځوس آیتونه به لوستلی شو.(بخاری ومسلم).([4]) حضرت رسول اکرم ﷺ فرمائی چه ترکومی پوری زما امت په افطارکښی تیزی کوی او په سحری خوړلوکښی تاخیر کوی نو هغه پوری به په ښیګړه کښی وی.(مسند احمد).([5]) دا هم حدیث مبارک نه ثابت دی چه حضرت رسول اکرم ﷺ ددی نوم غداء مبارکه ایښودی دی.([6])

د صبا راختو نه وړاندی پوری پیشمنی کول:- مسنداحمد وغیره کښی حدیث دی چه حضرت خذیفه ﷺ فرمائی چه مونږ حضرت رسول اکرم ﷺ سره پیشمنی اوکړو په داسی وخت کښی چه ګویانمر راختلو والا وو.([7]) لیکن په دی کښی یو راوی عاصم بن ابونجود منفردی او ددی نه مراد نیزدیکت دی لکه د الله ﷻ فرمان دی چه ﴿فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ﴾ یعنی کله چه هغه ښځی خپل نیټی ته اورسی،مراد دا دی چه کله دعدت موده نزدی شی.هم دا مراد د دی حدیث هم دی چه هغوی پیشنمی اوکړو اود صبا صادق یقین نه وو.لیکن داسی وخت وو چه چا به وئیل چه صبا شو،چا به وئیل چه صبا شوی نه دی د اکثرو صحابه کرامو ﷺ پیشنمی روستو کول اوترآخره پوری خوراک کول ثابت دی لکه حضرت ابوبکرصدیق ﷺ، حضرت عمر فاروق ﷺ،حضرت علی ﷺ،حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ،حضرت حذیفه ﷺ،حضرت ابوهریره ﷺ،حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت عبدالله بن عباس ﷺ،حضرت زید بن ثابت ﷺ.او د تابعینو د یولوئی ډلی نه هم صبا صادق ته نزدی د پیشمنی خوراک مروی دی.لکه محمد بن علی بن حسین رحمه الله ،ابومجلز رحمه الله ،ابراهیم نخعی رحمه الله ،ابوالضحی رحمه الله او ابو وائل رحمه الله وغیره شاګردان د ابن مسعود ﷺ،او عطاء رحمه الله او حسن رحمه الله او حاکم بن عینیه رحمه الله او مجاهد رحمه الله او عروه بن زبیر او ابوالسعاء جابر بن زید رحمه الله او د اعمش رحمه الله او جابر بن راشد رحمه الله .هم دا مذهب دی دی په دی ټولوباندی د الله رحمتونه نازل کړی.مونږ ددوی ټولو اسنادو یومستقل کتاب د کتاب الصیام په نوم باندی بیان کړی دی.والله اعلم.

یو ضعیف قول:- ابن جریر رحمه الله په خپل تفسیر کښی دبعضی خلقو نه هم دا نقل کړی دی چه نمر ختلو پوری خوراک څکاک جائز دی لکه څنګه چه ډوبیدو سره افطار کول.لیکن داقول یو علم والا نشی قبلولی.څکه چه د نص قران پاک خلاف دی.قران پاک کښی د(خیط) لفظ موجود دی.د بخاری اومسلم حدیث کښی دی چه حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه د (حضرت) بلال ﷺ په اذان آوریدو سره تاسو خوراک څکاک مه بندوئی،هغه په هغه وخت کښی اذان کوی چه لا شپه باقی وی.تاسو خوراک څکاک کوئی.ترکومی چه (حضرت) عبدالله بن ام مکتوم ﷺ اذان اونکړی هغه اذان نه کوی تر څو چه سحر نه

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الصوم باب برکة السحور من غیر ایجاب: ۱۹۲۳،صحیح مسلم: ۱۰۹۵)-

[2]) صحیح مسلم کتاب الصیام باب فضل السحور وتاکید استحبابه: ۱۰۹٦)-

[3]) احمد: ۳/٤٤،)-

[4]) صحیح مسلم کتاب الصوم باب قدر کم بین السحور وصلاة الفجر: ۱۹۲۱،صحیح مسلم: ۱۰۹۷)-

[5]) احمد: ۳/٤٤،)-

[6]) ابوداود کتاب الصیام باب من سمی السحور الغداء : ۲۳٤٤،وسنده حسن : نسائی: ۲۱٦۵)-

[7]) احمد ۳۹٦/۵،نسائی: کتاب الصیام باب تاخیر السحور: ۲۱۵٤،ابن ماجة: ۱٦۹۵،وهو حدیث حسن)-

Scanned with CamS

وی راختلي.(۱)
مسند احمد کښې حدیث دي چه حضرت رسول اکرم ﷺ فرمانې چه سحرهغه نه دي چه د آسمان په لمنو کښې ښه خور شي.بلکه دا (سحر) خو هغه سرخی د ه چخه دآسمان په (کناور) غاړو کښې ښکاره شی (۲)ترمذی کښې حدیث کښې دی چه په هغې کښې دی چه دا رومبې صبا کوم چې راخیژی،ددې په لیدو سره خوراک څکاک مه بندوئی،تردې پورې چه (دآسمان په) لمنو کښې سورالي راوخیژی.(۳)
یو بل حدیث کښې ئې د صباکاذب اود حضرت بلال ﷺ د اذان ذکر یو ځاني بیان فرمائیلی دي.(۴)یو بل روایت کښې دی چه د صبا کاذب سپین والی ته ئې د ستنوپشان ونیلی دی.(۵) دویم روایت کښې ئې ددې رومبی اذان چه ددې موذن حضرت بلال ووداوجه بیان کړې ده چه هغه داوده خلقو د رابیدارولو او او تهجدو د مونځ دپاره کیږی.دې سره صبا نه رازی.ترکومې پورې چه داشان نه وی ؟ یعنی دا نه چه په آسمان کښې اوچت راوخیژی بلکه په کنارو کښې ظاهرشی).(۶)یو مرسل حدیث کښې دی چه صبا دوه دی،یو د شرمخ د لکئ په شان،په دې سره په روژه دار باندې هیڅ څیز نه حرامیږی.اودویم هغه صبا چه دآسمان په کنارو کښې ظاهر شي،هغه د سحر دمونځ وخت دې.اود روژه دار د خوراک څکاک موقوف کولو وخت دي.(۷)حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمانی چه کوم سپین والې د آسمان د لاندې نه راپورته کیږی د هغې مونځ حلت اودروژې حرمت سره هیڅ کار نشته دي.بلکه کوم صبا چې د غرونو په څوکونوباندې پرقیږی هغې سره خوراک څکاک حرامیږی .حضرت عطاء نه مروی دی چه آسمان کښې اوږدې اوږدې راختلو والا رنړاګانې دی نه خو په روژه دار باندې خوراک څکاک حرامیږی،او نه دې سره دمونځ وخت معلومیدې شی،نه حج فوت کیږی.لیکن کوم سبا چه د غرونو په څوکو باندې خوریږی هغه سحر دې چه په روژدارو باندې ټول څیزونه حراموی.او د مونځګذار دپاره مونځ حلالوی.او حج فوت کیږی.د دې دواړو روایتونو سندصحیح دې او ډیروسلفو نه دا منقول دی،الله ﷻ دې په هغوی باندې خپل رحمتونه نازل کړی.
د جنابت په حالت کښې صبا کولو حکم:- چونکه د جماع او خوراک څکاک آخری وخت الله ﷻ د روژې دار دپاره صبا صادق مقرر کړې دې.ددې نه په دې مسئله باندې استدلال کیږی چه د صبا په وخت کښې کوم سړې جنبی پاسی هغه دې غسل اوکړی اوخپله روژه دې پوره کړی.د څلور واوړو ائمه کرامو او د سلفو او خلفو جمهور علماء کرامو هم دا مذهب دی.بخاری اومسلم کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دی چه حضرت رسول اکرم ﷺ د شپې په وخت کښې جماع کوله.د صبا صادق په وخت کښې به جنب پاسیدل،بیابه ئې غسل اوکړو او روژدار به وو.د دوی د جنب کیدل داحتلام په سبب نه وو.حضرت ام سلمه رضی الله عنها والا روایت کښې دی چه بیا به نه حضرت رسول اکرم ﷺ افطار کولو اونه به ئې قضا راوړه.(۸)
صحیح مسلم کښې دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه یو سړی اووئیل چه یارسول الله ﷺ څه

---

۱) صحیح بخاری کتاب الاذان باب الاذان قبل الفجر : ۶۲۲،صحیح مسلم: ۲۵۳۶)-
۲) احمد: ۲۳/۴)-
۳) ابوداود کتاب الصیام باب بیان ان الدخول فی الصوم.....: ۷۰۵،و سنده حسن)-
۴) صحیح مسلم کتاب الصیام باب فی بیان ان الدخول فی الصوم: ۱۰۹۴)-
۵) صحیح مسلم کتاب الصیام باب فی بیان ان الدخول فی الصوم: ۱۰۹۴)-
۶) صحیح مسلم کتاب الاذان باب الاذان قبل الفجر : ۶۲۱،صحیح مسلم : ۱۰۹۳)-
۷) الطبری فی تفسیره: ۳۰۳،وهو حسن بالشاهد الذی فی المستدرک : ۱۹۱/۱.وسنده حسن)-
۸) صحیح بخاری کتاب الصوم باب الصائم یصبح جنبا : ۱۹۲۵،صحیح مسلم: ۱۱۰۹)-

Scanned with CamSc

مونځ ته راتلو پورې جنب یم نو ایا ځه روژه اوساتم ؟ حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه هم دا خبره ماسره هم کیږی او ځه روژه ساتم.ده اووئیل چه یارسول الله ﷺ مونږ خو ستاسو په شان نه یو.الله ﷻ خوستاسو ټول مخکښی روستی ګناهونه معاف کړی دی.حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه والله ماته خوامید دې چه ځه ستاسو نه زیات دالله ﷻ نه ویریږم او ستاسو نه زیات د تقوی نه خبر یم.(۱)

مسند احمد کښې یو حدیث دې چه کله د صبا صادق اذان اوشی او تاسو کښې څوک جنب وی نوهغه دې په هغه ورځ روژه نیسی.ددې اسناد ډیر ښه دی.او داحدیث د شیخینو په شرط باندې دې لکه چه ظاهر دی.داحدیث بخاری او مسلم کښې هم دحضرت ابوهریره ﷺ نه مروی دې.هغه فضل بن عباس ﷺ نه روایت کوی،هغه د حضرت رسول اکرم ﷺ نه.(۲) سنن نسائی کښې داحدیث په روایت دحضرت ابوهریره دې،هغه د اسامه بن زید ﷺ او فضل بن عباس ﷺ نه روایت کوی او مرفوع کوی.د بعض علماء قول دې چه په دې حدیث کښې د اعلت دې چه دا مرفوع نه دې اود ځینې نورو علماء کرامو هم دامذهب دې.ابوهریره ﷺ،سالم رحمه الله،عطاء رحمه الله،هشام بن عروه رحمه الله او حسن بصری رحمه الله هم دا فرمائی.

بعضې خلق وائی که جنب څملاستو او سبا صادق راختلو باندې نې سترګې اوغړیدې نو دې روژه کښې هیڅ نقصان نشته دې.دحضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت ام سلمه رضی الله عنها والا حدیث همدا مطلب دې.اوکه ده په ښه طریقې سره غسل اونکړو او هم په دې حالت کښې صبا شو نو دده روژه اونشوه.حضرت عروه رحمه الله،طاؤس رحمه الله او حسن رحمه الله هم دا فرمائی.

بعضې وائی چه فرض روژه وی نو پوره،دې کړی لیکن قضا نې لازم ده.او که نفلی روژه وی نو هیڅ حرج نشته دې.ابراهیم نخعی رحمه الله هم دا وائی.خواجه حسن بصری رحمه الله نه هم دا یو روایت دې،بعضې وائی چه حضرت د ابوهریره ﷺ حدیث حضرت عائشه رضی الله عنها په حدیث سره منسوخ دې،لیکن حقیقت کښې دتاریخ پته نه لګی چه هغې سره دا منسوخ ثابت شی.ابن حزم رحمه الله فرمائی چه ددې ناسخ د قران پاک دا آیت دې.لیکن دا هم لرې خبره ده ځکه چه دې آیت نه پس نازلیدل ثابت نه دی بلکه ظاهرخو دا ده چې دا حدیث هم ددې نه پس دې.

بعضې خلق وائی چه د حضرت ابوهریره ﷺ حدیث کښې لا نفی دکمال ده.یعنی ددې سړی روژه کامله نه ده.ځکه چه د حضرت عائشه رضی الله عنها او دحضرت ام سلمه رضی الله عنها والا حدیث نه جواز ښکاره ثابتیږی.هم دامسلك صحیح دې اود نورو ټولو اقوالو نه دا قول بهتر دې او داسې وئیلو سره په دواړو روایتونو کښې د تطبیق صورت هم راوزی.والله اعلم.

دجنابت روژې سره منافات نشته

مسلک حنفی: داحنافو په نیز که جنب په حالت دجنابت کښې صبا کړی نو دده روژې ته هیڅ نقصان نه رسی.برابره ده که د ناراستیا د وجې نې د جنابت په حالت کښې صبا کړی وی او که دغه شان اوده پاتې شوې وی (مسائل روزه صفحه ۷۰ بحواله فتاوی دارالعلوم دیوبند ۶/۴۱۴).

قوله تعالی:- ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ

د روژې د افطار وخت:- بیا فرمائی چه روژه تر شپې پورې پورا کړئی.د دې نه دا ثابته شوه چه نمر پریوتلو سره روژه افطار کول پکار دی.بخاری اومسلم کښې دامیر المومنین حضرت عمر بن خطاب ﷺ نه مروی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د یو طرفنه شپه راشی اود بل طرفنه نه ورځ ختمه شی نو روژې افطار کوئی.(۳)بخاری اومسلم کښې حضرت سهل بن سعد ساعدی ﷺ نه روایت دې چه حضرت

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الصیام باب صحة صوم من طلع علیه الفجر وهو جنب: ۲۵۹۳)-

(۲) احمد: ۲/۳۱٤،صحیح بخاری کتاب الصوم باب الصائم یصبح جنبا: ۱۹۲۵،صحیح مسلم: ۱۱۵۹)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الصوم باب متی یحل فطر الصائم : ۱۹۵٤،صحیح مسلم: ۱۱۰۰)-

Scanned with CamScanner

رسول اکرم ﷺ فرمائیلی دی چه خوپوري خلق په افطار کولو کښې تیزی کوی نو په خیر به وی.(۱)
مسنداحمد کښې دحضرت ابوهریره ؓ نه روایت دي چه حضرت رسول اکرم ﷺ فرمائی چه دالله ﷻ ارشاد دي چه ماته ډیر خوښ هغه خلق دی چه په روژه افطار کولوکښې تیزی کوی.امام ترمذی رحمه الله دي حدیث ته حسن غریب ونیلی دی.(۲)

د صوم الوصال ممانعت:- د مسند یو حدیث کښې دی چه د بشیر بن خصاصیه ؓ بی بی حضرت لیلی رضی الله عنها فرمائی چه ما دوه روژې بغیر د افطار نه یو کول غوښتل نو زما خاوند ځه منع کړم اووې ونیل چه حضرت رسول اکرم ﷺ ددې نه منع فرمائیلي ده او فرمائیلی ئې دی چه داکار د نصرانیانو دي.تاسو خو روژې داشان ساتئ چه څنګه دالله ﷻ ارشاد دي چه دشپې روژه افطار کوئی.(۳)او نورهم ډیرو احادیثو کښې د روژې یو خائې کولو نه منع فرمائیلې شوې ده.

دمسند یو حدیث کښې دی چه حضرت رسول اکرم ﷺ فرمائی چه روژې مه یوخائې کوئی.نوخلقو اوونیل چه یارسول الله ﷺ ! چه تاسو خو په خپله یو خائې کوئی.نو حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه زه ستاسوپه شان نه یم ځه شپه تیروم او زما رب ماته خوراك څکاك راکوی.خو خلق بیا هم ددې نه منع نشو.نو حضرت رسول اکرم ﷺ د دوه ورځو اودوه شپو برابر روژه اونیوله،بیا میاشت په نظر راغله نو حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل که چرې میاشت نه وې ښکاره شوې نو ما خو داشان روژې یو خائې کولې.نوحضرت رسول اکرم ﷺ خپله عاجزی ظاهرول غوښتل.بخاری اومسلم کښې هم یو حدیث داشان دي.(۴)

اودا شان روژه بغیر د افطار کولو نه چې د شپې د خوراك څکاك نه بغیر بله روژه اونیسی د دې نه د نبی کریم ﷺ ممانعت په بخاری اومسلم کښې دحضرت انس ؓ،حضرت ابن عمر ؓ،او حضرت عائشه رضی الله عنها نه هم مرفوع احادیثو مروی دی.(۵)نو ثابت شو چه امت منع کړې شوې دي او د حضرت رسول اکرم ﷺ ذات مبارك سره دا روژه نیول مخصوص وه.د حضرت رسول اکرم ﷺ ذات مبارك کښې ددې طاقت وو.او دالله ﷻ د طرفنه په دې باندې د حضرت رسول اکرم ﷺ سره مدد کیدو.

دادې هم خیال وی چه حضرت رسول اکرم ﷺ چې دا اوفرمائیل چه زما رب ماته خوراك څکاك راکوی، ددې نه مراد په حقیقت کښې خوراك څکاك نه دي ځکه چه بیا خو یوه روژه بلې روژې سره یو خائې نشوه.بلکه دا صرف روحانی طور مدد وو لکه د عربو یو شاعریو شعر کښې وائی چه :

لها احادیث من ذکراك تشغلها
عن الشراب تلهیها عن الزاد

(ترجمه) هغه ته ستاپه ذکر او خبروکښې هغه دلچسپی ده چه د خوراك څکاك نه بې پرواه کیږی.

د یو پیشمنی نه بل پیشمنی پوری روژه نیول:- خوکه څوك دویم پیشنمی پورې خوراك څکاك بندول غواړی نو دا جائز دی.د حضرت ابوسعید خدری ؓ والا حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه وصال مه کوئی،چه څوك کول غواړی نو پیشنمی پورې دې کوی.خلقواووئیل چه تاسو خو وصال کوئی.حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه ځه ستاسو په شان نه یم.ماته خو د شپې خوروڼکې خوراك

---

۱) صحیح بخاری کتاب الصوم باب تعجیل الافطار : ۱۹۵۷،صحیح مسلم: ۱۰۹۸)-
۲) مسند احمد: ۲۳۷/۲،ترمذی کتاب الصوم باب ما جاء فی تعجیل الافطار : ۷۰۰)-
۳) احمد : ۲۲۵/۵،وسنده صحیح مجمع الزوائد : ۱۵۸/۳)-
۴) احمد : ۲۸۱/۵،صحیح بخاری کتاب الصوم باب التنکیل لمن اکثر الوصایا: ۱۹۶۵،صحیح مسلم: ۱۱۰۳)-
۵) صحیح بخاری : ۱۹۶۱،صحیح مسلم : ۱۱۰۲)-

Scanned with CamScanner

راکوی او څکونکي را باندې څکاک کوی (بخاری ومسلم) (۱)یوبل روایت کښې دی چه یو صحابیه ښځه حضرت نبی کریم ﷺ ته راغله او حضرت رسول اکرم ﷺ پیشنمي کولو.حضرت رسول اکرم ﷺ ورته اوفرمائیل چه رازه ته هم اوخوره.هغې اووئیل چه زما روژه ده.حضرت رسول اکرم ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته روژه څنګه نیسې ؟ هغې بیان اوکړو نو نبی کریم (ص) اوفرمائیل د ال محمد پشان د یو پیشمنی د وخت نه واخله تر بل پیشمنی وخته پورې مسلسل روژه ولې نه نیسې (۲) (ابن جریر) حضرت رسول اکرم ﷺ به دیو پیشمنې نه تر بل پشنمی پورې روژه نیوه.

د نفس د ریاضت په طور د صوم الوصال حکم:- ابن جریرکښې حضرت عبدالله بن زبیر ؓ وغیره سلف صالحین نه مروی دی چه هغوی به څو څو ورځو پورې پرله پسې روژه نیوله بغیر د څه خوراك څکاك نه.بعضې خلق وائی چه دعبادت په طور نه وو بلکه د نفس د مړ کولو د ریاضت په طور وو،والله اعلم.

او دا هم ممکن دی چه هغوی داګنړلی وی چه دحضرت رسول اکرم ﷺ ددې نه منع کول صرف د شفقت او مهربانئ په طور وو دې ته د ناجائز وئیلو په طورنه وو،لکه څنګه چه حضرت عائشه ؓ فرمانی چه په تاسو خلقو ئې د رحم کولو په طور فرمائیلی وو.

د صوم الوصال نه منع د شفقت په وجه:- نو ابن زبیر ؓ او ددوی څوئې عامر ؓ او ددوی په لار تلونکو به په خپل نفس کښې قوت لرلو،او روژې به ئې ډیرې نیولې.دا هم مروی دی چه کله به هغه افطار اوکړو دوی به مخکښې غوړی او تریخ ګوند خوړلو چه هسې نه غذا رسیدو سره کولمې او شلیږی. مروی دی چه حضرت عبدالله بن زبیر ؓ اووه اووه ورځو پورې پرله پسې روژې نیولې او په دې دوران کښې به ئې څه خوراك نه کولو.او بیا به په اوومه ورځ ښه تندرست او صحت مند او ډیولو نه به زیات قوی لیدې شو.ابوالعالیه ؒ فرمائی چه الله ﷻ د ورځې روژه فرض کړه،په هغه شپه که څوك خوراك کوی او که نه کوی.

قوله تعالی:- وَلَا تُبَاشِرُوهُنَّ وَأَنتُمْ عَاكِفُونَ فِي الْمَسَاجِدِ

په اعتکاف کښې د جماع ممانعت:- بیا فرمانی چه د اعتکاف په حالت کښې ښځو سره مباشرت مه کوئی.دحضرت عبدالله بن عباس ؓ قول دې چه کوم سړې په جمات کښې اعتکاف ته ناست وی که په رمضان کښې وی او که نورو میاشتوکښې وی،په ده باندې د ورځې او د شپې په وخت کښې خپلې ښځې سره جماع کول حرام دی،ترکومې چه دې اعتکاف پوره کړې نه وی حضرت ضحاك ؓ فرمائی چه مخکښې به خلقو د اعتکاف په حالت کښې هم جماع کوله،نوپه دې باندې دا آیت نازل شو.او په جمات کښې اعتکاف والا باندې دا کار حرام کړې شو.مجاهد ؒ او قتاده ؒ هم دا فرمائی.(۳)

د اعتکاف څو مسائل:- د علماء کرامو متفقه فیصله ده چه اعتکاف کونکې که څه د ضروری حاجت دپاره کور ته لاړشی،لکه وړوکی اودس ماتی اویا غټ اودس ماتی یا خوراك دپاره نوددې کار نه د فارغیدو نه پس دې جمات ته لاړشی.اوکور کښې ایساریدل جائز نه دی او نه خپلې بی بی سره بوس وکنار وغیره جائزدی.او نه داعتکاف نه علاوه په څه بل کار کښې مشغولیدل دده دپاره جائز دی.بلکه دبیماردتپوس دپاره هم تګ جائزنه دې.اودابله خبره ده چه په تلوتلوکښې ئې تپوس اوکړی. د اعتکاف نور هم ډیر احکام دی.بعضو کښې اختلاف هم دې.دا ټول مونږ په خپل مستقل کتاب (کتاب الصیام) آخر کښې بیان کړی دی.﴿ولله الحمدوالمنة﴾.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الصوم باب الوصایا: الی السحر : ۱۹۶۷،ابوداود: ۲۳۲۱)-

(۲)

(۳) الطبری: ۵٤۱/۳)-

Scanned with CamSc

د اعتکاف اهمیت:- چونکه قران پاک کښې د روژو نه پس داعتکاف ذکر دې،هم ددې وجې مصنفینوهم په خپلو خپلو کتابونوکښې دروژې نه پس داعتکاف احکام بیان کړی دی.په دې کښې دې خبرې طرفته اشاره ده چه اعتکاف دروژې په حالت کښې کول پکار دی یا درمضان په آخرکښې.حضرت رسول اکرم ﷺ به درمضان په آخرکښې اعتکاف کولو.تردې پورې چه حضرت رسول اکرم ﷺ وفات شو. حضرت رسول اکرم ﷺ نه پس به امهات المومنین رضی الله عنهن به اعتکاف کولو (بخاری ومسلم).(۱)

د اعتکاف حالت کښې خپلې بی بی سره هسې ملاقات کول:-صحیحینو کښې دی چه حضرت صفیه بنت حیی رضی الله عنها دحضرت رسول اکرم ﷺ په خدمت کښې د نبی کریم ﷺ د اعتکاف په حالت کښې حاضریده اوکه څه د ضرورت خبره به وه نو دهغې تپوس به ئې کولو اوواپس به شوه.یو خل چه کله د شپې لاړه نو چونکه دکور نه مسجد نبوی ﷺ پورې فاصله وه،ددې وجې حضرت رسول اکرم ﷺ د هغې کور ته د رسولو دپاره هغې سره تشریف یوړو.په لار کښې ورسره دوه صحابه کرام ملاؤ شو.او چه د حضرت رسول اکرم ﷺ سره ئې بی بی اولیده نود شرم د وجې ئې قدمونه اودرول اوواپس تلل چه حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل اودریږئی واورئی دا زما بی بی صفیه رضی الله عنها ده.هغوی اوونیل چه سبحان الله (آیا مونږ ته څه بل خیال هم کیدیشی).حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل چه شیطان دانسان په رګ رګ کښې ګرزی،ماته خیال اوشو چه هسې نه هغه ستاسو په زړه کښې څه بدګمانی پیدا کړی.(۲)

د تهمت نه ځان ساتل:- حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی چه حضرت رسول اکرم ﷺ په دې واقعه خپل امت ته سبق ورکوی چه هغوی دې د تهمت لګیدو نه ځان لرې ساتی.ګنی دا خو ناممکن دی چه صحابه کرام رضی الله عنهم به دحضور ﷺ باره کښې څه بد خیال په زړه کښې راولی.اوداهم ناممکن دی چه حضرت رسول اکرم ﷺ د هغوی متعلق دا خیال په زړه کښې راولی.والله اعلم.

په اعتکاف کښې د جماع د اسبابو نه ځان ساتل:- په آیت کښې د مباشرت نه مراد جماع او ددې اسباب دی.لکه کوکئ اخستل وغیره،ګنی یو بل ته دیو څیز اخستل اوورکول ټولې خبرې جائز دی.حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه حضرت رسول اکرم ﷺ به د اعتکاف په حالت کښې زما په مخکښې سر ټیټولو او مابه د حضرت رسول اکرم ﷺ سر مبارک کښې ږمنځ وهله حالانکه څه به په حیض کښې ووم.حضرت رسول اکرم ﷺ به د اعتکاف په حالت کښې کور ته دځه ضرورت نه علاوه تشریف نه راوړو.حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه داعتکاف په حالت کښې به ما په تلو تلوکښې دکور دبیمار تپوس کولو (۳)

قوله تعالی:-تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا

بیاالله ﷻ فرمانی چه دا خمونږ بیان شوې خبرې دی او فرض کړې شوی احکام دی اومقرر شوی حدونه دی.روژې اود روژو احکام اوددې مسائل،په دې کښې چه کوم کارونه جائز او کوم ناجائز دی، هغه ټول خمونږ حدبندنی دی،خبردار دې ته نزدې مه ورځئ او مه ددې نه تجاوز کوئی او مه ددې نه مخکښې تګ کوئی. بعضې وائی چه داحد داعتکاف په حالت کښې دمباشرت نه لرې اوسیدل دی.بعضې وائی چه ددې آیتونو نه ځلور احکام مراد دی.

قوله تعالی:-ذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ

بیا فرمانی چه ځنګه روژې ددې احکام،مسائل او ددې تفصیل مونږ بیان کړو،داشان نور احکام هم مونږدخپل بنده اورسول ﷺ دمعرفت ټول جهان دپاره بیانوؤ چه (داجهان والا) دامعلومه کړې شی چه هدایت څه دې او اطاعت څه ته وائی.اوپه دې بناء هغوی متقیان جوړ شی.لکه بل ځائې کښې فرمائی

---

۱) صحیح بخاری کتاب الاعتکاف باب الاعتکاف فی العشر الاواخر: ۲۰۲۶،صحیح مسلم: ۱۱۷۲)-

۲) صحیح بخاری کتاب الاعتکاف باب زیارة المراةزوجها فی اعتکافه : ۲۰۳٤،صحیح مسلم: ۲۱۷٤)-

۳) صحیح بخاری کتاب الاعتکاف باب لا یدخل البیت الا لحاجة: ۲۰۲۹،صحیح مسلم: ۲۹۷،ابوداود: ۲٤٦۸،ابن ماجة: ۱۷۷٦)-

Scanned with CamScanner

چه ﴿هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَٰئِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۚ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا﴾ یعنی هغه الله ﷻ چه په خپل بنده باندې روښانه آیتونه نازل فرمائی چه تاسو د د تیارونه راوباسی او رنړاکانو ته مو راولی،الله ﷻ په تاسو باندې رحمت او نعمت نازل کړی.

وَلَا تَأْكُلُوٓا	أَمْوَالَكُم	بَيْنَكُم		
او مه خورئ تاسو	مالونه خپل	په خپلو کښې		
اوتاسو په خپل مینځ کښې د یو بل مالونه په ناحقه طریقه مه خورئ				
بِالْبَاطِلِ	وَتُدْلُوا	بِهَآ	إِلَى الْحُكَّامِ	لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِّنْ	أَمْوَالِ النَّاسِ
په ناروا طریقه	اومه وړئ	هغه	حاکمانوته	دپاره ددې چې تاسو اوخورئ څه حصه	دمالونو دخلقو نه
.....اوحاکمانو ته ئې هم مه اوړئ (مثلا چه هغوی ته رشوت ورکړئ) چې (پدې چل) دخلقو د مالونو نه					
بِالْإِثْمِ	وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٨٨﴾				
په ګناه او په زیاتی سره	او تاسو	پوهیږئ			
څه حصه سره د پوهې نه په ناجائزه طریقه رالاندې کړئ					

قوله تعالی:-وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ

دیوبل په مال باندې ناجائزه قبضه کول حرام دی: حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا آیت دهغه سړی باره کښې دې چه دبل سړی مال باندې په ناحقه قبضه اوکړی.اوچه کوم اصل حقدار وی هغه سره د شهادت یا دلیل څه نه وی چه دا مال زما دې او په ناحقه قبضه کوونکې د دې انکار اوکړی اوحاکم ته ورشی اوبری شی.حالانکه هغه (ناحقه قبضه کوونکی)ته معلوم وی چه په دې باندې ددې د اصل مالك حق دې.اودې مال خوری او حرام خوری او خپل ځان په ګنګاروکښې شاملوی. (۱) مجاهد رحمه الله، سعید بن جبیر رحمه الله،عکرمه رحمه الله،حسن رحمه الله،قتاده رحمه الله،سدی رحمه الله،مقاتل بن حیان رحمه الله، عبدالرحمن بن زید بن اسلم رحمه الله هم دا فرمائی د دې باوجود چه ته ظالم ئې جګړه مه کوه.(۲)

قوله تعالی:-وَتُدْلُوا بِهَآ إِلَى الْحُكَّامِ

دقاضی فیصله ناحق نشی حق کولې:- بخاری اومسلم کښې دحضرت ام سلمه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څه انسان یم،انسانان ما ته راځی اوځه جګړه وغیره راوړی شاید یوسړی دبل نه زیات حجت باز وی،څه چه دهغه د چالاکئ خبرې واورم نو دهغه په حق کښې فیصله کوم.(حالانکه په حقیقت کښې زمافیصله د واقعې خلاف وی) نوپوهه شئ چه دچاپه حق کښې داسې فیصلې څه یومسلمان ته حق ورکړم،هغه داور یو ټکړه ده که هغه قبلوی اوکه نه ئې قبلوی.(۳)

د ابن کثیر تبصره:- څه وایم چه دا آیت اوداحدیث په دې امر باندې دلیل دې چه دحاکم حکم په څه معامله کښې دشرعیت حقیقی حیثیت نشی بدلولې.فی الواقع هغه د قاضی فیصلې سره حلالیدې او حرامیدې نشی.دقاضی فیصله صرف ظاهری وی،باطن کښې نه شی نافذکیدې.اوکه هغه فی الواقع هم د نفس الامر مطابق وی نو خیر،ګنی حاکم ته به هم اجرملاویږی.لیکن ددې فیصلې په بناء حق لره ناحق اوناحق لره حق جوړولو والا به د رب مجرم شی.

---

۱) الطبری: ۳/۵۵۰)-

۲) ابن ابی حاتم: ۱/۳۹۳)-

۳) صحیح بخاری کتاب المظالم باب اثم من خاصم فی باطل وهو یعلم: ۲٤۵۸،صحیح مسلم: ۱۸۱۳)-

Scanned with CamSc

اودې به ګناهګار وی او په دې باندې پورته ایت مبارک ګواه دې چه تاسو چه تاسو ته ددې خبرې علم وی چې خما وعده باطله او غلطه ده او دخلقو مال خورلودپاره (داسې مه کوئ چې) په دروغه مقدمې جوړې کړئ،ددروغو ګواه راولئ،په ناجائزه طریقوسره حاکمانو ته دهوکې ورکوئ نو دسره تاسو خپلې دعوې مه ثابتوئ.

حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه انې خلقو اپوهه شئ چه قاضی تاسو دپاره حرام حلالولې نشی.او نه باطل حق کولې شی.قاضی خو د خپل عقل اوپوهې اودګواهانو د ګواهئ مطابق،د ظاهری حالاتو مطابق فیصله کوی.او هغه هم انسان دې،ممکن دی چه خطا اوکړی اوممکن دی چه خطانه بچ شی.نو پوهه شئ که فیصله د قاضی د واقعې نه خلاف اوشی نو تاسو صرف هغه فیصله اوګنړئ نور پوهه شئ چه هغه جائزمال مه ګنړئ داجګړه باقی ده.تردې چه دقیامت په ورځ به دواړه جمع کړی اوباطل والوباندې به د حق صاحب ته غلبه ورکړی اوهغوی ته د هغوی حق ورکړی او په دنیا کښې چه کومه فیصله شوې وه هغه به ظاهره کړی او هغه ته به نیکو کښې دهغه بدله ورکړی.(۱)

يَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ	الْاَهِلَّةِ ؕ	قُلْ هِيَ	
ا تپوس کوی ستانه	په باره	ا دسپوږمو کښې اورته اووایه چې دا		
ا خلق ستانه دسپوږمئ باره کښې تپوس کوی ورته اووایه چې دا				
مَوَاقِيْتُ	لِلنَّاسِ	وَالْحَجِّ ؕ	وَلَيْسَ الْبِرُّ	بِاَنْ تَاْتُوا الْبُيُوْتَ
ننبې دی دوختونومقررولو	ادپاره دخلقو	اودحج	اونۀ ده دانیکی	اچې ورځئ تاسو	کورونوته
د خلقو دپاره دتاریخ پیژندلواودحج دوخت معلومولو ننبې ده			داهیڅ نیکی نه ده چې خپلوکورونوته		
مِنْ ظُهُوْرِهَا	وَلٰكِنَّ	الْبِرَّ	مَنِ اتَّقٰى ۚ	وَاْتُوا الْبُيُوْتَ
دشاګانو دهغې نه	لیکن	ا نیکی داده اچې څوک ځان اوساتی دناراضګئ دالله نه		او ر ځئ کورونو ته
دشاګانو د طرفه ورځئ	ا بلکه صاحب د نیکئ هغه دې چې ځان دحرامونه بچ کړی			انو کورونو ته ورځئ
مِنْ اَبْوَابِهَا ۪	وَاتَّقُوا اللّٰهَ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ ۝۱۸۹	
په دروازه دهغې نه	اویریږئ ا دالله نه	شاید چې	ا تاسو ته کامیابی نصیب شی	
نیغ په دروازو باندې ا اوپه ټولو حکمونو کښې) دالله نه ویره کوئ چې کامیاب شئ				

قوله تعالی:-يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ؕ قُلْ هِيَ مَوَاقِيْتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ ؕ

سپوږمئ دمیاشتې او کال د تعین دپاره دی :حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه حضرت رسول اکرم ﷺ نه خلقو دمیاشتې باره کښې تپوس اوکړو.نو په دې باندې دا آیت نازل شو چه دې سره د قرض وغیره او وعدومیعاد معلومیږی.دښځودعدت وخت معلومیږی،د حج وخت معلومیږی.(۲) د مسلمانانو د روژې دافطار تعلق هم دې سره دې.

مسند عبدالرزاق کښې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دې چه حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمانیل چه الله ﷻ میاشت د خلقود وخت معلومولو دپاره جوړه کړې ده.دې ته ګورئی اوروژه نیسئ،دې ته

---

۱) الطبری: ۳/۵۵۰)-

۲) الطبری: ۳/۵۵۴)-

Scanned with CamSc

کورنی او اختر کوئی، که د بادوباران په وجه میاشت او نه کورنی نو دیرش ورځې پوره کړئی.(۱)

قوله تعالی:- وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ ظُهُورِهَا وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَىٰ ۚ وَأْتُوا الْبُيُوتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ۚ

کورونو ته په دروازو راتلل:- دې روایت ته حضرت امام حاکم رحمه الله صحیح ونیلی دی.(۲) دا حدیث نورو سندونوسره هم مروی دی.علی رضی الله عنه یو موقوف روایت کښې هم دامضمون راغلې دې. مخکښې ارشاد دې چه نیکی کور ته د شا طرفنه په راتلوکښې نه ده بلکه نیکی په تقوی کښې ده، کورونو ته په دروازو سره راځئ.صحیح بخاری کښې دی چه دجاهلیت په زمانه کښې دا دستور وو چه څوک به په احرام کښې به وونو کورته به د شا دطرف نه راتلل نوپه دې باندې دا آیت نازل شو.(۳)ابوداود طیالسی کښې هم داروایت دې.(۴)

د ایت شان نزول:- دانصارو عام دستور وو چه د سفر نه به واپس راتلل نو کور ته به د کور په دروازه نه راتلل.دراصل دا هم دجاهلیت زمانه کښې د قریشو خپل خان دپاره یو امتیاز وو چه خپل نوم هغوی حمس ایښودې وو.داحرام په حالت کښې خودوی براه راست کورونوته راتلې شو لیکن باقی ټول خلق داسې نه وو.حضرت رسول اکرم ﷺ یوباغ کښې وو،هلته نه دوی دهغې دروازې نه راوتل،د حضرت رسول اکرم یو صحابی حضرت قطبه بن عامر رضی الله عنه هم دوی سره دروازې نه راووتلو.په دې باندې خلقو نبی کریم ﷺ ته اووئیل چه یارسول الله ﷺ دا خو یو تجارت پیشه سړې دې،دې تاسو سره ستاسو په شان د دروازې نه ولې راووتلو ؟ هغوی جواب ورکړو چه نبی کریم ﷺ په کوم عمل اولیدو نو ما هم هغه شان ا وکړل.اومادا اوګنړل چه د حضرت رسول اکرم ﷺ تعلق،،حمس،،سره دې لیکن څه خو هم د حضرت رسول اکرم ﷺ په دین باندې یم،نو په دې باندې دا آیت نازل شو.(ابن ابی حاتم).حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه وغیره نه هم دا روایت مروی دې

حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه د جاهلیت په زمانه کښې د ډیروقومونو دا رواج وو چه کله به هغوی دسفر په اراده اووتل نو بیا به ئې سفر نیمګړې پرینبودو اګر چه په څه وجه به واپس شو نو دکور دروازې سره به نه راتلل.بلکه د روستو نه به راتلل.نوپه دې آیت سره هغوی منع کړې شو.(۵)

د اعتکاف په حالت کښې د غلط رواج تردید:- محمدبن کعب رضی الله عنه فرمائی چه د اعتکاف په حالت کښې هم دادستور وو اسلام دا ختم کړو.عطاء رحمه الله فرمائی چه د مدینې د خلقو په اخترونوکښې هم دا د ستور وو خو اسلام دا ختم کړو

بیافرمائی چه دالله ﷻ حکمونه پوره کول،چه کومو کارونونه الله ﷻ منع کړې ده دهغې نه منع کیدل، د هغه پاک ذات ویره په زړه کښې ساتل،دا څیزونه دی چه په اصل کښې به په هغه ورځ په کار راځی چه په کومه ورځ به هر سړې دالله ﷻ په مخکښې پیش کیږی او پوره پوره اجر به ورته ملاویږی.

وَقَاتِلُوا	فِي سَبِيلِ اللَّهِ	الَّذِينَ	يُقَاتِلُونَكُمْ	وَلَا تَعْتَدُوا ۚ	إِنَّ اللَّهَ
اوجنګ کوئ	په لاردالله کښې	دهغه کسانوسره	چې جنګ کوی	تاسوسره	اومۀ کوئ زیاتي	بیشکه الله
اوجنګ کوئی دالله په لارکښې هغه کسانو سره څوک چې تاسوسره جنګ کوی	خوزیاتي مه کوئی بیشکه الله

---

(۱) منصف عبدالرزاق : ۱۵۶/۴،ح/۸۳۰۶،صحیح ابن خزیمة: ۱۹۰۶،وسنده حسن،بیهقی: ۲۰۵/۴)-

(۲) المستدرک للحاکم: ۴۲۳/۱،ح/۱۵۳۹)-

(۳) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (ولیس البر بان تاتوا.....) : ۴۵۱۲،صحیح مسلم: ۳۰۲۶)-

(۴) مسند الطیالسی : ۷۱۷،وسنده صحیح)-

(۵) ابن ابی حاتم: ۴۰۱/۱)-

Scanned with CamScanner

لَا يُحِبُّ	الْمُعْتَدِيْنَ ۝	وَاقْتُلُوْهُمْ	حَيْثُ	ثَقِفْتُمُوْهُمْ
نه خوښوی	زیاتی کونکی	اوجنګیږئ دهغوئ سره	هرځائې کښې چې	تاسوبیاموميئ هغوئ لره
زیاتی کونکی کسان نه خوښوی		اوهغوئ (مشرکان) وژنئ	کوم ځائې کښې چې ئې بیاموميئ	
وَاَخْرِجُوْهُمْ	مِّنْ حَيْثُ	اَخْرَجُوْكُمْ	وَالْفِتْنَةُ	
اواوباسئ هغوئ	دهغه ځائې نه	دکوم ځائې نه چې ایستلی یئ هغوئ تاسو	او فتنه (کفر)	
اوبهر ئې راوباسئ دکوموځایونونه چې ئې تاسو ویستلی یئ			او (دکفر) فتنه	
اَشَدُّ	مِنَ الْقَتْلِ ۚ	وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ	عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ	حَتّٰى
زیات بدکاردی	دقتل نه	اوجنګ مه کوئ دهغوئ سره	په خوا کښې دمسجدحرام	ترهغې
دقتل نه زیاته سخته (ګناه) ده		اودمسجدحرام (کعبې) په خوا کښې ورسره جنګ مه کوئ ترڅو		
يُقٰتِلُوْكُمْ	فِيْهِ ۚ	فَاِنْ قٰتَلُوْكُمْ	فَاقْتُلُوْهُمْ ؕ	
چې اوجنګیږی هغوئ تاسوسره	په هغې کښې	انوکه چرې جنګ وکړوهغوئ ستاسوسره	انو تاسو هم وژنئ هغوئ	
چې تاسو سره جنګ نه کوی	اوکه چرې هغوئ هغه ځائې (حرم) کښې هم تاسو سره جنګیږی		انو تاسو هم هغوی قتلوئ	
كَذٰلِكَ	جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ۝	فَاِنِ انْتَهَوْا	فَاِنَّ اللّٰهَ	غَفُوْرٌ
هم دا	سزا دا کافرانوده	اوکه چرې منع شو هغوئ	نو بیشکه چې الله	معاف کونکې
داسې کافرولره هم دغسې سزا پکار ده		بیا که هغوئ (دجنګ نه) منع شی	نوالله پاک ښښونکې	
رَّحِيْمٌ ۝	وَقٰتِلُوْهُمْ	حَتّٰى	لَا تَكُوْنَ	فِتْنَةٌ	وَّيَكُوْنَ
رحم کونکې دی	او جنګ کوئ دهغوئ سره	تر هغې پورې	چې پاتې نشی	فتنه	اوشی
مهربان دی	اوتاسو ورسره ترهغې وخته پورې جنګیږئ چې فتنه (کفر اوشرک) پاتې نشی				او شی
الدِّيْنُ لِلّٰهِ ؕ	فَاِنِ انْتَهَوْا	فَلَا عُدْوَانَ	اِلَّا عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ۝	
دین خالص الله لره	انوکه چرې منع شول هغوئ	نو بیا نه دی جائز زیاتی	مګر جائز دی په ظالمانو باندې	
دین صرف د یو الله	نوکه هغوئ منع شو	نو دظالمانونه بغیر په بل چا لاس اوچتول پکار نه دی		

قوله تعالى:-وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ

د جهاد حكم: حضرت ابوالعالیه ﷺ فرمائی چه مدینه منوره کښې دجهاد رومبې حکم هم دی خائې کښې نازل شوی دی. حضرت رسول اکرم ﷺ ددی آیت د حکم په رنړا کښې صرف هغه خلقو سره جهاد کولو چه کومو به حضرت رسول اکرم ﷺ سره. د جنګ کولو او چه کومو به د حضرت رسول اکرم ﷺ سره جنګ نه کولو نو حضرت رسول کریم ﷺ به پخپله هغوئ سره جنګ نه کولو. تر دی چه سورة برات نازل شو[1] بلکه عبدالرحمن بن زید بن اسلم ﷺ خو تردی فرمائی چه دا آیت منسوخ شوی دی. او ناسخ آیت ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ﴾ دی. یعنی کوم ځائې کښې چه تاسومشرکان وینئ هغوی قتل

[1] الطبری: ۳/۵۶۱)-

Scanned with CamScanner

﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ﴾ دي.يعنی کوم خائي کښې چه تاسومشرکان وينئ هغوی قتل کړئی.ليکن په دې باره کښې اختلاف دي،ځکه چه په دې کښې خوصرف مسلمانانو ته رغبت ورکول او هغوی آماده کول دی چه دې دښمنانوسره ولې جهاد نه کوئی چه کوم ستاسواوستاسو ددين بنکاره دښمنان دی.چه څنګه هغوی تاسوسره جنګ کوی تاسوهم ورسره جنګ کوئی،بل خائي کښې فرمانی چه ﴿وَقَاتِلُوا الْمُشْرِكِينَ كَافَّةً كَمَا يُقَاتِلُونَكُمْ كَافَّةً﴾ يعنی يوموتئ شئ او مشرکانوسره جهاد کوئی چه څنګه هغوی يو موتئ دی اوتاسوسره جنګ کوی.نو په دې آيت کښې هم فرمائی چه هغوی قتل کړئی (۱) چه کوم خائي کښې هم تاسوهغوی وينئ اوهغوی د هغه خائي نه اوباسئ چه کوم خائي نه ئې تاسو ويستلی وی. مطلب دادي چه څنګه دهغوی اراده تاسودقتل کولو ده او ستاسو د جلاوطنئ ده،ستاسو هم د هغوی باره کښې هم دا اراده پکار ده.

قوله تعالی:- وَلَا تَعْتَدُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ

په جهاد کښې د ممنوع څيزونو فهرس:- بيافرمائی چه تجاوز کونکی الله ﷻ نه خوښوی.يعنی دالله ﷻ نافرمانی مه کوئی.پوزه،غوږ وغيره مه پريکوئی.خيانت او غلا مه کوئی،بنځې او بچی مه قتل کوئی،دا بوډاګان،کمزوری او بې وسه خلق مه وهئ ځکه چه دوی نه جنګ کولې شی او نه په جنګ کښې شرکت کولې شی.درويشان او تارك الدنيا خلق هم مه قتل کوئی.بلکه بغير د څه مصلحت نه مه جنګ کوئی او مه وني وهئ اومه حيوانان ضائع کوئی.حضرت عبدالله بن عباس ﷺ،حضرت مقاتل بن حيان ﷺ،حضرت عمر بن عبدالعزيز ﷺ وغيره ددې آيت مبارك هم دا تفسير کړې دي.

صحيح مسلم کښې دي چه نبی کريم ﷺ به مجاهدينو ته فرمائيل چه دالله ﷻ په لار کښې جهاد کوئی خيانت مه کوئی،وعده خلافئ نه ځان ساتئی،پوزه،غوږ اندامونه وغيره مه پريکوئی،ماشومان او زاهدان خلق چه په عبادت کښې مشغول وی مه قتل کوئی.(۲)مسند احمدکښې يو روايت کښې دی چه نبی کريم ﷺ به فرمائيل چه دالله ﷻ نوم واخلئ او اوځئ،دالله ﷻ په لارکښې جهادکوئی،کافرو سره جنګ کوئی،ظلم او زياتي مه کوئی،چالته دهوکه مه ورکوئی ،ددښمن دبدن اندامونه مه پريکوئی، درويشان مه قتل کوئی.(۳)

بخاری شريف او مسلم شريف کښې دی چه يو ځل يو غزوه کښې يو ښځه قتل کړې شوې اوموندې شوه،حضرت رسول اکرم ﷺ دا ډير بداوګنړلاو د ښځو اوماشومان قتل کولو نه ئې منع اوفرمائيله.(۴)

ظلم د الله د خفګان سبب دي:- مسند احمد کښې دی چه حضرت رسول اکرم ﷺ يو، دري، پنځه، اووۀ، نهه،اويولس مثالونه ورکړل اويو ئې بنکاره کړو او باقی ئې پريښودل.وې فرمائيل چه څه خلق کمزوری اومسکينان وو،په هغوی باندې زورور او مالدار دښمن حمله اوکړه.الله ﷻ دهغه ضعيفانو مدد اوکړو او په دې زورور ئې دوی ته بری ورکړو.نو بيا خلقو په هغوی ظلم او زياتي کول شروع کړو.چه ددې په وجه الله ﷻ ددوی نه تر قيامته پوری خفه شو.(۵) ددې حديث سند صحيح دي.مطلب دادي چه کله دا کمزوری قوم غالب شو نو دوی ظلم اوزياتي شروع کړو.اودالله ﷻ د حکم ئې هډو هيڅ پروا ا ونکړه.په دې وجه الله ﷻ ددوی نه خفه شو په دې باره کښې ډير احاديث او آثار موجود دی.چه دهغې نه صفا ظاهريږی چه ظلم اوزياتي الله ﷻ نه خوښوی.او دداسې خلقو نه الله ﷻ خفه وی.دجهاد په احکامو کښې

---

(۱) الطبری: ۵۶۲/۳)-

(۲) صحيح مسلم كتاب الجهاد باب تامير الامام الامراء على البعوث: ۱۷۳۱،بدون (ولا اصحاب....الصوامع)-

(۳) احمد: ۳۰۰/۱،ومسنده ضعيف والحديث السابق يغنى عنه)-

(۴) صحيح بخاری كتاب الجهاد باب قتل الصبيان فى الحرب: ۳۰۱٤،صحيح مسلم: ۱۷٤٤،ابوداود: ۲٦٦۸،ترمذی: ۱٥٦۹)-

(۵) احمد: ٤۰۷/٥،)-

Scanned with CamSc

په ظاهره قتل و قتال دي.ددي وجې نې اوفرمانيل که يو طرفته خوقتل وقتال دې نو بل طرفته دالله ﷻ سره کفراوشرک دي،اودمالک د لارې نه مخلوق منع کول دی.اودافتنه او فساددقتل نه ډيرزيات سخت دي.ابومالك رضي الله عنه فرمائي چه ستاسودخطاګانو او بدکارونو نه داقتل زيات نقصان ورکونکي دي.

قوله تعالى:-وَلَا تُقٰتِلُوْهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتّٰى يُقٰتِلُوْكُمْ فِيْهِ

حرم کښې د قتال ممانعت:- بيا فرمائي چه په بيت الله شريف کښې دوی سره جنګ مه کوئی.لکه څنګه چه بخاری اومسلم کښې دی چه نبی کريم ﷺ فرمائی چه دا بنارحرمت والا دي،د زمکې او آسمان د پيدائش نه واخله ترقيامته پورې به حرمت والا وی.صرف دلږ وخت دپاره الله ﷻ دا زما دپاره حلال کړې وو.ليکن دانن په دې وخت کښې هم حرمت والا دي.او تر قيامته به ددې دا احترام او بزرګی باقی وی. ددې ونې مه پريکوئی.ددې ازغزی هم مه شوکوئی.که څوک په دې کښې جنګ جائز ګڼړی اوزما جنګ دليل جوړوی نو تاسو ورته اووائې چه الله ﷻ خپل رسول ﷺ ته اجازت ورکړې وو.ليکن تاسو ته ددې اجازت نشته دي.(۱)

فتح مکه:- دحضرت رسول اکرم ﷺ د فرمان نه مراد د فتح مکه ورځ ده.چه په کومه ورځ حضرت رسول اکرم ﷺ مکې والوسره جهاد کړې وو.او مکه ئې فتح کړې وه.څو مشرکان وژولې شوی وو.بعضې علماء کرام داهم وائی چه مکه صلح سره فتح شوې وه.حضرت رسول اکرم ﷺ صفا ارشاد فرمانيلې دي چه کوم يوسړي خپله دروازه بنده کړی هغه په امن کښې دي.او چه څوک جمات ته لاړشی هغه په امن کښې دي.او چه څوک دابوسفيان کور ته داخل شی هغه په امن کښې دي.(۲) او بيائې اوفرمائيل که هغوی تاسوسره په دې خائې هم جنګ کول غواړی نو تاسوهغوی سره جنګ اوکړئ،چه ظلم ختم شی.

صلح حديبيه:-حضرت رسول اکرم ﷺ دحديبيه په ورځ دجنګ کولودپاره د خپلو صحابه کرامو ﷺ نه بيعت واخستلو.قريش اوددوی ملګری يو شوی وو او حمله ئې کړې وه.او نبی کريم ﷺ د ونې لاندې د خپلو صحابه کرامو ﷺ نه بيعت واخستلو.بيا الله ﷻ دا جنګ دفع کړو.ددې نعمت بيان په آيت ﴿ وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ﴾ کښې دي.

قوله تعالى:-فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ

د کفر نه توبه ويستل د ګناهونو معاف کيدل دی:- بيا ارشاد فرمائی که دا کفار په حرم کښې جنګ کول بندکړی اوددې نه منع شی اواسلام طرفته راوګرزی نو الله ﷻ به ددوی ګناهونه معاف کړی.اګر چه دوی په حرم کښې مسلمانان قتل کړی وی.خوبيا به هم الله ﷻ ددوی داسې لوئې ګناهونه معاف کړی.

قوله تعالى:-وَقٰتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ لِلّٰهِ

ترڅوپورې جهاد کوئ؟:- بيا حکم فرمائی چه دې مشرکانو سره جهاد جاری ساتئ،تردې چې د شرک دا فتنه ختمه شی.او دالله ﷻ دين په نورو ټولو دينونوباندې غالب او اوچت شی.لکه څنګه چه بخاری شريف اومسلم شريف کښې دحضرت ابوموسی ﷺ نه روايت دې چه حضرت رسول اکرم ﷺ نه تپوس اوشو چه يو سړې د خپلې بهادرئی دپاره جنګيږی يو سړې غيرت وغيره دپاره جنګ کوی او يو سړې د خودنې دپاره جنګ کوی نو اووائې چه په دوی کښې کوم يو سړې دالله ﷻ په لار کښې جهاد کولو والا دی ؟.حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائيل چه د الله ﷻ په لار کښې جهاد کولو والا هغه کس دې چه دپاره جنګ کوی چه دالله ﷻ خبره اوچته شی او دهغه دين سربالاشی.(۳)بخاری او مسلم کښې يوروايت

---

۱) صحيح بخاری كتاب جزاء الصيد باب لايعضد شجر الحرم: ۱۸۳۲،صحيح مسلم: ۱۳۵۳)-

۲) صحيح مسلم: كتاب الجهاد باب فتح مكه : ۱۷۸۰،مختصرا بغير ذكر المسجد ابوداود: ۳۰۲۲،)-

۳) صحيح بخاری كتاب التوحيد باب قوله تعالى (ولقد سبقت كلمتنا....) ۷۴۵۸،صحيح مسلم: ۷۴۵۸،ابوداود: ۲۵۱۷،ترمذی: ۱۶۴۶، نسائی : ۳۱۳۸،ابن ماجة: ۲۷۸۳)-

Scanned with CamSc

دې چه ماته حکم شوې دې چه څه دې خلقو سره جهاد جاری اوساتم تر دې چه هغوی (لا اله الا الله) اووائی.هرکله چه هغوی دا اووائی نود هغوی د جان اومال حفاظت به ځما په ذمه وی.خو په اسلامی حدودو کښې (لکه که قتل اوکړی نو قصاص کولې به شی که غلا اوکړی نو لاس به ئې کټ کولې شی) اود هغوی باطنی حساب د الله ﷻ په ذمه دی.(۱)

قوله تعالی:-فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ

څوک چې جنګ نه کوی تاسو ورسره جنګ مه کوئ:- بیائې فرمائی که دا کفارد شرك اوکفر اوتاسو سره د جنګ کولو نه منع شی نو تاسو هم جنګ مه کوئې،دې نه پس چه څوك قتال کوی،هغه به ظالم وی او ظالمانوته سزا ورکول ضروری دی.یعنی د مجاهد رحمه الله ددې قول معنی دا شوه چه څوك جنګ کوی هم هغوی سره جنګ کوئی.یا مطلب دادې که دوی ددې حرکتونونه منع شی نو هغوی د ظلم یعنی شرك نه منع شو،بیا هیڅ وجه نشته دې چه تاسو دوی سره جنګ اوکړئی.

دعدوان مفهوم:-دلته لفظ (عُدْوَانَ) دې اودا د زیاتئ په په مقابله کښې دزیاتئ کولو بدل دپاره دې.په حقیقت کښې زیاتی نه ده.لکه فرمائی چه ﴿ فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ ۚ﴾ یعنی تاسو باندې چه څوك زیاتې کوی تاسو هم هغه سره هغه شان زیاتې کوئی.اوبل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا ۖ﴾یعنی دبدئ بدله ددې پشان بدی ده.اوبل ځائې کښې فرمان دې چه ﴿ وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ ۖ﴾ یعنی.که تاسو دوی ته عذاب او سزا ورکوئی نو دومره ورکوئی چه څومره نې تاسو ته درکړې ده.نو په دې دری واړو ځایونوکښې زیاتی،بدی او سزا په طور د بدله وئیلې شوی دی. ګنی په حقیقت کښې هغه زیاتې،بدې اوسزانه ده.عکرمه رحمه الله او قتاده رحمه الله بیان فرمائی چه اصل ظالم هغه دې چه د ﴿ لااله الاالله ﴾ نه انکاری وی.(۲)

د عبدالله بن عمر ﷺ د فتنې په زمانه کښې د جنګ کولو نه انکار:- صحیح بخاری کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ته دوه سړی راغلل او په عبدالله بن زبیر ﷺ باندې خلقو حمله کړې وه.او راغلل او وې وئیل چه خلق قتل کیږی،تاسو خو دحضرت عمر فاروق ﷺ څوئې یئ،دحضرت رسول اکرم ﷺ صحابی یئ،تاسو ولې په دې جنګ کښې حصه نه اخلئ ؟ دوی اوفرمائیل چه واورئی ! الله ﷻ په مسلمان باندې دمسلمان وینه حرامه کړې ده.هغوی اوفرمائیل چه آیا دا دالله ﷻ فرمان نه دې چه تاسو هغوی سره جنګ کوئی تر دې چه فتنه اوفساد باقی پاتې نشی ؟.دوی اوفرمائیل چه مونږ خو جنګیدو تردې پورې چه فتنه ختمه شوه او دالله ﷻ خوښ دین غالب شو.لیکن تاسو اوس غواړئی چه جنګ اوکړئی او فتنه پیدا شی اونور مذهبونه غالب شی.

یو بل روایت کښې دی چه چا دوی ته اووئیل چه انې ابوعبدالرحمن تاسو دالله ﷻ په لار کښې جهاد ولې پرینبودې دې.او څه موډ اختیار کړی دی چه حج پسې حج کوئی.په هر دویم کال حج ته ځئی.اوتاسو د جهاد فضائل پټ کړی دی.دوی اوفرمائیل چه وراره واوره ! د اسلام پنځه بناء ګانې دی ① په الله ﷻ اودهغه په رسول ﷺ باندې ایمان راوړل.② پنځه وخته مونځ اداکول ③درمضان روژې ساتل ④زکوة ورکول ⑤ دبیت الله حج کول.دوی اوفرمائیل چه آیا تاسو د قران پاك دا حکم نه دې آوریدلې که د ایماندارو دوه ډلې په خپلو کښې جنګ کوی نو تاسو ددوی په مینځ کښې صلح کوئی.که یوه ډله په بل باندې غالبه شی نوباغی ډلې سره جنګ کوئی.تردې پورې چه دالله ﷻ فرمانبرداره جوړه شی.او په بل

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الایمان باب (فان تابوا واقاموا الصلاة.....) ۲۵،صحیح مسلم: ۲۲)-

(۲) الطبری: ۸۷۳/۳)-

خانې کښې ارشاد دې چه تاسو دوی سره جنګ کوئی تر دې چه فتنه ختمه شی.دوی اوفرمانیل چه مونږ د حضرت رسول اکرم ﷺ په زمانه کښې ددی حکم تعمیل اوکړو او په هغه وخت کښې اسلام کمزورې وو.اومسلمانان لږ وو.چه چا به اسلام قبلولوپه هغه به فتنه راتله.یا خوبه قتل کولې شو یا به په سخت عذاب کښې اخته شو.تردې پورې چه دا پاك دین خورشو.اوددې ملګری ډیر زیات شو اوفتنه ختمه شوه.دوی اووئیل چه اوس اوفرمائې چه دحضرت علی ﷺ او دحضرت عثمان ﷺ باره کښې ستاسو څه خیال دې ؟ وې فرمائیل چه حضرت عثمان ﷺ الله ﷻ معاف کړې دې اګر چه ته به دا معافې بده ګڼې او حضرت علی ﷺ دنبی کریم ﷺ د تره خوئې اوزوم وو،او دا اوګوره دهغه مکان دا شو چه ستا د سترګو وړاندې دې.(۱)

اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ	بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ	وَالْحُرُمٰتُ	قِصَاصٌ ؕ فَمَنِ
میاشته حرامه	په بدله دمیاشتې دحرامې کښې ده	اوټول عزتونه	په برابرۍ دی نو چاچی
معززه میاشت د معززې میاشت په بدله کښې ده	اودټولو محترموڅیزونو خیال برابر ساتل دی	نوکه چا	
اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ	فَاعْتَدُوْا	عَلَيْهِ	بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى
زیاتې اوکړو په تاسو	نو زیاتې اوکړئ تاسو	په هغه باندې	پشان دهغې چی زیاتې ئی کړې وو
په تاسو ظلم اوکړو	نوتاسوهم په هغه باندې هومره قدرې زیاتې اوکړئی	څومره زیاتې چې هغه په تاسو	
عَلَيْكُمْ ۪	وَاتَّقُوا اللّٰهَ	وَاعْلَمُوْٓا	اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ۝
په تاسو باندې	اواویریږئ دالله نه	اوپوهه شئ	بیشکه چی الله ملګری دې دپرهیزګارانو
باندې کړې وی	اودالله نه ویره کوئ	اوپه دې پوهه شئ چې الله د(هغې) پرهیزګارو ملګری دې	(چې تجاوز نه کوی)

قوله تعالی:- اَلشَّهْرُ الْحَرَامُ بِالشَّهْرِ الْحَرَامِ وَالْحُرُمٰتُ قِصَاصٌ ؕ

دحرمت میاشتې: ذی القعده شپږمه هجرئی کښې حضرت رسول اکرم ﷺ عمرې دپاره خپلوصحابه کرامو ﷺ سره مکې طرفته راوون شو.خومشرکانو حضرت رسول اکرم ﷺ دحدیبیه په میدان کښې ایسار کړو. او آخرپه دې خبره باندې صلح اوشوه چه راتلونکی کال دې حضرت رسول اکرم ﷺ سره عمره اوکړی اوپدې کال دې واپس لاړشی.ذی القعدی میاشت هم دحرمت والامیاشت ده،ددې وجې دا آیت نازل شو.

دصلح حدیبیه واقعه:- مسند احمدکښې حدیث دې چه حضرت رسول اکرم ﷺ به حرمت والا میاشتو کښې جهادنه کولو.خو که چابه دوی سره جنګ کولو نو دا بله خبره وه.بلکه که دجنګ دوران کښې به حرمت والامیاشت راغله نو حضرت رسول اکرم ﷺ په جنګ اودرولو.(۲) دحدیبیه په میدان کښې هم کله چه حضرت رسول اکرم ﷺ ته دا خبر راورسیدو چه حضرت عثمان غنی ﷺ مشرکانو شهید کړواو دوی دنبی کریم ﷺ پیغام هلته اورلې وو،نو حضرت رسول اکرم ﷺ دخپلوځوارلسوسوؤ صحابه کرامو ﷺ نه دیوونې لاندې دمشرکانوخلاف دجهادکولوبیعت واخستلو.بیامعلومه شوه چه داخبرغلط دې. نوحضرت رسول اکرم خپله اراده ملتوی کړه اوصلح طرفته مائل شو.بیا چه کومه واقعه وه هغه اوشوه (یعنی د صلح حدیبیه واقعه اوشوه)

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب قوله تعالی : (وقاتلوهم حتی لا تکون فتنة....): ۴۵۱۳)-

۲) احمد : ۳۴۵/۳،وسنده صحیح علی شرط مسلم مجمع الزوائد : ۶۶/۶)-

Scanned with CamScanner

د هوازن واقعه:- داسان هرکله چه حضرت رسول اکرم ﷺ د هوازن جنګ نه دحنین په ورځ فارغ شو او مشرکان طائف ته لاړل او په قلعه کښې بند شو نو حضرت رسول اکرم ﷺ دهغوی محاصره اوکړه. خلویښتو ورځو پورې دامحاصره وه.اوبالآخر دځو صحابه کرامو ﷺ د شهادت نه پس دا محاصره حضرت رسول اکرم ﷺ ختمه کړه او مکې طرفته واپس شو.او مقام جعرانه نه حضرت رسول اکرم ﷺ د عمرې احرام اوترلو.همدلته دحنین غنیمتونه تقسیم شو.اودا عمره حضرت رسول اکرم ﷺ په ذی القعده اتمې هجرئی کښې اوکړه.په حضرت رسول اکرم ﷺ باندې دې د الله ﷻ درودو سلام وی.(۱)

قوله تعالی:-فَمَنِ اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوْا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدٰى عَلَيْكُمْ ۪

څوک چه په تاسو زیاتې کوی نوتاسو هم بدله اخلئ:-بیا فرمائی چه څوک تاسوباندې زیاتې اوکړی نو تاسوهم په هغوی زیاتې کوئی.یعنی مشرکانوسره هم دعدل خیال ساتئی.دلته هم دزیاتی بدلې اخستلو نه په زیاتئی سره تعبیر داسې دې لکه څنګه چه په یو مقام باندې د عذاب او سزا په بدله کښې د سزا لفظ بیان شوې دې.اود بدئی په بدله کښې دبدئی لفظ بیان شوې دې.

د ایت په نسخ کښې دوه اقوال:- حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی چه دا آیت مکه کښې نازل شویدې دې اوپه مکه کښې دمسلمانانو څه شان شوکت نه وو.اونه دجهاد حکم وو.بیا دا آیت مدینه منوره کښې دجهاد حکم سره منسوخ شو.لیکن ابن جریر رحمه الله ددې خبرې تردید کوی او فرمائی چه دا آیت مدنی دې.د عمره قضا نه پس نازل شوې دې.دحضرت مجاهد رحمه الله هم دا قول دې.

قوله تعالی:-وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ:: بیا فرمائی چه دالله ﷻ اطاعت او پرهیزګاری اختیار کړئی او په دې پوهه شئ چه داسې خلقو سره دین اودنیا کښې الله ﷻ نصرت کوی.

وَاَنْفِقُوْا	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ	اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ	وَاَحْسِنُوْا ۚ
او خرچ کوئ	په لارد الله کښې	اومة غورزوئ (خانونونه) په لاسونوخپلو	هلاکت ته	اواحسان کوئ
اودالله په لار کښې (مال) خرچ کوئ	اوپخپلو لاسونوخان هلاکت ته مه غورزوئ	اواعمال کوئ		
اِنَّ اللّٰهَ	يُحِبُّ	الْمُحْسِنِيْنَ ۝		
بیشکه الله	خوښوی	احسان کونکی		
بیشکه الله نیکان خلق خوښوی				

قوله تعالی:-وَاَنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

د الله ﷻ په لارکښې خرچ کول::خذیفه ﷺ فرمائی چه داآیت دالله ﷻ په لارکښې دخرچ کولوپه باره کښې نازل شوېدې(بخاری شریف)(۲)اونوروبزرګانوددې آیت په تفسیرکښې هم دابیان فرمائیلی دی.

قوله تعالی:-وَلَا تُلْقُوْا بِاَيْدِيْكُمْ اِلَى التَّهْلُكَةِ ۛ

په ایت کښې دهلاکت نه مراد:- حضرت ابوعمران رحمه الله فرمائی چه مهاجرینو کښې یو سړی د قسطنطنیه په جنګ کښې دکفارو په لښکر باندې دلیرانه حمله اوکړه.اودهغوی صفونه ئې څیرې کړل او په هغوی کښې داخل شو.نوبعضو خلقو اووئیل چه اوګوره کنه دې دخپله لاسه خپل ځان په هلاکت کښې اچوی.حضرت ابوایوب ﷺ چه کله دا واوریدل نو وې فرمائیل چه ددې آیت صحیح مطلب مونږ ته ښه معلوم دې،واورئی ادا آیت هم زمونږ باره کښې نازل شوې دې.مونږ حضرت رسول اکرم ﷺ سره په صحبت کښې پاتې شو،او دحضرت رسول اکرم ﷺ سره په جنګ او جهاد کښې شریک شو،د حضرت

---

۱)فتح الباری: ۳/۷۰۱)-

۲)صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب قوله تعالی: (وا نفقوا فی سبیل الله....) ٤٥١٦)-

Scanned with CamScanner

رسول اکرم ﷺ دمدد لاندې مونږ پاتې شو،تردې پورې چه اسلام ظاهر شو او مسلمانان غالب شو.نوبوځل مونږ انصارپه خپلوکښې جمع شو اومشوره مو اوکړه مونږ الله ﷻ د حضرت رسول اکرم ﷺ په صحبت مشرف کړو.مونږ دحضرت رسول اکرم ﷺ په خدمت کښې حاضرپاتې شو.د حضرت رسول اکرم ﷺ په نګرانئی کښې مو جهاد اوکړو.اوس الحمد لله اسلام خور شو اومسلمانان غالب شو،جنګ ختم شو،په دې (تیرې)ورځوکښې نه مونږ د خپل اولاد خبر واخستلو اونه مو د مال څه خیال اوساتلو،او نه مو د پټو او باغونو څه خیال اوساتلو.نو اوس مونږ ته پکار دی چه خپل کورنی معاملاتو طرفته توجه ورکړو.په دې باندې دا آیت نازل شو،نو جهاد پریښودل اوپه خپل بچو او تجارت کښې اخته کیدل دخپله لاسه خپل ځان په هلاکت کښې اچول دی.(ابو داود ،ترمذی،نسائی،وغیره).(۱)

د قسطنطنیه د جنګ یوه واقعه:- یوبل روایت کښې دی چه د قسطنطنیه په جنګ کښې دمصریانو سردار حضرت عقبه بن عامر ﷺ وو،او دشامیانو سردار یزید بن فضاله بن عبید ﷺ وو.(۲)حضرت براء بن عازب ﷺ نه یو سړی تپوس اوکړو که څه یوازې د دښمن صفونوباندې حمله اوکړم،او هغوی ما ګیر کړی اوماقتل کړی نوآیا ددې آیت مطابق څه خپل ځان په هلاکت کښې اچولو والا یم ؟ دوی جواب ورکړو چه نه،الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته فرمائی چه ﴿ فَقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ اِلَّا نَفْسَكَ﴾ انې نبی ﷺ د الله ﷻ په لار کښې جنګ کوه،ته د خپل ځان مالك ئې،هم دې ته تکلیف وائی.دا آیت دالله ﷻ په لار کښې دخرچ کولو نه منع کیدونکو باره کښې دې.(ابن مردویه وغیره)

د هلاکت دویم تفسیر:- د ترمذی په یو روایت کښې دومره زیاتوالې هم دې چه د سړی په ګناه باندې ګناه کول او توبه کول،دا د خپله لاسه خپل ځان په هلاك کښې اچول دی.ابن ابی حاتم کښې دی چه مسلمانانو د دمشق محاصره اوکړه او د ازرشنوه د قبیلې یو سړی جرآت اوکړو او دښمنانوباندې ئې حمله اوکړه.اودهغوی صفونه ئې مات کړل اوهغې کښې داخل شو.خلقوډا بد اوګنړل او حضرت عمروبن عاص ﷺ ته ئې ددې شکایت اوکړو نو حضرت عمرو بن عاص ﷺ دوی راوبلل او وې فرمائیل چه په قران پاك کښې دی چه خپل ځانونه په هلاکت کښې مه اچوئی.حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه په جنګ کښې داشان بهادری خودل دا خپل ځان په بربادئی کښې نه دی اچول،بلکه دالله ﷻ په لارکښې مال نه خرچ کول هلاکت کښې اچول دی.حضرت ضحاك بن ابوجبیره فرمائی چه انصارو به دالله ﷻ په لار کښې خپل مالونه زړه نه خرچ کول.خو یو کال قحط راغلو اوپه دې موقع هغوی دغه خرچونه اونه کړل،نوپه دې باندې دا آیت نازل شو.

حضرت امام حسن بصری ﷺ فرمائی چه ددې نه مراد بخل کول دی.حضرت نعمان بن بشیر فرمائی چه ګناهګار دالله ﷻ درحمت نه ناامیده کیدل داهلاکت دی.اوبعضو مفسرینو دا هم فرمائیلی دی چه ګناه اوشی اوبیا دبخښنې نه نا امیده کیدل او په ګناهونو کښې اخته کیدل،دا دخپله لاسه خپل ځان په هلاکت کښې اچول دی.د ﴿ تهلکة ﴾ نه مراد دالله ﷻ عذاب هم بیان شوې دې.

د قرطبی ﷺ وغیره نه روایت دې چه خلق به حضرت رسول اکرم ﷺ سره په جهاد کښې شریکیدل او خپل خان سره به ئې څه خرچ نه اخستلو،چه یا خو دوی د اولږې مړه شی یا ددوی بوج په نوروی،نو دوی ته په دې آیت کښې فرمائیلې کیږی چه الله ﷻ تاسو ته څه درکړی دی دهغه ذات په لار کښې خرچ کوئی او دخپله لاسه خپل خان په هلاکت کښې مه اچوئی چه اولږې،تندې یا پیدل تلوسره مړه شئ.

په دې دې سره هغه خلقوته حکم کیږی چه تاسو احسان.کوئی چه الله ﷻ تاسو دوستان جوړ کړی.دنیکئ په هرکارکښې خرچ کوئی اوخاص کر د جهاد په معامله کښې دالله ﷻ په لار کښې خرچ کولو نه روستو

---

(۱) ابو داود کتاب الجهاد باب فی قوله تعالی (ولا تلقوا بایدیکم.....) ۲۵۱۲،وسنده صحیح ترمذی : ۲۹۷۲)-

(۲) ترمذی کتاب التفسیر باب ومن سورة البقرة : ۲۹۷۲،وسنده صحیح)-

Scanned with CamScanner

کیږئی مه،داپه حقیقت کښې ستاسو هلاکت دې.نو احسان د اعلی درجې اطاعت دې.چه دهغې حکم کیږی او ورسره دا هم بیانیږی چه احسان کوونکی د الله ﷻ دوستان دی.

وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ ؕ
اوپوره کړئ	حج	اوعمره	دپاره درضاالله
اوچې دالله درضادپاره دحج اوعمرې نیت اوکړئی |انوهغه پوره کوئ
فَاِنْ اُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ وَلَا تَحْلِقُوْا
اوکه چرې	بندکړې شوئ تاسو	نوهغه چې	آسانه وی	دقربانئ نه	او مهٔ خرائې
اوکه چرې (په لاړ کښې)ایسارکړې شئ| نو هرڅه قربانی چې موندې شئ هغه ورکړئی |اومه خرئی
رُءُوْسَكُمْ حَتّٰى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهٗ ؕ فَمَنْ
سرونه خپل	ترهغه پورې	چې اورسیږی	څاروې قربانی	څانې دحلالې خپلی ته	اخوهغه څوک
خپل سرونه تردې چې قربانی خپل ځانې ته اورسی	په تاسو کښې
كَانَ مِنْكُمْ مَّرِيْضًا اَوْ بِهٖۤ اَذًى مِّنْ رَّاْسِهٖ فَفِدْيَةٌ مِّنْ صِيَامٍ اَوْ
چې وی| ستاسو نه	مریض |اياوی په هغه|څه تکلیف| دطرفه دسردهغه نه| نوفدیه ده| دروژونه	یا
چې ناروغه وی یاپه سر کښې ئې څه تکلیف وی(اوسرنشی خرئیلې)	نو دفدې په طور دې روژې اونیسی یا دې
صَدَقَةٍ اَوْ نُسُكٍ ۚ فَاِذَاۤ اَمِنْتُمْ ۪ فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ اِلَى الْحَجِّ
دصدقې نه	یادقربانئ نه	نوهرکله چې	په امن شئ تاسو	نو هغه چا	چې فائده واغستله	په عمرې سره	دحج دورځو
صدقه ورکړی یا قربانی	بیا هرکله چې په امن کښې شئ نو څوک چې دحج دوخت نه مخکښې دعمرې نه فائده اوچته کړی
فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ
نوهغه	چې آسانه وی	د قربانئ نه	نوهغه چاچه	اونهٔ مونده قربانی	نوروژې دی	درې ورځې
نودخپل وس مطابق دې قربانی اوکړی	اوکه د چا وس نه کیږی	نو درې روژې دې اونیسی
فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ؕ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ لَّمْ يَكُنْ
په ورځودحج کښې|اواوه روژې دی|کله چې|اواپس راشئ کورته| د	لس	پوره| دادپاره دهغه چادې|چې نه وی
دحج په وخت کښې|اواووهٔ دې اونیسی چې(کورونوته) واپس شی|دا پوره لس روژې شوې داحکم هغو دپاره دې
اَهْلُهٗ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ
عیال دهغه	اوسیدونکی	دمسجد	حرام| اواویریږئ دالله نه	او پوهه شئ	چې الله
چې دهغوئ کورنئ مسجدحرام سره خواوشا کښې وی| اودالله نه ویره کوئ |او پوهه شئ چې الله
شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۠
سخت عذاب ورکونکې دې
په عذاب ورکولو کښې ډیر سخت دې

قوله تعالی:-وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ

حج اوعمره پوره کول څه دی ؟:-پورته د روژو د بیان ذکر وو،بیا د جهاد بیان اوشو،اوس د حج بیان کیږی اوحکم فرمائی چه حج او عمره پوره کوئی.دظاهری الفاظونه معلومیږی چه حج اوعمره شروع کولو نه پس پوره کول پکار دی.ټول علماء په دې خبره متفق دی چه حج او عمره شروع کولو نه پس دې پوره کول لازم دی.اگر چه د عمرې په وجوب او مستحب کیدو کښې دعلماء کرامو دوه اقوال دی.اوهغه مونږ پوره تفصیل سره په کتاب الاحکام کښې بیان کړې دی (فللّٰه الحمد والمنة).

په پوره کولو کښې اقوال:- ① حضرت علی ﷺ فرمائی چه پوره کول دا دې چه تاسو دخپل کور نه احرام اوترئی.② حضرت سفیان ثوری رحمه الله فرمائی چه ددې پوره کول دا دی چه تاسو دخپل کور نه احرام اوترئی.ستاسو دا سفر دحج اوعمرې په غرض وی.میقات ته په رسیدو سره لبیك وئیل شروع کړئی.او د تجارت یا څه دبل دنیاوی غرض په ارادې سره نه ئې وتلې چې د خپل کار دپاره اوخئ او مکې ته نزدې رسیدو سره خیال کښې راولئ چه راځه حج اوعمره به هم اوکړو چه دا شان حج او عمره به هم اوشی.لیکن دا پوره کول نه دی،پوره کول دا دی چه صرف په دې ارادې سره دکور نه اوخئ.③ حضرت مکحول رحمه الله فرمائی چه ددې پوره کول دادی چه دا دمیقات نه شروع کړئی.④ حضرت عمر ﷺ فرمائی چه پوره کول دادی چه ددې دواړو اراده جدا جدا اوکړی.او عمره د حج په ورځوکښې ادا نه کړئ،ځکه چه په قران پاك کښې دی چه(اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ)دحج میاشتې مقرر دې(۱)⑤ قاسم بن محمد رحمه الله فرمائی چه د حج په میاشتوکښې عمره کول پوره کیدل نه دی.دوی نه تپوس اوشو چه محرم کښې عمره کول څنګه دی؟دوی اوفرمائیل چه خلق خودې ته پوره وائی لیکن پدې قول کښې نظر دې

د نبی کریم ﷺ څلور عمرې:-ځکه چه دا ثابت شوې خبره ده چه نبی کریم ﷺ څلور عمرې کړې وې اوځلور واړه نې په ذی القعده کښې کړې وې.یو په شپږمه هجرئی کښې دذی القعدی په میاشت کښې،دویمه اوومه هجرئی کښې دذی القعده په میاشت کښې عمرة القضاء،دریمه ذوالقعدی اتمې هجرئی کښې عمرة الجعرانه،څلورمه لسمه هجرئ کښې ذوالقعده کښې حج سره.(۲) ددې څلورو عمرو نه سوا د هجرت نه پس نبی کریم ﷺ بله عمره نه ده کړې.

په رمضان کښې د عمرې فضیلت:-نبی کریم ﷺ ام هانی ته فرمائیلی وو چه په رمضان کښې عمره کول ماسره دحج کولو برابر دی(۳) دا نبی کریم ﷺ په دې وجه فرمائیلی ووچه دې مور بی بی نبی کریم ﷺ سره دحج کولو اراده کړې وه.لیکن د سورلئ په وجه ئې اونکړې شو.لکه څنګه چه په بخاری شریف کښې دا پوره واقعه موجوده ده.حضرت سعید بن جبیر رحمه الله خو صفا فرمائی چه دا ددې مور بې بی دپاره خاص حکم وو،والله اعلم.

دحج اوعمرې احرام نه پس د دې پوره کول :- حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی چه دحج او عمرې احرام ترلو نه پس ددې د پورا کیدو نه بغیر پریخودل جائز نه دی.حج په هغه وخت کښې پورا کیږی چه کله دقربانئ په ورځ دجمره عقبه کانړی اوولئ او دبیت الله شریف طواف اوکړی او دصفا اومروه په مینځ کښې سعی اوکړی نوهله حج پورا شی.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه حج دعرفات نوم دې.او عمره طواف دې.دحضرت عبدالله ﷺ قرآت دا دې (وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ اِلَى الْبَيْت) عمره بیت الله شریف ته په

---

۱) ابن ابی حاتم:۱/٤۳۷)-

۲) صحیح بخاری کتاب العمرة باب کم اعتمر النبی صلی الله علیه وسلم: ۱۷۷۸،صحیح مسلم: ۱۲۵۳،ابوداود: ۹۹۳،ترمذی: ۸۱٦،ابن ماجة: ۳۰۰۳)-

۳) صحیح بخاری کتاب العمرة باب عمرة فی رمضان: ۱۷۸۲،صحیح مسلم: ۱۲۵٦،عن ابن عباس)-

Scanned with CamSc

تلو سره پوره شوه.([1])
حضرت سعید بن جبیر ﷺ ته چه کله دا ذکر اوشو نو هغوئ اوفرمائیل چه د حضرت ابن عباس ﷺ قرآت هم دا وو.حضرت علقمه ﷺ هم دا فرمائی.حضرت ابراهیم ﷺ نه هم مروی دی.﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ﴾ الی البیت ﴿دشعبی ﷺ په قرآت کښې والعمرة دې،هغوئ فرمائی چه عمره واجب نه ده او ددې خلاق هم دهغوئ نه مروی دی.

د نبی کریم حج حج تمتع وو:- ډیرو احادیثو کښې ډیرو سندو سره حضرت انس ﷺ او دصحابه کرامو ﷺ یو جماعت نه روایت دې چه رسول الله ﷺ حج او عمره دواړه یو خائې ادا اوفرمائیل.او په صحیح حدیث کښې دی چه نبکریم ﷺ خپلو صحابه کرامو ﷺ ته اوفرمائیل چه چا سره د قربانئ څناور شته دې هغوئ دې د حج او عمرې په یو خائې احرام اوتړی.([2])یو بل حدیث شریف کښې دی چه عمره په حج کښې تر قیامته پورې داخله شوه.([3])ابن ابی حاتم ﷺ په خپل کتاب کښې یو روایت نقل کړې دی چه یو سړې نبی کریم ﷺ ته راغلو او دهغه نه دزعفرانو خوشبو راتله.هغه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ زما د احرام باره کښې مو څه حکم دې.په دې باندې دا آیت نازل شو.نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چه هغه سائل چرته دی ؟ هغه اووئیل چه یارسول الله ﷺ څه موجود یم.وې فرمائیل چه خپلې زعفرانی کپړې اوباسه اوښه طریقې سره غسل اوکړه او څه چه پخپل حج کښې کوې هغه په عمره کښې هم اوکړه.دا حدیث غریب دې اوداعجیبه سیاق دې.بعضو کښې دغسل اوددې آیت د نزول ذکر نشته دې.یو روایت کښې دده نوم یعلی بن امیه ﷺ راغلې دې،دویم روایت کښې صفوان بن امیه ﷺ دې.والله اعلم ([4])

قوله تعالی:- فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ

دمحصر حکم :- بیا فرمائی که تاسو گیر شئ نو چه کومه قربانی درسره وی نو هغه اوکړئ.مفسرینو ذکر کړې دی چه دا آیت په شپږمه هجرئی کښې د حدیبیه په میدان کښې نازل شو او مشرکانو نبی کریم ﷺ مکې معظمې ته دتلو نه منع کړی وو.او هم په دې باره کښې پوره سورة فتح نازل شو.اود نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته رخصت ملاؤ شو چه هغوئ دې خپلې قربانئ په هغه خایونوکښې ذبح کړی.نواویا اوښان ذبح کړې شو.سرونه اوخرئیلې شو. اواحرامونه پرانیستې شو.په رومبی خل د نبی کریم ﷺ فرمان خلقو واوریدو اوخلق لږ شان ایسار شو اوهغوئ ته دبل حکم انتظار وو چه شاید څه ناسخ حکم راشی تردې چه پخپله حضرت رسول اکرم ﷺ بهرتشریف راوړو اوخپل سرمبارك نې اوخرئیلو.بیاتول خلق راضی شو.بعضو سرونه اوخرئیل او بعضو نوکونه پریکړل،په دې باندې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ دې په سر خرئیلو والوباندې رحم اوکړی.خلقو عرض اوکړو چه یارسوالله ﷺ سر کموونکودپاره هم دعا اوفرمائې.([5])نبی کریم ﷺ هم دسر خرئیلو والودپاره دعا اوکړه.په دریم خل نې دسرکموونکو دپاره دعا اوفرمائیله.اووه اووه کسان په یو اوښ کښې شریك وو.تول صحابه کرام ﷺ څوارلس سوه وو.([6])دحدیبیه میدان کښې ایسار شوی وو.دادحرم دحد نه بهر وو.اودا هم مروی دی چه دحرم په کناره باندې وو،والله اعلم.

---

[1]) الطبری: ٤/٧)-
[2]) صحیح بخاری کتاب الحج باب کیف تهل الحائض والنفساء : ١٥٥٦،صحیح مسلم: ١٢١١)-
[3]) احمد: ٤/١٧٥،صحیح مسلم: کتاب الحج باب حجة النبی صلی الله علیه وسلم: ١٢١٨،عن جابر)-
[4]) صحیح بخاری کتاب العمرة باب یفعل بالعمرة مایفعل بالحج: ١٧٨٩،صحیح مسلم: ١١٨٠)-
[5]) صحیح بخاری کتاب الحج باب الحلق والتقصیر عند الاحلال: ١٧٢٧،صحیح مسلم: ١٣٠١)-
[6]) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة حدیبیة: ٤١٥١)-

Scanned with CamSc

محصر صرف د دشمن د ویرې نه حصار ته وائی دې کښې اختلاف؟:-دعلماء کرام په دې کښې اختلاف دې چه داحکم صرف د هغه خلقودپاره دې چه کوم دښمن راګیر کړی یا دبیمارئی وغیره نه څوک مجبورشی نو دهغه دپاره هم رخصت دې چه هغه به هم دهغه ځائې نه احرام پرانیزی او سر اوخرئی او قربانی اوکړی.ابن عباس ﷺ خوصرف دروميی قسم خلقو دپاره دا حکم ښائی.حضرت ابن عمر ﷺ، طاوس رحمه الله،زهری رحمه الله او زیدبن اسلم رحمه الله هم دافرمانی.

لیکن مسند احمد کښې یو مرفوع حدیث کښې دی چه دکوم سړی لاس مات شی یا بیمار شی یا ګوډ شی نوهغه به حلال وی.هغه دې راتلونکی کال ته حج اوکړی.ددې حدیث راوی وائی چه ما ابن عباس ﷺ اوابوهریره ﷺ ته ذکر کړې دې نو هغوئ هم اوفرمائیل چه دا ربښتیا دی.په سنن اربعه کښې هم دا حدیث دې.(۱)

د دشمن ویره او بیماری وغیره عذرونه د احصار په حکم کښې برابر دی

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز ددشمن ویره اود دغه شان بیماری وغیره په حکم کښې برابر دی نولکه څنګه چه د دشمن په وجه څوک د حج یا عمرې کولو نه ایسار شی هغه به قربانی حرم ته اولیږی او چه کله هغه په حرم کښې ذبح کړې شی نو دې به آزاد شی دغه شان د بیمارئ په وجه چه څوک ایسار شی نوهغه به هم دغه شان کوی (احکام القرآن للجصاص (۳۲۸۱۱) شاه فیصل غفرله)-

حضرت ابن مسعود ﷺ،حضرت ابن زبیر ﷺ،علقمه ﷺ،سعید بن مسیب ﷺ،عروه بن مجاهد رحمه الله، نخعی عطاء رحمه الله،مقاتل بن حیان رحمه الله نه هم دا روایت دې چه بیماریدل او ګوډیدل عذر دې.

سفیان ثوری رحمه الله هر مصیبت او تکلیف کښې هم داسې وائی.بخاری اومسلم کښې یو حدیث دې چه دحضرت زبیر بن عبدالمطلب رحمه الله لور ضباعه رضی الله عنها رسول الله ﷺ نه تپوس کوی چه زما اراده د حج ده. خوځه بیماره یمه،حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه حج ته لاړه شه او شرط اوکړه چه زما د احرام نه دفارغیدو به هم هغه ځائې وی چه په کوم ځائې کښې څه د بیمارئی نه روغه شوم.(۲)

ددې حدیث په بناء باندې بعضې علماء کرامو فتوی ورکوی چه په حج کښې شرط لګول جائز دی.امام شافعی رحمه الله هم فرمائی که دا حدیث صحیح وی نو زما قول هم دا دې،امام بیهقی رحمه الله فرمائی چه داحدیث بالکل صحیح دې،نو د امام صاحب مذهب هم دا دې،فالحمدلله.

بیا ارشادفرمائی چه کومه قربانئ تاسو سره وی هغه قربانی اوکړئی.حضرت علی ﷺ فرمائی چه یو چیلئ دې ذبح کړی.(۳) حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه اوښ،غوا،چیلئ،ګډه یا ددې نران که وی،په دې اتو قسمونوکښې چه کوم یو غواړی ذبح دې کړی.(۴)حضرت ابن عباس ﷺ نه صرف چیلئ مروی ده.او نورو ډیرومفسرینو هم دا فرمائیلی دی.اود څلورو واړو امامانو هم دا مذهب دې.

په اوښ غوا میخه او ګډ چیلئ باندې د قربانئ جواز

مسلک حنفی:- په څلورواماماتو کښې یو حضرت امام اعظم رحمه الله دې د هغوی هم دا مذهب دې لکه څنګه چې فاضل مفسر رحمه الله فرمائیلی دی یعنی اوښ غوا میخه او ګډیا چیلئ به قرآنی کوی اودا په هدی کښې شامل دی (احکام القرآن للجصاص (۳۷۲۱۱) شاه فیصل غفرله)۔

---

(۱) احمد: ۳/۴۵۰،ابوداود: کتاب المناسک باب الاحصار: ۱۸۶۲،ترمذی: ۹۴۰،نسائی: ۶۸۶۳،ابن ماجة: ۳۰۷۷،وهو حدیث صحیح)-

(۲) صحیح بخاری کتاب النکاح باب الاکفاء فی الدین: ۵۰۸۹،صحیح مسلم: ۱۲۰۷)-

(۳) موطا امام مالک کتاب الحج باب ماالستیسر من الهدی: ۱/۳۹۵،ح/۸۸۶)-

(۴) موطا امام مالک کتاب الحج باب ماالستیسر من الهدی: ۱/۳۹۵،ح/۸۸۶)-

Scanned with CamSc

حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت ابن عمر رضی الله عنه وغیره فرمائی چه ددې نه مراد صرف اوښ او غوا ده.غالبا ددوی دلیل د حدیبیه واقعه ده.په دې کښې صحابی نه د چیلئ ذبح کول منقول نه دی.غوا او اوښان دې بزرګانو قربانی کړی دی.بخاری اومسلم کښې حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دې چه مونږ ته دالله ﷺ نبی حکم اوکړو چه اووه اووه کسان دې په اوښ او غوا کښې شریك شی.(۱)حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه هم دا منقول دی چه دکوم یو ځناور د ذبح کولو طاقت نې وی هغه دې ذبح کړی.که مالدار وی نو اوښ اوکه ددې نه نې حیثیت کم وی نو غوا ګنی بیا چیلئ.(۲)

حضرت عروه رحمه الله فرمائی چه په ګران او ارزان نرخونوباندې موقوف دی.دجمهورو ددې قول چه چیلئ کافی ده دا دلیل دې چه قران پاك دآسانئ ذکر کړې دې یعنی کم نه کم هغه څیز چه کوم باندې قربانی اوکړې شی.او دقربانئ ځناور اوښ،غوا،چیلئ او ګډې دی لکه څنګه چه ترجمان قران د رسول الله ﷺ دتره ځوئې دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمان دې.بخاری او مسلم کښې یو حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ یو ځل دچیلئ قربانی اوکړه،(۳)بیا نې اوفرمائیل چه ترکومې پورې قربانی خپل ځائې ته اونه رسی تاسو سرونه مه خرنئ.

ددې عطف ﴿ وَأَتِمُّوا الْحَجَّ ﴾ باندې دې په ﴿ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ ﴾ باندې نه دی.دلته دابن جریر نه سهوه شوې ده،وجه داده چه نبی کریم ﷺ دحدیبیې په کال چه مشرکان ورته رکاوټ جوړ شو او نبی کریم ﷺ نې حرم شریف ته نه پریخودونو دحرم نه بهر ټولو سرونه هم اوخرئیل او قربانئ نې هم اوکړې.(۴) لیکن دامن په حالت کښې چه حرم ته رسیدلې شی نو دا جائزنه دی ترکومې پورې چه قربانی خپل ځائې ته اونه رسی.او حاجی د حج او عمرې دخپلو ټولو کارونو اواحکامونه فارغ نشی.که هغه دحج او عمرې په یو ځائې احرام ترلې وی نو یا په دې کښې یو کولو والا وی یا ده صرف د حج اراده کړې وی اواحرام نې ترلې وی،یا نې خامخا د تمتع نیت کړې وی.

بخاری اومسلم کښې دی چه ام المومنین حفصه رضی الله عنها رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه ټولو احرامونه پرانیستل اوتاسو لاپه احرام کښې یئ.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ماخپل سرخرئیلې دې او دقربانئ دځاروی په غاړه کښې مې ننبه اچولې ده ترکومې چه دا ذبح نه شی نو څه احرام نه شم پرانیستی.(۵)

قوله تعالی:-فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ

دبیمار سړی حکم:- بیا حکم کیږی چه بیمار اود سر تکلیف والا دې فدیه ورکړی.صحیح بخاری کښې دی چه عبدالله بن مغفل رضی الله عنه وانی چه څه دکوفې په جمات کښې کعب بن عجره رضی الله عنه سره ناست ووم.ما دهغوی نه ددې آیت باره کښې تپوس اوکړو نو هغوئ ماته اوفرمائیل چه څه خلقو اوچت کړم او نبی کریم ﷺ ته نې بوتلم او زما په څوله باندې سپږې روانې وې.نبی کریم ﷺ چه ماته اوکتل نو وې فرمائیل چه زما دا خیال نه وو چه ته به دې حالت ته رارسې.آیا ستادومره وس نشته دې چه ته یو چیلئ ذبح کړې،ما اوونیل چه یارسول الله ﷺ ا څه خو غریب سړې یم،نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بنه لاړ شه خپل سر اوخریه اودرې روژې اونیسه یا شپږو مسکینانو ته نیم نیم صاع (تقریبا پاؤ باندې یوسیر او پاؤ باندې یو چټاکئ) غله ورکړه.نودا آیت زما باره کښې نازل شوې دې اود حکم اعتبار سره هر یو داسې معذوره سړی دپاره دې.(۶)

---

۱) صحیح بخاری کتاب الحج باب جواز الاشتراک فی الهدی: ۱۳۱۸)-

۲) الطبری: ٤/۳۰)-

۳) صحیح بخاری کتاب الحج باب جواز الاشتراک فی الهدی: ۱۷۰۱)-

۴) صحیح بخاری کتاب المحصر باب اذا المعتمرة: ۱۸۰۷،مسلم: ۱۲۳۱)-

۵) صحیح بخاری کتاب الحج باب التمتع والقران : ۱۵٦٦،صحیح مسلم: ۱۲۲۹)-

Scanned with CamSc

یو بل روایت کښې دی چه کتونی پسې مې اور بلولو چه نبی کریم ﷺ زما دا حالت اوکتلو اوماته ئې دامسئله بیان کړه.(۲)یو بل روایت کښې دې چه دا واقعه دحدیبیه ده.ا وزما په سر باندې لوڼې لونې وینښته وو په هغې کښې ډیرې سپړې وې.(۳)د ابن مردویه په روایت کښې دی چه بیا ما سر اوخرنیلواو یو چیلۍ مې ذبح کړه.یو بل حدیث کښې دی چه ﴿نسك﴾ یعنی قربانی یو چیلۍ ده او روژې که ئې اوساتلې نو درې دی.او که صدقه ورکړی نو یو فرق (پیمانه) شپږو مسکینانو باندې تقسیمول دی.حضرت علي ﷺ،محمد بن کعب ﷺ،علقمه ﷺ،ابراهیم رحمه الله،مجاهد رحمه الله،عطاء رحمه الله،سدی رحمه الله اوربیع بن انس رحمه الله نه هم دافتوی نقل ده.د ابن ابی حاتم په حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ حضرت کعب ابن عجره ﷺ ته درې واړه مسئلې خودلې وې او فرمائیلی ئې وو چه په دې کښې ته په کوم باندې غواړې عمل پرې اوکړې نو کافی دی.(۴)

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه کوم ځائې کښې دوه درې طریقې په لفظ د "او" سره بیان شوی وی نو په هغه ځائې کښې اختیار وی چه کوم یو غواړې نو وېکړه.حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت عکرمه رحمه الله،حضرت عطاء رحمه الله،حضرت طاوس رحمه الله،حضرت حسن رحمه الله،حمید رحمه الله،حضرت اعرج رحمه الله،حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله او حضرت ضحاك رحمه الله نه هم دا مروی دی.د آئمه اربعه او داکثرو عالمانو هم دا مذهب دې که غواړې نو روژې دې نیسی او که غواړې نو صدقه دې ورکړی او که غواړې نو قربانی دې اوکړی.روژې درې دی.صدقه یو فرق یعنی درې صاع (یعنی اته سیرو نه نمیه چټاکئ کمه) ده،په شپږو مسکینانو دې تقسیم کړی.او قربانی یو چیلۍ ده.په دې دریو واړو صورتونو کښې چه کوم یو غواړې نو اودې کړی.الله رب العزت ته دې ځائې کښې رخصت ورکول وو ددې وجې نې ړومبې درژې بیان اوکړو چه دا دټولو نه آسانه ده.بیائې دصدقې بیان اوکړو،بیائې د قربانئ بیان اوکړو.او نبی کریم ﷺ ته په افضل باندې عمل کول وو،نو ددې وجې نې ړومبې د چیلۍ د قربانئ ذکر اوکړو.بیا ئې شپږو مسکینانو باندې دخوراك کولو،بیا ئې د دریو روژو ساتلو.سبحان الله د دواړو خایونو اعتبار سره دواړه ترکیبونه،څومره درست او برمحل دی.فالحمدلله.

حضرت سعید بن جبیر ﷺ نه ددې آیت د مطلب باره کښې تپوس اوشو نو وې فرمائل چه دغلې حکم به کولې شی.که ده سره وی نو یو چیلۍ دې واخلی،ګنی دچیلۍ قیمت به د درهمونو سره اولګولې شی او ددې دې غله واخلی او صدقه دې ورکړی،ګنی دهر نیم صاع په بدله کښې دې یو روژه اونیسی.

حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه کله دیو محرم په سر کښې تکلیف وی نو وینښته دې اوخرئی او په دې دریو واړوکښې دې یو فدیه ورکړی.لس روژې نیول دی لسومسکینانو ته صدقه ورکول دی.هر یو مسکین ته یونیم صاع کهجورې (چې موجوده وخت کښې ترې تقریبا دوه کلو جوړیږی،او یویوصاع غنم او په قربانئ کښې چیلئ.حسن رحمه الله او عکرمه رحمه الله هم لسو مسکینانوته خوراك ورکول بیانوی

د قولونو تضعیف:-خودا اقوال صحیح نه دی.ځکه چه په مرفوع حدیث کښې راغلی دی چه روژې درې دی اوخوراك دشپږو مسکینانو دې او پدې دریو واړو صورتونوکښې اختیار دې چه چیلۍ قربانی کوی که روژې نیسی اوکه شپږو مسکینانو ته خوراك ورکوی.اودا ترکیب په احرام کښې ښکار کوونکی دپاره هم دې.دا قربانی او صدقه دې په مکه کښې اوکړی او روژې چه چرته نیسی نو اودې نیسی لکه څنګه چه قران پاك الفاظ دی او د فقهاء کرامو اجماع ده.لیکن دلته ترتیب ضرروی نه دې،اختیار

---

۱)صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب قوله تعالی (فمن کان منکم مریضا.....) ۴۵۱۷،)-

۲)صحیح بخاری کتاب المرضی باب ما رخص للمریض:۵٦٦۵،صحیح مسلم: ۱۲۰۱)-

۳)صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة حدیبیة: ۴۱۹۱)-

۴)ابو داود کتاب المناسک باب فی الفدیة: ۱۸٦۱،نسائی: ۲۸۵۴،وهو صحیح)-

Scanned with CamSc

دي.طاؤس ﷺ فرمائی چه دا قربانی اودا صدقه دي په مکه کښې اوکړی او روژې چه چرته نيسی نو اودي نيسی.

يو روايت کښې دی چه ابو اسماء چه دابن جعفر مولی دي فرمائی چه حضرت عثمان بن غفان ﷺ حج ته لاړو.دوی سره حضرت علی ﷺ او حضرت حسين ﷺ هم وو.څه ابن جعفر سره اووم.مونږ اوکتل چه يوسړي ملاست دي او دده اوښه دده سر ته تړلې شوې ده.ما هغه راپاسولو نو هغه حضرت حسين ﷺ وو.ابن جعفر چه هغه اوليدو نو لاړو تر دي چه مونږ سقيا ته اورسيدو،هلته مونږ شلو ورځو پورې د هغوی په تيمار دارئی کښې وو.يو ځل حضرت علی ﷺ تپوس اوکړو چه څه حال دي ؟.نو حضرت حسين ﷺ خپل سر طرفته اشاره اوکړه.حضرت علی ﷺ ورته اوفرمائيل چه سر اوخرنيه او بيا اوښ راوغواړه اوهغه ذبح کړه.نو که د اوښ د احرام نه د حلاليدو دپاره وو نو خير او که دا د فديه دپاره وو نو ظاهره شوه چه دا قربانی د مکې نه بهر شوې وه.

قوله تعالی:- فَإِذَآ أَمِنتُمۡ فَمَن تَمَتَّعَ بِٱلۡعُمۡرَةِ إِلَى ٱلۡحَجِّ فَمَا ٱسۡتَيۡسَرَ مِنَ ٱلۡهَدۡيِۚ

تمتع حج کوونکو دپاره احکام:- بيا ارشاد فرمائی چه تمتع حج کولو والا سړي دي هم قربانی اوکړی.که دحج او عمرې احرام په يو ځائې تړلې وی يا ئې دعمرې احرام تړلې وی او ددې نه فارغ شی او د حج احرام ئې تړلې وی.اصل تمتع هم داده.اود فقهاء کرامو په کلام کښې مشهور هم دا دي.او عام تمتع په دي دواړو قسمونوکښې شامل دي.لکه څنګه چه صحيح حديث په دې باندې دلالت کوی.(بعض راويان وائی چه نبی کريم ﷺ په خپله تمتع کړې وو.بعضې وائی چه نبی کريم ﷺ قارن وو.او دا خبره هم ټول راويان وائی چه نبی کريم ﷺ سره دقربانئ ځناور وو.نو په دې آيت کښې دا حکم دي چه تمتع کولو والا چه په کومه قربانئ باندې قادر وی هغه دي اوکړی.ددې ادنی درجه يو چيلئ قربانی کول دی.يعنی دغوا قربانی هم کولې شی.نبی کريم ﷺ دخپلو سببيانو د طرفنه د غوا قربانی کړې وه چه ټولې تمتع والا وې.([1]) (ابن مردويه).ددې نه ثابته شوه چه تمتع هم مشروع دي.

حضرت عمران بن حصين ﷺ فرمائی چه د تمتع آيت هم په قران کښې نازل شويدې او مونږ نبی کريم ﷺ سره تمتع کړې وو.بيا خو نه په قران پاک کښې ددې ممانعت راغلو او نه نبی کريم ﷺ ددې نه منع اوفرمائيله.خو خلقوپه خپله رائې سره دا ممنوع اوګرځولو.

حضرت امام بخاری ﷺ فرمائی چه ددې نه مراد غالبا حضرت عمر فاروق ﷺ دي.([2])دحضرت امام المحدثين دا خبره بالکل صحيح ده.حضرت عمر فاروق ﷺ نه منقول دی چه هغوئ به ددې نه خلق منع کول او فرمائيل به ئې که مونږ کتاب الله اوګورونو په دې کښې هم دحج او عمرې پوره کولو حکم موجوددي﴿ وَأَتِمُّوا الۡحَجَّ وَالۡعُمۡرَةَ لِلَّهِ﴾ خو ياد ساتئ چه دا ممانعت دحضرت عمر فاروق ﷺ په نيز حرام نه وو بلکه ددې وجې وو چه خلق په کثرت سره دبيت الله شريف د حج او دعمرې کولو قصداوکړی لکه څنګه چه حضرت عمر ﷺ نه ښکاره مروی دی.

قوله تعالی:- فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٖ فِي ٱلۡحَجِّ

دقربانئ په بدله کښې روژې نيول:- بيا فرمائی چه کوم سړي قربانی اونه کړې شی نو هغه دي دري روژې اونيسی په حج کښې او اووه روژې په هغه وخت کښې چه کله دي د حج نه واپس شی.دا پوره لس روژې شوې.يعنی د قربانئ طاقت د چا نه وی نو هغه دي روژې اونيسی،دري خو په ايام حج کښې او باقی اووه دي نه پس،خو په دي کښې

---

[1]) ابو داود کتاب المناسک باب ل هدی البقرة: ۱۷۵۱،ابن ماجة: ۳۱۳۳،)-

[2])صحيح بخاری کتاب التفسير سورة البقرة باب (لمن تمتع بالعمرة الی الحج) :۴۵۱۸،صحيح مسلم: ۱۲۲۶)-

روژې د عرفې نه وړاندې نیول:- دعلماء کرامو فرمان دې چه اولې دا دی چه دا روژې د عرفې نه مخکښې مخکښې د ذی الحجه په ورځو کښې اونیسی.دحضرت عطاء رحمه الله قول هم دا دې.یا د احرام تړلو سره دې اوساتی.د حضرت ابن عباس رضی الله عنه وغیره هم دا قول دې ځکه چه د ((فِي الْحَجِّ)) لفظ دې.

په شوال کښې د روژو نیولو حکم:- حضرت طاؤس رحمه الله،حضرت مجاهد رحمه الله وغیره هم دا فرمانی چه شوال کښې هم دا روژې جائزدی.حضرت شعبی رحمه الله وغیره فرمانی که دې روژو سره د عرفې د ورځې روژه هم شامله کړې شی نو دا هم ورته اختیار دې.حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه دا هم منقول دی که دعرفې نه مخکښې دوه روژې اونیسی اودریمه دعرفې په ورځ وی نو دا هم جائز دی.حضرت ابن عمر رضی الله عنه هم فرمانی چه یو روژه دیوم الترویه نه مخکښې،یود یوم الترویه او یو دعرفې.

په ایام التشریق کښې روژې نیول:- د حضرت علی رضی الله عنه فرمان هم دا دې.([1]) که دیو سړی نه دا دړې واړه روژې یا دوه پاتې شی او هغه په ایام التشریق یعنی د لوئې اختر نه پس چه دړې ورځې راشی.حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمانی چه هغه په دې ورځو کښې هم دا روژې نیولې شی.(بخاری).د امام شافعی رحمه الله قول هم دا دې.حضرت علی رضی الله عنه،حضرت عکرمه رضی الله عنه،حسن بصری رحمه الله،او عروه بن زبیر رحمه الله نه هم دا مروی دی.([2]) اوددې دلیل دادې چه فی الحج عام دې.او دا ورځې هم په کښې شاملې دی.د حضرت امام شافعی رحمه الله جدید قول دا دې چه په دې ورځو کښې دا روژې نیول ناجائز دی.ځکه چه په صحیح مسلم کښې حدیث دې چه ایام تشریق د نه خوراک څکاک او دالله ﷻ دذکر کولو ورځې دی.([3])

په ایام التشریق کښې د روژو نیولو حکم

مسلک حنفی:- په ایام التشریق کښې روژه نیول حرام دی ځکه چې دا د الله ﷻ د میلمستیا ورځې دی لکه حدیث مبارک کښې چې دی ((**الا لا تصوموا فی هذه الایام فإنها أیام أکل وشرب وبعال**)) (تسهیل الهدایه ۱۲/ ۳۳۵)

قوله تعالی:- وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ

دا اووه روژو وخت:- بیا اووه روژې وخت د واپس کیدو،ددې نه مراد دا دې چه کله واپس شی او خپل خانې ته اورسی،او کله چه واپس کیږی نو په لاره کښې هم دا روژې نیولې شی.مجاهد رحمه الله،او عطاء رحمه الله هم دا فرمانی.یا مراد تړې وطن ته تګ دې.دا ابن عمر رضی الله عنه فرمانی.او نور هم ډیرو تابعینو نه هم دا مذهب روایت دې بلکه ابن جریر رحمه الله خو په دې قول اجماع ښائی.

صحیح بخاری یو طویل حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ حجة الوداع کښې دعمرې حج سره تمتع اوکړه او قربانی ئې اوکړه.ذوالحلیفه نه نبی کریم ﷺ ځان سره قربانی اخستې وه.عمره ئې اوکړه او بیا ئې دحج تهلیل اوکړو.خلقو هم دوی سره تمتع اوکړو.بعضوخلقو خو ځان سره قربانی اخستې وه،بعضو سره دقربانی ځناور نه وو.مکې ته په رسیدو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه چا سره دقربانی ځنارو شته هغوئ دې حج ختمیدو پورې په احرام کښې اوسی او چه چا سره قربانی نشته هغوئ دې دبیت الله شریف طواف اوکړی او د صفا مروه سعی دې اوکړی او احرام دې پرانیزی،سرونه دې اوخرئی یا دې وینښته واړه کړی،بیا دې د حج احرام اوترې.که د قربانئ طاقت ئې نه وی نو دړې روژې دې اونیسی په حج کښې او اووه روژې چه کله خپل وطن ته واپس اورسی نو بیا دې اونیسی.(بخاری ومسلم).([4])ددې

---

[1]) الطبری: ٤/٩٤)-

[2]) الطبری: ٤/٩٤)-

[3]) صحیح بخاری کتاب الصیام باب تحریم صوم ایام التشریق:....١١٤١،ابوداود: ٢٨١٣)-

[4]) صحیح بخاری کتاب الحج باب من ساق البدن معه: ١٦٩١،صحیح مسلم: ١٢٢٧)-

Scanned with CamSc

نه دا خبره ثابتیږی چه دا اووه روژې وطن ته واپس کیدو نه پس دی.

قوله تعالی:- تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ؕ

لس ورځې روژې برابرول:- بیا فرمائی چه دا پوره لس دی.دا فرمان تاکید دپاره دې لکه څنګه چه عربو کښې وئیلې کیږی،ما خپلو سترګو سره اوکتل،په غوږونومې واوریدل،په لاسونو مې اولیکل.او قران پاك کښې هم دا دی چه ﴿وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ﴾ نه یو مارغه چه خپلو دواړو وزروسره الوزی.بل خائې کښې فرمائی چه﴿ولاتخطه بيمينك﴾ته پخپل ښی لاس سره نه لیکې.او بل خائې کښې دی چه موسې حضرت موسی ﷺ نه د دیرشوشپو وعده اخستې وه او په نورو لسو ورځو سره مو پوره کړل او د رب ﷻ مقرر څلویښت ورځې مو پوره کړې.نو په دې ټولو خایونو کښې تاکید دې هم داشان دا جمله هم د تاکید په طوراستعمال شوې ده.او داهم وئیلې شوی دی چه دا حکم دې د تمام اوکمال.د ﴿كَامِلَةٌ﴾ مطلب داهم بیان شوې دې چه دا د قربانی بدله کښې کافی ده.

د تمتع حج حکم د چا د پاره دې :- دې نه پس فرمائی چه دا حکم دهغه خلقو دپاره دې چه دمسجد حرام اوسیدونکی نه وی.په دې باندې اجماع ده چه حرم والا تمتع نشی کولې.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی بلکه ددوی نه مروی دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه انې د مکې خلقو تاسو تمتع نه شئ کولې؛تمتع بهر والو دپاره دې.دې دپاره به تاسو لږ شان لږ ځئ.لږه شان منزل اوکړئ او بیا د عمرې احرام اوترئ.د طاؤس په تفسیر کښې هم دا دی.(۱)

خوعطاء فرمائی چه میقات یعنی چه کوم خلق د احرام ترلو خائې ته نزدې وی هغوئ هم په دې حکم کښې دی چه دهغوئ دپاره هم تمتع کول جائز نه دی.مکحول رحمه الله هم دا فرمائی.نو دعرفات والو،مزدلفه وا لو،عرفه والو،اود رجیع اوسیدونکو دپاره هم دا حکم دې.

زهری رحمه الله فرمائی چه دمکې نه دیو ورځې مسافت فاصله هومره وی،یا دې ته نزدې وی نو هغه تمتع کولې شی.اونور خلق نشی کولې.حضرت عطاء رحمه الله فرمائی چه دا منزل دوه ورځې دې.د حضرت امام شافعی رحمه الله مذهب هم دادې چه اهل حرم او چه کوم خلق په دومره فاصله کښې وی چه هلته مکې والو دپاره مونځ قصر کول جائز نه وی.ددوی ټولو دپاره هم دا حکم دې،ځکه چه ټول به حاضر ګڼلې شی.ددې نه علاوه ټول مسافر،او ددوی ټولو دپاره حج کښې تمتع کول جائز دی.والله اعلم.

د حاضر المسجدالحرام نه څوک مراد دې؟

مسلک حنفی: چه کوم خلق د حرم اواحرام دمیقاتو ترمینځه وی هغوی حاضر المسجد الحرام کښې داخل دی دغه دمیقات اوسیدونکی هم په حاضرالمسجد الحرام کښې داخل دی (۲)

د تقوی حکم:- بیا فرمائی چه الله ﷻ نه ویریږئ چه دهغه پاك ذات چې کوم احکام دی هغه پوره کړئ چه دکومو کارونونه هغه ذات منع کړی یئ نود هغې نه منع شئ او یقین اوکړئ چه هغه ذات نافرمانو ته سخته سزا ورکوی.

اَلْحَجُّ	اَشْهُرٌ	مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ	فَمَنْ	فَرَضَ
احج	څو میاشتې	معلومې دی	نوهغه چا	چه فرض کړو
دحج میاشتې(ټولوته)معلومې دی			نوڅوک چې فرض کړی	

(۱) الطبری: ۱۱۱/٤)-

(۲) (احکام القران للعثمانی (۱۱۱/۱ ۳۳۰)-

Scanned with CamSc

فِيهِنَّ	الْحَجَّ	فَلَا رَفَثَ	وَلَا فُسُوقَ ۙ	وَلَا جِدَالَ	فِي الْحَجِّ ۗ
په دې میاشتو کښې	حج	اونه دې کوی جماع	اونه ګناهونه	اونه جګړې	په دوران د حج کښې
په دغه ورځو کښې په خان حج	نو هغه دې خبرشی چې په حج کښې کوروالې ګناهونه اوجګړې (خاص طور سره) منع دی				
وَمَا	تَفْعَلُوا	مِنْ خَيْرٍ	يَعْلَمْهُ اللَّهُ ۗ	وَتَزَوَّدُوا	فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ
اوهغه	چې کوئ تاسو	څه نیک کار	پوهیږی په هغې الله	اوتوبنه دخان سره واخلئ	اوبیشکه
بهتره توښه					
اوهرڅه نیک کارچې تاسو کوئ هغه الله په هغې پوهه دې	اوخان سره توښه اخلئ بیشکه	چې دتقوا نه بله توښه			
التَّقْوَىٰ ۚ	وَاتَّقُونِ	يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ۝			
پرهیزګاری ده	اوخان اوساتئ دنافرمانئ زما نه	اے عقلمندو			
د سوال نه خان ساتل دی	اوائې هوښیارانو زما د (عذاب) نه خان بچ کړئ				

قوله تعالى:-اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ

د حج دپاره د احرام میاشتې: عربی دان وائی چه ددې جملې مطلب دادې چه حج، حج دې، دا میاشتې چه معلومې اومقرر دی. نو د حج په ورځو کښې احرام ترلو، دنورو میاشتو داحرام ترلو نه زیات کامل دی. اګر چه د نورومیاشتو احرام ترل هم صحیح دی. حضرت امام مالک رحمه الله، حضرت ابوحنیفه رحمه الله، حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله، حضرت اسحاق رحمه الله، حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله، حضرت ثوری رحمه الله، حضرت لیث رحمه الله، فرمائی چه په ټول کال کښې چه په کومه میاشت کښې غواړی نو د حج احرام ترلې شی. ددې بزرګانو دلیل دادې چه ﴿يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَهِلَّةِ ۭ﴾ الخ. دویم دلیل دادې چه حج او عمره ذواړو ته نسک وئیلې شوې دې او دعمرې احرام په هره میاشت کښې ترلې شی نو د حج احرام هم چه کله اوترې نو صحیح به وی.

حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د حج ا حرام د حج په میاشتوکښې ترل صحیح دی. آو که په نورو میاشتو ئې د حج احرام اوترلو نو دابه صحیح نه وی لیکن دې سره عمره هم کولې شی یا نه ؟ په دې کښې د امام صاحب رحمه الله دوه اقوال دی. حضرت ابن عباس رضی الله عنه، حضرت جابر رضی الله عنه، حضرت عطاء رحمه الله، او حضرت مجاهد رحمه الله نه هم دا مذهب مروی دې چه د حج احرام د حج میاشتو نه سوا نورو میاشتو کښې ترل غیر صحیح دی او په دې باندې دلیل ﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ﴾ دې.(۱)

اودعربی دان حضراتو یو جماعت وائی چه د آیت ددې الفاظو مطلب دا دې چه حج دپاره خاص دوه میاشتې مقرر دی. نوثابته شوه چه ددې میاشتو نه مخکښې چه څوک احرام اوترې نو هغه به صحیح نه وی. چه څنګه دمونځ د وخت نه مخکې څوک مونځ اوکړی. حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی چه مونږ ته مسلم بن خالد خبر راکړې دې چه هغوئ ابن جریج نه واوریدل، هغوئ ته عمرو بن عطاء رحمه الله اوونیل، هغوئ ته عکرمه رضی الله عنه ذکر اوکړو چه حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه یو سړی دپاره لائق نه دی چه دحج میاشتو نه سوا دحج احرام اوترې ځکه چه الله ﷻ فرمائی چه ﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ ۚ﴾ ددې روایت نور هم سندونه شته دې. یو سند کښې دی چه سنت هم دا دی. صحیح ابن خزیمه کښې هم دا روایت منقول دې. اصل کتابونو کښې دا مسئله شوې ده چه د صحابی فرمان چه په حکم کښې د مرفوع حدیث په شان دی.

---

(۱) الطبری: ۱۱۵/٤)

Scanned with CamScanner

د حج د میاشتو نه وړاندې د حج دپاره د احرام تړل

مسلک حنفی:- د حج د میاشتو نه وړاندې که څوک د حج دپاره احرام اوتړی نو په دغه احرام باندې حج کیږی خو داسې کول مکروه تحریمی دی (کذافي معلم الحجاج للسعید احمد صفحه ۹۲) شاه فیصل غفرله)-

نودا حکم به درسول ﷺ وی او صحابی هم دلته هغه صحابی دې چه کوم مفسر قران او ترجمان القران دې.ددې نه علاوه د ابن مردویه یو مرفوع حدیث کښې دی.نبی کریم ﷺ فرمائی چه د حج احرام تړل دحج دمیاشتونه سوا تړل هیڅوا لره لائق نه دی،ددې اسنادهم ښه دی.لیکن حضرت امام شافعی رحمه الله او امام بیهقی رحمه الله نه روایت دې چه ددې حدیث راوی حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه تپوس اوکړې شو که د حج دمیاشتو نه مخکښې د حج احرام اوتړلې شی،نو دوی اوفرمائیل چه نه.([1])دا موقوف حدیث زیات ثابت او زیات صحیح دې.او د صحابی ددې فتوې تقویت دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ددې قول نه هم کیږی چه سنت داشان دی.والله اعلم.

﴿اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمٰتٌ﴾ نه مراد حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمائی چه دشوال،ذی القعده او د ذی الحجه لس ورځې دی.(بخاری).([2]) دا روایت ابن جریر او مستدرک حاکم کښې هم دې.او امام حاکم رحمه الله دې ته صحیح وائی.([3])حضرت عمر رضی الله عنه،حضرت علی رضی الله عنه،حضرت ابن مسعود رضی الله عنه،حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه،حضرت ابن عباس رضی الله عنه،نه هم دا مروی دی.حضرت عطاء رحمه الله،حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله،حضرت شعبی رحمه الله،حضرت حسن رحمه الله،حضرت ابن سیرین رحمه الله،حضرت مکحول رحمه الله،حضرت قتاده رحمه الله،حضرت ضحاك بن مزاحم رحمه الله،حضرت ربیع بن انس رحمه الله،حضرت مقاتل رحمه الله هم دا فرمائی.([4])او حضرت امام شافعی رحمه الله،حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله،حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله،حضرت امام ابویوسف رحمه الله،او ابوثور رحمه الله نه هم دا مذهب مروی دې.امام ابن جریر رحمه الله هم دا خوښوی.

د حج میاشتې

مسلک حنفی:- څنګه چه فاضل مصنف فرمائیلی دی نو هم دغه شان ده یعنی داحنافو په نیز هم د حج د میاشتو نه د شوال او ذو القعدې پوره میاشت اود ذو الحجې اولنۍ لس ورځې مراد دی لکه څنګه چې صاحب دقدروی شیخ ابوالحسن رحمه الله فرمائی.چه دحج میاشتې شوال ذوالقعده اولس ورځې د ذوالحجه دی (تسهیل الهدایه ۴۸۳\۲)-

د﴿ اَشْهُرٌ ﴾ لفظ جمع دې.نوددې اطلاق دوه پوره میاشتو او د دریمې په بعضې حصه باندې هم کیدې شی.لکه څنګه چه عربیٰ کښې وئیلې شی ماهغه په دې کال یا په دې نن ورځ کښې لیدلې دې.نوپه حقیقت کښې خونې ټول کال یا ټوله ورځ نه وی لیدلې بلکه دکتلو وخت خولږ شان وی.مګر تقریبا داسې وئیلې کیږی.داشان دلته هم تقریبادردریمې میاشتې ذکر دې.په قران پاك کښې هم دی چه ﴿ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ﴾ حالانکه دا زردیونیمې ورځې وی.مګر په شمیر کښې دوه ورځې اوونیلې شوې.د حضرت امام مالك،حضرت امام شافعی رحمه الله رومبی قول دادی چه شوال،ذوالقعده او د ذوالحجه پوره میاشت ده.حضرت ابن عمر رضی الله عنه،ابن شهاب رحمه الله،عطاء رحمه الله،جابر بن عبدالله رحمه الله،طاؤس رحمه الله،مجاهد

---

[1]) کتاب الام : ۱۳۲/۲،بیهقی ۳٤۳/٤،)-

[2]) صحیح بخاری کتاب الحج باب قوله تعالی (الحج اشهر معلومات) تعلیقا قبل حدیث: ۱۵٦۰،وصحیح ابن خزیمة: ۲۵۹٦)-

[3]) حاکم : ۲۷٦/۲،وسنده صحیح)-

[4]) ابن ابی حاتم: ٤۸٦/۲)-

Scanned with CamSc

رحمه الله اوعروه بن الزبیر.ربیع رحمه الله او حضرت قتاده رحمه الله نه هم دا مروی دی.یو مرفوع حدیث کښې دا هم راغلی دی لیکن هغه موضوع دې خکه چه ددې راوی حصین بن مخارق دې.او په هغه باندې د احادیشود وضع کولو تهمت دې بلکه ددې مرفوع کیدل ثابت نه دی،والله اعلم.

دامام مالك رحمه الله ددې قول منلو نه پس داثابتیږی چه د ذوالحجه په میاشت کښې به عمره کول صحیح وی،دامطلب نه دې چه دلسمې ذی الحجې نه پس هم حج کیدیشی.نو حضرت عبدالله رضی الله عنه نه روایت دې چه د حج په میاشتو کښې عمره درست نه ده.امام ابن جریر رحمه الله د دې قول هم دا مطلب اخلی چه د حج زمانه خو د منی د ورځې تیریدو نه پس تیره شوه.د محمد بن سیرین بیان دې چه زما په علم کښې خو څوك داسې اهل علم نشته دې چه د حج د میاشتو نه علاوه،عمره کولوله دې میاشتو کښې دنته عمره کولو نه افضل منلو کښې شك کوی.حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه هم د حج د میاشتو نه علاوه په نورو میاشتو کښې عمره کول خوښ منقول دی بلکه په دې میاشتو کښې عمره کولو نه منع کول.والله اعلم.(ددې نه دمخکې آیت په تفسیر کښې تیر شوی دی چه نبی کریم ﷺ ذوالقعده کښې څلور عمرې ادا اوفرمائیلې اوذوالعقده هم د حج میاشت ده.نو دحج په میاشتو کښې عمره کول جائز شو والله اعلم).

قوله تعالی:-فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ

د فرض نه مراد:- بیا ارشاد فرمائی چه کوم سړې په دې میاشتو کښې حج مقرر کړی یعنی د حج احرام اوتړی نو دا پوره کول لازم دی.فرض نه دلته مراد واجب اولازم دی.(۱) حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ددې (فرض) نه د حج او عمرې احرام تړلووالا مراد دې.عطاء رحمه الله فرمائی چه د فرض نه مراد احرام دې.ابراهیم رحمه الله اود ضحاك رحمه الله هم دا قول دې.(۲) حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه احرام تړلو او لبیك وئیلو نه پس یوځائې کښې پاتې کیدل صحیح نه دی.اود بزرګانو هم دا قول دې.بعضې بزرګانو دا وئیلی دی چه د فرضو نه مراد لبیك وئیل دی.

قوله تعالی:- فَلَارَفَثَ

د رفث نه مراد:- د ﴿رَفَثَ﴾ نه مراد جماع ده لکه څنګه چه بل ځائې کښې قران پاك کښې فرمائی چه ﴿أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَىٰ نِسَائِكُمْ﴾ یعنی روژې په شپوکښې ستاسو دپاره ستاسو خپلو بیبیانوسره جماع کول موحلال کړی دی.د احرام په حالت کښې جماع او ددې ټول کارونه حرام دی.لکه مباشرت کول، ښکلول، د ښځو په موجودګئ کښې ددې خبرې کول اګر چه بعضو د سړو په ډله کښې داسې خبرې په ﴿رَفَثَ﴾ کښې داخلې کړی دی.خو دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه ددې خلاف مروی دی. هغوئ یوځل څه داسې شعر اووئیلو اوددوی نه په تپوس کولودوی اوفرمائیل چه دښځو په مخکې داسې خبرې کول ﴿رَفَثَ﴾.دې د ﴿رَفَثَ﴾ ادنی درجه داده چه د جماع وغیره ذکر اوکړې شی.فحش خبرې کول،په خبرو کښې داسې اشاري کول،په اشارو کنایوکښې دجماع ذکر کول،خپلو بیبیانو ته وئیل چه احرام لرې شی نوجماع به کوی،چیرچار،مساس،وغیره دا ټول په ﴿رَفَثَ﴾ کښې داخل دی.اوداحرام په حالت کښې دا ټولې خبرې حرامې دی.

قوله تعالی:- وَلَافُسُوقَ

دفسوق مفهوم:- د مختلفومفسرینودمختلفواقوالومجموعه داده چه دفسوق معنی عصیان او نافرمانی ،ښکار،کنځل،وغیره بدزبانی ده.لکه حدیث کښې دی چه مسلمان ته کنځل کول فسق دې.او دده قتل

---

(۱) الطبری: ۱۲۱/٤)-

(۲) ایضا: ۱۲۳/٤)-

Scanned with CamScanner

کول کفر دي.(۱)الله ﷻ نه سوا د نورو د تقرب دپاره ځناور ذبح کول هم فسق دي لکه قران پاك کښې دی چه ﴿ أَوْفِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِاللَّهِ بِهِ ﴾ خلق په بدو القابو سره یادول هم فسق دي.قران پاك فرمائی چه ﴿وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ﴾مختصر داچه دالله ﷻ هره نافرمانی په فسق کښې داخله ده اگر چه فسق هروخت حرام دي. لیکن حرمت والا میاشتو کښې ددی حرمت نور هم زیاتیږی.الله ﷻ فرمائی چه ﴿فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ﴾ دي حرمت والامیاشتو کښې په خپلو خانونوباندې ظلم مه کوئی.داشان حرم کښې هم ددې حرمت زیاتیږی.ارشاد دي چه ﴿ وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ یعنی حرم کښې چه د څوک د الحاد او بې دینۍ اراده اوکړی دي نو مونږ به ورته درد ناک عذاب ورکوو.امام ابن جریر رحمه الله فرمائی چه دلته مراد د فسق نه هغه کارونه دی چه داحرام په حالت کښې منع دی لکه ښکار کول،ویښته خرنیل یا واړه کول،نوکونه پریکول وغیره.حضرت ابن عمر ﷺ نه دا هم مروي دی لیکن بهترین تفسیر هم هغه دي چه کوم مونږ بیان کړو یعنی هرې ګناه نه منع کیدل.والله اعلم.(۲)بخاری او مسلم کښې دی چه کوم سړې ددې بیت الله حج کوی،او هغه دې کښې نه رفث اوکړی،اونه فسق اوکړی،نو هغه د ګناهونو نه داسې پاك راوزی لکه څنګه چه د خپل پیدائش په ورځ وو.(۳)

قوله تعالی:- وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ

د جګړو ممانعت: بیا ارشاددي چه په حج کښې جنګ مه کوئی یعنی دحج په وخت کښې دحج په ارکانو کښې جنګ مه کوئی.ددې پوره پوره بیان الله ﷻ بیان اوفرمائیلو.دحج میاشتې مقرر شوی دی .په دې کښې کمې زیاتې مه کوئی.د حج موسم مخکښې روستو مه کوئی لکه څنګه چه دمشرکانو طریقه وه.او ددې مذمت قران پاك په بل مقام کښې کړې دي.دا شان قریش به مشعر الحرام سره مزدلفه کښې پاتې کیدل او باقی عرب به عرفات کښې پاتې کیدل.بیا به ئې خپلو کښې جګړې کولې.او یوبل ته به ئې وئیل چه مونږ په صیحح لار یو او طریق ابراهیمی باندې یو.نوددې نه په دې مقام کښې ممانعت اوشو چه الله ﷻ دخپل نبی ﷺ په لاس د حج وخت،د حج ارکان او د حج خایونه مقرر کړی دی.اوس تاسوپه یوبل باندې فخر مه کوئ.او نه د حج ورځې وړاندې روستو کوئ،او اوس دا جنګ ختم کړئی. والله اعلم.

دا مطلب هم بیان شوې دي چه د حج په سفر کښې په خپلو کښې جګړې مه کوئی.اومه یو بل ته غصې کوئی.اومه یو بل ته کنځل کوئی.د ډیرو مفسرینو دا قول هم دي او د ډیرو مفسرینو رومبې قول هم دي.حضرت عکرمه ﷺ فرمائی چه دچا خپل غلام ته غصه کول په دې کښې داخل نه دی.خو وهی دې نه.لیکن څه وایم که غلام اووهی هم نو هیڅ ویره نشته دي.

مسند احمد کښې حدیث دي چه مونږ نبی کریم ﷺ سره په سفرحج کښې وو.او عرج کښې پاتې شوی وو.حضرت عائشه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ سره ناسته وه.او حضرت اسماء رضی الله عنها خپل والد حضرت ابو صدیق ﷺ سره ناسته وه.د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ او د نبی کریم ﷺ د اوښانو سامان د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ خادم سره وو.حضرت ابوبکرصدیق ﷺ دده انتظار کولو.لږ وخت پس هغه راغلو.او دده نه ئې تپوس اوکړو چه اوښ چرته دي ؟.هغه اووئیل چه پرون شپې راسې غیب دي.دوی خفه شو او وې فرمائیل چه یو اوښ دي هم سنبال نه کړو.په دې وینا سره دوی هغه (غلام) اووهلو.نبی کریم ﷺ خندل او فرمائیل ئې چه اوګورئی د احرام په حالت کښې دي څه کوی ؟.دا حدیث ابوداود او ابن ماجه کښې هم

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الایمان باب خوف المومن من ان یحبط عمله.....٤٨،صحیح مسلم: ٦٤)-

(۲) درفث متعلق د مفسرینو اقوال اوګورئی: طبری: ۱۲۶/۴)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الحج المبرور: ۱۵۲۱،صحیح مسلم: ۱۳۵۰)-

دي.(۱)
بعضو سلفو نه هم دا مروی دی چه د حج پوره کیدو کښې ځوک نه وهل دا هم دی.لیکن داخیال ساتل پکار دی چه د نبی کریم ﷺ دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ په دې کار باندې دا فرمائیل.په دې کښې ډیر لطافت سره یو قسم انکار دي.نو مسئله دا شوه چه دا پریښودل اولی دی.والله اعلم
مسند عبد بن حمید کښې دی چه کوم سړي خپل حج پوره کړی او دده دلاسه مسلمان په تکلیف کښې نه شی نو دده ټول مخکښې روستی ګناهونه معاف کیږی.(۲)
قوله تعالی:-وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ يَّعْلَمْهُ اللّٰهُ
الله په هره نیکئ عالم دي:- بیا فرمائی چه تاسو څه نیکی کوئی نودهغې علم الله ﷻ ته دي.چونکه پورته نې دهرې بدئی نه منع فرمائیلې وه چه نه دې څوک بدکار کوی او نه دې بده خبره کوی نودلته د نیکئ رغبت ورکولې شی چه دهرې نیکئ به د قیامت په ورځ پوره پوره بدله ورکولې شی.
قوله تعالی:-وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى
ځان سره توښه اخستل:- بیا ارشاد فرمائی چه ځان سره توښه او د سفر خرچ اوړئی.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه خلق به بغیرد توښې نه حج ته تلل.بیا به نې خلقو نه سوال کولونو په دې باندې دا حکم نازل شو.(۳) حضرت عکرمه ﷺ،حضرت ابن عینیه رحمه الله هم دا فرمائی.بخاری او نسائی وغیره کښې دا روایتونه مروی دی،یو روایت کښې دا هم دی چه دیمن خلقو به داسې کول.او خپل ځان ته به نې متوکلین وئیل.(۴)دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه هم دا روایت دي چه کله به نې احرام ترلو نو څه توښه چه به ورسره وه ټوله به نې غورزولې وه او نوې نوې سامان به نې اخستلو.نو په دې باندې دا حکم نازل شو چې داسې مه کوئی.اوړه او ستوان وغیره ځان سره په توښه کښې اخلئ.(۵) نورو ډیرو معتبرو مفسرینو هم داشان وئیلی دی.بلکه ابن عمر ﷺ دا هم فرمائی چه د انسان عزت په دې کښې دي چه ځان سره دې ښه سامان واخلی.نبی ﷺ به خپلو ملګرو سره د زړه نه دخرچ اخستلو شرط لګولو.(یعنی چه تاسو د زړه نه خرچ کوئی)
قوله تعالی:-فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى
چونکه ددنیاوی توښې حکم نې اوفرمائیل نودې سره فرمائی چه د آخرت د توښې هم تیاري کوئی یعنی قبر ته ځان سره دالله ﷻ ویره هم یوسئ.لکه بل ځائې کښې د لباس ذکر فرمائی او ارشاد فرمائی چه ﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ ﴾ د پرهیزګارئی لباس بهتر دي.یعنی دخشوع،خضوع،طاعت او تقوی باطنی لباس نه دې هم خالی نه وی.بلکه دا لباس د ظاهری لباس نه زیات بهتر او نفع ورکونکې دي.یو حدیث کښې دا هم دی چه دنیا کښې که خرچ کوئی نو په آخرت کښې به هغه مومئ.ددې ځائې توښه به هغه ځائې کښې فائده درکوی.(طبرانی).(۶)ددې حکم په آوریدو یو مسکین صحابی ﷺ نبی کریم ﷺ ته عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ مونږ سره خو هیڅ نشته دي.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دومره خو پکار ده چه د چا نه سوال اونه کړې شی.او بهترینه توښه دالله ویره ده (ابن ابی حاتم).
قوله تعالی:-وَاتَّقُوْنِ يٰٓاُولِي الْاَلْبَابِ

---

۱) احمد: ۳٤٤/٦،ابوداود المناسک الحج المبرور یودب غلامة: ۱۸۱۸،ابن ماجة: ۲۹۳۳)-
۲) مسند عبد بن حمید: ۱۱۵۰)-
۳) صحیح بخاری کتاب الحج باب قوله تعالی :(وتزودوا فان خیر الزاد التقوی) ۱۵۲۳)-
٤) صحیح بخاری کتاب الحج باب قول ا لله تعالی :(وتزودوا فان خیر الزاد التقوی) ۱۵۲۳ ابوداود: ۱۷۳۰)-
۵) الطبری: ۱۵٦/٤)-
٦) الطبرانی فی الکبیر: ۲۲۷۱)-

Scanned with CamSc

بیا ارشاد فرمائی چه ائې عقل مندوا زما نه ویریږئی،یعنی زما د عذاب نه او زما د رانیولو نه،زما د گرفت نه،زما د سزاګانو نه اوویریږئی.او زما احکام منئ.زما د حکم خلاف مه کوئی چه تاسو ته نجات ملاوشی.هم دا عقلی امتیاز دی.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ	
نشته | په تاسو باندې | څه ګناه	
اوهیڅ ګناه نشته په تاسوباندې	
أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَإِذَآ أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَٰتٍ فَاذْكُرُوا اللَّهَ	
چې تلاش کړئ | څه رزق | درب خپل | ببیاچې کله | روان شئ | تاسو | د عرفات نه | نو یاد کړئ الله	
(دحج په سفر کښې) دخپل پروردګار فضل اوغواړئ | نوهرکله چې دعرفات نه راواپس شئ | نوالله یادوئ	
عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ ۖ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمْ ۚ وَإِن	
د مشعر حرام سره | اویاد کړئ هغه | لکه څنګه چې نې | هدایت کړې دې تاسوته | او بیشکه	
مشعرحرام (مزدلفې) سره اوپه هغه شان دالله ذکر کوئ لکه چې هغه درته طریقه خودلې ده | اګر که	
كُنتُم مِّن قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّالِّينَ ﴿١٩٨﴾	
چې وئ تاسو | مخکښې ددې نه | دګمرا هانونه |	
ددینه وړاندې تاسو دګمراهانو په ډله کښې شمیروئ |	

قوله تعالی:-لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَبْتَغُوا فَضْلًا مِّنْ رَّبِّكُمْ

په حج کښې تجارت کول:-صحیح بخاری کښې ددې آیت تفسیر حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه مروی دی چه د جاهلیت په زمانه کښې د عکاظ،مجنه او ذوالمجاز نومې بازارونه وو.داسلام نه پس صحابه کرامو ﷺ دحج په ورځو کښې تجارت ګناه ګڼله او ویریدل.نو په دې ایت سره دوی ته اجازت ملاؤ شو چه ایام حج کښې تجارت کول څه د ګناه کار نه دی.(۱)یو روایت کښې داهم دی چه دا مسئله د نبی کریم ﷺ نه اوپښتلې شوه.نو په دې باندې د آیت نازل شو چه دحج په ورځوکښې احرام نه مخکښې یا احرام نه پس حاجی لره اختیار خرڅول حلال دی.د حضرت ابن عباس ﷺ قرات کښې د ﴿ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ نه پس د ﴿فی مواسم الحج﴾ لفظ راغلې دې.دابن زبیر نه هم دا مروی دی.اوبعضو نورو مفسرینو ددې تفسیر هم داشان کړې دې.

دابن عمر ﷺ فتوی:- دحضرت ابن عمر ﷺ نه تپوس کیږی چه یو سړې حج ته څې او دې تجارت هم کوی نو دده باره کښې څه حکم دی نو دوی دا آیت تلاوت اوفرمائیلو.(ابن جریر).(۲) دمسند احمد په روایت کښې دی چه ابوامامه تیمی رحمه الله حضرت ابن عمر ﷺ ته اوفرمائیل چه مونږ په حج کښې ځناور په کرایه باندې ورکوؤ نو آیا ځمونږ هم حج کیږی ؟ نو دوی اوفرمائیل چه آیا تاسو دبیت الله شریف طواف نه کوئی ؟.آیا تاسو عرفات کښې نه پاتې کیږئی ؟ آیا تاسو شیطانان په کانړو نه اولئی ؟ آیا تاسو سرونه نه خرئی؟ نو دې سړی اووئیل چه مونږ خودا ټول کارونه کوؤ.نو دوی اوفرمائیل چه واورئی ! یو

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة: باب (لیس علیکم جناح ان تبتغوا...) ٤٥١٩)-

(۲) الطبری: ١٦٥/٤)-

Scanned with CamSc

سړی داسوال د نبی کریم ﷺ نه کړې وواو ددې په جواب کښې حضرت جبریل ﷺ دا ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ﴾ آیت مبارك راوړې وو.اونبی کریم ﷺ هغه سړې راوغوښتلو او ورته ئې اوفرمائیل چه ته حاجی ئې ستا حج اوشو.(۱)مسند عبدالرزاق او تفسیر عبدبن حمید وغیره کښې هم دا روایت دې،بعضو روایتونو کښې دالفاظو څه کمې زیاتې سره هم دی.یو روایت کښې دا هم دی چه آیا تاسو احرام نه ترئی ؟

د عمر ﷺ قول:- د امیر المومنین حضرت عمر فاروق ﷺ نه سوال کیږی چه آیا تاسو به د حج په ورځو کښې تجارت هم کولو؟ نو دوی اوفرمائیل چه او هغه خو لا دتجارت موسم هم نه وو.(۲)

قوله تعالی:- فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ

د عرفات غیرمنصرف دې:- ﴿عرفات﴾ لره منصرف وئیلې شوې دې.اود غیر منصرف کیدو دوه وجې په دې کښې موجوددی.یعنی اسم علم او اوتانیث ځکه چه داپه اصل کښې جمع ده.لکه مسلمات او مومنات،دیو خاص خائې نوم مقرر کړې شوې دې ددې وجې د اصلیت رعایت کړې شوې دې او منصرف وئیلې شوې دې.(۳)

عرفه څه ته وائی:- عرفه هغه خائې دې چه په هغې ایساریدل د حج بهترین کار دې.مسند احمد وغیره کښې حدیث دې چه حج عرفات دې.دړې ځل نبی کریم ﷺ هم دا اوفرمائیل.چه څوك دنمر ختلو نه مخکې عرفات ته اورسیدو نو ده حج اوکړو.په منې کښې په دوو ورځو کښې تیزی کونکې یا دریمې ورځې ته ایساریدونکی باندې څه ګناه نشته دې.(۴)

د وقوف عرفات وخت:-د ایساریدو وخت د عرفې د ورځې د نمر ختلو نه پس نه واخله تر د اختر د صبا صادق راختلو پورې دې.نبی کریم ﷺ حجة الوداع کښې د ماسپخین دمونځ نه پس نمر پریوتلو پورې دلته ایسار وو.او فرمائیلی نې وو چه زما نه د حج طریقې زده کړئی.(۵)دامام مالك رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمه الله او حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله هم دا مذهب دې چه د لسم تاریخ د صبا صادق ختلو نه مخکې چه کوم سړې عرفات ته اورسی نو دهغه حج اوشو.

د اختر د ورځې د صبا نه لږ غوندې رواندې په عرفه کښې قیام هم معتبر دې

مسلك حنفی:- داحنافو مسلك هم دغه شان دې ځنګه چه فاضل مفسر فرمائیلی دی یعنی که یوکس د ذو الحجې د لسم تاریخ صبا راختو نه وړاندې عرفات کښې لږ ساعت هم ایسارشو نو دده وقوف عرفات اوشو.او چې وقوف عرفات اوشو نو حج هم اوشو(معلم الحجاج صفحه ۱۲۲)۔

یوه واقعه:-امام احمد رحمه الله فرمانی چه د ایساریدو وخت دعرفې دورځې دشروع نه دې،ددوی دلیل هغه حدیث دې چه په هغې کښې دی چه نبی کریم ﷺ مزدلفه کښې مونځ دپاره اووتل،نو یو سړې حاضر شو اوهغه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ څه د طی غرونه نه راغلې یم،ما خپله سورلی ډیره سترې کړه.او په خپل نفس مې ډیر زیات مشقت اوکړو.والله په هر هر غر باندې ایساریدو سره راغلې یم،آیا زما حج اوشو ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې مونږ سره په دې مونځ کښې حاضر شی او مونږ سره دتلو وخت پورې ایسار وی او ددې نه مخکې هغه عرفات کښې ایسار شوې وی که د ورځې وی اوکه دشپې وی نو دهغه حج پوره شو اوهغه دفریضې نه فارغ شو(مسند احمد وسنن)امام ترمذی دې ته صحیح

---

(۱) احمد: ابوداود کتاب المناسک باب الکری: ۱۷۳۳،وسنده صحیح)-

(۲) الطبری: ۱۶۸/٤)-

(۳) الطبری: ۱۷۱/٤)-

(۴) حمد: ۳۰۹/٤،ابوداود کتاب المناسک باب من لم یدرک عرفة : ۱۹٤۹،وسنده صحیح ترمذی : ۸۸۹،نسائی: ۳۰٤۷،ابن ماجة: ۳۰۱۵)-

(۵) صحیح مسلم: کتاب الحج باب استحباب رمی جمرة العقبة: ۱۲۹۷)-

Scanned with CamS

وائی.(۱)
امیرالمومنین حضرت علی ﷺ نه مروی دی چه حضرت ابراهیم ﷺ ته الله ﷻ حضرت جبریل ﷺ اولیږلو.او هغوئ په دوی ﷺ باندې حج اوکړو.هرکله چه عرفات ته اورسیدو نوتپوس ئې اوکړو چه ﴿عرفت﴾ آیا تا اوپیژندو.حضرت خلیل الله ﷺ جواب ورکړو ﴿عرفت﴾ما اوپیژندو.خکه چه دې نه وړاندې دې ځائې ته راغلې وو.خکه ددې ځائې نوم عرفه شو(۲)حضرت عطاء رحمه الله،حضرت ابن عباس ﷺ، حضرت ابن عمر ﷺ اوحضرت ابومجلز رحمه الله نه هم دا مروی دی.(۳)والله ا علم.

د میدان عرفات نور نومونه:دعرفات نوم مشعر الحرام،مشعرالاقصی،او الال هم دې.اودې غر ته عرفات وائی.اوددې په مینځ کښې جبل الرحمة دې.دابوطالب یو مشهوره قصیده کښې هم یو شعر په دې معنو کښې دې اهل جاهلیت به هم عرفات کښې پاتې کیدل.او کله چه به ګرمی په غرونو باندې داشان باقی پاتې شوه لکه څنګه چه د سړی په سرباندې پټکې وی نو هغوئ به دهغه ځائې نه وتل.خو نبی کریم ﷺ ددې ځائې نه په هغه وخت کښې تشریف یوړو چه کله نمر بالکل پریوتلو.مزدلفې ته په رسیدو ئې هلته قیام اوکړو اوسحر سبائې بالکل په اول وخت کښې دشپې په تیاره کښې او دسحر په سپوږمئ کښې (یعنی ډیر وختی وو) په دې ځائې د سحر مونځ ادا کړو او کله چه رنړا صفا شوه نو د سحر مونځ ئې آخری وخت کښې ادا کولو نه پس د دې ځائې نه کوچ اوکړو.

حضرت مسور بن مخرمه ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ مونږ ته په عَرفات کښې خطبه راکړه او حسب عادت ئې دحمدو ثناء نه پس **امابعد** اوفرمائیل او وې فرمائیل چه حج اکبر هم نن ورځ دې،اوګورنی بت پرست او مشرکان به ددې ځائې نه هله تلل چه کله به ګرمی د غرونو په سرونو باندې داسې شوه چه څنګه دخلقو په سرونو باندې پټکې وی نو واپس کیدل به.دنمر پریوتلو نه مخکې لیکن مونږ به د نمر پریوتلو نه روستو ددې ځائې نه خو.اودمشعر الحرام نه به هغوئ نمر راختلو نه پس ددې ځائې نه تلل .لیکن مونږ به دهغه ځائې نه د نمر راوتلو نه مخکې مخکې خو.خمونږ طریقه د مشرکانو د طریقې خلاف ده.(ابن مردویه ومستدرك حاکم).امام حاکم رحمه الله دې ته په شرط شیخینو او بالکل صحیح وئیلی دی.

د مسور ﷺ د نبی کریم نه د روایت کولوثبوت:- ددې نه هم ثابته شوه چه حضرت مسور ﷺ د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی.ددې خلقو قول صحیح نه دې چه وائی چه حضرت مسور ﷺ حضرت نبی کریم ﷺ لیدلې دې لیکن د نبی کریم ﷺ نه ئې آوریدلی نه وو.

دحضرت معروربن سوید رحمه الله بیان دې چه ما حضرت عمر ﷺ د عرفات نه په واپس کیدوباندې اولیدو داسې ده لکه چه هغه منظر اوس هم زما په وړاندې دې.ددوی د سر په مخکئ حصه باندې وینښته نه وو،په خپل اوښ باندې وو،اوفرمائیل ئې چه مونږ صفارنړا کښې واپس شو.

د عرفات نه روانیدل:- صحیح مسلم کښې یو روایت د حضرت جابر ﷺ نه دې او دا ډیر اوږد حدیث دې په هغې کښې دحجة الوداع پورا بیان دې،په هغې کښې هم دی چه رسول الله ﷺ نمر پریوتلو پورې عرفات کښې وو.هرکله چه نمر پریوتلو او لږ شان زیړوالئ پکښې راغلو نو د نبی کریم ﷺ په سورلئ باندې خپل خان پسې حضرت اسامه ﷺ سور کړو اود اوښ واګې ئې رانښکلې تر دې پورې چه ددوی

---

(۱)احمد: ۳۰۹/٤،ابوداود کتاب المناسک باب من لم یدرک عرفة : ۱۹٤۹،وسنده صحیح ترمذی : ۸۸۹،نسائی: ۳۰٤۷،ابن ماجة: ۳۰۱۵)-

(۲)مصنف عبدالرزاق: ۹٦/۵)-

(۳)ابن ابی حاتم: ۵۱۹/۲،الطبری: ۱۸۳/٤)-

Scanned with CamSc

سر مبارك پالان ته نزدې شو.او په نبی لاس سره ئې خلقو ته اشاره فرمائیله چه ائې خلقو ! په مزه مزه،اطمینان سره،سکون،نرمئ او د دل جمعئ سره ځئ.هرکله چه به یو غر راغلو نو واکې به ئې لږې شان سستي کړې چه ځناور په آسانئ سره اوخیژی.مزدلفې ته په راتلو نبی کریم ﷺ د مانښام او ماسختن مونځ (یو ځائې) ادا کړو.او د دواړو مونځونو تکبیرونه (اقامت) ئې بیل بیل اوکړل،د مانښام دفرضو اودماسوختن دفرضو په مینځ کښې ئې سنت او نوافل اونه کړل.بیا اوده شول.صبا صادق راختلو نه پس د سحر مونځ ئې اداکړو چه په هغې کښې اذان او اقامت اوشو.بیا په قصواء نومې اوښه باندې سور شو او مشعرالحرام ته ئې تشریف راوړو.قبلې طرفته متوجه شول اودعا کښې مشغول شول.او دالله اکبر او دلااله اله الاالله توحید بیانولو کښې مشغول شو تردې پورې چه ښه رڼا شوه.او د نمر مخکښې نبی کریم ﷺ ددې ځائې نه روان شول.(۱)

حضرت اسامه ﷺ نه سوال کیږی چه نبی کریم ﷺ کله ددې ځائې نه روان شول په کوم چال کښې تلل ؟ وې فرمائیل چه په درمیانه او رو چال سره سورلئ باندې تلو اوکله چه به ئې په لارکښې فراخوالئ اولیدو نو تیز به تللو.(بخاری ومسلم).(۲)

قوله تعالی:- فَاذْكُرُوا اللَّهَ عِنْدَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ

د عرفات نه روانیدل او دالله ذکرکول:- بیائې فرمائی چه عرفات نه په واپس کیدو مشعر الحرام کښې دالله ﷻ ذکر کوئی.یعنی دلته دواړه مونځونه جمع کوئی.عمرو بن میمون،حضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه دمشعر الحرام باره کښې تپوس اوشو نو دوی خاموش شول.هرکله چه قافله مزدلفې ته اورسیدله نو وې فرمائیل چه سائل چرته دې،دا دې مشعرالحرام.ددوی نه داهم مروی دی چه دمزدلفه ټوله علاقه، غرونه اوددې چاپیر چل مشعرالحرام دې.(۳) دوی اوکتل چه خلقو په قزح باندې بیړه جوړه کړې ده.نو دوی اوفرمائیل چه دې خلقو دلته ولې بیړه جوړه کړې ده.ددې ځائې دا ټول ځایونه مشعرالحرام دې.او نورویږو مفسرینو نه دا مروی دی چه د دواړو غرونو مینځ کښې ټول ځائې مشعرالحرام دې.(۴)

حضرت عطاء رحمه الله نه سوال کیږی چه مزدلفه چرته ده ؟ دوی اوفرمائیل چه هرکله د عرفات نه روان شو او دمیدان عرفات دواړه غاړې ئې پریښودې بیا مزدلفه شروع شوه،وادی محسر پورې چه کوم ځائې کښې غواړئ ایسار شئ.لیکن ځه د قزح نه اخوا اوسیدل خوښوم چه دلاړې نه یو خواته یم.مشاعروائی ظاهری نښو ته وائی.مزدلفه ته مشعر الحرام په دې وجه وائی چه دا په حرم کښې داخل دی.

د سلف صالحین یو ډله او بعض شافعی اصحاب لکه دقفال،او ابن حزیمه خیال دې چه دلته پراؤ کول دحج رکن دې.دلته نه ایساریدو سره حج نه کیږی.ځکه چه یوحدیث کښې دی چه حضرت عروه بن مضرس ﷺ نه ددې معنی مروی ده.بعضې وائی چه دلته پراؤ کول واجب دی.دحضرت امام شافعی ﷺ قول دا هم دې که چا په دې ځائې کښې پراؤ اونکړو نو قربانی به کوی.د امام صاحب دویم قول دادې چه مستحب دی.که پراؤ اونکړی نو هیڅ حرج نشته دې.نودا دری اقوال دی.مونږ دلته دې بحث ته زیات طول ورکول نه غواړو.والله اعلم.

په مشعر حرام کښې د ایساریدو حکم

مسلک حنفی:- صاحب د هدایه فرمائی اوچا چه پریخودو وقوف د مزدلفې نوپه ده دم دې ځکه چه دا د واجباتو ځنی دې.ددې عبارت نه معلومه شوه چه په مزدلفه کښې شپه تیرول واجب دې (تسهیل الهدایه ۲/۳۱۲-۲۴).

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الحج باب حجة النبی : ۱۲۱۸)-

(۲) صحیح بخاری کتاب الحج باب السیر اذا دفع من عرفة: ۱۶۶۶،۳صحیح مسلم: ۱۲۸۶)-

(۳) الطبری: ۱۸۶/۴)-

(۴) ابن ابی حاتم ۵۲۱/۲)-

Scanned with CamSc

په وادی محسر کښې د ایساریدو حکم:- یو مرسل حدیث کښې دی چه دعرفات ټول میدان د پراو کولو خائې دې.دعرفات نه هم پورته شه او ټوله مزدلفه د پراو کولو خائې دې.خو وادئ محسر نه ده. دمسند احمد یوحدیث کښې ددې نه پس دی چه دمکې ټولې کوڅې دقربانی خایونه دی.اوایام تشریق ټول په ټوله دقربانی ورځې دی.(۱)خودا حدیث هم منقطع دی.ځکه چه سلیمان بن موسی اشدق جبیر بن مطعم نه وو لیدلې.خوددې نور سندونه هم شته دي.والله اعلم.

قوله تعالی:- وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدٰىكُمْ وَاِنْ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمِنَ الضَّآلِّيْنَ

دسنت طریقې مطابق ذکر کول:- بیا ارشاد فرمائی چه دالله ﷻ ذکر کوئی لکه څنګه چه هغه پاك ذات تاسوته هدایت کړې دې چه دحج احکام نې په وضاحت سره بیان اوفرمائیل.اودخلیل الله ﷺ هغه سنت نې واضح کړه حالانکه ددې نه مخکښې تاسو ته ددې خبر نه وویعنی ددې هدایت نه مخکښې یا ددې قرآن نه مخکښې یا ددې رسول ﷺ نه مخکښې،فی الواقع ددې دریو واړو خبرو نه مخکښې دنیا ګمراهئ کښې وه.فالحمد لله.

ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ	حَيْثُ اَفَاضَ	النَّاسُ	وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ
بیا واپس شئ دهغه خائې نه	دکوم خائې نه چې واپس کیږی	نور خلق	اومعافی غواړئ دالله نه
بیا تاسود هغه خائې نه واپس شئ چې دکوم خائې نه نور خلق واپس کیږی			اوالله نه بښنه غواړئ
اِنَّ اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ۝	
بیشکه الله	معاف کونکې	رحم کونکې دې	
بیشکه الله بخښونکې مهربان دې			

قوله تعالی:- ثُمَّ اَفِيْضُوْا مِنْ حَيْثُ اَفَاضَ النَّاسُ

عرفات نه واپس شئ:- (ثم) دلته د خبرې خبر باندې د عطف اچولو دپاره دې چه ترتیب برابر شی.لکه چه عرفات کښې پراو کولو دپاره حکم ملاو شو چه دلته نه مزدلفې ته لاړشی چه مشعرالحرام سره دالله ﷻ ذکر اوکړې شی او دا نې هم اوفرمائیل چې په عرفات کښې پراو اوکړ.لکه څنګه چه عامو خلقو به دلته پراو کولو.البته قریشو دفخر اوتکبر او امتیازی ننبې په طور دا طریقه اختیار کړې وه هغوئ به حرم نه بهر نه تلل.اود حرم په آخری حد کښې به نې پراو کولو او وئیل به نې چه مونږ الله ﷻ والا یو.د هغه د ښار مشران یو.اود هغه د کور منجوران یو.صحیح بخاری کښې دی چه قریش او ددوی هم خیال خلق به په مزدلفه کښې ایساریدل.او خپل نوم به نې حمس اینبودو.باقی ټول عرب به عرفات ته تلل.اودهغه خائې نه به واپس کیدل.ددې وجې اسلام حکم ورکړو چه دکوم خائې عام خلق راګرزی تاسو هم دهغه خائې نه راګرزئ.(۲)

حضرت ابن عباس ﷺ،حضرت عطاء رحمه الله،حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت قتاده رحمه الله او حضرت سدی رحمه الله وغیره فرمائی.(۳)امام ابن جریر هم دا تفسیر خوښوی او په دې اجماع نقل کوی.مسند احمد کښې دی چه حضرت جبیر بن مطعم فرمائی چه زما اوښ عرفات کښې ورک شوې وو.ځه دهغې تلاش کښې اووتلم.نو ماهغه خائې کښې نبی کریم ﷺ اولیدو.ما تري تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ څه خبره ده چه

---

(۱) احمد: ۸۲/۴،-

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (ثم افیضوا من حیث افاض الناس) ۴۵۲۰،صحیح مسلم: ۱۲۱۹)-

(۳) الطبری: ۱۸۶/۴)-

Scanned with CamSc

تاسو، ،حمس، ،کښې يئ اوبيا دلته حرم نه بهر ايسار شوئی.(۱)

د افاضه نه مراد:- حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چه دافاضه نه دلته مراد د رمی جمار دپاره منی ته تلل دی.(۲) (والله اعلم).

د «الناس» نه مراد:- او د الناس نه مراد حضرت ابراهيم خليل الله ؑ دی.بعضې وائی چه مراد تری امام دی.ابن جرير ؒ فرمائی که ددې خلاف د اجماع حجت نه وې نو هم دا قول راجح وو.

قوله تعالی:- وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

د استغفار حکم:- بيا داستغفار ارشاد فرمائی چه عموما دعبادات نه پس فرمائی.نبی کريم ﷺ چه به د فرض نه فارغ شو نو دری ځل به ئې استغفار کولو.(۳)(مسلم).نبی کريم ﷺ به خلقو ته د سبحان الله، الحمدلله،الله اکبر دری ديرشو ځلو ونيلو حکم فرمائيلو(۴) (بخاری ومسلم).داهم مروی دی چه دعرفې په مابنام نبی کريم ﷺ دخپل امت دپاره استغفار اوکړو.(ابن جرير).د نبی کريم ﷺ دا هم ارشاد مروی دی چه ټولو استغفارو سردار دا استغفار دی.

سيدالاستغفار:- ﴿اللهم انت ربی لااله الاانت خلقتنی وانا عبدك وانا علی عهدك ووعدك ماستطعت اعوذبك من شرما صنعت ابوءلك بنعمتك علی وابوء بذنبی فاغفرلی فانه لايغفر الذنوب الاانت﴾.نبی کريم ﷺ فرمائی چه کوم سړی دا د شپې په وخت کښې اووائی اوپه شپه کښې مړ شی نو بالکل جنتی دی.او کوم سړی چه دا د ورځې اووائی او په دغه ورځ کښې مړ شی نو جنتی دی.(۵) (بخاری).

حضرت ابوبکرصديق ؓ يو ځل اوفرمائيل چه يارسول الله ﷺ ماته څه دعا اوښائی چه څه ئې دهر مونځ نه پس وايم،حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه دا وايه.﴿اللهم انی ظلمت نفسی ظلما کثيرا ولا يغفر الذنوب الاانت فاغفرلی مغفرة من عندك وارحمنی انك انت الغفور الرحيم﴾.(۶) (بخاری ومسلم).داستغفار باره کښې نور احاديث هم شته .

فَاِذَا قَضَيْتُمْ	
بيا چې کله ادا کړئ تاسو	
بياچې پوره کړئ	
مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَاۗءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ	
ارکان دحج خپل نويادکړئ الله پشان دياد ولو ستاسو پلرونو خپلو لره بلکه ډيرزيات ددې نه	
دحج کارونه نو الله ياد وئ لکه وړاندې چې به مو پلار نيکه نومونه ياد ول داشان اوس دالله نوم ياد وئ بلکه زيات	
ذِكْرًا ۭ فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا	
په يادولو سره خو بعضې دخلقونه هغه څوک دی چې وائی اے ربه زمونږ راکړې مونږ ته په دنيا کښې	
دهغې نه (خوپه الله يادونکو هم ډيرفرق دی)خينې خلق وائی چې ائې زمونږ ربه مونږ ته په دنيا کښې(هرڅۀ)راکړې	

---

(۱) حمد: ۸۰/٤،صحيح بخاری: كتاب الحج باب الوقوف بعرفة : ١٦٦٤،صحيح مسلم: ١٢٢٠)-

(۲) صحيح بخاری كتاب التفسر سورة البقرة: باب (ثم افيضوا من حيث افاض الناس) ٤٥٢١،)-

(۳) صحيح مسلم كتاب المساجد باب استحباب الذكر بعد الصلاة: ٥١٩)-

(۴) صحيح بخاری كتاب الاذان باب الذكر بعد الصلاة: ٨٤٣،صحيح مسلم: ٥٩٥)-

(۵) صحيح بخاری كتاب الدعوات باب افضل الاستغفار : ٨٤٣،ترمذی: ٣٣٩٣،)-

(۶) صحيح بخاری كتاب الاذان بآب الدعاء قبل السلام : ٨٤٣،صحيح مسلم: ٢٧٠٥،ترمذی: ٣٥٣١،ابن ماجة: ٣٨٣٥)-

Scanned with CamSc

وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ﴿۲۰۰﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ
او نشته هغه لره| په آخرت کښې	څه حصه	اوځينې دخلقو نه| هغه ځوک دی	چې وائی	
اوداداسې خلق دی	چې په آخرت کښې ددوئ هيڅ حصه نشته	اوبعضې وائی چې
رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً
اے ربه زمونږ |راکړې مونږته	په دنيا کښې	توفيق د نيکئ	او په آخرت کښې هم| توفيق د نيکئ
اې زمونږه ربه مونږ ته په دنيا کښې هم نيکی(پاکيزه نعمتونه)راکړه |او په آخرت هم نيکی(لوئې لوئې نعمتونه)راکړه
وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ
او اوساتې مونږ	دعذاب	د اور نه| دا کسان چې دی| وی به ددوئ دپاره| حصه دهغې نه| چې ګټلی دی دوئ
اومونږداور دعذاب نه بچ کړه |دغه خلق دخپلو عملونو په وجه (په دنيا اوآخرت کښې) برخه واخلی
وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۲۰۲﴾
اوالله	زراغستونکې دې دحساب	
اوالله ډيرزر حساب کونکې دې	

قوله تعالی: ﴿فَاِذَا قَضَيْتُمْ مَّنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَذِكْرِكُمْ اٰبَآءَكُمْ اَوْ اَشَدَّ ذِكْرًا ؕ

د حج نه پس دالله ﷻ د ذکرحکم:-دلته الله ﷻ د ذکر حکم فرمائی او ورسره د ذکر کولو طريقه فرمائی چه داشان دالله ﷻ ذکرکوئی لکه څنګه چه خپل مورپلار يادوئی.بله معنی داده چه اهل جاهليت به د حج په موقع باندې راجمع کيدل.چا به وئيل چه زما پلار ډير لوئې ميلمه دوست وو،چا به وئيل چه هغه دخلقو دحج کارونه کول،سخاوت او بهادرئی کښې بې مثاله وو،وغيره وغيره.نو الله ﷻ فرمائی چه دا فضول خبرې پريږدئی.او دالله ﷻ ذکر او لوئی او عظمتونه او عزتونه بيانوئی.اکثرو مفسرينو هم دابيان کړې دې.غرض دا چه دالله ﷻ ذکر کثرت سره کوئی،ځکه په ﴿اشد﴾ باندې زبر دتميز په بناء باندې راوړې شوې دې.يعنی داشان الله ﷻ يادوئی لکه څنګه چه په خپلو مشرانو باندې فخر کوئی.

د(او) **تحقيق:**- ﴿او﴾ نه دلته دخبردمثليت تحقيق ثابتول دې.لکه ﴿اَوْ اَشَدَّ قَسْوَةً او ﴿اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً﴾ او ﴿او يزيدون﴾ کښې ﴿اَوْ اَدْنٰى﴾ په دې ټولو مقاماتو کښې لفظ د ﴿او﴾ بالکل شک دپاره نه دې.بلکه د مخبر عنه (دکوم څيز باره کښې چې خبرورکوی)تحقيق دپاره دې.يعنی د هغه ذکر دې دومره وی بلکه ددې نه دې هم زيات وی.

قوله تعالی:- فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ

دا دين او دنيادپاره دعاء:- بيا ارشاد فرمائی چه دالله ﷻ ذکر کثرت سره کوئی اودهغه نه دعاګانې غواړئی .ځکه چه داموقع د قبوليت ده،ورسره د هغه خلقو بدئی هم بيانيږی چه دالله ﷻ نه سوال کوی او صرف دنيا غواړی.او آخرت طرفته نظر نه کوی.فرمائی چه ددې (خلقو) په آخرت کښې هيڅ حصه نشته دې.حضرت ابن عباس ﷺ بيان فرمائی چه بعض اعرابی دلته راځی اوصرف هم دادعا کوی چه اې الله ﷻ په دې کال کښې باران اوکړه چه ښه غلې پيداشی.او اولاد کثرت سره وی وغيره .خو د مومنانودعاګانې د دواړو جهانونو د ښيګړې دپاره وې نوددې وجې دهغوی تعريف اوکړې شو.په دې دعا کښې د دنيا اوآخرت ټولې ښيګړې جمع کړی دی اود ټولو بدو نه ئې بچ کيدل خودلی دی.ځکه چه ددنيا په ښيګړه کښې عافيت،راحت،آسانی،تندرستی،کور،ښځه،بچی،روزی،علم،عمل،ښه سورلی،

Scanned with CamSc

نوکران،وینځې غلامان،عزت اوابرو وغیره ټول څیزونه راغلل.اود اخرت په ښیګړه کښې دحساب آسانیدل،د ویرې نه نجات موندل اود عمل نامې په ښی لاس ملاویدل او کامیابی،اوعزت سره جنت ته داخلیدل،ټول په دې کښې راځی.

بیادی نه پس د جهنم دعذاب نه نجات غواړی.دې نه مطلب دادې چه داسې اسباب الله ﷻ مهیا کړی.لکه حرامو نه اجتناب،دګناهونو اوبدو نه منع کیدل وغیره.قاسم رحمه الله فرمائی چه چاته شکر ګزار زړونه او ذکر کولو والا ژبې او صبر کولو والا بدنونه ملاؤ شو نو هغه ته ددنیا او آخرت کامیابی ملاؤ شوه.او دعذاب نه ورته نجات ملاؤ شو.(۱)

د نبی کریم ﷺ زیاته دعا: بخاری شریف کښې دی چه نبی کریم ﷺ به اکثر دا دعا وئیله.په دې حدیث کښې ﴿ ربنا ﴾ نه مخکښې ﴿ اللهم ﴾ هم دې (۲).حضرت قتاده رحمه الله دحضرت انس رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه نبی کریم ﷺ به زیاته کومه یوه دعا غوښتله.نو دوی جواب کښې هم دا دعا اوخودله.(احمد).(۳)

حضرت انس ﷺ به پخپله هم چه کله دعاغوښتله نو دا دعا به ئې نه پریښودله.حضرت ثابت ﷺ یو خل اووئیل چه حضرت ستاسودا رونړه غواړی چه تاسو د دوی دپاره دعا اوکړئی.نو دوی هم دا دعا اوفرمائیل چه ﴿ اللهم رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا ﴾ الخ.بیا څه وخت ناستې او خبرواترو نه پس چه کله هغه تلو نو بیائې ورته ددعادرخواست اوکړو.دوی اوفرمائیل چه آیاجدا کول غواړې.پدې دعاکښې خو ټولې ښیګړې راغلې.(ابن ابی حاتم).

بیمار ته د دې دعا تلقین کول:- نبی کریم ﷺ دمسلمان د عیادت دپاره تشریف یوړو.وې کتل چه هغه بالکل مانده او کمزورې وو صرف د هډوکو ډهانچه پاتې شوې ده.دوی تپوس اوکړو چه آیا څه دعا هم دالله ﷻ نه غوښتله.هغوئ اوفرمائیل چه آو.دا دعا وه چه ائې الله ﷻ ته کوم یو عذاب ماته په آخرت کښې راکول غواړې هغه په دنیا کښې راکړه.دوی اوفرمائیل چه سبحان الله ! په چا کښې دهغې د برداشت کولو طاقت هم شته دې.آیاتا دا دعا ﴿ ربنااتنا ﴾ تر آخره پورې نه ده وئیله؟ نو بیمار هم دا دعا وئیل شروع کړه او الله ﷻ هغه ته شفا ورکړه.(احمد) (۴).

د رکن بنی جمح او رکن اسودمینځ کښې به نبی کریم ﷺ دا دعا وئیله.(ابن ماجه وغیره).خو ددې په سند کښې ضعف دې.والله اعلم.

نبی کریم به فرمائل چه کله په دوی رکن سره تیریږم نو کورم چه هلته فربښته ده او هغه آمین وائی.تاسو چه کله دلته نه تیریږئی نو ﴿ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا ﴾ الخ وائی (ابن مردویه) (۵)

د ابن عباس ﷺ نه تپوس:- حضرت ابن عباس ﷺ نه یو سړی تپوس اوکړو چه څه یوې قافلې سره نوکر شوم په دې اجرت باندې چه هغوئ به ما خپل ځان سره په سورلئ سور کړی.اود حج په موقع به ما ته رخصت راکړی چه حج ادا کړه او په نورو وختونوکښې دهغوئ خدمت اوکړم،نوتاسو اوفرمائی چه داشان به زما حج اوشی،نو دوی اوفرمائیل چه آو،بلکه ته خو دهغه خلقونه ئې چه د چا باره کښې فرمان دې چه ﴿ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّمَّا كَسَبُوْا ﴾ (الخ) (مستدرك حاكم).(۶)

---

۱) ابن ابی حاتم: ۵۴۲/۲)-

۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (ومنهم من یقول ربنا)۴۵۲۲)-

۳) احمد: ۱۰۱/۳،صحیح مسلم: کتاب الذکر والدعاء بآب فضل الدعاء باللهم اتنا فی الدنیا حسنة: ۲۶۹۰،ابوداود :۱۵۱۹)-

۴) احمد: ۱۰۱/۳،صحیح مسلم: کتاب الذکر والدعاء باب کراهة الدعاء بتعجیل العقوبة فی الدنیا:۲۶۸۸،ترمذی: ۳۴۸۷)-

۵) ابوداود کتاب المناسک باب الدعاء فی الطواف : ۱۸۹۲،وسنده حسن ابن ماجة: ۲۹۵۷،)

۶) حاکم: ۲۷۷/۲،)-

Scanned with CamSc

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ فَمَنْ
	او یادکړئ الله	په ورځو شمار کښې	نوهغه چاچې
	اودشمیرپه دغه ورځو کښې (چه د حج ورځې دی) الله یادوئ نوځوک
تَعَجَّلَ فِيْ يَوْمَيْنِ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۚ وَمَنْ تَاَخَّرَ فَلَآ اِثْمَ عَلَيْهِ ۙ
تلواراوکړه|په دوو ورځو کښې	نو نشته ګناه	په هغه باند	اوهغه څوک	چې روستو پاتې شو|نو نشته ګناه	په هغه باند
چې په دوه ورځو کښې مخکښې واپس شی |نوهیڅ ګناه پرې نشته| اوڅوک چې دوه ورځې روستو ایسار شی نو هم هیڅ حرج نشته
لِمَنِ اتَّقٰى ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ
دابې ګناهی هغه چاله ده|چې پرهیزګاری ئې کړې وی په دې ورځوکښې|اوڅان ساتئ دنافرمانئ دالله نه
په دې شرط چې دغه ورځې ئې په پرهیزګارئ کښې تیرې کړې وی |اودالله دنافرمانئ نه ځان اوساتئ
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ۝
او پوهه شئ چې	بیشکه تاسو به	هغه ته	ورغونډ یږئ	
اودا یاد لرئ چې یوه ورځ به تاسودهغه په وړاندې راجمع کیږئ

قوله تعالی:- وَاذْكُرُوا اللّٰهَ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ

د ایام نه مراد:- ﴿اَيَّامٍ مَّعْدُوْدٰتٍ ؕ﴾ نه مرادایام تشریق اوایام معلومات نه مراددذی الحجه لس ورځې دی (۱)د ذکرالله نه مراد دا دې چه ایام تشریق کښې دفرض مونځونونه پس ﴿ الله اکبرالله اکبر﴾ اووائی (۲)

دایام تشریق د ورځو حیثیت:- نبی کریم ﷺ فرمائی چه دعرفه ورځ دقربانئ ورځ ده.او ایام تشریق خمونږ یعنی داهل اسلام د اختر ورځ ده.او دا ورځې د خوراك څكاك دی.(احمد).او یو حدیث کښې دی چه ایام تشریق دخوراك څكاك او دذكرالله كولو ورځې دی.(احمد) (۳).مخکښې داحدیث هم بیان شوې دې چه عرفات ټول دایساریدو ځائې دې.او ایام تشریق ټولې دقربانئ ورځې دی او دا حدیث هم مخکښې تیر شوې دې چه دمنی ورځې درې دی.د دوو ورځو تیزئ کولو باندې هیڅ ګناه نشته دې.

ابن جریر کښې یو حدیث دې چه ایام تشریق دخوراك او دالله ﷻ د ذکر ورځې دی(۴).نبی کریم ﷺ حضرت عبدالله بن خذافه اولیږلو چه هغه په منی کښې ګیرچاپیره دا آوازاوکړی چه په دې ورځو کښې دې روژه نه نیسی.داورځې د خوراك څكاك او دالله ﷻ د ذکر کولو ورځې دی.یو بل مرسل روایت کښې دومره زیاتوالئ دې خو چه په چاباندې د قربانئ په بدله کښې روژې وی نو دهغه دپاره دازیاته نیکی ده.یو بل روایت کښې دی چه دا اواز کونکې بشیر بن سحیم ﷺ وو(۵).حضرت علی ﷺ د نبی کریم ﷺ په سپینه خچره باندې سور شو اوشعب انصار کښې اودریدل او دا حکم ئې اوفرمائیلو چه ائې خلقو دا ورځې د روژو نه دی بلکه دخوراك څكاك او ذکر الله دی.(۶)

---

۱) قرطبی: ۳/۳)-.

۲) ابن ابی حاتم: ۲/۵٤٥)-

۳) ابوداود کتاب الصیام باب صیام ایام تشریق : ۲٤۱۹،وسنده حسن،ترمذی: ۷۷۳،نسائی: ۳۰۰۷)-.

۴) ابن جریر)-

۵) داحدیث پاک مرسل دې)-

۶) الطبری: ۳۹۱۹)-

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ایام معدوات ایام تشریق دی اودا څلور دی.لسمه ذی الحجه او دري ورځې ددې نه پس یعنی لسمې نه دیارلسمې پورې (۱)حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت ابن زبیر ﷺ، حضرت ابوموسی ﷺ،حضرت مجاهد ﷺ،حضرت سعید بن جبیر ﷺ،حضرت ابومالك ﷺ،حضرت ابراهیم رحمه الله،حضرت نخعی رحمه الله،حضرت یحیی بن ابی کثیر رحمه الله،حضرت حسن رحمه الله،حضرت قتاده رحمه الله،حضرت سدی رحمه الله،حضرت زهری رحمه الله،حضرت ربیع بن انس رحمه الله،حضرت ضحاك رحمه الله،حضرت مقاتل بن حیان رحمه الله،حضرت عطاء خرسانی رحمه الله،حضرت امام مالك رحمه الله وغیره هم دا فرمائی (۲).

د قربانئ ورځې:- حضرت علی ﷺ فرمائی چه دا دري ورځې دی،لسمه،یولسمه،او دولسمه.په دې کښې چه کله غواړئ نو قربانی کوئی.خو افضل ړومبئ ورځ ده.خومشهور قول ړومبې دې.اوقرآن کریم د الفاظ ظاهری دلالت په دې باندې دې،خکه چه د دوؤ ورځو تیزی او روستوالئ معاف دې.نو ثابت شو چه داختر نه پس دري ورځې پکار دی.او په دې ورځوکښې دالله ﷻ ذکر کول د قربانی د ذبح کولو وخت دې.اوهم دا بیان مخکښې تیر شوې دې چه راجح مذهب په دېکښې د حضرت امام شافعی رحمه الله دې چه دقربانئ وخت د اختر د ورځې نه دایام تشریق د ختمیدو پورې دې.اوددې نه مراد د مونځونو نه پس مقرر ذکر هم دې.او هسې هم عام طور دالله ﷻ ذکر مراد دې.اوددې په مقر وخت کښې د علماء کرام اختلاف دې.لیکن زیات مشهور قول چه په هغې باندې عمل هم دې دادې چه عرفه دسحر نه واخله دایام تشریق د آخری ورځې د مازیګر مونځ پورې ده.په دې باره کښې یو مرفوع حدیث هم دارقطنی کښې دې،لیکن دهغې مرفوع کیدل ثابت نه دی،والله اعلم.

ذکر نه مراد :- حضرت عمر فاروق ﷺ به په خپله خیمه کښې تکبیروئیلو او ددوی په تکبیر باندې به د بازار والوتکبیر وئیلو،تردې پورې چه دمنی میدان کښې به راوتمبیدو (۳).داشان دامطلب هم دې چه شیطان په کانړو دویشتلوپه وخت کښې دې تکبیر او ذکرالله اوکړې شی او دابه د ایام تشریق په هره ورځ وی.ابوداود وغیره کښې حدیث دې چه د بیت الله شریف طواف،صفا مروه سعی،شیطان ویشتل، دا ټول دالله ﷻ ذکر قائمولو دپاره دی (۴)ددې وجې ئې ارشاد اوفرمائیلو چه الله ﷻ نه ویریږئ اویقین ساتئ چه ستاسو پیشی به دهغه پاك ذات مخکښې کیږی.هغه ذات تاسو زمکه کښې خواره کړئی او هم هغه ذات به مو راغونډوی.بیا هم هغه ذات طرفته به راجمع کیدل وی.چه چرته هم یئ نو دهغه ذات نه ویریږئ.

وَمِنَ النَّاسِ	مَنْ
اوبعضې دخلقو نه	هغه څوك دی
اوبعضې خلق داسې دی	
يُعْجِبُكَ	قَوْلُهُ	فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا	وَيُشْهِدُ اللّٰهَ	عَلٰى
چې په تعجب کښې اچوی تا	خبری دهغه	په ژوندد دنیا کښې	اوګواه کوی الله	په هغه نیت باند
چې د دنیا په حقله بډ دهغه خبرې تاسو حیرانوی		اوستا د باور پیدا کولو دپاره	هغه الله ګواه نیسی	

---

(۱) الطبری: ٤/٢١٣)-.

(۲) ابن ابی حاتم: ٢/٥٤٧)-

(۳) صحیح بخاری کتاب العیدین باب التکبیر ایام منی : تعلیقا قبل حدیث : ٨٧٠)-

(۴) ابوداود کتاب المناسک باب فی الرمل : ١٨٨٨،وسنده حسن ترمذی: ٩٠٢)-.

Scanned with CamScanner

مَا فِيْ قَلْبِهٖ ۙ وَهُوَ اَلَدُّ الْخِصَامِ ۝ وَاِذَا

چې په زړۍ دهغه کښې دې| او په حقیقت کښې هغه | سخت | دشمن وی دحق| اوکله چې

پخپلې نیک نیتئ باندې | خو په حقیقت کښې هغه په دشمنا نو کښې غټ دشمن دې | اوهرکله

تَوَلّٰى سَعٰى فِي الْاَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيْهَا وَيُهْلِكَ

ورته واپس شی (ستا نه)| نوکوشش کوی| په زمکه کښې|دپاره ددې چې فساد اوکړی| په هغې کښې| اوتباه کوی

چې ستا د مجلس نه واپس شی| په معاشره کښې د فساد خورولو کوشش کوی| او پائمال کوی

الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ ۝ وَاِذَا قِيْلَ لَهُ اتَّقِ اللّٰهَ

فصل | اونسل |اواللہ| نه خوښوی فساد | اوکله چې| اوونیلې شی هغه ته|چې اوویریږه دالله نه

فصلونه اودنبی آدم نسل هلاکوی|اوحال دادې چې الله فساد نه خوښوی |او چې ورته اوونیلې شی چې دالله ویریږئ

اَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْاِثْمِ فَحَسْبُهٗ جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝

نیسی هغه لره|غرور دعزت| په ګناه باند |نوکافی دې هغه لره| دوزخ | اوډیرخراب | ځائې دې دآرام

نودخپلې پښتو خیال ئې په ګناه کلک ټینګ کړی نوداسې ښې لره دوزه بس دې اوهغه ډیر خراب ځائې دې

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ نَفْسَهُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ ؕ

اوځینی | دخلقونه | هغه څوک دی | چې خرڅوی| ځان خپل | دپاره دطلب| د رضا دالله|

اوبل طرفته، ځینې خلق داسې نیکان دی | چې خپل سرونه دالله درضا دپاره ورکوی

وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ۝

اوالله ډیر مهربان دې| په داسې بندګانو باندې |

اوالله پاک پخپلو نیکو بندګانوډیر مهربان دې |

قوله تعالی:- وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّعْجِبُكَ قَوْلُهٗ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

د ایت شان نزول:- سدی رحمہ اللہ فرمانی چه دا آیت د اخنس بن شریق ثقفی باره کښې نازل شوې دې.دا یومنافق سړې وو.په ظاهر کښې مسلمان وو.لیکن باطن کښې مخالف وو([1])حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی چه دا ایت د منافقانوباره کښې نازل شوې دې.چه هغوئ دحضرت خبیب او دهغوئ د ملګرو بدئ بیان کړې وې چه په رجیع کښې شهیدان شوی وو نو ددې شهداء په تعریف کښې ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْرِيْ ﴾ الخ والا آیت نازل شو او دمنافقانو مذمت باره کښې ﴿ مَنْ يُّعْجِبُكَ ﴾ والا آیت نازل شو.بعض وائی چه دا آیت عام دې.د ټولو منافقانو باره کښې او رومبې او دویم آیت دې.او دټولو مومنانو تعریف باره کښې دریم آیت دې.([2]) د حضرت قتاده رحمہ اللہ وغیره قول هم دا دې او هم دا صحیح دې.

د نوف بکالی بیان:- حضرت نوف بکالی رحمہ اللہ چه دتورات اوانجیل هم عالم وو فرمائی چه څه ددې امت

---

[1]) الطبری: ٤/٢٢٩)-.

[2]) الطبری: ٤/٢٣٠)-.

دبعضو خلقو بدئی دالله ﷻ نازل شوی کتاب کښې ګورم،مرقوم دی چه بعضې خلق ددین په حیلې سره دنیا ګټی.ددوی ژبې خو په شهدو سره خوږې دی لیکن د مصبرنه هم زیاتې ترخې دی.خلقو دپاره د چیلو څرمنې اغوندی لیکن ددوی زړونه د درندګانو په شان دی.الله ﷻ فرمائی چه آیا دوی په ماباندې جرات کوی او ماسره دهوکه کوی.زما دې په خپل ذات قسم وی چه څه به دوی باندې داسې فتنې نازل کړم بردبار خلق به هم حیران شی.قرطبی رحمه الله لیکی چه ما غور سره اوکتل نو معلومه شوه چه دا دمنافقانو وصف دې او قران پاک کښې هم دی.اووائې آیت ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ ﴾ الخ (۱).حضرت سعید رحمه الله هم چه کله دا خبره د نورو کتابونو حوالې سره بیان کړه نو حضرت محمد بن کعب رحمه الله هم دا فرمائیلی وو چه دا په قرآن پاک کښې هم دی او ددې آیت تلاوت ئې کړې وو.سعید اوونیل چه ماته معلوم دی چه دا آیت دچا باره کښې نازل شوې دې.لیکن د حکم اعتبار سره عام دې.

قوله تعالی:- وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلْبِهِ

د الله ګواه کول:- دابن محیصن رحمه الله قرات کښې ﴿ وَيُشْهِدُ اللَّهَ ﴾دې معنی به دا وی چه هغوی په خپلوژبو سره څه وائی.خوددوی د زړونوحال الله ﷻ ته معلوم دې.بل ځائې کښې ارشادفرمائی چه﴿إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ﴾ الخ.یعنی کله چې تا ته منافقان راشی اوستا دنبوت ګواهی ورکوی.الله ﷻ ته معلومه ده چه ته د هغه رسول یئ لیکن د رب ګواهی ده چه دا منافقان یقینی طور دروغژن دی.خود جمهورو قرات ﴿ وَيُشْهِدُ اللَّهَ ﴾ دې نو معنی دا شوه چه د خلقو مخکښې خودوی خپل خباثت پټوی لیکن دالله ﷻ مخکښې د دوی د زړونو کفراونفاق ظاهر دې.لکه څنګه چه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿ يَسْتَخْفُونَ مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُونَ مِنَ اللَّهِ ﴾ الخ.یعنی دخلقو نه پټوی لیکن د الله ﷻ نه نې نشی پټولې.حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا معنی بیان کړې ده چه دخلقو مخکې اسلام ظاهروی او ددوی مخکې قسمونه خوری او دوی ته باور ورکوی چه څه ددوی په ژبوباندې دی هغه ددوی په زړونوکښې هم دی.صحیح معنی د آیت دا ده. عبدالرحمان بن زید رحمه الله او مجاهد رحمه الله نه هم دا مروی دی.(۲)ابن جریر رحمه الله هم دا خوښ کړی دی.

قوله تعالی:-وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ

د((الد)) معنی:- د﴿أَلَدّ﴾معنی لغت کښې ده،سخت کوږلکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿ وَتُنذِرَ بِهِ قَوْمًا لُّدًّا ﴾ یعنی چې ته په دې قران باندې سرکشه قوم اویروې هم دا حالت دمنافقانو دې چه په خپل حجت کښې دروغ وائی اودحق نه روستوکیږی.نیغه خبره پریږدی او افتراء او بهتان لګوی او کنځل کوی .صحیح حدیث کښې دی چه دمنافق درې نښې دی(۱)کله چه خبرې کوی نو دروغ وائی(۲)کله چه وعده اوکړی نوماتوی ئې(۳)کله چه جګړې کوی نو کنځل کوی (۳).یو بل حدیث کښې دی چه دټولو نه زیات بد سړې د الله ﷻ په نیز هغه دې چه ډیرې جګړې کوی (۴)،ددې ډیر سندونه دی.

قوله تعالی:- وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا

په زمکه کښې د فساد کوشش:- بیا ارشاد فرمائی چه څنګه چه دوی خراب اقوال والا دی داشان ددوی افعال هم بدترین دی.قول خودادې لیکن فعل سراسر ددې خلاف دې.عقیده بالکل فاسده ده.

د سعی نه مراد:- دسعی نه مراد دلته قصد دې لکه څنګه چه بل ځائې کښې ارشاد فرمائی چه ﴿ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ﴾الخ.اوفرمان دې چه ﴿فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ﴾یعنی دجمعې دمونځ قصد او اراده کوئی،دلته سعی د

---

(۱) الطبری: ٤/٢٢٩)-

(۲) الطبری: ٤/٢٣٣)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الایمان باب علامات المنافق: ۳۳،صحیح مسلم: ۵۹)-

(۴) صحیح بخاری کتاب المظالم باب قوله تعالی(وهوالدالخصام) صحیح مسلم: ٢٦٦٨)-

Scanned with CamSc

منډې په معنی کښې نه ده ځکه چه مونځ دپاره منډه وهل ممنوع دي.حدیث کښې دی چه کله تاسو مونځ دپاره راځئ نو په منډه مه راځئ بلکه سکون او وقار سره راځئ.(۱)

قوله تعالی:- وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ؕ

د فصلو اوځارو تباه کول:-غرض دادي چه ددې منافقانو قصدپه زمکه کښې فساد خورول دی، کرکرونده دزمکې پیداوار او دحیوانو نسل بربادول وی.د حضرت مجاهد رحمه الله نه دا معنی هم مروی ده چه ددې خلقو د نفاق او دبدکردارپه وجه الله ﷻ باران نه وروی،چه دې سره پټو ته او ځناورو ته نقصان رسی.الله ﷻ داسې خلق چه د فساد مشران وی ناخوښوی.

قوله تعالی:- وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ ؕ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ

د نصیحت قبلولو نه تکبر کول:- دا بدکردار چه کله د وعظ په ذریعې پوهولې شی نو دوی باندې نور هم اور لګی او دمخالفت په اور کښې په ګناهونو کولوباندې راضی کیږی لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ تَعْرِفُ فِي وُجُوهِ الَّذِينَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ؕ﴾ الخ.یعنی دالله ﷻ کلام چه کله ددوی مخکې تلاوت کیږی نو داکافران غصه کیږی او په ویونکی باندې حمله کوی.واورئی او ښه واورئی ! دکفارو دپاره ځمونږ فرمان جهنم دې اودا بدترین ځائې دې.دلته هم دا فرمائی چه ددوی دپاره جهنم کافی دې یعنی سزا کښې او دا بدترین ځائې دې.

قوله تعالی:- وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ ؕ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ

د صهیب روم خریداری:-دمنافقانو مذموم خصلتونه بیانولو نه پس اوس دمومنانو تعریفونه کوی.دا آیت دحضرت صهیب بن ستان رومی ﷺ حق کښې نازل شو دې په مکه کښې مسلمان شوې وو.هر کله چه ده مدینې ته هجرت کول اوغوښتل نو کافرانو ده ته اووئیل چه مونږ تاته مال نه درکوؤ.که ته مال پریښودل غواړې نو تاته اختیار دې.ده ټول مال پریښودلواوکافرانو په دې قبضه اوکړه.ده هجرت اوکړو نوپه دې باندې دا آیت نازل شو.حضرت عمر بن خطاب ﷺ او د صحابه کرامو ﷺ یو جماعت د دوی د استقبال دپاره حره پورې راغلل اومبارکی ئې ورکړه چه تا خو ډیره ښه خریداری اوکړه.ډیر دنفع تجارت دې اوکړو.ددې په آوریدو دوی اووئیل چه الله ﷻ دې ستاسو مالونه هم نقصان نه بچ اوساتی.هرکله چه نبی کریم ﷺ لره راغلو نو نبی کریم ﷺ ورته هم مبارکی ورکړه.

قریشودوی ته ووئیلی وو چه کله ته مکې ته راغلې نو تا سره مال نه وو،دا ټول مال دې هم دلته اوګټلو .اوس دې مونږ دې مال سره نه پریږدو.نو دوی مال پریښودلو او دین ئې واخستو او د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.یوروایت کښې دا هم دی چه هرکله دوی د هجرت ارادې سره اووتل او کافرانوته معلومه شوه نو ټولو دې راګیر کړو.دوی دخپل ترکش نه غشی راوخکل او وې فرمائیل چه اې د مکې والوا تاسوته ښه معلومه ده چه څه څنګه تیرانداز یم.زما یو نښه هم خطا نه ځی.ترکومې چه دا غشې ختم نه شی نو څه به تاسو کښې سوری اوکړم.او ددې نه پس به څه تاسوسره په توره جنګ کوم.او په دې کښې هم تاسو کښې څه د چا نه کم نه یم.کله چه توره هم ماته شی نو بیا تاسو ماته راتلئ شئ او څه چه کوئ نو اوکړئی.که دا تاسو ته منظور وی نو بسم الله کنی واورئی څه تاسو ته خپل مال درکوم.دا ټول واخلئ او ما پریږدئی.نوهغوئ مال اخستلو باندې راضی شو.او دا شان دوی هجرت اوکړو.نبی کریم ﷺ ته د رسیدو نه مخکې هلته دوحی په ذریعه دا خبر رسیدلې وو،نو نبی کریم ﷺ دوی سره دملاقات کولو په وخت کښې دوی ته مبارکی ورکړه.

د ایت د عمومیت قائلین:- داکثرو مفسرینوهم دا قول دې چه دا آیت عام دې.دهرمجاهد فی سبیل الله په شان کښې دې.لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ﴾

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الاذان باب لا یسعی الی الصلاۃ:...۲۳۶،صحیح مسلم: ۶۰۲،ابوداود: ۵۷۲،ترمذی: ۳۲۷،نسائی: ۸۶۲)-

الخ.یعنی الله ﷻ دمومنانو خانونه او مالونه اخستی دی.او ددې بدله کښې نې دوی ته جنت ورکړې دې.دوی دالله ﷻ په لار کښې جهاد کوی او وهل کوی او شهیدان کیږی الله ﷻ نه زیات ریښتونې وعدې والا به بل څوك وی.نو ائې ایمان والو تاسودې اخستو خرڅولو او بدلو باندې خوشحاله شئ.هم دا لویه کامیابی ده.حضرت هشام بن عامر ﷺ چه کله دکافرو په صفونو باندې یکې تنها حمله کړې وه نو بعضو خلقو دا خلاف شرع ګڼلی وو.لیکن حضرت عمر ﷺ او حضرت ابوهریره ﷺ وغیره ددې تردید اوکړو او ددې آیت ﴿ إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ ﴾ تلاوت نې اوکړو.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	ادْخُلُوا		
اے هغه کسانو	اچی ایمان مو راوړې دې	داخل شئ		
اې مؤمنانو	په دین اسلام کښې پوره پوره	داخل		
فِي السِّلْمِ	كَافَّةً ۖ	وَلَا تَتَّبِعُوا	خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ ۚ	إِنَّهُ	لَكُمْ	عَدُوٌّ
په اسلام کښې	پوره	او تابعداری مه کوئ	دقدمونو دشیطان	بیشکه هغه	ستاسو دپاره	دشمن
شئ	.....	اود شیطان په جوړه کړې لار مه ورځئ		هغه ستاسو ښکاهر دشمن دې		
مُّبِينٌ ﴿٢٠٨﴾	فَإِن	زَلَلْتُم	مِّن بَعْدِ	مَا	جَاءَتْكُمُ	الْبَيِّنَاتُ
ښکاره دې	نوکه چرې	اوخونیدئ تاسو	روستو	دهغې نه	اچی راغلی دی تاسو ته	ښکاره دلائل
.....	کچرې ددې واضحو	دلیلونو	دراتلو نه پس	هم تاسو اوخونیدئ	(یعنی ګمراه شوئ)	
فَاعْلَمُوا	أَنَّ اللَّهَ	عَزِيزٌ	حَكِيمٌ ﴿٢٠٩﴾			
نو ښه پوهه شئ	چی الله	غالب دې	اودحکمت خاوند دې			
یادلرئ چې الله پاک په هر چا باندې غالب اوډیر دانا دې						

قوله تعالی:- يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً

د ایت شان نزول:- الله ﷻ په خپل ذات باندې ایمان راوړلو والو او د خپل نبی ﷺ تصدیق کولو ته ارشاد فرمائی چه هغوئ دې ټول احکام پوره کړی.او دټولو ممنوعاتو نه دې ځان بچ اوساتی.او په کامل شریعت باندې دې عمل اوکړی.﴿سلم﴾ نه مراد اسلام دې،اطاعت او صلح هم مراد ده.د ﴿کافة﴾ معنی د ټولونه پوره.دحضرت عکرمه ﷺ قول دې چه حضرت عبدالله بن سلام،حضرت اسدبن عبید ﷺ،ثعلبه ﷺ وغیره چه دیهودو نه مسلمانان شوی وو،هغوئ نبی کریم ﷺ ته درخواست اوکړو چه مونږ ته د خالی د ورځې د عزت او د شپې د وختونو په تورات باندې دعمل کولو اجازت راکړئی.نو په دې باندې دا آیت نازل شوچه اسلامی احکاموباندې پوره عمل کوئی.لیکن پدې کښې په دې کښې دحضرت عبدالله نوم څه صحیح نه معلومیږی،هغه د اعلی درجې عالم وو او پوره مسلمان وو.هغه ته کامل طور سره معلوم وه چه د خالی د ورځې عزت منسوخ شوې دې.ددې په خائې اسلامی اختر د جمعې په ورځ مقرر شوې دې.بیاناممکن دی چه هغه داسې خواهشونوکښې نورو سره مدد اوکړی.

بعضو مفسرینو ﴿کافة﴾ ته حال وئیلې دې.یعنی تاسو ټول په ټوله اسلام کښې داخل شئ.خو رومبئ خبره زیاته صحیح ده.یعنی دخپل وس مطابق داسلام ټول احکام اومنئ.د نبی کریم ﷺ بیان دې چه بعضې اهل کتاب د اسلام قبلولو باوجود د تورات بعضو احکام باندې عمل پیرا وو.دوی ته وئیلې کیږی چه محمدی دین کښې پوره داخل شئ،ددې هیڅ یو عمل مه پریږدئ،تورات باندې صرف ایمان لرئ.

Scanned with CamSc

قوله تعالی:- وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ

دشیطان د تابعدارئ ممانعت:- بیا فرمان دي چه دالله ﷻ اطاعت کوئی،دشیطان مه منئ:هغه تاسو ته د بدنی،بدکارئی اورب باندي د بهتان لګولو وائی.دده اودده د ډلي خواهش دي چه تاسو دوزخیان شئ. هغه ستاسو ښکاره دښمن دي.

قوله تعالی:- فَاِنْ زَلَلْتُمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ الْبَيِّنٰتُ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ

دعلم نه پس ګمراه کیدل:- که تاسود دلائلو معلومیدو نه پس بیا هم دحق نه مخ اړوئی نو په دي پوهه شئ چه رب هم په بدله اخستلو کښي غالب دي.نه څوك دهغه نه تښتدي شی،نه په هغه باندي څوك غالب کیدیشی،هغه په خپل کار جاری کولوکښي د حکمتونو خاوند دي.هغه غالب دي په خپلو نیولو کښي.هغه حکیم دي په خپل امر کښي.هغه په کافرو باندي غلبه موندونکي دي.او عذر او حجت پریکولو کښي حکمت لری.(۱)

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ
آیادوئ انتظارکوی ایس دي خیری ته
او اوس هم دوی نه منی او په دي انتظار کښي ناست دی
يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَقُضِيَ الْاَمْرُ ؕ
چي راشی دوئ ته	الله	په سورو د وریځو کښي	او فریښتي هم	اوفیصله شی دکار	
چي الله پاک ورته درویځي د چت لاندي دفریښتو په مینځ کښي راشی	اوټوله خبره خلاصه شی
وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝
او الله ته به هسي هم	اواپس کیږی	ټول معاملات	
اواخرنۍ هسي هم ټولي معاملي هغه ته پیش کیږی	

قوله تعالی:- هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ

دالله د عذاب انتظار:- په دي آیت کښي الله ﷻ کافروته زورنه تنبیه ورکوی چه آیادوی دقیامت انتظار کوی چه په کومه ورځ به حق سره فیصلي کیږی او هر سړی ته به دخپلوکړومطابق بدله ملاویږی لکه بل ځائي کښي ارشاددي چه﴿كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ﴾ الخ.هرکله چه زمکه ریزي ریزي والوزی او ستا رب پخپله راشی او فرښتي په صفونو کښي اودریږی اوجهنم هم راوستلي شی،په دغه ورځ به داخلق عبرت او نصیحت حاصل کړی.خود هغي نه بیا څه فائده ؟ بل ځائي کښي ارشاد فرمائی چه ﴿هَلْ يَنْظُرُوْنَ إِلَّا أَنْ تَأْتِيَهُمُ الْمَلَائِكَةُ﴾ الخ.یعنی آیادوی ددي خبرې په انتظار کښي دی چه دوی ته به فرښتي رازی یا پخپله الله ﷻ به دوی ته راشی،یا د هغه بعضي نښي به راشی،که دا اوشو نو بیا نه د ایمان څه فائده شته دي او نه داعمالو وخت دي.

د نبی کریم شفاعت کول:- امام جریر رحمه الله دلته یو اوږد حدیث لیکلي دي چه په هغي کښي د صور وغیره تفصیلی بیان دي.اودهغي راوی حضرت ابوهریره رضی الله عنه دي.مسند وغیره کښي دا حدیث دي،په هغي کښي دی چه کله خلق اوویریږی اوپاسی نونبیانو علیهم السلام نه دیه شفاعت طلب اوکړی. حضرت آدم علیه السلام نه واخله ته یو یو پیغمبر علیه السلام ته به ورځی او دهغه ځائي نه ورته صفا جواب ملاویږی

(۱) ابن ابی حاتم: ۵۹۱/۲)-

.تردې پورې چه نبی کریم ﷺ ته به راشی.نبی کریم ﷺ به جواب ورکړی چه څه تیار یم،هم څه ددې اهل یم، بیا به نبی کریم ﷺ لاړ شی او دعرش لاندې به سجده اوکړی او الله ﷻ ته به سفارش اوکړی چه هغه د بندګانو په مینځ کښې فیصله کولو دپاره تشریف راوړی.

میدان حشر لکیدل:- الله ﷻ به ددوی شفاعت قبول کړی او هلته به د وریځو سیورنی جوړ شی.د دنیا آسمان به مات شی.اودهغې ټولې فرښتې به راشی.بیا به دویم هم مات شی اودهغې فرښتې به هم راشی.داشان اووه واړه آسمانونه به مات شی او دهغې فرښتې به راشی.بیا به الله ﷻ دعرش نه راکوز شی او بزرګې فرښتې به نازلې شی.او پخپله هغه جبار الله ﷻ به تشریف راوړی.

د قیامت په ورځ دفرشتو تسبیح:- ټولې فرښتې به په تسبیح کښې مشغولې شی.هغه وخت کښې به دهغوئ تسبیح دا وی چه ﴿ سبحان ذي الملك والملكوت سبحان ذي العزة والجبروت سبحان الحي الذي لا يموت سبحان الذي يميت الخلائق ولا يموت سبوح قدوس رب الملائكة والروح سبوح قدوس سبحان ربنا الاعلى سبحان ذي السلطان والعظمة سبحانه سبحانه ابدا ابدا﴾ (۱)حافظ ابوبکر ابن مردویه رحمه الله هم ددې آیت په تفسیر کښې ډیر احادیث راوړی دی خوپه هغې کښې غرابت دې،والله اعلم.

د الله ﷻ دفیصلې دپاره راتلل: په هغې کښې یو دادې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ به ټول مخکی روستی راجمع کړی.چه دهغې وخت مقرردې،هغوئ به ټول په ټوله اودریږی.سترګې به نې فیصلې ته نیولی وی.هر یو به د فیصلې په انتظار کښې وی.الله ﷻ به د وریځې په سیوری کښې د عرش نه کرسئ ته نزول اوفرمائی.(۲)

الله او فرشتې به د وریځې په سیوری کښې نازلیږی:- ابن ابی حاتم کښې دی عبدالله بن عمرو ﷺ فرمائی کوم وخت کښې چې الله ﷻ نزول اوفرمائی نود مخلوق اودهغه په مینځ کښې به د نور اویازره پردې وی اوداوبو پردې به وی اود اوبو نه داسې آواوزنه راځی چه هغې سره به زړونه ویریږی.

زهیر بن محمد رحمه الله فرمائی چه هغه د وریځو سیورې به د یاقوتو جړه وی او دجوهرو او زبرجدو پشان آوازونه به تري رازی.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه دا وریځې به عامې وریځې نه وی بلکه دا به هغه وریځې وی چه کومې دبنی اسرائیلو په سرونو باندې په وادی تیه کښې وې.ابوالعالیه رحمه الله فرمائی چه فرښتې به هم د وریځو په سیوروکښې راځی.او الله ﷻ چه څوک غواړی نو هغه به راولی.په بعضو قراتونوکښې داسې هم دی چه ﴿ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيَهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظُلَلٍ مِّنَ الْغَمَامِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ ﴾ لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿ وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا ﴾ یعنی په هغه ورځ به آسمان د په وریځو سره اوشلیږی او فرښتې به نازلې شی.

سَلْ	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	كَمْ					
تپوس اوکړه	دبنی اسرائیلونه	چی څومره					
دبنی اسرائیلونه تپوس اوکړه چې څومره							
اٰتَيْنٰهُمْ	مِّنْ اٰيَةٍ	بَيِّنَةٍ	وَمَنْ	يُّبَدِّلْ	نِعْمَةَ اللّٰهِ	مِنْ بَعْدِ	
ورکړی دی مونږ هغوئ ته	نښې	څرګندې	وهغه څوک	چې بدلوی	نعمت دالله	روستو دهغې نه	
سرګندې نښې مونږ هغوئ ته رالیږلی دی	اوداتپوس تري هم اوکړه	چې څوک دالله ورکړی نعمتونه بدل کړی					

(۱) ابن جریر : ٤٠٤٢)-

(۲) الحاکم: ۳۸/۲ وسنده حسن)-

مَا جَآءَتْهُ	فَإِنَّ اللّٰهَ	شَدِيْدُ	الْعِقَابِ ۝	زُيِّنَ
چې راغلې وی هغه ته	انوبیشکه چې الله	سخت	عذاب ورکونکې دې	ښائسته کړې شوې دې
نوبیشکه الله ﷻ په عذاب ورکولوکښې ډیر سخت دې	.....			ښائسته شوې دې

لِلَّذِيْنَ	كَفَرُوا	الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا	وَيَسْخَرُوْنَ	مِنَ الَّذِيْنَ
هغه کسانوته	چې کفر ئې کړې دې	ژوند ددنیا	اوټوقې کوی	په هغه کسانو پورې
کافردانوته	ژوند د دنیا		او ننورخ هغوئ ټوقې کوی	په

اٰمَنُوْا	وَالَّذِيْنَ	اتَّقَوْا	فَوْقَهُمْ	يَوْمَ
چې ایمان ئې راوړې دې	خو هغه خلق	چې ځان ئې اوساته دکفرنه دپاسه به وی	په هغوئ	په ورځ
مؤمنانوپورې	او دغه پرهیزګاران	به دهغوئ نه د قیامت په ورځ (په درجو کښې) پورته وی		

الْقِيٰمَةِ ؕ	وَاللّٰهُ	يَرْزُقُ	مَنْ	يَّشَآءُ
دقیامت	اوالله	رزق ورکوی	هغه چاته	چې خوښه ئې شی

بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝	
بې حسابه	

(اوپه دنیاخو) الله پاک چې چاته غواړی نوبې حسابه رزق ورکوی (دمومن اوکافر فرق نه کوی)

قوله تعالی:- سَلْ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ كَمْ اٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ اٰيَةٍۭ بَيِّنَةٍ ؕ

د بنی اسرائیلو احسان هیرول او د صدقه کولو بدله: الله ﷻ بیان فرمانی چه اوګورئی بنی اسرائیلوته ما ډیری معجزې اوخودلې، دحضرت موسی ﷺ دلاس همسا ،دهغه دلاس رنړا ،دهغوئ دپاره د دریاب شلیدل، په هغوئی باندې په سخته ګرمئ کښې باران ورول او من وسلوی نازلول وغیره وغیره، ددې نه ښکاره معلومیده چه زه مختار فاعل کل یم، او زما د نبی حضرت موسی ﷺ نبوت ښکاره تصدیق وو.

قوله تعالی:- وَمَنْ يُّبَدِّلْ نِعْمَةَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ

د بنی اسرائیلو ناشکری:- خودې خلقو زما د نعمتونو کفر ناشکری اوکړه او د ایمان راوړلو په ځاني دوې کفر اوکړو نو دوی به زما د عذابونو نه څنګه بچ کیږی ؟ هم دا خبر د قریشو دکافرو باره کښې هم بیان شوې دې. ارشاد کیږی چه ﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ بَدَّلُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ كُفْرًا﴾ الخ. آیاتاسو هغه خلق اونه کتل چه هغوئ دالله ﷻ نعمت په کفر سره بدل کړو او خپل قوم ئې د هلاکت کور یعنی دجهنم پشان بدترین ځاني ته اورسول.

قوله تعالی:- زُيِّنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَيَسْخَرُوْنَ مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۘ

دنیا سره د محبت مذمت:- بیان فرمانی چه داکفار صرف په دنیاوی ژوند پسې لیونی دی. مال جمع کول اوداالله ﷻ په لارکښې خرچ کولو نه بخل کول هم ددوی رنګ دی. بلکه کوم ایماندار چه ددې دنیا نه ماړه دی اوداالله ﷻ درضا دپاره خپل مالونه خرچ کوی، نو دا (کافران) دهغوئ پورې خندا ګانې کوی. خوحقیقی نصیب والا هم دا خلق دی. دقیامت په ورځ چه به ددې خلقو مرتبې اوګوری نو د کافرانو سترګې به اوغړیږی، په هغه وخت کښې به په خپلې خرابئ او بدنصیبئ باندې پوهه شی. روزی ورکول چه الله ﷻ څومره اوغواړی نو ورکوی، چه چاته اوغواړی بې حسابه ورکوی بلکه چه چاته اوغواړی نو دلته هم ورکوی او بیا هلته هم.

Scanned with CamSc

دالله په لار کښې د خرچ فضیلت:- حدیث شریف کښې دی چه انې بنی ادم ! ته زما په لار کښې خرچ کړه،څه به تاته درکوم.(۱)نبی کریم ﷺ حضرت بلال ؓ ته اوفرمائیل چه دالله ﷻ په لار کښې خرچ کوه او دعرش والا نه دتنګئ ویره مه کوه.(۲)قران پاك کښې دی چه ﴿ وَمَآ اَنْفَقْتُمْ مِّنْ شَیْءٍ فَهُوَ یُخْلِفُهٗ ﴾ تاسو چه څه خرچ کړې د هغې بدله به الله ﷻ تاسو ته درکوی.

هرصبا د فرشتې راکوزیدل:- صحیح حدیث کښې دی چه هر سحر دوه فرښتې راکوزیږی،یو دعا کوی انې الله ﷻ ستا په لار کښې خرچ کولو والو ته برکت ورکړه،دویمه وائی چه انې الله ﷻ دبخیل مال لره برباد کړې (۳).

د انسان د نظر دهوکه:-اوحدیث کښې دی چه انسان وائی چه زما مال زما مال زما مال،حالانکه ستا مال هغه دې چه کوم تا اوخوړو،هغه خو فنا شو،او چه کوم تاواغوستلو هغه زوړشو،خو چه کوم دې صدقه کړو هغه تا باقی اوساتلو.دهغه سوا چه څه دی هغه به ته دنورو دپاره روستو پریږدې او لاړبه شې.(۴)مسند احمد کښې حدیث دې چه دنیا دده کور دې،چه دچا کور نه وی دنیا دهغه کور دې.چه د چا مال نه وی ددنیا دپاره مال جمع کوی چه دچا عقل نه وی.(۵)

كَانَ النَّاسُ	
په اول کښې وو ټول خلق	
اول اول خلق	
أُمَّةً وَّاحِدَةً ۟ فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۪ وَاَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتٰبَ	
ټولې یو | نو رااولیږل الله | پیغمبران زیږې ورکونکی| اویرونکی | او نازل ئې کړو| دهغوئ سره| کتاب	
په یولارروان وو | اوالله پیغمبران راولیږل چې زیږې ورکونکی اوویرونکی وو اوهغوئ سره ئې کتاب نازل کړې وو	
بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيْمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ ؕ	
په حق سره|دپاره ددې چې فیصله اوکړئ| په منځ دخلقو کښې |په هغه کار کښې|چې اختلاف کړې دې هغوی| په هغې کښې	
په حق سره | چې د خلقو د اختلافاتو په باره د هغوی په مینځ کښې (په انصاف سره) فیصلې اوکړی	
وَمَا اخْتَلَفَ فِيْهِ اِلَّا الَّذِيْنَ اُوْتُوْهُ مِنْۢ بَعْدِ	
اواونۀ کړواختلاف| په هغې کښې|مګر |هغه کسانو |چې ورکړې شوې ووٗ هغوئ ته دغه دحق علم| روستو	
او په دې کښې(عامیانونه)بلکه هغه چااختلاف شروع کړې وو چې کتاب ورته ورکړې شوې وو د	
مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۚ فَهَدَى اللّٰهُ	
دهغې نه چې راغلی وو هغوئ ته|روښانه هدایت| صرف د زیاتی کولو په وجه| په خپل منځ کښې| نواوښودله الله	
سرکنده دلیلونود راتلو نه پس | په خپل مینځ کښې د حسد په وجه |نو الله لار اوخودله	

---

(۱) صحیح بخاری کتاب النفقات باب فضل النفقه علی لاهل : ۵۳۵۲،صحیح مسلم: ۹۹۳)-

(۲) الطبرانی : ۱۰۲۰،وسنده للحدیث شواهد ضعیفه فی الصحیحة للالبانی: ۲۶۶۱)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الزکوة قول الله تعالی (فامامن اعطی واتقی): ۱۴۴۲،صحیح مسلم: ۱۰۱۰)-

(۴) صحیح مسلم: کتاب الزهد بآب الدنیا سجن المومن: ۲۹۵۸)-

(۵) احمد: ۷۱/۶)-

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ مِنَ الْحَقِّ بِاِذْنِهٖ ؕ

هغه کسانو ته اچی ایمان ئې راوړو| هغه لاراچی اختلاف کړي وو خلقو اپه هغې کښې| چه حقه لارده حکم خپل سره

په خپل حکم سره په اختلافی خبرو کښې هغه چاته چې ایمان نې راوړي وو|.....

وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

اوالله ښائی| هغه چاته| چی غواړی| نیغه لار |

اوچاته چه الله اوغواړی نوهغوئ په سمه لار روان کړی|

قوله تعالی:- كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۟

تول خلق یو امت وو:- دحضرت ابن عباس ﷺ بیان دې چه دحضرت نوح ﷺ او حضرت آدم ﷺ په مینځ کښې لس زمانې وې.ددې زمانو خلق دحق او دشریعت پابند وو.بیا اختلاف شروع شو.نو الله ﷻ نبیان علیهم السلام راالیږل شروع کړل.بلکه ددې قرات داشان هم دې چه ﴿ كَانَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۟ فَبَعَثَ اللّٰهُ النَّبِيّٖنَ مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۪ وَبَعَثَ﴾ الخ (۱)دحضرت ابی بن کعب ﷺ قرات هم دادې (۲)حضرت قتاده ﷺ ددې تفسیر داشان کړې دې چه کله په دوی کښې اختلاف پیدا شو نو الله ﷻ خپل رومبې پیغمبر اولیږلو یعنی حضرت نوح ﷺ.حضرت مجاهد هم دا فرمانی.(۳)

حضرت ابن عباس ﷺ نه یو روایت مروی دې چه مخکې تول په ټوله کافروو.لیکن اول قول د معنی او سند اعتبار سره زیات صحیح دې.نو دې پیغمبرانو ایمان والو ته زیری ورکړل.او کومو چه ایمان نه وو راوړې هغوئ ئې ویرول.هغوئ سره دالله ﷻ کتاب هم وو چه د خلقو د هر اختلاف فیصله قانون الهی سره اوکړې.خوددې دلائلو نه پس هم صرف پخپلو کښې حسداوبغض،تعصب اوضداو نفسانیت په وجه بیاپه کښې اتفاق رانغلو.خوایماندار پوهه شو اوددې اختلاف دچکرنه اووتل او په نیغه لار روان شو.

امت محمدی به د اخری باوجود اول جنت ته ځی:- حضرت رسول الله ﷺ فرمانی چه مونږ دنیا ته دراتلو اعتبار سره خو دټولو نه روستو یو خو دقیامت په ورځ به جنت ته دتلو اعتبار سره د ټولو نه مخکښې یو.اهل کتابو ته الله ﷻ کتاب الله ځمونږ نه مخکې ورکړې وو.مونږ ته دې نه پس راکړې شو.خو هغوئ په دې کښې اختلاف اوکړو او الله ﷻ ځمونږ رهنمائی اوکړه.

د امت محمدی د هدایت کارونه:- ①د جمعې دې ورځې په باره کښې هم په دوی کښې اختلاف وو لیکن مونږته داهدایت نصیب شو.تول اهل کتاب پدې لحاظ سره ځمونږ نه روستو دی،جمعه ځمونږ ده،هفته دیهودو ده،او اتوارا دنصرانیانو(۴).②زید بن اسلم ﷺ فرمانی چه دجمعې نه علاوه دقبلې باره کښې هم دا اوشو.نصرانیانو مشرق لره قبله جوړه کړې وه.یهودو بیت المقدس لره.او امت محمدیه کعبه قبله مقرر کړه.③داشان په مونځ کښې هم،په هغوئ کښې د بعضوکتابونو کښې رکوع شته دې او سجده نشته دې،بعضو کښې سجده شته دې رکوع نشته دې.بعضې په مونځ کښې خبرې کوی،بعضې پکښې ګرزی.خود امت محمدیه مونځ سکون او وقار والا دې.نه په کښې خبرې کوی او نه په کښې ګرزی.داشان په روژو کښې هم اختلاف اوشو او په هغې کښې هم امت محمدیه ته هدایت نصیب شو.

---

(۱) حاکم ۲/۵٤٦،)-.

(۲) الطبری: ٤/۷۸)-

(۳) عبدالرزاق: ۱/۷۲)-

(٤) صحیح بخاری کتاب الجمعة: باب فرض الجمعة : ۱۸۷٦،صحیح مسلم: ۸۵۵)-

Scanned with CamSc

په هغوئ کښې خو بعضې د ورځې څه حصه کښې روژه ساتی او بعضې ډلې څه قسمه خوراکونه پریږدی،خو خمونږ روژه هرقسمه کامله ده.او په دې کښې حق لاره خودلې شوې ده.③دا شان دحضرت ابراهیم ﷺ باره کښې یهوداووئیل چه هغه یهودی وو،نصرانیانو اووئیل چه هغه نصرانی وو لیکن دراصل هغه مسلمان وو.نو په دې باره کښې هم خمونږ رهبری اوشوه.او دخلیل الله ﷺ متعلق مونږ ته صحیح خیال راورسیدلو.⑤حضرت عیسی ﷺ لره هم یهودو په دروغه اوګنړلو.اوددوی دمور بی بی متعلق ئې بدکلامی اوکړه.نصرانیانو دوی ته دالله ﷻ خوئې اوونیلو،لیکن مسلمانان ددې کمې زیاتې نه بچ کړې شو.او دوی ئې روح الله او کلمة الله او نبی برحق اومنلو.(۱)

ربیع بن انس رحمه الله فرمائی چه مطلب دا دې چه څنګه په شروع کښې خلق ټول په ټوله د رب واحد دعبادت کولو او دنیکو عاملان او د هرې بدنی نه پرهیزګاران وو،په مینځ کښې په کښې اختلاف راپیداشو.نودا آخری امت ئې د اول امت په شان داختلاف نه یو طرفته کړواو په صحیح لارې روان کړو دا امت به په نورو امتونوباندې ګواه وی.تر دې پورې چه دحضرت نوح ﷺ په امت به هم دوی ګواهی ورکوی.دقوم هود،قوم صالح،قوم شعیب،اود آل فرعون حساب کتاب به هم ددوی په ګواهئ باندې کیږی.هغوئ به اووائی چه دې پیغمبرانو تبلیغ اوکړو اودې امتونو تکذیب اوکړو.حضرت ابی بن کعب ﷺ قرات دې چه ﴿ولیکونوشهداءعلی الناس یوم القیامة﴾الخ.مخکې دالفظ هم دې چه ﴿والله یَهْدِیْ﴾.ابوالعالیه رحمه الله فرمائی چه په دې آیت کښې ګویا حکم دې چه شك نه،ګمراهئ نه او فتنونه بچ کیدل پکار دی.داهدایت دڅرب علم او رهبرئی سره اوشو.چه چاته اوغواړی نو استقامت ورته ورکړی.

د هدایت سوال:- بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت نبی ﷺ چه به کله دشپې تهجدو دپاره پاسیدلو نودادعابه ئې کوله چه :﴿اللهم رب جبریل ومیکائیل واسرافیل فاطرالسموات والارض عالم الغیب والشهادة انت تحکم بین عبادك فیما کانوفیه یختلفون اهدنی لما اختلف فیه من الحق باذنك انك تهدي من تشاءالی صراط مستقیم﴾ (۲)یعنی ائې الله ﷻ ! دجبرئیل،مکائیل او اسرافیل ربه،ائې دآسمانونو او زمکې پیدا کولووالا،ائې دپټو او ښکاره (رازونو) پیژندو والا الله!هم ته دخپلو بندګانو په خپلو کښې داختلاف فیصله کوې،زما دعا ده چه په کوم څیز کښې دوی اختلاف اوکړی نو ماته په هغې حقه خبره رااوښایه،ته چه چاته اوغواړې نو نیغه لار ورته ښائې.

د هدایت دویمه دعا:- د نبی کریم ﷺ نه یو دعا دا هم منقول ده چه :﴿اللهم ارنا الحق حقا وارزقنا اتباعه وارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه ولا تجعله ملتبسا علینا واجعلنا للمتقین اماما﴾.یعنی ائې الله ! مونږ ته حق حق اوښایه،او ددې تابعداری راته نصیب کړه،او باطل راته باطل اوښایه،او ددې نه مو بچ کړې هسې نه چه مونږ حق او باطل کښې ګډوډ شواومونږاوخوئیږو.ائې الله ﷻ ازمونږ دپاره نیکان،پرهیزګارخلق پیشوایان جوړ کړې

أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ						
آیا ګمان کوئ تاسوچی تاسویه ننوخئ جنت ته						
استاسودا خیال دې چې جنت ته به داخل شئ						
وَلَمَّا	يَأْتِكُمْ	مَثَلُ	الَّذِينَ	خَلَوْا	مِنْ قَبْلِكُمْ ط	
اوحال دا چی نه ئی راغلی په تاسوباند	سختیانې په شان	دهغه کسانو	چی تیرشوی دی	مخکښې ستاسونه		
اوتراوسه پورې درباندې هغه شان سختئ نه دی تیرې شوې	څنګه په پخوانوخلقو تیرې شوې وې					

(۱) الطبری: ۲۸٤/٤)-.

(۲)صحیح مسلم: کتاب صلاة المسافرین باب الدعاء فی صلاة اللیل: ۷۷۰.ابوداود: ۷۶۷،ترمذی: ۳٤۲۰،نسائی: ۱۶۲۶،ابن ماجة: ۱۳۵۷)

مَسَّتْهُمُ	الْبَأْسَآءُ	وَالضَّرَّآءُ	وَزُلْزِلُوْا حَتّٰى	يَقُوْلَ الرَّسُوْلُ وَالَّذِيْنَ
چې رسيدلى وې هغوئ ته	سختئ	اومصيبتونه	اوجړقولې شوتردې چې	اونيل رسول	اوهغه کسانو
په هغوئ دومره سختى اوداسې مصيبتونه راغلى وو او جړقولې شوې وو	چې(دهغه وخت)پيغمبر			

اٰمَنُوْا	مَعَهٗ	مَتٰى نَصْرُ اللّٰهِ ؕ	اَلَآ اِنَّ نَصْرَ اللّٰهِ	قَرِيْبٌ ۝
چې ايمان ئې راوړې وو	دهغه سره	کله به وى مدد دالله	واورئ چې مدد دالله	نزدې دې
اودهغه ايمانداروملګر به چغې کړې چې دالله مدد به کله راځى خبر شئ چه دالله پاک مدد ډير نزدې دې				

قوله تعالى:- اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَاْتِكُمْ مَّثَلُ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ ؕ

په ايماندارو امتحانونه:- مطلب دادې چه د آزمښيت او امتحان نه مخکې دجنت خواهش صحيح نه دې. دمخکو ټولوامتونو امتحان هم واخستلې شو.په هغوئ هم بيمارئى اومصيبتونه راغلل.د﴿بَأْسَآءِ﴾ معنى ده فقيرى(۱)او د﴿ضَرَّآءِ﴾ معنى ده بيمارى.﴿زُلْزِلُوْا﴾ د دښمنانو ويره دومره شوه چه غريبانانو رپيدل.په دې ټولو سختو امتحانونو کښې هغوئ کامياب شو او د جنت وارثان شو.

د اسلام د غلبې پيشګوئى:- صحيح حديث کښې دى چه يو ځل حضرت خباب بن ارت ﷺ اوفرمائيل چه يارسول الله ﷺ تاسو ځمونږ د امداد دعا نه کوئى ؟ نبى کريم ﷺ اوفرمائيل چه بس اوس نه ويريدلې يې.واوره،ستاسو نه مخکې موحدين نيولې شوى وو او د هغوئ په سرونوباندې آرې رابنکلې شوى دى.او څيرې کړې شوى وو او دوه ټکړې شوى وو.خو بيا هم هغوئ د توحيد نه واونړيدل.د اوسپنې په ږمنځو سره د هغوئ نه څرمنې اوبنکلې شوې خو بيا ئې هم دالله ﷻ دين پرې نښودو.په الله ﷻ مې دې قسم وى چه هغه پاك ذات به زما دا دين دومره پورته کړى چه د صنعاء نه واخله تر حضرموت پورې سفر به هر سړې بغير ويرې کوى.او ده ته به سوا دالله ﷻ نه د بل چا ويره نه وى.البته زړه کښې داخيال کيدل خو بله خبره ده چه هسې نه زما چيلو باندې شرمخ راشى،ليکن افسوس چه تاسو تيزى کوئى.(۲)

قران پاك کښې صحيح هم دا مضمون په بل ځاني کښې بيان شوې دې چه ﴿أَحَسِبَ النَّاسُ أَن يُتْرَكُوا﴾ الخ. آيا خلقو داګنړلې ده چه هغوئ صرف دايمان په اقرار کولو سره پريښودې شى او په دوى باندې به آزمينښت نه وى،مونږ په مخکو (خلقو) باندې هم آزمينښت اوکړو.ريښتونى او دروغژن به حققيت کښې بيل بيل کړو.نوداشان د صحابه کرام ﷺ پوره آزمينښت يوم الاحزاب کښې يعنى جنګ خندق کښې اوشو.لکه څنګه چه قران پاك پخپله ددې نقشه رابنکلې ده،فرمان دې چه ﴿إِذْ جَاءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ﴾ الخ.يعنى کافرو چه تاسو لره د پورته نه او روستو نه گير کړئى،او سترګې مو اوبريښيدلې ،زړونه مو ويريدل اوالله ﷻ سره موګمان اوکړو.په دې ځائې کښې دمومنانوپوره آزمښيت اوشواوښه پوره نچونږ کړې شو.اومنافق و کمزورى ايمان والواووئيل چه انې دالله اود رسول ﷺ وعدې خوصرف غرور وې.

د هرقل قول:- هرقل چه کله د ابوسفيان نه دهغه د کفر په حالت کښې تپوس کړې وو چه ستاسو څه جنګ هم دې دنبوت دعويدار سره شوى دې.ابوسفيان اووئيل چه آو.تپوس ئې ترې اوکړو چه څه رنګ وو.وې وئيل چه کله مونږ غالب وو او کله هغه.نو هرقل اووئيل چه دنبيانو عليهم السلام هم داشان آزمينښت کيږى.خوآخرى غلبه هم دهغه خلقو وى.(۳)

---

(۱) ابن ابى حاتم: ۲/۲۱۶)-

(۲) صحيح بخارى كتاب المناقب باب علامات النبوة ل الاسلام: ۳۶۱۲)-

(۳) صحيح بخارى كتاب الجهاد بآب قول الله (قل هل تربصون بنا...) ۲۸۰٤،صحيح مسلم: ۱۷۷۳)-

Scanned with CamSc

د مثل معنی دطریقې ده.لکه بل خائې کښې فرمائی چه ﴿ فَأَهْلَكْنَاهُمْ بِذُنُوبِهِمْ وَأَغْرَقْنَا آلَ فِرْعَوْنَ ﴾ مخکې مومنانو سره دخپلو نبیانو په داسې وخت کښې د الله ﷻ نه مدداوغوښتلو اودسختئ اوتنګئ نه نجات اوغوښتلو.نو هغوئ ته جواب ملاؤ شو چه امداد ډیر نزدې دې.لکه بل خائې کښې فرمائی چه ﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾ یقینی طور سختئ سره آسانی ده.بدئی سره بدی ده.یو حدیث کښې دی چه بنده کله ناامیده شی نو الله ﷻ تعجب کوی چه زما مدد راورسیدو والا دې او دې ناامیده کیږی.نو الله ﷻ ددوی جلدبازی او دخپل رحمت په نزدې والی باندې خاندی.

يَسْـَٔلُونَكَ	مَاذَا	يُنفِقُونَ ۖ	قُلِ	مَآ أَنفَقْتُم
دا خلق تپوس کوی ستانه	چی څه څیز	خرچ کړی هغوئ	اورته اووایه	څه چی خرچ کوئ تاسو
(انې زما محبوبه!) ستانه خلق تپوس کوی چې څه خیرات کړو	ورته اووایه چې هرڅه دخپل وس مطابق په			
مِّنْ	خَيْرٍ فَلِلْوَٰلِدَيْنِ	وَٱلْأَقْرَبِينَ	وَٱلْيَتَٰمَىٰ	وَٱلْمَسَٰكِينِ
دمال نه	نوخرچ کړئ دپاره دمور پلار	اودپاره درشته دارانو	اودپاره دیتیمانو	اودپاره دمسکینانو
خیرات کښې ورکوئ	نو مورپلار،.....خپلوخپلوانو،.....یتمیانو.....مسکینانو			
وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ ۗ	وَمَا تَفْعَلُوا	مِنْ خَيْرٍ	فَإِنَّ ٱللَّهَ	بِهِۦ عَلِيمٌ ۝
او دپاره دمسافرانو	اوهغه چی کوئ تاسو	د نیکئ نه	نوبیشکه الله	په هغې خبردې
اومسافروته ئې ورکوئی	اوتاسو چې دنیکئ په غرض څه ورکوئی نوهغه الله ته معلوم وی			

قوله تعالی:- يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلْ مَآ أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ

دخیرات حقدار: حضرت مقاتل رحمه الله فرمائی چه دا آیت دنفلی خیرات باره کښې دی.(۱) حضرت سدی رحمه الله فرمائی چه دا آیت د زکوة آیت منسوخ کړو.خودا قول لرډغور طلب دی.مطلب د آیت دا دی چه انې نبی ﷺ اخلق تاسو نه تپوس کوی چه هغوئ څنګه خرچ کړی.تاسو دوی ته اووائې چه تاسو هغه خلقو سره ښه سلوک اوکړئی چه دکوم بیان اوشو.حدیث شریف کښې دی چه خپلې مور سره ښه سلوک اوکړه ، اوخپل پلار سره او خپلې خور سره او خپل رور سره،بیا درجه په درجه نزدې خلقوسره.(۲)

حضرت میمون بن مهران رحمه الله چه کله دا حدیث بیان کړو نو دا آیت ئې تلاوت اوفرمائیلو.او وې فرمائیل چه هم دا خلق دی چه دوی سره مالی سلوک کول پکار دی او په دوی باندې خرچ کول پکاردی.او په دولکو،باجو،تصویرونووالو،او په دیوالونو باندې کښې اویزانده کولو والو باندې (مه خرچ کوئی).(۳)

قوله تعالی:- وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِهِۦ عَلِيمٌ

بیا ارشاد فرمائی چه تاسو کوم یو نیک کار کوئی دهغې علم الله ﷻ ته دې اوپه دې باندې بهترینه بدله به هغه پاک ذات درکوی.هغه ظلم نه کوی.

كُتِبَ	عَلَيْكُمُ ٱلْقِتَالُ	وَهُوَ	كُرْهٌ	لَّكُمْ ۖ	وَعَسَىٰٓ أَن تَكْرَهُوا
فرض کړې شوې دې	په تاسو باند	جهاد	او داحکم	ناخوښه دې	تاسو ته
تاسوته دجهاد حکم درکړې شوې دې	حال دا چه دا ستاسوناخوښه دې				اوتاسوبه یو څیزبد ګڼئ

(۱) ابن ابی حاتم: ۲/۶۱۹)-
(۲) حاکم: ۳/۶۱۱)-
(۳) ابن ابی حاتم: ۲/۶۲۰)-.

Scanned with CamScanner

شَيْئًا	وَّهُوَ	خَيْرٌ	لَّكُمْ ۚ	وَعَسٰٓى	اَنْ تُحِبُّوْا شَيْئًا	وَّهُوَ شَرٌّ
یو څیز| حالانکه هغه| بهتروی	ستاسودپاره| اوکیدې شی	چی تاسو خوښوئ یو څیز	حالانکه هغه| شروی			
....خو هغه به ستاسو دپاره بهتر وی	اوتاسو به یوڅیز خوښ کړئ خوهغه به ستاسو دپاهر بد وی					

لَّكُمْ ؕ	وَاللّٰهُ	يَعْلَمُ	وَاَنْتُمْ	لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۱۶﴾
ستاسو دپاره | او الله| پوهیږی	او تاسو|	نه پوهیږئ		
....او الله پاک ښه پوهیږی| اوتاسونه پوهیږئی|				

قوله تعالی:- كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ ۚ

د جهاد فرضیت :-داسلام دښمنانو نه دین اسلام بچ کولو دپاره دجهاد فرضیت په دې آیت کښې فرض کیږی.حضرت زهری رحمه الله فرمائی چه جهاد په هر سړی باندې فرض دې.که جنګ ته اوخی اوکه اونه خی یاناست وی.په ناستی والو باندې لازم دی چه کله ددوی نه مدد اوغوښتلې شی نودوی مدد کوی. هرکله چه دوی ته فریاداوکړې شی نو دوی فریاد آوری.هرکله چه دوی لره میدان ته راوبللې شی نو دوی راوخی.صحیح حدیث کښې دی چه کوم سړې مړشی او ده جهاد نه وی کړې او نه نې په خپل زړه کښې دجهاد اراده کړې وی نودې به د جاهلیت په مرګ باندې مری.(۱) اوحدیث کښې دی چه د فتح مکه نه پس هجرت پاتې نشو،خو د جهاد نیت موجود دې،اوکله چه تاسو ته جهاد ته دوتلو دپاره اووئیلې شی نو د جهاد دپاره اوخئ.دا حکم نبی کریم ﷺ د فتح مکه په ورځ فرمانیلې وو.(۲)

قوله تعالی:- وَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْئًا وَّهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ

په جهاد کښې ستاسو کامیابی ده:- بیا فرمائی چه تاسو باندې به دجهاد حکم کړان وی او په دې کښې به تاسوته مشقت او تکلیف وی،خکه چه ممکن ده چی تاسو قتل هم کړئی شئ.ممکن دی چه زخمی شئ بیا د سفر تکلیف اود دښمنانو ویره وغیره.لیکن په دې پوهه شئ چه ممکن دی چه تاسو به یو څیز بداوګنړئی اوستاسودپاره په هغې کښې خیر وی.خکه چه هم پدې به ستاسوغلبه وی اوددښمن شکست وی.ددوی مالونه،ددوی ملك،بلکه ددوی بچی به ستاسو قدمونوته راشی.او دا هم کیدیشی چه تاسو خان دپاره یو څیز ښه اوګنړئی او هغه ستاسو دپاره ښه نه وی.عام طور داسې کیږی انسان یو څیز لره خوښوی لیکن فی الواقع نه په هغې کښې مصلحت وی او نه په کښې خیروبرکت وی.دا شان تاسو جهاد ښه نه ګړئی لیکن په اصل کښې هغه ستاسو دپاره زبردسته کامیابی ده.خکه چه په دې سره به په دښمن غالب راشئ.او دنیا کښې به تاسو ته د قدم کیخودو ځائې هم ملاویږی.دټولو کارونود انجام علم صرف الله ﷻ ته دی.هغه ته پته ده چه کوم یو کار ستاسو دپاره د انجام لحاظ سره ښه دی.او کوم یو خراب دی.هغه د هغه کار تاسوته حکم کوی چه کوم کښې ستاسو د دوارو جهانونو بهتری وی .تاسو د هغه ذات احکام زړه سره قبول کړئی.او د هغه ذات هر حکم په خوشحالئ سره اومنئ.او هم په دې کښې ستاسو بهتری ده.

يَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ	الشَّهْرِ الْحَرَامِ	
| دا خلق تپوس کوی ستانه| په باره| دمیاشتې معززې کښې			
| ستانه خلق تپوس کوی چې د په معززو میاشتو کښې			

---

۱) صحیح مسلم کتاب الامارة ذم من مات ولم یغزو: ۱۹۱۰،بلفظ ((مات علی شعبة من نفاق) ابوداود: ۲۵۰۲،نسائی: ۳۰۹۹)-

۲) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب فضل الجهاد والسیر: ۲۷۸۳،صحیح مسلم: ۱۸۶٤،ابوداود: ۲٤۸۰،ترمذی: ۱۵۹۰،نسائی: ٤۱۷٤)-

Scanned with CamSc

قِتَالٍ فِيْهِ ؕ قُلْ قِتَالٌ فِيْهِ كَبِيْرٌ ؕ وَصَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

دجنګ کولو| په دې کښې |ورته اووایه| چې جنګ کول| په دې کښې| لویه ګناه ده|خو منع کول | دلارې دالله نه

جنګ کول ځنګه دی| ورته اووایه چې پدې میاشتو کښې جنګ کول ډیر سخت جرم دې |خودالله دلارې نه خلق منع کول

وَكُفْرٌۢ بِهٖ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ۗ وَاِخْرَاجُ اَهْلِهٖ مِنْهُ اَكْبَرُ

اوکفر کول دالله سره| او منع کول خلقو لره دمسجد حرام نه| اوویستل د وسیدونکو دحرم|دحرم نه زیاته لویه ګناه

اودالله نه انکار کول اودمسجد حرام(کعبې) لاربندول اودهغه ځاني خلق(دملک نه)شړل ډیرلوئي جرم دې

عِنْدَ اللّٰهِ ۚ وَالْفِتْنَةُ اَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ؕ وَلَا يَزَالُوْنَ يُقَاتِلُوْنَكُمْ

ده په نزدالله | او فتنه(شرک) |زیاته سخته ګناه ده |دجنګ نه|او همیشه به هغوئ |چه جنګیږی به تاسو سره

دالله په نزد(دجنګ نه) | اودا فتنه د قتل نه ډیره لویه ده| اودوی خوبه درسره برابر ترهغه وخت جنګیږی

حَتّٰى يَرُدُّوْكُمْ عَنْ دِيْنِكُمْ اِنِ اسْتَطَاعُوْا ؕ وَمَنْ

تردې پورې| چې واپس کړی تاسو|د دین ستاسو نه| که وس اورسی دهغوئ| او هغه څوک

.که وس ئې اوشی نو چې ددین (اسلام)نه مو واړوئ| اویادساتئ څوک

يَّرْتَدِدْ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَاُولٰٓئِكَ

چې واپس شو| ستاسو نه | ددین خپل نه|او هغه مړ شو | او حال دا چې هغه کافر وؤانو دغسې کسان چې دی

چه په تاسو کښې دخپل دین نه اوګرځیدو | اوبیا په حالت د کفر کښې مړشی| نو دهغوئ

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَاُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ

ضائع شول | عملونه دهغوئ | په دنیا | او په آخرت کښې| او دغه کسان| خاوندان | داور دی

عملونه په دنیااوآخرت کښې ضائع شول |.....دغه خلق دوزخیان دی

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ

هغوئ به | په هغې کښې| همیشه وی|بیشکه چې کوموخلقو| ایمان راوړې دی| او چې کومو خلقو

اوټول عمر به دوزخ کښې پراته وی|.....بیشکه چاچې ایمان راوړې دی.....اوچاچې

هَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۙ اُولٰٓئِكَ يَرْجُوْنَ

هجرت کړې دې | او جهاد ئې کړې دې | په لار دالله کښې| دغه کسان | امید لری|

دالله په لار کښې وطن پریخودې دې اوجهادئې کړې دې |.....هغوئ.....برابر امید لری

رَحْمَتَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

درحمت دالله | اوالله معاف کونکې دې|رحم کونکې دې|

دالله پاک دمهربانئ |اوالله پاک بښونکې اومهربان دې(په هغوئ به رحمتونه وروی) |

Scanned with CamSc

قوله تعالی:- يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيْهِ ؕ

د ایت شان نزول:-نبی کریم ﷺ یو جماعت اولیږلو اوددې امیر نې حضرت ابوعبیده بن جراح ؓ مقرر کړو.هرکله چه روانیدلو نو دنبی کریم ﷺ په جدائی نې اوژړل.نبی کریم ﷺ دې ایسار کړو او دده په خائې نې حضرت عبدالله بن جحش ؓ دلښکر سردار مقرر کړو.او هغوئ ته نې یو لیکلې خط ورکړو اووې فرمائیل چه تر کومې پورې بطن نخله ته اونه رسې نو دا خط مه وایه،او هلته رسیدو سره دا مضمون اووایه او خپلو ملګرو کښې هیڅوک خان سره په تلو مه مجبوروه.حضرت عبدالله بن جحش ؓ دایومختصر شان جماعت واخستلو او روان شو او هغه مقام ته اورسیدو او فرمان نبوی ﷺ نې اووئیلو او ((انا لله)) نې اووئیل او وې وئیل چه ما د نبی کریم ﷺ فرمان لره اووئیلو.او څه فرمانبرداری دپاره تیار یم.اوبیائې خپلو ملګرو ته بیان کړواو واقعه نې ورته بیان کړه.دوه سړی خو واپس لاړل.لیکن باقی ټول ورسره په تګ راضی شو.مخکې چه لاړل نو ابن الحضرمی دوی اولیدو.او دوی ته علم نه وو چه دا د جمادی الاخری آخری ورځ ده،یا درجب رومبئ ورځ ده نو دوی په هغه باندې حمله اوکړه.په دې حمله کښې ابن الحضرمی اووژلې شو.اود صحابه کرامو ؓ یو جماعت هلته نه واپس شو.اوس مشرکانو په مسلمانانو اعتراض کول شروع کړو چه اوګورنی مسلمانانو د حرمت په میاشتو کښې جنګ او قتل هم اوکړو.نو دې باره کښې دا آیت نازل شو.(ابن ابی حاتم) (۱)

د دې ډلې شرکاء:-یو بل روایت کښې دی چه پدې جماعت کښې حضرت عماربن یاسر ؓ،حضرت حذیفه بن عتبه بن ربیعه ؓ،حضرت سعد بن ابی وقاص ؓ،حضرت عتبه بن عزوان سلمی ؓ او حضرت سهیل بن بیضاء ؓ او حضرت عامر بن فهیر ؓ اوحضرت واقدبن عبدالله یربوعی ؓ وو.

د عبدالله بن جحش ؓ اعلان:- بطن نخله ته په رسیدو حضرت عبدالله بن جحش ؓ صفا فرمائیلی وو چه کوم سړې دشهادت خواهش مند وی نوهغه دې رامخکښې شی.دلته نه واپس تلونکو کښې حضرت سعدبن ابی وقاص ؓ او عتبه ؓ وو.دوی سره د نه تلو وجه داوه چه ددوی اوښ ورک شوې وو اوددې په لټون کښې پاتې شو.مشرکانو کښې حکم بن کیسان،عثمان،عبدالله وغیره وو.دحضرت واقد دلاسه عمروقتل شو او دې جماعت مال غنیمت واخستلواو واپس شو.دارومبې غنیمت ووچه مسلمان صحابه کرامو ؓ ته ملاوشو.اودا بهادر جماعت دوه قیدیان او مال غنیمت سره واپس شو.مشرکانو د مکې د قیدیانو فدیه ورکول اوغوښتل او هغوئ دا اعتراض نې اوکړو چه اوګورنی که نه د حضرت نبی ﷺ دعوی خو دا ده چه هغه د رب العالمین اطاعت ګزار دې.لیکن د حرمت دمیاشتو هیڅ حرمت نه ساتی.اود رجب په میاشت کښې جنګ جګړې کوی.مسلمانانووئیل چه مونږ رجب کښې قتل نه دې کړې.بلکه جمادی الاخری کښې مو جنګ کړې دې.حقیقت دا دې چه هغه د رجب رومبئ شپه او د جمادی الاخری آخری شپه وه.رجب شروع کیدوسره توره په خپلو میانونو کښې وې.د مشرکانو ددې اعتراض جواب په دې آیت کښې ورکولې شی چه دا ربښتیا دی چه په دې میاشتو کښې جنګ حرام دې لیکن انې مشرکانوستاسو بدئ خو په دې کښې نورې هم زیاتې دی.تاسوالله ﷻ نه انکار کوئی او زما نبی او د هغه ملګری د مسجد نه منع کوئی.او تاسو هغوئ د هغه ځائې نه اوویستل نو په خپلو بدو باندې نظر واچوئ چه دا څومره بدترین کارونه دی.هم په دې حرمت والامیاشتو کښې مشرکانو مسلمانان د بیت الله شریف نه منع کړی وو.او نبی کریم ﷺ مجبورا واپس شوې وو.راتلونکی کال کښې هم په دې حرمت والا میاشتو کښې الله ﷻ دخپل نبی ﷺ په لاس مکه فتح کړه.اودمسلمانانو پوره قبضه هلته راغله.اوس اعتراض کوی او دوی ته په دې باندې جواب ورکړې شو.عمروبن الحضرمی چه

---

(۱) ابن ابی حاتم: ۲/۶۲۸،ح/۲۰۲۲)-.

Scanned with CamSc

قتل شوې وو دې دطائف نه مکې ته راتلو.اګر چه درجب میاشت راختلې وه خو صحابه کرامو ﷺ ته معلوم نه وو.او دوی دا ګنړل چه دا جمادی الاخری آخری شپه ده.

یوبل روایت کښې دی چه حضرت عبدالله بن جحش ﷺ سره اته کسان وو.اووۀ خو هغه چه دکومو نومونه پورته بیان شو.اتم حضرت رباب اسدی ﷺ وو.دوی د بدراولی نه په واپسئ نبی کریم ﷺ لیږلی وو.داتول مهاجر وو.په دوی کښې یو هم انصاری نه وو.د دوۀ ورځو سفر نه پس د نبی کریم ﷺ خط مبارک ئې لوستلې وو.چه په هغې کښې تحریر وو چه ځمادا خط اولوله او مکې او طائف مینځ ته ورشه اوهلته ایسار شه اودقریشود قافلې انتظار اوکړه او دهغوئ خبرونه معلوم کړه او ماته ئې راوړسوه. هر کله چه دا بزرګان ددې ځائې نه روان شو نو ټول په ټوله روان شوی وو.دوه صحابه کرام ﷺ چه داوښ لټولودپاره ایسار شوی وو،هغوئ هم دلته نه ورسره روان شو.خودفرغ دپاسه معدن علاقې ته اورسیدل او نجران کښې دوی داوښانو تلاش کولوپه وجه هغوی ایسار شو.دقریشو دې قافلې سره دزیتون وغیره تجارتی سامان وو.دمشرکانو نه علاوه چه دګومو نومونه پورته بیان شو،نوفل بن عبدالله وغیره هم وو.مسلمانان مخکښې خو ددوی په کتلو سره ویریدل خو بیائې دا مشوره اوکړه که دوی پریښودې شی نو دې شپې نه پس به دحرمت والا میاشت راشی نو مونږبه بیا هیڅ اونکړې شو .دوی شجاعت او خوانمردئی سره حمله اوکړه.

د عمروبن خضرمی قتل:- حضرت واقد بن عبدالله ﷺ خو عمرو حضرمی په داسې غشی اوویشتلو چه هغه بالکل ددې دنیا نه لاړو.عثمان او حکم ئې قید کړو.اومال وغیره ئې راوړل او دحضرت نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.په لار کښې ورته دلښکر سردار وئیلی وو چه په دې مال کښې خو پنځمه حصه د الله ﷻ درسول ﷺ ده.او داحصه بیله کیخودې شوه.او باقی صحابه کرامو ﷺ باندې تقسیم کړې شو.ترهغه وخته پورې داحکم نه وو نازل شوې چه غنیمت مال نه به پنځمه حصه ویستل پکار دی. هرکله چه دالښکر دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شو نو نبی ﷺ ددوی په واقعه آوریدو سره خفه شو.او وې فرمائیل چه ما تاسو ته دحرمت په میاشتو کښې د جنګ کولو کله وئیلی وو ؟ نو تاسو خو نه د قافلې څه مال واخستواونه مویو قیدی اونیولو.د حضرت نبی ﷺ په دې قول او فعل سره مسلمان ډیرپښیمانه شول.او دخپلو ګناهونو یقین ورته اوشو.

د قریشو پیغور ورګول:-بیاورته قریشو پیغورورکول شروع کړل چه ائې محمد ﷺ تاسواو ستاسو ملګری دحرمت په میاشتو کښې هم د جنګ جګړو نه نه منع کیږی.بل طرفته یهود یو بد فال ویستلو،چونکه عمرو قتل کړې شوې وو نو هغوئ اوئیل چه ﴿ عمرت الحرب﴾ جنګ به تر ډیرې مودې پورې وی.دده دپلار نوم حضرمی وو.ددې نه دوی فال ویستلو چه ﴿ حضرت الحرب ﴾ د جنګ وخت راغلو.د قاتل نوم واقد ﷺ ور.دوی اووئیل چه ﴿ اوقدالحرب ﴾ دجنګ اور اولږیدو.لیکن قدرت ددې خلاف اوکړل.او نتیجه دټولو مشرکانو خلاف شوه.او د دوی د اعتراض په جواب کښې دا آیت نازل شو.فرض که جنګ د حرمت په میاشتو کښې هم شوې وی نو ددې نه ستاسو بدکارنی ډیرې زیاتې دی.ستاسو دا فتنه چه تاسو دالله ﷻ ددین نه دمسلمانان دمرتد کولو ډیرې هلې خلې کوئی،دا ددې قتل نه هم زیات دی.حالانکه تاسو نه ددې کارونو نه منع کیږی،او نه توبه اوباسئ او نه په دې باندې شرمیږئی.

د ایاتونو د نزول نه پس عمل:- ددې آیتونو دنازلیدو نه پس مسلمانان د غم نه آزاد شول.او نبی کریم ﷺ قافله اوقیدیان په خپله قبضه کښې واخسته.قریشوبیا نبی کریم ﷺ ته قاصداولیږلو ددې دواړو قیدیانو فدیه واخلئ.خو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه زما دواړه صحابه کرام حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ او حضرت عتبه بن غزوان ﷺ چه کله راشی نو بیا راشئ،ماته ویره ده چه هسې نه تاسو هغوئ ته تکلیف اورسوئی.هرکله چه هغوئ راغلل نو نبی کریم ﷺ فدیه واخسته او دواړه قیدیان ئې

پرینبسودل.حکم بن کیسان ﷺ خو مسلمان شو او د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې پاتې شو.او د بئر معونه په جنګ کښې شهید شو.او عثمان بن عبدالله واپس شو او هم هلته د کفر په حالت کښې مړ شو.دې غازیانو چه دا آیت مبارك واوریدو نو ډیر خوشحاله شو او ددوی غم لرې شو کوم چه د نبی کریم ﷺ د خفګان په وجه ووچه دوی دحرمت په میاشت کښې بې ادبی کړې وه،اودنورو صحابه کرام ﷺ په سترګوکښې هم ددوی عزت جوړ شواودکفارو دپیغور نه هم خلاص شو.اوس دوی سره داغم شو چه مونږته به اُخروی اجرملاویږی که نه.مونږ په غازیانوکښې شمیرلې شو که نه.هرکله چه دنبی کریم ﷺ نه داسوالونه اوشو نوددې په جواب کښې دا آیت ﴿ إِنَّ الَّذِيْنَ ﴾ الخ نازل شو (۱)او ددوی امیدونه زیات شو. داسلام او کفر مقابله کښې دټولو نه مخکښې هم دا حضرمی وژلې شوې وو.دکافرانو وفد د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو.او سوال ئې اوکړو چه دحرمت په میاشتو کښې قتل کول جائز دی که نه.په دې باندې دا آیت ﴿يَسْئَلُوْنَكَ﴾ الخ نازل شو.هم دا د غنیمت مال وو.چه دټولو نه مخکې دمسلمانانو په لاس راغلو او دټولو نه مخکې پنځه حصه حضرت عبدالله بن جحش ﷺ اوویسته اوداپه اسلام کښې باقی وه او دالله ﷻ هم داسې حکم نازل شو.او همدا دوه قیدیان چه د ټولو نه مخکې مسلمانانو قید کړل.دا واقعه په یو نظم کښې هم ادا کړې شوې ده.بعضې وائی چه دا اشعاردحضرت ابوبکر صدیق ﷺ دی،لیکن دا هم وئیلې شوی دی چه دا اشعار پخپله حضرت عبدالله بن جحش ﷺ وئیلی دی چه ددې مختصر لښکر سردار وو،الله ﷻ دې د نه راضی شی.

يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ	
ادا خلق تپوس کوی ستانه	په باره دشرابو
دوئ ستاسونه تپوس کوی د شرابو	
وَالْمَيْسِرِ ؕ قُلْ فِيْهِمَآ اِثْمٌ كَبِيْرٌ وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ز	
اودجواریٔ کښې	ورته اووایه|چې په دې دواړو کښې	ګناه ده	لویه	اوفائدې هم دې	دپاره دخلقو
اود جواریٔ په باره کښې	ورته اووایه چې په دې دواړو کښې ډیرغټ نقصان دې	اود خلقودپاره فائدې هم دی			
وَاِثْمُهُمَآ اَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا ؕ وَيَسْئَلُوْنَكَ مَاذَا يُنْفِقُوْنَ ۬ ؕ قُلِ	
خو ګناه ددې دواړو	ډیره زیاته ده	دفائدې ددې دواړو نه	او تپوس کوی ستانه	چې څه خرچ کړی	ورته اووایه
خوددې دواړو نقصان دفائدونه ډیرزیات دې	اودوئ ستاسونه تپوس کوی چې د الله په لار کښې، څه خرچ کړی ورته اووایه				
الْعَفْوَ ؕ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۙ	
چې څه زیات وی	دارنګې	بیانوی الله	ستاسو دپاره	حکمونه دې دپاره چې تاسو	فکراوکړئ
هرڅومره چې په آسانتیاکولې شئ	دغه شان الله پاک تاسوښکاره ښکاره حکمونه بیانوی	چې تاسو دغوراوفکرنه کارواخلئ			
فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ	
په دنیا	او په آخرت کښې	اوتپوس کوی ستانه	په باره دیتیمانوکښې	اورته اووایه	چې دخیر ښیګړی کار	
ددنیااوآخرت دواړوپه معامله کښې	اوستانه دیتیمانو په باره کښې تپوس کوی	اورته اووایه چې څه کښې د هغوئ خیروی			

(۱) ابن هشام: ۲/۲۵۲)-

لَّهُمْ خَيْرٌ ۖ وَإِنْ تُخَالِطُوهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ الْمُفْسِدَ
دهغوئ دپاره |بهتر دي	او که چرې	تاسو شريک شئ سره |نو رونړه دی ستاسو	او الله	پيژنی	فسادکونکي
هغه کار ښه دي| اوکه تاسوخرڅ کښې شريک شئ |نوخيردي|هغوئ هم ستاسورونړه دی| اوالله بدخواه د نيک خواه
مِنَ الْمُصْلِحِ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَعْنَتَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ
داصلاح کونکی نه|او که غوښتلې الله |نوسختی به نې کړې وې په تاسو باند |بيشکه الله| غالب دي
نه پيژنی		اوکه الله پاک غوښتلې نوتاسوته به نې دا خبره سخته کړې وې	بيشکه الله پاک داختيار
حَكِيمٌ ﴿٢٢٠﴾
اوحکمت والا دي	
اوحکمت خاونددي	

قوله تعالى:- يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ۖ

د شرابو حرمت:- هرکله چه د شرابو حرمت والا آيت نازل شو نو حضرت عمر ﷺ اووئيل چه اې الله ﷻ د دې واضح بيان اوفرمايا.په دې باندې دا آيت نازل شو چه ﴿ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ ﴾ الخ.حضرت عمر ﷺ لره راوبللې شو او هغوئ ته دا آيت مبارک واورولې شو.حضرت عمر ﷺ بيا هم دا دعا اوکړه چه اې الله ﷻ خمونږ دپاره نور زيات صفا بيان اوکړه.په دې باندې دا آيت نازل شو چه ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنْتُمْ سُكَارَىٰ ﴾ الخ.اود هر مونځ په وخت کښې به آواز کيدو چه نشې والا خلق دې مونځ ته نزدې نه راځی.حضرت عمر ﷺ لره راوبللې شو او هغوئ ته دا آيت مبارک واورولې شو.دوی بيا هم دا دعا اوفرمانيله چه اې الله ﷻ خمونږ دپاره واضح بيان اوفرمايا.په دې باندې د سورة مائده آيت ﴿ إِنَّمَا الْخَمْرُ ﴾ نازل شو.هرکله چه فاروق اعظم ﷺ راوبللې شو او ورته دا آيت مبارک واورولې شو او هرکله چه دهغوئ غوږونو ته دا آخری الفاظ ﴿فَهَلْ أَنْتُمْ مُنْتَهُونَ﴾ اورسيدل نودوی اوفرمائيل چه﴿انتهينا انتهينا ﴾مونږ منع شو مونږ منع شو([1])اوکورئی مسند احمد ،ابوداود ،ترمذی اونسائی وغيره.په ابن ابی حاتم او مردويه کښې هم داروايت دي،ليکن دهغې راوی ابوميسره دي چه دهغه نوم عمرو بن شرحبيل همدانی کوفی دي.ابوزرعه رحمه الله فرمائی چه دهغه سماع دحضرت عمر فاروق ﷺ نه ثابته نه ده.والله اعلم.

امام علی بن مدينی رحمه الله فرمائی چه ددې اسناد صالح او صحيح دی.امام ترمذی رحمه الله هم دې ته صحيح وائی.ابن ابی حاتم د حضرت عمر فاروق ﷺ نه د ﴿انتهينا انتهينا ﴾ قول نه پس دا هم نقل کوی چه شراب مال لره بربادونکی اوعقل لره خبط کوونکې ځيز دي.دا روايت او دې سره د مسند روايت دحضرت ابوهريره ﷺ والا به په تفصيل سره دسورة مائده آيت ﴿ إِنَّمَا الْخَمْرُ ﴾ الخ په تفسير کښې راځی ،انشاء الله تعالى.اميرالمومنين حضرت عمر فاروق ﷺ ډ مائی چه خمرهرهغه ځيز دي چه عقل لره بدل کړی ([2]).ددې پورا بيان به هم په سورة مائده کښې انشاء الله راشی.

د جوارئ حرمت:- ﴿ ميسر﴾ وائی جوارئی ته،ددې ګناه اُخروی وبال دي.اوددې فائده صرف دنياوی ده چه بدن ته څه فائده نفع اورسوی.يا غذا پرې هضم شی يا فضله راشی يا بعضې ذهن تيز شی يا يو شان

---

[1]) احمد: ۵۳/۱،ابو داود: کتاب الاشربة باب تحريم الخمر: ۳۶۷۰،وسنده ضعيف،ابو اسحاق مدلس راوی اوسماع کښې صراحت نشته دي،ترمذی: ۳۰۴۹،نسائی: ۵۵۴۲).

[2]) صحيح بخاری کتاب التفسير باب قوله (انما الخمر والميسر والانصاب) ۴۶۱۹)-

سرور حاصل شی لکه څنګه چه د حسان بن ثابت دجاهلیت د زمانې اشعار دی چه شراب څکلوسره مونږ بادشاهان اودلیرجوړیږو.اودا شان ددې په اخستلو خرڅولوکښې هم نفع اود دې په تجارت کښې هم نفع ده.اودا شان ممکن چه په جوارنی کښې ګټه اوشی خو ددې د فواندو په مقابله کښې د دې نقصانات ډیر دی.ځکه چه دې سره دعقل تلل،هوش وحواس بې کاره کیدل ضروری دی.اودې سره د دین بربادیدل هم دی.

دا آیت اګر چه د شرابو دحرمت پیش خیمه وو خوبیا هم په دې کښې صفا صفا حرمت نه دې بیان شوې .ددې وجې حضرت عمر فاروق ﷺ غوښتل چه ښکاره لفظونو کښې دشرابو حرمت نازل شی.او آخرد سورة مائده آیت مبارك کښې صفا نازل شوچه شراب او جواری او بتان او غشی سره فال اخستل ټول حرام اوشیطانی کارونه دی.ائې مسلمانانو که تاسو د نجات غوښتونکی یئ نو ددې نه منع شئ.د شیطان تمنا ده چه د شراب او جوارئ په ذریعه تاسو کښې دشمنی او بغض راولی.او تاسو د ذکر الله اومونځ نه منع کړی.اوس به هم تاسو دشیطانی کارونو نه منع شئ ؟ ددې پوره بیان به انشاء الله په سورة مائده کښې راشی.تابعین مفسرین فرمائی چه دشرابو باره کښې رومبې دا آیت نازل شو،بیا دسورة نساء آیت نازل شو.بیا دسورة مائده آیت نازل شو او شراب مکمل طور حرام شو.(۱)

قوله تعالی:- وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلِ الْعَفْوَ ۗ

دعفو معنی:- د ﴿قُلِ الْعَفْوَ﴾ یو قرات داهم دې او دواړه قراتونه صحیح دی.معنی ئې نزدې نزدې او یو کیدې شی.حضرت معاذبن جبل ﷺ او حضرت ثعلبه ﷺ رسول الله ﷺ لره راغلل او تپوس ئې اوکړو چه یارسول الله ځمونږ غلامان هم دی او بچی هم دی،او مونږ مالدار هم یو،نو څه دالله ﷻ لار کښې خرچ کړو؟نوددې په جواب کښې ﴿قُلِ الْعَفْوَ﴾ اووئیلې شو.یعنی څه چه دبچو دخرچ نه پس پاتې شی،ډیر صحابه کرامو ﷺ اوتابعینو نه د دې هم داتفسیر مروی دی.حضرت طاؤس ﷺ فرمائی چه په هر ځیز کښې لږ لږ دالله ﷻ په لار کښې خرچ کوئی.ربیع ﷺ فرمائی چه افضل او بهتر مال دالله ﷻ په لار کښې خرچ کوئی.دټولو اقوالو خلاصه داده چه دضرورت نه زیات ځیز دالله په لار کښې خرچ کوئی.

په انفاق فی سبیل الله کښې میانه روی :- حضرت حسن ﷺ فرمائی چه داسې مه کوئی چه هر څه خرچ کړئی.بیا پخپله سوال کوئی.صحیح مسلم کښې دی چه یو سړی نبی کریم ﷺ ته اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! ماسره یو دینار دی،نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په خپل کار کښې ئې راوله.هغه سړی اووئیل چه ماسره یو بل هم دی.نبی کریم ﷺ اووئیل چه په خپله ښځئ ئې خرچ کړه.هغه اووئیل چه یو بل دی،نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په خپلو بچو ئې خرچ کړه.هغه اووئیل چه یوبل هم دی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اوس ته خپله خصمانه کولې شی.(۲)

دخرچ کولو طریقه:- مسلم شریف کښې یو بل حدیث دی چه نبی کریم ﷺ یو سړی ته اوفرمائیل چه دخپل نفس نه شروع کړه.رومبې په هغه باندې خرچ کړه.بیا که پاتې شی نو په بچو باندې،بیا که پاتې شی نوپخپلو رشته دارو باندې،بیاکه هم پاتې شی نو په نورو حاجتمندو باندې.(۳)په دې کتاب کښې یو بل حدیث دی چه دټولو نه افضل خیرات هغه دی چه هغه انسان دخپل خرچ مطابق کوی او باقی پاتې ځیز دالله ﷻ لار کښې خرچ کړی.او پورتنې لاس دلاندې لاس نه افضل دی.مخکې هغوئ ته ورکړه چه دکوم خرچ ستا په ذمه دی.(۴)

---

۱) الطبری: ۳/۳۳۱)-

۲) ابوداود کتاب الزکاة باب فی صلة الرحم: ۱٦۹۱،وهو حسن مسلم: ۹۹۵،نحوالمعنی)-

۳) ابوداود کتاب الزکاة باب الابتداء فی النفقة بالنفس : ۹۹۷،نسائی: ٤٦٥٦)-

٤) صحیح بخاری کتاب النفقات باب وجوب النفقة علی الاهل....٥٣٥٥،من حدیث ابی هریرة صحیح مسلم: ۱۰۳٤،عن حکیم بن حزام

Scanned with CamSc

بنیادم ته خطاب:- یو بل حدیث کښې دی چه انې ابن ادم ! چه څه تاسره دخپل ضرورت نه زیات دی هغه دالله ﷻ په لار کښې خرچ کړه دا ستا دپاره بهتر ده.او ددې ایسارول ستا دپاره نقصان دې.او د خپل ضرورت مطابق خرچ کولو کښې په تاسو باندې هیڅ ملامتیا نشته دې.(۱) د حضرت ابن عباس ﷺ یو قول هم مروی دې چه دا حکم دزکوة حکم سره منسوخ شو.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه د زکوة آیت گویا ددې آیت تفسیر او ددې واضح بیان دې،صحیح قول هم دا دې.

قوله تعالی:- كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۝ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ

دنیا او اخرت کښې فکر کول:- بیا ارشاد فرمائی چه څنگه دا احکام واضح شو،او ښکاره ښکاره مونږ بیان اوفرمائیل،داشان مونږ باقی احکام هم وضاحت او تشریح سره بیانوو.وعده باندې او وعید هم صفاطور ښکاره بیان شی.چه تاسو دفانی دنیا نه بې رغبته شئ او آخرت طرفته متوجه شئ چه همیشه باقی پاتې کیدونکې دې.حضرت حسن ﷺ ددې آیت تلاوت اوکړواو وې فرمائیل چه والله چه څوک غور اوتدبر کوی چه دنیا د مصیبتونو کور دی او د دې انجام فنا ده او آخرت د جزا کور او بقا کور دې.حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه غور او فکر کولو سره ښکاره معلومیږی چه دنیا ته په آخرت باندې څومره فضیلت حاصل دې.نو عقل مندو ته پکار دی چه د آخرت دښیګړې جمع کولو کوشش کښې مشغول اوسی.

قوله تعالی:- وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى ؕ قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ

دیتیم د مال حفاظت او حکم:- بیادیتیم باره کښې احکام نازلیږی،حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا حکم شوې وو چه ﴿وَلَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾ یعنی دیتیم مال ته نزدې مه ورځئ مگر په دې طریقه چه بهترینه وی او فرمائیلې شوی وو ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا يَاْكُلُوْنَ فِيْ بُطُوْنِهِمْ نَارًا ؕ وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيْرًا ۝﴾ یعنی چه کوم خلق ظلم سره دیتیم مال خوری.هغوئ په خپلو خیټو کښې اور اچوی.او نزدې ده چه په لمبه شوی اور کښې به واچولې شی.ددې په آوریدو سره هغه خلقو دیتیمانو دیتیمانو خوراک کول اودهغې څکل اود خپل کور خوراک څکاک او اوبه جدا کړې.اوس که به د هغوئ دکور خوراک پاتې شو نو هغه خو به ئې یا هلته پریښودو او یا به خراب شو او داشان به یتیمانوته نقصان اوشو.بل طرفته د یتیمانو والیان هم تنګ شو چه ترکومې به داشان په کورکښې کیخودل راکیخودل کوی.نودې خلقو نبی کریم ﷺ ته عرض اوکړو نوپه دې باندې دا آیت نازل شو چه ﴿قُلْ اِصْلَاحٌ لَّهُمْ خَيْرٌ ؕ﴾ الخ.او نیک نیتئ او دیانتدارئی سره دهغوئ مال خپلو مالونو سره یو ځائې کولو دپاره اجازت دې.ابوداود اونسائی وغیره کښې دا موجود دی (۲)او دسلفو یو لوئې جماعت ددې شان نزول هم دا فرمائی.

حضرت صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه د یتیم دمال د ذرې ذرې مال پرورش کول سخته خبره ده چه دهغه خوراک بیل کړې شی،دهغه څکاک بیل کړې شی.د﴿اِصْلَاحٌ لَّهُمْ﴾ نه هم دا جداوالې مراد دې.لیکن بیا ﴿وَاِنْ تُخَالِطُوْهُمْ﴾ فرمائی او دخوراک څکاک د یو ځائې کیدو اجازت ورکړې شو.ځکه چه هغوئ هم دینی رونړه دی.خو نیت نیک پکار دې.قصد او اراده که یتیم ته نقصان رسوی وی نو هغه هم دالله ﷻ نه پټ نه دی.اوکه مقصد ئې دیتیم سره ښیګړه وی او دهغه دمال نګرانی وی نو داهم الله ﷻ ته ښه پته ده.

قوله تعالی:- وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَعْنَتَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝

الله خپل مخلوق مشقت کښې نه اچوی:- بیا فرمائی چه الله ﷻ تاسو لره په مشقت او تکلیف کښې نه

.....نسائی: ۲۵٤٤)-

(۱) ابوداود کتاب الزکاة باب بیان ان الید العلیاء خیر من الید السفلی : ۱۰۳٦،ترمذی: ۲۳٤٤)-

(۲) ابو داود کتاب الوصایا باب مخالطة الیتیم فی الطعام: ۲۸۷۱،،نسائی: ۳٦۹۹)-

Scanned with CamSc

اچوی .چه کومه تنګی اومشکل تاسو باندې دیتیم د مال په جدا اینبودلو کښې وو هغه الله ﷻ لرې کړه اوتاسو باندې نې آسانتیا راوسته.او یوه کتوئ ساتل او یو ځائې کار کول ستاسو دپاره مباح اوګرزولې شو.بلکه دیتیم سرپرستی که فقیر اومسکین محتاج وی نودستور مطابق پخپل خرچ کښې راوستلې شی.او که یو مالدار دضرورت په وخت کښې دهغه څیز استعمال کړو نو بیا دې ادا کړی. دا مسائل به انشاء الله وضاحت سره دسورة نساء په تفسیر کښې راشي.

وَلَا تَنْكِحُوا	الْمُشْرِكٰتِ	حَتّٰى	يُؤْمِنَّ ؕ	وَلَاَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ
اومهٔ اخلئ په نکاح	مشرکی ښځې	تر هغې پورې	چې ایمان راوړی	اووینځه مومنه
اومشرکو ښځو سره ترهغې وخته نکاح مه کوئ ترڅوچې ایمان رانه وړی				اومؤمنه وینځه
خَيْرٌ	مِّنْ مُّشْرِكَةٍ	وَّلَوْ اَعْجَبَتْكُمْ ۚ	وَلَا تُنْكِحُوا	الْمُشْرِكِيْنَ
بهتره ده	دمشرکې ښځې نه	اګرکه هغه ډیره ښوښه وی	ستاسو	اومهٔ ورکوئ په نکاح
ښه ده دمشرکې نه	اګرکه هغه (دمال او ښائست په وجه)	ستاسو خوښه وی		اوخپلې جیونکئ مشرکانو ته نکاح کوئ
حَتّٰى	يُؤْمِنُوْا ؕ	وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ	خَيْرٌ	مِّنْ مُّشْرِكٍ	وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ؕ
تردې پورې	چې ایمان راوړی	او یو غلام مومن	بهتردی	دمشرک سړی نه	اګرکه هغه ډیرخوښ وی ستاسو
ترڅوچې	ایمان رانه وړی	اومؤمن دمشرک (سیال) نه ښه دې اګر که په څه وجه ستاسوخوښ وی			
اُولٰٓئِكَ	يَدْعُوْنَ	اِلَى النَّارِ ۚ	وَاللّٰهُ	يَدْعُوْٓا اِلَى الْجَنَّةِ	وَالْمَغْفِرَةِ	بِاِذْنِهٖ ۚ	وَيُبَيِّنُ
داکسان	رابلی خلق	اور ته	او الله	رابلی خلق جنت ته	اومغفرت ته	په حکم خپل سره	اوبیانوی
دغه مشرکان (دوزخ)	اور ته بلنه ورکوی	اوالله پخپل حکم سره جنت		اواسبابود مغفرت ته بلنه ورکوی			
اٰيٰتِهٖ	لِلنَّاسِ	لَعَلَّهُمْ	يَتَذَكَّرُوْنَ ۝
حکمونه خپل	خلقو ته	دپاره ددې چې هغوئ	نصیحت قبول کړی				
اوهغه خلقوته حکمونه بیانوی چې هغوئ تري نه سبق واخلی							

قوله تعالی:- وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ ؕ

مشرکو ښځو سره د نکاح حرمت:- بت پرستی،مشرکو ښځو سره نکاح کول،ددې حرمت بیانیږی.یعنی د آیت عموم یو خومشرکو ښځوسره دنکاح کولوممانعت باندې دلالت کوی خوبل ځائې کښې فرمان دې چه﴿ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ الخ.یعنی ستاسو نه مخکې چه کوم کتابونه ورکړې شوی وو،دهغوئ پاکو ښځو سره چه نکاح کول جائز دی خو په دې شرط چې د زنا کارئی نه بچ کیدونکې وی دهغوئ مهر ادا کولو نه پس هغوئ سره نکاح کول ستاسو دپاره حلال دی.

حضرت ابن عباس ﷺ قول هم دا دې چه دې مشرکو ښځو نه اهل کتابو مخصوص دی (۱)حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت عکرمه رحمه الله،حضرت سعید بن جبیر رحمه الله،حضرت مکحول رحمه الله،حضرت حسن رحمه الله،حضرت ضحام رحمه الله،حضرت قتاده رحمه الله،زید بن اسلم رحمه الله او ربیع بن انس رحمه الله نه هم دافرمان نقل شوې دې.(۲)بعضې وائی چه دا آیت صرف د بت پرستو مشرکوښځو دپاره نازل شوې دې.دا شان وائې

(۱) الطبری: ٤/٣٥٠)-.
(۲) ابن ابی حاتم: ٢/٦٦٩)-

که هغه شان مطلب نې هم یو دي.والله اعلم.

ابن جریرکښې دی چه نبی کریم ﷺ څو قسمه ښځو سره نکاح کول ناجائز کړی دی سوا د ایماندارو هجرت کوونکو نه.اول خاص کر هغه ښځو سره چه دبل مذهب پابندي وی،هغوئ سره نکاح کول حرام دی.([1]) قران پاك کښې دی چه ﴿ وَمَنْ يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ ﴾ یعنی دکافرانو اعمال برباد دی.

یو روایت کښې دی چه حضرت طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه یو یهودی ښځې سره نکاح کړې وه او حضرت حذیفه بن یمان یو نصرانیه ښځې سره نکاح کړې وه.او په دې باندې حضرت عمر فاروق ﷺ ډیر خفه شو تر دې چه نزدې وو چه هغوئ ته کوړې ورکړی.دې دواړو اووئیل چه انې امیر المومنین تاسو مه خفه کیږی مونږ به هغوئ ته طلاق ورکړو.دوی اوفرمائیل که طلاق ورکول حلال وې نو بیا خو نکاح هم حلال کیدل پکار دی.خه به هغوئ ستاسو نه په زور واخلم او ستاسو نه به نې بیلې کړم.خو دا حدیث غریب دې.اود حضرت عمر فاروق ﷺ نه خو بیخې غریب دې.

د اهل کتابوښځو سره د نکاح جواز:- امام بن جریر رحمه الله داهل کتابو ښځې سره نکاح کولو باندې اجماع نقل کړې ده.اودحضرت عمر فاروق ﷺ ددې اثر باره کښې نې تحریر کړی دی چه دا صرف دسیاسی مصلحت لاندې وو چه خلق د مسلمانانو ښځونه بې رغبتی اونکړی اوپه دې عمل کښې څه بله حکمت عملی وه.یو روایت کښې دا هم دی چه کله حضرت حذیفه ﷺ ته دا فرمان ملاؤ شو نو جواب کښې نې اولیکل چه آیا تاسو دا حرام ګنړئ،خلیفة المسلمین جواب ورکړو چه حرام خو ورته نه وایم مګر ماته ویره ده چه هسې نه تاسو مومنو ښځو سره نکاح کول پریږدئ،ددې روایت اسناد صحیح دی.([2])

مسلمان کتابیه سره نکاح کولې شی نه د دې په عکس:- یوبل روایت کښې دی چه حضرت عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل چه مسلمان سړې نصرانی ښځې سره نکاح کولې شی.لیکن نصرانی سړې مسلمانې ښځې سره نکاح نه شی کولې.ددې روایت اسناد دمخکې روایت نه زیات صحیح دی.ابن جریر کښې دا مرفوع حدیث هم په سند سره مروی دې وائی چه مونږ اهل کتابو ښځو سره نکاح کوو،لیکن اهل کتاب سړی مسلمانو ښځو سره نکاح نه شی کولې.([3])ددې سند څه کمزوری دی.خودامت په دې باندې اجماع ده.ابن ابی حاتم کښې روایت دې چه حضرت عمر فاروق ﷺ داهل کتابو نکاح نه خوښوله او ددې آیت تلاوت به نې فرمائیلو.حضرت امام بخاری رحمة الله علیه دحضرت عمر فاروق ﷺ دا قول نقل کوی اوفرمائی چه څه ددې شرك نه زیات غټ شرك نه ګورم چه هغه ښځه وائی چه عیسی ددې الله دې ([4]).حضرت امام احمد رحمه الله نه ددې آیت مطلب اوپوښتلې شو نو دوی اوفرمائیل چه ددې نه مراد دعربو هغه مشرکې ښځې دی چه بت پرستې وې.

قوله تعالی:- وَلَأَمَةٌ مُّؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِّن مُّشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ

د مشرک اصیل نه مسلمان غلام ښه دي:-بیا ارشاد فرمائی چه ایمانداري وینځې سره نکاح د مشرکو آزادو ښځو نه زیاتې ښه ده.دا فرمان حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ باره کښې نازل شوې دي.دده یو تور رنګې وینځې سره واده شوې وو.یو ځل ده په غصه کښې هغه په څپیړه اووهله.بیا دې ویریدو او د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې نې ټوله واقعه بیان کړه.نبی کریم ﷺ ورته اووئیل چه دهغې څه حال دی.وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! هغه روژه نیسی،مونځ کوی،ښه طریقې سره اودس کوی،دالله ﷻ دوحدانیت او ستاسو درسالت ګواهی ورکوی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه انې ابوعبدالله بیا خو هغه ایماندار ده

---

[1]) ترمذی: کتاب التفسیر القران باب ومن سورة الاحزاب: ۳۲۱۵،وسنده حسن)-

[2]) ابن جریر: ۲۲۲/۲)-

[3]) الطبری: ۳۲۶/۴،)-

[4]) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب قول الله تعالی (ولا تنکحوا المشرکات،....) ۵۲۵۰)-

Scanned with CamSc

ده.ده اوونیل چه انې دالله ﷺ رسوله ﷺ،قسم په هغه الله چه ته ئې حق سره رسول لیږلې نې.خه به هغه آزاده کړم او صرف دومره نه بلکه هغې سره به نکاح هم کوم.نو هم داشان اوشو.په دې باندې بعضو مسلمانانو دوی ته پیغور ورکړو.هغوئ غوښتل چه ددې نکاح مشرکانو سره اوکړی او دوی ته خپلې لونړه هم ورکړی چه د نسب شرافت قائم پاتې شی.په دې باندې دا فرمان نازل شو چه مشرکې آزادې ښځې نه خومسلمانه وینځه بدرجها بهتر ده.اوداشان مشرك آزاد سړی نه خو مسلم غلام ډیر زیات بهتر دي.

په نکاح کښې دینداریٔ ته کتل پکاری دی:- مسند عبدبن عبید کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه صرف دښځو په حسن باندې مه لیونی کیږئ او هغوئ سره ددې په وجه نکاح مه کوئی،ممکن دی چه ددوی حسن دوی لره مغروره کړی.د ښځو د مالداریٔ په وجه هغوئ سره نکاح مه کړئی ممکن دی چه د هغوئ مالداری دوی لره سرکشه کړی.کله چه نکاح کوئی نو دینداری ګورئی.بدصورته تووررنګې وینځه هم که دینداره وی نو ډیره بهتر.ده.خو ددې حدیث په راویانو کښې افریقی ضعیف دي.

په نکاح کښې ځلور خصلتونو ته کتل:- بخاری او مسلم کښې دحضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه یوښځه کښې ځلورخبرې ګورئی بیاهغې سره نکاح کوئی.یومال،دویم حسب ،دریم جمال او ښائست،ځلورم دین.تاسو دینداړئی ته ترجیح ورکوئی.مسلم شریف کښې دی چه دنیا ټول په ټوله یو متاع ده او د دنیامتاع کښې دټولو نه افضل ځیز نیك بخته ښځه ده.

قوله تعالی:- وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يُؤْمِنُوْا ؕ

خلقو ته احکام بیانول:- بیا فرمان دې چه مشرکانو سړو ته مسلماني ښځې په نکاح مه ورکوئی.لکه څنګه چه بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ ؕ ﴾ نه کافري ښځې مسلمان سړو دپاره دی او نه مسلمان سړی دکافرو ښځو دپاره دی.

قوله تعالی:- وَلَعَبْدٌ مُّؤْمِنٌ خَيْرٌ مِّنْ مُّشْرِكٍ وَّلَوْ اَعْجَبَكُمْ ؕ

مومن غلام دمشرک نه افضل دي:-بیا فرمان دې چه مومن سړی اګر چه غلام وی خوبیا هم هغه د رئیس اوسردار آزادکافرنه بهتر دي.ددې خلقوسره میل جول،ددوی صحبت،ددنیامحبت،ددنیا حفاظت،او ددنیاغوښتنه او دنیاته په آخرت باندې ترجیح ورکول ښائی.اوددې انجام جهنم دي.اودالله ﷻ د فرمان پابندی دهغه داحکام منل دجنت رهبری کوی.دګناهونو دمغفرت ذریعه جوړیږی،الله ﷻ دخلقود وعظ او نصیحت او پندوعبرت دپاره خپل آیتونه واضح طور سره بیان فرمانیلی دی.

وَيَسْـَٔلُوْنَكَ	عَنِ الْمَحِيْضِ ؕ				
او تپوس کوی ستانه	داحکامودحیض				
دوئ ستانه دحیض په باره کښې دحکم تپوس کوی					
قُلْ	هُوَ اَذًى ۙ	فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ	فِي الْمَحِيْضِ ۙ	وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ	
ورته اووایه	چی دا حالت دګندګئ دي	نوجداوسی	دښځو نه	په وخت دحیض کښې	اومهٔ نزدې کیږئ هغوئ ته
ته ورته اووایه چې دا ګنده ځیزدې	نودحیض په وخت کښې دښځونه په اړخ اوسیږئ	اونزدې کیږئ ورته مه			
حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ	فَاِذَا تَطَهَّرْنَ	فَاْتُوْهُنَّ	مِنْ حَيْثُ	اَمَرَكُمُ اللّٰهُ ؕ	
تردې پورې چې پاکې شی هغوئ	نوکله چې پاکې شی هغوئ	نو ورځئ هغوئ ته	څنګه چې	احکم کړې دي تاسو ته الله	
تردې چه پاکې شی	نوهرکله چې ښې پاکې شی	نو بیا ورته د هغه ځائې نه ورځئ د کوم نه چې درته الله حکم کړې دي			

Scanned with CamSc

إِنَّ اللّٰهَ	يُحِبُّ	التَّوَّابِيْنَ	وَيُحِبُّ	الْمُتَطَهِّرِيْنَ ۝	نِسَآؤُكُمْ	حَرْثٌ
بیشکه الله	خوښوی	توبه ویستونکی	او خوښوی	خان پاك ساتونکی	ښځی ستاسو	خائي دکروندی دي
بیشکه الله پاك (دګناهونونه) توبه ویستونکی کسان خوښوی اوجه پاك اوسیږی					استاسوښځي ستاسوپتی دی	
لَّكُمْ ص	فَأْتُوْا	حَرْثَكُمْ	أَنّٰى شِئْتُمْ ز	وَقَدِّمُوْا	لِأَنْفُسِكُمْ ط	
ستاسو دپاره	نو ورځئ	خائي دکر خپل ته	څه رنګي چي خوښه وی ستاسو	او وړاند فکر کوئ	دپاره دخانونو خپلو	
نوخپل پتی ته څنګه چي غواړئ هغه شان ورتلي شئ			اودخپل خانونو د پاره توښه مخکښي اولیږئ			
وَاتَّقُوا اللّٰهَ	وَاعْلَمُوْٓا	أَنَّكُمْ	مُّلٰقُوْهُ ط	وَبَشِّرِ	الْمُؤْمِنِيْنَ ۝	
اوخان ساتی دنافرمانئ دالله نه	اوپوهه شئ	چي تاسو	ملاقات کونکی یئ دهغه سره	اوزیږي ورکړه حکم منونکو ته		
اودالله نه ویره کوئ	اوپوهه شئ چي تاسو به هغه ته پیښی کیږی		اوزاني پیغمبره	مومنانوته (دنجات زیږي ورکړه		

قوله تعالی:- وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْمَحِيْضِ ط قُلْ هُوَ أَذًى ۙ فَاعْتَزِلُوا النِّسَآءَ فِي الْمَحِيْضِ ۙ وَلَا تَقْرَبُوْهُنَّ حَتّٰى يَطْهُرْنَ ۚ

د ایت شان نزول:- حضرت انس ﷺ فرمائی چه یهودیانوبه نه حائضه ښځه خان سره خوراك ته پریښوده اونه به ئي خپل خان سره پریښوده.حضرات صحابه کرامو ﷺ دي باره کښي دحضرت نبی ﷺ نه تپوس اوکړو،نو ددي په جواب کښي دا آیت نازل شو او حضرت نبی ﷺ اوفرمائیل چه سوا دجماع نه نور هر څه حلال دی.یهودو چه دا واوریدل نو وي وئیل چه د نبی کریم ﷺ غرض خو صرف خمونږ مخالفت دي. حضرت اسید بن حضیر ﷺ اوحضرت عباد بن بشر ﷺ د یهودو دا کلام نقل کړواو وي وئیل چه اني نبی کریم ﷺ بیا خو مونږ ته د جماع اجازت هم راکړئی.ددي په آوریدو سره ددوی مخ مبارك متغیر شو .تردي پوري چه نورو صحابه کرامو ﷺ داخیال اوکړو چه ګنی نبی کریم ﷺ ددوی نه خفه شو.هرکله چه دا بزرګان روان شو نو نبی کریم ﷺ ته چا په تحفه کښي پئ راوړل.نبی کریم ﷺ هغوئ پسي سړي اولیږلو چه هغوئ راوبله او هغه پئ په هغوئ باندي اوځکوه.معلومه شوه چه هغه غصه ختمه شوه (مسلم)([1]) نو ددي فرمان چه تاسو د ښځو نه بیل اوسئ دحیض په حالت کښي دامطلب شو چه جماع ورسره مه کوئی،ځکه چه نورهرڅه حلال دی.داکثرعلماءکرام مذهب دي چه سوا دجماع نه مباشرت جائز دي.

د جماع نه سوا نور هرڅهٔ کولې شی: احادیثو کښي دی چه نبی کریم ﷺ به هم په داسي حالتونوکښي ازواج مطهرات سره ملاویدلو لیکن هغوئ به لنګ ترلي وو.(ابوداود) ([2])دعماره ﷺ ترور د حضرت عائشه ﷺ نه سوال کوی که ښځه دحیض په حالت کښي وی او کورکښي د ښځي خاوند یو بستره وی نوڅه به کوی ؟یعنی داسي حالت کښي هغي سره خاوندڅملاستلي شی که نه ؟دوی اوفرمائیل چه واوره ایوخل نبی کریم ﷺ کور ته تشریف راوړو،راتلو سره دخپل مونځ په خائي اودریدلو او په مونځ کښي مشغول شول.ډیر وخت تیر شو او په دي دوران کښي ماته خوب راغلو،د نبی کریم ﷺ یخنی اوشوه نو نبی کریم ﷺ ماته اوفرمائیل چه دلته راشه،ماورته اووئیل چه اني حضور ﷺ څه خو حیض کښي یم.نو نبی کریم ﷺ ما ته حکم اوکړم چه په خپلو څنګونو باندي کپړه واچوه او بیا زما په پتون باندي ئي خپل رخسار اوسینه مبارکه کیخودله او څملاستو.څه هم په دوی باندي راتیته شوم.نو یخنی

---

[1]) صحیح مسلم کتاب الحیض باب جواز غسل الحائض راس زوجها: ۳۰۲)-

[2]) ابوداود کتاب الطهارة باب فی الرجل یصیب منها مادون الجماع: ۲۷۲،وسنده حسن)-

Scanned with CamSc

څه کمه شوه.او په دې ګرمنۍ کښې نبی کریم ﷺ ته خوب راغلو.([1])صلی الله علیه وازواجه واصحابه وسلم.

د مسروق تپوس:- حضرت مسروق رحمه الله یو ځل حضرت عائشه رضی الله عنها ته ورغلو او وئې وئیل چه ﴿السلام علیکم علی النبی وعلی اهله﴾،حضرت عائشه رضی الله عنها جواب کښې اووئیل چه ﴿ مرحبامرحبا ﴾ او دننه دراتلو ئې اجازت ئې ورکړو.دوی اوفرمائیل چه انې مور بی بی دیوې مسئلې تپوس کوم خو ماته شرم راځی.دوی ورته اوفرمائیل چه واوره څه ستا مور یم او ته زما د ځوئې په ځائې ئې،چه څه تپوس کوې نو تپوس اوکړه،وې وئیل چه سړی لره دخپلې حائضې بی بی سره څه حلال دی ؟ دوی اوفرمائیل چه سوا د شرمګاه نه هر څه جائز دی (ابن جریر).اونورسندونوکښې هم مختلف الفاظو سره دحضرت ام المومنین رضی الله عنها دا قول مروی دی.د حضرت ابن عباس رضی الله عنه،حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت حسن رحمه الله اوحضرت عکرمه رحمه الله فتوی هم دا ده.مقصد دادې چه حائضه ښځې سره ناسته پاسته،ملاسته،خوراک څکاک وغیره امور بالاتفاق جائز دی.

د عائشې رضی الله عنها حکایت:- حضرت عائشه رضی الله عنها نه منقول دی چه ماد نبی کریم ﷺ سر مبارک وینځلو،نبی کریم ﷺ زما په غیږی کښې وو او دقران پاک تلاوت ئې کولو.حالانکه څه په حیض کښې اووم.([2])ما هډوکئ چوپلو او حضرت نبی علیه السلام هم هغه هډوکئ چوپولو.چه ما به اوبه اوڅکلې نو پیاله به مې حضرت نبی علیه السلام ته ورکړه اوهغوئ به هم په دې پیاله سره اوبه اوڅکلې او څه به په هغه وخت کښې حائضه اووم.([3]) ابودواد کښې روایت دی چه زما دحیض دشروع په ورځوکښې حضرت نبی علیه السلام ماسره به په یو څادر کښې اوده کیدل.که چرته به د نبی کریم ﷺ کپړه خرابه شوه نو نبی کریم ﷺ به هم هغه هومره ځائې وینځلو.که په بدن مبارک به ئې څه لګیدل نو هغه به ئې هم وینځل.اوبیا به ئې هم په هغه کپړو کښې مونځ کولو.([4])

د یو روایت توجیح:- او دابوداود په یو روایت کښې هم دادی چه حضرت صدیقه رضی الله عنها فرمائیل چه کله به څه په حیض کښې اوم نو بستري نه به اخوا شوم او بورنی ته به راغلم.نبی کریم ﷺ به ما ته نزدې هم نه راتلو ترکومې چه به څه پاکه شوې نه اوم.([5])نودا روایت محمول دې چه دوی به پرهیز او احتیاط کولو،نه داچه محمول وی،حرمت او ممانعت باندې.

د لنګ دپاسه فائده اخستل:- بعضې حضرات دا هم فرمائی چه لنګ سره دې فائده اوچتوی.حضرت میمونه بنت حارث هلالیه رضی الله عنها فرمائی چه نبی کریم ﷺ چه کله خپلې بی بی سره دحیض په حالت کښې ملاویدو نو هغوی ته به ئې حکم کولو چه لنګ اوترنی.(بخاری).([6]) داشان بخاری اومسلم کښې هم دا حدیث حضرت عائشه رضی الله عنها نه مروی دی.نبی کریم ﷺ نه یو سړې سوال کوی چه زما ښځې سره مالره دحیض په حالت کښې څه حلال دی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ته لنګ دپاسه هر څه (ابو داود وغیره) ([7])یو روایت کښې دی چه ددې هم بچ کیدل بهتر دی.([8]) د حضرت عائشه رضی الله عنها،حضرت ابن عباس رضی الله عنه،

---

[1]) ابوداود کتاب الطهارة باب فی الرجل یصیب منها مادون الجماع: ۲۷۰)-

[2]) صحیح بخاری کتاب الحیض باب قراة الرجل فی حجر امراته : ۲۹۷،صحیح مسلم: ۳۰۱)-

[3]) صحیح مسلم کتاب الحیض باب جواز غسل الحائض راس زوجها : ۳۰۱.ابوداود: ۲۶۰،نسائی: ۲۷۴،ابن ماجة: ۶۳۴)-

[4]) ابو د اود کتاب الطهارة باب فی الرجل یصیب منها دون الجماع: ۲۶۹،وسنده حسن لسانی: ۲۸۵)-

[5]) ابو د اود کتاب الطهارة باب فی الرجل یصیب منها دون الجماع: ۲۷۱)-

[6]) صحیح بخاری کتاب الحیض باب مباشرة الحائض : ۳۰۲،صحیح مسلم: ۲۹۴)-

[7]) ابو داود کتاب الطهارة باب فی المذی: ۲۱۲،وسنده حسن)-

[8]) (ابو داود : ۲۱۳)-

Scanned with CamSc

حضرت سعید بن مسیب رحمه الله،او حضرت شریح رحمه الله مذهب هم دادې.حضرت امام شافعی رحمه الله نه دې باره کښې دوه اقوال دی،چه په کښې یو دا هم دی.داکثرو عراقیانو وغیره هم دا قول دې.دا حضرات فرمانی چه دا خو متفقه فیصله ده چه جماع حرام ده،ځکه چه ددې د نزدې والی نه هم بچ کیدل پکار دی چه په حرمت کښې د واقع کیدو نه بچ شی.

د لنګ دپاسه د فائدې اخستلو حکم

مسلک حنفی:- په تسهیل الهدایه کښې شرح هدایه کښې دی باقی پاتې شوه دا خبره چه دجماع نه سوا دې دښځې نه مزه اخستې شی که نه؟①نوپه دې باره کښې د امام ابوحنیفه،امام ابویوسف،امام شافعی اوامام مالك رحمهم الله مذهب دا دې.چه د نوم نه لاندې تر پندو پورې نفع اخستل حرام دی.②او امام محمد اوامام احمد رحمهما الله فرمائی.چه د فرج نه علاوه د بدن هیڅ یوه حصه هم حرامه نه ده.(تسهیل الهدایه (۱۱ ۱۹۱)-

په حیض کښې جماع کولو سره د کفارې حکم:- دحیض په حالت کښې دجماع حرمت او ددې کار کولو والا امر خو یقینی امر دې.لکه څنګه چه توبه او استغفار کول لازمی دی.لیکن دې سره به کفاره هم ورکوی که نه ؟په دې کښې دعلماء کرام دوه اقوال دی.یو خو دا چه کفاره هم شته دې.مسنداحمد اوسنن کښې دحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې خپلې حائضې ښځې سره نکاح اوکړی نو هغه دې یو دینار یا نیم دینار صدقه ورکړی.ترمذی کښې دی که وینه سره وی نو یو دینار او زیړه وی نو نیم دینار(۱)مسند احمد کښې دی که وینه روسټو شوې وی او اوسه پورې لا ښځې غسل نه وی کړې او په دې حالت کښې ددې خاوند دې سره یو ځائې شی نو نیم دینار ګنی پوره دینار.(۲)

دویم قول دادې چه کفاره هم نشته دې،صرف د الله ﷻ نه دې استغفار غواړی.د حضرت امام شافعی رحمه الله آخری قول زیات صحیح دې.او صحیح مذهب هم دادې.او جمهور علماء کرام هم ددې قائل دی.چه کوم احادیث پورته بیان شو دهغې نسبت دا حضرات فرمائی چه ددې مرفوع کیدل صحیح نه دی بلکه صیحح هم دادی چه دا موقوف دی.نودا حدیث روایتاً مرفوع او موقوف دواړولحاظ سره مروی دې.لیکن داکثرو علماء کرامو تحقیق دې چه صحیح خبره داده چه دا موقوف دې دا فرمان چه تر پورې ښځې پاکې نشی هغوئ لره نزدې مه ورځئ.دا تفسیر د دې فرمان نه چه ښځو سره د هغوئ دحیض په حالت کښې بیل اوسئ.ددې نه معلوم شو چه کوم وخت کښې حیض ختم شی بیا نزدیکت حلال دې.حضرت امام ابوعبدالله احمد بن محمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه طهر یعنی پاکی دلالت کوی چه اوس دوی سره نزدیکت جائز دې.د حضرت میمونه رضي الله عنها او حضرت عائشه رضي الله عنها دا فرمائیل چه په مونږکښې به کومه یوه هم په حیض کښې وه نو تهبند به ئې ترلو.او حضرت نبی ﷺ سره به په ځادر کښې اوده کیدله،دا خبره ثابتوی چې دکوم نزدیکت نه منع کړې شوې هغه جماع ده.هسې اوده کیدل،کښناستل وغیره ټول جائز دی.

په حیض کښې جماع کولو باندې د کفارې حکم

مسلک حنفی:- اوکه په حالت دحیض کښې ئې وطی اوکړله.①نوتوبه پرې واجب ده.او یودینار یا نیم دینار به صدقه کوی.② اوبعضو فرمائیلی دی.که د حیض په اول کښې ئې وطی اوکړله.نو یو دینار به ورکوی.اوکه په آخر دحیض کښې ئې وطی کړې وی.نونیم دینار به ورکوی.(تسهیل الهدایه (۱۱ ۱۹۱)-

---

(۱) احمد: ۳۶۳/۱،ابوداود کتاب الطهارة: باب فی اتیان الحائض : ۲۶۴،وهو حصیح ترمذی: ۲۹۰،ابن ماجة: ۶۵۰)-.

(۲) احمد: ۳۶۷/۱)-

قوله تعالی:- فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللَّهُ

د حیض نه پس د جماع حکم:- دې نه پس دا فرمانی چه د دوی د پاکیدو نه پس دوی ته ورځئ،په دې کښې ارشاد دې چه ددوی د غسل کولو نه پس دوی سره جماع کوئی.امام ابن حزم رحمه الله فرمانی دهر حیض د پاکوالی نه پس جماع کول واجب دی.ددې دلیل دا لفظ ﴿ فَأْتُوهُنَّ ﴾ دې.چه په دې کښې حکم دې لیکن دا دلیل څه پوخ نه دې.دا امر صرف دحرمت لرې کیدو اعلان دې.او ددې نه سوا هیڅ دلیل دوی سره نشته دې.

دلته امر د جوب دپاره نه دې:- علماء اصول کښې بعضې وائی چه امر یعنی حکم د مطلق وجوب دپاره دې.ددې خلقو دپاره دامام ابن حزم جواب ډیر مشکل دې.بعضې وائی چه دا امر صرف د اباحت دپاره دې.اوددې نه مخکښې ممانعت وارد شوې دې.دا قرینه ده چه امر د وجوب نه واړوی.لیکن دا خبره د غور طلب ده،دلیل نه چه کومه خبره ثابت ده هغه داده چه داسې موقع باندې یعنی مخکې منع وه بیا حکم دې نو ړومبې حکم به په خپل اصلی حالت باندې وی.یعنی کومه خبره چه منع کیدونه مخکې پشان وه هم هغه شان به اوس هم وی.لکه قران پاک کښې دی چه ﴿ فَإِذَا انْسَلَخَ الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ ﴾ یعنی کله چه حرمت والا میاشتې تیرې شی نو مشرکانو سره جهاد کوئی.او که هغه کار د ممانعت نه مخکې مباح وو نو اوس به هم هغه مباح وی.لکه ﴿ وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا ﴾ کله چه تاسو احرام پرانیزئی نو شکار کوئی او بل خائې کښې دی چه ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ ﴾ یعنی کله چه تاسو مونځ پورا کړئی نو په زمکه کښې خواره شئ.

تطبیق:- ددې علماء کرامو دا فیصله ددوی دا مختلف اقوال هم جمع کوی چه امر دوجوب وغیره باره کښې دی.امام غزالی وغیره هم دا بیان کړی دی.اوبعضو آئمه متاخرین هم دا خوښ کړی دی او هم دا صحیح دی.

دامسئله هم یاد ساتل پکار دی چه دټول امت دعالمانو اتفاق دې چه کله د حیض وینه راتلل بندشی موده تیره شی،بیا هم ددې د خاوند دې سره جماع کول حلال نه دی تر څو پورې چه هغه غسل اونکړی خو که معذور وی او د غسل په بدله کښې تیمم کول دې لره جائز وی نو تیمم دې اوکړی.دې نه پس ددې خاوند دې ته ورتلې شی.البته امام ابوحنیفه رحمه الله ددې ټولو عالمانو خلاف دې.هغوئ فرمائی چه کله حیض دزیاتو نه زیاتو ورځو میعاد یعنی لس ورځو باندې بند اوشی او بند شی نو ددې دخاوند دې سره صحبت کول حلال دې اګر چه دې غسل نه وی کړې،والله اعلم.

په اکثره موده د حیض بندیدو نه پس د غسل نه وړاندې د جماع جواز

مسلک حنفی:- فاضل مفسر رحمه الله چه امام ابوحنیفه ته د کوم قول نسبت کړې دې نو دا صحیح دې البته امام ابوحنیفه ولې دا قول اختیار کړې دې نو د دې دپاره زه د خپل تالیف تسهیل الهدایه عبارت نقل کوم دا په غور سره اوګورئ

اوکه په لسمه ورځ وینه اودریدله.نو دې سره د غسل نه وړاندې وطی کول جائزدی.ځکه چه د حیض وینه د لسو ورځو نه زیاته نه وی.نو معلومه شوه.چه حیض ختم شوې دې.البته دومره ده.چه دغسل نه وړاندې وطی کول مستحب نه دی.دهغه ممانعت دوجې کوم چه په قراءت د تشدید کښې راغلې دې.په قراءت د تشدید کښې یعنی ﴿ وَلَا تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىٰ يَطْهُرْنَ ﴾ (دطاء او هاء په شد سره) په دې قراءت کښې مبالغه مطلوب ده.(چه دوی ښه پاکې شی.) او مبالغه (یعنی ښه پاکې) به هله راشی.چه د وینې بندیدونه پس غسل هم اوکړی.دا قراءت اګرچه دواړو صورتونو ته شامل دې.که لس ورځې وی اوکه د لسو نه کمې وی.لیکن فرق به دا وی.که د لسو نه کمه موده باندې وینه اودریدله.غسل به ضروری

Scanned with CamSc

وی.دغسل نه وړاندې ورسره وطی کول جائز نه ده.اوکه په لسمه ورځ اودریدله.نو دغسل نه وړاندې هم وطی جائزده.لیکن مستحب دا ده.چه غسل اوکړی.(کذا في تسهیل الهدایه شرح هدایه (۱۹۳/۱)-

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه یو خل خو لفظ دې (یطهرن) ددې نه مراد دحیض وینه بندیدل دی.او (تطهرن) نه مراد غسل دې.مجاهد ،حسن،مقاتل،لیث بن سعد ﷺ وغیره هم دا فرمائی.(۱)

په مخکښې طرف کښې جماع کول:- بیا ارشاد دې چه دهغه ځائې نه رازئی چه کوم ځائې درته الله ﷻ حکم کړې دې.ددې نه مراد مخکښې والا ځائې (فرج) دې.(۲) حضرت ابن عباس ﷺ،حضرت مجاهد ﷺ وغیره ډیرو مفسرینو ددې هم د امعنی کړې ده چه ددې نه مراد دبچو دپیدائش ځائې دی.ددې نه علاوه بل ځائې یعنی د پاخانې ځائې حرام دې.داسې کولو والاحد نه تیریدونکی دی.صحابه کرام او تابعینو نه هم دا مروی د ی چه ددې مطلب د ادې چه کوم ځائې نه تاسو دحیض حالت کښې منع کړې شوی وې اوس هغه ځائې تاسولره حلال دې.ددې نه صفا ظاهر دی چه د پاخانې ځائې کښې وطی کول حرام دی.ددې مفصل بیان هم رازی انشاء الله.

دا معنی هم شوې ده چه دپاکوالی حالت کښې رازئی کله چه هغوئ حیض نه پاکې شی.په دې وجه دې نه پس جمله کښې دی چه ګناهونو نه توبه کونکی دې حالت کښې جماع نه د بچ کیدونکی الله ﷻ خوښوی او ګندونو او ناپاکو نه بچ کیدونکی د حیض حالت کښې خپلو بیبیانوسره نه ملاویدونکی دا شان بل ځائې نه بچ کیدونکی دوی سره خپل پروردګاسره محبت ساتی.

قوله تعالی:- نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ۖ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ

په مخکښې طرف کښې جماع کول:- بیا فرمائی چه ستاسو ښځې ستاسو پتی دی یعنی د اولاد ځائې دی.تاسوخپلو پتو کښې څنګه چه هم غواړئی رازئی یعنی ځائې به هم دا وی که څوک روستو نه کوی یا ددې خلاف.

د یهودیانو غلطه عقیده:- صحیح بخاری کښې دی چه یهودو به وئیل چه کله ښځې سره مجامت مخامخ په مخامخ اونکړې اوددې حمل شی نوهغه بچې کانړې وی.(۳)ددې په تردید کښې داجمله نازله شوه چه سړی ته اختیار دی.ابن ابی حاتم کښې دی چه یهودیانو دا خبره مسلمانانوته هم کړې وه.ابن جریج ﷺ فرمائی چه د دې آیت د نازلیدو نه پس نبی کریم ﷺ اختیار ورکړو که څوک دمخې نه جماع کوی اوکه د روستو نه لیکن ځائې به یو وی.(۴)

حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ نه یوسړی تپوس اوکړو مونږ خپلو ښځو ته څنګه ورشو او څنګه ئې پریږدو؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه ستاپتې دې،چه څنګه غواړې ورځه،خوهغه په خوله مه وهه،زیاتې خبرې ورته مه کوه.اوددې نه مه مروریږه او بیلیږه مه.یو کور کښې ورسره اوسه.الخ (احمد و سنن).(۵)

ابن ابی حاتم کښې دی چه د حمیر قبیلې یو سړی حضرت نبی ﷺ نه سوال اوکړو زما خپلې ښځې سره ډیر زیات محبت دې.نوماته ددې باره کښې احکام اوښائې.په دې باندې دا حکم نازل شو.مسند احمدکښې دی چه څو نصرانیانو نبی کریم ﷺ نه تپوس کړې وو(۶) د طحاوی کتاب مشکل الحدیث

---

(۱) ابن ابی حاتم : ۲۸۲/۲)-

(۲) ایضا : ۲۸٤/۲)-

(۳) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة بآب (نساء کم حرث لکم) : ٤٥٢٨،صحیح مسلم: ١٤٣٥)-

(٤) ابن ابی حاتم (۲۹۳/۲)-

(٥) احمد: ۳/٥،ابوداود : کتاب النکاح باب فی حق المراة علی زوجها: ۲۱٤۳،وسنده حسن)-

(٦) احمد : ۳۲۸/۱)-.

کښې دی چه یو سړی خپلې ښځې سره الته الته مباشرت کړې وو.خلقو ده ته بدرداووئیل.نو دا آیت نازل شو.

د یوې انصارې واقعه:-ابن جریر کښې دی چه حضرت عبدالله بن سابط،حضرت حفصه بنت عبدالرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه ته راغلو او وې وئیل چه دیو مسئلې تپوس کوم.خو څه شرمیږم.وې فرمائیل چه وراره ته مه شرمیږه او چه څه تپوس کول غواړې نو اووایه.وې وئیل چه ښځو سره دروستو طرفنه جماع کول جائز دی ؟ وې فرمائیل چه واوره ماته حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائیلی دی چه انصارو به ښځولره الته څملولې او یهودو به وئیل چه ذاشان کولو سره بچی کانړې پیداکیږی.کله چه مهاجرینو مدینې ته تشریف راوړ او دلته ددوی.ددې خانې ښځو سره نکاح اوشوه اوهغوئ هم دا کول غوښتل نو یوې ښځې د خپل خاوند دا خبره اونه منله او وې وئیل چه ترکومې پورې داوقعه نبی کریم ﷺ ته بیان نه کړم نوستا خبره به اونه منم.نوهغه دحضرت نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه.ام سلمه رضی الله عنها هغه کینولې اوورته ئې اووئیل چه اوس به حضرت نبی ﷺ راشی.هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ تشریف راوړو نو دې انصاریه ښځه خو د شرم دلاسه تپوس کولو ته نه جوړیده او واپس شوه.خو موربی بی د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو.حضرت نبی ﷺ اوفرمائیل چه دا انصاریه ښځه راوبله.بیا دا آیت ئې ورته تلاوت کړو او وې فرمائیل چه خانې به هم یو وی.(۱)

مسند احمد کښې دی چه یو ځل حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه نبی کریم ﷺ ته اووئیل چه ای دالله رسوله ﷺ څه خو هلاک شوم.نبی کریم ﷺ ترې تپوس اوکړو چه څه خبره ده.وې فرمائیل چه ما دشپې خپله سورلئ الته کړه.نبی کریم ﷺ ورته څه جواب ورنکړو.هم په دې وخت کښې دا آیت نازل شو.نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه دمخې طرف نه ورځه اود روستو نه هم،تاته ا ختیار دې.خود حیض په حالت کښې مه ورځه او پاخانې د خانې نه هم مه ورځه.(۲)

په روستو طرف کښې د جماع ممانعت:- د انصاری والا واقعه لړه شان تفصیل سره ده.او په هغې کښې داهم دی چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه دې الله اوبخښی هغه ته څه وهم شو،خبره دا ده چه د انصاریانو جماعت مخکې بت پرست وو اویهودیان اهل کتاب وو.بت پرست خلق ددوی د علمیت او فضیلت قائل وو.اواکثرو افعالو کښې به ئې دهغوئ خبره منله.یهودیان به هم په یوطریقه ښځو سره ملاویدل. هم دا عادت دانصارو هم وو.ددې خلاف مکې والا د څه خاص طریقې پابند نه وو.هغوئ چه به څنګه غوښتل نو ملاویدل به.داسلا م نه پس کله چه مهاجرین مدینې ته راغلل او دلته آبادشو نو یومکی مهاجر سړی یو مدنی انصاریه ښځې سره نکاح اوکړه او خپله طریقه ئې کول غوښتل.ښځې ترې انکار اوکړو اوورته ئې صفا اووئیل چه هم د دې یو مقرري طریقې نه علاوه د بلې طریقې اجازت نه درکوم.او دا خبره نبی کریم ﷺ ته راورسیدله.او دا فرمان نازل شو.نو د مخې روستو طرفنه تاسو ته اختیار دې چه څنګه غواړئ کوئی خو خانې به یو وی.(۳)

حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ما د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه قران پاک زده کړو.اول نه تر آخره پورې مې واوریدلو.د یویو آیت تفسیر او مطلب مې تپوس اوکړو.دې آیت ته چه راورسیدم نو ددې د مطلب تپوس مې اوکړو نو هغوئ هم دا آیت تلاوت اوفرمائیلو.(چه کوم پورته تیرشو).د حضرت ابن عمر رضی الله عنه دا ګمان وو چه بعضوروایتونو کښې دی چه دوی به کله دقران پاک تلاوت کولونو هیڅا سره به ئې خبرې نه کولې.او یو ورځ چه دوی تلاوت کولو او دې آیت ته راورسیدل نو خپل شاګرد حضرت نافع رحمه الله

---

۱) احمد: ۳۰۵/٦،ترمذی: کتاب التفسیرالقران باب ومن سورة البقرة : ۲٦،وهو صحیح)-

۲) احمد: ۳۰۵/٦،ترمذی: کتاب التفسیرالقران باب ومن سورة البقرة : ۲۹۸۰،وهو حسن)-

۳) ابو داود کتاب النکاح ۲۱٦٤،)-

ته نې اوفرمانیل چه تاته پته ده چه دا ایت څه باره کښې نازل شوې دې ؟ هغوئ اونیل چه نه.وې فرمانیل چه دا د ښځو سره بل ځانې کښې وطی کولو باره کښې نازل شوې دې.یو روایت کښې دی چه دوی اوفرمانیل چه یو سړی خپلې بی بی سره دروستو طرفنه وطی کړې وه نوپه دې باندې دا آیت نازل شو او دې رخصت ورکړې شو.(۱)

لیکن یو خو په دې کښې محدثینو څه علت بیان کړې دې.دویم ددې معنی داهم کیدیشی چه دروستو طرفنه ئې مخکې ځانې کښې کړی وو.او دا پورته حدیث چه دې هغه هم دسند لحاظ سره صحیح نه دې.بلکه هم ددې حضرت نافع ﷺ نه مرو ی دې چه دوی ته اووئیلې شو چه تاسو دا وائې چه حضرت ابن عمر ﷺ وطی دبر جائز کړې ده.نو وې فرمانیل چه خلق دروغ وائی.بیاهم هغه د انصاریه او مهاجر سړی والا واقعه ئې بیان کړه او وې فرمانیل چه حضرت عبدالله ﷺ خو به ددې آیت هم دا مطلب بیانولو.ددې روایت سندهم صحیح دې.او ددې خلاف والاسندصحیح نه دې.معنی مطلب ئې داهم کیدیشی او حضرت ابن عمر ﷺ نه ددې خلاف هم مروی دی.هغه به نزدې بیانیږی،انشاء الله،په هغې کښې دی چه حضرت ابن عمر ﷺ فرمائی چه دا (په شا طرف کښې جماع کول) نه مباح ده او نه حلال بلکه حرام ده.

دا قول یعنی د جوازقول د مدینې بعضې فقهاو وغیره طرف ته هم منسوب دې.او بعضې خلقو خو دا امام مالك رحمه الله طرفته منسوب کړی ده.لیکن اکثر خلق ددې نه انکار کوی.او فرمائی چه دا د امام صاحب رحمه الله قول بالکل نه دې.صحیح روایات په کثرت سره ددې فعل حرمت باندې وارد شوی دی.یو روایت کښې دی چه انې خلقو ا شرم اوکړئ،حیا اوکړئ،الله ﷻ دحق خبرې کولو نه شرمیږی.ښځو سره دپاخانه په ځانې کښې وطی مه کوئ.(۲)دویم روایت کښې دی چه دوی خلق ددې حرکت نه منع اوفرمائیل (مسند احمد) (۳).روایت کښې دی چه کوم سړې یو ښځې یا سړی سره داکار اوکړی نو د الله ﷻ د رحمت په نظر دې سړی ته نه ګوری (ترمذی).(۴) حضرت ابن عباس ﷺ نه یو سړی ددې مسئلې باره کښې تپوس اوکړو نو دو ی اوفرمائیل چه آیا ته دکفر باره کښې تپوس کوې ؟ (۵) یو سړې راغلو او دوی ته ئې اووئیل چه ماد﴿ اَنّٰی شِئْتُمْ ﴾ دا مطلب اخستې دې.او ما په دې باندې عمل اوکړو نو دوی ډیر خفه شو او هغه ته ئې بدرد اووئیل او وې فرمائیل چه ددې مطلب دادې که په ولاړه وی اوکه په ناسته وی او که په اړخ وی اوکه دروستونه وی.(مسند احمد) (۶) حضرت ابودرداء فرمائی چه داکار دکافرو دې.دحضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ هم دا قول دې.او هم دا زیات صحیح دې. والله اعلم.

اووه قسمه خلقو ته د رحمت په نظر نه کتل:- نبی کریم ﷺ فرمائی چه اووۀ قسمه خلق دی چه دقیامت په ورځ به الله ﷻهغوئ ته درحمت په نظر نه ګوری.اونه به هغوی پاکوی هغوی ته به اوفرمائی چه جهنمیانوسره جهنم ته لاړشئ.① یوخو اغلام بازی کولو والا که هغه پورته کولو والا (فاعلی) وی او که لاندې کولو والا(مفعول) وی ②او خپل لاس سره حاجت پورا کولو والا (موټی وهلووالا)③ او ځناور سره دا کار کولو والا ④اودښځې دبر کښې وطی کولو والا⑤او د ښځې د لور سره نکاح کولو والا

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (نساء کم حرث لکم.....) ٤٥٢٦)-

(۲) الحسن عرفه)-

(۳) احمد: ۲۱۵/۵،ابن ماجة: کتاب النکاح باب النهی عن اتیان النساء فی ادبارهن : ۱۹۲٤)-

(۴) ترمذی : کتاب الرضاعة باب ماجاء فی کراهیة اتیان النساء فی ادبارهن: ۱۱٦۵،وهو حسن)-

(۵) عبد بن حمید وسنده صحیح)-

(۶) احمد: ۲۱۰/۲،وسنده صحیح)-

Scanned with CamScanner

⑥او د خپل ګواندې ښځې سره زنا کولو والا ⑦او هغه کس چه خپل اوګواندې تنګوی اوهغه په دۀ لعنت اووائی (۱) لیکن ددې په سند کښې ابن لهیعه او دده استاد دواړه ضعیف دی.دمسند په یو بل حدیث کښې دی چه کوم سړې خپلې بی بی سره بله لاره کښې وطی کوی نو الله ﷻ ده ته د رحمت په نظر نه ګوری.(مسند).(۲)

مسند احمد او سنن کښې دی چه کوم سړې حائضه ښځې سره جماع اوکړی یا په غیر خانې (دبر) کښې جماع اوکړی یا کاهن ته ورشی او هغه رښتیا اوګنړی نو ده په هغه څیز باندې کفر اوکړو کوم چه حضرت محمد ﷺ باندې نازل شویدې.(۳) امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله دې حدیث ته ضعیف وائی.ترمذی کښې روایت دې چه ابو سلمه ﷺ هم د دبر وطی ته حرام وائی.

حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه دخلقو خپلو بیبیانو سره دا کار کول کفر دې (نسائی).یو مرفوع حدیث کښې هم د دې دا معنی مروی ده.لیکن زیات صحیح ددې موقوف کیدل دی.روایت کښې دی چه دا خانې (روستو طرف) حرام دې.حضرت ابن مسعود ﷺ هم دا فرمائی.حضرت علی ﷺ نه چه کله تپوس اوشو نو دوی اوفرمائیل چه هغه سړې ډیر کمینه دې. قران پاک کښې دی چه د لوط ﷺ قوم ته اووئیلې شو چه تاسو هغه بدکار کوئ چه ستاسو نه مخکې دې کار طرفته دچا هډو سوچ هم نه وو.نو د صحیح آحادیثو نه او د صحابه کرامو ﷺ نه په ډیرو سندونو سره ددې فعل حرمت مروی دی.

ابن عمر ﷺ ته غلط نسبت:- دا دې هم یاد وی چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ هم دې ته حرام وائی.په دارمي کښې دی چه یو ځل دوی نه دا سوال اوشو نو دوی اوفرمائیل چه آیا مسلمان هم داسې کولې شی؟(۴)ددې اسناد صحیح دی او د حرمت حکم هم ښکاره دې.نو غیر صحیح او مختلفو معنووالا روایتونه وئیل او دومره لوئې جلیل القدر صحابی طرفته داسې ګنده مسئله منسوب کول صحیح نه دی.اګر چه داسې قسم روایتونه هم ملاویږی.

امام مالک رحمه الله ته غلط نسبت:- پاتې شو حضرت امام مالک رحمه الله نو هغوئ طرفته ددې مسئلې منسوب کول صحیح نه دی بلکه معمر بن عیسی فرمائی چه امام صاحب دې ته حرام وائی.اسرائیل بن روح د امام مالک رحمه الله نه یو ځل تپوس اوکړو نو دوی اوفرمائیل چه ته ناپوهه نې.کر په پتې کښې کولې شی،خبردار دشرمګاه نه سوا بل خانې نه ځان ساتل پکار دی.سائل اووئیل چه حضرت خلق خو وائی چه تاسو دا فعل جائزګنړئ.دوی اوفرمائیل چه دروغژن دی،ماباندې تهمت لګوی.امام مالک رحمه الله نه ددې حرمت ثابت دې.

روستو طرف کښې وطی کول د فقهاؤ په نظر کښې:- حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمه الله،امام احمد رحمه الله،او ددوی شاګردان،سعید بن مسیب رحمه الله،ابوسلمه رحمه الله عکرمه رحمه الله طاؤس رحمه الله عطاء رحمه الله سعیدبن جبیر رحمه الله،عروه بن زبیر رحمه الله،مجاهد رحمه الله حسن رحمه الله وغیره سلف صالحین ټول دې ته حرام وائی او دې باره کښې ډیر تشدد کوی.بلکه بعضې خو دې ته کفر وائی.د جمهورعلماء کرامو هم په دې باندې د حرمت اجماع ده.اګر چه د بعضې فقهاء مدینه او امام مالک رحمه الله نه ددې حلت هم نقل دې.خو دا صحیح نه دی.دعبدالرحمان بن قاسم رحمه الله قول هم دادې چه ما هیڅ یو داسې دیندار کس اونه لیدو چه ددې په حرمت کښې شك کوی.اوبیا نې ﴿نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ﴾ اووئیل.پخپله دا لفظ هم حرث دې.او ددې دحرمت ظاهرولو دپاره کافی دې.ځکه چه هغه بل خانې د پتې نه دې،پتې ته دتلو

---

(۱) جعفر الفریابی)-

(۲) احمد: ۲۷۲/۲،کتاب النکاح باب النهی عن اتیان النساء فی ادبارهن : ۱۹۲۳،ابوداود :۲۱٦۲،وهو حسن)-

(۳) احمد: ٤٠٨/۲،ابوداود: کتاب الطب بآب فی الکهان : ۳۹۰٤،ترمذی: ۱۳۵،ابن ماجة: ٦۳۹،وهو حسن)-

(٤) الدارمی: ۱۱٤۷ وسنده حسن صحیح)-

Scanned with CamSc

طریقه کښې اختیار دې د ځانې د بدلون اختیار نه وی.اګر چه دامام مالك رحمه الله نه ددې مباح کیدل هم منقول دی.خو د هغې په اسنادوکښې سخت ضعف دې.والله اعلم.
هم داشان یوروایت خلقو حضرت امام شافعی رحمه الله ته منسوب کړې دې.حالانکه هغوئ په خپلو شپږو کتابونوکښې په ښکاره لفظونوسره دې ته حرام وئیلی دی.

ښځې سره په دبر کښې د جماع حرمت

مسلک حنفی:- فاضل مفسر چه امام ابوحنیفه رحمه الله ته د شا طرف نه د بی بی سره د حرمت کوم قول منسوب کړې دې دا بالکل صحیح دې د هغوی په نیز هم په دبر کښې جماع کول حرام ده (احکام القران للعثمانی (۱۱۱/۴۲۰)-

قوله تعالی:- وَقَدِّمُوْا لِاَنْفُسِكُمْ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ مُّلٰقُوْهُ ۭ بیا فرمائی چه ځان سره څه مخکې هم اولیږئی.یعنی د ممنوعاتو نه ځان اوساتئی.نیکئ کوئی چه ثواب مو مخکې لاړشی.دالله ﷻ نه ویریږئی،هغه سره به مو ملاقات کیږئی.هغه به درسره حساب کتاب کوی.ایماندار دې په هر حال کښې خوشحالی کوی.

د بچی د شیطان نه د بچ کیدو دعا:- حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ددې دا مطلب هم دې چه کله د جماع اراده اوکړئی نو دا دعا وائی چه ﴿بسم الله اللهم جنبنا الشیطن وجنب الشیطن ما رزقتنا﴾ یعنی ای الله ﷻ ته مونږ او خمونږ اولاد لره د شیطان نه بچ اوساتې (۱).نبی کریم ﷺ فرمائی که ددې نطفې نه بچې جوړ شو نو دا بچې به شیطان نه محفوظ وی اوده ته به بالکل ضرر نه رسوی.

وَلَا تَجْعَلُوا	اللّٰهَ	عُرْضَةً	لِّاَيْمَانِكُمْ	اَنْ تَبَرُّوْا		وَتَتَّقُوْا	
او مه ګرځوئ	الله	نوم	د	دپاره	دقسمونو	خپلو	چې نه به نیکی کوئ او نه به پرهیزګاری کوئ
اوالله نوم دخپلو قسمونودپاره ښنبه مه ګرځوئ (چه په هره خبره قسم خوری مثلا) چې تاسو به نیکی اوپرهیزګاری							
وَتُصْلِحُوْا	بَيْنَ النَّاسِ ۭ	وَاللّٰهُ	سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ ۝	لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ		
اونه به روغه کوئ	په منځ دخلقو کښې	او الله	هر څه اوریدونکی	او په هرڅه پوهه دې	نه نیسی تاسو الله		
اود خلقو په مینځ کښې روغه نه کوئ	الله پاک هرڅه آوری او په هرڅه پوهه دې				.....الله پاک تاسو په لغو		
بِاللَّغْوِ	فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ	وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ	بِمَا كَسَبَتْ		قُلُوْبُكُمْ ۭ	وَاللّٰهُ	
په بې مطلبه قسمونو ستاسو	لیکن نیسی تاسو	په هغه قسم چې قصد کړې وی دهغې ازړونو ستاسو				او الله	
(بې ارادې) قسمونونه نیسی	بلکه صرف په هغه (قسمونو) مونیسی د کومو چه ستاسو زړونو قصد کړې وی اوالله پاک						
غَفُوْرٌ	حَلِيْمٌ ۝						
معاف کونکی	صبر ناک دې						
معاف کونکی اوصبرناک دې							

قوله تعالی:- وَلَا تَجْعَلُوا اللّٰهَ عُرْضَةً لِّاَيْمَانِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْا وَتَتَّقُوْا وَتُصْلِحُوْا بَيْنَ النَّاسِ ۭ
د ناجائزه قسم د ماتولو حکم:- الله ﷻ فرمائی چه نیکی او صله رحمی پرینبودلو دپاره دالله ﷻ قسمونه نښه مه جوړوئی.لکه بل ځانې کښې فرمائی چه ﴿ وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ ﴾ الخ.هغه خلق چه

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب تسمیة علی کل حال وعند الوقاع : ۱۴۱،صحیح مسلم: ۱۴۳۴)-

Scanned with CamScanner

امیراومالدار دی،هغوئ دې رشته دارو ته اومسکینانو ته اوﷲ ﷻ په لارکښې هجرت کوونکوته په نه ورکړه باندې قسمونه نه خورئی،هغوئ ته پکار دی چه د معاف کولو عادت خپل کړی. آیا ستاسو خپل خواهش نه دې چه الله ﷻ تاسو ته معآفی آوکړی که څوك دا سې قسم اوخوری نو هغه ته پکار دی چه هغه مات کړی اوکفاره ورکړی.د صحیح بخاری حدیث کښې دی چه مونږ روستو راتلونکی امت یو.لیکن دقیامت په ورځ د ټولو نه مخکې (جنت ته) تلونکی یو.فرمائی که په تاسو کښې څوك داسې قسم اوخوری اوکفاره ورنکړی او په دې باندې کلك ولاړ وی نو هغه ډیر لوئې ګناهګار دې.(۱) دا حدیث په نورو ډیرو سندونو سره په ډیرو کتابونو کښې مروی دې.حضرت عبدالله بن عباس ﷺ هم ددې په تفسیر کښې هم دا فرمائی.حضرت مسروق رحمه الله وغیره او ډیر نور مفسرینونه هم دا مروی دی.د جمهورو د دې قول تائید ددې حدیث نه هم کیږی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه په الله قسم ! که څه یو قسم اوخورم او ماته دهغې په ماتولو کښې ښیګړه په نظر راځی نو څه بالکل هغه قسم ماتوم او ددې قسم کفاره به ادا کوم.(۲) نبی کریم ﷺ یو ځل حضرت عبدالرحمن سمره ﷺ ته اوفرمائیل چه اې عبدالرحمان ! دسردارئی،امامت او امارت غوښتنه مه کوه،که ستا دغوښتنې نه بغیر درکړې شی نو دا به دالله ﷻ دطرفنه وی او په دې کښې به ستا مدد کولې شی.اوکه تا پخپله اوغوښته نو دا به تاته حواله کیږی.که څوك قسم اوخوری او ددې خلاف کښې څه ښیګړه اوګوری نو خپل قسم دې مات کړی او ددې کفاره دې ورکړی او هغه نیك کار دې اوکړی.(۳)

صحیح مسلم کښې دی چه کوم سړې قسم اوخوری اوبیا ورته ددې نه سوا په بله خبره کښې خیرپه نظر راشی نوده ته پکاردی چه هغه خیر والا کار اوکړی اوخپل قسم دې مات کړی اوددې کفاره دې ورکړی (۴)مسنداحمدکښې یوحدیث دی چه ددې پرېښودل کفاره دی.(۵)ابوداود کښې دی چه نذر او قسم په هغه څیز کښې نشته دې چه دانسان په ملکیت کښې نه وی اونه دالله ﷻ نافرمانئ کښې وی اونه درشتو ماتولوکښې وی.چه کوم سړې قسم اوخوری او نیکی ددې په کولو کښې نه وی نو هغه دې قسم پرېږدی او دنیکئ کار دې اوکړی.ددې قسم پرېښودل ددې کفاره ده.

امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه ټولو صحیح احادیثو کښې دا لفظ دی چه دخپل داسې قسم کفاره دې ورکړی.(۶)یو ضعیف حدیث کښې دی چه دخپل داسې قسم پورا کول هم دا دی چه هغه مات کړی او ددې نه رجوع اوکړی.حضرت ابن عباس ﷺ،حضرت سعید بن مسیب رحمه الله،حضرت مسروق رحمه الله او حضرت شعبی رحمه الله هم ددې قائل دی چه ددې قسم سړی په ذمه کفاره نشته دې.

د ناجائزه قسم ماتولو د کفارې حکم

مسلک حنفی:- که سړې په مستقبل کښې د یو کار په کولو یا نه کولو باندې قسم اوخوری او بیا دې دغه قسم مات کړی نو په ده باندې د حنفیانو په نیز کفاره واجب ده (احکام القران للعثمانی

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الایمان والنذور باب قول الله تعالی (لایواخذکم الله با للغو...) : ۶۶۲۴)-

(۲) صحیح بخاری کتاب فرض الخمس باب ومن الدلیل علی ان الخمس للتواب المسلمین: ۳۱۳۳،صحیح مسلم: ۱۶۴۹،نسائی: ۳۸۱۱،ابن ماجة: ۲۱۰۷)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الکفارات الایمان باب الکفارة قبل الحنث وبعده : ۶۷۲۲،صحیح مسلم: ۶۷۲۲،ترمذی: ۱۵۲۹،ابوداود: ۳۲۷۷،نسائی: ۳۷۱۳)-

(۴) صحیح مسلم کتاب الایمان باب من حلف یمینا: ۱۶۵۱،ترمذی: ۱۵۳۰)-

(۵) احمد: ۱۸۵/۲،مستند الطیالسی،: ۳۲۷۴،ابوداود: ۳۲۷۴،وهو حسن)-

(۶) ابوداود کتاب الایمان النذور باب السیمین فی قطیعة آلرحم : ۳۲۷۴،باب لایحلف باللات والعزی: ۶۶۵۰،صحیح مسلم: ۱۶۴۷،ابوداود:۳۲۴۷ ترمذی: ۱۵۴۵)-

Scanned with CamSc

-(۴۲۹/۱۱۱)

قوله تعالی:- لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ

د لغو قسم حکم:- بیا فرمائی چه کوم یو قسم ستاسو دخولې نه بغیر ستاسو د ارادې اوقصد نه اوخی دعادت په طور نو په هغې باندې نیول نشته دې.بخاری او مسلم کښې حدیث دې چه کوم سړې دلات او عزی قسم اوخوری هغه دې ﴿لااله‌الاالله﴾ اووائی.دا ارشاد نبی کریم ﷺ هغه خلقوته کړې وو کوم چې نوی مسلمانان شوی وو اود جاهلیت قسمونه دهغوئ په خوله باندې وو،نو هغوئ ته ئې اوفرمائیل که چرې د عآدت په مو داسې الفاظ د خولو نه اوخی نو زر کلمه توحید وائې چه بدل راشی.

قوله تعالی:- وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ

په کوم قسم نیول شته :- بیا فرمائی چه کوم قسمونه د زړه پخې ارادې او قصد سره اوشی نو په هغې باندې نیول شته دې.دویم آیت کښې د ﴿بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ﴾الفاظ دی.ابو داود کښې حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه مرفوع حدیث مروی دې چه دا په نورو روایتونو باندې موقوف وارد شوې دې چه دا لغوقسمونه دی چه دا انسان خپل کور کښې بچو ته وائ چه آؤ په الله قسم اونه په الله قسم (۱) غرض دا په طور دتکیه کلام اوزی او په زړه کښې د دې پوخوالئ او خیال نه وی.حضرت عائشه رضی الله عنها نه داهم مروی دی چه دا هغه قسمونه دی چه په خندا خندا کښې د انسان د خولې نه اوخی،په هغې باندې کفاره نشته دې.خو چه کوم ارادې سره قسم وی،او بیا ددې خلاف اوکړی نو کفاره به ورکوی.د (عائشه رضی الل عنها) نه علاوه نورو ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابیعنو هم دا تفسیر ددې آیت مبارک کړې دې.او دا هم مروی دی چه یوسړې په خپل تحقیق باندې بهروسه اوکړی او دیو معاملې نسبت کښې قسم اوخوری اوحقیقت کښې هغه معامله داسې نه وی نو دا قسمونه لغوه دی.دامعنی هم دنورو حضراتو نه مروی ده.

یو حسن حدیث کښې دی چه مرسل دې چه یو ځل حضرت نبی ﷺ د تیراندازو یو جماعت لره ورغلو او اودریدلو،هغوئ تیراندازی کوله.او سړی به کله وئیل چه په الله قسم دده غشئ دې په نښه باندې اولګی.کله به وئیل چه په الله ﷻ قسم دادې خطا شی.د نبی کریم ﷺ یو صحابی رضی الله عنه اووئیل چه یارسول الله ﷺ اوګورئی دده دقسم خلاف اوشو.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دده قسمونه لغو دی او په ده باندې څه کفاره نشته دې.او نه ده دپاره څه عذاب دې.(۲)

بعضې بزرګان وائی چه دا داسې قسمونه دی چه انسان ئې خوری اوبیا ورته ددې خیال نه وی.یا یوسړې خپل خان دپاره د یو کار په نه کیدو د بددعائی کلمه دخپلې ژبې نه اوباسی هغه هم لغو کښې داخل دی.یا د غصې او غضب په حالت کښې بې ساخته د ژبې نه اوباسی یا حلال لره حرام یا حرام لره حلال کړی نو ده ته پکاری دی چه ددې قسمونو پرواه نه کوی.او دالله ﷻ داحکامو خلاف دې نه کوی.حضرت سعید بن مسیب رحمه الله نه مروی دی چه د انصارو دوه کسان خپلوکښې رونړه وو.ددوی په مینځ کښې دمیراث څه مال وو.نویو بل ته اووئیل چه اوس دا مال تقسیم کړه.بل اووئیل که اوس تا د مال د تقسیم اووئیل نو زما ټول مال د کعبې خزانه ده (یعنی دکعبې فنډ کښې به جمع کیږی).حضرت عمر رضی الله عنه دا واقعه واوریده او وې فرمائیل چه کعبه دداسې مال نه غنی ده.دخپل قسم کفاره ورکړه او خپل ورور سره خبرې اترې کوه.ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه دالله ﷻ نافرمانی د رشتو په

---

(۱) ابوداود کتاب الایمان والنذور باب لغو الیمین : ۳۲۵٤،عن عائشه مرفوعا.صحیح بخاری : ٦٦٦٣،عن عائشه صدیقه موقوفا وهو الصواب عند الطبری: ۴۴۲۱.دا روایت مرسل دې).

(۲)

ماتولو کښې ده.او چه په کوم څیز کښې ملکیت نه وی نو په هغې کښې قسم نشته دې او نه پکښې نذر شته دې.(۱)

قوله تعالی:- وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوْبُكُمْ ؕ

د زړه په قصد باندې نیول:- بیافرمانی چه ستاسو زړه څه اوکړی نو په هغې باندې نیول شته دې.یعنی د خپل دروغو ورته علم وی او بیا هم درغ اووائی.بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ ﴾ یعنی تاسو چه کوم مضبوط تائید او تاکیدوالا قسمونه اوخورئی،په هغې باندې الله ﷻ تاسو نیسی الله ﷻ خپلو بندګانو لره بخښونکې دې او په دوی باندې رحم کونکې دې.

لِلَّذِيْنَ	يُؤْلُوْنَ	مِنْ نِّسَآئِهِمْ	تَرَبُّصُ	
ادې دپاره دهغه کسانو	چې قسم خوری دتعلق نه ساتلو	دښځو خپلو سره	انتظار	
	څوک چې دخپلوښځو(د نزیکت) نه قسم اوخوری هغوئ ته مهلت دې			
اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ	فَاِنْ	فَآءُوْ	فَاِنَّ اللّٰهَ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ۝	وَاِنْ
دځلورو میاشتو	انوکه چرې	واپس شول هغوئ	نو بیشکه الله	معاف کونکې	رحم کونکښې دې	او که چرې
څلورومیاشتوپورې	اکه واپس نشو(خپلو بیبیانو ته)	نوالله معا ف کونکې مهربان دې	.....	او که د		
عَزَمُوا	الطَّلَاقَ	فَاِنَّ اللّٰهَ	سَمِيْعٌ	عَلِيْمٌ ۝		
هغوئ قصدکړې وی	دطلاق	انوبیشکه الله	هرڅه اوری	په هرڅه پوهیږی		
ښځې پریخودلو کلک نیت لری	انوپوهه دې شی	چې الله هرڅه آوری	اوپه هرڅه پوهه دې			

قوله تعالی:- لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ

د ایلاء تعریف او قسمونه:- ایلاء وائی قسم ته.که سړې خپلې ښځې سره د یو مودې دپاره د مجامعت کولونه قسم اوخوری نو ددې دوه صورتونه دی.①یا به هغه صورت د څلورو میاشتو نه کم وی یا به زیات وی.که کم وی نو هغه موده دې پورا کړی.او دې دوران کښې دی ښځه هم صبر اوکړی.اوده نه مطالبه اوسوال نه شی کولې.بیا دې ښځه خاوند خپلو کښې یو ځائې شی لکه څنګه چه صحیح مسلم کښې حدیث دې چه نبی کریم ﷺ یو میاشتې دپاره قسم خوړلې وو.او پورا یو کم دیرش ورځې بیل وو،او وې فرمائیل چه میاشت د یو کم دیرشو ورځو هم وی.(۲)②او که د څلورو میاشتو نه زیات قسم اوخوری نو څلور میاشتې پس ښځې ته حق حاصل دې چه هغه تقاضه او مطالبه اوکړی چه یا ورسره خاوندیوځائې شی اویا ورته طلاق ورکړی.او حاکم به په دې دوو خبرو کښې په یو باندې دې مجبوروی چه ښځې ته ضرر اونه رسی.

ایلاء د ښځو نه کیږی نه چې د وینځو نه:- همدا بیا دلته کیږی چه کوم خلق خپلو بیبیانو سره ایلاء اوکړی یعنی هغوئ سره د مجامعت نه کولو قسم اوخوری،ددې نه معلوم شو چه دا ایلاء خاص ده د بیبیانودپاره دوینځو دپاره نه.همدا مذهب دجمهور علماء کرام دی.داخلق خو څلورو میاشتو پورې آزاد دی او دې نه پس به دوی لره مجبورولې شی چه هغوئ خو یا خپلو بیبیانو سره میل ملاپ اوکړی او یا ورته طلاق ورکړی.دا نه چه اوس دې هم دا بیبیانې هم دغه شان پریږدی.

---

(۱) ابوداود کتاب الایمان والنذور باب الیمین فی قطیعة الرحم : ۳۲۷۲،وسنده حسن)-

(۲) صحیح مسلم کتاب الطلاق باب فی الایلاء : ۱۴۷۵،صحیح بخاری عن ام سلمة: ۱۹۱۰)-

Scanned with CamSc

قوله تعالی:- فَإِنْ فَاءُوْ فَإِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ

په موده د ایلاء کښې رجوع کول:- بیا که هغوئ راواپس شی نو دا کنایه ده د جماع کولونه،نو الله ﷻ به اوبخښی او چه کوم تقصیر ددوی نه د ښځو په حق کښې شوې دې هغه به خپلې مهربانئ سره معاف کړی.(۱) په دې کښې دلیل دې دهغه علماء کرامو چه وائی چه په دې صورت کښې دخاوند په ذمه هیڅ نشته دې.د حضرت امام شافعی رحمه الله هم اول قول (قدیم قول) دا وو.ددې تائید ددې حدیث نه هم کیږی چه کوم ددې نه مخکښې آیت په تفسیر کښې تیر شوچه قسم خورلو والا که خپل قسم ماتولو کښې نیکی وینی نو هغه دې قسم مات کړی او ددې هم دا کفاره ده.او دعلماء کرام د یو بل جماعت دا مذهب دې چه ددې قسم کفاره به ورکوی.

په ایلاء کونکی باندې د کفارې حکم

مسلک حنفی:- کله مولی په موده د ایلاء کښې رجوع اوکړی نو په ده باندې د جمهورو په نیز باندې کفاره شته په جمهورو کښې حنفیان هم راغلل (تفسیر مظهری (۳۲۵\۱۱)-

قوله تعالی:- وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ

بیا فرمان دې که څلور میاشتې تیریدو نه پس دې طلاق ورکولو قصد اوکړی.نوددې نه ثابتیږی چه څلورمیاشتو تیریدوسره به طلاق واقع نه وی.دجمهور متاخرین هم دا مذهب دې.اګر چه یو بل جماعت دا هم وائی که جماع کولو نه بغیر څلور میاشتې تیری شی نو طلاق به واقع شی.دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه،حضرت عثمان غنی رضی الله عنه،حضرت علی رضی الله عنه،حضرت ابن مسعود رضی الله عنه،حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه،ابن عمر رضی الله عنه،حضرت زید بن ثابت او بعضو تابعینو نه هم دا مروی دی.

د ایلاء مودې تیریدو سره د طلاق د واقع کیدو حکم

مسلک حنفی:- که خاوندپه موده دایلاء کښې ښځې سره وطی اونکړې شوه.تردې چه موده د ایلاء یعنی څلورمیاشتې تیرې شوې.نوداحنافوعالمانو رحمهم الله په نیزدا ښځه په یوطلاق سره بائنه شوه.(تسهیل الهدایه (۴۰۳\۳)-

بیا بعضې وائی چه طلاق رجعی به واقع وی.بعضې وائی چه بائن به واقع وی.چه کوم خلق د طلاق واقع کیدو قائل دی هغوئ فرمانی چه دې نه پس به دا عدت هم تیروی.خو حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه او حضرت ابوالشعشاء رحمه الله فرمائی که دې میاشتو کښې ددې ښځې دری حیضه راغلل نو په دې باندې عدت نشته دې.د حضرت امام شافعی رحمه الله هم دا قول دې.لیکن د جمهور متاخرین فرمان هم دادې چه ددې مودې تیریدو نه پس به طلاق واقع نه وی.بلکه اوس به ایلاء کولو والا تنګولې شی چه یا خو هغه خپلې بی بی ته طلاق ورکړی او یا خپل قسم مات کړی.موطا امام مالک رحمه الله کښې حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه هم دا مروی دی.(۲)صحیح بخاری کښې هم دا روایت موجود دې.(۳) حضرت امام شافعی رحمه الله خپل سند سره حضرت سلیمان بن یسار رحمه الله نه روایت کوی چه ما د لسو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه آوریدلی دی چه هغوئ به وئیل چه د څلور میاشتو نه پس ایلاء کولو والا به اودرولې شی.نو کم نه کم دا دیارلس صحابه کرام رضی الله عنهم دی.حضرت علی رضی الله عنه هم دا منقول دی.حضرت امام شافعی رحمه الله فرمانی چه خمونږ مذهب هم دا دې.او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه،حضرت ابن عمر رضی الله عنه،حضرت عائشه رضی الله عنها،حضرت عثمان رضی الله عنه،حضرت زید بن ثابت او د لسو نه زیات نور صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم دا مروی دی.دار قطنی کښې دی چه حضرت ابوصالح فرمائی چه ما ددولسو صحابه کرامو

---

۱) الطبری : ٤٦٦/٤)-

۲) موطا امام مالک کتاب الطلاق بآب الایلاء :۱۸،وسنده حسن)-

۳) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب قول الله تعالی (للذین یولون من نسائهم...) : ۵۲۹۰)-

Scanned with CamScanner

ﷺ نه ددې مسئلې تپوس اوکړو نو ټولو هم داجواب راکړو،حضرت عمر ﷺ،حضرت عثمان ﷺ،حضرت علي ﷺ،حضرت ابوالدرداء،حضرت ام المومنين عائشه صديقه رضي الله عنها،حضرت ابن عمر ﷺ او حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه هم دا فرمائی.حضرت سعید بن مسیب رحمه الله،حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله،حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت طاؤس رحمه الله،حضرت محمد بن کعب رحمه الله او حضرت قاسم رحمه الله نه هم دا قول منقول دي.او حضرت امام مالك رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمه الله،حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله اوددوی دملګروهم دامذهب دي.امام ابن جرير رحمه الله هم دا قول خوښ کړې دي.حضرت ليث رحمه الله،حضرت اسحاق رحمه الله،حضرت ابن راهويه رحمه الله،حضرت ابوعبيده رحمه الله او حضرت ابوثور،حضرت امام ابوداود رحمه الله هم دا فرمائی.دا ول حضرات فرمائی که څلورمياشتې پس هم دې رجوع اونکړی نو دې به په رجوع کولو مجبورولې شی.که طلاق ورنکړی نو حاکم به پخپله دده طرفنه طلاق ورکوی.او دا به طلاق رجعی وی.عدت کښې دننه د رجعت حق خاوند ته حاصل دي.خو صرف حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی چه ده لره رجعت جائز نه دي،تر دې پورې چه عدت کښې جماع اوکړی.ليکن داقول ډير غريب دي.

ايلاء چې طلاق رجعی شی په دې کښې د عدت حکم

مسلک حنفی:- احقر شاه فيصل د هدايه په شرح تسهيل الهدايه کښې په دې مسئله کښې وائی البته په دې ښځه باندې عدت په اتفاق سره واجب دي.دليل ورياندې تيرشوې دي.چه درحم د مشغوليت ګمان وی.ددې وجې استحساناً د احتياط دپاره عدت واجب کړې شو.(تسهيل الهدايه (۴۹۱/۳)-

د څلور مياشتو حکمت:- دلته چه د څلورو مياشتو د تاخير اجازت ورکړې شوې دي،دهغې مناسبت کښې موطا امام مالك کښې د حضرت عبدالله بن دينار رحمه الله په روايت سره دحضرت عمر ﷺ يوواقعه عموماً علماء کرام ذکرکوی چه حضرت عمرفاروق ﷺ به عام طور دمدينې منورې په کوڅو کښې د شپې ګشت کولو.يو شپه اووتل نو دوی واوريدل چه يو ښځه دخپل خاوند په ياد کښې څه اشعار وائی او هغه په سفر تلې وو.چه دهغې ترجمه داده :

(افسوس چه دې تورو تورو اوږدو شپو کښې زما خاوند نشته دې چه هغه سره اوخاندم او خبرې اوکړم،قسم په الله که دالله ﷻ ويره نه وی نو دې وخت کښې به دپالنګ پښې حرکت کښې وی).

دوی خپلې لور بی بی حضرت حفصه رضي الله عنها لره راغلل او وې فرمائيل چه زيات نه زيات ښځه د خپل په جدائی کښې څومره صبر کولې شی ؟ وې فرمائيل چه شپږ مياشتې يا څلور مياشتې.دوی اوفرمائيل چه اوس به څه حکم کوم چه مسلمان مجاهدين دې سفر کښې ددې نه زيات نه اوسی.بعضو کښې څه زياتې دي.او ددې ډير سندونه دی اودا واقعه مشهوره ده.

وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ								
اوطلاقي شوې ښځې دې انتظار کوی								
اوطلاقي شوې ښځې دې انتظار کوی								
بِاَنْفُسِهِنَّ	ثَلٰثَةَ	قُرُوْٓءٍ ؕ	وَلَا يَحِلُّ	لَهُنَّ	اَنْ يَّكْتُمْنَ	مَا خَلَقَ اللّٰهُ	فِيْٓ	
په ځانونو خپلو	درې	حيضه	اونه دی جائز	دهغوی دپاره	چې پټ کړی	هغه چې پيدا کړی دی الله	په	
تردريو حيضوپورې	اوطلاقو شوو ښځو دپاره جائزنه دی چې پټ کړی هغه چې الله د هغوی په بچه دانۍ							

Scanned with CamSc

اَرْحَامِهِنَّ اِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ وَبُعُوْلَتُهُنَّ اَحَقُّ
رحمونو دهغوئ کښې	که وی هغوئ ایمان لرونکی	په الله او په ورځ دآخرت	اوخاوندان دهغوئ	حق داردی
کښې څه پیدا کړی دی	که هغوئ په رښتیا په الله او په ورځ دآخرت ایمان لری	اوپه عدت کښې دهغوئ خاوندان
بِرَدِّهِنَّ فِيْ ذٰلِكَ اِنْ اَرَادُوْٓا اِصْلَاحًا ؕ وَلَهُنَّ
په واپس ښځو کولو دهغوئ	په دې عدت کښې که اراده ئې لرله	دصحیح تعلقاتو ساتلو	او شته ښځو لره حقونه
زیات حقدار دی چه هغوی ته واپس شی	که دوئ ځپل کور جوړ ساتل غواړی	او دښځو هم
مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۪ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ
په شان دهغې حقونو	لکه چې دسړو حقونه دی په ښځو باندې	دمعلومې طریقې مطابق	البته نارینولره	په ښځو باند
ددستور مطابق هغه شان حقونه دی لکه چې د (سړو) په هغوئ باندې دی	اود سړو درجه په ښځو باندې اوچته ده
دَرَجَةٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۠
یوه درجه زیاته حاصله ده	او الله غالب دې	اوحکمت والادې
.....او الله غالب دې په هرکار کښې حکمت لری	

قوله تعالی:- وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ ؕ

د طلاق عدت:- هغه ښځې چه خاوند سره یو ځائې شوی وی او بالغې وی حکم کیږی چه د طلاق نه پس درې حیضو پورې ایساری شی.بیا که غواړی نو بله نکاح کولې شی.

د وینځې تخصیص:- خو ځلورو واړه امامانو په دې کښې وینځه مخصوص کړې ده،هغه به دوه حیضه تیروی.ځکه چه وینځه په دې معاملاتو کښې د آزادې ښځې نه نیمه ده.لیکن دحیض موده په دوه نشی تقسیمیدې،ددې وجې دا به دوه حیضه تیر کړی.یو حدیث کښې دی چه وینځې دپاره طلاقونه هم دوه دی.او ددې عدت هم دوه حیضه دې.(ابن جریر).خو ددې راوی مظاهر ضعیف دې.داحدیث ابوترمذی او ابن ماجه کښې هم دې.(۱) امام حافظ دارقطنی رحمه الله فرمائی چه صحیح خبره دا ده چه دا د حضرت قاسم بن محمد رحمه الله خپل قول دې.لیکن حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه دا روایت مرفوع دې.اگر چه ددې نسبت هم امام دارقطنی رحمه الله ته دې،هغوئ هم دا فرمائی چه دا دحضرت عبدالله خپل قول دې.هم داشان خلیفة المسلمین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه نه هم مروی دی.بلکه صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې هم په دې مسئله کښې اختلاف وو.خو بعضې سلفو نه دا مروی دی چه دعدت باره کښې آزاده او وینځه برابر دی.ځکه چه آیت دخپل عمومیت لحاظ سره دواړوته شامل دې.او ددې وجې چه دا فطری امر دې.نو وینځه او آزاده ښځه په دې کښې برابر دی.د حضرت محمد بن سیرین رحمه الله،اودبعضې اهل ظاهرهم دا قول دې.لیکن دا ضعیف دې.غریب سند والا حدیث کښې دی چه حضرت اسماء بنت زید بن سکن انصاریه رضی الله عنها باره کښې دا آیت نازل شوې دې.ددې نه مخکښې د طلاق عدت نه وو.د تولو نه مخکې د عدت حکم ددې د طلاق نه پس نازل شو.(۲)

د وینځې عدت څومره دې؟

---

۱) ابوداود کتب الطلاق باب فی طلاقه الامة عدقا: ۲۰۷۹،)-

۲) ابوداود کتاب الطلاق باب عدة المطلقة : ۲۲۸۱،وسنده حسن)-

Scanned with CamSc

مسلک حنفی:- په تسهیل الهدایه کښې ضمنا دا مسئله ماته ملاو شوه چه د وینزې عدت دوه حیضه دې ځکه د ا.ادې ښځې عدت درې حیضه دې اوچونکه حیض نیم کیدې نشی د دې وجې به د وینځې عدت دوه حیضه وی د تسهیل عبارت اوګورئ دریم دلیل دنبی ﷺ ارشاد دې.دوی ﷺ فرمائیلی دی.﴿طلاق الأمة تطليقان وعدتها حيضتان﴾ نوداحدیث ددې آیت بیان واقع شوې دې.(تسهیل الهدایه (۱۳ ۴۹۸)-

د قروء نه مراد طهرونه دی:- دقروء معنی کښې د سلفو اوخلفو برابر اختلاف دې.یو قول دادې چه ددې نه مراد طهر یعنی پاکی ده.د حضرت عائشه رضی الله عنها هم دا فرمان دې.نو هغوئ دخپل رور حضرت عبدالرحمان دلورحضرت حفصه لره چه کله هغې درې طهره تیر کړل او دریم حیض شروع شو نو حکم نې ورته اوکړو چه هغه دې مکان بدل کړی.حضرت عروه رحمه الله چه کله دا روایت بیان کړونو د صدیقه رضی الله عنها دویمه وریره ده عمره هم ددې واقعې تصدیق اوکړو او وې فرمائیل چه خلقو په حضرت عائشه رضی الله عنها باندې اعتراض هم اوکړو نودوی اوفرمائیل چه مراد طهر دې.(موطا امام مالك).([1]) بلکه موطا کښې د حضرت ابوبکر ابن عبدالرحمان داقول هم مروی دې چه ما د پوهه عالمانو نه دا قول هم آوریدلې دې چه د قروء تفسیر طهر دې.(موطا امام مالك).([2])حضرت عبدالله بن عمر ﷺ هم دا فرمائی چه کله دریم حیض شروع شو نو دخپل خاوند نه بری شوه.او ددې نه خاوند بیل شو.(موطا امام مالك).([3]) حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی چه ځمونږ په نیز متحقق امر هم دا دې.حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه،زید بن ثابت رحمه الله،ثابت بن سالم رحمه الله،عروه رحمه الله،سلیمان بن یسار رحمه الله،ابوبکر بن عبدالرحمان رحمه الله،ابان بن عثمان رحمه الله،عطاء بن ابی رباح قتاده رحمه الله،زهري رحمه الله،اوباقی د اووه واړه فقهاء کرامو هم دا قول دې.د حضرت امام مالك رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمه الله هم دامذهب دې.داود رحمه الله او ابوثور رحمه الله هم دا فرمائی.حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه هم یو روایت داشان مروی دې.

ددې دلیل هغه بزرګانو د قران پاك دا آیت هم بیان کړې دې چه ﴿ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ ﴾ یعنی دوی ته په عدت کښې طلاق ورکړئ،یعنی طهر کښې د پاکوالی په حالت کښې،چونکه طلاق په طهرکښې ورکړې کیږی نو هغه هم په شمیر کښې راځی.ددې نه معلوم شو چه پورته آیت کښې د قروء نه مراد حیض نه سوا یعنی د پاکئ حالت دې.ددې وجې دا حضرات فرمائی چه کله دریم حیض شروع شی نو ښځه د خپل خاوند د عدت نه بهر شوه.او ددې دکم نه کم عدت دوه دیرش ورځې دی اودوه لحظې دی.دعربو شاعرانو په شعرونو کښې هم دا لفظ د طهر دپاره استعمال شوې دې.

د قروء نه مراد حیضونه دی:- دویم قول دادې چه ددې نه مراد درې حیضه دی.او ترکومې چه هغه د دریم حیض نه پاکه نه شی نو دا په عدت کښې ده.اوبعضو ترغسل پورې ونیلی دی.اوددې دکم نه کم عدت درې دیرش ورځې او یو لحظه ده.ددې دلیل کښې یو خودحضرت عمرفاروق ﷺ دا فیصله ده چه چرته نه ماته یو مطلقه ښځه راغله او وې ونیل چه زما خاوند ماته یو یا دوه طلاقه راکړی وو،بیا هغه ماله په هغه وخت کښې راغلو چه کپړې ویستلې وې او دروازه مې بنده کړې وه (یعنی دریم حیض نه مې لامبل).نو اوفرمائې چه څه حکم دې یعنی رجوع به اوشی اوکه نه ؟ دوی اوفرمائیل چه زما خیال دې چه رجوع به اوشی.حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ددې تائید اوکړو.حضرت ابو بکرصدیق ﷺ،حضرت عمرفاروق ﷺ،حضرت عثمان ذی النورین ﷺ،حضرت علی ﷺ،حضرت ابوداود رحمه الله،حضرت عباده ابن صامت رحمه الله،حضرت انس بن مالك رحمه الله،حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ،حضرت معاذ رحمه الله،حضرت

---

[1]) موطا امام مالک کتاب الطلاق باب ماجاء فی الاقراء.....٥٤،)-

[2]) موطا امام مالک کتاب الطلاق باب ماجاء فی الاقراء.....٥٥،)-

[3]) موطا امام مالک کتاب الطلاق باب ماجاء فی الاقراء.....٥٨،)-

Scanned with CamSc

ابی بن کعب ﷺ،حضرت ابوموسی ﷺ،حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه،نه هم دا قول مروی دی.سعید بن مسیب ﷺ،علقمه ﷺ،اسود ﷺ،ابراهیم ﷺ،مجاهد ﷺ،عطاء ﷺ،طاؤس ﷺ،سعید بن جبر ﷺ،حضرت عکرمه ﷺ،محمد بن سیرین ﷺ،حسن ﷺ،قتاده ﷺ،شعبی ﷺ،ربیع ﷺ،مقاتل بن حیان ﷺ،سدی ﷺ،مکحول ﷺ،ضحاك ﷺ،عطاء خراسانی ﷺ،هم دافرمائی.حضرت امام ابوحنیفه ﷺ اوددوی اصحاب نه هم دا مذهب منقول دی.

حضرت امام احمد بن حنبل ﷺ نه زیات صحیح روایت هم دا مروی دی.دوی فرمائی چه د حضرت نبی کریم ﷺ لوئی لوئی صحابه کرامو ﷺ نه هم دا مروی دی.ابو ثور ﷺ،اوزاعی ﷺ،ابن ابی لیلی ﷺ،ابن شرمه ﷺ،حسن بن صالح ﷺ،ابوعبدالله ﷺ او اسحاق بن راهویه ﷺ نه هم داقول نقل دی.یو حدیث کښې دا هم دی چه حضرت نبی کریم ﷺ حضرت فاطمه بنت ابی جحش فرمائیلی وو چه مونځ لره دخپلو اقراء په ورځو کښې پریږدئی.([1])نو معلوم شو چه د قروء نه مراد حیض دی.خو ددې حدیث یو راوی منذر مجهول دی او مشهور نه دی.خو ابن حبان ﷺ ده ته ثقه وائی.امام ابن جریر فرمائی چه لغتاً (قروء) وائی دهرهغه څیز تلو راتلو وخت ته چه دهغې تلو راتلو وخت مقرر وی.ددې نه معلومه شوه چه ددې لفظ دوه معنې دی.دحیض هم او د طهر هم،اوبعضې اصولی حضراتو نه هم دامسلك نقل دی.والله اعلم.

اصمعی ﷺ فرمائی چه قرء وائی وخت ته،ابوعمرو بن علاء وائی چه عربو کښې حیض او طهر دواړو دپاره قرء استعمالیده.دابو عمر ابن عبدالبر قول دی چه د اهل عرب او د فقهاء په دې کښې اختلاف نه دی چه طهر او حیض دواړو ته قرء وائی.خود آیت معنی مقرر کولو کښې یو جماعت دې طرفته مائل دی او بل دی بل طرفته.

د قروء نه مراد حیض دی

مسلك حنفی:- صاحب دهدایه ﷺ د ﴿قروء﴾ په لفظ باندې بحث کوی.اوفرمائی.چه دا قروء لفظ د حیض اوطهردواړو په معنی کښې حقیقت دی.ځکه چه دا لفظ د اضدادوځنی دی.دلغت دامام ابن السکیت رائې هم دا ده.چونکه دا لفظ په دوو متضاد معانیوکښې مشترك دی.ځکه په یو وخت کښې دواړه معانی مراد نشی اخستلې.نودقروء دلفظ نه زمونږ په نیزحیض مراد دی (تسهیل الهدایه ۴۹۷/۱-۳).

قوله تعالی:- وَلَا يَحِلُّ لَهُنَّ أَنْ يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللَّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِنْ كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

د رحمونو حالت پټولو ممانعت:- بیا فرمائی چه ددوی په رحم کښې چه څه دی دهغې پټول حلال نه دی یعنی حمل نو هم او حیض راشی نو هم.چه که دوی په الله ﷻ او دقیامت په ورځ باندې ایمان ساتی.دې کښې دوی ته زورنه ده چه دحق خلاف مه کوئی.او ددې نه معلومیږی چه په دې خبره کښې به ددوی د خبرې اعتبار کولې شی.ځکه چه په دې باندې څه بیرونی شهادت نشی قائمیدلې.ددې وجې دوی خبرداری کړې شوې چه د عدت نه د زر وتلو دپاره حیض نه وی راغلې.او دوی اونه وائی چه د دوی حیض راغلې دی یا د عدت د زیاتوالی دپاره راغلې وی اوداپټ نه کړی،داشان دحمل هم خبر ورکړې شو.

قوله تعالی:-وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ فِي ذَٰلِكَ إِنْ أَرَادُوا إِصْلَاحًا

په عدت کښې دننه خاوندانو ته د رجوع اجازت:- بیا فرمائی چه ددې نښځې خاوند ته چه کوم دی ته طلاق ورکړې وو،د واپس کیدو پورا حق حاصل دی.ترکومې پورې چه طلاق رجعی وی یعنی یو طلاق نه پس هم او دوه طلاقو نه پس هم.باقی پاتې شو طلاق بائن یعنی درې طلاقه چه کله اوشی نو یادساتل پکار

[1]) ابو داود کتاب الطهارة باب ق المراة تستحاض.... ۲۸۰،نسائی: ۳۵۸،ابن ماجة: ۶۲۰)-

دی چه کله دا آیت نازل شوی دی نو هغه وخت پوری طلاق بائن نه وو بلکه هغه وخت کښې که سړی طلاقه به ورکړې شو نو ټول به رجعی وو.طلاق بائن خو روستو د اسلام په احکامو کښې راغلو که دری طلاقه اوشی نو د واپس کیدو حق ورته نشته دی.هرکله چه دا خبره په خیال کښې وی نو د دی نه د اصولو د عالمانو د دی قاعدې ضعف هم معلومیږی چې د ضمیر په واپس کولو سره د مخکنې عام لفظ تخصیص کیږی که نه ددې وجې ددې آیت په وخت کښې دویم شکل نه وو.دطلاق هم یو صورت وو ،والله اعلم.

قوله تعالی:- وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ

د ښځې خاوند خپلوکښې یوبل باندې حقوق:- بیا فرمائی چه لکه څنګه په دې ښځو باندې د سړو حقوق دی هم دغه شان ددې ښځو په سړو باندې حقوق دی.هریو ته پکار دی چه د بل لحاظ او خیال ساتی. صحیح مسلم کښې دی چه حضرت جابر ﷺ نه روایت دې چه حضرت نبی کریم ﷺ د حجة الوداع په موقع باندې خپله خطبه کښې اوفرمائیل چه اتې خلقوا دښځو باره کښې دالله ﷻ نه ویریږئ،تاسو د الله ﷻ امانت سره دوی اخستی دی،ا و د الله ﷻ کلمې سره مو د دوی شرمګاهونه حلال کړی دی.ښځو باندې ستاسو حق دې چه هغوئ دې ستاسو کور ته داسې څوک نه راولی چه هغې سره تاسو خفه شئ. که هغوئ داسې اوکړی نو تاسو هغوئ اووهئ چه (خلقو ته) ښکاره شی.دهغوئ په تاسو باندې حق دې نو هغوئ ته د خپل بساط مطابق خوراك ورکړئی،هغوئ باندې اوڅکاک کوی هغوئ ته اغوستلو دپاره جامې ورکړئی.(۱)

یو سړی د حضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه ځمونږ د ښځو په مونږ څه حق دې ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله تاسو خورئ نو هغوئ ته هم ورکړئی،کله چه تاسو اغوندئی نو هغوئ ته هم ورکړئی،هغوئ په مخ مه وهئ،هغوئ ته کنځل مه کوئی،د هغوئ نه مه خفه کیږئ او هغوئ چرته مه لیږئی،او په کور کښې نې ساتئ.(۲) ددې آیت په تلاوت کولو به حضرت ابن عباس ﷺ فرمائیل چه خه خوښوم چه دخپلې بی بی دخوشحالولو دپاره خپل ځان ښائسته کړم لکه څنګه چه هغوئ خپل ځان ښائسته کوی.(۳)

قوله تعالی:- وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ

بیافرمائی چه سړی ته په هغوئ باندې فضیلت حاصل دې،بدنی حیثیت سره هم،اخلاقی حیثیت سره هم،دمرتبې حیثیت سره هم،دحکمرانئ حیثیت سره هم،دخرچ او اخراجات حیثیت سره هم،پرورش او نګرانئ حیثیت سره هم.غرض دنیاوی اودینی فضیلت هراعتبارسره،لکه څنګه چه فرمائی چه﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾ الخ.یعنی سړی دښځو سرداران دی.الله ﷻ یو یو ته فضیلت ورکړې دې.او ددې وجې هم دوی مال خرچ کوی.

قوله تعالی:- وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ

بیا فرمائی چه الله ﷻ دخپلو نافرمانو نه بدله اخستلو کښې غالب دې او خپلو احکامو کښې حکمت والا دې.

اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ
طلاق	دوه خله دی	نو یا ساتنه ده	په صحیح طریقې سره
اطلاق دوه خله دې بیا خو یا په روغ زړه ساتل دی

(۱) صحیح مسلم کتاب الحج باب حجة النبی ﷺ : ۱۲۸۰)-

(۲) ابوداود کتاب النکاح بآب فی حق المراة علی زوجها : ۲۱۴۲،ابن ماجة: ۱۸۵۰،وسنده صحیح)-

(۳) الطبری: ۵۳۲/۴،ابن ابی حاتم: ۷۵۰/۲)-

اَوْ تَسْرِيْحٌ	بِاِحْسَانٍ ؕ	وَلَا يَحِلُّ	لَكُمْ	اَنْ تَاْخُذُوْا	مِمَّآ
یا پریښودل دی	په ښه طریقې سره	او جائز نه دی	ستاسو دپاره	چې واخلئ تاسو	دهغه مال نه کوم چې
او یا په ښه طریقه رخصتول دی	اوتاسودپاره جائزنه دی چې څه	(مهروغیره)	موهغوئ ته ورکړې وی		
اٰتَيْتُمُوْهُنَّ	شَيْـًٔا	اِلَّآ	اَنْ يَّخَافَآ	اَلَّا يُقِيْمَا	حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ	فَاِنْ
تاسو ورکړې هغوئ له	هیڅ څیز	مګر	که یریدل دواړه ښځه خاوند	چې اوبه نشی ساتلې	حدونه دالله	نوکه چرې
دهغې نه څه حصه واپس اخلئ	البته(یوصورت دې) که دواړه په دې ویریږی چې دالله په مقرر کړو حدونو به قائم پاتې نشئ نوکه					
خِفْتُمْ	اَلَّا يُقِيْمَا	حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ	فَلَا جُنَاحَ	عَلَيْهِمَا	
داسې وه چې یریدئ تاسو	چې قائم به پاتې نشئ هغوئ دواړه	په حدونو دالله	نو نشته هیڅ ګناه	په ښځه خاوند دواړو باند	
تاسو سره داویره وی چې هغوئ دواړه(ښځه خاوند) به دالله په حدودو قائم پاتې نشی	نوهیڅ ګناه				
فِيْمَا	افْتَدَتْ بِهٖ ؕ	تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ	فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ		
په ورکولویا اغستلودهغه مال کښې	چې په فدیه کښې ورکړی ښځه هغه	داحدونه دالله دی	نو مه اوړئ دهغې نه		
نشته په دې کښې که ښځه څه عوض ورکړی(اوخان خلاص کړی)	ادغه دالله پاک مقرر کړی حدونه دی نود هغې نه ورانده مه				
وَمَنْ يَّتَعَدَّ	حُدُوْدَ اللّٰهِ	فَاُولٰٓئِكَ هُمُ	الظّٰلِمُوْنَ ۝	فَاِنْ	طَلَّقَهَا
اوڅوك چې واوړیدل	دحدونو دالله	نو هم هغوئ	ظالمان دی	بیا که چرې	سړی طلاق ورکړو ښځې ته
تیریږئ اوڅوک چې دالله پاک حدود مات کړی	نو هم دغه کسان ظالمان دی	نوکه چرې خاوند ښځې له دریم طلاق هم ورکړو			
فَلَا تَحِلُّ	لَهٗ	مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى	تَنْكِحَ	زَوْجًا غَيْرَهٗ ؕ	فَاِنْ
نو نه حلالیږی دا ښځه	هغه لره	روستودې نه تردې پورې	چې په نکاح واخلی دغه ښځه	خاوند	بل	بیاکه چرې
نوبیادغه ښځه هغه دپاره نه حلالیږی	ترڅوچې دبل خاوند سره نکاح اونه کړی	..... بیاکه			
طَلَّقَهَا	فَلَا جُنَاحَ	عَلَيْهِمَآ	اَنْ يَّتَرَاجَعَآ	اِنْ ظَنَّآ
دې دویم خاوند طلاقه کړه ښځه	نو نشته ګناه	په دواړو باند	چې یو بل ته رجوع وکړی دواړه	هله چې پوخ خیال وی ددواړو
هغه(دویم) خاوند ورته طلاق ورکړی	نوهیڅ حرج نشته که دواړه(رونبی ښځه خاوند) بیایوخائې شی	هله که دواړه داګمان کوی		
اَنْ يُّقِيْمَا	حُدُوْدَ اللّٰهِ ؕ	وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ	يُبَيِّنُهَا	لِقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ ۝
چې نیښ به وسیږی دواړه	په حدونو دالله	اودغه حدونه دالله دی	چې بیانوی ئې الله	دپاره دهغه خلقو	چې پوهیږی
چې دالله پاک په مقررو حدودو به (اوس) قائم پاتې شی	اودا دالله پاک مقرر کړی حدونه دی	چې د پوهانو دپاره ئې واضحه			

قوله تعالی:- اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ ۪ فَاِمْسَاكٌۢ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ تَسْرِيْحٌۢ بِاِحْسَانٍ ؕ

د رجوع قابل دوه طلاقه دی :داسلام نه مخکښې دادستور ووچه خاوند څومره غواړی طلاقونه ورکوی او عدت کښې رجوع کوی.دې سره ښځې د سړو په ګرفت کښې وې چه طلاق به ئې ورکړو او عدت ته به نزدې شوې نو رجوع به ئې اوکړه،بیا به ئې طلاق ورکړو،دا شان به ئې ښځې تنګولې.نو اسلام حدبندی اوکړه چه داشان طلاقونه صرف دوه کیدیشی،دریم طلاق نه پس د واپس کیدلو حق پاتې نه وی.

Scanned with CamSc

د ایت شان نزول:- سنن ابوداود کښې باب دې چه درې طلاقونه پس مراجعت منسوخ دې.بیا دا روایت راوړی چه حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه هم دا فرمائی.(۱)ابن ابی حاتم کښې دی چه یو سړی خپلې ښځې ته اووئیل چه نه به څه تا اوسوم اونه به دې پریږدم.دې اووئیل چه دا څنګه ؟ وې وئیل چه طلاق به درکړم او کله چه دعدت ختمیدو وخت راشی نو رجوع به اوکړم،او هم دا شان به کوم.هغه ښځه حضرت نبی کریم ﷺ ته راغله خپل دا تکلیف ئې ورته بیان کړو او په ژړا شوه،دې باندې دا آیت مبارك نازل شو.

یو بل روایت کښې دی چه ددې آیت نازلیدو نه پس اوس خلقو په نوې طریقې سره دطلاق خیال کول شروع کړل او پوهه شو.(۲)او دریم طلاق نه پس خاوند ته د واپس کیدو حق پاتې نشو.او وې فرمائیل چه تاسوته خوددوۀ طلاقو اختیار دې چه داصلاح نیت سره خپلې بی بی ته ورکړئ او بیا واپس شئ که هغه په عدت کښې دننه وی.اودا هم اختیار دې چه واپس نه شئ،او عدت تیر کړئ چه بلې نکاح سره واپس شئ،اوکه دریم طلاق ورکول غواړئی نو هغه هم احسان او ښه سلوك سره ورکړئ،نه دهغې څه حق وهئ او نه په هغې باندې ظلم کوئی،او نه هغې ته څه ضرر رسوئی.

د خلعې جواز:-یو سړی حضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه دوه طلاقونه خو په دې آیت مبارك کښې بیان شو،د دریم طلاق ذکر چرته دې ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ﴿أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ کښې.کله چه ددریم طلاق اراده اوکړئی نو ښځه تنګول،په هغې باندې سختی کول چه هغه خپل حق پریږدی او په طلاق باندې راضی شی،دا په سړو باندې حرام دی.لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿ وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ﴾ یعنی ښځو لره مه تنګوئی چه تاسو هغوئ ته څه ورکړی دی هغې نه څه واخلئ،اودا بله خبره ده چه ښځه خپلې خوشحالئ سره څه درکړ ی او طلاق طلب کړی.لکه فرمائی چه ﴿ فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَرِيئًا﴾ یعنی که ښځې په خپلې خوشحالئ سره تاسو ته څه پریږدی نو بیشکه هغه ستاسو دپاره حلال او طیب دی.او کله چه ښځې اوخاوند کښې بې اتفاقی زیاته شی او ښځه دهغه نه خوشحاله نه وی او دخاند حقوق نه پوره کوی نو داسې صورت کښې هغه دې څه واخلی اودخپل خاوند نه دې طلاق حاصل کړی.نودخاوندپه ورکړه او د ښځې په اخستو کښې هیڅ ګناه نشته دې.

قوله تعالی:- ﴿وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا إِلَّا أَنْ يَخَافَا أَلَّا يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ﴾

بغیر د څه وجې خلع کول:- دا هم یادساتئ که ښځه بغیر د څه وجې نه دخپل خاوند نه خلع طلب کړی نو هغه سخته ګناهګاره ده.په ترمذی وغیره کښې حدیث دې چه کومه ښځه خپل خاوندنه بغیر د څه وجې نه طلاق طلب کړی نو په هغې باندې د جنت بوی حرام دې (۳) او بل روایت کښې دی چه دجنت خوشبو د څلویښتو کالو په مسافت سره هم وی (۴)،او یو روایت کښې دی چه دا ښځه منافقه ده.(۵)

د خلعې په حکم کښې مذاهب:- ①د سلفو امامانو د یوې لوئې ډلې دا فرمان دې چه خلع صرف په هغه صورت کښې ده چه نافرمانی او سرکشی صرف د ښځې طرفنه وی.په هغه وخت کښې سړې فدیه واخلی او دا ښځه آزاده کړی.لکه څنګه چه دقران پاك دې آیت کښې دی چه ددې نه سوا هیڅ یو

---

۱) ابوداود کتاب الطلاق باب نسخ المراجعة بعد التطليقات الثلاث : ۲۱۹۵،نسائی: ۳۵۷٤،وسنده حسن)-

۲) ترمذی : کتاب الطلاق باب رقم: ۱۱۹۲/ح ۱۶ وهو حسن)-

۳) ابوداود کتاب الطلاق باب فی خلع : ۲۲۲۶،ترمذی کتاب الطلاق باب ماجاء فی المختلعات : ۱۱۷۸،ابن ماجة: کتاب الطلاق باب کراهیة الخلع للمراة: ۲۰۵۵،وهو صحیح)-

۴) ابن ماجة: کتاب الطلاق باب کراهیة الخلع للمراة: ۲۰۵۵،وهو صحیح)-

۵) ترمذی کتاب الطلاق باب ماجاء فی المختلعات :۱۱۷۶)-

Scanned with CamSc

صورت کښې دا جائز نه دی ۲ بلکه حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی که ښځې ته تکلیف رسوی او ددې په حق کښې کمې کوی چه دا مجبوره کړې شی او مال واپس راکړی نو ددې واپس کیدل واجب دی. ۳ حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی چه په حالت داختلاف کښې جائز ده نو په حالت د اتفاق کښې به په طریقه اولی سره جائزوی. ۴ بکر بن عبدالله وائی چه خلع بالکل منسوخ ده. خکه قران پاك کښې دی چه ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا﴾ یعنی که تاسو خپلو بیبیانوته یوخزانه هم ورکړئی نوبیاهم دهغې نه څه مه اخلئ لیکن دا قول ضعیف او مردود دی.

دحبیبه بن سهل واقعه:- اوس دآیت شان نزول واورئی. موطا امام مالك کښې دی چه حبیبه بنت سهل انصاریه دحضرت ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه ښځه وه. یو ورځ حضرت نبی کریم ﷺ په تیاره کښې د سحر مونځ دپاره اووتلو نووې کتل چه په دروازه کښې حبیبه ولاړه ده. حضرت نبی کریم ﷺ ترې تپوس اوکړو چه څوك ئې ؟ نو وې وئیل چه څه حبیبه بنت سهل یم. حضرت نبی کریم ﷺ ترې تپوس اوکړو چه څه خبره ده ؟ وې وئیل انې دالله رسوله ﷺ څه د ثابت په کور کښې نشم اوسیدلې. یا به هغه نه وی یا به څه نه یم. حضرت نبی کریم ﷺ چه دا واوریدل نو خاموش شو. هرکله چه حضرت ثابت رضی الله عنه راغلو نو حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه ستابی بی څه وائی. حضرت حبیبه اووئیل چه اې دالله رسوله ﷺ ! زما خاوند چه ماته څه راکړی دی هغه ټول ماسره دی. او څه ده ته واپس کول غواړم. حضرت نبی کریم ﷺ ،ثابت رضی الله عنه ته اووئیل چه هر څه واخله،نو هغه واخستل او حضرت حبیبه رضی الله عنها آزاده شوه. (۱)

یو روایت کښې دی چه حضرت ثابت رضی الله عنه هغه وهلې وه او دې وهلو سره دهغې هډوکئ مات شوې وو. حضرت نبی کریم ﷺ چه کله هغه ته دا اوفرمائیل نو په هغه وخت کښې هغه تپوس اوکړو چه آیا څه دا مال اخستې شم. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آؤ. وې فرمائیل یارسول الله دې ته دوه باغونه ورکړی وو. دا ترې ماته واپس کړه. نو دمهرهغه دواړه باغونه واپس کړې شو او بیلتون راغلو. (۲)

یو روایت کښې دی چه حضرت حبیبه رضی الله عنها دا هم فرمائیلی وو چه څه دهغه په دینداریٔ او اخلاقو کښې عیب نه لټیوم. لیکن په اسلام کښې کفرکول نه خوښوم. نو حضرت ثابت رضی الله عنه مال واخستلو او طلاق ئې ورکړو. (۳)

بعضو روایتونو کښې دهغې نوم جمیله هم راغلې دی. (۴) بعضو روایتونوکښې داهم راغلی دی چه څه غصه او غضب نشم برداشت کولې. یو روایت کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واخله خو زیات مه اخله. (۵) یو روایت کښې دی چه حضرت حبیبه رضی الله عنها فرمائیلی وو چه هغه په صورت کښې هم څه ښه نه دې. (۶) اوبل روایت کښې دی چه دا دعبدالله بن ابی خور وه. او دا په اسلام کښې د ټولو نه رومبئ خلع ده.

یو روایت داهم بیان شوې دی چه یارسول الله ﷺ ! مایو ځل دخیمې پرده اوچته کړه نو اومې کتل چه زما خاوند څو کسانو سره راروان دی او په هغه ټولو کښې دې تور او لنډی قدوالا بدصورته وو. د حضرت نبی کریم ﷺ په دې فرمان چه دده باغ واپس کړه،حضرت حبیبه رضی الله عنها فرمائیلی وو چه یارسول الله ﷺ که تاسو وائې نو څه نور څه ورکولو ته هم تیاره یم. او یو روایت کښې دی چه حضرت حبیبه رضی الله عنها

---

(۱) موطا امام مالک کتاب الطلاق باب ماجاء فی الخلع : ۳۱ ابوداود: ۲۲۲۷،وسنده صحیح نسائی: ۳۴۹۲،)-

(۲) ابوداود کتاب اطلاق باب فی الخلع : ۲۲۲۸،وسنده حسن)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب الخلع وکیف الطلاق فیه: ۵۲۷۳)-

(۴) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب الخلع وکیف الطلاق فیه: ۵۲۷۷)-

(۵) ابن ماجة کتاب الطلاق باب المختلعة تاخذمااخذاعطاها: ۲۰۵۶،وهون صحیح)-

(۶) ابن ماجة کتاب الطلاق باب المختلعة تاخذمااخذاعطاها: ۲۰۵۶،وهون صحیح)-

Scanned with CamSc

دا هم ونیلی وو چه یارسول الله ﷺ ! که دالله ﷻ ویره نه وي نو مابه دده په مخ توکلي وي.(۱)

په خلع کښې د مهر نه زیات اخستلو د جواز قول حکم:- ①دجمهورو مذهب خودادي که په خلع دښځې نه دهغه مال نه زیات هم واخلی چه کوم ئې ورکړي وی نو دا جائز دی.ځکه چه قران پاك ﴿فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ فرمائیلی دی.حضرت عمر فاروق ﷺ ته یوه ښځه راغله چه دخپل خاوندنه خفه وه. عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل چه دا ښځه په داسې کور کښې قید کړه چې په هغې کندګي وی.بیا ئې دا دقید خانې نه راوبلله او ورته ئې اوئیل چه څه حال دي ؟ هغې اووئیل چه په ماباندې دآرام شپې په ژوند کښې هم دا تیري شوی.دوی دهغې خاوندته اووئیل چه دې ته خلع ورکړه اګر چه د غوږ د والئ بدله کښې وی. یو روایت کښې دی چه هغه ئې درې ورځې هغه ځائې کښې قید کړې وه.یو بل روایت کښې دی که دا تاته خپل معمولی سامان هم درکړی نو دا پریږده.

د خلافت عثمانی واقعه:- حضرت عثمان ﷺ فرمائی چه ددې ټولو نه سوا هم خلع کیدیشی.ربیع بنت معوذ بن عفراء فرمائی چه زما خاوند به کله موجود وو نو بیا به ئې هم ماسره سلوك کښې کمې کولو اوکه چرته به لاړو نو بالکل به ئې محرومه کولم.یو ځل ورته ما په جنګ کښې اووئیل څه چه زما په ملکیت کښې دی هغه ټول واخله او ماته خلع راکړه.هغه اووئیل چه آو او بیا دا فیصله اوشوه.خو زما تره حضرت معاذ بن عفراء دا واقعه حضرت عثمان ﷺ ته اوکړه.حضرت عثمان ﷺ هم دا فیصله برقرار اوساتله او وې فرمائیل چه ددې د امعمولی سامان پریږده اونور هر څه واخله.نوددې (۲) واقعاتو دا مطلب دې چه دا دلیل دی په دې خبره باندې چه ښځې سره څه وی هغه هر څه ورکولې شی او خلع اخستې شی.او خاوند دخپل ورکړی شوی مال نه زیات اخستې شي او خلع ورکولې شي.حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه،حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت عکرمه رحمه الله،حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله،حضرت قبیصه بن ذویب رحمه الله،حضرت حسن بن صالح رحمه الله،اوحضرت عثمان ﷺ هم دا قول فرمائیلې دي.دحضرت امام مالك رحمه الله،حضرت لیث رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمه الله،او ابوثور رحمه الله هم دا مذهب دي.ابن جریر رحمه الله هم داسند خوښوی.

② اود اصحاب حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله هم دا مذهب دي که ضرر او قصور د ښځې طرفنه وی نو خاوندلره جائز دی چه ده څه ورکړی وی هغه واپس واخلی او ددې نه زیات اخستل جائز نه دی.خو که زیات واخلی نو بیا هم د قضا په وخت کښې جائز دی.اوکه دخاوند دخپل طرفنه زیاتې وی نو بیا هېڅ هم اخستل جائز نه دی.د سعید بن مسیب رحمه الله،عطاء عمرو بن شعیب رحمه الله،زهری رحمه الله،طاؤس رحمه الله،حسن رحمه الله،شعبی رحمه الله،حمادبن ابوسلیمان رحمه الله او ربیع بن انس رحمه الله نه هم دا مذهب منقول دي.معمر رحمه الله او حاکم رحمه الله وائی چه دحضرت علی ﷺ هم دا فیصله ده.د اوزاعی رحمه الله بیان دي چه د قاضیانو هم دا فیصله ده چه هغوئ د ورکړی شوی مال نه زیات اخستل ښه نه ګڼی.ددوی دمذهب دلیل هغه حدیث هم دي چه کوم پورته بیان شو.اوپه هغې کښې دی چه خپل باغ واخله او ددې نه زیات مه اخله.مسند عبد بن حمید کښې هم یو مرفوع حدیث دی چه حضرت نبی کریم ﷺ خلع اخستونکی ښځې نه دخپل (مال نه) زیات اخستلو لره مکروه ګڼی دی.(۳)

او په دې صورت کښې چه څه فدیه هغه ورکړی،دا لفظ په قران پاك کښې هم دي نو ددې معنی به دا وی چه د ورکړې شوی (مال) نه څه ورکړی ځکه چه ددې نه مخکې دا فرمان موجود دي چه تاسو دوی

---

[1]) ابن ماجة كتاب الطلاق باب المختلعة تاخذمااخذاعطاها: ۲۰۵۷)-

[2]) صحيح بخاری كتاب الطلاق باب الخلع وكيف الطلاق قبل حديث: ۵۲۷۳)-

[3]) عبد بن حميد وسنده)-

Scanned with CamSc

ته څه ورکړی دی هغې نه څه مه اخلئ.الخ.دربیع په قرات کښې د (به) نه پس د (منه) لفظ هم دې.

په خلع کښې د مهر نه زیات څه اخستلو حکم

مسلک حنفی:- د احنافو یعنی امام ابوحنیفه ابویوسف محمد او زفر رحمهم الله په نیز که زیاتې د ښځې وی نو د خاوند دپاره د هغې دمهر نه زیات واپس اخستل جائز دی خوکه زیاتې د سړی د طرفه وی نو بیا دده دپاره د مهر نه زیات څیز واپس اخستل جائز نه دی خو که وائې اخستل نو قضاء بیا هم جائز دې (احکام القرآن للجصاص (۵۳۵\۱) شاه فیصل غفرله)-

قوله تعالی:- تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ:: بیافرمانی چه دالله ﷻ حدود دی،ددې نه تجاوز مه کوئی اوچه څوک تجاوز کوی نوهغه به ګناهګار وی

خلع طلاق فسخ ده:- خلع بعضې حضرات په طلاق کښې نه شمیری.هغوئ فرمائی که یو سړی خپلې ښځې ته دوه طلاقه ورکړی وی،بیا ئې دې ښځې سره خلع کړې وه نو که خاوند غواړی نو دې سره بیا نکاح کولې شي،او ددې باندې دلیل دا آیت دې.دا قول د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه دې. عکرمه رحمه الله هم فرمائی چه دا طلاق نه دې.اوګورئی اول آخر د طلاق ذکر دې،اول د دوؤ طلاقو او بیا په آخر کښې د دریم طلاق او په مینځ کښې د خلع ذکر دې.

نومعلوم شو چه خلع طلاق نه دې بلکه فسخ ده.دحضرت عثمان ﷺ،حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت طاؤس رحمه الله،حضرت عکرمه رحمه الله،حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله،حضرت اسحاق بن راهویه رحمه الله، حضرت ابوثور رحمه الله،حضرت داود ظاهری رحمه الله هم دا مذهب دې.د حضرت امام شافعی رحمه الله هم زوړ مذهب دادې.او د آیت ظاهری الفاظ هم دادی.

خلع طلاق بائن دې:- بعضې نور بزرګان فرمائی چه خلع طلاق بائن دې.او که دیو نه زیاتو نیت وی نو هغه هم معتبر دې.یو روایت کښې دی چه ام بکر اسلمیه خپل خاوند عبدالله بن خالد نه خلع واخستله ،او حضرت عثمان ﷺ ده ته دیو طلاق فتوی ورکړې وه،او ورسره ئې فرمائیلی وو که څه سامان دې اخستې وی نو هغه به هم وی لیکن دا ضعیف اثر دې،والله اعلم.

دحضرت عمرفاروق ﷺ،حضرت علی ﷺ،حضرت ابن مسعود ﷺ،حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت سعیدبن مسیب رحمه الله،حضرت حسن رحمه الله،حضرت عطاء رحمه الله،حضرت شریح رحمه الله،حضرت شعبی رحمه الله، حضرت ابراهیم رحمه الله،حضرت جابر بن زید رحمه الله،حضرت مالك رحمه الله،حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله،او ددوی ملګری حضرت ثوری رحمه الله،حضرت اوزاعی رحمه الله،او ابوعثمان بتی رحمه الله هم دا قول دې چه خلع طلاق دې.د حضرت امام شافعی رحمه الله نوې قول هم دادې.خو حنفیه وائی که ددوؤ طلاقونو نیت خلع کولو والا دې.نو دوه به وی.اګر چه څه لفظ اونه وائې.او که مطلق خلع وی نو یو طلاق بائن به وی.که ددرېو نیت وی نو دري به وی،د حضرت امام شافعی رحمه الله یو بل قول هم دې چه که د طلاق لفظ نه وی او نه بل څه دلیل یا شهادت نو بالکل هیڅ نشته دې.

خلع طلاق دي

مسلک حنفی:- دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز باندې خلع طلاق دې لکه څنګه چه فاضل مفسر رحمه الله فرمائیلی دی (تفسیر مظهری (۳۴۲\۱)۔

د خلع عدت دري حیضه دی :- ①دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمه الله،حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله،حضرت اسحاق بن راهویه رحمه الله مسلك دادې چه دخلع عدت د طلاق عدت دې.د حضرت عمر فاروق ﷺ،حضرت علی ﷺ،حضرت ابن مسعود ﷺ او حضرت سعید بن مسیب رحمه الله،حضرت سلیمان بن یسار رحمه الله،حضرت عروه رحمه الله،حضرت سالم رحمه الله،حضرت عمربن عبدالعزیز رحمه الله،ابن شهاب رحمه الله،حضرت حسن رحمه الله،حضرت شعبی رحمه الله،حضرت ابراهیم رحمه الله،حضرت نخعی

Scanned with CamSc

رحمہ اللہ،حضرت ابوعیاض رحمہ اللہ،حضرت فلاس بن عمرو رحمہ اللہ،حضرت سفیان ثوری رحمہ اللہ،حضرت اوزاعی رحمہ اللہ،حضرت لیث بن سعد رحمہ اللہ او ابوعبیده رحمہ اللہ هم دا فرمان دي.امام ترمذی رحمہ اللہ فرمائی چه اکثر اهل علم دي طرفته تلی دی.هغوئ وائی چه چونکه طلاق دي نو ددي عدت هم د طلاق پشان دي.

د خلع عدت حیض دي:- ② دویم قول دا دي چه صرف دیو حیض غدت به ددي وی.حضرت عثمان رضی اللہ عنہ هم دا فیصله کړې وه.اګر چه حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ د دریو حیضونو فتوی ورکوله.لیکن ورسره نې فرمائیلی وو چه حضرت عثمان رضی اللہ عنہ مونږ نه بهتر دي اوځمونږ نه زیات لوئې عالم دي.او ابن عمر رضی اللہ عنہ نه دیو حیض عدت هم مروی دي.حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه،حضرت عکرمه رحمہ اللہ،حضرت ابان بن عثمان رحمہ اللہ،او ټول هغه خلق چه دکومو نومونه پورته ذکر شوی دی چه خلع ته فسخ وائی ضروری دی چه ددي ټولو قول هم داوی.د ابوداود او ترمذی په حدیث کښې دی چه ربیع بنت معوذ ته هم د خلع نه پس دیو حیض تیرولو فرمان حضرت نبی کریم ﷺ ورکړې وو.(۱) حضرت عثمان رضی اللہ عنہ خلع والا ښځې ته فرمائیلی وو چه تاباندې هډو عدت نشته دي.خو که نزدې زمانه کښې خاوند سره یو خائې شوې نې نو یو حیض راتلو پورې هغه سره اوسه.مریم مغالبه باره کښې حضرت نبی کریم ﷺ چه کومه فیصله کړې وه د هغې تابعداری حضرت امیر المومنین اوکړه.(۲)

مسلک حنفی:- د مختلعه عدت د هغه مطلقې پشان دي د چا عدت چې درې حیضه وی که دا ښځه د ذوات الحیض نه وی (احکام القران للعثمانی ۱/۱۱۲، ۴۹۹)۔

مخلوعه ښځې ته د رجوع کولو حکم :- ①دجمهور علماء کرامو او د څلورو وارو امامانو په نیز خلع والاښځې ته درجوع حق خاوند ته نه دي حاصل،ځکه چه دي خاوند ته مال ورکړې وو او خپل ځان نې آزاد کړې وو.②د عبدالله ابن ابی اوفی رحمہ اللہ،ماهان حنفی رحمہ اللہ،سعید رحمہ اللہ او زهری رحمہ اللہ قول دي که هغه د مهر مال واپس اخستې وی او واپس ئې کړی،نو د رجوع حق حاصل دي.بغیر د ښځې د رضا نه هم رجوع کولې شی.③ سفیان ثوری رحمہ اللہ فرمائی که خلع کښې دطلاق لفظ نه وو،نو صرف جدائی ده او د رجوع کولو حق نشته دي.او که د طلاق نوم نې اخستې وی نو بې شکه هغه د رجوع پوره پوره حقدار دي.داود ظاهری رحمہ اللہ هم دا فرمائی.خو په دي خبره باندې دټولو اتفاق دي که دواړه رضامند وی نونوي نکاح عدت کښې دننه دننه کولې ④ ابن عبدالبر رحمہ اللہ دیو فرقې یو قول دا هم روایت کوی چه د عدت دوران کښې چه ځنګه دي سره بل څوك نکاح نشی کولې هم داشان خلع ورکوونکې خاوند هم نشی کولې.لیکن دا قول شاذ اومردود دي.

په عدت کښې د دویم طلاق واقع کیدو حکم:- په دي ښځه باندې عدت کښې دننه دننه دویم طلاق هم واقع کیدیشی یا نه.په دي کښې دعلماء کرام درې اقوال دی.① یو دا چه نه ځکه چه هغه ښځه دخپل نفس مالکه ده.او دي خاوند نه بیله شوې ده.د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه،حضرت ابن زبیر رضی اللہ عنہ،حضرت عکرمه رحمہ اللہ،حضرت جابر بن زید رحمہ اللہ،حضرت حسن بصری رحمہ اللہ،حضرت امام شافعی رحمہ اللہ،حضرت احمد رحمہ اللہ،حضرت اسحاق رحمہ اللہ،حضرت ابوثور رحمہ اللہ هم دا قول دي.② دویم قول د حضرت امام مالك رحمہ اللہ دي که خلعې ورکولو سره چپ پاتې نشو نو بلکه طلاق ئې هم ورکړو نو دا به واقع شی.ګنی نه.ددي تائید د هغې قول نه کیږی کوم چې د حضرت عثمان رضی اللہ عنہ نه مروی دي.③ دریم قول دا دي چه عدت کښې به طلاق واقع کیږی.د حضرت امام ابوحنیفه رحمہ اللہ اصحاب حضرت ثوری رحمہ اللہ،حضرت اوزاعی رحمہ اللہ،حضرت سعید بن مسیب رحمہ اللہ،حضرت شریح رحمہ اللہ،حضرت طاؤس

---

(۱) ابوداود کتاب الطلاق باب فی الخلع : ۲۲۲۹،وسنده حسن ترمذی: ۱۱۸۵)۔

(۲) نسائی کتاب الطلاق باب عدة المختلعة : ۳۵۲۸،ابن ماجة: ۲۰۵۸،وسنده حسن)۔

Scanned with CamSc

رحمہ اللہ، حضرت ابراهیم او زهری رحمہ اللہ، حضرت حاکم رحمہ اللہ، حضرت حکم رحمہ اللہ، حضرت حماد رحمہ اللہ نه هم دا قول منقول دي. حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ او ابوالدرداء رضی اللہ عنہ نه هم دا مروی دی لیکن ثابت نه دی.

بیا فرمائی چه دا د الله ﷻ حدونه دی. الخ. صحیح حدیث کښې دی چه د الله ﷻ حدونو نه مخکې مه خئ، فرائض مه ضائع کوئی، دمحارمو بې حرمتی مه کوئی، چه دکوم څیزونو شریعت کښې ذکر نشته دي تاسو هم په هغې باندې خاموش شئ ځکه چه الله ﷻ دهیرې نه پاك دي.(۱) دې آیت نه د هغه خلقو استدلال دي چه وائی چه درې طلاق په یو ځائې ورکول حرام دی. د مالکیه او ددوی دموافقینو هم دا مذهب دي. ددوی په نیز سنت طریقه هم داده چه طلاق دې یو یو ورکړې شی. ځکه چه ﴿اَلطَّلَاقُ مَرَّتٰنِ﴾ ونیلې شوی دی.

قوله تعالی:- تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا

دالله د حدود نه د تجاوز کولو حرمت:- بیا فرمائی چه داحدونه دی دالله ﷻ ددې حدونو نه تجاوز مه کوئی. ددې تقویت ددې حدیث نه هم شوې دي چه کوم په سنن نسائی کښې دي چه حضرت نبی کریم ﷺ ته یو ځل دا معلومه شوه چه یو سړی خپلې ښځې ته درې طلاق په یو ځائې ورکړې دی. حضرت نبی کریم ﷺ ډیر په غصه شو او اودریدلو او وې فرمانیل چه زما په موجودګئ کښې به د الله ﷻ کتاب سره توقې کولې شی. تر دې چه یو سړی اودریدواو وې ونیل که حضرت نبی کریم ﷺ اجازت اوکړی نو ځه به هغه سړی قتل کړم،(۲) خو ددې روایت سند انقطاع دي.

قوله تعالی:- فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهٗ مِنْۢ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ

دطلاق مغلظ :- بیا ارشاد دي چه کله یو سړی خپلې ښځې ته د دوه طلاقو ورکولو نه پس دریم طلاق هم ورکړی. نو هغه به په ده باندې حرامه شی. تر دې چه بل خاوند سره باقاعده نکاح اوکړی، هم بستری اوکړی، بیا هغه مړشی یا طلاق ورکړی. نو که بغیر د نکاح نه لکه وینځه ئې جوړه کړی او وطی ورسره اوکړی نو دابه هم د مخکې خاوند دپاره حلاله نه وی. دا شان اګر که باقاعده نکاح شوې وی اودې دویم خاوند ورسره مجامعت نه وی کړې نو بیا هم رومبی خاوند دپاره حلاله نه ده.

سعید بن مسیب ته د یوقول نسبت:- اکثرو فقهاء کښې مشهور دی چه حضرت سعید بن مسیب رحمہ اللہ، مجرد عقد ته حلال وائی اګر چه یوځائې شوی نه وی. خو دا خبره د هغوئ نه ثابته نه ده. یو حدیث کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ نه سوال اوشو چه یو سړی یو ښځې سره نکاح کوی او د دخول نه مخکې طلاق بته ورته ورکوی، او هغه بله نکاح کوی او هغه ورته هم د دخول نه مخکې طلاق ورکوی، نو آیا دا په رومبې خاوند باندې حلاله ده. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه نه بلکه تر څو چه هغه ددې نه او دې دهغې خوند وانخلی.(مسند احمد، ابن ماجه وغیره).(۳) ددې روایت راوی حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ نه پخپله حضرت امام سعید بن مسیب رحمہ اللہ دي. نودا څنګه ممکن ده چه هغه دې روایت هم کوی او بیا دې مخالفت هم کوی. او بیا بلادلیل هم.

یو روایت کښې دی ښځه رخصت شی لاړه شی او یو مکان کښې ښځه خاوندیوځائې شی، پرده واچوی لیکن صحبت اونه کړی نوبیا هم دا حکم دي.(۴) پخپله ددوی په زمانه کښې هم دا شان واقعه شوې وه. ددوی نه تپوس اوشو خو دوی ورته د رومبی خاوند اجازت ورنکړو.(بخاری و مسلم).(۵)

---

۱) الحاکم فی المستدرک: ۱۱۵/٤)-

۲) نسائی کتاب الطلاق باب الثلاث المجموعة وما فیه من التغلیظ : ۳٤۳،وسنده حسن)-

۳) احمد : ۸۵/۲،کتاب الطلاق باب احلال المطلقة ثلاثا: ۳٤٤۳،ابن ماجة : ۱۹۳۳،وهو صحیح)-

٤) احمد : ۸۵/۲،کتاب الطلاق باب احلال المطلقة ثلاثا: ۳٤٤۳،ابن ماجة : ۱۹۳۳،وهو صحیح)-

۵) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب من جوز الطلاق الثلاث : ۵۶۰،صحیح مسلم: ۱٤۳۳)-

Scanned with CamSc

یو روایت کښې دی چه د حضرت رفاعه قرظی رضی الله عنه بی بی صاحبه تمیمه بنت وهب ته چه دریم او اخری طلاق ورکړو نو ددوې نکاح حضرت عبدالرحمان بن زبیر رضی الله عنه سره اوشوه لیکن دا دوباره شکایت سره دحضرت نبی ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او وې وئیل چه هغه دښځې په معیار پوره نه دي ماته اجازت راکړئی چه خه خپل رومبی خاوند کره لاړه شم.حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه دانشی کیدلې تر څو چه ستا نکاح بل خاوند سره اونشی.اوهغه سره مجامعت اونشی.(۱) ددې احادیثو ډیر سندونه دی او مختلفو الفاظو سره مروی دی.

فصل:

د دویم خاوند سره د نکاح شرعی طریقه:- دا یادداشتل پکار دی.چه د دویم خاوندنه مقصد دادې چه پخپله هغه سره رغبت وی او هغه همیشه دښځې ساتلو خواهش مند وی.ځکه چه دنکاح مقصد هم دادې.دانه چه مخکې خاوند دپاره صرف حلاله شی او بس.

دتحلیل جماع به شرعی طریقې سره وی:- بلکه حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی چه دا شرط دې چه دا مجامعت هم مباح او جائز طریقې سره وی لکه ښځه روژه داره نه وی،د احرام حالت کښې نه وی ،د اعتکاف حالت کښې نه وی،دحیض یا نفاس حالت کښې نه وی.دا شان خاوند هم روژه دار نه وی، محرم یا معتکف نه وی،که په طرفینو کښې یوکښې هم دې حالت کښې وی اوبیاوطی هم اوشی،بیا هم رومبی خاوند باندې حلاله به نه وی.داشان که دویم خاوند ذمی وی نو بیا به هم رومبی خاوند دپاره حلاله نه وی.ځکه چه د امام مالك صاحب رحمه الله په نزد دکافرو په خپلو کښې نکاح باطل ده.

د تحلیل په جماع کښې د انزال شرط:- امام بصری رحمه الله خو دا شرط هم لګوی چه انزال هم وی ځکه چه د حضرت نبی کریم ﷺ الفاظو نه په ظاهره کښې دا معلومیږی چه ترکومې پورې هغه ستا نه اوته دهغې نه مزه وانخلې او که هم دا حدیث ددې پیش نظر وی نو پکار دی چه دښځې طرفنه هم دا شرط معتبر وی لیکن دحدیث لفظ ﴿عسیلة﴾ نه منی مراد نه ده دا یاد ساتئی ځکه چه مسند احمد او نسائی کښې حدیث دې چه عیسله نه مراد جماع ده.(۲)که د دویم خاوند اراده ددې نکاح نه دا وی چه دانښځه درومبی خاوند دپاره حلاله شی نو دداسې خلقومذمت بلکه ددې د ملعون کیدو تصریح په حدیثو کښې راغلې ده.

په حلاله کونکی باندې لعنت:- مسند احمد کښې دی چه بدن کښې ستنې سره رانجه لګول،اونورو لره داسې کولو والا ښځې او ویښته یو خائې کولو والا ښځو باندې لعنت وئیلې شوې دي.حلاله کولو والا اوچه دچا دپاره چه حلاله کوی،په هغوئ هم دالله ﷻ غصه.سودخور او سود ورکولو والا هم لعنتی دی.(۳)امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه دصحابه کرامو رضی الله عنهم هم دا عمل دې.حضرت عمر فاروق رضی الله عنه،حضرت عثمان رضی الله عنه،حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه هم دا مذهب مروی دی.تابعین فقهاء هم دا وائی.علی ابن مسعود رضی الله عنه او حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه هم دا فرمان کوی.

لعنتی خلق:- او یو روایت کښې دی چه د سودګواهی ورکولو والو او ددې دلیکلو والو باندې هم لعنت دې.زکوة نه ورکونکی او په اخستو کښې زیاتی کولو واله باندې دالله ﷻ لعنت دې.هجرت نه پس

---

(۱) داروایت چه دې کښې د رفاعه د بی بی صراحت دې،دا امام مالک موطا کتاب النکاح،باب النکاح المحلل وما اشبهه : ۱۷ کښې ذکر کړې دې وهو صحیح،یاد ساتئ رو وایت کښې دی حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم حاضریدو والا حضرت رفاعه پخپله دې ددۀ بی بی نه لکه څنګه چه صحیح مسلم کښې دی : ۱۴۳۳)-

(۲) احمد: ۶۲/۶)-

(۳) احمد : ٤٤٨/١ کتاب النکاح باب ماجاء فی المحلل والمحلل له: ۱۱۱۹،نسائی: ۳٤٤٥)-

Scanned with CamSc

واپس کیدو والو دپاره هم غضب دي.نوحه کول هم ممنوع دي.([1])یو حدیث کښې دی چه څه تاسو ته اووایم چه قرض اخستونکې سنډا څنګه دي.خلقواوونیل چه آو.وې فرمائیل چه څوک حلاله کوی یعنی طلاق والا ښځې سره ددې وجې نکاح اوکړی چه هغه د مخکې خاوند دپاره حلاله شی نو په ده باندې دالله ﷻ لعنت دي.او چه څوک دخپل خان دپاره داسې اوکړی هغه هم ملعون دي.(ابن ماجه).([2]) یو روایت کښې دی چه ددې نکاح په حقله د حضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اوشو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا خو هډو نکاح نه ده چه په دې کښې مقصود یو وی او ظاهر بل څه وی.چه په هغې کښې دالله ﷻ کتاب سره ټوقې شوې وی.نکاح صرف هغه ده چه رغبت سره وی.([3]) مستدرک حاکم کښې دی چې یو سړی عبدالله بن عمر ﷺ ته سوال اوکړو چې یو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل.دې نه ددۀ رور دې ښځې سره په دې نیت نکاح اوکړه چې دا ځما رور دپاره حلاله شی نو آیا دا نکاح ده دوئ اوفرمائیل چې بالکل نه.مونږ خو به دې ته د نبی کریم ﷺ زمانه زنا وئیله.نکاح هغه ده چې په هغې کښې رغبت وی.د دې حدیث دې روستنۍ جملې دا موقوف کړې دې اګرچې په حکم کښې مرفوع کړې دې.بلکه یو روایت کښې دی چه امیر المومنین حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل که څوک داسې کوی یا بل چاباندې ئې کوی نو خه دواړو باندې د زنا حد لګوم.یعنی هغوئ به رجم کوم.([4]) خلیفه حضرت عثمان ﷺ هم داسې نکاح کښې تفریق اوکړو.داشان حضرت علی ﷺ او حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه وغیره ډیرو صحابه کرام ﷺ نه هم دا مروی دی.

قوله تعالی:- فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا إِنْ ظَنَّا أَنْ يُقِيمَا حُدُودَ اللَّهِ

بیا فرمان دې که دویم خاوند دنکاح او وطی کولو نه پس طلاق ورکړی نو رومبی خاوند سره ددې ښځې په نکاح کولو کښې هیڅ ګناه نشته دي.خو چه دا ښه طریقې سره وخت تیروی.او دا دې وی چه هغه دویمه نکاح صرف نکاح دهوکه اومکروفریب نه وو.بلکه حقیقت وو.دا دی د الله ﷻ شرعی احکام چه د عالمانو دپاره الله ﷻ واضح کړی دی.

د یو طلاق نه پس عدت ختمیدل او بل سره نکاح کول:- امامان په دې کښې اختلاف لری چه یو سړی خپلې ښځې ته دوه یا یوطلاق ورکړو اوبیا ئې هم پریږدی،تردې چه هغې باندې عدت تیرشو.بیا دې بل سره نکاح اوکړه.او هغه سره ئې هم بستری اوکړه،اوبیا ورته هغه هم ورته هم طلاق ورکړو اود دې عدت ختم شو،بیا ئې هغه رومبی خاوندسره نکاح اوکړه نو آیاهغه ته به دریو کښې چه کوم طلاقونه یعنی یو یادوه باقی وو صرف د هغې اختیار به وی او که رومبی دري طلاقونه به د شمیر نه ساقط شی.او ده ته به دوباره د دریو طلاقو حق حاصل وی.رومبې مذهب دحضرت امام مالك رحمه الله ،حضرت امام شافعی رحمه الله او حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله او د صحابه کرامو ﷺ یو جماعت دې او دویم مذهب دحضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ،اوددوی دملګرو دی.اوددوی دلیل دادې چه کله دریم طلاق په شمیر کښې رانغلو نو رومبې او دویم به څنګه راشی.والله اعلم.

په طلاق رجعی کښې زوج ثانی سره د نکاح نه پس زوج اول د څو طلاقو مالک دي؟

مسلک حنفی:- په ذیر بحث مسئله کښې د امام ابوحنیفه او ابویوسف رحمهما الله په نیز زوج اول چه دوباره نکاح اوکړی نو دې د درې طلاقو مالک شو او امام محمد رحمه الله فرمائی چه په اوله چې ورسره د څو طلاقو اختیار باقی پاتې شوې وو صرف هغه به باقی وی مثلاً که په اوله نکاح کښې ئې

---

[1]) نسائی کتاب الزینة: باب الموتشمات.....:۵۱۰۵)-

[2]) ابن ماجة کتاب النکاح باب المحلل والمحلل له : ۱۹۳۶،وهو حسن)-

[3]) الحاکم : ۱۹۹/۲ وسنده صحیح)-

[4]) الطبری: ۵۹۸/٤)-

دوه طلاقه ورکړي وو نو اوس به ورسره صرف یو طلاق وی اوکه په اوله نکاح کښې ئې یو طلاق ورکړي وو نو اوس به ورسره دوه طلاقه وی (التفسیر المظهری ۱۱/۳۴۷)۔

وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ
او کله چې طلاق ورکړئ تاسو ښځوته او نزدې شوې هغوئ نیتې دعدت خپل ته انویا اوساتئ هغوئ په ښه طریقې سره
بیانوی اوهر کله چې تاسو ښځوته طلاق ورکړئ اوهغوئ خپلې نیتې ته نزدې شی انویاخوئې په روغ نیت ایساري کړئی
اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۪ وَّلَا تُمْسِكُوْهُنَّ ضِرَارًا لِّتَعْتَدُوْا ۚ وَمَنْ
یاپریږدئ هغوئ په ښه طریقې سره او مه ساتئ هغوئ دپاره دضرررسولو چې زیاتې اوکړئ او هغه څوک
اویائې په ښه طریقه رخصت کړئی ادتنګولو دپاره ئې مه ایساروئې ادا ظلم دې اوڅوک چې
يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ۠
چې کوی داسې کار په حقیقت کښې هغه ظلم اوکړو په خپل ځان اومه نیسئ آیتونه دالله په توقو سره
داسې کار اوکړی هغه پخپل ځان ظلم اوکړل .....اودالله پاک دآیتونونه لوبې مه جوړوئی
وَّاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمَآ اَنْزَلَ عَلَيْكُمْ
او یاد کړئ نعمت دالله چې کړې ئې دې په تاسو باند اوهغه چې نازل کړې دې الله په تاسوباند
اوپه تاسو چه دالله پاک کوم نعمتونه دی هغه یادساتئ اوڅه چه ئې په تاسو د کتاب او حکمت نه نازل
مِّنَ الْكِتٰبِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا
چه کتاب اوحکمت دې نصیحت کوی هغه تاسو ته په هغې سره اواویریږئ دالله نه اوپوهه شئ
کړی دی په هغې سره تاسو ته نصیحت کوی .....اوالله پاک نه ویره کوئ اوخبر شئ چې
اَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۲۳۱﴾
چې بیشکه الله په هر څیز خبر دې
الله پاک په هرڅۀ پوهه دې

قوله تعالی:- وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ سَرِّحُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ ۪

په طلاق ورکولو کښې ښه طریقه اختیار کړئ:- سړو ته حکم دې چه کله هغوئ خپلو بیبیانوته طلاق ورکوی نوچه په کومو طلاقونو کښې هغوئ ته دواپس کیدو حق حاصل وی او عدت نزدې وی نو یا خودې ښه طریقې سره واپس کړی یعنی رجعت باندې دې ګواه مقرر کړی او ښه طریقې سره دې د اوسولونیت اوکړی او یا دې هغوئ ښه طریقې سره پریږدی. اوعدت ختمیدو نه پس دې دخپل خانې نه بغیرد دښمنئ او جنګ نه اوباسی. د جاهلیت دا دستور اسلام ختم کړوچه کوم په هغوئ کښې وو چه طلاق به ئې ورکړو او عدت ختمیدو ته نزدې به ئې بیا رجوع اوکړه، بیابه ئې طلاق ورکړو اوبیا به ئې رجوع اوکړه. اوداشان به ئې ښځه همیشه دپاره تکلیف کښې ساتله چه نه په نکاح کښې پاتې وه اونه او کونډه وه. نوالله ﷻ ددې نه ئې منع اوفرمائیل او وې فرمائیل چه داسې کولووالا ظالم دې.

قوله تعالی:- وَلَا تَتَّخِذُوْٓا اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا ۠

دالله ﷻ په ایاتونو پورې د ټوقو ممانعت:- بیا ئې فرمائی چه د الله ﷻ آیتونه مذاق مه جوړوئی. یوځل حضرت نبی کریم ﷺ داشعر قبیلې نه خفه شو نو حضرت ابوموسی اشعری ؓ راغلو او د خفګان ټپوس

نې اوکړو.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه داخلق ولې دا وائی چه ما طلاق ورکړواوما رجوع اوکړه. یاد ساته د مسلمانانو دا طلاقونه نه دی،بنځو ته د عدت مطابق طلاقونه ورکوئی.(۱) اودا مطلب هم اخستې شوې دې چه دا هغه سړې دې چه بنځې ته د ضرر رسولو دپاره طلاق ورکړی اودهغې عدت اوږدولو دپاره رجوع کوی.(۲) دا هم وئیلې شوی دی چه دا هغه سړې دې چه هغه طلاق ورکړی او بیا نې آزاده کړی یا نکاح اوکړی.بیا اووائی چه ما ځودا په ټوقو ټوقو کښې اوکړل.نوداسې صورت کښې به په حقیقت کښې دا واقع کیږی.

حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه یو سړی خپلې بنځې ته طلاق ورکړو بیانې اووئیل چه ما خو ټوقې کولې.نو په دې باندې دا آیت نازل شو او حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا طلاق اوشو.(ابن مردویه).حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه خلقو به طلاق ورکولو او بنځې به نې آزادولې او نکاح بهٔ نې کوله او بیا نې وئیل چې دا مونږ هسې زړه خوشحالولو دپاره اوکړل نو په دې دا آیت مبارک نازل شو او نبی ﷺ اوفرمائیل چه څوک طلاق ورکړی یا غلان آزاد کړی یا نکاح اوکړی یا بل چالره نکاح اوکړی که پخه نکاح وی اوکه هسې په ټوقول ټوقو کښې وی نو داټول اوشو (ابن ابی حاتم).دا حدیث مرسل اوموقوف ډیرو سندونوسره مروی دې.

د درې ځیزونو ټوقې هم حقیقت دې:- ابوداود ،ترمذی،ابن ماجه کښې داحدیث دې چه درې ځیزونه داسې دی که هغه پخې ارادې سره وی یا ټوقو ټوقو کښې وی نودرې واړه به ثابت وی،① نکاح ② طلاق ③ رجعت.ترمذی رحمه الله دی ته غریب حسن وائی.

قوله تعالی:- وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمَا أَنْزَلَ عَلَيْكُمْ مِنَ الْكِتَابِ وَالْحِكْمَةِ يَعِظُكُمْ بِهِ

دالله د نعمت یادولو حکم:- بیافرمائی چې دالله ﷻ نعمت یادکړئی چه هغه رسول اولیږلو،هدایت او دلیلونه نې نازل کړل اوکتاب اوسنت نې اوخودلو،حکم نې هم اوکړو اومنع نې هم اوکړه.وغیره وغیره .چه څه کارونه کوئی او د څه نه منع شئ هریو کښې د الله ﷻ نه ویریږئی او پوهه شئ چه الله ﷻ هر پټ او هر بنکاره ښه پیژنی.

وَإِذَا	طَلَّقْتُمُ	النِّسَاءَ	فَبَلَغْنَ
او کله چې	طلاق ورکړو تاسو	بنځوله	اواورسیږی هغوئ
اوهرکله چې تاسو بنځوته طلاق ورکړئ	اوهغوئ خپله نیته (عدت پوره کړی		
أَجَلَهُنَّ	فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ	أَنْ يَنْكِحْنَ	أَزْوَاجَهُنَّ	إِذَا
مودې خپلې ته	نو مه منع کوئ هغوئ	چې نکاح اوکړی	خاوندانوخپلو سره	کله چې
نودخپلو (اولنو) خاوندانوسره دنکاح کولو نه ئې مه منع کوئی |..... کله چې			
تَرَاضَوْا	بَيْنَهُمْ	بِالْمَعْرُوفِ ذَٰلِكَ	يُوعَظُ	بِهِ	مَنْ
هغوئ خوښ وی	په خپل منځ کښې	په ښکلې طریقه	دا حکم	نصیحت کیدې شی	په دې سره	هغه چاته
هغوئ د رواج مطابق خپلو کښې راضی وی	په دې خبروستاسونه هغه چاته نصیحت کولی شی چې هغه					

۱) الطبری: ۱٤/٥)-

۲) الطبری: ۱۸/٥)-

Scanned with CamSc

كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكُمْ
چې وی| ستاسونه| چې ایمان راوړی| په الله باند|او په ورځ د آخرت باند |دې داحکم تاسو ته
په الله پاک اوپه ورځ د آخرت ایمان ساتی |.....او داستاسو دپاره
اَزْكٰى لَكُمْ وَاَطْهَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝
چه زیات غوره دې| ستاسو دپاره|او زیات پاك |اوالله	پوهیږی |او تاسو	نه پوهیږئ	
ډیره غوره اوپاکیزه طریقه ده	اوالله پاک په هرڅه ښه پوهیږی اوتاسونه پوهیږئی	

قوله تعالی:- وَاِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَبَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ اَنْ يَّنْكِحْنَ اَزْوَاجَهُنَّ اِذَا تَرَاضَوْا بَيْنَهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ

د ولی نه بغیر د نکاح کولو حکم:- په دې آیت کښې دښځو د ولی او وارثانود دې خبرې نه ممانعت دې چه کله یوه ښځه طلاقه شی اوعدت ئې هم تیر شی او بیا ښځه خاوند خپلو کښې رضامند وی او نکاح کول غواړی نوهغوئ مه منع کوئی.په دې آیت کښې دلیل دې ددې امر چه ښځه خپله نکاح پخپله نشی کولې اونکاح بغیرد ولی نه نشی کیدلې.ابن جریر او ترمذی ددې آیت تفسیر کښې داحدیث وارد کړې دې چه ښځه د ښځې نکاح نشی کولې.او ښځه خپله نکاح په خپله نشی کولې.او نکاح بغیر د ولی نه نشی کیدې.هغه ښځې زناکاري دی چه خپله نکاح په خپله کوی.(۱) دویم حدیث کښې دی چه نکاح بغیرد دوه رهبرانو نه او دوه عادلانونه نشته دې.(۲) اګر چه په دې مسئله کښې اختلاف دې. لیکن دا د دې دبیان ځائې نه دې.مونږ په کتاب الاحکام کښې ددې بیان کړې دې.﴿فالحمدلله﴾

ښځه بغیر د ولی نه نکاح کولی شی

مسلک حنفی:- حنفیان وائی چه بغیر د ولی نه نکاح جائز ده ځکه چرته د ولی نه بغیر جائز نه وه هو الله تعالی به د نکاح کولو نسبت ولي کړې وې زوجینو به ئې نه کولو هرکله چه الله ﴿حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهٗ﴾ اوفرمائیل نو معلومه شوه چه په خپل اختیار سره سړې (احکام القران للعثمانی ۱۱۲/ ۵۰۹)-

د ایت شان نزول:- دا آیت دحضرت معقل بن یسار ﷺ،او ددوی د خورﷺ باره کښې نازل شوې دې.صحیح بخاری کښې ددې تفسیرپه بیان کښې دې چه حضرت معقل بن یسار ﷺ فرمائی چه زما خور لره به رشتې راتلې.ما ددې نکاح اوکړه.هغه ورته څو ورځې پس طلاق ورکړو.بیا عدت تیریدو نه پس ئې دنکاح درخواست اوکړو،ما انکاراوکړو،نو په دې باندې دا آیت نازل شو.چه ددې په آوریدو سره حضرت معقل ﷺ د قسم خورلو نه باوجود چه څه به ئې ستا په نکاح درنکړم اونه به راضی شم،دې راضی شو او وې وئیل چه ما دالله ﷻ فرمان واوریدو او ماومنلو.او خپل اوخوئی مې راوبللو او دوباره ورسره نکاح اوشوه او دقسم کفاره مې ورکړه.(۳) دهغې نوم جمل بنت یسار وو.ددې دخاوند نوم ابوالبداح وو،بعضو ددې نوم فاطمه بنت یسار خودلې ده.سدی ﷺ فرمائی چه دا آیت دحضرت جابربن عبدالله ﷺ او دده د تره لور باره کښې نازل شوې دې.خو رومبئ خبره صحیح ده.

قوله تعالی:- ذٰلِكَ يُوْعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ

په شرعی احکامو کښې دمخلوق ښیکړه ده :- بیافرمائی چه د دهغه چا دپاره نصیحت او وعظ چه څوک په شریعت ایمان راوړی،دالله ﷻ نه ویریږی،د قیامت ویره وی ورسره،هغوئ ته پکار دی چه دهغوئ په

---

(۱) ابن ماجة کتاب النکاح باب لانکاح الا بولی : ۱۸۸۲)-

(۲) الاوسط للطبرانی نحو المعنی : ۵۲۵)-

(۳) صحیح بخاری کتاب النکاح باب من قال لا نکاح الا بولی : ۵۱۳۰،ابوداود : ۲۰۸۷،ترمذی: ۲۹۸۱)-

Scanned with CamSc

ولایت کښې کومې ښځې دی هغوئ په داسې خالټ کښې منع نه کړی دنکاح کولو نه.دشریعت اتباع دې کوی،او داسې ښځې ددوی د خاوندانو په نکاح کښې ورکوی او خپل غیرت او پښتو چه دشریعت ماتحت کول ستاسو دپاره بهتره ده اود پاکوالی سبب دې.ددې مصلحتونو علم الله ﷻ ته دی.تاسوته ددې علم نشته دې چه په کوم یو کار کښې ښیګړه ده او د کوم یو کار په پریښودلو کښې ښیګړه ده.د علم حقیقت الله ﷻ ته دی.

وَالْوَالِدٰتُ
او میندی
اوطلاقې شوې میندې
يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ
به پئ ورکوی | اولاد خپل ته | دوه کاله | پوره | دپاره دهغه پلار | چې غواړی | چې پوره کړی | دنی ورکولو موده
دې خپل اولاد ته پوره دوه کاله تئ ورکوی | کوم(پلاران) چې د(اولاد)د تی موده پوره کول غواړی
وَعَلَى الْمَوْلُوْدِ لَهٗ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ لَا
او دی په پلار دبچی باند | خوراك ورکول میندوته | اوجامې ورکول میندوته | په معلومې طریقې سره | نۀ دی پکار
اودماشوم په پلار باندې ددغې ښځې نان نفقه اوجامې د رواج مطابق مقرر دی | هیڅا ته د هغه د وس
تُكَلَّفُ نَفْسٌ اِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَا تُضَآرَّ وَالِدَةٌ ۢ بِوَلَدِهَا وَلَا
بوج | چول په هیڅاباند | مګر مطابق | د طاقت دهغۀ | تکلیف دې نشی ورکولې | مورته | په سبب دبچی دهغې | اونۀ
نه زیات تکلیف نشی ورکولې | نه دې مور ته د هغې په بچی باندې ضرر رسولې شی | چې دا ستاخونې دې وته نې ساته | اونه
مَوْلُوْدٌ لَّهٗ بِوَلَدِهٖ ۚ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذٰلِكَ ۚ فَاِنْ اَرَادَا فِصَالًا
پلار دهغه ته | په سبب دبچی دهغه | اوپه وارث باند | په شان ددغې | خوکه چرې | اوغواړی دواړه پریکول دبچی د تی نه
دې پلار ته د هغه په بچی باندې | اودغسې حق دماشوم په وارث باندې هم شته | خوکه پریکول غواړی دتی
عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا ؕ وَاِنْ اَرَدْتُّمْ اَنْ
په رضا د دواړو سره | او په مشورې خپلې سره | نو نشته ګناه | په دواړو باند | او که چرې غواړئ تاسو | چې
دواړه په خپلې رضا او صلاح مشورې سره | نوهیڅ ګناه نشته په دواړوباندې | اوکه تاسو ښیول غواړئ
تَسْتَرْضِعُوْٓا اَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِذَا سَلَّمْتُمْ
دتی ورکولو په غرض اونیسئ بله ښځه | د اولاد خپل دپاره | نو نشته ګناه | په تاسو باند | کله چې ورکړئ تاسو هغه مزدوری
خپل اولاد دپاره بله دائی(موضعه) | نوهیڅ ګناه نشته خو چه ادا کوئ هغه (وظیفه)
مَّآ اٰتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوْفِ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ بِمَا
چې مقرر کړی وی تاسو | په معلو مه طریقه | اواوپریږئ دالله نه | اوپوهه شئ | چې الله | په هغه کارونو
چې تاسومقرر کړې وی په ښه طریقه |.....اوالله پاک نه ویره کوئ | اوخبر شئ چې الله پاک

Scanned with CamSc

تَعْمَلُونَ	بَصِيرٌ ﴿٢٣٣﴾
چې کوئ نې تاسو	نظر لرونکی دې
ستاسو کارونه وینی	

قوله تعالی:- وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ ؕ

بچی ته د پئیو ورکولو موده:- دلته الله ﷻ دبچو والو بنځو باره کښې ارشاد فرمائی چه دپئیو ورکولو موده دوه کاله ده.دوه کالونه پس دپئیو ورکولو هیڅ اعتبار نشته دې.دې نه پس پئ ورکول ثابت نه دی .او نه پرې حرمت رضاعت ثابتیږی.د اکثرو ائمه کرام هم دا مذهب دې.

د رضاعت موده:- په ترمذی کښې باب دې،،چه د رضاعت حرمت هغه رضاعت ثابتوی چه د دوه کالو نه مخکې وی([1]) بیا حدیث راوړی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه هغه رضاعت حراموی چه کومې کولمې ډکې کړی او د پئیو خلاصولو نه مخکې وی.داحدیث حسن صحیح دې.او اکثر اهل علم صحابه کرام ﷺ وغیره هم په دې باندې عمل کوی چه ددوؤ کالونه مخکې رضاعت معتبر دې.دې نه پس رضاعت معتبر نه دې.ددې حدیث راوی په شرط د صحیحینو دې.حدیث کښې د ﴿فی الثدي﴾ لفظ راغلې دې.ددې معنی هم دمحل رضاعت یعنی ددوؤ کالونه مخکې دې.هم دا لفظ حضرت نبی کریم ﷺ په هغه وخت کښې فرمائیلی وو چه کله ددوی د خوئې حضرت ابراهیم وفات شوې ووچه د پئیو ځکلو په موده کښې وفات شوې وو او هغه ته پئیو ځکلو والا جنت کښې مقرروه.([2])دحضرت ابراهیم ﷺ عمر په هغه وخت کښې یو کال اولس میاشتې وو.دارقطنی کښې یو حدیث کښې دې چې د دوؤ کالومودې نه پس رضاعت معتبر نه دې.([3]) حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه هم فرمائی چه دې نه پس هیڅ څیز نشته دې.د ابوداود طیالسی روایت کښې دی چه د پیئو پرینبودلونه پس رضاعت نشته دې.د بلوغت نه پس د یتیمئ حکم نشته دې.([4])

پخپله قران پاك بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿ فصاله فی عامین ﴾ الخ.د پئیو پرینبودلوموده دوه کاله ده.بل ځائې کښې دی چه ﴿وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ﴾ یعنی حمل او پئ د دواړو موده دیرش میاشتې ده.اودا قول چه ددوؤ کالونه پس پئ ورکول او ځکلو سره درضاعت حرمت نه دې ثابت،ددې ټولو حضرات (هم دا قول) دې.حضرت علی ﷺ،حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه،حضرت ابن مسعود ﷺ،حضرت جابر ﷺ،حضرت ابوهریره ﷺ،حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت ام سلمه رضی الله عنها،حضرت سعید بن المسیب رحمه الله،حضرت عطاء رحمه الله او دجمهورو هم دامذهب دې.امام محمد رحمه الله او امام مالك رحمه الله نه هم دا مذهب منقول دې.یو حدیث کښې دی چه د حضرت امام مالك رحمه الله نه دوه کاله او دوه میاشتې هم مروی دی.اویو روایت کښې دوه کاله او درې میاشتې هم مروی دی.حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله دوه نیم کاله بنائی.زفر اوزاعی رحمه الله نه هم دا روایت دې.امام اوزاعی رحمه الله نه یو روایت کښې دی که دیو بچی دو کالو نه مخکې موده کښې پئ بند کړې شی،بیا دې نه پس دیو بنځې پئ اوځکی نو بیا هم حرمت نه ثابتیږی.ځکه چه اوس دا دخوراك قائمقام شو.امام اوزاعی رحمه الله نه دا روایت دا دې چه حضرت

---

[1]) ترمذی کتاب الرضاع باب ماجاء ان الرضاعة لا تحرم الا : ۱۱۵۲،وهو صحیح)-

[2]) صحیح بخا ری کتاب الجنائز باب ما قیل فی اولاد المسلمین : ۱۳۸۲،صحیح مسلم: ۲۳۱٦)-

[3]) دارقطنی : ۱۷٤/٤،موطا امام مالک کتاب الرضاع باب رضاعة الصغیر ح/٤،بیهقی : ۷ /٤۷۲،دارروایت ابن عباس رضی الله عنه پوري موقوفا صحیح دې)-

[4]) الطبرانی فی الکبیر: ۱٤/٤،ح/۳۵۰۲،وسنده حسن)-

Scanned with CamSc

عمرفاروق ﷺ او حضرت علی ﷺ نه مروی دی چه د پنځو بندولو نه پس رضاعت نشته دی.ددی قول دوه مطلبه کیدیشی یعنی یا خو دا چه د دوو کالو نه پس یا دا چه کله هم دی نه مخکې پیځ بندکړې شی.دی نه پس څنګه چه دامام مالك رحمه الله فرمان دی.والله اعلم.

د رضاعت د مودې بیان

مسلک حنفی:-دامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز باندې د رضاعت موده دوه نیم کاله دی او د امام ابویوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نیز دوه کاله ده لکه څنګه چه د جمهورو قول دی او فتوی هم د صاحبینو په قول ده یعنی د رضاعت موده دوه کاله ده که د دوو کالو نه پس ئې چا ته تې ورکړو په هغې باندې د رضاعت احکام نه مرتب کیږی (احکام القران للعثمانی (۵۵۵/۱۱۲)-

د دوو کالو نه پس د رضاعت ثبوت:- خو صحیح بخاری او صحیح مسلم کښې عائشه رضی الله عنها نه مروی دی چه هغه ددی (دوو کالو) نه پس بلکه د لوئې سړی رضاعت په حرمت کښې موثر ګڼړی([1]) عطاء رحمه الله او لیث رحمه الله نه هم داقول منقول دی.حضرت عائشه رضی الله عنها چه به د کوم سړی یو ځائې ته تګ راتګ ضروری ګڼړل نوپه داسې صورت کښې به ئې حکم ورکولو چه بنځې دې هغه ته خپل پیځ ورکړی.او ددې حدیث نه به ئې دلیل اخستلو چه حضرت سالم ﷺ چه دحضرت حذیفه مولی وو،حضرت نبی ﷺ ورته حکم کړې وو چه هغه دې دده د بنځې پیځ اوځکی.حالانکه د ډیرې مودې وو.او په دې وجه هغه بیا تلو راتلو.لیکن دحضرت نبی کریم ﷺ نورې بیبیانې ددې نه انکار کولو او وئیل به ئې چه دا واقعه د هغه دپاره وه،دهر سړی دپاره دا حکم نه وو.([2]) یعنی د جمهورو مذهب دې یعنی دځلورو وارو امامانو،او فقهاء،دټولو صحابه کرامو او د ټولو امهات المومنین سوا د حضرت عائشه رضی الله عنها نه دا دې چه د دوو کالو نه پس رضاعت نه ثابتیږی او ددوی دلیل هغه حدیث دې چه کوم بخاری او مسلم کښې دې چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ستا رور څوك دی،رضاعت په هغه وخت کښې دې چه کله پیځ اولره ختموی([3]) باقی د رضاعت پوره پوره مسئله د ﴿وَأُمَّهَٰتُكُمُ ٱلَّٰتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ﴾ تفسیرکښې به انشاء الله راشی.والله اعلم.

قوله تعالی:- وَعَلَى ٱلۡمَوۡلُودِ لَهُۥ رِزۡقُهُنَّ وَكِسۡوَتُهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ لَا تُكَلَّفُ نَفۡسٌ إِلَّا وُسۡعَهَا

د رضاعت د اجرت بیان:-بیا فرمان دې چه د بچو د مور نان نفقه دبچو په پلار باندې ده.د خپلو خپلو بناروناوډدستور مطابق دې ادا کړی او نه دې زیاتې کوی او نه دې کمې کوی بلکه د وس مطابق دې درمیانه خرچ ورکړی.لکه فرمائی چه﴿ لِيُنفِقۡ ذُو سَعَةٖ﴾یعنی فراخیځ والا دې دخپلې فراخیځ مطابق او غریب دې دخپلې غریبیځ مطابق ورکړی،الله ﷻ دطاقت نه زیات تکلیف نه ورکوی.نزدې ده چه الله ﷻ به د سختیځ نه پس آسانی راولی.حضرت ضحاك رحمه الله فرمائی چه یو سړی خپلې بنځې ته طلاق ورکړی او دې سره بچې هم وی،نو ددې بچې دپیټو ورکولو پووې خرچ په دې سړی باندې واجب دې.

قوله تعالی:- لَا تُضَآرَّ وَٰلِدَةُۢ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوۡلُودٞ لَّهُۥ بِوَلَدِهِۦ

بنځې او خاوند ته د بنه سلوك حکم:-بیاارشاد فرمائی چه بنځه دې بچی ته دپټیو ورکولونه انکار نه کوی اودې سره دې دبچی پلارته تکلیف نه ورکوی بلکه بچی ته دې پیځ ورکوی.ځکه چه همداددې د ژوندتیریدوذریعه ده.هرکله چه بچې پټیو نه بې نیازه شی نوبیشکه بچې دې ورکړی.خوبیادې هم د نقصان رسولواراد نه کوی.داشان خاوند دې ددې نه بچې نه بیلوی چه دې سره هغې غریبې ته تکلیف

---

[1]) صحیح مسلم کتاب الرضاع باب رضاعة الکبیر: ۱۴۵۳)-

[2]) صحیح مسلم کتاب الرضاع باب رضاعة الکبیر: ۱۴۵۳،ابو داود: ۲۰۶۱،نسائی: ۳۳۲۱،ابن ماجة: ۱۹۴۳)-

[3]) صحیح بخاری کتاب النکاح باب من قال لا رضاع بعد حولین: ۵۱۰۲،صحیح مسلم: ۱۴۵۵،ابوداود: ۲۰۵۸،نسائی: ۳۳۱۴)-

Scanned with CamScanner

اورسی.

قوله تعالی:- وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذَٰلِكَ

په وارث باندې د رضاعت خوچه:- وارث ته هم داپکاردی چه دبچی مورته خرچ ورکولو کښې دا نه تنګوی.ددې حقوق خیال دې ساتی.او دې ښځې ته دې ضرر نه ورو کوی.حنفیه او حنابله کښې چه کوم خلق ددې قائل دی چه رشته دارانو کښې دبعضو نان نفقه بعضو باندې واجب ده.هغوئ هم ددې آیت نه استدلال کړې دې،حضرت عمربن خطاب ﷺ او جهمور سلف صالحین نه هم دا مروی دی.حضرت سمره والا مرفوع حدیث نه هم دا واضح دی په هغې کښې دی چه کوم سړې دخپل یو رشته دار محرم شی نو هغه به آزاد وې.(۱)

دا هم یاد ساتل پکار دی چه دوؤ کالو نه پس پیٔ څکول عام طور بچی ته نقصان رسوی.یا جسمانی یا دماغی.حضرت علقمه ﷺ یوه ښځه اولیده چه د دوؤ کالونه ئې زیات بچی ته پیٔ ورکول نو دوی هغه منع کړه.

قوله تعالی:- فَإِنْ أَرَادَا فِصَالًا عَنْ تَرَاضٍ مِنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا

په رضامندیٔ سره د تی پرې کولوجواز:- بیافرمانی چه دارضامندیٔ او مشورې سره دوه کالو کښې دننه دننه چه کله هم پیٔ بندول غواړی نو په هغه باندې هیڅ حرج نشته دې.خو دیو خوښې نه بغیر به د بل رضامندی ناکافی وی.دا دبچی دنګرانیٔ ترکیب دې.اوګورئی چه الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې څومره زیات مهربان او رحیم دې چه د ورځې بچی مور پلار ئې د هغه کارونو نه منع کړل چه په هغې کښې د بچی د بربادیٔ ویره وه اوهغه حکم ئې ورکړو چه په هغې یو طرفته دبچی حفاظت دې او بل طرفته دمور پلارهم اصلاح ده.

قوله تعالی:- وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلَادَكُمْ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوفِ

د دائنرې نیولو اجازت:-سوره طلاق کښې فرمائی چه ﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ﴾ که ښځې بچو ته پیٔ ورکوی نوتاسودهغوئ اجرت ادا کوئی.او خپلوکښې ښه معامله ساتیٔ دا بله خبره ده چه دتنګیٔ په وخت کښې ورته دبل چا پیٔ ورکړی.نو دلته هم فرمانی که مور او پلار متفق وی اودځه عذر په وجه دبل چا پیٔ ورکول شروع کړی.او مخکې دې پلار ددې ماشوم مور ته اجرت ورکړی.نو بیا هم په دواړوباندې څه ګناه نشته دې.او اوس دې د بلې نوکرې پیٔ ورکړی.

قوله تعالی:- وَاتَّقُوا اللَّهَ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ

د الله نه د ویرې حکم:-اې خلقو ! الله ﷻ نه هرامرکښې اوویریږئی اوپوهه شیٔ چه ستاسوټولو افعالو اواقوالو نه هغه ښه واقف دې.

وَالَّذِينَ	يُتَوَفَّوْنَ	مِنكُمْ	وَيَذَرُونَ
اوهغه کسان	چې مړه شی	ستاسو نه	اوپریږدی هغوئ
اوچې په تاسو کښې څوک مړ شی	اوهغوی بیبیانې		
أَزْوَاجًا	يَتَرَبَّصْنَ	بِأَنفُسِهِنَّ	أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا ۖ فَإِذَا
ښځې	هغوئ دې په انتظارکښې اوساتی	خانونه خپل	څلور میاشتې اولس ورځې بیا چې کله
پریږدی	نوهغوئ دې څلور میاشتې او لس ورځې انتظار کوی(مثلا بله نکاح دې نه کوی)		بیا هرکله چې

[۱] ابو د اود کتاب العتق باب فیمن ملک ذارحم محرم : ۳۹٤۹،وسنده حسن : ترمذی: ۱۳٦٥،ابن ماجة: ۲٥۲٤)-

بَلَغْنَ	اَجَلَهُنَّ	فَلَا جُنَاحَ	عَلَيْكُمْ	فِيْمَا	فَعَلْنَ
اورسیږی هغوئ	نیټې خپلې ته	نو نشته ګناه	په تاسو باند	په هغه کار کښې	چې اوکړی هغوئ
نیټه (خلورمیاشتې) پوره کړی خپله	نوبه تاسوهیڅ ذمه داری نشته	په هغه کار کښې	چې اوکړی هغوئ		
فِيْٓ اَنْفُسِهِنَّ	بِالْمَعْرُوْفِ ؕ	وَاللّٰهُ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	
په باره دخانونو خپلو کښې	په معلومې طریقې سره	اوالله	په هغه کارونو باند	چې کوئ ئې تاسو	
په مناسب شرعی طریقه د خپلوخانونو پحقله	.....				
خَبِيْرٌ ۝٢٣٤					
خبرداری					
خبر دی					

قوله تعالی:- وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا يَّتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا[1]

دخاوند دوفات نه پس د عدت موده:-په دې آیت کښې حکم کیږی چه ښځې دې دخپلو خاوندانو د وفات نه پس څلورمیاشتې لس ورځې تیرې کړی.که دوی سره مجامعت کړی وی اوکه نه.په دې خبره باندې اجماع ده.دلیل ددې خو یو ددې آیت عموم او دویم هغه حدیث چه کوم په مسنداحمدکښې اوسنن کښې دی.لکه چه امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه سوال اوشوچه یوسړې یو ښځې سره نکاح اوکړه اوهغې سره ئې مجامعت نه وی کړې اونه مهر مقرر شوې وو چه دده انتقال اوشو.اوفرمائې چه دده باره کښې څه فتوی ده.هرکله چه هغه څوځل لاړو راغلو نو دوی اوفرمائیل چه خپلې رائې سره فتوې ورکوم که صحیح وی نو الله ﷻ د طرفنه نه ئې اوګڼره اوکه غلطه وی نو زما خطا به وی او دا زما اود شیطان د طرفنه اوګڼره.الله او رسول ﷺ د دې نه بری دی.زما فتوی دا ده چه دې ښځې ته به پوره مهر ملاویږی چه څه ددې دخاوند دستور وی اودې کښې به کمې زیاتې نه وی.اودا ښځه به پورا عدت تیروی او دې ته به وراثت هم ملاویږی.دې آوریدو سره حضرت معقل بن یسار اشجعی رضی الله عنه اودریدو او وې فرمائیل چه د بروع بنت واشق رضی الله عنها باره کښې دالله ﷻ رسول هم دا فیصله ورکړې وه.حضرت ابن مسعود رضی الله عنه چه دا واوریدل نو ډیر خوشحاله شو.بعضو روایتونوکښې دې چه د اشجع دا واقعه ډیرو خلقو روایت کړې دې.([1])

د غیر مدخول بها متوفی عنها زوجها عدت

مسلک حنفی:- مسئله داده چه متوفی عنها زوجها عدت څلور میاشتې اولس ورځې دی.برابرده که دا ښځه د ذوات الحیض ځنی وی اوکه دغیر ذوات الحیض،که مسلمانه وی اوکه کتابیه وی.که بالغه وی اوکه نابالغه وی.که مدخول بها وی اوکه غیر مدخول بها وی.که آئیسه وی اوکه غیر آئیسه وی که ددې خاوند آزاد وی اوکه غیر آزاد وی.(تسهیل الهدایه (۵۰۰\۳)-

د حملدار عدت وضع د حمل ده:- خوکه یو ښځه د خپل خاوند د وفات په وخت کښې حمل کښې وی نو دهغې دپاره داحکم نه دی.دهغې عدت وضع د حمل ده.اګرچه د انتقال نه یوساعت پس اوشی.قران پاک کښې دی چه﴿ وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ ﴾ دحمل والو (ښځو) عدت وضع د حمل ده خو حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه وضع حمل او څلور میاشتو لسو ورځوکښې چه کوم روستو عدت دې

[1] ابو داود کتاب النکاح باب فیمن تزوج ولم یسم لها صداقا حتی مات:۲۱۱٤،وهو صحیح،ترمذی:۱۱٤٥،نسائی:۳۳۵٦،ابن ماجة: ۸۱۹۱)

Scanned with CamSc

هغه د حاملې عدت دي.دا قول ډير ښه دي او د دواړو ايتونو په مينځ کښې د تطبيق دپاره ډير ښه دي.

د عهد نبوی واقعه:- ليکن ددې خلاف بخاری او مسلم کښې يو صفا اوصريح حديث موجود دي چه په هغې کښې دی چه د حضرت سبيعه اسلميه رضی الله عنها خاوند مړ شو او په هغه کښې دا حملداره وه.او څو شپې تيرې شوې وې چه بچې پيدا شو.هرکله چه نې غسل اوکړو او جامې نې واغوستلې نو حضرت ابوالسنان ابن بعکك چه دا اوکتله نو وې فرمائيل آيا ته نکاح کول غواړې،په الله قسم ترڅو چه څلور مياشتې لس ورځې نه وی تيرې شوی نو ته نکاح نه شوې کولې.حضرت سبيعه رضی الله عنها چه دا واوريدل نو خاموشه شوه.او مابنام د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه او ددې مسئلې تپوس نې ترې اوکړو.حضرت نبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل لکه ستا بچې پيدا شو نو ته هم په هغه وخت کښې د عدت نه اووتلې.اوکه ته غواړې نو بيشکه نکاح کولې شې.(۱)دا هم مروی دی چه حضرت عبدالله ته کله ددې حديث علم اوشو نو دوی هم دخپل قول نه رجوع اوکړه.ددې تائيد ددې نه هم کيږی چه دحضرت عبدالله شاګردانو او ملګرو به هم ددې حديث مطابق فتوې ورکولې.

د ام ولد متوفی عنها عدت: د وينځې عدت دومره نه دې بلکه ددې نه نيم دي.يعنی دوه مياشتې او پنځه ورځې.د جمهورو مذهب هم دادې چه ځنګه د وينځې حد زنا د آزادې ښځې نسبت سره نيم دې داشان عدت هم دي.ابن سيرين رحمه الله اوبعضې نور علماء ظاهريه د وينځې او آزادې ښځې په عدت کښې دبرابرئ قائل دی.دهغوئ دليل خود آيت عموم دې او بل داچه عدت يو جبلی امر دي.چه په دې کښې تولې ښځې برابرې دی.سعيد بن مسيب رحمه الله،ابوالعاليه رحمه الله،وغيره فرمائی،دې عدت کښې حکمت دادې که ښځې ته حمل وی نو دې موده کښې به بالکل ظاهر شی.

دعدت په موده کښې حکمت:- د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه صحيحين والا مرفوع حديث کښې دی چه د انسان دپيدائش دا حال دې چه څلويښت ورځې خو دمور په رحم کښې نطفه شکل کښې وی،بيا د وينې يو توټه غوندې شی تر څلويښتو ورځو پورې،بيا تر څلويښتو ورځو پورې د غوښې يو ټکړه وی .بيا الله ﷻ فرښته راوليږی او ده کښې روح واچوی.(۲)نو دا شپږ شلې ورځې شوې يعنی څلور مياشتې .لس ورځې احتياط نې نور اوساتلو ځکه چه بعضې مياشتې د يوکم ديرشو ورځو وی.او هرکله چه په کښې روح واچولې شوناوس دبچی حرکت محسوسيږی.اوحمل بالکل ظاهرشی.ددې وجې دومره عدت مقرر شو.والله اعلم.سعيدبن مسيب رحمه الله فرمائی چه لس ورځې ددې دپاره دی چه روح هم په دې ورځوکښې اچولې شی.ربيع بن انس رحمه الله هم دا فرمائی.

د متوفی عنها زوجها وينځې په عدت کښې اقوال:- ① حضرت امام احمد رحمه الله نه يو روايت کښې دا هم مروی دی چه دکومې وينځې بچې پيدا شی نود هغې عدت هم د آزادې ښځې برابر دي.ځکه چه دا د دوی(فراش يعنی) دکور ښځې شوې او ددې وجې هم چه مسنداحمد کښې حديث دې چه حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه اوفرمائيل چه مونږ باندې سنت نبوی ﷺ مه ګډوو ډ کوئ د اولاد والا وينځې عدت چه کله ددې سردار مړ شی څلورمياشتې اولس ورځې دي.(۳) داحديث يو بل طريق سره هم ابوداود کښې مروی دی.(۴)امام احمد رحمه الله دې حديث ته منکر وائی او فرمائی چه ددې يو راوی قبيصه د خپل استاد نه دا روايت نه وو آوريدلی.حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله،حضرت مجاهد رحمه الله،حضرت سعيد بن جبير رحمه الله،حضرت حسن رحمه الله،حضرت ابن سيرين رحمه الله،حضرت ابوعياض رحمه الله،حضرت زهری

---

(۱) صحيح بخاری كتاب المغازی باب رقم: ۱۰: ح/۳۹۹۱،صحيح مسلم: ۱٤۸٤)-

(۲) صحيح بخاری كتاب بدء الخلق باب ذكر الملائكة صلوات الله عليهم : ۳۲۰۸،صحيح مسلم: ۲٦٤۳،نسائی: ۳٥٤۹،ابن ماجة: ۲۰۲۸)-

(۳) احمد: ٤/۲۰۳،ابوداود: ۲۳۰۸،وابن ماجة: ۲۰۷۳،)-

(٤) ابوداود كتاب الطلاق باب فی عدة ام الولد : ۲۳۰۸،ابن ماجة: ۲۰۷۳،)-

Scanned with CamSc

رحمۃ اللہ علیہ،او حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ نه هم دامنقول دی.یزید بن عبدالملك مروان چه امیرالمومنین وو هم دا حکم کړې وو.حضرت اوزاعی رحمۃ اللہ علیہ،حضرت اسحاق بن راهویه رحمۃ اللہ علیہ،حضرت امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ نه همدا روایت منقول دي.② خو طاؤس،رحمۃ اللہ علیہ،حضرت قتاده رحمۃ اللہ علیہ ددې عدت نیم بنائی.یعنې دوه میاشتې او پنځه ورځې.③ حضرت امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ اوددوی ملګری حسن بن صالح بن حیی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه درې حیضه عدت دې تیر کړی.دحضرت علی رضی اللہ عنہ،حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ،حضرت عطاء رحمۃ اللہ علیہ،حضرت ابراهیم نخعی رحمۃ اللہ علیہ قول همدا دي.④ د حضرت امام مالك رحمۃ اللہ علیہ،حضرت امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ او حضرت امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ مشهور روایت کښې دی چه ددې عدت یو حیض دي.حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ،شعبی رحمۃ اللہ علیہ،مکحول رحمۃ اللہ علیہ،حضرت لیث رحمۃ اللہ علیہ،حضرت ابوعبیده رحمۃ اللہ علیہ،ابوثور رحمۃ اللہ علیہ او دجمهورو مذهب هم دا دي.⑤حضرت لیث رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه یو میاشت او درې ورځې ماته زیاتې خوښې دی،واللہ اعلم.

په ښځه د خاوند د غمرازی اهمیت:-دې نه پس چه کوم ارشاد فرمائی دهغې نه معلومیږی چه دا غمرازی واجب ده.بخاری او مسلم کښې حدیث دي چه کومه ښځه په الله ﷻ باندې او د قیامت په ورځ باندې ایمان لری نو هغې ته پکار دی چه د دریو ورځونه زیات دې په یو مړی باندې غم نه کوی.ځکه چه دا حرام دي.خوپه خاوند باندې څلورمیاشتې لس ورځې غمرازی ده.(۱)

یوې ښځې حضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه زما دلور خاوند مړ شوې دي اوددې سترګه کښې مرض دي،ځه دهغې سترګه کښې رانجه اولګوم.نو حضرت نبی کریم ﷺ جواب ورکړو چه نه.هغې دوه درې ځل دا سوال اوکړو او حضرت نبی کریم ﷺ هم دا جواب ورکړو.آخر ئې اوفرمائیل چه دا خو څلور میاشتې اولس ورځوکښې (یعنی عدت کښې) ده،جاهلیت کښې به تاسو کال کال عدت تیرولو.(۲)

حضرت زینب بنت ام سلمه رضی اللہ عنہا فرمائی چه مخکې به کله دیو ښځې خاوند مړ شو نو هغه به ئې یو جونګړه کښې واچوله.هغې به ډیرې خرابې کپړې اغوستې.خوشبو وغیره به ئې نه لګوله.او تول کال به داشان خرابه او خچنه وه او د پوره کال نه پس به راووتله اود اوښ خاشنړه به ئې واخستل او هغه به ئې اوویشتل،اویو څناور لکه خر یا چیلئ یا یو مارغه جسم سره به ئې خپل بدن مخلو،او اکثر به مړه هم شوه.(۳)دادجاهلیت د زمانې رسومات وو.دا آیت ددې نه روستو چې کوم آیت راځی د هغې دپاره ناسخ دي،چه په هغې کښې دی چه داسې ښځې دې تول کال ایسارې وی.حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه وغیره همدا فرمائی خو په دې کښې نظر دي او ددې تفصیل به انشاء الله نزدې راشی.

د عمزارئ د حکم عمومیت:- مطلب دا دي چه دې زمانې کښې کوندې ښځې لره زیب زینت اوخوشبو لګول او پرق پروق والا جامې اچول او کالی وغیره استعمالول منع دی،او دا غمرازی واجب ده.یو قول کښې دا هم دی چه دطلاق رجعی عدت کښې دا واجب نه دی.او کله چه طلاق بائن اوشی نود وجوب اوعدم وجوب دواړه اقوال دی.د فوت شوې خاوند په بیبیانو باندې خو دا توله غمرازی واجب ده.که هغه بالغه وی اوکه هغه ښځه وی چه دحیض وغیره نه پاتې شوې وی،او که آزاده ښځه وی،او که وینځه وی،که مسلمانه ښځه وی اوکه کافره وی.ځکه چه دا آیت عام دي.

په کافره او نابالغه ښځې غمرازی نشته:- خو ثوری رحمۃ اللہ علیہ،او حضرت امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ دکافرې ښځې د غمرازئ قائل نه دي.اشهب رحمۃ اللہ علیہ او ابن نافع رحمۃ اللہ علیہ نه هم دا قول منقول دي.ددوی دلیل هغه حدیث دي چه په هغې کښې دی چه کومه ښځه په الله ﷻ او دقیامت په ورځ باندې ایمان لری (الخ).نومعلوم شو

---

(۱)؟؟صحیح بخاری کتاب الطلاق باب تحدالمتوفی عنها اربعة اشهر وعشرا:۵۳۳۶،صحیح مسلم:۱۴۸۶،ابوداود:۲۲۹۹،ترمذی:۱۱۹۵،نسائی:۳۵۶۲.

(۲)صحیح بخاری کتاب الطلاق باب تحدالمتوفی عنها اربعة اشهر وعشرا:۵۳۳۶،صحیح مسلم:۱۴۸۶،ابوداود:۲۲۹۹،ترمذی:۱۱۹۵،نسائی:۳۵۶۲.

(۳)صحیح بخاری کتاب الطلاق باب تحدالمتوفی عنها اربعة اشهر وعشرا:۵۳۳۶،صحیح مسلم:۱۴۸۶،ابوداود:۲۲۹۹،ترمذی:۱۱۹۵،نسائی:۳۵۶۳.

Scanned with CamScanner

چه دا حکم تعبدی دی.حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او ثوری رحمه الله کم عمره نابالغه ښځې دپاره هم دا فرمائی.ځکه چه هغه غیر مکلفه ده.حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله اوددوی ملګری په دې کښې مسلمانه ښځه شاملوی.لیکن ددې مسائلو دتصفیه کولو دا موقع نه ده.والله الموافق بالصواب﴾.

په کافره اونابالغې متوفی عنها زوجها د غمرازئ عدم وجوب

مسلک حنفی:- د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز په کافره او نابالغه باندې د خاوند د وفات عدت نشته (احکام القران للعثمانی رحمه الله (۵۸۱/۱۱۲)-

قوله تعالی:- فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ ۗ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ

دعدت تیروید نه پس ازادی:- بیا فرمائی چه کله ددوی عدت تیرشی نو ددوی په اولیاء باندې هیڅ ګناه نشته دې چه هغه ښځې ډول سنګار کوی یا نکاح کوی،دا ټول دوی دپاره حلال اوطیب دی.حسن رحمه الله ،زهری رحمه الله او سدی رحمه الله نه هم دا شان مروی دی.

وَلَا جُنَاحَ	عَلَيْكُمْ	فِيمَا	عَرَّضْتُمْ	بِهِ
او نشته	ګناه	په تاسو باند	په هغه کار کښې	چې اشاره کوئ تاسو	په هغې سره
او هیڅ حرج نشته که تاسو(په پټه دننه) خبره په اشاره کنایه کښې څرګنده کړئ				
مِنْ خِطْبَةِ	النِّسَاءِ	أَوْ أَكْنَنْتُمْ	فِي أَنْفُسِكُمْ	عَلِمَ اللَّهُ	أَنَّكُمْ
یعنی دغوښتلو اراده	ددغه ښځو	یا پټ ساتئ تاسو هغه	په زړونو خپلو کښې	معلوم دی الله ته	چې تاسو به خامخا
هغوئ ته دکویژدنې اویادا خواهش په خپلوزړونو کښې پټ اوساتئ الله ته معلوم دی چې تاسو به					
سَتَذْكُرُونَهُنَّ	وَلَٰكِن	لَّا تُوَاعِدُوهُنَّ	سِرًّا	إِلَّا
یادوئ دغه کوندې ښځې ته	لیکن	چې اونۀ کړئ وعدې دهغوئ سره	پټې پټې	ماسوا ددې نه
ددغه (کوندو)ښځوذکر کوئی خو پټې وعدې اولوظونه ورسره مه کوئ مګر				
أَن تَقُولُوا	قَوْلًا	مَّعْرُوفًا ۚ	وَلَا تَعْزِمُوا	عُقْدَةَ النِّكَاحِ	حَتَّىٰ
چې خبرې اوکړئ ورسره	اخبرې	د رواج طریقې	اومۀ کوئ اراده	دتړولو دنکاح	تر دې پورې
که خبره ورسره کوئ نوپه سمه طریقې سره کولئ شئ اوترهغې دنکاح کولو قصد مه کوئی					
يَبْلُغَ	الْكِتَابُ	أَجَلَهُ ۚ	وَاعْلَمُوا	أَنَّ اللَّهَ	يَعْلَمُ	مَا	فِي أَنْفُسِكُمْ
چې اورسیږی	مقرروخت	انیتې خپلې ته	او پوهه شئ	چې الله	پوهیږی	په هغه څه	چې په زړونو ستاسو کښې دی
چې نیته (عدت) پوره نشی اوپوهه شئ چې الله پاک ستاسو د زړونو په رازونو ښه خبر دی							
فَاحْذَرُوهُ ۚ	وَاعْلَمُوا	أَنَّ اللَّهَ	غَفُورٌ	حَلِيمٌ ﴿٢٣٥﴾
نو اویریږئ دهغه نه	او پوهه شئ	چې الله	معاف کونکې	ډیر صبرناک دی
اودهغه نه ویره کوئی		وخبرشئ چې هغه ښښونکې صبرناک دی		

قوله تعالی:- وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُمْ بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاءِ

دنکاح دپیغام طریقه: مطلب دادې چه صراحت نه بغیر دنکاح دغوښتنې داظهار ښه طریقې سره عدت کښې دننه کولوکښې څه ګناه نشته دې.لکه داسې وئیل چه نکاح کول غواړم[1] څه داسې ښځه خوښوم.څه غواړم چه الله ﷻ زما جوړه هم جوړه کړی.انشاء الله څه به ستا نه بغیر بلې ښځې سره دنکاح کولو اراده نه لرم.څه یو دینداري ښځې سره نکاح کول غواړم.داشان هغه ښځې لره چه هغې ته طلاق بائن ورکړې شوې وې عدت کښې دننه داسې الفاظ وئیل جائز دی.لکه څنګه چه حضرت نبی کریم ﷺ فاطمه بنت قیس رضی الله عنها ته فرمائیلی وو.(حالانکه ددې خاوند ابو عمرو بن حفص دې ته آخری طلاق ورکړې وو).کله چه ستا عدت ختم شي نو ماته خبر اوکړه.دعدت موده حضرت عبدالله ابن ام مکتوم ﷺ سره تیره کړه.هر کله چه دفاطمه رضی الله عنها عدت ختم شو نو دعدت ختمیدو نه پس نې حضرت نبی کریم ﷺ نه اطلاع ورکړه.نودې دحضرت نبی ﷺ نه د اسامه بن زید ﷺ سره نکاح غوښتلی وه هغه سره نې نکاح اوکړه.(۲) خو درجعی طلاق په موده کښې هیڅا ته دا حق نه دې حاصل سوا ددې دخاوند نه چه هغه کنایه یا اشاره کښې رغبت ظاهر کړی.والله اعلم.

دافرمان چه تاسو خپلو نفسونوکښې پټوئی یعنی دکویژدنې خواهش،او بل ځائې کښې دی چه ستا رب ته ددوی د سینو او ښکاره کارونو پته ده.او بل ځائې کښې دی چه څه ستاسو پټو اوښکاره کارونو نه خبر یم.نو الله ﷻ ته ښه پته ده تاسوبه خپلو زړونوکښې ضرور ذکر کوئی.نودې وجې الله ﷻ تنګئ لرې کړه خو دې ښځو سره پټې وعدې مه کوئی یعنی زناکارئ نه خان اوساتئ.دوی ته دا مه وائې چه څه په تا عاشق یم،اوته هم وعده اوکړه چه ځمانه سوابه بل چاسره نکاح نه کوې وغیره.(۳)عدت کښې داسې الفاظ وئیل حلال نه دی.نه دا جائز دی چه پټ په پټه عدت کښې اوکړی او عدت تیریدو نه پس ددې نکاح اظهار اوکړی.نو داټول اقوال ددې آیت په عموم کښې راتلې شی.نو ددې وجې فرمان اوشو مګر دا چه تاسو دوی ته ښه خبره اوکړئی لکه ولی ته وئیل چه تیزی نه کوی،ماته دعدت د تیریدو خبر راکړه.وغیره.ترکومې چه عدت ختم نشی تر هغه پورې نکاح مه کوئی.(۴)

دعلماء کرام اجماع ده چه عدت کښې دننه نکاح کول صحیح نه دی.که چا اوکړه اودخول هم اوشو نو بیابه هم په دوی کښې بیلتون کولې شی.آیا دا ښځه به ده باندې همیشه دپاره حرامه شی یا بیا دعدت تیریدو نه پس هغې سره نکاح کولې شی.په دې کښې اختلاف دې.جمهور وائی چه کولې شی لیکن حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی چه هغه ده باندې همیشه دپاره حرامه شوه.ددوی دلیل دادې چه حضرت عمرفاروق ﷺ فرمائی چه د کومې ښځې نکاح عدت کښې دننه دننه اوشی،که ددې خاوند دې سره نه وې ملاؤ شوې نو دواړه به جدا کولې شی.او کله چه ددې د ړومبی خاوند عدت تیر شی نو دا سړې د نورو سړوپشان دې ته دنکاح پیغام ورکولې شی.

اوکه دواړو کښې ملاپ هم شویدې نو بیا به هم جدائی راوستلې شی او دړومبی خاوند عدت به تیرکړی او بیا به ددویم خاوند عدت ټیروی.اوبیا به دې سړی سره نکاح هرګز نه کوی.(۵)ددې فیصلې مآخذنه دامعلومیږی چه هرکله دې سړی تیزی اوکړه او دالله ﷻ دمقرر شوؤ حدونو لحاظ نې اونه ساتلو نو ده ته ددې خلاف ورزنی سزا ورکړې شوه چه هغه ښځه ده باندې همیشه دپاره حرامه کړې شوه .لکه قاتل چه دخپل مقتول وارثانو نه محرومولې شی.حضرت امام شافعی رحمه الله د حضرت امام

---

[1] صحیح بخاری کتاب النکاح باب قول الله تعالی (ولا جناح علیکم فیما تراضتم....) ۵۱۲۴)-

[2] صحیح مسلم کتاب الطلاق بآب المطلقة البآئن لا نفقة لها: ۱۴۸۰)-

[3] الطبری : ۱۰۷/۵)-

[4] ابن ابی حاتم: ۸۳۱/۲)-

[5] الموطآ: ۵۳۶/۲،ح/۱۱۶۲،وهو صحیح)-

Scanned with CamScanner

مالك رحمه الله نه دا اثر روايت كړي دي.
امام بيهقي رحمه الله فرمائي چه رومبي قول خو د امام صاحب رحمه الله هم دا وو ليكن ددوى جديد قول دادي چه ده ته هم نكاح كول حلال دي.ځكه چه د حضرت علي رضي الله عنه هم دا فتوى ده.حضرت عمر فاروق رضي الله عنه والا دا اثر منقطع دي بلكه حضرت مسروق رحمه الله فرمائي چه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ددي نه رجوع كړي ده.او فرمائيلي ئي دي چه مهر دي ورکړي او د عدت نه پس كه دا دواړه غواړي نو نكاح كولې شي.

قوله تعالى:- اَوْ اَكْنَنْتُمْ فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ عَلِمَ اللّٰهُ اَنَّكُمْ سَتَذْكُرُوْنَهُنَّ

الله د زړونو په پټو رازونو خبر دي:- بيا فرمائي چه پوهه شئ چه الله رضي الله عنه ستاسو د زړونو په پټو خبرو باندې خبر دي.دهغه پاك ذات لحاظ او ويره كوئى،خپلو زړونوكښې د ښځو متعلق دالله رضي الله عنه فرمان خلاف خيال هم په زړه كښې مه راولئ.هميشه زړونه صفا ساتئى.خراب خيالات نه دا پاك ساتئى.د ويرې او خوف حكم سره ئې دخپل رحمت د طمع او لالچ هم ورکړې دي او فرمائى چه رب عالمين رضي الله عنه د خطاګانو معاف كولووالا او حلم او كرم والا دي.

لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ	اِنْ طَلَّقْتُمُ	النِّسَآءَ	مَا	لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ
نشته ګناه په تاسو باند	كه تاسو طلاق ورکړئ	ښځو له	تر څو	چې تاسو ګوتې نۀ وى وروړى هغوئ ته
په دې كښې په تاسو هيڅ ګناه ګناه نشته	چې هغه ښځو ته	طلاق ورکړئ	چې نه	مو لاس وراوړې وى
اَوْ تَفْرِضُوْا	لَهُنَّ	فَرِيْضَةً		وَّمَتِّعُوْهُنَّ
او كه نۀ وى مقرر كړې تاسو	دهغوئ دپاره	مهر		اودخرچ څه سامان ورکړئ هغوئ له
او نه مود هغوى دپاره مهرمقرر كړې وى		.....(پداسې صورت كښې) څه نه څه مال متاع ورته وكړئ		
عَلَى الْمُوْسِعِ	قَدَرُهٗ		وَعَلَى الْمُقْتِرِ	قَدَرُهٗ
واجب ده ورکړه په مالدارباند	په اندازه دمالدارئ دهغۀ		اوپه غريب باندپه اندازه دغريبئ دهغۀ	
په مالدار باندې د هغه د حيثيت مطابق ورکړه ده		.....اوپه غريب باندې د هغه حيثيت مطابق		
مَتَاعًا	بِالْمَعْرُوْفِ		حَقًّا	عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ
څه سامان	مطابق د معلومې طريقې		اداحق دي	په نيكانو خلقو باند
په مناسب طريقې سره مال متاع ورکړئ		اوداپه نيكانو باندې يومقرر حق دي		

قوله تعالى:- لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ مَا لَمْ تَمَسُّوْهُنَّ اَوْ تَفْرِضُوْا لَهُنَّ فَرِيْضَةً ۚ

د دخول نه وړاندې د طلاق واقع كيدل: دعقد نكاح نه پس ددخول نه مخكې هم طلاق ورکول مباح كيږى. مفسرين فرمائى چه دلته مراد د ﴿مس﴾ نه نكاح دي.(۱) ددخول نه مخكښې طلاق ورکول چه لا مهر نه وى مقرر شوې نوطلاق ورکول هم جائز دى اګر چه په دې كښې دې ښځې ته ډير تكليف رسى.ددې وجې حكم كيږى چه د خپل وس مطابق سړى ته پكار دى چه ښځې سره سړې ښه سلوك اوكړى.

قوله تعالى:- وَمَتِّعُوْهُنَّ ۚ عَلَى الْمُوْسِعِ قَدَرُهٗ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهٗ ۚ مَتَاعًۢا بِالْمَعْرُوْفِ ۚ

د متعې په تعين كښې اقوال: ① حضرت عبدالله ابن عباس رضى الله عنه فرمائى چه ددې اعلى حصه

(۱) ابن ابی حاتم ۲/۳۱۰ (۲۰۰۳)

Scanned with CamScanner

خادم دي.او ددي نه کمه حصه سپين زر دی اوددي نه کمه حصه جامې دی.يعنی که مالدار وی نو غلام وغيره او که مفلس وی نو کم نه کم دري جوړې کپړې دي ورکړی.②امام شعبی رحمه الله فرمائی چه درميانه درجه دفائده رسولو داده چه قميص،لوپټه او لحاف او څادر دي ورکړی.③ شريح رحمه الله فرمائی پنځه سوه درهم دی.حسن بن علی رضی الله عنه لس زره ورکړي وې خو هغه بی بی بيا هم ونيل چه ددي د مقبول محبوب د جدائی په مقابله کښې داحقيرځيز هيڅ نه دي.④حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی که دواړه ددي فائدې په مقدار کښې په جنګ شی نو ددي دخاوند دمهر نه دي نيم رقم ورکړي شی.⑤ حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی چه په يو خاص ځيز باندې خاوند لره نه شی مجبورولې بلکه کم نه کم ځيزچه هغې ته متعه يعنی فائده او اسباب وئيلې شی هغه به کافی وی.زما په نيز دومره کپړه متعه ده چه په ځومره باندې مونځ کول جائز دی.اگر چه رومبې قول د حضرت الامام دا وو چه ماته ددي صحيح اندازه معلوم نه ده ليکن زما په نيز دا بهتر دی چه کم نه کم ديرش درهمه پکار دی.لکه څنګه چه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه مروی دی.

هرې مطلقې ته څه ورکول پکار دی:- دې باره کښې هم ډير اقوال دی چه هرې طلاق والا ښځې ته څه نه څه ورکول پکار دی.يا صرف هم دې ښځې ته چه هغې سره ميل ملاپ نه وی شوې.بعضې خو دتولو دپاره وائی ځکه چه قران پاک کښې دی چه ﴿وَلِلْمُطَلَّقٰتِ﴾ الخ.نوددي آيت دعموم د تولو دپاره ثابتوی.

داشان دهغوئ دليل دا آيت هم دي چه ﴿فَتَعَالَيْنَ﴾ يعنې ائې نبی ﷺ ! خپلو بيبيانو ته اووايه که ستاسو غوښتنه د دنيا ژوند او ددي زيب وزينت دې نو راشئ چه څه تاسو ته څه اسباب هم درکړم اوتاسو په ښه طريقې سره پريږدم.الخ.نو دا تولې ازواج مطهرات هغه وې چه دهغوئ مهر مقرر وو او د حضرت نبی کريم ﷺ په نکاح کښې راغلې وې.د سعيد بن جبير رحمه الله،ابوالعاليه رحمه الله،حسن بصری رحمه الله هم دا قول دي.د حضرت امام شافعی رحمه الله هم يو قول دادې اوبعضې خو وائی چه ددوی نوې او صحيح قول هم دادې،والله اعلم.

بعضې وائی چه داسبابو ورکول دهغه طلاق والا دپاره ضروری دی چه هغې سره خلوت نه وی شوې اگر چه مهر نه وی ورکړې شوې.ځکه چه قران پاک کښې دی چه ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ﴾ يعنی ائې ا يمان والو ! تاسو چه کله ايماندارو ښځو سره نکاح اوکړئی اوبيا هغوئ ته دلاس لګولو نه مخکې طلاق ورکړئ نوپه هغوئ باندې ستاسو د طرفنه هيڅ عدت نشته دې.چه کوم عدت تيروی هغه دې تير کړی،تاسو هغوئ ته څه مال اسباب ورکړئی او ښه طريقې سره ئې پريږدئی.د سعيد بن مسيب رحمه الله قول دي چه د سورة احزاب دا آيت دسورة بقره آيت سره منسوخ شوې دي.سهيل بن سعيد رضی الله عنه او ابواسيد رضی الله عنه فرمائی چه حضرت نبی کريم ﷺ حضرت اميمه بنت شرحبيل رضی الله عنها سره نکاح اوکړه.هرکله چه رخصت شوه او راغله نو حضرت نبی کريم ﷺ ورته لاس مبارک ورانده کړو خوهغې بد اومنلو.حضرت نبی کريم ﷺ اسيد رضی الله عنه ته اوفرمائيل چه دې ته دوه رنګينې کپړې ورکړه او دا رخصت کړه.(۱)

دريم قول دادې چه صرف هم په دې صورت کښې په طور د فائدې اسباب ومتاع ورکول ضروری وی چه د ښځې رخصت نه وی شوې.اومهر هم نه وی مقرر شوې.اوکه دخول شوې وی نو مهرمثل يعنی د خاندان د دستور مطابق ورکول ضروری دی.که مقرر نه وی،اوکه مقرر وی او د رخصتئ نه مخکې طلاق ورکړی نو بيا به نيم مهر ورکوی.او که رخصتی شوې وی نو پوره مهر به ورکوی.او هم دا د متعه عوض دي.او ددي مصيبت والو ښځو دپاره متعه ده.چه هغوئ سره نه ملاپ شوې وی او نه مهر مقرر

---

۱) صحيح بخاری کتاب الطلاق باب من طلق وهل يواجه الرجل امراته بالطلاق : : ۵۲۵۶)-

Scanned with CamSc

شوې وی او طلاق ورته ملاؤ شی.ابن عمر ﷺ او مجاهد رحمه الله نه هم داقول منقول دی.

د مطلقې قبل الدخول دپاره د متعې حکم

مسلک حنفی:- کومې ښځې چې د دخول نه وړاندې طلاق ورکړې شی او دې سره صحبت هم نه وی شوې نو د دې دپاره متعه د حنفیانو په نیز باندې متعه واجب ده (احکام القران ۲۰۱/۱۱۲)-

اګرچه بعضې علماء کرام دا مستحب ګنړی چه هرې طلاقې شوې ښځې ته څه نه څه ورکول پکار دی د هغې مهر نه علاوه چه کوم مقر شوې نه وی او د ښځې خاوند میل ملاپ شوې وی.هم دا مطلب دسورة احزاب دآیت تخیر دې چه ددې نه مخکې هم ددې آیت په تفسیر کښې بیان شوې دې.او ددې وجې چه دلته دهغه خاص صورت دپاره فرمائیلې شوې دې چه مالدار دې دخپل وس مطابق ورکړی اوکه غریب دې دخپل وس مطابق الخ.حضرت شعبی رحمه الله نه سوال کیږی چه د اسباب نه ورکولو والا به ګرفتارولې شی.نو دوی اوفرمائیل چه دخپل وس مطابق دې ورکړی.په الله ﷻ قسم چه په دې باره کښې به هیڅ خوک نشی ګرفتارولې،او که دا واجب وې نو قاضیانو به ضرور داسې سړې قید کولې.

وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ
او که چرې طلاق ورکړئ تاسو هغوئ له
اوکه طلاق مو ورکړو
مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ
مخکښې ددې نه چې تاسو مسه کړئ هغوئ او مقرر کړې ووئ تاسو دهغوئ دپاره مهر نو ور کړئ نیم
لاس وراوړلو نه مخکښې او حق مهرمو ورته مقرر کړې وی نوکوم مهر چه تاسو مقرر کړی وی
مَا فَرَضْتُمْ اِلَّآ اَنْ يَّعْفُوْنَ اَوْ يَعْفُوَا الَّذِیْ
دهغه مهر چې مقرر کړې ووئ تاسو ماسوا ددې نه چې معاف کړی ښځه مهر خپل یا نرمی اوکړی هغه سړې
د هغې نه نیم مهر ورکړئ البته که ښځه ښښنه اوکړی (اومهرنه اخلی نو دا بیله خبره ده)یا د کوم سړی
بِيَدِهٖ عُقْدَةُ النِّكَاحِ ؕ وَاَنْ تَعْفُوْٓا اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ؕ
چې په لاس دهغه کښې اختیاردې دنکاح (اوتول مهر ورکړی او چې معافی اوکړئ تاسو داډیره نزدې ده تقوی ته
لاس کښې چې دنکاح غوټه وی هغه بخښنه اوکړی اوکه تاسو زیات مال ورکړئ نوداخبره تقوی سره ډیره مناسبه ده
وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝
اومه هیروئ فضل (احسان) په منځ کښې بیشکه الله هغه کارونو لره چې کوئ ئې تاسو لیدونکې دې
اوپه خپل مینځ کښې احسان کول مه هیروئ .....الله پاک ستاسوهر کار وینی ګوری

قوله تعالی:- وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَمَسُّوْهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيْضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ

دطلاق قبل الدخول نه پس نیم مهر: آیت په دې خبره ښکاره دلالت کوی چه رومبی آیت کښې دکومو ښځودپاره متعه مقرر شوې وه،هغه صرف هغه ښځې دی چه دهغوئ ذکر په دی آیت کښې شوې دې. ځکه چه په دې آیت کښې بیان شوی دی چه دخول نه مخکې چه کله طلاق ورکړې شوې وی او مهر مقرر شوې وو نو نیم مهر به ورکولې شی.که دلته هم ددې نه سوا څه نوره متعه واجب وې نو ضرور به ذکر کولې شو،ځکه دا دواړه صورتونه پرله پسې بیانیږی.،نیم مهر باندې دعلماء کرامو اجماع

ده.لیکن د دریو په نیز پوره مهر به په هغه وخت کښې واجب وی چه کله خلوت شوې وی.یعنی د ښځې خاوند د تنهائي حالت کښې یو مکان کښې جمع شوې وی.اګر چه هم بستری نې نه وی کړې.د حضرت امام شافعی رحمه الله قول هم دادې او دخلفاء راشدینو هم دا فیصله ده.([1])خو امام شافعی رحمه الله فرمائی چه څه هم دا وایم. اودکتاب الله ظاهری الفاظ هم دا دی.امام بیهقی فرمائی چه ددې روایت یو راوی لیث بن ابی سلیم اګرچه د سند نیولو قابل نه دې.خو بیاهم ابن ابی طلحه نه د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه دا روایت مروی دې چه ددې نه معلومیږی چه ددوی فرمان همدا دې. ([2])

قوله تعالی:-اِلَّآ اَنۡ یَّعۡفُوۡنَ

د مهر معاف کولو حکم:- بیا فرمائی که ښځې پخپله داسې حال کښې خپل نیم مهرهم خاوندته معاف کړی نودا بله خبره ده.په دې صورت کښې به خاوند ته ټول معاف شی.حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ثیبه ښځه که خپل حق پریږدی نو ورته اختیار دې.([3]) دډیرو مفسرینو تابعینو همدا قول دې.محمد بن کعب قرظی رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد دښځو معاف کول نه دی بلکه دسړو معاف کول دی.یعنی سړې دې خپله نیمه حصه پریږدی.او پوراه مهر دې ورکړی. لیکن دا قول شاذ دې.ځکه چه څه بل قول ددې تائید نه کوی.

قوله تعالی:-اَوۡ یَعۡفُوَا الَّذِیۡ بِیَدِهٖ عُقۡدَةُ النِّکَاحِ ؕ

د معاف کونکی نه څوک مراد دې؟:- ① بیا فرمائی چه یا دې هغه (ښځه) مهر معاف کړی یا چه دچا په اختیار کښې نکاح وی.① یو حدیث کښې دی چه ددې نه مراد خاوند دې.([4])حضرت علی رضی الله عنه نه سوال اوشو چه ایا ددې نه مراد آیا د ښځې اولیاء دی ؟ نو وې فرمائیل چه نه بلکه ددې نه مراد خاوند دې.او نورو مفسرینو نه هم دا مروی دی.د حضرت امام شافعی رحمه الله قول جدید هم دادې.د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله وغیره هم دا مذهب دې.ددې وجې حقیقت کښې نکاح باقی ساتل او ماتول وغیره ټول د خاوند په اختیار کښې دی.اوځنګه چه ولی ته ددې (ښځې) د طرفنه ددې د مال ورکول جائز نه دی نو داشان ورته د ددې دمهر معاف کولو اختیارهم نشته دې.② دویم قول په دې باره کښې دادې چه دې نه مراد دښځې پلار،رور او هغه خلق دی چه دهغوئ د اجازت نه بغیر ښځه نکاح نشی کولې.حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه،حضرت علقمه رحمه الله،حضرت عطاء رحمه الله،حضرت طاؤس رحمه الله،حضرت زهری رحمه الله،حضرت ربیعه بن اسلم رحمه الله،حضرت امام مالك رحمه الله،حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله،حضرت عکرمه رحمه الله او محمد بن سیرین رحمه الله نه هم دا مروی دی.ددې دواړو بزرګانو نه هم دا مروی دی.د حضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام شافعی رحمه الله قدیم قول هم دا دې.ددوی دلیل دا دې چه هم ولی ددې حق حقدارجوړ کړې شوې وو نو په دې کښې د تصرف کولو اختیار هم ورته شته دې.اګر چه په نور مال کښې ورته د تصرف کولو اختیار نشته دې.

حضرت عکرمه رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ دمعاف کولو اجازت ښځې ته ورکړې دې.او که هغه بخیله وروکې زړه والا وی نو ددې ولې نې هم معاف کولې شی اګر چه ښځه پوهه وی.حضرت شریح رحمه الله هم دا فرمائی.لیکن چه کله شعبی رحمه الله انکار اوکړو نو دوی دې نه رجوع اوکړه او وې فرمائیل چه ددې نه مراد هم خاوند دې.بلکه هغه په دې خبره مباهلې ته تیار وو.

قوله تعالی:-وَاَنۡ تَعۡفُوۡۤا اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰی ؕ

---

[1]) الشافعی)-

[2]) د ابن ابی طلحه رضی الله روایت منقطع کیدو په وجه ضعیف دې)-

[3]) ابن ابی حاتم : ۸۳۹/۲)-

[4]) ابن ابی حاتم : ۸۴۲/۲،)-

Scanned with CamScanner

معاف کول تقوی ته نزدې دی:- بیا فرمائی چه ستاسو معاف کول تقوی ته زیات نزدې دی.ددې نه مراد ښځې اوسړی دواړه دی.یعنی دواړو کښې ښه هغه دې چه کوم یو خپل حق پریږدی یعنی ښځه خو یا خپله نیمه حصه خپل خاوندته معاف کړی.یا خاوندهغې ته دنیم مهر ورکولوپه خائې پوره مهر ورکړی.

قوله تعالی:-وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٢٣٧﴾

یوبل سره احسان مه هیروئ:- خپلو کښې فضیلت یعنی احسان لره مه هیرونی اودوی لره مه بیکاره کونی،بلکه هغه کار کښې راولئ.

دابن مردویه یو روایت کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خلقو باندې به یو سخت وخت رازی.مومن به د خپل لاسونو څیزونه په خوله کښې نیسی.او فضیلت او بزرگی به هیره کړی.حالانکه دالله ﷻ فرمان دې چه خپلو کښې فضل لره مه هیرونی.خراب دی هغه خلق چه دیو مسلمان بې بسۍ او تنگدستۍ په وخت کښې دې نه د آرزان څیزونه اخلی.([1]) حالانکه حضرت نبی کریم ﷺ ددې بیع نه منع فرمائیلې ده.اگر چه تا ته په کښې نفع وی نو خپل رور ته هم ښیگړه ورکړه.ددې په هلاکت کښې حصه مه اخله.یو مسلمان د بل مسلمان روردې.نه دې هغه ته تکلیف ورکوی او نه دې ورته غم رسوی او نه دې هغه د ښیگړو نه محرومه کوی.

عون ﷺ احادیث بیانول ژړل ئې او دومره ښې اوژړل چه اوښکې ئې په ږیره مبارکه راروانې شوې او وې فرمائیل چه څه دمالدارو په صحبت کښې کښناستم او ما اوکتل هر وخت به ملامته اوم،خکه چه کوم طرفته به مې نظر کولو نو هر یو به مې د خان نه په ښه کپړو کښې اوښه خوشبو کښې او ښه سورلۍ باندې کتلو.خو مادمسکینانو په محفل کښې ډیر راحت اومونډلو.الله ﷻ فرمائی چه ډیو بل فضیلت مه هیروئی.چاله هم چه یوسائل راشی او هغه سره څه نه وی نو دده دپاره دالله ﷻ نه دخیر دعا کونی. الله ﷻ ستاسو داعمالو نه خبر دې.په هغه ذات باندې ستاسو کاراوستاسو حال بیخی ښکاره دې. او نزدې ده چه هغه هر یو عامل ته دهغه بدله ورکوی.

حٰفِظُوْا	عَلَى الصَّلَوٰتِ	وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۚ	وَقُوْمُوْا	لِلّٰهِ	قٰنِتِيْنَ ﴿٢٣٨﴾
ساتنه اوکړئ | په مونځونو باند	| او خصوصا په مانځه منځنی	| اوودریږئ |	الله ته	|	فرمان منونکی
دټولو مونځونوډیرخیال ساتئ او خاص کردمینځنی مونځ اوالله پاک ته ډیرپه ادب اودریږئ					
فَاِنْ خِفْتُمْ	فَرِجَالًا	اَوْ رُكْبَانًا ۚ	فَاِذَآ	اَمِنْتُمْ	فَاذْكُرُوا اللّٰهَ
نو که پریدئ تاسو | نو مونځ کوئ پیاده | یا په سورلۍ باند | نو کله چې | په امن شئ تاسو | نو یادوئ الله |					
نوکه چرې د ډډښمن ویره وی | نوپیاده یا په سورلۍ څنګه چې کیدیشی مونځ کوئ | هرکله چې په امن کښې شئ نو بیا الله یادوئ					
كَمَا	عَلَّمَكُمْ	مَّا	لَمْ تَكُوْنُوْا	تَعْلَمُوْنَ ﴿٢٣٩﴾	
لکه څنګه چې | هغه ښودلې ده تاسو ته | هغه طریقه | چې نه وئ تاسو | خبرد هغې نه اول					
لکه څنګه چې ئې تاسوته هغه څه خودلی دی چه تاسوپرې نه پوهیدئ |					

حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ۘ

د مونځ د حفاظت حکم:- دالله ﷻ حکم کیږی چه دمونځونو په وخت کښې دوختونوحفاظت کونی.د دې د حدودو نګرانی کونی.او اول وخت کښې ئې اداکونی.حضرت نبی کریم ﷺ نه حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ سوال کوی چه کوم یو عمل افضل دې ؟حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مونځ په وخت

---

[1]) ابن مردویه،)-

کول.بیائې تپوس اوکړو چه بیا کوم یو ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دالله ﷻ لار کښې جهاد کول.بیائې تپوس اوکړو چه بیا کوم ؟نوحضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مور پلار سره نیکی کول.حضرت عبدالله ﷺ فرمائی که ما دنور څه تپوس کړې وې نو حضرت نبی کریم ﷺ به ماته نور جوابونه هم راکړی وې.(بخاری ومسلم).(۱) حضرت ام فروه رضی الله عنها چه بیعت کوونکو ښځو کښې ده،فرمائی چه ما د حضرت نبی کریم ﷺ نه واوریدل چه،حضرت نبی کریم ﷺ د اعمالو ذکر کولو،په دې کښې حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ ته دټولو نه زیات خوښ عمل په اول وخت کښې دمونځ داداکولوکوشش کول دي. (مسنداحمد)(۲) امام ترمذی رحمه الله ددې حدیث راوی عمر لره غیر قوی ګڼړی،

د صلاة وسطی نه مراد:- بیا د صلوة وسطی نور تاکید کیږی.د سلفو اوخلفو په دې کښې اختلاف دې چه صلوة وسطی دکوم یو مونځ نوم دې.① دحضرت علی ﷺ او حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه وغیره قول دې چه ددې نه مراد د سحر مونځ دې.(۳) حضرت ابن عباس رضی الله عنه یو څل مونځ کولو، او په هغې کښې لاس اوچتوی او قنوت کوی.بیا ئې اوفرمائیل چه هم دا د وسطی مونځ دې چه په دې کښې د قنوت حکم شوې دې.دویم روایت کښې دی چه دا واقعه د بصرې دجماعت ده.اوقنوت دوی د رکوع نه مخکښې اداکړی وو.ابوالعالیه رحمه الله فرمائی چه مابصره کښې حضرت عبدالله بن قیس پسې دسحر مونځ کولو،بیامایو صحابی نه تپوس اوکړو چه صلوة وسطی کوم یو دې ؟ وې فرمائیل چه هم دا د صبا مونځ دې.او یوروایت کښې دی چه په دې مجمع کښې ډیر صحابه کرام ﷺ وو او ټولو هم دا جواب ورکړې وو.جابر بن عبدالله نه هم دا روایت دې او د ډیرو صحابه کرامو ﷺ او تابعینو هم دا مسلك دې.حضرت امام شافعی رحمه الله هم دا فرمائی.ځکه چه دهغوئ په نزد سحر مونځ کښې قنوت دې.②بعضې وائی چه ددې نه مراد د مانښام مونځ دې ځکه چه ددې نه مخکې هم څلور کعته مونځ دې اودې نه پس هم څلور رکعتو والا مونځونه دی اوسفرکښې ددواړو قصر دې.لیکن مغرب پورا کیږی،دا وجه هم کیدیشی چه دې نه پس دوه مونځونه د شپې یعنی دماسختن او دسحر دی.چه په هغې کښې اوچت آواز سره قرات وئیلې کیږی.او دوه مونځونه ددې نه مخکې د ورځې هغه دی چه په هغې کښې قرات په پټه وئیلې کیږی.یعنی دماسپخین اومازیګر مونځونه.③ځینې وائی چه دا د ماسپخین مونځ دې.یو څل څو کسان دحضرت زید بن ثابت ﷺ په مجلس کښې ناست وو،هلته هم دامسئله اوچیرلې شوه،خلقو یو سړې اولیږلو چه دحضرت اسامه ﷺ نه تپوس اوکړی.هغوئ اوفرمائیل چه دا دماسپخین مونځ دې او دا به حضرت نبی کریم ﷺ په اول وخت کښې کولو.(طیالسی).زید بن ثابت ﷺ فرمائی چه ددې (ماسپخین مونځ) نه زیات ګران مونځ صحابه کرام ﷺ باندې بل نه وو،ځکه دا آیت نازل شو او ددې نه مخکې هم دوه مونځونه دی او دې نه روستو کښې هم دوه مونځونه رازی.(۴)

هم ددوی نه مروی دی چه قریشو یوه ډله لیږلې وه چه هغوئ د زید بن ثابت نه هم دا سوال اوکړی نو ددې په جواب کښې دوی اوفرمائیل چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه هغه دمازیګر مونځ دې.بیا دوه نورو سړو تپوس اوکړو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه دماسپخین مونځ دې.بیا دوی دواړو حضرت اسامه ﷺ نه تپوس اوکړو نو دوی اوفرمائیل چه دادماسپخین مونځ دې.دوی د نمر دزوال نه پس کولو.او په مشکله یو یا دوه صفه خلق راتلل.څوك به اوده وو او څوك به کاروبار کښې

---

(۱) صحیح بخاری الادب باب البر والصلة : ٥٩٧٠،صحیح مسلم: ٨٦)-

(۲) احمد: ٣٧٥/٦،ابوداود کتاب الصلاة باب المحافظ علی الصلوات : ٣٢٦،ترمذی: ١٧٠،وهو صحیح)-

(۳) موطا امام مالک کتاب الصلاة الجماعة باب الصلاة الوسطی : ٢٨،بلاغا وهو صحیح عن ابن عباس (ابن ابی شیبة ١٥٠٦/٢) وسنده صحیح)-

(۴) احمد : ١٨٣/٢،ابوداود : ٤١١ وسنده صحیح)-

Scanned with CamScanner

وو.نو په دې باندې دا ایت نازل شو.او حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که دا خلق ددې نه منع نشو نو ځه به ددوی کورونه اوسیزم.(۱) خو ددې راوی زبرقان دصحابه کرامو ﷺ سره ملاقات نه وو شوې.لیکن حضرت زید ﷺ نه یو بل روایت کښې هم ثابت دی چه ددې نه مراد دماسپخین مونځ دی.یو بل مرفوع روایت کښې داهم دی.(۲)حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت ابوسعید ﷺ،حضرت عائشه رضی الله عنها وغیره نه هم دامروی دی.د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم یو روایت د دې دې.

② بعضې وائی چه ددې نه مراد د مازیګر مونځ دی.اکثر علماء کرام وغیره نه همدا قول منقول دې.اوجمهورو تابعینو هم دا قول دې اواکثر اهل اثر بلکه جمهوروخلقونه هم،حضرت حافظ ابومحمد عبدالمومن دمیامی په دې باره کښې یومستقله رساله تصنیف کړې ده چه دهغې نوم ﴿کشف الغطاء فی تبیین الصلوة الوسطی﴾دی.په هغې کښې یو فیصله داهم ده چه صلوة وسطی دمازیګر مونځ دې.حضرت عمر فاروق ﷺ،حضرت علی ﷺ،حضرت ابن مسعود ﷺ،حضرت ابوایوب ﷺ،حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ،حضرت سمره بن جندب ﷺ،حضرت ابوهریره ﷺ،حضرت ابو سعید ﷺ،حضرت حفصه رضی الله عنها،ام سلمه رضی الله عنها،حضرت ابن عمر ﷺ،حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه او حضرت عائشه رضی الله عنها نه هم دا فرمان نقل دې.او ددې حضراتو نه هم دا مروی دی او دډیرو تابعینو نه هم دا مروی دی.د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله او حضرت امام شافعی رحمه الله هم دا مذهب دې.د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله صحیح مذهب هم دا دې.دامام محمد رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله نه هم دا مروی دی.ابن حبیب مالکی رحمه الله هم دا فرمائی.ددې قول دلیل واورئی.حضرت نبی کریم ﷺ په جنګ احزاب کښې اوفرمائیل چه الله ﷻ دې ددې مشرکانو زړونه او کورونه د اور نه ډک کړی چه هغوئ دمازیګر مونځ نه منع کړو.(مسند احمد).(۳)

حضرت علی ﷺ فرمائی چه مونږ ددې نه مراد دسحر یا د مازیګر مونځ اخستلو. تر دې چه جنګ احزاب کښې مو د حضرت نبی کریم ﷺ نه دا واوریدل.الله دې د دوی کښې قبرونه د اور نه ډک کړی ﴿او دا دمازیګر مونځ وو﴾مسند احمد کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ دا آیت مبارک تلاوت کړو او وې فرمائیل چه دا د مازیګر مونځ دې.(۴) ددې حدیث ډیر طرق دی.او ډیرو کتابونوکښې مروی دی.حضرت ابوهریره ﷺ نه یو ځل دې باره کښې سوال اوشو نو حضرت ابوهریره ﷺ اوفرمائیل چه مونږ هم یو ځل په دې کښې اختلاف کړې وو نوابو هاشم بن عتبه ﷺ د حضرت نبی کریم ﷺ د صحبت نه پاسیدو او د حضرت نبی کریم ﷺ کورته راغلو.اجازت ئې اوغوښتلو او دننه داخل شو.او د حضرت نبی کریم ﷺ نه ئې معلوم کړل او بهر راووتلو او مونږ ته ئې اوئیل چه دا دمازیګر مونځ دې.(ابن جریر).

دعبدالعزیز بن مروان رحمه الله په مجلس کښې یو ځل هم دا مسئله اوچیړلې شوه.نو دوی اوفرمائیل چه لارشئ اود فلانی صحابی نه تپوس اوکړئی.نو یو سړی اووئیل چه زما نه تپوس اوکړئی خه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ او حضرت عمرفاروق ﷺ په وړوکوالی ددې مسئلې دتپوس کولو دپاره حضرت نبی ﷺ ته لیږلې اوم.دوی زما وړې ګوتې اونیولې او وې فرمائیل چه دا خو دسحر مونځ دې.بیائې دې سره نزدې ګوته اونیوله او وې فرمائیل چه دا د ماسپخین مونځ دې بیا ئې غټه اونیوله او وې فرمائیل چه دا خود مانښام مونځ دې.بیا ئې ځماد شهادت ګوته اونیوله او وې فرمائیل چه دا د ماسخوتن مونځ دې.بیا ئې زما نه تپوس اوکړو چه کومه ګوته پاتې شوه نوما ورته اووئیل چه دمینځ والا.حضرت نبی

---

۱) احمد : ۲۰٦/۲،)-

۲) موطأ امام مالک کتاب الصلاة الجماعة باب الصلاة الوسطی : ۲۷،ابوداود : کتاب الصلاة باب وقت العصر: ٤۱۱،وهو صحیح)-

۳) صحیح بخاری کتاب الدعوات باب الدعاء علی المشرکین : ٦۳۹٦،صحیح مسلم: ٦۲۷)-

٤) احمد : ۸/٥،صحیح مسلم: المساجد باب الدلیل لمن قال الصلاة الوسطی هی صلاة العصر : ٦۲۸،ترمذی: ۱۸۲،مختصرا)-

Scanned with CamS

کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم یومونځ باقی پاتې دي.نو مااووئیل چه دمازیګر نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هم دا صلوة وسطی دي.(ابن جریر).لیکن دا روایت ډیر غریب دي.غرض د صلوة وسطی نه دمازیګر مونځ مراد کیدل د ډیرو احادیثو نه ثابت دی.چه په هغې کښې څه حسن دی او څه صحیح اوڅه ضعیف او ترمذی،مسلم ([1]) وغیره کښې هم دا موجود دی.

د مازیګر مونځ باره کښې تاکید:- بیا ددې مونځ باره کښې دحضور نبی ﷺ تاکید اوسختی ثابت ده.یو حدیث کښې دی چه چا نه دمازیګر مونځ قضا شی نو دا داسې دی لکه چه دده کورنئ تباه شوه او دده کور تباه شو.([2])یو حدیث کښې دی چه د وریځې په ورځ مونځ په اول وخت کښې کوئی.واورئی چه کوم یوسړی د مازیګر مونځ پریښودو نو دده اعمال خراب شو ([3]).یو ځل حضرت نبی کریم ﷺ د مازیګر مونځ دښنی غفار په یو وادئی کښې ادا کړو او ددې وادئی نوم حمص وو.بیا نې اوفرمائیل چه همدا مونځ ستاسونه مخکې خلقو باندې پیش کړې شوې وو.خو هغوئ ضائع کړو.واورئی ددې کوونکی ته دوچنداجر ملاویږی.ددې نه پس هیڅ مونځ نشته دې تر څوچې تاسو ستوری اونه وینئ.(مسند احمد).([4]) حضرت عائشه رضی الله عنها خپل یو آزاد شوی غلام ابویونس ﷺ ته فرمائی چه زما دپاره قران پاک اولیکه.اوچه کله دې آیت ﴿حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ﴾ ته راورسې نو ماته اطلاع اوکړه.نو کله چه دوی ته اطلاع ورکړې شوه نو دوی اوفرمائیل چه ﴿وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى﴾ نه پس ﴿صلوة العصر﴾ اولیکه.او وې فرمائیل چه ما پخپله دحضرت نبی کریم ﷺ نه هم دا آوریدلی دی.(مسند احمد).یو روایت کښې دی چه ﴿ هی صلوة العصر﴾ لفظ هم دې (ابن جریر).د حضرت نبی کریم ﷺ بی بی حضرت حفصه رضی الله عنها عمربن رافع باندې دا آیت هم داشان لیکلې وو او (عمرابن رافع) کاتب قران وو.(موطا امام مالك).([5]) ددې حدیث هم ډیرې طریقې دی او په ډیرو کتابونو کښې مروی هم دی چه ام المومنین اوفرمائیل چه ما د حضرت نبی کریم ﷺ نه هم دا الفاظ آوریدلی دی.

د،،واو،،قراءت:-حضرت نافع رحمه الله فرمائی چه ما دا قران پاك په خپلو سترګو لیدلې دې هم دا عبارت ،،واو،، سره وو،حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه او عبیدبن عسیر هم دا قرات دې.دا آیتونه مدنظر ایږدی او ځینې حضرات وائی چه چونکه واو عطف دپاره وی او معطوف معطوف علیه کښې مغایرت وی نو ثابته شوه چه ﴿ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى﴾ بل دی او ﴿صلوة العصر ﴾ بل دې. لیکن ددې جواب دا دې که هغه بطور حدیث اومنلې شی نو حضرت علی والاحدیث ډیر زیات صحیح دې او په هغې کښې صراحت سره موجود دی.پاتې شو واو نو ممکن دی چه زائدوی عاطفه نه وی.لکه ﴿ وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ﴾ او ﴿ وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ کښې یا واو عطف صفت دپاره وی او ذات دپاره نه وی لکه ﴿ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ﴾ کښې اولکه﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى الَّذِيْ خَلَقَ فَسَوّٰى وَالَّذِيْ قَدَّرَ فَهَدٰى﴾ کښې ددې مثالونه او نورو ډیرو شعرونو کښې هم دا خبره موندې شی.سیبویه چه د نحویانو امام دې فرمائی چه﴿ مررت باخیك وصاحبك﴾ وئیل درست دی حالانکه صاحب او اخ نه مراد یو سړې دې والله اعلم. او که ددې قرات دا قران الفاظ په طور دقران اومنلې شی نو ظاهر دادی چه دې خبر واحد سره قرات قرانی نه ثابتیږی ترکومې پورې چه تواتر ثابت نه وی.ځکه حضرت عثمان ﷺ په خپل قران کښې دا

---

[1]) صحیح مسلم : ۶۲۸،ترمذی: ۱۸۱)-

[2]) صحیح بخاری کتاب مواقیت باب اثم من فاتته اصلاة : ۵۵۲،صحیح مسلم: ۶۲۶)-

[3]) صحیح بخاری کتاب مواقیت باب من ترک العصر:: ۵۵۳،)-

[4])احمد:۳۹۷/۶،صحیح مسلم کتاب صلاة المسافرین باب الاوقات التی نهی عن صلاة فیها:۸۳۰)-

[5])احمد:۳۹۷/۶،صحیح مسلم کتاب المساجد باب الدلیل لمن قال:الصلاة الوسطی هی صلاة العصر:۶۲۹،ابو داود:۴۱۰،ترمذی:۲۹۸۲)-

Scanned with CamScanner

قرات نه دي اخستي.اونه د اووه واړه قراء په قرات کښې دا لفاظ شته بلکه نه خو دا د څه معتبر قاری قرات کښې موندې شوی دی.ددې نه علاوه یو حدیث کښې دی چه دهغې نه معلومیږی چه ددې قرات منسوخ کیدل ثابت دی.صحیح مسلم کښې دی چه دا آیت نازل شو ﴿وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى﴾ وصلوة العصر﴾ نو مونږ یو مودي پورې دا آیت مبارك د حضرت نبی کریم ﷺ مخکې لوستلو.بیا دا تلاوت منسوخ شو.او آیت داسې پاتې شو چه ﴿حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى﴾ یو سړی دراوی حدیث حضرت شقیق ﷺ ته اوونیل چه بیا آیامونځ د عصر دې څه.وې فرمائیل چه ماخو درته اوونیل چه څنګه دا آیت نازل شو او څنګه منسوخ شو.(۱)نو په دې بناء داقرات دحضرت عائشه ﷺ او حضرت حفصه ﷺ روایت والا یا خو لفظی منسوخ وی اوکه مغایرت دپاره اومنلې شی نودلفظ اودمعنی دواړه اعتبار سره به منسوخ وی.

④ بعضې وائی چه ددې نه مراد دمابنام مونځ دې.د حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ عنه نه هم دا مروی دی لیکن د هغې سند کښې کلام دې.دبعضې نورو حضراتو هم دا قول دې.ددې وجه دا بیان شوې ده چه نور فرض مونځونه یا څلور رکعته دی یا د دوو رکعتونو دې او ددې درې رکعته دی.نو مینځنۍ مونځ شو اودویمه وجه دا هم کیدیشی چه د فرض مونځونو دا وتر دی.او ددې وجې هم چه ددې فضیلت ډیر زیاتو احادیثو کښې هم وارد شوی دی.⑤ بعضې خلق ددې نه مراد د ماستخوتن مونځ هم اخلی.⑥ بعضې وائی چه په پنځه وختونو کښې یو وخت مونځ دې.لیکن مونږ نشو معین کولې.ځکه چه داشان مبهم دې.لکه څنګه چه ﴿لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ پورا کال یا پورا میاشت کښې یا روستو ورځو کښې مبهم ده.⑦ بعضې حضرات وائی چه ددې نه د پنځو مونځونو مجموعه مراد ده.⑧ اوبعضې وائی چه د ماسختن مونځ او سحر مونځ تري مراد دې.⑨ او دبعضو قول دې چه دا د جمعې مونځ دې.⑩ څوک وائی چه داختر مونځ مراد دې.(۱۱) څوک وائی چه صلوة الضحی مراد دې.(۱۲) اوبعضې وائی چه مونږ توقف کوؤ او د هیڅ یو قول هم قائل نه جوړیږو.ځکه چه دلیلونه مختلف دی.وجه د ترجیح معلومه نه ده.په هیڅ یو قول باندې اجماع نشته دې.بلکه د صحابه کرامو ﷺ زمانې نه واخله نن پورې اختلاف دې.لکه څنګه چه حضرت سعید ابن مسیب ﷺ فرمائی چه د صحابه کرامو ﷺ دې باره کښې اختلاف وو.بیا نې ګوتو کښې ګوتې ورکړې.لیکن دا یاد ساتل پکار دی چه دامخکې ټول په ټوله اقوال ضعیف دی.اختلاف صرف د سحر او مازیګر مونځ کښې دې او دصحیح احادیثو نه دمازیګر مونځ صلوة وسطی ثابتیږی.نو لازم شو چه مونږ ټول اقوال پریږدو او دا عقیده اولرو چه د صلوة وسطی نه مراد دمازیګر مونځ دې.

امام ابومحمد عبدالرحمان بن ابوحاتم رازی ﷺ نه په خپل کتاب فضائل شافعی ﷺ کښې روایت دې چه حضرت امام صاحب ﷺ به فرمائیل چه ﴿کل ماقلت فکان عن النبی ﷺ بخلاف قولی ممایصح فحدیث النبی ﷺ اولی ولا تقلدونی﴾.یعنی زما یوقول که د یو حدیث خلاف وی نو حدیث اولې دې،خبردار زما تقلید مه کوئ.د حضرت امام شافعی ﷺ دا فرمان امام ربیع ﷺ،امام زعفرانی ﷺ،او حضرت امام احمد بن حنبل ﷺ هم روایت کوی.او موسی ابوالولید بن جارود ﷺ،حضرت امام شافعی ﷺ نه نقل کوی چه دوی اوفرمائیل چه ﴿اذا صح الحدیث وقلت قولا فانا راجع عن قولی وقائل بذالك﴾ یعنی زما یو خبره چه دحدیث خلاف وی نو څه دهغې خپلې خبرې نه رجوع کوم،او صفا وایم چه زما مذهب هم هغه دې چه حدیث کښې دې.

دا دامام صاحب امانتداری او سرداری ده اوددوی پشان آئمه کرامو کښې هم هر یو هم دا فرمائیلی دی چه دهغوئ اقوال دې دین اونه ګنرلې شی.ددې وجې قاضی ماوردی ﷺ فرمائی چه د امام صاحب

---

(۱)صحیح مسلم کتاب المساجد باب الدلیل لمن قال الصلاة الوسطی هی صلاة العصر:۶۳۰)۔

رحمه الله د صلوة وسطی باره کښې هم مذهب ګنړل پکار دی چه هغه دمازیګر مونځ دې.اګر چه د امام صاحب رحمه الله خپل نوې قول دادې چه هغه عصرنه دې.مګر ددوی د فرمان مطابق دحدیث خلاف دا قول مونږ پریښودو.امام شافعی رحمه الله اودمذهب پیر نورمحدثین هم دا فرمائی.(فالحمدلله).بعضې فقهاء شافعی وائی چه د امام صاحب صرف هم دا یو قول دې چه هغه د سحر مونځ دې.لیکن د دې ټولو خبرو کولو دپاره دا تفسیر مناسب نه دې،د دې بیان ما کړې دې ﴿ فالحمدلله ﴾.

قوله تعالی:-وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ

په مانځه کښې د عاجزئ حکم:- بیا فرمائی چه دالله ﷻ مخکې خشوع وخضوع،ذلت اومسکینتوب سره اودریږئ،اود دې دپاره دا لازم ده چه انسانی خبرې دې نه وی.هم ددې وجې د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دسلام جواب حضرت نبی کریم ﷺ په مونځ کښې ورنکړو.او دې نه پس ئې جواب ورکړو.او وې فرمائیل چه مونځ د مشغولیت ځیز دې (۱)

اوحضرت معاویه بن حکم مونځ کولو او دوئ سره خبرې اوشوې نو وې فرمائیل چه مونځ کښې انسانی خبرې نه دی کول پکار دا صرف تسبیح او تکبیر او د الله ذکر دی.(مسلم) (۲)

مسند احمدوغیره کښې دی چه ددې آیت دنازلیدو نه مخکې خلقو به ضروری خبرې هم په مونځ کښې کولې.هرکله چه دا آیت نازل شو نو دچپ اوسیدو حکم اوشو.(۳)لیکن په دې حدیث کښې یو اشکال دا دې چه دعلماء کرامو دیوې ډلې په نیز مونځ کښې د خبرې کولو حرمت د حبشې د هجرت نه روستو او دمدینې منورې د هجرت نه مخکې مکه معظمه کښې نازل شوې وو.

صحیح بخاری کښې دی چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه دحبشې دهجرت نه مخکې مونږ به حضرت نبی کریم ﷺ ته سلام کولو او که حضرت نبی کریم ﷺ به په مونځ کښې وو نو بیا به ئې هم خمونږ دسلام جواب راکولو.هرکله چه مونږ د حبشې د هجرت نه واپس شو نو حضور ﷺ ته ماپه مونځ کښې سلام اوکړو نو حضور ﷺ جواب رانکړو.په هغه وخت کښې زما څه حال وو تپوس ئې مه کوه.مونځ نه چه حضرت نبی کریم ﷺ فارغ شو نو وې فرمائیل چه عبدالله نوره هیڅ خبره نه وه څه په مونځ کښې اووم.په دې وجه مې جواب درنکړو. الله ﷻ چه څه غواړی نو نوې حکم نازل کړی.هغه دا نوې حکم نازل فرمائیلې دې.چه مونځ کښې خبرې مه کوئی نو دا واقعه دهجرت نه مخکې شوې ده.(۴)

او دا آیت مبارک مدینه منوره کښې نازل شوې دې.او بعضې وائی چه د زید ابن ارقم رضی الله عنه د قول مطلب جنس کلام دې او د دې حرمت باندې دا آیت مبارک استدلال هم پخپله دده فهم دې.والله اعلم.بعضې وائی چه ممکن دی چه دوه ځل حلال وی او دو ځل ممانعت شوې وی.لیکن دا رومبنۍ واقعه زیاته ظاهره ده.

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه والا حدیث چه مسندابی یعلی کښې دې په هغې کښې دی چه د حضرت نبی کریم ﷺ جواب نه راکولو څه په ویره کښې واچولم چه شاید زما باره کښې څه حکم نازل شوې دې.حضرت نبی کریم ﷺ چه کله د مونځ نه فارغ شو نو وې فرمائیل ﴿ علیك السلام ایها المسلم ورحمة الله ﴾ کله چه ته په مونځ کښې ئې نو خاموشه اوسه.اود مونځونو دپوره حفاظت کولو حکم نازل شوې وو.

---

۱) صحیح بخاری کتاب العمل فی الصلاة باب ماینهی من الکلام فی الصلاة: ۱۱۹۹،صحیح مسلم: ۵۳۸)-

۲) صحیح مسلم: کتاب المساجد باب تحریم الکلام فی الصلاة : ۵۳۷)-

۳) احمد : ۳۶۸/٤،صحیح بخاری کتاب العمل فی الصلوة باب ماینهی من الکلام فی الصلاة : ۱۲۰۰،صحیح مسلم: ۵۳۹)-

۴) ابوداود کتاب الصلاة،باب ردالسلام فی الصلاة وسنده حسن نسائی: ۱۲۲۲)-

Scanned with CamSc

فَإِنْ	خِفْتُمْ	فَرِجَالًا	أَوْ رُكْبَانًا	فَإِذَا	أَمِنتُمْ	فَاذْكُرُوا اللَّهَ
نو که پریدئ تاسو	نو مونځ کوئ پیاده	یا په سورلئ باند	نو کله چې	په امن شئ تاسو	نو یادوئ الله	
نوکه چرې د(دښمن)ویره وی	نوپیاده یا په سورلئ څنګه چې کیدیشی مونځ کوئ	هرکله چې په امن کښې شئ نو بیا الله یادوئ				

كَمَا	عَلَّمَكُم	مَّا	لَمْ تَكُونُوا	تَعْلَمُونَ ۝
لکه څنګه چې	هغه ښودلې ده تاسو ته	هغه طریقه	چې نه وئ تاسو	خبرد هغې نه اول
لکه څنګه چې ئې تاسوته هغه څه خودلی دی چه تاسوپرې نه پوهیدئ				

قوله تعالی:- فَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا

د ویرې په وخت کښې د صلاة الخوف حکم:- ددې وجې اوس هغه حالت بیانیږی چه په هغې کښې د ټولو آدابو او رعایتونو خیال عام طور نه ساتلې کیږی یعنی میدان جنګ کښې چه کله دښمن مو په سر وی نو فرمائی چه تاسو ته څنګه ممکن وی،سواره،پیدل قبلې طرفته مخ کوئی او مونځ ادا کوئی.

حضرت ابن عمر ﷺ ددې آیت مطلب بیانوی،بلکه نافع فرمائی چه ماته پته ده چه دا مرفوع دې.(یعنی ابن عمر دا خبره د نبی کریم ﷺ نه اوریدلې ده) (۱) مسلم شریف کښې دی چه د سختې ویرې په وخت کښې اشاره سره مونځ کوئی اګر چه تاسو سورلئ باندې سواره یئ.(۲)عبدالله بن انیس ﷺ چه کله حضرت نبی کریم ﷺ دخالد بن سفیان د قتل دپاره اولیږلو نو دوی هم داشان دمازیګر مونځ کړې وو. الخ(ابوداود).نو په دې کښې ئې په خپلو بندګانوباندې آسانی کړې ده او د دوی بوج ئې سپک کړې دې.

دصلوة خوف بیان :- صلوة خوف یو رکعت هم راغلې دې.حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه الله ﷻ ستاسو دنبی ﷺ په خوله دحضر په حالت کښې څلور رکعته فرض کړی دی او دسفر په حالت کښې دوه او د ویرې په حالت کښې یو (مسلم) (۳)

امام احمد رحمه الله فرمائی چه دا دهغه وخت خبره ده چه کله زبانی ویره وی.حضرت جابر بن عبدالله ﷺ او ډیر نور بزرګان صلوة خوف یو رکعت بنائی.امام بخاری رحمه الله په صحیح بخاری کښې یو باب ذکر کړې دې چه دقلعه ګانو دفتح کولو په موقع باندې او دښمن سره دجنګ په موقع باندې مونځ ادا کول.(۴)

اوزاعی رحمه الله فرمائی که فتح نزدې وی او مونځ کولو باندې قدرت نه وی نو هر سړې دې خپله خانله په اشاره مونځ اوکړی.که دومره وخت هم ملاؤ نشی نو تاخیر دې اوکړی.تر دې پورې چه جنګ ختم شی او آرام نصیب شی نو دوه رکعته دې ادا کړی ګنې یو رکعت کافی دې.لیکن صرف تکبیر وئیل کافی نه دی بلکه تاخیر دې اوکړی تر دې پورې چه امن شی.

د سختې ویرې په وخت په یو رکعت اکتفاء جائز نه ده

مسلک حنفی:- د سختې ویرې په وخت کښې په یو رکعت یا صرف په تکبیر تحریمه اکتفاء جائز نه ده بلکه پوره مونځ به کوی البته که مسافر وی نو سفرانه مونځ به کوی (تفسیرمظهری ۴۳۸\۲).

حضرت مکحول رحمه الله هم دا فرمائی.حضرت انس بن مالك رحمه الله فرمائی چه د تستر قلعې په جنګ کښې څۀ هم فوج کښې شامل ووم.د صبا صادق په وخت کښې جنګ ډیر شدید شو،مونږ ته وخت ملاؤ نشو

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر: سورة البقرة باب قوله: (فان خفتم فرجالا او رکبانا): ٤٥٣٥)-
۲) صحیح مسلم کتاب الصلوة صلاة المسافرین باب صلاة الخوف : ۸۳۹)-
۳) ابوداود کتاب التطوع باب صلاة الطالب : ۱۲٤۹: وهو حسن -
۴) صحیح مسلم کتاب صلاة المسافرین وقصرها: ٦٧٨)-

Scanned with CamSc

چه مونږ مونځ کړې وي.ښه نمر راوختلو اوبیا مونږ دهغې ورځې مونځ اداکړو.که دمونځ بدله کښې ماته دنیا او څه چه په دې کښې دی ماته ملاؤ شی نوځه پرې خوشحاله نه یم.(۱) دې نه پس حضرت امام المحدثین رحمه الله ددې حدیث نه استدلال کړې دې.په هغې کښې دی چه جنګ خندق کښې نمر پریوتو پورې حضرت نبی کریم ﷺ دمازیګر مونځ اونکړو.(۲)

بیادویم حدیث کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ کله خپل صحابه کرام رضی الله عنهم بنی قریظه ته دجنګ دپاره اولیږل نودوی ته ئې فرمائیلی وو چه تاسو کښې هیڅوک د بنوقریظه نه د رسیدو نه وړاندې د مازیګر مونځ نه کوی.اوس کله چه د مازیګر د مونځ وخت راغلو نو بعضو خو هم هلته په لار کښې مونځ ادا کړو او وې وئیل چه د حضرت نبی کریم ﷺ مطلب دا وو چه مونږ دې ډیر زر لاړشو چه د مازیګر مونځ د مازیګر په وخت کښې اداکړو اوبعضو خلقو اونه کړو تردې پورې چه نمر پریوتلو.او بنو قریظه ته په رسیدلو ئې مونځ اداکړو (۳)

حضرت نبی کریم ﷺ ته چه کله ددې علم اوشو نو حضرت نبی کریم ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم دواړو ډلو کښې یو ته هم څه اونه وئیل.نوددې نه حضرت امام بخاری رحمه الله دا مسئله ثابتوی اګرچه جمهور ددې خلاف دی.هغوئ وائی چه سورة نساء کښې چه د ویرې دمونځ کوم حکم دې او چه دکوم مونځ د مشروعیت اوطریقه احادیثوکښې وارد شوې ده هغه دجنګ خندق نه پس ده،لکه څنګه چه ابوسعید رضی الله عنه وغیره روایت کښې صراحت سره بیانوی.

لیکن دامام بخاری رحمه الله،امام مکحول رحمه الله،او امام اوزاعی رحمه الله جواب دادې چه ددې مشروعیت نه پس کیدل ددې د جواز خلاف کیدلې نشی ځکه چه دا دې هم جائز وی او هغه طریقه دې هم وی.ځکه چه داسې حالت کښې شاذ اونادر کله کله هم کیږی او پخپله صحابه کرامو رضی الله عنهم د حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په زمانه کښې د فتح تستر په موقع په دې عمل باندې عمل کړې وو او هیچا انکار اونکړو،والله اعلم.

قوله تعالی:- فَإِذَآ أَمِنتُمْ فَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَمَا عَلَّمَكُم مَّا لَمْ تَكُونُوا۟ تَعْلَمُونَ ۝

بیا فرمان دې چه دامن په حالت کښې د حکم پوره کولو خیال ساتئی،څنګه چه تاسو ته ما دایمان لار اوخودله او د جهل نه پس مو علم درکړو نو تاسو ته پکار دی چه ددې په شکریه کښې دالله ﷻ ذکر په اطمینان سره کوئی لکه څنګه چه ئې صلاة خوف بیان کولو نه پس او فرمائیل چه کله اطمینان شی نو مونځونه په ښه طریقه کوئی ځکه چه مونځ مومنانو باندې په وخت باندې مقرر شوې دې.دصلوة خوف پوره بیان به انشاء الله په سورة نساء کښې په آیت ﴿کنت فیهم﴾کښې راشی.

وَٱلَّذِينَ	
او هغه کسان	|
اوځوک چې	
يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَٰجًا ۖ	وَصِيَّةً لِّأَزْوَٰجِهِم مَّتَٰعًا
چې وفات کیږی | ستاسونه | او پریږدی	| ښځې پکار | دی وصیت کول هغوئ له | دپاره دښځو خپلو | دخرچې ورکولو
درنه مړه کیږی اوښځې (کونډې) پریږدی | نو دخپلو ښځودپاره دې وصیت اوکړی | چې ورته تر یو کاله پورې خرڅه	

(۱) صحیح بخاری قبل حدیث رقم: ۹٤٥)-

(۲) صحیح بخاری کتاب صلاة الخوف باب الصلاة عند مناهضة.....تعلیقا قبل حدیث : ۹٤٥)-

(۳) صحیح بخاری کتاب صلاة الخوف باب الصلاة عند مناهضة.....تعلیقا قبل حدیث : ۹٤٥)-

Scanned with CamScanner

إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ فَإِنْ خَرَجْنَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ
دیو کال پوري	بې د ویستلو (دکورونو نه)	بیا که چرې	وخې هغوئ پخپله	نو نشته ګناه	په تاسو باند
ورکولې شي اودکوره دې بهر نشي ویستلې	اوکه بخپله بهر اوزي نو دهغې ذمه داري په تاسونشته چې
فِي مَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ مِنْ مَعْرُوفٍ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ
په هغه کار کښې	چې کوي نې هغوئ	په باره دخانونو خپلو کښې	دمعلومې طریقې نه	او الله	غالب دې
په خپل خان باندې چې هغوئ په سمه شرعی طریقه هرڅه کوي	.....اوالله داختیارخاوند دې
حَكِيمٌ وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا
حکمت والا دې	او دطلاقو کړې شوې ښځو دپاره	څه خرچه ورکول دی	په مناسب طریقې سره	دا حق دې
اوپه هرحکم کښې حکمت لري	او د ټولوطلاقو شوې ښځودپاره په مناسب طریقه څه نه څه ورکول دی	دا حق په
عَلَى الْمُتَّقِينَ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ
په پرهیزګارانو باندې	دارنګې	بیانوی	الله	تاسو ته	ایتونه خپل	دپاره ددې
پرهیزګارانو باندې حق دې	داشان الله پاک تاسو خپل حکمونه ښکاره ښکاره بیانوی	امید چې تاسوبه
تَعْقِلُونَ ع
چې دعقل نه کار واخلئ
دعقل نه کار واخلئ

قوله تعالى:- وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا ۖ وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ ۚ

دکونړو دپاره د یو کال عدت حکم :- داکثرو مفسرینو دا قول دې چه دا آیت ددې نه مخکښې آیت یعنی دخلورومیاشتو اولسوورځو عدت والا آیت سره منسوخ شوې دې.صحیح بخاری کښې دی چه حضرت ابن زبیر ﷺ حضرت عثمان ﷺ ته اووئیل چه هرکله دا آیت منسوخ شو نوبیا تاسو دا په قران پاک کښې ولې لیکئ ؟دوی اوفرمائیل چه څنګه مخکې په قران پاک کښې موجود دي دلته به هم موجود وی. مونږ په دې کښې هیڅ کمې زیاتې نشو کولې.(۱)

د یو کال د عدت منسوخیت:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه مخکې خودا حکم وو چه ټول کال پورې به نان نفقه به کوندې ښځې ته دسړی دمال نه وکولې شوه،او هم په دې کور کښې به هغه اوسیدله.بیا د میراث والا آیت دا آیت منسوخ کړو او دخاوند نه د مال په صورت کښې دمال متروکه اتمه حصه او که اولاد ئې نه وی نو بیا څلورمه حصه مال به په وراثت کښې ورکولې شی.او عدت پوره څلور میاشتې اولس ورځې مقرر شوې دې.(۲)داکثرو صحابه کرامو ﷺ او تابعینو نه مروی دی چه دا آیت منسوخ شوې دې.سعید بن مسیب وائی چه د سورة الاحزاب دا آیت ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ﴾ سره منسوخ شوې دې.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه اووه میاشتې شل ورځې چه دی نو دا د اصلی عدت څلور میاشتو لسو ورځو نه سوا دی.په دې آیت کښې دهغه مودی حکم بیانیږی،عدت خوواجب دې.خودا زیاتی موده ښځې ته اختیار دې.که کښینی او دا موده تیروی او که خی.دمیراث آیت د کورو

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (والذین یتوفون منکم.....) : ٤٥٣٥)-

(۲) ابن ابی حاتم : ۸۷۱/۲)-

Scanned with CamSc

اوسیدول هم منسوخ کوی.هغه چه چرته غواړی نو عدت دې تیر کړی،دکورخرچ دخاوند په ذمه نه دې (۱) نوددې اقوالو نه معلومه شوه چه دې آیت دټول کال عدت واجب نه کړو.بیا د منسوخ کیدو څه معنی ده ؟ دا خو د خاوندوصیت دې او که دا هم ښځه پوره کول غواړی نوپوره دې کړی ګنی په دې باندې څه جبر نشته دې.

(وصية) نه مراد دا دې چه الله ﷻ تاسو ته وصیت کوی لکه څنګه چه ﴿يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِيٓ أَوۡلَٰدِكُمۡ﴾ ددې نصب ﴿فتوصوهن﴾ لره محذوف منل دی.نو که ښځې ټول کال د خپل فوت شوی خاوند په کور کښې اوسیږی نو دوی به نه شی ویستلې.اوکه هغوئ عدت تیرول غواړی نو په هغوئ باندې هیڅ جبر نشته دې.امام ابن تیمیه رحمه الله هم دا قول اختیاروی.او نور ډیر خلق هم دا قول اختیاروی اوباقی جماعت دا منسوخ ګنړی.نو که دهغوئ اراده داصلی عدت نه پس زمانه منسوخ کیدل دی نو خیر دې ګنی په دې باره کښې د آئمه اختلاف دې.هغوئ وائی چه دخاوند په کور کښې عدت تیرول ضروری دی.او ددوی دلیل د موطا امام مالك دا حدیث دې چه د حضرت ابوسعیدخدری ﷺ خور فریعه بنت مالك ﷺ رسول الله ﷺ ته راغله او وې وئیل چه ځمونږ غلامان تښتیدلی وو اودهغوئ د تلاش کولودپاره زما خاوند لاړو. قدوم کښې ئې دې غلامانوسره ملاقات اوشو خو هغوئ دې قتل کړو.دهغه څه مکان نشته دې چه څه په هغې کښې عدت تیر کړم.او نه راسره د خوراك څکاك څه شته دې.که تاسو اجازت راکوئی نو څه به خپلې ځځرګنئ کره لاړه شم او هلته به عدت پوره کړم.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اجازت دې،څه واپس شوم،څه لا په حجره کښې اووم چې نبی کریم ﷺ څه راوغوښتلم او وې فرمائیل چه تا څه اووئیل،ما ورته بیا خپله ټوله قصه بیان کړه.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په خپل کور کښې اوسیږه تر دې چه ستا عدت پوره شی.نوما هم هلته د عدت زمانه تیره کړه یعنی څلور میاشتې لس ورځې.حضرت عثمان ﷺ څه په خپل دورحکومت کښې راوبللم او مانه ئې دامسئله اوپوښتله.ما ورته خپله ټوله واقعه اود نبی کریم ﷺ فیصله واورولە.حضرت عثمان ﷺ هم ددې پیروی اوکړه او هم دا فیصله ئې اوکړه.(۲) دې حدیث ته امام ترمذی رحمه الله حسن وائی.

قوله تعالی:-وَلِلْمُطَلَّقَٰتِ مَتَٰعُۢ بِٱلْمَعْرُوفِ ۖ حَقًّا عَلَى ٱلْمُتَّقِينَ

طلاقو شوو ښځو ته د متاع ورکولو حکم:- طلاقه شوې ښځې ته د متاع ورکولو باره کښې به خلقو وئیل که مونږ غواړو نووربه کړو اوکه مونږ نه غواړو نو نه به ورکوو.نو په دې باندې دا آیت نازل شو.(۳) هم ددې آیت نه بعضو خلقو هرې طلاقې شوې ښځې ته څه نه څه ورکول واجب ګرزولی دی.او بعضې نورو بزرګانو دا هغه ښځو سره مخصوص کړی دی چه دکومو مخکې بیان اوشو.یعنی چه کومو ښځو سره صحبت نه وی شوې او مهر هم نه وی مقرر شوې او طلاق ورکړې شی،لیکن د رومبی جماعت جواب دادې چه په عام کښې دخاص صورت ذکر کول هم دې سورت سره دا حکم نه مخصوص کوی لکه مشهور او منصوب مذهب دې.والله اعلم.

قوله تعالی:-كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ۝

بیافرمائی چه الله ﷻ داشان خپل حلال اوحرام اوفرائض وحدود او امراونهی باره کښې واضح او مفسر بیان کوی چه تاسو ته دهیڅ قسمه ابهام او اجمال پاتې نشی چه دضرورت په وخت کښې تذبذب کښې اخته نه شئ بلکه دومره قدرې صفا بیان کیږی چه هرسړې پرې پوهیږی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (والذین یتوفون منکم...) : ٤٥٣١)-

(۲) موطا امام مالک کتاب الطلاق باب مقام المتوفی عنها زوجها : ۸۷،ابوداود: ۲۳۰۰،ترمذی: ۱۲۰٤،نسائی : ۳۵۵۸،ابن ماجة: ۲۰۳۱، وهو صحیح)-

(۳) الطبری: ٥/٢٦٤)-

Scanned with CamScanner

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ
ا آیا تانۀ لیدلې حال دهغه ا کسانو اچې وتلی وو ا دکورونو خپلو نه ا او هغوئ
ا (ائې پیغمره ا) تادهغه کسانو په حال غوروفکر کړې دې اچې دخپلو کورونونه اووتل
اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ ۪ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ۫ ثُمَّ اَحْيَاهُمْ ؕ
په زرګونو وو ا دیرې دمرګ نه ا نو اووئیل ا هغوئ ته الله ا چې مړه شئ ا بیائې (دوباره) ژوندی کړل هغوئ
اود زرګونو په تعداد کښې وو ا خکه چې دمرګ نه ویریدل ا نو الله پاک اووئیل مړه شئ نو بیا ئې ژوندی کړل
اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا
بیشکه الله ا خامخا خاوند دفضل دې ا په خلقو باندې ا ولیکن ا زیات خلق ا نه
بیشکه الله ﷻ جل شانه په خلقو ډیر مهربان دې ا.....خو زیات خلق د الله شکر نه
يَشْكُرُوْنَ ۝ وَقَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝
اوباسی شکر ا او جنګ کوئ ا په لار د الله کښې ا او پوهه شئ ا چې الله ا اوریدونکې ا او پوهه دې
.....ادا کوی ا او (مسلمانانو) تاسو د الله په لار کښې جهاد کوئ ا اودایادلرئ چې الله هرڅۀ اوری ا اوپه هرڅۀ پوهه دې
مَنْ ذَا الَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗٓ اَضْعَافًا
څوك دې هغه کس ا چې قرض ورکړی الله ته ا قرض ښکلې ا نو زیات به ئې کړی ا هغه لره ا په زیاتوالی
څوک چې الله پاک ته قرض حسنه ورکړی ا الله پاک به ورته څوڅوچنده دهغې بدله واپس و رکوی
كَثِيْرَةً ؕ وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝
ډیر سره ا اوالله ا تنګوی (رزق) ا او فراخه کوی (رزق) ا او خاص هغه ته به ا واپس کیږئ تاسو ا
اوالله دچاروزی زیاتوی اودچاکموی ا اوهغه ته به تاسو خواه مخواه واپس کولې شئ ا

قوله تعالی:- اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ خَرَجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ اُلُوْفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ ۪ فَقَالَ لَهُمُ اللّٰهُ مُوْتُوْا ۫ ثُمَّ اَحْيَاهُمْ ؕ الخ

ژوند او مرګ دالله ﷻ په لاس کښې دې :- د وبادځائې ته مه ځائې. او هلته نه مه اوخئ. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه داخلق ځلور زره وو. او یو روایت کښې دی چه اته زره وو. بعضو کښې نهه زره ونیلې شوی دی. بعضې ځلویښت زره ښائی. بعضې د دیرشو زرو نه زیات ښائی. دا خلق د ذاوردان یا زرو روان والا کلی وو. او دا د واسط طرفته دې.

دیو کلی د هلاکت واقعه:- بعضې وائی چه ددې کلی نوم اذرعات وو. داخلق د طاعون په وجه دخپل ښار نه تښتیدلی وو. یو کلی ته چه اورسیدل نو هلته دالله ﷻ حکم سره ټول مړه شول. اتفاق سره هلته یونبی تیریدو. دهغه دعاسره الله ﷻ هغوئ بیاژوندی کړل. بعضې وائی چه یوخوشی اوصفامیدان کښې استوګن شوی وو. او د دوو فرښتو په چغو سره هلاك شوی وو. هرکله چه یو ډیره موده تیره شوه نو د دوی هډوکی هم ایره شو. او په دې ځائې یو کلی جوړ شو. بیا حزقیل نومې یو سړې هغه ځائې کښې تیر شو اوهغه دعا ئې اوکړه اوالله ﷻ قبوله کړه. او حکم ئې اوکړوچه ته اووایه چه ائې رستو هډوکو تاسو ته الله ﷻ حکم کوی چه تاسو ټول جمع شئ. نود هر هر بدن ډهانچه اودریدله. بیا ورته الله ﷻ اوفرمائیل چه ته اووایه چه ائې هډوکوتاسوته الله ﷻ حکم کوی چه تاسو غوښه، رګونه اوپټې اونیسئ. نودالله ﷻ دنبی په کتو سره دا هرڅه اوشو. اوهغوئ چه څنګه یو ځائې مړه شوی وو داشان په یو ځائې راژوندی شول. او

دهغوئ د ژبونه بې اختیاره اووتل چه ﴿سبحانك لااله الاانت﴾ انې الله ﷻ ! ته پاك ئې،ستا نه سوا بل څوك معبودنشته دې.دا دلیل دې دقیامت دورځې،هم دې بدن سره دوباره د راپاسیدلو.

قوله تعالی:-اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْفَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَالنَّاسِ لَايَشْكُرُوْنَ

دخلقو ناشکری:-بیافرمائی چه دالله ﷻ په دې خلقو باندې ډیر احسان او فضل دې چه هغه دخپل قدرت پوره نښې اودخپل قدرت نښې ښائی.خو ددې باوجودخلق بې قدره اوناشکره دی.(۱)

ددې نه معلومه شوه چه دالله ﷻ نه سوا بل څائې دپناه نشته دې.دا خلق دوباء نه تښتیدلی وو او دژوند حریص وو اوددې خلاف عذاب کښې راګیر شو او زر هلاك شو.

د مسند یو حدیث کښې دی چه کله حضرت عمر بن خطاب ﷺ شام طرفته اووتلواو سرغ (دیوخائې نوم دې) ته اورسیدلو نو حضرت ابوعبیده بن جراح ﷺ وغیره د لښکر سردارانوسره ملاؤشو او ورته ئې اووئیل چه په شام کښې نن سبا وباء ده.نو په دې کښې اختلاف پیدا شو چه آیا هلته لاړشو اوکه نه. بالاخرحضرت عبدالرحمان بن عوف ﷺ راغلو او وې فرمائیل چه مادرسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه کله یوځائې کښې وباء راشی اوتاسوته دهغه ځائې پته اولګی نو تاسوپداسې حالت کښې هلته مه ځائې.حضرت عمرفاروق ﷺ چه واوریدل نودالله حمدوثنائې بیان کړه اوبیادهغه خائې نه ئې تشریف یوړو.(بخاری ومسلم).(۲) یو بل روایت کښې دی چه دا دالله ﷻ عذاب دې چه په مخکو امتونو باندې راغلې وو.الخ.(۳)

قوله تعالی:-وَقَاتِلُوْافِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاعْلَمُوْٓااَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ

مرګ په نیټه دې:- بیا فرمائی چه څنګه دهغه خلقو تښتې هغوئ د مرګ نه بچ نه کړې شول.داشان دجهاد نه مخ اړول هم بیکاره دی.اجل اورزق دواړه په قسمت کښې مقرر شوی دی.رزق نه زیاتیږی او نه کمیږی او مرګ نه مخکې کیږی اونه روستو کیږی.اوبل ځائې کښې ارشاد دې چه کوم خلق دالله ﷻ د لارې نه پاتې شواوکښیناستل او خپلوملګرو ته هم وائی که د جهاد شهیدان هم ځمونږ په شان پاتې شوی وې نونه به مړه کیدل.دوی ته اووایه چه لږ خودې خپلوخانونونه هم مرګ نه لرې کړی که تاسو ریښتونی یئ.بل ځائې کښې وائی چه انې الله ﷻ په مونږدې جنګ ولې فرض کړلواومونږ ته دې ولې یو وخته پورې فرصت رانکړو.نوددې په جواب کښې فرمائی چه مضبوط برج هم دمرګ په مخکې هیڅ نه دې.

په جهاد کښې مرګ ضروری نه دې:- په دې موقع داسلامی لښکر ندر سردار او دبهادرانو مشر دالله ﷻ توره او داسلام پشت پناه دابوسلیمان بن خالد بن ولید فرمان نقل کول بالکل مناسب وخت باندې به وی چه کوم دوی د انتقال نه مخکې فرمائیلې وو.چه د مرګ نه ویریدونکی،اود جنګ نه مخ اړونکی نامرد،هغوئ دې اوګوری چه زما جوړ جوړ د الله ﷻ په لار کښې زخمی شوې دې.په ټول بدن کښې مې داسې ځائې پاتې نه دې چه هغه ځائې په توره یا نیزه باندې نه وی لګیدلې.اوګوره چه څه نن په خپله بستره باندې مرګیږم په میدان جنګ کښې نه.

قوله تعالی:-مَنْ ذَاالَّذِيْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا

دالله په لار کښې د خرچ کولو حکم:- بیا پروردګار عالم خپلو بندګانو ته په خپله لار کښې دخرچ کولو ترغیب ورکوی او دا ځائې په ځائې ورکوی.حدیث نزول کښې هم دی چه څوك دی چه داسې الله ﷻ ته

---

(۱) الطبری: ٦/٢٦٦)-

(۲) احمد:۱/۱۹٤،صحیح بخاری کتاب الطب باب مایذکر فی الطاعون:۵۹۲۹،صحیح مسلم:۲۲۱۹)-

(۳) احمد:۱/۱۹۳وه صحیح بالشواهد)-

Scanned with CamScanner

قرض ورکړی چه نه مفلس دې او نه ظالم دې (۱)،

د ابو الدحداح ﷺ مال صدقه کول:- د دې آیت په باره کښې حضرت ابوالدحداح انصاری ﷺ ونیلی وو چه یارسول الله ﷺ چه آیا الله ﷻ خمونږ نه قرض غواړی.نبی کریم ﷺاوفرمائیل چه آو.وې ونیل چه ته خپل لاس راکړه.بیا ئې لاس کښې لاس واخستلو او عرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ما خپل باغ الله ﷻ ته قرض ورکړو او په دې کښې شپږ سوه د کهجورو ونې دی.او دهغه خائې نه نیغ خپل باغ ته راغلل.او بهر اودریدو او خپلې ښځې ته ئې آواز ورکړو بچی راوخله او بهر راوخه،ما دا باغ دالله ﷻ په لار کښې ورکړو.(ابن ابی حاتم).

د قرض حسنه نه مراد:- قرض حسنه نه مراد دالله ﷻ په لارکښې خرچ کول دی.او په بچو باندې خرچ کول دی.او تسبیح او تقدیس هم دی.

قوله تعالی:-فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗۤ اَضْعَافًا كَثِيْرَةً ؕ

دثواب دوچنده کول:-بیا فرمائی چه الله ﷻ به دا دوچنده اوخلور چنده زیات کړی.لکه بل خائې کښې فرمائی چه﴿ مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ ﴾ الخ یعنی دالله ﷻ لار کښې دخرچ کولو مثال دهغه دانې په شان دې چه هغې کښې اووه وړی راوخی او په هر وړی کښې اووه دانې وی او الله ﷻ چه چا دپاره غواړی زیاتوی الخ.ددې آیت تفسیر به هم عنقریب راځی انشاء الله.

یوپه دوه لاکهه اجر ملاویدل:-ابوهریره ﷺ نه ابوعثمان نهدی تپوس اوکړو چه ما آوریدلی دی چه دیو نیکئ بدله د دوه لاکهو برابرده.دوی ورته اوفرمائیل پدې کښې څه تعجب دې مادنبی کریم ﷺ نه اوریدلی دی چه د یوې نیکئ بدله یوپه دوه لاکهه باندې ملاویږی (مسند احمد) خو داحدیث غریب دې ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت ابوعثمان دی ﷺ فرمائی چه زما نه زیات به دحضرت ابوهریره په خدمت کښې هیڅوک نه وی پاتې شوی.دوی حج ته لاړل.بیا ورپسې څه هم لاړم.بصرې ته چه اورسیدو نو ما واوریدل چه هغه خلقو دحضرت ابوهریره ﷺ روایت نه پورتنې حدیث بیانوی.ما هغوئ ته اووئیل چه په الله قسم ستاسو ټولو نه څه دحضرت ابوهریره ﷺ په صحبت کښې زیات پاتې شوې یم.ما خو هیڅکله د هغوئ نه دا حدیث نه دې آوریدلې.بیا زما زړه کښې راغلل چه څه دحضرت ابوهریره ﷺ نه ددې پوښتنه اوکړم.نو څه.صرف ددې یو حدیث په خاطر مکې ته لاړم،هلته مې دوی سره ملاقات اوکړو،ما اووئیل چه دا بصرې والا ستاسو نه څنګه روایت کوی.دوی اوفرمائیل چه په دې کښې د تعجب څه خبره ده،بیا ئې هم دا آیت اولوستلو او وې فرمائیل چه دا دالله ﷻ قول اولوله.﴿ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴾ یعنی د ټولې دنیا اسباب دآخرت مقابله کښې حقیر اوګڼړئی .په الله قسم ما درسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه دیو نیکئ بدله کښې الله ﷻ دوه لاکهه نیکئ ورکوی.(۲)هم ددې مضمون په ترمذی کښې دا حدیث هم دې چه کوم سړې بازار ته لاړ شی ﴿لااله الاالله وحده لاشریك له الملك وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر﴾ اووائی نو الله ﷻ د هغه دپاره یو لاکهه نیکئ نیکی.اویولاکهه ګناهونه ئې معاف کوی.(۳)الخ.ابن ابی حاتم کښې دی چه﴿ مَثَلُ الَّذِيْنَ ﴾ الخ،والا آیت نازل شو نو نبی کریم ﷺ دعا اوکړه چه اې الله ﷻ ! زما امت لره نور زیات ورکړه.نو د﴿ مَنْ ذَا الَّذِيْ ﴾ والا آیت نازل شو. نبی کریم ﷺ هم دادعا اوکړه نو﴿ اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴾ آیت نازل شو.(۴)

---

۱) صحیح مسلم، کتاب الصلاة المسافرین باب الترغیب فی الدعاء: ۷۵۸)-

۲) ابن ابی حاتم:)-

۳) ترمذی کتاب الدعوات باب ما یقول اذا دخل السوق : ۳٤۲۸،ابن ماجة: ۲۲۳۳،)-

٤) ابن ابی حاتم :)-

Scanned with CamSc

د سورة اخلاص ثواب:- حضرت کعب احبار نه یوسړی تپوس اوکړو چه ما یو سړی نه دا اوریدلی دی چه وم سړي سورة ﴿قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ﴾ یو خل اووائی نو دده دپاره د غمو او یاقوتو لس لاکهه محلات دجنت جوړیږی آیا خه دا رښتیا اوګنړم ؟ دوی اوفرمائیل چه په دې کښې د تعجب څه خبره ده بلکه شل لاکهه دجنت محلونه جوړیږی.آیا خه دا رښتیااومنم.دوی اوفرمائیل چه په دې کښې د تعجب څه خبره ده بلکه شل لاکهو محلونه په جنت کښې جوړیږی بلکه شل لاکهه نور هم اودیرش لاکهه نور هم اودومره چه دهغې شمیر دالله ﷻ نه سوا هیچا ته معلوم نه وی،بیا دوی دا آیت تلاوت اوفرمائیلو.او وې فرمائیل چه کله الله ﷻ ﴿اَضْعَافًا كَثِيْرَةً﴾ فرمائی نو بیادامخلوق دهغې دشمیرطاقت څنګه اولری ؟

قوله تعالی:- وَاللّٰهُ يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ ۪ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ

رزق کمول او زیاتی کول:- بیافرمائی چه درزق کمې بیشې دالله ﷻ د طرفنه ده،د الله ﷻ لار کښې خرچ کولو سره بخیلی مه کوئی،چه څه درکړی په هغې کښې حکمت دې،او چه چاته ورنکړی نو په هغې کښې هم مصلحت وی،تاسو تول به دقیامت په ورځ هغه طرفته واپس کیږئی.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ۘ اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ	
آیا تا نه دې لیدلې حال دهغه سردارانو| دبنی اسراءیلو	روستو د موسی نه|کله چې اووئیل هغوئ| یو نبی خپل ته|	
اوتاپه هغې واقعې هم غور کړې دې چې موسی ﷺ نه پس دبنی اسرائیلو یودلې ته پیښه شوې وه|چې هغوئ خپل پیغمبر ته اووئیل	
لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ قَالَ هَلْ عَسَيْتُمْ	
چې مقرر کړه مونږله| یوباچا	چې جهاد اوکړو| په لارد الله کښې |اووئیل نبی|آیا داسې خوبه نۀ وی|	
مونږ دپاره یو بادشاه مقرر کړه| چې دالله پاک لار کښې جهاداوکړو| پیغمبر ورته اووئیل چې آیاداسې خوبه نه وی	
اِنْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ اَلَّا تُقَاتِلُوْا ؕ قَالُوْا وَمَا لَنَآ	
که چرې فرض کړې شی|په تاسو باندې	جهاد	اوبیا جهاد اونکړئ |اووئیل هغوئ|اوڅه شوی دی په مونږ		
چې جهاد درباندې فرض شی| اوبیا ئې تاسو اونکړې شئ| هغوئ اووئیل چې واه داڅنګه کیدیشی	
اَلَّا نُقَاتِلَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَدْ اُخْرِجْنَا مِنْ دِيَارِنَا	
چې اوبه نه کړو جهاد|په لار دالله کښې	اوحال داچې ویستلې شوی یو مونږ	دکورونو خپلو نه		
چې مونږ دالله په لار دجهاد اونه کړو| د دې باوجود چې مونږ ایستلې شوی یو دخپل وطن	
وَاَبْنَآئِنَا ؕ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ تَوَلَّوْا اِلَّا	
اودخامنو خپلو نه|خو چې کله|فرض کړې شو|په هغوئ باندې|جنګ |انو پشا شول (تول)	سوا		
اوبال بچ نه	خوچې جهاد پرې فرض کړې شو نوروتولو ورته شاکړه	بغیرد	
قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝	
دلږو کسانو	دهغوئ نه |او الله	پیژنی| داسې ظالمان| اواوو		
یوڅوکسانونه| اوالله پاک هغه کسان ډیرښه پیژنی چې په خان ظلم کوی|	

قوله تعالی:- اَلَمْ تَرَ اِلَى الْمَلَاِ مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنْۢ بَعْدِ مُوْسٰى ۘ اِذْ قَالُوْا لِنَبِيٍّ لَّهُمُ ابْعَثْ لَنَا مَلِكًا نُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

د یو پیغمبر واقعه:- چه دکوم نبی ﷺ دلته ذکر دي دهغه نوم حضرت قتاده رحمه الله یوشع بن نون بن افرائم بن یوسف بن یعقوب علیهم السلام خودلي شوي دي.لیکن داقول صحیح نه معلومیږي.ځکه چه دا واقعه دحضرت موسی ﷺ نه پس دحضرت داود ﷺ د زمانې ده.لکه څنګه چه صراحت سره منقول دی اودحضرت داود ﷺ اوحضرت موسی ﷺ په مینځ کښې زروکالونه زیاته فاصله ده.والله اعلم.د سدی قول دي چه دا پیغمبر حضرت شمعون ﷺ دي.(۱) مجاهد رحمه الله وائی چه دا شمویل بن یاپالی بن علقمه بن صفیه بن علقمه بن ابو هاشف بن قارون بن یصهر بن فاحث بن لاوی بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم خلیل الله دي.

د بنی اسرائیلو ګمراه کیدل او مغلوبه کیدل:- قصه څه دا رنګ ده چه دحضرت موسی ﷺ نه پس بنی اسرائیل څه وخته پورې په حق لار روان وو.بیا په شرك او بدعت کښې اخته شو.مګر بیا هم دوی ته پرله پسې نبیان علیهم السلام راتلل تر دي پورې چه دبنی اسرائیل بې باکئ د حده زیاتې شوې.اوس الله ﷻ ددوی دښمنان په دوی باندې غالب کړل.ډیر وهل ئې اوخوړل او در په دیکې شو.اول د توراة موجودګی او د تابوت د سکینه موجودګی چه کوم دحضرت موسی ﷺ نه دوی ته وراثت کښې ملاؤ شوې وو،ددوی دپاره دغلبې باعث جوړشوې وو،خو ددوی دسرکشئ او د بدترین ګناهونوپه وجه الله ﷻ ددوی نه دانعمت واخستلو اوددوی د کورنئ نه نبوت هم ختم کړې شو.

د شمعون ﷺ پیدائش:- دلاوی کوم اولادکښې چه نبوت راروان وو،هغه ټول په ټوله په جنګونوکښې ختم شو.په دوی کښې صرف یو حامله ښځه پاتې شوې وه.ددې خاوند هم قتل شوې وو.اوس د بنی اسرائیلو نظرونه په دې ښځه باندې وو.ددوی خواهش وو چه الله ﷻ دې ته هلك ورکړی اوهغه هلك نبی جوړ شی.پخپله به دې ښځې هم شپه ورځ دا دعا کوله اوالله ﷻ هغه دعا قبوله کړه او دې ته ئې هلك ورکړو او دده نوم شمویل یا شمعون وو.ددې معنی ده چه الله ﷻ زما دعا قبوله کړه.دنبوت عمر ته په رسیدو الله ﷻ ده ته نبوت ورکړو.

د بادشاه مقرر کولو مطالبه:- هرکله چه دوی دنبوت اعلان اوکړو نو قوم دده نه مطالبه اوکړه چه تاسو مونږ لره یو بادشاه مقرر کړئ چه دهغه په نګرانئ کښې جهاد اوکړو.بادشاه خو ښکاره شوې وو لیکن پیغمبر ورته خپل تریخ بیان اوکړو چه هسې نه ټاسو د جهاد نه انکاری شئ.قوم ورته جواب ورکړو چه زمونږ نه زمونږ ملك اخستې شوې دي،زمونږ بچی ګرفتار کړې شوی دی.اوبیا به هم مونږ داسې بې غیرتی کوؤ او د مرګ نه به ویریږو.نو جهاد فرض شو او حکم اوشو چه ددې بادشاه په نګرانئ کښې (جهاد ته تیار شئ) په دې آوریدو سره دوی حق دق شو او سوا د څه خلقو نه باقی ټولو مخ واړولو او دا څه نوې خبره نه وه چه ددې الله ﷻ ته علم نه وو.

وَقَالَ	لَهُمْ	نَبِيُّهُمْ						
او	اووئیل	هغوئ ته	پیغمبر دهغوئ					
اودهغوئ خپل پیغمبرورته اووئیل								
إِنَّ اللَّهَ	قَدْ بَعَثَ	لَكُمْ	طَالُوتَ	مَلِكًا	قَالُوا	أَنَّىٰ يَكُونُ		
بیشکه چی الله	مقرر کړې دي	ستاسو دپاره	طالوت لره	باچا	اووئیل هغوئ	څه رنګ به وی		
چې الله پاک طالوت ستاسوبادشاه مقرر کړې دي دوئ اووئیل چې هائې داڅه وائې هغه کله								

(۱) الطبری: ۲/۲۸۳)-

لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ اَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ

ده لره| باچاهی |په مونږ باندې| حال دا چې مونږ |زیات حقدار یو |په باچاهئ سره | دهغه نه|
په مونږ بادشاهی کولې شی |.....دهغه نه خومونږزیات دبادشاهئ حقدار یو

وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ؕ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىهُ عَلَيْكُمْ

اونه ده ورکړې شوی هغه ته|فراخی | د مال نه| اوونیل پیغمبر |بیشکه الله| غوره کړې دې هغه |په تاسو باندې
اوهغه خویومالدار سړې هم نه دې | پیغمبر ورته اووئیل چې الله پاک ستاسوپه مقابله هغه مقرر کړې دې

وَزَادَهٗ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ؕ وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ

او زیات کړې ئې دې هغه لره|په فراحئ سره|په علم کښې |او په بدن کښې | او الله| ورکوی |باچاهی خپله
اوپه علم اوجسم دواړو کښې ئې برکړې دې |اودالله پاک اختیاردې چې خپل حکومت

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۴۷﴾ وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ

هغه چاته چې خوښ ئې شی| او الله |فراخه دې (فضل دهغه) |پو هه دې| او اوونیل|هغوئ ته | نبی دهغوئ چې نښه
چاته غواړی هغه ته ئې سپاری |هغه دوسعتونو مالک دې |اوپه هرڅهٔ ښهٔ پوهیږی |دهغوئ پیغمبرورته اووئیل چې نښهٔ

مُلْكِهٖۤ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

دباچاکیدودهغه|داده) چې رابه شی تاسو ته| هغه صندوق |چې په هغې کښې|د زړهٔ اطمینان دې| دطرفه درب ستاسو
د(طالوت د)حکومت داده| چې هغه صندوق به ورته واپس راشی چې په هغې کښې دالله پاک دطرفه د اطمینان سامان پروت دې

وَبَقِيَّةٌ مِّمَّا تَرَكَ اٰلُ مُوْسٰى وَاٰلُ هٰرُوْنَ تَحْمِلُهُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ اِنَّ

او باقی پاتی|هغه څیزونه|چې پرینبودی وو| آل موسی | او آل دهارون |راوړی به هغه| فرښتې | بیشکه چې
اوپه کښې دموسی اودهارون علیهما السلام داولاد پاتې شوی تبرکات پراته دی |اوهغه دفرښتو په حفاظت کښې دی

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۴۸﴾

په دې کښې|نښه ده| ستاسو دپاره|که یئ تاسو مومنان| |
داستاسودپاره(دطالوت دبادشاهئ)یوځرګنده نښه ده که تاسو په رښتیا مومنان یئ|

قوله تعالی:-وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اللّٰهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوْتَ مَلِكًا ؕ

دبادشاه تقرری :-مطلب دادې چه کله دبادشاه جوړیدو خواهش ئې اوکړواودا ئې خپل پیغمبرته اووئیل ،نوپیغمبرد الله ﷺ په حکم سره طالوت پیش کړو چه دده تعلق شاهی خاندان سره نه وو بلکه یو لښکری وو.شاهی خاندان د یهودا وو.او دده تعلق دهغې نه نه وو.نوقوم پرې اعتراض اوکړو چه دده نه مونږ زیات د بادشاهت حقدار یو.بیا بله خبره داده چه ده سره مال هم نشته دې او یو غریب دې.بعضې وائی چه دې اوبه څکونکئ وو،چا وئیلی دی چه ده به باغ ښکلې کولو یعنی مالی وو.نو د نبی د حکم نه ددوی رومبئ سرکشی داعتراض په صورت کښې وه.پیغمبر دوی ته جواب ورکړو چه دا مقررتیا زما د طرف نه نه ده چه په دې کښې به دوباره غور اوکړم،دا خو د الله ﷺ حکم دې.اوددې پوره کول ضروری دی.بیاظاهره کښې خوهغه تاسو کښې لوئې عالم اوطاقتورانسان دې.او ښکلې او شجاع دې.او جنګی

طریقو نه هم واقف دي.دلته هم دا ثابته شوه چه د بادشاهئ دپاره د قوت او طاقتور او لوئي زړه او دماغو والا پکار دي.

قوله تعالى:-وَاللّٰهُ يُؤْتِيْ مُلْكَهٗ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ

د بادشاهئ ورکړه د الله ده :-بيا فرمائي چه اصلي او حقيقي مالک الله ﷻ دي.د ملك حقيقي مالك هم هغه پاك ذات دي.چه چا ته اوغواړي نو ملك ورکوي او چه چاته اوغواړي نو حكمت وركوي او هغه رحمت والا دي.دچا مجال دي چه هغه لوئي ذات نه تپوس اوکړي،چه څه غواړي کوي،دتولو نه تپوس کونکي څوك نه څوك شته دي.خو پروردګار ددي نه مستثنى دي.هغه ذات د لوئي فضل مالک دي او د خپلو نعمتونه چه چاته وركوي نوهغه ددي دپاره مخصوص کوي،هغه ذات علم والا دي ښه په هر څه پوهه ذات دي چه څوك دكوم يوځيز مستحق دي او څوك مستحق نه دي.

قوله تعالى:-وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ اِنَّ اٰيَةَ مُلْكِهٖٓ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ التَّابُوْتُ فِيْهِ سَكِيْنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

دسكينه نه مراد :- نبى (شمويل يا شمعون) ﷺ فرمائي چه د طالوت د بادشاهت رومبى د بركت نښه دا ده چه تاسو ته به ورك شوې تابوت سكينه ملاوٌ شى چه په هغې كښې به وقار او عزت اوجلالت او رحمت وى.په هغې كښې دالله ﷻ نښې دى اوتاسو دا ښه پيژنئى.①دبعضو قول دي چه سكينه د سرو يو ركيبئ وه.چه په هغې كښې به دنبيانو عليهم السلام زړونه مبارك وينځلې شو اودا حضرت موسى ﷺ ته ملاوٌ شوې وو.او په دې كښې دتورات تختې وې.② چا ونيلى دى چه ددې خله هم وه لكه څنګه چه دانسان خوله وى.او روح هم وو.اوهواهم وه.دوه وزرې ئې وې.اولكئ هم وه.③ وهب وائى چه د مړې پشو سر وو پكښې.هركله چه به هغې د تابوت نه خبرې اوكړې نو دوى ته به د نصرت يقين اوشو او جنګ كښې به ورته فتح نصيب شوه.④ دا قول هم دي چه يو روح وو چه دالله ﷻ طرفنه،كله چه به بنى اسرائيلو كښې اختلاف پيدا شو په څه خبره باندې او دوى ته به اطلاع نه وه نو دي به خبرې كولې.دحضرت موسى ﷺ اوحضرت هارون ﷺ دباقى وراثت نه مراد لرګې او دتورات تختې او مالوچ او څه كپړې او پيزار وو.

د تابوت تفصيل:- حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائى چه فرښتو د زمكې او آسمان په مينځ كښې دا تابوت نيولى وو اوطالوت بادشاه ته ئې مخكښې كړو،ددې تابوت په كتلو سره هغوى ته د نبى د نبوت او دطالوت د بادشاهت يقين اوشو.دا هم وئيلې شى چه دا د غوا دپاسه راوړلې شو.بعضې وائى چه كفارو كله يهوديانو باندې غلبه اوكړه نو دوى نه تابوت سكينه واخستلې شو.او اريحان ته يوړو.او دخپل لوئي بت شاته ئې كيخودو.هركله چه الله ﷻ دا بنى اسرائيلو ته واپس كول غوښتل نو بيا كفار ئې دسحرپه وخت كښې بت خانې ته بوتلل نو وې كتل چه بت لاندې پروت دي او تابوت پرې دپاسه دي.هغوى بيا بت دپاسه كړو ليكن په بل سحر ئې اوكتل چه بيا هم هغه معامله ده،دوى بيا بت پاس كړو.سحر چه كله لاړل نو وې كتل چه بت يو طرفته مات پروت دي.نو يقين ورته اوشو چه دا دالله ﷻ كرشمې دى.نو دوى داتابوت اوچت كړو او يو بل كلى ته ئې يوړو او هلته ئې كيخودو.هغه خائې كښې يو وبائى مرض خور شو،د بنى اسرائيلو يو ښځه هغه خائې كښې قيد وه،هغې دوى ته اووئيل چه دا واپس هغه خائې ته يوسئ.نو تاسو ته به ددې خبرې نه نجات ملاوٌ شى.دې خلقو په دوؤ غواګانو باندې تابوت كيخودو او واپس ئې بنى اسرائيلو ته اوليږلو،ښار ته نزدې په رسيدو غواګانو رسنى اوشلولې اواوتښتيدې.او تابوت هم هغه خائې كښې پاتې شو چه كوم بنى اسرائيلو راوړو.بعضې وائى چه دا دوؤ خوانانو اورسولو.والله اعلم.(ليكن دقران پاك په الفاظو كښې دا موجود دى چه دا فرښتو راوړې وو.مترجم) دا هم وئيلې شوى دى چه دا د فلسطين يو كلى كښې وو او دهغې نوم ازدوه وو.

قوله تعالى:-اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ

Scanned with CamSc

د نبوت او بادشاهت دليل:- بيا فرمائي چه زما د نبوت دليل او د طالوت بادشاه دليل هم دي چه تابوت به فرښتي راوړي، که تاسو په الله ﷻ او د قيامت په ورځ يقين لرئي.

فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ
بياچي كله روان شو طالوت
اوبياهر كله چي طالوت روان شو
بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ
د لښكر سره انو وي وئيل چي الله امتحان كونكي دي ستاسو په يو درياب سره انوهغه چاچي اوڅكلي اوبه اد هغي نه
د لښكرو سره انو اعلان ني اوكړو چي الله پاك ديونهر په ذريعه ستاسو امتحان اخلي اچا چي دهغه درياب نه اوبه اوڅكي
فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَطْعَمْهُ فَاِنَّهٗ مِنِّيْٓ اِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ
نو نه دي ملګري زما او هغه چاچي اونه څكلي اوبه نو هغه ملګري دي زما امګر هغه څوك چي وي څكلي
نوهغه زما ملګري نه دي اوچا چي دغه اوبه اونه څكلي انو هغه زما ملګري دي امګر هغه څوك چي يو چونګ
غُرْفَةً ۢ بِيَدِهٖ ۚ فَشَرِبُوْا مِنْهُ
يوه لپه اپه لاس خپل سره (هغه زما د ملګرتيا نه اوځي) اخواوڅكلي هغوئ ټولو په مړه خيټه اد هغي درياب نه
په خپل لاس سره اوبه اوڅكي..... نودبو څوكسانو نه علاوه باقي نورو ټولو د هغي
اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ ؕ فَلَمَّا جَاوَزَهٗ هُوَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
ما سوا دلږوكسانو اد هغوئ نه انوكله چي اپوري وتو دهغه درياب نه اهغه او هغه كسان اچي ايمان ني راوړي وو
نه اوبه اوڅكلي ا.....كله چي هغه اودهغه ايماندار ملګري د درياب نه تير شول
مَعَهٗ ۙ قَالُوْا لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ ؕ قَالَ
دهغه سره اووئيل هغوئ نشته طاقت زمونږ انن ورځ اد (مقابلي) جالوت اودلښكر دهغه سره اووئيل
.....نو هغوئ اووئيل نن خومونږ كښي د جالوت اودهغه لښكر سره دمقابلي طاقت نشته اوهغه
الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ ۙ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ
هغه كسانو اچي يقين ني وو (په دي) اچي هغوئ امخامخ كيدونكي دي دالله سره اډير څله ډله
كسانوچي په دي خبره پوهه وو چي دالله سره به مخامخ كيږو اووئيل.....چي ډير كم كرته
قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةًۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ۝
لږه اغالب شوي ده اپه ډله لويه باندي اپه حكم دالله سره او الله املګري دي اد صبرناكو خلقو
وړه ډله د الله په حكم سره په لويه ډله باندي غالبه شوي ده ا.....او الله پاك د صبر كونكو ملګري دي

قوله تعالى:- فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوْتُ بِالْجُنُوْدِ ۙ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ مُبْتَلِيْكُمْ بِنَهَرٍ ۚ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّيْ ۚ

د نهر نه د اوبو نه څكلو امتحان:- اوس واقعه بيانيږي چه كله دي خلقو د طالوت بادشاهت قبول كړو او هغوى دوى جهاد ته بوتلل. د حضرت سعدى رحمه الله دقول مطابق د دوى تعداد اتيا زره وو.(۱) په لار كښي

(۱) الطبرى: ۵/۳۴۰)-

طالوت اووئيل چه الله ﷻ ستاسو ازميښت په يو نهر سره کوی.دحضرت عبدالله ابن عباس ﷺ دقول مطابق دانهردارد ن اوفلسطين په مينځ کښې وو.(۱)ددې نهر نوم الشريعه وو.طالوت دوی هوښيار کړل چه ددې نهراوبه مه څکئ.او که چا اوڅکلې نو ماسره دې نه ځی.که چا يو ګوټ نيم اوڅکلی نو هيڅ باك نشته دې.خوهرکله چه هلته اورسيدل نوډيرتږی وو،په نهر ورپريوتل او ښه ډيرې اوبه ئې اوڅکلې خوډيرلږ خلق داسې پوخ ايمان والا وو چه هغوی اوبه اونه څکلې خو يو يو لپه.د حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ دقول مطابق ديو لپې څکلو والو تنده ماته شوه اوهغوی په جهاد کښې شريك شو.او چه کومو ښه ډهرې اوبه څکلې وې دهغوی تنده نه ماتيده او نه هغوی په جهاد کښې شريك شو.حضرت سدی رحمه الله فرمائی چه په اتياؤ زرو کښې شپږ اويا زرو اوبه اوڅکلې او صرف څلورو زرو سړو اوبه اونه څکلې او فرمانبردار جوړ شو.

قوله تعالی:-قَالَ الَّذِيْنَ يَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةًۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

د عالمانو نصيحت:- حضرت براء بن عازب ﷺ فرمائی چه د حضرت نبی کريم ﷺ اصحابو ﷺ به اکثر فرمائيل چه دبدر په ورځ زمونږ شمير هغه هومره وو چه څومره شمير د حضرت طالوت بادشاه اودهغه دفرمانبردارو وو چه هغوی سره نهر نه پورې وتلی وو(۲)يعنی درې سوه ديارلس (۳۱۳).ددې خانې نه پورې وتل دې نافرمانو ډير زياتې اوکړو او دوی ډير په بزدلانه فعل سره د جهاد نه انکار اوکړو.او د دښمن زيات شمير ددوی حوصلې ماتې کړې اوصفا جواب ئې ورکړو چه نن خوپه مونږ کښې دجالوت لښکر سره د جنګ کولو طاقت نشته دې.اګر چه دوی ته علماء ډيرې د همت وعظ او حوصلې خبرې ورکړې او ورته ئې اوفرمائيل چه په قلت او کثرت باندې فتح موقوف نه ده،په صبر اونيك نيتئ باندې ضرور دالله ﷻ مدد ملاويږی.ډير ځل داسې شوی دی چه يو موټئ خلقو لويولويو جماعتونه (ډلې)راپرزولې دی.تاسوصبر اوکړئی اوپه طبيعت کښې استقلال راولئ او عزم اوساتئ دالله ﷻ په وعدو باندې،ددې صبر په بدله کښې به الله ﷻ تاسو سره مدد اوکړی،خو دهغوی کلك زړونه نرم نشو او دهغوی بزدلی لرې نشوه.

وَلَمَّا	بَرَزُوْا	لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ	قَالُوْا	رَبَّنَآ اَفْرِغْ
او کله چې	اووتل مقابلې ته	دجالوت او دلښکر	دهغه سره	انو وې وئيل
اوهرکله چې	هغوئ دجالوت	اودهغه دلښکر	مقابلې ته	راووتل
عَلَيْنَا	صَبْرًا وَّثَبِّتْ	اَقْدَامَنَا	وَانْصُرْنَا	عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝
په مونږ باند	صبر	او کلك کړه	قدمونه زمونږ	او مدد اوکړه زمونږ سره
مونږ له ډير صبر	راکړه	اوزمونږ قدمونه	مضبوط کړه	اود کافروپه مقابله کښې زمونږ مدد اوکړې
فَهَزَمُوْهُمْ	بِاِذْنِ اللّٰهِ ۙ	وَقَتَلَ دَاوٗدُ	جَالُوْتَ	وَاٰتٰىهُ اللّٰهُ
نو مسلمانانو	ماتې ورکړه	هغوئ ته	په حکم دالله	او قتل کړو
نود الله په	حکم ئې هغوئ	اوتښتول	اوداود عليه السلام	جالوت لره

خلاف د کافر قوم
خو دهغوی کلك زړونه نرم نشو او دهغوی بزدلی لرې نشوه
داؤد جالوت لره او ورکړه هغه ته الله
مړکړو.....اوالله پاك حضرت

(۱) صحيح بخاری،کتاب المغازی باب عدة اصحاب بدر: ۳۹۵۷)-
(۲) ابن جرير وسنده جدا)-

Scanned with CamSc

الْمُلْكَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهٗ مِمَّا يَشَآءُ ؕ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ
باچاهی	او حکمت	اووي ښودل هغه ته	هغه څه چې غوښتل الله	او که چرې نه وي ختمول دالله
داؤد ﷺ ته بادشاهي او حکمت اوچې څه ئې مناسب ګڼړل هغه ورکړل	اوکه الله بعضې خلق د بعضې
النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ
خلقو لره|بعضې دهغوئ نه |په بعضې نور سره	نو خامخا خراب شوي ووا| نظام دزمکې|ليکن	الله
نورو خلقو په لاس نه دفع کول |.....نو دزمکې انتظام به خراب شوي ووا|خو الله پاک
ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۝ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ؕ
خاوند دفضل دي| په خلقو باندې	دا آيتونو دالله دي| چې مونږ ئې اور وو	تاته	په حقه سره
په خپل مخلوق ډيرزيات مهربان دي(چې دامن انتظام ورله کوي)|دادالله آيتونه دي چې مونږ ئې تاسوته په حقه بيانوو
وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝
اوبيشکه ته	د رسولا نوڅنې ئې	
اوبيشکه ته دپيغمبرانو نه (يولوئې)پيغمبر ئې	

وَلَمَّا بَرَزُوْا لِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ قَالُوْا رَبَّنَآ اَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّثَبِّتْ اَقْدَامَنَا

د حضرت داود ﷺ د لاسه د جالوت مرګ :- يعنى چه کوم وخت کښې دمسلمانانو دې مختصر جماعت دکفارو غټ لښکر اوکتلو نو دالله ﷻ په دربار کښې ئې عرض اوکړو چه ائې الله ﷻ مونږته صبر نصيب کړه او مونږ ثابت قدم کړه.اود جنګ په وخت کښې زمونږ قدمونه مضبوط کړې.دمخ اړولو او تيښتې نه مونږ اوساتې،او په دې دښمنانو باندې مونږ غالب کړې.ددوى دا عاجزانه اومخلصانه دعاګانې قبليږى او دالله ﷻ مدد نازليږى او دمسلمانانو دا يوموټئ جماعت هغه لوئې لښکر تهس نهس کوى.او دحضرت داود ﷺ دلاسه د مخالفو سردار جالوت اووژلې شى.اسرائيلى روايتونو کښې دا هم روايت دى چه حضرت طالوت ﷺ دوى سره وعده کړې وه که تاسو جالوت لره قتل کړئى نو څه به تاسو ته خپله لور په نکاح کړم.او خپل نيم مال به تاسو ته درکړم.او په حکومت کښې به مو هم شريک کړم.نو حضرت داود ﷺ کانړئى په مچونړه کښې کيخودو او جالوت طرفته ئې اوويشتلو او هم په دې هغه مړ شو.حضرت طالوت ﷺ خپله وعده پورا کړه اوبالآخر د سلطنت مستقل بادشاه هم دوى شو.او دالله ﷻ دطرفنه هم ورته نبوت غوندې لوئې نعمت ملاؤ شو.اودحضرت شموئيل ﷺ نه پس دوى پيغمبر اوبادشاه جوړشو.دحکمت نه مراد نبوت دې.اودې خاص علوم هم چه کوم الله ﷻ غوښتل او خپل نبى ته ئې اوخودل.

قوله تعالى:- وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ ذُوْ فَضْلٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ

د جهاد د فرضيت حکمت:- بيا ارشاد فرمائى که الله ﷻ داشان د لاندې خلقو حالت نه بدلولې لکه څنګه چه د بنى اسرائيلو طالوت غوندې جابر او مدبر بادشاه او د حضرت داود ﷺ پشان دلير سپه سالار ورکړل او بدلون ئې راوستلو او که داسې ئې نه کولې نو خلق به هلاک شوى وو.بل ځائې کښې ارشاد دى چه ﴿ وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ وَّمَسٰجِدُ يُذْكَرُ فِيْهَا اسْمُ اللّٰهِ كَثِيْرًا ؕ ﴾ يعنى که داسې دبل لرې کول نه وې نوعبادت خانې او هغه مسجدونه چه په هغې کښې د الله ﷻ نوم په کثرت سره اخستې شى مات کړى شوى وې).

Scanned with CamScanner

د نیک انسان برکت:- حضرت رسول اکرم ﷺ فرمائی چه دیونیك بخت ایماندار په وجه دده چاپیر چل کښې الله ﷻ دسلو سلو کورونو نه مصیبتونه لرې کوی.بیا راوی حضرت عبدالله بن عمر ﷺ هم ددې آیت مبارك تلاوت اوکړو.(ابن ماجه) لیکن ددې حدیث سند ضعیف دې.دابن جریر یو بل غریب روایت کښې دی چه الله ﷻ دیو ریښتونی مسلمان په وجه ده او د اولاد،اولاد او د ده کور واله اود ده چاپیر چل کورونه ښائسته کوی او دده تر موجودګئ پورې هغوی دالله ﷻ په حفاظت کښې وی.

د ابن مردویه یو روایت کښې دی چه قیامته پورې به تاسو کښې اووۀ کسان ضرور داسې وی چه دهغوی په وجه به تاسو سره مددکیږی اوپه تاسویه باران کیږی او تاسو ته به روزی ملاویږی.د ابن مردویه په یوبل روایت کښې دی چه زما په امت کښې به دیرش ابدال وی چه دهغوی په وجه به تاسو ته روزئی ملاویږی،تاسو باندې به بارانونه ورولې شی او ستاسو مدد به کولې شی.داحدیث قتاده رحمه الله بیان کړې دې او فرمائی چه زما خیال دې چه حضرت حسن ﷺ هم ددغې ابدالو نه وو.

قوله تعالی:- تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۭ وَاِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ

د نبی د رسالت حقانیت:- بیافرمائی چه اې الله ﷻ دا نعمت او ستا احسان دې چه هغه یو په بل سره دفع کوی.هم هغه ذات ریښتونې دې او دهغه پاك ذات ټول کارونه د حکمت دی.هغه خپل دلیلونه په خپلو بندګانو باندې واضح کوی.هغه پاك ذات په ټول مخلوق باندې فضل او رحم کوی.دا ټول واقعات او دا ټولې حق خبرې اې نبی صرف زمونږ د وحی په ذریعه تاته معلومې شوې.ته زما ریښتونې رسول ئې،زما ددې خبرو او پخپله ستا دنبوت ریښتینوالی علم هغه خلقوته هم دې چه د چا په لاس کښې کتاب دې.دلته الله ﷻ ډیر په تاکیدسره قسم خوری او دخپل نبی د نبوت تصدیق کوی.

الحمدلله د دویمې پارې تفسیر ختم شو

تِلْكَ الرُّسُلُ	فَضَّلْنَا	بَعْضَهُمْ	عَلٰى بَعْضٍ ۘ	مِنْهُمْ	مَّنْ
دغه رسولان	فضیلت ورکړې وو مونږ	بعضو دهغوئ نه	په بعضو باندې	دهغوئ	هغه خوک دی
داپیغمبران داسې دی چې مونږ دوئ له دیوبل نه اوچتې مرتبې ورکړی دی					
كَلَّمَ اللّٰهُ	وَرَفَعَ	بَعْضَهُمْ	دَرَجٰتٍ ۭ	وَاٰتَيْنَا	
چې خبری کړی دی الله دهغوئ سره	اوپورته ئې کړل	بعضې دهغوئ	په درجوسره	اوورکړې مونږه	
الله پاك چاسره خبرې کړی دی	اوچاله ئې په بل شان	اوچتې مرتبې ورکړی دی		اوورکړی دی مونږ	
عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ	الْبَيِّنٰتِ	وَاَيَّدْنٰهُ	بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۭ	وَلَوْ	شَاۗءَ اللّٰهُ
عیسی	خوئ	دمریم ته	ښکاره نښې	اوقوی کړو مونږه هغه	په پاك روح
او که چری	غوښتلې الله	دبی بی مریم خوئې عیسی علیه السلام ته څرګنده نښې		اوپه پاك روح سره موهغه مضبوط کړې وو	
او که الله ته منظور وې					
مَا اقْتَتَلَ	الَّذِيْنَ	مِنْۢ بَعْدِ	هِمْ	مِّنْۢ بَعْدِ مَا	جَاۗءَتْهُمُ
نه به ووځ کړې جنګ	اهغه کسانو	اچی روستو	ددې	نه ووا	پس دهغې نه
اچی راغلې وې هغوئ ته					
نودهغوئ نه پس خلقو به ددې څرګندو نښو		داراتلونه	پس	په کور جنګونه کولې	
الْبَيِّنٰتُ	وَلٰكِنِ	اخْتَلَفُوْا	فَمِنْهُمْ	مَّنْ	اٰمَنَ
روښانه نښې	لیکن	اهغوئ اختلاف اوکړو	انو بعضې دهغوئ نه	اهغه څوك دی	اچی ایمان ئی راوړو
.....خوالله پاك په چا جبرنه کوی		نودوئ جدا جدا شو		چاپه کښې	

Scanned with CamScanner

وَمِنْهُمْ	مَّنْ	كَفَرَ ؕ	وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ	مَا اقْتَتَلُوْا ۪
او بعضي دهغوئ نه	اهغه څوك دي	چې دكفر لارئ اختيار كړه	او كه غوښتلې الله	انو هيڅرې به نۀ جنګيدلې
كښې ايمان راوړ	اوچا په كښې كفر خوښ كړو	اوكه الله پاك	ته دا منظور نودوئ	به جنګونه نه كول
وَلٰكِنَّ اللّٰهَ	يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ۝ ع			
ليكن	الله	كوى هغه كار چې غواړى		
خو الله تعالى چې څه	غواړى هغه	كوى		

قوله تعالى:- فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ

د نبيانو عليهم السلام درجات :-دلته دا بيان كيږى چې رسولانوكښې هم د مرتبو په لحاظ فرق وو.لكه بل ځاني كښې فرمائى چې ﴿وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيّٖنَ عَلٰى بَعْضٍ وَّاٰتَيْنَا دَاوٗدَ زَبُوْرًا﴾ مونږ بعضو نبيانو ته په بعضو نوروباندې فضيلت وركړو.او داود عليه السلام ته مونږ زبور وركړو.دلته هم ددې بيان دې.په دوى كښې بعضې داسې هم دى چې هغوئ سره مونږ خبرې هم كړې دى.لكه موسى عليه السلام او محمد ﷺ او آدم عليه السلام .

صحيح ابن حبان يو حديث مبارك كښې نقل كړې دى چې په هغې كښې د معراج بيان سره دا هم وارد شوى دى چې دكوم يو نبى سره د نبى كريم ﷺ په كوم آسمان كښې ملاقات اوشو.او دا د هغوئ د مرتبو د كم و بيش دليل دې.

اويو حديث كښې دى چې د يومسلمان او يو يهودى څه خبرې اترې اوشوې.نو هغه يهودى اووئيل چې قسم په هغه الله ﷻ چې هغه پاك ذات موسى عليه السلام ته په ټول جهان فضيلت وركړو.مسلمان دا برداشت نۀ كړې شو اوهغۀ ئې يو څپيړه اووهلو او وې وئيل چې انې خبيثه،آيا زمونږ نبى محمد ﷺ نه هم هغه افضل دې؟.هغه يهودى نبى كريم ﷺ ته ددې شكايت اوكړو.نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې ماته په نبيانو باندې فضيلت مۀ راكوئ د قيامت په ورځ به ټول بې هوشه شى.د ټولو نه مخكښې به زۀ هوش كښې رازم.نو زۀ به ګورم چې موسى عليه السلام به د الله ﷻ دعرش پښه نيولې وى.ماته معلوم نۀ دى چې هغه زما نه مخكښې هوش كښې راغلو.يا هډو بې هوشه شوې نۀ وو.او د كوه طور د بې هوشئ بدله كښې ددې خاني د بې هوشئ نه بچ كړې شو.نوماته په نبيانو عليهم السلام باندې فضيلت مۀ راكوئ.(۱)

د تعارض شبه:- يو بل روايت كښې دى چې د پيغمبرانو مينځ كښې ماته فضيلت مۀ راكوئ.(۲) نو دا حديث په ظاهره د قرآن پاك د دې آيت خلاف معلوميږى،

دلائل د پاره د دفع د تعارض:-①ليكن دراصل څه تعارض نشته.ممكن دى چې د نبى كريم ﷺ دا فرمان ددې نه مخكښې وو چې كله نبى كريم ﷺ ته د فضيلت علم شوې وو.خو دا قول لږ د فكر قابل دى.

②دويم جواب دادې چې نبى كريم ﷺ دا صرف د تواضع اوعاجزئ په وجه وئيلى وو د حقيقت په طور نه

③دريم جواب دادې چې داسې جګړې،اختلافات او يو ته په بل باندې فضيلت وركول د بل شان كمول دى.ددې وجې نبى كريم ﷺ منع فرمائيلى وو.

④څلورم جواب دادې چې تاسو ورته فضيلت مۀ وركوئ يعنى خپلې رائې،خپل خيال اوخپل ذهنى تعصب سره خپل نبى عليه السلام ته په بل نبى فضيلت مۀ وركوئ.

⑤پنځم جواب دادې چې دفضيلت اوتكريم فيصله ستاسو بس كښې نۀ ده.بلكه داد الله ﷻ د طرفنه ده.چې هغه پاك ذات چاته فضيلت وركوى نوتاسو هغۀ اومنئ ،ستاسو كار منل او ايمان راوړل دى.

---

(۱) صحيح بخارى كتاب احاديث انبياء باب قول الله تعالى (وان يونس لمن المرسلين) : ۳۴۱۴، صحيح مسلم: ۲۳۷۳-

(۲) ايضا-

قوله تعالى:-وَاٰتَيْنَا عِيْسَى

ذکر د خاص پس د عام نه:-بیا فرمائ چې مونږ عیسی ﷺ ته واضح دلیلونه او داسې حجتونه ورکړې وو چې د هغې په ذریعه بنی اسرائیلو ته دا خبره ښه صفا واضحه شوه چې د نبی کریم ﷺ رسالت بالکل ربښتونې دې.او دا حقیقت هم په بنی اسرائیلو باندې ښه واضحه شو چې عیسی ﷺ هم نورو بندګانو پشان د الله ﷻ یو عاجزه بنده او بې وسه غلام دی.او د روح القدس یعنی جبرائیل ﷺ په ذریعه مونږ د دوی امداد اوکړو بیافرمائی چې د روستو خلقو اختلافات هم زمونږ د ﷻ فیصلې او د تقدیر یوه نمونه ده او زمونږ شان دادې چې څه غواړو کوؤ،زمونږ د څه ارادې نه جدا مراد نه دی.

د مشرکانو د شفاعت د تصور تردید

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا					
ای هغه کسانو	چی ایمان مو راوړې دې					
.....ائې مسلمانانو.....						
اَنْفِقُوْا	مِمَّا	رَزَقْنٰكُمْ	مِّنْ قَبْلِ	اَنْ	يَّاْتِيَ	يَوْمٌ	لَّا
خرچ کړئ	دهغه مال نه	چی درکړې دې مونږه تاسوته	مخکښې	اددې نه	چی راشی	هغه ورځ	چی نۀ به وی	
مونږ چې کوم مال متاع درکړې ده |دهغې نه خیراتونه ورکړئ	مخکښې ددینه چې هغه ورځ راشی					
بَيْعٌ	فِيْهِ	وَلَا خُلَّةٌ	وَّلَا شَفَاعَةٌ ؕ	وَالْكٰفِرُوْنَ			
اغستل خرڅول	په هغې کښې	اونۀ به دوستی پکار	راخی	او نۀ به سفارش چلیږی	او کافران خلق		
چې نه په کښې دمال اخستل ځرڅول وی	اونه به دوستی وی	اونه بۀ سفارش چلیږی	او چې کفر نې غوره کړې دې				
هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝	اَللّٰهُ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ ۚ	اَلْحَيُّ			
هغوئ په اصل کښې ظالمان دی		الله	نشته لائق دعبادت	مګرهغه دې	همیشه ژوندې دې			
هم هغوئ ظالمان دی	الله چې لائق دعبادت هیڅوک نشته یواځې هغه دې	تل ژوندې دې					

الله ﷻ خپلو بندګانو ته حکم کوی چې دوی دې نیکو لارو کښې خپل مالونه خرچ کړی چې الله ﷻ سره د دوی ثواب جمع وی.او فرمائی چې په خپل ژوند کښې خیراتونه او صدقې کوئ،د قیامت په ورځ خو به نۀ اخستل خرڅول وی او نۀ به په دې خلاصیدل وی چې ډیر سرۀ زر ورکړی.او نۀ به د چا نسب او دوستی په کار راځی.لکه بل خائې کښې فرمائی چې ﴿فَاِذَا نُفِخَ فِي الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ ۝﴾ یعنی کله چې شپیلئ اووهلې شی نو په هغه ورځ به نۀ نسب وی او نۀ به چا سره څه سامان وی.او په هغه ورځ به د سفارشیانو سفارش په کار نۀ راځی.

قوله تعالى:-وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝

بیا فرمائی چې کافران ظالمان دی.یعنی پوره او پاخۀ ظالمان هغه دی.چې هم د کفر په حالت کښې الله ﷻ سره ملاقی شی.عطاء ابن دینار رحمة الله علیه فرمائی چې شکر دې چې الله ﷻ کافرانو ته ظالمان اوونیل خو ولې ظالمانو ته ئې کافران او نۀ وئیل.(۱)

(۱) ابن ابی حاتم : ۹٦٦/۳)

Scanned with CamSc

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلۡحَیُّ
ا الله ا نشته لائق دعبادت ا مگرهغه دي ا همیشه ژوندي دي ا
ا الله چې لائق دعبادت هیڅوک نشته یواځې هغه دي ا تل ژوندي دي
الۡقَیُّوۡمُ ۚ لَا تَاۡخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوۡمٌ ؕ لَهٗ مَا
ټول کائنات دهغه په اختیار کښې دي انۀ نیسی هغه باندې ا پرکالی ا اونۀ خوب ا دهغه دی ا هغه څه
اودټول مخلوق انتظام کوی ا .....نه پرې پرکالی راځی ا اونه خوب ا دهغه(ملکیت) دي څه چې
فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الۡاَرۡضِ ؕ مَنۡ ذَا الَّذِیۡ یَشۡفَعُ
چې په آسمانونو کښې دی ا اوهغه څه چې په زمکه کښې دی ا څوك دي ا هغه کس ا چې سفارش به اوکړي
په آسمانونو کښې او څه چې په زمکه کښې دی ا .....څوك دی چې د(چا)سفارش اوکړي
عِنۡدَهٗۤ اِلَّا بِاِذۡنِهٖ ؕ یَعۡلَمُ مَا بَیۡنَ اَیۡدِیۡهِمۡ
هغه سره ا مګر په اجازت دهغه سره ا معلوم دی هغه ته ا هر هغه څه ا چې دخلقو په وړاند دی
دهغه په دربار کښې دهغه داجازت نه بغیر ا پوهه دي په هغه خبروچې خلقو ته نښکاره دی ا
وَمَا خَلۡفَهُمۡ ۚ وَلَا یُحِیۡطُوۡنَ بِشَیۡءٍ مِّنۡ عِلۡمِهٖۤ اِلَّا
اوهغه څه اچې پناه دی دخلقو نه ا او نشی احاطه کولې داخلق اپه هیڅ څیز ادعلم دهغه نه ا مګر
اوپه هغه خبروچې دخلقونه پټې دی ا اودوئ دهغه معلوماتونه په هیڅ باندې احاطه نشی کولې امګر
بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرۡسِیُّهُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ ۚ وَلَا یَـُٔوۡدُهٗ
په هغه چې اوغواړي هغه ا اوخوردي ا حکومت دهغه ا په آسمانونو او په زمکه کښې ا اونۀ ستړي کوی هغه لره
په هغې چې الله پاک ئې اوغواړي ا دهغه حکومت په زمکه اوآسمانونو باندې خور دي ا اونه ستړي کیږی ددې
حِفۡظُهُمَا ۚ وَهُوَ الۡعَلِیُّ الۡعَظِیۡمُ ۝
حفاظت ددې دواړو ا اوهغه اوچت دي ا او لوئ دي ا
دواړوپه ساتنه ا اوهغه اوچت او لوئې ذات دي ا

د آیت الکرسی فضیلت ٭دا آیت آیت الکرسی دي.او دا ډیر عظمت والا دي.ابی بن کعب نه نبی کریم ﷺ تپوس اوکړوچې کتاب الله کښې دټولونه زیات عظمت والا آیت کوم یو دي؟هغوئ جواب ورکوی چې الله ﷻ او د هغۀ رسول ﷺ ته د دې زیات علم دي.نبی کریم ﷺ همدا سوال بیا کوی.د څو واړې پښتنې نه پس بیا نبی کریم ﷺ په خپله جواب ورکوی چې آیت الکرسی.نبی کریم ﷺ فرمائی چې ائې ابو المنذر الله ﷻ دي تا ته ستا علم مبارك کړی.په هغه الله ﷻ مې دي قسم وی چې د هغه په قدرت کښې زما سا ده،د دي به ژبه وی او شونډې به ئې وی او دا به د حقیقی بادشاه پاکی بیانوی او د عرش پښې سره به لګیدلې وی.(مسند احمد).([1])

---

[1]) احمد: ۱۴۱/۵، صحیح مسلم: کتاب صلاة المسافرین باب فضل سورة الکهف واية الکرسی : ۸۱۰، ابوداود: ۱۴۶۰، دحدیث پاک آخری حصه،(والذی نفسی بیده ان له لسانا) منکر دي)-

صحیح مسلم کښې هم داحدیث دي.لیکن د دې دا روستئ قسمه جمله په هغې کښې نشته.ابی ابن کعب ﷺ فرمائی چې ماسره دکهجورو یو بورئ وه،ما کتل چې ورځ په ورځ دهغې نه کهجورې کمیدلې.یو شپه زهٔ ټوله شپه ویښ ووم او د دې نګرانی مې کوله.ما اوکتل چې یو ځناور د یو ځوان هلك په مثال راغلو،ما هغهٔ ته سلام اوکړو،هغه زما د سلام جواب راکړو.ما ورته اووئیل چې ته انسان ئې که جن؟هغه اووئیل چې زهٔ جن یم،ماورته اووئیل چې لږ خپل لاس خوماته راکړه.هغه لاس را اوږد کړو.ما چې د هغه لاس واخستلو نو د هغهٔ لاس د سپی پشان وو.او د دهٔ په لاس کښې دسپی پشان ویښته وو.ما ورته اووئیل چې آیا جنات پیدانشی داسې وی؟ هغهٔ اووئیل چې په ټولو جناتو کښې د ټولونه زیات طاقت والا هم زهٔ یم.ما ورته اووئیل چې بیا ته په ځیزونو پټولو باندې ځنګه قادر شوې؟ هغه اووئیل چې ما ته پته ده چې ته صدقه کول خوښوې،مونږ اووئیل چې مونږ ولې دې نه محروم یو؟ ماورته اووئیل چې ستاسودشر نه بچ کیدو والا کوم یو ځیز دې؟هغه اووئیل چې آیت الکرسی.سحر چې کله زهٔ د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شوم او نبی کریم ﷺ ته مې ټوله واقعه اووئیله نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې هغه خبیث خو داخبره رښتیا کړې ده.(ابویعلی)([1])

ایت الکرسی د قران څلورمه حصه ده.

هرکله چې نبی کریم ﷺ مهاجرینو ته تشریف یوړو نو هغوئ تپوس اوکړو چې په قرآن پاك کښې کوم یو آیت لوئې دې؟نو نبی کریم ﷺ ورته آیت الکرسی واورولە (طبرانی).نبی کریم ﷺ یو ځل صحابه کرام ﷺ کښې یو نه تپوس اوکړو چې تا نکاح کړې ده که نه ؟ هغه اووئیل یارسول الله ﷺ ما سره مال نشته نو نکاح به څنګه اوکړم.نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې تا ته﴿قُلْ هُوَ﴾یاد نهٔ دې؟هغه اووئیل چې دا خو راته یاد دې.نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې څلورمه برخه قرآن پاك خو شو.آیا تاته ﴿قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ﴾یاد نهٔ دې؟هغه اووئیل چې ولې نه دا راته یاد دې.نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې څلورمه حصه قرآن پاك دا شو.بیا ئې ورته اوفرمائیل چې تاته ﴿اِذَا زُلْزِلَتِ﴾ یاد نهٔ دې؟هغه اووئیل چې یاد دې راته.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې څلورمه حصه قرآن پاك خو دا شو.نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې ﴿اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ﴾ درته یاد دې؟هغه اووئیل چې یا دې راته.نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې څلورمه حصه قرآن پاك داشو.نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې آیت الکرسی درته یاده ده ؟ هغه اووئیل چې یاده ده.نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې څلورمه حصه قرآن پاك داشو.(مسند احمد)([2])

په نورو ایتونو د ایت الکرسئ بزرګی

ابوذر ﷺ فرمائی چې زهٔ یو ځل دنبی اکرم ﷺ خدمت کښې حاضر شوم.نبی کریم ﷺ په جمات کښې ناست وو.زهٔ راغلم کښیناستم.نبی کریم ﷺ راته اوفرمائیل چې تا مونځ کړیدې.ما اووئیل یارسول الله نهٔ مې دې کړې.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې پاسه مونځ اوکړه.ما مونځ اوکړو او بیا راغلم کښیناستم.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې د انسانانو اودپیریانو د شیطان نه پناه غواړه.ما اووئیل چې یارسول الله ﷺ چې آیا انسانی شیطان هم وی؟نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې هو.ما اووئیل چې د مونځ متعلق څه ارشاد دې.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې مونځ سراسر خیر دې.که د چا خوښه وې نو لګه حصه دې تري واخلی او چې د چا خوښه وی نو زیاته حصه دې تري واخلی.ما اووئیل چې یارسول الله ﷺ د روژې په حقله وایئ؟نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې کفایت کولو والا باندې فرض ده او د الله ﷻ په نیز زیاتی ده.ما اووئیل چې یارسول لله صدقهانبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې ډیره او څو چنده زیاته بدله

---

[1]) حاکم : ۵۶۲/۱، عمل الیوم واللیلة للنسائی: ۹۶۰، وهوحدیث حسن وصحیح ابن حبان الاحسان : ۷۸۱)-.
[2]) احمد : ۲۲۱/۳، ترمذی: کتاب فضائل القرآن باب ماجاء فی اذا زلزلت : ۲۸۹۵،)-.

Scanned with CamSc

ورکولو والاعمل دي.ما اووئيل چې يارسول الله د ټولو نه افضله صدقه کومه يوه ده؟نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې د لږ مال لرونکی زړۀ کول په صدقه يا په پته صدقه ورکول محتاج ته.ما سوال اوکړو چې رومبې نبی څوک دي؟ نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې آدم ﷺ ما اووئيل چې هغه نبی وو؟نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې نبی او الله ﷻ سره خبرې کونکې وو.ما تپوس اوکړو چې درسولانو شمير څۀ دي؟نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې سل او څه دپاسه لس ډيره غټه ډله.يو روايت کښې د دريو سوو پنځلسو لفظ دي.ما تپوس اوکړو چې يارسول الله ﷺ د ټولو نه زيات بزرګئ والا کوم يو آيت دي؟نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې آيت الکرسی ﴿اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ﴾.(مسند احمد) ([1]).

ايت الکرسی د مال د حفاظت ذريعه ده،

ابوايوب انصاری ﷺ فرمائی چې زما د خزانو نه به جناتو غلا کوله.ما نبی کريم ﷺ ته د دې شکايت اوکړو.نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې تۀ کله هغه اووينې نو اووايه چې ﴿ بسم الله اجيبی رسول الله﴾.هرکله چې هغه راغلو نوما هم دا اووئيل او هغه مې اونيولو.هغه اووئيل چې بيا به زۀ نۀ راځم.ما هغه پرينبودو.زۀ د نبی اکرم ﷺ خدمت کښې حاضر شوم.نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې ستا قيدی څه اوکړل؟ ما اوونيل چې ماهغه اونيولواوبيامې پرينبودو ځکه چې هغه اقراراوکړو چې بيابه نۀ راځم.نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې هغه به بيا هم راځی.ما هغه دوه درې ځل اونيولو او د اقرار کولو نه پس به مې هغه بيا پرينبودو.ما بار بار نبی کريم ﷺ ته د دې ذکر اوکړو او نبی کريم ﷺ به بار بار دا فرمائيل چې هغه به بيا راځی.آخری ځل چې ما هغه اونيولو نو ما نۀ پرينبودو نو هغه اووئيل چې ما پريږده زۀ تا ته يو داسې ځيز ښايم چې تا ګره به د هغې په وجه هېڅ يو شيطان او جن نۀ راځی.ما اوونيل چې ښه اووايه هغه څه ځيز دي ؟ هغه اووئيل چې آيت الکرسی.ما نبی کريم ﷺ ته ددې ذکر اوکړو نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې هغه دا ربښتيا وئيلی دی او هغه دروغژن دي.(مسند احمد) ([2])

صحيح بخاری کښې کتاب فضائل القرآن کښې او کتاب الوکالة او صفة ابليس په بيان کښې هم داحديث د ابوهريره ﷺ نه مروی دي.په هغې کښې دی چې ما د رمضان د زکوة څوکيداری کوله چې شيطان راغلو او مال نه ئې خپل څادر ډکولو.دريم ځل دۀ اووئيل که تۀ د شپې دځملاستو په وخت کښې دا آيت وائې نو د الله ﷻ د طرفنه به په تاباندې محافظان مقرر وی.او تر سحر پورې به شيطان تالره نزدې نه راځی.(بخاری شريف)([3])دويم روايت کښې دی چې داکهجورې وې او هغه يو موتی اوړې وې.او رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چې که تۀ هغه نيول غواړې نوچې کله هغه دروازه بيرته کوی نو په هغه وخت کښې تۀ دا اووايه چې ﴿سبحان من سخرك محمد﴾.شيطان عذردا ښودلې وو چې مادیو غريب پيری دبچو دپاره ما دا اورل.(ابن مردويه).نوداواقعه ددريو صحابه کرامو ﷺ شوه.دابی ابن کعب ﷺ ،دابوايوب انصاری ﷺ اود ابوهريره ﷺ.

دآيت الکرسئ برکتونه

ايت الکرسی دکوردحفاظت ذريعه:- حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چې ديو انسان اوجن ملاقات اوشو،جن ورته اووئيل چې ما سره به پرځول اوکړې.که تا زۀ راغوزار کړم نو تا ته به زۀ يو داسې آيت اوښايم چې کله تۀ کور ته لاړ شې او دا اووائې نو شيطان به دې کورته نۀ راځی.پرځول اوشو او دې سړی هغه جن راوپرځولو.دې سړی اووئيل چې تۀ نحيف او ويريدونکې نې اوستا لاسونه د سپی په

---

[1] (احمد : ۵/۹، ۵۵،نسائی مختصرا)-

[2] احمد: ۵/۴۲۳، ترمذی : کتاب فضائل القرآن باب رقم : ۳، حديث ابی ايوب فی الغول : ۲۸۸۰. وهو حسن)-

[3] صحيح بخاری کتاب الوکالة باب اذا وکل رجلا فترک الوکيل .... ۲۳۱۱)-.

Scanned with CamSc

شان دی.ایا جنات داسې وی،یا صرف تهٔ داسې نې؟هغه اوونیل چې زهٔ په ټولو کښې قوی یم.بیا دوباره کشتی اوشوه ا و په دویم خل هم هغه سړی دې راوپرخولو.جن اوونیل چې هغه آیت الکرسی ده.کله چې یو سړې کور ته ځی او دا اووائی نو شیطان د هغه کور نه داسې په چغو اوځی لکه څنګه چې خر چغې وهی.دا سړې عمرفاروق ﷺ وو.(کتاب الغریب).

ایت الکرسی د نورو ایتونو سردار دې:- نبی کریم ﷺ فرمائی چې په سورت بقرة کښې یو آیت دې چې هغه د قرآنِ پاك د ټولو آیتونو سردار دې.چې دا په کوم کور کښې اوونیلې شی نوشیطان د هغه کور نه تښتی.هغه آیت الکرسی دې.(مستدرك حاکم).(۱)

ترمذی شریف کښې دی چې د هر څیز د پاره یو اوچتوالې او لوړوالې وی اودقرآن پاك اوچتوالې سورة بقره دې.او په دې کښې آیت الکرسی د ټولو آیتونو سردار دې.(۲) د عمر فاروق ﷺ په سوال باندې چې په قرآنِ پاك کښې د ټولونه زیات بزرګئ والا آیت کوم یو دې؟نو عبدالله بن مسعود ﷺ اوفرمائیل چې ما ته معلوم دی.ما د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چې هغه آیت آیت الکرسی دې.(ابن مردویه).

د اسم اعظم په ایت الکرسئ کښې کیدل:- نبی کریم ﷺ فرمائی چې په دې دواړو آیتونوکښې د الله ﷻ اسم اعظم دې.یو خو آیت الکرسي دې او بل ﴿اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اَلْحَیُّ الْقَیُّوْمُ﴾ (۳)(مسند احمد).

اوحدیث شریف کښې دی چې داسم اعظم په برکت سره چې کومه دعا اوغوښتلې شی هغه قبلیږی،هغهٔ اسم په دې دریو سورتونو کښې دې. ❶ سورة بقره ❷ سورة آل عمران ❸ سورة طه.(ابن مردویه).هشام بن عمار خطیب د دمشق فرمائی چې اسم اعظم په سورت البقرة کښې په آیت الکرسئ کښې دې.او په آل عمران کښې په رومبې آیت کښې.او په سورت طه کښې په آیت ﴿وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ لِلْحَیِّ الْقَیُّوْمِ﴾ کښې دې.اوحدیث کښې دی چې کوم سړې د هر فرض مونځ نه پس آیت الکرسی لولی نو هیڅ څیز دې جنت ته د تلو نه نهٔ شی منع کولې سوا د مرګ نه.(۴)(ابن مردویه).دا حدیث امام نسائی هم په خپل کتاب ﴿عمل الیوم واللیلة﴾کښې نقل کړې دې.او ابن حبان هم په خپل کتاب کښې نقل کړې دې.(۵)د دې حدیث سند په شرط د بخاری باندې دې.خو ابوالفراج ابن جوزی دې ته موضوع وائی.والله اعلم.په تفسیر ابن مردویه کښې هم دا حدیث شته دې.خو د هغې اسناد ضعیف دی.د ابن مردویه یو بل حدیث کښې دی چې الله تعالی موسی ﷺ طرفته وحی اولیږله چې د هر مونځ نه پس آیت الکرسی وایه.چې کوم سړې دا وائی نو زهٔ به هغهٔ ته شکر ګزاره زړهٔ او ذکر کولو والا ژبه ورکړم.او هغهٔ ته به د انبیاء ثواب او د صدیقانو عمل ورکړم.په دې باندې صرف نبیان همیشه پاتې کیږی یا صدیقین یا هغه سړې چې د هغه زړهٔ ما ایمان سره آزماؤ کړې وی یا هغه په خپل لار کښې شهید کول غواړم.خو دا حدیث ډیر منکر دې.دترمذی په حدیث کښې دی چې کوم سړې سورة ﴿حم المومن﴾لره ﴿الیه المصیر﴾ پورې او آیت الکرسی د سحر په وخت کښې اووائی نو هغه تر مابنامه پورې د الله ﷻ په حفاظت کښې وی.او چې څوك نې مابنام اووائی نوترسحره پورې د الله ﷻ په حفاظت کښې وی.خو دا حدیث هم غریب دې.(۶)دې آیت په فضیلت کښې نور هم ډیر حدیثونه دی،لیکن یو خو دا چې د هغې سندونه ضعیف دی او بل دا چې مونږ د اختصار نه کار اخلو.مونږ هغه دلته راونړل.

---

۱) المعجم الکبیر للطبرانی: ۱۸۲/۹، ح/۸۸۲٤،)-

۲) حاکم : ۵٦۰/۱،)-

۳) ترمذی کتاب فضائل القرآن باب ماجاء فی سورة البقرة وایة الکرسی : ۲۸۷۸،)-

٤) عمل الیوم واللیلة للنسائی: ۱۰۰ وهوحسن)-

۵) ابن حبان فی الصلاة کما قال الحافظ فی اتحاف المهر: ۲۵۹/٦ برقم: ٦٤٨۰)-

٦) ترمذی کتاب فضائل القرآن: ۲۸۷۹،)-

Scanned with CamSc

تقسیم د ایت الکرسئ په اعتبار د جملو سره:- په دې ایت مبارک کښې لس مستقل جملې دی.په رومبئ جمله کښې دالله ﷻ د وحدانیت بیان دې چې دټول مخلوق صرف هم هغه یوالله ﷻ دې.دوئمه جمله کښې دی چې هغه ژوندې دې اوهغه پاك ذات ته هیڅکله مرګ نۀ راځی او نورو لره قائم ساتلو والا دې.د﴿قیوم﴾ بل قرات ﴿ قیام ﴾ هم دې.نو ټول موجودات د هغه پاك ذات محتاج دی.او دټولو نه بې نیاز دې.هیڅوك هم د هغه د اجازت نه بغیر د هېڅ ځیز سنبالښت والا نشته بل ځائې کښې فرمائی چې﴿وَمِنْ اٰیٰتِهٖۤ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ بِاَمْرِهٖ﴾ یعنی د هغه د نښو نه یو نښه دا ده چې آسمان او زمکه د هغه په حکم سره قائم دی.

بیا فرمائی چې نۀ په هغه باندې څه نقصان راځی او نۀ هغه د خپل مخلوق نه غافله کیږی او نۀ تر ې بې خبره دې بلکه د هر سړی په اعمالو باندې هغه حاضر او د هرسړی په احوالو باندې هغه ناظر،د زړۀ د هرې خطرې نه هغه واقف دې،د مخلوق یوه ذره هم د هغه پاك ذات د حفاظت او علم نه بهر نۀ ده.هم دادې پوره قیومیت.پرکالی،او غفلت نه،خوب او بې خبرئ نه د هغه ذات پاك دې.صحیح حدیث کښې دی چې یوځل نبی کریم ﷺ خپلو صحابه کرام ﷺ ته ځلور خبرې اوښودلې.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې الله ﷻ نۀ اوده کیږی، نۀ هغه ذات د خوب لائق دې.هغه د میزان محافظ دې.چې د چا دپاره غواړی نو درنه ئې کړی اوچا دپاره چې اوغواړی نو سپکه ئې کړی.د ورځې اعمال د شپې نه او د شپې اعمال د ورځې نه مخکښې پورته اوچتولې شی.د هغه مخکښې د نور یا د اور پردې دی.که هغه لرې شی نو د هغه د مخ د تجلئ په وجه به هغه ټول او وزوی چې ترکومې پورې د هغه نظر رسی.(۱۷)

موسیٰ ﷺ او د بنی اسرائیلو څه غریب او ضعیف احادیث:- مسند عبدالرزاق کښې عکرمه ﷺ نه روایت دې چې موسی ﷺ د فرښتو نه تپوس اوکړو چې آیا الله ﷻ اودۀ کیږی هم.نو الله ﷻ فرښتو ته وحی اولیږله چې موسی ﷺ لره درې ورځې بیدار اوساتئ.هغوئ هم دا اوکړل او هغوئ ئې اودۀ کیدو ته پرې ښودل.او بیا ئې هغوئ له لاس کښې دوه بوتلې ورکړې او ورته ئې اووئیل چې دا خپلو لاسونو کښې اونیسه.خبردار چې دا ستاسو نه غوزار نشی او نۀ مات شی.موسی ﷺ هغه اونیول،خو هغوئ شوګیره کړې وه،خوبولی شو او پرکالی پرې راغله او سترګې ئې ورغلې او دې کښې بیا بیدار شو خو ترکومې به داسې کیدل؟یو ځل دوی ﷺ له خوب راغلو او هغه بوتل د دوی ﷺ د لاس نه پریوتلو.نو موسی ﷺ ته اوونیلې شو چې هرکله ستاسو نه د پرکالئ په وجه دوه بوتلې سنبالې نۀ شوې نو که الله ﷻ اودۀ شی یا پرې پرکالی راشی نو د آسمان او زمکې حفاظت به څنګه کوی.(۱) خودا د بنی اسرائیلو خبره ده او زړۀ ئې نۀ منی.ددې وجې دا ممکن نۀ دی چې د موسی ﷺ پشان جلیل القدر او عارف بالله د الله ﷻ د صفت نه واقف نۀ وی.او هغۀ ته په دې کښې شك وی چې الله ویخ وی که اودۀ کیږی.او د دې نه زیات غریب هغه حدیث دې چې ابن جریر کښې دې چې نبی کریم ﷺ دا واقعه په منبر باندې بیان کړه.دا حدیث ډیر زیات غریب دې او په ظاهره معلومیږی چې ددې فرمان پیغمبر نه ثابتیدل صحیح نۀ دی بلکه د بنی اسرائیلو خبره ده.عبدالله ابن عباس ﷺ نه هم دا شان مروی دی چې بنی اسرائیلو د موسی نه سوال کړې وو او بیا ئې دوی ته بوتلې ورکړې وې او د خوب په وجه دوی ﷺ هغه سنبال نۀ کړې شو.او نبی کریم ﷺ باندې دا آیت نازل شو.(۲) او د آسمان او زمکې ټول ځیزونه د هغۀ په غلامئ کښې اود هغۀ ماتحت دی او د هغۀ په سلطنت کښې دی .لکه فرمائی چې ﴿اِنْ كُلُّ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾ الخ.یعنی د زمکې او آسمان ټول ځیزونه د الله ﷻ په غلامئ کښې حاضریدو والا دی.دا ټول الله ﷻ یو

---

(۱) تفسیر عبدالرزاق : ۳۲۱، وسنده حسن الی عکرمة لکنه من الاسرائیلیات)-

(۲) ابن جریر)-

Scanned with CamSc

یو شمیرلی دی.او د هغهٔ په قبضه کښې دی.ټول مخلوق به بیل بیل هغهٔ ته حاضریږی.هیڅوک نشته دې چې دهغهٔ د اجازت نه بغیر د هغهٔ په مخکښې د چا سفارش اوکړی یا شفاعت اوکړی لکه ارشاد دی چې ﴿وَكَمْ مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ﴾

شفاعت به د الله ﷻ حکم سره وی:- یعنی آسمان کښې ډیرې فرښتې دی لیکن د هغوی د شفاعت کولو هیڅ فائده نشته.او دا بله خبره ده چې د الله ﷻ خوښه او رضا په کښې شامله شی.بل خائې کښې دی چې ﴿وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَىٰ﴾ هغوی یعنی فرښتې د هیچا شفاعت نهٔ کوی مګر د هغه چا شفاعت کوی چې د هغهٔ نه الله ﷻ خوشحاله وی.نو دلته هم د الله ﷻ عظمت او د هغهٔ جلال او د هغهٔ د لوئیٔ بیان دې چې بغیردهغهٔ د اجازت اورضا نه د هیچا همت نشته چې دهغهٔ په مخکښې د چا سفارش اوکړی. حدیث مبارک کښې هم دی نبی کریم ﷺ فرمائی چې زهٔ به د الله ﷻ د عرش لاندې لاړ شم او سجده به کوم،الله ﷻ به ما هم په سجده کښې پریږدی.ترکومې چې هغه پاک ذات غواړی.بیا به اووئیلې شی چې خپل سر اوچت کړه.وایه شفاعت کوه ستا شفاعت به قبلولې شی.نبی کریم ﷺ فرمائی چې بیا به زما دپاره حد مقرر کړې شی او زهٔ به هغه جنت ته بوځم.(۱) هغه پاک ذات چې هغه د تیر شوی او راتلونکو حالاتو نه خبر دې.د هغه علم ټول مخلوقاتو باندې دې.لکه بل خائې کښې د فرښتو قول دې چې ﴿وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمْرِ رَبِّكَ﴾ الخ.مونږ ستا د رب د حکم نه بغیر نهٔ شو کوزیدې،زمونږ مخکښې روستو ټول څیزونه د هغهٔ په ملکیت کښې دی او ستا رب د هیرې وغیره نه پاک دې.

د کرسئ باره کښې د مفسرینو موقف:- د عبدالله بن عباس ﷺ د قول مطابق د کرسئ نه مراد علم دې،د نورو بزرګانو نه دواړه پښې ایښودل منقول دی.

دالله ﷻ په صفتونو بغیر د تاویلونو او کیفیتونو پیژندلو نه ایمان ساتل ضروری دی

د کرسئ په حقله مختلف اقوال:- یو مرفوع حدیث کښې هم دا دی چې د دې اندازه د الله ﷻ د ذات نه بغیر بل چا ته نهٔ ده معلومه،پخپله عبدالله ابن عباس ﷺ نه هم دا مرفوعاً مروی دی لیکن رفع ثابت نهٔ ده.(۲)ابومالك رحمة الله علیه فرمائی چې کرسئ د عرش لاندې ده.سدی ﷺ فرمائی چې آسمان او زمکه د کرسئ په مینځ کښې دی.او کرسئ عرش ته مخامخ ده.ابن عباس ﷺ فرمائی چې اووهٔ زمکې او اووهٔ آسمانونه که خوارهٔ کړې شی او ټول یو خائې کړې شی نو دا به د کرسئ مقابله کښې داسې وی لکه یوحلقه په یو خوشې میدان کښې.ابن جریر نه یو مرفوع حدیث کښې منقول دی چې اووهٔ آسمانونه او کرسئ داسې دی لکه اووهٔ درهمه په ډهال کښې.اوحدیث کښې دی چې کرسئ د عرش مقابله کښې داسې ده لکه د اوسپنې کړه په یو خوشې میدان کښې.(۳)ابو ذر غفاری ﷺ یو ځل د کرسئ باره کښې تپوس اوکړو نو نبی اکرم ﷺ قسم اوخوړو او هم دا ئې اوفرمائیل.او وې فرمائیل چې دعرش فضیلت په کرسئ باندې هم داسې دې.(۴)یو ځل نبی اکرم ﷺ ته درخواست اوکړو چې زما د پاره درخواست اوکړه الله تعالی ماجنت ته داخله کړی.نبی اکرم ﷺ د الله ﷻ عظمت بیان کړو او وې فرمائیل چې د هغهٔ کرسئ د زمکې او آسمانونواحاطه کړې ده خو لکه څنګه چې نوې پالان چینګار کوی نو دا شان هغه کرسئ د الله ﷻ د لوئې او عظمت د وجې نه چینګیږی.(۵) داحدیث په ډیرو کتابونو کښې په ډیرو

---

۱) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی (وجوه یومئذ ناظرة...) ۷٤٤، صحیح مسلم: ۱۹۳)-

۲) داروایت مرفوعا اوموقوفا دواړو طریقو سره ضعیف دې،سفیان ثوری مدلس دې)-

۳) موضوع روایت دې،عبدالرحمان بن زید بن اسلم خپل پلار نه موضوع روایتونه بیانوی اوسند ئې هم منقطع دې)-

۴) داروایت د قاسم بن محمد الثقفی په وجه ضعیف دې)-

۵) السنة لابن ابی عاصم : ۵۷٤)-

Scanned with CamSc

سندونو سره روایت کړې شوې دې خو ولې چې اوکتلې شی نو د بعضې حدیث په سند کښې بعضې راوی غیر مشهوردې،بل خوا چې اوکتلې شی نو په بعضو کښې ارسال دې یا بعضې موقوف دی او بعضې غریب دی او په بعضو کښې حذف دې.او د دې تولو نه زیات غریب د جبیر ﷺ حدیث دې چې په ابوداود کښې روایت کړې شوې دې.(۱) او هغه روایتونه هم دی چې په هغې کښې د قیامت په ورځ د کرسئ د فیصلو د پاره اینبودل مروی دی،نکاره خبره داده چې په دې آیت کښې دا ذکر نشته.والله اعلم.

د کرسئ په حقله د علم هیئت د علماء خیالات او اقوال:- مسلمانانو کښې هیت دان متکلمین وائی چې کرسئ اتم آسمان دې.او هغې ته فلك ثوابت وائی.چې په هغې باندې نهم آسمان بل دې اوهغې ته فلك ایثر وائی او اطلس هم.

د متکلمینو د قول تردي:- لیکن نورو خلقو د دې تردید کړې دې.حسن بصری رحمة الله علیه فرمائی چې کرسئ هم عرش دې.لیکن صحیح خبره داده چې کرسئ بیل مخلوق دې اوعرش بیل .او هغه(عرش) د دې(کرسئ) نه ډیر غټ دې.لکه څنګه چې په احادیثو کښې راغلې دی.علامه ابن جریر رحمه الله خو دې باره کښې د عمر فاروق ﷺ نه نقل کړې شوی روایت باندې منګولې لګولې دی،خو ولې زما په خیال ددې په صحت کښې کلام شته دې.والله اعلم.

د زمکې او اسمانونو حفاظت کونکې الله تعالی دې:-بیافرمائی چې الله ﷻ باندې ددې حفاظت بوج اوګران نۀ دې بلکه آسان دې.هغه د تولو مخلوقاتو په احوالو باندې خبر دې،په تولوڅیزونوباندې نظر ساتونکې دې،هیڅ یو څیز د هغۀ نه پټ نۀ دې،تول مخلوقات د هغۀ محکښې سپک، ذلیل، پست، محتاج او فقیر دی.هغه غنی او حمید دې.چې څه کول غواړې نو هغه کوی هیڅوك په هغۀ پاك ذات باندې حاکم نشته دې.د هغه پاك ذات نه تپوس کونکې هیڅوك نشته.په هر څیز باندې هغه غالب دې.د هر څیز حافظ او مالك دی او هغه پاك ذات اوچت او لوئې دې.د هغۀ نه سوا د عبادت لائق بل څوك نشته .اونۀ دهغه نه سواڅوك زیات خبرلرونکې شته اونۀ د هغۀ نه علاوه څوك پالونکې شته.هغۀ د فخراودلوئې خاوند دې.هم دا شان فرمائی چې﴿ وَهُوَالْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ ﴾ هغۀ ډیر اوچت دې اودلوئې اود عظمت خاوند دې،دا آیتونه او ددې پشان نور آیتونه او صحیح احادیث دالله ﷻ باره کښې چې نازل شوی دی،په هغې تولوایمان راوړل بغیر د څه کیفیت معلومولو نه او بغیر د مشابه کولو نه.چې په کومو الفاظو سره هغه تشبیه وارد شوې وی په هغې ضروری دی.او هم دا طریقه زمونږ د سلفو ﷺ وه.

لَآ اِكْرَاهَ فِي الدِّيْنِ ۙ قَدْ تَّبَيَّنَ	
نشته دې زور|په دین کښې|په تحقیق سره ښکاره شوی ده	
	په دین کښې هیڅ قسم زورزیاتي نشته	ښکاره شوی دی
الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ۚ فَمَنْ يَّكْفُرْ بِالطَّاغُوْتِ وَيُؤْمِنْ بِاللّٰهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ	
نیغه لار |ډګمراهئ نه| پس هغه چاچې| انکار اوکړو| د طالوت نه |اوایمان ئې راوړو| په الله	نو وې نیوله
سمې خبرې د غلطونه	نوڅوك چې دطاغوت نه منکر شی	اوپه الله ایمان راوړی |هغه لاسونه واچول	
بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى ۗ لَا انْفِصَامَ لَهَا ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ	
کړئ مضبوطه |چې نشته ماتیدل هغې لره	اوالله |اوریدونکې |اوپوهه دې	
مضبوطې کړئې ته |چې هیڅ کله دهغې پریکیدل نشته |اوالله پاك هرڅۀ آوری او په هر څه پوهه دې	

(۱) ابوداود کتاب السنة باب فی الجهمیة : ۴۷۲۶)).

Scanned with CamSc

اسلام قبلولو د پاره چا باندې جبر مه کوئ:- دلته دا بیان کیږی چې هیڅوک اسلام کښې جبر سره مه داخلوئ.د اسلام حقانیت واضح او روښانه شوې دی.د دې دلیلونه او براهین بیان شوی دی.بیا چا باندې د ظلم اوجبرکولو څه ضرورت دی؟چې چاته الله ﷻ هدایت ورکوی،چې د چا سینه فراخه او روښانه اوسترګې بینا وی نو هغه به پخپله د دې شیدا او مجنون شی.روند زړهٔ لرونکی،د کنړو غوږنو خاوند،او د پټو سترګو خاوند به ددې نه لرې وی.بیا که دوی په زوره په اسلام کښې داخل هم کړې شی نو ددې څه فائده؟په هیڅا باندې په دې سلسله کښې ظلم مهٔ کوئ چې هغه دې اسلام قبول کړی.

د دې ایت شان نزول:- ددې آیت شان نزول دادې چې د مکې د مشرکو ښځو به کله اولاد نهٔ کیدل نو هغوئ به نذر منلو که زمونږ اولاد اوشی نو مونږ به هغه یهودی کوو او یهودیانو ته به ئې ورکوو.دا شان د هغوئ ډیر بچی یهودیانو سره وو.کله چې دا خلق مسلمانان شو او د الله ﷻ د دین مددګار جوړ شو نو دیهودیانو سره د دوی جنګ راغلو.او آخر دد هغوئ د داخلی سازشونو او دهوکو نه د خلاصی موندلودپاره نبی اکرم ﷺ داحکم جاری کړو چې ددې بنی نضیر یهود دملک نه اوشوړئ.په هغه وخت کښې د انصارو بچی هغوئ سره وو هغه بچی ئې د هغوئ نه اوغوښتل چې د خپل اثر لاندې ئې راولی اومسلمان ئې کړی،نو په دې باندې دا آیت نازل شو چې په چا باندې په اسلام کښې د داخلولو د پاره زور زیاتې مهٔ کوئ.(۱)

د شان نزول باره کښې دویم روایت:- یوروایت کښې دا هم دی چې د انصارو قبیله بنو سالم بن عوف یو حصینی ﷺ نومې سړې وو.او د هغه دوه ځامن وو چې نصرانیان وو.او دا سړې په خپله مسلمان وو.دهٔ یوځل د نبی اکرم ﷺ خدمت کښې عرض اوکړو ماته اجازت راکړئ چې زهٔ دا دواړه ځامن مسلمانان کړم ځکه چې هغوئ خو د عیسائیت نه نهٔ اوړی.نو په دې باندې دا آیت نازل شو.او منع اوکړې شوه،او روایت کښې دومره زیاتوالې هم دې چې دنصرانیانو یو قافلې دشام ملك نه دتجارت دپاره اوسکې (کشمش) راوړی وو او د هغوئ په لاس دا دوه هلکان نصرانیان شوی وو.د دوی پلار نبی اکرم ﷺ ته د دې ذکر اوکړو او وې وئیل که تاسو اجازت راکوئ چې زهٔ هغوئ ته څه تکلیف ورکړم چې اسلام قبول کړی.او په زوره سره ئې مسلمانان کړم.ګنی نو بیا به تاسو له هغوئ پسې خپل سړی لیږل پکار وی.نوپه دې باندې دا آیت نازل شو.

د عمر ﷺ خپل غلام سره عمل:- دعمرفاروق ﷺ غلام اسبق نصرانی وو،دوی چې به کله دهٔ ته د اسلام قبلولو اوونیل نو هغهٔ به انکار کولو.نو دوی به ورته اووئیل چې څه خیر دې ستا خوښه چې اسلام نهٔ راوړې ځکه چې اسلام د ددین په معامله کښې د زور زیاتئ نه منع کړې ده.

د عامو علماؤ خیال:- دعلماء کرامو د یو لوئې ډلې دا خیال دې چې دا آیت د هغه اهل کتابو حق کښې نازل شوې وو چې کوم د انجیل او تورات منسوخ کیدو نه مخکښې عیسایان وو او په جزیه ورکولو رضامند شوې وو.

دا ایت منسوخ دې:- بعضې نور وائی چې دا آیت د قتال آیت منسوخ کړې دې.ټولو انسانانو ته ددې پاك دین دعوت ورکول ضروری دی.که څوك انکار اوکړی اودمسلمانانو ماتحتی نهٔ اختیاروی اونهٔ جزیه ورکول قبلوی نوبیشکه مسلمانان به هغوئ سره جهاد کوی.لکه بل ځاني ارشاد دې چې ﴿سَتُدْعَوْنَ إِلَىٰ قَوْمٍ﴾ نزدې ده چې تاسو به دې قوم طرفته راوبللې شئ چې کوم ډیر جنګیالیان دی یا تاسو به هغوئ سره جنګ کوئ یا به هغوئ اسلام قبلوی.او بل مقام باندې دی چې انې نبی ﷺ! دې کافرانو او منافقانو سره جهاد اوکړه اوپه دوی سختی اوکړه.یو بل ځاني کښې ارشاد دې چې انې ایمانداروا خپل چاپیر چل

---

(۱) الطبری : ۵۸۱۳، ابوداود : کتاب الجهاد باب فی الاسیر یکره علی الاسلام : ۲۶۸۲، وسنده صحیح)-

Scanned with CamSc

کښې کفارو سره جهاداوکړئ چې تاسو کښې هغوئ سختی بیامومی اویقین ساتئ چې الله ﷻ متقیانو سره دي.

صحیح حدیث کښې دی چې ستا رب ته په هغه خلقو باندې تعجب دې چې هغوئ په زنځیرونو کښې تړلی جنت طرفته راوستلې شی(۱)یعنی هغه کفار چې د میدان جنګ نه ګرفتارکړې شی او قیدیان جورکړې شی اوپه زولنو او زنځیرونو کښې دخوا ته راوستلې شی،بیا هغوئ اسلام قبول کړې او د هغوئ ظاهر اوباطن ښه شی.او جنت ته د تلو لائق شی.مسنداحمد کښې حدیث دې چې یو سړی ته نبی اکرم ﷺ اووئیل چې مسلمان شه،هغه اووئیل چې حضرت!زما زړۀ نۀ غواړی چې مسلمان شم.نبی اکرم ﷺ ورته اوفرمائیل اګر چې ستا زړۀ نۀ غواړی.(۲)دا حدیث ثلاثی دي.یعنی نبی اکرم ﷺ پورې دې کښې درې راویان دی.لیکن د دې نه دا نۀ دی ګنړل پکارچې نبی اکرم ﷺ هغه مجبور کړو،مطلب دا چې تۀ کلمه اووایه،بیا یو ورځ به راشی چې الله ﷻ به ستا زړۀ روښانه کړی او تۀ به د اسلام عاشق شې.اوتاته به حسن نیت او اخلاص عمل نصیب شی.چې کوم سړې بتان،اوثان اوباطل معبودان پریږدی اودشیطان کلام قبلول پریږدی،د الله ﷻ د توحید اقرار اوکړی اوعامل جوړ شی،نو هغه په نیغه او صحیح لار باندې شو.

قوله تعالی:- فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ

د طاغوت مفهوم:- عمرفاروق ﷺ فرمائی چې دجبت نه مراد جادو دې او د ﴿طَاغُوتِ﴾ نه مراد شیطان دې.د ځوان مردئ او بزدلئ مثال د اوښ د کجاوې د دوو اندو دې،هغه ځوان مردی او بزدلی کومه چې په خلقو کښې موندلې شی،یو غیرتی او بهادر سړې د یو ناپیژندګلو سړی دپاره خپل ځان وژنی.خو یو بزدل او ویریدونکې سړې دخپلې مورپه خاطر هم یو قدم مخکښې نۀ خی.د انسان حقیقی عزت د دۀ دین دې.د انسان ربښتونې نسب د دۀ ښۀ اخلاق دی.که هغه فارسیبان وی اوکه نبطی.

د حضرت عمر ﷺ د طاغوت د معنې فائدې:- عمرفاروق ﷺ د طاغوت نه د شیطان مراد اخستل ډیر بهتر دی.ځکه چې داپه هر هغه غلط او بدکار لره ورشاملیږی چې د جاهلیت په زمانه کښې وو.د بت عبادت کول،هغوئ نه حاجتونه غوښتل،او دسختئ په وخت کښې د هغوی نه امداد طلب کول وغیره.

قوله تعالی:- بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىٰ

د(عروه وثقی)نه څه مراد دی؟:- بیا فرمائی چې هغه سړی مضبوطه کړئ اونیوله یعنی هغه ددین اعلی اوقوی سبب اونیولو چې نۀ خو دا ماتیږی او نۀ شلیږی او ډیره مضبوطه او مستحکم او قوی وی.عروه وثقی نه مراد ایمان،اسلام،توحید د الله ﷻ ،قرآن پاک اود الله ﷻ د لارې محبت دې.او د هغه پاک ذات دپاره دښمنی کول دی.دا کړئ به هیڅکله نۀ ماتیږی یعنی ددۀ جنت ته رسیدلو پورې.اوبل ځائې کښې فرمائی چې إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ ﴾ الله ﷻ د یو قوم حالت نۀ بدلوی تر څو چې هغه قوم خپل حالت په پخپله بدل نۀ کړی.

د عروة الوثقی د مفهوم په باره کښې یو حدیث مبارک:- د مسند احمد یو حدیث کښې دی چې قیس بن عباده ﷺ فرمائی چې زۀ په مسجد نبوی کښې ووم یو سړې راغلو او چې هغه ډیر زړۀ سواندې وو.دوه وارۀ رکعته مونځ ئې اداکړو،خلقو د ده په کتلو اووئیل دې جنتی دې.هرکله چې بهر راووتلو نو زۀ هم هغه پسې شوم او خبرې مې ورسره کولې.هر کله چې هغه متوجه شو نو ما ورته اووئیل چې کله تاسو تشریف راوړو نو خلقو ستاسو متعلق داسې وئیلی وو.وې وئیل سبحان الله! هیڅا ته هغه ویناکول نۀ دی پکار چې د هغې علم هغۀ ته نه وی.البته داسې خبره شته دې چې ماد نبی اکرم ﷺ په ژوند کښې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب الاسازی فی السلاسل: ۳۰۱۰)-
(۲) احمد: ۳/۱۰۹،)-

یو خوب لیدلې وو چې په یو شین باغ کښې یم،د دې په مینځ کښې د اوسپنې ستن ده.چې زمکې نه آسمان پورې ختلې ده.ددې په سر باندې یو کړه ده.ماته اووئیلې شو چې دې باندې اوخیژه.ما ورته اووئیل چې زهٔ خو دې باندې نهٔ شم ختلې.نو یو سړی زهٔ اونیولم او زهٔ په آسانئ سره اوختلم.او هغه کړه مې اونیوله.هغه اووئیل چې کوري دامضبوطه اونیسه.بس هم په دې حالت کښې زما سترګې اوغړیدې چې هغه کړه زما لاس کښې وه.ما نبی اکرم ﷺ ته دا خوب بیان کړو نو نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل باغ اسلام دې.او ستن د دین ستن ده.او کړه عروه الوثقی ده،نو تهٔ به ترمرګه پورې په اسلام قائم ئې.دا سړی عبدالله بن سلام ﷺ دې.(۱)دا حدیث بخاری اومسلم دواړوکښې موجود دې.دمسند په دې حدیث کښې دی چې په دغه وخت کښې دوی بوډا شوی وو.اوپه همسا مسجد نبوی ته راغلی وو.او یو ستنې سره ئې مونځ کړې وو.او د سوال په جواب کښې ئې فرمائیلی وو چې جنت د الله ﷻ څیز دې چې چا لره اوغواړی نو هغه دې ته داخلوی.د خوب ذکر کښې فرمائی چې یو سړی راغلو او زهٔ ئې روان کړم اویو اوبډ اوصفا میدان ته ئې اورسولم.ما اوغوښتل چې ددې ګس طرفته لاړم شم.خو هغهٔ راته اووئیل چې داسې نه.زهٔ بښی طرفته روان شوم.نو په دې کښې یو خویندار غر مې اولیدو،هغه زما لاس اونیولو او پورته ئې اوخیژولم.او زهٔ د هغې سر ته اوختلم.هلته ما یو اوچته ستن اوکتله چې د اوسپنې وه او د هغې یو طرف ته د سرو زرو کړه وو.زهٔ هغه دې ستنې ته اوخیژولم تر دې چې ما هغه کړه لاس کښې اونیوله.هغه راته اووئیل چې بښهٔ مضبوطه دې اونیوله؟ما اووئیل چې آو.هغه زور سره ستن په خپله پښه اووهله او هغه اووتله او کړه زما لاس کښې پاتې شوه.هرکله چې ما دا نبی اکرم ﷺ ته بیان کړل نو نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چې تا بښهٔ بهتر خوب لیدلې دې.هغه میدان دحشر میدان دې.ګس طرفته لارد جهنم لار ده.تهٔ د هغه خلقو نه نهٔ ئې.د بښی طرفته لار د جنتیانو لار ده.خوئیدونکې غر د شهیدانو منزل وو.کړه د اسلام کړه ده.تر مرګه پورې په دې باندې مضبوط اوسه.دې نه پس عبدالله ﷺ اوفرمائیل چې زما دا طمع ده چې الله ﷻ به ما جنت ته داخل کړی.

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ	
الله دوست دی	دهغه کسانو
الله ملګری دی	
اٰمَنُوْا ۙ يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا	
چې ایمان ئې راوړې دی	هغه راباسی هغوئ
دمؤمنانوچې د(کفرد) توروتیرو نه ئې (دایمان)	ورځ راته
اَوْلِيٰٓـُٔهُمُ الطَّاغُوْتُ ۙ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ	
دوستان دهغوئ	طاغوتیان دی
دوستان هغه شیطانان دی چې د(ایمان)	ورځ نه
اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝	
صاحبان د اور دی	هغوئ به په هغې کښې
دوزخیان دی	اوتول عمر به په دوزخ کښې پراته وی

(۱) احمد: ٤٥٢/٥، صحیح بخاری کتاب مناقب الانصار باب مناقب عبدالله بن سلام : ۳۸۱۳، صحیح مسلم: ۲٤۸٤)-

قوله تعالى:- اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دمومنانو ولی الله ﷻ او د کفارو ولی شیطان دي:- الله ﷻ خبر ورکوی چې څوک د هغهٔ پاك ذات د رضا طلبګار وی نو الله ﷻ هغهٔ ته لار ښائی.او هغه د کفر او شرك د شك او شبهې دتیارو نه راوباسی او هغه ته دحق رڼا نصیب کوی.د کفارو ولی شیطان دي.اوهغوئ د جهالت او ضلالت تیارو ته راکاږی او د ایمان او توحید نه ئې منع کوی.او داشان ئې د حق د رڼا نه لرې کړې وی د ناحق په تیارو کښې ئې داخلوی.هم دا کافران دی او همیشه به دوی په جهنم کښې پراتهٔ وی.(۱)

قوله تعالى:- يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ

حق یو دي او د باطلو ایر قسمونه دی:- لفظ نور لره واحد راوړل او د ظلمات جمع راوړل د دې وجې دی چې د حق او ایمان او ربښتونې لاره یو ده.او د کفر ډیر قسمونه دی.د کفر ډیر شاخونه دی،او هغه ټول په ټوله باطل او ناحق دی.لکه بل ځائې کښې دی چې ﴿وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا ۭ قَدْ فَصَّلْنَا﴾ زما نیغه لار هم دا ده تاسو د دې تابعداری اوکړئ او نورو لارو باندې مهٔ ځئ ګنی ورك به شئ،دا وصیت ستاسو د بچ کیدو دپاره اوکړې شو او بل ځائې کښې دی چې ﴿وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ﴾ نورهم دا قسمه ډیر آیتونه دی چې هغې نه ثابتیږی چې حق یو دي او باطل ډیر دی.ایوب بن خالد رحمه الله فرمائی چې خواهش پرست یا د فتنې خاوندان به راوچت کړې شی چې څوك ایمان غواړی نو د هغهٔ مخ به روښانه اوصفا او نورانی وی او چې څوك کفر غواړی نو هغهٔ به تور او تیارو والا وی.بیادوی د مذکور آیت تلاوت اوکړو.

اَلَمْ تَرَ							اِلَى الَّذِيْ
آیا نهٔ دي کړې غورتا							په حال دهغه سړی
(ائې پیغمبره)ته دهغې سړی په قیصه غور نه کوې							
حَآجَّ	اِبْرٰهٖمَ	فِيْ رَبِّهٖٓ	اَنْ اٰتٰىهُ اللّٰهُ	الْمُلْكَ			
چې جګړه ئې کړې وه	دابراهیم سره	په باره درب دهغه کښې	په دې وجه چې ورکړې وو	الله هغه ته	حکومت		
چې ابراهیم ؑ سره ئې دالله پحقله بحث کړې وو			ځکه چه الله ﷻ هغه سړی ته بادشاهی ورکړې وه				
اِذْ قَالَ	اِبْرٰهٖمُ	رَبِّيَ الَّذِيْ	يُحْيٖ	وَيُمِيْتُ ۙ	قَالَ	اَنَا	
کله چې اوونیل	ابراهیم ؑ	چې رب زما هغه دی	چې ژوندی کول کوی	او مړه کول کوی	اوونیل هغه	زهٔ	
هرکله چې ابراهیم ؑ	ورته اوونیل	چې زما رب ژوندی کول او مړهٔ کول کوی		انوهغه اوونیل چې زه هم			
اُحْيٖ	وَاُمِيْتُ ۭ	قَالَ اِبْرٰهٖمُ	فَاِنَّ اللّٰهَ	يَاْتِيْ	بِالشَّمْسِ	مِنَ الْمَشْرِقِ	
ژوندی کول کوم	او مړه کول کوم	اوونیل ابراهیم ؑ	چې بیشکه	الله	راخیژوی	نمر	دمشرق نه
ژوندی کول او مړهٔ کول کوم		نوابراهیم ؑ	ورته اوونیل	چې الله داسې دي	چې نمر دمشرق نه راخیژوی		
فَاْتِ	بِهَا	مِنَ الْمَغْرِبِ	فَبُهِتَ	الَّذِيْ	كَفَرَ ۭ		
نو راوخیژوه ته هغه	د مغرب نه	نو حیران پاتې شو	هغه کس	چې دحق نه ئې انکار کړې وو			
نو(ښه ده) ته ئې دمغرب نه راوخیژوه		.....نو(په دې خبره)هغه کافر حیران پاتې شو					

(۱) احمد: ۳/۵، صحيح مسلم: كتاب فضائل الصحابة باب من فضائل عبدالله بن سلام : ۲۴۸۴)-

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝
او الله [نۀ ښائی لارنیغه] قوم [ظالم ته]
الله پاک دظالمانوڅله په سمه لار نه بوزی]

قوله تعالی:-اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْ

د ابراهیم ﷺ اونمرود ترمینځه مناظره:-دهغه بادشاه نوم نمرود بن کنعان بن کوس بن سام بن نوح وو. ددۀ بادشاهت بابل کښې وو.ددۀ په نسب نامه کښې څه اختلاف هم دې.مجاهد رحمة الله علیه فرمائی چې هغه خلق څلور دی چې کومو مغرب نه تر مشرقه پورې حکومت کړې وو.چې په هغوئ کښې دوه مسلمانان او دوه کافر وو.دوه مسلمانانو کښې یو سلیمان ﷺ بن داود ﷺ او بل ذوالقرنین او دوو کافرو کښې یو نمرود او دویم بخت نصر وو.([1]) د ﷻ د طرفه فرمان دې چې ائې نبی ﷺ !تا د زړۀ نه هغه کس ته اونۀ کتل چا چې د ابراهیم ﷺ سره د الله تعالی د وجود په حقله بحث و مباحثه اوکړه.دې سړی پخپله د الله کیدو دعوی کوله لکه څنګه چې دۀ نه پس فرعون هم په خپل قوم کښې د خدائې دعوی کړې وه چې زۀ خان نه سوا هیڅوک ستاسو الله نۀ منم.د یو لونې مودې نه د دې سړی دا بادشاهت راروان وو.د دې وجې د دۀ په مازغو کښې کبر او انا وه.سرکشئ او کبر او فخر او غرور دده په طبیعت کښې اثر کړې وو.بعضې خلق وائی چې دۀ څلور سوه کاله حکومت کړې وو.

قوله تعالی:-اِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّيَ الَّذِيْ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۙ

د ابراهیم ﷺ نه د الله تعالی په وجود د دلیل غوښتنه:- ابراهیم ﷺ نه چې کله دۀ د الله ﷻ د وجود دلیل اوغوښتلونو ابراهیم ﷺ ورته د نیش نه د شته کیدو اودشته نه د نیشت کیدو دلیل ورکړو.او دا یو ښکلې اودنمر پشان روښانه دلیل وو دا موجودات مخکښې نۀ وو بیا پیدا شو او بیا به ختمیږی او بیا به پیداکیږی دا ټول دلیلونه دی د الله ﷻ د موجود کیدو.

قوله تعالی:-قَالَ اَنَا اُحْيٖ وَاُمِيْتُ ؕ

نمرود جواب کښې اووئیل چې دا خو زۀ هم کوم.دې وینا سره دۀ دوه سړی راوغوښتل چې واجب القتل وو یو نې قتل کړو او بل نې پریښودو.([2])اصل کښې دا جواب او دا دعوی څومره سپکه ډته او خرابه ده،ددې د بیان ضرورت نشته.

د نمردو د جواب وضاحت:- ابراهیم ﷺ صفاتو د الله کښې یو صفت،پیدا کول او بیا نیش کیدل بیان کړی وو.او دا خو نۀ دۀ(نمرود) پیدا کړی دی اونۀ پخپل مرګ اوحیات باندې قدرت لری.لیکن د جاهلانو د راپارولو د پاره،اوپه هغوی باندې خپل علمیت ثابتولو د پاره باوجود د خپلې غلطئ نه او سره د علم ددۀ نه په دې خبره باندې چې دا د بحث او مباحثې د اصولو نه تیښته ده دۀ بس صرف یوه خبره جوړه کړه.

قوله تعالی:-قَالَ اِبْرٰهِيْمُ فَاِنَّ اللّٰهَ يَاْتِيْ بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَاْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ ،

د ابراهیم ﷺ یو بل دلیل او د نمرود عاجزی:- ابراهیم ﷺ هم په هغۀ پوهه شو.او ابراهیم ﷺ هغه کم عقل په مخکښې یو داسې دلیل پیش کړو چې دصورت لحاظ سره هغه ددې مشابهت اونکړی شی.نو وې فرمائیل چې هرکله چې ته دپیدائش او مرګ اختیار لرې نو په مخلوق باندې ستا تصرف پکار دې.زما الله ﷻ خوداتصرف لری چې نمر ته ئې حکم کړې دې چې هغه دمشرق طرفنه راوباسی نوهغه راوځی. اوس تۀ حکم ورکړه چې د مغرب نه راوځی.

---

[1]) لطبری: ۴۳۳/۵)-

[2]) الطبری:۴۳۳)-

قوله تعالی:- فَبُهِتَ الَّذِیْ کَفَرَ
هغه ددې څه مات کړه جواب هم ورنکړو.او عاجزه شو او دخپلې عاجزئ اظهار ئې اوکړو.او د الله ﷻ حجت په دې باندې پوره شو.لیکن هدایت ورته نصیب شوې نۀ وو نو د دین په لار رانغلو،داسې خراب خلق الله ﷻ په څه دلیل باندې نۀ پوهوی او هغوئ هروخت دحق په مقابله کښې ولاړوی.په هغوئ باندې دالله ﷻ غضب او غصه او ناراضګی وی.اودهغوئ دپاره پدې جهخان کښې هم سخت عذاب وی.

د بعضې حکماؤ خیال:- بعضو منطقیانو وئیلی دی چې خلیل الله ﷺ دلته د یو واضح دلیل نه پس بل دلیل ددې نه هم زیات واضح پیش کړو.لیکن حقیقت کښې داسې نۀ ده بلکه رومبی دلیل د دوئم مقدمه وه اودې دواړو سره د نمرود د دعوې باطلیدل واضح شو.اصل دلیل هم پیدائش اومرګ دې.اګر چې د دې دعوی دې ناپوهه هم اوکړه نو لازم وو چې څوک په جوړولو او ورانولو باندې قادر وی هغه دې د جوړولو او ورانولو خالق هم وی دا نه چې صرف په جوړولو او ورانولو دې قادر وی،او دا چې د هغۀ ملکیت ټول په ټوله په ښۀ طریقې سره د هغۀ په قبضه کښې وی.او څنګه چې د مرګ او ژوند احکام جاری کوی داشان نور احکام دې هم جاری کوی.نو بیا به څه وجه وی چې نمر ددۀ تابعداری اونکړی خکه چې هغه هم یومخلوق دې او د ددۀ په وینا دې د مشرق په خاني د مغرب نه راونۀ ځی؟.نو ابراهیم ﷺ په دې باندې ښکاره غلبه حاصله کړه او هغه ئې بالکل لاجواب کړو .فالحمدلله.

دا مناظره کله شوې وه؟:- سدی رحمه الله فرمائی چې دا مناظره د ابراهیم ﷺ د اور د راوتلو نه پس وه.د دې نه مخکې د ابراهیم ﷺ دې ظالم بادشاه سره ملاقات نۀ ووشوې.

دابراهیم ﷺ معجزه:- د زیدبن اسلم رحمه الله قول دې چې قحط وو،خلق به نمرود له تلل او غله به ئې تري نه راوړه.خلیل الله ﷺ هم لاړو او هلته دا مناظره اوشوه.هغه بدبخت ابراهیم ﷺ ته غله هم ورنکړه.او ابراهیم ﷺ خالی لاسونه واپس راغلو.کور ته چې نزدې شو نو ابراهیم ﷺ دواړه بورئ د شګې نه ډکې کړې چې کور والو ته پته اولګی چې کور ته ئې څه راوړې دی.راتلو سره ئې بورئ کیخودې.د دوی بی بی ساره پاسیده او بورئ ئې پرانیستې نو په هغې کښې ډیره ښکلې غله وه.روټئ ئې پخه کړه او د ابراهیم ﷺ هم سترګې اوغړیدلې نو وې وئیل چې روټئ تیاره ده.تپوس ئې اوکړو چې غله د چرته نه راغله؟ورته اووئیلې شوچې دهغه بورو نه چې کومې تاسو راوړې وې دهغې نه موغله راوویستله. ابراهیم ﷺ پوهه شو چې دا د الله ﷻ د طرفنه د هغۀ لوئې برکت او رحمت دی.

نمرود باندې د الله ﷻ عذاب:- الله ﷻ دې نافرمان بادشاه ته یو فرښته اولیږله او هغه فرښتې ورته د توحید دعوت ورکړو لیکن دۀ قبول نۀ کړو.دوباره ئې دعوت ورکړو لیکن انکار ئې اوکړو.په دریم ځل ئې الله ﷻ طرفته راوبللو نو بیا هم دۀ انکار اوکړو.د څو څو واړې انکار کولو نه پس فرښتې دۀ ته اووئیل چې ښه ده خپل لښکرتیار کړه زۀ هم خپل لښکر راولم.نمرود یو لوئې لښکر تیار کړو او یو زبردست فوج سره دنمر ختلو نه مخکښې مخکښې میدان ته راووتلو،بل طرفته الله ﷻ د ماشو دروازه بیرته کړه، غټ غټ ماشی دومره زیات راغلل چې خلقو ته نمر هم نۀ ښکاریدو.دا ربانی فوج د نمرود فوج باندې حمله آور شو.اولږ وخت کښې د هغوئ وینه څه چې د هغوئ غوښه ئې هم ټوله اوخورله.او ټول په ټوله هلته هلاک شو.د هډوکو ډهانچې باقی پاتې شوې.په ماشو کښې یو دنمرود پوزه کښې ننوتو او څلورسوه کاله پوری ئې ددۀ دماغ وخټل.هغۀ په داسې عذاب کښې اخته وو چې د هغې نه مرګ په سل درجې بهتر وو.خپل سر به ئې دیوالونو او کانړو سره وهلو،څټکونو سره به ئې ټکولو،او هم دې عذاب کښې هلاک شو.(اعاذنا الله).

اَوْ كَالَّذِیْ مَرَّ عَلٰی قَرْیَةٍ
یا اوګوره مثال دهغه سړی ته چې تیرشو په یو کلی
(یادمثال په طور)دهغه چاقصه واوره چې په یو ښاربانديې تیر شو

Scanned with CamScanner

وَّهِيَ خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا ۚ قَالَ اَنّٰى يُحْيٖ هٰذِهِ اللّٰهُ بَعْدَ

او هغه| راپريوتې وې| په چتونو خپلو باند |هغه اوونيل | څنګه به | ژوندې کوی| داکلې| الله | روستو

چې چتونه ئې پرمخې راپريوتی وو| نوې وې ونيل چې دانبارېه الله پاک څنګه ژوندې کوی | د داسې

مَوْتِهَا ۚ فَاَمَاتَهُ اللّٰهُ مِائَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهٗ ؕ قَالَ

دمرګ دهغې نه|نومړکړوهغه لره| الله| سل کاله | بيا ئې|ژوندې کړوهغه| ورته اوونيل الله

هلاکت نه پس | نوالله پاک هغه سل کاله مړکړو |اوبيائې راژوندې کړو| .....ورته ئې اوونيل

كَمْ لَبِثْتَ ؕ قَالَ لَبِثْتُ يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ ؕ قَالَ

څومره وخت تيرکړو تا|اوونيل هغه |ماوخت تير کړو|يوه ورځ| يا څه حصه دورځې | اوونيل الله

چې څومره موده دې تيره کړه | هغه اوونيل چې يوه ورځ يا د دې نه وخت به مې تيرکړی وی |الله ورته

بَلْ لَّبِثْتَ مِائَةَ عَامٍ فَانْظُرْ اِلٰى طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۚ

بلکه تا وخت تير کړو|سل کاله | نوراوګوره| خوراك خپل ته |اوڅکاك خپل ته |چې نۀ دی خراب شوی

اوفرمائيل نه بلکه سل کاله دې تيرکړل |اوس دخپل خوراک څکاک سامان ته اوګوره |چې سخا شوی نه دی

وَانْظُرْ اِلٰى حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ اٰيَةً لِّلنَّاسِ وَانْظُرْ اِلَى الْعِظَامِ

اواوګوره | خر خپل ته | اودپاره چې جوړکړوتالره| يوه نمونه| دپاره دخلقو| اواوګوره| هډوکوته|

اوخپل خرته اوګوره(چې څنګه ښاروې شوې دې) || وچې مونږتادخلقودپاره نمونه اوګرځو| اودخر هډوکو ته اوګوره

كَيْفَ نُنْشِزُهَا ثُمَّ نَكْسُوْهَا لَحْمًا ؕ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗ ۙ قَالَ

چې څرنګه رااوچتوؤمونږ هغه| بيا | اغوندوؤ هغې ته|غوښه | نو هر کله چې| ښکاره شو| هغه ته|نو اوونيل هغه

چې څنګه ئې يوخاني کوؤ| اوبياڅنګه ورته غوښه اغوندؤو| او چې ټول حقيقت ورته ښکاره شو | نووې ونيل

اَعْلَمُ اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۵۹﴾

پوهيږم زه| چې الله | په هر څيز باندې | قادر دې

خۀ اوس ډير ښه پوهه شوم چې الله په هرڅه قدرت لری

د قدرت لويه نښه دسلو کالو نه پس دوباره ژوندی کيدل: پورته چې کومه واقعه دابراهيم ﷺ دبحث تيره شوه ،په هغې باندې ددې عطف دې.

دا تيريدونکې څوک وو:- دا تيريدونکې خو يا عزير ﷺ وو(۱)لکه څنګه چې مشهور دی او يا ارميا بن حلقيا وو.او دا نوم د خضر ﷺ دې يا خزقيل بن بورا وو يا بنی اسرائيلوکښې يوسړې وو،دا کلې بيت المقدس وو.اوهم دامشهورقول دې.بخت نصر چې کله داکلې وران ويجارکړواوددې خائې اوسيدونکی

(۱) بن ابی حاتم: ۱۰۰۹/۳، الطبری: ۴۳۹/۵)-

Scanned with CamS

نې قتل کړل او کورونه ئې ورله شار کړل.او دا اباد کلي بالکل خوشي شو.نو دې نه پس دابزرګ دې خانې باندې تير شو،هغوئ اوکتل چې ټول کلي تباه شوي دي نهٔ په کښې کورونه شته دي او نهٔ په کښې اوسيدونکي شته،

قوله تعالى:-قَالَ أَنَّىٰ يُحْيِۦ هَٰذِهِ ٱللَّهُ بَعْدَ مَوْتِهَا ۖ

نو هغه خانې کښې ايسار شو او سوچ کښې پريوتلو چې دا ښکلي ښار به بيا څنګه آباد شي؟

قوله تعالى:-فَأَمَاتَهُ ٱللَّهُ مِاْئَةَ عَامٍ ثُمَّ بَعَثَهُۥ ۖ

الله ﷻ په هغه باندې مرګ راوستلو دلته دې په دې حالت کښې وو،او بل خوا اويا کاله پس بيا بيت المقدس آباد شو.تبنتيدلى بنى اسرائيل هم بيا راغلل او دا ښار نهٔ آباد شو.او په دې کښې بيا هغه د مخکښې په شان خوشحالى او ګټه شوه.په دې کښې سل کاله پورا شو،دې نه پس الله ﷻ هغه ژوندې کړو.اودټولو نه مخکښې دده په سترګو کښې روح راغلو.چې پخپله خپل راژوندى کيدل اوګورى. هر کله چې ټول بدن کښې روح واچولې شو

قوله تعالى:-قَالَ كَمْ لَبِثْتَ ۖ

نو الله ﷻ د فرښتې په ذريعه ترې تپوس اوکړو ته څومره موده مړ وې ؟ددې په جواب کښې هغه اوونيل چې لا خو يوه ورځ هم نهٔ وه پورا شوې.

دا جواب ولې ورکړې شو:-ددې وجه دا وه چې د سحر په وخت کښې ددهٔ نه روح وتلې وواو سل کاله پس چې کله ژوندې شو نو دمابنام وخت وو.دده خيال راغلو چې دا هم هغه ورځ ده.

قوله تعالى:-قَالَ بَل لَّبِثْتَ مِاْئَةَ عَامٍ فَٱنظُرْ إِلَىٰ طَعَامِكَ وَشَرَابِكَ لَمْ يَتَسَنَّهْ ۖ

نو الله ﷻ اوفرمائيل چې تهٔ سل کاله مړ وې.اوس زمونږ قدرت اوګوره ستاتوښه چې کومه تاسره وه هغه شان ده،نهٔ خوسخا شوې ده او نه خرابه شوې ده.

دا توښه څه ځيز وو؟:- داتوښه انګور،انځران او شيره وه.نهٔ خوشيرا خرابه شوې وه او نهٔ انځران سخا شوى وو اونهٔ انګوران سخا شوى وو.بلکه صحيح او خپل اصلى حالت کښې وو.

قوله تعالى:-وَٱنظُرْ إِلَىٰ حِمَارِكَ وَلِنَجْعَلَكَ ءَايَةً لِّلنَّاسِ

اوس ئې اوفرمائيل چې داستا د خر سخا او ايره شوى هډوکى ستا مخې ته پراتهٔ دى.دې ته ګوره مونږ ستاوړاندې داژوندى کوؤ.مونږ ستا ذات لره نورو خلقو دپاره يو دليل جوړوؤ چې ترقيامته پورې د دوى په زړهٔ کښې دايقين وى چې دوباره به ژوندى کيږو.نوددهٔ وړاندې هغه هډوکى يوبل سره يو خائې شواوراپاسيدل.مستدرك حاكم كښې دى چې د نبى اكرم ﷺ قرات﴿نُنشِزُهَا﴾ زاء سره دې(۱)او دا ﴿نُنشِزُهَا﴾ راء سره هم لوستلې شوې دې يعنى ژوندى به ئې کړو.د مجاهد رحمه الله قرات هم دا دې.(۲) سدى رحمه الله وانى چې داهډوکى ددوى ګيرچاپيره پراتهٔ وو او د ورستيدو په وجه د دې سپين والې پرقيدو،هوا کښې يو خائې شو او بيا هر يو هډوکې خپل خپل خائې ته اورسيدواو ددې نه پورا ډهانچه جوړه شوه او په دې باندې غوښه نهٔ وه.بيا الله ﷻ دې(ډهانچې)ته غوښه،رګونه،او پټې ورکړې.بيا فرښته ئې اوليږله او هغه فرښتې د دې په پوزه کښې پوک وهل.نوداالله ﷻ حکم سره هم هغه وخت کښې هغه ژوندې شو.او آواز ئې اوکړو.(۳)

قوله تعالى:-فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥ قَالَ أَعْلَمُ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝

داټولې خبرې عزير ﷺ کتلې.او د قدرت ټوله کاريګرى د هغهٔ د سترګو وړاندې اوشوه.هرکله چې دا

---

۱) حاكم: ۲۳٤/۲، اسماعيل حاكم دا صحيح ګرزولې دې خو ذهبى اسماعيل بن قيس لره ضعيف ګرزولې دې)-
۲) الطبرى: ٤٧٦/٥)-
۳) الطبرى: ٤٦٨/٥)-

Scanned with CamScanner

ټول هر څه ئې اوکتل نو وې وئیل چې ددې خبرې علم خو ما ته وو چې الله ﷻ په هر څیز باندې قادر دې.خو ولې اوس ما په خپلو سترګو سره اوکتل،نو زهٔ په خپله زمانه کښې دټولو نه زیات علم و یقین لرونکی یم.بعضو خلقو﴿ اعلم ﴾(صیغه د متکلم)لره﴿ اعلم ﴾(یعنی صیغه د امر) هم لوستلې دې یعنی الله ﷻ اوفرمائیل چې پوهه شه چې الله ﷻ په هر څیزقادر دې.

وَاِذْ	قَالَ اِبْرٰهٖمُ	رَبِّ	اَرِنِیْ					
	او هر کله چې	اووئیل ابراهیم ﷺ	اې ربه زما	اوښایه ماته				
	او هغه واقعه یاده کړه چې ابراهیم اووئیل اې خمار به ماته اوښایه							
کَیْفَ	تُحْیِ الْمَوْتٰی ؕ	قَالَ	اَوَلَمْ تُؤْمِنْ ؕ	قَالَ	بَلٰی	وَلٰکِنْ		
چې څنګه	ته ژوندی کوې مړی	اووئیل الله	آیا ته ایمان نه لرې	اووئیل (ابراهیم	ولې نه	لیکن		
چې ته مړی څنګه ژوندی کوې	الله پاک ورته اوفرمائیل چې ولې ته یقین نه کوې	اهغه ابراهیم اووئیل یقین لرم خو						
لِّیَطْمَئِنَّ	قَلْبِیْ ؕ	قَالَ	فَخُذْ اَرْبَعَةً	مِّنَ الطَّیْرِ	فَصُرْهُنَّ	اِلَیْكَ		
دپاره ددې چې مطمئن شی(زړهٔ زما	اووئیل الله	نواونیسه	څلور	دمرغانو نه	اونزدې کړه هغه	اخان ته		
دزړه اطمینان غواړم	الله ورته اووئیل(ښه ده)نوځلورمارغان راونیسه	اوخان سره ټې اموخته کړه						
ثُمَّ اجْعَلْ	عَلٰی كُلِّ جَبَلٍ	مِّنْهُنَّ	جُزْءًا ثُمَّ	ادْعُهُنَّ	یَاْتِیْنَكَ			
بیا کیږده اپه	هر یو غر	باند	ادهغوئ نه	ایوه یوه حصه	بیا	آواز اوکړه هغوئ ته	ارابه شی تاته	
بیادهغوئ نه یوه یوه ټوټه په یویوغرباندې کیږده	بیا ټې خان ته راوبله	نو رابه شی تاته						
سَعْیًا ؕ	وَاعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ	عَزِیْزٌ حَكِیْمٌ ﴿۲۶۰﴾						
په منډه	او پوهه شه	چې الله	غالب او حکمت والادې					
په منډه	اوپوهه شه چې الله داختیار اوحکمت خاوند دې							

قوله تعالی:-وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهٖمُ رَبِّ اَرِنِیْ كَیْفَ تُحْیِ الْمَوْتٰی ؕ

ابراهیم ﷺ او دحصې حصې شوو څلورو مارغانو ژوندی کیدل:- دابراهیم ﷺ ددې سوال ډیرې وجې وې. ❶یوداچې دا هم دلیل ابراهیم ﷺ د نمرود مردود مخکښې پیش کړې وو نو ابراهیم ﷺ اوغوښتل چې د علم الیقین سره عین الیقین هم حاصل کړی.هسې خو زهٔ په دې پوهیږم خو چې په سترګو ټې هم اوګورم.صحیح بخاری کښې د دې آیت په موقع باندې یو بل حدیث دې چې په هغې کښې دی چې مونږ د ابراهیم ﷺ په نسبت زیات د شک حقدار یو،هرکله چې هغوئ اووئیل چې﴿رَبِّ اَرِنِیْ﴾(۱) نو دې نه دې یو جاهل دا نهٔ ګڼړی چې ابراهیم خلیل الله ﷺ ته د الله ﷻ په دې صفت کښې شک وو.ددې ذکر شوی حدیث ډیر جوابونه دی.چې په هغې کښې یو دادې.(کیدې شی چې دا وی چې باوجود د دې چې مونږ د ابراهیم خلیل الله ﷺ نه په ایمان کښې کمزوری یو او مونږ د الله تعالی په دې صفت کښې شک نهٔ کوو نو خلیل الله ﷺ به ولې شک کوی(مترجم).

قوله تعالی:-قَالَ فَخُذْ اَرْبَعَةً مِّنَ الطَّیْرِ فَصُرْهُنَّ اِلَیْكَ

رب العالمین خالق کل فرمائی چې څلور مارغان واخله.مفسرینو نه دې باره کښې ډیر اقوال منقول دی

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (واذا قال ابراهیم رب....) : ۴۵۳۷، صحیح مسلم: ۱۵۱)-

چې کوم کوم مارغان ابراهیم ﷺ اخستی وو.لیکن ظاهر دادی چې ددې علم مونږ ته څه فائد نه شی راکولې او د دې نه پیژندل مونږ ته څه نقصان نه رسوی.څوك وائی چې هغه طاوس او کونتره وه.څوك وائی چې هغه بطخه اودسیمرغ بچې اوچرګ او تاوس وو.څوك وائی چې کونتره چرګ اوکارغه وو. بیا(دغه)مارغان تکړې تکړې کړه.

د الله تعالی په قدرت سره د مارغانو راژوندی کیدل:- ابن عباس ﷺ هم دا فرمانی او یوروایت کښې دی چې دا خان سره کیده.هرکله چې تاسره اموخته شی نو بیا ئې حلال کړه،بیا دا تکړې تکړې بیلې بیلې کړه.نو ابراهیم ﷺ څلور مارغان واخستل او دا ئې تکړې تکړې کړل.او بیا ئې مختلفې تکړې خپلو کښې یوخائې کړې.

قوله تعالی:-ثُمَّ اجْعَلْ عَلٰى كُلِّ جَبَلٍ مِّنْهُنَّ جُزْءًا

بیائې په څلورویااووه غرونو باندې دا مارغان کیخودل.او د ټولو مارغانو سرونه ئې په خپل لاس کښې کیخودل.

قوله تعالی:-ثُمَّ ادْعُهُنَّ يَأْتِيْنَكَ سَعْيًا

بیا ابراهیم ﷺ د الله ﷻ په حکم هغه راوبلل.چې کوم مارغه ته به ئې آواز کولو نو د هغه مارغه خورې شوې وزرې به یو خائې نه بل خائې ته را الوتلې او خپلو کښې به یوخائې کیدلې،دا شان وینه به وینې سره یو خائې کیدله او نور اجزاء هم چې په کوم غر وو خپلو کښې به یو خائې کیدل او هغه مارغه به را الوتلو او ابراهیم له به راتلو.که ابراهیم ﷺ به دبل مارغه سر ورکول نوهغې به نه قبولو.که پخپله به ئې د هغې سر ورکولونو قبلولو به ئې.(۱) تر دې چې یو یو دا ټول مارغان ژوندی شو او والوتل.او د الله ﷻ د قدرت او د مړو د ژوندی کیدو نظاره خلیل الله پخپله اوکتله.

قوله تعالی:-وَاعْلَمْ أَنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ

بیا فرمائی چې پوهه شه الله ﷻ غالب دې،هیڅ یو څیز هغه عاجز کولې نشی.چې کوم یو کار هغه پاك ذات کول غواړی نو هغه بغیر دڅه بندیز نه کیږی.هر څیز د هغه په قبضه کښې دې.هغه په خپلو اقوالو او احکامو کښې حکیم دې،او دا شان په خپل انتظام او شریعت مقرر کولو کښې.

د امید او طمع زیاتونکی ایت:- عبدالله بن عباس ﷺ به فرمانیل چې د ابراهیم خلیل الله ﷺ نه د الله ﷻ دا سوال کول چې آیا تا ایمان نه دې راوړې؟او دابراهیم ﷺ دا جواب ورکول چې ولې نه ایمان خو مې راوړې دې لیکن د زړه د اطمینان د پاره داسې کول غواړم،دا آیت ما له د نورو آیتونو په نسبت امید اوطمع نوره هم زیاتوی،مطلب دادې که د یو ایماندار په زړه کښې څه وسوسه پیدا شی نو په هغې باندې څه نیول نشته دې.یوځل دعبدالله بن عباس ﷺ او عبدالله بن عمرو ابن العاص ﷺ ملاقات کیږی نوتپوس کوی چې په قرآن پاك کښې د ټولو نه زیات امید زیاتولو والا کوم یو آیت دې.عبدالله بن عمر بن عاص ﷺ فرمائ چې(لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ) والا آیت چې په هغې کښې ارشاد دې چې اې زما گناهگار بندګانوازما د رحمت نه مۀ ناامیده کیږئ زۀ ټول ګناهونو کره بښونکې یم.ابن عباس ﷺ فرمائی چې زماپه نیز خو ددې امت دپاره دټولونه زیات امید اوسهاره جوړولو والا آیت د حضر ابراهیم ﷺ دا قول او بیا د رب العزت دا سوال او د دوی جواب دې،(عبدالرزاق ابن ابی حاتم وغیره).(۲)

مَثَلُ	الَّذِيْنَ	يُنْفِقُوْنَ
مثال	دهغه کسانو	چې خرچ کوی
دهغه کسانومثال چې خیرات کوی		

---

(۱) القرطبی: ۳/۳۰۰)-

(۲) ابن ابی حاتم: ۱۰۳۲/۳،ذهبی تلخیص المستدرک:۶۰/۱ کښې فرمائی چه پدې کښې انقطاع ده نو دا سندضعیف دې،

Scanned with CamScanner

اَمْوَالَهُمْ	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	كَمَثَلِ حَبَّةٍ	اَنْۢبَتَتْ	سَبْعَ	سَنَابِلَ
مالونه خپل	په لار دالله کښې	په شان دیوې دانې دې	چې زرغون کړي	اوه	وړې
مالونه خپل	دالله پاک په لار کښې	.....د هغې دانې پشان دې	چې اوه وړې زرغون کړي		

فِيْ كُلِّ سُنْۢبُلَةٍ	مِّائَةُ	حَبَّةٍ ؕ	وَاللّٰهُ	يُضٰعِفُ	لِمَنْ	يَّشَآءُ ؕ	وَاللّٰهُ
چې په هرو وړې کښې	سل	دانې وي	اوالله	زیاتوی	دپاره دهغه چا	چې اوغواړي	او الله
وړې کښې سل دانې وي	داشان الله پاک چاته	چې اوغواړي نولږعمل	په څوڅوچنده	زیاتوی	اوالله پاک		

وَاسِعٌ	عَلِيْمٌ ۝
فراخه دې	او پوهه دې
د فراخو مالک دې	

قوله تعالی:-مَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

د صدقاتو اجروثواب:- په دې آیت کښې بیان کیږي چې کوم سړي د الله ﷻ د رضامندئ طلبګار وي او خپل مال خرچ کوي نوهغه ته ډیر برکتونه او ډیر ثوابونه ملاویږي.او نیکئ ورته اووه سوه چنده کیږي.

فی سبیل الله نه مراد:-نوفرمائی چې کوم خلق د الله ﷻ لار کښې یعنی دالله ﷻ فرمانبردارئ کښې،جهاد کښې،د اسونوپه ساتلوکښې،د وسلې اخستلو اوخرڅولو کښې،حج کولوکښې وغیره کښې خرچ کوي. دالله ﷻ په نوم چې کوم یو څیز ورکړي شی دهغې مثال په داسې صفائئ سره بیانیږي چې سترګې یحونکې اوزړه ته کوزیدونکې دي.یودم داسې فرمائی چې دیو بدله کښې به درته اووه سوه ملاویږي. ددې نه ډیر زیات لطافت په دې مثال او په دې کلام کښې دې.

قوله تعالی:-وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ

اوبیا ارشاد فرمائی چې نیکو اعمالو کښې د الله ﷻ په دربار کښې زیادت راځی.لکه څنګه چې ستاسوکرلې شوې تخم پتې کښې پروت وی او زیاتیږی.د مسنداحمد په حدیث کښې دې چې نبی اکرم ﷺ فرمائی چې کوم سړې خپل خان نه بچ شوې څیز دالله ﷻ په لار کښې خرچ کوی نو هغه ته اووه سوه چنده ثواب ملاویږي.او چې کوم سړې ئې په خپل خان او په خپل اهل وعیال باندې خرچ کړی نو هغه ته لس چنده ثواب ملاویږي.او د بیمار د تپوس کولو هم لس چنده ثواب ملاویږي.روژه ډهال دې ترکومې چې دا خرابه نۀ کړې شی.چې په کوم سړی باندې څه بدنی بیماری او مصیبت او غم درد راشی نو هغه دده ګناهونه رژوی.([1])دا حدیث ابو عبیده ؓ په هغه وخت کښې فرمائیلې وو چې کوم وخت کښې دوی سخت بیمار وو او خلق د دوی د تپوس کولو د پاره راتلل.د دوی بی بی صاحبه د دوی سر ته ناسته وه.د هغې نه ئې تپوس اوکړو چې شپه څنګه تیره شوه ؟ هغې اووئیل چې ډیره سخته.د دوی مخ په دغه وخت کښې دیوال طرفته وو.په دې آوریدو سره ئې مخ خلقو طرفته راواړلو او وې فرمائیل چې په ما دا شپه سخته تیره نشوه ځکه چې ما د نبی اکرم ﷺ نه دا آوریدلی دی.د مسنداحمد یو بل حدیث کښې دی چې یو سړی نکیل والا اوښه خیرات کړه نو نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چې ده ته به د قیامت په ورځ اووه سوه نکیل والا اوښې ملاویږي.([2])د مسند احمد په یو بل حدیث کښې دی چې الله ﷻ د ابن آدم یوه نیکی د لسو نیکو برابره کړې ده.او بیا هغه زیاتیږی تر اووه سوؤ پورې.

---

[1]) احمد: ۱۹۵/۱، وسنده حسن النسائی: مختصر: ۲۲۳۵)-

[2]) احمد: ۱۲۱/٤، صحیح مسلم: کتاب الامارة باب فضل الصدقة فی سبیل الله تعالی: ۱۸۹۲، نسائی: ٤۹۱٦)-

Scanned with CamSc

روژه زما د پاره ده:- خو د روژې باره کښې الله ﷻ فرمائی چې دا زما دپاره او زۀ به د دې اجر ورکوم.د رژوه دار د پاره دوه خوشحالئ دی یو د افطار په وخت کښې او بله د قیامت په ورځ.د روژدار د خولې بوئ الله ﷻ ته د مشکو د بوئی نه زیات خوښ دې.بل حدیث کښې دومره زیاتوالې دې چې روژه دار خپل خوراک څښاک زما دپاره پریږدی،آخر کښې دی چې روژه ډهال ده.(۱)مسند احمد یو بل حدیث کښې دی چې مونځ،روژه،ذکرالله،د الله ﷻ په لار کښې خرچ کولو باندې اووه سوه چنده کیږی

د د الله په لار کښې د خرچ کولو فضیلت:- (۲)د ابن ابی حاتم یو حدیث کښې دی چې کوم یو کس جهاد کښې مالی مدد اوکړی او پخپله جهاد کښې شامل نشی نو د یو بدله کښې ورته اووه سوه چند ثواب ملاویږی.اوکه پخپله هم شریك وی نو د یو درهم بدله کښې ورته د اووه لاکهه درهمو خرچ کولو ثواب ملاویږی.بیانبی اکرم ﷺ ددې آیت مبارك تلاوت اوفرمانیلو﴿وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾دا حدیث غریب دې (۳)

د دې امت خاص فضیلت:- د ابوهریره ﷺ والا حدیث ﴿مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ﴾تفسیر مخکښې تیر شوې دې،په هغې کښې دی چې د یو بدله کښې دوه کروړه دوچند ثواب ملاویږی.(۴) ابن مردویه کښې دی چې کله دا آیت نازل شو نو نبی اکرم ﷺ هم دا دعا اوکړه چې الٰهی الله!زما امت لږ نور زیات ورکړه.نو ﴿مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ﴾ والا آیت نازل شو.(۵) نبی اکرم ﷺ بیا هم دا دعااوکړه.نو دا آیت﴿اِنَّمَا یُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَیْرِ حِسَابٍ۝﴾ نازل شو نوثابت شو چې څومره په عمل کښې اخلاص زیات وی نو هومره به ثواب زیات وی.الله ﷻ وسیع فضل و کرم والا دې.هغه ته هم پته ده څوك څومره مستحق دې اوڅوك مستحق نۀ دې.﴿فسبحان الله والحمدلله﴾.

اَلَّذِیْنَ	یُنْفِقُوْنَ	اَمْوَالَهُمْ	فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ	ثُمَّ لَا
هغه کسان	چې خرچ کوی	مالونه خپل	په لار دالله کښې	بیا نۀ
اوپه هرڅه پوهه دې	څوك چې خپل مالونه دالله په لار کښې خیرات کوی	بیا
یُتْبِعُوْنَ	مَآ	اَنْفَقُوْا	مَنًّا	وَّلَآ اَذًى	لَّهُمْ	اَجْرُهُمْ	عِنْدَ رَبِّهِمْ
ورپسې کوی	په هغه څیز پسې	چې خرچ کړې ئې وی	احسان	اونۀ ضرر	ده دهغوئ دپاره	بدله دهغوئ	په نزددرب دهغوئ
پخپل خیرات پسې زباتل اوآزار نه رسوی	.....نو دهغوئ اجرخپل الله سره مقرر دې
وَلَا خَوْفٌ	عَلَیْهِمْ	وَلَا هُمْ	یَحْزَنُوْنَ۝	قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ	وَّمَغْفِرَةٌ	خَیْرٌ
اونۀ به وی یره	په هغوئ باند	اونۀ به هغوئ	غمژن کیږی	یوه خبره نیکه	او عفوه	بهتره ده
اونه هغوئ دپاره څه خطره شته	اونه به هغوئ غمژن وی	فقیرته	اخوږې خبرې کول اوپه نامناسبه خبره ستر کې پتول ښه دی
مِّنْ صَدَقَةٍ	یَّتْبَعُهَآ	اَذًى	وَاللّٰهُ	غَنِیٌّ	حَلِیْمٌ۝	یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ
دهغه خیرات نه	چې په هغې ورپسې وی	تکلیف	او الله	بې پرواه دې	صبرناك دې	ای هغه کسانو
دهغې صدقې نه چې ورپسې د(زباتنې) آزار وی		والله پاک بې پرواه اوصابردې		انې مسلمانانو

(۱) احمد: ۴۴۶/۱، صحیح مسلم کتاب الصیام باب فضل الصیام : ۱۱۵۱)-
(۲) احمد : ۴۳۸/۳، مختصرا ابوداود کتاب الجهاد باب فی تضعیف الذکر فی سبیل الله عزوجل : ۲۴۹۸، وسنده ضعیف)-
(۳) ابن ابی حاتم)-
(۴) احمد : ۲۹۶/۲،)-
(۵) ابن مردویه و ابن حبان الاحسان : ۴۶۲۹،)-

Scanned with CamScanner

اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى ۙ
چې ایمان مو راوړې دې	مه باطلوئ	صدقې خپلې	په احسان زیاتولو	او په تکلیف ورکولو سره
تاسو خپلې صدقې په زباتلو او تکلیف رسولو باندې مه خرابوئ .....
كَالَّذِيْ يُنْفِقُ مَالَهٗ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ
پشان دهغه سړي	چې خرچ کوي	مال خپل	د پاره دښودنې خلقو ته	اونۀ ایمان راوړي	په الله
لکه دهغه چاپشان چې خپل مالونه دنوم د پاره لګوي	.....	اونه په الله ایمان لري	
وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ
د اخرت باندې	نومثال د خرچ دهغه	پشان د مثال	د همواري ګټې دې	چې په هغې باندې	خاوره وي
اونه په ورځ د اخرت	دهغه (د خیرات) مثال دهغې هموار ګټې دې	چې د پاسه پرې خاوره پرته وي
فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا ؕ لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ
نو اورسي هغې ته	تیز باران	نو پریږدي هغه	صفا	اونۀ به قادر پرې داسې خلق	په هیڅ ځیز باندې
تیز باران شیبه پرې راشي او هوار صفا ئې پریږدي	او هیڅ لاس نه تورپرې .....
مِّمَّا كَسَبُوْا ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ۝
دهغه نیکئ نه	چې هغوئ کسب کړي ده	او الله	اونۀ ښائي نیغه لار	قوم	کافر ته
د دغه خلقو پخپله ګټه باندې	.....	او الله پاک د کافرو دلې ته هدایت نه کوي .....

قوله تعالى:- اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ لَا يُتْبِعُوْنَ مَآ اَنْفَقُوْا مَنًّا وَّلَآ اَذًى ۙ

دهغه صدقې فضیلت چې په هغې کښې احسان او ریاء نه وي:- الله ﷻ د خپلو هغه بندګانو مدح او تعریف کوي چې کوم خیرات او صدقې کوي او بیا په دې باندې په چا باندې احسان نه کوي. او نه خپلې ژبې سره او نه خپل یو فعل سره اونه هغه سړي ته څه نقصان رسوي. بیا هغوئ ته د خیر د جزاء وعده کوي چې ددوی اجر و ثواب د الله ﷻ په ذمه دې.

قوله تعالى:- وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝

په دوی باندې به د قیامت په ورځ هیڅ ویره او خفګان نه وي. او نه به د دنیا او نه د بچو د نقصان خطره وي، دوی ته به هیڅ غم نه وي، ددې وجې چې هلته په رسیدو سره به دوی ته ددې نه بهتر څیزونه ملاویږي.

قوله تعالى:- قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ وَّمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِّنْ صَدَقَةٍ يَّتْبَعُهَآ اَذًى ؕ

د ښۀ خبرې فضیلت:- بیا فرمائی چې کلمه دخیر د ژبې نه اوښکل د یومسلمان رور د پاره دعا کول، او معافی کول اودهغه خطا معاف کول د هغه صدقې نه زیات بهتر دی چې په هغې کښې تکلیف وی. ابن ابی حاتم کښې دی چې نبی اکرم ﷺ فرمائیلی دی چې هیڅ یو صدقه د نیک کار نه افضل نه ده. آیا تاسو دالله ﷻ فرمان ﴿قَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ﴾ نه دې آوریدلې؟[1] الله ﷻ د خپلو مخلوقاتونه بې نیازدې. اوټول مخلوق دهغه ذات محتاج دې. هغه حلیم اوبردبار دې. ګناهونو ته ګوري اوهغه شان حلم اوکرم کوي.

---

[1] دامرسل روایت دې)-

بلکه معاف کوی او بخښش کوی.

دري قسمه خلقو سره به الله ﷻ خبري نۀ کوی:- صحیح مسلم کښې دی چې دري قسمه خلقو سره به الله ﷻ دقیامت په ورځ خبرې نه کوی اونه به هغوئ طرفته گوری د رحمت په نظر،اونه به هغوئ لره پاکوی بلکه د هغوئ دپاره دردناك عذاب دي،یو خو د احسان زباتنه کوونکي او دویم د پوندو نه لاندې پرتوګ اود تهبندلره زورندونکي،او دریم خپلې سودا لره دخرڅولو دپاره قسمونه خورونکي(۱)ابن ماجه وغیره کښې په حدیث کښې دی چې دمورپلارنافرمان،صدقې سره چاباندې احسان کونکي، شرابی او په تقدیر ایمان نه لرونکي به جنت ته نه داخلیږی.(۲)نسائی کښې دی چې دري کسانو ته به الله ﷻ دقیامت په ورځ نه گور ی،د مور پلار نافرمانه،شرابی،اوپس د احسان کولو نه د هغې زباتونکي.(۳)

دنسائی یو بل حدیث کښې دی چې دا دري واړه سړی به جنت ته نه داخلیږی.(۴)د دې وجې نه په دې آیت مبارك کښې هم ارشاد دې چې پس د احسان کولو نه په زباتولو او چې چا سره مو احسان کړې وی هغه ته په تکلیف رسولو سره خپلې صدقې او خیراتونه مه بربادوئ ځکه چې د احسان زباتولو سره او د احسان نه پس تکلیف ورکولو سره د هغه احسان او صدقې ثواب باقی نۀ پاتې کیږی.

قوله تعالی:-يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُبْطِلُوْا صَدَقٰتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْاَذٰى

بیا مثال ورکوی چې احسان او تکلیف ورکولو سره د صدقې خرابیدلو مثال د هغې صدقې پشان دې چې کوم د خودنې په طور خلقو ته ورکړې شی،دخپل سخاوت او فیاضئ او دنیکئ د شهرت دپاره ورکړې شی چې خلق دده تعریف اوکړی اوخلق دې خوښ کړی.صرف دالله ﷻ د رضامندئ دپاره نه وی،اونه د هغه پاك ذات نه د ثواب حاصلولو په نیت وی،ددې وجې دې جملې نه پس الله ﷻ فرمائی

قوله تعالی:-وَلَا يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

چې د قیامت په ورځ او په الله تعالی د چا ایمان نه وی نو د دې ریاکارئ نه ډکې،د احسان د زباتنې او د تکلیف رسونکی د صدقې مثال داسې دې،

قوله تعالی:-فَمَثَلُهٗ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَاَصَابَهٗ وَابِلٌ فَتَرَكَهٗ صَلْدًا

لکه چې خوشې میدان او دکانړو غر وی،چې په هغې باندې خاوره وی،بیا سخت باران اوشی او څنګه چې ددې کانړی نه ټوله خاوره لاړه شی او په دې باندې هیڅ باقې پاتې نشی نو دا شان ددې دواړو خلقودخرچ کیفیت دې اګرچې خلق ګنړی چې ددې صدقې به نیکی وی چې څنګه په ظاهره په دې کانړی باندې خاوره په نظر راځی.لیکن کله چې باران اوشی نو د دې نه خاوره لاړه شی،دا شان د دې احسان او تکلیف رسولویاخودنې کولو والا ثواب هم لاړشی.او کله چې دا الله ﷻ ته اورسی نو د دې به ورته هیڅ بدله نۀ ملاویږی.

قوله تعالی:-لَا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّمَّا كَسَبُوْا

اوپخپلواعمالو کښې به ورته هیڅ څیز نه ملاویږی اوالله ﷻ دکافرانوخلقو نیغې لارې طرفته رهنمائی نه کوی.

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان غلظ تحریم اسبال الازار: ۱۰۶،ابوداود : ۴۰۸۷، ترمذی: ۱۲۱۱، نسائی: ۴۴۶۳)-

(۲) احمد: ۴۴۱/۶، ابن ماجة کتاب الاشربة باب من شرب الخمر فی الدنیا : ۳۳۷۶، وسنده حسن)-

(۳) نسائی کتاب الزکاة باب المنان بماأعطی : ۲۵۶۳، وسنده حسن)-

(۴) نسائی فی الکبری : ۴۹۲۱، ؟؟وسنده ضعیف)-

Scanned with CamScanner

وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ
او مثال دهغه کسانو| چې خرچ کوی	مالو نه خپل	دپاره دتلاش	درضا د الله
اودهغې کسانو مثال چې خپل مالونه دالله درضادپاره خرچ کوی .....
وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ كَمَثَلِ جَنَّةٍۢ بِرَبْوَةٍ اَصَابَهَا
او په ثبات او مضبوتیا سره| دطرفه دنفسونو خپلونه	په مثال دیو باغ دې	چې په اوچت ځائې وی	چې اورسیږی هغې نه
اوپه مضبوط زړه ټې لګوی	دهغه باغ پشان دې چې ایوه لوړه زمکه کښې لګیدلې وی	چې راشی پرې
وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ
تیز باران|نو ورکړی	میوه خپله	دوه چنده |اوکه اونۀ رسیږی هغې ته |تیز باران|نو نرې پشم ورله هم کافی وی
دشیبوباران نومیوه دوچنده اوکړی |اوکه چرې باران پرې اونه وریږی |نوکم نه کم پربنه خو پرې وریږی
وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝
او الله	په هغه کارونو	چې کوئ ټې تاسو	نظر ساتونکې دې|
اوالله پاک ستاسوکارونه وینې ګوری

قوله تعالی:-وَمَثَلُ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمُ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ وَتَثْبِيْتًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ

کومه صدقه چې دالله ﷻ دپاره ورکړې شی :- دا مثال دمومنانو د صدقې ورکولو دې چې د کومو نیتونه الله ﷻ لره خوښحالول وی.او دوی ته دهغې دبدلې ملاویدو پوره پوره یقین وی.لکه حدیث مبارک کښې دی چې کوم سړی درمضان روژې ایماندار سره اوساتلې او د دې د ثواب ملاویدو یقین ټې وی.[1]

ربوه وائی اوچتې زمکې ته چرته چې نهرونه بهیږی،دا لفظ﴿بِرُبُوَةٍ﴾ او ﴿بِرَبْوَةٍ﴾ هم لوستلې شوې دې.

قوله تعالی:-اَصَابَهَا وَابِلٌ فَاٰتَتْ اُكُلَهَا ضِعْفَيْنِ ۚ

د﴿وَابِلٌ﴾ معنی دسخت باران ده.هغه دوچنده میوه راوباسی یعنی د نورو باغونو په نسبت ددې باغ میوه ښه وی.

قوله تعالی:-فَاِنْ لَّمْ يُصِبْهَا وَابِلٌ فَطَلٌّ ؕ

داباغ داسې دې اوداسې ځائې کښې دې که باران اونشی نوبیاهم صرف پرخې سره هم ددې پالنه کیږی دا ناممکن دی چې موسم خالی لاړشی.دا شان د ایماندار داعمالو هم هیڅ کله بې ثوابه نه پاتې کیږی اودهغې بدله ورته ضرور ملاویږی.خو صرف د دې په جزاء کښې فرق وی اودا دایماندار په خلوص او نیت او د نیک کار اهمیت اعتبار سره زیاتیږی.

قوله تعالی:-وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝

الله ﷻ نه د خپلوبندګانو هیڅ یو عمل پټ نه دې.

اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ
آیا خوښوی	یوله تاسونه	چې وی	هغه لره
.....آیا په تاسو کښې به د چا دا خوښه شی چې دهغه

[1] صحیح بخاری کتاب الایمان باب صوم رمضان ایمانا واحتسابا..... ۳۸، صحیح مسلم: ۷۶۰)-

جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ لَهٗ فِيْهَا
یو باغ	دقجورو	او دانګورو	چې بهیږی لاندې د ونو هغې نه	نهرونه	وی هغه لره	په دغه باغ کښې
یوباغ وی دکهجورو او دانګورو	چې دهغې لاندې ولې بهیږی	د هغه دپاره په هغې کښې
مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ۙ وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۖ فَاَصَابَهَا
هر قسم میوې	اورسیدلې وی هغه ته	بوډا والې	اووی هغه لره	بچی	کمزوری	واورسیږی هغه باغ ته
هرقسم میوې نیولې وی	اودې پخپله بوډا وی	او واړه واړه ماشومان ځامن ئې وی	اوراشی په هغه باغ
اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ۗ كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ
برېوقئ دسخت باد	چې په هغې کښې	اوروی	او هغه اوسوزوی	دارنګې	بیانوی الله	تاسوته	آیتونه
داور پشان یو ګرمه برېوقئ	اوهغه دمیوؤ نه ډک باغ اوسوزوی	داشان الله پاک تاسو ته خپل قدرتونه بنائی
لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُوْنَ ۝ ع
دپاره ددې چې تاسو فکر اوکړئ
چې تاسو فکر اوکړئ

حسن عاقبت او خاتمه بالخیر:- صحیح بخاری کښې دی چې امیر المومنین عمر بن خطاب ﷺ یوورځ د صحابه کرامو ﷺ نه تپوس اوکړو چې تاسوته پته ده چې دا آیت د چا باره کښې نازل شویدې دې؟ هغوئ اوفرمائیل چې الله ﷻ ته زیاته پته ده.عمرفاروق ﷺ خفه شو او وې فرمائیل چې تاسو ته پته شته اوکه نشته ما له صفا او جواب راکړئ.ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چې ائې امیر المومنین ﷺ زما زړه کښې یو خبره ده،عمرفاروق ﷺ ورته اوفرمائیل چې وایه ورارهٔ او خپل نفس لره دومره مه سپکوه.وې فرمائیل چې د یو عمل مثال ورکړې شویدې.تپوس ئې اوکړو چې هغه کوم یو دې؟وې فرمائیل چې یو مالدار سړې چې د الله ﷻ د فرمانبرداریٔ دپاره کار کوی،بیا شیطان ده لره غلوی،او هغه ګناه کښې مشغول شی او خپل نیك اعمال تړې لاړشی(۱)نو دا روایت د دې آیت پوراتفسیر دې.په دې بیانیږی چې یوسړی د شروع نه ښه اعمال اوکړل،بیا دې نه پس دده حالت خراب شو اوپه ګناهونو کښې اخته شو،اوهغه نیکئ ئې تباه کړې چې کومې ده کړې وې.او آخری وخت کښې چې کله ده ته دنیکو ډیر زیات ضرورت وو نو دې خالی لاسونه پاتې شو.

قوله تعالی:-اَيَوَدُّ اَحَدُكُمْ اَنْ تَكُوْنَ لَهٗ جَنَّةٌ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ
لکه څنګه چې یو سړې یو باغ اولګوی او د هغې نه میوې اخلی،

قوله تعالی:-وَاَصَابَهُ الْكِبَرُ وَلَهٗ ذُرِّيَّةٌ ضُعَفَآءُ ۖ
خوهرکله چې بوډا توب ته اورسیدو او دده واړه بچی هم د ده څه پکار رانغلل.اوس دده دارومدار صرف په دې باغ باندې دې

قوله تعالی:-فَاَصَابَهَآ اِعْصَارٌ فِيْهِ نَارٌ فَاحْتَرَقَتْ ۗ
چې په دې یو طوفان راغلو او په هغې کښې اور هم وو،او هغه شین باغ ایره ایره شو.
داشان داسړې دې چې مخکښې ئې نیکئ اوکړې لیکن بیاچې کله ئې بدئ شروع کړې او خاتمه ددې ښه نه وی نو کله چې ددې دنیکو د بدلئ وخت راغلو نو دې خالی لاس پاتې شو.کافرسړې هم چې کله

(۱) صحیح بخاری کتاب آلتفسیر سورة البقرة باب قوله (ایود احدکم ....) : ۴۵۳۸)-

Scanned with CamS

الله ﷻ لره ورشی نو هلته هیڅ طاقت نه چلیږی لکه څنګه چې دې بوډها چې څه جمع کړی وو. هغه لره د کفر والا اور هلاک کړو. او اوس د روستو نه دهٔ ته فائدې ورکولو والا هیڅوک نشته. لکه څنګه چې ددې بوډا ماشومان اولاد دهٔ ته هیڅ فائده نه رسوی. مستدرك حاکم کښې دی چې نبی اکرم ﷺ یو دعا کړې وه ﴿اللهم اجعل اوسع رزقك علی دکبر سنی وانقضاء عمری﴾ (۱) یعنی اې الله ﷻ ! خپله روزئ ماته په هغه وخت کښې راکړه چې کله زما عمر زیات شی او ختمیدو ته نزدې شی.

قوله تعالی:- كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ

الله ﷻ ستاسو مخکښې دا مثالونه بیان کړل چې تاسو هم غور و فکر اوکړئ او سوچ اوکړئ او پوهه شئ او نصیحت حاصل کړئ. لکه څنګه چې فرمانی ﴿وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ۝﴾ یعنی دا مثالونه مونږ خلقو دپاره بیان کړل اوپه دې باندې علماء کرام ښه پوهیږی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا	
اې هغه کسانو چې ایمان مو راوړې دې خرچ اوکړئ دپاك مال نه هغه	
اې مومنانو (دالله په لار کښې) پاک (حلال) څیز خیرات کوئ دهغې	
كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ وَلَا تَيَمَّمُوا	
چې کټلې دې تاسو اودهغې نه اچې راایستلی دی مونږ استاسو دپاره دزمکې نه اومهٔ کوئ قصد	
مال نه چې تاسو کټلې وی او دهغې پیدا وارنه چه مونږ ستاسو دپاره دزمکې نه راویستی دی اودردی مال قصد	
الْخَبِيْثَ مِنْهُ تُنْفِقُوْنَ وَلَسْتُمْ بِاٰخِذِيْهِ	
دخراب څیز اهغې نه اچې خرچ کوئ نې تاسو او حال دا چې نهٔ یئ تاسو اغستونکی دهغې	
مه کوئ اچې تاسود هغې نه خیراتی برخه اوباسئ اداسې چې تاسوپخپله دهغې اخستوته تیارنه یئ	
اِلَّآ اَنْ تُغْمِضُوْا فِيْهِ ۭ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ	
امګراچې سترګې پټې کړئ اپه اغوستو دهغې کښې او پوهه شئ چې الله محتاجه نهٔ دې	
مګردا چې سترګې پټې کړئ اوپوهه شئ چې الله پاک (د خلقو د خیراتونونه) بې پرواه دې	
حَمِيْدٌ۝ اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ	
ستایلې شوې دې په ښوصفتونو شیطان اپروی تاسو اد غریبئ نه اوحکم کوی تاسو ته	
اوپه هرصفت ستائیلې شوې دې اشیطان تاسود غریبئ نه یروی اوتاسوته حکم کوی	
بِالْفَحْشَآءِ ۚ وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۭ وَاللّٰهُ	
په شر مناکو کارونو سره اواالله اوعده کوی ستاسو سره ادښښې اډخپل طرفنه اوډفضل اواالله	
دبې حیائي د کارونو اواالله پاک درسره د خپلې بښنې اومهربانئ وعده کوی ..... اواالله پاک	

(۱) حاکم ۵۴۲/۱، ؟؟رسنده ضعیف جدا)-

وَاسِعٌ	عَلِيمٌ ﴿٢٦٨﴾	يُؤْتِي	الْحِكْمَةَ	مَنْ يَّشَآءُ ۚ	وَمَنْ	يُّؤْتَ
فراخ دسته	اوپوهه دي	هغه ورکوی	حکمت	هغه چاته چې اوغواړي	اوهغه چاته	چې ورکړي شو
دفراخئ مالک اوپه هرڅه پوهه دي	چې چاته اوغواړي نوهغه ته حکمت اوښائي	او چاته چې				

الْحِكْمَةَ	فَقَدْ	أُوتِيَ	خَيْرًا	كَثِيرًا ۗ	وَمَا يَذَّكَّرُ	إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾
حکمت	نو په حقیقت کښې	ورکړې شو خیر		ډیر	اونۀ قبلوی نصیحت	مګر اخاوندان دعقل
حکمت اوخودلې شو	انوهغه ته ډیرلوئې خیرورکړې شو				اوصرف دعقل خاوندان ددې خبرونه سبق اخلی	

قوله تعالی:- يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ

صدقه کښې پاک او طیب څیزورکوئ:- الله ﷻ خپلو بندګانو ته د صدقې کولو حکم کوی چې تاسو ته الله ﷻ کوم مال درکړې دي یعنی د تجارت مال،سرۀ زر سپین زر او میوې او غلې وغیره چې هغه پاک ذات تاسو لره د زمکې نه راویستی دی نو په هغې کښې بهترین او ښه او خوښ څیزونه د الله ﷻ په لار کښې خرچ کړئ.

قوله تعالی:- وَلَا تَيَمَّمُوا الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ ۚ

ردی،خراب،سخاشوی،بیکاره څیزونه او فضول څیزونه د الله ﷻ په لار کښې مه خرچ کوئ.الله ﷻ خپله پاک دي او خبیث لره نه قبلوی.اوتاسو د هغه پاک ذات په نوم خراب څیزونه ورکوئ.

که داسې څیزونه تاسو ته درکولې شو نوتاسو به نه قبلول.بیا الله ﷻ به ئې څنګه قبول کړی.دابیله خبره ده چې تاسو اووینئ چې دا مال خو درنه روان دي نو تاسو د خپل حق په بدله کښې بیا هغه بې کاره څیز هم قبول کړئ خو د مجبورئ نه.

قوله تعالی:- وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٢٦٧﴾

خوالله ﷻ داسې مجبور هم نه دي،هغه پاک ذات په هیڅ حالت کښې داسې خراب څیز نه قبلوی.د دې نه دا هم مطلب دي چې داسې مه کوئ چې تاسو حلال څیزونه پریږدئ او د حرام مال نه او حرامو څیزونو نه خیرات اوکړئ.

الله ﷻ د روزئ سره سره اخلاق هم تقسیم کړې دی:- مسند احمد کښې دی چې نبی اکرم ﷺ فرمائی چې څنګه الله ﷻ تاسوکښې ستاسو روزئی تقسیم کړی دی،ستاسو اخلاق هم ئې تاسو کښې تقسیم کړی دی.دنیاخو الله ﷻ خپلو دوستانو ته هم ورکوی او د ښمنانو ته هم.دین صرف خپلو دوستانو ته ورکوی.چې چا ته کامل دین ملاؤ شی نو هغه د الله ﷻ محبوب دي.په الله ﷻ مې دې قسم وی د چا په قدرت کښې چې زما سا ده چې هیڅ یو بنده تر هغه وخته پورې مسلمان نۀ شی کیدې تر کومې پورې چې دده زړه او د ده ژبه مسلمانه نشی،او هیڅ یو بنده مومن نه شی کیدې ترکومې چې د ده ګوانډیان د ده د تکلیف نه خلاص نه وی،

د تکلیف نه مراد څه دی؟:- د خلقو په سوال باندې نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چې د تکلیف نه مراد دهوکه ورکول او ظلم دي.چې کوم سړې حرامې طریقې سره مال حاصل کړی،په هغې کښې الله ﷻ برکت نه اچوی.اودده صدقې اوخیرات نه قبلوی.بلکه بدئئ لره نیکئ سره رفع کوی.خباثت سره خباثت نه ختمیږی.نودوه اقواله شو یو ردی څیز دویم حرام مال،آیت کښې رومبې قول مراد اخستل ښه دی اوښه معلومیږی.(۱)

د دې ایت شان نزول:- براء بن عازب فرمائی چې دکهجورو موسم کښې انصارودخپل توفیق مطابق

---

(۱) احمد:۱/۳۸۷، وسنده؟؟ ضعیف)-

Scanned with CamSc

دکهجورو غنچې راوړې او د دوۀ ستونو په مینځ کښې دوه رسۍ زوړندې وې په هغې کښې به نې زوړندولې او هغه به اصحاب صفه او مسکین مهاجرینو د اولړې په وخت کښې خوړلې.یو کس کښې د صدقې رغبت کم وو نو هغه د کهجورو یو خرابه خوشه راوړه او دې کښې نې زوړنده کړه نو په دې باندې دا آیت نازل شو.که تاسو ته داسې څیز په صدقه کښې درکړې شی نو تاسو به نې بالکل قبول نه کړئ.خوکه د شرمه نې واخلئ نو دا بله خبره ده.ددې آیت نازلیدو نه پس به مونږ د ښه نه ښه څیزونه د الله ﷻ لار کښې خرچ کول.(ابن جریر).(۱)

ابن ابی حاتم کښې دی چې خلقو به خرابې کهجورې او سخا کهجورې راوړې نو په دې باندې دا آیت نازل شو او نبی اکرم ﷺ د داسې څیزونو صدقه ورکول منع کړل.(۲) عبدالله بن مغفل ﷺ فرمائی چې دمومن ګټه هیڅ کله خبیثه نه وی.مراد دادې چې بیکاره څیز صدقه کښې مه ورکوئ.مسند احمد کښې حدیث دې چې نبی اکرم ﷺ لره د ګوه غوښه راوړې شوه.نبی اکرم ﷺ هغه اونه خوړه او نه نې څوک د خوراک نه منع کړل.نو عائشه ﷺ ورته اوفرمائیل چې دا چا مسکین ته ورکړئ ؟ نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چې ستا څه خوښ نه وی او هغه ته نه خوښوې نو بل چاته به نې څنګه ورکړې؟ (۳)

د الا ان تغمضو فیه مطلب:- براء ﷺ فرمائی چې کله ستاپه چا باندې څه حق وی او هغه تا ته هغه څیز درکړی چې د هغې هیڅ قدروقیمت نه وی نوته به وانخلې.مګر په هغه وخت کښې چې کله تاته خپله بربادی ښکاری نو ته به په څیز سترګې پټې کړې او هغه به واخلې.ابن عباس ﷺ فرمائی چې ددې مطلب دادې چې تا چا ته ښه مال ورکړو او د ادا کولو په وخت کښې هغه سړی تالره ناقص مال راوړې نو ته به نې بالکل وانخلې.او که هغه اخلې نو د هغې قیمت به کموې.نو تاسو چې کوم څیز د ځان د پاره نه خوئ نو هغه د الله ﷻ لار کښې څنګه ورکوئ؟نو بهترین اومرغوب مال د هغه پاک ذات په لار کښې خرچ کړئ او هم دا معنې ده د آیت ﴿ لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ ﴾ هم ده.

قوله تعالی:- اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَاْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَآءِ ۚ

د صدقې په وخت کښې دشیطان وسوسه اچول:- بیا الله ﷻ تاسو ته په خپله لار کښې د خرچ کولو او د ښه څیز د ورکولو حکم کوی،هسې نه ددې نه دا اوګنړئ چې ګنې الله ﷻ محتاج دې.نه نه هغه پاک ذات خو بې نیازه دې او تاسو ټول د هغه پاک ذات محتاج یئ.دا حکم صرف د دې دپاره دې چې غریبانان هم د دنیا د نعمتونو نه محروم پاتې نشی.لکه بل ځائې کښې د قربانئ د حکم نه پس فرمائی چې ﴿ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ ﴾ الله ﷻ نه ددې وینه اخلی او نه غوښه،هغه ستاسود تقوی آزمیښت کوی.هغه دفراخه فضل خاوند دې.دهغه پاک ذات په خزانه کښې هیڅ کمې نشته دې.صدقه د خپل ښکلی مال نه ورکوئ اوداالله ﷻ په فضل،بخشش،کرم اود هغه په سخاوت باندې نظر ساتئ.او هغه پاک ذات به تاسو ته ددې نه زیاته بدله درکړی.هغه مفلس نه دی،هغه ظالم نه دې،ټول اقوال او افعال د تقدیر شریعت ټول د هغه تعریف کښې دی.د هغه نه سوا د عبادت لائق نشته دې،هغه د ټولو جهانونو پالونکې دې،د هغه پاک ذات نه سوا هیڅوک پرورش نه کوی.حدیث مبارک کښې دی چې یو کس لره شیطان دهوکه کوی او یو لره توفیق او رهبری یو فرښته ورکوی،شیطان خو په ورانئ باندې او حق لره په دروغه ګنړلو باندې سړې راړوی او فرښته نیکئ باندې او دحق په تصدیق باندې سړې راړوی او چې د چا په زړه کښې دا خیال راشی هغه دې دالله ﷻ شکر اداکړی او په دې دې پوهه شی چې داد الله ﷻ د طرفنه

---

(۱) ترمذی کتاب التفسیر القرآن باب ومن سورة البقرة: ۸۷، ابن ماجة: ۱۸۲۲، وسنده حسن)-

(۲) ابوداود کتاب الزکاة باب ما لا یجوز من الثمرة فی الصدقة :۱۶۰۷، مختصرا وسنده ضعیف نسائی: ۲۴۹۴، وسنده حسن وهو یغنی عنه)-

(۳) احمد: ۱۰۵/۶، ؟؟وسنده ضعیف حماد بن ابی سلیمان وابراهیم النخعی عنعنا)-

دی.او چې دچا په زړه کښې هغه وسوسه پیدا شی نو هغه دې (اعوذبالله) اووائی،بیا نبی اکرم ﷺ دا آیت مبارك تلاوت کړو ﴿اَلشَّيْطٰنُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ﴾.(ترمذی).(۱)

یو د الله حکم دې او یو د شیطان حکم دې:- داحدیث د عبدالله بن مسعود ؓ نه موقوف هم مروی دې.د آیت مطلب دادې چې شیطان دالله ﷻ په لارکښې دخرچ کولونه منع کوی اودسړی په زړه کښې وسوسې اچوی چې دې سره به ته فقیر شې.ددې نیکو کارونو نه ئې منع کوی او ده لره بدوکارونو طرفته رغبت ورکوی.ګناهونو باندې، نافرمانو باندې،حرامو کارونو باندې او مخالفت باندې ده لره راپاروی.

قوله تعالی:-وَاللّٰهُ يَعِدُكُمْ مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْلًا ۗ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝

الله ﷻ تاسو ته د دې خلاف حکم کوی چې د الله ﷻ په لار کښې د خرچ کولو نه مه روستوکیږئ او د شیطان د دهمکئ نه خلاف فرمائی چې ددې صدقې په بدله کښې به ستاسو خطاګانې معاف کړم.او داچې تاسو دفقیرئ نه ویروی نوددې مقابله کښې به تاسو ته خپل فضل درکړم.زما نه زیات رحم کولو والا اووسیع فضل والا او دیوکار د انجام علم لرلووالا بل څوك نشته دې او نه چا ته دا حاصلیدې شی.

قوله تعالی:-يُّؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَّشَآءُ ۚ

د حکمت مفهوم:- د حکمت نه مراد دلته د قرآن پاك او د حدیث مبارکه پورا مهارت دې چې دې سره دناسخ او منسوخ،متشابه،مقدم او موخر حلال او حرام د مثالونو معرفت حاصل شی.(۲)

قوله تعالی:-وَمَنْ يُّؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ اُوْتِيَ خَيْرًا كَثِيْرًا ۗ

دا خو هرڅوك وائی لیکن د دې تفسیر او د دې پوهه هغه حکمت دې چې کوم الله ﷻ چاته غواړی نو ورکوئ.(۳)هغه اصل مطلب باندې پوهه شی او د خبرې بیخ ته اورسی.او ژبې سره ددې صحیح مطلب ادا شی.ریښتونې علم او ریښتونې پوهه عطا شې،د الله ﷻ ویره د ده زړه کښې وی.یومرفوع حدیث کښې دی چې د حکمت سر د الله تعالی ویره ده.(۴)

اصلی مهارت:- داسې خلق هم دی چې د دنیا د علم ډیر ماهران هر دنیوی امر ښه عقل مندنی نه پیژنی.خو دین کښې بالکل ناپوهه دی.اوداسې خلق هم دی چې دنیوی علم کښې کمزوری دی لیکن علوم شرعی کښې ډیر ماهران دی.نو دا هغه حکمت دې چې الله ﷻ دوی ته ورکړې دې او د دې نه ئې محروم اوساتل.

دلته د حکمت نه مراد نبوت دې:- سدی رحمة الله علیه وائی چې دلته د حکمت نه مراد نبوت دې.لیکن صحیح دادی چې د حکمت لفظ دې تولو څیزونو لره شامل دې او نبوت هم ددې اعلی او بهترینه حصه ده.او دا د دې نه بالکل یو خاص څیز دې او دا د نبیانو نه سوا بل چاته حاصل نه دې.د دی تابع خلقو ته د الله ﷻ طرفنه محرومی نشته.دوی هم د ښه او بهتر دولت نه ډك وی.بعضو احادیثو کښې دی چې چا قرآن پاك حفظ کړو نو د ده د دوارو لاسونو مینځ کښې نبوت راوختو.خو هغه صاحب وحی نه دې.(۵)لیکن بلې طریقې سره هغه ضعیف منقول دې چې دا د عبدالله بن عمرو ؓ خپل قول دې.د مسنداحمد حدیث کښې دی چې قابل رشك صرف دوه سړی دی چې چاته الله ﷻ مال ورکړې وی او خپل لار کښې ئې دخرچ کولو توفیق ئې ورکړې وی.او چاته چې الله ﷻ حکمت ورکړی او دې سره ئې

---

(۱) ترمذی کتاب التفسیر باب ومن سورة البقرة : ۲۹۸۸، ؟؟وسنده ضعیف عطاء بن السائب مختلط راوی دې)-

(۲) الطبری: ۵/۵۷۶)-

(۳) دې سند کښې جویبر متروك دې (المیزان : ۴۲۷/۱، دضحاك بن مزاحم د ابن عباس رضی الله عنه سره ملاقات ثابت نه دې)-

(۴) ابن مردویه وسنده ضعیف)-

(۵) الحاکم :۵۵۲/۱، وسنده حسن،وله شاهد موقوف حسن عند ابی عبیدفی فضائل القرآن : ص/۵۳)-

Scanned with CamS

ده ته د فیصلې کولو او د تعلیم ورکولو توفیق ورکړو.(۱)پندونصیحت هغه چاته رسولې شی چې کوم د عقل نه کار اخلی.پوهه لری.خبره یاده ساتی،او مطلب باندې نظر لری.

وَمَآ أَنفَقْتُم	مِّن نَّفَقَةٍ	أَوْ نَذَرْتُم	مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ	يَعْلَمُهُۥ ۗ
اوهغه چې خرچ کړې تاسو	دنفقې نه	یااومنې په خان	یو نذر	نو بیشکه|الله ته معلوم دې هغه
اوهرڅه خیرات چې تاسوکوې	یاهرڅه منحته چې تاسوکوې	.....		نوهغه الله ته معلومه ده
وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ	مِنْ أَنصَارٍ ۝	إِن تُبْدُوا	الصَّدَقَٰتِ	فَنِعِمَّا هِىَ ۖ	وَإِن تُخْفُوهَا
اونشته|دپاره دظالمانو	څوك مدد گار	که تاسو ښکاره ورکوې	صدقې	نو ښه کار دې دا	او که پټ ساتې هغه
اوظالمانو هیڅوك مدد گارنشته	که تاسوخپلې صدقې څرگنده ورکوې نوداهم ښه خبره ده				او که پټ په پرده کښې
وَتُؤْتُوهَا	ٱلْفُقَرَآءَ	فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ		وَيُكَفِّرُ عَنكُم	
او ورکوې هغه |فقیرانو ته	نو دا بهتره ده ستاسو دپاره		او لرې کوی ستاسونه	
نې فقیرانو ته ورکوې نو دا ستاسودپاره ډیره بهتره ده|				
مِّن سَيِّـَٔاتِكُمْ ۗ	وَٱللَّهُ	بِمَا	تَعْمَلُونَ	خَبِيرٌ ۝	
گناهونه ستاسو	اوالله	په هغه کارونو	|چې کوې نې تاسو|خبردار دې	نشته
گناهونه ستاسو	اوالله پاک ستاسوپه عملونوښه خبر دې				

قوله تعالی:- وَمَآ أَنفَقْتُم مِّن نَّفَقَةٍ أَوْ نَذَرْتُم مِّن نَّذْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُهُۥ ۗ

ستاسو نذرونه او صدقې د الله ﷻ علم کښې دی:- الله تعالی خبر ورکوی چې هر یو خرچ او نذر او هر نیك عمل لره الله ﷻ ښه پیژنی.او هغه خپل نیك بندگان چې د هغه پاك ذات حکم پوره کوی او د هغه نه د ثواب طمع ساتی،دهغه وعدې ریښتیا ګڼړی،د هغه فرمان باندې یقین ساتی نو الله ﷻ به ده ته بهترینه بدله ورکوی.

قوله تعالی:- وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ۝

اوچې کوم خلق د الله ﷻ د حکم خلاف کوی او د ګناهونو کارونه کوی او د الله ﷻ احکامو لره په دروغه ګڼړی او د الله ﷻ سره عبادت کښې نورو لره شریکوی نو داخلق ظالمان دی،د قیامت په ورځ به دوی ته رنګ په رنګ او بدترین عذابونه ورکولې شی او هیڅوك به د دوی لره خلاصونکې نه وی او نه به د دوی څوك امداد کونکې وی.

قوله تعالی:- إِن تُبْدُوا الصَّدَقَٰتِ فَنِعِمَّا هِىَ ۖ وَإِن تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا ٱلْفُقَرَآءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ

په پټه صدقه ورکول افضل دی خو نورو ته د ترغیب دپاره وی نو بیا بله خبره ده:- بیا فرمائی چې په ښکاره صدقه ورکول هم ښه دی او په پټه فقیرانو او مسکینانو ته ورکول هم ښه دی.ددې وجې دوی د ریاکارئی نه په میلونو لرې وو،دا بله خبره ده چې ښکاره کولو کښې څه دینی مصلحت یا دینی فائده وی لکه دې دپاره چې نور خلق هم ورکړی وغیره.حدیث مبارك کښې دی چې په ښکاره صدقه ورکول داسې دی لکه چې یوکس په اوچت آواز سره د قرآن پاك تلاوت کوی او د صدقې په پټه ورکول داسې دی لکه چې یو سړې په رو آواز سره قرآن پاك لولی.(۲)

---

(۱) احمد: ٤٣٢/١، صحیح بخاری کتاب العلم باب الاغتباتی ق العلم والحکمة : ۷۳، صحیح مسلم: ۸۱٦)-

(۲) ابوداود کتاب الصلاة باب رفع الصوت بالقراءة صلاة اللیل: ۱۳۳۳، وهو حسن،ترمذی: ۲۹۱۹، نسائی : ۲۵٦۲،)-

Scanned with CamSc

اووۀ خوش بخته کسان:- نو ددې آیت نه د پتې صدقې ورکول ثابت شو.بخاری شریف او مسلم شریف کښې د ابوهریر ﷺ روایت دې چې نبی اکرم ﷺ فرمائیلی دی چې اووه کسانوته به الله ﷻ دقیامت په ورځ د خپل رحمت سیوری لاندې خائې ورکوی.او په هغه ورځ به ددې سیوری نه سوا بل سیورې نه وی. ❶ عادل بادشاه ❷ هغه ځوان چې ځوانی د الله ﷻ عبادت او د شریعت مطابق تیره کړی ❸ هغه دوه سړی چې د الله ﷻ دپاره خپلوکښې محبت کوی او په دې جمع کیږی او هم په دې جدا کیږی ❹ هغه سړې چې د هغه زړه په مسجدکښې لګیدلې وی د داخلیدو د وخت نه تر د وتلو وخت پورې ❺ هغه سړې چې په خلوت کښې د الله ﷻ ذکرکوی او ژاړی ❻ هغه سړې چې هغه ته یو ښکلې ښځه د بدکارئ دعوت ورکړی او دې اووائی چې زهٔ د الله ﷻ نه ویریږم ❼ او هغه سړې چې صدقه په پټه ورکوی چې دده کس لاس هم دده نه خبر نه شی.(۱)

انسان د غرونو،اور،او اوبو نه هم زیات سخت دی:- مسند احمد کښې حدیث دې چې کله الله ﷻ زمکه پیداکړه نو زمکه په خوزیدو شوه.الله ﷻ په دې باندې غرونه پیدا کړل او دې کښې ئې ښخ کړل چې دې سره د زمکې خوزیدل بند شو.فرښتو ته دغرونو په داسې سنګین پیدائش باندې تعجب اوشو نو دالله رب العزت نه ئې تپوس اوکړو چې ستا په مخلوق کښې د غرونو نه هم زیات سخت څوک شته دې؟ نو الله ﷻ ورته اوفرمائیل چې آو ددې نه سخت اور دې او ددې(اور نه)سختې اوبه دی او ددې(اوبو نه)سخته هوا ده.بیا ئې تپوس اوکړو چې ددې نه زیات سخت څوک دی نو رب ذوالجلال اوفرمائیل چې ابن آدم،هغه داسې صدقه ورکوی چې دده کس لاس هم د ښی لاس نه نهٔ خبریږی (۲)د آیت الکرسی په تفسیر کښې هغه حدیث تیر شوې دې چې په هغې کښې دې چې بهترینه صدقه هغه ده چې په پټه ورکړې شی یو حاجتمند ته.او ددې باوجود چې د مال قلت هم وی او بیا هم د الله ﷻ په لارکښې خرچ کوی.بیائې د دې آیت تلاوت اوفرمائیلو.(ابن ابی حاتم).(۳)

د الله تعالی د غصې د ختمیدو سبب:- یوحدیث شریف کښې دی چې پټه صدقه ورکول د الله ﷻ غضب لره ختموی.(۴)

د دې ایت شان نزول:- شعبی رحمة الله علیه فرمانی چې دا آیت د ابوبکرصدیق ﷺ او د حضرت عمرفاروق ﷺ باره کښې نازل شوې دې.عمر ﷺ خو خپل نیم مال د نبی اکرم ﷺ خدمت کښې حاضر کړو او ابوبکرصدیق ﷺ خپل ټول مال راوړو.نبی اکرم ﷺ ترې تپوس اوکړو چې د خپل کور والو دپاره دې څه پرینبودې دی؟عمرفاروق ﷺ جواب ورکړو چې هم دومره مې هغوی ته پرینبودې دې.ابوبکرصدیق ﷺ ښکاره کول نه غوښتل.او پټ په پټه ئې هر څه نبی اکرم ﷺ ته حواله کړل.خو کله چې د ابوبکرصدیق ﷺ نه تپوس اوشو نو ابوبکرصدیق ﷺ جواب کښې اوفرمائیل چې د الله ﷻ وعده او د رسول الله ﷺ وعده کافی ده.عمر فاروق ﷺ چې کله دا واوریدل نو په ژړا شو او وې فرمائیل چې په الله تعالی مې دې قسم وی چې د نیکئ کوم یوکار ته مونږ وړاندې شوی یو نو ائې ابوبکرصدیق ﷺ تهٔ مونږ په هغې کښې د ټولو نه مخکښې موندلې ئې.(۵)

د نفلی او فرضی صدقې په ورکړه کښې فرق:- د آیت الفاظ عام دی چې صدقه که فرض وی اوکه نفلی

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الاذان باب من جلس فی المسجد ینتظر الصلاة: ٦٦٠، صحیح مسلم: ١٠٣١)-

(۲) احمد: ١٢٤/٣، ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب حکمة خلق الجبال فی الارض ... ٣٣٦٩، وسنده حسن)- .

(۳) احمد: ١٧٨/٥، مختصرا وسنده ضعیف جدا)-

(۴) ترمذی کتاب الزکاة باب ماجاء فی فضل الصدقة : ٦٦٤،؟؟ وسنده ضعیف عبدالله بن عیسی الخزاز ضعیف راوي دي)-

(۵) ترمذی کتاب المناقب : ٣٦٧٥، وسنده حسن)-.

Scanned with CamSc

زکوة یا خیرات په پته ورکول د ښکاره ورکړې نه افضل ده.لیکن ابن عباس ﷺ نه مروی دی چې نفلی صدقه په پته ورکولوکښې اویا چنده فضیلت دي.لیکن فرض زکوة په ښکاره ورکول پنځویشت چنده فضیلت لري.

قوله تعالی:-وَيُكَفِّرُ عَنكُم مِّن سَيِّئَاتِكُمْ ۗ

بیا فرمائی چې د صدقې بدله کښې به الله ﷻ ستاسو ګناهونه معاف کړی او خاص کر په هغه وخت کښې کله چې داپه پته ورکړېشی.تاسوته به ډیرې نیکئ ملاویږی،ستاسودرجې به اوچتیږی او ستاسو د ګناهونو کفاره به جوړیږی.﴿يُكَفِّرُ﴾(په ضمې د را سره)لره ﴿يُكَفِّرُ﴾ په سکون د را سره،هم لوستلې شوې دي.په دې صورت کښې به دا د جواب شرط په محل باندې عطف وی چې﴿فَنِعِمَّا هِيَ ۖ﴾ دي لکه ﴿فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ ۝﴾ کښې ﴿وَأَكُنْ﴾.

قوله تعالی:-وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝

الله ﷻ باندې ستاسو هیڅ یو نیکی اوبدی،سخاوت او بخیل توب،پټوالی او اظهار،نیك نیت او د دنیا طلب کول پټ نه دی هغه به درله پورا پورا بدله درکوی.

لَيْسَ عَلَيْكَ	
نشته | په تاباند ذمه واری	
اوپه تاهیڅ ذمه واری نشته خلقو ته	
هُدَاهُمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۗ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ	
دهدایت کولو هغوئ ته | لیکن الله | هدایت کوی | هغه چاته | چی اوغواړی | اوهغه چی تاسو ئې خرچ کوئ | دمال نه	
دهدایت ورکولو | بلکه الله چې چاته اوغواړی نو هغه ته هدایت اوکړی | اوتاسوچې هرڅه خیرات کوئ	
خَيْرٍ فَلِأَنفُسِكُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُونَ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللَّهِ ۚ وَمَا تُنفِقُوا	
نو بهتر دي | دپاره دنفسونو ستاسو | اونه خرچ کوئ تاسو | مګردپاره دحاصلولو | درضا دالله | اوهغه چی خرچ کړئ تاسو	
نودخپلې ښیګړې دپاره نې کوئ | اوداخیراتونه خوتاسوخکه کوئ چې الله درنه رضا شی | اوهغه چې تاسوخرچ کوئ	
مِنْ خَيْرٍ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ۝ لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا	
دمال نه |پوره به درکړې شی تاسو ته | اوستاسونه به کمې نشی کولې | امدادد دپاره دفقیرانو | هغو |چی بند کړې شوی دی	
دمال خپل نه هغه به درته پوره پوره واپس درکړې شی | اوپه تاسوبه ظلم نه کیږی دا(خیراتونه)دهغه فقیرانو حق دي چې بندی	
فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ ۖ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ	
په لار دالله کښې | چې طاقت نه لری | دګرزیدلو | په زمکه کښې | ګمان کوی په هغوئ |ناخبره خلق | دمالدارانو	
شوی وی دالله په لار کښې(دکاروبار دپاره)چرته تلې راتلئ نشی |ناخبره سړې پرې دمالدارو ګمان کوی	
مِنَ التَّعَفُّفِ ۚ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ ۚ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا ۗ	
دوجې دنه سوال کولو نه | ته به پیژنې هغوئ | په نښودهغوئ سره | نه کوی سوال دخلقونه |په سختئ سره	
دسوال نه کولوپه وجه | ته ددوئ دمخونو نه اصلی حال معلومولې شې |دخلقو نه په سخته سوالونه نه کوی	

Scanned with CamSc

وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ ۝ اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ
اوهغه چی خرچ کړئ تاسو	دمال نه	نو بیشکه الله	په هغې باند خبر دی	هغه کسان	چی خرچ کوی	مالونه خپل
اوتاسوچې هرڅه مال خیرات کوئ	نو الله پاک په هغې باندې ښه خبردې	څوک چې خپل مالونه خرچ کوی
بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً فَلَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ
دشپې| اودورځې	په پټه	اوپه ښکاره	نودې دهغوئ دپاره|اجر دهغوئ	په نزددرب دهغوئ	
دشپې اود ورځې په پټه اوپه څرګنده نو د هغوئ اجر خپل رب سره مقرر دې
وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝
اونه به وی یره	په هغوئ باندې	اونه به هغوئ	غمژن کیږی	
اونه به پرې چرې ویره راځی	اونه به غمژن کیږی

قوله تعالی:- لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۭ

غیر مسلمه رشته دارو سره صله رحمی:-

د دې ایت شان نزول:- حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمانی چې مسلمانانو به خپلومشرکانو رشته داروسره ښه سلوك کول نه خوښول.بیا حضرت نبی کریم ﷺ نه سوال اوشو او دا آیت نازل شو او هغوئ ته اجازت ورکړې شو.(۱)

د نبی کریم ﷺ د ایت نه ورواندې او وروستو عمل مبارک:- فرمانی چې نبی اکرم ﷺ به فرمانیل چې صدقه دې صرف مسلمانانو ته ورکړې شی،هرکله چې دا آیت نازل شو نو حضرت نبی اکرم ﷺ اوفرمانیل چې سائل ته ورکوئ اګرچې هغه د هر مذهب وی.(ابن ابی حاتم)(۲) اسماء ﷺ والا روایت به د آیت ﴿لَيْسَ عَلَيْكَ هُدٰىهُمْ﴾ تفسیر کښې راشي انشاء الله.

قوله تعالی:- وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلِاَنْفُسِكُمْ ۭ

ستاسو نیکی ستاسو د خپل ځان د پاره ده:- دلته فرمائی چې تاسو کومه نیکی کوئ خپل ځان دپاره به ئې کوئ.لکه چې فرمانی چې ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ﴾او ددې پشان نور آیتونه هم ډیر دی.حسن بصری رحمة الله علیه فرمائی چې د ایماندارو هر خرچ د الله ﷻ دپاره وی.اګر چې هغه پخپله خوری.

قوله تعالی:- وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ يُّوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ۝

د نیت ښه والې:- عطاء خراسانی دا مطلب بیانوی چې کله تاسو د الله ﷻ د رضا دپاره ورکړه اوکړه نو بیابرابره خبره ده چې اخستونکې ئې که هرڅوك وی اوڅنګه هم وی او څنګه اعمالووالاوی نووی دی.دا مطلب هم ډیر ښه دی،حاصل دادې چې د ښه نیت سره ورکولو والا اجر خو دالله ﷻ په ذمه ثابت شو،اوس که هغه مال نیك ته په لاس ورشی اوکه بد ته،مستحق ته یا غیر مستحق ته د خپل قصد او خپل نیك نیت ثواب ملاؤ شو.حال دا چې ده د خپل مال خیال اوساته او بیا ده غلطی اوکړه نو دې سره د ده ثواب نه ضائع کیږی،ددې وجې د آیت آخر کښې د بدلې ملاویدو بشارت دی.

په ښه نیت سره د صدقې ورکولو فائده:- د بخاری شریف او مسلم شریف یو حدیث کښې راغلی دی چې یو سړی قصد اوکړو چې نن شپه کښې به زهٔ صدقه ورکوم.اودا ئې واخستله او پته ئې یو بنځې ته ورکړه او واپس راغلو.سحر دا خبره مشهوره شوه چې بیګاه یو سړی بدکاره بنځې ته خیرات ورکړې

---

۱) النسائی فی التفسیر: ۷۲، وسنده ضعیف الثوری ولاعمش مدلسان وعنعنا)-

۲) ابن ابی حاتم: وسنده حسن)-.

Scanned with CamSc

دي،ده هم واوريدل او د الله ﷻ شکر ئې اداکړو.او بيا نې خپل زړه کښې اووئيل چې بيګاه ته به بيا صدقه ورکوم.او صدقه نې واخستله او اووتلو او يو سړی ته هغه صدقه لاس کښې کيخودله او واپس شو.سحر مشهوره شوه چې بيګاه چا يو مالدار سړی ته صدقه ورکړې ده.ده بيا الحمد الله اووئيل او اراده نې اوکړه چې بيګاه له به په دريم خل صدقه ورکوم.بيا نې د شپې صدقه ورکړه او ده ته معلومه شوه چې هغه غل وو.نو وې وئيل چې الئې الله ﷻ زهٔ ستا شکر ادا کوم زانيه ښځې ته په ورکړه،مالدار سړی ته په ورکړه،او دې غل ته په ورکولو.څه ګوری چې يو فربنته راغله او ده ته وانی چې ستا دې واړه صدقې قبولې شوې.شايد چې بدکاره ښځه مال اخستلو سره د بدکارئ نه منع شی،او شايد چې مالدار ته عبرت حاصل شی او هغه کښې هم د صدقې ورکولو عادت راشی او شايد چې غل د غلا نه منع شی.(۱)

قوله تعالى:-لِلْفُقَرَآءِ الَّذِيْنَ اُحْصِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

سپين ايرئی ضرورت مند د صدقيګ زيات مستحق دي:- بيا فرمانی چې صدقه دهغه مهاجرينوحق دې چې دنياوی تعلقات ئې ختم کړې دی او وطن ئې پريښودې دې او د خپلې قبيلې او خاندانونو نه ئې مخ اړولې دې او د الله ﷻ د رضا د پاره د پيغمبر ﷺ د خدمت دپاره راغلی دی او د دوی د معاش څه ذريعه نشته دې.

قوله تعالى:-لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ضَرْبًا فِي الْاَرْضِ

او نه دوی سفر کولې شی چې لاړشی او خپل خان دپاره روزی اوګټی.دxضرب فی الارض ﴾معنی سفر ده لکه چې څنګه په ﴿وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ﴾او په﴿يَضْرِبُوْنَ فِي الْاَرْضِ﴾ کښې ده.

قوله تعالى:-يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ اَغْنِيَآءَ مِنَ التَّعَفُّفِ

د دوی د حالاتو نه چې څوک واقف نه دی،هغوئ د دوی د لباس او ظاهری حال او خبرو اترو نه دوی مالدار ګڼری.

د مسکين پيژندګلنه:- يو صحيح حديث کښې دی چې مسکين صرف هغه نه دې چې در په در ګرځی او چرته نه وزته يو دوه کهجورې ملاوٗ شی او يو نمرئ نيمه ورته ملاوٗ شی او چرته نه ورته د يو وخت نيم روټئ ملاوٗ شی بلکه مسکين هغه هم دې چې هغه سره دومره نه وی چې هغې سره دې بې پرواه شی او دهٔ خپل حالت هم داسې نه وی جوړکړې چې دې سره هر سړې د ده ضرورت احساس اوکړی اوځه احسان ورسره اوکړی اونه سوال کولو د هغوی عادت دې.(۲)نو دوی به د دوی د حالت نه پيژنی.دا په صاحب بصيرت باندې پټه نه ده.لکه بل ځاني کښې فرمائی چې﴿سِيْمَاهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ﴾د دوی نخښې د دوی په مخونوباندې دی او فرمائی چې ﴿وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ﴾تاسو به دوی ددوی دلب لهجې نه اوپيژنئ.

مومن د خدائې په نور سره کتل کوی:- سنن کښې يو حديث کښې دی چې د مومن د دانائی نه بچ اوسئ هغه د الله ﷻ د نورسره ګوری.(۳) واورنی دقرآن پاک فرمان دې چې ﴿اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِيْنَ﴾يقين سره دې کښې د بصيرت والو دپاره نخښې دی،دا خلق په هيڅا باندې بوج نه دی.

[لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ]او چانه په زړورتيا سره سوال نه کوی.او بيا هم چانه نه غواړی چې کله دوی سره څه وی.او چې چاسره څه وی او بيا هم هغه سوال کوی نو هغه ته خلقو پسې انختيدونکې وئيلې شی.

---

۱) صحيح بخاری كتاب الزكاة باب اذا تصدق على غنى وهو لا يعلم : ۱٤۲۱، صحيح مسلم: ۱۰۲۲)-

۲) صحيح بخاری كتاب الزكاة باب قول الله تعالى (لا يسئلون الناس الحافا.....) ۱٤۷٦، صحيح مسلم: ۱۰۳۹)-

۳)ترمذی كتاب تفسير باب ومن سورة الحجر ۳۱۲۷، وهو ضعيف عطيه عوفی راضی ضعيف دې)-

Scanned with CamSc

قولہ تعالیٰ:-لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا

اصل مسکین څوک دي:- نبی اکرم ﷺ فرمائی چې یو دوه کهجورې او یو دوه نمړۍ اخستلو والا مسکین نه دي بلکه حقیقت کښې مسکین هغه دي چې باوجود حاجت نه خود داره دي او سوال نه بچ اوسی.گورئ قرآن پاك وائی چې﴿لَا يَسْئَلُوْنَ النَّاسَ اِلْحَافًا﴾دا حدیث ډیرو کتابونوکښې ډیرو سندونو سره مروی دي.(۱)

د سوال نه کولو فضیلت:- د قبیله مزینه یو سړی ته د هغه مور فرمائی چې ته هم لاړشه او د نبی اکرم ﷺ نه څه اوغواړه لکه څنګه چې نور خلق غواړی.هغه فرمائی چې کله زهٔ لاړم نو نبی اکرم ﷺ خطبه ورکوله او فرمائیل ئې چې کوم سړې د سوال نه ځان بچ کړی نو الله ﷻ به هم هغه د سوال نه بچ کړی.او چې کوم سړې بې پرواهی اختیاروی نو الله ﷻ به هم دې بې نیازه کړی.چې کوم سړی سره د پنځو اوقیو برابر مال وی او بیا هم هغه سوال کوی نو دا خلقو پورې انختو والا سوالګړي دي.ما زړه کښې اووئیل چې مونږ سره خو یو اوښه شته دي او د پنځو اوقیو نه ډیره زیاته بهتره ده.یو اوښه غلام سره ده او هغه هم دپنځواوقیو نه زیاته ده.نو زهٔ د سوال کولو نه بغیر واپس شوم.(۲)او یو روایت کښې دی چې دا واقعه دابوسعید ﷺ ده،په هغې کښې دی چې نبی اکرم ﷺ ماته اوفرمائیل چې څوك دخلقو نه ډډه کوی (یعنی سوال تړې نه نه کوی) نو الله ﷻ به ده لره کافی شی.اوچې چاسره یو اوقیه وی او هغه سوال کوی نو هغه خلقو پورې انختو والا سوالګړي دي.د هغه د اوښې نوم یاقوته وو.(۳)

یو اوقیه څومره وی:- یو اوقیه د څلویښتو درهمووبرابر وی.اوځلویښت درهمه تقریبًا د یوکم سلو روپو.یو حدیث کښې دی چې څوك د بې پرواهئ لائق وی او هغه بیا هم سوال کوی نو د قیامت په ورځ به دده په مخ د دهٔ دا سوال زخم(په شکل کښې موجود)وی.او د ده خوله به لاندې وی.خلقو اوونیل چې څومره ورسره وی نو؟ نو وې فرمائیل چې پنځوس درهمه یاددې قیمت سرهٔ زر(۴)داحدیث ضعیف دي.

د ابوذر ﷺ عمل:- شام کښې یو قریشی وو چې کله هغه ته معلومه شوهٔ چې ابوذر ضرورت مند دي نو دری سوه اشرفئ ئې دوی ته اولیږلې.دوی خفه شو او وې فرمائیل چې هغه د الله ﷻ بنده ته بل څوك مسکین ملاؤ نشو چې دا ئې ماته راولیږلې.ما خو د نبی اکرم ﷺ نه آوریدلی دی چې چا سره څلویښت درهمه وی او هغه بیا هم سوا ل کوی نو دي خلقو پورې انختو والا سوال ګړي دي.او د ابوذر ﷺ کور والو سره خوځلویښت درهمه شته دي.څلویښت چیلئ هم ورسره شته دي او دوه غلامان هم ورسره شته دي.(۵)یو روایت کښې دی چې نبی اکرم ﷺ دا الفاظ هم فرمائیلی دی چې چا سره څلویښت درهمه وی او هغه سوال کوی نو دي الحاف کولو والا او د شګې پشان دی (۶)،

قولہ تعالیٰ:-وَمَا تُنْفِقُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ بِهٖ عَلِيْمٌ

)بیا فرمائی چې ستاسو صدقات د الله ﷻ علم کښې دی او کله چې تاسو پورا محتاج شئ،الله ﷻ به هغه وخت کښې تاسو ته بدله درکوی او د هغه پاك ذات نه هیڅ څیز پټ نه دي.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب قول الله تعالی (لا یسئلو الناس الحافا..) : ۱٤۷٦، صحیح مسلم: ۱۰۳۹)-

(۲) احمد : ۱۳۸/٤، وسنده حسن)-

(۳)ابوداود کتاب الزکاة باب ومن یعطی صدقة .. ۱٦۲۸، وسنده حسن نسائی:کتاب الزکاة باب ومن المخلف:۲۵۹٦،وسنده حسن)-

(٤) ابوداود کتاب الزکاة باب من یعطی من الصدقة وحدالغنی : ۱٦۲٦، وسنده حسن حکیم بن جبیر ضعیف راوی دي ،ترمذی : ٦۵۰، نسائی: ۲۵۹۳، ابن ماجة: ۱۸٤۰)-

(۵) الطبرانی فی الکبیر : ۱٦۳۰،؟؟ سنده ضعیف لا نقطاع)-

(٦) نسائی کتاب الزکاة باب من الحلف : ۲۵۹، وهوحسن او نسائی کښې (الحاف کولو والا په مثل دشګې دي)والا الفاظ نشته)-

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:-اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً
شپه ورځ په پټه او ښکاره د الله ﷻ لار کښې خرچ کوی:- بیا د هغه خلقو تعریفونه بیانیږی چې هغوئ هر وخت د الله ﷻ لار کښې د الله ﷻ د فرمان مطابق خرچ کوی نو هغوئ ته به اجر ملاویږی

قوله تعالی:-وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ
او دوی به د هرې ویرې نه امن کښې وی.د بچو په پرورش به هم دوی ته ثواب ملاویږی.لکه څنګه چې د بخاری شریف او مسلم شریف روایت کښې دی.

د خرچ کولو ثواب:- د مکې د فتح په کال چې کله نبی اکرم ﷺ دسعد بن ابی وقاص ﷺ پوښتنې لره ورغلو نو دا ئې اوفرمائیل،یو روایت کښې دی چې دا ئې د حجة الوداع په کال فرمائیلی وو.چې ته څه د الله ﷻ د رضا د پاره خرچ کوې نو د هغې بدله کښې به الله ﷻ ستاسو درجې اوچتې کړی تر دې چې ته خپلې بی بی ته د خوراك دپاره څه ورکړې د هغې بدله هم.([1]) مسند احمد کښې دی چې مسلمان څه د ثواب په نیت خپلو بچو باندې خرچ کوی نو هغه صدقه ده.([2])

د دې ایت شان نزول:- نبی اکرم ﷺ فرمائی چې ددې آیت شان نزول د مسلمان مجاهدینو هغه خرچ دې چې په خپلوآسونو باندې خرچ کوی.([3])ابن عباس ﷺ نه هم دا مروی دی.

د شان نزول په حقله دویم روایت:- جبیر رحمة الله علیه فرمائی چې علی ﷺ سره څلور درهمه وو.چې په هغې کښې نې یو د الله ﷻ په لار کښې ورکړو.یو ئې د ورځې ورکړو یو ئې د شپې ورکړو یو ئې په ښکاره ورکړو او یو ئې په پټه ورکړو دا آیت نازل شو.دا روایت ضعیف دی([4])دویم سند سره هم مروی دی.د الله ﷻ اطاعت کښې چې دې خلقو کوم مال خرچ کړو د هغې بدله به د قیامت په ورځ د خپل پرودګار د طرفنه ورته ملاویږی.بې ویرې او بې غمه دا خلق دی.

اَلَّذِيْنَ	يَاْكُلُوْنَ	الرِّبٰوا					
هغه کسان	اچی خوری	سود					
څوک چې سودخوری							
لَا يَقُوْمُوْنَ	اِلَّا	كَمَا	يَقُوْمُ الَّذِيْ	يَتَخَبَّطُهُ	الشَّيْطٰنُ	مِنَ الْمَسِّ ؕ	
نه ودریږی هغوئ	مګر	لکه څنګه چې اودریږی	هغه کس	اچی پاګل کړې وی هغه لره	شیطان	په لاس ورورلو سره	
هغوئ به نه پاسی خودهغه چاپه شان چې شیطان په لاس لګولو سره خبطی کړې وی							
ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	قَالُوْٓا	اِنَّمَا الْبَيْعُ	مِثْلُ	الرِّبٰوا ۘ	وَاَحَلَّ اللّٰهُ	
دا په دې وجه	چې هغوئ	وانی	چې تجارت	په شان	دسوددې	اوحال دا چې حلال کړې دې الله	
داځکه چې دوئ وائی چې سوداګری(خوهم)دسود په شان ده			اودا عجیبه ده چې الله سوداګری حلاله				

[1]) صحیح بخاری کتاب کتاب الوصایا باب ان یترک ورثته اغنیاء خیر: ۲۷٤۲، صحیح مسلم: ۱٦۲۸)-
[2]) احمد: ٤/۱۲۰، صحیح بخاری کتاب النفقات باب فضل النفقة علی الاهل: ۵۳۳۱، صحیح مسلم: ۱۰۰۲)-
[3]) ابن ابی احاتم :؟؟ وسنده ضعیف جدا)-
[4]) ددې سند کښې ارسال دې اوددې سند کښې ابن مجاهد عبدالوهاب راوی دې او ده ته امام احمد ضعیف وئیلی دی،امام بخاری او وکیع وائی چه دده خپل پلار نه سماع نشته دې (المیزان : ۲۸۲/۲) نو دا سخت ضعیف دې)-،

Scanned with CamSc

الْبَيْعَ	وَحَرَّمَ	الرِّبٰوا ؕ	فَمَنْ	جَآءَهٗ	مَّوْعِظَةٌ	مِّنْ رَّبِّهٖ
سودا کړی	اوحرام کړې نی دي	سود	نو هغه څوک اچی راشی هغه ته	نصیحت	دطرفه درب هغه ته		
کړې ده	اوسود ئې حرام کړې دي	....نوچاته چې دخپل رب دطرفه نصیحت راغلو				
فَانْتَهٰى	فَلَهٗ	مَا	سَلَفَ ؕ	وَاَمْرُهٗٓ	اِلَى اللّٰهِ ؕ	
نو منع شو| نو دي هغه لره|هغه|چی مخکښې ئې اغستې دي| او معامله دهغه| حواله ده الله ته					
اوهغه(دسوداخستونه) منع شو| نو(پخواني سود)ورته معاف شو| اودهغه معامله الله پاک ته اوسپارلې شوه					
وَمَنْ	عَادَ	فَاُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ	النَّارِ ۚ	هُمْ	فِيْهَا
اوهغه څوک	چی بیا ئې اوکړوسود	نوهغوئ	خاوندان	د اوردی	هغوئ به	په هغې کښې		
اوچاچې سودی کاروبار ته بیا واپس اوکړه	نو هم هغوی دوزخیان دی	همیشه به په کښې پراته وی				
خٰلِدُوْنَ ۝						
همیشه وی						

قوله تعالی:-اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا

د سود خورو عبرتناک انجام:- مخکښې د هغه خلقو بیان وو چې نیکان دی او صدقه ورکوی او زکوة ورکوی او دحاجت مندو اود رشته داروخبر اخلی،هرحال کښې او هروخت کښې د نورو په کار راځی.نو اوس دهغه خلقو بیان دي چې دنیا لره یو طرفته او غصب کونکی او ظلم سره او په ناحقه د خپلو او پردو نه په زور اخستونکی او د خلقو مال لره په ناجائزه اخستونکی دی.

قوله تعالی:-لَا يَقُوْمُوْنَ اِلَّا كَمَا يَقُوْمُ الَّذِيْ يَتَخَبَّطُهُ الشَّيْطٰنُ مِنَ الْمَسِّ ؕ

فرمانی چې کله داسود خواره خلق د قبرونو نه راپورته کیږی نو د لیونو او پاګلانو او بې هوشو خلقو په رنګ به راپورته کیږی.لیونی او دیوانه به وی او دوی به اودریدلې هم نه شی.﴿مِنَ الْمَسِّ ؕ﴾نه پس د ﴿يَوْمَ الْقِيٰمَةِ﴾لفظ هم یو قرات کښې راغلې دي.

الله سره جنګ ته تیار شئ:- او دوی ته به اووئیلې شی چې اوس وسله واخلئ او خپل رب سره د جنګ دپاره تیار شئ.

د سود خورو حال احوال په حواله د شب معراج:-شب معراج کښې نبی اکرم ﷺ څه خلق اوکتل چې د هغوئ خیټې د چاتو په شان غټې غټې وې نو تپوس ئې اوکړو چې دا کوم خلق دی؟ورته اووئیلې شو چې داسود خواره دی(۱)او یو روایت کښې دی چې د دوی په خیټو کښې ماران وو چې د بهر نه په نظر راتلل.(۲)او یو طویل حدیث کښې دی چې کله مونږ یوسور رنګه نهر ته اورسیدو اود هغې اوبه د وینې پشان سري وې نو ما اولیدل چې په هغې کښې څه هغه خلق دی چې په مشکله به غاړې ته راتلل ا و فرښتو په کانړو ویشتل او واپس کول به ئې.هغوئ به د دوی خولې وازولې او په دې کښې به ئې یو کانړې کیخودلو،بیا به هغوئ اوتښتیدل او بیا به داشان کیدل.رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چې دا کوم خلق دی نو ورته اووئیلې شو چې دا د سودخورو ډله ده.(۳)

---

(۱) البیهقی وسنده ضعیف جدا مردود)-.

(۲) ابن ماجة کتاب التجارات باب التغلیظ فی الربا: ۲۲۸۳،وسنده ضعیف ابو الصلت مجهول اوعلی بن زید ضعیف راوی دي)-

(۳) صحیح بخاری کتاب التعبیر باب تعبیر الرویا بعد صلاة الصبح : ۷۰۴۷)-

Scanned with CamS

قوله تعالی:-ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَالُوٓا إِنَّمَا ٱلْبَيْعُ مِثْلُ ٱلرِّبَوٰا
دا وبال په دوی باندې په دې وجه دې چې دوی به وئیل چې تجارت هم د سودپشان دې،دا اعتراض ددوی په شریعت باندې او احکام الهی باندې وو.او دوی به دې سود ته بیع حلال وئیله.یاد ساتئ چې دوی به د سود قیاس په بیع باندې نه کولو ځکه چې مشرکانو هم دې بلې طریقې سره د بیع کولو د مشروعیت قائل نه وو.اوددې وجې هم که دوی قیاس کولې نوداسې به ئې وئیل سودپه مثال دبیع دې.ددوی مطلب دا ووچې دواړه یو شان ځیزونه دی ،بیا څه وجه ده چې یودې حلال اوبل دې حرام وی.
قوله تعالی:-وَأَحَلَّ ٱللَّهُ ٱلْبَيْعَ وَحَرَّمَ ٱلرِّبَوٰا
نو دوی ته جواب ورکولې شی دا حلت او حرمت صرف دالله په حکم کیږی او دا هم ممکن دی چې دا جمله هم د کافرو دقول دې نو دوی ته لطافت سره یو بل جواب ورکولې شی چې د دې خبرې د علم لرلو نه باوجود چې دا الله ﷻ حرام کړې دي نوبیا څنګه اعتراض کوئ؟ علیم او حکیم دالله ﷻ احکامو باندې اعتراض کولو والا تاسو څوک یئ ؟ د هغه پاك ذات نه د تپوس کولو والا څوك دې،
د ټولو کارونو اصلیت الله ﷻ معلوم دي:-دټولو کارونو اصلیت او د دې عالم اصل خو هغه پاك ذات دې.هغه پاك ذات ته ښه معلوم دی چې د بندګانوحقیقی نفع په څه کښې ده او نقصان په کوم ځیزکښې دې،نوهغه پاك ذات نفع والا ځیز حلالوی او نقصان والا ټول ځیزونه حراموی.هیڅ یو مور به په خپل پئ رودونکی بچی دومره مهربانه نه وی چې څومره الله ﷻ په خپلو بندګانو مهربان دی.که هغه پاك ذات منع کول کوی(د یو ځیز نه)نو په هغې کښې مصلحت وی اوکه حکم کوی نو په هغې کښې هم مصلحت وی.چې څوك د الله ﷻ احکام واوری نو د هغه مخکښې روستی ټول ګناهونه معاف کیږی لکه فرمانی چې﴿عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَ﴾او څنګه چې رسول الله ﷺ د فتح مکه[1]په موقع فرمانیلی وو چې د جاهلیت ټول سودونه زمادپښولاندې برباد شو،رومبې سود چې زهٔ ئې ختمول غواړم هغه د عباس سود دې [2])نو په جاهلیت کښې چې کوم سودونه اخستې شوی دی د هغې دواپس کولو حکم نشته دې.
قوله تعالی:-فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ
یو روایت کښې دی چې د زیدبن ارقم ﷺ ام ولده ام بحنه عائشه ﷺ لره راغله او وې وئیل چې ما زید باندې یوغلام په اته سوه درهمه خرڅ کړې وو اوما ورته وئیلی وو چې کله هغه سره رقم راشی نوماته دې را کړی.دې نه پس هغه ته د نقدو ضرورت شو نو هغه د وخت نه مخکښې بیا ماباندې په شپږ سوه خرڅ کړو.عائشه صدیقه ﷺ ورته اوفرمائیل چې تا او هغه دواړو ډیر بد اوکړل.او دا بالکل د شرع خلاف دی.ورشه او زید ته اووایه که هغه توبه نه کوی نو د هغه جهاد به هم خراب شی (یعنی د جهاد ثواب به ورته هم نه ملاویږی)چې کوم(جهاد)هغه رسول الله ﷺ سره کړې وو.نو ما اوونیل که زهٔ هغه ته هغه دوه سوه پریږدم چې کومې به هغه ماته راکوی.او صرف شپږ سوه تري واخلم چې ماته زما پورا اته سوه درهم ملاؤ شی.نو عائشه ﷺ اوفرمائیل چې بیا په کښې څه خبره نشته.بیا عائشه ﷺ ﴿فَمَن جَآءَهُۥ مَوْعِظَةٌ﴾آیت اولوستلو.(ابن ابی حاتم)([3]) دا اثر مشهور دې او د لیل دې د هغه خلقو چې د عینة مسئلې

---

[1]) اصل نسخه کښې داسې دې خو صحیح دادی چه حضرت نبی کریم ﷺ دحجة الوداع په موقع دا ارشاد فرمائیلې وو لکه څنګه چه مخکښې سورة بقره کښې ایت نمبر ۲۷۸ کښې دابن الاحوص روایت کښې ددې صراحت موجود دې)-

[2]) صحیح مسلم کتاب الحج حجة النبی ﷺ : ۱۲۱۸ ابوداود کتاب البیوع باب فی وضع الربا: ۳۳۳٤ ترمذی: ۳۰۸۷، ابن ماجة: ۳۰۵۵، ابن حبان: ۹٤٤۹)-.

[3]) ابن سعد : ٤٦۸۷، دارقطنی : ۵۲/۳، ح/۲۱۱، او وې فرمائیل چه ام محبة او عالیه مجهول او ناقابل احتجاج دی دارویت صحیح سند سره بیهقی : ۳۲۳/۵ کښې موجود دې)-.

Scanned with CamSc

ته حرام وائی.په دې باره کښې نور هم احادیث دی او هغه په کتاب الاحکام کښې دی.والحمدلله.
قوله تعالی:-وَمَنْ عَادَ فَأُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ
دسودحرمت او قسمونه:- بیا فرمائی چې چا د سود مسئله واوریده اوبیا هم هغوئ سود اخلی نو هغوئ د سزا مستحق دی.هغه به همیشه جهنم کښې وی،
سودخور سره د الله د رسول ﷺ دجنګ کولو اعلان:-هرکله چې داآیت نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې څوک اوس هم مخابره نه پریږدی نو هغه دې د الله رسول ﷺ سره جنګ د پاره تیار شی.(ابوداود) (۱)
مخابره:- مخابره دې ته وائی چې یو کس دبل کس زمکه اوکری او دا شرط په کښې کیږدی چې د زمکې ددې حصې نه څومره (فصل) اوشو هغه زما او باقی به ستاوی.
مزابنه:-مزابنه دې ته وائی چې په اونه کښې څومره کهجورې دی هغه زما به ددې بدله کښې تاته دخپل طرفنه نورې تیارې کهجورې درکړم.
محاقله:- او محاقله دې ته وائی چې په پټې کښې په وږوکښې څومره غله ده د هغې بدله کښې د خپل طرفنه څه غله ورکول او هغه اخستل،دا ټول صورتونه شریعت حرام کړی دی چې سود بالکل د مونږه اوباسی.خکه په دې صورتونو کښې صیح طور سره نشی معلومیدې.بعضې علماء کرامو ددې څه علتونه راویستی دی او بعضو څه.یو جماعت خپل علت باندې قیاس اوکړو او دهغه ټول کاروبار نه ئې منع اوکړه چې په کوموکښې داعلت موندې شو.اوبل جماعت دبل علت په وجه.حقیقت دادې چې مسئله لږه مشکل ده او تر دې عمر بن خطاب ﷺ فرمائی چې افسوس دریومسئلو باندې زهٔ پورا اونه رسیدم.د نیکه دمیراث د کلاله مسئله او د سود صورتونو باندې.(۲)
چې په کومو څیزونوکښې د سود یا د حرامو شک وی نو د هغې بچ کیدل:- یعنی بعضې کاروبارونه په دې صورتونوکښې چې په هغې کښې د سود شك وی،بیا چې کوم وسائل هغې ته د رسیدو دپاره دی، هر کله چې دا حرام دی نو هغه وسائل به هم حرام وی لکه څنګه چې هغه څیز واجب کیږی چې د هغې نه بغیرڅه واجب پورا کیدو والا نه وی.د بخاری شریف او مسلم شریف حدیث کښې دی چې حلال ښکاره دی اوحرام هم ښکاره دی.لیکن څه کارونه مینځنی د شک دی،دې شك والا څیزونو نه بچ کیدو والا خپل دین او خپل عزت بچ کړو.او دې شکی څیزونو کښې پریږدونکې حرامو کښې پریږدونکې دې.لکه څنګه چې یو شپونکې په یو صحرا کښې خپل څناور څروی،ممکن دی چې یو څناور دې صحرا ته هم ورشی.(۳)سنن کښې حدیث دې چې کوم څیز تا په شك کښې اچوی نو هغه پریږده او هغه څیز اختیار کړه چې دشك نه پاك وی.(۴) اوبل حدیث کښې دی چې ګناه هغه ده چې زړه ئې اونه منی اوپه طبیعت کښې شك پیدا کړی.او خلق ددې په خبریدو ښه نه ګڼړی (۵)، یو روایت کښې دی چې د خپل زړه نه د فتوڅ تپوس اوکړه اګر چې خلق هم فتوې ورکوی.(۶)
ابن عباس ﷺ فرمائی چې د سود حرمت د ټولو نه آخر کښې نازل شو.(بخاری) (۷)
د سود باره کښې د عمر ﷺ قول:- عمر فاروق ﷺ به دا فرمائیل چې ماته ددې پورا تفسیر راونه رسیدو او

---

۱) ابو داود کتاب البیوع باب فی المخابرة:۳٤۰٦، وسنده ضعیف،ابوالزبیر مدلس راوی دې او تصریح بالسماع ثابت نه دی)-
۲) صحیح بخاری کتاب الاشربة باب ماجاء فی ان الخمر ما خامر العقل من شراب : ۵۵۸۸، صحیح مسلم: ۳۰۳۲)-
۳) صحیح بخاری کتاب الایمان باب فضل من استبرالدینة : ۵۲، صحیح مسلم: ۱۵۹۹، ابوداود: ۳۳۲۹)-
۴) ترمذی کتاب صفة القیامة باب حدیث اعقلها وتوکل .... : ۲۵۱۸، وسنده صحیح،نسائی: ۵۷۱٤)-
۵) صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب تفسیر البر والاثم : ۲۵۵۳، ترمذی: ۲۳۸۹)-
۶) احمد: ۲۲۸ ؟؟وسنده ضعیف)-
۷) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (واتقوا یوما ترجعون فیه الی الله) : ٤٥٤٤)-

Scanned with CamSc

رسول الله ﷺ وفات شو.انې خلقو اسود هم پرېږدئ او هغه څيز هم پرېږدئ چې په هغې کښې شک وی.(مسند احمد) (۱).عمرفاروق ﷺ یو خطبه کښې اوفرمائیل چې شاید زهٔ تاسو د هغه څیزونو نه منع کړم چې ستاسو دپاره نفع بخش وی.او ممکن دی چې تاسو ته داسې احکام درکړم چې ستاسو د مصلحت خلاف وی.واورئ! قرآن پاك کښې د ټولو نه آخری حرمت د سود نازل شو او دې نه پس د نبی کریم ﷺ وفات اوشو،افسوس چې دا ئې مونږ ته وضاحت سره بیان نه کړل.نو تاسو هر هغه څیز پرېږدئ چې په کومې کښې شك وی.(ابن ماجه).(۲)

د سود ګناه،د سود اسباب،او د سودی کاروبار سره پیوسته خلق:- یو حدیث کښې دی چې د سود درې اویا (۷۳) ګناهونه دی چې په هغې کښې د ټولو نه وړه ګناه داده چې انسان خپلې مور سره زنا اوکړی.د ټولو نه لوئې سود د مسلمان بې عزتی کول دی.(مستدرك حاکم) (۳) فرمائی چې داسې زمانه به راشی چې خلق به سود خوری،صحابه کرامو ﷺ تپوس اوکړو چې ټول په ټوله.وې فرمائیل چې څوك ئې نه خوړی هغه ته به هم ددې ګردوغبار خو اورسی.(مسنداحمد) (۴)نوګردوغبار نه د بچ کیدو دپاره هغه اسبابو ته نزدې ورتلل نه دی پکار چې کوم دې حرامو کارونو طرفته د تلو دپاره لار صفا کوی.

عائشه رضی الله عنها نه مروی دی چې کله دسورهٔ بقره آخری آیت د سود باره کښې نازل شو نو نبی کریم ﷺ جمات کښې دا تلاوت کړو او د شرابو کاروبار او د شرابو تجارت ئې حرام اوګرځولو.(۵)بعض آلمه وانی چې دا شان شراب او د دې دکاروبار هر رنګ اخستل خرڅول وغیره هغه ټول وسائل ئې ختم کړل چې کوم دې ته رسی هغه رسول اکرم ﷺ حرام کړل.

حرامو لره د حلالولو د حیلې او کوشش نه منع:- صحیح حدیث کښې دی چې الله ﷻ یهودیانو باندې لعنت اوکړو ځکه چې کله هغوئ باندې چربی حرامه شوه نو هغوئ حیلې جوړې کړې او چربی به ئې ویلې کوله او خرڅوله به ئې او د دې قیمت به ئې خوړلو (۶).غرض دا چې دهوکې او حیلې سره حرام لره حلالولو کوشش هم حرام دې او موجب لعنت دې.داشان مخکښې حدیث هم تیر شوې دې چې په هغې کښې دی چې کوم یو سړې یو دریو طلاقووالا ښځې سره نکاح په دې غرض اوکړی چې د رومبی خاوند د پاره حلاله شی نو په ده باندې او په هغه خاوند دواړو باندې د الله ﷻ لعنت او غضب دې.د آیت ﴿تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ﴾ تفسیر اوګورئ.

د سود سره متعلق په هر یو څیز باندې د الله ﷻ لعنت:- حدیث شریف کښې دی چې سود خور باندې او په نورو خورونکی باندې او په دې باندې شهادت ورکونکی باندې او په دې باندې ګواهی کوونکی باندې او ددې لیکونکی باندې د الله ﷻ لعنت دې (۷)، نو ظاهردی چې کاتب او شاهد ته څه ضرورت وو چې خامخا د الله ﷻ لعنت کښې خان راولی.مراد دادې چې په ظاهره د یو شرعی عقد په صورت

---

۱) احمد: ۳٦/۱، ابن ماجة کتاب التجارات باب التغلیظ فی الربا: ۲۲۸٦،؟؟ وسنده ضعیف قتاده مدلس اوده دسماع تصریح نشته دې)-

۲) ددې سند کښې هیاج بن بسطام دې اوده ته امام احمد صاحب متروك وئیلی دی (المیزان: ۳۱۸/۴ رقم ۹۲۸۷، ابن ماجة کتاب التجارات باب التغلیظ فی الربا : ۲۲۷۵، مختصرا وهو حسن حاکم : ۳۷/۲)-.

۳) احمد: ٤۹٤/۲، ابو داود کتاب البیوع باب فی اجتناب الشبهات : ۳۳۳۱، نسائی: ٤٤٦۰، ابن ماجة: ۲۲۷۸، ؟؟وسنده ضعیف حسن بصری مدلس دې او ددوی دابوهریره رضی الله عنه نه سماع ثاب نه ده)-.

۴) احمد: ٤٦/٦، صحیح بخاری کتاب الصلاة باب تحریم تجارات الخمر فی المسجد: ٤۵۹، صحیح مسلم: ۱۵۸۰، ابوداود: ۳٤۹۰، ابن ماجة: ۲۳۸۲)-

۵) صحیح بخاری کتاب احادیث انبیاء باب ماذکر عن بنی اسرائیل : ۲٤٦۰، صحیح مسلم: ۱۵۸۲)-

۶) صحیح مسلم کتاب المساقاة باب لعن اکل الربا وموکله: ۱۵۹۷)-

۷)

راوړلو سره حیله اوکړی او سود لیکی او لولی خو ولې بیا هم ملعون دې.علامه امام ابن تیمیه رحمة الله علیه ددې حیلو حوالو رد کښې یو مستقل کتاب د ابطال التحلیل په نوم لیکلې دې.اودا په دې موضوع باندې یو بهترین کتاب دې.الله ﷻ دې په هغوئ رحمتونه نازل کړی او هغوئ نه دې راضی شی:

يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ						
ختموی الله	سود	او زیاتوی	صدقې	او الله	نه خوښوی	هر انسان
..... الله تعالی سود کموی او صدقې زیاتوی ..... او دالله پاک هیڅ ناشکره بدعمله						
كَفَّارٍ اَثِيْمٍ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ						
ناشکره	بدعمله	بیشکه هغه کسان	چې ایمان راوړی	او اوکړی عمل نیك		او قائم کړی مونځ
سړې نه خوښوی	..... اوڅوک چې ایمان را وړی		او نیک کارونه کوی		او دمونځ پابندی کوی	
وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ لَهُمْ اَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا						
اووړکړی	زکاة	ده هغوئ دپاره	بدله دهغوئ	په نزد درب دهغوئ	اونه به وی بره	په هغوئ
او زرکاة ورکوی	نو دهغوئ اجر	بیشکه خپل الله تعالی سره دې	نه به په هغوئ څه قسم ویره راشی			اونه
هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝						
غمژن شی						
بنه هغوئ غمژن شی						

قوله تعالی:- يَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ ؕ

سودی کاروبار د خیر وبرکت نه خالی وی:- الله ﷻ فرمائی چې هغه سود لره بربادوی یعنې یا خو هغه بالکل تباه کوی یاددې خیر و برکت ختموی،دنیا کښې هم هغه د تباهئ باعث جوړیږی او آخرت کښې هم د عذاب سبب جوړیږی.لکه بل ځائې کښې فرمائی چې ﴿ قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ ﴾ یعنی ناپاك او پاك برابر نه دی اګر چې تاسو لره ناپاك زیاتئ کښې واچوی. او بل ځائې کښې فرمائی چې ﴿وَيَجْعَلَ الْخَبِيْثَ بَعْضَهٗ عَلٰى بَعْضٍ فَيَرْكُمَهٗ جَمِيْعًا فَيَجْعَلَهٗ فِيْ جَهَنَّمَ ؕ﴾ یعنی خباثت والا څیزونو لره ګډوډ کولو والا به جهنم ته داخلولې شی. اوبل ځائې کښې دی چې ﴿وَمَآ اٰتَيْتُمْ مِّنْ رِّبًا﴾ یعنی ستاسو ورکړې شوی سود سره چې تاسو کوم مال زیاتول غواړئ هغه دراصل نه زیاتیږی.همداشان عبدالله بن مسعود ﷺ والا روایت کښې دی اګر چې سود کښې زیاتې اوشی نو د دې انجام کمې وی.(مسند احمد).(۱)

د ذخیره اندوزئ ممانعت:- دمسند یو بل حدیث کښې دی چې امیرالمومنین عمرفاروق ﷺ دمسجد نه راوتلو نو غله نې اوکتله چې خوره وره پرته ده،تپوس نې اوکړو چې دا غله چرته نه راغله ؟ نو خلقو ورته اووئیل چې د خرڅ دپاره راغلې ده.عمرفاروق ﷺ دعا اوکړه چې انې الله ﷻ ! په دې کښې برکت واچوې،خلقو اووئیل چې دا غله په ګران نرخ خرڅولو دپاره جمع کړې شوې وه،تپوس نې اوکړو چې چا جمع کړې وه؟خلقو اووئیل چې یو خو فروخ چې د عثمان ﷺ مولی دې او بل ستاسو آزاد شوې

(۱) احمد: ۳۹۵/۱، ابن ماجة كتاب التجارات باب التغليظ ق الربا: ۲۲۷۹، وسنده صحيح)-

Scanned with CamScanner

غلام.عمرفاروق ﷺ دواړه راوغوښتل او ورته ئې اوفرمائيل چې تاسو داسې ولې اوکړل؟هغوئ جواب کښې اووئيل چې مونږ ئې په خپلو مالونو اخلو چې کله غواړو نو اخلو به ئې او چې کله غواړو نو خرڅوؤ به ئې،مونږ ته اختيار دې.عمر فاروق ﷺ اوفرمائيل واوريُ اما د رسول الله ﷺ نه آوريدلی دی چې کوم کس مسلمانانو باندې په زيات نرخ خرڅولو د پاره غله کيږدی(جمع کړی)نو الله ﷻ به هغه مفلس کړی يا به ئې جذامی کړی.په دی آوريدو سره فروخ خو اوفرمائيل چې زما توبه ده،زهٔ الله ﷻ سره وعده کوم چې بيا به داکار نه کوم.ليکن د عمرفاروق ﷺ غلام هم دا اووئيل چې مونږ خو ئې په خپل مال اخلو او ددې نه نفع اوچتوؤ او خرڅوؤ ئې.په دې کښې څه حرج دې.د حديث راوی يحيی رحمة الله عليه فرمائی چې ما اوکتل چې هغه غلام په جذام مرض پريوتو.او د جذام مرض کښې به گرزيدو.(۱)ابن ماجه کښې دی چې کوم سړې دمسلمانانو غله په گران نرخ خرڅولودپاره جمع کړی نوالله ﷻ به هغه مفلس او جذامی کړی (۲)

قوله تعالی:-وَيُرْبِي الصَّدَقٰتِ

بيا فرمائی چې هغه صدقه زياتوی.﴿ يربی﴾(بغير د تشديد د با) کښې دويم قرات ﴿ يربی ﴾(په تشديد د با) هم دی.

د پاکې ګټې صدقه الله ﷻ په خپل نبی لاس کښې اخلی:- صحيح بخاری کښې حديث دی چې کوم سړې د خپلې پاکې ګټې نه يو کهجوره هم خيرات کړی نو هغه الله ﷻ په خپل نبی لاس کښې اخلی،بيا پالی لکه څنګه چې تاسو خلق بچی پالئ او د دې ثواب د غر برابر جوړوی.(۳)او پاکو څيزونو نه سوا ناپاک څيزونه قبول نه فرمائی.

د يوې کهجورې د صدقې کولو ثواب د احد د غر برابر:- يو بل روايت کښې دی چې د احد د غر برابر ورته ديوې کهجورې ثواب ملاويږی.(۴)اويو بل روايت کښې دی چې يولقمه ورته داحددغربرابر ملاويږی.(۵) نو تاسو خيرات او صدقات ورکوئ.

بيا فرمائی چې کافران،نافرمان،زبان درازه،اوبدوکارونو کوونکو لره الله ﷻ نه خوښوی.مطلب دادې چې کوم خلق صدقې او خيرات نه ورکوی او الله ﷻ چې کومه وعده کړې ده په هغې صبر او شکر نه کوی او مال جمع کوی او بدو او خلاف شرع طريقو سره ګټه کوی او د خلقو مالونه باطلو او ناحقو طريقو سره خوړی،دا د الله ﷻ دښمنان دی او دې ناشکرو او نافرمانو سره الله ﷻ محبت نه کوی.

قوله تعالی:-اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ

بيا د هغه بندګانوتعريف کوی چې د خپل رب احکام منی.مخلوق سره نيکی او احسان کوی.مونځونه کوی اوزکوة ورکوی او د قيامت په ورځ به دټولو تکليفونو او غمونو نه په امن کښې وی،هيڅ ويره به د دوی په زړه کښې نه وی بلکه دوی ته به الله ﷻ ډير انعامات ورکوی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا اللّٰهَ	وَذَرُوْا	مَا بَقِيَ
اې هغه کسانو	چې ايمان مو راوړې دې	اويريږئ دالله نه	اوپريږدئ	هغه چې باقی پاتی دې
اې مؤمنانو	دالله تعالی نه ويريږئ	.....		باقی سودونه پريږدئ

---

۱) احمد : ۲۱/۱، ابن ماجة كتاب التجارات باب الحكرة والجلب: ۲۱۵۵، مختصرا وسنده حسن خو د ذخيره کولو حرمت ددې سياق نه علاوه نورو روايانو نه هم ثابت دی او ګورئی: صحيح مسلم: ۱۲۰۵، ابوداود: ۳۴۴۷)-

۲) احمد : ۲۱/۱، ابن ماجة كتاب التجارات باب الحكرة والجلب: ۲۱۵۵، مختصرا وسنده حسن)-

۳) صحيح بخاری كتاب الزكاة باب الصدقة من كسب طيب : ۱۴۱۰، صحيح مسلم: ۱۰۱۴)-

۴)صحيح مسلم كتاب الزكاة باب قبول الصدقة من الكسب الطيب وتربيتها:۱۰۱۴، ترمذی: ۶۶۱،نسائی: ۲۵۲۶،ابن ماجة: ۱۸۴۲)

۵) ترمذی كتاب الزكاة باب ماجاء فی فضل الصدقة: ۶۶۲)-

Scanned with CamScanner

مِنَ الرِّبٰوٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ

دسو د نه | که یئ تاسو | مومنان | خو که اونه کړو تاسو | نوخبر شئ | په جنګ سره | دطرفه دالله نه

..... | که تاسوپه درښتیامومنان یئ | اوکه داسې مواونه کړل نود الله تعالی او د هغه د رسول دطرفه جنګ ته

وَرَسُوْلِهٖ ۚ وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ ۚ لَا تَظْلِمُوْنَ وَلَا

او درسول دهغه نه | او که تاسو توبه کړه | نو شته تاسو لره | اصل | دمالونو ستاسو | مه تاسو ظلم کوئ | اونه دې

جنګ ته تیار شئ | اوکه تاسو منع شئ اوتوبه اوباسئ | نوخپل اصلی رقم ستاسو حق دې | مه ظلم کوئ اومه

تُظْلَمُوْنَ ۝ وَاِنْ كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ ۭ وَاَنْ تَصَدَّقُوْا

په تاسو ظلم اوشی | اوکه وو قرض اغستونکی | خاوندان دنادارئ | نو انتظار | دفراخئ پورې | اوکه صدقه نې کړئ تاسو

ظلم زغمئ | اوکه د قرض دار لاس تنګ وی نو دلاس آزادیدوپورې ورته اوکورئ | اوصدقه ورکول

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ

نودا بهتره ده | ستاسو دپاره | که تاسو | پوهیږئ | او اویریږئ | دهغه ورځې نه | اچې واپس کیږئ به تاسو په هغې کښې

ستاسو دپاره ډیربهتر دی | که تاسوپوهیږئ | اودهغې ورځې نه اویریږئ چه په هغې کښې به الله تعالی ته

اِلَى اللّٰهِ ۣ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝

الله ته | ایبا به پوره ورکړې شی | هر نفس ته | بدله دهغه عمل چې کړې نی وی | او په هغوئ به | هیڅ ظلم نه کیږی

مخامخ کیږئ | بیا به هرچاته د خپل کار (بدله) پوره پوره ورکولې شی | اوهیڅ زیاتې به ورسره نشی کولې

د الله ﷻ د اصل مال د اخستلو او د سود د پریخودلو حکم:- الله ﷻ ایماندارو ته د تقوی حکم کوی او د هغه کارونو نه ئې منع کوی چې په هغې سره هغه ناراضه شی او رضامندی ئې لرې شی.

قوله تعالی:- يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَذَرُوْا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبٰٓوا

نو فرمائی چې د الله ﷻ لحاظ اوساتئ اوټولوکارونوکښې د الله ﷻ نه ویریږئ کوم سود چې ستاسو په خلقوباندې باقی دې نوخبردار که تاسومسلمانان یئ نو اوس هغه مه اخلئ، هغه حرام شو.

د ایت شان نزول:- دا آیت نازل شو.د ثقیف قبیلې عمروبن عمیر او د بنو مخزوم قبیلې بنو مغیره باره کښې د جاهلیت په زمانه کښې د دوی د سود کاروبار وو.د اسلام نه پس بنو عمرو د بنو مغیره نه خپل سود اوغوښتلو او هغوئ اووئیل چې دا خو اوس مونږ د اسلام راوړلو نه پس نۀ ادا کوؤ.په دې خبره جنګ زیات شو،د مکې مکرمې نائب عتاب بن اسید ﷺ رسول الله ﷺ ته دا خبره اولیکله نو په دې باندې دا آیت نازل شو او رسول الله ﷺ ورته دا آیت اولیکلو او هغوئ ته ئې اولیږلو.او هغوئ د پاره ئې زیات شوې سود اخستل حرام اوګرځولو، نو هغوئ توبه ګار شو او خپل سود ئې بالکل پریښودو.[1] په دې آیت کښې زبردست وعید دې په هغه خلقو باندې چې د سود د حرامیدو علم لری او ددې باوجود بیا هم د دې نه نۀ منع کیږی.

قوله تعالی:- فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ

سودخوری الله ﷻ او رسول ﷺ سره جنګ دې:- ابن عباس ﷺ فرمائی چې سود خور ته به د قیامت په ورځ اووئیلې شی چې خپله وسله واخله او د الله ﷻ او رسول ﷺ سره د جنګ دپاره تیار شه.

د سود خور نه دې څټ پریکړې شی:- عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی چې امام وخت باندې فرض دی که

---

[1] ابن ابی حاتم : ۳/۱۱۴۰)-

سود خواره سود لره نه پریږدی نو په هغوئ دې توبه اوباسی.اوکه توبه نه کوی نو د دوی څنونه دې اووهی.([1])د حسن رحمة الله علیه او ابن سیرین رحمة الله علیه فرمان هم دا دې.
قتاده ﷺ فرمائی چې اوګورئ الله ﷻ هغوئ ته د هلاکیدو دهمکی ورکړه.او د ذلیله کیدو نې قابل کړل.خبردار سود نه او د سود لین دین نه بچ اوسئ.حلال څیزونه او حلال خریدوفروخت ډیر څه دی. لوګې تندې تیرې کړئ خو د الله ﷻ د معصیت نه لرې اوسئ.هغه روایت به درته هم یاد وی چې کوم مخکښې تیرشو چې عائشه ﵂ په یو معامله کښې د زید بن ارقم ﷺ باره کښې فرمائیلی وو چې دده جهاد برباد شو ځکه چې د هغه په معامله کښې د سود نسبت وو.او دا ځکه چې د الله ﷻ دښمنانو سره د مقابلې کولو نوم جهاد دې.اوسودخوری الله ﷻ سره مقابله کول دی،خو د دې اسناد کمزورې دی.
قوله تعالی:-وَاِنْ تُبْتُمْ فَلَكُمْ رُءُوْسُ اَمْوَالِكُمْ ۚ
صرف مال اخلئ:- بیا ارشاد کیږی که توبه مو اوویسته نوخپل اصل مال ترې بې شکه واخلئ چې کوم مو په چا قرض وی مه په زیات اخستلو سره په هغه باندې ظلم کوئ او نه دې هغه تاسو باندې په نه درکولویا په کمو درکولو ظلم کوی،رسول الله ﷺ د حجة الوداع په موقع باندې فرمائیلی وو زهٔ د جاهلت د زمانې ټول سود ختموم.اصل رقم واخلئ او سود مه اخلئ.او مه په چا باندې ظلم کوئ چې کم ورکړئ او زیات ترې اخلئ.د عباس بن عبدالمطلب ټول سود زهٔ بربادوم.([2])
قوله تعالی:-وَاِنْ كَانَ ذُوْ عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ اِلٰى مَيْسَرَةٍ ۭ
غریب مفلس قرضداری ته وخت ورکول او د قرض دمعاف کولو اجر و ثواب:-بیا ارشاد فرمانی که یو مفلس سړې وی اوهغه سره دومره مال نه وی چې هغه ستاسوقرض ادا کړی نو هغه ته مهلت ورکړئ او چې خیر دې څه موده پس نې راکړه.داسې مه کوئ چې هغې پسې سود جمع کوئ او څه موده تیره شې اوبیاورته اووائې چې دومره دومره سودراکړه بلکه بهترادی چې غریبانانوته خپل سود معاف کړئ.([3])
قرض داری ته د وخت ورکولو فضیلت:- د طبرانی حدیث کښې دی چې څوک د قیامت په ورځ د الله ﷻ د عرش لاندې سیوري غواړی نو هغه ته پکار دی چې داسې سړی ته دې مهلت ورکړی یا دې معاف کړی.دمسند احمدیو حدیث کښې دی چې یو سړې یو مفلس کس سره خپل قرض وصلولو کښې نرمی اوکړی او هغه ته مهلت ورکړی نو څو ورځو پورې چې هغه رقم ادا نکړی ده ته د هغه رقم برابر هره ورځ د خیرات کولو ثواب ملاویږی.او یو روایت کښې دی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې هره ورځ د خیرات کولو دوچنده ثواب ملاویږی.په دې آوریدو سره بریده ﷺ اوفرمائیل چې یارسول الله ﷺ چې تاسو خو مخکښې یو چنده ثواب وئیلې وو اوس دوچنده څنګه شو.نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې آو کله میعاد ختم شوې نه وی نو یو چنده ثواب او کله چې میعادختم شی نو دوچنده ثواب ملاویږی.([4])
د قتاده ﷺ عمل:- د قتاده ﷺ یو سړی باندې قرض وو،دوی به هره ورځ هغه سړی نه د قرض تقاضا کوله.خو هغه سړې به پټیدو او دهٔ سره به اکثر نه ملاویدو.یوه ورځ یو ماشوم راووتلو نو د هغه نه نې تپوس اوکړو،هغه ورته اوونیل چې په کور کښې دې او روټئ خوری.نو قتاده ﷺ هغه ته اوچت آواز اوکړو او ورته نې اوونیل چې ماته معلوم شو چې ته کور کښې موجود نې.بهر راوزه او ماسره سوال جواب اوکړه.هغه غریب بهر راووتلو،دوی ورته اوونیل چې چرته پټ شوې نې؟هغه سړی ورته اوونیل

---

[1]) الطبری : ۲۵/۶)-
[2]) ابوداود کتاب البیوع باب فی وضع الربا : ۳۳۳٤، وسنده حسن ترمذی: ۳۰۸۷، ابن ماجة: ۳۰۵۵، ددې شواهد د پاره اوګورئ: صحیح مسلم: ۱۲۱۸، ابوداود: ۱۹۰۵، ابن حبان: ۹۴۴)-
[3]) الطبری: ۸۹۹)-
[4]) احمد: ۳٦۰/۵، ابن ماجة: کتاب الصدقات باب انظار المعسر: ۲٤۱۸، وهو صحیح)-

Scanned with CamScanner

چې خبره داده چې زهٔ غریب یم او ماسره په دې وخت کښې رقم نشته دې او د شرم د لاسه نه راوزم او تاسو سره نه ملاویږم.دوی ورته اووئیل چې قسم اوخوره،هغه قسم اوخوړو.دوی په ژړا شو او وې وئیل چې ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چې کوم څوک یو غریب قرضداری ته مهلت ورکړی او یا ورته خپل قرض معاف کړی نو هغه به د قیامت په ورځ د الله ﷻ د عرش د سیوري لاندې وی.(صحیح مسلم)(۱)

غریب قرض داری ته وخت ورکول جنت ته د تلو سبب دې:- ابویعلی یو حدیث روایت کړې دې چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې د قیامت په ورځ به یو بنده الله ﷻ ته حاضر کړې شی،الله ﷻ به د هغه نه سوال اوکړی اووایه تا زما دپاره څه نیکی کړې ده.دې به اووانی چې انې الله ﷻ ! ما د یو ذرې برابر داسې څه نیکی نه ده کړې چې زهٔ نن د هغې بدله اوغواړم،الله ﷻ به ترې نه بیا تپوس اوکړی نو دې به همدا جواب ورکړی چې انې الله ﷻ ماته یو وړه شان خبره یاده ده چې تا د خپل فضل نه ما ته څه مال راکړې وو او ما به تجارت کولو.او خلقو به زما نه قرض اخستلو.کله چې به ما اوکتل چې دا سړې غریب دې او قرض په وعده نشی رسولې نو ما به هغه ته څه نور مهلت ورکړو او په مالدارو به مې سختی نه کوله.اوکه څوک به مې اولیدو چې ډیر زیات غریب دې نو هغه ته به مې قرض معاف کړو.بیا به الله ﷻ اوفرمائی چې بیا دې ولې زهٔ په تا باندې آسانی اونکړم او زهٔ خو د تولو نه زیات لوئې اسانی کونکې یم.ما تهٔ اوبښلې او جنت ته داخل شه (۲)

د عرش د سیوري د لاندې کیدو سبب او ذریعه:- مستدرك حاکم کښې دی چې کوم سړې دالله ﷻ لار کښې د جهاد کونکی غازی مدد اوکړی یا د هغه سړی مدد اوکړی چې مال ورسره نه وی او قرضدار وی یا د هغه غلام مدد اوکړی چې د هغه آقا وئیلی وی چې دومره رقم راکړه نو تا به آزاد کړم،نو الله ﷻ به دهٔ ته په هغه ورځ سیوري ورکړی چې په کومه ورځ بل سیوري نهٔ وی(۳)

د دعا د قبلیدو او د تکلیف د لرې کیدو سبب او ذریعه:- مسنداحمدکښې دی چې کوم سړې غواړی چې د هغه دعا دې قبوله شی او دده نه تکلیف اومصیبت لرې شی نوهغه ته پکار دی چې دهغه خلقو سره مدد اوکړی چې کوم په تنګئ کښې اخته وی.(۴)

د عرش د سیوری لاندې کیدو په حقله یو بل حکایت:- عباد بن ولید رحمة الله علیه فرمائی چې زهٔ او زما پلاردعلم حاصلولو دپاره اووتلو.او مونږ اووئیل چې انصارو نه به احادیث لولو.دتولو نه مخکښې زمونږ ملاقات ابوالیسر ﷺ سره اوشو او هغوئ سره د هغوئ غلام وو.او د هغه په لاس کښې یو رجستر وو.او د غلام او آقا یو شان لباس وو.زما پلار اووئیل چې ترهٔ ته خو غصه کښې ښکاري.نوهغه اووئیل چې آؤ واوره فلانی سړی باندې زما قرض وو او د قرض موده پوره شوې وه.زهٔ هغه ته ورغلم چې خپل قرض ترې وصول کړم سلام مې اوکړو او تپوس مې اوکړو چې هغه کور کښې شته دې.د کور نه جواب ملاؤ شو چې نه،اتفاق سره د هغه یو بچې د کور نه راوتلو،ما د هغه نه تپوس اوکړو چې ستا پلار چرته دې؟هغه اووئیل چې ستاسو آواز آوریدو سره دکټ لاندې شو.ما ورته بیا آواز اوکړو او ورته مې اووئیل چې ماته معلوم شو چې پټ شوې ئې.پټیږه مه راشه جواب راکړه،هغه راغلو نوما ورته اووئیل چې ولې پټ شوې ئې؟هغه اووئیل چې صرف ددې وجې چې ماسره په دې وخت کښې پیسې نشته دې،ما وې که تاسره ملاؤ شم نو یا خو به څه د دروغو بهانه کوم یا به غلطه وعده کوم نو ددې وجې تا

---

(۱) صحیح مسلم: ۱۵۶۳)-.

(۲) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب ماذکر عن بنی اسرائیل:۳۴۵۱، صحیح مسلم: ۱۵۶۰، ابن ماجة: ۲۴۲۰، بالفاظ مقاربة)

(۳) حاکم: ۲۱۷/۲، احمد: ۴۸۷/۳،)-.

(۴) احمد : ۲۳/۳، زیدعمی ضعف (المیزان: ۱۰۲/۲، رقم: ۳۰۰۳) اودسند دانقطاع په وجه دا روایت ضعیف دې،

ته د مخامخ کیدو نه ویریدم.تاسو د رسول الله ﷺ صحابی یئ تاسو ته به څه دروغ اووایم.ما ورته اوونیل چې ته ربښتیا وائې او ستا دې په خدائې قسم وی چې تاسره رقم نشته دې نو هغه اوونیل چې په الله قسم ماسره رقم نشته دې.ما ورته درې خل قسم ورکړو او د رجسټر نه مې د هغه نوم کټ کړو.او رقم مې جمع کړو او هغه ته مې اوونیل چې زهٔ ستا نوم کټ کوم.اوس که تاسره راشی نو رابه ئې کړې او که نه وی معاف دی درته.واوره ازما دې دوارو سترګو کتلی دی او زما دې دوارو غوږونو اوریدلی دی او زما دې زړه ښه یاد کړی دی چې رسول الله ﷺ اوفرمانیل چې څوک په سخته کښې چا ته مهلت ورکړی یا ئې معاف کړی نو الله ﷻ به هغه ته په خپل سیوری کښې ځائې ورکړی.(۱)

غریب قرض داری سره نرمی کوونکې به د دوزخ د ګرمئ نه اوساتلې شی:- مسند احمد کښې یو روایت کښې دی چې رسول الله ﷺ مسجد ته راغلو او زمکې طرفته ئې اشاره اوکړه او وې فرمانیل چې څوک یو نادار سړی سره آسانی اوکړی یا هغه معاف کړی نوالله ﷻ به هغه دجهنم دګرمئ نه اوساتی.واورنی ! دجنت کارونه مشقت والا دی او د خواهش خلاف دی او د جهنم کارونه آسانئ والا دی او د نفس د خواهش مطابق دې،نیك بخت هغه خلق دی چې د فتنو نه بچ شی.هغه ګوټ چې انسان په غصه کښې اوځکی د هغې نه زیات الله ﷻ ته خوښ ګوټ بل نشته.د داسې کوونکو زړه الله ﷻ دایمان نه ډکوی.(۲)

په مفلس رحم کول د ګناهونو د بښنې سبب:-طبرانی کښې دی چې کوم سړې یومفلس باندې رحم اوکړی دخپل قرض په وصولولوکښې او په هغه باندې سختی اونه کړی نوالله ﷻ هم دې په ګناهونو باندې نه نیسی تردې پورې چې هغه توبه اوکړی (۳)

قوله تعالی:-وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ

دې نه پس الله ﷻ خپلو بندګانو ته نصیحت کوی او دوی ته د دنیا د زوال او د مال د فنا کیدو او د آخرت راتلل او د الله ﷻ طرفته واپس تلل.

قوله تعالی:-ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ

اودخپلو اعمالو حساب ورکول اوپدې ټولو اعمالو جزااوسزا ملاویدل یادوی.او هغوئ د خپلو عذابونو نه ویروی.

د قران کریم د ټولو نه وروستونې ایت:- دا هم مروی دی چې د قرآن پاك د ټولو نه آخری آیت هم دادې.د دې آیت نازلیدو نه پس رسول الله ﷺ صرف نهه شپې ژوندې وو.او د ربیع الاول په دویم تاریخ د پیر په ورځ د رسول الله ﷺ وفات اوشو(۴) ﴿اللهم صل وسلم علیه﴾.ابن عباس رضی الله عنه یو روایت کښې دی چې دې نه پس رسول الله ﷺ یودیرش ورځې ژوندې وو.ابن جریج رحمة الله علیه فرمائی چې د سلفو قول دادې چې دې نه پس رسول الله ﷺ نهه ورځې ژوندې وو او د هفتې ورځې نه شروع اوشوه او د پیر په ورځ وفات شو (۵) الغرض قرآن پاك کښې د ټولو نه آخری آیت هم دا نازل شوې دې.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِذَا تَدَايَنْتُمْ	بِدَيْنٍ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى
اے هغه کسانو	اچی ایمان مو راوړې دې	کله چې تاسو دیو بل سره معامله کوئ	په قرض سره دنیټې مقرر پورې
ائې مومنانو! هرکله چې تاسوتریومقرر نیټې پورې دقرض لین دین کوئ			.....

---

[۱] صحیح مسلم کتاب الزهد باب حدیث جابر الطویل : ۳۰۰۶)-

[۲] احمد: ۳۲۷/۱ وسنده موضوع نوح بن ابی مریم مجروح)-

[۳] المعجم الکبیر : ۱۱۳۰. المعجم الاوسط: ۲۲۳۸)-.

[۴] سنده ضعیف ددې سند کښې ابن لهیعه مختلط دې (التقریب ۱۴۴/۱، رقم: ۵۷۴، اود سعید بن جبیر د ابن دینار نه سماع ثابت نه ده،ددې روایت اولنئ حصه صحیح بخاری ۴۵۴۴ کښې ثابت ده)-

[۵] الطبری: ۲۳۱۲، داروایت ضعیف او معضل دې)-،

فَاكْتُبُوهُ ۚ وَلْيَكْتُبْ بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌ ۢ بِالْعَدْلِ ۖ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ

نواولیکئ هغه | او اودې لیکی ستاسو ترمنځه | یو لیکونکې | په انصاف سره | اونۀ دې کوی انکار | لیکونکې

نوهغه لیکئ | اوستاسوترمینځه دې یو لیکوال په انصاف سره لیکل اوکړی | او لیکوال دې انکارنه کوی

اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ وَلْيُمْلِلِ الَّذِیْ عَلَيْهِ

دلیکلونه | لکه ځنګه چې | ښودنه کړې هغه ته | الله | نوپکاردی چې اولیکی | او بیان دې اوکړی | هغه سړې چې په هغه باندې

دلیکلونه | لکه ځنګه چې الله ورته خودنه کړې ده دغه شان دې اولیکی | اوعبارت دې ورته هغه (قرض دار) وانی

الْحَقُّ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـًٔا ۭ فَاِنْ كَانَ الَّذِیْ

حق دې | اواودې پریږی | دالله نه | چې رب دهغه دې | او نۀ دې کموی | دحق نه | هیڅ څیز | نو که چرې وی | هغه څوک

چه په چاحق وی | اوهغه دې دخپل رب نه ویره اوکړی | اوپه معامله کښې دې هیڅ کمې نه کوی | نوکه چرې هغه څوک

عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيْهًا اَوْ ضَعِيْفًا اَوْ لَا يَسْتَطِيْعُ اَنْ يُّمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ

چې په هغه باندې وی حق | ناپوهه | یا کمزورې | یا نۀ لری طاقت | چې بیان اوکړی هغه | نو بیان دې اوکړی

چې په هغه باندې حق وی کم عقل یاکمزورې وی | یا لیکلوال ته په خپله سم عبارت نشی وئیلې | نوخودنه دې اوکړی

وَلِيُّهٗ بِالْعَدْلِ ۭ وَاسْتَشْهِدُوْا شَهِيْدَيْنِ مِنْ رِّجَالِكُمْ ۚ

ولی دهغه | په انصاف سره | او گواهان کړئ تاسو | دوه گواهان | دسړو خپلو نه (یعنی مسلمانان) |

واکدار دهغه په انصاف سره | اوپه خپلو سړو کښې پرې دوه کسان (عادلان) گواهان جوړ کړئ

فَاِنْ لَّمْ يَكُوْنَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَّامْرَاَتٰنِ مِمَّنْ تَرْضَوْنَ

نوکه چرې نۀ وو | دوه سړی | نو یو سړې | او دوه ښځې دوی | دهغه کسانو نه | چې تاسو پرراضی یئ

اوکه دوه کسان نه وی | نویو سړې اودوه ښځې دې شی | .....ځوک چې ستاسوخوښ وی

مِنَ الشُّهَدَآءِ اَنْ تَضِلَّ اِحْدٰىهُمَا فَتُذَكِّرَ اِحْدٰىهُمَا الْاُخْرٰى ۭ

د گواهانونه | که هیر شی | ډیوې ښځې نه په دې دواړو کښې | نو ورياد به کړی | هغه یوه ددې دواړونه | بلې ته

دگواهانونه | ځکه که یوې ښځې نه (گواهی) خطاشی | .....نویوه بۀ ئې بلې ته یاده کړی

وَلَا يَاْبَ الشُّهَدَآءُ اِذَا مَا دُعُوْا ۭ وَلَا تَسْـَٔـُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا

اونۀ دې کوی انکار | گواهان کله چې اوبللې شی | او مۀ کوئ سستی | له دې چې اولیکئ | که لږوی |

اوچې گواهان (دگواهئ دپاره) راوبللې شی نوانکار دې نه کوی | اوپدې کښې سستیا مه کوئ چې وړه

اَوْ كَبِيْرًا اِلٰٓى اَجَلِهٖ ۭ ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ عِنْدَ اللّٰهِ وَاَقْوَمُ

اوکه ډیر وی | دنیټې دهغې پورې | دالیکل ستاسو | ډیره دانصاف طریقه ده | په نیز د الله | او زیاته صحیح ده

یالویه معامله ده دنیټې سره اولیکئ | داطریقه دالله پاک په نیزد ښه انصاف طریقه ده | او دمضبوطیاذریعه ده

لِلشَّهَادَةِ وَأَدْنَىٰٓ أَلَّا تَرْتَابُوٓا إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً
دپاره دگواهئ |او زياته نزدې ده	چې تاسو په شك كښې پرينوځئ| مګر	كه وى	تجارت
دګواهئ پحقله	اودشك شبهې نه بچ كيدوته زياته نزدې ده	مګر دا كه خرڅول اخستل
حَاضِرَةً تُدِيرُونَهَا بَيْنَكُمْ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ
لاس په لاس|چې چلوئ نې تاسو	په خپل منځ كښې	او نشته	په تاسو باندې |څه ګناه
لاس په لاس په خپل مينځ كښې كوئ	نو په تاسو باندې هيڅ ګناه نشته	چې (په داسې صورت كښې)
أَلَّا تَكْتُبُوهَا ۚ وَأَشْهِدُوٓا إِذَا تَبَايَعْتُمْ ۖ وَلَا
كه اونۀ ليكئ هغه	اوونيسئ ګواهان	كله چې تاسو ديوبل سره تجارت كوئ	اونۀ دې
كه هغه اونه ليكئ |او د څرولو اخستلو په وخت كښې څوك نه څوك ګواهان جوړوئ| اونه دې
يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَلَا شَهِيدٌ ۚ وَإِن تَفْعَلُوا فَإِنَّهُۥ فُسُوقٌۢ بِكُمْ ۗ
وركړې كيږى تكليف|اليكونكى ته|اونۀ ګواه ته |اوكه اوكړو تاسو|نوبيشكه داګناه ده	ستاسو دپاره
ليكوال ته اونه ګواه ته تكليف وركولې شى |كه داسې كوئ نودابه ستاسونافرمانى ګنړلې شى
وَاتَّقُوا اللَّهَ ۗ وَيُعَلِّمُكُمُ اللَّهُ ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ۝
او ځان ساتئ دغضب دالله نه|اوتعليم دركوى تاسوته| الله	اوالله	په هر څيز باندې	خبر دې
اوالله نه ويره كوئ	او الله پاك تاسوته خپل (حكمونه) بيانى اوالله په هرڅه باندې پوهه دې

د آدم ﷺ او داود ﷺ خونده وره واقعه:- دا آيت د قرآن پاك د ټولوآيتونو نه لوئې آيت دې.سعيد بن مسيب فرمائى چې ماته دا خبره رارسيدلې ده چې دقرآن پاك دټولو نه لوئې آيت عرش سره هم آيت ﴿الدين﴾ دې.(۱)دا آيت چې كله نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې د ټولو نه انكاركولو والا آدم ﷺ دې.الله ﷻ چې كله آدم ﷺ پيدا كړو نو دهغه په شا ئې لاس راښكلو او د ده په شاه كښې ئې تر قيامته پورې اولاد واچولو.

حضرت آدم ﷺ خپل اولاد اوليدو،يو سړې نې اوكتلو چې د هغه څهره ښه نورانى او ترو تازه ده.تپوس نې اوكړو چې انې الله ﷻ ! دده څه نوم دې؟نو الله ﷻ ورته اوفرمائيل چې دا ستا څوئې داود ﷺ دې.تپوس نې اوكړو چې انې الله ﷻ دده څومره عمر دې.الله ﷻ ورته اوفرمائيل چې دده عمر شپيته كاله دې.آدم ﷺ ورته اوفرمائيل چې د ده عمرلږ زيات كړه.الله ﷻ ورته اوفرمائيل نه،كه ته ورته د خپل عمر نه څه وركول غواړې نو وركړه،آدم ﷺ اوفرمائيل چې انې الله ﷻ زما د عمر نه دۀ ته څلويښت كاله وركړه.نو دا وركړې شو.د آدم ﷺ اصل عمر زر كاله وو،او دا لهن دين اوليكلې شو او فرښتې په دې باندې ګواه كړې شوې.هركله چې آدم ﷺ ته مرګ راغلو نو وې فرمائيل چې انې الله ﷻ زما عمر كښې خو لا اوس هم څلويښت كاله باقى دى.

الله ﷻ ورته اوفرمائيل چې هغه تا خپل خوئې داود ﷺ ته وركړې وو.نو آدم ﷺ انكار اوكړو.نودوى ته هغه ليكل اوخودلې شو او فرښتو پرې ګواهى اوكړه.او په بل روايت كښې دي چې الله ﷻ د آدم

---

(۱) الطبرى: ۳۲۵/٦)-

Scanned with CamSc

ﷺعمر بیا زر کاله کړو.او د داود ﷺ ئې سل کاله.(مسند احمد) (۱)لیکن داروایت ډیر ضعیف او غریب دي.ددې دراوی علی بن جدعان احادیث منکر دی.مستدرك حاکم کښې هم دا روایت شته دي.

قوله تعالی:- يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ

د قرض او تجارت احکام:- په دې آیت کښې الله ﷻ خپلو ایماندارو بندګانوته ارشاد فرمانی چې هغوئ دې د قرض معاملات لیکی.چې دې سره رقم او موده ښه یاده وی.او ګواه هم غلط نشی.او د دې نه په یو وخت باندې د قرض واپس کول هم ثابت شی.ابن عباس ﷺ به فرمائیل چې د قرض موده مقرر وی نو دې سره دقرض لین دین کښې آسانی وی.صحیح بخاری کښې دی چې د مدینې د خلقو د قرض لین دین کتلو باندې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې ناپ تول یا وزن کوئ نو په دې کښې موده مقرر کوئ.(۲)

په کتاب او سنت کښې تعارض او تطبیق:- قرآن پاك حکم کوی چې دا لیکئ.او حدیث مبارك کښې دی چې مونږ لیك لوست والا نه یو اونه حساب کتاب کولې شو (۳)په دې دواړو تطبیق دا شان دې چې دینی مسائل او شرعی امورو خو بالکل ضرورت نشته دي،دا د الله ﷻ د طرفنه ډیرآسان او واضح شوی دی.د قرآن پاك حفظ او د احادیثو حفظ خلقو ته قدرتی طور آسان دی لیکن د دنیاوی وړوکو لویو لین دین او معاملات چې کوم د قرضونو صورت کښې وی،د هغې د لیکلو بیشکه حکم اوشو.او دا دې هم یاد وی چې دا حکم وجوبا نه دې،نو نه لیکل د دینی امورو دی.او لیکل د دنیاوی امورو دی.بعضې خلق دې وجوب طرفته هم تلی دی.ابن جریج رحمة الله علیه فرمائی چې کوم قرض دوی ورکوی هغه دې اولیکی او کوم څه چې دوی خرڅ کړی نو د دې دې ګواه وی.

د مظلومیت باوجود د سوال نۀ قبلیدل:- ابوسلیمان مرعشی رحمة الله علیه د کعب په صحبت کښې ډیر پاتې شوې وو،هغوئ یو ورځ خپلو نزدې خلقو ته اووئیل چې تاسو ته هغه مظلوم معلوم دې چې د الله ﷻ نه سوال کوی او د ده دعا نه قبلیږی،خلقو اووئیل چې دا څنګه ؟وې فرمائیل چې هغه سړې دې چې یو مودې دپاره قرض ورکړی او نه ګواه لری او نه ئې لیکلی وی،او کله چې موده تیره شی نو خپل قرض غواړی خوهغه سړې تري انکار کوی.اوس دې دالله ﷻ نه دعاکوی لیکن الله ﷻ دده دعا نه قبلوی.ځکه چې دا کار ده د هغه د فرمان خلاف کړې دې.او د خپل رب نافرمان شو.

دابوسعید شعبی،ربیع بن انس او د حسن بن جریج او ابن زید وغیره ﷺ قول دې چې مخکښې خو دا واجب وو،بیا ددې وجوب منسوخ شو.او وې فرمائیل که یو ته په بل اطمینان وی نو چې چا له امانت ورکړې شوې دې هغه له پکار دی چې ادا ئې کړی او د دې دلیل داحدیث دې.اګرچه دا واقعه د مخکښې امت ده.لیکن بیاهم د هغوئ شریعت زمونږ شریعت دې.تر کومې چې زمونږ شریعت د هغې نه منع نه وی کړې.په دې واقعه کښې چې کومه مونږ اوس بیانوؤ دلیکلو او لوستلو د نۀ کیدو او د ګواه په نۀ مقررولو باندې شارع ﷺ انکار نۀ دې کړې

د قرض اخستلو او د ادا کولو عجیبه واقعه:- مسند کښې دی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې بنی اسرائیلو کښې یو سړی دبل سړی نه زر دیناره قرض اوغوښتل،هغه اووئیل چې ګواه راوله.جواب ئې ورکړو چې ګواهی د الله ﷻ کافی ده.وې وئیل چې ضمانت راوړه نو وې وئیل چې دالله ﷻ ضمانت کافی دې.وې وئیل تاربښتیا اووئیل او د واپس کولو موده ئې مقرر کړه او ورته ئې زر دیناره ورکړل.دې

---

(۱) احمد: ۲۵/۱ ،وسنده ضعیف او شواهد دپاره اوګورئی حدیث دابوهریره رضی الله عنه،ترمذی: ۳۰۷۲، حاکم: ۳۲۵/۲، ۳۲۵/۲

(۲) صحیح بخاری کتاب البیوع باب السلم فی وزن معلوم : ۲۲٤۰، صحیح مسلم: ۱٦۰٤، ابوداود: ۳٤٦۳، ترمذی: ۱۳۱۱، نسائی: ٤٦۲۰)-

(۳) صحیح بخاری کتاب کتاب الصوم بآب قول النبی لا نکتب ولا نحسب : ۱۹۱٤، صحیح مسلم: ۱۰۸۰)- .

Scanned with CamSc

د سمندر په سفر روان شو او خپل کار ئې اوکړو.هرکله چې موده پورا شوه نو دې د سمندر غاړې ته لاړو چې کشتئ ملاؤ شی او په هغې کښې سور شی او لاړ شی رقم اداکړی.خو هیڅ یو جهاز ملاؤ نشو.هرکله چې ده اوکتل چې په وخت نشی رسیدې نو ده یو لرګې واخستو چې هغه په مینځ کښې ډډ وو او په هغې کښې ئې زر دیناره کیخودل او یو کاغذ ئې اولیکلو او بیا ئې د هغې خوله بنده کړه او د الله ﷻ نه ئې دعا اوکړه چې ائې الله ﷻاتاته ښه معلوم دی چې ما د فلانی سړی نه زر دیناره قرض اخستی وو او هغه زما نه ضمانت غوښتلې وو او ما ورته تهٔ ضمانت کښې ورکړې وې او هغه په دې باندې خوشحاله شوې وو.او ګواه ئې اوغوښتلو نوما ورته ته په ګواهئ کښې ورکړې.اوبه دې باندې هغه خوشحاله شو.اوس وخت مقرر پورا کیدونکې دې نو ما خو ډیر کوشش اوکړو چې کشتئ اوګورم او لاړم شم او هغه ته د هغه قرض ورکړم لیکن کشتئ ملاؤ نشوه.اوس زه دا رقم تاته سپارم او سمندر کښې ئې اچوم او دعا کوم چې دا رقم هغه ته اورسی.بیا ئې دا لرګې سمندر کښې واچولو او لاړو. لیکن بیا هم د کشتئ تلاش کښې وو چې ملاؤ شی نو چې لاړم شم.بل طرفته هغه سړی چې اوکتل چې د قرض واپس کولو وخت پورا شوې دې او نن هغه ته راتلل پکار دی نو هغه هم د سمندر غاړې ته راغلو چې نن به هغه راځی او زما رقم به واپس کوی یا به ئې د چا په لاس رالیږی.خو هرکله چې مانښام شو او هیڅ کشتئ رانغله د هغه طرفنه نو دې واپس شو،د سمندر په غاړه ئې یو لرګې اولیدو،ده اوونیل چې هسې هم خالی روان یم راشه دا لرګې هم خان سره واخله،دا اوچ کړه،د بلولو د پاره خو به پکار راشی.هرکله چې کور ته اورسیدو نو دا لرګې ئې اوخیرولو نو ددې نه اشرفئ راوتلې،هرکله چې ده اوشمیرلې نو پورا زر دیناره وو.په پرچه باندې ئې نظر پریوتلو او هغه ئې هم اوکتله.بیا یو ورځ هغه سړې راغلو او ده ته ئې زر دیناره پیش کړل او ورته ئې اووئیل چې دا واخله ستا رقم،معاف کړه ما ډیر کوشش اوکړو چې وعده خلافی اونشی خوکشتئ ملاؤ نشوه اوبدې کښې وخت تیر شو.نن راته کشتئ ملاؤ شوه او ستا رقم حاضر دی.هغه تپوس اوکړو چې ولې تا زما رقم لیږلې نه دې څه،ده اووئیل چې ماخو درته اووئیل که نه چې کشتئ ملاؤ نشوه.هغه ورته اووئیل چې خپل رقم واپس واخله او په خوشحالئ خوشحالئ واپس شه،تا چې کوم لرګی کښې رقم رالیږلې وو اوهغه دې ﴿ توکل علی الله ﴾ سره سمندر کښې اچولې وو الله ﷻ هغه ماته رارسولې دې.اوما خپل رقم وصول کړې دې.ددې حدیث سند صحیح دی،صحیح بخاری کښې اووه خایه داحدیث راغلې دې (۱).

قوله تعالی:-وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ اَنْ يَّكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ اللّٰهُ فَلْيَكْتُبْ ۚ

لیک لوست والا سوېګ دې د لیکلو نه انکار نه کوی:- بیا فرمائی چې لیکلو والا دې عدل او حق لیکلو سره په کتابت کښې په چا باندې ظلم نه کوی.

قوله تعالی:-وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْئًا ۚ

اونه دې څه کمې بیشې کوی.بلکه لین دین والا دواړه فریق چې څه لیکی نوهغه دې اولیکی.لیک لوست والا سړې دی دمعاملې لیکلو نه انکار نه کوی هرکله چې ده ته د لیکلو اووئیلې شی.لکه څنګه چې دالله ﷻ په ده باندې احسان دې چې ده ته ئې لیکل اوخودل نو دغه رنګې دې دې په هغه خلقو احسان اوکړی چې کوم لیکل نشی کولې.او د هغوئ معامله دې اولیکی.

د چا سره مدد کول هم صدقه ده:-حدیث مبارک کښې دی چې دا هم صدقه ده چې چا سره مدد اوکړې شی.او د چا محتاجه سړی کار دې اوکړې شی.(۲)

---

۱) صحیح بخاری : ۱٤۹۸)-

۲) صحیح بخاری کتاب العتق باب ای الرقاب افضل : ۲۵۱۸، صحیح مسلم: ۸۳)-

Scanned with CamS

د علم په پټولو وعید:- اوحدیث مبارک کښې دې چې چاسره علم وی او دې بیا هغه پټ کړی،د قیامت په ورځ به ده ته د اور وارې اچولې شی.(۱)مجاهد رحمه الله او عطاء رحمه الله فرمائی چې په کاتب باندې لیکل ددې آیت لحاظ سره واجب دی.چې دچا په ذمه حق وی نو هغه دې اولیکی.او د الله ﷻ نه دې اوویریږی اوکمې بیشې دې نه کوی او نه دې خیانت کوی.

قوله تعالی:- فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا

اوکه داسړې ناپوهه وی داسراف وغیره په وجه منع شوې دې یاکمزورې دې یا ماشوم دې یا دده حواس صحیح نه دی یا د جهالت او ناپوهئ په وجه لیکل هم نۀ پیژنی نو کوم چې دده ولی او مشر وی هغه دې اولیکی.

قوله تعالی:- فَإِنْ كَانَ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا

بیافرمائی چې کتاب سره شهادت هم پکار دې چې معامله ښه او مضبوطه اوبالکل صفا وی.دوه سړی دې په دې گواه کړی

قوله تعالی:- فَإِنْ لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ

اوکه دوه سړی ملاؤ نشی نو خیر دې یو سړې او دوه ښځې دې گواه کړی.دا حکم د مال او مقصود مال باره کښې دی.

قوله تعالی:- أَنْ تَضِلَّ إِحْدَاهُمَا فَتُذَكِّرَ إِحْدَاهُمَا الْأُخْرَىٰ

د دوؤ ښځو گواهی د یو سړی برابر ده:- دوه ښځې د یو سړی برابر په دې وجه دی چې د ښځو عقل پورا نه وی.لکه مسلم شریف کښې حدیث مبارک دې چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې انې ښځو! صدقه ورکوئ او استغفار ډیر وائې،ما لیدلی دی چې تاسو به جهنم ته زیاتې ځئ.یو ښځې تپوس اوکړو چې یارسول الله ﷺ! دا ولې؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې تاسو لعنت زیات کوئ او د خپل خاوند ناشکری کوئ.ما نه دی لیدلی چې تاسو د عقل او پوهې لرلو نه باوجود دسړو دعقل نه زیات یئ.هغې تپوس اوکړو چې یارسول الله ﷺ امونږ کښې د دین او عقل څنګه کمی ده؟وې فرمائیل چې دعقل کمی خو ظاهر ده چې د دوو ښځو گواهی د یو سړی برابر ده او د دین کمی دادې چې چې په ایام حیض کښې مو نۀ مونځ وی او نه روژه.(۲)

د گواهئ د پاره عدالت شرط دې:- د گواهانو باره کښې فرمائی چې دا شرط دې چې هغه عدالت والا وی،د امام شافعی رحمة الله علیه مذهب دې چې قرآن پاک کښې چرته هم د گواهانو ذکر دې نو هلته دعدالت شرط ضروری دې.اګر چې هلته لفظونو کښې نه وی.او چې کومو خلقو د دوی گواهی رد کړې ده چې د کومو عادله کیدل معلوم نه وی د هغوئ دلیل هم دا آیت دې.وائی چې گواه دې عادل او خوښ سړې وی.د دوو ښځو مقرر کولو حکمت نې هم بیان کړو که یو نه گواهی هیره شی نو چې بله ورته یادوی.﴿فَتُذَكِّرَ﴾ (په فتحې د را سره)بل قرات ﴿فَتُذَكِّرَ﴾(په ضمې د راسره)هم دې،چې کوم خلق وائی چې ددې شهادت دې سره یو ځائې شی نو د سړی د شهادت پشان به شی نو هغوئ تکلف اوکړو، صحیح خبره هم رومبئ ده.والله اعلم.

قوله تعالی:- وَلَا يَأْبَ الشُّهَدَاءُ إِذَا مَا دُعُوا

گواهانو ته پکار دی چې کله هغوئ راوبلی نو دوی دې انکار نه کوی.یعنی کله چې دوی ته اووئیلې شی چې راشئ معامله کښې گواه جوړ شئ نودوی ته انکار نه دې پکار.لکه څنګه چې دکاتب باره

---

(۱) ابوداود کتاب العلم باب کراهیة منع العلم : ۳۶۵۸، وسنده حسن ترمذی: ۲۶۴۹، ابن ماجة: ۲۶۱)-

(۲) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان نقصان الایمان بنقص الطاعات : ۷۹، عن ابن عمر رضی الله عنه ح/۸۰، عن ابن سعید رضی الله عنه، امام مسلم دعلامه ابن کثیر والا روایت بغیر متن نه ذکر کړې دې اوفرمائی چه : بمعنی حدیث ابن عمر .....)-

Scanned with CamScanner

کښې هم فرمائيلې شوی دی.دلته هم دا فائده حاصله شوه چې گواهی ورکول هم فرض کفايه دی.دا هم وئيلې شوی دی چې د جمهورو مذهب هم دا دې.او دا معنی هم بيان شوې ده چې کله گواه د گواهۍ ورکولو دپاره راوغوښتلې شی يعنی کله چې دده نه د واقعې تپوس اوشی نو نه دې منع کيږی،

د يو ځل گواه جوړيدو نه پس گواهی لازمی ده:- ابومجلز رحمه الله او مجاهد رحمه الله وغيره فرمائی چې کله تاسو د گواه جوړيدو د پاره راوبللی شئ نو تاسو ته اختيار دې که ځئ او که نه ځئ ليکن کله چې گواه جوړ شئ او بيامو د گواهۍ دپاره راوبلی نو ضرور به ځئ ([1]).

ښهٔ او بد گواه:- صحيح مسلم او سنن کښې حديث دې چې ښه گواهان هغه دی چې د تپوس نه بغير گواهی ورکړی([2])د بخاری او مسلم بل حديث کښې راغلی دی چې بدترين گواه هغه دې چې هغوئ نه گواهی اوغوښتلې شی او هغوئ گواهی ورنکړی.

خراب خلق:- او هغه حديث چې په هغې کښې دی چې بيا به داسې خلق راشي چې د هغوئ قسمونه به په گواهئ باندې او گواهئ به ئې په قسمونو باندې مخکښې مخکښې وی ([3])او روايت کښې دی چې د هغوئ گواهی به نه شی قبلولې.خو بيا به هم هغوئ گواهی ورکوی.([4])نو ياد ساتئ چې دا سپکاوې د دروغو د گواهئ ورکونکو دې اوهغه تعريف د ربښتيا گواهئ والو دې.او هم دا تطبيق دې او په دې مختلفو احاديثوکښې ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چې دا آيت دواړو حالتونو لره شامل دې يعنی گواهی ورکولو دپاره هم او گواه جوړيدو د پاره دې هم انکار نه کوی.

قوله تعالی:-وَلَا تَسْـَٔمُوْٓا اَنْ تَكْتُبُوْهُ صَغِيْرًا اَوْ كَبِيْرًا اِلٰٓى اَجَلِهٖ

بيا فرمائی معامله وړه وی او که لويه د ليکلو نه مه روستوکيږئ او موده وغيره ليکئ،

قوله تعالی:- ذٰلِكُمْ اَقْسَطُ دا زمونږ حکم دې او دا عدل او انصاف والا اوگواهئ لره ښه ثابتولووالا دې خکه چې خپل ليکل څوک اوگوری نو هغه ته هيره خبره هم يادیږی،که ليکلې شوی نه وی نو ممکن دی چې هير شی لکه څنګه چې اکثر کيږی.

قوله تعالی:-وَاَدْنٰٓى اَلَّا تَرْتَابُوْٓا

اوپه دې کښې د شک نه کيدو زياته موقع په لاس رازی.خکه چې د اختلاف په وخت کښې تحرير کتلې شی او بغير د شک نه فيصله کيدې شی.

قوله تعالی:-اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً حَاضِرَةً

بيا فرمائی چې کله نقداخستل خرڅول وی نو که دا اونه ليکلې شی نو په دې کښې د څه جګړې احتمال نه وی.نو کتابت خو ئې لرې شو اوس پاتې شو شهادت نو سعيد بن مسيب رحمه الله فرمائی چې قرض وی يا نه وی هرحال کښې خپل حق باندې گواه ساتئ د نورو بزرګانو نه دا مروی دی چې ﴿فان امن﴾ الخ،فرمائيلو سره ئې دا حکم هم لرې کړو.

د معاملې ليکلو حکم استحبابی دې وجوبی نهٔ دې:- دا هم يادساتل پکار دی چې د جمهورو په نيز دا حکم واجب نه دې بلکه د استحباب په طور د ښيګړې دپاره دې.او ددې دليل هغه حديث دې چې په هغې کښې صفا ثابت دی چې رسول الله ﷺ خريدوفروخت اوکړل او ددې څه گواه نه وو.نومسنداحمد کښې دی چې رسول الله ﷺ يو اعرابی نه يو اس واخستلو او هغه اعرابی رسول الله ﷺ پسې روستو روستو راغلو.رسول الله ﷺ خو زر راووتلو او په مزه مزه راتلو،خلقو ته معلوم نه وو چې دا اس خرڅ شوې

---

[1]) ابن ابی حاتم : ۱۸۱/۳، الطبری: ۷۱/٦)-

[2]) صحيح مسلم : كتاب الاقضية باب بيان خير الشهود : ۱۷۱۹ ابوداود : ۳۵٦۹، ترمذی : ۲۲۹٦)-.

[3]) صحيح بخاری كتاب الشهادات باب لايشهد على شهادة جور اذا اشهد: ۲٦۵۲، صحيح مسلم: ۲۵۳۳)-

[4]) صحيح بخاری كتاب كتاب الرقاق باب ما يحذر من زهرة الدنيا والتنافس فيها: ٦٤۲۸، صحيح مسلم: ۲۵۳٤)-

Scanned with CamSc

دي.هغوئ ددي قيمت لګول شروع کړل نر دي چې په څه قيمت ده د رسول الله ﷺ نه دا اخستې وو د هغې نه زيات قيمت باندې خرڅيدو.د اعرابي نيت خراب شو او هغه رسول الله ﷺ ته آواز اوکړو چې يارسول الله ﷺ يا خو دا واخلئ يا نې زهٔ خرڅوم.رسول الله ﷺ چې کله دا واوريدل نو وې فرمانيل چې تا په ماباندې خرڅ کړې دي،دا ته څه وائې،هغه اووئيل چې نه په الله قسم ما تا باندې دا نه دي خرڅ کړې.رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چې ته غلط وائې زما او ستا ترمينځه بيعه شوې ده.اوس خلقو يو خوا بل خوا نه شور شروع کړو نو دې سړی اووئيل چې نبه ده ګواه راوله چې ما تا باندې دا خرڅ کړې دي.مسلمانانو ورته ډير اووئيل چې انې بدبخته دا خو پيغمبر دي د دوی د زبان مبارک نه دروغ نه اوخې بلکه حق تړې اوخې.خو هغه هم دا وئيل چې ګواه راوله اوګواه پيش کړه.په دې کښې خزيمه ﷺ راغلو اود اعرابي قول اوريدو سره ئې اوفرمائيل چې زهٔ ګواهی ورکوم چې تا دا خرڅ کړې دې او رسول الله ﷺ دا اخستې دي.رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې ته څنګه ګواهی ورکوې؟خزيمه ﷺ اوفرمائيل چې درسول الله ﷺ د تصديق اودربښتينوالی په وجه.نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې نن دخزيمه ﷺ ګواهی د دوو ګواهانو برابر ده.(۱)نو ددې حديث نه په خريدو فروخت باندې ګواهی ضروری پاتې نشوه.

احتياط په ګواه قائمولو کښې دي:- ليکن احتياط په دې کښې دې چې تجارت باندې دې هم ګواه اولری.ځکه چې ابن مردويه او حاکم کښې دی چې دری سړی دی چې د الله ﷻ نه دعا کوی او الله ﷻ دده دعا نه قبلوی.يو خو هغه کس دې چې د هغه په کور کښې بداخلاقه ښځه وی او دې ته طلاق ورنکړی.دويم هغه سړې چې ديويتيم مال د هغه د بلوغت نه مخکښې هغه ته اوسپاری.دريم هغه سړې چې چاته مال ورکړی او په هغې ګواه اونه لری.(۲)امام حاکم دې ته په شرط د بخاری او مسلم باندې صحيح وائی.بخاری او مسلم د دې د پاره راونړو چې د شعبه شاګرد دا روايت د ابوموسی اشعری ﷺ باندې موقوف ښائی.

قوله تعالی:-وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ

بيا فرمائی چې کاتب ته پکار دی چې د ليکلو خلاف اونه ليکی اوګواه ته پکار دی چې دا واقعې خلاف ګواهی ورنکړی.او نه دې ګواهی پټوی.حسن رحمه الله او قتاده رحمه الله وغيره هم دا قول دې.ابن عباس ﷺ دامطلب بيانوی چې دې دواړو ته دې ضرر او نه رسولې شی.لکه دهغه د راوستلو دپاره څوک لاړشی او هغه خپل کار کښې مصروف وی نو دې ورته اووائی چې تا باندې دا فرض دی چې ته خپل کار پريږده او راځه نو دوی ته دا حق نشته،او ډيرو نورو بزرګانو نه دا مروی دی.

قوله تعالی:-وَاِنْ تَفْعَلُوْا فَاِنَّهٗ فُسُوْقٌۢ بِكُمْ

بيا ارشاد دې چې دا بدکاری ده چې د کومو نه مو منع کړم هغه کوئ او چې د کومو درته حکم اوکړم هغه نه کوئ.او ددې سزا به ستاسو نه نهٔ ختميږی.

قوله تعالی:-وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَيُعَلِّمُكُمُ اللّٰهُ ؕ

بيا فرمائی چې دالله تعالی نه ويريږئ او د هغه فرمانبرداری اوکړئ او د هغه کارونو نه منع شئ چې د کومو نه ئې منع کړی يئ. الله ﷻ تاسو پوهوی لکه بل خائې کښې ارشاد دې چې ﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا﴾ يعنی انې ايمان والو که تاسو دالله ﷻ نه ويريږئ نو هغه به تاسو ته دليل درکړی.

بل خائې کښې دی چې انې ايمان والو دالله تعالی نه ويريږئ او دهغه په رسول ﷺ باندې ايمان راوړئ.هغه ذات به تاسو ته دوچند رحمتونه درکړی او تاسوته به هغه نور درکړی چې دهغې په رنړا کښې به تاسو روان يئ.

---

(۱) احمد: ۲۱۶/۵، ابوداود کتاب القضاء باب اذا علم الحاکم صدق شهادة الواحد: ۳۶۰۷، وهو صحيح نسائی: ۴۶۵۱)-
(۲) حاکم: ۳۰۲/۲، وسنده صحيح)-

Scanned with CamSc

قوله تعالى:-وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ۝
بيا فرمائى چې د ټولو كارونو د انجام او د حقيقت د مصلحتونو نه الله ﷻ خبر دي.د هغه پاك ذات نه هيڅ يو څيز پټ نه دي،د هغه پاك ذات علم كاننات باندې خور دي او دهر څيز د حقيقت علم هغه ذات ته دي.

وَاِنْ كُنْتُمْ
او كه يې تاسو
اوكه تاسو
عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ؕ فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ
په سفر باندې	او بيا نۀ موندلو تاسو	ليكونكې	نو ګانړه قبض كړې شوې	نو كه امانتګراوګنړو	بعضو ستاسو
په سفر كښې يې	اوليكوال موندې نشې	نود قبضې سره په ګانړه(معامله)كوې	نوهر كله چې اعتبار اوكړې يو تن
بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِى اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ
بعضو لره| نو ادادې كړې	هغه كس	چې امانتګر ګنړلې شوې دي	امانت دهغه	اواودې يريږې	دالله نه
په بل تن باندې| چې په چا اعتبار شوې وى هغه دې خپل امانت پوره پوره اداكوى| اودالله نه دې ويره كوى
رَبَّهٗ ؕ وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ ؕ وَمَنْ يَّكْتُمْهَا فَاِنَّهٗۤ اٰثِمٌ
چې رب دهغه دې	اومۀ پټوې	ګواهى	اوهغه چاچې پټه كړه ګواهى	نو بيشكه ګنهګار دې	
چې پالونكې ئې دې |اوګواهى هيڅرې مه پټوې |اوچاچې ګواهى پټه كړه نو(پوهه شه چې) ګناهګار دې
قَلْبُهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ۝
زړۀ دهغۀ	او الله	په هغه كارونو	چې كوې ئې تاسو	خبردارې
زړه دهغه	اوالله پاك ستاسو په كارونو ښۀ پوهيږى

قوله تعالى:-وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّلَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ ؕ
يو څيز ګانړه ايخودل او قرض اخستل:- يعنى د سفر په حالت كښې كه د قرض اخستلو لين دين راشى او څوك ليكلو والا نه وى يا ملاؤ شى خو قلم دوات يا كاغذ نه وى نو رهن كوې او چې كوم څيز تاسو رهن كښې ايږدې هغه د حقدارقبضه كښى وركوې د﴿مَّقْبُوْضَةٌ﴾دلفظ نه استدلال كړې دي.رهن چې كله پورې قبضه كښې رانشى نو دا نه لازميږى لكه د امام شافعى رحمة الله عليه او جمهورو مذهب دي مګرنورواستدلال كړې دي چې درهن دمرتهن لاس كښې وركول ضرورى دى،امام احمداويوبل جماعت نه همدا منقول دى.د يو بل جماعت قول دي چې رهن صرف په سفر كښې مشروع دي.لكه مجاهد رحمة الله عليه وغيره،ليكن صحيح بخارى اوصحيح مسلم اومسندشافعى كښې دى چې رسول الله ﷺ كله فوت شو نو په هغه وخت كښې رسول الله ﷺ زغره د مدينې يو يهودى ابوالشحم سره د ديرشو وسقو اوربشو په بدله كښې ايخودې وه او هغه (وسقونه) رسول الله ﷺ د خپل كور والو د خوراك دپاره اخستى وو.([1]) د دې مسئلو د زيات وضاحت خاڼې تفسير نه دې بلكه ددې احكامو لوڼې

[1]) صحيح بخارى كتاب البيوع باب شراء النبى عليه السلام بالنسئة : ۲۰۶۹، عن انس رضى الله عنه صحيح مسلم: ۱۶۰۳ عن عائشة رضى الله عنها ترمذى: ۱۲۱۵، نسائى: ۴۲۹۶، ابن ماجة: ۲۴۳۷، مسند شافعى : ۶۱۹، او د مسند شافعى روايت مرسل دي)-

لوني کتابونه دی. ﴿وللہ الحمد والمنة وبه المستعان﴾ دي نه پس جملي ﴿فان امن﴾ الخ کښې ابوسعید خدری ﷺ فرمائی چې ددی نه مخکښې حکم منسوخ شو (۱)، شعبی رحمہ اللہ فرمائی چې هرکله دا ویره نه وی چې دا به رانکړی نو لیکلو او ګواه جوړولوکښې هیڅ باك نشته.(۲)چې چاته امانت ورکړې شی هغه ته پکار دی چې دالله تعالی ویره لری.رسول الله ﷺ فرمائی چې د نهٔ ادا کولو ذمه واری په لاس باندې ده کوم چې دهٔ واخستل تر څو پورې نې چې ادا نهٔ کړی ګواهی مهٔ پټوئ مه په دې کښې خیانت کوئ او مه څوک د دې د ښکاره کولو نه منع کوئ. (۳)

قوله تعالی:-وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ

شهادت پټولو والا ګناهګار دي:- ابن عباس ﷺ وغیره فرمائی چې د دروغو شهادت یا د شهادت پټول ګناه کبیره ده (۴)دلته هم اوفرمائیلې شو چې ددې پټولو والا ګناهګار دي. لکه بل مقام باندې دی چې ﴿وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ إِنَّا إِذًا لَّمِنَ الْآثِمِينَ﴾ یعنی مونږ د الله ﷻ شهادت نه پټوؤ،که مونږ داسې اوکړو نو یقیناً مونږ به ګناهګار یو.

بل ځاني کښې ارشاد دي چې اې ایمان والو عدل او انصاف او ربانی ګواهو باندې ثابت قدم اوسئ اګر چې تاسو ته ددې بدی اورسی،یا ستاسو مور پلار یا رشته دارو خاندان والو ته که هغوی مالداره وی نو هم او که غریبانان وی نو هم،الله ﷻ ددې دواړو نه اولی دي،خواهشاتو پسې عدل مه پریږدئ،که تاسو حق نه وائې یا تړې ډډه کوئ نو پوهه شئ چې الله ﷻ ستاسو د اعمالو نه خبر دي.

﴿فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ﴾ داشان دلته هم فرمائی چې ګواهی مه پټوئ،ددې پټولو والا ګناهګار دي اوالله ﷻ ستاسو اعمالو باندې ښه خبر دي.

		ع	لِلّٰهِ	مَا
			الله لره دی| هغه څه چې	
			دالله پاک ملکیت دي هغه څه چې	
فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا فِي الْأَرْضِ ؕ		وَإِنْ تُبْدُوا	مَا
په آسمانونو کښې دی	او هغه څه چې په زمکه کښې دی		او که ښکاره کړئ تاسو	هغه
په آسمانونو کښې دی	اوڅه چې په زمکه کښې دی		اوکه تاسو ښکاره کړئ	
فِي أَنْفُسِكُمْ	أَوْ تُخْفُوهُ	يُحَاسِبْكُمْ	بِهِ	اللّٰهُ ؕ
چې په زړونو ستاسو کښې دی	یا پټ اوساتئ هغه	حساب به کوی تاسوسره	دهغې	الله
نیټونه خپل یائې پټ اوساتئ	نو الله پاک به درسره (خواه مخواه) د هغې حساب کوی			
فَيَغْفِرُ	لِمَنْ يَّشَاءُ	وَيُعَذِّبُ	مَنْ يَّشَاءُ ؕ	وَاللّٰهُ
نومعاف به کړی|هغه څوك	چې خوښه ئې شی| اوعذاب به ورکړی|هغه چاته|چې اوغواړی| او الله				
نوچې دچادپاره ئې خوښه شی هغه به اوبښی |او چې دچادپاره چه اوغواړی نو عذاب به ورکړی| اوالله				

(۱) ابن ابی حاتم : ۱۲۰۲/۳)-
(۲) ابن ابی حاتم : ۱۲۰۳/۳)-
(۳) ابو داود کتاب البیوع باب فی تضمین العاریة : ۳۵۶۱، ترمذی: ۱۲۶۶ ، ابن ماجة: ۲۴۰۰)-
(۴) الطبری: ۱۰۰/۶)-

Scanned with CamScanner

عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ۝ اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ

په هر څيز باندې قادر دې | ايمان راوړې دې | رسول | په هغه حکمونو چې نازل کړې شوې دي | هغه ته

په هر څيز باندې قدرت لري | پيغمبر په هغه کتاب ايمان راوړې دې چې هغه ته د خپل رب د طرفه

مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ

درب دهغه نه | او مومنان هم | دوئ ټولو | ايمان راوړې دې | په الله | او په فرښتو دهغه | او په کتابونو دهغه

راغلې دې | اومومنانو هم | ..... ټولو ايمان راوړې دې په الله پاک دهغه په فرشتو دهغه په کتابونو

وَرُسُلِهٖ ۣ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ ۣ وَقَالُوْا سَمِعْنَا

او په رسولانو دهغه | چې نه کوو فرق مونږ په منځ دیو رسول | درسولانو دالله کښې | اووائي | اواوريدو مونږ په حکم

او په پيغمبرانو | دوی | وائي چې مونږ دهغه په پيغمبرانو کښې هيڅ قسمه فرق نه کوو اووائي چې مونږ دالله حکمونه

وَاَطَعْنَا ؗ غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ۝ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا

او قبول مو کړو | غواړو ببښنه ستانه | اې ربه زمونږه | اوخاص تاته دی | درتللې | نه ورکوی تکليف الله | هيڅ چا ته

واوريدل اوقبول موکړل | اې زمونږ ربه مونږ ستا نه ببښنه غواړو | اوتاته به آخر درځو | الله هيڅ چا ته تکليف نه ورکوی

اِلَّا وُسْعَهَا ؕ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ ؕ

مګر | دهغه دوس مطابق | هغه لره دي ثواب | دهغه عمل | چې وي نې کړو | اوسزا ده په هغه باندې | دهغه عمل | چې وي نې کړو

دهغه طاقت نه زيات | چې چاڅه نيکی اوکړه دهغې ثواب به واخلی | اوچاچې ګناه اوکړه دهغې سزا به | وځکی

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ رَبَّنَا

اې ربه مونږه | مه نيسه مونږه | که هير شی زمونږ نه | يا په خطا سره اوشی ګناه زمونږ نه | اې ربه زمونږه

«نوداسې دعا کوئ» اې زمونږ ربه که زمونږ نه هير شی | يامونږ خطا شونو پدې مومه نيسه | اې زمونږ ربه

وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ

اومه | بارکوه | په مونږ باندې | درون بار | لکه چې بارکړې وو تاهغه | په هغه کسانو | چې مخکښې زمونږ نه وو

په مونږ دومره دروند بوج مه اچوه | لکه زمونږ نه مخکښې په نورو خلقو چې دي اچولې وو

رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعْفُ عَنَّا ۪

اې ربه زمونږه | او مه بارکوه په مونږ | هغه بوج | چې نه وی طاقت | زمونږ | په هغې | او معاف کړه مونږه

اې زمونږه ربه داسې دروند بار راته مه په سر کوه | چې مونږ نې داوچتولو طاقت نه لرو | اوزمونږ ګناهونه معاف کړه

وَاغْفِرْ لَنَا ۪ وَارْحَمْنَا ۪ اَنْتَ مَوْلٰنَا فَانْصُرْنَا

او ببښنه اوکړه مونږ ته | او رحم اوکړه په مونږه | ته مولا نې زمونږه | نو امداد اوکړه مونږ سره

اومونږ اوببښه | اوپه مونږ رحم اوکړه | ته زمونږ کارسازئې | او مونږ ته غلبه راکړه

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝

خلاف دقوم کافر

دکافرانو په مقابله کښې

قوله تعالى:-﴿لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَاِنْ تُبْدُوْا مَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَوْ تُخْفُوْهُ يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللّٰهُ ۭ

دزړه د وسوسو په محاسبې باندې د صحابه کرامو ﷺ پریشا نی ختمول:- یعنی د زمکې او آسمان مالك الله ﷻ دې،د غټو او وړو هغه عالم دې.د هر پټ او ښکاره به هغه حساب اخلی.او لکه څنګه چې بل ځائې کښې دی چې ﴿قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ۭ﴾ الخ.یعنی اووایه چې ستاسو سینو کښې څه دی که هغه تاسو پټ هم کړئ یا ئې ښکاره کړئ الله ﷻ ته د هغې علم شته دې،هغه د زمکو او آسمانونو د هر څیز مالك او علم لرونکې دې او په هر څیز قادر دې.

اوبل خائې کښې فرمائی چې هغه پاك ذات پټ او ښکاره ټولو لره ښه پیژنی.په دې معنی نور هم آیتونه دی،دلته ئې دې سره دا اوفرمائیل چې هغه به حساب اخلی.

ددې نه د وروستنی ایت شان نزول:-هرکله چې داآیت نازل شو نوصحابه کرامو ﷺ ته ډیرسخت محسوس شو چې دوړولویو ټولو څیزونو حساب به وی اودخپل ایمان دزیاتوالی اودیقین د مضبوط والی په وجه دوی اویریدل.نو رسول الله ﷺ ته راغلل او ورته ئې ددې باره کښې اووئیل او وې وئیل چې یارسول الله مونږ ته د مونځ،روژې،جهاد او صدقې باره کښې حکم اوشو اوهغه زمونږ په طاقت کښې وو،خو اوس چې کوم یو آیت نازل شوې دې دهغې مونږ کښې طاقت نشته.نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې آیا بیا تاسو د یهودیانو اونصرانیانو په شان وائې چې مونږ واوریدل او دا مونږ نه منو،تاسوته پکار دی چې اووائې چې مونږ واوریدل او مونږ منو،انې الله ﷻ ! مونږ ستا بخشش غواړو او انې زمونږه ربه مونږ به ستاطرفته واپس کیږو.نوصحابه کرامو ﷺ دا تسلیم کړه او په ژبو ئې دا کلمات جاری شول نو﴿اٰمَنَ الرَّسُوْلُ﴾ نازل شو او الله ﷻ دا تکلیف لرې کړو.او آیت ﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ﴾ نازل شو (مسند احمد) ([1]) صحیح مسلم کښې دا حدیث دې په هغې کښې دی چې الله ﷻ دا تکلیف اوچت کړو او آیت ﴿ لا یکلف الله ﴾ نازل شو ([2])او هرکله چې مسلمانانواووئیل چې انې الله ﷻ مونږ زمونږ په هیرو او په خطاګانو باندې مه نیسه.نوالله ﷻ اوفرمائیل چې﴿ نعم ﴾یعنی هم دا به کوم،هغوئ اووئیل چې ﴿وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا﴾الخ انې الله ﷻ مونږ باندې هغه بوج مه اچوه چې کوم دې زمونږ نه مخکښې خلقو باندې اچولې وو نوالله ﷻ اوفرمائیل چې داهم قبول دی ،بیا ئې اووئیل چې﴿ وَلَا تُحَمِّلْنَا﴾ انې الله ﷻ مونږ باندې زمونږ د طاقت نه زیات بوج مه اچوه.نو الله ﷻ اوفرمائیل چې دا هم قبول دې.بیا ئې دعااوغوښتله چې انې الله ﷻ مونږ معاف کړه او زمونږ ګناهونه اوبخښه او په کافرو باندې مونږ سره مدد اوکړه،الله ﷻ دا هم قبول کړل،داحدیث نورو طریقو سره هم مروی دې.

د نفس په وسوسو او د زړۀ په خیالاتو باندې نیول نشته:- یو روایت کښې دا هم دی چې مجاهد رحمه الله وائی چې زۀ ابن عباس ﷺ لره ورغلم او هغوئ ته مې دا واقعه بیان کړه چې عبدالله بن عمر ددې آیت﴿وَاِنْ تُبْدُوْا الخ﴾تلاوت اوفرمائیلو او ډیر ئې اوژړل،هغوئ اوفرمائیل چې هم دا حال د صحابه کرام ﷺ د دې آیت د نازلیدو په وخت کښې شوې وو اوپه دې سخت غمګین شوې وو.او دا ئې هم اوئیل چې انې د زړونو مالکه که زمونږ د زړونو په خیالاتو هم مونږ اونیسې نو دا به ډیر مشکل وی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې﴿سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ﴾اووائې.نوصحابه کرامو ﷺ اووئیل.اوبیا دې نه پس والا آیتونه نازل شو.اوپه عمل باندې نیول شته دې لیکن د زړه په خیالاتو او د نفس په وسوسو باندې نیول نشته دې.

([2]) بل طریق سره دا روایت د ابن مرجانه نه هم دا شان مروی دې.او په هغې کښې دی چې قرآن پاك فیصله اوکړه چې تاسو به ستاسو په نیکو او بدو عملونو باندې نیولې کیږئ.که هغه زبانی وی او که د

---

[1]) احمد: ٤١٢/٢ ،ومسنده صحیح ورواه مسلم:)-.

[2]) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان تجاوز الله تعالی من حدیث النفس:١٢٥،مسند ابی عوانه ٧٦/١، ابن حبان : ١٣٢٩)-

[3]) صحیح بخاری کتاب العتق باب الخطاء والنسیان فی العتاقة: ٢٥٢٨، صحیح مسلم: ١٢٧)-

Scanned with CamSc

اندامونو نه وی.لیکن د زړه وسوسې معاف دی.او د نورو ډیرو صحابه کرام ﷺ نه او تابعینو نه د دې منسوخ کیدل مروی دی،صحیح حدیث کښې دی چې الله ﷻ زما د امت په غلطو خیالاتو معافی کړې ده او نیول په هغې دی چې کوم دوی اوکړی یا اووائی.(۱)

د نیکئ په ارادې کولو سره ثواب لیکلې کیږی او په ګناه کښې داسې نهٔ کیږی:- بخاری اومسلم کښې دی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې الله ﷻ فرمائی چې کله زما بنده د بدئ اراده اوکړی نو هغه مه لیکئ تر کومې چې هغه اونکړی اوکه وې کړی نو یو بدی نې لیکئ او کله چې د نیکئ اراده اوکړی نو صرف ارادې سره ئې یو نیکی لیکئ اګر چې نیکی ئې نه وی کړې.او د یو نیکئ په بدله کښې ورته لس نیکئ لیکئ.(مسلم) (۲)او یو روایت کښې دی چې دیو نیکئ بدله کښې د دوی دپاره اووه سوه نیکئ لیکلې کیږی.(۳)او یو روایت کښې دی چې کله یو بنده د بدئ اراده کوی نو فرښتې د الله ﷻ دربار کښې عرض کوی چې ائې الله ﷻ استا بنده د بدئ اراده کوی نو الله ﷻ فرمائ چې صبر اوکړئ ترکوې چې دې دا اونکړی،دا د ده په نامه اعمال کښې مهٔ لیکئ.که وې کړی نو یو بدی نې اولیکئ.او که دا پریږدی نو یو نیکی ئې څکه چې دا ده زما د ویرې پریښودې ده.

د یوې نیکئ ثواب د لسو نه تر اووه سوو پورې:- رسول الله ﷺ فرمائی چې څوک پوخ او پورا ایمان والا مسلمان جوړ شی نو د هغه د یو یو نیکئ ثواب د لسو نه واخله تر اووه سوؤ نیکو پورې زیاتیږی.او بدی نه زیاتیږی (۴)اویو روایت کښې دی چې داووه سوو نیکونه هم نیکی زیاتیږی.(۵)یو بل روایت کښې دی چې ډیر بربادونکی هغه دې په ده باندې د رحم وکرم کولو نه باوجود هم دې برباد شی. (۶)

د صریخ ایمان علامه:- یو ځل حضرات صحابه کرام ﷺ راغلل او وې فرمائیل چې یارسول الله ﷺ ! کله کله زمونږ په زړونوکښې داسې وسوسې راپورته شی چې په ژبې سره د هغې بیانول هم مشکل دی نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې داسې کیدل شروع شو؟.هغوئ اوفرمائیل چې آو،نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې دا صریح ایمان دې.(مسلم وغیره) (۷)

د زړه د وسوسو په محاسبه باندې عذاب لازم نه دې:- ابن عباس ﷺ نه مروی دی چې دا آیت منسوخ شوې نه دې بلکه ددې مطلب دادې چې د قیامت په ورځ چې کله ټول مخلوق الله ﷻ مخکښې جمع شی نو فرمائی چې زه به تاسو ته ستاسو د زړونو رازونه بنایم او په هغې به زما فرښتې هم خبر نه وی.مومنان به په دې باندې خبر کړې شی او هغوئ به معاف کړې شی او منافقان او شك شبه کونکی خلقو لره به د دوی د تکذیب اطلاع ورکړې شی او دوی ته به سزا ورکړې شی.لکه بل ځائې کښې فرمائی چې ﴿لَكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ﴾یعنی الله ﷻ به تاسو لره ستاسو د زړونو په کړو باندې نیسی یعنی د زړه په شك او نفاق باندې.

حسن بصری رحمة الله علیه هم دې ته منسوخ نه وائی.امام ابن جریر رحمة الله علیه هم دا قول خوښ کړې دې او فرمائی چې حساب بل ځیز دې او عذاب بل ځیز.حساب اخستلو نه پس دا نه لازمیږی چې حساب نه پس ممکن دی چې معاف به شی اوممکن دی چې عذاب ورکړی او سزا ورکړی.

---

۱) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی (یریدون ان یبدلوا کلام الله ...) ۷۵۰۱، صحیح مسلم: ۱۲۸، ترمذی: ۱۱۸۳، نسائی: ۳۴۶۳، ابن ماجة: ۲۰۴۴)-

۲) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی (یریدون ان یبدلوا کلام الله ...) ۷۵۰۱، صحیح مسلم: ۱۲۸)-

۳) صحیح مسلم کتاب الایمان باب اذا هم العبد بحسنة: ۱۲۸)- ؟؟

۴) صحیح مسلم کتاب الایمان باب اذا هم العبد بحسنة: ۱۲۸، صحیح بخاری : ۴۲ قوله (اذا احسن احدکم سلامه.....)-

۵) صحیح مسلم کتاب الایمان باب اذا هم العبد بحسنة: ۱۲۸، صحیح بخاری : ۴۲ قوله (اذا احسن احدکم سلامه.....)-

۶) صحیح مسلم کتاب الایمان باب اذا هم العبد بحسنة: ۱۲۸، صحیح بخاری : ۴۲ قوله (اذا احسن احدکم سلامه.....)-

۷) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان الوسوسة فی الایمان : ۱۳۲)-.

Scanned with CamScanner

د الله تعالی د خپل بنده پرده پوشی:- نو په یو حدیث مبارک کښې دی چې مونږ طواف کولو چې یو سړی د عبدالله بن عمر ﷺ نه تپوس اوکړو چې تاسو رسول الله ﷺ نه د پټې خبرې متعلق څه آوریدلی دی. نو هغوئ اوفرمائیل چې الله ﷻ به ایماندار راوبلی اوتردې چې په هغوئ به خپل لاس کیږدی او بیابه اوفرمائی چې اووایه تافلانئ فلانئ گناه په فلانئ فلانئ ورځ کړې وه؟هغه غریب به اقرار کوی.هرکله چې گناهونه ډیر زیات شی نوالله ﷻ به اوفرمائی چې واوره‌اپه دنیا کښې هم ما ستا په عیبونو باندې پرده پوشی کړې وه او نن هم ستا ټول گناهونه معاف کوم.او بیا به هغه ته د هغه د نیکواعمال نامه د هغه په ښی لاس کښې ورکړې شی،البته کافرانواومنافقانو لره به جمع کړی اودهغوئ مخکښې به کیږدی او هغوئ به رسوا کړی اودهغوئ گناهونه به ښکاره کړی.او ورته به اوونیلې شی چې داهغه خلق دی چې دوی په الله ﷻ باندې دروغ اوترل او په دې ظالمانو باندې د الله ﷻ غضب دې.(۱)

په دنیاوی وړوکی نه وړوکی تکلیف باندې د گناه معاف کیدل:- حضرت زید ﷺ یو خل دې آیت باره کښې عائشه ﷺ نه سوال اوکړو نو هغوئ اوفرمائیل چې کله ما ددې آیت باره کښې د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نو د هغه وخت نه واخله تر دې وخت پورې زما نه هیڅا تپوس نه دې کړې،نن تاسو تپوس اوکړو واوره! ددې نه مراد د بنده دنیاوی تکلیفونه لکه تبه وغیره چې کوم بنده ته رسی.تر دې چې ده یو جیب کښې رقم ایښودې دې اوخیال نې راغلو چې دده په بل جیب کښې دې نو ده بل جیب ته لاس دننه کړو او هغه جیب کښې نه وو اوپه دې باندې دده زړه پریوتو،بیا نې بل جیب ته لاس دننه کړو او هلته ملاؤ شو نو په دې باندې هم دده گناهونه معاف کیږی.تر دې چې د مرګ په وخت کښې هغه گناهونه دا شان پاکیږی لکه خالصه تک سرۀ،سرۀ زر(ترمذی وغیره) دا حدیث غریب دې.(۲)

د سورة بقره د آخری دوو آیتونو فضیلت:- ددې دواړو آیتونو فضیلت بیانیږی.صحیح بخاری کښې دی چې کوم سړې دا دواړه آیتونه د شپې هغه دپاره دا دواړه کافی دی.(۳)

د عرش د لاندې د خزانې نه د دې ایتونو ورکړه:- مسند احمد کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې ماته دسورة بقره آخری دوه آیتونه د عرش لاندې خزانې نه راکړې شوی دی او زما نه مخکښې هیڅ یو نبی ته دا نه وو ورکړې شو(۴)

دا دوه ایتونه په شب معراج کښې ملاو شوې دی:- صحیح مسلم شریف کښې دی چې کله رسول الله ﷺ معراج ته تشریف یوړو او رسول الله ﷺ سدرة المنتهی ته اورسیدلو،سدرة المنتهی په اووم آسمان کښې ده،چې کوم یو څیز آسمان طرفته خیژی هغه هم دلته رسی او دلته نه واخستې شی او چې کوم څیز پورته نه راکوزیږی هغه هم ددې ځائې نه راکوزیږی،بیا د دې ځائې نه رازی.په دې باندې د سرو زرو مولخان وو.بیا نبی ﷺ ته درې ځیزونه ورکړې شو.❶پنځه وخته مونځ❷د سورة بقرې آخری آیتونه❸او د توحید والو دپاره د ټولو گناهونو بخښش.(۵)

مسند کښې دی چې عقبه بن عامر ﷺ ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې د سورة بقره آخری دوه آیتونه وایه چې د عرش د لاندې خزانې نه راکړې شوی دی.(۶)

مونږ ته په خلقو باندې درې فضیلتونه راکړې شوې دی:- ابن مردویه کښې دی چې مونږ ته خلقو باندې

---

۱) صحیح بخاری کتاب المظالم باب قول الله تعالی (الا لعنة الله علی الظالمین)۲۴۴۱، صحیح مسلم: ۲۷۶۸)-
۲) ترمذی : کتاب التفسیر القرآن : باب ومن سورة البقرة: ۲۹۹۱)-
۳) صحیح بخاری کتاب فضائل القرآن باب فضل سورة البقرة : ۵۰۰۹، صحیح مسلم : ۸۰۶، ابوداود: ۱۳۹۷، ترمذی: ۲۸۸۱، ابن ماجة: ۱۳۶۹)-
۴) احمد: ۱۵۱/۵، وسنده ضعیف)-.
۵) صحیح مسلم کتاب الایمان باب فی ذکر سدرة المنتهی : ۱۷۳، السنن الکبری للنسائی: ۳۱۵)- .
۶) احمد: ۱۴۷/۴)-.

Scanned with CamSc

دري فضيلتونه راكړي شوی دی.د سورة بقرة دا اخری ايتونه،او دا د عرش د لاندې خزانې نه راكړې شوی دی،او دا زما نه مخكښې بل چاته نه وو وركړې شوی او نه به وركړې شی(۱)

زما يقين نه دي چې څوک په د دې وئيلو نه بغير اودۀ شی:- ابن مردويه كښې دی چې علی ﷺ فرمانی چې زما يقين نه دي چې يو اسلام والا سړې به د آيت الكرسی او سورة البقره دآخری آيتونو وئيلونه بغير اوده شی.دا هغه خزانه ده چې ستاسونبی ﷺ ته د عرش د لاندې نه وركړې شوې ده (۲)

دا دوه ايتونه د زمكې او اسمان نه دوه زره كاله مخكښې ليكلې شوې دی:- او د ترمذی حديث كښې دی چې الله ﷻ د زمكې او آسمان پيدا كيدونه دوه زره كاله مخكښې يو كتاب اوليكلو چې د هغې نه دا دوه آيتونه ئې رانازل كړل.چې په كوم كور كښې د شپې دا دوه آيتونه اولوستلې شی،هغه كور ته شيطان هم نزدې نه رازی.(۳) امام ترمذی رحمة الله عليه دې ته غريب وانی.ليكن حاكم مستدرك حاكم كښې دې ته صحيح وئيلې شوی دی.

نبی كريم ﷺ به د دې د تلاوت په وخت مسكې كيدو:- ابن مردويه كښې دی چې كله به رسول الله ﷺ د سورة بقرة آخری آيتونه او آيت الكرسی ونيله نو خندل به ئې او فرمائيل به ئې چې دا دواړه د رحمان د عرش د لاندې خزانې نه دی.اوكله چې به ئې آيت ﴿مَنْ يَعْمَلْ سُوٓءًا يُجْزَ بِهِۦ﴾ او آيت ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ وَأَنَّ سَعْيَهُۥ سَوْفَ يُرَىٰ﴾ لوستلو نو د ژبې مبارکې نه به ئې ﴿انا لله﴾ وتل.اويه مزه به شو.(۴) ابن مردويه كښې دی چې ماته سورة فاتحه او دسورة بقرې آيتونه دعرش دلاندې نه راكړې شوی دی.او د مفصل سورتونه نور زيات دی.(۵)

تاسو ته دوه نورونه دركړې شو:- اوحديث شريف كښې دی چې مونږ رسول الله ﷺ سره ناست وو ،جبريل ﷺ هم وو.اچانك د آسمان نه د يو دهشت ناكې دهماكې آواز راغلو.جبريل ﷺ پورته سترګې اوچتې كړې او وې فرمائيل چې د آسمان دا دروازه بيرته شوه او ننه پورې دا هيڅكله نه وه خلاصه شوې،ددې نه يو فرښته نازله شوه،هغې نبی كريم ﷺ ته اووئيل چې تاسوته دوه نورونه دركړې كيږی.او ستاسونه مخكښې هيچا ته نه وو وركړې شوی. ❶سورة فاتحه ❷او د سورة بقرة آخری آيتونه،په دې كښې به په يو يو حرف باندې تاسوته نور دركولې شی.(مسلم) (۶).نو دا لس احاديث د دې مبارکو آيتونو فضيلت دی.

قوله تعالی:-اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ

آسمانی كتابونه چې څومره نازل شوی دی په هغې ايمان ساتل:-دآيت مطلب دادې چې رسول يعنی محمد ﷺ په هغه (څيزونو)باندې ايمان راوړو چې كوم هغوئ طرفته دالله ﷻ دطرفنه نازل شوی دی،ددې په آوريدو سره رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې هغه د ايمان راوړو پورا مستحق وو(۷)اونورو ايماندارو هم ايمان راوړو.دې تولو اومنلو چې الله ﷻ يو دې،هغه واحد لاشريك دې،هغه بې نياز دې.د هغه نه سوا د عبادت لائق بل څوك نشته،نه د هغه نه سوا څوك پاللو والا شته دې.دوی تول نبيان ﷺ منی.په تولو رسولانو باندې ايمان لری.دوی په نبيانو ﷺ كښې فرق نه كوی چې يو منی اوبل نه منی

---

(۱) احمد: ۳۸۳/۵، وسنده صحيح)-.

(۲) داروايت موقوف دې او دوادړو سندونو سره ضعيف دې)-.

(۳) ترمذی كتاب فضائل القرآن باب ماجاء فی اخر سورة البقرة : ۲۸۸۲، وسنده حسن)-

(۴) دې الفاظو سره داروايت ډيرضعيف دې،ددې سند كښې ابوبكربن ابی؛مريم ضعيف راوی دې (الميزان ٤/٤٩٨، رقم: ١٠٠٦)-

(۵) المعجم الكبير للطبرانی : ۲۲۵/۲۰، مطولا بهذا اللفظ حاكم : ۵۵۹/۱، وسنده ضعيف)-

(۶) صحيح مسلم كتاب صلاة المسافرين باب فضل الفاتحة وخواتيم سورة البقرة : ۸۰۷)-

(۷) داروايت مرسل دې امام ذهبی دا منقطع ګروزلې دې).

بلکه ټولو لره رښتیامنی.او ایمان لری چې هغه ټول پاك باز او رشد و هدایت والا او د خلقو د خیرخواهئ د پاره دی.بعضې احکام د هر نبی په زمانه کښې بدلیدل رابدلیدل.تر دې چې د رسول الله ﷺ شریعت ټولو لره منسوخ کړل.دوی ختم الانبیاء والمرسلین دی.تر قیامته به د رسول الله ﷺ شریعت باقی وی او یو جماعت به د دې اتباع کوی.هغوئ هم اقرار اوکړو چې مونږ کلام الله واوریدو او د الله ﷻ احکام مو اومنل.دوی اووئیل چې الهي الله ﷻ مونږ ته مغفرت،رحمت او لطف عطا کړه.وې فرمائیل چې هم ستا طرفته به مونږ واپس کیږو یعنی د حساب کتاب په ورځ،جبریل علیه السلام اوفرمائیل چې الهي د الله رسوله!دلته ستا او ستا د امت فضیلت بیانیږی،تاسوپه دې موقع دعا اوکړئ هغه به قبلیږی.اوغواړئ چې الله تعالی هغوئ ته تکلیف ورنکړی.(۱)

قوله تعالی:-لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ

بیا فرمائی چې هیڅوا ته د هغه د طاقت نه زیات تکلیف الله ﷻ نه ورکوی،دا د هغه پاك ذات احسان او انعام دی.صحابه کرام ﷺ چې ویریدلی وو او په هغوئ باندې چې کوم حکم مشکل لګیدلې وو چې د زړه خیالاتو باندې به حساب اخستې شی.هغه تکلیف دې آیت سره ختم شو.مطلب دادې چې حساب وکتاب به وی لیکن چې کوم څیز د طاقت نه بهر دې په هغې باندې عذاب نشته دې ځکه چې په زړه کښې اچانك د یو خیال راتلل نشی بندیدې.بلکه حدیث مبارك نه دا هم معلوم شو چې داسې وسوسې ښه نه ګڼړل د ایمان دلیل دې.بلکه چې څه کړې هغه به ریبې.چې نیك اعمال کوئ نو ښه جزاء به ئې مومی.که غلط اعمال کوئ نوسزا به مومئ.

قوله تعالی:-رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ اِنْ نَّسِيْنَآ اَوْ اَخْطَاْنَا ۚ

بیا ئې د دعا تعلیم او د دې د قبولیت وعده اوفرمائیله چې الهي الله زمونږ نه چې په هیره اوشی او کوم احکام رانه پاتې شی یا ځې کوم کارونه شوی دی یا شرعی احکاموکښې څه غلطی شوې ده یا چې کوم مونږ د شریعت خلاف کړی دی هغه معاف کړه.د صحیح مسلم حوالې سره حدیث تیرشوې دې چې ددې دعا جواب کښې الله ﷻ فرمائی چې ما قبوله کړه او ما هم دا اوکړل (۲)

زما د امت هیره معاف ده:- او حدیث کښې راغلی دی چې زما د امت هیره معاف ده.او چې کوم احکام زبردستئ سره پرې اوکړې شی هغه هم معاف دی.(ابن ماجه) (۳)

قوله تعالی:-رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ اِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهٗ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِنَا ۚ

الهي الله ﷻ ! مونږ باندې د مشکل اوسخت اعمال مشقت مه اچوه.لکه څنګه چې مخکښې دین والو باندې سخت احکام وو.او کله چې رسول الله ﷺ د رحمت والا نبی راولیږلې شو نو هغه ختم شو.او رسول الله ﷺ ته یو آسان دین ورکړې شو.دا هم الله ﷻ قبول اوفرمائیل.حدیث مبارك کښې هم دی چې زهٔ یکسوئی والا اوآسان دین والا رالیږلې شوې یم (۴).

قوله تعالی:-رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ

الهي الله ﷻ امونږ باندې هغه تکلیفونه اومشکلات مه راوله چې دهغې برداشت مونږ کښې نه وی. (۵) مکحول رحمه الله فرمائی چې ددې نه مراد فریب او غلبه دشهوت ده.ددې جواب کښې هم د قبولیت اعلان د الله ﷻ د طرفه اوشو او زمونږ خطاګاني معاف کړه چې کومې ستاسو لار کښې شوی دی،او زمونږ ګناهونه اوبخښه ، په بدعملونو او غلطو باندې پرده واچوه،مونږ باندې رحم وکرم اوکړه چې بیا زمونږ

---

۱) الطبری:۲۴۹۸، عن حکیم عن جابر، داروایت مرسل ضعیف دې)-
۲) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان تجاوز الله تعالی ،،،،،، ۱۲۵)-،
۳) ابن ماجة کتاب الطلاق باب الطلاق المکره والناسی: ۲۰۴۳، عن ابی ذر رضی الله عنه وهوصحیح بالشواهد)-
۴) احمد: ۲۶۶/۵)-
۵) ابن ابی حاتم: ۱۲۳۵/۳)-

Scanned with CamScanner

نه ستا د مرضئ خلاف او نشي.

کناه کار ته د دې خبرو ضرورت دې ددې وجې د بزرګانو قول دې چې ګناهګار ته د دریو خبرو ضرورت دې① یود الله ﷻ د معافئ چې د عذاب نه ورته نجات ملاؤ شی② دویم پرده پوشی چې د رسوائ نه بچ شی.③دریم عصمت چې هغه دوباره ګناه کښې مبتلاء نشی.نو په دې باندې هم الله تعالی د قبولیت اعلان اوکړو.

قوله تعالی:- أَنْتَ مَوْلٰىنَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝

ته زمونږ ولی او ناصر ئې او هم ستاپه پاک ذات باندې زمونږ بهروسه ده.او هم ستا نه مونږ مدد غواړو،هم ته زمونږ سهارا ئې،ستا نه سوا بغیر بل څوک زمونږ مدد نشی کولې،او نه مو څوک د بدنی نه بچ کولې شی،ته زمونږ خلقو سره مدد اوکړه د هغه خلقو مقابله کښې چې کوم ستا د دین نه منکر دی او ستا وحدانیت نه منی.او ستا د نبی ﷺ نبوت نه منی،ستاسره د نورو عبادت کوی او مشرکان دی.ائې الله ﷻ !ته مونږ غالب کړه په هغوئ باندې په دین او دنیا کښې،الله ﷻ د دې جواب کښې فرمانی چې آو ما دا هم اوکړل،حضرت معاذ ﷺ چې به کله دا آیت ختمولو نو آمین به ئې وئیلو.(ابن جریر) (۱).

د سورة آل عمران تفسیر (۱)جاری

دا سورت مدنی دی،د دې د شروع دریې اتیا آیتونه د عیسایانو د وفد باره کښې نازل شوی دی چې کوم په نهمه(۹)هجرئ کښې د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شوی وو.او د هغې مفصل بیان د مباهلې آیت﴿قُلْ تَعَالَوْا﴾په تفسیرکښې به نزدې راشی.انشاء الله د هغې فضیلت او احادیث چې کوم وارد شوی دی هغه د سورت بقره تفسیر کښې په شروع کښې بیان شوی دی.

ایاتونه		سورة ال عمران مدنی دې		رکوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۲۰۰		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې		۲۰
الٓمّٓ ۝①	اللّٰهُ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ ۙ	الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۝②
ا ل م	الله	نشته دې لائق دعبادت	مګرهم هغه دې	همیشه ژوندې دې	دټول کائنات اختیارمنددې
الم::: :::::	الله پاک چې بې دهغه نه بل معبود نشته			.....ژوندې دې ټول مخلوق سنبال ساتی	
نَزَّلَ	عَلَيْكَ الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ	مُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهِ
هغه نازل کړو په تاباندې	دا کتاب	دحق سره	تصدیق کونکې دې	دهغه کتابونو	چې مخکښې ددۀ نه دی
هغه په تادا کتاب په حقه نازل کړې دې	اچې دهغې کتابونوتصدیق کوی کوم دې نه وړاندې راغلی وو				
وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ	وَالْاِنْجِيْلَ ۙ ③	مِنْ قَبْلُ	هُدًى	لِّلنَّاسِ	وَاَنْزَلَ
او نازل ئې کړو تورات	او انجیل	مخکښې ددې نه	هدایت کونکی	خلقو ته	اونازل ئې کړو
اودینه وړاندې ئې تورات اوانجیل دخلقو دهدایت دپاره نازل کړی				.....او رالیږلې ئې دې	

(۱)الطبری:۱٤٦/٦،وسنده ضعیف،ابو اسحاق مدلس راوی دې،اودسماع صراحت نشته دې اوسند کښې رجل مجهول دې،

Scanned with CamSc

الْفُرْقَانَ ؕ	اِنَّ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	بِاٰيٰتِ اللّٰهِ
فرق کونکي په حق او باطل کښې	بیشکه هغه کسان	چې انکار ئې اوکړو	د آیتونو د الله نه
دحق اوباطل فرق کونکي	.....	نو څوک چې (اوس هم) د الله پاک د حکمونو منلونه انکار کوی	

لَهُمْ	عَذَابٌ	شَدِيْدٌ ؕ	وَاللّٰهُ	عَزِيْزٌ	ذُوانْتِقَامٍ ۝
دې هغوی لره	عذاب	سخت	او الله	غالب دي	بدله اغستونکي دي
نوهغوی د پاره سخت عذاب مقرر دي	.....	او الله داختیار خاوند دي		او بدو کارونو سزا ورکوی	

دریو آیتونو کښې اسم اعظم:- د ایت الکرسئ د تفسیر په بیان کښې مخکښې داحدیث تیر شوې دې چې اسم اعظم دې آیت او آیت الکرسي کښې دي.او د ﴿الٓمّٓ﴾ تفسیر د سورة بقره په شروع کښې بیان شوې دې د دوباره لیکلو دلته ضرورت نشته دې.﴿اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ﴾ تفسیر هم د آیت الکرسئ تفسیر کښې مونږ لیکلی دی.

قوله تعالیٰ:- نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ

بیا فرمائی چې ائې محمد ﷺ تاسوباندې قرآن کریم حق سره نازل کړې دې.اوپه دې کښې هیڅ شک نشته.بلکه یقیناً دا د الله ﷻ د طرفنه دې.او دا ئې خپل علم سره نازل کړې دې.او فرښتې په دې باندې گواه دی.او د الله تعالی شهادت کافی دې.داقرآن پاک د مخکښې کتابونو تصدیق کوونکئ دې.اوهغه کتابونه د دې قرآن د رښتینوالی دلیل دی.ځکه چې په هغې کښې د دې نبی ﷺ او د قرآن پاک د راتلو خبر وو،هغه رښتیا ثابت شو.

قوله تعالیٰ:- وَاَنْزَلَ التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ ۝ مِنْ قَبْلُ هُدًى لِّلنَّاسِ

هم هغه ذات موسی بن عمران ﷺ باندې توراة نازل کړو،عیسی بن مریم ﷺ باندې ئې انجیل نازل کړو.هغه دواړه (کتابونه) د هغه زمانې د خلقو د پاره هدایت وو.

قوله تعالیٰ:- وَاَنْزَلَ الْفُرْقَانَ ؕ

هغه پاک ذات فرقان نازل کړو چې دا حق و باطل او ضلالت او گمراهئ او په نیغه لار کښې فرق کوونکي دې،د دې واضح او ورښانه دلیلونه او زبردست برهان هر یو لره کافی کیدونکي دی.

د فرقان نه مراد څه دی؟:- د قتاده ﷺ او ربیع بن انس بیان دې چې د فرقان نه مراد دلته قرآن پاک دې.اگر چې دا مصدر دې.خو ولې د قرآن پاک ذکر د دې نه مخکښې تیر شوې دې،د دې وجې دلته ئې فرقان اوفرمائیل.ابوصالح نه دا هم مروی دی چې د دې نه مراد تورات دې مگر دا ضعیف دې.ددې وجې نه چې د تورات ذکر ددې نه مخکښې تیر شوې دې.والله اعلم.

قوله تعالیٰ:- اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُوانْتِقَامٍ ۝

دقیامت په ورځ به په منکرانو او باطل پرستوباندې سخت عذاب وی،الله ﷻ غالب دې،لوئې شان والا دې،اعلی وسعت والا دې.انبیاء ﷺ او رسولان ﷺ د مخالفانو او د الله ﷻ د آیتونو تکذیب والو نه به الله ﷻ سخت انتقام اخلی.

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى	عَلَيْهِ	شَيْءٌ	فِي الْاَرْضِ	وَلَا فِي السَّمَآءِ ؕ	هُوَ الَّذِيْ
بیشکه الله چې دې نه دې پټ	په هغه	هیڅ څیز	په زمکه کښې	او نه په آسمان کښې	هغه هم هغه دې
د الله پاک نه د زمکې او آسمانونو هیڅ څیز هم پټ نه دې	.....				الله پاک هغه ذات دې

Scanned with CamScanner

يُصَوِّرُكُمْ	فِي الْأَرْحَامِ	كَيْفَ يَشَآءُ ؕ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا هُوَ
چې جوړوی صورتونه ستاسو	په رحمونو کښې	څنګه چې غواړی هغه	نشته لائق دعبادت	مګر هم هغه
چې ستاسو صورتونه دمیندو په رحمونو کښې هغې جوړوی څنګه چې ئې خوښ وی			دهغه نه سوا بل څوک دعبادت لائق نشته	
الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ ۝			
غالب	اوحکیم دی			
په هرچا غالب او دحکمت خاوند دی				

قوله تعالیٰ:- اِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفٰى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ ؕ

دمور په خپله کښې تصویر جوړولو والا الله ﷻ دی:- الله ﷻ فرمائی چې هغه د آسمان او زمکې عیبونو لره ښه پیژنی.د هغه پاک ذات نه هیڅ څیز پټ نه دی،

قوله تعالیٰ:- هُوَ الَّذِيْ يُصَوِّرُكُمْ فِي الْاَرْحَامِ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ

تاسو ته ستاسو د مور په خپله کښې ستاسو صورتونه جوړونکی دی څنګه چې هغه پاک ذات غواړی ښه یا خراب نیک یا بد.

قوله تعالیٰ:- لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

د هغه پاک ذات نه سوا هیڅوک د عبادت لائق نشته دی.هغه لوئې ذات غالب او حکمت والا دی.او هم هغه یو ذات تاسو جوړ کړئ او تاسوئې پیداکړئ،بیا تاسو د نورو عبادت ولې کوئ؟هغه لوئې ذات لازوال عزتونو والا،غیرفانی حکمتونو والا،محکم حکمونو والا دی،په دې کښې اشاره بلکه وضاحت دی چې عیسی علیه السلام لره هم الله ﷻ پیدا کړې وو او عیسی علیه السلام د هغه پاک ذات عبادت کوونکې وو لکه څنګه چې ټولو انسانان دی او په دوی کښې یو حضرت عیسی علیه السلام هم دو.هغه هم د مور په رحم کښې جوړ کړې شو او زما د پیدا کولو حکم سره پیدا شو.بیا الله ﷻ څنګه شو.لکه څنګه چې دې لعنتی جماعت ګنړلې دی.حالانکه هغه پاک ذات خودیوحالت نه بل حالت ته انسان په رګونو کښې اړوی راړوی،.لکه بل ځاني کښې ارشاد دی چې ﴿يَخْلُقُكُمْ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِيْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ﴾ :یعنی الله ﷻ تاسو د ستاسو دمور په خپټو کښې پیدا کوی،د یو د پیدائش نه پس په بل انداز کښې جوړول په دریو دریو تیارو کښې کیږی.

هُوَ الَّذِيْٓ	اَنْزَلَ	عَلَيْكَ	الْكِتٰبَ	مِنْهُ	اٰيٰتٌ
هم دغه الله دی	چې نازل ئې کړو	په تا باندې	دا کتاب	بعضې له دی نه	آیتونه
هغه الله دی چې په تا ئې کتاب نازل کړې دی		په دې کښې دوه قسمه آیتونه			
مُّحْكَمٰتٌ	هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ	وَاُخَرُ	مُتَشٰبِهٰتٌ ؕ	فَاَمَّا الَّذِيْنَ	فِيْ قُلُوْبِهِمْ
محکمات دی	دا اصل دکتاب دی	او بعضې نور	متشابهات دی	نو هر هغه کسان	چې په زړونو دهغوئ کښې
دی، بعضې محکمات چې هغه دکتاب بنیادی آیتونه دی			اونور مشتبهات دی		اونو دچا په زړونو کښې
زَيْغٌ	فَيَتَّبِعُوْنَ	مَا	تَشَابَهَ	مِنْهُ	ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ
کوږوالی دی	انو هغوئ تابعداری کوی	دهغه آیتونو	چې متشابه وی	دهغې نه	دپاره دطلب
دفتنې چې کوږوالی وی	انوهغوئ د فتنې جوړولو په کوشش کښې په متشابه آیتونو لټون کوی				

Scanned with CamScanner

وَابْتِغَآءَ تَاْوِيْلِهٖ ۚ وَمَا يَعْلَمُ تَاْوِيْلَهٗٓ اِلَّا اللّٰهُ ۘ

او دپاره دطلب | دبدلي معنی دهغي | او حال دا چی نۀ پوهيږی|په حقيقت مطلب دهغي | ماسوا | دالله نه

اودهغي دمعنومعلومولوکوشش کوی | .....اودهغي په سم مطلب خو صرف الله پاک پوهيږی

وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ ۙ كُلٌّ

او هغه کسان | چی پاخه دی په علم کښې |اوايۍ هغوی |ايمان راوړې دي مونږه| په دې | دا ټول

اوځوک چې د مضبوط علم خاوندان دی | نوهغوی وائی چې مونږ ايمان راوړې دې |دا ټول

مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا ۚ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّآ اُولُوا الْاَلْبَابِ ۝ رَبَّنَا لَا تُزِغْ

دطرفه د رب زمونږ نه دی |او نۀ قبلوی نصيحت | مګر|خاوندان دعقلونو | ای ربه زمونږه | مۀ کړوه |

زمونږ درب دطرفه دی |او«دنيغي لازې نه خو)بس هوښيار خلق سبق اخلی| «اووائی چې)ائي زمونږه ربه!

قُلُوْبَنَا بَعْدَ اِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَّدُنْكَ رَحْمَةً ۚ

زړونه زمونږه | روستوددې نه |چی تاهدايت کړې دې مونږته|اوښښنه اوکړه مونږته|دطرفه خپل نه رحمت

زمونږه زړونه د هدايت نه پس په ګاړه نکړې | ....اومونږته دخپل طرفه رحمتونه راکړه

اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ ۝ رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ

بيشکه ته|خاص هم ته|دير ښښونکي ئې |ای ربه زمونږه|بيشکه ته| راجمع کونکي دخلقو ئې|په داسي ورځ

ځکه چې هم ستاذات ښښونکي دې | ائي زمونږ ربه بيشکه ته په هغه ورځ ټولوخلقو لره راجمع کونکي ئې

لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ۝

چی نشته شك |په هغي کښې| بيشکه چی الله | نۀ کوی خلاف| دوعدې نه |

چې دهغي په راتلو کښې هيڅ شک نشته| اوالله پاک هيڅکله هم دخپلې وعدې نه خلاف نه کوی |

قوله تعالی:-هُوَالَّذِیْٓ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ

دلته بيان کيږی چې قرآن پاك کښې داسې آيتونه هم دی چې د هغي بيان بالکل واضح،صفا او ښکاره دي.هر سړې د هغي مطلب ته رسيدې شی.او بعضې آيتونه داسې دی چې د هغي مطلب ته عام ذهنونه نه شی رسيدې.اوس چې کوم خلق د دويم قسم آيتونه ږومبی قسمه آيتونو باندې قياس کوی يعنی د کومې مسئلې وضاحت چې په کوم آيت کښې اومومی هغه وضاحت واخلی نو دا خلق په صحيح لار دی او چې څوک ښۀ صفا او ښکاره آيتونه پريږدی او داسې آيتونه د ځان د پاره دليل جوړ کړی چې د هغوی د پوهې نه پورته وی او په هغي کښې اونخلی نو دا خلق پرمخې پريوتل.ام الکتاب يعنی اصل اصول دکتاب دالله صفااوواضحه آيتونه دی.شکوکو شبهاتو کښې مه پريوزی اوپه ښکاره احکامو عمل اوکړئ اوهم دا فيصله کوونکی اومنئ او چې کوم پوهه کښې رانشی نو هغه هم ددې نه اوکنړئ. او داسې آيتونه هم شته دي چې د هغي معنی يوشان وی چې ظاهری د آيتونو سره موافق وی او ممکن دی چې ددې نه سوا معنې هم راوزی اګر چې هغه لفظ د ترکيب اعتبار سره نه وی او نه واقعی طور،نو په دې غير ظاهر معنوکښې مه اخته کيږئ.

قوله تعالی:-مِنْهُ اٰيٰتٌ مُّحْكَمٰتٌ هُنَّ اُمُّ الْكِتٰبِ وَاُخَرُ مُتَشٰبِهٰتٌ ۭ

دمحکمات او متشابهاتو وضاحت:- د سلفونه د محکم او متشابه ډیري معنې منقول دی.ابن عباس ﷺ فرمائی چې محکمات هغه دی چې ناسخ دی چې په هغې کښې د هغې د حلالو، حرامو، احکامو، حکم، ممنوعات،حدونو او د اعمالو بیان وی او دا شان د دوی نه دا مروی دی چې ﴿قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ﴾ او دې نه پس احکامو والا آیتونه محکمات دی.او ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا﴾او دې نه پس دری آیتونه دی.فاطمه ﷺ فرمائی چې دا د سورتونو په شروع کښې دی.یحیی بن یعمر رحمه الله فرمائی چې دا فرائض او احکام او ممنوعات او حلال وحرام والا آیتونه دی سعید بن جبیر ﷺ وائی چې دې ته اصل کتاب په دې وجه وائی چې دا په ټولو کتابونوکښې دی.مقاتل رحمه الله فرمائی چې دا په دې وجه دی چې ټولومذهبونو والا دا منی.متشابهات هغه آیتونو ته وائی چې منسوخ دی.او چې کوم مخکښې دی او چې کوم روستو دی.او په هغې کښې مثالونه ورکړې شوی دی او قسمونه په کښې خوړلې شوی وی.اوپه هغې باندې صرف ایمان راوړلې شی د عمل دپاره نه وی.

ابن عباس ﷺ نه همدا فرمان نقل دی.مقاتل رحمه الله چې د دې نه مراد د سورتونو شروع کښې حروف مقطعات دی.د مجاهد رحمه الله قول دې چې دا د یوبل تصدیق کوونکی دی (۱)لکه بل ځائې کښې فرمائی﴿كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ﴾ اودا هم مذکور دی چې دا هغه کلام دې چې دیو طرز ماتحت وی اومثانی هغه دی چې په هغې کښې د دوؤ مقابلو څیزونو ذکر وی.لکه د جنت صفت او د دوزخ حال او د نیکوا و بدو حال وغیره وغیره.په دې آیت کښې متشابه د محکم په مقابله کښې دی،ددې وجې صحیح مطلب هم هغه دې چې کوم مونږمخکښې بیان کړو.همدا فرمان دې دمحمدبن اسحاق بن یسار رحمه الله، دوی فرمائی چې دا د رب حجت دې او په دې کښې د بندګانو بچ کیدل دی.د جګړو فیصله ده د باطل مذمت دې او هغه هیڅوک د صحیح او اصل مقصد نه نه شی بدلولې.اونه د هغې معنوکښې څوک ردوبدل کولې شی.د متشابهاتو په په ربستنولئ کښې هیڅ کلام نشته دی.او نه په کښې څه تصریف او تاویل کول پکار دی.دې سره الله ﷻ د خپلو بندګانو دایمان آزمیښت اخلی.لکه خلقو لره حلال او حرام سره آزمائی او دوی ته پکار دی چې باطل طرفته لاړنشی.

قوله تعالی:-فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ

اهل بدعت هم د متشابهاتو نه استدلال کوی:- بیافرمائی چې په کومو زړونوکښې کوږوالې او ګمراهی او د حق نه باطل طرفته تلل دی هغوئ متشابهات آیتونه واخلی او دې سره خپل بدترین مقاصد پورا کول غواړی.او د لفظی اختلافاتو نه ناجائز فائده اوچتوی او خپل طرفته ئې راړوی.او چې کوم محکم آیتونه دی په هغې کښې د دوی مقصدونه نه پورا کیږی.ځکه چې د هغې الفاظ بالکل صفا او واضح دی.نه خو دوی دا اخوا کولې شی او نه په دې کښې خپل ځان دپاره څه دلیل مومی،د دې وجې فرمان دې چې ددې نه د دوی مقصد فساد وی چې کوم خلق د دوی منی چې هغوئ هم ګمراه کړی.او د خپل بدعتونو دلیل دقرآن پاك نه راوړی حالانکه قرآن پاك خو د بدعتونو تردید کوی.لکه څنګه چې عیسایانو دلیل نیولې دې.عیسی علیه السلام د الله جل جلاله خوئې دې،په دې باندې دقرآن پاك الفاظ روح الله اوکلمة الله نه دوی متشابه آیتونو لره اخلی اوداصفا آیت چې په هغې کښې دی چې﴿اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ﴾ یعنی عیسی علیه السلام د الله ﷻ غلام دې او په ده باندې د الله ﷻ انعام دې،بل ځائې کښې دی چې ﴿اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ﴾ الخ: یعنی د عیسی علیه السلام مثال د الله ﷻ په نیز دآدم علیه السلام پشان دې چې هغه الله ﷻ د خاورې نه پیدا کړو اوبیانې اووئیل چې شه نو هغه شو.هم داشان نور هم صریح آیتونه دی،هغه ټول ئې پریښودل او متشابه آیتونه ئې دعیسی علیه السلام د الله ﷻ خوئې باندې دلیل او نیول حالانکه عیسی علیه السلام

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر،تعلیقا قبل رقم: ٤٥٤٧)-

Scanned with CamSc

د الله ﷻ مخلوق دي اود هغه بنده دي او د هغه پاك ذات رسول دي.
قوله تعالى:- ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَأْوِيلِهِۦ
دغلط تاويل او تحريف غندنه:- بيا فرمائى چې د دوى بل غرض د آيت تحريف وى چې دا د خپل خانې نه لرې كړى.رسول الله ﷺ دا آيت اولوستلو او وې فرمائيل چې كله تاسو دا خلق اوگورئ چې په متشابه آيتونو كښې په جنگ دى نو دوى لره پريږدئ،هم دا خلق په دې آيت كښې مراد اخستې شوى دى(۱)دا حديث مختلفو طريقو سره په ډيرو كتابونو كښې مروى دي.صحيح بخارى كښې هم دا حديث د دې آيت په تفسير كښې مروى دي.اوگورئ كتاب القدر(۲)
په متشابه كښې جكړه گوونكى خوارج دى:- يو بل حديث كښې دى چې دا خلق خوارج دى.(مسند احمد)(۳)كه دا حديث زيات نه زيات موقوف اوگنړلې شى خو د دې مضمون صحيح دې خكه چې رومبې بدعت خوارجو كړې وو.
دا دنيا پرسته فرقه ده:-دا فرقه صرف د د دنياوى غم په وجه د مسلمانانو نه بيله شوه.كله چې رسول الله ﷺ د حنين په موقع د غنيمت مال تقسيم كړو نو دې خلقو اووئيل چې دا خلاف عدل دى او په هغوئ كښې ذوالخويصره نومې سړې راغلو اورسول الله ﷺ ته ئې په مخامخ اووئيل چې اې حضرت!عدل اوكړه ،تاسو په دې تقسيم كښې انصاف اونكړو.رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې زهٔ خو الله ﷻ امين جوړكړې يم،كه زهٔ عدل اونكړم نو بيا خو هر څه برباد شو او نقصانى شول.هركله چې هغه واپس شو نو عمر فاروق ﷺ عرض اوكړو چې يارسول الله ماته حكم اوكړئ دې اوژنم.رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې دې پريږده،د ده دجنس نه به داسې خلق پيدا شى چې تاسو خلق به خپل مونځونه د دوى د مونځونو مقابله كښې او خپل قرآن خوانى به ددوى د قرآن خوانئ باره كښې حقير اوگنړئ.اصل كښې دوى به د دين نه داسې اوزى لكه څنگه چې نيزه د ښكار نه اوزى.تاسو چې چرته هم دوى وينئ نو قتل كوئ ئې.د دوى قتل كونكى ته به زيات ثواب ملاويږى (۴).د حضرت على ﷺ د خلافت په زمانه كښې دا خلق پيدا شول.او دوى په نهروان كښې هغوئ قتل كړل.بيا په هغوئ كښې نااتفاقى راغله او په هغوئ كښې مختلف الخيال خلق پيدا شو.او نوى نوى بدعتونه دين كښې پيدا شول او د الله ﷻ د نيغې لارې نه اووتل.
د نبى ﷺ د وينا رښتيا كيدل:- دې نه پس د قدريه فرقې ظهور اوشو.بيا معتزله راوتل او بيا جهميه وغيره پيدا شول.او د رسول الله ﷺ دا پيشنگوئى پورا شوه چې په امت كښې به نزدې درې اويا فرقې پيدا شى.ټولې به جهنمى وى سوا ديو ډلې نه.صحابه كرامو ﷺ تپوس اوكړو چې يارسول الله ﷺ هغه به كوم خلق وى؟رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې هغوئ به په هغه څيز وى چې په كومې زهٔ يم او زما اصحاب(مستدرك حاكم) (۵).د ابويعلى حديث كښې دى چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې زما په امت كښې به يو قوم وى چې قرآن پاك به وائى خو دا شان به ئې غورزوى لكه څنگه چې د كهجورو گټكى غورزوى.ددې به غلط مطلبونه بيانوى.(۶)
قوله تعالى:-وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُۥٓ إِلَّا اللَّهُ

---

(۱) احمد: ٤٨/٦، ابن ماجة: ٤٧، الترمذى: ٢٩٩٣ وهو صحيح)-
(۲) صحيح بخارى كتاب التفسير سورة ال عمران باب منه ايات محكمات : ٤٥٤٧، صحيح مسلم: ٢٦٦٥، ابوداود ٤٥٩٨، ترمذى: ٢٩٩٣)-.
(۳) احمد: ٢٦٢/٥، وسنده حسن لذاته)-.
(۴) صحيح بخارى كتابى المناقب باب علامات النبوة فى الاسلام: ٣٦١٠، صحيح مسلم: ١٠٦٤)-
(۵) حاكم : ١٢٩/١، وسنده ضعيف)-
(۶) اتحاف الخيرة المهر للبوى صيرى : ٨٠٣٠، وسنده ضعيف)-

Scanned with CamSc

بیا نې اوفرمانیل چې ددې حقیقی تاویل او واقعی مطلب الله ﷻ ته معلوم دې،
په کلمې د الله باندې وقف شته که نه: په کلمې د الله ﷻ باندې وقف دې که نه؟ په دې کښې اختلاف دې.

وقف کوونکې جماعت،

تفسیر په څلور قسمه دې:- ابن عباس ﷺ فرمائی چې تفسیر په څلور قسمه دې❶یو هغه چې د هغې په پوهیدوکښې څوک معذوره نه وی هر یو سړې پرې پوهیږی. ❷ یو هغه تفسیر چې هغه عرب د خپل لغت په وجه پیژنی❸یو هغه تفسیر چې په هغې باندې لوئې علماء او د پوره علم خاوندان پوهیږی❹او یو هغه چې د هغې معلومات د الله ﷻ نه سوا بل چا ته نه وی.(۱)دا روایت مخکښې هم تیر شوی دی.

زهٔ په خپل امت د دریو خبرو نه ویریږم:- د عائشه ﷺ وغیره نه هم دا منقول دی.په معجم کبیر کښې حدیث دې چې ماته د خپل امت په دریو خبرو باندې ویره ده.❶د مال دکثرت،چې ددې په وجه به حسد او بغض پیدا شی او خپلو کښې به یو بل له سر ماتوی❷ دویم دا چې د کتاب الله تاویل پسې به شی.حالانکه دهغې اصلی مطلب الله ﷻ ته معلوم دی.او ژور علم والاوائی چې زمونږ پدې باندې ایمان دی.الخ ❸دریم دا چې علم به حاصل کړی اوهغه به بې پرواهئ سره ضائع کړی.داحدیث غریب دی.(۲)

د قران یو ایت د بل ایت نه مخالف نه دې:- یو بل حدیث کښې دی چې قرآن پاک ددې دپاره نه دې نازل شوې چې یو آیت دې د بل آیت خلاف وی.چې تاسوته دکوم علم وی هغې باندې عمل اوکړئ او چې کوم متشابه وی په هغې ایمان راوړئ.(ابن مردویه)(۳)

په متشابه د ژور علم خاوند هم نه شی پوهیدې:- ابن عباس ﷺ،عمر بن عبدالعزیز ﷺ او مالك بن انس ﷺ نه هم دا مروی دی چې ژورعلم والا هم ددې دحقیقت نه نه شی خبرېدې.خوپه دې ایمان راوړی.

د متشابه د تاویل علم الله ته دې:- ابن مسعود ﷺ فرمائی چې ددې د تاویل علم الله ﷻ ته دې پوخ علم والا وائی چې زمونږ په دې باندې ایمان دې.ابی ابن کعب ﷺ هم دا فرمائی.امام ابن جریر رحمة الله علیه هم دا خوښ کړی دی.دا خو هغه جماعت دې چې په ﴿إِلَّا اللهُ﴾باندې وقف کوی.اوددې نه پس جمله د دې نه بیلوی.

وقف نه کوونکې جماعت(یعنی وصل کوونکی):- اوڅه خلق په دې ځائې باندې وقف نه کوی،بلکه ﴿وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ﴾ باندې وقف کوی.او اکثر مفسرین او اهل اصول هم دا وائی،د هغوئ دلیل دادې چې څه په پوهه کښې رانشی نو داسې خبره نه دی کول پکار.

ابن عباس ﷺ به فرمائیل چې زهٔ په هغه راسخ علماء کښې یم چې په تاویل باندې پوهیږی.مجاهد رحمه الله فرمائی چې راسخ علم والا تفسیرباندې پوهیږی.محمد بن جعفر بن زبیر ﷺ فرمائی چې اصل تفسیر او مراد باندې الله ﷻ پوهیږی.اومضبوط علم والا وائی چې زمونږ پدې باندې ایمان دې.بیاد متشابهاتو آیتونو تفسیر محکماتو سره کوی.چې په هغې کښې د چا څه کار نشته.مضامینوکښې قرآن بالکل صحیح شی.عذر ظاهر شی،باطل ختم شی،او کفر لرې شی.

د نبی ﷺ د عبدالله بن عباس ﷺ د پاره دعا:- حدیث مبارك کښې دی چې رسول الله ﷺ ابن عباس ﷺ د پاره دعا اوکړه چې انې الله ﷻ اده ته ددین پوهه ورکړه او دتفسیر علم ورته ورکړه(۴)بعضې علماء کرامو نه هم دا تفصیل شوې دې.

د تاویل په قران پاک کښې په دوو معنو کښې راغلې دې: او فرمائی چې تاویل دوو معنوکښې قرآن پاك

---

(۱) الطبری: ۵۷/۱)-
(۲) طبرانی : ۳٤٤۲)-
(۳) ابن مردویه وابن سعد : ۱۹۲/٤، وسنده حسن)-
(٤) احمد: ۲٦٦/۱ وسنده حسن)-

Scanned with CamSc

کښې راغلې دي،

اوله معنی:- يو معنی خو داده چې د هغې نه د لفظ اصلی حقيقت او درست حقيقت معلوميږی،لکه قرآن پاک کښې دی چې﴿وَقَالَ يَاأَبَتِ هٰذَا تَأْوِيلُ رُءْيَايَ﴾ انې زما پلاره زما د خوب تاويل هم دا دي او بل ځائې کښې فرمائی چې﴿هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُ ۚ يَوْمَ يَأْتِي تَأْوِيلُهُ﴾کافرو ته صرف ددې د ظاهريدو انتظار دي چې په کومه ورځ د دې مصداق راشی.نو په دې دواړو خايونوکښې مراد تاويل نه حقيقت دي،که دې آيت کښې د تاويل نه مراد هم دا تاويل واخستې شی نو﴿ الاالله ﴾باندې وقف ضروری دي،ځکه چې دتولو کارونو حقيقت او اصليت سوا د الله ﷻ نه بل چاته نه دی معلوم.نو﴿وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ﴾به مبتداء وی او ﴿يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ﴾به خبر وی او دا جمله بالکل بيله ده.

دويمه معنی د تاويل:- دويمه معنی د تاويل،هغه تفسير او بيان او د يو څيز تعبير په بل څيز سره کول دی،لکه قرآن پاک کښې دی چې﴿نَبِّئْنَا بِتَأْوِيلِهِ﴾مونږ ته ددې تاويل يعنی تفسير اوښايه.که مذکوره آيت کښې تاويل مرادواخستې شی نو﴿فِي الْعِلْمِ﴾ باندې وقف کول پکار دی،ددې وجې پوخ علم والا عالمانو ته پته ده او پوهيږی ځکه چې خطاب هم دوی ته دي.اگر چې د حقائقو علم دوی ته هم نشته،نو په دې بنا،﴿آمَنَّا بِهِ﴾ به حال وی او دا هم کيدیشی چې معطوف وی بغير د معطوف عليه نه لکه بل ځائې کښې فرمائی چې﴿لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ﴾نه﴿رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا﴾پورې او بل ځائې کښې دی چې﴿وَجَاءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا﴾يعنی﴿وَجَاءَ الملائكة صفوفا صفوفا﴾ او د دوی د طرفنه دا خبر دي چې مونږ په دې باندې ايمان راوړو او د دې معنی ده چې مونږ په متشابه باندې ايمان راوړو.

بيا اقرار کوی چې دا ټول يعنی محکم او متشابه حق او صدق دی او په دې کښې هر يو د بل تصديق کوی.او گواهی ورکوی دا ټول د الله ﷻ د طرفنه دی.په دې کښې هيڅ اختلاف نشته دې او تضاد نشته دې لکه بل ځائې کښې فرمائی چې﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا﴾ :يعنی آيا داخلق قرآن پاک کښې غورو فکر نه کوی،که دا د الله تعالی نه سوا د بل چا د طرفنه وی نو په دې کښې به ډير اختلاف وی.

قوله تعالی:-وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُوا الْأَلْبَابِ﴿۷﴾.

د دې وجې فرمائی چې په دې باندې عقل مند خلق پوهيږی.چې څوک په دې باندې غور کوی.چې کوم صحيح سالم عقل والا دی.او چې د کومو دماغ درست دي.

دپوخ علم خاوندان څوک دی:-رسول الله ﷺ نه سوال کيږی چې پوخ علم والا څوک دي؟رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې:

①د چا قسم ريښتونې وی. ② او چې د چا ژبه صحيح چليږی. ③او چې دچا زړه سلامت وی. ④ او چې د چا خيټه د حرامو نه بچ شوې وی. ⑤ اوچې د چا شرمگاه د زنا کارئ نه بچ شوې وی. ⑥ هغه مضبوط علم والا دی (ابن ابی حاتم).([1])

د قران کريم په ايتونو کښې جګړه د هلاکت سبب دي:- او يوحديث مبارک کښې دی چې رسول الله ﷺ څه خلق اوکتل هغوئ دقرآن پاک باره کښې په جګړه وو،رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې واورئ! ستاسو نه مخکښې خلق هم دا شان هلاک شوی وو چې هغوئ دکتاب الله آيتونولره ديو بل خلاف گنړه او په

[1]) الطبری: ٦٦٣٥، طبرانی : ٧٦٥٨، ددې سند کښې عبدالله بن يزيد ابن آدم القرشی دي او دا سخت ضعيف راوی دي،امام احمد صاحب وائی چه ددوی روايت موضوعه دي اوگورئی مجمع الزوائد : ٣٢٤/٢ ، الميزان: ٥٢٢/٢، رقم: ٤٢٩٨.

Scanned with CamSc

دې کښې ئې جګړې کولې.حالانکه الله ﷻ فرمائې چې د کتاب الله ﷻ هر یو ایت د بل ایت تصدیق کوی.تاسو په دې کښې اختلاف مه راوباسئ او د یو بل متضاد کوئ ئې مه.اوپه څه چې پوهیږئ نوهغه وائې او چې په څه نه پوهیږئ نو هغه پوهیدونکو خلقو ته اوسپارئ.(مسند احمد) (۱)

قران کریم کښې جګړې کول کفر دي:-بل حدیث مبارک کښې دی چې قرآن پاک په اووۀ (۷) حرفونو باندې نازل شو،قرآن پاک کښې جګړې کول کفر دي.قرآن پاک کښې اختلاف او تضاد پیدا کول کفر دي،چې په څه پوهیږئ نو په هغې عمل کوئ،او چې په څه نه پوهیږئ نو هغه پوهه خلقو ته اوسپارئ،یعنی الله جل جلاله طرفته(ابو یعلی).(۲)

د راسخ فی العلم نه څوک مراد دی؟:- رافع بن یزید وائی چې راسخ فی العلم هغه خلق دی چې هغوی متواضع او عاجزی کوونکی وی اوالله ﷻ درضا غوښتونکی وی،د خپل ځان نه د لویو نه ویریدونکی نه وی او د خپل ځان نه کمزوری خلق سپک نه ګڼی.

رَبَّنَا لَا تُزِغْ .....اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ۝بیا فرمائی چې دا خلق دعا کوی چې ائې الله ﷻ هرکله چې تا زمونږ زړونو ته هدایت راکړې دې نو دا د نورو زړونو په شان مه کوه چې متشابه پسې انخښتی وی او خرابیږی بلکه مونږ په صراط مستقیم باندې قائم اوساته.او خپل مضبوط دین باندې مونږ قائم دائم اوساته او مونږ باندې خپل رحمت نازل کړه او زمونږ زړونو لره ثابت قدمی ورکړه او ګندګی ترې لرې کړې،زمونږ ایمان او یقین زیات کړې بیشکه ته زیاتونکې ئې.رسول الله ﷺ به دا دعا غوښتله چې﴿یامقلب القلوب ثبت قلبی علی دینك﴾یعنی ائې د زړونو اړونکیه زما زړه په خپل دین باندې قائم اوساته.

بیا به ئې دا دعا ﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا﴾ وئیله.(۳)

د هر انسان زړۀ د الله تعالی د دوو ګوتو نه په دوو ګوتو کښې دي:- حدیث مبارک کښې دی چې رسول الله ﷺ به دا دعا ډیره وئیله.﴿اللهم مقلب القلوب ثبت قلبی علی دینك﴾.حضرت اسماء رضی الله عنها یو ورځ تپوس اوکړو چې زړه هم اوړی راوړی کیږی؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې د هر انسان زړه د الله ﷻ د دوۀ ګوتو ترمینځه دي،که غواړی نو دا قائم ساتی او که غواړی نو دا اړوی.(۴)زمونږ دعا ده چې الله ﷻ دې زمونږ زړونه د هدایت نه پس کاږه نه کړی او مونږ ته دې د خپل طرفنه رحمتونه راکړی هغه ډیرې ورکړې والادې.یوروایت کښې دی چې ما اووئیل چې یارسول الله ﷺ اماته څه داسې دعا اوښائې هغه دعا زۀ د خپل ځان د پاره وایم،رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې دا دعا غواړه﴿اللهم رب محمد النبی اغفرلی ذنبی واذهب غیظ قلبی واجرنی من مضلات الفتن﴾ : یعنی ائې الله ﷻ ! ائې د محمد ﷺ ربه!زما ګناهونه معاف کړه زماد زړه غصه اوغم اوسختی لرې کړې اوماد ګمراه کونکو د فتنې نه اوساتې.(۵)حضرت عائشه رضی الله عنها هم چې دا دعا﴿یامقلب القلوب﴾واوریدله نو د اسماء رضی الله عنها په شان ئې سوال اوکړو او رسول الله ﷺ ورته هم دا دعا اوخودله.اوبیا ئې ورته دقرآن پاک دا دعا اوخودله.(۶) دا حدیث غریب دي لیکن د آیت قرآنی نه بغیر بخاری او مسلم شریف کښې هم مروی دي.(۷).

---

(۱) احمد: ۱۸۵/۲، منصف عبدالرزاق : ۲۰۳۶۷، ابن ماجه: کتاب السنة باب فی القدر : ۸۵، شعب الایمان : ۲۲۵۸، وسنده حسن الموساعات الحدیثیة: ۳۵٤/۱۱)-.

(۲) احمد: ۳۰۰/۲، مسند ابی یعلی : ٦۰۱٦، وهو صحیح)-

(۳) ترمذی کتاب الدعوات باب دعاء یامقلب القلوب : ۳۵۲۲، باختلاف یسیر وسنده حسن)-

(۴) احمد:۳۰۲/٦ وسنده حسن)-

(۵) الطبری: ٦٦٤۹، ددې سند کښې مثنی بن صباح ضعیف راوی دي)-

(۶) ابن مردویه)-

(۷) صحیح مسلم کتاب القدر باب تصریف الله تعالی القلوب کیف شاء: ۲٦۵٤)-

Scanned with CamSc

د نبی کریم ﷺ د شپې د اودۀ کیدو په وخت کښې دعا نسائی وغیره کښې دی چې رسول الله ﷺ به کله د شپې اوده کیدو نو دا دعا به ئې وئیله.

﴿لا اله الا انت سبحانك استغفرك لذنبي واسئلك رحمة اللهم زدني علما ولا تزغ قلبي بعد اذ هديتني وهب لي من لدنك رحمة انك انت الوهاب﴾ : (۱) یعنی ائې الله ﷻ ! ستا نه سوا بل څوك د عبادت لائق نشته دی، زۀ ستانه د خپلو ګناهونو پناه غواړم، او ستا نه ستا د رحمت سوال کوم، الهي الله ﷻ ازما علم کښې زیاتي اوکړه او هرکله چې تا زما زړه ته هدایت کړې دې نوبیا ئې مه ګمراه کوه او ماته د خپل طرف نه رحمت راکړې ته ډیر ورکړې والا ئې.

ابوبکر صدیق ﷺ د مابنام مونځ اوکړو، په ډومبنی دوو رکعتو کښې ئې الحمد شریف نه پس ئې د مفصل وارې دوه سورتونه اووئیل او دریم رکعت کښې ئې الحمد شریف نه پس هم دا آیت اولوستلو. ابوعبدالله صنابحی رحمه الله فرمائی چې زۀ په هغه وخت کښې هغوئ ته نزدې شوې ووم، تردې چې زما کپړې د هغوئ کپړو سره لګیدلې وې. او ما پخپله په خپلو غوږونو د ابوبکر ﷺ نه دا واوریدل. (عبدالرزاق). عمر بن عبدالعزیز رحمه الله چې ترکومې دا حدیث نه وو آوریدلې نو هغوئ به په دې رکعت کښې سورۀ اخلاص وئیلو لیکن د دې حدیث آوریدو نه پس ! امیر المومنین هم دا وئیل شروع کړل. او هیڅکله ئې نه وو پریښودی.

قوله تعالی:- رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيْعَادَ

بیا ئې اوفرمانیل چې هغوئ دا هم وائی چې ائې الله ﷻ ته د قیامت په ورځ ټول خپل ټول مخلوق لره جمع کوونکې ئې او په هغوئ کښې حکم او فیصله کولو والا ئې. او د دوی اختلاف ختمولو والا ئې، او د هر چا په نیك او بد عمل بدله ورکونکې ئې، د هغه ورځې په راتلو او ستا په وعدو کښې هیڅ کلام نشته دی.

اِنَّ الَّذِيْنَ					
بیشکه هغه کسان					
بیشکه کوم خلقو					
كَفَرُوْا	لَنْ تُغْنِيَ	عَنْهُمْ	اَمْوَالُهُمْ	وَلَآ اَوْلَادُهُمْ	
چې دکفر لارې اختیارکړی ده	هرګز به لرې نه کړی	دهغوئ نه	مالونه دهغوئ	او نه اولاد دهغوئ	
چې کفر کړې دی	..... هغوئ ته دهغوئ مال او اولاد هیڅ فائده نشی رسولې				
مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ۭ	وَاُولٰۗىِٕكَ	هُمْ	وَقُوْدُ النَّارِ ۝	كَدَاْبِ	اٰلِ
دالله نه	هیڅ څیز	اودا کسان چې دی	دوئ	خشاك د اور دی	حال ددوئ پشان دحال
په مقابله دالله پاک کښې	اوهم دا خلق ددوزخ خشاك دی			..... ددهغوئ انجام به	
فِرْعَوْنَ ۙ	وَالَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَا ۚ	
دفرعون	اودهغه کسانو دی	چې وړاندې دهغوئ نه وو	هغوئ دروغ اوګڼل	ایتونه زمونږه	
دفرعون د پیروکارو	اودهغوئ نه هم دمخکښونافرمانو خلقو پشان شی		چې زمونږ ایتونه ئې دروغ ګڼل		
فَاَخَذَهُمُ	اللّٰهُ	بِذُنُوْبِهِمْ ۭ	وَاللّٰهُ	شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝	
نو اونیول هغوئ لره	الله	په سبب دګناهونو دهغوئ	او الله	سخت عذاب ورکونکې دی	
نوالله پاک هغوئ د هغوی ګناهونوپه سبب راونیول	اوالله پاک په عذاب ورکولو کښې ډیرسخت دی				

(۱) ابوداود کتاب الادب باب مایقول الرجل اذاتعار من اللیل : ۵۰۶۱، وسنده حسن السنن الکبری للنسائی : ۱۰۷۰۱)-

قوله تعالی:-اِنَّ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا لَنْ تُغْنِیَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَیْئًا
دکافرو مال او اولاد به هیڅ پکار نه راځی:-فرمانی چې کافردجهنم خشاک اوددې لرګی دی.د دې ظالمانو به په هغه ورځ هیڅ عذر نه قبلیږی.نو په دوی باندې لعنت دې،او د دوی دپاره خراب کور دې.د دوی مال،د دوی اولاد به هم د دوی هیڅ پکار نه رازی.او نه به هغوئ د الله ﷻ دعذابونو نه بچ کړی.لکه بل ځائې کښې فرمائی چې ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ﴾ نو د دوی په مال او اولاد باندې تعجب مه کوئ.د الله ﷻ اراده په دوی باندې د دې په ذریعه د عذاب ورکولو ده او دوی نه به ساه په کفر کښې اوزی.دا شان ارشاد فرمائی چې داکافران په ښارونو کښې ګرزی راګرزی نو تاسو دې دا په تعجب کښې نه اچوی،دا خو هسې یو فائده شان ده،بیا د دوی ځائې خو جهنم دې او څه بد ځائې دې.داشان دلته هم فرمان دې چې دالله ﷻ کلام لره په دروغه ګنړلو والا،د الله ﷻ رسولانو نه منکر،د هغه پاک ذات د کتاب خلاف،د هغه لوئې ذات د وحې نافرمانه،هغوئ دې د خپل مال او اولاد نه هیڅ د ښیګړې توقع نه ساتی.

قوله تعالی:-وَاُولٰٓئِكَ هُمْ وَقُوْدُ النَّارِ
دوی د جهنم لرګی دی.او دی سره به جهنم بلولې شی لکه بل ځائې کښې ارشاد دې چې﴿اِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ﴾ تاسو او ستاسو معبودان د جهنم لرګی دی.

د جهنم خشاک:- ابن ابی حاتم کښې دی چې د عبدالله بن عباس ﷺ مور بی بی ام فضل ﷺ بیان کوی چې مکه معظمه کښې یو شپه رسول الله ﷺ اودریدلو او اوچت آواز سره نې اوفرمائیل چې انې خلقو! آیا ما د الله ﷻ خبرې تاسو ته اورسولې؟ انې خلقو!آیا ماتبلیغ اوکړو؟انې خلقو آیا وحدانیت او رسالت مې اورسولو؟ عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل چې آو یارسول الله ﷺ !بیشکه تاسو د الله تعالی دین مونږ ته راورسولو.بیاچې کله صبا شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې واورئ په الله ﷻ قسم چې اسلام به غالب وی او ښه به خور شی تر دې پورې چې کفر به په خپل ځائې پټ شی،مسلمانان به اسلام خورولو دپاره سمندرونو نه هم تیر شی او د اسلام اشاعت به کوی.یاد ساتئ هغه زمانه هم راتلونکې ده چې خلق به قرآن پاک زده کوی او لولی به نې(بیا به د تکبر او لوئې په طور)وائی چې مونږ قاریان یو،عالمان یو،زمونږ نه څوک لوئې شته دې؟خلقو تپوس اوکړو چې په هغه خلقو کښې به لږه هم ښیګړه وی؟ او یا رسول الله ﷺ هغه به کوم خلق وی؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې هغه به تاسو مسلمانانو نه شمیرلی شی.لیکن یاد ساتئ هغوئ به د جهنم خشاک وی.(۱)

ابن مردویه کښې هم داحدیث دې،په هغې کښې دی چې عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل چې آو یارسول الله تاسو خو ډیر په اخلاص او حرص سره تبلیغ اوکړو.او تاسو خو ډیرې هلې ځلې اوکړې او مونږ سره مو ډیره ښیګړه اوکړه.(۲)

قوله تعالی:-كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ ۙ وَالَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ
بیا فرمانی چې څنګه حال د فرعونیانو وو او څنګه کړه چې د هغوئ وو.لفظ (داب)د همزه جزم سره هم رازی.او د همزه زیر سره هم رازی.لکه ﴿عَادَ﴾ او ﴿عَمَرَ﴾،ددې معنی شان، عادت،حال،طریقې،دی او د امراؤالقیس په اشعارو کښې هم دا شان لفظ هم په دې معنی کښې راغلې دې.د آیت کریمه مطلب دا دی چې کفارو لره به د دوی اولاد او مال هیڅ په کار نه رازی.لکه چې د فرعونیانو او د دې نه مخکښې لره چې هیڅ پکار رانغلو.

قوله تعالی:-فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ شَدِیْدُ الْعِقَابِ

---

۱) ابن مردویه)-
۲) طبرانی : ۲۷/۲۵)-

Scanned with CamSc

د الله ﷻ نیول سخت دی،د هغه پاك ذات عذاب دردناك دي.هیڅ یو کس په هیڅ طاقت سره د دي نه نشی بچ کیدلي.او نه هغه بندولي شی.چي څه غواړی کوی او هر څیز د هغه پاك ذات په وړاندي دي او د هغه نه بغیر بل څوك معبود نشته دي او نه رب.

قُلْ	لِّلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	سَتُغْلَبُوْنَ	وَتُحْشَرُوْنَ	اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ
اووایه اي محمده| هغه کسانو ته| چی انکار نې کړي دي	زربه په تاسوغلبه اوکړي شی| او جمع به کړي شی| دوزخ ته				
ته هغه کسانو ته اووایه چې ستانه نې انکار کړي دي	چې تاسوبه ډیر زرمغلوبه شئ	اودوزخ ته به راجمع کړي شئ			

وَبِئْسَ	الْمِهَادُ ۝	قَدْ كَانَ لَكُمْ	اٰيَةٌ	فِيْ فِئَتَيْنِ	الْتَقَتَا ؕ
او ډیر بد خائي دي|داستوګني	بیشکه وه ستاسو دپاره| نښه دعبرت|په هغه دووډلوکښې| چی مخامخ شوي دیو بل سره				
اوهغه داستوګني دپاره ډیرخراب خائي دي |ستاسودپاره په هغه دوه ډلو کښې عبرت وو| چې|په بدر کښې|یوبل سره جنګیدلی					

فِئَةٌ	تُقَاتِلُ	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	وَاُخْرٰى كَافِرَةٌ	يَّرَوْنَهُمْ	مِّثْلَيْهِمْ
یوه ډله|جنګیدله|په لارد الله کښې	اوبله ډله| کافره وه	لیدل به دوئ هغوئ لره |دو چند دخان نه				
وې| یوې ډلې دالله په لار کښې جهاد کولو |او بله ډله دکافرو وه |اودوئ به هغوئ لره دخپل خان نه دوچنده لیدل					

رَاْيَ الْعَيْنِ ؕ	وَاللّٰهُ	يُؤَيِّدُ	بِنَصْرِهٖ	مَنْ يَّشَآءُ ؕ	اِنَّ فِيْ
په لیدلو دسترګو سره |او الله	قوت ورکوی|په امداد خپل سره| هغه چاته چې اوغواړی| بیشکه په دي کښې				
اودا لیدل په خپلوسترګو وو|خوددي نتیجه دا ثابته شوه|چې الله دچا دپاره غواړی نوپخپل مدد سره هغه مضبوطوی					

ذٰلِكَ لَعِبْرَةً	لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ۝	
خامخا عبرت دي	دپاره دخاوندانو دسترګو	
په دي واقعه کښې دعقلمند دپاره ډیر عبرت دي		

قوله تعالى:- قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَتُغْلَبُوْنَ وَتُحْشَرُوْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ ؕ وَبِئْسَ الْمِهَادُ

جنګ بدر کښې د الله ﷻ قدرت او نصرت:- الله ﷻ فرمائی چې اې محمد ﷺ!کافرانو ته اووایه تاسوبه دنیا کښې هم پست او مغلوب شئ او بیلات والا اوماتحت به جوړ پرئ او دقیامت په ورځ به هم په چغو چغو جهنم کښې جمع کیږئ.اوهغه ډیر بد خائي دي.

ددي ایت شان نزول:- سیرت ابن اسحاق کښې دی چې کله رسول الله ﷺ د بدر جنګ نه کامران و کامیاب واپس شو نودبنو قینقاع بازارکښې ئې یهود جمع کړل اوورته ئې اوفرمائیل چې اې یهودیانو ددي نه مخکښې تاسو اسلام قبول کړئ چې تاسوذلت اورسوائئ ته اورسئ چې کوم ته قریش اورسیدل.نودي سرکشه جماعت اووئیل چې قریش خوځو کسان وو اودجنګ کولو نه ناآشنا وو،او هغوئ ته تاسو شکست ورکړو او دي سره تاسو کښې کبر راغلو؟که مونږ سره مو جنګ اوشو نو درته به اووایوچې جنګ دا شان وی.ستاسو مونږ سره اوسه پوري واسطه نه ده راغلې.په دي باندې دا آیت نازل شو ([1])

قوله تعالى:- قَدْ كَانَ لَكُمْ اٰيَةٌ فِيْ فِئَتَيْنِ الْتَقَتَا ؕ

---

[1]) السيرة لابن هشام:۲/۲۷، دلائل النبوة للبيهقي ۳/۱۷٤)-

Scanned with CamScanner

او وې فرمائيل چې د بدر فتحې ظاهر کړل چې الله ﷻ د خپل ريښتونې او ښه او خوښ دين لره او د دې منلو والوته عزت ورکولو والا دي،هغه پاک ذات ستاسود رسول او ستاسو د تابعدار امت مددګار دي.هغه خپلو خبرولره ظاهرولو والا او غالب کولو والا دي.

قوله تعالى:-فِئَةٌ تُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللهِ

دوه ډلې جنګ کښې مخامخ شوې وې،يوصحابه کرام ﷺ او بل مشرکين د قريش.دا واقعه د جنګ بدر ده.په هغه ورځ مشرکانو باندې رعب غالب وو.

قوله تعالى:-وَأُخْرَىٰ كَافِرَةٌ يَرَوْنَهُم مِّثْلَيْهِمْ رَأْيَ الْعَيْنِ ۖ

او الله ﷻ دخپلوبندګانو داشان مدد اوکړو او اګر چې مسلمانان د شمير يو څو کسان وو او مشرکان ډير زيات وو.خومشرکانوته مسلمانان د خپل ځان نه ډيرزيات په نظر راغلل.مشرکانو د جنګ شروع کيدو نه وړاندې عمير بن سعد ليږلې وو.او چې راغلو نو دوی ته ئې اووئيل چې درې سوه دی څه کم يا زيات.او واقعه هم داشان وه چې صرف درې سوه لس يا څه کم وو.ليکن د جنګ شروع کيدو سره الله ﷻ خپلې زر فرښتې راوليږلې.يو معنی خو داده،دويم مطلب دا هم بيان شوې دې چې مسلمانانو ليدل چې مونږ دکفارو نه دوچند يو،بيا الله ﷻ د دوی مدد اوکړو.

حضرت ابن عباس ﷺفرمائی چې بدری صحابه کرام درې سوا ديارلس وو.اومشرکان شپږ سوه شپاړس وو.ليکن د تاريخ کتابونو کښې د مشرکانو تعداد نهه سوؤ نه زرو پورې بيان شوې دې.نو شايد چې د عبدالله دقرآن دالفاظو نه هم دا استدلال وی.د بنو الحجاج قبيلې کوم تور غلام چې نيولې شوې وو هغه نه رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چې اووايه د کفاور تعداد څومره دې؟نو هغه اووئيل چې ډير دی.رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چې اووايه روزانه څومره اوښان ذبح کيږی؟نو هغه اووئيل چې يو ورځ نهه او په دويمه لس،نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې بس هغوئ خو نهه سوه يا زر دی.پس مشرکان مسلمانانو نه درې چنده وو (۱)والله اعلم.

ليکن ياد ساتئ چې عربو داسې وائی چې ماسره خو زر دی ليکن ماته ضرورت دې د داسې دوه چندو دې او مراد ددې نه درې زره وی.نو څه مشکل باقی پاتې نشو.خويو سوال بل دې چې دا قرآن پاک کښې دی چې﴿وَإِذْ يُرِيكَهُمُوهُمْ إِذِ الْتَقَيْتُمْ فِي أَعْيُنِكُمْ قَلِيلًا وَيُقَلِّلُكُمْ فِي أَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللهُ أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا﴾ يعنی يعنی هر کله چې تاسو يو بل ته مخامخ راغلئ نو الله هغوی تاسو ته کم ښکاره کړل او تاسو ئې د هغوی په سترګو کښې کم ښکاره کړئ دې د پاره چې الله کومه فيصله کړې ده هغه اوشی،پس د دې آيت نه دا معلومه شوه چې د خپل اصل تعداد نه هم کم ښکاره شول او د پورتنی آيت نه معلوميږی چې زيات بلکه دوچنده ښکاره شول نو په دې دواړو آيتونو کښې به تطبيق څه وی؟

ددې جواب دا دې چې د دې وخت بل وو،ابن مسعود ﷺ فرمائی چې د بدر په ورځ مونږ ته مشرکان زيات نه ښکاريدل،مونږ غور سره اوکتل نوهم دا معلوم شو چې هغوئ زمونږ نه زيات نه دی په شمير کښې.بل روايت کښې دی چې د مشرکانو تعداد مونږ ته دومره کم معلوم شو ما ځان پورې يو سړی ته اووئيل چې دا خلق خو به اويا کسان وی،هغه اووئيل چې نه سل به وی.هرکله چې هغوئ کښې يو کس اونيولې شو نو د هغه نه د مشرکانو د شمير باره کښې تپوس اوشو نو هغه اووئيل چې زر دی،(۲) اوس کله چې دواړه فريق د يو بل مخامخ اودريدل نو مسلمانانو ته معلوم شو چې مشرکان زمونږ نه دوچند دی،ددې وجې چې هغوئ ته د خپلې کمزورئ يقين اوشی.او دوی په الله ﷻ باندې بهروسه اوکړی.او دخپل رب نه د مدد غوښتلو د پاره د هغه نه دعا اوکړی.همداشان مشرکانوته د مسلمانانو تعداد

---

(۱) السيرة لابن هشام:۲/۲۷،)-

(۲) الطبری: ۶/۲۳۶)-

Scanned with CamS

دوچند معلوم شی چې په هغوئ باندې رعب او ویره راشی.او د هغوئ پریشانی او ویره زیاته شی .بیا چې کله دواړه ډلې وړاندې شو او جنګ اوشو نو هر فریق ته بل په خپل نسبت سره کم په نظر راتلو چې هر یو د زړه ښکاره حوصلې راوباسی.او الله ﷻ د حق او باطل فیصله صفا کړی.ایمان کفر باندې غالب راشی،مومنانو ته عزت او کفارو ته ذلت ملاوُ شی.لکه بل ځائې کښې دی چې﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ﴾یعنی البته الله ﷻ د بدر په ورځ ستاسو مدد اوکړو حالانکه تاسو په هغه وخت کښې کمزوری وئ.چې ددې دلته هم اوفرمائیل الله ﷻ چې چالره غواړی خپل مدد سره نې قوی کړی.

قوله تعالی:-اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِی الْاَبْصَارِ

بیا فرمائی چې په دې کښې عبرت دې او نصیحت دې د هغه سړی دپاره چې کوم سترګو والا وی او د هغه دماغ صحیح سالم وی،هغه دالله ﷻ احکام پورا کوی اوپوهه به شی چې الله ﷻ دخپلو خوښو بندګانو په دې جهان کښې هم مدد کوی او د قیامت په ورځ به هم دوی لره بچ کړی.

زُيِّنَ	لِلنَّاسِ
	ښائیسته جوړ کړې شوې دې | خلقوته
	.....خلقو ته ښائسته کړې شوی دی
حُبُّ الشَّهَوٰتِ	مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ
محبت دزړۀ غوښتنکوخیزونو	لکه ښځی | او ځامن | او خزانې | جمع شوی |
نفسانی خواهشات لکه ښځې او ځامن (شو) او کومې خزانې چې جمع شوی وی	
مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ	وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ وَالْاَنْعَامِ وَالْحَرْثِ ؕ
دسرو زرو | او دسپینو زرو | او اسونه | نښه دار | او څاروی | او دفصل زمکې |	
د سرواوسپینو زرو (کالی شول) او آسونه (شول) څاروی او زمکې (پټی)	
ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ	وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ ۝ قُلْ
دا | سامان دې | دژوند د دنیا | او الله چې دې | دې دهغه سره | ښۀ ځائې | د ورتلو | ورته اوویه	
دا د دنیادژوندسامان دې |اوښه ځائې اوښۀ سامان خوالله سره دې | .....(ائې پیغمبره)! دوی ته اوویه	
اَؤُنَبِّئُكُمْ	بِخَيْرٍ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اتَّقَوْا
آیا زۀ خبردرکړم تاسو ته | د بهتر څیز | د دغونه | دی دپاره دهغه کسانو | چې د تقوی لاړ نې اختیار کړه	
چې آیا خه تاسو ته ددې (مال واسباب) نه ښۀ څیز او ښایم |څوک چې پرهیزګار دی	
عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتٌ	تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا
په نیز | درب خپل | باغونه | چې بهیږی به | لاندې دهغې نه | نهرونه | چې همیشه به وی | په هغې کښې	
هغوئ دپاره دخپل رب سره داسې باغونه دی |چې دهغې د(ونو)لاندې نهرونه بهیږی |هغه ځائې کښې به همیشه اوسیږی	
وَاَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ	وَّرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ۝
اووی به بیبیانې | پاکې | او رضا | دطرفه دالله نه | او الله | نظر لرونکې دې | په بنده ګانو	
اوپاکې بیبیانې به نې وی |اوالله پاک به تري راضی وی | اوالله پاک دخپلو بندګانوعملونه وینی ګوری	

Scanned with CamSc

قوله تعالى:- زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ الشَّهَوٰتِ مِنَ النِّسَآءِ وَالْبَنِيْنَ

د دنيا مال واسباب عارضی او فانی دي:- الله ﷻ بيان فرمائی چې ددنيا ژوند کښې رنګ په رنګ زينتونه ورکړې شوی دی.

د ښځو فتنه:- په دې ټولو ځيزونوکښې ئې د ټولو نه مخکښې دښځو بيان اوکړو،ځکه چې ددې فتنه ډيره زبردسته ده،صحيح بخاری کښې حديث دې چې رسول الله ﷺ فرمائی چې ما د خان نه پس په سړو باندې د ښځو نه زياته ضرريناکه فتنه بله نه ده پريښې.(۱)

د دې دنيا بهترينه فائده ښځه ده:- خو که يو سړې نکاح اوکړی او د ده نيت د زنا نه بچ کيدل وی او د اولاد کثرت وی نو بيشکه دا نيک کار دي.ددې رغبت شريعت ورکړې دې.او ددې حکم ئې کړې دې او ډيرو احاديثو کښې دنکاح کولو فضيلت راغلې دې او په دې په امت کښې دټولو نه زيات بهتر سړې هغه دې چې دچا ښځې زياتې وی.(۲)رسول الله ﷺ فرمائی چې دنيا يو فائده ده او د دې بهترينه فائده نيکه ښځه ده (۳)چې کله خاوند دې طرفته اوګوری نو هغه خوشحاله کړی او کله چې دې ته حکم اوکړی نودائې پورا کوی او چې چرته لاړشی نو دخپل نفس او د خاوند دمال حفاظت کوی.(۴)بل حديث کښې دی چې ما ته ښځې او خوشبو ډير خوښ دی او زماد سترګو يخوالئ په مونځ کښې دی.(۵)

رسول الله ﷺ ته د ټولو نه زياتې خوښې ښځې وې:- حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چې رسول الله ﷺ ته دټولو نه زياتې خوښې ښځې وې.او اسونه ئې ددې نه هم زيات خوښ وو.او روايت کښې دی چې د آسونونه رسول الله ﷺ ته زيات خوښ ځيز بل څه نه وو آو صرف ښځې وې.(۶) نو د ښځو محبت ښه هم دې او خراب هم.دا شان د هلکانو که هغوئ د دوی کثرت غواړی چې پرې فخر او غرور اوکړی نودا خراب ځيز دې اوکه ددې وجې د هغوئ زياتې غواړی چې نسل زيات شی او د موحد مسلمانانو شمير په امت محمد ﷺ کښې زيات شی نو بيشکه دا ښه ځيز دې.

محبت کوونکي او د زيات اولاد زيږونکو ښځو فضيلت:- حديث مبارک کښې دی چې محبت والا او زيات اولاد والا ښځو سره نکاح اوکړئ.دقيامت په ورځ به زهٔ ستاسو په زيات شمير فخر کوم.(۷)همداشان مال هم دې که ددې محبت پيدا شی اوددې په وجه خلقوته سپک ګوری او په غريبانانو اومسکينانو فخر اوکړی نو دا ډير خراب ځيز دي.او که دمال محبت خپلو او پردو سره د ښه سلوک کولو،نيکئ کولو اوپه ښه لاروکښې د خرچ کولو دپاره وی نو همدا شان دا ښه او ډير ښه ځيز دې.

قوله تعالى:- وَالْقَنَاطِيْرِ الْمُقَنْطَرَةِ

قنطار څومره مقدار ته وئيلې شی:- د﴿ قِنْطَار ﴾مقدار کښې د مفسرينو اختلاف دې.خو حاصل د کلام دادی چې ډيرزيات مال ته قنطار وئيلې شی.لکه د ضحاك رحمه الله قول دې او نور اقوال هم اوګورئ، زر دينار،سل ديناره،دولس سوه ديناره،دولس زره ديناره،څلويښت زره ديناره،شپيته زره ديناره،اتيا زره دينار وغيره وغيره.د مسند احمد يو مرفوع حديث کښې دی چې يو قنطار د دولسو سوو اوقيو

---

۱) صحيح بخاری كتاب النكاح باب ما يتقى من شوم المراة : ۵۰۹۶، صحيح مسلم: ۲۷۴۰، ترمذی: ۲۷۸۰، ابن ماجة: ۳۹۹۸)-
۲) صحيح بخاری كتاب النكاح باب كثرة النساء:۵۰۶۹، موقوفا على ابن عباس رضی الله عنه)-
۳) صحيح مسلم كتاب الرضاع باب خير متاع الدنيا المراة الصالحة: ۱۴۶۹)-
۴) ابن ماجة كتاب النكاح باب فضل النساء : ۱۸۵۷، وسنده ضعيف جدا)-
۵) نسائی كتاب عشرة النساء باب حب النساء : ۳۳۹۲، وسنده حسن)-
۶) نسائی : كتاب عشرة النساء باب حب النساء: ۳۳۹۳، عن انس رضی الله عنه وسنده ضعيف , قتاده مدلس دې او د سماع صراحت نشته)-
۷) احمد: ۱۵۸/۳، وسنده حسن ابن حبان : ۴۰۲۸، بيهقی: ۳۶۶۰/۷)-

Scanned with CamSc

وی او هره اوقیه بهتر ده د زمکې او اسمان نه.(۱) (غالبا دلته مقدار د ثواب بیان شوې دې چې یو قنطار به ملاویږی والله اعلم).

حضرت ابوهریره ﷺ نه همدا شان یو موقوف حدیث مروی دې او هم دا زیات صحیح دې،همدا شان ابن جریر کښې د معاذ بن جبل او ابن عمر ﷺ نه مروی حدیث کښې دولس سوه اوقیه راغلی دی.(۲)لیکن هغه حدیث هم منکر دې،ممکن دی چې هغه د ابی ابن کعب ﷺ قول وی.لکه څنګه چې د نورو صحابه کرامو ﷺ هم دا فرمان دې.ابن مردویه کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائی چې کوم سړې سل آیتونه اووائی نو هغه به غافلانو نه نۀ وی او چې چا د سلو نه تر زرو پورې اوونیل،هغه ته به الله ﷻ یو قنطار اجر ورکړی او قنطار د لوئې غر برابر دې.(۳) مستدرك حاکم کښې دی چې د دې آیت د دې لفظ مطلب د رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې دوه زره اوقیه.(۴)امام حاکم دې ته صحیح او د شیخینو په شرط ښائی.بخاری او مسلم دا نه دې راوړې.طبرانی وغیره کښې دی چې زر دیناره (۵)حسن بصری رحمه الله نه موقوفا یا مرفوعا مروی دی چې دولس سوه دیناره.ابن عباس ﷺ نه هم دا مروی دی.ضحاك رحمه الله فرمائی چې بعضې خلق قنطار د دولسو سوۀ دینارو ښائی.لیکن صحیح دادی چې ابو سعید خدری ﷺ فرمائی چې د غوئی څرمن چې د سرو زرونه ډکه شی نو دې ته قنطار وائی.دا مرفوعا هم دې لیکن زیات صحیح موقوفا دې.

د اسونو مینه لول:-د اسونو محبت په دری قسمه دې.یو خوهغه خلق دی چې اسونه ساتی او د الله تعالی په لار کښې اوخی او په هغې جهاد کوی نو د داسې خلقو د پاره دا اسونه د اجر او ثواب ذریعه او سبب ګرځی،دویم هغه خلق چې د فخر او غرور د پاره نې ساتی دا هغوی دپاره وبال دې.دریم قسم هغه خلق دی چې دسوال نه د بچ کیدو دپاره او ددې د نسل دحفاظت دپاره نې پالی او د الله ﷻ حق نه هیروی،دا نه اجر دې اونه عذاب.هم ددې مضمون حدیث په آیت ﴿وَاَعِدُّوْا لَهُمْ﴾ تفسیر کښې به راشی (انشاءالله تعالی).

د ﴿وَالْخَيْلِ الْمُسَوَّمَةِ﴾ معنی څریدو والا وغیره ده.رسول الله ﷺ فرمائی چې هر عربی اس سحر د مونځ په وخت کښې د الله ﷻ اجازت سره دوه دعاګانې کوی.وائی چې انې الله ﷻ ! تا چې زۀ د چا په لاس کښې ورکړې هم د هغه په زړه کښې د هغه د اهل وعیال نه زما محبت زیات کړی.(۶)

قوله تعالی:-وَالْاَنْعَامِ نه مراد اوښ،چیلۍ او غواګانې دی.

قوله تعالی:-وَالْحَرْثِ ټه مراد هغه زمکه ده چې دکردپاره یا د باغ لګولو دپاره تیاره کړې شی.د مسند احمد حدیث کښې دی چې د انسان بهترین مال زیات نسل والا اسونه دی او زیاتې میوه داړې د کهجورو ونې دی.(۷)

قوله تعالی:-ذٰلِكَ مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الْمَاٰبِ

بیا فرمائی چې داټول د دنیاوی فائدې څیزونه دی،د دې ځائې زینت ،ددې محبت هغه څیزونه دی چې فانی او زوال والا دی.د ښه واپس کیدو ځائې او دبهترین ثواب ځائې الله ﷻ سره دې مسند احمد کښې دی چې کله دا آیت نازل شو نو عمربن خطاب ﷺ اوفرمائیل چې انې الله ﷻ ! هرکله چې تا دې ته زینت ورکړو نو اوس د دې نه پس به څه وی؟نو دې نه پس په دې باندې راتلونکې آیت نازل شو

---

(۱) احمد: ۳۶۳/۲، ابن ماجة کتاب الادب باب برالوالدین: ۳۶۶۰، وسنده حسن)-
(۲) ابن جریر)-
(۳) ابن مردویه)-.
(۴) حاکم : ۱۷۸/۲،)-
(۵) اوګوری حدیث سابق).
(۶) نسائي : کتاب الخیل باب دعوة الخیل : ۳۶۰۹، وسنده صحیح)-
(۷) احمد: ۴۶۸/۳،)-

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:- قُلْ أَؤُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرٍ مِّن ذَٰلِكُمْ ۚ
چې اې پیغمبر ﷺ اووایه دوی ته چې زهٔ تاسوته ددې نه بهترین څیز اوښایم دا خو یو نه یو ورځ فانی کیدونکې دي او زهٔ تاسو لره چې کوم طرفته بلم هغه نه صرف همیشګیر دي بلکه ټول عمر به باقی وی.واورئی دالله ﷻ نه ویریدنکو دپاره جنت دي،چې د هغې د ونو مینځ کښې به قسم قسم نهرونه بهیږی،د شهدو اوپئیو اوشرابو اودپاکو اوبو،او هغه نعمتونه چې نه یوغوږ اوریدلی وی او نه یو سترګې لیدلی وی اونه په یو زړه کښې دهغې خیال راغلې وی.په دې جنتونوکښې به دا خلق همیشه همیشه وی.نه خو دوی د دې نه ویستلې شی او نه به ددوی نعمتونه کم کړې شی.دوی ته به بیبیانې ملاویږی چې دخباثت او ګندګئ نه به بالکل پاکې وی او نه هغوئ ته حیض رازی او نه نفاس بالکل پاکې به وی.او د دې ټولو نه زیات دا چې دوی ته به دالله ﷻ رضا حاصله شی.او داسې چې ددې نه پس به د دوی نه نه خفه کیږی،ددې وجې سورت توبه کښې یو آیت کښې فرمائ چې ﴿وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ۚ﴾ د الله ﷻ د لرې رضامندئ حاصلیدل هم دټولو نه لوئې څیز دي.یعنی د ټولو نعمتونو نه اعلی او د رب د مرضئ مطابق نعمتونه.ټول په ټوله بندګان دالله ﷻ په نظر کښې دی او هغه پاک ذات ته ښه معلوم دی چې څوک د مهربانئ مستحق دي.

اَلَّذِيْنَ	يَقُوْلُوْنَ	رَبَّنَآ	اِنَّنَآ	اٰمَنَّا	فَاغْفِرْ لَنَا
داکسان دی	چې وائي	اې ربه زمونږه	بیشکه مونږه	ایمان راوړو	نوببښنه اوکړه مونږته
دا هغه خلق دی چې وائي اې زمونږه ربه مونږ په تاایمان راوړې دي نومونږ ته اوببښه					
ذُنُوْبَنَا	وَقِنَا	عَذَابَ النَّارِ ۝	اَلصّٰبِرِيْنَ	وَالصّٰدِقِيْنَ	
دګناهونو زمونږه	او بچ کړه مونږه	دعذاب د اور نه	دا خلق صبر کونکی دی	صادقان دی	
ګناهونه زمونږ	اودعذاب نه موږه امان کښې اوساته	.....	دوئ صبر کونکی دی	رښتونی دی	
وَالْقٰنِتِيْنَ	وَالْمُنْفِقِيْنَ	وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ	بِالْاَسْحَارِ ۝		
او فرمان منونکی دی	او خرچ کونکی دی	او ببښنه غوښتونکی دی	په اخردشپو کښې		
تابعدار دی	خیراتونه ورکوی	اود شپې په اخری حصه کښې دببښنې دعاګانې غواړی			

قوله تعالی:- اَلَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ
دسحر وخت کښې د استغفاروئیلو فضیلت:- الله ﷻ د خپلو بندګانو اوصاف بیان فرمائی چې هغوئ وائی چې اې الله ﷻ مونږ ستا په ذات باندې اوستا په کتاب اوستا رسول ﷺ باندې ایمان راوړې دي.اې الله ﷻ ته زمونږ ګناهونه معاف کړه ستا په ذات باندې ددې ایمان او ددې شریعت په بدله کښې او مونږ د جهنم اور نه اوساتې،دا متقیان خلق د الله ﷻ اطاعت کوی او د حرامو څیزونو نه ځان ساتی.د صبر نه کار اخلی.او د خپل ایمان په دعوی کښې هم رښتونی دی.ټول اعمال د خیر کوی اګر چې د دوی په نفس دا کول ګران وی.دوی اطاعت او خضوع او خشوع والا دی.خپل مال دالله ﷻ لار کښې خرچ کوی چې کوم ځائې کښې دوی ته حکم کیږی.صله رحمئ کښې،رشته دارئ لره باقی ساتلو کښې،د بدو نه منع کولوکښې،همدردی کولو کښې،اونیکئ کولو کښې،دحاجتمندو،مسکینانو اوفقیرانو سره احسان کولو کښې سخاوت کوی.اوسحر وخت کښې په روستئ شپه کښې پاسی او استغفار کوی.ددې نه معلوم شو چې په دې وخت کښې استغفار ډیر فضیلت والا دي.دا هم اووئیلې شو چې د قرآن پاک په هغه آیت کښې چې یعقوب ﷺ خپلو بچو ته فرمائیلی وو چې ﴿قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي ۖ﴾ یعنی اوس لږ وخت پس به زهٔ تاسولره د خپل رب نه بخښنه غواړم).

Scanned with CamS

دې نه مراد هم د پیشمنی وخت دې خپل اولاد ته فرمائی چې زهٔ به د پیشمنی په وخت کښې ستاسو د پاره استغفار کوم،

په اخر د شپه کښې د الله ﷻ اسمان د دنیا ته راتګ:- بخاری اومسلم کښې یو حدیث کښې دی او دا حدیث د ډیرو صحابه کرامو ﷺ نه نقل دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله ﷻ هره شپه په آخر شپه کښې آسمان د دنیا ته راشی او فرمائی چې څوک سائل شته چې زهٔ ورته ورکړم؟ څوک دعا غوښتلووالا شته دې چې زهٔ ئې دعا قبوله کړم.څوک استغفار والا شته دې چې زهٔ ئې اوبخښم.(۱)

د رسول الله ﷺ وترو له اخرې حصې د شپې کښې کول:-حافظ ابوالحسن دارقطنی رحمه الله په دې مسئله باندې یو مستقل کتاب لیکلې دې او په هغې کښې ئې دیو حدیث ټول سندونه اوټول الفاظ واردکړی دی.بخاری اومسلم کښې عائشه رضی الله عنها نه مروی دی چې رسول الله ﷺ اوله شپه اومینځنۍ شپه او آخری شپه کښې وتر کړی وو.د ټولونه آخری وخت د د رسول الله ﷺ د وترو کولو هغه د پیشمنی وخت وو.(۲)

په اخر د شپه کښې د بعضې صحابه کرامو ﷺ د استغفار معمول:- عبدالله بن عمر ﷺ به د شپې تهجد کول او د خپل غلام نافع رحمه الله نه به ئې تپوس کولو چې سحر شو؟هرکله چې هغه اوونیل چې آو نو بیا به دوی تر صبا صادق پورې په دعااواستغفار کښې مشغول وو(۳)حاطب رحمه الله فرمائی چې د سحر په وخت کښې ما واوریدل چې یو سړې د مسجد په یوګوټ کښې وانی چې انې الله ﷻ ! تا ماته حکم اوکړو او ما اومنلو.دا د سحر وخت دې ما اوبخښه،ما اوکتل نو هغه عبدالله بن مسعود ﷺ وو.انس بن مالك ﷺ فرمائی چې مونږ ته به حکم کیدو چې مونږ د تهجد مونځ ادا کړو نو د سحر آخری وخت کښې اویا خل استغفار کوؤ.او د الله ﷻ نه دعا اوغواړو.

شَهِدَ اللّٰهُ	اَنَّهٗ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	وَالْمَلٰٓئِكَةُ
گواهی کړی ده الله| په دې شان|چې نشته لائق دعبادت| مګر|هم هغه دې| او(دګواهی) فرینښتو هم کړی ده					
الله پاک په دې خبره ګواه دې	چې بغیر دهغه نه بل څوک د عبادت لائق نشته				.....اوفرښتې
وَاُولُوا الْعِلْمِ	قَآئِمًۢا	بِالْقِسْطِ ؕ	لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ الْعَزِيْزُ
او خاوندان دعلم| مضبوط ولاړ دی	په انصاف |چې نشته دې هیڅوک لائق دعبادت|مګر|هم دغه غالب					
اوعالمان په دې خبره ګواه دی| اوپه انصاف محکم ولاړ دی	بې دالله نه بل څوک معبود نشته	هغه						
الْحَكِيْمُ ﴿۱۸﴾	اِنَّ الدِّيْنَ	عِنْدَ اللّٰهِ	الْاِسْلَامُ ۗ قف	وَمَا	اخْتَلَفَ الَّذِيْنَ
اوحکیم دې	بیشکه	دین	په نیز دالله| صرف اسلام دې|اونۀ وو کړې| اختلاف| هغه کسانو|				
غالب او صاحب د حکمت دې	دالله پاک په نیز(مقبول)ترین دین صرف اسلام دې	اواهل کتابو چې کوم			
اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	اِلَّا	مِنْۢ بَعْدِ مَا	جَآءَهُمُ	الْعِلْمُ	بَغْيًۢا
چې ورکړې شوې وو	اورته کتاب	مګر	روستو دهغې نه	چې راغې هغوئ ته	علم	په وجه دزیاتی کولو			
اختلف کړې دې هغه د علم راتلونه پس دې	دهغې وجه صرف داده چې پخپل مینځ کښې ئې ضد کولو						

---

۱) صحیح بخاری کتاب التهجد باب الدعاء والصلاة من اخر اللیل : ۱۱٤٥، صحیح مسلم: ۷۵۷، ابوداود: ۱۳۱۵)-
۲)صحیح بخاری کتاب الوترساعات الوتر:۹۹٦، صحیح مسلم:۱۷۳٦، ابوداود: ۱٤۳۵، نسائی: ٦۸۲، ترمذی: ٤۵٦،ابن ماجة: ۱۱۸۵)
۳) ابن ابی حاتم : ۱٤۵/۲)-

Scanned with CamSc

بَيْنَهُمْ ط وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝
په خپل منځ کښې|اوځوک چې انکارکوی |دآیتونو دالله نه| نو بیشکه الله| زرحساب اغستونکې دې
اوځوک چې دالله پاک دآیتونونه انکاری وی |نو بیشکه الله پاک حساب اخستلو کښې ډیر تیز دې
فَاِنْ حَآجُّوْكَ فَقُلْ اَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلّٰهِ
نوکه چرې	جګړه کوی تا سره دا خلق	نو ورته اوویه چې	تابع کړې دې	ځان خپل	الله ته
اوکه هم دوی تاسره جنګ کوی	نوته ورته اووایه چې ما خپل ځان دالله پاک د حکم تابع کړې دې
وَمَنِ اتَّبَعَنِ ط وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ
اوهغه څوک چې تابعداری کوی زما| اواوویه| هغه کسانو ته|چې ورکړې شوې دې کتاب| او امیانو ته
اوهغه چا هم چې زماتابعدار دی	او داهل کتاب او امیانونه (مشرکانو)نه تپوس اوکړه
ءَاَسْلَمْتُمْ ط فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ
آیا تاسو هم ځان تابع کړې دې هغه ته	نو که هغوئ هم ځان تابع کړو د الله	نوبیشکه	
چې آیاتاسوهم دهغه حکمونه منئ	.....نوکه دوی تابعدار وی	نو یقینا
اهْتَدَوْا ج وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ط وَاللّٰهُ
چې وې موندله نیغه لار	اوکه	مخ ئې واړوؤ	نو بیشکه چې	په تا باندې|رسونه ده دپیغام	اوالله
سمه لار ئې بیاموندہ	اوکه ددې نه ئې مخ اوګرزولو	نو ستاکارخوصرف(دحق آواز) رسول دی	اوالله
بَصِيْرٌ م بِالْعِبَادِ ۝ ع
کتونکې دې	د معاملاتو دبندګانو	
دبندګانو کارونه وینې ګوری

قوله تعالی:- شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ

الله ﷻ ته صرف دین اسلام مقبول دي:- الله ﷻ پخپله شهادت ورکوی نود هغه پاك ذات شهادت کافی دې.هغه دټولونه زیات ریښتونې اوشاهد دې.د ټولو نه زیاته ریښتونې خبره دهغه پاك ذات ده.هغه پاك ذات فرمائی چې ټول مخلوق د هغه پاك ذات غلام دې.او هغه ذات ټول پیدا کړی دی.او هم د هغه پاك ذات ټول محتاج دی.هغه دټولو نه بې نیاز دې.الوهیت کښې هغه یودې او لاشریك دې.د هغه لونې ذات نه بل څوك دسجدې لائق نشته دې،لکه فرمان دې چې ﴿لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ﴾ یعنی لیکن الله ﷻ د دې کتاب په ذریعه چې تا ته کوم علم د خپل طرفنه نازلوی(هغه د دې) ګواهی ورکوی او فرښتې هم ګواهی ورکوی او د الله ﷻ شهادت کافی دې.

قوله تعالی:- وَالْمَلٰٓئِكَةُ وَاُولُوا الْعِلْمِ قَآئِمًۢا بِالْقِسْطِ ط

د علماء کرامو فضیلت:- بیا خپل شهادت سره د فرښتو او علماء کرامو شهادت یو ځائې کوی.دې ځائې کښې د علماء کرامو ډېر لوئې فضیلت هم ثابتیږی.بلکه خصوصیت ﴿قَآئِمًۢا﴾ د نصب د حال کیدو په وجه سره دې.هغه پاك ذات په هر حال او هر حالت کښې همداشان دې،بیا د تاکید په طور دوباره اشاره کوی چې معبود حقیقی صرف هغه پاك ذات دې اوهغه غالب او عظمت او لوئې والا دې او هغه لونې ذات په خپلو اقوالو او افعالو قدرت او تقدیر کښې حکمتونو والا دې.

Scanned with CamSc

د دې ایت په حقله د رسول الله ﷺ عمل مبارک:- مسند احمد کښې دی چې رسول الله ﷺ د عرفات په ورځ د دې آیت تلاوت اوفرمائیلو او﴿ الحکیم ﴾ پورې نې اولوستلو او وې فرمائیل چې﴿ وانا علی ذالك من الشاهدین یارب ﴾(۱) ابن ابی حاتم رحمه الله کښې دی چې رسول الله ﷺ دا شان اوفرمائیل چې﴿ وانا اشهد ای رب ﴾ (۲).طبرانی کښې دی چې حضرت غالب قطان رحمه الله فرمائی چې زهٔ کوفې ته د تجارت په غرض لاړم حضرت اعمش ته نزدې پاتې شوم،د شپې حضرت اعمش تهجدو د پاره پاسیدو او تهجد کولو کولو کښې چې کله ئې دا آیت﴿اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾اولوستلو نو وې فرمائیل﴿وانا اشهد بما شهد الله به واستودع الله هذه الشهادة وهی لی عند الله ودیعة﴾ یعنی زهٔ گواهی ورکوم د هغه ذات چې د هغه شهادت الله ﷻ ورکړې دې او زهٔ دا شهادت الله ﷻ ته سپارم،دا زما امانت الله تعالی سره دې.

بیا ئې څو خل﴿اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾اووئیلو،ما زړه کښې خیال اوکړو چې شاید دې باره کښې دوی څه حدیث مبارک اوریدلې وی.سحر سحر حاضر شوم او عرض مې اوکړو چې ائې ابومحمد اځه خبره وه چې تاسو دا آیت باربار لوستلو.وې فرمائیل چې تاته ددې فضیلت نه دې معلوم؟ما اووئیل زهٔ خو ټوله میاشت ستاسو په خدمت کښې حاضر اووم لیکن تاسو څه حدیث نه دې بیان کړې.وې فرمائیل چې د الله ﷻ قسم چې زهٔ به ئې ټول کال بیان نه کړم.ما د دې حدیث آوریدو دپاره یو کال انتظار اوکړو او د هغوئ دروازه باندې پروت ووم.هرکله چې هغه کال مکمل شو نو ما اووئیل چې ائې ابو محمد کال خو تیر شو.نو هغوئ اووئیل چې ښه ده واوره.ابو وائل حدیث بیان کړېدې او هغه د عبدالله نه اوریدلې دې .هغه فرمائی چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې د دې ویوونکې به د قیامت په ورځ راوستلې شی اوالله ﷻ به اوفرمائی چې زما دې بنده زما نه وعده اخستې ده اوما وعده پورا کړه.زهٔ په وعده پوره کولو کښې د ټولو نه زیات یم زما دابنده جنت ته داخل کړئ.(۳)

قوله تعالی:- اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ

بیا الله ﷻ فرمائی چې هغه صرف اسلام لره قبلوی،اسلام په هره زمانه کښې د پیغمبر د وحی منلو نوم دی.د ټولو نه آخری او د ټولو رسولانو خاتم زمونږ پیغمبر محمد ﷺ دی،د رسول الله ﷺ نبوت نه پس ټولې لارې بندې شوې،اوس چې کوم سړې د رسول الله ﷺ د شریعت نه سوا په بل څیز باندې عمل کوی نود الله ﷻ په نیز هغه دیندار نه دې لکه بل ځانې کښې فرمائی چې﴿وَمَنْ یَّبْتَغِ غَیْرَ الْاِسْلَامِ دِیْنًا فَلَنْ یُّقْبَلَ مِنْهُ﴾چې کوم سړې د اسلام نه سوا بل دین لره خپل کړی نو هغه به نشی قبلولې.همداشان په دې آیت کښې د دین انحصار صرف په اسلام باندې دې.

د ان د همزې کسره او فتحه کښې اختلاف دې:- د ابن عباس رضی الله عنه قرات کښې﴿شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ﴾(د ان د همزې په کسرې سره)دې او﴿ ان الاسلام ﴾(په ځائې د ان الدین) دې.نومعنی به دا وی چې پخپله الله ﷻ گواهی ورکړې ده او هغه فرښتو او ذی علم انسانانو چې الله ﷻ ته مقبول دین صرف اوصرف اسلام دې.د جمهورو قرات کښې دا زیر سره دې.او د معنی لحاظ سره دواړه صحیح دی لیکن د جمورو قول زیات ظاهر دې.والله اعلم.

---

(۱) احمد: ۱۶۶/۱،طبرانی : ۲۵۰، مجمع الزوائد: ۳۲۸/۶، علم الیوم واللیلة لابن السنی: ۴۳۵، ابن ابی حاتم : ۲۴۶، ددې سند کښې جبیر بن عمرو القرشی ابوسعد الانصاری او ابو یحیی مولی آل زبیر مجهول راوی دې اوګورئی الموسوعة الحدیثیة ۳۷/۳ نو داحدیث پاک ضعیف دې)-

(۲) طبرانی: ۲۵۰، ددې سند کښې ابو سعید عمر بن حفص بن ثابت مجهول راوی دې نو دا حدیث پاک ضعیف دې)-

(۳) طبرانی : ۱۰۴۵۳، وسنده ضعیف علامه هیثمی رحمه الله مجمع الزوائد : ۳۲۶/۲، کښې فرمائی چه ددې سند کښې عمر بن مختار ضعیف راوی دې)-

Scanned with CamScanner

قوله تعالى:- ﴿وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ﴾
بيا ارشاد فرمائى چې مخكښينو اهل كتابو د خپلو پيغمبرانو په راتلواو او دالله ﷻ د كتاب نازليدو نه پس اختلاف اوكړو.او د دې وجه صرف په خپل مينځ كښې بغض او كينه وه.چې څوك دا وائى نو زهٔ د هغه خلاف يم اګر چې هغه حق وائى.

قوله تعالى:- ﴿وَمَنْ يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ﴾
بيا ارشاد دې چې هركله دالله ﷻ آيتونه نازل شو او څوك ددې انكار كوى او دا او نه منى نو الله ﷻ به هم هغه ته ددې تكذيب ډيره زرسزا وركړى.او دوى ته به د كتاب الله په مخالفت عذاب وركوى.او ده ته به ددې شرارت سزا وركوى.

قوله تعالى:- ﴿فَإِنْ حَاجُّوكَ فَقُلْ أَسْلَمْتُ وَجْهِيَ لِلَّهِ وَمَنِ اتَّبَعَنِ﴾
بيا فرمائى كه چرې دا خلق تاسره د خدائي د توحيد په حقله جنګ كوى نو ته اووايه چې زهٔ به خالص د الله ﷻ عبادت كوم او هغه لوئې ذات سره څوك شريك نشته دې اونه دهغه په شان څوك شته دې او نه د هغه اولاد شته دې او نه د هغه ښځه اوچې څوك هم زما امتى دې زما په دين دې،د دې ټولو قول هم دا دې لكه بل ځائې كښې فرمائى چې﴿قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي﴾يعنى همدا زما لار ده تاسو لره ښه په طريقه رابلم الله ﷻ طرفته زهٔ هم او زما تابعدار هم.

قوله تعالى:- ﴿وَقُلْ لِلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَالْأُمِّيِّينَ أَأَسْلَمْتُمْ﴾.....
بيا حكم كيږى چې ائې نبى ﷺ ! دې نصرانيانو او يهودو ته اووايه،چې د كومو په لاس كښې د الله ﷻ كتاب دې او دې مشركانو ته اووايه چې ستاسو د ټولو هدايت اسلام كښې دې او كه دوى ئې اونه منى نو هيڅ خبره نه ده،تاسو خپل فرض د تبليغ پورا كړو،الله ﷻ په ټولو ښه پوهيږى،ددې ټولو واپسى هغه لوئې ذات طرفته ده.چالره چې اوغواړى نو سمه لار ورته اوښائى او چالره چې اوغواړى نو ګمراه ئې كړى.هغه پاك ذات ته خپل حكمت ښه معلوم دې.دهغه حجت خو پورا كيږى،ټول بندګان دهغه په نظر كښې دى،هغه ته ټول ښه معلوم دى،د هدايت مستحق څوك دې،دګمراهئ مستحق څوك دې،د هغه پاك ذات نه هيڅوك تپوس كولو والا نشته دې.

دا آيت او ددې په شان نورو آيتونو نه دا خبره ښكاره ده چې رسول الله ﷺ ټول مخلوق ته الله تعالى خپل رسول جوړ كړې او راليګلې دې.اوپخپله د دوى ددين احكام په دې باندې دلالت كوى.او په كتاب وسنت كښې ډير آيتونه او احاديث په دې مضمون راغلې دى.قرآن پاك كښې دى چې﴿قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا﴾يعنى ائې خلقو ازهٔ ستاسو ټولو طرفته د الله رسول يم.او يو بل آيت كښې دى چې ﴿تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا﴾ يعنى بابركت دې هغه الله ﷻ چې هغه په خپل بنده باندې قرآن پاك نازل كړو،چې دا د دنيا والو د پاره تنبيه كولووالا جوړ شى.

بخارى او مسلم وغيره كښې ډير واقعات تواتر سره ثابت دى چې رسول الله ﷺ د چاپير چل ټولو بادشاهانو ته او نورو خلقو ته خطونه اوليكل او وې ليږل او په هغې كښې رسول الله ﷺ هغوئ ته دعوت وركړې وو كه هغه عرب وو او كه عجم،اهل كتاب وو اوكه بل مذهب والا وو،دا شان رسول الله ﷺ د تبليغ فرض كمال ته اورسولو.([1])

څوك چې د بې ايمانئ په حالت كښې مړ شو هغه جهنمى دې:- مسند عبدالرزاق كښې ابوهريره ﷺ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل چې په هغه الله ﷻ مې دې قسم وى چې د هغه په قبضه كښې زما سا ده،چې د دې امت كوم يو سړى ته زما د نبوت آواز اورسيدو او هغه په راوړې شوى څيز باندې ايمان راونړو كه هغه يهودى وى اوكه نصرانى او دې د دې بې ايمانئ حالت كښې مړ شو نو دې بالكل

[1]) صحيح بخارى كتاب العلم باب مايذكر فى المناولة وكتاب اهل العلم: ٦٥)-

Scanned with CamSc

جهنمی دی.(۱) مسلم شریف کښې هم یو حدیث دي زهٔ هر تور سپین طرفته د الله تعالی نبی جوړکړې شوې رالیږلې شوې یم.(۲)

نبی ﷺ د ټولو انسانانو د پاره رسول دي:- او یو حدیث پاک کښې دا هم دی چې هر نبی صرف خپل قوم ته رالیږلې کیږی مګر زهٔ ټولو انسانانو د پاره نبی جوړې کړې شوې او لیږلې شوې یم.(۳)

کلمه د شهادت د جهنم نه د خلاصی ذریعه ده:- مسند احمد کښې انس ﷺ نه روایت دي چې یو یهودی هلك بیمار شو او دې هلك به دنبی ﷺ دپاره اوبه ایښودې او د دوی پیزار به ئې راوړو.رسول الله ﷺ د هغه د بیمار پرسئ دپاره تشریف راوړو،په دغه وخت کښې د هغه پلار هم د هغه سر ته ناست وو.رسول الله ﷺ اوفرمانیل چې ائې فلانیه﴿ لا اله الا الله ﴾اووایه.هغه خپل پلار طرفته اوکتل.پلار ورته اوکتل او ورته ئې اوونیل چې د ابوالقاسم ﷺ خبره اومنه.نو هغه هلك اوونیل چې﴿ اشهد ان لا اله الا الله والك رسول الله ﴾.رسول الله ﷺ د هغه ځائې نه تشریف یوړو او دا ئې اوفرمانیل چې د الله ﷻ شکر دي چې هغه لونې ذات دا هلك زما په وجه د جهنم د اور نه بچ کړو.دا صحیح بخاری کښې امام بخاری رحمة الله علیه راوړې دي.(۴)د دوی نه سوا نور هم ډیر صحیح احادیث او د قرآن پاك آیتونه دی.

اِنَّ الَّذِیْنَ	یَکْفُرُوْنَ	بِاٰیٰتِ اللّٰهِ	
بیشکه هغه کسان	چې انکار کوی	د ایتونو دالله نه	
.....بیشکه کوم خلق چه د الله تعالی د آیاتونو نه انکارکوی			
وَیَقْتُلُوْنَ	النَّبِیّٖنَ	بِغَیْرِ حَقٍّ	وَّیَقْتُلُوْنَ الَّذِیْنَ یَاْمُرُوْنَ بِالْقِسْطِ
او وژنی	پیغمبران اپه ناحقه	او قتل کوی	اهغه کسان چې حکم کوی اپه انصاف کولوسره
اوپه ناحقه پیغمبران قتلوی اوهرهغه څوك قتلوی چې د(خلقو ترمینځ) دعدل اوانصاف کولو حکم کوی			
مِنَ النَّاسِ	فَبَشِّرْهُمْ	بِعَذَابٍ اَلِیْمٍ	اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ حَبِطَتْ
دخلقو نه	انوزیرې ورکړه	هغوئ ته د عذاب دردناك	هم دا هغه کسان دی چې ضائع شو
نوداسې کسانوته د دردناك عذاب زیرې ورکړه داهغه بدبخته خلق دی چې عملونه ئې ضائع شول			
اَعْمَالُهُمْ	فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ	وَمَا لَهُمْ	مِّنْ نّٰصِرِیْنَ
عملونه دهغوئ	په دنیا او په آخرت کښې	او نشته دپاره دهغوئ	هیڅ مددګاران
په دنیا اوآخرت دواړو کښې .....اودوئ سره مدد کونکې څوك نشته			

قوله تعالی:-اِنَّ الَّذِیْنَ یَکْفُرُوْنَ بِاٰیٰتِ اللّٰهِ

د یهودیانو د کفر او خپلو پیغمبرانو لره د قتل کولو په وجه مذمت:- دلته د هغه اهل کتابو مذمت بیانیږی چې کومو به د ګناه او حرمت کارونه کول.د الله ﷻ هغه خبرې ئې دروغ ګنړلې چې کومې هغه د محکمې وروستو د خپلو رسولانو په ذریعه لیږلې وې،.دومره نه بلکه پیغمبران به ئې قتل کول.او دومره سرکش وو چې کومو خلقو به دوی ته د عدل و انصاف خبرې کولې هغوئ به ئې ختمول.حدیث

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الایمان باب وجوب الایمان برسالة نبینا محمد: ۱۵۳)-
(۲) مسلم کتاب المساجد باب المساجد ومواضع الصلاة:۵۲۱)-
(۳) صحیح بخاری کتاب التیمم باب رقم: ۱ ح/۳۳۵، صحیح مسلم: ۵۲۱، نسائی: ۴۳۲)-
(۴) احمد: ۱۷۵/۳، صحیح بخاری کتاب الجنائز باب اذا سلم الصبی فمات: ۱۳۵۶، ابوداود: ۳۰۹۵)-

Scanned with CamSc

کښې دی چې کبر و غرور هم دا دې چې حق نه منل او حق منونکو لره ذلیل کول.(۱) مسند ابن ابی حاتم
کښې دی چې ابوعبیده بن جراح ﷺ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چې د ټولو نه زیات سخت عذاب به په چا وی؟ رسول الله ﷺ اوفرمانیل چې په هغه چا چې چا نبی قتل کړو یا نې یو داسې سړې قتل کړو چې هغه د نیکئ لار خودلو والا او د بدئ نه منع کولو والا وی.

قوله تعالی:- وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ حَقٍّ

بیا رسول الله ﷺ دا آیت مبارک تلاوت کړو او وې فرمانیل چې انې ابوعبیده ﷺ ! بنی اسرائیلو دې څلویښت نبیان د ورځې په اوله حصه کښې یو ساعت کښې قتل کړل، بیا نې یو سل اویا بنی اسرائیل ایماندار قتل کړل دا هغه ایماندار ه وو چې دوی نې د دې انبیاء د قتل نه منع کړې وو. او دوی ته به نې نیغه لار خودله او د بدئ نه به نې منع کول. او هغه ټول نې د دې ورځې په آخری حصه کښې قتل کړل په دې آیت کښې الله ﷻ دهغوئ ذکر کوی.(۲)

ابن جریر کښې دی چې عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چې بنی اسرائیلو دې سوه نبیان علیهم السلام د ورځې په شروع کښې قتل کړی وواومابنام سبزئ خرڅولو ته کښنیاستل(۳) نو ددې خلقو ددې سرکشئ په وجه الله ﷻ دوی په دنیا کښې خوار او ذلیل کړل. او آخرت کښې هم د دوی دپاره د رسوائئ بدترین عذاب تیار دې.

قوله تعالی:- فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ::ددې وجې فرمائی چې دوی ته د دردناك او ذلت والا عذاب خبر ورکړه.

قوله تعالی:- أُولَٰئِكَ الَّذِينَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ .....

ددوی اعمال په دنیا کښې هم خراب اوپه آخرت کښې هم برباد اوددوی به هیڅوك مددګار اوسفارشی نه وی.

أَلَمْ تَرَ	إِلَى الَّذِينَ	أُوتُوا	نَصِيبًا	مِّنَ الْكِتَابِ	يُدْعَوْنَ
آیاتا اونه لیدل	هغه کسان	چې ورکړې شوې وه	حصه	د کتاب نه	هغوئ چې اوبللې شی
آیا ته نه ګورې چې کوموخلقوته دالله د کتاب نه څه حصه ورکړې شوې ده	دهغوئ داحال دې چې د الله				
إِلَىٰ كِتَابِ اللَّهِ	لِيَحْكُمَ	بَيْنَهُمْ	ثُمَّ	يَتَوَلَّىٰ	فَرِيقٌ
کتاب دالله ته	چې فیصله اوکړی هغه	په منځ دهغوئ کښې	بیا	مخ اړوی	یوه ډله
کتاب ورته ورکړې شوې دې	په دې غرض چې ددوئ ترمینځه فیصله اوکړی	..... نوددوئ یوه ډله			
مِّنْهُمْ	وَهُم	مُّعْرِضُونَ ﴿٢٣﴾	ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ	قَالُوا	لَن تَمَسَّنَا
دهغوئ نه	او هغوئ	تل ډډه کونکی دحق نه	دا کار څکه کوی چې بیشکه هغوئ	وائی	هرګز به اونۀ رسیږی مونږته
ددې نه ډډه کوی	اودوئ همیشه د حق نه مخ ګرزولې دی	دا څکه چې ددوئ داخیال دې چې			
النَّارُ	إِلَّا	أَيَّامًا	مَّعْدُودَاتٍ	وَغَرَّهُمْ	فِي دِينِهِم	مَّا
اور	مګر	یوڅو ورځې	شمارلې شوی	او دهوکه کړی دی هغوئ په دین خپل کښې	هغه څیز	
د شمیر دیوڅوورځونه بغیر مونږ ته به هیڅکله ددوزخ اور نه اونه رسی	اوددین په باره کښې					

(۱) صحیح مسلم کتاب الایمان باب تحریم الکبر وبیانه: ۹۱)-
(۲) ابن ابی حاتم : ۱۶۲۰،۶/۲)-
(۳) الطبری: ۲۷۷۷،)-

Scanned with CamSc

كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾	فَكَيْفَ	اِذَا	جَمَعْنٰهُمْ	لِيَوْمٍ
چې جوړول به ئې دخان نه	انو څه حال به وی اکله چې	راجمع کړومونږه هغوئ	دپاره دهغه ورځ	
دوئ خپلودروغژنو خیالونوغولولی دی انوځنګه عجیبه به وی چې مونږ دوئ ټول په هغه ورځ راجمع کړو				
لَا رَيْبَ	فِيْهِ ؕ	وَوُفِّيَتْ	كُلُّ نَفْسٍ	مَّا كَسَبَتْ
چې نشته شك اپه هغې کښې اوپوره بدله به ورکړې شی		هرنفس ته	د هغه عمل چې کړې ئې وی	
چې دهغې په راجمع کولو کښې هیڅ شک نشته اوهریو کس ته دخپل عمل پوره پوره بدله ورکړې کیږی				
وَهُمْ	لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۵﴾			
او په هغوئ به	نۀ کیږی هیڅ ظلم			
اوپه دوئ به ظلم نه کیږی				

قوله تعالی:- اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُدْعَوْنَ اِلٰى كِتٰبِ اللّٰهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ.....

د یهودیانواو نصرا نیانو دعوې باطلی دی:- دلته الله ﷻ فرمائی چې دا یهود و نصاری پخپله دعوی کښې هم دروغژن دی.چې د دوی په تورات او انجیل باندې ایمان دې ځکه کله چې دوی ته د دوی د کتابونو د هدایت مطابق په نبی آخرالزمان باندې د ایمان راوړو اودرسول الله ﷺ تابعداریٔ طرفته راوبللې شی نو دوی مخ واړوی او تښتی.ددې نه د دوی سرکشی او تکبر او دښمنی او مخالفت ظاهریږی.

قوله تعالی:- ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدٰتٍ ۖ

ددې حق په مخالفت او په دې بې ځایه سرکشئ دوی دې څیز(تکبر وغیره) زړور کړی دی چې دوی د الله ﷻ په کتاب کښې داسې خبرې جوړوی چې هغه د الله تعالی کتاب کښې نشته دې او دوی دخپل طرفنه بیانوی چې مونږ خو به لږې ورځې په اورکښې یو.یعنی صرف اووۀ ورځې د دنیا حساب سره.د هر زر کاله پس یو ورځ،د دې پورا تفسیر په سورۃ بقره کښې تیر شوې دې.په باطل او د ځان جوړ شوې دین باندې دوی ولاړ وو.حالانکه دا د دوی خپل خیال دې،الله ﷻ نه داسې خبره کړې ده او نه د دوی څه کتابی دلیل دوی سره شته دې.

قوله تعالی:- فَكَيْفَ اِذَا جَمَعْنٰهُمْ لِيَوْمٍ لَّا رَيْبَ فِيْهِ ۖ

بیاالله ﷻ دوی رتی اودوی ته دهمکی ورکوی او فرمائی چې د دوی به دقیامت په ورځ څه حال وی؟ دوی په الله ﷻ باندې دروغ اوترل او د رسولانو تکذیب ئې اوکړو او حق علماء ئې قتل کړل.یو یو به الله ﷻ ته جواب ورکوی اود یویو ګناه سزا به مومی.دهغه ورځې په راتلوکښې هیڅ شك نشته دې.

قوله تعالی:- وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ

په هغه ورځ به هر سړی ته پورا پورا بدله ملاویږی.او په هیڅا به هیڅ ظلم نه کیږی.

قُلِ	اللّٰهُمَّ	مٰلِكَ الْمُلْكِ	تُؤْتِي الْمُلْكَ		
	اووایه	ای الله	مالکه دباشاهئ	ته ورکوې	بادشاهی
	(ائې پیغمبره)ته ورته اووایه چې ائې الله دبادشاهئ واکداره ورکوې بادشاهی				
مَنْ تَشَآءُ	وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ	مِمَّنْ تَشَآءُ ۚ	وَتُعِزُّ مَنْ		
هغه چاته چې ته اوغواړې	اواخلې	بادشاهی ادهغه چانه اچې ته اوغواړې	اوعزت ورکوې هغه چاته		
چاته چې اوغواړې	اودچانه چې اوغواړې	نو حکومت اخلې	.....او عزت ورکوې		

Scanned with CamScanner

تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ؕ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ؕ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
چې ته اوغواړې او ذلیله کوې اهغه څوک اچې اوغواړې ته په لاس ستا کښې خیر دې بیشکه ته په هرڅیز باند
چاته چې دې خوښه شې اوچاته چه اوغواړې نو ذلیل ئې کړې ټول خیر ستاپه لاس کښې دې بیشکه ته په هرڅیز
قَدِيْرٌ ۝ تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۫ وَتُخْرِجُ الْحَيَّ
قادر ئې	ته ننباسې	شپه	په ورځ کښې	اوته ننباسې	ورځ	په شپه کښې	او ته راوباسې	ژوندی
قدرت لرې	ته شپه په ورځ کښې داخلوې	او ورځ په شپه کښې داخلوې	اومړی نه
مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ ۫ وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ
د مړی نه	او ته را اوباسې	مړی	ژوندی نه	او ته رزق ورکوې اهغه چاته چې اوغواړې ته	بې
ژوندی راوباسې اود ژوندی نه مړی راوباسې	.....اوچاته چې اوغواړې نوبې حسابه روزی
حِسَابٍ ۝
حساب	
ورکوې	

قوله تعالی:-قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ

د عزت،ذلت او د کائنات ټول نظم د الله تعالی په اختیار کښې دې:- الله ﷻ فرمانی چې اې محمد ﷺ! تاسودخپل رب دتعظیم په توګه اودهغه لوئې ذات دشکر ادا کولواوهغه عظیم ذات ته دکارونو سپارلو دپاره او په هغه پاک ذات باندې د پورا بهروسې په توګه په دې الفاظو د هغهٔ لوئی بیان کړه چې کوم پورته بیان شول

قوله تعالی:-تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ

یعنی اې الله ﷻ مالك الملك هم ستا ذات دې چې ستا ملکیت کښې ټول جهان دې.چې چاته ته اوغواړې بادشاهی ورکوې او چې چاته ته اوغواړې نو اخلې تړې او هم ته ورکولو والا او اخستلو والا ئې.ته چې څه غواړې نو هغه کوې او څه چې نه غواړې نو هغه نشی کیدې.

په دې آیت کښې ددې خبرې هم تنبیه او د هغه نعمت د شکر ادا کولو هم حکم دې چې کوم رسول الله ﷺ ته او د رسول الله ﷺ امت ته ورکړې شو.او نبوت ئې دبنی اسرائیلو نه واخستو او محمد ﷺ ته ئې ورکړو.او رسول الله ﷺ علی الاطلاق د نبیانو علیهم السلام خاتم او دټول جن و انس طرفته رسول جوړ شوې لیږلې شوې وو.د رسول الله ﷺ ذات مبارك کښې ټولې مخکنۍ خوبۍ جمع دی.او رسول الله ﷺ ته هغه فضیلتونه ورکړې شو چې دکومو نه ټول نبیان علیهم السلام محروم وو،که هغه د الله ﷻ د طرفنه وو او که پخپله د دوی دشریعت معامله کښې وو اوکه راتلونکو خبرو متعلق وو.رسول الله ﷺ باندې ئې د آخرت ټول حقائق ښکاره کړل.د رسول الله ﷺ امت ئې د مشرق نه تر مغربه پورې خور کړو او د رسول الله ﷺ دین او مذهب ئې په ټولو مذهبونو باندې غالب کړو.د الله ﷻ درود و سلام دې وی په رسول الله ﷺ باندې او اوس نه واخله تر قیامته پورې ترکومې چې دشپې اوورځې تلل راتلل باقی وی.الله ﷻ دې په رسول الله ﷺ باندې رحمتونه نازل کړی همیشه همیشه دپاره.آمین.

قوله تعالی:-وَتُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ؕ بِيَدِكَ الْخَيْرُ ؕ

بیا فرمانی چې اووایه اې الله ﷻ ! هم ته په خپل مخلوق کښې ادلی بدلی کولې شې او چې څه غواړې نو هغه کوې.چې کوم خلق دا خبره کوی چې الله ﷻ په دې دواړو قبیلو کښې ولې په یو لونې سړی

Scanned with CamS

باندې خپل کلام نازل نه کړو؟ الله ﷻ د دې رد کښې فرمائی چې ﴿أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَةَ رَبِّكَ﴾ :یعنی آیا ستا د رب د رحمت تقسیمونکی دوی دی.او د دوی د روزئ مالکان هم مونږ یو.چې چاله اوغواړونو کمه ورکړو او چا لره اوغواړو نو زیاته.نو بیا مونږ باندې حکومت کولو والا دا څوک دې؟چې فلانې سړې نې ولې نبی جوړنکړو یا نبوت زمونږ د ملکیت څیز دې.مونږ ته پته ده چې دهغه د ورکړې قابل څوک دې.لکه بل ځائې کښې ارشاددې چې﴿اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسٰلَتَهٗ﴾یعنی چې چرته هم الله ﷻ خپل رحمت نازلوی نوهغه لونې ذات ته ښه معلوم وی.اوبل ځائې کښې فرمائی چې ﴿اُنْظُرْ كَيْفَ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ یعنی اوګوره چې مونږ څنګه دوی ته په یوبل باندې برتری ورکړه.

قوله تعالی:- تُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَتُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ

بیافرمائی چې هم ستا ذات دې چې د شپې اوږدوالې کموی او شپه ورځ برابروی.او د یو حصه بل ته ورکړې او کموی او اوږدوی نې.بیا نې برابروی.زمکه اوآسمان باندې،او نمر او سپوږمئ باندې ستا تولې قبضه ده.دا شان ګرمئ نه پس یخنئ اویخنئ نه پس ګرمی راوستل ستاپه قدرت کښې دی.په بهار اوخزان باندې هم ته قادر نې.

قوله تعالی:- وَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ

او هم ستا ذات دې چې دژوندی نه مړ او مړی نه ژوندی پیدا کوی.مومن دکافر نه او کافر نه مومن پیداکوې.چرګه د اګئ نه او اګئ نه چرګه پیدا کوې.اوداشان ټول ځیزونه ستاپه قبضه کښې دی.

قوله تعالی:- وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ

چا لره چې اوغواړې نو دومره مال ورکړې چې دشمیر نه هم زیات وی.او چاله چې اوغواړې نو د لوږې ختمولو د پاره ورته روټئ هم نه ورکوې.مونږ ته پته ده چې دا ټول کارونه دحکمت دی.او ستا ارادې او ستاخوښې سره کیږی.د طبرانی حدیث کښې دی چې د الله ﷻ اسم اعظم په دې آیت﴿قل اللهم﴾کښې دې ،هرکله چې دهغه پاک پروردګارپه نوم دهغه نه دعااوغوښتلې شی نوهغه قبلونکئ ذات نې قبلوی.([1])

لَا يَتَّخِذِ	الْمُؤْمِنُوْنَ	الْكٰفِرِيْنَ	اَوْلِيَآءَ	مِنْ دُوْنِ
| نه دنیسی |	موٴمنان |	کافرانولره |	په دوستئ سره |	ماسوا
| ..... موٴمنان دې کافران د موٴمنانو سوا په دوستئ سره نه نیسی				
الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ	وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ	فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ	فِيْ شَيْءٍ	اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا
دمومنانو |	او هغه چا چې اوکړو داکار |	نو نشته دالله سره |	په هیڅ څیز کښې |	مګر اکه ځان ساتئ ستاسو
.....اوڅوک چې داسې اوکړی انو دهغه الله سره هیڅ تعلق پاتې نشو |				مګر که تاسو دهغوئ نه ځان بچ کولو دپاره
مِنْهُمْ	تُقٰىةً ؕ	وَيُحَذِّرُكُمُ	اللّٰهُ	نَفْسَهٗ ؕ
دهغوی |	په ځان ساتنه سره |	او یروی تاسو |	الله |	دخپل ځان نه |
دوستی کوی |	.....اوالله تاسو دخپل ځان نه ویروی |			اوآخربه الله ته ورځئ

وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝

قوله تعالی:- لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ

کفارو سره دوستی نه کول:- په دې آیت کښې الله ﷻ د ترک موالات حکم فرمائی چې مسلمانانو دپاره جائز نه دی چې کافرو سره دوستانې اومحبتونه اوکړی،دوی ته پکار دی چې خپلوکښې ایماندارو سره محبتونه او ګډون اوساتی.

---

[1]) طبرانی : ۱۲۷۹۲، ددې سند کښې محمد بن زکریا الفلاح په وجه موضوع دې)-

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:- وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِيْ شَيْءٍ اِلَّآ اَنْ تَتَّقُوْا مِنْهُمْ تُقٰىةً ؕ

بیاحکم فرمائی چې څوك داسې کوی نودهغوی نه الله ﷻ بالکل ویزاره دی لکه بل خائې کښې فرمائی چې ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ﴾ یعنی اې ایمان والوازما اوخپلو دښمنانو سره دوستانه مه کوئ.اوبل خائې کښې فرمائی چې اې مومنانوادا یهود ونصاری خپلوکښې دوستان دی،تاسو کښې چې څوك دوی سره دوستانه کوی نو هغه به د هغوئ نه وی.او یو بل خائې کښې الله ﷻ د مهاجرینو او د انصارو خپلو کښې ددوستانې ذکر فرمائی چې کافرخپلو کښې دیوبل محب او محبوب دی ،که تاسو داسې نه کوئ نو زمکه کښې به فتنه او فساد راشی.او یو زبردست فساد به خور شی.خو هغه خلقو ته اجازت ورکړې شو چې په یوښار کښې د دوی د بدئ او د دوی د خرابوالی نه ویریږی او وختی طور په ظاهره څه میل ملاپ ظاهر کړی.خوپه زړه کښې ددوی رغبت او دوی سره حقیقی محبت نه وی لکه صحیح بخاری کښې دابو درداء ﷺ نه مروی دی چې مونږ بعضو قومونو سره په پراخه تندی ملاویږو لیکن زمونږ په زړه کښې ددوی دپاره لعنت وی.(۱)حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چې صرف په ژبه دې اظهار اوکړی لیکن په عمل کښې ددوی ملګرتیا داسې وخت کښې هم بالکل دې نه وی .هم دا خبره نور مفسرینو نه هم مروی ده او د دې تائید د الله ﷻ دا فرمان دی. ﴿اِلَّا مَنْ اُكْرِهَ وَقَلْبُهٗ مُطْمَئِنٌّۢ بِالْاِيْمَانِ﴾ : یعنی چې څوك دخپل ایمان نه پس الله باندې کفر اوکړی سوا د هغو نه چې په هغوئ باندې زبردستی اوکړې شی او دهغه زړه ایمان سره مطمئن وی،بخاری شریف کښې دی چې حسن رحمة الله علیه فرمائی چې دا حکم قیامته پورې دی.(۲)

قوله تعالی:- وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ

بیافرمائی چې الله ﷻ تاسو لره د خپل ذات باری نه ویروی یعنی د خپلې دبدبې او خپلوعذابونو نه هغه سړې خبروی چې څوك د هغه د فرمان مخالفت کوی او د هغه دښمنانو سره دوستانه ساتی او دهغه دوستانو سره دښمنی کوی،

قوله تعالی:- وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝

بیافرمائی چې هم الله ﷻ طرفته تګ دی.هر عامل ته به د هغه دعمل بدله ملاویږی.معاذ ﷺ اودریدو او وې فرمائیل چې اې بنی اودازۀ تاسو ته د الله درسول ﷺ قاصد جوړ شوې اوتاسوطرفته راغلې یم، دا واورئ چې ټول به الله ﷻ طرفته واپس کیږئ،بیا خو به یا جنت یا جهنم خائې وی.(۳)

قُلْ اِنْ تُخْفُوْا	مَا	فِيْ صُدُوْرِكُمْ	اَوْ تُبْدُوْهُ	يَعْلَمْهُ	اللّٰهُ ؕ وَيَعْلَمُ
او ته اووایه که تاسو پټ کړئ اهغه اچه سینوستاسو کښې دی اپاښکاره کړئ اهغه معلوم دی اهغه الله ته اوخبریږی هغه					
ااې پیغمبره،ته ورته اووایه که تاسودخپل زړه خبره پټه اوساتئ اوکه څرګنده ئې کړئ اخوالله پاک ته معلومه ده اوپه					
مَا	فِي السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي الْاَرْضِ ؕ	وَاللّٰهُ	
دهرهغه څیزونونه اچه دی په آسمانونو کښې اودهغې نه اچې په زمکه کښې دی ا				اوالله ا	
آسمانونو او زمکو کښې هر څه باندې هغه پوهه دې ا.....					اوالله پاک

(۱) صحیح بخاری کتاب الادب باب المدارة مع الناس تعلیقا بصیغة تمریض قبل حدیث : ۶۱۳۱،،السلسلة الضعیفة: ۲۱۶)-
(۲) صحیح بخاری کتاب الاکراه قبل حدیث : ۶۹۴۰)-
(۳) ابن ابی حاتم)-

Scanned with CamSc

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ

په هر څيز | قادر دي | په کومه ورځ چه اوبه مومی | هرنفس | هغه څه | چه کړی نې وی |

په هرڅه پوره پوره قدرت لری | .....هغه ورځ راتلونکې ده چرهرنفس به خپل

مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا

دنیکئی نه | حاضر | اوهغه چی کړی نې وی | دبدئ نه | آرزوبه اوکړی | چه کاش که په مینځ دده کښې

نیک عملونه او بدعملونه خپلې مخې بیاموميی | داخواهش به کوی چې کاش زما او ددې ورځې

وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا بَعِيْدًا ۭ وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ۭ وَاللّٰهُ

او په مینځ دعمل دده کښې | فاصله وې لری | اویروی | تاسو | الله | دخان خپل نه | او الله

ترمینځه یو لوئې اوږدمیدان وې | .....اوالله پاک تاسو خپل ځان نه ویروی | اوالله پاک

رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ ۝

ډیر مهروبانه دې | په بندګانو |

دخپلوبندګانوډیرزیات خیرخواه دې |

قوله تعالی:- قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ ۭ

الله ﷻ ته د ټولو پټو او ښکاره څیزونو پته ده:- الله ﷻ فرمائی چې هغه پاک ذات ته ټول پټ او ښکاره څیزونه معلوم دی.د هغه لوئې ذات نه هیڅ وړوکی نه وړوکی څیز هم پټ نه دې.

قوله تعالی:- وَيَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

د هغه علم ټولوڅیزونو لره په هر وخت کښې اوهره لحظه کښې ګیره کښې اخستی دی.دزمکې هر ګوټ کښې،سمندرونوکښې،آسمانونو کښې، هوائګانو کښې، سورو کښې،غرض چې څه چرته دی ټول د هغه په علم کښې دی،

قوله تعالی:- وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ

بیا په هغه ټولو باندې دهغه لوئې ذات قدرت دې.چې څنګه ئې غواړی نو هغه ساتی او سزا و جزا ورکوی،نو د دومره لوئې علم والا،دومره زبردست قدرت والا نه هر سړی لره ویریدل پکار دی.د هغه عظیم ذات په فرمانبردارئی کښې مشغولیدل پکاردی.اودهغه دنافرمانونه یو خواته کیدل پکار دی. هغه عالم هم دې او قادر هم دې.ممکن دی چې چاته ډیل ورکړی لیکن کله رانیول شروع کړی نو بیا سم نیول وی.بیا په نه مهلت وی او نه اجازت.

قوله تعالی:- يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۚ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۚ

یو ورځ راتلو والا ده چې په هغه ورځ د ټول عمر ښه او بد کارونه به مخامخ کیخودې شی.چې نیکو ته ځوک اوګوری نو خوشحالیږی به

قوله تعالی:- تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا بَعِيْدًا ۭ

او چې بدو ته اوګوری نو غابنونه به چیچی اوحسرت او افسوس به کوی.او غواړی چې ددې نه لرې وې.قرآن پاک کښې بل ځائې کښې فرمان دې چې ﴿يُنَبَّؤُا الْاِنْسَانُ يَوْمَىِٕذٍ بِمَا قَدَّمَ وَاَخَّرَ﴾ : یعنی خبر به کړې شی انسان په هغه چې مخکښې ئې کړی وی او روستو ئې کړی وی.

Scanned with CamScanner

شیطان چې دوی سره سره وو په دنیا کښې او دوی به نې بدو طرفته راپاروول،د هغه نه به هم دوی په هغه ورځ ویزاره شی او وائی چې ﴿قَالَ يٰلَيْتَ بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ الْقَرِيْنُ﴾ :یعنی څه ښه به وې انې شیطانه چې زما اوستا ترمینځه د مشرق او مغرب هومره فاصله وې.او هغه خو ډیر بد ملګرې دې.

قوله تعالی:-وَيُحَذِّرُكُمُ اللّٰهُ نَفْسَهٗ ؕ وَاللّٰهُ رَءُوْفٌۢ بِالْعِبَادِ

تاسو لره د خپلو عذابونو نه ویروی،بیا الله ﷻ خپلو نیکانو بندګانو ته زیری ورکوی چې هغوئ د دې لطف او کرم نه هیڅ کله نه مایوسه کیږی،هغه پاك ذات خو ډیر مهربان او رحم والا او محبت کولو والا دې.امام حسن بصری رحمة الله علیه فرمائی چې دا هم د هغه مهربانه ذات سراسرمهربانی او لطف اومحبت دې چې هغه د خپل ذات نه بندګان اوویرول.(۱) او دا مطلب هم دې چې الله ﷻ پخپلو بندګانو رحیم دې،بندګانو ته هم پکار دی چې صراط مستقیم نه اخوا نشی،پاك دین نه پریږدی،د رسول الله ﷺ تابعداری اوکړی او ددې نه مخ نه اړوی.

قُلْ	اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ	اللّٰهَ		
ای نبی اووایه	که یئ تاسو چې محبت کوئ	دالله سره		
(دوئ ته)اووایه که تاسوپه ربښتیا د الله سره مینه کوئ				
فَاتَّبِعُوْنِيْ	يُحْبِبْكُمُ	اللّٰهُ	وَيَغْفِرْ لَكُمْ	ذُنُوْبَكُمْ ؕ
نوتابعداری اوکړئ زما|محبت به اوکړی تاسو سره|الله	او معاف به کړی تاسو ته|ګناهونه ستاسو|		
نوزما تابعدار شئ	الله پاک به تاسو سره مینه اوکړی	او ستاسوګناهونه به معاف کړی		
وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ۝	قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ	وَالرَّسُوْلَ ۚ	فَاِنْ تَوَلَّوْا
او الله|معاف کونکې اورحم کونکې دې |اووایه |چې اطاعت کوئ دالله|	او درسول	نوکه هغوئ مخ واړوی	
اوالله ښښونکې مهربان دې| (دوئ ته)اووایه چې دالله اودرسول حکم منئ	نوکه دوئ ترینه په څنګ شو			
فَاِنَّ اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	الْكٰفِرِيْنَ ۝			
نو بیشکه الله	نه خوښوی	انکاریان دتابعداریئ دالله نه			
نو الله پاک نافرمان خلق هیڅکه نه خوښوی|				

قوله تعالی:-قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ

که الله ﷻ سره محبت کوئ نو د رسول ﷺ تابعداری اوکوئ:- دې آیت فیصله اوکړه چې کوم سړې د الله ﷻ د محبت دعوی کوی او د هغه عقائد او افعال د فرمان نبوی ﷺ مطابق نه وی،او دې په طریقه محمدی ﷺ باندې نه وی نو دې په دې خپله دعوی کښې دروغژن دې.صحیح حدیث کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائی چې کوم یو سړې داسې عمل اوکړی چې د هغې مونږ حکم نه وی کړې نو هغه مردود دې.(۲) ددې وجې دلته هم ارشاد دې که تاسو الله تعالی سره د محبت ساتلو دعوه کوئ او په دې دعو کښې ریښتونی یئ نوزما په سنتو عمل اوکړئ،بیابه الله ﷻ تاسو ته ستاسو د غوښتلو نه زیات درکړی.یعنی هغه به پخپله ستاسو سره محبت کوونکې جوړ شی.لکه چې بعضو حکیمانو علماء وئیلی دی چې ستا مینه کول څه څیز نه دې،خوند خو په هغه وخت کښې دې چې الله ﷻ تا سره محبت اوکړی.غرض د الله

---

(۱) الطبری : ۲۰۲/٦)-

(۲) صحیح بخاری کتاب الصلح باب اذا اصطلحوا علی صلح جور فالصلح مردود: ۲٦۹۷، صحیح مسلم: ۱۷۱۸)-

Scanned with CamSc

ﷺ د محبت نښه داده چې په هر کار کښې اتباع سنت وی.ابن ابی حاتم کښې دی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل دین صرف د الله ﷻ دپاره محبت او هم د هغه دپاره د دښمنئ نوم دی.بیا رسول الله ﷺ ددې آیت مبارك تلاوت اوفرمائیلو.(۱)لیکن دا حدیث د سند لحاظ سره منکر دې.

قوله تعالی:- وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ ۗ

بیا فرمائی چې په حدیث باندې د تلو په وجه به الله ﷻ ستاسو ټول ګناهونه معاف کړی.

قوله تعالی:- قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ ۖ

بیا هر خاص و عام ته حکم کوی چې ټول د الله او د رسول ﷺ منئ

قوله تعالی:- فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ

چې څوك د الله ﷻ او د رسول د اطاعت نه مخ واړی یعنی دالله ﷻ اورسول ﷺ د اطاعت نه روستو شی نو هغه کافر دې او الله ﷻ هغوئ سره محبت نه ساتی.

د سنتو مخالف کافر دې:- ددې نه ښه واضح شو چې د رسول الله ﷺ د طریقې مخالفت کفر دې.داسې خلق د الله ﷻ دوستان نشی کیدې.اګر چې د دوی دعوی وی لیکن کله پورې چې د الله ﷻ او د رسول ﷺ د سنتوتابعداری اونکړی نو هغه په دې خپله دعوی کښې دروغژن دې ځکه رسول الله ﷺ خو د جن او انس دپاره نبی دې.محمد ﷺ خوهغه ذات دې که نن انبیاء علیهم السلام او رسولان وی او اوالعزم پیغمبران هم ژوندی وی نو محمد ﷺ باندې به ئې خامخا ایمان راوړو.ددې بیان به ښه وضاحت سره او تفیصیل سره د آیت ﴿ واذ اخذالله میثاق النبیین ﴾ په تفسیر کښې انشاء الله راشی.

إِنَّ اللَّهَ	اصْطَفَىٰ	آدَمَ				
بیشکه الله	غوره کړی وو	آدم علیه السلام				
.....	الله تعالی غوره کړی دی آدم ﷺ					
وَنُوحًا	وَآلَ إِبْرَاهِيمَ	وَآلَ عِمْرَانَ	عَلَى الْعَالَمِينَ ﴿٣٣﴾	ذُرِّيَّةً بَعْضُهَا		
او نوح علیه السلام	او اولاددابراهیم علیه السلام	او اولاد ادعمران	په ټولو خلقو باندې	اواولاد وودا ټول خنی		
نوح ﷺ	اودال دابراهیم ﷺ	اوال دعمران	په نور ټول مخلوق باندې دایوې سلسلې خلق دی			
مِنْ بَعْضٍ ۗ	وَاللَّهُ سَمِيعٌ	عَلِيمٌ ﴿٣٤﴾				
دځینونه	اوالله هرڅه اوریدونکی	او په هرڅه پوهه دی				
اودیوبل دکورنئ نه دی	الله پاک هرڅه آوری	اوپه هرڅه پوهه دی				

قوله تعالی:- إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ

دځو لویو لویو نبیانو ﷺ ذکر:- یعنی الله ﷻ دې لویو لویو حضراتو ته په ټول جهان بزرګی ورکړه.حضرت آدم ﷺ ئې پخپل لاس پیدا کړو.هغه کښې ئې خپل روح واچولو.هغه ته ئې د هر څیز نومونه اوخودل.جنت ته ئې استوګن کړو او بیا دخپل حکمت د اظهار دپاره ئې زمکې ته راولیږلو.هر کله چې په زمکه باندې بت پرستی قائمه شوه نو حضرت نوح ﷺ رومبې رسول راولیږلې شو بیا چې دهغه قوم سرکشی اوکړه.او د پیغمبر په هدایت ئې عمل او نکړو،حضرت نوح ﷺ هغوی شپه ورځ په پټه او ښکاره الله ﷻ طرفته راوبلل خو هغوی د دوی خبرې ته غوږ نه ایخودو سوا د څو خلقو نه.دا ټول باقی خلق ئې د اوبو په عذاب یعنی طوفان نوح سره تباه کړل.د حضرت ابراهیم ﷺ خاندان ته الله تعالی لوئی اوچت والی ورکړو او هم دې خاندان کښې سیدالبشر خاتم الانبیاء حضرت محمد ﷺ هم دې.د عمران خاندان هم الله ﷻ منتخب

(۱) الضعفاء للعقیلی : ۱۰۲٤، حاکم: ۲/۲۹۱،)-

Scanned with CamScanner

کړو عمران د حضرت مریم د پلار نوم دي او دا د حضرت عیسی ﷺ مور بی بی ده د دوی نسب نامه د محمد بن اسحاق په قول عمران بن هاشم بن میشا بن خرقیان بن ابراهیم بن غرایا بن ناوش بن اجرا بن بهوا بن نازم بن مقاسط بن ایشا بن ایاذ بن رخیعم بن سلیمان بن داود ،نو حضرت عیسی ﷺ هم د حضرت ابراهیم ﷺ د نسل نه دي ددي مفصل بیان به انشاء الله د سورة انعام تفسیر کښې راشي.

إِذْ قَالَتِ امْرَأَةُ عِمْرَانَ	
اکله چې اوونیل ښځې دعمران	
(هغه اوریدل) خه وخت چې دعمران ښځې اوونیل	
رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي	
چې اې ربه زما بیشکه ما نذر کړې دي ستادپاره (هغه بچې) چې په ګیډه زما کښې دي	
اې زما ربه ! زه (دهغې ماشوم) ستاپه نوم منخته کوم چې زما په خیټه کښې دي	
مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي ۚ إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا	
تاته وقف دهرځه نه آزاد (نوقبول کړه) دا نذر زمانه بیشکه هم ته اوریدونکې (اوپوهه ئې نوهرکله چې	
هغه به ستادپاره آزاد وی نوزمامنخته قبوله کړه ته هرځه اوري او (خما په نیت) ښه پوهه یې (اوهرکله چې	
وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَىٰ ۖ وَاللَّهُ أَعْلَمُ	
اوزیږوله هغې جینۍ (وې ونیل) اې ربه زمابیشکه (بیشکه ما (اوزیږوله دا (جینۍ (اواللہ ته ښه معلوم وو	
دهغې جینۍ اوزیږوله (نو وې ونیل چې انې زما پروردګاره دا خومې لور اوشوه) (واللہ ته ښه معلومه ده	
بِمَا وَضَعَتْ ۖ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَىٰ ۖ وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ	
هغه چې زیږولې وو (هغې) او نه وی (انارینه پشان دزنانه (اوبیشکه ما (نوم کیښودو دهغې (مریم	
چې هغې څه زیږولې وو (هلک که جینۍ) اونارینه دزنانه پشان نه وی (اوماپه دې باندې مریم نوم کیخودو	
وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾	
او بیشکه زه (پناه غواړم د دې (په تا سره (او اولاد ددې (د شیطان (رټلی شوی نه	
.....اوزه داجینۍ (اوددې اولاد د لعنتی شیطان نه ستا په پناه کښې درکوم	

قوله تعالی:- إِذْ قَالَتِ امْرَأَةُ عِمْرَانَ رَبِّ

منخته صرف دالله ﷺ د نوم ده :- دعمران د بی بی نوم حنه بنت فاقوذ وو او دا د مریم علیها السلام مور وه.محمد بن اسحاق رحمه الله فرمانی چې د دې اولاد نه کیدو.یو ورځ نې یو مرغۍ اوکتله چې هغې خپلو بچو ته د الوتلو چل خودلو.نو ددې زړه کښې جوش او ولوله پیدا شوه او هم په هغه وخت نې دالله ﷻ نه سوال اوکړو او خلوص سره نې د الله ﷻ نه غوښتنه اوکړه.الله ﷻ هم ددې دعاقبوله کړه او هم په دې شپه ددې حمل شو.

قوله تعالی:- إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي ۖ

هرکله چې ورته د حمل یقین اوشو نو دې نذر اومنلو چې الله ﷻ ماته کوم اولاد راکړی نو هغه به د بیت المقدس د خدمت دپاره آزادوم.بیا ئې دالله ﷻ نه دعا اوکړه انې الله تعالی ته زما داخلاص دا نذر قبول کړې او ته زما دعا قبوله کړې.او تاته زما نیت هم ښه معلوم دې.

قوله تعالی:-فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَىٰ

اوس دې ته خو دانه وو معلوم چې هلك به کیږی اوکه جینئ.هرکله چې پیدائش اوشو او وې کتل نو هغه جینئ وه.اوجینئ ددې قابله نه ده چې هغه دبیت المقدس خدمت اوکړی.ددې دپاره خو هلك پکاردې.نود عاجزئ په طور ئې خپله مجبوری الله ﷻ ته پیش کړه چې انې الله ﷻ ماخو دا حمل ستا په نوم وقف کړې وو.لیکن زما خو جینئ پیدا شوه.

قوله تعالی:-وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ

قوله تعالی:-﴿وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ﴾(په وضعت کښې د تا په ضمې سره) هم لوستلې شویدې.یعنی دا قول هم د حنه وو چې الله ﷻ ته ښه پته ده چې زما جینئ پیداشوه او د تا جزم سره هم راغلې ده.یعنی د الله ﷻ دا فرمان دې چې الله ﷻ ته ښه معلوم دی څه اولاد شوې دې

قوله تعالی:-وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَىٰ

او فرمائی چې ښځه د سړی برابر نه ده،

قوله تعالی:-وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ زۀ ددې نوم مریم ایږدم.

دبچی په پیدائش نوم ایخودل او عقیقه کول:- ددې نه ثابتیږی چې په کومه ورځ بچې پیدا شی هم په هغه ورځ ددې نوم ایښودل جائز دی.ځکه چې زمونږ نه د مخکښې خلقو شریعت زمونږ شریعت دې.او دا دلته بیان شو او تردید اونه کړې شو بلکه دا ثابت اومقرر کړې شو.

د پیدائش سره نوم ایخودلو په حقله د رسول الله ﷺ عمل:- دا شان حدیث شریف کښې هم دی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې نن شپه زما هلك پیدا شو اومادهغه نوم دابراهیم ﷺ په نوم کیخودلو. اوګورئ مسلم وبخاری.(۱)

دانس بن مالك ﷺ رور چې کله پیدا شو نو هغه ئې راوستو او محمد ﷺ خدمت کښې ئې حاضر کړواو رسول الله ﷺ هغه ته په خپل لاس ګوتې ورکړه او د هغه نوم ئې عبدالله کیخودلو.دا حدیث هم بخاری اومسلم کښې موجود دې.(۲)یو بل حدیث کښې دی چې یو سړې راغلو او رسول الله ﷺ ته ئې اووئیل چې یارسول الله زما هلك پیداشوې دې دهغه څه نوم کیږدم؟.رسول الله ﷺاوفرمائیل چې عبدالرحمان .(بخاری) (۳).یو بل حدیث کښې دی چې د ابو اسید بچې پیدا شو او ده دا د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر کړو چې رسول الله ﷺ په خپلو مبارکو لاسونو ده ته ګوتې ورکړه.رسول الله ﷺ بل طرفته متوجی شو او د بچی ورته خیال رانغلو.ابواسید ماشوم کورته واپس اولیږلو.هرکله چې رسول الله ﷺ فارغ شونو بچی طرفته ئې نظر اوکړو خو هغه نه وو.نو تپوس ئې اوکړو او وې فرمائیل چې دهغه نوم منذر(یعنی ویرولو والا)کیږده.(۴) مسنداحمد او سنن کښې یو حدیث کښې مروی دی چې امام ترمذی رحمه الله صحیح وائی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې هر بچې په خپله عقیقه باندې ګانړه دې،یعنی په اوومه ورځ دې عقیقه اوکړی څاروې دې ذبح کړی او دده نوم دې کیږدی اودبچی سردې اوخروی (۵).یو

---

۱) صحیح مسلم کتاب فضائل باب رحمة الصبیان والعیال : ۲۳۱۵، صحیح بخاری : ۱۳۰۳)-

۲) صحیح بخاری کتاب العقیقة تسمیة المولود غدا یولد:.... ۵٤۷۰، صحیح مسلم: ۵٦۱۲)-

۳) صحیح بخاری کتاب الادب باب قول النبی صلی الله علیه وسلم سمواباسمی: ٦۱۷۹، صحیح مسلم: ۲۱٤٤)-

۴) صحیح بخاری کتاب الادب باب تحویل الاسم الی اسم احسن منه: ٦۱۹۱، صحیح مسلم: ۲۱٤۹)-

۵) احمد:۱۷/۵، ابوادود:کتاب الضحایا فی العقیقة: ۲۸۳۷، ۲۸۳۸،وهو صحیح،ترمذی:۱۵۲۲، نسائی: ٤۲۲۵، ابن ماجة: ۳۱۲۵)

Scanned with CamSc

روایت کښې دی چې وینه دې توې کړی (۱)اودازیات ثبوت والا اوزیات حفظ والاروایت دې،والله اعلم.
لیکن د زبیر بن بکار روایت کښې دی چې رسول الله ﷺ د خپل خونې ابراهیم عقیقه اوکړه او د هغه نوم نې ابراهیم کیخودلو.دا حدیث سند لحاظ سره ثابت نه دې.او صحیح حدیث ددې خلاف موجود دې.لیکن تطبیق هم کیدیشی چې ددې نوم شهرت په هغه ورځ شوې وی.والله اعلم.

قوله تعالی:- وَاِنِّیْٓ اُعِیْذُهَا بِكَ وَذُرِّیَّتَهَا مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

دمریم علیهاالسلام مور بی بی حنه خپل بچې او ددې کیدو والا اولاد دشیطان دشرنه دالله ﷻ پناه کښې ورکوی.الله ﷻ د موربی بی دا دعا قبوله کړه.

شیطان د پیدائش په وخت کښې ماشوم سکونډی:- نو مسندعبدالرزاق کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمانی چې هر بچی ته شیطان د پیدائش په وخت کښې دګوتې یو اشاره ورکوی،هم هغه وخت کښې هغه په ژړا شی.لیکن مریم علیها السلام اوعیسی ﷺ ددې نه بچ شو،دا حدیث ابوهریره ﷺاوفرمائیلو او وې فرمائیل که تاسو غواړئ نو دا آیت وائئ چې﴿ وَاِنِّیْٓ اُعِیْذُهَا بِكَ﴾دا حدیث بخاری او مسلم کښې هم موجود دې.دا حدیث نورو هم ډیرو کتابونوکښې مختلفو الفاظو سره مروی دې.(۲) په بعضو روایاتو کښې دی چې یو یا د دوه سکونډاری لګوی.(۳)یو حدیث کښې صرف د عیسی ﷺ ذکر هم دې.شیطان په دوی هم سکونډئ لګول غوښتل لیکن وې نه لګولې شوه.(۴)

فَتَقَبَّلَهَا	رَبُّهَا	بِقَبُوْلٍ	حَسَنٍ	وَّاَنْۢبَتَهَا	نَبَاتًا حَسَنًا	وَّكَفَّلَهَا
نو قبوله کړه هغه	رب دهغې	په قبلولو	ښو سره	اولویه نې کړه هغه	په لویولونښو سره	او سرپرستی اوکړه دهغې
نوالله پاک هغه جینئ په ښه شان سره قبوله کړه	اوډیره نیکه نې لویه کړه	.....	اودهغې کفالت			

زَكَرِيَّا	كُلَّمَا	دَخَلَ عَلَيْهَا	زَكَرِيَّا	الْمِحْرَابَ	وَجَدَ	عِنْدَهَا
زکریا	هر کله چې به	داخل شو په هغې	زکریا	محراب ته	نو موندو به نې	هغې سره
زکریا ﷺ اوکړو	هرکله چې به زکریا دهغې کوټې ته داخل شوانو هغه خائې کښې به نې دخوراک څه څیزونه اوموندل					

رِزْقًا	قَالَ	يٰمَرْيَمُ اَنّٰى لَكِ	هٰذَا	قَالَتْ	هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ
خوراك	اوبه وئیل هغۀ	ای مریم دکوم خائې نه دې تاله	دا	او به وئیل هغې	دا	دطرفه دالله نه
دهغې نه به نې تپوس اوکړو	چې انې مریم دا درته دکوم خائې راغلی دی	هغې به اووئیل چې دا دالله دطرفنه راغلی دی				

اِنَّ اللّٰهَ	يَرْزُقُ	مَنْ يَّشَآءُ	بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝
بیشکه الله	روزی ورکوی	هغه چاته چې اوغواړی	بې حسابه	دغلته
بیشکه الله پاک چې چاته اوغواړی نوبې حسابه رزق ورکوی			

قوله تعالی:- فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُوْلٍ حَسَنٍ وَّاَنْۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا

---

(۱) ابوداود وسنده ضعیف: قتاده مدلس راوی دې اوتصریح بالسماع ثابت نه ده دا دروایت آخر کښې دی خو امام ابوداود (یدمی) لره همام رحمه الله مغالطه ګرزولې ده خکه چه سلام بن ابی مطیع عن قتاده نه (ویسمی) بیانوی اوداشان ایاس بن دغفل او اشعث حسن نه (ویسمی) بیان کړی دی.السنن الکبری: ۴۵۴۲، دې کښې ویسمی ذکر کړې شوې دې نو علامه ابن کثیر رحمه الله دا (یدمی) لره اثبت او احفظ ګرزول محل نظر دی)-

(۲) عبدالرزاق فی التفسیر: ۳۹۱، صحیح بخاری کتاب التفسیر: سورة ال عمران باب (وانی اعیذها بک....): ٤٥٤٧، صحیح مسلم: ۲۳٦۵)-

(۳) الطبری: ٦۸۸۷، ددې سند کښې الحمانی ضعیف راوی دې (المیزان: ۵۴۲/۲)-

(۴) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب صفة ابلیس وجنوده: ۳۲۸٦)-

Scanned with CamSc

د مریم علیها السلام پرورش او دا چې ترور د مور په ځائې ده:- الله ﷻ خبر ورکوی چې د حنه نذر الله ﷻ قبول کړو.او د هغې نشوونما ئې ښه طریقې سره اوکړه.ظاهری خوبی ئې ورته هم ورکړه او باطنی خوبی ئې هم.اوخپلو نیکو بندګانو کښې ئې دهغې پرورش اوکړو چې د خیر علم او دین زده کړی.

قوله تعالی:- وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا

زکریا علیه السلام ئې د هغې کفیل جوړ کړو.

زکریا علیه السلام ته د سپارلو وجه:- ابن اسحاق فرمائی چې دا د دې وجې چې مریم یتیمه شوې وه.لیکن نور بزرګان فرمائی چې د قحط په وجه ددې کفالت زکریا علیه السلام ته حواله شوې وو.او کیدیشی چې دواړه وجې وی.والله اعلم.

د زکریا علیه السلام او د مریم علیها السلام رشته:- د ابن اسحاق وغیره روایت نه معلومیږی چې زکریا علیه السلام ددې د ترورخاوند وو.اوبعضې وائی چې اوخې ئې وو.لکه چې د معراج والا صحیح حدیث کښې دی چې رسول الله ﷺ یحیی علیه السلام او عیسی علیه السلام سره ملاقات اوکړو او هغوئ دواړه خپلوکښې د ترور خامن وو.(۱) د ابن اسحاق په قول دا حدیث صحیح دی.ځکه چې دعربو په اصطلاح کښې د ترور خوئې ته هم رور وئیلې شی.نو ثابت شو چې مریم د خپلې ترور پرورش کښې وه.صحیح حدیث کښې دی چې رسول الله ﷺ د حمزه رضی الله عنه لور عمره د هغې ترور د جعفر بن ابی طالب ښځې ته سپارلې وه.او دا ئې فرمائیلی وو چې ترور د مور په ځائې وی.(۲)

قوله تعالی:- لَمَّا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا

دحضرت مریم او نورو اولیاء کرامو کرامات:- اوس الله ﷻ د مریم بزرګی او د هغې کرامات بیانوی چې زکریا علیه السلام کله هم دهغې حجرې ته ورتلو نو غیر موسمی میوې به ئې هغې سره لیدلې.لکه په یخنئ کښې د ګرمئ میوې او په ګرمئ کښې د یخنئ میوې.مجاهد،عکرمه،سعید بن جبیر ،ابی الشعثاء، ابراهیم نخعی،ضحاك،قتاده،ربیع بن انس،عطیه عوفی اوسدی رحمهم الله د دې آیت مبارك په تفسیر کښې هم دا فرمائی (۲).مجاهد رحمه الله نه دا هم مروی دی دلته د رزق نه مراد علم او هغه صحیفې دی چې په هغې کښې به علمی خبرې وې.لیکن اول قول زیات صحیح دی.په دې آیت کښې د اولیاء الله د کرامتو دلیل دی.او د دې ثبوت کښې ډیر احادیث هم راغلی دی.

قوله تعالی:- قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَا

زکریا علیه السلام یو ورځ ترې تپوس اوکړو چې تاله دا روزی دکوم ځایه رازی.

قوله تعالی:- قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ

مریم جواب ورکړو چې د الله تعالی د طرفنه،

قوله تعالی:- إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ

هغه رازق ذات چې چاته اوغواړی نو بې حسابه رزق ورکوی.

د رسول الله ﷺ معجزه او د فاطمې رضی الله عنها د بنی اسرائیلو د ښځو سرداره کړځیدل:- مسند حافظ ابویعلی کښې حدیث دی چې رسول الله ﷺ باندې ډیرې ورځې بغیر د خوراك نه تیرې شوې.د اولږې نه رسول الله ﷺ ته تکلیف شروع شو.د خپلو ټولو بیبیانو کور ته راغلو خو چرته هم ورته څه ملاؤ نشو.فاطمه رضی الله عنها کره راغلو او تپوس ئې اوکړو چې بچې تا کره څه شته دې چې زهٔ ئې اوخورم؟ځکه ډیر اوږې شوې یم.هلته نه ورته هم دا جواب ملاویږی چې یارسول الله ﷺ دلته هم څه نشته دې؟رسول الله ﷺ دهغه خائې نه راوتلو نو د فاطمه رضی الله عنها نوکرې دوه روټئ او څه لږه غوښه فاطمې رضی الله عنها ته راولیږله.فاطمې رضی الله عنها

---

(۱) صحیح بخاری کتاب مناقب الانصار باب المعراج: ۳۸۸۷)-

(۲) صحیح بخاری کتاب المغازی باب عمرة القضاء : ٤٢٥١)-

(۳) ابن ابی حاتم : ۲۲۷/۲)-

Scanned with CamScanner

دا په یو لګن کښې واچوله او دا نې کیخوده او وې فرمائیل چې زما خاوند او بچی هم اوږی دی،مونږ ټول به فاقه تیره کړو او نن به دا د الله ﷻ رسول ﷺ ته ورکوم.بیا حسن ﷺ او حسین ﷺ نې د رسول الله ﷺ خدمت کښې اولیږل چې رسول الله ﷺ راوبلی.رسول الله ﷺ لا په لار کښې وو چې راواپس شو.فاطمه ﷺ ورته اوفرمائیل چې د الله ﷻ د طرفنه څه راغلی دی او تاسو دپاره مې پټ کړی دی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې راوړه لوري څه دی؟فاطمه ﷺ چې اوکتل نو پورا لګن د ترکارنی نه ډک دی،فاطمه ﷺ حیرانه شوه خو زر پوهه شوه چې الله ﷻ په دې کښې برکت اچولې دې.د الله ﷻ شکر نې ادا کړو او په نبی ﷺ باندې نې درود اولیږلو.او رسول الله ﷺ ته نې خوراک کیخودو.رسول الله ﷺ هم هغه خوراک اوکړو او د الله ﷻ شکر نې ادا کړو.بیا رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چې بچې د چرته نه راغلی وو؟نو فاطمه ﷺ جواب ورکړو چې د الله ﷻ دطرفنه،بیشکه الله ﷻ چې اوغواړی نو بې حسابه رزق ورکوی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې د الله ﷻ شکردې،ائې لوري الله ﷻ تالره د بنی اسرائیلو د ټولو ښځو سرداره جوړه کړې ده.هغوئ ته چې به کله اووئیلې شو او هغوئ ته به څه ځیز ورکړې شو او هغوئ نه به تپوس اوشو نو هغوئ به هم دا جواب ورکولو چې د الله ﷻ طرفنه دې.الله ﷻ چې چاته اوغواړی نو بې حسابه رزق ورکوی.بیا رسول الله ﷺ علی ﷺ راوبللو او رسول الله ﷺ او علی ﷺ او فاطمه ﷺ او حسین ﷺ او حسن ﷺ او د رسول الله ﷺ ازواج مطهرات او اهل بیت ښه په مړه خیټه خوراک اوکړو،بیا هم دومره باقی پاتې شوه چې څومره وه.او چاپیرچل کښې ګواندیانو ته اولیږلې شوه.دا وو خیر کثیر او برکت د الله ﷻ د طرفنه.(۱)

هُنَالِكَ	دَعَا								
|	دغلته	| دعا اوغوښتله							
| نو په دغه وخت کښې									
زَكَرِيَّا	رَبَّهٗ ۚ	قَالَ	رَبِّ	هَبْ لِيْ	مِنْ لَّدُنْكَ	ذُرِّيَّةً	طَيِّبَةً ۚ		
زکریا	| درب خپل نه	| وې وئیل|اې ربه	| راکړه ماته	| دخپل قدرت نه	| اولاد	| پاك (نیك)		
زکریاﷺ د خپل رب نه دعا اوکړه | وې وئیل چې ائې زما ربه ماته دخپل در نه پاک اولاد راکړه									
اِنَّكَ	سَمِيْعُ الدُّعَآءِ ۝	فَنَادَتْهُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	وَهُوَ	قَآئِمٌ				
بیشکه تۀ	| اوریدونکې ددعا نې|	نو آواز اوکړو ده ته	| فریشتو		او هغه	| ولاړ وؤ	|	
(ته دهرچا)دعاګانې اوري | .....ددې په جواب کښې ورته فرښتواووئیل اوهغه ولاړ وو									
يُّصَلِّيْ	فِي الْمِحْرَابِ ۙ	اَنَّ اللّٰهَ	يُبَشِّرُكَ	بِيَحْيٰى	مُصَدِّقًا				
چې مونځ نې کوؤ | په |عبادتخانه کښې |بیشکه الله|زیري درکوی تاته| دیحیی					|چې تصدیق کونکې به وی				
په کوټه کښې نې مونځ کولو| چې الله تاته دیحیی(دپیدا کیدو) زیري درکوی| چې هغه به د									
بِكَلِمَةٍ	مِّنَ اللّٰهِ	وَسَيِّدًا	وَّحَصُوْرًا	وَّنَبِيًّا	مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝				
| دیو فرمان| دطرفه دالله نه |او سردار به وی|او بزرګ به وی| او نبی به وی					| دصالحانو نه				
دالله دیو کلمې(عیسی)تصدیق کوی|اوسردار به وی|اوپه خپل نفس به نې قابو وی |پیغمبر به وی|اودنیکانونه به وی									

(۱) المطالب العالية لمسندة : ۳۸۵۸،اتحاف الخيرة: ۹۶۷۰)-

قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِيَ
اوونيل زكريا	اې ربه زما	دكوم خاني نه به اوشي	زما	هلك	او په تحقيق سره	رارسيدلي دي ماته
(زكريا عليه السلام)په تعجب سره اوونيل |اې زما په څنګه خوئي اوشي|..... زهٔ خوبودا شوې يم
الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ؕ قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ۝
بوډا والي| او ښځه زما	شنډه ده	اوونيل فرشتي| دارنګې	الله	كوى	هغه |اې اوغواړي
او ښځه مې هم شنډه ده	(فرشتي ورته)اوئيل چې هم داشان به كيږي	الله پاك چې څه غواړي نوهغه كيږي
قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ؕ قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ
اوونيل زكريا	اې ربه	مقرركړه	ما لره	يوه نښه	اوونيل فرشتي	نښه ستا دا ده	چې نهٔ به شى كولې خبرى تهٔ
زكريا عليه السلام اوونيل چې اني زمارېه ماته يوه نښه مقرراوښايه| (فرښتې) اوونيل ستادپاره دانښه شوه چې
النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ
دخلقو سره	دري ورځې	مګر په اشاره| اويا دوه	رب خپل	ډير |او تسبيح وايه	مانښام
دري ورځې داشاري نه بغيربه چاسره خبرې نشى كولې| اوالله ډيرياد وه اوسحرمانښام د هغه تسبيح وايه
وَالْاِبْكَارِ ۝
او سحر

قوله تعالى:- هُنَالِكَ دَعَا زَكَرِيَّا رَبَّهٗ

دحضرت زكريا عليه السلام دعا: زكريا عليه السلام اوكتل چې الله ﷻ مريم عليها السلام ته بې موسمه ميوه وركوى.په ګرمئ كښې د يخنئ اوپه يخنئ كښې دګرمئ ميوې دي سره وى،نودبوډا والى نه باوجود اود خپلې بى بى دشنډتوب نه باوجودزكريا عليه السلام هم د بې موسمه ميوې يعنى د اولاد طلب اوكړو او په ظاهره دا طلب يو ناممكن څيز وو،ددې وجې ډيره پټه ئې دا دعا اوغوښتله.لكه بل خائې كښې دى چې ﴿ نِدَآءً خَفِيًّا ۝﴾

قوله تعالى:- فَنَادَتْهُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَهُوَ قَآئِمٌ يُّصَلِّيْ فِي الْمِحْرَابِ ۙ اَنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكَ بِيَحْيٰى

دوى خپل عبادت خانه كښې وو چې فرښتو ورته آواز اوكړو چې ستاسو هلك پيدا شوې دي او د هغه نوم يحيى كيږده.او ورسره ئې داهم اوفرمائيل چې دا بشارت زمونږ دطرفنه نه دي بلكه د الله ﷻ د طرفنه دي.

قوله تعالى:- مُصَدِّقًۢا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ

څه خبرې د يحيى عليه السلام په حقله:- د يحيى نوم وجه داده چې د دوى حيات به ايمان سره وى.هغه به د الله ﷻ دكلمې يعنى دعيسى عليه السلام تصديق كوى.ربيع بن انس رحمه الله فرمائى چې د ټولو نه مخكښې دعيسى عليه السلام نبوت منلووالا يحيى عليه السلام دي.د قتاده رحمه الله قول دي چې يحيى عليه السلام بالكل د عيسى عليه السلام په طريقه باندې وو.ابن عباس رضي الله عنه فرمائى چې دا دواړه د ترور خامن وو.د يحيى عليه السلام مور به اكثر مريم سره ذكر كولو زما د خيټې هر څيز ستا د خيټې هر څيز ته سجده كوى.دا وو د يحيى عليه السلام تصديق دنيا ته د راتلو نه مخكښې،د ټولو نه مخكښې د عيسى عليه السلام دنبوت گواهى يحيى عليه السلام وركړې وه.دوى د عيسى عليه السلام نه په عمر كښې زيات وو.

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:- وَسَيِّدًا:دسید معنی حلیم او برداشت کولو والا او په علم وعبادت کښې زیات،متقی پرهیزګار فقیه عالم په سیرت او دین کښې دټولو نه بهتر،چې هغه لره غصه او غضب مغلوبه کولې نشی،د شریف اوکریم په معنی دې.

قوله تعالی:- وَحَصُورًا....دحصور معنی ده چې ښځو لره نه شی راتلی،چې د چا اولاد نه کیږی او نه په کښې د شهوت اوبه وی،.

د یحیی علیه السلام په حقله د رسول الله ﷺ څو احادیث:- ددې یو معنی یومرفوع حدیث کښې په ابن ابی حاتم کښې ده چې هرکله رسول الله ﷺ دا لفظ ذکر کړو نو د زمکې نه نې څه راوچت کړل او وې فرمائیل چې د هغه اندام ددې په شان وو.(۱) عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه فرمانی چې په ټول مخلوق کښې به صرف یحیی علیه السلام الله تعالی سره بې ګناه ملاویږی.بیا رسول الله ﷺ دا الفاظ تلاوت اوفرمائیل او زمکې نه نې څه راوچت کړل او وې فرمائیل چې حصور هغې ته وائی چې د هغې یو اندام ددې پشان وی.او یحیی بن سعید قطان دخپلې مسواکې ګوتې سره اشاره اوکړه (۲) دا روایت چې مرفوع بیان شوې دې.ددې سند د هغه موقوف سند نه زیات صحیح دې او مرفوع حدیث کښې دی چې رسول الله ﷺ یو کیږې طرفته اشاره اوکړه اووې فرمائیل چې داسې وو،او یو روایت کښې داهم دی چې رسول الله ﷺ دزمکې نه یومړاوې ډکې راوچت کړو اودهغې ارخ ته ئې اشاره اوکړه اودغه ئې اوفرمائیل،.(۳)

قوله تعالی:- وَنَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ دې نه پس زکریا علیه السلام ته بل بشارت ورکولې شی چې ستا خوئې به نبی وی.دا بشارت د ړومبنی بشارت نه هم زیات وو.

قوله تعالی:- قَالَ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ غُلٰمٌ وَّقَدْ بَلَغَنِيَ الْكِبَرُ وَامْرَاَتِيْ عَاقِرٌ ؕ

هرکله چې بشارت راغلو نو زکریا علیه السلام ته خیال راغلو چې په ظاهره اسباب خو ددې محال کیدل دی نو وې فرمائیل چې ائې الله ﷻ زما به بچې څنګه پیدا کیږی.زهٔ بوډا یم اوزما بی بی هم شنډه ده.

قوله تعالی:- قَالَ كَذٰلِكَ اللّٰهُ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ

فرښتې ورته په هغه وخت جواب ورکړو چې دالله ﷻ امر دټولو نه لوئې دې.د هغه په کارخانه د قدرت کښې هیڅ څیز ناممکن نه دې.او نه هغه لوئې ذات ته څه کار ګران دې.او نه هغه څه کار نه عاجز دې.کله چې دهغه اراده اوشی نو هغه کار اوشی.

قوله تعالی:- قَالَ رَبِّ اجْعَلْ لِّيْٓ اٰيَةً ؕ

اوس زکریا علیه السلام ددې علامت اوغوښتلو.

قوله تعالی:- قَالَ اٰيَتُكَ اَلَّا تُكَلِّمَ النَّاسَ ثَلٰثَةَ اَيَّامٍ اِلَّا رَمْزًا ؕ

نو دالله ﷻ طرفنه ورته اشاره اوشوه چې دا نښه ده چې ته به دري ورځو پورې خلقو سره خبرې نشی کولې.اګر چې ته به تندرست او سالم نې خو په ژبې به خلقو سره خبرې نشی کولې.صرف اشارو نه به کار اخلې.لکه بل ځائې کښې فرمانی چې ﴿ ثَلٰثَ لَيَالٍ سَوِيًّا ﴾ یعنی درې شپې د تندرستئ په حالت کښې.

قوله تعالی:- وَاذْكُرْ رَّبَّكَ كَثِيْرًا وَّسَبِّحْ بِالْعَشِيِّ وَالْاِبْكَارِ

بیا حکم ورکړې شو چې تاته پکار دی چې ذکر او تکبیر او تسبیح کښې زیات مشغول اوسې،سحر مابنام پدې کښې اخته یې.ددې دویمه حصه او پورا تفصیل سره بیان به دسورت مریم په شروع کښې

---

۱) ابن ابی حاتم ددې سند کښې سید سلیمان النشیطی په وجه ضعیف دې)-
۲) وسنده ضعیف)-
۳) ابن ابی حاتم)-

Scanned with CamScanner

راشی انشاء الله.

وَاِذْ قَالَتِ	الْمَلٰٓئِكَةُ	يٰمَرْيَمُ	اِنَّ اللّٰهَ	اصْطَفٰىكِ
او کله چې اوونیل	فرښتو	اې مریم	بیشکه الله	غوره کړې ته
.....بیا (یووخت راغلو) چې فرشتو اوونیل انې مریم ته الله پاک غوره کړې یې				
وَطَهَّرَكِ	وَاصْطَفٰىكِ	عَلٰى نِسَآءِ	الْعٰلَمِيْنَ ۝	يٰمَرْيَمُ
او پاکه ئې اوساتلې ته	او غوره ئې کړې ته	په ښځو	دټولې دنیا باندې	اې مریم
اوپاکه ئې ساتلې یې	اودټول جهان په ښځو کښې ئې ته (دخپل عبادت دپاره) غوره کړې ئې			انې مریم
اقْنُتِيْ	لِرَبِّكِ	وَاسْجُدِيْ	وَارْكَعِيْ	مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ۝
فرمان منونکی وسه	درب خپل	او سجده کوه	او رکوع کوه	درکوع کونکو سره
	دخپل رب تابعداری کوه	هغه ته سجده کوه	او عاجزی کونکو سره عاجزی کوه	
ذٰلِكَ	مِنْ اَنْۢبَآءِ	الْغَيْبِ	نُوْحِيْهِ	اِلَيْكَ ؕ
دا	دخبرونو دغیبونه دی		(انې پیغمبره) دادغیبو خبرې دی	
وَمَا كُنْتَ	لَدَيْهِمْ	اِذْ	يُلْقُوْنَ	اَقْلَامَهُمْ
او نه وې ته	موجود هغوئ سره	کله چې	اغورزول هغوئ	قلمونه خپل
چې مونږ ئې دوحی په ذریعه ښایو تاته				
چې مونږ ئې تاته وحی کوؤ	اوته هغه وخت حاضر نه وې چې (دهیکل) هغه (خادمانو) خپل خپل قلمونه په دې غرض اوغورزول			
اَيُّهُمْ	يَكْفُلُ	مَرْيَمَ ۖ	وَمَا كُنْتَ	لَدَيْهِمْ
چې کوم یو دهغوئ	به سرپرستی کوی	دمریم	اونه وې ته	موجود دهغوئ سره
چې څوک به د مریم سرپرستی کوی			اونه ورسره په هغه وخت کښې حاضروې چې هغوئ خپل مینځ کښې جګړه کوله	
اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ۝				
کله چې جګړه کوله				

قوله تعالی:- وَاِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰىكِ وَطَهَّرَكِ.....

د حضرت مریم رضی الله عنها، خدیجه رضی الله عنها، عائشه رضی الله عنها او د اسیه رضی الله عنها دفرعون د ښځې فضیلت:- دلته بیان کیږی چې د الله ﷻ حکم سره مریم ته فرښتو خبر ورکړو چې ددې د زیات عبادت، ددنیا نه د بې رغبتئ، ددې د شرافت او شیطانی وسوسو نه دلری والی په وجه دخپل قرب خاص درجه ورکړه. او د ټول جهان په ښځو ئې دې ته فضیلت ورکړو.

جنتی ښځې:- صحیح مسلم شریف وغیره کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې، فرمائی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې جنتی ښځې په اوښ باندې سورې ښځې دی. په دې کښې بهترې ښځې د قریشو دی چې په خپلوبچو ډیرشفقت کوی او دوی سره محبت کوی او دخپل خاوند دخیزونو پوراحفاظت کوونکې دی. مریم بنت عمران کله هم په اوښ نه وه سوره شوې.(۱)

د دنیا په ښځو کښې د ټولو نه غوره ښځې:- بخاری او مسلم کښې یو حدیث دې چې په ښځو کښې د ټولونه بهتره ښځه مریم بنت عمران ده. اوپه ښځو کښې د ټولو نه بهتره ښځه خدیجه بنت خویلد رضی الله عنها ده.(۲) دترمذی صحیح حدیث کښې دی چې دټولې دنیا ښځوکښې د ټولو نه بهترې ښځې مریم بنت عمران، خدیجه بنت خویلد او فاطمه بنت محمد ﷺ او آسیه زوجه فرعون ده.(۳) او په یو حدیث کښې دی

---

۱) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول تعالی : (اذا قالت الملائکة یامریم.....) : ۳٤۳٤، صحیح مسلم: ۲۵۲۷، آخری جمله (الم ترکب مریم..... دابوهریره رضی الله عنه کلام دی)

۲) صحیح بخاری کتاب احادیث انبیاء باب قول ا لله تعالی (قالت الملائکة یا مریم ...): ۳٤۳۳)-

۳) ترمذی کتاب المناقب باب فضل خدیجة رضی الله عنها : ۳۸۷۸، وهو صحیح)-

Scanned with CamScanner

چې دا څلور واړه ښځې د ټولې دنیا په ښځو کښې افضل او بهتر دی.او حدیث مبارک کښې دی چې په سړو کښې کامل سړی ډیر دی.لیکن په ښځو کښې کمال والا ښځې صرف درې دی.مریم بنت عمران،آسیه زوجه فرعون او خدیجه بنت خویلد رضی الله عنهن.

په نورو ښځو د عائشې رضی الله عنها فضیلت:- او د عائشه فضیلت په ښځو باندې داسې دې لکه ثرید یعنې په غوښه کښې وړه شوې روټۍ چې په ټولو خوراکونو بهتر ده.(۱) داحدیث سوا د ابو داود نه باقی ټولو کتابونوکښې دی.صحیح بخاری کښې دې حدیث مبارک کښې د خدیجه رضی الله عنها ذکر نشته،ما ددې حدیث ټول سندونه او د هر سندالفاظ په خپل کتاب البدایة والنهایة کښې دعیسی علیه السلام په ذکر کښې جمع کړې دی.﴿ ولله الحمدوالمنة﴾.

قوله تعالی:-یٰمَرْیَمُ اقْنُتِیْ لِرَبِّكِ وَاسْجُدِیْ وَارْكَعِیْ مَعَ الرّٰكِعِیْنَ

د مریم عبادت او تابعداری:- بیا فرښتې فرمانی چې انې مریم‌اته په خشوع خضوع او سجده کښې اوسه،الله ﷻ تاله د خپل دقدرت یو عظیم نښه جوړونکې دې،ددې وجې تاته پکار دی چې دخپل رب په رغبت کښې اوسې.

د قنوت په معنی کښې بحث:-د قنوت معنی اطاعت ده چې عاجزۍ او زړه حاضرۍ سره وی.لکه ارشاد دې چې ﴿بَلْ لَّهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ۝﴾یعنی دهغه ذات په ماتحتۍ او مملکت کښې د زمکې او آسمان ټول څیزونه دی.ټول دهغه محکوم او تابع دی.

ابن ابی حاتم یو مرفوع حدیث کښې دی چې قرآن پاك کښې چرته هم د قنوت لفظ راشی نو ددې نه مراد اطاعت دې.(۲)هم دا حدیث ابن جریر کښې هم دې.لیکن په سند کښې ئې نکارت دې.مجاهد رحمه الله فرمائی مریم به په مونځ کښې دومره لونې قیام کولو چې دواړه ګیټۍ به ئې اوپرسیدې.د قنوت نه مراد دلته مونځ کښې لوئې لوئې رکوعات دی.د حسن بصری رحمه الله قول دې چې ددې نه مراد د خپل رب عبادت کښې مشغوله اوسه او د رکوع او سجده کونکو نه شه.اوزاعی رحمه الله فرمائی چې مریم صدیقه به خپله عبادت خانه کښې دومره په کثرت او خشوع اوخضوع سره مونځ کولو چې دواړه پښې به ئې زیړې شوې.﴿ رضی الله عنها وارضاها ﴾.(۳)

قوله تعالی:-ذٰلِكَ مِنْ اَنْۢبَآءِ الْغَیْبِ نُوْحِیْهِ اِلَیْكَ ؕ

خسنړې د زکریا علیه السلام په نوم راووتلو:-دا اهم خبر بیانوی او الله ﷻ فرمائی چې انې نبی!ددې خبرو علم تاته صرف زما د وحی په ذریعه اوشو ګنی تا ته څه خبر وو؟ته خو په هغه وخت کښې هغوئ سره موجود نه وې چې تاته ددې واقعاتو خبر دې؟لیکن د خپلې وحی په ذریعه مونږ تا ته دا ټول واقعات ښکاره کړل.دا داسې دی لکه چې تاسو په هغه وخت کښې موجود وئ.

قوله تعالی:-وَمَا كُنْتَ لَدَیْهِمْ اِذْ یُلْقُوْنَ اَقْلَامَهُمْ .....

د مریم د پرورش د پاره هر یو وړاندې وړاندې کیدو اوهر یو غوښتل چې د ثواب موقع حاصله کړی.او دا اجر ماته ملاوٌ شی.د دوی مور بی بی دا واخسته او دبیت المقدس مسجد سلیمانی طرفته روانه شوه.د هغه ځانې خادمان د هارون علیه السلام دنسل نه وو.دې اووئیل چې ما دا نذر د الله تعالی په نوم آزاد کړې دې.تاسو ته ئې سپارم.ماته پته ده چې دا جینۍ ده او دا هم ماته پته ده چې د دې به حیض هم رازی او دا به په مسجد کښې وی او د حیض والا ښځې مسجد ته ننشی راتلې خو اوس تاسو پوهه شئ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب احادیث انبیاء باب قول الله تعالی (وضرب الله مثلا للذین امنوا.....) : ۳٤۱۱، صحیح مسلم: ۲٤۳۱، نسائی: ۳٤۰۰، ابن ماجة: ۳۲۸۰)-

(۲) وسنده ضعیف)-

(۳) ددې سند کښې محمد بن یونس الکدیمی متهم بالکذب دې (المیزان: ۷۴/۴)،رقم: ۸۳۵۳، نو دا روایت موضوع دې)-

Scanned with CamSc

او ستاسو کار زهٔ خو دا کورته نه بوځم ځکه چې دا ما د الله ﷻ په نوم نذر کړې ده.عمران ددې ځانې د مونځ امام وو.او د قربانو مهتمم وو.او دا د هغه لور وه.نو هر یو کس ددې غوښتنه کوله.بل طرفته زکریا علیه السلام اووئیل چې زهٔ د دې رشته داریم او د دې د ترور خاوند یم.دا جینئ ماته د پرورش دپاره ملاویدل پکار دی.خو نور خلق راضی نشو.آخر قرعه اندازی اوشوه.اوپه قرعه اندازئ دوی ټولو خپل هغه قلمونه واچول چې په کومو به ئې توراة لیکلو.نو قرعه اندازی د زکریا علیه السلام په نوم راووتله.(۱)او هم دا دهغه سعادت شو.نورو مفصلو روایتونوکښې هم دا دی چې په نهر اردن کښې دا قلمونه واچولې شو.چې کوم قلمونه په اوبوکښې لاړل نو هغه نه دی.او چې د چا قلم اودریدو نو هغه به د مریم کفیل وی نو د ټولو قلمونه اوبو کښې لاړل.صرف د زکریا علیه السلام قلم اودریدو بلکه الټه پاس راوختلو نو یو خو په خسنړی کښې د دوی نوم راوختلو او بل طرفته د دوی رشته داری وه،بیا زکریا علیه السلام پخپله د هغه ټولو سردار جوړ شو.صلوات الله وسلامه علیه.نو هم زکریا علیه السلام ته مریم اوسپارلې شوه.

اِذْ	قَالَتِ	الْمَلٰٓئِكَةُ	يٰمَرْيَمُ	اِنَّ اللّٰهَ	يُبَشِّرُكِ	بِكَلِمَةٍ	مِّنْهُ	اسْمُهُ

کله چې اووئیل | فرشتو | اې مریم | بیشکه الله | زیږې درکوی تاله|په یوفرمان سره | دطرفه خپل نه| نوم دهغه به

څه وخت چې فرشتوورته اووئیل |چې ائې مریم الله پاک تاته دخپلې کلمې زیږې درکوی| دهغه نوم به

الْمَسِيْحُ	عِيْسَى ابْنُ	مَرْيَمَ	وَجِيْهًا	فِي الدُّنْيَا	وَالْاٰخِرَةِ	وَمِنَ

مسیح | عیسی ځوې دمریم وی | دعزت خاوند به وی | په دنیا |او په آخرت کښې| اووی به د

مسیح عیسی ابن مریم وی|په دنیا اوآخرت دواړوکښې به د عزت خاوند وی

الْمُقَرَّبِيْنَ ۝	وَيُكَلِّمُ	النَّاسَ	فِي الْمَهْدِ	وَكَهْلًا	وَّمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝

نزدیکانونه به وی| او خبرې به کوی| دخلقو سره | په زانګو کښې|اوپه زوړوالی کښې هم| اووی به دنیکانو نه

اوالله ته به په نیزدې خلقو کښې شمیروی| اوخلقوسره به په خانګو کښې اوپه زوړوالی کښې خبر کوی اودنیکانونه به وی

قَالَتْ	رَبِّ	اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ وَلَدٌ	وَّلَمْ	يَمْسَسْنِيْ	بَشَرٌ ؕ	قَالَ

اوونیل هغې| اې ربه زما | څنګه به شی | مالره| ېچې | او حال دا چې| نه دې راوړې لاس ماته | هیڅ انسان| اوونیل فرښتې

مریم اوونیل چې ائې زمازمپرودګاره زمابه څنګه خوئې کیږی| ماته چا نارینه لاس،قدرله،هم راوړلی نه دی| فرښتې اوونیل

كَذٰلِكِ اللّٰهُ	يَخْلُقُ	مَا يَشَآءُ ؕ	اِذَا	قَضٰٓى	اَمْرًا	فَاِنَّمَا	يَقُوْلُ	لَهٗ

هم دارنګې|الله| پیدا کوی|هغه چې اوغواړی| کله چې| فیصله اوکړی| دیوکار |نوبیشکه| وائی |هغه کارته

هم دغه شان به کیږی | الله پاک چې څه اوغواړی هغه پیدا کوی |چې دیوکارفیصله اوکړی نوورته اووائی

كُنْ	فَيَكُوْنُ ۝

شه |نو هغه شی| |

چې موجد شه |

قوله تعالی:- اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ

د عیسی علیه السلام معجزانه پیدائش:- فرښتې دا زیږې مریم رضی الله عنها ته آوروی چې د دې به یو هلك پیداکیږی او یو لوئې شان والا به وی.اوصرف هغه ته به د الله ﷻ کلمه وئیلې کیږی.اوهم دا تفسیر دې د الله ﷻ د

(۱) الطبری: ۳۵۱/۶-

فرمان ﴿مُصَدِّقًا بِكَلِمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ﴾لکه چې جمهورو ذکرکړو او ددې سلسله کښې بیان تیر شویدې چې د هغه نوم به مسیح وی.عیسی خوئې د مریم.هر مومن به ده لره په دې نوم پیژنی.د مسیح نوم وجه داده چې دې به په زمکه کښې ډیرزیات سیل کوی.د مور طرفته د منسوب کیدو وجه داده چې دده پلار نه وو.د الله ﷻ په نیز هغه دواړه په دې جهان کښې اوچت شان خاوندان وو.او د خاص مقربینو نه وو،په هغه به د الله ﷻ کتاب او شریعت نا زلیږی.او په هغه به په دنیا کښې لوئې لوئې مهربانۍ کیږی اوپه آخرت کښې به هم.اود لویو لویو پیغمبرانو په شان د الله ﷻ حکم سره چې چا لره الله ﷻ اوغواړی نو شفاعت به کوی او هغه به قبلیږی.﴿صلوات الله وسلامه علیهم اجمعین﴾.

قوله تعالی:-وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا وَّمِنَ الصّٰلِحِيْنَ

هغه به په خپله خانګو کښې اوپه کم عمرکښې خلقو سره خبرې کوی یعنی دالله وحده لاشریك دعبادت به خلقوته دعوت ورکوی او دا به دهغه معجزه وی.او په لوئی عمر کښې به هم کله چې الله ﷻ ده طرفته وحی اولیږی.او هغه به په خپل قول او فعل کښې صحیح علم لرلو والا او نیك عمل والا وی.یو حدیث کښې دی چې په ورځوکوالی کښې کلام صرف عیسی ﷺ کړې دې او د جریج ملګری،یو بل حدیث کښې د یو بل بچې نوم ذکرکړې دې.نو دا درې شو.(۱)

قوله تعالی:-اَلَّتْ رَبِّ اَنّٰى يَكُوْنُ لِيْ وَلَدٌ وَّلَمْ يَمْسَسْنِيْ بَشَرٌ

مریم چې کله دا زیرې واوریدو نو په خپلو مناجاتو کښې اخته شوه او وې فرمائیل چې انې الله ﷻ زما به څنګه بچې اوشی؟ما خونکاح هم نه ده کړې.اونه زما د نکاح کولو اراده شته دې.او نه داسې بدکاره ښځه یم.حاشالله.

قوله تعالی:-قَالَ كَذٰلِكِ اللّٰهُ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ

دالله ﷻ طرفنه فرښتې جواب ورکړو چې د الله ﷻ امر ډیر لوئې دې.هغه ذات لره هیڅ څیز نه شی عاجزه کولې.دا نکته خیال کښې ساتل پکار دی چې دزکریا ﷺ ددې سوال په جواب کښې هغه خانې کښې لفظ﴿یفعل﴾وو اودلته لفظ﴿یخلق﴾دې یعنی پیدا کوی.ځکه چې باطلو ته څه موقع په لاس ورنشی او صفا لفظونوکښې مخلوق ته معلوم شی چې عیسی ﷺ د الله ﷻ مخلوق دې.

قوله تعالی:-اِذَا قَضٰۤى اَمْرًا فَاِنَّمَا يَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ

او بیا نې د دې نور تاکید اوفرمائیلو او وې فرمائیل چې هغه لوئې ذات کله هم یو کار کول اوغواړی نوصرف دومره فرمائی چې شه نو بس هغه اوشی.د هغه حاکم ذات د حکم نه پس ډهیل او وروستوالې نشته دې.لکه بل خانې کښې فرمائی چې﴿ وَمَآ اَمْرُنَاۤ اِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ﴾یعنی زمونږ صرف یو ځل حکم سره بغیر د تاخیر نه زر د سترګو په رپ کښې هغه کار اوشی،مونږ ورته دوباره نه وایو.

وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ	وَالْحِكْمَةَ	وَالتَّوْرٰىةَ	وَالْاِنْجِيْلَ ۚ
او زده به کړی هغه ته کتاب	او حکمت	اوتوراة	او انجیل
نوهغه موجود شی	اوهغه ته به الله کتاب او حکمت اود تورات علم ورکوی		
وَرَسُوْلًا	اِلٰى بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ ۙ	اَنِّيْ	قَدْ جِئْتُكُمْ	بِاٰيَةٍ	مِّنْ
او وی به رسول	بنی اسراءیلو ته	اییشکه زه	راغلې یم تاسوته	په ننبې سره	ددطرفه
اودبنی اسرائیلودپاره به نې رسول مقرر کړی	(چې ورته به وائی) ماداالله پاک دطرفه تاسو ته یوه لویه ننبۍ راوړې وه				

(۱) ابن ابی حاتم : ۲۷۲/۲، صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قوله تعالی (واذکر فی الکتاب مریم.....) : ۳٤۳٦، صحیح مسلم: ۲٥٥۰)-

Scanned with CamS

رَّبِّكُمْ لا اَنِّيْٓ اَخْلُقُ لَكُمْ مِّنَ الطِّيْنِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَاَنْفُخُ

درب ستاسو نه|بیشکه زه| جوړوم | تاسو ته | دختې نه | پشان دشکل| دمارغه| او پوک کوم

چې زه ستاسوپه مخکښې دختې نه دمرغئ په شان یوشکل جوړوم|.....بیاپه کښې پوک وهم

فِيْهِ فَيَكُوْنُ طَيْرًا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ

په هغې کښې| نوشی به هغه| مارغه | په حکم دالله سره| اوروغوم زه | مورزاده ړوند|

نوهغه به د الله په حکم سره مرغئ شی| .....او پیدانشی ړوند

وَالْاَبْرَصَ وَاُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا

او جذامی دبرګی مرض| او ژوندی کوم مړی| په حکم دالله | او خبر درکوم زه تاسو ته | دهغه څه

اوجذامی دواړو ته صحت ورکوم| اودالله په حکم مړی ژوندی کوم| اودا درته خودلې شم چې

تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ لا فِيْ بُيُوْتِكُمْ ط اِنَّ فِيْ

چې تاسو ئې خورئ | اودهغه څه|چې تاسو ئې ذخیره کوئ| په کورونو خپلو کښې| بیشکه

.....تاسوڅه خوړلی دی اوڅه مو په کورونو کښې ذخیره کړی دی .....په دې کښې

ذٰلِكَ لَاٰيَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۚ۝ وَمُصَدِّقًا لِّمَا

په دې کښې|خامخا نښه ده| ستاسودپاره | که یئ تاسو | مومنان | او تصدیق کونکې یم | دهغه کتاب

ستاسو دپاره (زما په رسالت باندې) لوئې دلیل دې |که تاسو په دې یقین کوئی| .....اوتصدیق کوم

بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَلِاُحِلَّ لَكُمْ

چې زما په مخ کښې موجوددې| د توراة نه | اودپاره ددې چې زهٔ حلال کړم| ستاسو دپاره|

دتورات چې زما په وخت کښې موجود دې | اوبله داچې تاسو دپاره بعضې هغه څیزونه

بَعْضَ الَّذِيْ حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِاٰيَةٍ

څینی هغه |چې حرام کړې شوی وو په تاسو باندې | او راوړی ده ما تاسو ته | یوه نښه |

چې په تاسو حرام شوی وو هغه حلالوم | .....اوتاسو ته مې نښهٔ راوړې ده

مِّنْ رَّبِّكُمْ ق فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ اِنَّ اللّٰهَ رَبِّيْ

دطرفه درب ستاسو نه | نو اویریږئ دالله نه| او تابعداری اوکړئ زما | بیشکه الله | رب زما دې |

چې هغه ستاسود رب د طرفنه ده | او الله پاک نه ویریږئ |او زماتابعداری اوکړئ |الله زما هم رب دې

وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ط هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝

او رب ستاسو دې | نو بندګی اوکړئ دهغه| دا | لاره ده | نیغه |

اوستاسو هم رب دې | نو(صرف)دهغه عبادت کوئی | اوهم دا نیغه لاره ده |

قوله تعالی:- وَيُعَلِّمُهُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ

Scanned with CamScanner

د عیسی ﷺ لوئې لوئې معجزې:- فرښتې مریم ته وانې چې ستا دې خوئې ته به الله ﷻ لیکل اوښانې او هغه ته به حکمت اوښانې.دلفظ حکمت تفسیرپه سورة بقره کښې تیر شوې دې.اوهغه ته به توراة اوښانې چې کوم په موسی ﷺ باندې نازل شوې وو.او انجیل به ورته اوښانې چې په عیسی باندې نازل شو.دوی ته دا دواړه کتابونه یاد وو.

قوله تعالی:- وَرَسُوْلًا اِلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۙ

اوهغوئ ئې بنی اسرائیلوطرفته خپل رسول اولیږلو.ددې خبرې دوینادپاره چې دازمامعجزه ده اوګورئ کنه خاوره مې واخسته او د هغې نه مارغه جوړ شو او بیا مو په دې کښې ساه واچوله او بیا هغه د ربښتیاوٗ مارغه شو او د خلقو مخکښې والوته.دا د الله ﷻ حکم سره او د هغه فرمان سره اوشو.عیسی ﷺ خپل قدرت سره نه دی کړی.دا یو معجزه وه چې د عیسی ﷺ د نبوت نښه وه.

قوله تعالی:- وَاُبْرِئُ الْاَكْمَهَ

﴿ اکمه ﴾هغه ړوند ته وانې چې هغه ته د ورځې ښکاری او د شپې ورته نه ښکاری.بعضو وئیلی دی چې﴿اکمه ﴾هغه نابینا ته وائی چې هغه ته د ورځې ښکاری مګر د شپې ورته نه ښکاری.بعضې وائی چې کوږ سترګې،او کانړې تری مراد دې.د بعضو قول دا هم دې چې کوم مور د رحم نه بالکل ړوند پیدا شی.دلته هم دا ترجمه مناسبه ده.ځکه چې په دې کښې د معجزې کمال دې او مخالفینو لره د عاجزه کولو دپاره دا صورت د نورو صورتونو نه اعلی دې.

قوله تعالی:- وَالْاَبْرَصَ وَاُحْيِ الْمَوْتٰى بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ سپین داغ ته وائی،داسې بیمار به هم د الله ﷻ حکم سره عیسی ﷺ روغول.او مړی به ئې هم د الله حکم سره ژوندی کول.

مختلفو انبیاء او رسولانو ﷺ ته د مختلفو معجزو د ورکړې حکمت:- د اکثرو عالمانو قول دې چې هر نبی ته به د هغه د زمانې مناسبت سره معجزې ملاویدې د الله ﷻ د طرفنه.

د موسی ﷺ په زمانه کښې د جادو ډیر شهرت وو:- د موسی ﷺ په زمانه کښې د جادو ډیر لوئې اثر وو.او د جادوګرو به ډیر زیات قدر او تعظیم کیدو.نو الله ﷻ موسی ﷺ ته هغه معجزه ورکړه چې هغې سره د ټولو سترګې حق دق شوې.او هغوئ حیران شو.او هغوئ ته کامل یقین اوشو چې دا خو د الله ﷻ د طرفنه ورکړه ده.دا جادو بالکل نه دې.نو هغوئ سرونه ښکته کړل اوپه یو آواز اسلام کښې داخل شو.او د الله ﷻ مقرب بندګان جوړ شو.

د عیسی ﷺ زمانه د طب او د طبیبانو د رفعت زمانه وه:- دعیسی ﷺ په وخت کښې د طبیبانو او حکیمانو شهرت وو.کامل طبیبان اوماهر حکیمان او دعلم طبعیات پورا عالمان کامل الفن موجود وو.نو عیسی ﷺ ته هغه معجزې ورکړې شوې چې دهغې نه ټول عاجز وو.اودا د چا وس کښې دی چې د مور ته ړوند پیدا شوې دې بینا کړی،ابرص مرض والا روغ کړی اوهغوئ ته د دې مهلکې بیماریٔ نه نجات ورکړی،او جمادات چې بې ساه ځیزونه دی په هغې کښې ساه واچوی،او مړی د قبرونو نه راژوندی کړی.صرف د الله ﷻ د حکم په طور دعیسی ﷺ نه دا خبرې ظاهرې شوی وی.

د محمد رسول الله ﷺ زمانه د فصاحت او بلاغت په اعتبار ډیره پورته وه:- لکه څنګه کله چې زمونږ آقا محمد ﷺ تشریف راوړنو په هغه وخت کښې د فصاحت او بلاغت خبرې او اوچت خیالی او په خبروکښې د نزاکت اولطافت زمانه وه.په دې فن کښې اوچتو اوچتو شاعرانو داسې کمال حاصل کړې وو چې دنیا ورته ګوته په خوله وه.او نبی کریم ﷺ ته کتاب الله داسې ورکړې شو چې د هغه ټولو رنړا ګانې ټټې شوې.او د کلام الله نور دوی لاندې راوغورزول.او هغوئ ته یقین اوشو چې دا انسانی کتاب نه دې.او ټولې دنیا ته په څو څو کرتې دا اووئیلې شو چې څوک شته دې داسې چې ددې په شان کلام جوړ کړی؟یواځې یواځې نه بلکه ټول دې یو خانې شی او صرف انسانان نه بلکه جنات دې هم ځان سره شامل کړی،اوبیا د ټول قرآن برابر نه صرف د لسو سورتونو برابر او دا هم نه بلکه د یو سورت پشان

سورت دي راوړی.خو ټول ناکام شول همتونه ئې پست شول،مړئ ئې ختمې شوې،په ژبه ګونګیان شول،اوننه پورې ټولې دنیااونکړل او نه به کله اوکړی،چرته د الله ﷻ کلام اوچرته د مخلوق؟نود هغه زمانې اعتبار سره دې معجزې خپل اثر اوخودلو او مخالفینو حوصلې بائیللې.او ډلې ډلې اسلام کښې داخل شو.

قوله تعالی:-وَاُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ ۙ فِیْ بُیُوْتِكُمْ ؕ

بیادعیسی علیه السلام بله معجزه بیانیږی دوی دا هم اوفرمائیل او وې خودل چې تاسوکښې نن څوك په خپل کورکښې خوراك اوکړی نو الله ﷻ په فضل سره هغه هم ښائیلې شم.او د سبا دپاره چې هغه کوم تیارې کړې دې هغه هم خودلې شم د الله ﷻ نه په معلومولوسره.

قوله تعالی:-اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیَةً لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ::په دې کښې زما د ربښتنولئ دلیل دې چې تاسو ته زهٔ کوم تعلیم درکوم هغه حق دې.که تاسو کښې ایمان وی.

قوله تعالی:-وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَیْنَ یَدَیَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ

زهٔ دخپل رومبنی کتاب توراة لره هم منلووالا او د هغې د ربښتینولئ په دنیا کښې اعلان کوونکې یم.

قوله تعالی:-وَلِاُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِیْ حُرِّمَ عَلَیْكُمْ

زهٔ په تاسوباندې بعضې څیزونو لره حلالولو دپاره راغلې یم چې هغه تاسوباندې مخکښې حرام کړې شوی وو.ددې نه ثابت شو چې عیسی علیه السلام دتوراة بعضې احکام منسوخ کړی وو.اګر چې ددې خلاف هم د مفسرینو خیال دې لیکن درست خبره هم داده.

بعضې حضرات فرمائی چې د تورات یو حکم هم نه وومنسوخ شوې.البته په بعضو څیزونوکښې چې اختلاف وواود دې اختلاف په زیاتیدو زیاتیدو چې د هغې په حرمت باندې اجماع شوې وه.عیسی علیه السلام دهغې په حقیقت کښې بیان اوکړو او د دې په حلالیدو ئې مهر اولګولو.لکه قران پاك بل ځائې کښې فرمائی چې ﴿وَلِاُبَیِّنَ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِیْ تَخْتَلِفُوْنَ فِیْهِ﴾ یعنی زهٔ ستاسو دځه اختلافاتو باره کښې صفا فیصله کوم.والله اعلم.

قوله تعالی:-وَجِئْتُكُمْ بِاٰیَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ ۫ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ

بیافرمائی ماسره دخپلې سچائی ربانی دلیلونه موجوددی.تاسو دالله ﷻ نه اوویریږئ او زما اومنئ.

قوله تعالی:-اِنَّ اللّٰهَ رَبِّیْ وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوْهُ ؕ

اوددې خلاصه داده چې دهغه پاك ذات عبادت اوکړئ چې ستاسواو زما پالولووالا دې.او نیغه او ربښتیا خو هم دا لار ده.

فَلَمَّاۤ اَحَسَّ	
نو هر کله چې محسوس کړو	|
نوعیسی علیه السلام محسوسه کړه	|
عِیْسٰی مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِیْۤ اِلَی اللّٰهِ ؕ قَالَ	
عیسی | دهغوئ نه | کفر | اوونیل هغه|څوك دی مددګاران زما| په طرف دالله | اوونیل	
چې بنی اسرائیلوزما نه انکار کوی | نوهغه اوونیل چې د الله پاك په لار کښې زما څوك مددګاردې	
الْحَوَارِیُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ ۚ وَاشْهَدْ	
حواریانو | مونږه مددګار یودالله | ایمان راوړې دې مونږه|په الله باندې | اوګواه شه ته |	
حواریانواوونیل چې مونږدالله (په لار کښې ستا)مددګونکی یو| مونږپه الله ایمان راوړې دې |اوته په دې خبره ګواه شه	

Scanned with CamSc

بِاَنَّا مُسْلِمُوْنَ ۝	رَبَّنَآ	اٰمَنَّا	بِمَآ	اَنْزَلْتَ
چې مونږه مسلمانان یو	اې ربه زمونږه	اومنو مونږه	هغه فرمان	چې نازل کړې دې تا
چې مونږ دالله تابعداراین یو	اودانې اوونیل چې انې زمونږ ربه	تاچې کوم فرمان نازل کړې دې هغه مونږ منلې دې		
وَاتَّبَعْنَا	الرَّسُوْلَ	فَاكْتُبْنَا	مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝	وَمَكَرُوْا
او تابعداری اوکړه مونږه	درسول	انواولیکه مونږه	دګواهانو سره	او پټ تدبیرونه شروع کړل هغوئ
اوستاد پیغمبرتابعدار یو	انومونږپه ګواهانوکښې شمیرکړه	اوبنی اسرائیلودعیسی خلاف	پټ تدبیر اوکړو	
وَمَكَرَ اللّٰهُ ؕ	وَاللّٰهُ	خَيْرُ	الْمٰكِرِيْنَ ۝ ع	
او پټ تدبیر اوکړو الله	او الله	بهترین	تدبیر کونکې دې	
اوالله پاک د هغې په جواب ورکړو	اوپه داسې کولوکښې الله ټولودپاسه دې			

قوله تعالی:-فَلَمَّآ اَحَسَّ عِيْسٰى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ

دعیسی علیه السلام حواریان او د محمد ﷺ انصار:-یعنی کله چې عیسی علیه السلام اوکتل چې دوی دخپل ضداو کوږوالی نه آوړیدونکی نه دی نو وې فرمائیل چې داسې هم دی چې څوک زما تابعداری اوکړی نو الله ﷻ طرفته به اورسی[1] او دا مطلب هم بیان کړې شوې دې چې څوک شته دې چې د الله ﷻ سره زما مددګار جوړ شی.لیکن ډوممې قول زیات قریب دې.په ظاهره معلومیږی چې دوی اوفرمائیل چې الله ﷻ لره بللو کښې څوک زما مددکوونکې شته؟لکه څنګه چې د هجرت نه مخکښې د حج موسم کښې مکه مکرمه کښې رسول الله ﷺ فرمائیلی وو چې څوک شته دې چې ماته ځائې راکړی چې د الله ﷻ کلام اورسوم؟قریش خو ما د الله ﷻ د تبلیغ نه منع کوی.[2]تردې چې د مدینې منورې اوسیدونکی انصارو هم ددې خدمت دپاره ملاوترله.او رسول الله ﷺ ته ئې ځائې هم ورکړو.او د رسول الله ﷺ مدد ئې هم اوکړو.او کله چې رسول الله ﷺ هغوئ ته ورغلو نو پورا خیرخواهئ سره او پورا همدردئ سره ئې د رسول الله ﷺ ملګرتیا اوکړه.او د رسول الله ﷺ حفاظت او د رسول الله ﷺ د مقاصدو د کامیابئ د پاره مصروفه شول.(رضی الله عنهم وارضاهم).

قوله تعالی:-قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ ۚ

دا شان د عیسی علیه السلام په دې آواز باندې هم څو بنی اسرائیلو لبیك اووئیلو او په عیسی علیه السلام باندې ئې ایمان راوړو.د دوی تائید اوتصدیق ئې اوکړو اوپورا مدد ئې ورسره اوکړو او ددې نور(رڼا) په اطاعت کښې اولګیدل چې کوم الله ﷻ دوی ته نازل کړې وو.یعنی انجیل،

دا خلق څوک وو او دوی ته حواریان ولې اووئیلې شو؟:- داخلق دهوبیان وو او حواریان دوی ته د دوی د کپړو دسپین والی په وجه وئیلې شوی دی،بعضې وائی چې دا بنکاریان وو.صحیح دادی چې حواریان وانی مددګار ته.لکه بخاری او مسلم کښې حدیث دی چې د جنګ خندق په موقع باندې رسول الله ﷺ فرمائیلی وو چې څوک چې تیارشی؟ددې آواز آوریدو سره زبیر رضی الله عنه تیار شو او رسول الله ﷺ دوباره هم دا اوفرمائیل،بیا هم زبیر رضی الله عنه تیار شو،نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې د هر نبی حواریان وو او زما حواری زبیر رضی الله عنه دی.[3]

قوله تعالی:-رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُوْلَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ

---

[1] ابن ابی حاتم : ۳/۲۹۰)-

[2] احمد: ۳/۳۳۹، وسنده حسن)-

[3] صحیح بخاری کتاب الجهاد باب هل یبعث الطلیعة وحده : ۲۷۴۷، صحیح مسلم: ۲۴۱۵، ترمذی: ۳۷۴۵)-

Scanned with CamSc

بیا دا خلق خپله دعا کښې وائی چې مونږ په شاهدانو کښې اولیکه،ددې نه مراد د ابن عباس ﷺ په نیز امت محمدیه کښې لیکل دی،ددې تفسیر روایت سند ډیر بهتر دې.

قوله تعالیٰ:-وَمَكَرُوْا وَمَكَرَ اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ

بیا د بنی اسرائیلو دهغه ناپاکې ډلې ذکر کیږی چې د عیسی ﷺ خانی دښمنان وو.او ددوی د مړکولو او په سولئ باندې د خیژولو قصد ئې لرلو.او چې هغوئ د هغه زمانې د بادشاه غوږونه د عیسی ﷺ خلاف ډك کړی وو چې داسې خلقو لره لمسوئ چې په ملك کښې بغاوت پیدا شی.او عوامو کښې فساد پیدا کوی.اوپلار خونې مینځ کښې فساد راولی.او دا خلق په خپل خباثت او خیانت کښې دومره لرې لاړل چې عیسی ﷺ ته ئې(نعوذبالله)د زانیه خونې اوونیلو.او په دوی باندې ئې لونې لونې الزامونه اولګول تر دې چې بادشاه هم د دوی خلاف شو.او خپل فوځ ئې اولیږلو چې ده لره ګرفتار کړی او ورته سخته سزا ورکړی او پهانسی ورته هم ورکړی.فوځ خی او چې کوم کور کښې عیسی ﷺ اوسیدو د هغې نه ګیرا اچوی او بیا کور ته داخلیږی.لیکن الله تعالی دوئ لره ددغه مکرونو نه امان ورکوی او د دوی د کور په روشندان ئې دوی پورته آسمان طرفته اوچت کړل.او د دوی په شکل ئې یو بل سړی په دې خانې کښې واچولو او هغه هم په دې کور کښې وو.دې خلقو هغه د شپې په تیاره کښې عیسی ﷺ اوګنړلو او ګرفتار ئې کړو.د هغه سخت توهین کوی او په سر ورته د ازغوتاج ایږدی او هغه په سولئ خیژوی.هم دا هغوئ سره د الله تعالی مکر وو چې هغوئ دا ګنړل چې مونږ د الله تعالی نبی ته پهانسی ورکړې ده خوالله تعالی خپل نبی ته نجات ورکړو.او هغوئ ته ددې بدبختئ او بدنیتئ ثمره دا ملاؤ شوه چې د هغوئ زړونه همیشه دپاره سخت شو.اوپه دنیاکښې هم ذلیل او خوار شو.او آخره پورې په دې ذلت کښې پراته وو.د دې بیان هم په دې آیت کښې دې.که هغوئ مکر کوی نو آیا مونږ ته پته نشته دې،مونږ خو د دوی نه بهتر مکر کوونکی یو.

اِذْ	قَالَ اللّٰهُ	يٰعِيْسٰٓى		
	کله چې|اوونیل| الله		ای عیسی	
	کله چې الله اوفرمائیل ای عیسی			
اِنِّيْ	مُتَوَفِّيْكَ	وَرَافِعُكَ اِلَيَّ		وَمُطَهِّرُكَ
بیشکه څه	واپس اخستونکې یم تالره	پورته کونکې یم تالره خان خپل ته				او پاك کونکې یم تالره
زه تا واپس بوتلونکې یم	او خپل خان ته دې پورته کونکې یم	اوتا دهغه تهمت نه پاکونکې یم		
مِنَ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَجَاعِلُ الَّذِيْنَ	اتَّبَعُوْكَ	فَوْقَ
دهغه کسانونه	چې انکار ئې کړې دې	او جوړونکې یم|هغه کسانولره	چې تابعداری ئې کړې ده ستا	دپاسه
کوم کافرو په تا لګولې دي	.....	اوستا تابعدار خلق ترقیامته پورې		دهغه خلقو دپاسه
الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ	اِلَيَّ	مَرْجِعُكُمْ
دهغه کسانو	چې انکار ئې کړې دې|دورځ دقیامته پورې	بیا	خاص ماته| واپس راتلل دی ستاسو|	
کونکې یم چا چه کفر کړې دې	.....	بیا ستاسود ټول خلقو ماته راتلل دی نوزه به پخپله		
فَاَحْكُمُ	بَيْنَكُمْ	فِيْمَا	كُنْتُمْ	فِيْهِ	تَخْتَلِفُوْنَ ۝
نوزه به فیصله کوم|په منځ ستاسو کښې|په هغه خبرو کښې|چې وئې تاسو|په هغې کښې|چې اختلاف به موکوؤ					
ستاسو په مینځ کښې به هغه اختلافی مسئلو کښې فیصله اوکړم کوم کښې چه تاسو اختلاف کوئ					

Scanned with CamScanner

فَاَمَّا الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	فَاُعَذِّبُهُمْ	عَذَابًا	شَدِيْدًا	فِي الدُّنْيَا
نوهرچي دی هغه کسان	چي دانکار په لارروان دی	نوسزابه ورکوم هغوئ له	سزا	سخته	په دنيااو
نوکومو خلقو چي کفر کړي دي	.....هغوئ ته زه په دنيا او په آخرت کښي سزا				
وَالْاٰخِرَةِ	وَمَا لَهُمْ	مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝	وَاَمَّا	الَّذِيْنَ	
په آخرت کښي	اونۀ به وی دپاره دهغوئ	هيڅوك مددګار	او هر چي دی	هغه کسان	
ورکونکي يم	اودوئ دپاره به هيڅوک مددګار نه وی	..... او چا چي			
اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	فَيُوَفِّيْهِمْ	اُجُوْرَهُمْ ؕ		
چي ايمان ئي راوړي دي	اوعملو نه ئي کړی دی نيك	انو پوره به ورکړی الله هغوئ ته	بدلي دهغوئ			
ايمان راوړي دي	اودنيکئ کارونه ئي کړی دی	نوهغوئ ته بۀ الله پوره پوره اجر ورکړی			
وَاللّٰهُ	لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ۝	ذٰلِكَ	نَتْلُوْهُ	عَلَيْكَ	مِنَ الْاٰيٰتِ	وَالذِّكْرِ الْحَكِيْمِ ۝
اوالله	نۀ خوښوی ظالمان	دا چي تيرشو|مونږه اولوستلو دا| تاته	دآيتونونه	اودقرآن حکمت والاته	
اوالله پاک بي انصافه خلق نه خوښوی	داچي مونږ تاته آورو نو داټول آيتونه دحکمت او دذکر نه ډک دی				

قوله تعالى:- ﴿إِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰى إِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ﴾

عيسى عليه السلام آسمانونو ته پورته کول

د انی متوفيک معنی کښي د مفسرينو رحمهم الله مختلف تفسيرونه:- قتاده رحمه الله وغيره مفسرين خو فرمائی چي مطلب دادي چي زۀ به تاخپل طرفته اوچت کړم.بيا دي نه پس به تالره وفات کړم.ابن عباس رضي الله عنه فرمائی يعنی زۀ تالره وړلو والا يم.وهب بن منبه فرمائی چي الله ﷻ تاسو لره د اوچتولو په وخت کښي د ورځي په شروع کښي دري ساعته پوري فوت کړي وو.ابن اسحاق رحمه الله فرمائی چي دنصرانيانو خيال دي چي الله ﷻ دوی لره تر اووه ساعته پوري وفات کړي وو او بيا ئي ژوندی کړو.وهب بن منبه رحمه الله فرمائی چي تر دريو ورځو پوري مړ وو اوبيا ژوندي شو او اوچت ئي کړو.مطر وراق فرمائی يعنی زۀ تاته پورا پورا حق درکوونکي يم.دلته وفات مراد نه دي،داشان ابن جرير فرمائی چي﴿ نوم ﴾نه دلته مراد دده رفع ده،او د اکثرو مفسرينو قول دي چي د وفات نه مراد دلته خوب دي او بل ځائي کښي قرآن پاك کښي دی چي﴿وَهُوَ الَّذِيْ يَتَوَفّٰكُمْ بِالَّيْلِ﴾او الله ﷻ چي تاسو لره فوت کوی يعنی سملوی مو او بل ځائي کښي دی چي﴿اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا﴾يعنی الله ﷻ خلقو لره فوت کوی،د دوی د مرګ په وخت کښي او چي کوم نه مری نو هغوئ لره اوده کوی.

رسول الله ﷺ چي به کله بيدار شو نو فرمائيل به ئي﴿ الحمدلله الذي احيانا بعدما اماتنا﴾ : يعنی دالله تعالی شکر دي چي هغه مونږ لره د مړ کولو نه پس ژوندی کړو(۱)

بل ځائي کښي فرمائی چي﴿ **وبكفرهم** ﴾نه تر﴿ **شهيدا** ﴾ پوري اووايه.هلته فرمائيلي شوی دی چي د دوی د کفر په وجه او په مريم رضي الله عنها باندي د بهتان عظيم ترلو په وجه او په دي وجه چي وائی چي مونږ مسيح عيسى بن مريم رسول الله لره قتل کړو.حالانکه نه قتل شويدي او نه صليب شويدي ليکن د دوی شك شو.د﴿موته ﴾ضمير مرجع عيسى عليه السلام دي.يعنی ټول اهل کتاب به عيسى عليه السلام باندي ايمان

---

(۱) صحيح بخاری كتاب الدعوات باب وضع اليد على الخد اليمنى : ٦٣١٤، صحيح مسلم: ٢٧١١، ابوداود: ٥٠٤٩، ترمذی: ٣٤١٧، عمل اليوم والليلة للنسائي: ٧٤٧، ابن ماجة: ٣٨٨٠)-.

Scanned with CamSc

راوړی.او هغه به د قیامت نه مخکښې زمکې ته راکوزیږی.د دې تفصیل به انشاء الله نزدې راشی.نو په هغه وخت کښې به ټول اهل کتاب په عیسی ﷺ باندې ایمان راوړی.خکه چې نه خو به هغوئ جزیه قبلوی او نه به د اسلام نه سوا بل دین قبلوی.ابن ابی حاتم کښې حسن رحمة الله علیه نه د ﴿إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ﴾ تفسیر دا مروی دې چې په دوی خوب باندې د خوب غلبه راغله او د خوب حالت کښې الله تعالی دوی لره اوچت کړل.حسن رحمه الله فرمانی چې رسول الله ﷺ یهودیانو ته اوفرمائیل چې عیسی ﷺ نه دې مړ شوې،هغه به تاسو طرفته د قیامت نه مخکښې رازی.(۱)

قوله تعالی:-وَمُطَهِّرُكَ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ

بیا فرمائی چې زهٔ تاله اوچتونکی او د کافرو نه پاکونکئ یم.او ستا نه پس تابعدارو لره په کافرانو غالب کوونکئ یم تر قیامته پورې.

د عیسایانو مختلفې فرقې:- نو دا شان اوشو چې کله الله ﷻ عیسی ﷺ آسمان ته پورته کړو نو دې نه پس د دوی ملګری ډیرو فریقو کښې تقسیم شو.یو فرقه خو د دوی په نبوت باندې ایمان راوړونکي وه چې عیسی ﷺ دالله ﷻ بنده دې او دهغه رسول دې.اودهغه ذات د یو بندیګاري خونې دې.بعضې هغه دی چې هغوئ دغلو نه کار واخستو اوپدې کښې مخکښې لاړل اودوی ته نې دالله ﷻ خونې اوونیلو.او نورو خو دوی ته خدائي اووئیلو(نعوذبالله)،بعضو په دریو کښې یو خدائي دوی ته اووئیل.الله ﷻ د دې عقائدو ذکر په قرآن پاك کښې کوی.بیا ددې تردید هم کوی.

په عیسائیت کښې تحریف کوونکي:- دري سوه کاله خو دوی دا شان وو.بیا د یونان بادشاهانو کښې یو بادشاه چې ډیر فلسفی وو او دهغه نوم قسطنطین وو،وئیلې شی چې صرف د دین د نړولو دپاره په منافقانه طریقو او حیلو بهانوسره دې دین ته داخل شو یا جهالت سره داخل شو.بهر حال هغه دین مسیح بالکل بدل کړو.او په دې کښې نې ډیرتحریف او تغیر اوکړو.اوپه دې کښې نې کمې زیاتې اوکړو.اوپه دې دین کښې نې ډیر قوانین ایجاد کړل.او امانت کبری هم د ده ایجاد دې اودا په اصل کښې د رذیل توب خیانت دې.هم ده په خپله زمانه کښې خنزیر حلا ل کړې وو.او هم دده په حکم عیسایانو مشرق طرفته مونځ شروع کړو.اوهم ده په ګرجو،کنیساګانو کښې،عبادت خانو کښې او خانقاهونوکښې تصویرونه جوړ کړل اودخپلې ګناه په وجه نې لس روژې په روژو کښې زیاتې کړې.غرض داچې دهغه زمانې نه دین مسیح دمسیح دین پاتې نشوبلکه دین قسطنطین شو.ده ورته ظاهری ښه رونق ورکړو،دولس زرو نه زیات عبادت خانې نې جوړ کړې.او په خپل نوم نې یو ښار جوړ کړو.ملکیه ډلې دده ټولې خبرې اومنلې.لیکن ددې ګناهونو باوجود یهودیان دده د لاس لاندې وو او په اصل کښې د نورو په نسبت حق ته زیات نزدې وو اګرچه ټول په ټوله کارفران وو په دوی باندې دې د الله ﷻ غضب وی.

د ټولو انبیاء ﷺ حقیقی منونکی:- اوس کله چې زمونږ محمد مصطفی ﷺ لره الله ﷻ خپل برګزیده رسول جوړ کړو او د نیاته نې راولیږلو نو په دوی باندې چې کومو خلقو ایمان راوړو د هغوئ ایمان په الله ﷻ باندې وو.او د هغه په فرښتو باندې وو او د هغه په کتابونو باندې وو او د هغه په ټولو رسولانوباندې وو.نو د نبیانو حقیقی تابعدار هم دا خلق وو یعنی امت محمدیه ﷺ.خکه چې دا د نبی امی عربی خاتم الرسل سیداولاد آدم ﷺ منلو والا وو او د رسول الله ﷺ تعلیم د ټول حقانیت منلووالا وو.نو اصل کښې دهرنبی منونکی اوپه رښتیا د هغوی تابعدار اوپه صحیح معنو کښې د هغوی د امتی کیدو حقداره هم دوی دی.خکه چې هغه خلقو چې خانونو ته په نې عیسایان وئیل هغوی د عیسی ﷺ دین بالکل مسخ

---

(۱) الطبری : ۷۱۲۹، داروایت مرسل دې،اودې کښې عبدالله بن ابی جعفر ناقابل احتجاج اوددوی والد سئ الحفظ دې(المیزان : ۴۰۴، رقم: ۴۲۵۲، نودا روایت ضعیف دې)۔

Scanned with CamScanner

اوفسخ کړي وو.

په کافرانو باندې د دې امت غلبه:- د دې نه علاوه د پیغمبر آخرالزمان دین هم نورو ټولو وړاندینو شریعتونو لره ناسخ وو.بیا محفوظ پاتې کیدونکې وو.چې ددې یوحصه به هم تر قیامته پورې بدله نه شي.نو ددې آیت د وعدې مطابق الله ﷻ کافرانو باندې ددې امت غلبه اوکړه.او دوی مشرق نه واخله تر مغربه پورې غالب شول.او ټول ملکونه ئې فتح کړل او لوئې لوئې او غټ غټ کافران ئې جهنم ته اولیږل.او دولتونه د دوی پښو ته راغلل.او فتح اوغنیمت د دوی جولۍ ته راغلل.او دوی د پخوانو پخوانو حکتومنونو تختونه واړول.د کسری عالی شان سلطنت،د هغه آتش کدې د دوی په لاس شاړې شوې.د قیصر تاج و تخت دوی ته ملاؤ شو او هغه ته د مسیح پرستۍ ښه مزه ملاؤ شوه.او د هغه خزانې ئې د الله ﷻ د رضا دپاره او د هغه د ریښتونې رسول الله ﷺ (۱)د دین د اشاعت دپاره د زړه نه خرچ کړې.اود الله ﷻ وعدې او د رسول الله ﷺ وعدې د څوارلسمې سپوږمۍ په شان ریښتیا شوې.دې خلقو اوکتل چې د مسیح نوم لره بدناموونکۍ او د مسیح په نوم د شیطان عبادت کونکی د دې پاکو خلقو نه مجبور شول او د شام ښکلی باغونه او آباد ښارونه ئې دوی ته حواله کړل او لاړل غائب شول اوروم(ترکی)کښې استوګن شول.او بیا هم د هغه ځائې نه دا بې عزته ویستلې شو.او د خپل بادشاه خاص ښار قسطنطنیه ته اورسیدل لیکن بیا د هغه ځائې نه هم ذلیل و خوار اوویستلې شو او انشاء الله اسلام او اهل اسلام به تر قیامته پورې د دوی د پاسه وی.

د رسول الله ﷺ زیرې:- د ټولو ریښتونو سردار یعنی محمد ﷺ خبر ورکړې دې اودا خبر اټل دې،دا نه ده چې کنی پورا به نشی نه خو به دې خبر کښې څه کمې بیشې راشی او نه به په دې کښې څه بدلون راشی نو رسول الله ﷺ فرمائی چې د دوی د امت آخری ډله به قسطنطنیه فتح کړی او د هغه ځائې ټولې خزانې به خپله قبضه کښې راولی.او د دوی به رومیانو سره یو عظیم جنګ اوشی او ددې په وجه به دنیا د هغوئ نه خالی شی.(۲)(زمونږ دعا ده چې په هره زمانه کښې الله ﷻ د دې امت حامی او ناصر شی او په مخ د زمکې دې دا امت په کفارو باندې غالب کړی او هغوئ ته دې پوهه ورکړی چې نه خو دوی د الله تعالی نه سوا د بل چا عبادت اوکړی او نه د حضرت محمد ﷺ نه سوا د بل چا اطاعت اوکړی،هم دابنیاد دې د اسلام او هم دا د دنیوی اوچتوالی او رفعت چل دې)،ما داټول په یو بیل کتاب کښې جمع کړې دی.

قوله تعالی:- فَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَأُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا.....

مخکښې قول باندې نظر واچوئ چې مسیح عیسی ﷺ لره نه منونکو یهودیانو او د عیسی ﷺ په شان کښې د ځانه خبرو جوړونکو نصرانیانو ته د قتل او بندی کیدو او د مال او سلطنت د تباه کیدو سزا ورکړې شوه.او د آخرت عذاب ئې هم هلته اوګوره او هلته به هیڅوک د دوی بچ کولو والا نه وی او نه به ئې څوک مددګار وی.

قوله تعالی:- وَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَيُوَفِّيهِمْ أُجُورَهُمْ

او د دې برعکس ایماندارو ته به الله ﷻ پورا اجر ورکړی په دنیا کښې هم فتح او نصرت او عزت به ورکړی او عقبا کښې به هم دوی ته خاص رحمتونه او نعمتونه ملاویږی.الله ﷻ ظالمان نه خوښوی.بیا فرمائی چې ائې نبی ادا هم حقیقت دې دعیسی ﷺ او دهغوئ د ابتداء او پیدائش اودهغه دامر چې الله ﷻ دوی ته دخپلې وحی په ذریعه نازل کړو.اوپه دې کښې شك او شبه نشته دې لکه سورة مریم کښې فرمائی چې عیسی ابن مریم همدا دې،هم دې ریښتیا حقیقت دې،چې تاسو په دې کښې شك

---

(۱) صحیح بخاری کتاب فرض الخمس باب قول النبی (احلت لکم الغنائم) ۳۱۲۰ ،صحیح مسلم: ۲۹۱۸)-

(۲) صحیح مسلم کتاب الفتن باب فی فتح قسطنطنیه ...: ۲۸۹۷)-

Scanned with CamSc

کښې پریوتی یې. الله ﷻ لره لائق نه دی چې دهغه دې اولاد وی. هغه لوئې ذات ددې نه پاک دې. هغه چې څه کول غواړی نو چې اووائی نو هغه اوشی، اوس دلته هم ددې نه پس بیان کیږی.

اِنَّ	مَثَلَ	عِيْسٰى	عِنْدَ اللّٰهِ	كَمَثَلِ	اٰدَمَ ؕ	خَلَقَهٗ	مِنْ تُرَابٍ

بیشکه | مثال د عیسی | په نیزد الله | پشان دمثال | د آدم دې | چې پیدا ئې کړو هغه | دخاورې نه |

د عیسی (د پیدائش) مثال د الله په نیز د آدم ﷺ (د پیدائش) پشان دې چې هغه ئې له خاورې نه پیدا کړو

ثُمَّ	قَالَ	لَهٗ	كُنْ	فَيَكُوْنُ ۝۵۹	اَلْحَقُّ	مِنْ رَّبِّكَ	فَلَا تَكُنْ	مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ ۝۶۰

بیا ئې اوئیل هغه ته | شه | نو هغه شو | دا حق دې | دطرفه درب ستا نه | نو مه کیږه ته | دشک کونکو نه

بیا ئې ورته اووئیل چې ژوندی شه | نو هغه ژوندی شو | دا حقیقت دې | چې ستا د رب دطرف دې | نو د شک کونکو نه مه کیږه

فَمَنْ	حَآجَّكَ	فِيْهِ	مِنْۢ بَعْدِ مَا	جَآءَكَ	مِنَ الْعِلْمِ

نوهغه څوک | چې جګړه کوی تا سره | په دې مسئله کښې دڅرګند علم راتلونه پس | هم جنګړه کوی ..... | علم

نوڅوک چې تاسره په دې مسئله کښې دڅرګند علم راتلونه پس هم جنګړه کوی .....

فَقُلْ	تَعَالَوْا	نَدْعُ	اَبْنَآءَنَا	وَاَبْنَآءَكُمْ	وَنِسَآءَنَا	وَنِسَآءَكُمْ	وَاَنْفُسَنَا

نواووایه | راشئ | چې راوبلو | خامن خپل | اوخامن ستاسو | اوښځې خپلې | اوښځې ستاسو | اوخانونه خپل

نورته اووایه چې راځئ چې مونږ خپل خامن اوتاسو خپل خامن مونږ خپلې زنانه اوتاسو خپلې زنانه راوباسو | اومونږ

وَاَنْفُسَكُمْ ۟ قف	ثُمَّ	نَبْتَهِلْ	فَنَجْعَلْ	لَّعْنَتَ اللّٰهِ

اوخانونه ستاسو | بیا به | دعا اوغواړو په عاجزئ سره | اواوبه لیږو | لعنت دالله

اوتاسو پخپله هم راشو | بیا الله پاک ته په عاجزئ سره داسې سوال اوکړو | چې دالله لعنت

عَلَى الْكٰذِبِيْنَ ۝۶۱	اِنَّ هٰذَا	لَهُوَ	الْقَصَصُ	الْحَقُّ ۚ	وَمَا مِنْ اِلٰهٍ

په درغژنو باندې | بیشکه دا | خامخا دا | قصه | حقه ده | او نشته لائق دعبادت

په دروغژنو خلقو شی | دا بالکل د صداقت نه ډکې قصې دی | .....او د الله تعالی نه سوا بل

اِلَّا اللّٰهُ ؕ	وَاِنَّ اللّٰهَ	لَهُوَ	الْعَزِيْزُ	الْحَكِيْمُ ۝۶۲	فَاِنْ تَوَلَّوْا	فَاِنَّ اللّٰهَ

مګر الله دې | اوبیشکه الله | هم هغه | غالب دې | صاحب د حکمت دې | نو که مخ واړولودوی | نو بیشکه الله

څوک د عبادت لائق نشته | اوبیشکه الله په هرڅاغالب دې | اودحکمت خاوند دې | نوکه دوئ مخ اوګرزوی | نوالله ته

عَلِيْمٌۢ	بِالْمُفْسِدِيْنَ ۝۶۳
خبر دې په حال	دفساد کونکو
فساد کوونکی خلق معلوم دی	

قوله تعالی:- اِنَّ مَثَلَ عِيْسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ اٰدَمَ ؕ

عیسایانو ته دمباهلې دعوت او د هغوئ انکار:- الله ﷻ د خپل کامل قدرت بیان کوی چې د عیسی ﷺ خوصرف پلارنه وو اوما هغه په خپله پیدا کړو پدې کښې څه عجب دی؟ ماآدم ﷺ خو ددې نه مخکښې پیدا کړې وو حالانکه د هغه هم پلار نه وو. بلکه مور ئې هم نه وه.

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:- خَلَقَهٗ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ قَالَ لَهٗ كُنْ فَيَكُوْنُ
د خاورې نه مو بدن جوړ کړې وو او ورته ئې اووئیل چې آدم شه نو هم په هغه وخت اوشو.بیا ما د پاره صرف د مور نه پیدا کول څه مشکل دی ؟ ځکه چې ما بغیرد پلا راو مور نه پیدا کړی دی.نو هرکله چې عیسی ﷺ د دې مستحق دې چې ورته د الله ﷻ ځوئې وائی نو آدم ﷺ خو په طریقه اولی دا حق لری.اوهغه تاسوپخپله هم نه منئی.بیاعیسی ﷺ په طریقه اولی ددې درجې نه اخوا کول پکار دی. ځکه چې د ابنیت د دعوې بطلان او فساد دلته ددې نه هم زیات ظاهر دې.دلته نه مور وه او نه پلار وو،دا ټول د الله ﷻ د کامل قدرت ظهور دې چې آدم ﷺ ئې بغیر د پلار نه پیدا کړو ﷺاو حوا ئې صرف دسړی نه،بغیر د ښځې نه پیدا کړه.او عیسی ﷺ ئې صرف د ښځې نه پیدا کړو او باقی مخلوق ئې دسړی او ښځی نه پیدا کړو.سورت مریم کښې فرمائی چې﴿ ولنجعله اية للناس ﴾ مونږ عیسی ﷺ لره خلقو د پاره د خپل قدرت نښه جوړ کړو.

قوله تعالی:- اَلْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُنْ مِّنَ الْمُمْتَرِيْنَ
اودلته فرمائی چې د عیسی ﷺ باره کښې د الله ﷻ هم دا فیصله ریښتونې ده.ددې نه سوا د څه کمی او زیاتی گنجائش نشته دې.ځکه چې د حق نه پس گمراهی وی.نو ائې نبی اتاسوته پکار دی چې بالکل د دې شکیانو خلقو نه نشئ.

قوله تعالی:- فَمَنْ حَآجَّكَ فِيْهِ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ
الله ﷻ رب العالمین دې نه پس خپل نبی ته حکم کوی که دومره واضح او کامل بیان نه پس هم څوک سړې تاسره د امر عیسی باره کښې جنګ کوی نو هغوئ ته د مباهلې دعوت ورکړه چې مونږ فریقین سره د خپلو خامنو او ښځو دمباهلې د پاره اوزو او الله ﷻ ته به عاجزئ سره اووایو چې ائې الله ﷻ مونږ دواړو کښې چې څوک دروغژن وی نو په هغه لعنت نازل کړه.

شان نزول د دې ایتونو او د دې مباهلې د ایت:- ددې مباهلې د نازلیدو او د سورت د نازلیدو نه واخله تر دې خائې پورې د ټولو آیتونو د نازلیدو سبب د نجران د نصرانیانو وفد وو.دا خلق راغلل او رسول الله ﷺ سره ئې د حضرت عیسی ﷺ باره کښې خبرې اترې کولې چې عیسی ﷺ د الله ﷻ حصه دار او د الله ﷻ ځوئې دې.د هغوئ تردید او د هغوئ جواب کښې دا آیتونه نازل شو.

د نجران د عیسائی وفد تفصیل:-ابن اسحاق خپل مشهور عام سیرت کښې لیکی او نوور مورخینو هم پخپلوکتابونو کښې لیکلی دی چې د نجران نصرانیانو د وفد په طور د نبی کریم ﷺ خدمت کښې د شپیتو کسانویو وفد لیږلې وو او په هغوئ کښې څوارلس کسان د هغوئ سرداران وو او د هغوئ نومونه دادی.① عاقب چې د ده نوم عبدالمسیح وو.②سید چې دده نوم ایهم وو.③ ابو حارثه ابن علقمه چې د بکر بن وائل رور وو.④ عبدالله ⑤ اویس بن حارث⑥زید او قیس⑦ یزید او دده (⑧ ⑨) دواړه خامن ⑩ خویلد (۱۱) عمر (۱۲) خالد (۱۳) محسن.دا ټول څوارلس سرداران وو لیکن بیا په دوی کښې لوئې سرداران دری سړی عاقب چې د قوم امیر وو او عقل مند گنړلې شو او صاحب د مشورې مشهور وو.او دا خلق به دده په رائې مطمئن کیدل.او سید چې د دوی مشر پادری وو او ابو حارثه چې مدرس اعلی وو او د بنو بکر بن وائل د عربو قبیلو نه وو خو نصرانی شوې وو.او رومیانو به دده ډیر زیات خاطر کولو.او دده به ئې ډیر زیات عزت او قدر کولو.[1] دا سړې د رسول الله ﷺ د صفتونو نه واقف وو او په مخکښو کتابونو کښې ئې د رسول الله ﷺ صفتونه لوستی وو،د زړه نه د رسول الله ﷺ دنبوت قائل وو.او نصرانیانوکښې چې دده عزت او قدر وو،او هلته چې دده کوم منصب او مقام ده ته حاصل وو،د هغې د تلو د ویرې دې د حق لارې نه یوطرفته وو.

---

[1] السيرة لابن هشام دلائل النبوة للبيهقي : ۳۸۲/۵، داروایت مرسل او ضعیف دې)-

Scanned with CamScanner

غرض دا چې دا وفد مدینه منوره کښې د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او په هغه وخت کښې رسول الله ﷺ مازیګر مونځ نه فارغ ناست وو.دې خلقو نفیس ښکلې سپین لباس اغوستې وو.او ښکلی نرم څادرونه ئې اچولی وو.داسې معلومیدل لکه چې د بنو حارث بن کعب خاندان خلق وی.صحابه کرام ﷺ فرمائی چې د دوی پشان شان شوکت والا وفد بل رانغلو.هرکله چې د هغوئ د مونځ وخت شو نو رسول الله ﷺ اجازت سره ئې مشرق طرفته مونځ اوکړو.او په مسجد نبوی ﷺ کښې ئې د خپلې طریقې مطابق مونځ ادا کړو.د مونځ نه پس ئې نبی کریم ﷺ سره خبرې اترې اوشوې.د هغه طرفنه خبرې کولو والا دری کسان ابو حارثه بن علقمه،عاقب یعنی عبدالمسیح او سید یعنی ایهم.اګر چې دوی په شاهی مذهب باندې وو لیکن څه کارونو کښې ئې اختلاف وو.مسیح نسبت دری واړه خیالات د دوی وو،یعنی هغه پخپله الله دې،او د الله ﷻ ځوئې دې او د دریو نه دریم دې (نعوذبالله). الله ﷻ د دوی ددې ناپاك قول نه مبرا دې.او ډیر اوچت شان والا دې،

د عیسایانو د عیسی علیه السلام د خدایئ دلیل:- تقریبا دټولو نصرانیانو هم دا عقیده ده چې د مسیح د الله کیدو دلیل دا وو چې هغه مړی ژوندی کوی او راننده به ئې بینا کول،اوبیمارانو ته به ئې شفا ورکوله.د غیبو خبرې به ئې کولې،او ختې نه به ئې مرغئ جوړه کړه او بیا به ئې په هغې دم واچولو او هغه به والوتله.

د دوی د دلیل جواب:- د دې جواب دادې چې دا ټولې خبرې د الله ﷻ حکم سره کیدلې.ځکه چې د الله ﷻ نبښې د الله ﷻ په خبرو باندې د ریښتیا کیدو او د عیسی علیه السلام په نبوت باندې قائمې شی(یعنی دلیل جوړ شی).

کومو خلقو چې عیسی علیه السلام ته د خدائ ځوئې وئیلو د هغوی دلیل:- کوموخلقو چې عیسی علیه السلام ته د الله تعالی ځوئې وئیلو د هغوئ حجت دې چې د هغه په ظاهره څوك پلار نه وو.او په ځانګو کښې ئې خبرې کړې وې.دا خبرې داسې وې چې ددې نه مخکښې نه وې شوې.

د دویمې ډلې د دلیل جواب:- ددې جواب دادې چې دا هم د الله ﷻ د قدرت نښې دی چې خلق الله ﷻ لره داسبابو محکوم او عادت محتاج اونه ګڼی.وغیره (مترجم).

په دریو کښې د دریم ګڼړلو عقیدې دلیل:- او دریو کښې دریم ګڼړئ به ئې ددې وجې وئیل چې هغوئ خپل کلام کښې فرمائیلی وو چې مونږ اوکړل او زمونږ امر او زمونږ مخلوق،مونږ فیصله اوکړه. وغیره. نوکه الله ﷻ یواځې وې نو داسې به نه وې.بلکه ماأوکړل اوماخپل مخلوق کښې فیصله اوکړه. وغیره.نو ثابت شو چې الله دری دی،پخپله الله او عیسی او مریم.

د دریمې ډلې د عقیدې د دلیل جواب:- ددې جواب دادې چې د زمونږ لفظ صرف د لوئې دپاره دې او عظمت د پاره دې(مترجم).الله ﷻ ددې ظالمانو او منکرو د قول نه پاك او اوچت دې.ددې د ټولو باطلو عقیدو بیان په قرآن پاك کښې اوشو.

هرکله چې دې دری واړو رسول الله ﷺ سره خبرې اترې اوکړې نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې تاسو مسلمانان شئ،هغوئ اوئیل چې مونږ خو مخکښې مسلمانان یو.نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې نه تاسوته پکار دی چې اسلام قبول کړئ.هغوئ اووئیل چې مونږ خو ستا نه مخکښې مسلمانان یو.نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چې نه ستاسو اسلام الله ﷻ ته قبول نه دې ځکه چې تاسو الله ﷻ لره اولاد منئ او صلیب ته سجده کوئ،د خنزیرغوښه خورئ.

شان نزول:- هغوئ اووئیل چې ښه ده دا خو اووایه چې د عیسی علیه السلام پلار څوك وو؟په دې رسول الله ﷺ خاموش شو.دې وخت کښې د سورة آل عمران د شروع نه تر دې ځائې پورې آیتونه ددې جواب کښې نازل شو.ابن اسحاق ددې مختصر تفسیر بیانوی او لیکی چې رسول الله ﷺ دا تلاوت کړل او

Scanned with CamSc

هغوئ ئې پوهه کړل.د مباهلې دا ایت مبارک ئې تلاوت کړو او وې فرمائیل که تاسونه منئ نو راځئ چې مباهله اوکړو.

د عیسائی وفد د مباهلې نه تیخته:- په دې آوریدو سره هغوئ ټولو اووئیل چې ائې ابوالقاسم مونږ ته مهلت راکړه چې مونږ خپلو کښې مشوره اوکړو.نو بیا به تاسو ته ددې جواب درکړو.نو بیا هغوئ خانله کښیناستل او عاقب سره ئې مشوره اوکړه هغه ډیر هوښیار او عقل مند وو.هغه حتمی فیصله په دې الفاظوسره اوکړه چې ائې د نصرانیانو ډلې تاسوته یقین سره معلوم شو چې محمدﷺ د الله ﷻ ریښتونې رسول دې.او تاسو ته دا هم معلوم دی چې دعیسی ؑ حقیقت هم هغه دې چې کوم تاسو د رسول الله ﷺ نه واوریدلو او تاسو ته ښه معلوم دی چې کوم یو قوم د نبی سره خلاف شی نو نه د هغوئ مشران باقی پاتې کیږی او نه کشران.بلکه ټول په ټوله ختم شی.یاد ساتئ که تاسو د مباهله کولود پاره مخکښې شوئ نو تاسو به تباه شئ نو یاد ساتئ چې هم دا دین قبول کړئ او که نه ئې منئ او د خپل دین او عیسی ؑ متعلق خپل خیالاتو باندې قائم اوسئ نو رسول الله ﷺ سره صلح اوکړئ او خپل وطن ته واپس شئ.

نو دې خلقو صلاح اومشوره اوکړه او بیا د نبی ؑ دربار ته حاضر شو او وې وئیل چې ائې ابوالقاسم ﷺ امونږ تاسو سره د مباهلې کولو دپاره تیار نه یو.تاسو په خپل دین اوسئ او مونږ به په خپلو خیالاتو یو.خو تاسو مونږ سره یو داسې صحابی اولیږئ چې هغه نه تاسو خوشحاله یئ او هغه زمونږ په مینځ کښې د مالی جګړو فیصله اوکړی.تاسو خلق مونږته ډیر زیات ګران یئ.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې ښه ده تاسو ماسپخین بیا راشئ زهٔ به تاسو سره یو امانتدار اولیږم.عمر فاروق ؓ فرمائی چې ما هیڅکله د سردار جوړیدو خواهش نه وو کړې سوا د هغه ورځې نه چې په کومه ورځ رسول الله ﷺ کوم تعریف کړې وونوما اووئیل چې ددې مصداق زهٔ جوړ شم.ددې وجې زهٔ په هغه ورځ وختی د ماسپخین مونځ ته لاړم.رسول الله ﷺ تشریف راوړو او د ماسپخین مونځ ئې اوکړو،بیائې ښی طرفته نظر واچولو او بیا ئې کس طرفته.زهٔ به بار بار په خپل ځائې اوچت اوچت کیدم چې رسول الله ﷺ نظر په ما اولږی.رسول الله ﷺ ډیر غور سره کتل او ابوعبیده بن جراح ؓ باندې ئې نظر پریوتلو او هغه ئې طلب کړو او ورته ئې اوفرمائیل چې دوی سره لاړ شه او د دوی د اختلافاتو فیصله حق سره اوکړه.نو ابوعبیده بن جراح ؓ هغوئ سره تشریف یوړو.ابن مردویه کښې دا واقعه همداشان منقول ده لیکن په هغې کښې د سردارانو شمیر دولس دې.او په دې واقعه کښې هم لږ شان طول دې او زیاتې خبرې دی پکښې.

ابو عبیده بن جراح ؓ د دې امت امین:- صحیح بخاری کښې حذیفه ؓ نه روایت مروی دې چې نجرانی سردار عاقب او سید د مباهلې ارادې سره رسول الله ﷺ لره راغلل.یو بل ته ئې اووئیل چې دا مه کوه،په الله قسم که دا نبی وی او مونږ ده سره مباهله اوکړه نو مونږبه سره د خپل اولاده تباه شو.بیا دواړه متفق شو او وې وئیل چې اتاسو چې مونږ نه څه طلب کوئ نو مونږ به هغه ادا کړو.(یعنی د جزیې ورکول مو قبول دی).تاسو مونږ سره یو امین کس اولیږئ او هم امین به راسره لیږئ.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې ښه ده زهٔ به تاسو سره پورا او کامل امین کس اولیږم.د رسول الله ﷺ صحابه کرام ؓ یو خوابل خوانه په کتلوسره شو څه ګوری چې رسول الله ﷺ څوک منتخب کوی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې ائې ابوعبیده بن جراح ؓ ته اودریږه.هرکله چې هغه اودریدو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې

Scanned with CamSc

دادي د دي امت امين.(۱)د صحيح بخاری يو بل حديث کښې دی چې د هر امت يو امين وی او د دې امت امين ابوعبيده بن جراح ﷺ دي.(۲)

د ابو جهل،د يهوديانو،او د عيسايانو د وفد د عمل رد عمل په څه وو:- مسند احمد کښې د ابن عباس ﷺ نه مروی دی چې ابوجهل ملعون اووئيل که ما محمد ﷺ په کعبه کښې په مونځ اوليدو نو زۀ به تري څټ اووهم.فرمائی چې رسول الله ﷺ اوفرمائيل که هغه داسې کړي وې نو تاسو ټولو به کتلی وې چې فرښتو به دهغه مرغټ خفه کړي وو.او يهوديانو چې کله قرآن پاک وئيلی وو چې راشئ چې د دروغژنو دپاره دعا اوکړو نو که هغوئ دعا غوښتلې وې نو ټول په ټوله به هلاک شوی وو او خپل ځايونه به ئې په جهنم کښې کتلی وو.اوکومو نصرانيانو ته چې د مباهلی دعوت ورکړې شوې وو که هغوئ رسول الله ﷺ سره مباهله کړې وې نو په واپسئ کښې به د خپلو مالونو او اولاد نه خلاص شوی وو.په صحيح بخاری او صحيح مسلم کښې هم دا حديث شته دي.امام ترمذی دې ته حسن وانی (۳)امام بيهقی په خپل کتاب دلائل النبوت کښې د نجران د وفد قصه ډير په تفصيل سره ذکر کړې ده.مونږ هغه دلته نقل کوؤ.خکه چې په هغې کښې ډير زيات فوائد دی.اگر چې په هغې کښې غرابت هم دي.او دې مقام سره هغه ډيرزيات مناسبت لری.سلمه بن عبديسوع دخپل نيکه نه روايت کوی اودې مخکښې نصرانی وو،بيا مسلمان شو چې رسول الله ﷺ دسورة طس (طاسين)قرآن پاک کښې د نازليدو نه مخکښې اهل نجران ته خط اوليکلو وو او د هغې عبارت دا وو چې:

﴿ بسم اله ابراهيم واسحاق ويعقوب من محمدن النبي رسول الله الى اسقف نجران واهل نجران اسلم انتم فاني احمد اليكم اله ابراهيم واسحاق ويعقوب اما بعد فاني ادعوكم الى عبادة الله من عبادة العباد و ادعوكم الى ولاية الله من ولاية العباد فان ابيتم فالجزية فان ابيتم فقد اذنتكم بحرب والسلام ﴾:

ترجمه:-يعنی دا خط زۀ شروع کوم د ابراهيم ﷺ او اسحاق ﷺ او يعقوب ﷺ د رب د نوم نه،دا خط دي د محمد ﷺ د طرفنه چې د الله تعالی رسول دي او نبی دي،سردار د نجران او اهل نجران طرفته،زۀ ستاسو مخکښې د الله تعالی ثناء وايم چې د ابراهيم ﷺ او اسحاق ﷺ او يعقوب ﷺ معبود دي،بيا زۀ تاسو ته دعوت درکوم چې د بنده ګانو عبادت پريږدئ او د الله ﷻ عبادت طرفته راشئ.او د بندګانو ولايت پريږدئ او د الله ﷻ ولايت طرفته راشئ،که تاسو دا نه منئ نو جزيه ادا کړئ او ماتحتی قبوله کړئ او که د دې نه هم انکار کوئ نو تاسو ته اعلان جنګ دي،والسلام .

په دې خط د اسقف رد عمل:- هرکله چې دا خط اسقف ته اورسيدو نو هغه په دې ډيرزيات اوويريدو او په رپيدو شو او شرحبيل بن وراعه ئې راوغوښتو.او شرحبيل د قبيله همدان نه وو او د سلطنت مشير وو.هر کله چې به څه مشکل کار پيښ شو نو دې به دټولو نه مخکښې يعنی ايهم او سيد اوعاقب نه هم مخکښې راوغوښتلې شو او ده سره به مشوره کولې شوه.هرکله چې دې راغلو نو اسقف ورته د رسول الله ﷺ خط مبارک ورکړو،هرکله چې هغه اولوستو نو اسقف تري تپوس اوکړو چې څه خيال دې دې؟شرحبيل اووئيل چې بادشاه ته ددې خبرې ښه علم دي چې د اسماعيل ﷺ اولاد کښې د الله تعالی ديو نبی د راتلو وعده کړې شوې ده.څه پته لرې چې هغه هم دا نبی وی.د نبوت امر کښې زۀ څه رائې ورکولې شم؟.که په امور سلطنت کښې څه خبره وې نو ما به په خپلو دماغو باندې زور اچولې وو اوخه خبره به مې کړيوه.اسقف هغه بيل کښينولواو عبدالله بن شرحبيل ئې راوغوښتو.دې دسلطنت مشيرانوکښې وو.اودحمير قبيلې نه وو.هغه ته ئې خط ورکړو اوهغه اولوستو.د رائې تپوس تري نه

---

(۱) صحيح بخاری كتاب المغازی باب قصة اهل نجران : ٤٢٢٠. صحيح مسلم : ٢٤١٩،)-

(۲) صحيح بخاری كتاب المغازی باب قصة اهل نجران : ٤٣٨٢، صحيح مسلم: ٢٤١٩،)-

(۳) احمد: ٢٤٨/١، صحيح بخاری كتاب التفسير سورة اقرا باسم.....٤٩٥٨، ترمذی: ٣٣٤٥)-،

Scanned with CamScanner

اوشو نوهغه هم دا اوئيل چې کوم مخکښې مشير وئيلی وو.هغه هم بادشاه لرې کښينولو.بيائې جبار بن فيض راوبللو.اوهغه دبنوحارث قبيلې نه وو.هغه هم دااووئيل چې څه هغه دواړو مشيرانو وئيلی وو

د بادشاه خپلو عوامو ته رجوع کول:- هرکله چې بادشاه اوکتل چې ددې درې واړو مشيرانو رائې يوشان ده نو حکم ئې اوکړو چې ناقوس دې اوغږولې شی،اور دې بل کړې شی،او ګرجو کښې دې بيرغونه اوچت کړې شی.د هغوی دا طريقه وه چې کله به د سلطنت څه اهم کار پيښ شو او د شپې جمع کيدل به پکار وو نو همدا به ئې کول.او که د ورځې وخت به وو نو په ګرجو کښې به اور بل کړې شو او ناقوس به په زوره زوره سره غږولې کيدو.دې حکم سره څلورو واړو طرفونو ته اور بل کړې شو.او د ناقوس آواز هر يو لره بيدار کړو.او کله چې ئې بيرغونه اوچت اوليدل نو ټول دې وادئ کښې راجمع شو او دا وادی دومره اوږده وه چې يو تيز رفتار سور به ددې ديو سر نه بل سر پورې د سحر نه ترمابنامه پورې رسيدو.په دې کښې درې اويا کلی وو.هرکله چې دا ټول خلق جمع شو نو اسقف ورته د رسول الله ﷺ خط مبارک واورولو او تپوس ئې ترې اوکړوچې ستاسو څه رائې ده نوټولو عقل مندواووئيل چې شرحبيل بن وداعه،همدانی بن شرحبيل،اصبحی اوجباربن فيض لره په طور د وفد اوليږئ چې پورا معلومات راوړی.

د دې وفد د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضريدل او رسول الله ﷺ استغنا:- اود دې ځائې نه دا وفد د درې واړو سردارئ کښې روان شو او مدينې منورې ته اورسيدو.هغوئ يو اوږد سفر اوکړو او هغوئ نقش و نګار والا د ريښمو اوږدې اوږدې جامې واغوستې او دسرو زورو ګوتې ئې په ګوتو کړې.او د خپلو څادرونو پلوونه ئې اوټړل او رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو او سلام ئې اوکړو.خو رسول الله ﷺ ورته جواب ورنکړو،ډير وخت پورې ئې انتظار اوکړو چې رسول الله ﷺ څه خبره اوکړی خو د دې سرو زرو ګوتو او ريښمو جامو په وجه رسول الله ﷺ هغوئ سره خبرې اونکړې.بيا دا خلق د عثمان بن عفان ﷺ او عبدالرحمان بن عوف ﷺ تلاش کښې اووتل.او دې بزرګانو سره د هغوئ دا رومبې ملاقات وو.دوی ئې د مهاجرينواو انصارو يو ډله کښې اوليدل.هغوئ ته ئې واقعه بيان کړه چې رسول الله ﷺ مونږ ته خط ليکلې دی او مونږ د هغې جواب ورکولو د پاره پخپله حاضر شوی يو.رسول الله ﷺ ته مو سلام اوکړو خو رسول الله ﷺ جواب رانکړو او ډير وخت پورې د رسول الله ﷺ خدمت کښې ناست وو خو هغوئ مونږ سره څه خبره اونکړه.او آخر مونږ ستړی واپس شو.تاسو اوفرمائې چې آيا مونږ همداسې واپس شو.دوی دواړو علی بن ابوطالب ﷺ ته اووئيل چې تاسو هغوئ ته جواب ورکړئ.علی ﷺ اوفرمائيل چې زما خيال دی چې دا خلق د سرو ګوتمې او ريښمو جامې اوباسی او هم هغه سفر والا لباس واچوی او دوباره د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضرشی،نو هغوئ هم داشان اوکړل او په دې معمولی لباس کښې د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو.سلام ئې اوکړو،رسول الله ﷺ ورته د سلام جواب ورکړو،بيا ئې اوفرمائيل په الله ﷻ مې دې قسم وی دوی مخکښې هم ماته راغلی وو خو دوی سره شيطان وو.

اوس د سوال اوجواب خبرې اترې شروع شوې.رسول الله ﷺ به هم تپوس کولو او جواب به ئې هم ورکولو.دا شان هغوئ هم سائل وو او هم مجيب.آخر کښې هغوئ تپوس اوکړو چې د عيسی ﷺ باره کښې تاسو څه وائې؟چې هغه مونږ خپل قوم ته اووايو.مونږ په دې خوشحال يو تاسو نبی يئ.او تاسو نه دا ستاسو په خوله مبارکه واورو چې تاسو دعيسی ﷺ باره کښې څه وائې.نورسول الله ﷺ اوفرمائيل چې ماسره خو ددې جواب نن نشته دې تاسو پاتې شئ زما رب چې ماته دې باره کښې څه اوفرمائی هغه به تاسو ته اووايم.

په دويمه ورځ هغوئ بياراغلل نو هم په هغه وخت کښې نازل شوې آيت ﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ﴾ د ﴿الْكَاذِبِينَ﴾ پورې تلاوت اوفرمائيلو،خو هغوی ددې خبرې منلو نه انکار اوکړو.په دويمه ورځ سحر سحر رسول

الله ﷺ حسن ﷺ او حسین ﷺ سره تشریف راوړو.دوی پسې فاطمه ﷺ راروانه وه.په هغه وخت کښې د رسول الله ﷺ ډیرې بیبیانې وې.شرحبیل اووئیل چې تاسو ته پته ده د نجران ټوله وادی زما منی او زما رائې صحیح منی.واورئ په الله قسم دا معامله ډیره لویه ده که دا سړې ﷺ مبعوث شوې وی نو دټولو نه مخکښې به دده په نظر کښې مونږ مطعون یو.او د ټولو نه مخکښې به مونږ دده تردید کوونکی جوړ شو.دا خبره به د دوی او د دوی د ملګرو د زړۀ نه لاړه نشی او مونږ باندې به څه نه څه مصیبت راشی.عربو کښې د ټولو نه زیات دوی ته نزدې زۀ یم او واورئ که دا سړې مرسل دې نو د مباهلې کولو په صورت کښې به په مخ د زمکې به زمونږ یو ویښته او نوک هم پاتې نشی.دده دوۀ ملګرو اووئیل چې ائې ابو عامر ستاسو څه رائې ده؟ده اووئیل چې زما رائې ده چې مونږ هم دې حاکم جوړ کړو او چې څه حکم دې راکړی مونږ هغه منظور کړو،او دې به هیڅ کله خلاف عدل حکم نه راکوی. دې دواړو د ده خبره اومنله.نو شرحبیل رسول الله ﷺ ته ئې اووئیل چې زۀ د مباهلې نه بهتر څیز ستاسو په خدمت کښې پیش کوم.رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چې هغه څه څیز دې؟ د ټن ورځې اوشپې او د صبا دپاره چې تاسو مونږ ته څه حکم راکوئ هغه مونږ ته منظور دې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې شاید دا فیصله ستاسو نور خلق اونه منی.شرحبیل اووئیل چې تاسو دې باره کښې زما ددې ملګرو نه تپوس اوکړئ.رسول الله ﷺ دهغه دواړو نه تپوس اوکړو نو هغوئ جواب ورکړو چې د ټولې وادئ خلق د دوی په رائې روان دی.هلته یو کس هم داسې نشته دې چې ددې فیصله اوغورزوی. نو رسول الله ﷺ دا درخواست قبول کړو او ورسره ئې مباهله اونه کړه.او هغوئ واپس شو.په دویمه ورځ هغوئ دوباره د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو نو رسول الله ﷺ هغوئ ته یو تحریر ورکړو چې په هغې کښې د بسم الله نه پس دا مضمون وو چې دا تحریر د الله ﷻ د نبی محمد رسول الله ﷺ د طرف نه د نجران اوسیدونکو دپاره دې.په دوی باندې د الله ﷻ د رسول ﷺ حکم جاری وو.هره لمحه کښې اوهر سپین او تور کښې او هر غلام کښې لیکن د الله رسول ﷺ دا ټول هغوئ ته ورکوی،دوی دې هر کال صرف دوه زره حلې ورکوی،یو زر رجب کښې او زر په صفر کښې وغیره وغیره (۱)

د ټولو نه ورومبئ جزیه:- پورا عهد نامه ئې هغوئ ته ورکړه،د ې نه معلومیږی چې د دوی دا وفد په نهمه هجرئ کښې راغلې وو.ددې وجې زهری فرمائی د ټولو نه مخکښې جزیه نجران والو رسول الله ﷺ ته ورکړې وه.او جزیه آیت د فتح مکې نه پس نازل شو.او هغه دا دې چې﴿قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ﴾.دې آیت کښې اهل کتابو نه د جزیې اخستلو حکم شوې دې.

د مباهلې په صورت کښې د عذاب نازلیدل:- ابن مردویه کښې دی چې عاقب او طیب رسول الله ﷺ ته راغلل او رسول الله ﷺ هغوئ ته د مباهلې د پاره اووئیل.او په صبا حضرت نبی کریم ﷺ حضرت علی ﷺ،فاطمه ﷺ،حسن ﷺ اوحسین ﷺ سره تشریف راوړو.او هغوی ته ئې خبر اوکړو خو هغوئ قبول نه کړو.او خراج ورکول ئې منظورکړل.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې په هغه ذات قسم چې هغه زۀ حق سره رالیږلې یم،که دې دواړو نه وو وئیلې نو په دوی باندې به په دې وادئ کښې اور وریدلې وو.جابر ﷺ اوفرمائیل چې﴿نَدْعُ اَبْنَآءَنَا﴾والا آیت د دوی باره کښې نازل شوې دې.﴿وَاَنْفُسَنَا﴾ نه مراد پخپله رسول الله ﷺ اوعلی ﷺ ﴿اَبْنَآءَنَا﴾ نه مراد حسین ﷺ اوحسن ﷺ،﴿وَنِسَآءَنَا﴾ نه مراد فاطمه ﷺ ده (۲) مستدرک حاکم وغیره کښې هم د دې معنی یو حدیث مروی دې.(۳)

---

(۱) دلائل النبوة للبیهقی : ۳۸٤/۵، وسنده ضعیف.محمد بن ابی محمدمجهول دی)-.

(۲) دلائل لابی نعیم: ۲٤٤، ددې سند کښې بشر بن مهران او محمد بن دینار راوی ضعیف دې.(المیزان ۳۲۵/۱)، رقم: ۱۲۲۴ ، رقم: ۷۵۰۳)-.

(۳) حاکم : ۵۹۳/۲،)-

Scanned with CamScanner

قوله تعالی:-اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ
بیاد الله ﷻ ارشاد دي چې مونږ کوم د عیسی ﷺ شان بیان کړو دا حق او رښتیا دی.په دې کښې لږ هم کمې زیاتي نشته دي.
قوله تعالی:-وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝
الله ﷻ د عبادت لائق دي بل څوک نشته دي.هم هغه غلبه والا او حکمت والا دي.
قوله تعالی:-فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِالْمُفْسِدِيْنَ
اوس هم که دوی مخ واړوی او په نورو خبرو پسې ځی نو الله ﷻ هم داسې مفسدان او باطلو لره ښه پیژني.دوی ته به بدترینه سزا ورکوی.هغه ذات پورا قوت والا دي د هغه نه هیڅوک نشی تښتیدې.او نه څوک د هغه مقابله کولې شی.او هغه لوئې ذات تعریفونو والا دي.مونږ دهغه دعذابونو نه نه شو بچ کیدې مونږ د هغه د عذابونو نه پناه غواړو.

قُلْ	يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ	تَعَالَوْا	اِلٰى كَلِمَةٍ		
ا	اووایه ا چې اې	اهل کتابو ا	راشئ	ا یوې داسې خبرې ته	
ا ته دوئ ته اووایه چې اې دکتاب (تورات اوانجیل) خاوندانو راشئ دې خبرې ته					
سَوَآءٍ	بَيْنَنَا	وَبَيْنَكُمْ	اَلَّا نَعْبُدَ	اِلَّا اللّٰهَ	
چې یو شان ده ا په منځ زمونږ او په منځ ستاسو کښې هغه دا چې نه به کوؤ عبادت ا بغیر دالله نه دبل چا					
چې کومه زمونږ اوستاسو مینځ کښې برابره ده ا چې مونږ به دالله پاک نه سوا دبل هیچا عبادت نه کوؤ					
وَلَا نُشْرِكَ	بِهٖ	شَيْـًٔا	وَّلَا يَتَّخِذَ	بَعْضُنَا	بَعْضًا اَرْبَابًا
او نه به شریکوؤ ا هغه سره ا هیڅ څیز ا او نه به نیسی ا بعضې زمونږ ا بعضو لره ا خدایان ا					
اوهیڅ څیز به هغه سره (په عبادت کښې) نه شریکوو ا.....اوپه خپل مینځ کښې به د الله نه سوا یو بل ته					
مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ	فَاِنْ تَوَلَّوْا	فَقُوْلُوا	اشْهَدُوْا	بِاَنَّا	مُسْلِمُوْنَ ۝
بغیر دالله نه ا نوکه هغوئ مخ واړوؤ ا نو ورته اووایئ ا چې گواهان وسئ ا په دې چې مونږ ا مسلمانان یو					
رب نه وایو ا نوکه دوئ تري نه مخ اوګرزولو ا نوتاسو اووائې چې (شئ ده) په دې خبره گواهان شئ چې مونږ تابعدار یو					

قوله تعالی:-قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ اَلَّا نَعْبُدَ اِلَّا اللّٰهَ
عیسایانوته دتوحید دعوت:- یهودیانواو نصرانیانو او ددوی په شان خلقو ته داخطاب کیږی.دکلمې اطلاق په مفیده جمله باندې کیږی.لکه دلته کلمه وائی اوبیا ﴿سَوَآءٍ﴾سره ددې صفت نې بیان کړې دې د ﴿سَوَآءٍ﴾معنی عدل او انصاف والا چې په دې کښې مونږ تاسو برابر یو.بیا ددې د تفسیر هغه خبره دا ده چې د یو الله ﷻ عبادت اوکړئ او د هغه پاك ذات سره هیڅ بت لره شریك مه جوړوئ.او مه د بتانو عبادت کوئ اومه د صلیب او نه د تصویر او نه د الله ﷻ نه سوا د بل چا او نه د اور او نه دبل څیز بلکه صرف دالله ﷻ وحده لاشریك عبادت کوئ،همدا دعوت د ټولونبیانو ﷺ وو.لکه فرمان دې چې﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَاسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝﴾یعنی ستاسونه مخکښې چې کوم کوم رسول مونږ اولیږودټولو طرفته مو هم دا وحی اوکړه چې زما نه سوا هیڅوك د عبادت لائق نشته دې نو تاسو ټول زماعبادت کوئ.بل ځانې کښې ارشاددې چې﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ ۚ﴾ یعنی مونږ هرامت ته رسول اولیږلو اودا اعلان مو اوکړو چې دالله ﷻ عبادت کوئ او دهغه نه سوا د بل چا د عبادت نه ځان بچ کړئ.

Scanned with CamSc

قوله تعالی:-وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ
بیا فرمانی چې خپلوکښې دې هم مونږ دالله ﷻ نه سوا دبل څوک رب نه جوړوو .ابن جریج رحمه الله فرمانی یعنی د الله ﷻ نافرمانۍ کښې د یو بل اطاعت مه کوئ.حضرت عکرمه رحمه الله فرمانی چې د الله ﷻ نه سوابل چا ته سجده مه کوئ.بیا که دا خلق دا انصاف والادعوت قبول نکړی نودوی لره په خپل اطاعت ګزارئ باندې ګواه جوړکړئ.مونږ دبخاری شریف په شرح کښې ددې واقعې تفصیل سره ذکر کړې دې.په هغې کښې دی چې ابوسفیان کله د قیصر روم دربار ته راوبللې شو او شاه روم ترینه د رسول الله ﷺ د نسب تپوس اوکړو نو اګر چې هغه په هغه وخت کښې کافر او د رسول دښمن وو د رسول الله ﷻ د خاندانی شرافت اقرار ئې اوکړو.او دا شان د هر هر سوال ئې صفا صفا جواب ورکړو.دا واقعه د صلح حدیبیه نه پس اوفتح مکه نه مخکښې شوې وه.ددې وجې قیصرروم دې سوال جواب کښې اوونیل چې﴿ آیا هغه ر سول ﷺوعده خلافی هم کوی؟.ابوسفیان اوونیل چې نه کوی لیکن اوس زمونږ هغه سره یومعاهده شوې ده،پته نشته چې په دې کښې به څه کوی؟دلته صرف مقصد دادې چې ددې ټولو خبرونه پس د رسول الله ﷺ نا مه مبارک پیش کیږی.چې په هغې کښې﴿ بسم الله ﴾الخ نه پس دا لیکلې کیږی چې دا خط د محمد د طرفه دې چې د الله ﷻ رسول ﷺ دې د هغه چا طرفته چې د روم بادشاه دې.د الله ﷻ طرفنه دې سلام وی په هغه چا باندې چې د رسالت متبع دې،دې نه پس د دې نه اسلام قبول کړه نو سلامتیا کښې به پاتې شې،اسلام قبول کړه الله ﷻ به تاته دوچند اجر درکړی او که تا مخ وارولو نو د ټولو رئیسانو بوج به په تا باندې وی.بیا ئې دا آیت مبارک اولیکلو.(۱)
امام محمد بن اسحاق وغیره لیکلی دی چې د دې سورت یعنی آل عمران نه واخله تر د اتیاؤ نه زیات آیتونه د نجران د وفد باره کښې نازل شوی دی.امام زهری رحمه الله فرمانی چې د ټولو نه مخکښې جزیه هم دې خلقو اداکړې ده.او په دې کښې مطلقا خلاف نشته دې چې دا آیت د جزیې د فتح مکه نه پس نازل شوې دې،نودا اعتراض پیداکیږی چې هرکله دا آیت د فتح مکې نه پس نازل شوې دې،بیا د فتح نه مخکښې رسول الله ﷺ دا آیت مبارک هرقل ته څنګه اولیکلو.د دې جواب ډیرو طریقو سره ورکولې شی،یوداچې ممکن دی چې داآیت دوه ځل نازل شوې وی دحدیبیه نه مخکښې اوفتح مکې نه وروستو.
دویم جواب دادې چې ممکن دی چې د نجران د وفد باره کښې دسورة د شروع نه واخله تردې آیت پورې نازل شوی وی اوداآیت ددې نه مخکښې نازل شوې وی.په دې صورت کښې ابن اسحاق دا اوفرمائیل چې د اتیاؤ نه زیات آیتونه ددې وفد باره کښې نازل شوی دی دا محفوظ نه دی ځکه چې د ابوسفیان والا واقعه بالکل ددې خلاف ده.دریم جواب دادې چې ممکن دی چې دنجران وفد د حدیبیه نه مخکښې راغلې وی.اوهغوئ چې څه منظور کړی وو دا صرف د مباهلې نه د بچ کیدو دپاره په طورد مصالحت ورکړی وی اوجزیه ئې نه وی ادا کړې.اودا د اتفاق خبره وی چې د جزیې دا آیت د د دې واقعې نه پس نازل شوې وی.چې دکومې سره داواقعه اتفاقا ملحقه شوه.لکه عبدالله بن جحش رضی الله عنه د بدرنه مخکښې غزوه کښې دغنیمت مال په پنځو حصوکښې تقسیم کړواوپنځمه حصه ئې باقی اوساتله او نورې حصې ئې لښکر کښې تقسیم کړې.بیادې نه پس د غنیمت والا آیت ددې مطابق نازل شو اوهم دا حکم اوشو.
څلورم جواب دادې چې کیدیشی دا احتمال وی چې رسول الله ﷺ کوم خط هرقل ته لیکلې وو په هغه خط کښې ئې دا خبره پخپله لیکلې وی او بیا د رسول الله ﷺ الفاظ وحی کښې نازل شوی وی.لکه دعمرفاروق رضی الله عنه د پردې د حکم باره کښې هم دغه شان یو آیت نازل شوې وو او د بدر قیدیانو باره

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة ال عمران باب (قل یا اهل الکتاب تعالوا الی کلمة....) : ۴۵۵۳)-

Scanned with CamScanner

کښې هم د هغوئ موافقت کښې د الله ﷻ فرمان نازل شو.او د منافقانو د جنازې نه کولو په حقله هم دا خبره قائمه شوه.او مقام ابراهیم لره د مصلے ځائې جوړولو باره کښې هم وحی نازله شوه﴿عَسٰی رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ﴾هم د دوی په موافقت کښې نازل شو،نو دا آیت هم دا شان د رسول الله ﷺ د فرمان موافقت کښې نازل شو.او دا ډیر ممکن هم دی.

يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ	لِمَ تُحَآجُّوْنَ	فِيْۤ	اِبْرٰهِيْمَ	وَمَاۤ اُنْزِلَتِ
ای اهل	کتابو	ولې جګړه کوئ تاسو	په	باره دابراهیم کښې	اونه دې نازل کړې شوې
انې دکتاب خاوندانوتاسو ولې مونږ سره دابراهیم ﷺ باره کښې جګړه کوئ	حال دا چه تورات او انجیل				
التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ	اِلَّا	مِنْۢ بَعْدِهٖ ؕ	اَفَلَا	تَعْقِلُوْنَ ۝	هٰۤاَنْتُمْ	هٰۤؤُلَآءِ
تورات	او انجیل	مګر	روستو دهغه نه	آیا نه لرئ|عقل تاسو	خبردار تاسو خو|هغه کسان یئ
خودهغه نه(په زرګونو کلونو)پس نازل شوی دی	نوتاسوپه دومره ښکاره خبره هم نه پوهیږئ	تاسوخوهغه خلق یئ				
حَاجَجْتُمْ	فِيْمَا	لَكُمْ	بِهٖ	عِلْمٌ	فَلِمَ
چې بحثونه مو اوکړل	په هغه څه کښې|چې ووئ تاسو لره	په هغې کښې|څه علم	نو ولې		
چې په هغه مسئلو کښې موهم ښه جګړې کړې دی دکوموچه تاسو ته لږ ډیر علم وو	نو اوس ولې				
تُحَآجُّوْنَ	فِيْمَا	لَيْسَ	لَكُمْ	بِهٖ	عِلْمٌ ؕ	وَاللّٰهُ يَعْلَمُ
بحثونه کوئ	په هغې کښې| چې نشته	تاسو دپاره	په هغې باندې	هیڅ علم	او الله پوهیږی
په هغه مسئلو کښې بحثونه کوئ په هغه چې تاسو دهغې نه هډوخبر هم نه یئ	اوالله پاک ډیر ښه پوهیږی					
وَاَنْتُمْ	لَا تَعْلَمُوْنَ ۝	مَا كَانَ	اِبْرٰهِيْمُ	يَهُوْدِيًّا	وَّلَا نَصْرَانِيًّا	وَّلٰكِنْ
اوتاسو	نه پوهیږئ	نه ووئ	ابراهیم ﷺ	یهودی	اونه عیسائی	بلکه
او تاسونه پوهیږئ	.....نه ابراهیم ﷺ یهودی	.....وو	.....اونه نصرانی وو هغه خو			
كَانَ	حَنِيْفًا مُّسْلِمًا ؕ	وَمَا كَانَ	مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝	اِنَّ	اَوْلَى	النَّاسِ
ووهغه	یو مخیزې مسلمان	او نه ووئ هغه	دمشرکانونه	بیشکه	زیات نزدې	دخلقو نه
یومخیزمسلمان وو	اودمشرکانو په ډله کښې هم شامل نه وو	بیشکه خلقوکښې د ټولونه زیات نیزدې				
بِاِبْرٰهِيْمَ	لَلَّذِيْنَ	اتَّبَعُوْهُ	وَهٰذَا النَّبِيُّ	وَالَّذِيْنَ
ابراهیم ته	خامخا هغه کسان دی	چې تابعداری ئې کړې ده دهغه	او دا نبی دې	او هغه کسان دی	
ابراهیم ﷺ ته هغه کسان دی چې دهغه تابعداری ئې کړې وه	.....اوداپیغمبر او ټول			
اٰمَنُوْا ؕ	وَاللّٰهُ وَلِيُّ	الْمُؤْمِنِيْنَ ۝		
چې ایمان ئې راوړې دې	او الله دوست او مددګار دې	صرف دمؤمنانو			
مؤمنان ورته نزدې دی	.....اوالله پاک دمومنانو ملګرې دې			

Scanned with CamSc

دیهودو او نصرانیانو د بې علمئ په بنیاد جګړې:-یهود ابراهیم ﷺ لره خپل ځان او نصرانیان ابراهیم لره خپل خان ګڼړی اوخپلوکښې به ئې په دې باندې بحث کولو.الله ﷻ په دې آیت مبارک کښې ددواړو د دعوؤ تردید کوی.

د ایت شان نزول:-ابن عباس ﷺ فرمائی چې دنجران علماء لره د یهود علماء راغلل او د رسول الله ﷺ مخکښې د دوی جګړه شروع شوه.هر یوفریق به دا دعوی کوله چې ابراهیم ﷺ زمونږ نه وو(۱)نو په دې باندې دا آیت نازل شو.

قوله تعالی:-أَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تُحَآجُّوْنَ فِيْٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمَآ اُنْزِلَتِ التَّوْرٰىةُ وَالْاِنْجِيْلُ اِلَّا مِنْۢ بَعْدِهٖ

چې اې یهودو اتاسو ابراهیم ﷺ لره خپل ځان نه ولې شمیرئ؟ حالانکه هغه زمانه کښې نه خوحضرت موسی ﷺ وو اونه انجیل اونه تورات.موسی ﷺ او دتورات کتاب خو خلیل الله ﷺ نه پس راغلی وو.دا شان اې نصرانیانو تاسو ابرا هیم ﷺ ته نصرانی څنګه وئیلې شئ ؟حالانکه نصرانیت خو د هغوئ نه ډیره موده پس ظاهر شوې دې.آیا تاسو دومره غټه خبره باندې هم نه پوهیږئ او عقل نه لرئ.

قوله تعالی:-هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ حَاجَجْتُمْ فِيْمَا لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ

اوبیادادواړه فرقې الله ﷻ د دوی دجګړو په وجه ملامته کوی.که تاسو دخپل دین باره کښې چې تاسو سره دې بحث مباحثه کوله نو د خیرخبره وه.تاسو خو د هغه باره کښې خبره کوئ چې تاسو ته ئې هم علم نشته دې.

قوله تعالی:-وَاللّٰهُ يَعْلَمُ وَاَنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ

تاسوته پکاردی چې تاسو ته دکوم څیز علم نه وی هغه علیم ذات ته اوسپارئ ځکه چې هغه علیم ذات دهرڅیز علم لری.نو ددې وجې الله ﷻ فرمائی چې الله ﷻ ته معلوم دی اوتاسو ته هیڅ خبر نشته .

قوله تعالی:-مَا كَانَ اِبْرٰهِيْمُ يَهُوْدِيًّا وَّلَا نَصْرَانِيًّا وَّلٰكِنْ كَانَ حَنِيْفًا مُّسْلِمًا

اصل کښې ابراهیم خلیل الله ﷺ خو نه یهودی وو اونه نصرانی،هغه خود شرك نه بیزاره او د مشرکو نه بیل او صحیح اوکامل ایمان والا وو.او هغه بالکل مشرك نه وو.دا آیت دسورة توبې آیت پشان دې چې کوم مخکښې تیر شوی دې﴿وَقَالُوْا كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى تَهْتَدُوْا﴾ یعنی دا خلق وائی چې یهودی یا نصرانی جوړیدو کښې هدایت دی.الخ.

قوله تعالی:-اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ...

بیافرمائی چې دټولو نه زیات د ابراهیم خلیل الله ﷺ د دین حقدار دهغوئ د زمانې خلق وواو اوس دا نبی حضرت محمد رسول الله ﷺ دی اوتاسو سره چې د مهاجرینو او انصارو ایماندارو کوم جماعت دی او په دوی کښې چې څوك هم ستاسو حمایت کوی قیامت پورې.

زما د زړۀ دوست:-اورسول الله ﷺ فرمائی چې د هر نبی د زړه دوستان د نبیانو نه وی زما د زړه دوستان نبیانوکښې زما پلار ابراهیم خلیل الله ﷺ دې.رسول الله ﷺ ددې آیت تلاوت اوفرمائیلو(ترمذی وغیره) (۲)

قوله تعالی:-وَاللّٰهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ

بیا فرمائی چې څوك هم د الله ﷻ رسول باندې ایمان لری الله تعالی ولی د مومنانو دې.

وَدَّتْ	طَّآئِفَةٌ
خوښوی |	یوه ډله |
..... |	یوه ډله |

(۱) ددې سند کښې محمد بن ابی محمد مجهول راوی دې (الضعفاء والمتروکین : ۹۲/۳، رقم: ۳۱۷۹)-
(۲) ترمذی کتاب التفسیر: باب و من سورة آل عمران : ۲۹۹۵)-

Scanned with CamScanner

مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ

د اهل کتابو نه | چې په څه طریقه بې لارې کړی تاسو | او نه بې لارې کوی هغوئ | مګر

داهل کتابو داغواړی چې (په څه چل) تاسو ګمراه کړی | خودوی صرف خپل خانونه ګمراه کوی

اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ ۝ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

خانونه خپل | خو هغوئ نه پوهیږی | اې اهل کتابو | ولې | انکار کوئ تاسو | دآیتونو دالله نه

او په دې هم پوهه نه دی | ..... اې اهل کتابو تاسو ولې دالله دآیتونه نه انکار کوئ

وَاَنْتُمْ تَشْهَدُوْنَ ۝ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ

او حال دا چې تاسو | پخپله ګواهی کوئ | اې اهل کتابو | ولې | ګډوئ تاسو |

سره ددې چې تاسو ئې پخپله وینئ ګورئ | ائې دکتاب خاوندانو ولې تاسو حق د باطل سره ګډ وډ کوئ

الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوْنَ الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝ وَقَالَتْ طَّآئِفَةٌ

حق دباطل سره | او پټوئ تاسو | حق | او تاسو | پوهیږئ | او اووئیل ایوې ډلې | د

.....او ولې سره دعلمه حق پټوئ | .....اویوې ډلې د

مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اٰمِنُوْا بِالَّذِيْٓ اُنْزِلَ عَلَى الَّذِيْنَ

اهل کتابو نه | چې ایمان راوړئ | په هغه | چې نازل کړې شوې دې | په هغه کسانو |

داهل کتابو نه دا صلاح اوکړه چې ددې پیغمبر په منونکو کوم کتاب نازل شوې دې .....

اٰمَنُوْا وَجْهَ النَّهَارِ وَاكْفُرُوْٓا اٰخِرَهٗ لَعَلَّهُمْ

چې ایمان ئې راوړې دې | په اول دورځ کښې | او انکار ئې اوکړو | په آخر دورځ کښې | دپاره ددے چې هغوئ

په هغې باندې سحروخت کښې ایمان راوړئ او مابنام بیا ترې نه انکار اوکړئ | امید دې چې په دې به

يَرْجِعُوْنَ ۝ وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ؕ قُلْ

واپس شی دایمان نه | اومنئ خبره دهیچا | مګر دهغه چا | چې تابعداری کوی | ددین ستاسو | اووایه اې نبی

نورخلق هم واپس شی | (اوپه خپلو کښې ئې اووئیل چې) دخپل مذهب دسړی نه بغیر دچا خبره مه منئ ورته اووایه

اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ ۙ اَنْ يُّؤْتٰٓى اَحَدٌ مِّثْلَ مَآ اُوْتِيْتُمْ

بیشکه | اصل هدایت | هدایت دالله دې | چې ورکړې شی | یوکس ته | په مثال دهغې | چې ورکړې شوی وو تاسو

چې هدایت دالله هدایت دې | اودا د هغه ورکړه ده | چې چاته ورکړې شی | الکه چې مخکښې تاسو ته درکړې شوې وه

اَوْ يُحَآجُّوْكُمْ عِنْدَ رَبِّكُمْ ؕ قُلْ اِنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللّٰهِ ۚ

یا قوی دلیل راوړی خلق ستاسو خلاف په پیشئ | ادرب ستاسو کښې | اووایه | چې بیشکه فضل | په اختیار دالله کښې دې

یا داسې خودنه اوشوه چې دالله په دربار کښې به په تاسو باندې غالب راشی | ورته اووایه چې فضل خودالله په لاس کښې دې

يُؤْتِيهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ۔ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝ يَّخْتَصُّ بِرَحْمَتِهٖ
ورکوی هغه|هغه چاته|چی اوغواړی	او الله	فراخه نظر والا	پوهه دی	هغه خاص کوی	په رحمت خپل سره
چې په چاباندې اوغواړی نو فضل پرې اوکړی	اوداللہ رحمت فراخه دی	هغه په هرڅه پوهه دی	اوپه خپل رحمت
مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝
هغه څوک	چی اوغواړی	او الله	خاوند دفضل	لوئي دی
سره هغه څوک خاص کوی چالره چه اوغواړی	اوداللہ پاک فضل ډیرلوئي دی	

قوله تعالی:- وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يُضِلُّوْنَكُمْ ؕ.....

د یهودیانو د خرابو عادتونو ذکر:-دلته د هغه یهودیانو بیان کیږی چې حسد کوی او دوی ته اوګوره چې مسلمانانو نه څنګه سوزی.د دوی د دهوکه کولو رنګ په رنګ پټ په پته ترکیبونه کوی اوڅنګه رنګ په رنګ دمکراوفریب جالونه خوروی.حالانکه اصل کښې ددې ټولو څیزونو وبال پخپله په دوی باندې دی لیکن دوی ته ددې شعور نشته دی،

قوله تعالی:- يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ.....

بیادوی ته ددوی ذلیل حرکت یادوی چې رښتیا ورته معلوم دی اوحق ورته معلوم دی اوبیا هم دوی دالله تعالی د آیتونو نه منکر دی.

قوله تعالی:- يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَلْبِسُوْنَ الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ

د علم نه باوجود په دوی کښې دا بد خصلت دی چې حق اوباطل لره خپلو کښې یوځائې کوی او د دوی په کتابونوکښې چې کوم خصلتونه دحضرت نبی کریم ﷺ دی هغه پټوی.

قوله تعالی:- وَدَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ....

ددهوکې ورکولو چې کوم صورتونه جوړوی په هغې کښې یو دا بیانیږی چې په خپلوکښې مشوره کوی چې صبا به ایمان راوړو او مسلمانانو سره به مونځونه کوؤ او مابنام به بیا مرتد جوړ شو چې د جاهلو خلقو زړه کښې خیال راشی چې آخردا خلق چې مرتدشوی دی نو ظاهر دی چې هغوئ په دې دین کښې نقصان یا بدی اوګوری نو څه عجیبه ده چې دوی کښې څوک زمونږ طرفته راشی.(۱)دا یو حیله وه چې شایدداکمزوری ایمان والا واپس راشی چې داپوهه خلق چې کله دې دین ته راشی او مونځونه کوی،بیا چې کله دوی واپس دا دین پریږدی نو ضرور به ئې دلته څه خرابی او نقصان لیدلې وی.

قوله تعالی:- وَلَا تُؤْمِنُوْٓا اِلَّا لِمَنْ تَبِعَ دِيْنَكُمْ ؕ.....

دې خلقو به وئیل چې بهروسه خپلو باندې کوئ مسلمانانو باندې مه کوئ او نه خپل رازونه هغوئ ته ښکاره کوئ اونه دخپل کتاب خبرې هغوئ ته ښکاره کوئ چې دې سره دوی ایمان راوړی.او الله تعالی سره هم د دوی دپاره مونږ باندې څه حجت جوړ شی.

قوله تعالی:- قُلْ اِنَّ الْهُدٰى هُدَى اللّٰهِ.....

نوالله ﷻ فرمانی چې انې نبی ﷺ اووایه چې هدایت خودالله ﷻ لاس کښې دې اوهغه پاک ذات د مومنانوزړونو لره په دې څیزباندې دایمان راوړلودپاره راضی کوی چې کوم الله ﷻ نازل کړې دې هغوئ ته دې باندې کامل ایمان نصیب کیږی اګر چې تاسودنبی امی ﷺ صفتونولره پټوئ،بیا به خوش قسمته خلق د رسول الله ﷺ د نبوت نښې په یو نظر اوپیژنی.

---

(۱) الطبری: ۵۰۸/۶)-

Scanned with CamSc

قوله تعالی:-اَنۡ یُّؤۡتٰۤی اَحَدٌ مِّثۡلَ مَاۤ اُوۡتِیۡتُمۡ
داشان هغوئ به ونیل چې تاسو سره کوم علم دې هغه مسلمانانو ته مه ښکاره کوئ چې تاسو نه دا ازده کړی او ستاسو پشان شی.بلکه دخپل ایمانی قوت په وجه ستاسونه مخکښې شی.
قوله تعالی:-اَوۡ یُحَآجُّوۡکُمۡ عِنۡدَ رَبِّکُمۡ ؕ
یاد الله ﷻ مخکښې د دوی دلیل اوحجت قائم شی.یعنی پخپله ستاسو دکتابونو نه هغوئ تاسو باندې الزام اولګوی.او تاسوباندې ستاسو دلیلونه او حجتونه قائم کړی.
قوله تعالی:-قُلۡ اِنَّ الۡفَضۡلَ بِیَدِ اللّٰہِ ۚ یُؤۡتِیۡہِ مَنۡ یَّشَآءُ ؕ::الله ﷻ فرمائی چې ته اووایه چې فضل خو دالله ﷻ لاس کښې دې او چا لره اوغواړی نو د حق لارې نه ئې واړوی.او اسلام کلمې نه ئې کونړ کړی.او د صحیح پوهې نه ئې محروم اوساتی.د هغه ټول کارونه د حکمت نه ډک وی هغه پاک ذات وسعت علم والا دې.
قوله تعالی:-یَّخۡتَصُّ بِرَحۡمَتِہٖ مَنۡ یَّشَآءُ ؕ
چې چاته اوغواړی نو په هغه خپل رحمت خاص کړی اوهغه ډیر لوئې فضل والادې،ائې مسلمانانو!هغه پاک ذات تاسو باندې ډیر زیات احسانات کړې دی،ستاسو نبی ﷺ ته ئې په ټولو نبیانو ﷺ باندې فضیلت ورکړې دې او ډیر کامل اوهر حیثیت سره پورا شریعت ئې تاسوته درکړو.

وَمِنۡ اَہۡلِ الۡکِتٰبِ
او داهل کتابونه |
|اوپه اهل کتابو کښې
مَنۡ اِنۡ تَاۡمَنۡہُ بِقِنۡطَارٍ یُّؤَدِّہٖۤ اِلَیۡکَ ۚ وَمِنۡہُمۡ مَّنۡ
ځینی هغه ځوک دی که ته امین اوګرځوې هغه سره| ډیرمال |واپس به اداکوی هغه| تاته | اوځینی ددوئ نه| هغه ځوک دی
داسې(امانت ګر)هم شته | که ته ورسره ډیر مال امانت کیږدې | نوهغه به تاته پوره پوره درکړی| اوځوک
اِنۡ تَاۡمَنۡہُ بِدِیۡنَارٍ لَّا یُؤَدِّہٖۤ اِلَیۡکَ اِلَّا مَا دُمۡتَ عَلَیۡہِ قَآئِمًا ؕ
که ته امین اوګرځوې هغه سره|یوه اشرفئ | نو نه به درکوی هغه| تاته |مګر اچی ئې همیشه ته|په سر دهغه ولاړ
په کښې داسې دی که دیو دینار اعتبار پرې اوکړې نوتردهغې به ئې درنکړی ترڅوچې ورته دسردپاسه ناست نه ئې
ذٰلِکَ بِاَنَّہُمۡ قَالُوۡا لَیۡسَ عَلَیۡنَا فِی الۡاُمِّیّٖنَ سَبِیۡلٌ ۚ
دا کار په سبب ددې دی چې بیشکه دوئ | وانی |چې نشته |په مونږ باندې|په حق دامیانو کښې | څه لار دګرفت
داپه دې وجه چې ددوئ داخیال دې | چې دامیانو(عربومشرکانو)په باره کښې مونږ نه هیڅ تپوس نه کیږی
وَیَقُوۡلُوۡنَ عَلَی اللّٰہِ الۡکَذِبَ وَہُمۡ یَعۡلَمُوۡنَ ﴿۷۵﴾ بَلٰی مَنۡ اَوۡفٰی
اووائی دوئ | په الله باندې | دروغ |حال دا چې دوئ| پوهیږی | ولې به تپوس نه وی |هر چاچې پوره کړه
اودوئ په الله باندې دروغ وائی | او په دې پوهیږی | .....آخرولې به تپوس نه کیږی هرڅوک
بِعَہۡدِہٖ وَاتَّقٰی فَاِنَّ اللّٰہَ یُحِبُّ الۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۷۶﴾
وعده خپله | او بچ ئې کړو ځان دبدئ نه|نو بیشکه الله | خوښوی | پرهیزګارخلق|
چې خپله وعده پوره کوی|اوځان دوعده خلافئ نه بچ ساتی| |نوپرهیزګارخلق دالله پاک خوښ دی |

Scanned with CamSc

کثرت د یهودیانو خیانت کړووخو ولې بعضې په کښې امانت داره هم وو:- الله ﷻ مومنان دیهودو په خیانت باندې متنبه کوی چې ددوی دهوکې پسې دې نه خی،

قوله تعالیٰ:- وَمِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مَنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِقِنْطَارٍ يُّؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ

په دوی کښې خوبعضې امانتدار دی اوبعضې ډیر لوڼې خائن دی.بعضې خو داسې دی که دهغوئ په امانت کښې خزانې وی نوهغوئ به ئې واپس کړی،نودوی به په ورځو ورځو ځیزونو کښې ځنګه خیانت اوکړی؟

قوله تعالیٰ:- وَمِنْهُمْ مَّنْ اِنْ تَاْمَنْهُ بِدِيْنَارٍ لَّا يُؤَدِّهٖٓ اِلَيْكَ اِلَّا مَا دُمْتَ عَلَيْهِ قَآئِمًا

اوبعضې داسې بددیانت دی چې یودینارهم نه واپس کوی اوکه دوی سره مو معامله راشی نو د برابرئ تقاضا کوئ او حق غواړئ نو شاید چې ستاسو امانت تړې راوزی ګنی دوی به ئې هضم کړی.هرکله چې دوی په یو دینارکښې بددیانتی کوی نوزیات رقم به څنګه پریږدی.دلفظ قنطار پوراتفسیر د سورت په اول کښې تیر شوې دې او دینار خو مشهور څیز دې.

د دینار وجه د تسمیې:- ابن ابی حاتم کښې دمالك بن دینار رحمۃ اللہ علیہ قول مروی دې چې دینار ته په دې وجه دیناروائی چې هغه دین یعنی ایمان هم دې اونار یعنی اور هم.مطلب دا که حق سره ئې واخلې نو دین اوکه په ناحقه ئې واخلې نو نار یعنی اور دې.

په دې موقع باندې حدیث بیانول هم مناسب معلومیږی چې کوم په صحیح بخاری کښې خائې په خائې دی.او په کتاب الکفالة کښې پورا دی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې بنی اسرائیلو کښې یو سړی دبل سړی نه زر دیناره قرض اوغوښتل،هغه اووئیل چې ګواه راوله.جواب ئې ورکړو چې ګواهی د الله ﷻ کافی ده.وې وئیل چې ضمانت راوړه نو وې وئیل چې د الله ﷻ ضمانت کافی دې.وې وئیل تا رښتیا اووئیل اود واپس کولو موده ئې مقرر کړه او ورته ئې زر دیناره ورکړل.دې د سمندر په سفر روان شو او خپل کار ئې اوکړو.هرکله چې موده پورا شوه نو دې د سمندر غاړې ته لاړو چې کشتئ ملاؤ شی او په هغې کښې سور شی او لاړ شی رقم اداکړی.خو هیڅ یو جهاز ملاؤ نشو.هرکله چې ده اوکتل چې په وخت نشی رسیدې نو ده یو لرګې واخستو او هغه په مینځ کښې ډډ وو او په هغې کښې ئې زر دیناره کیخودل او یو پرچی ئې اولیکله او بیا ئې دهغې خوله بنده کړه او د الله ﷻ نه ئې دعا اوکړه چې ائې الله ﷻ اتاته ښه معلوم دی چې ما د فلانی سړی نه زر دیناره قرض اخستی وو او هغه زما نه ضمانت غوښتلې وو او ما ورته ته ضمانت کښې ورکړې وې او هغه په دې باندې خوشحاله شوې وو.او ګواه ئې اوغوښتلو نوما ورته ته په ګواهئ کښې ورکړې.او په دې باندې هغه خوشحاله شو.اوس وخت مقرر پورا کیدو والا دې نو ما خو ډیر کوشش اوکړو چې کشتئ تلاش کړم او لاړم شم او هغه ته د هغه قرض ورکړم لیکن کشتئ ملاؤ نشوه.اوس زه دا رقم تاته سپارم او سمندر کښې ئې اچوم او دعا کوم چې دا رقم هغه ته اورسی.بیا ئې دا لرګې سمندر کښې واچولو اولاړو.لیکن بیا هم دکشتئ تلاش کښې وو چې ملاؤ شی چې لاړ شم.بل طرفته هغه سړی چې اوکتل چې دقرض واپس کولو وخت پورا شوې دې او ئې هغه ته راتلل پکار دی نو هغه هم د سمندر غاړې ته راغلو چې ئې به هغه رازی او زما رقم به واپس کوی یابه ئې د چا په لاس رالیږی.خو هرکله چې مایوسه شو او هیڅ کشتئ رانغله د هغه طرفنه نو دې واپس شو،د سمندر په غاړه ئې یو لرګې اولیدو،ده اووئیل چې هسې هم خالی روان یم راشه دا لرګې هم خان سره واخله،دا به اوچ کړم،د بلولو دپاره خو به پکار راشی.هرکله چې کور ته اورسیدو نو دا لرګې ئې اوڅیرلو نو ددې نه اشرفئ راوتلې،هرکله چې ده اوشمیرلې نو پوره زر دیناره وو.چې پر چې ئې اوکتله او هغه ئې اولوسته.بیا یو ورځ هغه سړې راغلو او ده ته ئې زر د یناره پیش کړل او ورته ئې اووئیل چې داواخله ستا رقم،ماته معافی اوکړه،ما ډیر کوشش اوکړو چې وعده خلافی اونشی خو کشتئ ملاؤ نشوه اوپه دې کښې وخت تیر شو.نن راته کشتئ ملاؤ شوه او ستا رقم حاضر دې.هغه

تپوس اوکړو چې ولې تازما رقم لیږلې نه دې څه،ده اوونیل چې ما خو درته اووئیل چې کشتئ ملاؤ نشوه.هغه ورته اووئیل چې خپل رقم واپس واخله اوپه خوشحالئ خوشحالئ واپس شه،تاچې کوم لرگی کښې رقم رالیږلې وو او هغه دې﴿ توکل علی الله ﴾سره سمندر کښې اچولې وو الله ﷻ ماته رارسولې دې.او ما خپل رقم وصول کړې دې.(۱)داحدیث بخاری شریف کښې تعلیق سره هم دې لیکن د جزم صیغې سره او بعضو خایونو کښې نورو سندونو سره هم دې.او نورو کتابونو کښې هم روایت دې.

قوله تعالی:- ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَالُوْا لَيْسَ عَلَيْنَا فِي الْاُمِّيّٖنَ سَبِيْلٌ

بیا فرمائی چې امانت کښې خیانت کول،د حقدار حق نه ادا کول،په دې باندې راضی کوونکې څیز د دوی غلط خیال دې چې د دې بد دینو او جاهلانو مال خوړولو کښې مونږ ته څه حرج نشته مونږ باندې دا مال حلال دې.

قوله تعالی:- وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ

نو په دې باندې الله ﷻ فرمائی چې دا په الله ﷻ باندې دروغ دی.او ددې علم هغوی ته پخپله هم شته دې.ځکه چې د دوی په کتابونو کښې الله ﷻ ناحق حرام کړی وو.لیکن دا بیوقوفان د خپل زړۀ منی او چې کومې خبرې د دوی زړه ته ښه لګی هغې ته د شریعت نوم ورکوی.

د عبدالله بن عباس ﷺ نه په دې حقله د مسلمانانو پوهتنه:- ابن عباس ﷺ نه خلق د مسئلې تپوس کوی که د ذمی کفارو چرګې چیلئ وغیره مونږ ته کله په غزوه کښې ملاؤ شی نو مونږ خیال کوؤ چې د دې په اخستلوکښې څه حرج نشته دې.نو ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چې هم دغه شان خیال د اهل کتابو هم وو چې د امیانو مال اخستلو کښې مونږ باندې هیڅ حرج نشته.واورئ!هر کله چې هغوئ جزیه اداکوی نو د هغوئ تاسو باندې هیڅ مال حلال نه دې اوکه هغوئ نې خوشحالئ سره درکوی نو خیر دې دا بله خبره ده.(عبدالرزاق) (۲)سعید بن جبیر رحمہ اللہ فرمائی چې کله اهل کتابو نه رسول الله ﷺ دا خبره واوریدله نو وې فرمائیل چې د الله ﷻ دښمنان دروغژن دی.دجاهلیت ټولې خبرې زما د پښو لاندې ختمې شوې خو امانت به د هر فاسق فاجر هم ادا کول غواړی.(۳)

بَلٰى مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ وَاتَّقٰى.....

بیاارشاد فرمائی لیکن چې کوم سړې خپله وعده پورا کړی او ویریږی او اهل کتاب وی او بیا په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړی او دا وعده ټولو نبیانو علیہم السلام کړې ده او ددې وعدې پابندی په دې ټول امت باندې هم ده بیا الله ﷻ چې کوم څیزونه حرام کړی دی د هغې نه پرهیز اوکړی او د هغه دشریعت اطاعت اوکړی او د رسولانو خاتم او د نبیانو د سردار د محمد ﷺ پورا تابعداری اوکړی نو هغه متقی دې اومتقیان د الله دوستان دی.

اِنَّ الَّذِيْنَ	
بیشکه هغه کسان	
بیشکه څوک چې	
يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا اُولٰٓئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ	
چې اخلی	په وعده الله او په قسمونو خپلو باند قیمت لږ ادا کسان چې دی نشته حصه ددوئ دپاره
دالله پاک سره کړې وعده اوخپل قسمونه په لږو روپو خرڅ کړی نوهغوئ دپاره هیڅ حصه	

(۱) صحیح بخاری کتاب الکفالة باب الکفالة فی القرض : ۲۲۹۱، تعلیقا)-
(۲) عبدالرزاق فی التفسیر: ۴۱۹/۱)-
(۳) الطبری : ۷۲۶۶، عن سعید بن جبیر، دا روایت مرسل یعنی ضعیف دې)-

Scanned with CamS

فِي الْاٰخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ وَلَا يَنْظُرُ اِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ
په آخرت کښې| او نه به| خبرې اوکړي ددوئ سره| الله	او نه به| اوګورې	دوئ ته	په ورځ	دقيامت
په آخرت کښې نشته	اوالله پاک په ورسره دقيامت په ورځ خبرې نه کوي	اونه به ورته ګورې
وَلَا يُزَكِّيْهِمْ ۪ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝
اونه به| پاک کړي دوئ |اومقرر دې دوئ لره	عذاب	دردناك	
اونه به ئې (دګناهونونه) پاک کړي	اوددې خلقو دپاره دردناک عذاب دې	

قوله تعالى:- اِنَّ الَّذِيْنَ يَشْتَرُوْنَ بِعَهْدِ اللّٰهِ وَاَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيْلًا؟.....

دې خوش بخته او دې بد بخته سړی: -يعنى چې کوم اهل کتاب د الله ﷻ د وعدې خيال نه ساتى اونه د رسول الله ﷺ اتباع کوى اونه د رسول الله ﷺ صفتونه خلقو ته بيانوى او نه د رسول الله ﷺ متعلق بيان کوى.او دا شان په دروغه قسمونه خورى او دې بدکارونو سره هغوئ ددې ذليلې اوفانى دنيا نه فائده حاصلوى.نو ددې خلقو دپاره آخرت کښې هيڅ حصه نشته.او نه به الله ﷻ دوى سره څه د محبت او مينې خبره اوکړي او نه به دوى ته د رحمت په نظر ګورى او نه به دوى لره د دوى د ګناهونو نه پاک کړي بلکه د دوى جهنم ته د داخليدو حکم به کوى.او دوى لره به هلته دردناك عذاب وى.ددې آيت متعلق ډير احاديث هم دى.چې په هغې کښې ډير کم دلته بيانيږى.

① مسند احمد کښې دى چې رسول الله ﷺ فرمائى چې دري قسمه خلق دى چې هغوئ سره به نه الله ﷻ کلام کوى اونه به د قيامت په ورځ ورته د رحمت په نظر ګورى او نه به هغوئ لره پاک کړى.ابوذر ﷺ چې داواوريدل نو وې وئيل چې دا کوم خلق دى،يارسول الله ﷺدوى خوډير نقصان کښې دى.رسول الله ﷺ دې خل همدا اوفرمائيل اوبيا ئې جواب ورکړو چې دګيتو نه لاندې کپړا زوړندولووالا،په دروغه قسم خورلو والا اوچا ته د ورکړې نه پس په هغه د احسان زباتنه.مسلم وغيره کښې هم دا حديث دى.(۱)

②مسنداحمد کښې دى چې ابو احمس ﷺ فرمائى چې زهٔ ابوذر ﷺ سره ملاؤ شوم او هغوئ ته مې ذکر اوکړو چې ما اوريدلى دى چې تاسود امام احمد بن حنبل ﷺ نه يوحديث بيانوئ،نو وې فرمائيل چې واوره زهٔ خو رسول الله ﷺ باندې دروغ نشم وئيلې هر کله چې ما هغه د رسول الله ﷺ نه اوريدلې وى وايه هغه کوم حديث دې؟ما اووئيل چې دري قسم خلقو لره الله ﷻ دوستان کوى او دري قسمه خلقو سره دښمنى کوى.نووې فرمائيل چې آو ما دا حديث بيان کړې هم دې او ما دا د رسول الله ﷺ نه اوريدلې هم دې.ماتپوس اوکړو چې کومو کومو خلقو لره دوستان کوى.نو وې فرمائيل چې هغه دې چې دالله ﷻ دښمنانوسره مقابلې د پاره جهاد کوى او دې شهيد شى يا فتح اومومى او واپس شى.دويم هغه سړې چې يو قافلې سره مسافر وى،د شپې ناوخته پورې قافله روانه وى تر دې چې تول سترې شى اويو خانې پراؤ واچوى اوتول دسترې والى له کبله اوده شى خودا سړې ويښ وى او په مونځ کښې مشغول وى تر دې چې د تلو وخت کښې تولو لره راپاسوى.دريم هغه سړې دې چې څوك ده ته تکليف اورسوى او دې په هغې باندې صبر اوکړى تر دې پورې چې ده ته مرګ راشى.ما اووئيل چې هغه دري کسان کوم دى چې د هغوئ نه الله ﷻ خفه وى؟وې فرمائيل چې ډيرقسمونو خورلووالا تاجر،او کبر کولو والا فقير اوهغه بخيل چې د هغه د لاسه کله احسان اوشى نوبيا دهغې زباتنې ته کښيني.داحديث دې سند سره غريب دې..(۲)

---

[1]) احمد:۱۴۸/۵، صحيح مسلم كتاب الايمان باب بيان غلظ تحريم اسبال الازار :.....: ۱۰۶)-

[2]) احمد:۱۵۱/۵،وسنده ضعيف)-

Scanned with CamSc

③ مسند احمد کښې دی چې د کنده قبلې یو سړی امروالقیس بن عامر د یو حضرموتی سړی سره جنګ اوشو او د دوی دا جنګ د زمکې باره کښې وو.او دوی د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضرشو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې حضرمی دې ثبوت پیش کړی.ده سره هیڅ ثبوت نه وو.نو بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې اوس دې کنډی قسم اوخوری.نو حضرمی اوونیل چې یارسول الله ﷺ هر چې دده په قسم باندې فیصله کول دی نو په الله مې دې قسم وی چې بیا خو زما زمکه لاړه.نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې کوم کس د دروغو په قسم سره د بل مال خپل کړی نو دې چې کله د قیامت په ورځ الله ﷻ سره ملاؤ شی نو الله ﷻ به دده نه خفه وی.بیا رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړو نو امروالقیس اوونیل چې یارسول الله که څوک نې پریږدی نو هغه ته به څه اجر ملاویږی؟نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې جنت.نوو‌ې وئیل چې یارسول الله ﷺ تاسو ګواه اوسئ ما هغه ټوله زمکه د ده په نوم کړه.دا حدیث نسائی کښې هم دی..(۱)

④ مسنداحمد کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائی چې کوم سړی په دروغه قسم اوخوری چې په دې باندې دبل مال واخلی نو کله چې دې الله تعالی سره ملاویږی نو الله ﷻ به ده باندې غصه وی.اشعث ؓ فرمائی چې دا زما باره کښې دی.زما او د یو یهودی شریکه زمکه وه.هغه زما د زمکې نه انکار اوکړو.ما هغه رسول الله ﷺ لره راوستلو.رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل چې تاسره څه ثبوت شته دې.ما اوونیل چې نه.رسول الله ﷺ هغه یهودی ته اووئیل چې ته قسم اوخوره.ما اوونیل چې یارسول الله ﷺ دې به قسم اوخوری او زما مال به دې واخلی.نو الله ﷻ دا آیت نازل کړو،دا حدیث بخاری او مسلم شریف کښې هم دی..(۲)

⑤ مسند احمد کښې دی چې حضرت ابن مسعود ؓ فرمائی چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې کوم سړې دیومسلم مال بغیر د حق نه واخلی نو هغه به الله ﷻ سره په دې حال کښې ملاویږی چې الله ﷻ به دده نه خفه وی.هلته اشعث بن قیس ؓ هم راغلواو وې فرمائیل ابوعبدالرحمان څه حدیث بیانوی؟مونږ ورته دوباره اووئیلو نو وې فرمائیل چې دا حدیث زما باره کښې رسول الله ﷺ فرمائیلې دی.زما د تره خوئنې سره زما په یو کوهی باندې جنګ وو او هغه کوهی د هغه په قبضه کښې وو.هرکله چې مونږ خپله مقدمه رسول الله ﷺ ته یوړه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چې ته خپل دلیل پیش کړه چې دا کوهې ستا دې ګنی دده قسم باندې به فیصله کیږی.ما اوونیل چې یارسول الله ﷺ!ماسره خو څه دلیل نشته دې او که دده په قسم باندې معامله پاتې شوه نو دې به زما کوهې واخلی،زما مقابله کښې یو فاجر سړې دې.په هغه وخت کښې رسول الله ﷺ داحدیث اوفرمائیلو او ددې آیت تلاوت ئې اوفرمائیلو.(۳)

⑥ مسنداحمدکښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائی چې د الله تعالی څه بندګان داسې دی چې هغوئ سره به الله ﷻ دقیامت په ورځ خبرې نه کوی او نه به هغوئ طرفته ګوری.تپوس ترې اوشو چې یارسول الله ﷺ هغه کوم سړی دی؟وې فرمائیل چې د خپل مورپلار نه بیزاره شوې او د دوی نه بې رغبته جینئ او د خپل اولاد نه بیزاره او بیل شوې پلار،اوهغه سړې چې په هغه باندې دیو قوم احسان دې او هغه ددې نه انکاری دې او ددې نه سترګې اړوی او ددوی نه یو طرفته درومی..(۴)

د ایت شان نزول:-

---

(۱) احمد:۵/۱۹۲، السنن الکبری للنسائی : ۵۹۹۶، وسنده صحیح)-

(۲) احمد:۵/۲۱۱،صحیح بخاری کتاب الشهادات باب سوال الحاکم المدعی : .....: ۲۶۶۶،صحیح مسلم: ۱۳۸)-

(۳) احمد:۵/۲۱۲،)-

(۴) احمد:۵/۴۴۰)-

Scanned with CamSc

⑦ ابن ابی حاتم کښې دی چې عبدالله بن ابی اوفی ﷺ فرمائی چې یوسړی خپله سودا بازار کښې د خرڅولو دپاره کیښودله اوقسم ئې اوخوړو چې ددې ماته دومره دومره قیمت راکولو(خو ما خرڅه نه کړه)او دا ددې دپاره وو چې څوک مسلمان دهوکه شی.نو دا آیت نازل شو.صحیح بخاری کښې هم دا حدیث شته دی.(۱)

⑧مسند احمد کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائی چې دریو سړو سره به الله ﷻ دقیامت په ورځ خبرې نه کوی او نه به هغوئ طرفته کوری او نه به هغوئ لره پاک کړی.او د هغوئ دپاره دردناک عذاب دی.یو هغه سړی چې ده سره بچ شوې اوبه شته او دې نې یو مسافرته نه ورکوی.دویم هغه چې مازیګر نه پس په دروغه قسم اوخوری اوخپل مال خرڅوی،دریم هغه چې مسلمان بادشاه نه بیعت کوی،خوکله چې هغه ده ته مال ورکوی نودې بیعت پورا کوی اوکه نه ورکوی نو دې بیعت نه پورا کوی.دا حدیث ابوداود او ترمذی کښې هم دی.او امام ترمذی دې ته حسن وئیلی دی.

وَاِنَّ	مِنْهُمْ
	او بیشکه | بعضې ددوئ نه |
	او په دوئ کښې
لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ	اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ
خامخا یوه ډله داسې | چې اړوی ژبې خپلې | په لوستلو د کتاب باندې | دپاره ددې چې ته اوګڼې هغه عبارت	
یوه ډله داسې هم شته | چې د کتاب لوستلو په وخت کښې ژبه تاووهی | چې تاسو پرې د اصل کتاب ګمان	
مِنَ الْكِتٰبِ	وَمَا هُوَ مِنَ الْكِتٰبِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ هُوَ
د کتاب نه | حال دا چې نه وی هغه عبارت | د کتاب | اووائی دوئ | چې داعبارت	
اوګڼې | ..... اوهغه د کتاب خبره نه وی | ..... اودوئ وائی چې (هونډ څه وایو)	
مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ	وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَيَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ
د طرفه دالله نه دی | حال داچې نه وی هغه | د طرفه دالله نه | او وائی دوئ | په الله باندې | دروغ	
هغه دالله د طرفنه راغلې خبره ده | اوهغه په حقیقت کښې دالله پاک د طرفنه نه وی راغلې | اودوئ په الله دروغ وائی	
وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۷۸﴾	
او دوئ | ښه پوهیږی |	
اودوئ ښه پوهیږی |	

قوله تعالی:- وَاِنَّ مِنْهُمْ لَفَرِيْقًا يَّلْوٗنَ اَلْسِنَتَهُمْ بِالْكِتٰبِ لِتَحْسَبُوْهُ مِنَ الْكِتٰبِ

د یهودیانو کلام الله کښې تحریف -دلته هم د دغه ملعونانو یهودو ذکر کیږی چې د هغوئ یو ډله داسې هم کوی چې کلام کښې بدلون کوی یعنی دابدلوی،اصل مطلب اوصحیح معنی پټوی اوجاهلان په دې چکر کښې اچوی چې کتاب الله هم دغه (ددوی تحریف شوې) دی.اوبیا دوی خپلو ژبو سره هم دې ته کتاب الله وائی اودجاهلانو خیال لره مضبوطوی.او په زوره په الله ﷻباندې افتراء کوی او دروغ وائی.د ژبې اړولو نه مطلب تحریف کول دی.ابن عباس ﷺ نه صحیح بخاری کښې مروی دی چې دې خلقو به

(۱)صحیح بخاری کتاب الشهادات باب الیمین بعدالعصر: ۲۶۷۲،صحیح مسلم ۱۰۸، ابوداود: ۳٤۷٤. ترمذی: ۵۹۵، ابن ماجة: ۲۲۰۷)

Scanned with CamSc

تحریف کولو.اوازاله به ئې کوله.مخلوق کښې څه داسې څوک خو نشته چې دکتاب الله یو لفظ هم بدل کړی.خو دا خبره ده چې دې خلقو به تحریف او بې ځایه تاویلونه کول(۱)

وهب بن منبه رحمه الله فرمانی چې تورات اوانجیل کښې همداشان دی چې څنګه الله ﷻ نازل کړی دی،یوحرف هم په دې کښې بدل نه شو.خو دا خلق په تحریف او تاویل سره خلقو لره ګمراه کوی.

قوله تعالی:-وَيَقُولُونَ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ وَمَا هُوَ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ

او چې کوم کتابونه دوی د خپل طرفنه اولیکل او دا د الله ﷻ طرفته منسوب کوی نو دې سره خلقو لره ګمراه کوی.حالانکه دا الله ﷻ دطرف نه نه دی.او د الله ﷻ اصل کتابونه خو محفوظ دی اوهغه نه دی بدل شوی.(ابن ابی حاتم).

وهب رحمه الله ددې فرمان دامطلب اخستې دې چې دوی سره کوم کتابونه دی نو مونږ په یقین سره وایو چې دا بدل شوی دی او تحریف په کښې شوې دې.او د زیاتوالی اونقصان نه بالکل نه دی پاک.او چې کوم په عربیۍ ژبه کښې مونږ سره دی په هغې کښې ډیری غلطئ دی.او ډیری زیاتئ دی په کښې.اوپه دې کښې د اصل نه کمې هم زیات دې.او په دې کښې ښکاره ښکاره او صفاصفا غلطئ دی.بلکه دې ته ترجمه شوی وئیل هم ښه نه دی.داخوتفسیر اوهغه هم بې اعتباره تفسیردې.او بیا ددې ناپوهانو لیکلې شوې تفسیر.اوپه دوی کښې خو اکثر بلکه ټول په ټوله ناپوهان دی.اوکه د وهب رحمه الله د فرمان دا مطلب وی چې د الله ﷻ ربانی کتاب دا په حقیقت کښې دې نو دا به بیشکه مصئون وی او په دې کمې زیاتې ناممکن دی.

مَا كَانَ	لِبَشَرٍ	اَنْ يُّؤْتِيَهُ	اللّٰهُ	الْكِتٰبَ	
	نه دې دا کار	دیو بشر	چې ورکړی هغه ته	الله	کتاب
	.....دهیڅ انسان داکار نه دې چې الله خو ورته روغ کتاب				
وَالْحُكْمَ	وَالنُّبُوَّةَ	ثُمَّ يَقُوْلَ	لِلنَّاسِ	كُوْنُوْا	عِبَادًا لِّيْ
او حکم	اوپیغمبری	اوبیااووائی هغه	خلقو ته	چې شئ تاسو	عبادت کونکي شئ زما
او خپل حکمونه اوپیغمبری ورکړی	اوبیا هغه خلقوته داوائی چې دالله په خائې زما عباد تګدار شئ				
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	وَلٰكِنْ	كُوْنُوْا	رَبّٰنِيّٖنَ	بِمَا	كُنْتُمْ	تُعَلِّمُوْنَ
په خائې دالله	لیکن (وائی به)	اچې شئ تاسو	ربانی خلق	اپه سبب دهغې	چې تاسو	زده کوئ
خو هغه به داوائی چې ټول په ربستیا بانی خلق شئ	که څنګه چې زده کوئ					
الْكِتٰبَ	وَبِمَا	كُنْتُمْ	تَدْرُسُوْنَ	وَلَا يَاْمُرَكُمْ	اَنْ تَتَّخِذُوا
کتاب	او په سبب دهغې	چې تاسو ئې	بل ته هم وایئ	اوحکم به کوی تاسو ته	چې اونیسئ تاسو
داکتاب	او نورو خلق ته ئې هم ښائې	.....	اوهغه به هیڅرې تاسو ته دا اونه وائی چې		
الْمَلٰٓئِكَةَ	وَالنَّبِيّٖنَ	اَرْبَابًا	اَيَاْمُرُكُمْ	بِالْكُفْرِ	بَعْدَ
فرشتې	اوپیغمبران	خدایان	آیاهغه به حکم کوی تاسوته	دکفر	روستو دهغې نه
فرشتې او پیغمبر په خدائې اونیسئ	داکله کیدیشی چې یوپیغمبر دې تاسو ته دکفر حکم				

(۱) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی (بل هو قرآنٌ مجید) تعلیقا قبل حدیث : ۷۵۵۷)-.

Scanned with CamSc

إِذْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١١١﴾
چې يئ تاسو | مسلمانان |
د اسلام راوړلو نه پس درکوی |

د ایت شان نزول

د الله تعالی هیڅ یو نبی او هیڅ یوه فرښته هم خلقو ته د خپلې بندګئ دعوت نه شی ورکولې:- هر کله چې نبی اکرم ﷺ سره دیهودو او د نجران نصرانیان علماء جمع شو او نبی اکرم ﷺ هغوئ ته د اسلام دعوت ورکړو نو ابو رافع قرظی اوونیل چې تاسو غواړئ چې څنګه نصرانیانو د عیسی بن مریم عبادت کړې وو مونږ هم ستا عبادت اوکړو؟د نجران یو نصرانی آنیس نومې کس اووئیل چې ستاسو هم دا خوښه ده؟او هم دا دعوت مودي؟نو نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل معاذالله،نه خو مونږ د الله ﷻ نه سوا د نورو عبادت کوؤ،نه نورو ته د الله ﷻ نه سوا د بل چا د عبادت کولو تعلیم ورکوؤ.نه زما د پیغمبرئ دا مقصد دې او نه ماته د الله ﷻ دا حکم دې.په دې باندې دا آیت نازل شو (۱)

قوله تعالی:-مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ اللَّهُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ

چې هیڅ یو انسان لره دا لائق نه دی چې هغه د کتاب و حکمت اونبوت او رسالت ملاویدو نه پس خلق خپل عبادت طرفته راوبلی.هرکله چې نبیان ﷺ ددې لائق نه دی چې هغوئ خلقو ته اووائی چې د دوی عبادت اوکړی او خلقو ته د خپلې بندګئ تلقین اوکړی اګر چې د انبیاؤ ﷺ ډیرې غټې رتبې او فضیلت او منصب والا دی.امام حسن بصری رحمه الله فرمائی چې یو ادنی مسلمان هم دا نه شی کولې چې هغه خلقو ته د خپلې بندګئ دعوت ورکړی.دلته ئې دا په دې وجه اوفرمائیل څکه چې یهود اونصرانیان خپلو کښې دیو بل عبادت کوی.قرآن شاهد دې اوفرمائی چې ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللَّهِ﴾ :یعنی دې خلقو الله ﷻ پریښودې دې او خپل علماء او درویشان ئې خپل رب جوړ کړی دی.

د مسند او ترمذی هغه حدیث هم رازی چې عدی بن حاتم ﷺ د نبی اکرم ﷺ خدمت کښې عرض اوکړو چې هغوی خو به د هغوئ(یعنی د خپلو علماؤ) عبادت نه کولو،نو نبی اکرم ﷺ ترې تپوس اوکړو چې ولې ند؟هغوی(علماؤ)په په هغوی باندې حلال حرامول او حرام به ئې پرې حلالول او دوی به د هغوی منل،هم دا دهغوئ عبادت وو.(۲)

نوجاهله درویشان او ناپوهه علماء او مشائخ په دې غندنه او غصه کښې داخل دی.د نبی اکرم ﷺ اتباع کوونکی علماء کرام ددې نه یو طرفته دی څکه چې هغوئ خو صرف د فرمان ربانبی اوکلام رسول ﷺ تبلیغ کوی او د هغه کارونو نه خلق منع کوی چې د کومو نه به حضرات نبیانو ﷺمنع کوله.د الله ﷻ لیږلې شوی حضرات نبیان ﷺ خو د مخلوق په مینځ کښې سفیران دی.د رسالت حق ادا کوی او امانت ربانی احتیاط سره د الله ﷻ بندګانو ته رسوی.ډیر کمال،هوښیارئ،ښه نګرانئ او پوره حفاظت سره د پوره دنیا خیرخواهان وی.هغوئ ﷺ د الله ﷻ احکام رسوی.د رسولانو هدایت خو د

---

(۱) الطبری : ۷۲۹٤، دلائل النبوة للبیهقی: ۳۸٤/۵، وسنده ضعیف)-
(۲) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة التوبة: ۳۰۹۵،)-

Scanned with CamScanner

خلقو د ربانی کیدو د پاره وی.چې خلق دې حکمت او حلم والا جوړ شی او پوهه او عابدان او متقیان جوړشی.(۱) ضحاك رحمه الله فرمائی چې قرآن زده کونکوباندې حق دې چې هغوئ دې پوهه وی.﴿تَعْلَمُوْنَ﴾ او ﴿تُعَلِّمُوْنَ﴾ دواړه قراتونه دی،د رومبې معنی ده پوهه او د دویم معنی ده تعلیم ورکولو والا.﴿تَدْرُسُوْنَ﴾معنی الفاظ یادول ده.

بیا ارشاد فرمائی چې دوی هغه حکم نه کوی چې د الله ﷻ نه سوا د بل چا عبادت اوکړئ اګر چې هغه نبی وی،لیږلې شوې فرښته وی،د الله ﷻ قرب والا،دا خو هغه څوك کیدیشی چې د الله تعالی نه سوا د بل چا د عبادت کولو دعوت ورکوی.او چې چا داسې اوکړل نو هغه کفر اوکړو ،اوکفر کول د نبیانو کار نه دې.د هغوئ کار خو ایمان دې او ایمان نوم دې د واحد الله ﷻ عبادت کول.او همدا د نبیانو علیهم السلام آواز دې.لکه څنګه چې پخپله د قرآن پاك ارشاد دې چې﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْٓ اِلَيْهِ اَنَّهٗ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ۝﴾ :یعنی ستاسو نه مخکښې هم مونږ رسولان لیږلی دی ټولوباندې دا وحی نازله شوه چې هغوئ دې زما نه سوا د بل چا عبادت نه کوی،تاسو ټول زما عبادت کوئ.بل خاڼې ارشاد دې چې﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِيْ كُلِّ اُمَّةٍ رَّسُوْلًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوْتَ﴾ یعنی مونږ هر امت کښې رسول اولیږلو چې تاسو د الله ﷻ عبادت کوئ او د الله ﷻ نه سوا د بل چا دعبادت کولو نه بچ اوسئ.

او بل خاڼې کښې ارشاد دې چې تاسو نه مخکښې د ټولو رسولانو نه ټپوس اوکړئ چې آیا مونږ د خپل ذات رحمان نه سوا د بل چا د عبادت دپاره څوك مقرر کړې وو؟د فرښتو طرفنه خبر کیږی چې ﴿من یقل منهم﴾په دوی کښې که څوك اووائی چې زهٔ معبود یم الله تعالی په خاڼې،نو هغوئ ته هم د جهنم سزا ورکړئ او داشان مونږ ظالمانو ته سزا ورکوو.

وَاِذْ	اَخَذَ اللّٰهُ	مِيْثَاقَ	النَّبِيّٖنَ	لَمَآ	
او یاد کړئ کله چې	واخستله الله	پخه وعده	دپیغمبرانونه	چې کوم څیز	
اویادکړه چې الله پاک دپیغمبرانونه وعده اخستې وه					
اٰتَيْتُكُمْ	مِّنْ كِتٰبٍ	وَّحِكْمَةٍ	ثُمَّ	جَآءَكُمْ	رَسُوْلٌ	مُّصَدِّقٌ
ما درکړې دې تاسو ته| یعنی کتاب	او حکمت	بیا	راشی تاسو ته	بل رسول	تصدیق کونکې
چې ماتاسوته کتاب اوحکمت درکړې دې	نوبیاتاسوته بل یوپیغمبرددې تصدیق کولو د پاره راشی					
لِّمَا	مَعَكُمْ	لَتُؤْمِنُنَّ	بِهٖ	وَلَتَنْصُرُنَّهٗ ؕ	
دهغه تعلیم	چې ستاسو سره دې	نو خامخا به تاسو ایمان راوړئ	په هغې	اوخامخابه تاسوامدادکوئ دهغه	
نوتاسو (خواه مخواه) په هغه ایمان راوړئ	او(خواه مخواه) هغه سره مدد کوئی				
قَالَ	ءَاَقْرَرْتُمْ	وَاَخَذْتُمْ	عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِيْ ؕ	قَالُوْٓا	
اوونیل	آیا تاسو اقرار وکړو	او واخسته تاسو په دې باندې	ټینګه وعده زما	اوونیل هغوئ		
(بیاترې)الله ټپوس اوکړو چې ایا تاسوددې اقرار کوئ| اوپه دې خبره زمادوعدې ذمه واری اخلئ| نو دوئ اوونیل چې					

(۱) ابن ابی حاتم: ۲/۳۶۵،)-

أَقْرَرْنَا ؕ	قَالَ	فَاشْهَدُوْا	وَأَنَا مَعَكُمْ	مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ ۝	فَمَنْ	
اقرار اوکړو مونږ	اوونیل الله	نو گواهان اوسئ	او زه ستاسو سره	دگواهانونه یم	نو څوك چې	
مونږ اقرار کوو	الله ورته اوونیل چې تاسو په دې لوظ گواهان اوسئ		او زه به هم تاسوسره گواه یم	..... څوك چې		
تَوَلّٰى	بَعْدَ	ذٰلِكَ	فَأُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْفٰسِقُوْنَ ۝	
واپس شو	روستو	ددې نه	نو دغه کسان چې دی	هم هغوئ	فاسقان دی	
ددې نه پس دخپل لوظ نه اوګرځیدل			نو هم دغه خلق نافرمان دی			

قوله تعالى:-﴿وَإِذْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ النَّبِيّٖنَ لَمَآ اٰتَيْتُكُمْ مِّنْ كِتٰبٍ وَّحِكْمَةٍ

هر نبی ته د ځان نه پس په بل نبی باندې د ایمان راوړلو حکم:- دلته دا بیانږی چې آدم علیه السلام نه واخله تر عیسی علیه السلام پورې ټول انبیاؤ علیهم السلام نه الله ﷻ وعده واخستله چې کله هم الله تعالی دوی کښې چاته کتاب اوحکمت ورکړی او لوی مرتبې ته اورسی نو،بیا دې نه پس هم دده په زمانه کښې رسول راشی نو په هغه باندې ایمان راوړل او د هغه نصرت او امداد کول دده فرض دی.دا نه چې په خپل علم او نبوت باندې نظر واچوی او ددغه نبی د اتباع او مدد نه روستو شی.

قوله تعالى:-﴿ءَاَقْرَرْتُمْ وَاَخَذْتُمْ عَلٰى ذٰلِكُمْ اِصْرِىْ ؕ

دوی ته اوونیلې شو چې آیاتاسو اقرارکوئ؟اوزما عهدو اقرار قبلوئ؟ټولو اوونیل چې زمونږ اقرار دې.

قوله تعالى:-﴿قَالُوْٓا اَقْرَرْنَا ؕ قَالَ فَاشْهَدُوْا وَاَنَا مَعَكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِيْنَ

نووې فرمائیل چې گواه اوسئ او زهٔ هم گواه یم.اوس چې ددې عهد ومیثاق نه څوك واوړی نوهغه قطعی فاسق دې،بې حکمه او بدکار دې.

د الله ﷻ د هر نبی نه د رسول الله ﷺ په حقله وعده اخستل:-علی بن ابی طالب رضی الله عنه او عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمانی چې الله ﷻ د هرنبی نه وعده واخستله که چرته ددوی په ژوندکښې الله ﷻ خپل نبی محمد مصطفی ﷺ اولیږلو نو په دوی باندې فرض دی چې هغوئ په نبی اکرم ﷺ باندې ایمان راوړی او د نبی اکرم ﷺ مدد اوکړی (۱)او خپل امت ته هم هغوئ دا تلقین اوکړی چې هغوئ دې هم نبی اکرم ﷺ باندې ایمان راوړی او د نبی اکرم ﷺ تابعداری دې اوکړی.طاؤس،حسن بصری او قتاده رحمهم الله فرمانی چې نبیانو علیهم السلام نه الله ﷻ وعده واخستله چې دیو بل تصدیق اوکړی.څوك دې دا نه ګنړی چې پورته تفسیر ددې تفسیر خلاف دې.بلکه دا د هغې تائید دې.ځکه چې د طاؤس رحمه الله نه د دوی د څونی یو روایت د علی رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنه د روایت په شان هم مروی دې.

زهٔ ستاسو دحصې نبی یم:-مسند احمد کښې روایت دې چې عمر بن خطاب نبی اکرم ﷺ ته اوفرمائیل چې یارسول الله ﷺ ما یو قریظی یهودی دوست ته وئیلی وو چې ما ته د تورات څه جامع خبرې اولیکی نوکه تاسو فرمایئ چې هغه پیش کړم.د نبی اکرم ﷺ مخ مبارك متغیر شو.عبدالله بن ثابت رضی الله عنه اوفرمائیل چې ته نه ګورې د نبی اکرم ﷺ د مخ مبارك څه حال دې؟نو عمرفاروق رضی الله عنه اوفرمائیل چې زهٔ په دې خبره خوشحاله یم چې الله ﷻ زما رب دې،محمد ﷺ زما رسول دې او اسلام زما دین دې.نو بیادمحمد ﷺ غصه لرې شوه او نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چې په هغه الله ﷻ مې دې قسم وی چې دهغه په قبضه کښې زماسا ده که موسی علیه السلام تاسو کښې راشی اوتاسو دهغه تابعداری شروع کړئ اوما

(۱) الطبری: ۶/۵۵۵)-

Scanned with CamScanner

پریږدئ نوتاسو ټول به ګمراه شئ.په ټولو امتونو کښې زما د حصې امت تاسو یئ او په ټولو نبیانو ﷺ کښې زهٔ ستاسو دحصې نبی یم.(۱)

که موسی علیه السلام په تاسو کښې ژوندی وی نو زما تابعداری به ئې کوله:- مسند ابویعلی کښې دی چې اهل کتابو نه هیڅ تپوس مه کوئ،پخپله ګمراهان دی تاسو به هم د نیغې لارې نه بې لارې کړی.بلکه ممکن دی چې تاسو به دیو باطل تصدیق اوکړئ او د څه حق تکذیب به اوکړئ.په الله تعالی مې دې قسم وی که موسی علیه السلام هم په تاسو کښې ژوندی وی نو د هغه دپاره هم سوا زما د تابعدارئ نه هیڅ حلال نه وو. (۲)بعضو احادیثو کښې دی که موسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام ژوندی وی نو هغوئ به هم سوازماداتباع کولو نه بل څه نه کول.(۳)

مقام محمود:- نو ثابت شو چې زمونږ رسول محمد ﷺ خاتم الانبیاء دی او امام اعظم دی.چې په کومه زمانه کښې هم د نبی اکرم ﷺ نبوت وی نو نبی اکرم ﷺ واجب الاطاعت وو.او دټولو نبیانو ﷺ تابعدارئ باندې د نبی اکرم ﷺ تابعداری به مقدم وی.هم دا وجه وه چې د معراج په شپه بیت المقدس کښې د ټولو نبیانو سردار نبی اکرم ﷺ لره جوړ کړې شو.هم داشان میدان حشر کښې به هم نبی اکرم ﷺ شفیع وی ددې خبرې چې الله ﷻ لره د فیصلو کولو دپاره راولی.هم دا مقام محمود دې چې د نبی کریم ﷺ نه سوا بل چاته نه دې ورکړې شوې.ټول نبیان ﷺ او ټول رسولان ﷺ به په هغه ورځ ددې کار نه انکار اوکړی او بالآخر نبی کریم ﷺ به په دې مقام اودریږی.د الله ﷻ درود وسلام دې وی په نبی ﷺ همیشه همیشه اوترقیامته پورې،آمین.

أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ	وَلَهُ	أَسْلَمَ	مَنْ	فِي السَّمَاوَاتِ	
ددین دالله نه | دوی غواړی|حال داچی خاص دهغه |تابعدار دی |هغه چا| چی په آسمانونو کښی دی					
ایا نو بغیردالله د دین نه علاوه دوئ بل دین لټوی| .....او حال دا دې چې دآسمانونو					
وَالْأَرْضِ	طَوْعًا	وَكَرْهًا	وَإِلَيْهِ	يُرْجَعُونَ ۝	قُلْ
او په زمکه کښی دی | په رضا | اوپه زور | او خاص هم هغه ته | به واپس کولې شی ټول| اووایه ای نبی					
اوزمکې ټول مخلوق په خوښۀ یاپه زور هغه تابعدار دی | اوټول به آخر هغه ته واپس کیږی | ورته اووایه					
آمَنَّا	بِاللَّهِ	وَمَا	أُنْزِلَ	عَلَيْنَا	وَمَا	أُنْزِلَ
چی مونږ ایمان راوړې دې | په الله | او په هغه | چی نازل کړې شوې دې| په مونږ |او په هغه باند| چی نازل کړې شوی دی						
مونږ ایمان راوړې دې په الله پاک باندې| اوپه هغه کتاب چې په مونږ نازل شوې دې |اوپه هغه تعلیم						
عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ	وَإِسْمَاعِيلَ	وَإِسْحَاقَ	وَيَعْقُوبَ	وَالْأَسْبَاطِ	وَمَا	أُوتِيَ
په ابراهیم باند | او په اسماعیل | په اسحاق| او په یعقوب باندې| او په اولاد دیعقوب باند|اوپه هغه چی ورکړې شوی دې						
چې ابراهیم،اسماعیل،اسحاق اویعقوب او دهغوئ اولادته ورکړې شوې دې| اوپه هغه کتابونو چې موسی او عیسی						

---

(۱) احمد: ۲۶۵/۴،دې سندکښې جابر بن یزیدالجعفی ضعیف راوی دې (القریب۱۲۳/۱) اوپدې و جه د اروایت سخت ضعیف دې)

(۲) احمد: ۳۳۸/۳؛ امسندابویعلی: ۲۱۳۵)-

(۳) داروایت دسیدنا عیسی علیه السلام ذکر سره بې اصل اوباطل دې اود سیدنا موسی علیه السلام ذکر سره ضعیف ومردود دې)-

Scanned with CamSc

مُوْسٰى	وَعِيْسٰى	وَالنَّبِيُّوْنَ	مِنْ رَّبِّهِمْ ۖ	لَا نُفَرِّقُ	بَيْنَ
موسی ته	اوعیسی ته	او نورو پیغمبرانوته	دطرفه درب دهغوئ نه	نۀ کوؤ مونږ فرق	په منځ
باندې د دوی د رب د طرف نازل شوی دی	مونږ ددې تولو په مینځ کښې(په منلو اونه منلو) کښې هیڅ فرق نه کوؤ				

اَحَدٍ مِّنْهُمْ ۚ	وَنَحْنُ	لَهٗ	مُسْلِمُوْنَ ۝	وَمَنْ	يَّبْتَغِ	غَيْرَ الْاِسْلَامِ
دیو دهغوئ کښې	او مونږه	خاص دهغه	حکم منونکی یو	او هغه څوک	چې طلبوی	غیرد اسلام نه
اومونږ دالله پاک حکم ته تابعدار یو	.....			اوڅوک چې د اسلام نه بغیر بل دین اختیاروی		

دِيْنًا	فَلَنْ يُّقْبَلَ	مِنْهُ ۚ	وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ	مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝		
بل دین	انو هر گز به قبول نشی	دهغه نه	اووی به هغه په آخرت کښې	دنقصان موندنکونه		
نو هغه دین بۀ تري هیچرې قبول نه شی	اوهغه بۀ په آخرت کښې تاوانی وی					

قوله تعالی:-أَفَغَيْرَ دِيْنِ اللّٰهِ يَبْغُوْنَ وَلَهٗٓ اَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

د زمکې او اسمانونو هر څیز د الله ﷻ تسبیح کښې مشغول دي:- د الله ﷻ د ریښتونی دین نه بغیر چې کوم هغه پخپلوکتابونو کښې دخپلورسولانو ﷺ په ذریعه نازل کړې دې یعنی صرف د الله ﷻ وحده لاشریك عبادت کوئ او هیڅوك دې بل دین نه لټوی.او د هغې د منلو تردید دلته کیږی.

بیا فرمائی چې دآسمان او زمکې ټول څیزونه د هغه مطیع دی.که په خوشحالئ وی اوکه په خفګان.لکه الله ﷻ فرمائی چې﴿وَلِلّٰهِ يَسْجُدُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ طَوْعًا وَّكَرْهًا﴾ الخ.یعنی د آسمان او زمکې ټول مخلوق د الله ﷻ سجده کوی په خپله خوښه یا جبر سره،بل خائې کښې دی چې﴿اَوَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ﴾ آیا دوی نه ګوری چې د ټول مخلوق سیوری ښی اوګس طرفته ټیټیږی او الله تعالی ته سجده کوی.او صرف اوصرف الله تعالی ته سجده کوی.د آسمانونو ټولې فرښتې او د زمکې ټول مخلوقات او د آسمانونو ټول څیزونه،هیڅ یو هم تکبر نه کوی ټول په ټوله د خپل پورته رب نه ویریږی او چې کوم حکم ورته ورکړې شی هغه پوره کوی.نو دمومنانو ظاهر اوباطن او قلب وقالب دالله ﷻ مطیع او فرمانبردارديِ.اوکافر هم دالله ﷻ په قبضه کښې دی او جبری طور الله تعالی طرفته ټیټ دې.د هغه پاك ذات ټول احکام په ده باندې جاری دی.او هغوئ په هرشان دالله ﷻ دقدرت اودخوښې لاندې دی.هیڅ یو څیز هم د هغه دغلبې نه اوقدرت نه بهر نه دې.

ددې آیت په تفسیر کښې یو غریب حدیث دا هم وارد شویدې چې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې آسمان والاخوفرښتې دی چې په خوشحالئ فرمانبرداري دی.اوزمکې والا هغه دی چې اسلام باندې پیدا شوی دی،او دوی هم په شوق ټول په ټوله د الله ﷻ فرمانبردار دی.او خفګان سره ماتحت هغه دی چې کوم خلق دمسلمان مجاهدینو دلاسه میدان جنګ کښې قیدکښې راشی اوطوق اوزنځیرونوکښې راوستلې کیږی.دا خلق چې جنت طرفته راخکلې شی خو دوی نه غواړی.(۱)

د الله تعالی تعجب:- یو صحیح حدیث کښې دی چې ستارب ته په دوی باندې تعجب دې چې دوی جنت طرفته راخکلې شی اوهغه هم په زنځیرونو کښې تړلې شی(۲)ددې حدیث نور سندونه هم شته دې. خو

---

(۱) طبرانی: ۱۱٤۷۳، ددې سند کښې محمد بن محصن عکاش دې او دوی ته دارقطنی متروک او واضع وئیلی دی اوګورئی المیزان (۲۵/۴، رقم: ۸۱۲۰)- نودا روایت موضوع دې اوموقوفا حضرت ابن عباس ﷺ نه هم ثابت نه دې والله اعلم)-

(۲) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب الاساری فی السلاسل: ۳۰۱۰)-

ددې آیت معنی هم دا قوی ده چې کومه مخکښې بیان شوه.مجاهد رحمه الله فرمائی چې دا آیت ددې آیت په شان دی چې ﴿وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ﴾ که ته دوی نه تپوس اوکړې چې آسمانونه او زمکې چا پیدا کړې دی نو دوی به یقیناً هم دا جواب ورکوی چې الله ﷻ.عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چې ددې نه مراد هغه وخت دې چې په اول ورځ د ټولو نه میثاق او وعده اخستې شوې وه.او ټول به هغه پاك ذات طرفته واپس کیږی یعنی د قیامت په ورځ.اوهر یو ته به د هغه د عمل بدله ملاویږی.

قوله تعالی:- قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَمَآ اُنْزِلَ عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ.....

بیافرمائی چې ته اووایه چې مونږ ایمان راوړې دې په الله ﷻ باندې اوپه قرآن پاك باندې اوحضرت ابراهیم علیه السلام باندې اوحضرت اسماعیل علیه السلام،حضرت اسحاق علیه السلام،حضرت یعقوب علیه السلام باندې.اوچې کومې صحیفې اووحی نازله شوې ده مونږ په هغې باندې هم ایمان راوړې دې او ددوی په اولادباندې چې څه نازل شو په هغې زمونږ ایمان دې.

قوله تعالی:- وَالْاَسْبَاطِ

﴿اَسْبَاطِ﴾ نه مراددبنی اسرائیلو قبائل دی چې دیعقوب علیه السلام نسل نه وو.دا دیعقوب علیه السلام د دولسو خامنو اولاد وو.

قوله تعالی:- وَمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى وَعِيْسٰى وَالنَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ

موسی علیه السلام ته تورات ورکړې شوې وو اوعیسی علیه السلام ته انجیل او نورو نبیانو علیهم السلام ته دالله ﷻ د طرفنه چې څه ملاوشوی دی په هغې مونږ ایمان راوړې دې.مونږ په هغې کښې هیڅ تفریق اوجدائی نه کوؤ چې یومنو اوبل نه منو بلکه زمونږ په ټولو باندې ایمان دې.اومونږ د الله ﷻ فرمانبردار یو.نو ددې امت مومنان ټول نبیان او ټول الهی کتابونه منی،چا سره کفر نه کوی.هر نبی او هر کتاب ریښتونې ګڼړی.

قوله تعالی:- وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ

بیافرمائی چې دالله ﷻ ددین نه سواچې څوك په بل لار باندې روان شی نوهغه د قبولیت نه لرې دې.او هغه په آخرت کښې نقصانی شو.

زمونږ د امر نه خلاف عمل مردود دې:- لکه څنګه چې صحیح حدیث کښې د نبی کریم ﷺ ارشاد دې چې کوم یو سړې داسې عمل اوکړی چې زمونږ امر په کښې نه وی نوهغه مردود دې.([1])

د الله تعالی او د اعمالو مکالمه:- مسند احمد کښې دی چې رسول الله ﷺ فرمائی چې دقیامت په ورځ به اعمال راشی،مونځ به اووائی چې انې الله ﷻ زهٔ مونځ یم.الله تعالی به ارشاد اوفرمائی چې ته ښه ځیز ئې.صدقه به راشی او وائی به چې انې پروردګاره زهٔ صدقه یم.جواب به ملاؤ شی چې ته هم د خیر ځیز ئې.روژه به اووائی چې زهٔ روژه یم.الله ﷻ به ورته اوفرمائی چې ته هم بهتر ئې.بیا به دا شان نور اعمال هم راشی او ټولو ته به هم دا جواب ملاویږی.بیا به اسلام راشی او اوبه وائی چې انې الله ﷻ ته سلام ئې او زهٔ اسلام.الله ﷻ به اوفرمائی چې ته د خیر ځیز ئې،نن ستا په وجه زهٔ نیول کوم او ستا په وجه به انعام ورکوم.الله ﷻ خپل کتاب کښې فرمائی چې﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ﴾.دا حدیث صرف مسند احمد کښې دی ([2])ددې د راوی حسن د ابوهریره نه آوریدل ثابت نه دی.

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الصلح باب اذا اصطلحوا علی صلح جور .....: ۲۶۹۷ صحیح مسلم: ۱۷۱۸ واللفظ له)-

[2]) احمد: ۳۶۲/۲، وسنده ضعیف : مسند ابی یعلی : ۶۲۳۱، المعجم الاوسط للطبرانی: ۸۲۰۷، ددې سند کښې عباد بن راشد دې.او دوی ته ابن معین او ابوداود وغیره ضعیف وئیلی دی (المیزان : ۳۶۵/۲ رقم ۴۱۱۳)، او حسن بصری ته د حضرت ابوهریره رضی الله عنه سماع ثابت نه ده اوپدې و جه داروایت

Scanned with CamSc

كَيْفَ يَهْدِي اللّٰهُ قَوْمًا كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ وَشَهِدُوْٓا					
څنګه به اوښائی لار| الله|هغه قوم ته| چې کفر ئې اوکړو|روستو|ایمان راوړلو دهغوئ نه| حالانکه ګواهی کړې ده هغوئ					
داڅنګه کیدیشی چې الله هغه خلقوته هدایت اوکړی چاچې ایمان راوړلونه پس بیاکفر اختیارکړو| حال داچې دوئ پخپله					
اَنَّ الرَّسُوْلَ حَقٌّ وَّجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي					
چې دارسول	حق دې	او راغلی دې هغوئ ته	واضحه نښې هم	اوالله	نه کوی هدایت
ګواهی ورکړې ده چې داپیغمبر حق دې|اوڅګنده دلیلونه ورته هم راغلل|اوالله پاک ظالمانو خلقو ته هدایت نه کوی					
الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۸۶﴾ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ اَنَّ عَلَيْهِمْ لَعْنَةَ اللّٰهِ					
قوم	ظالم ته	دا کسان چې دی	صحیح بدله ددوئ	داده چې	دې په دوئ باندې	لعنت دالله	
.....ددې خلقو سزا داده چې په دوی باندې د الله پاک او د فرشتو او د ټولو خلقو					
وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ ﴿۸۷﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ لَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ					
او د فرشتو	او دخلقو	ټولو	همیشه به وی دوئ	په دې حالت کښې	نه به سپک کړې شی| ددوئ نه
لعنت وی| .....دوئ به همیشه په دې حال کښې پراته وی					
الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۸۸﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ					
عذاب	اونه به دوئ له	مهلت ورکړې شی|	مګر|هغه کسان |چې توبه ئې اوښکله|	روستو
نه به ډ ترینه عذاب سپکولې شی |اونه به ورته مهلت ورکولې شی|خوهغه خلق (به بچ شی) چې ددې نه پس توبه اوباسی					
ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۸۹﴾					
ددې نه	او اصلاح ئې اوکړه	نو بیشکه الله	بخښونکې	مهربان دې			
او دخپل خان اصلاح اوکړی	بیشکه الله پاک ببنونکې مهربان دې|					

شان نزول د ایت،

که مرتد رښتونې توبه اوباسی:- ابن عباس ؓ فرمائی چې یو ا نصاری مرتد شو او مشرکانو سره یو ځائې شو.بیا پښیمانه شو اوخپل قوم ته ئې اوونیل چې درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړئ آیازما توبه قبلیدې شی؟د هغوئ په تپوس کولو دا آیت نازل شو.د هغه قوم هغه ته اوونیل او هغه دوباره مسلمان شو او حاضر شو.(ابن جریر).نسائی،حاکم اوابن حبان کښې هم داروایت موجود دې(۱) امام حاکم دې ته صحیح الاسناد وائی.

مسندعبدالرزاق کښې دی چې حارث بن سوید ؓ اسلام قبول کړو،بیاخپل قوم سره ملاؤ شو اواسلام ئې پریښودو.،نودې باره کښې دا آیت نازل شو.دهغه قوم هغه ته دا آیت واورلو نو هغه اوونیل چې زما خیال دی چې د الله تعالی قسم رښتونې دې او د الله تعالی نبی خو ستا نه زیات رښتونې دې.او الله تعالی دټولو رښتونو نه رښتونې دې.بیا هغه رسول الله ﷺ طرفته راغلو اواسلام ئې قبول کړو.او

ضعیف دې اوګورئی (الموسوعة الحدیثیة : ۳۵۵/۱)، او علامه هیثمی رحمہ اللہ ددې حدیث متن غریب او بې خبره وائی)-

۱) احمد: ۲۴۷/۱، ابن حبان : ۴۴۶۰، حاکم: ۱۴۲/۲، طبری: ۷۳۵۸، دې ته حاکم صحیح وئیلی دی اوددې موافقت ئې کړې دې النسائی: ۱۰۷/۷، ح/۴۰۷۳، وسنده ضعیف)-

Scanned with CamSc

بنه پوخ مسلمان شو.(۱)

قوله تعالی:-وَجَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ

بَيِّنٰتُ نه مراد د رسول الله ﷺ تصدیقونوباندې حجتونه او دلیلونه بالکل واضح کیږی.نو چې کومو خلقو ایمان راوړو او د رسول الله ﷺ حقانیت ئې اومنلو او دلیلونه ئې اوکتل او د شرك په تیارو کښې پټ شو دا خلق مستحق نه دی د هدایت خکه چې د ددوی سترګې شته دې او بیاهم دوی اسلام نه خوښوی.الله تعالی د ناانصافوخلقو رهبری نه کوی اودهغه مخلوق هم،چې کوم لعنت دائمی دې نو نه خو به د دوی په عذابونوکښې څه کمې وی او نه به موقوف کیږی.

قوله تعالی:-اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ وَاَصْلَحُوْا....

بیا د خپل لطف او احسان ذکر کوی او فرمائی چې ددې بدترین جرم نه پس چې څوك زما طرفته راشی اودخپلو بدوعملونو اصلاح اوکړی نو زهٔ هم هغه ته معافی کوم.

اِنَّ	الَّذِيْنَ
بیشکه	هغه کسان
	.....بیشکه کومو
كَفَرُوْا	بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ
چې کفرئې اوکړو|روستو| دایمان راوړلو خپلونه| بیا زیات شول|په کفرکښې|هر گز به قبول نکړې شی	
کسانو چه دایمان راوړو نه پس کفراوکړی	اوبیاکفر کښې زیات شول	نودهغوئ توبه به هیڅ کله نه قبلیږی نشی	
تَوْبَتُهُمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الضَّآلُّوْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا	
توبه دهغوئ	او داخلق چې دی| هم دوی دی| پاخه ګمراهان| بیشکه| هغه کسان	چې کفرئې اوکړو	
اوهم دغه کسان ګمراه دی..... چاچې کفر اختیار کړو	
وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْ اَحَدِهِمْ مِّلْءُ الْاَرْضِ ذَهَبًا	
اومړشو| په داسې حال کښې چې دوۀ هغوئ	کافران	نوهرګز به قبول نشی| یو دهغوئ نه |ډکوالې دزمکې	د سرو زرو	
اوپه دې حالت کښې ورته مرګ راغلوانوکه په هغوئ کښې یویوکس ټوله زمکه دسرو زرونه ډکه کړی	
وَّلَوِ افْتَدٰى بِهٖ ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ	
او اګر که فدیه ورکړی دې| دغه ټول سره زر|دا کسان چې دی |دې ددوئ دپاره	عذاب	دردناك	
او دفدئې په طور ئې پیش کړی نو قبوله به ترې نشی	اودوئ دپاره عذاب دردناك دې	
وَّمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ۝
او نهٔ به وی دوئ دپاره	هیڅوك مددګار
اودوئ سره هیڅ مدد نشی کولې	

قوله تعالی:-اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْدَ اِيْمَانِهِمْ ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّنْ تُقْبَلَ تَوْبَتُهُمْ

دنزع په حالت کښې توبه قبوله نه ده:-کوم خلق چې ایمان نه پس کفر اوکړی او بیا هم په دې حالت کښې

---

(۱) تفسیر: عبدالرزاق : ۱۳۱/۱-

مړه شی نو پروردګار هغوئ لره ویروی چې دمرګ په وخت کښې ستا توبه رب ته قبوله نه ده.لکه بل ځائې کښې فرمائی چې﴿ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ﴾ آخر دم پورې یعنی دمرګ په وخت کښې چې کوم خلق په ګناه کښې اخته وی او هغوئ توبه اوباسی نو دغه الله ﷻ ته قبوله نه ده.او همدا دلته دی چې د دوی توبه بالکل قبوله نه ده.او هم دا هغه خلق دی چې دخ لاړې نه بل طرفته روان دی.

ددې ایت شان نزول:-ابن عباس ؓ فرمائی چې څه خلق مسلمانان شواوبیا مرتدشو،بیائې اسلام راوړو اوبیا مرتد شو.بیا ئې خپل قوم ته سړې اولیږلو چې آیا اوس به زمونږ توبه قبوله شی؟ هغوئ نبی اکرم ﷺ ته سوال اوکړو نو په دې باندې دا آیت نازل شو (بزار) ددې اسناد ډیر ښه دی.(۱)

قوله تعالی:-اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ....

بیافرمائی چې کوم خلق په کفرباندې مړه شی دهغوئ هیڅ نیکی قبوله نه ده.اګر چې ده دزمکې هومره د الله ﷻ په لار کښې خرچ کړی وی.نبی اکرم ﷺ نه تپوس اوشوچې عبدالله بن جدعان ډیر زیات میلمه دوست،غلام آزادولو والا،او خوراك ورکولو والا سړې وو،د هغه دا نیکی به د هغه په ښه رازی که نه؟نو نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چې ده ټول عمرکښې یو ځل هم﴿رب اغفرلی خطیئتی یوم الدین﴾ نه وو وئیلی.یعنی اې الله ﷻ زما ګناهونه د قیامت په ورځ اوبخښه (۲). چې څنګه د هغوئ خیرات قبول نه دې داشان د هغوئ فدیه اومعاوضه هم.لکه څنګه چې بل ځائې کښې فرمائی ﴿وَلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ﴾ چې نه د دوی نه بدله مقبول ده اونه دوی ته دسفارش څه نفع شته.اوفرمائی (لابیع.....خلال) چې په هغه ورځ نه اخستل خرڅول شته دې اونه دښمنی او نه محبت،بل ځائې ارشاد دې چې﴿اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ یعنی که کافرو سره دومره هر څه وی چې څومره په دې زمکه کښې دی او دومره ورسره نورهم وی،اوبیا دوی دا ټول هر څه دقیامت په ورځ دالله ﷻ د عذابونو بدله کښې فدیه ورکړی نو هغه هم قبول نه دی.دوی به دا دردناك لو المناك عذابونه ضرور څکی.هم دامضمون دلته بیان شویدې دې،بعضو﴿اقْتَدٰى﴾کښې واو لره زائدوئیلی دی.او واولره عطف منل اوهغه تفسیرکول چې کوم مونږکړیدې ډیربهتر دې.والله اعلم.

نو ثابت شو چې د الله ﷻ د عذابونو نه هیڅ څیز نشی بچ کولې.اګر چې دوی ډیر ښه او خرچ کوونکی دی.اګرچې ټولې زمکې هومره سونا دالله ﷻ لارکښې ورکړی یا دغرونو او غونډو او شګو او نرمې زمکې او سختې زمکې او لمدې زمکې برابر وزن سونا د الله ﷻ د عذابونوبدله کښې ورکړی.

د الله تعالی جهنمی سره مکالمه:-مسنداحمد کښې دی چې نبی اکرم ﷺ فرمائی چې جهنمی ته به د قیامت په ورځ اوونیلې شی چې زمکه کښې څه دی که هغه ستا شی نوآیا ته به هغه ټول ددې سزا بدله کښې ورکړې،هغه به اووائی چې آو.الله ﷻ به ورته اوفرمائی چې ماستانه په نسبت ددې زیات غوښتل،ماستا نه هغه وخت کښې وعده اخستې وه چې کله ته د خپل پلار آدم ؑ په شا کښې وې چې زماسره هیڅوك شریك مه جوړوه.لیکن ته بغیر د شرك نه پاتې نشوې.داحدیث بخاری اومسلم شریف کښې نورو سندونوسره دې.(۳)

د شهید جنتی په جنت کښې ارمان:- مسنداحمدکښې یوبل حدیث کښې دی چې انس بن مالك ؓ فرمائی چې نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چې یو جنتی به راوستلی شی او هغه ته به الله ﷻ اوفرمائی چې اووایه تا څنګه ځائې اوموندو؟ هغه به جواب ورکړی چې اې الله ﷻ ډیر بهتر.الله ﷻ به اوفرمائی چې ښه ده چې ته څه غواړې نو هغه اوغواړه اوچې څه خواهش دې وی هغه اوکړه ،نو اوبه وائی چې اې زماربه اصرف دا خواهش دې چې زمایو سوال دې ما بیا دنیا ته اولیږه چې زهٔ ستا لار کښې جهاداوکړم

---

۱) الدر المنثور : ۲۵۸/۲)-

۲) صحیح مسلم کتاب الایمان باب الدلیل علی ان من مات علی الکفر،،،،،: ۲۱٤)-

۳) احمد: ۲۱۸/۳، صحیح بخاری کتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار : ٦٥٥٧، صحیح مسلم: ۲۸۰۵)-

Scanned with CamScanner

اوبیا شهیدشم او بیاژوندې شم او بیا شهید شم.لس خل داسې اوشي.ځکه چې هغه به د شهادت درجه او مرتبه کتلې وی.دا شان به یو جهنمی راوستلې شی او هغه ته به الله ﷻ اوفرمانی چې انې ابن آدم ! تا خپل ځانې څنګه اوموندو ؟هغه به اووائی چې ډیر خراب.الله ﷻ به ورته اوفرمانی چې آیا ته دا خوښوې چې ددې عذابونو بدله کښې د زمکې هومره سونا ورکړې؟هغه به اووائی چې یاالله آو؟نو هغه به جهنم ته اولیږلې شی،(۱)

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ وَمَا لَهُم مِّن نَّاصِرِينَ

نو دلته فرمانی چې ددوی دپاره تکلیف ورکونکی هغه عذاب دې او هیڅوک داسې نشته دې چې دوی د دې عذابونونه خلاص کړی.

(الله تعالی دې مونږ ته د خپلو عذابونونه نجات راکړی ** آمین) .

(الحمدلله د تفسیر ابن کثیر پښتو ترجمه دریمه پاره ختمه شوه)

(۱) احمد: ۲۳۹/۳، وسنده صحیح : ابن حبان : ۷۳۵۰، حاکم: ۷۵/۲، امام حاکم دا دمسلم په شرط صحیح خودلې دې او امام ذهبی ددې موافقت کړې دې)-

Scanned with CamS